

تفسیر یسیر

مشہور بہ

فوق الیسیر

تصنیف

مولوی مراد علی صاحب

مع بین السطور و حواشی مفیدہ

مولوی عبدالحق صاحب داربنگی

المکتبۃ الحقانیۃ

محلہ جنگی پشاور پاکستان

فون ۲۲۰۴۹۳

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ

تفسیر یسیر

مشہور بہ

فوق البسیر

جلد الثانی

تصنیف

مولوی مراد علی صاحب

مع

بَیْنَ السُّطُوْر وَحَواشیِ مُفیدَہ

مولوی عبدالحق صاحب داربنگی

ناشر

مکتبۂ حقانیہ محلہ جنگی پشاور
فون: ۲۳۰۴۹۳

سُوْرَةُ الْكَهْفِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَاحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ ټول ثنا چه ده هغه خدائ له ده اَنْزَلَ چه رالیږلے دے ده عَلٰى عَبْدِهِ
الْكِتٰبَ په بنده خپل چه محمد ؐ دے کتاب چه قرآن دے چه رهنما دے دخلقو رضامندئ
دحق ته اوبلونکے دے سعادت د دارینو ته اوساتونکے دے له جمله مهلکاتو وَلَمْ
يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ۜ ① اوحال دا چه نۀ دے ایښے دۀ په هغه کښ هیڅ قدر کوږوالے
یعنے نه خلل د لفظ اونه نقصان د معنیٰ اونه عدول له حقه باطل ته قَيِّمًا په دے حال
چه سم او معتدل اوبرابر دے دا قران او خالی دے له افراطه اوله تفریطه لِّيُنْذِرَ
د پاره د دے چه اویروی دا رسول ؐ یا قرآن بَاْسًا شَدِيْدًا له سخته عذابه چه په دنیا
کښ بیخ کنی ده او په آخرت کښ دوزخ دے. چه راځی به دا عذاب دوئ ته. مِّنْ لَّدُنْهُ
له طرفه دخدائ تعالیٰ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ اوزیرے ورکړی هغه مؤمنانو ته
يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ چه عملونه کوی دوئ دنیکو اَنَّ لَهُمْ د دے چه شته دوئ ته
اَجْرًا حَسَنًا ② اَجر غوره چه جنت دے مّٰكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ③ چه ډیره به وی
دوئ په هغه جنت کښ همیشه بے انقطاعه اوبے انتقاله بل ځائے ته وَّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ او
اویروی دے هغه کسان چه له ډیره جهله اوحماقته قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ④
وائی دوئ چه نیولے دے خدائ تعالیٰ فرزند او هغه یهود او نصارای او بنی مدلج
دی مَا لَهُمْ بِهٖ نشته دوئ له په دے ولد یا په نیولو د دے ولد مِنْ عِلْمٍ هیڅ قدر
پوهه بلکه هسے له خپله وهمه ئے وائی. وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ ؕ اونه پلرونو د دوئ له که
دوئ تقلید کوی د پلرونو خپلو كَبُرَتْ كَلِمَةً لوئ دی دا ویل له جهته د گفتار

له نوره د يولو اقوالو د كفارو دا چه وائي دوئ اتخذ الله ولدا او دا كفار له ډیرې لوئي
تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ط چه را اوځي له خولو د دوئ نه اِنْ يَقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ۵ نه وائي
دوئ مگر دروغ اما دا سے غټ دروغ چه اسمانونه او زمکے او غرونه ټول پرے چاودلو
ته نزدے شي له ډیره هيبته او دهشته لکه په سورۂ مريم کښ بيان دے ۔
روايت دے چه په دے خبره رسول عليه الصلوۃ والسلام ډیر دلگیر شۀ
ځکه چه دۀ دا سے طمع وه چه دوئ کوند ايمان راوړی او هغه طمع په دے قطع
شوه نو د پاره د تسلئ د دۀ نازل شۀ فَلَعَلَّكَ پس ښائي چه تۀ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ قتل
کونکے ئے د ځان خپل عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ په پلونو د دے کفارو پس له تيښتے د دوی له
ايمانه اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا که ايمان رانه وړی دوئ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ په دے خبره يعنی
په قرآن نونۀ د دوئ د كفر د پاره ځان مۀ هلاکوه اَسَفًا ۶ له ډیره غمه یا غضبه
اِنَّا جَعَلْنَا مابيشکه چه کرځولی دی مونږه عَلَى الْاَرْضِ هرهغه څۀ چه په دے زمکه
دی له حيوانانو او له نباتاتو او له معادنو او دا سے له نورو اشياؤ زِيْنَةً لَّهَا ښايست
د پاره د دے زمکے او د اهل د دے لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ د پاره د دے چه وازمايو مونږ
دوئ چه کوم يو له دوئ نه اَحْسَنُ عَمَلًا ۷ ډير غوره دے له جهته د عمل وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ
او بيشکه چه مونږه هرآئينه گرځونکی يو مَا عَلَيْهَا هرهغه څۀ چه په دے زمکه کښ
دی ورك او ناچيز يعنی دا غرونه او اشجار او نباتات او حيوانات او نور څۀ اشياء چه
دی هغه ټول لرے کونکے يو او گرځونکی يو د دے زمکے صَعِيْدًا جُرُزًا ۸ يو ډاګ
ميدان وچ کلک چه نۀ پکښ چرته لوړه يا ژوره وی او نه شنه او زرغونه وی يعنی
پس له دا سے آبادئ د دے به دا سے خراب شی نو په دا سے بے بقا څيز چه عاقبت
ئے دا سے خراب وی هيڅ قدر ميل پکار نۀ دے **روايت دے** چه هرکله د
قيانوس بادشاه روم مسخر کړو او بنا ئې د افسوس له راغے نو هغه خلق ئے په
عبادت د خپلو بتانو مامور کړۀ او هرچا چه د اعبادت کولو هغه به خلاص وو

اوچا چه نهٔ کاوه هغه به ئے قتلوډ نو یو شپږ تنه خلمی خانزدګان د هغهٔ بنار له را نغله اوکناره خیل خدائی به ئے یادوو ناګاه په دے حال دقیانوس خبرشه نو راحاضرئے کړه او ډیر زجرئے ورله ورکړو اما دوئی له توحیدہ وانهٔ وختو نو هرڅه ئے ترے واخستهٔ اودرے ورځے مهلت ورکړو نو دوئی تیخته غوره کړه اولږه توخه ئے وا خسته اوبیا راوانهٔ او په لاره کښ یو شپون پرے پیښ شه نوهغه هم ورسره ملګرے شهٔ او ددے شپانهٔ یو سپے وو. هغه هم ورپسے روان شهٔ دوئی اوشارهٔ خومنع نهٔ شهٔ او خبرے ئے اوکړے چه ماهٔ شرئی زهٔ به ستاسے څوکئ کوم هلته نزدے یوغر وو نو دے شپانه اوویل چه ما په دے غره کښ یوغار لیدلے دے راځئ چه پکښ پټ شو. نو غارله راغله لکه چه وائی. اَمْ حَسِبْتَ ایا ګمان کوے ته اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ دَ دے خبرے چه بیشکه اصحاب کهف چه دی چه درے سوه [۳۰۹] اونهه کاله په یو خوب اوده پراته وو. وَالرَّقِیْمِ [له] اواصحاب رقیم چه دی. كَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا دی دوئی له نښو د قدرت څمونږه عَجَبًا ⑨ عجیبه اوپه واقعه کښ داسے نهٔ ده بلکه نورے نښے د قدرت له دے نه ډیرے لوئی دی لکه پیدا کول دغروتو او دزمکے اودآسمانونو اود کرسی او دعرش اود اکهف یولوئے غاردے په غرهٔ کښ چه د افسوس بنار په څنګ کښ دے او دارقیم نوم دے دقریئے ددوئی یا دسپی ددوئی یا دهغه غرهٔ یا دهغه کندے چه دا غار په هغه کښ دے یادهغه تختے چه ددوئی نومونه پرے لیکلے دی اودغار په خوله کښ اوبزانده ده یا اصحاب رقیم هغه درے تنه دی چه دباران نه اوتختیدهٔ اوپه یوغار کښ ننواته اود غار په خوله کښ یوه لویه تیږه را اولویده چه د تلو لاره بیخی بنده شوه بلکه رنړا هم نهٔ ښکاریده نو دوئی اوویل سره چه اوس څمونږه کار په نیک عمل شه نو هرڅوک خپله نیکی خدائی ته وسیله کوی ګوندے خلاص شی نو یو اوویل چه مایو ورځے ډیر مزدوران نیولی وو اوبیا غرمه م یو بل څلمے هم اونیوهٔ هغه تربیګاه ددوئی قدر کار اوکړو. نو

له د اکثر چه یهود وقریشو ته وبلی ووچه که ددے قصے نه رسول علیه الصلوة والسلام خبرکړئ نو دا به ډیره عجیبه وی. حکم چه ددوئی قصه ډیره عجیبه ده ۱۲۵

ما هم وړلره هم دوئ سره سم پوره اُجرت وړکړو. نو یو له دے پخوانیو په غضب شۀ د دے ځلمی له جهته اوخپل اُجرت ئے پریخودۀ او تښتیدلو. نو ما دۀ په هغه مبلغ یو څُسے وپیرودو او له هغے بیا ډیر مال پیدا شۀ بیا ډیر کاله پس هغه سړے بیا راغے چه زیره ئے سپینه شوے وه. او راته ئے وویل چه څما تا سره حق پاتے دے او ما ئے غوارم نو هغه ټول مال ما وړلره وړکړو اے ربه! کۀ دا کار ما ستا د پاره کړے وی نو مونږ لره لار راکړه نو دومره چاوُد پکښ اوشۀ چه رڼا ترے ښکاره شوه بیا بل وویل چه قحط وو او یوه ښځه راته راغله د پاره د سوال نو ما ورته اوویل چه کۀ نفس د راته راکړو نو زۀ به درکړم اما هغے دا کار قبول نۀ کړو او لاړه او هم دا سے درے کرته راغله او لاړه بیا چه عیال ئے په هلاکید وشۀ. نو راغله او خپل نفس ئے را باندے وسپارۀ او چه زۀ ورته نزدے شوم، نو اولړزیده ما ورته وویل چه ولے لړزیږے. دے وویل د خدائ نه ویریږم نو زۀ ترے پاڅیدم او ویل م. چه حیف دے ما لره چه ته په دا سے سختئ کښ هم ترے ویریږے او زۀ سره له دومره فراخئ ترے نۀ ویریږم. نو ډیر څۀ م ورته ورکړۀ اے ربه! کۀ دا کار م ستا د رضا د پاره کړے وی نو مونږ لره لار راکړه نو دومره سورے پکښ اوشو چه په خپلو کښ ئے سره اولیدل بیا دریم وویل چه څما مور و پلار وو ډیر زاړۀ او رمه م هم درلوده او عادت م تل دا سے وو چه هرکله رمه به م پنډه کړه او میږے به م اولوشلے نو هغه شودۀ به م اول دوئ له راوړۀ او چه دوئ به اوخښل نو بیا به مے له لاړم نا گاه یوه ورځ باران حصار کړم او وړلره را نغلم خو چه شپه شوه بیا چه سوده م راوړۀ نو دوئ دواړه اودۀ شوی وو نو ویخ م نه کړۀ او غوا لوشی په لاس ورته کښیناستم څو چه صبا شۀ او پخپله ویخ شوه نو شودۀ م ورلره ورکړۀ او وے څښل. اے ربه! کۀ دا کار ما ستا د پاره کړے وی نو مونږ ته لار راکړه نو تیږه بیرته شوه او دوئ راواته کذا ذکره البیضاوی اِذْ اَوَی الْفِتْیَةُ یادکړه چه سنګ نزدے کړو هغه ځلمیو. اِلَی الْکَهْفِ هغه غار ته

جیږم نوم ئے وو۔ فَقَالُوۡا رَبَّنَاۤ اٰتِنَا پس وویل دوئ چه اے ربه! ځمونږه! راکړه
مونږ له مِنۡ لَّدُنۡكَ رَحۡمَةً ستا له خیل جانبه داسے مهربانی چه موجب وی د مغفرت
او د روزئ او د امن له دښمنه۔ وَّهَيِّئۡ لَنَا او تیار کړه مونږ له۔ مِنۡ اَمۡرِنَا له دے کاره
ځمونږه چه مفارقت دے له کفارو نه رَشَدًا ⑩ راستی او رهنمائی چه موجب د رضا
ستا شی۔ فَضَرَبۡنَا پس کیخوده مونږه پرده عَلٰۤى اٰذَانِهِمۡ په غوږونو د دوئ چه هیڅ
آواز وانه وری او اوده وی فِى الۡكَهۡفِ په هغه غار کښ سِنِيۡنَ عَدَدًا ⑪ څو کلونه په شمار
ثُمَّ بَعَثۡنٰهُمۡ بیا بیدار کړه مونږ له هغه خوبه دوئ لِنَعۡلَمَ د پاره د دے چه معلوم کړو
مونږه په علم حالی چه مطابق دے له علم ازلی سره اَىُّ الۡحِزۡبَيۡنِ چه کوم یو له دے
دواړو طائفو چه یهود او نصارٰی یا مؤمنان او کافران یا رومبنی او روستنی دی
اَحۡصٰى ډیر ښهٔ ساتونکی دی د شمار لِمَا لَبِثُوۡۤا د مقدار د هغه مودے چه تیره کړے
ده دوئ په دے غار کښ په خوب سره اَمَدًا ⑫ له جهته د درازئ یعنی چه دا موده ع ۱ ۱۲
د خوب د دوئ څومره قدر اوږده وه نَحۡنُ نَقُصُّ مونږه قصه کوو عَلَيۡكَ نَبَاَهُمۡ بِالۡحَقِّ ط تا ته د
حال او سرګذشتئ د دوئ په رښتیا سره۔ اِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ بیشکه چه دوئ ځلمی دی چه له
ډیره صدقه اٰمَنُوۡا بِرَبِّهِمۡ ایمان ئے راوړے دے په رب خپل وَزِدۡنٰهُمۡ هُدًى ⑬ او
زیات کړی دی مونږه دوئ له جهته د هدایت وَّرَبَطۡنَا عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ او تړلے دے مونږه
په زړونو د دوئ قوت او صبر له وطنه او له ماله او له عیاله او جرأت په اظهار د حق
کښ او په مخامخ بیرته ګرځولو د جواب کښ د دقیانوس غوندے ظالم ته اِذۡ قَامُوۡا
په هغه وخت چه اودریدل دوئ د دقیانوس په مخکښ او دهٔ ماموره کړه په بُت
پرستئ فَقَالُوۡا رَبُّنَا پس وویل دوئ رب ځمونږه چه دے۔ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ
هم هغه دے چه رب دے د آسمانونو او د زمکے لَنۡ نَّدۡعُوَا۟ له سره به اونه بولو او
عبادت به اونهٔ کړو مونږه مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اِلٰهًا غیر له خدائ بل هیڅ معبود او کهٔ بالفرض و
التقدیر بل څوک په خدائ اوباله مونږه لَّقَدۡ قُلۡنَاۤ نو قسم دے چه په تحقیق ویلی به وی

مونږه إِذًا شَطَطًا ⑭ په دغه وخت كښې خطا او دروغ هٰٓؤُلَآءِ دا افسوسيان قَوْمُنَا
اتَّخَذُوْا چه قوم يعنې خپل دے حُمونږه ، نيولی دوی . مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ط غيرله خدايه نور
باطل خدايان لَوْ لَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ ولے نه راوړی په دے باطلو خدايانو او پاستحقاق
دعبادت ددوی باندے بِسُلْطٰنٍۢ بَيِّنٍ ط کوم ښکاره حجت او دليل غير له جبره دقيانوس
فَمَنْ اَظْلَمُ پس څوک دے ډير ظالم مِمَّنِ افْتَرٰى له هغه چا چه له خپله ځانه
اوتړی عَلَى اللّٰهِ په خدائ تعالىٰ كَذِبًا ⑮ دروغ چه هغه نسبت دشريكانو
دے دۀ ته او بيا د قيانوس چه دوی له درے ورځے مهلت ورکړۀ او دوی پخوا
له تمامه ددے درے ورځو او تختيدل نو يلميخا چه مشر ددوی وو په مينځ د لار کښې
وويل دے نورو ته چه وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ او هركله چه په څنګ شوئ تاسو له دے مشركانو
وَمَا يَعْبُدُوْنَ او له هغه بتانو چه عبادت ئے کوی دوی اِلَّا اللّٰهَ بے له خدايه او داځكه چه دوی
به دخدائ عبادت هم کولو او يا دا جمله معترضه ده او مقوله دپروردګار ده او مَا په
پكښې نافيه دے يعنې عبادت نه کوی دا ځلمی دهيڅ مګر دخدائ تعالىٰ فَاْوٗٓا اِلَى الْكَهْفِ
پس ځنګه نزدے کړئ تاسے غار ته او په هغۀ کښې ډيره شئ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ چه اوغوړوی
تاسے لره رب ستاسے بساط درزق او فراخی ئے کاندی درباندے مِنْ رَّحْمَتِهٖ له رحمته
خپله په دواړو جهانو كښې وَيُهَيِّئْ لَكُمْ او تيار كړی تاسے لره مِنْ اَمْرِكُمْ له دے كار
ستاسے چه ترك دماسوى الله دے مِّرْفَقًا ⑯ يو داسے څيز چه تاسے پرے نفع اخلئ
هم په دين او هم په دنيا كښې. **روايت دے** چه هركله دوی په غار كښې ننواتۀ
نو في الحال خوب پرے غلبه راوړه او اوده شول بيا درے ورځے پس دقيانوس
دوی او لټول او پيدا نۀ شول نو دوی پلرونه ئے اونيول نو هغو ورته اوويل چه
حُمونږه مالونه ئے هم ډيرله ځان سره اوړی دی او په دے غرۀ كښې چرته پټ شوی
دی نو دقيانوس سره دخپل لښكر ورپسے لاړه او دوی ئے له وړايه په غاركښې اوليدل
او دا سے گمان ئے اوشۀ چه دوی بيدار دی نو امرئے اوكړو چه د غار خوله سنګ چينه

کړئ چه هم د ننه پکښې سړه شي نو سنګ چینه ئې کړه اما دغه له مقربانو دوه تنه په کښې مسلمانان وو نو هغوی یوه تیږه صافه کړه او د دوی نومونه ئې سره له باقي احواله د دوی پرې وښکله او د غار خولې سره ئې او درولو په دې اُمید چه ګوندې که څوك دلته پېښ شي او دې تختې ته او ګوري او د دوی او باسي وَتَرَى الشَّمْسَ او وینې به ته نمر اِذَا طَلَعَتْ په هغه وخت چه او کړي تَّزٰوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ چه میلان کوي له غاره د دوی ذَاتَ الْيَمِيْنِ اى يمين الآتى یعني په جانب د ښي طرف د راتلونکي د دې غار له اما د اسې تر تیرېږي چه شعاع ئې په دوی نه لګیږي وَاِذَا غَرَبَتْ او په هغه وخت چه لویږي تَّقْرِضُهُمْ اے تترکهم یعني پرېږدي دوی او تر دې تیرېږي ذَاتَ الشِّمَالِ په جانب د چپ طرف د غځ کونکي غار ته وَهُمْ فِيْ فَجْوَةٍ مِّنْهُ ط او حال دا دے چه دوی پراته دي په ارتګا هې د غار کښې یعني په مینځ کښې ئې په دې شان چه له چاپیره پرښه پرانستې هوا لګیږي او له عفونت په امان دي حاصل دا چه نمر په غار کښې ور ننوځي هم صبا او هم بیګاه اما کله له دوی په ښي طرف تیر شي او کله په چپ طرف نو بد بوئي له غاره لرے کړي او په دوی او نه لګیږي چه بدن ته ئې ضرر او نه رسیږي او جامے ئې او نه زړیږي او دا غار د غره په شمالي اړخ کښې دے او ور ئې قطب شمالي ته دے په دې شان چه بنات النعش چه عام خلق ئې کټ بولي د غار د خولې په سر تیرېږي او نمر چه له مشرقه را ښکاره شي نو اول د ننه په غار کښې لګیږي له زمکے هسک په طرف نیرت[1] او بیا ورو ورو راکوزیږي اما شرقي او شمال راځي مائل طرف د ایسان[2] ته او د دوی په خوا کښې را تیرشي نو بیرون را اوځي او بیا چه لوړ ما زیګر شي نو اول د غار په خوله کښې را لویږي کوز په زمکه په طرف د ایسان بیا ورو ورو هسکیږي او د ننه په غار کښې ور ننوځي اما غربي او جنوبي ځي مائل طرف د نیرت ته او بیا د دوی په دے بله خوا تیر شي نو ورك شي اما دا په هغه ایامو کښې وي چه نمر په سرطان[3] کښې داخل شي چه مینځ دے د اوړي کذا ذکره البیضاوی ذٰلِكَ دا تمام

---

[1] مشرق کوټ د ښي طرف ۱۲ [2] مغربي کوټ د ښي طرف ۱۲ [3] نوم د یو برج دے په آسمان کښې ۱۲

حال د دوئ یا د راتلو د دوئ غار ته په دے شان یا دا په څنګ کیدل د نمر له دوئ څخه له دواړو جانبو یا دا قصه کول ستا د ماجرا د دوئ چه د د یو غټ دلیل دے ـ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ له دلائلو د قدرت دخدائ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ هرڅوک چه سمه لار وړ ته الله وښائی فَهُوَ الْمُهْتَدِ ج پس هغه لاره بیاموندونکے دے یعنی سم دے په لار د حق وَمَنْ يُّضْلِلْ او هرڅوک چه ګمراه کړو دهٔ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ پس له سره به نه مومے ته هغهٔ له وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿۱۷﴾ هیڅوک دوست لاره ښودونکے وَتَحْسَبُهُمْ اَيْقَاظًا او ګمان به کوے ته په دوئ د ویخو چه سترګے غړوی وَّهُمْ رُقُوْدٌ ق اوحال دا چه دوئ اوده دی وَّنُقَلِّبُهُمْ او اړوو مونږه دوئ یعنی ملایکے ئے په امر خمونږه سره اړوی ذَاتَ الْيَمِيْنِ په ښی اړخ وَذَاتَ الشِّمَالِ ق اوپه چپ اړخ دپاره ددے چه یو اړخ ئے سخا نهٔ شی په طول د زمانے سره وَكَلْبُهُمْ او سپے د دوئ په محکښ وړ ته پروت وو بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ چه غزونکے په زمکه د دواړو لیچو خپلو بِالْوَصِيْدِ ط په خولے د غار کښ یائے په محکښ لَوِاطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ که وړشے ته دوئ له او نظر واچوے په دوئ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ نو هرآئینه مخ به اوګرځوے له دوئ نه فِرَارًا په طریقه د تیختے سره وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ او هرائینه ډک به کړے شے ته له دوئ نه رُعْبًا ﴿۱۸﴾ له ویرے یعنی د دوئ د لید لو طاقت د هیچا نشته ـ

روایت دے چه د قیانوس پس د بندولو د دروازے د غار بیا زر مړشهٔ او یو څو بادشاهان نور هم وړ پسے تیر شو بیا په اخر کښ یو مسلمان نیک صالح بادشاه تندړوس نوم خدائے پیدا کړو او اکثر خلق د هغه زمانے له حشره منکر وو. کهٔ دے بادشاه هرڅو نصیحت وړ ته کولو هیڅ فائده ئے وړ ته نهٔ کوله نو رب ته ئے سوال اوکهٔ چه کهٔ دوئ ته یو دلیل د حشر اوښودے شی نو دا سوال باعث شو په ویخولو د اصحاب کهف لکه چه وائی وَكَذٰلِكَ او همدا سے لکه چه اوده کړے وو مونږه دا اصحاب کهف بَعَثْنٰهُمْ ویخ کړهٔ مونږه دوئ صحیح سلامت چه نه په طول د زمانے سره څهٔ تغیر ئے په په بدن کښ راغلے وو له هغه وړ ځے چه دوئ اوده شوی وو او نهٔ ئے په جامو

کیږي بلکه لکه چه اوده شوي وو هم هغسې پاڅېدل لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ط د پاره ددې چه
پوښتنه اوکړي دوئ په خپل مینځ کښې سره یعنی یوله بله قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ نو وویل یو ویونکی
له دوئ مکسلمینا چه مشر وو له عمره په دوئ کښې كَمْ لَبِثْتُمْ ط چه څومره موده
تیره کړې ده تاسې په دې غار کښې قَالُوْا نو وویل ورته دې نورو لَبِثْنَا يَوْمًا چه تیره
کړې ده مونږه یوه ورځ سلامته په خوب کښې په خپل ګمان سره اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ط یا
یوه پارچه دورځې او دا ځکه چه دوئ په اشرق ننوتي وو غار ته او بیا چه ورځ شول
نو څا بنت وو نو ځکه ئې اوویل چه که دا څابنت دیلې ورځې وي نو سلامته ورځ
تیره ده اوکه هم هغه ورځ وي نو یوه پارچه دورځې تیره ده او دا ئې وئیل ځکه چه ده ګمان ئې له
ځکه چه اوده ته د خوب موده معلومه نه وي بیا چه خپلو نوکانو او ویښتو ته ئې
اوکتل چه ډېر لوئې شوې وو نو حیران شول او بیا ئې شک پیدا شه نو قَالُوْا وویل
بعضو ترې رَبُّكُمْ اَعْلَمُ چه رب ستاسو ښه دانا دې بِمَا لَبِثْتُمْ ط په هغې موده چه تیره کړیده تاسې
فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ پس اولیږئ یوله تاسې چه یملیخا دې بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ په روپئ ستاسې سره
چه داده اِلَى الْمَدِيْنَةِ دې ښار ته چه افسوس یا طرطوس دې فَلْيَنْظُرْ پس میاید چه
وګوري دا لیږلې شوې اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا چه کوم یو نابینائي د دې ښار ډېر پاک
او پاکیزه دې له جهته د طعامه یعنی د چا طعام حلال او پاکیزه دې فَلْيَأْتِكُمْ پس
میاید چه را دې وړي تاسې له بِرِزْقٍ مِّنْهُ روزي د هغه پاک طعام وَلْيَتَلَطَّفْ او
میاید چه نرمي او مدارا د کوي دا لیږلې شوې په خرید او فروخت کښې وَلَا
يُشْعِرَنَّ او نه دې اګاه کوي دې خامخا بِكُمْ اَحَدًا ﴿۱۹﴾ په تاسې هیڅوك د دې ښار
له خلقو اِنَّهُمْ بیشکه دوئ چه دي اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ که مطلع یا قادر شي په تاسې
يَرْجُمُوْكُمْ نو سنګسار به کړي تاسې اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ یا بیرته به اوګرځوي او داخل به کړي
تاسې فِيْ مِلَّتِهِمْ په دین خپل کښې. وَلَنْ تُفْلِحُوْٓا او له سره به خلاص نه شئ بیا
اِذًا اَبَدًا ﴿۲۰﴾ په دغه وخت هیڅرې یعنی چه یو کرت ئې په خپل دین کښې داخل کړئ

نو بیا به ترے خلاص نهٔ شی **روایت دے** چه هرکله یملیخا ښار له راغے او د ښار دروازے او کوڅے او بازارونه او محلے ئے ټولے په بل بل شان اولیدے نو ډیر حیران شهٔ بیا چه د قیانوسی روپئ ئے خباز له ورکړه نو هغه له ډیره تجربه بل ته اوښوده او هغهٔ بیا بل ته چه په یو دم کښې تمام ښار خبرشو بیا چه حاکم خبرشهٔ نو یملیخا ئے حاضر کړو او نورهٔ خزانه ئے ترے طلب کړه نو دهٔ ورته اوویل چه ما خودا یوه روپئ دخپل پلار له کوره پرون اخستے وه او نن م بازار له راوړے ده او نور هیڅ خبر نهٔیم بیا دوئ ورته اوویل چه د پلار نوم دے څهٔ دے؟ چه نوم ئے ووایه نو دا نوم هیچا ته معلوم نهٔوو نو دوئ وویل دا ټول دروغ وائی بیا دهٔ له ډیره هیبته وویل چه ما دقیانوس ته حاضر کړئ چه هغه څماد ټول احواله خبردے نو دوی وویل چه دا مونږه پورے مسخرے کوی د قیانوس خو کوم درے سوه کاله به کیږی قابو چه مړ دے یملیخا اوویل چه تاسو ما پورے مسخرے کوی ځکه چه مونږه یوه ډله سړی له هغه پرون تختید لی وو او نن زهٔ طعام پسے راغلے یم بیا ئے بادشاه له ورواستهٔ او هغهٔ ته ئے هم دا ټول احوال تیر کړو نو بادشاه دخپلو ټولو مقربانو غارته روان شه او یملیخا غار ته رومبے ورغے او دوئ ئے په دے احوال پوره خبر کړهٔ بیا چه بادشاه د غار خولے له راغے او د دوئ احوال ئے سره د ټولو نومونو په تخته لیکلے اولیده نو ډیر حیران شو نو ورننوت او سلام ئے ورته اوکړو او بیرته ترے راؤوتنو او دوئ بیا پریوته او ارواح ئے قبض شو نو دپاره د بیان دد حال نازل شهٔ وَكَذٰلِكَ او همداسے لکه چه ویخ کړے وو مونږه دوئ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ مطلع کړے وو مونږه تندروس بادشاه او قوم ددهٔ په دے اصحاب کهفو لِيَعْلَمُوا د پاره ددے چه پوهه شی دا قوم چه له حشره منکر وو۔ أَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ په دے چه بیشکه وعده دخدائ رښتیا ده ځکه چه دا خوب او بیداری د دوئ هسے ده لکه مړ کیدل او بیا ژوندی کیدل وَأَنَّ السَّاعَةَ او بل چه پوهه شی دوئ چه بیشکه قیامت چه دے لَا رَيْبَ فِيهَا نشته هیڅ شك په راتلو د ده کښې او مونږ مطلع کړهٔ

دا خلق په دے اصحاب کهفو اِذْ يَتَنَازَعُوْنَ حُكه چه جګړه به کوله سره دوئ بَيْنَهُمْ اَمْرَهُمْ
په خپلو کښې سره په کار د دين خپل کښې يعنى په بعث کښې په دے شان چه بعضو به
حشر يوائحے د ارواحو وايۂ او بعضو به د اجسادو هم ورسره وايه بيا په ليدلو د دوئ سره
دا خبره ظاهره شوه چه بعث به د دواړو وی او چا د اسے ويلے دی چه يمليخا ننوت غار
ته او بادشاه او قوم پسے ئے لاره د ننوتو بيخى بنده شوه فَقَالُوا ابْنُوْا پس او ويل د خلقو
يو بل ته چه سازکړئ تاسو عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ط په دوئ يعنے د غار په سر يو بنا لکه مناره يو
ديوال هسک چه له وړايه ځائ د دوئ معلوم د ا وی او هر څوک ئے وينى چه ادب او
تعظيم ئے کوی روايت دے چه هر کله رسول عليه الصلوة والسلام ارزو اوکړه
د ليدلو د دوئ نو جبرائيل عليه السلام ورته وويل چه ته ئے په خپله نه شے ليدے خو څو
اصحاب دِ اوليږه چه ستا په دين ئے کاندی نو خپل څادر مبارك ئے وغوړاوۂ او صديق رض
او فاروق رض او ابوذر رضی الله عنهم پرے کيناستل او سليمانی باد بوتلل[1] او هغوی ورته
خدائ ژوندی کړه او د رسول عليه السلام سلام ئے ورته اورساوه او کلمه ئے دده په نامه
وويله او بيا ئے وويل چه څمونږه سلام هم ورته اووايئ او بيا پريواته او وفات شول
رَبُّهُمْ اَعْلَمُ بِهِمْ ط رب د دوئ ښهٔ دانا دے په احوالو د دوئ قَالَ الَّذِيْنَ او ويل هغه
کسانو غَلَبُوْا عَلٰى اَمْرِهِمْ چه غالب شوی وو په دين د دوئ يعنى هغه مسلمانان چه قائل
وو په حشر د اجسادو لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِمْ چه هرائينه ساز به کړو مونږه خامخا په
دوئ يعنى په خولے د غار باندے مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾ جماعت چه مسلمانان پکښې مونځ کوی
سَيَقُوْلُوْنَ زر دے چه به اووائی يهود يا فرقهٔ يعقوبيه له نصرٰی د نجران ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ
كَلْبُهُمْ ج چه دوئ درے تنه دی خلورم د دوئ سپے د دوئ دے وَيَقُوْلُوْنَ او وائی فرقه
نسطوريه له نصاری نه خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ چه دوئ پنځهٔ تنه دی شپږم د دوئ سپے
د دوئ دے او دا فرقے وائی دا اقوال رَجْمًا بِالْغَيْبِ ج په هسے ګزارلو د خبر په

---

[1] هغه باد چه تخت د سليمان عليه السلام به ئے تلو [2] يعنى په پوره ته کيدو او په شرمنګ کيدو د جسو له قبرونو نه

غیب سره یعنی خوشے خهٔ وائی له خپل ځانه وَيَقُولُونَ او وائی مومنان له اخباره د
رسول علیه الصلوٰة والسلام نه سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ط چه دوی اوه تنه دی او اتم
دوی سپے د دوی دے قُلْ رَّبِّيْٓ او وایه اے رسوله چه رب ځما اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ ښه د انا
دے په شمار د دوی مَّا يَعْلَمُهُمْ نهٔ پوهیږی په شمار د دوی اِلَّا قَلِيلٌ ۵ قف مګر لږ له خلقو
چه هغه رسول صلے الله علیه وسلم او اصحاب د ده دی یا بعضے له اهل کتابو دی او نومونه
ئے دا دی یملیخا مَكْسَلْمِينَا مَسْلَمِينَا مرنوش دبرنوش شاذ نوش او د شپانه نوم ئے
مرطونس او د سپی نوم قطمیر دے او د بادشاه نوم ئے دقیانوس او د ښار نوم ئے یا طرطوس
وو فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ پس جګړه مهٔ کوه اے رسوله په باب د اصحاب کهفو کښ له اهل
کتابو سره اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا ص مګر ښکاره جګړه او هغه دا ده چه هم هغه قدر ورته
او وایه چه په قرآن کښ راغلی دی بے د دوی له تجهیله او بے رده په دوی وَلَا تَسْتَفْتِ
او فتوی مهٔ غواړه یعنی پوښتنه مهٔ کوه فِيهِمْ په باب د دوی کښ یعنی له قصے د دوی
مِّنْهُمْ اَحَدًا ﴿۲۲﴾ له دے اهل کتابو هیچا نه ځکه چه خدائی تعالیٰ پخپله درته ښودلے
ده په وحی سره **روایت دے** چه هرکله قریشو په تعلیم د یهودو سره د
رسول علیه الصلوٰة والسلام نه د دریو څیزونو سوال اوکړو له رُوح او له اصحاب کهف
او له ذوالقرنین او ده ورته اوویل چه صباله راشئ چه جواب ئے درکړم او انشاء الله
تعالیٰ ئے ورسره اونهٔ ویل نو پنځلس ورځے یا څه کم وزیات وحی رانغله او دے په
دے کار ډیر دلګیر شه او قریشو طعنے برپا کړے نو نازل شهٔ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَايْءٍ او مهٔ
وایه هیڅرے په حق د کوم څیز کښ چه تا اراده کړے وی د کولو د هغهٔ اِنِّيْ فَاعِلٌ چه بے دهٔ
زهٔ کونکے یم ذٰلِكَ غَدًا ﴿۲۳﴾ دا کار صباله اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ز مګر متصل ورسره او وایه
کهٔ اراده شوے وی د خدائی وَاذْكُرْ رَّبَّكَ او یاد کړه رب خپل یعنی مشیت د
دهٔ د اسے چه ان شاء الله ووایه اِذَا نَسِيْتَ په هغه وخت چه فی الحال دِ هیر شو یعنے
کهٔ هغه کار سره متصل استثناء دِ هیره شوه نو بیا هرکله چه دِ یاده شوه هم هغه

وخت ئې و وایه اګرکه پس له کاله وی ځکه چه دا استثناء محض د پاره د تبرك ده نو
اتصال پکښې لازم نۀ دے بلکه اتصال په هغه ځلئې کښې لازم دے چه د پاره د الغاء د حکم وی
لکه طَلَّقتكِ ان شاء الله[1] چه خوك اوائی خپلې ښځې ته وَقُلْ او اووایه عَسٰۤی اَنْ یَّهْدِیَنِ
رَبِّیْ ښائی داچه اوښائی ماته اوبرابرکا ما رب ځما لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا هغه څیز ته چه
ډیر نزدے وی له دے قصے د اصحاب کهف یا له دے هیرشوی څخه رَشَدًا ﴿۲۴﴾ له جهته د
رهنمائیٔ وَلَبِثُوْا فِیْ كَهْفِهِمْ او موده تیره کړے وه دے زلمیو په غار خپل کښې یعنی هغه
موده چه دوئ په خوب اوده وو ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِیْنَ درے سوه کاله تمری وَازْدَادُوْا
تِسْعًا ﴿۲۵﴾ او زیات کړی وو پرے دوئ نهۀ کاله نور هم چه دا مجموعه درے سوه کاله
شمسی کیږی روایت دے چه پس له نزول د دے ایته اهل کتابو اوویل چه
موږ ه په درے سوه کاله پوهیږو او په زیاتی نۀ پوهیږو نو نازل شۀ قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ او وایه
وړته چه خدائ ښه دانا دے بِمَا لَبِثُوْا ج په مقدار د هغه مودے چه تیره کړے ئې ده
په خوب لَهٗ غَیْبُ السَّمٰوٰتِ خاص هم دۀ له دی پټے خبرے د اسمانونو وَالْاَرْضِ ط او د
زمکے یعنی ټول د ساکنانو د دوئ اَبْصِرْ بِهٖ څۀ ښۀ لیدونکے دے خدائ د هر موجود
وَاَسْمِعْ ط او څۀ ښۀ اوریدونکے دے د هر مسموع مَا لَهُمْ نشته دے اهل د آسمانونو او
د زمکے له مِّنْ دُوْنِهٖ غیر له دۀ مِنْ وَّلِیٍّ ز دوست هیڅوك چه متولی شی د کارونو د دوئ
وَلَا یُشْرِكُ او نۀ شریکوی دے فِیْ حُكْمِهٖ اَحَدًا ﴿۲۶﴾ په فرمان او په قضا خپلې کښې
هیڅوك له موجوداتو وَاتْلُ مَا اُوْحِیَ اِلَیْكَ او لوله هغه چه رالیږلے شوے دے تا ته مِنْ
كِتَابِ رَبِّكَ ج له کتاب د رب خپل چه قرآن دے او طلب د تبدیل د دوئ ته غوږ
مۀ باسه یعنی هغه چه دوئ درته وائی ائْتِ بِقُرْاٰنٍ غَیْرِ هٰذَاۤ اَوْ بَدِّلْهُ ځکه چه
لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ قف ج نشته بدلونکے او تغیر ورکونکے الفاظو او خبرو د دۀ له هیڅوك یعنی په دے[2]
تبدیل هیچا له قدرت نشته وَلَنْ تَجِدَ او له سره به نه مومے ته مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿۲۷﴾

له یعنے طلاقه کړے ما که رضا شوی وی د خدای ۱۲ عه یعنی را وړه بل قرآن یا هم دے بدل کړه ۱۲

غیر له دهٔ هیڅ ځائے د پناهٔ کهٔ قصد او کړے دے کار روایت دے چه هر کله مشرانو د کفارو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او ویل چه دا خوار ان بر بنډ او بڼی تږی چه مونږ ه پرے شرمیږ و لکه بلال رض او صهیب رض او خباب رض او عمار رض او سلمان رض او دا نور دفقراؤ د مسلمینو شو دوئ له ځانه اوشړه چه مونږ د رسره کښینو نو نازل شو وَاصْبِرْ نَفْسَكَ او کلک کړه او وتړه ځان خپل په ډیر صبر سره مَعَ الَّذِيْنَ له هغه کسانو سره يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ چه بولئ دوئ او عبادت کوئ د رب خپل بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ هم صبا او هم بیگاه یعنی په هر وخت یا مراد ترے مونځ دے دفجر او دعصر يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ چه غواړی دوئ رضا ددهٔ یا ځپله هم دے وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ او نهٔ دِ تیریږی وړاندے دواړه سترگے ستا عَنْهُمْ ج له دوئ یعنی نظر او التفات خپل مدام هم په دوئ لره او وړاندے ترے مهٔ تیروه تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ج چه غواړے ته ته بناسُت د دے واړه ژوندون وَلَا تُطِعْ مَنْ او فرمان مهٔ وړه دهغه چا اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ چه غافل کړے دے مونږه زړهٔ ددهٔ عَنْ ذِكْرِنَا له یاد کیریٔ خپلے لکه امیه ابن خلف یا عُیینه شو سره له خپلو تابعانو چه منع کوی دوئ تا له مجلس د فقراؤ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ او پیروی کوی دوئ دارزو د نفس خپل وَكَانَ اَمْرُهٗ او وی کار ددهٔ همیشه فُرُطًا ﴿۲۸﴾ تجاوز له حقه او غورځول د حق شانه وَقُلِ الْحَقُّ او وایه دوئ ته چه دا اسلام یا قرآن چه دے حق دے او ربښتیا دے چه راغلی دے مِنْ رَّبِّكُمْ قف له جانبه درب ستاسے فَمَنْ شَآءَ پس هر څوك چه اراده لری دایمان په خدائ فَلْيُؤْمِنْ پس میاید چه ایمان دِ راوړی وَّمَنْ شَآءَ او هر څوك چه اراده لری دکفر فَلْيَكْفُرْ لا پس میاید چه کافر دِ شی او امام زاهدی ویلی دی چه مراد له دے امر توعید او تهدید دے نه اباحت او اجازت ځکه چه ویلی شوی دی اِنَّآ اَعْتَدْنَا بیشکه مونږه چه یو تیار کړیدے مونږه لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا لا ظالمانو له دا سے اور اَحَاطَ بِهِمْ چه چاپیره شوے دے له دوئ سُرَادِقُهَا پردے دهغے اور چه هغه چار دیواری ده داور یا د لوگی گرد چاپیره له کفارو څخوا

له دخول د دوزخ وَاِنْ یَّسْتَغِیْثُوْا اوکهٔ فریاد اوکهٔ دوی د تندے د لاسه یُغَاثُوْا بِمَآءٍ نو
فریاد به ئے واخستے شی په ورکولو د داسے اوبو سره کَالْمُهْلِ چه په شان د ویشید لی
خیری وی د تیلو یا د و یلی کړیو مسووی چه هر کله خولے ته را نزدے کړے شی یَشْوِی
الْوُجُوْهَ ؕ نو وریته به کړی مخونه له غلیے له حرلړته بِئْسَ الشَّرَابُ ؕ بد خیز دے د
څښلو د ا مُهل یا دا ویشید لے اوبهٔ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿۲۹﴾ او بد دے دا اور ځائے د تکیے
یعنی د اوسید نے اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے په خدائے
او په رسول او په قرآن وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او کارونه کوی د نیکو اِنَّا لَا نُضِیْعُ بیشکه
چه مونږه نهٔ ضایع کوو اَجْرَ مَنْ اجر د هغه چا اَحْسَنَ عَمَلًا ﴿۳۰﴾ چه ډیر ښهٔ وی له
جهته د عمله اُولٰٓئِکَ دا ټولے د مؤمنانو چه د ے لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ مقرر دی دوئی
لره باغونه د اقامت چه دوئی به همیشه وی په هغوکښی تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ چه
بهیږی به لاندے د میوو د دوئی خلور واړه قسمه ولے یُحَلَّوْنَ فِیْهَا په لاس کولے به شی
دوئی ته په هغه باغونوکښی مِنْ اَسَاوِرَ وحی ساز کړے شوی؟ مِنْ ذَهَبٍ له سرو
زرو وَّیَلْبَسُوْنَ او اغوندی به دوئی ثِیَابًا خُضْرًا جامے زرغونے ځکه چه په رنګونو
کښی دا ډیر غوره رنګ دے مِّنْ سُنْدُسٍ له مهین دیباجه وَّاِسْتَبْرَقٍ او له پیړه
دیباجه مُّتَّکِـِٕیْنَ فِیْهَا چه تکیه وهلی به ناست وی په هغه باغونوکښی عَلَی الْاَرَآئِکِ ؕ
په تختونو بے غمه نِعْمَ الثَّوَابُ ؕ ښه جزا ده دا جنت او دا نعمتونه وَحَسُنَتْ او ښهٔ
دی دا تختونه یا دا جنت مُرْتَفَقًا ﴿۳۱﴾ ع تکیه ګاه یا منزل او آرام ګاه **روایت دے**
چه له بنی اسرائیلو دوه تنه وړونړه وو یوقطروس نومے چه کافر وو او بل یهوذا نومے
چه مؤمن وو او دوئی ته له خپله پلاره اته زره دیناره پاتے شو نو دے کافر خپله حصه
خلور ځایه کړه په زرے ئے مکه وپیروده او په زر دربار واچوو او په زرے ئے ښځه
اوکړه او په زرے ئے مریونه او نور مال و متاع وپیرودهٔ ۔ او دے مؤمن خلور واړه
زره د خدائی په رضا ورکړے او بیا ئے وویل چه اے ربه! زهٔ خو په زرو زمکه په جنت

کښې او په زرو ما ڼئ او په زرو غلمان له تا نه غواړم نو پروس ذکا رد کا فرانو او مؤمنانو
مثال تړلے دے په دغه دواړو رونړو پورے لکه چه وائی وَاضْرِبْ لَهُمْ او وتړه دوئ له
مَّثَلًا یو مثال په کفارو او مؤمنانو پورے رَّجُلَیْنِ حال د دوو سړیو جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا چه
وړکړی وو مونږه یو له دے دواړو چه قطروس کافر وو جَنَّتَیْنِ مِنْ اَعْنَابٍ دوه باغونه
له تاکونو دانګورو وَحَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ او مخفوف کړی وو مونږه هغه دواړه باغونه په خرما
کانو سره یعنی ګرد چاپیره له دواړو څیرمه دیوالونو نه خرماګانے پیدا کړے وے مونږه
وَجَعَلْنَا بَیْنَهُمَا او پیدا کړے وو مونږه په مابین د دے دواړو باغونو کښې زَرْعًا ﴿۳۲﴾
کښت زار دپاره دکر دغلے چه حظوظ او لذوذ دواړه سره ولاړوی کِلْتَا الْجَنَّتَیْنِ هر یو له دے
دواړو باغونو چه وو اٰتَتْ اُکُلَهَا وړکوله به ئے میوه خپله پوره وَلَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَیْئًا
او هیڅ قدره ظلم یعنی نقصان به ئے نه کولو له محصوله خپله هیڅ څیز یعنی عادت د باغونو
داوی چه یو کال میوه ډیره کوی او یو کال لږه او هغه به همیشه ډیره کوله وَّفَجَّرْنَا
خِلٰلَهُمَا او بهولے وه مونږه په مینځ د دے دواړو باغونو کښې نَهَرًا ﴿۳۳﴾ والد چه اسباب
د معیشت پکښې ټول پوره شی وَّکَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ج او وُه دے کافر له نور هر قسم له میوے
غیر له انګورو او له خرماګانو یا نور هر قسم مال له سرو زرو او له سپینو زرو او له نورو
اشیاؤ روایت دے چه هر کله یهوذا ډیر محتاج شهٔ نوله ورور ئے چه طلب
اوکړو او هغه ورته وویل چه څما او ستا مبلغ خو برابر وو نو تا ولے خوشے عبث کړو بیا
ئے له لاسه اوبیوه او په خپلو باغونو کښې ئے اوګرځولو دپاره دفخر لکه چه وائی فَقَالَ
لِصَاحِبِهٖ پس وویل قطروس ملګری خپل ته یعنی ورور ته چه یهوذا او وَهُوَ یُحَاوِرُهٗ
او حال دا چه دهٔ جګړه ورسره کوله یعنی دهرے خبرے جواب به ئے ورکړځولو الزامًا نو
قطروس او وویل چه اَنَا اَکْثَرُ زهٔ ډیر زیات یم مِنْکَ مَالًا له تا نه له جهته د ماله
وَّاَعَزُّ نَفَرًا ﴿۳۴﴾ او ډیر عزتناک یم له جهته د ملاتړه یا د څامنو او د خادمانو چه ډیر دی
وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ او ننوتو دا قطروس په باغ خپل کښې وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ج او حال دا چه

دے ظالم وو په ځان خپل په سبب د فخر او د عجب او د ډیر محبت د دنیا سره قَالَ مَآ
اَظُنُّ وویل ده چه گمان نهٔ کوم زهٔ اَنْ تَبِيْدَ د دے چه هلاك او خراب به شي هٰذِهٖٓ
اَبَدًا ﴿۳۵﴾ دا باغ ځما هیچرے وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً او بل گمان نهٔ کوم زهٔ په قیامت
راتلونکی وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ او هرا ئینه چه بوتلے شم زهٔ په زعم ستا اِلٰى رَبِّىْ د رب خپل ته
نکه چه واقع نهٔ لَاَجِدَنَّ نو قسم دے چه بیا به مومم زهٔ خامخا خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿۳۶﴾ غوره
له دے باغ خپله له جهته د عاقبته قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ بیا و وویل دے قطروس ته ملگری خپل
یعني ورور دے چه یهوذا دو وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ او حال دا چه دهٔ جگړه ورسره کوله اَكَفَرْتَ
بِالَّذِىْ آیا کافر شوے په انکار له بعثه په هغه خدائ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ چه پیدا کړے
ئے هغهٔ ته په اول کښ له خاورے یعني نیکهٔ ستا چه آدم على نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام
دے چه علت دے د وجود ستا ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ بیا ئے پیدا کړے تهٔ له نطفے چه مادهٔ
قریبه ستا ده ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴿۳۷﴾ بیا ئے پیدا کړے تهٔ او سازئے کړے سړے ثابت
روغ په اندامونو او تا بیا کفر اختیار کړو لٰكِنَّا ۫ اے لٰكِنْ اَنَا یعني لیکن هرچه زهٔ یم خو
دا سے وایم چه هُوَ اللّٰهُ رَبِّىْ حال دا دے چه خدائ ځما رب دے وَلَآ اُشْرِكُ او شریک
نهٔ پیدا کوم زهٔ بِرَبِّىْٓ اَحَدًا ﴿۳۸﴾ په رب خپل پورے هیڅوك وَلَوْلَآ او نهٔ ولے
اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ په هغه وخت چه ننوتے ته باغ خپل ته قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ او دِ نه
ویل چه هرهغه چه اراده شوے وی د خدائ هم هغه به اوشي یعني دا سے دِ ولے ونهٔ ویل
چه کهٔ رب دا باغ پاتے کولی نو پاتے به شي او که خرابوی ئے نو خراب به شي او بل دا سے
دِ ولے ونهٔ ویل چه لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ج نشته قوت هیڅ اله په هیڅ څیز مگر په توفیق د
خدائ سره اِنْ تَرَنِ كهٔ وینے تهٔ ما اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ چه زهٔ ډیر کم یم له تا مَالًا
وَّوَلَدًا ﴿۳۹﴾ له جهته د ماله او د فرزندو فَعَسٰى رَبِّىْٓ پس امید لرم له رب خپله اَنْ
يُّؤْتِيَنِ د دے چه راکړی دے ماله باغ په آخرت کښ خَيْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ ډیر غوره
له دے باغ ستا چه په دنیا کښ دے وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا او ولیږی په دے باغ ستا

حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ تندر له طرفه د اسمانه فَتُصْبِحَ صَعِيْدًا زَلَقًا ﴿۴۰﴾ پس شی دا باغ
ستا ډاګ میدان خویه بے زرغونے اَوْ يُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا یا شی اوبه ددے نوتو ننکے ښکته
په زمکه کښی فَلَنْ تَسْتَطِيْعَ پس له سره به بیا ونهٔ توانیږے تهٔ لَهٗ طَلَبًا ﴿۴۱﴾ دے اوبو له
طلب **روایت دے** چه دغه مؤمن ګفته خدائے رښتینی کړه او په هغه باغ
ئے افت راغے لکه چه وائی وَ اُحِيْطَ بِثَمَرِهٖ او احاطه اوکړے شوه په میوے دهغه
باغ یعنی محیط شهٔ افت دخدائی په هغهٔ چه میوے اوونے او عمارتونه ئے ټول
خراب شو او بیا د احال چه قطروس اولیدهٔ فَاَصْبَحَ پس صباح کړودهٔ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ چه
چوړ کول به ئے دواړه ورغوی خپل له ډیرے پښیمانئ او له ارمانه به ئے ورغوی سره مخل
او افسوس به ئے کولو عَلٰى مَآ اَنْفَقَ فِيْهَا په هغه مبلغ چه صرف کړے وودهٔ په آبادئ
ددے باغ کښی وَهِيَ خَاوِيَةٌ او حال دا چه هغه عمارتونه ددے باغ یعنی دیوالونه ئے
لویدلی پراته وو عَلٰى عُرُوْشِهَا په باموتو خپلو یعنی اول ئے بامونه اولیدل او بیا
دیوالونه پرے دپاسه راولویدل نو ورغوی به ئے سره مخل وَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ او ویل
به ئے چه اے کاشکے افسوس دے مالره لَمْ اُشْرِكْ چه نه وے نیولے ما شریك بِرَبِّيْٓ
اَحَدًا ﴿۴۲﴾ په رب خپل پورے هیڅوك چه دا باغ م په سبب د دغه شرك خراب شه وَ
لَمْ تَكُنْ لَّهٗ او نهٔ وُوهٔ له فِئَةٌ يَّنْصُرُوْنَهٗ کوم ټولے د مددګارانو چه مدد وکړی
ورسره په دفع ددے افت کښی له باغه مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائی وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا ﴿۴۳﴾
او نهٔ دے پخپله وو مددکونکے له خپل ځان سره چه له خدائی انتقام واخلی ددے باغ
هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ په دے وخت یاری او مددګاری چه ده په وخت د زوال د نعمت یا
په ورځ د قیامت یا په ورځ د جزا لِلّٰهِ الْحَقِّ ط هغه خدائی له ده چه حق یعنی درست
کار او راست ګفتار دے هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا دے ډیر غوره دے له جهته د ثوابه
وَّخَيْرٌ عُقْبًا ﴿۴۴﴾ او ډیر غوره دے له جهته د عاقبته وَاضْرِبْ لَهُمْ او ونره دے
خلقو ته مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مثال ددے واړه ژوندون چه دے په تازه والی فِی

الحال او په سُرعت د زوال کښې کَمَآءٍ په مثال دهغه اوبو دے یعنی دهغه گیاه دے چه زر غونه شوے وی په هغه اوبو سره اَنۡزَلۡنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ چه راکوزے کړیدی مونږه له طرفه د آسمانه فَاخۡتَلَطَ بِهٖ پس انبوه او یوله بله سره خلط شی په دے اوبو نَبَاتُ الۡاَرۡضِ زر غونه د زمکے او قوی او کمال ته ورسیږی او زمکه پرے ډکه او ښائسته شی فَاَصۡبَحَ هَشِیۡمًا پس شی صباله دا نبات وُچ کلک مات مات تَذۡرُوۡهُ الرِّیٰحُؕ چه الوزوی ئے بادونه او کړد ئے گرځوی په طرف وَكَانَ اللّٰهُ او دے خدائے عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ مُّقۡتَدِرًا ﴿۴۵﴾ په هر څیز توانا قادر **حاصل** داچه لکه زمکه چه په اول کښې وچه کلکه پرته وی بیا چه باران پرے اوشی نو تمامه شنه زر غونه شی او بیا دوه ورځے پس هغه گیاه ئے داسے وچه کلکه شی چه بادونه ئے په هر طرف الوزوی او هم د اسے حال د بنی آدم هم دے چه په اول کښې دے ځوان قوی روغ مور پیږ وی اوله ډیره کبره زمکے ته نهٔ گوری بیا دوه ورځے پس زوړ بے قوته رنځور گے ترے بربنډ پروت وی بیا ناگاه باد د اجل پرے راوالوزی او له بیخه ئے ونړوی بیائے په زمکه وغُنډی۔

نظم

اے غافله هم نادانه تهٔ خبر نهٔ ئے له ځانه- دا دنیا ده له ارمانه اخر تلهٔ دی له جهانه د قیامت سختی دی ډیرے خو شیطان کړے لټا هیرے- ځکه څپے ډکرے چاپیرے په غفلت له دے دنیانه بیا په هیڅ به نهٔ خلاصیږے او س ډوډئے که پوهیږے- دا دنیا چه پرے نازیږے پاتے شونکے ده له تانه

روایت دے چه هرکله مشرانو د قریشو به ډیر فخر کولو په مالونو او په ځامنو خپلو په رسول صلے الله علیه وسلم او و یل به ئے چه دے نه مال لری او نه ځامن نو نازل شهٔ اَلۡمَالُ وَالۡبَنُوۡنَ مال د دنیا او ځامن چه دی چه د خدائے له جهته خالی وی۔ زِیۡنَةُ الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَاۚ دواړه ښایست دے د دے واړه ژوندون او تو ښه نهٔ دی د قبر او د قیامت وَالۡبٰقِیٰتُ الصّٰلِحٰتُ او هغه نیک عملونه چه دی چه تر آبده میوه غوره ځوی سری ته یا د اینځه واړه مونځونه یا کلمه طیبه یا تسبیح او تحمید او تکبیر چه

دی عِنۡدَ رَبِّکَ ډیر غوره دی په نزد درب ستا ثَوَابًا له جهته دجزا وَّخَیۡرٌ اَمَلًا ﴿۴۶﴾ او
ډیر غوره دی له جهته دامیده وَیَوۡمَ نُسَیِّرُ الۡجِبَالَ او یاده کړه هغه ورځ چه روان به کړو
مونږ ه غرونه یعنی دبیخه به ئے راونړوو او بیا پاس په هوا کښ به ئے تار په تار کړو
لکه گرد وَتَرَی الۡاَرۡضَ بَارِزَةً او وینے به ته زمکه ښکاره یعنی خالی میدان چه داغرونه
او ودانئ او ونے به ټولے ترے لرے کړو او لوړے اوژورے به هم هوارے کړو او
مړی به هم له قبرونو راولاړ کړو وَحَشَرۡنٰهُمۡ او راجمع به کړو په موقف د حساب
کښ فَلَمۡ نُغَادِرۡ پس پرے به نږدو مِنۡهُمۡ اَحَدًا ﴿۴۷﴾ له دوئ هیڅوک یعنی اولین او
اٰخرین به ټول راحاضر کړو وَعُرِضُوۡا او بیا به دا ټول عرض کړے شی عَلٰی رَبِّکَ
صَفًّا په رب ستا ډ لے ډ لے صف تړلی چه یوله بله به نه پناه کیږی لکه بادشاه ته چه
لښکریان تیروی او بیا به حق سبحانهٗ ورته ووائی چه لَقَدۡ جِئۡتُمُوۡنَا هرائینه په
تحقیق راغلئ تاسے مونږ له بربنډ لغړ پوازے بے ماله بے اولاده بے دولته بے حشمته
کَمَا خَلَقۡنٰکُمۡ لکه چه لغړ پیدا کړی وی مونږه اَوَّلَ مَرَّةٍ ز اول کرت له خپله موره بَلۡ
زَعَمۡتُمۡ بلکه گمان به کولو تاسے اے منکرانو له بعثه اَلَّنۡ نَّجۡعَلَ ددے چه دسره به
مقرر نه کړو مونږه لَکُمۡ مَّوۡعِدًا ﴿۴۸﴾ تاسے له یو وعده گاه دپاره د حساب او دجزا
وَوُضِعَ الۡکِتٰبُ او کیښه خودے شی دفتر د اعمالو په میزان کښ یا په لاسونو د اهل
حشر فَتَرَی الۡمُجۡرِمِیۡنَ پس وینے به ته گنهکاران مُشۡفِقِیۡنَ مِمَّا فِیۡهِ ویریدونکی له
هغه گناهونو خپلو چه په دے دفتر کښ لیکلی دی یعنی هرکله چه گناهونه خپل په دفتر
خپل کښ ووینی نو خوف به پرے غالب شی وَیَقُوۡلُوۡنَ یٰوَیۡلَتَنَا او وائی به له ډیره
تعجبه چه اے افسوس دے مونږ لره مَالِ هٰذَا الۡکِتٰبِ څهٔ حال دے ددے دفتر څمونږه
لَا یُغَادِرُ صَغِیۡرَةً چه نهٔ پریږدی هیڅ گناه نه وړه وَّلَا کَبِیۡرَةً او نه لویه اِلَّاۤ اَحۡصٰىهَا
مگر په شمار کړی او ساتلی ئے دی ټول وَوَجَدُوۡا مَا عَمِلُوۡا او بیا به مومی دوئ هرهغه
چه کړی ئے وو که نیک دی او کهٔ بد حَاضِرًا ط په مخکښ حاضر پراته وَلَا یَظۡلِمُ

رَبُّكَ اَحَدًا ﴿۴۹﴾ ع او ظلم نهٔ کوی رب ستا په هیڅوا نه په کمولو د نیکئ او نه په زیاتولو د
بدئ وَاِذْ قُلْنَا او یاد که هغه چه وویل مونږه لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا ملائکو ته چه سجده
اوکړئ لِاٰدَمَ ادم علی نبیناوعلیه الصلوٰة و السلام ته فَسَجَدُوْٓا پس سجده اوکړه ټولو
اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط مګر یو ابلیس او نهٔ کړه كَانَ مِنَ الْجِنِّ وو دے په اصل کښې له پیریانو
فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ط پس اووت دے له فرمانه درب خپل په ترک د سجدے سره
اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ ایا پس نیسئ تاسے دے وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ او اولاد دهٔ دوستان مِنْ
دُوْنِيْ بغیر له ما وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ط او حال دا چه دوئ تاسے له دشمنان دی یعنے ابلیس
او اولاد دهٔ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ﴿۵۰﴾ بد دے ظالمانو له بدل له خدائ چه د خدائ
فرمان نهٔ منی او د دهٔ منی مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ نهٔ دی حاضر کړی ما دوئ یعنی دا شیطان
او اولاد د دهٔ خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ نه په وخت د پیدا کولو دا سمانونو او نه د زمکے
کښې وَلَا خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ ص او نهٔ په وخت د پیدا کولو دځانونو د دوئ کښې د پاره د مصلحت
یا د مدد کارئ وَمَا كُنْتُ او نهٔ یم زهٔ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ نیونکے د ګمراهانو چه ابلیس او اولاد
ئے دے عَضُدًا ﴿۵۱﴾ مټ او بازو یعنی یاران او مددګاران وَيَوْمَ يَقُوْلُ او یاد کړه هغه
ورځ چه به او وائی خدائ مشرکانو ته نَادُوْا شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ چه نعرے کړئ
هغه شریکانو ځما ته زَعَمْتُمْ چه ګمان به کولو او ویل به تاسو چه دا شریکان دی
ځما فَدَعَوْهُمْ پس نعرے به وکړی دوئ دغه بُتانو خپلو ته د پاره د اعانت فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا
لَهُمْ پس هیڅ جواب به ورنهٔ کړی دا بُتان دوئ له او نه به مددګاری ورسره وکړی
وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ او پیدا به کړو مونږه په مابین د دوئ او د خدایانو ئے مَّوْبِقًا ﴿۵۲﴾ ځائ
د هلاک وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ او وبه وینی دا مشرکان اور له ورایه دا چه خلوصیت کاله الله
به ترمینځه وی فَظَنُّوْٓا پس یقین به راشی د دوئ اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا په دے چه بیشکه
دوئ لویدونکی دی په دے اور کښې وَلَمْ يَجِدُوْا او بیا به نهٔ مومی دوئ عَنْهَا

له یعنی زهٔ پیدا کولو کښې بے پروا یم له مددګارانو ۱۲

مَصۡرِفًا ﴿۵۳﴾ له دے اوړه ځائے د په خښک کید و وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا اوهر ائینه په تحقیق
بیان کړي دی موږ په فِيۡ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ په دے قرآن کښ لِلنَّاسِ مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ خلقو
ته له هر قسم مثاله چه د دوئی احتیاج وو نه پیښیږی هم د قصو دتبر وا متونو د پاره د
عبرت او هم له دلائلو د قدرت د پاره د بصیرت وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ او دے انسان اَكۡثَرَ
شَيۡءٍ جَدَلًا ﴿۵۴﴾ ډیر له هر څیزه له جهته د جګړے او د باطل خصومت مراد ترے نضرکافر[1]
دے وَمَا مَنَعَ النَّاسَ او نه دی منع کړی دا اهل د مکے اَنۡ يُّؤۡمِنُوۡٓا له دے چه ایمان
راوړی اِذۡ جَآءَهُمُ الۡهُدٰى په هغه وخت چه راغے دوئی له موجب د رهنمائی چه رسول
صلی الله علیه وسلم یا قرآن دے وَيَسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّهُمۡ او بل له دے چه بخښنه وغواړی
له رب خپله بس له راوړلو له ایمان یعنی له دے ئے نه دی منع کړی اِلَّاۤ اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ
مګر دے منع کړی دی چه راشی دوئی له سُنَّةُ الۡاَوَّلِيۡنَ هغه تړلے لاره دخدائی
په هلاکولو د پخوانو اُمتو کښ اَوۡ يَاۡتِيَهُمُ الۡعَذَابُ یا راشی دوئی له عذاب بیخکن
قُبُلًا ﴿۵۵﴾ مخامخ یا په انواعو وَمَا نُرۡسِلُ الۡمُرۡسَلِيۡنَ او نهٔ لیږو موږه استاذی اِلَّا
مُبَشِّرِيۡنَ مګر زیری ورکونکی په مؤمنانو د رضوان دجنت او د دیدار وَمُنۡذِرِيۡنَ ج او
ویرونکی دکافرانو له غضبه له دوزخه له احتجابه وَيُجَادِلُ الَّذِيۡنَ او جګړه کوی هغه
کسان كَفَرُوۡا چه کافرشوی دی بِالۡبَاطِلِ په دروغو چه کله وائی تاسے هم بشر
ئے حُمونږه په شان او کله وائی چه ملائیک ولے نهٔ راځی مونږ ته او کله وائی چه
خدائی ولے ځان نهٔ بنائی مونږ ته لِيُدۡحِضُوۡا دپاره د دے چه باطل او محوه کړی دوئی
بِهِ الۡحَقَّ په دے جګړے سره حق یعنی قرآن یا دین د اسلام وَاتَّخَذُوۡۤا اٰيٰتِيۡ او نیولی دی دوئی
اٰیتونه ځما د کتاب او دلائل د قدرت ځما وَمَاۤ اُنۡذِرُوۡا او بل هغه څیز چه ویروے
شوی دی پرے دوئی چه قیامت او عذاب او دوزخ دے هُزُوًا ﴿۵۶﴾ ځائے د مسخرو وَ
مَنۡ اَظۡلَمُ او څوک دے ډیر ظالم مِمَّنۡ ذُكِّرَ له هغه چا چه پند ورکړے شوے وی ده

[1] نضر ځوئی د حارث دے چه قرآن کښ به ئے جګړه کوله ۱۲

لره بِاٰیٰتِ رَبِّهٖ په ایتونو درب خپل چه قرآن دے فَاَعْرَضَ عَنْهَا پس اوګرځوی مخ له
هغه ایتونو او قبول ئے نهٔ کړی وَنَسِیَ مَا او هیر ئے کړو هغه کار له قَدَّمَتْ یَدٰهُ ط چه
لیږلی دی مخوا دواړو لاسونو دهٔ چه کفر او معاصی دی او د هغو عاقبت ته نهٔ ګوری
ځکه چه اِنَّا جَعَلْنَا بیشکه چه ایښی دی مونږه عَلٰی قُلُوْبِهِمْ اَکِنَّةً په زړونو دوئ
پردے اَنْ یَّفْقَهُوْهُ د پاره د دے چه مبادا پرے پوهه شی وَفِیْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا او په غوږونو
د دوئ کښې مونږ ایښے دے کونړوالے چه کلام د حق وانهٔ وری په سمع د قبول سره
وَاِنْ تَدْعُهُمْ او که و بولے تهٔ دوئ اِلَی الْهُدٰی موجبا تو د هدایت ته چه ایمان او
قرآن دے فَلَنْ یَّهْتَدُوْٓا پس له سره به لار بیانهٔ مومی دوئ اِذًا اَبَدًا ﴿۵۷﴾ په دغه وخت
چه بولے ئے ته هیچرے ځکه چه په ازل کښې ایمان دوئ له نهٔ دے مقرر شوے وَرَبُّكَ
الْغَفُوْرُ او رب ستا ډیر بخښونکے دے ذُو الرَّحْمَةِ ط چه خښتن د ډیر رحمت دے لَوْ
یُؤَاخِذُهُمْ که نیولے وے ده دا کفار بِمَا کَسَبُوْا په سبب د هغه شرک او ګناهونو
او تکذیب د رسول علیه الصلوٰة والسلام او د قرآن چه کړے دے دوئ لَعَجَّلَ لَهُمُ
الْعَذَابَ ط نو هرآئینه جلت به ئے رالیږلے وو دوئ له عذاب په دنیا کښې بَلْ لَّهُمْ
مَّوْعِدٌ بلکه مقرر دے دوئ له د پاره د عذاب یوه وعده ګاه چه ورځ د قیامت ده او
او بیا چه هغه وعده ګاه راشی لَّنْ یَّجِدُوْا انو له سره به نهٔ مومی دوئ مِنْ دُوْنِهٖ مَوْئِلًا ﴿۵۸﴾
غیر له دهٔ پناهی او ځائے د تختے وَتِلْكَ الْقُرٰٓی او دا ښارونه چه دی یعنی اهل د دے
ښارونو چه مونږه ئے تا ته قصے کړے دی لکه قوم د نوح علیه الصلوٰة والسلام او
عاد او ثمود او مؤتفکت او د اسے نور ډیر شو اَهْلَكْنٰهُمْ هلاک کړی دی دوئ
مونږه لَمَّا ظَلَمُوْا هرکله چه ظلم اختیار کړو دوئ په کفر او په معاصیو او په مجادله
او په تکذیب د رسول علیه الصلوٰة والسلام وَجَعَلْنَا او مقرر کړے وو مونږه لِمَهْلِكِهِمْ
مَّوْعِدًا ﴿۵۹﴾ د پاره د هلاک د دوئ یو وخت معلوم **روایت دے** چه پس له غرقه
د فرعون یوه ورځ موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام خلقو ته خطبه او لوستله ډیره بلیغه

دکه له پنده نوله دے خلقوچا وویل چه اے پیغمبره لهتا به په جهان کښې بل څوك
زیات وی په علم کښې نوده وویل چه رانهٔ ښکاریږی چه به وی او یاد اخبره ئے
په زړه کښې اوګرځیده نو وحی ورته وشوه چه ځموږ یو بنده دے چه هغه زیات
دے له تا نو موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام اوویل چه هغه به چرته وی چه زهٔ ترے
څهٔ زده کړم نو پیغام اوشو ورته چه مجمع البحرین کښې دے هلته چه سیند د
د فارس یو ځائے شوے دے له سینده د روم سره نو موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام
اراده دورتلو اوکړه لکه چه وائی وَاِذْ قَالَ او یاد کړه اے رسوله هغه چه وویل مُوْسٰی
لِفَتٰىهُ موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام خادم او شاګرد خپل ته چه یوشع بن نون
بن افرا بن یوسف دے لَآ اَبْرَحُ چه همیشه به ګرځم او روان به یم زهٔ حَتّٰٓی
اَبْلُغَ تر هغه پورے چه ورسیږم مَجْمَعَ الْبَحْرَیْنِ ځائے د جمع کیدلو د
دواړو سیندونو چه د فارس او د روم دے اَوْ اَمْضِیَ حُقُبًا ﴿۶۰﴾ یا به روان یم
اوګرځم به ډیره موده نو یوشع یو څو ډوډئ او یو مهے وریت کړے له ځان سره
واخسته او د موسیٰ علیه السلام سره روان شهٔ او ورته او ویلے شو چه په هر
ځائے کښې چه دا مهے درځځه ورك شو هم هغه ځائ دے د هغه بنده فَلَمَّا بَلَغَ پس
هرکله چه اورسیدل دوئ دواړه مَجْمَعَ بَیْنِهِمَا هغه مینځ تا یو د جمع کید و د دواړو سیندونو
ته نو هلته ئے هیڅوك بیانهٔ مونده او هلته یو چشمه وه د آب حیات او د دے چشمے په خوا کښې
یو لویه تیږه هم وه نو دوئ دواړه هغه تیږے ته تکیه کیناستل او موسیٰ
علیه الصلوٰة والسلام اوده شو او یوشع علیه السلام په هغه چشمه اودس کولو نو
د هغه او بو څاڅکی په ماهی ولویدل نو بیرته ژوندے شهٔ او ترے لاړه نو سیند کښې
ولویدهٔ بیا چه موسیٰ علیه السلام ویښ شه نو ددهٔ دا خبره هیره شوه چه دا حال ئے
ورته ویلے وے لکه چه وائی نَسِیَا حُوْتَهُمَا نو هیر شو د دواړو ماهی د دوئ فَاتَّخَذَ سَبِیْلَهٗ
پس ونیوله ماهی لاره خپله فِی الْبَحْرِ په سیند کښې سَرَبًا ﴿۶۱﴾ ای سَرَبَ سَرَبًا یعنی تلك

ئے کولو په تنګ کولو سره دا سے چه سیند کښې ورته کوځه سازه شوه لکه تهه خانه
او دوئ بیا له دغه ځایه وړاندے روان شول فَلَمَّا جَاوَزَا پس هرکله چه تیر شو دوئ له
مجمع البحرین قَالَ لِفَتٰىهُ نو ووئیل موسیٰ علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام خادم خپل ته
چه یوشع ؑ وو چه ځا بتت شهٔ اوس اٰتِنَا غَدَآءَنَا راوړه مونږ له ځابنتی طعام
ځمونږه چه وے خورو اویو قدر ډمه هم اوکړو ځکه چه لَقَدْ لَقِیْنَا هرائینه په تحقیق
بیینه شوه مونږته مِنْ سَفَرِنَا له سفره ځمونږه هٰذَا نَصَبًا ﴿۶۲﴾ چه داده ډیره سختی او ستومانی
بیا چه یوشع ؑ د سترخوان بیرته کړو او ماهی پکښې نهٔ وو نو تیر حال ئے یاد شهٔ او قَالَ اَرَءَیْتَ
ووئیل یوشع ؑ چه آیا ګورے ته اِذْ اَوَیْنَآ چه هغه وخت چه آرخ ولګاوو مونږ اِلَی الصَّخْرَةِ
هغه لوئے تیږے ته چه دچشمے په څنګ کښې وه فَاِنِّیْ پس بیشکه زهٔ چه یم نَسِیْتُ
الْحُوْتَ ز هیر م شه ماهی یعنی حال د ماهی چه تا ته م وے وَمَآ اَنْسٰنِیْهُ او نهٔ وو هیر
کړی له ما بیا نول ددے حال تا ته اِلَّا الشَّیْطٰنُ مګر شیطان چه مشغول ئے کړم اَنْ
اَذْكُرَهٗ ج له دے چه یاد کړم تا ته دا چه ماهی بیرته ژوندے شهٔ او له ما ولوید ه وَاتَّخَذَ سَبِیْلَهٗ
او وے نیوه لاره خپله فِی الْبَحْرِ ۖ عَجَبًا ﴿۶۳﴾ په سیند کښې عجیبه دا سے چه دے په او بو کښې
روان وو او کوځه به سازیده قَالَ ذٰلِكَ نو ووئیل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام دا حال
د ماهی چه دے مَا كُنَّا نَبْغِ ۖ ق هغه دے چه غوښته به م دا حال ځکه چه وعده کاه هم
داوه فَارْتَدَّا عَلٰٓی اٰثَارِهِمَا پس بیرته را اوګرځیدل دوئ دواړه هم په هغه قدمونو
چه راغلی وو قَصَصًا ﴿۶۴﴾ ای یقصان قصصًا یعنی هم په هغه پلونو چه پرے راغلی
وو بیرته پرے روان شهٔ خو چه بیا مجمع البحرین له راغلهٔ فَوَجَدَا عَبْدًا پس بیا موندهٔ
دوئ دواړو یو بنده عالی شان مِّنْ عِبَادِنَآ له هغه بندګانو ځمونږه چه محض په
خپل فضل سره اٰتَیْنٰهُ رَحْمَةً ورکړے وو مونږه دهٔ له رحمت مِّنْ عِنْدِنَا له جانبه
ځمونږه چه هغه وحی یا علم یا طول د حیات دے وَعَلَّمْنٰهُ او ښودلے وو مونږه دهٔ ته مِنْ
لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿۶۵﴾ له جانبه خپله یو داسے قسم علم چه خاص دے په مونږه پورے او غیر له ښودنے

ځمونږ ده ئے هیڅوک نه شی زده کولے چه هغه علم غیب دے روایت دے چه
هر کله موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام بیرته مجمع البحرین له راغے نو حضرت خضرؑ
ئے اولیده چه تکیه وهلے ناست وو او جامه ئے په مخ اچولے وه بیا موسیٰ علیه الصلوٰة
والسلام سلام پرے واچولو نو دهٔ مخ بربنډ کړو او سلام ئے واخستهٔ او وړته ئے
وویل چه څوک ئے هغه وویل چه موسیٰ یم د بنی اسرائیلو ماموره شوے یم په صحبت
ستا او په زده کولو له تا لکه چه وائی قَالَ لَهٗ مُوْسٰی نو وویل دهٔ ته موسیٰ علیه الصلوٰة
والسلام هَلْ اَتَّبِعُكَ چه ایا پیروی کوم زهٔ ستا یعنی یوښتنه کوم له تا د دے چه کهٔ
ستا خوښه وی نو زهٔ به ستا پیروی اوکړم عَلٰۤی اَنْ تُعَلِّمَنِ بنا په دے یعنی په شرط د دے
چه زده کړے ته ما ته مِمَّا عُلِّمْتَ بعض له هغه علمه چه ښودلے شوے دے تا ته
رُشْدًا ﴿۶۶﴾ په طریقه د رهنمائی یعنی د اسے علم چه ما په لاره د خیر برابر کړی قَالَ
اِنَّكَ نو وویل خضرؑ چه بے شکه ته لَنْ تَسْتَطِیْعَ له سره به ونهٔ کړے شے طاقت مَعِیَ
صَبْرًا ﴿۶۷﴾ له ما سره د صبر وَكَیْفَ تَصْبِرُ عَلٰی مَا او څرنګه به صبر اوکړے ته په هغه کار لَمْ
تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ﴿۶۸﴾ چه نه وی کړے احاطه تا په هغه کار له جهته د پوهے یعنی زهٔ به یو کار کوم
بنا بر مصلحت چه په ظاهر کښ به هغه تا ته بد ښکاریږی نو اعتراض به را باندے کوے
قَالَ سَتَجِدُنِیْۤ نو وړته وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام زر دے چه بیا به مومے ما
اِنْ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا کهٔ اراده وی د خدائی صبر کوونکے به هر هغه کار چه له تا ئے
وینم وَّلَاۤ اَعْصِیْ لَكَ اَمْرًا ﴿۶۹﴾ او بے فرمانی به نهٔ کوم له تا د هیڅ کار قَالَ نو وویل خضرؑ
فَاِنِ اتَّبَعْتَنِیْ پس کهٔ متابعت کوے ته ځما او نهٔ اودریږے فَلَا تَسْئَلْنِیْ پس مهٔ
پوښتنه ما عَنْ شَیْءٍ له هیڅ څیزه اګر کهٔ تا ته بد ښکاریږی هم حَتّٰۤی اُحْدِثَ لَكَ تر هغه پورے
چه پخپله آغاز کړم زهٔ تا ته مِنْهُ ذِكْرًا ﴿۷۰﴾ له هغه خبر فَانْطَلَقَا وقفه پس روان شوه دواړه
چه حضر علیه السلام او موسیٰ علیه السلام وو دسیند په غاړه او یوشع وړ پسے روان وو

لـه چه راغله بیړئی او مانړوکانو سورول بیا چه حضرت ئے اوپیژند لو نو دیر په تعظیم ئے سوارهٔ کړه ۱۲

حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا ترهغه پورې چه سواره شو دواړه فِي السَّفِينَةِ په بېړۍ کښې او د سیند هغه غاړې ته نزدې شو خَرَقَهَا ط نو سورئ کړه خضرؑ هغه بېړۍ داسې چه تختې ترې و وېستې قَالَ نو ووېل ورته موسیٰ علیه السلام او حال دا چه جامې به ئې په هغه سورئ کښې منډلې أَخَرَقْتَهَا آیا سورئ دِ کړه دا بېړۍ لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا ج د پاره د دې چه غرق کړې ته اهل د دې بېړۍ ځکه چه دا خرق موجب د غرق دې او حال بیا دا وو چه اوبه له دې سورې پورې ته نه راختې او بېړۍ ته ئې هیڅ ضرر نه رسولو لَقَدْ جِئْتَ هرائینه په تحقیق راوړې ده یعنی او دې کړه شَيْئًا إِمْرًا ﴿٧١﴾ یو کار د ډیر عظیم شنیع مخالف له طبع قَالَ أَلَمْ أَقُلْ نو ووېل حضرؑ آیا ما نه ووېل إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ چه بې شکه ته به له سره او نه کړې شې مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ له ما سره صبر نا گاه هغه عهد ئې یاد شه نو قَالَ ووېل موسیٰ علیه الصلوة والسلام چه هغه ځما هیره شوې وه نو لَا تُؤَاخِذْنِي مه ما بِمَا نَسِيتُ په هغه کار چه هیر شوې وی له ما وَلَا تُرْهِقْنِي او مه رسوه ما ته مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ﴿٧٣﴾ له دې کاره ځما چه متابعت یا نسیان دې سختي فَانطَلَقَا وقف پس بیا روان شول دواړه چه له بېړۍ ووانه او تلل حَتَّىٰٓ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا ترهغه پورې چه پیښ شول دواړه په یو هلک فَقَتَلَهُ لا پس مړ کړو حضرؑ هغه هلک په ذبح یا په بل څه قَالَ أَقَتَلْتَ نو ووېل موسیٰ علیه الصلوة والسلام چه آیا مړ دې کړو نَفْسًا زَكِيَّةً م سړې پاك بِغَيْرِ نَفْسٍ ط پرته له قصاص چه پورې وی پرې لَّقَدْ جِئْتَ هرائینه په تحقیق چه راوړې دې یعنی شَيْئًا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾ ډیر بد کار قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ نو ووېل خضرؑ آیا نه ووې ما لا مخوا له دې تا ته چه إِنَّكَ بیشکه ته چه ئې لَن تَسْتَطِيعَ له سره به طاقت او نه کړې شې مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ له ما سره د صبر قَالَ إِن سَأَلْتُكَ نو ووېل موسیٰ علیه الصلوة والسلام چه که پوښتنه او کړه ما له تا نه عَن شَيْءٍ له کومه څیزه چه له تا صادر شوې وو لکه دا تیر افعال ستا چه وو بَعْدَهَا پس له دې کرت فَلَا تُصَاحِبْنِي ج پس مه ملګرې کوه ما دوباره له ځان سره قَدْ بَلَغْتَ په تحقیق او رسیدې ته مِن لَّدُنِّي عُذْرًا ﴿٧٦﴾

ځما له طرفه حد د عذر ته یعنی چه درے کرته م مخالفت اوکړو له تا نو پس له هغې ته
معذوره شوے فَانْطَلَقَا نو پس بیا روان شول دواړه حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ تر هغه پورے چه راغله دواړه
اَهْلَ قَرْيَةِ ۣاسْتَطْعَمَآ اَهْلَ دیو ښار ته چه انطاکیه یا ایله یا کوم بل ښار وو نو طعام اُوغوښته
دوئ اَهْلَهَا له اهل د هغې قریے فَاَبَوْا پس اِبا راوړه هغه خلقو او قبول ئے نه کړو اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا
دا چه میلمانه کړی دوئ او طعام ورله ورکړی نو هم هغسے وږی تږی ترے روان شول ځکه
چه هغه خلق ډیر بخیلان وو لکه مقوله ده شَرُّ الْقُرٰى الَّتِیْ تَبْخَلُ بِالْقِرٰى یعنی بد ترین دکلیو
هغه دے چه بخل کوی په میلمستیا د میلمه کښ فَوَجَدَا فِيْهَا پس بیا موندہ دوئ په نواحیو
ددے قریے کښ جِدَارًا یو زوړ دیوال راکوز شوے يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ چه نزدے وو دے ته
چه راپریوځی په زمکه فَاَقَامَهٗ ؕ پس ودراوو حضرؑ هغه دیوال په ښتئ ورکولو یا په
بیا نوی کولو یا هسے لاس پورے وهلو سره قَالَ نو وویل ورته موسیٰ علیه الصلوة و
السلام چه دوئ مونږ له نوړئ هم رانه کړه او ته ورله دیوال سازوے نو لَوْ شِئْتَ که
اراده وے ستا لَتَّخَذْتَ نو هرائینه اخستے به دِ وه عَلَيْهِ اَجْرًا ﴿۷۷﴾ په ابادولو دد دیوال مزدوری
له دوئ قَالَ هٰذَا نو وویل خضرؑ دا دریم اعتراض ستا چه دے فِرَاقُ بَيْنِيْ وَ بَيْنِكَ ۚ
موجب د بیلتون دے په ما بین ځما او ستا کښ او هر کله چه وخت د بیلتون راغے او
ازمینت منتهی شه نو دا تیرے شیبے به دِ او باسم سَاُنَبِّئُكَ زر دے چه اوس به اګاه کړم
تا بِتَاْوِيْلِ مَا په غرض د هغه کار لَمْ تَسْتَطِعْ چه او دِ نه کړے شه طاقت عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿۷۸﴾
په هغه د صبر اَمَّا السَّفِيْنَةُ هر چه هغه بیړئ وه چه ما نه کړے وه ما فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ پس
وه دلسو مسکینا نو چه پنځه سره روندو وو او پنځه ترے شل وو چه په ځائے پراته وو او
پنځه ترے روغ وو چه دپاره دحاصلولو دقوت خپل يَعْمَلُوْنَ فِى الْبَحْرِ کسب د ملاحئ به ئے کولو په
سیند کښ فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا پس اراده اوکړه ما په امر دخدائ ددے چه عیبجنه کړم
زهٔ دا بیړئ وَكَانَ وَرَآءَهُمْ او حال دا چه وو په مخکښ یا شاته ددوئ مَّلِكٌ یو بادشاه
چه نوم ئے جلندے بن کرکره وو او ددوئ لاره پرے راغلے وه او نیا دا بادشاه چه وو يَّاْخُذُ

آخسته دهٔ کُلَّ سَفِینَةٍ هره روغه بیړئ غَصْبًا ﴿۷۹﴾ په غصب حُکم علیحده کړه **رباعی**

له شپې د اهل الله شه پوخوا سته - چه حکمت ئے معلوم نهٔ وی بل هیڅ یا ته
کهٔ بیړئ دِ کړه په سیند کښ خضر ماته - زیان به ئے یو وی او زر نفع به ئے وی تا ته

وَ اَمَّا الْغُلٰمُ او هر چه هغه هلک وو حسین نامے چه وژلے وو فَکَانَ اَبَوٰهُ پس وو مور او
پلار دهٔ دواړه مُؤْمِنَیْنِ مؤمنان فَخَشِینَآ پس اوېرېدو مونږه اَنْ یُّرْهِقَهُمَا له دے چه او به
رسوی د اهلک دوئ دواړو ته طُغْیَانًا وَّ کُفْرًا ﴿۸۰﴾ سرکشی او کفر فَاَرَدْنَآ پس اراده اوکړه
مونږه اَنْ یُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا د دے چه چه بدل ور کړی دوئ له رب د دوئ په عوض د هلک
کښې بل فرزند خَیْرًا مِّنْهُ زَکٰوةً ډېر غوره له هغه مقتول له جهته د پاکوالی وَّ اَقْرَبَ رُحْمًا ﴿۸۱﴾
او ډېر نزدے له جهته د مهربانئ او د نیکی له والدینو سره چه هغه بیا یوه جینئ وه چه د هغے له
پُشته بیا اویا پیغمبران علٰے نبینا وعلیهم الصلوٰة والسلام پیدا شو۔ **رباعی**

مهربانه ئے قادره کردګاره - ډېره لویه دِ عطا ده بے شماره
چه یو ځوئ وا خلے کافر له مور پلاره - نو درے نیم شلے بنیان ورکړے له واره

وَ اَمَّا الْجِدَارُ او هر چه هغه دیوال وو چه ماوره ته پُشتی اینبے وه فَکَانَ لِغُلٰمَیْنِ پس وو
د دوو تنو هلکانو یَتِیْمَیْنِ فِی الْمَدِیْنَةِ چه یتیمان وو دواړه په هغه ښار کښ چه انطاکیه یا
ایله وو او نو مونه ئے اوصریم وو وَ کَانَ تَحْتَهٗ او وه لاندے د دے دیوال کَنْزٌ لَّهُمَا
خزانه د دوئ دواړه چه د سرو یا سپینو زرو وه او کهٔ دا دیوال لوید لے وے نو دا خزانه
به برسیره شوے وه او چا به وړے وه او یا دا خزانه یوه تخته وه چه پرے لیکلی وو۔

عَجِبْتُ لِمَنْ یُّؤْمِنُ بِالْقَدْرِ کَیْفَ یَحْزَنُ - عَجِبْتُ لِمَنْ یُّؤْمِنُ بِالرِّزْقِ کَیْفَ یَتْعَبُ
عَجِبْتُ لِمَنْ یُّؤْمِنُ بِالْمَوْتِ کَیْفَ یَفْرَحُ - عَجِبْتُ لِمَنْ یُّؤْمِنُ بِالْحِسَابِ کَیْفَ یَغْفَلُ
عَجِبْتُ لِمَنْ یَّعْرِفُ الدُّنْیَا وَتَقَلُّبَهَا بِاَهْلِهَا - کَیْفَ یَطْمَئِنُّ اِلَیْهَا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

وَ کَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ج او وو پلار د دوئ یو نیک سړے چه نوم ئے کاشح وو او یا اوو م نیکه وو

[1] تعجب دے د هغه چا چه باور کوی په تقدیر او غم کوی۔ تعجب دے له هغه چا چه باور کوی په روزئ او
ور پسے ویر کوی۔ تعجب دے له هغه چا چه باور لری په مرګ څرنګه خوشحالی کوی تعجب دے (باقی پر صفحه ۳۱ کښ)

د دوئ فَاَرَادَ رَبُّكَ پس اراده اوکړه رب ستا اَنْ يَّبْلُغَآ اَشُدَّهُمَا د دے چه ورسیږی
دوئ د واړه حد د بلوغ او د کمال د عقل خپل ته وَيَسْتَخْرِجَا او بیا را اوباسی د دوئ كَنْزَهُمَا ق ملى
خزانه خپله او دا ټول کارونه چه کړی دی ما رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ج محض له جهته د مهربانئ
وو د جانبه د رب ستا لکه چه بیان د هر یو بیرته تیر شوے دے وَمَا فَعَلْتُهٗ او نهٔ دے کړے
ما دا یو کار هم له دے تیرو کارونو چه تا او لیدل عَنْ اَمْرِيْ ط له ځانه خپله بلکه ټول م
په فرمان د رب کړی دی ذٰلِكَ تَاْوِيْلُ مَا دا بیرته ټول حقیقت د هغه کار دے لَمْ تَسْطِعْ
چه طاقت نهٔ شو کولے تا عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿۸۲﴾ په هغه د صبر **رباعی**

اے رازقه د هرچا ارحم له ټولو رحیمانو۔ مهربانه په هرچا ئے خصوصًا په یتیمانو
چه د دوه پیسو سخی وی خرڅولے په لکهو ۔ اوچه پته ئے برسیره شی ساتے له غلیمانو

وَيَسْئَلُوْنَكَ او پوښتنه کوی د امشرکان له تا په مشوره د یهودو عَنْ ذِی الْقَرْنَيْنِ ط له
قصے د ذی القرنین چه اسکندر رومی وو او دے مؤمن صالح وو او په نبوت کښے اختلاف
دے او ذوالقرنین ځکه باله شی چه د مشرق او مغرب بادشاه وو یا دوه قرنه یا ئیدے
وو یا تاج ئے دوه پرے لرلے یا په سر ئے دوه کوڅئ د ویښتو پریخے وے یا کریم الطرفین
وو یا علم ظاهری او باطنی ئے دواړه لرل قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَيْكُمْ او وایه اے رسوله دوئ ته
چه زر دے چه به ولولم په تاسے ته یعنی تاسے ته مِّنْهُ ذِكْرًا ط ﴿۸۳﴾ له ده یعنی د دهٔ قصه
او بیان اِنَّا بیشکه مونږه چه یو مَكَّنَّا لَهٗ مرتبه او قوت او سلطنت ورکړے وو مونږه
دهٔ له فِی الْاَرْضِ په زمکه کښې وَاٰتَيْنٰهُ او ورکړے وو مونږه ده له مِنْ كُلِّ شَیْءٍ له هر
هغه څیزه چه چه مخلوق ورته محتاج کیږی یا هغه چه د بادشاهانو بکار یږی سَبَبًا ﴿۸۴﴾ یو
لاره رسونکے هغه څیز ته فَاَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۸۵﴾ پس پیروی ئے اوکړه د هغے لارے چه مغرب
ته تللے وو حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ تر هغه پورے چه ورسیده دے مَغْرِبَ الشَّمْسِ ځائے د پریوتو

(بقیه حاشیه صفحه ۳۱) له هغه چا چه با ور لری په حساب او غافل کیږی تعجب دے له هغه چا چه پیژنی
دنیا او گرځیدل د دے په اهل خپل او بیا آرام کیږی له دے سره نشته بل خدائ مگر یو الله دے محمد صلے الله
علیه وسلم استاذ دے د خدای دے ۔ خطاط محمد صادق (زهیر) چیرهارے ډاکوال۔

د نمرته وَجَدَهَا تَغْرُبُ نو بیا ئے مونده دا نمرچه لویږی فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ په هغه چشمه کښې
چه ډکه وه له لارے وَّ وَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ؕ او بیا ئے موند دے چشمے سره یو قوم د کفارو چاغ
شین سترګی سره ویخته چه اغوستن ئے پوستکی او خوراك ئے د بحری حیوانا تو غوښے
وے قُلْنَا نو وویل مونږه يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اے ذوالقرنینه! اودا ندا په وحی او یا په
الهام وه اِمَّآ اَنْ تُعَذِّبَ یا دا سے کار دے چه عذاب ورکړے ته دے قوم له که ایمان رانهٔ وړی
دوئ وَ اِمَّآ اَنْ تَتَّخِذَ او یا دا سے کار دے چه او نیسے ته فِيْهِمْ حُسْنًا ﴿۸۶﴾ په باب د دوئ
کښې لاره دنیکئ او د احسان که ایمان راوړی قَالَ نو وویل ذوالقرنین اَمَّا مَنْ ظَلَمَ
هرچه هغه څوك دے چه ظلم یعنی اصرار کوی په کفر خپل فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ
پس زر دے چه عذاب به ورکړو مونږه ده له په دنیا کښې په قتل سره ثُمَّ
يُرَدُّ بیا به بوتلے شی په آخرت کښې اِلٰى رَبِّهٖ رب خپل ته د پاره دجز فَيُعَذِّبُهٗ پس
عذاب به ورکړی خدائ هغه له عَذَابًا نُّكْرًا ﴿۸۷﴾ عذاب نا اشنا سخت چه هیچانهٔ
وی لید لے وَاَمَّا مَنْ اٰمَنَ او هرچه هغه څوك دے چه ایمان راوړی وَعَمِلَ صَالِحًا
او عمل کوی د نیکو فَلَهٗ جَزَآءَ نِ الْحُسْنٰى ج پس مقرر ده ده هغه له ښه جزا په
دواړو جهانو نو کښې چه دلته امن دے له قتله او هلته رضوان او جنت او دیدار دے
وَ سَنَقُوْلُ لَهٗ او بیا زر دے چه به او وایو مونږه دهٔ ته مِنْ اَمْرِنَا له فرمان خپل مونږه یعنی
له هغه تکالیفو چه دے پرے ماموره کړے وو مونږه يُسْرًا ط ﴿۸۸﴾ اسان کار چه د دهٔ طاقت
پرے رسیږی له زکوٰة له خراجه له نورو تکالیفو ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۸۹﴾ بیا ئے پیروی او کړه
د هغے لارے چه مشرق ته تللے وه حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ تر هغه پورے چه ورسیدهٔ دے مَطْلِعَ
الشَّمْسِ ځائے د ختلو د نمرته یعنی منتهیٰ دا بادئ ته په طرف د مشرق کښې وَجَدَهَا
تَطْلُعُ نو بیا ئے مونده دا نمرچه راخیژی هر صبا عَلٰى قَوْمٍ په یو قوم چه حبش دے لَّمْ
نَجْعَلْ لَّهُمْ چه نهٔ وو پیدا کړے مونږه دوئ له مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ﴿۹۰﴾ لا بیرته له نمره پردهٔ
یعنی د دوئ او د نمر په مینځ کښې پنا هی نهٔ وه له پوشا کُ څکه چه بربند وو او نه

له دیواله اوله بامه ځکه چه ودانی یکښې نهٔ شوه کیدے چه زمکه ئے ډیره نرمه وه نو
دکو تو په ځائے به ئے تهه خانے سازے کړے وے او په هغه کښې به ئے خپل گذران
کاوو کَذٰلِكَ ط همداسے وو حال د ذوالقرنین لکه چه مونږ بیان کړو وَقَدْ اَحَطْنَا او
په تحقیق احاطه کړے وه مونږه یعنی چاپیره شوے و وعلم څمونږه بِمَا لَدَیْهِ په هغه
لښکرو او اسبابونو او الاتو د جنګ چه ده څخه وو خُبْرًا ﴿۹۱﴾ له جهته داګاهۍ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۹۲﴾
بیا پیروی اوکړه ده د هغې لارے چه شمال ته تللے وه حَتّٰٓی اِذَا بَلَغَ تر هغه پورے چه ورسید
بَیْنَ السَّدَّیْنِ مینځ د هغو دواړو غرونو ته چه د ارمینئ او د آذربائجان دے وَجَدَ مِنْ
دُوْنِهِمَا نو بیائے مونده په هغه خواله کے دواړو غرونو قَوْمًا لا یو عجیبه قوم بد رنګه
بد شکله چه له ډیرے ناپوهۍ لَا یَکَادُوْنَ نهٔ وو نږدے دے خبرے ته یَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ﴿۹۳﴾
چه پوهه شی دوئ د چا په خبره چه یاجوج ماجوج بالرسی او ژبه ئے له هر چا مخالفه
وه نو په ډیر مشقت سره په اشارو تو نو به ئے سره پوهول قَالُوْا یٰذَا الْقَرْنَیْنِ بیا ووئیل
هغه څیرمه خلقو دے سدین ته چه اے ذوالقرنین اِنَّ یَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ بیشکه دا قوم د
یاجوج او د ماجوج چه دے چه اولاد د یافث بن نوح ؑ دے او په قد بعضے یوه لیشت او
بعضے شپږ شلے گزه دی او هر کله چه دوئ له دے سدین بیرون راووزی له ډیرے
لوږے نو دوئ مُفْسِدُوْنَ فِی الْاَرْضِ فساد کونکی دی په زمکه څمونږه کښې داسے
چه مدام آدمیان راځخه وژنی او کښېنتونه خرابوی اوښنهٔ واښهٔ ټول راځخه او خوری
او چه ډیر اوږی شی نو بنی آدم هم رانه خوری او مونږ ترے نه ډیر په عذاب یو
فَهَلْ نَجْعَلُ پس آیا مقرر کړو مونږه لَكَ خَرْجًا تاله خراج څهٔ قدرے له خپله ماله
کهٔ ستا رضاوی عَلٰٓی اَنْ تَجْعَلَ په شرط د دے چه ساز کړے تهٔ بَیْنَنَا په مابین څمونږه
کښې وَبَیْنَهُمْ سَدًّا ﴿۹۴﴾ او په مابین د دوئ کښې یو دیوال د پاره د حصار ولو د دوئ
چه بیرون نه شی راوتلے چه مونږ ترے په آرام او سو قَالَ مَا مَکَّنِّیْ نو ووئیل سلطان
اسکندر هغه خیز چه ماله دست رس راکړے دے فِیْهِ رَبِّیْ په هغه خیز کښې رب زما خَیْرٌ هغه

ډیرغوره دے له هغه ماله چه تاسے یے ماله راکوئ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ پس مدد کاری اوکړئ
تاسے ټول له ما سره په قوت یعنی په هغه ځیزونوکښ چه څهٔ پرے په دے کارقوی کیږم
لکه اُسپنه اوسکارهٔ اولرګی اوبنئ اودس اوقلعی او اُستکاران شو اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ چه ساز
کړم په مابین ستاسے وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿۹۵﴾ اوپه مابین ددوئ کښ یوه پرده سخته کلکه اٰتُوْنِيْ
زُبَرَ الْحَدِيْدِ ؕ تو راوړی ماله پالئ داوسپنے نوزمکه یے وکنوده ترهغه پورے چه اوبهٔ
رابنکاره شوے بیا هغه خندق یے په تیږو سره پوخ راپورته کړو دزمکے ترسره پورے
بیا له هغه په پورته به یے پالئ داوسپنے ایخودے اومینځ ترمینځه یے لرګی اوسکارهٔ په کښ
ایخودهٔ څوچه دادیوال دهغو دواړو غرونوله سرونوسره برابرشهٔ او دادیوال ځلور زره
قدمه یا سل فرسخه اوګد وُو او پنځه شپیته ګزه پلند وُو اوسل پنځوس ګزه له زمکے هسک
وُو حَتّٰۤى اِذَا سَاوٰى ترهغه پورے چه برابراو هوارشهٔ دادیوال بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ په مابین
دڅوکو دهغه دواړو غرونوکښ نوبیا یے سکارهٔ پرے انبارکړهٔ اوکړد چاپیره یے بنئ وړته
کیخودے قَالَ انْفُخُوْا ؕ نواویل سلطان چه پُوکړئ دابنئ چه داپالئ سرے شی نوپُو
یے کړے حَتّٰۤى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ ترهغه پورے چه وے ګرځوله دااوسپنه اوریعنی تکه سره
داورپه شان قَالَ اٰتُوْنِيْۤ اُفْرِغْ نوبیا اویل سلطان چه راوړئ ماله چه توئ کړم عَلَيْهِ
قِطْرًا ﴿۹۶﴾ په دے دیوال داوسپنے مس وِیلی کړی نودامس په چاوددونو ددے پالئ کښ
ننواته اوټول سره یوچک شهٔ فائده په دے ایت کښ تنازُع ده دفعلینو چه اٰتونی او
اُفرغ دے په یومفعول کښ چه قِطْرًا دے چه هرفعل واپی داځما مفعول دے
اوباقی احوال یے په نحوکښ مفصل بیان دی فَمَا اسْطَاعُوْۤا پس نهٔ طاقت لری دا یاجوج
ماجوج اَنْ يَّظْهَرُوْهُ ددے چه پاس راسورهٔ شی په سرددے دیوال په سبب د ډیر
جګوالی او ډیرخویه والی دهغهٔ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ اونهٔ طاقت لری دوئ ددے دیوال
نَقْبًا ﴿۹۷﴾ دسُوری کولو له جهته د ډیر سختوالی اوکلکوالی دهغهٔ بیاهرکله چه دادیوال یے
تمام کړو قَالَ هٰذَا اویل سلطان چه داتماموّل ددے دیوال چه دی رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ ۚ

مهربانی ده له جانبه د رب ځما په دے خلقو چه وېريږي له شره د ياجوج او ماجوج
فَاِذَا جَآءَ پس بیا په هرهغه وخت چه راغله وَعْدُ رَبِّيْ وعده د رب ځما د راتلو د دې
جَعَلَهٗ دَكَّآءَ نو کاندی به دا دیوال هوار او برابر له زمکے سره وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ او ده دا
وعده د رب ځما چه دوئ به راوزی حَقًّا ﴿۹۸﴾ ربښتینې بے شبهے ځکه چه د اخروج د دوئ هم
یوه نخښه د قیامت **روایت دے** چه دوئ به په داسے ازدحام راوزی چه له ډیر
والی به یو په بل سره سوریږی او سیند ونه به ټول وچ کړی او چاریان بلکه وینے به هم
ټولے وخوری او هغه بنی آدم چه لاس ئے پرے ورسیدهٔ او مکے او مدینے او بیت المقدس
ته به نهٔ شی ننوتے او نور تمام ملک به له ډیره ازدحامه ولتوی لکه چه وائی وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ
او پرېږدو به مونږه بعضے له دے یاجوج ماجوج يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ به راوځی دوئ له
ډیره ازدحامه يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ موج به وهی او ننوځی به په بعضو نور وکښی او یا مراد
جن او انس دی چه په ورځ د قیامت به له ډیر حیرته او اضطرابه سره ګډ وډ شی او
په یو بل به سره ننوځی وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ او پوکے به وکړے شی په شپیلئ کښ فَجَمَعْنٰهُمْ جَمْعًا ﴿۹۹﴾
پس راجمع به کړو مونږه دا ټول خلق په جمع کولو سره په میدان د محشر کښ د پاره د حساب او د
جزا وَّعَرَضْنَا جَهَنَّمَ او راښکاره به کړو مونږه د دوزخ يَوْمَئِذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ په دغه ورځے د پاره
د کافرانو عَرْضَا ﴿۱۰۰﴾ په ښکاره کولو سره له ورایه د پاره د هیبت الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ
هغه کافران چه وی د زړهٔ سترګے د دوئ له ډیره غفلته فِيْ غِطَآءٍ په پرده کښ عَنْ
ذِكْرِيْ له یاده ځما یعنی له لیدلو د هغه آیتونو چه زهٔ پرے یادیږم له قرآن ځما وَكَانُوْا
او وو دوئ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ﴿۱۰۱﴾ چه طاقت ئے نهٔ لرلو د اوریدو د پند او د کلام ځما
له غلبے د کونړوالی نه اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا آیا پس ګمان کوی هغه کسان چه کافران
دی اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ دا دے چه به ونیسی دوئ بندګان ځما لکه عیسٰی او عزیر او ملائک
علیهم الصلوٰة والسلام شو مِنْ دُوْنِيْٓ اَوْلِيَآءَ بر ته له ما دوستان یعنی معبودان چه
بیا دوئ ته نفع او رسوی نو دا ګمان ئے خطا دے اِنَّآ اَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ بیشکه مونږه

چه یٔو تیار کړے دے موږه دوزخ لِلْکٰفِرِیْنَ نُزُلًا (۱۰۲) د پاره د کافرانو منزلګاه یا میلمستیا
او په دے کښې په دوئ پورے مسخرے دی او بل تنبیه ده په دے چه دا دوزخ خو هسے
میلمستیا قدرے ده او عذاب خو لا وړاندے دے قُلْ هَلْ نُنَبِّئُکُمْ او وایه دوئ ته چه
آیا خبر کړو موږه تاسے بِالْاَخْسَرِیْنَ اَعْمَالًا (۱۰۳) په ډیرو زیان کارانو له جهته د عملونو
اَلَّذِیْنَ دوئ هغه کسان دی ضَلَّ سَعْیُهُمْ چه ضایع او باطلے دی دا منډے د دوئ په
نیکو اعمالو پسے فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا په دے واړه ژوندون کښې لکه عالمان او عابدان د یهودو
او د نصارٰی ؤ او یا روافض او یا خوارج یا ریا کاران یا اهل بدعت دی اما مشهوره دا ده
چه مراد ترے کفار دی یعنی دوئ چه دا خیرخیرات کوی هیڅ ترے نه قبلیږی وَهُمْ
یَحْسَبُوْنَ او حال دا چه دوئ ګمان کوی د دے چه اَنَّهُمْ بیشکه دوئ چه دی
یُحْسِنُوْنَ صُنْعًا (۱۰۴) ښهٔ لاڼ کارکوی او په واقعه کښې داسے نهٔ ده اُولٰٓئِکَ الَّذِیْنَ
دا چه بیان ته یاد شو هغه کسان دی کَفَرُوْا بِاٰیٰتِ رَبِّهِمْ چه کافر شوی دی په ایتونو د
رب خپل پورے چه قرآن یا نور دلائل د توحید دی وَلِقَآئِهٖ او په ملاقات د ده پورے
یعنی بعث او حشر پورے فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ پس خراب او عبث شول عملونه د دوئ چه
به ئے ښهٔ ګنړل فَلَا نُقِیْمُ لَهُمْ پس و به نهٔ درووموږه د پاره د دوئ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ
وَزْنًا (۱۰۵) په ورځ د قیامت تله چه د دوئ عملونه پرے وتللے شی ځکه چه هیڅ ارزښت[1]
به خدائ ځنه نهٔ لری ذٰلِکَ دا کار چه هغه دا دے جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ جزا د دوئ
دوزخ دے دا کار بِمَا کَفَرُوْا په سبب د دے چه کافر شوی دی دوئ وَاتَّخَذُوْٓا اٰیٰتِیْ
او نیولی دی دوئ ایتونه د قرآن ځما وَرُسُلِیْ هُزُوًا (۱۰۶) او استاذی ځما مسخره اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا
بیشکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د نیکو
کَانَتْ لَهُمْ مقرر دی د دوئ له جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا (۱۰۷) باغونه د فردوس د پړه ګاه
یا پیشکشی او میلمستیا خٰلِدِیْنَ فِیْهَا چه همیشه به وی دوئ په دے باغونو کښې

[1] یعنی په هیڅ به نه ارزښت لری او قیمت به نهٔ لری بلکه حبطه او نابوده به وی ۱۲

یَبۡغُوۡنَ عَنۡهَا حِوَلًا ﴿۱۰۸﴾ چه نهٔ به غواړی دوئ له هغه باغونو بدل یا ځاے گرځول بل طرف ته ځکه چه هرڅهٔ چه خواهش وی د دوئ هغه به ټول په هغهٔ کښ تیار وی قُلۡ لَّوۡ کَانَ الۡبَحۡرُ او وایه شی که دا لوئ دریاب مِدَادًا لِّکَلِمٰتِ رَبِّیۡ سیاهی د پاره د ښکلو د معلومات د رب ځما یا د معانو د قران لَنَفِدَ الۡبَحۡرُ نو هرائینه تمام به شی دا دریاب یعنی او به ئے قَبۡلَ اَنۡ تَنۡفَدَ دا قبل په معنیٰ د غیر دے یعنی غیر له دے چه تمام شی کَلِمٰتُ رَبِّیۡ معلومات د رب ځما وَلَوۡ جِئۡنَا او اگر که راوړو مونږ بِمِثۡلِهٖ مَدَدًا ﴿۱۰۹﴾ بل په شان د دے دریاب له جهته د مدد کارئ **روایت دے** چه هرکله دا تیرایت نازل شهٔ نو یهود و وویل چه تاسو په خپل کتاب کښ لولئ وَمَنۡ یُّؤۡتَ الۡحِکۡمَةَ فَقَدۡ اُوۡتِیَ خَیۡرًا کَثِیۡرًا او محمد علیه السلام زعم لری چه ماله حکمت راکړے شوے دے او بیا دا هم په خپل کتاب کښ لولی چه وَمَاۤ اُوۡتِیۡتُمۡ مِّنَ الۡعِلۡمِ اِلَّا قَلِیۡلًا پس دا دواړه خبرے به څرنګه جمع شی نو نازل شهٔ قُلۡ اِنَّمَاۤ اووایه اے رسوله چه بیشکه هم دا خبره ده اَنَا بَشَرٌ مِّثۡلُکُمۡ چه زهٔ هم یو سړے یم په شان ستاسے او دعوے د احاطے نه کوم په کلما تو د رب مگر دا سے چه په واسطه د جبرائیل علیه السلام یُوۡحٰۤی اِلَیَّ وحی کاوه شی ماته د دے خبرے چه اَنَّمَاۤ اِلٰـهُکُمۡ بے شکه هم دا خبره ده چه معبود ستاسے چه دے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ معبود دے یواځے بے شریکه فَمَنۡ کَانَ پس هرڅوک چه وی دے یَرۡجُوۡا لِقَآءَ رَبِّهٖ چه اُمید لری د پیښیدلو په رب خپل باندے په قیامت یا په جنت - فَلۡیَعۡمَلۡ پس میباید چه کوی دِ دے مدام عَمَلًا صَالِحًا عمل نیک چه هغه متابعت دے د رسول علیه الصلوٰة والسلام په ظاهر کښ په ترک د دنیا سره او په اختیارولو د فقر او په دوام د عبودیت سره او په باطن کښ په قطع له خلقو سره او په اتصال له حق سره وَلَا یُشۡرِكۡ اونه دے شریکوی بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ په عبادت د رب خپل کښ اَحَدًا ﴿۱۱۰﴾ ع بل هیڅوک -

---

لـه چالره چه ورکړے شه علم پس په تحقیق ورکړے شه دهٔ لره خیر ډیر ۱۲ لـه او نه دے درکړے شوے تاسے لره علم مګر لږ ۱۲ اللّٰهم اغفر لکاتبه ۱۲

سُورَةُ مَرْيَمَ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۹۸ رُكُوْعَاتُهَا ۶

كٓهٰيٰعٓصٓ ① دے مقطعاتوکښې هم متقدمینو سکوت محض اوتفویض کړیدے[1] خالق
ته او متاخرینو رنګا رنګ تاویلونه پکښې کړي دي نوچا ویلي دي چه دا نوم دے دخدائے
ځکه حضرت علیؓ به ویل چه یا کٓهٰیٰعٓصٓ یا حٰمٓ عٓسٓقٓ اوچا ویلي دي چه کاف له کافی
دے او هٰ له هادی او یٰ له یَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَیْدِیْهِمْ او دا ځکه چه دا سے اسم دخدائے
نشته چه په سرکښې ی لری او عٓین له علیم او صٓاد له صادق یعنی خدای وائی چه
زهٔ خدائی کافی هادی علیم صادق یم چه عزت او قدرت م د تمام مخلوق د پاسه دے او
اګاهی کوم په دے چه دا سورت چه دے ذِکْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ یادول دی په طریقه
د مهربانئ سره د رب ستا عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ② د بنده خپل چه زکریاؑ دے او دا زکریا بدل
له عبده نه دے او دے اولاد د سلیمان بن داود علے نبینا وعلیهما الصلوٰة والسلام وو او یاد
کړه اے رسوله اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ چه غږ یعنی سوال وکړهٔ دهٔ رب خپل ته نِدَآءً خَفِيًّا ③ غږ
یعنی سوال روپټ د شپے ځکه چه دا نزدے دے قبول ته او هغه سوال ئے دا سے وو قَالَ
چه او ویل دهٔ رَبِّ اِنِّيْ اے ربه ځما بیشکه زه چه یم وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ سُست او
ضعیف شوے دے هډ له ما ځکه چه هغه ډیر سخت دی په اندامونو ځما کښې او
ستن دهٔ د دُرستے کوټے د بدن ځما او هرکله چه دے ضعیف شو نو باقی بدن خو په
طریق اولیٰ سره ضعیف شوے دے وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ او برق وهی سر ځما دا الف لام
عوض دے د مضافٌ الیه نه اے رَاْسِيْ شَيْبًا له جهته د سپینوالی د ویښتو وَلَمْ اَكُنْ م
او حال دا چه هیچرے نه یم یا تے شوے زه بِدُعَآئِكَ رَبِّ په بلنے ستا سره اے
ربه ځما شَقِيًّا ④ محرومه بے برخے ځوا له دے نو پس له دے م هم مه محرومه کوه.
وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ او بیشکه زهٔ چه یم ویریږم له دے خپلوانو نه تر بوران ځما.

[1] یعنی سپارل الله ته د دے مقطعاتو یعنی ویل چه اے خدایه ته پوهیږے په معنیٰ او مراد د دے مقطعاتو او مونږه ایمان راوړے دے په مراد ستا ۱۲

شو مِنْ وَّرَآءِىْ پس له مرګه خپله چه غوږ ددین به اونه کا ندی دوئ حما په شان پس
له ما ځکه چه د بنی اسراءیلو عادت دے د بدلولو ددین نو ماله یو خلیفه پکار دے له
خپله پُښته وَكَانَتِ امْرَاَتِىْ اوحال دا چه ده ښځه حما ایشاع نامے چه د بی بی مریم
تروږ ده عَاقِرًا شنډه او په عمر د اته نوی کلونو ده فَهَبْ لِىْ پس راکه ماله مِنْ لَّدُنْكَ
خاص له جانبه خپله وَلِيًّا ۝۵ يَّرِثُنِىْ یو داسے فرزند چه میراث یوسی له ما څخه د امور ود
دین وَ يَرِثُ اویل میراث یوسی د علم او د حکمت مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ له آل دیعقوب علیٰ
نبینا وعلیه الصلوة والسلام څخه وَاجْعَلْهُ رَبِّ او کړه دے اے ربه حما رَضِيًّا ۝۶ راضی کړے
شوے له تا څخه او دا فعیل دے په معنیٰ د مفعول بیا په سجده پریوت او زاری ئے کوله
ترهغه چه دا دُعائے قبوله شوه او دا سے خطاب ورته او شو چه يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا اے زکریا
بیشکه چه مونږه نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ زیرے کوو په تا په فرزند سره اسْمُهٗ يَحْيٰى چه نوم
به ئے یحیٰی علیٰ نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام وی لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ نهٔ دے ګرځولے مونږه
دهٔ له مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ۝۷ پخوا له ده همنامے او د اشرافت دے ددهٔ چه نوم ئے پخپله
کیخودهٔ بیا هرکله چه زیرے اوشو قَالَ رَبِّ نو وویل دهٔ اے ربه حما اَنّٰى يَكُوْنُ
څرنګه به پید اشی لِىْ غُلٰمٌ ماله فرزند وَّكَانَتِ امْرَاَتِىْ عَاقِرًا او حال دا چه ده
ښځه حما شنډه وَّقَدْ بَلَغْتُ او دا چه په تحقیق رسیدلے یم زهٔ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ۝۸
له ډیروالی د عمره حد د کمال ضعف او خرابئ د بدن ته ځکه چه او س سل او لس
کاله م عمر دے قَالَ نو وویل ورته خدائے یا مَلَک په امر ددهٔ سره كَذٰلِكَ ع
چه کار همدا سے دے لکه چه تا وویل لیکن قَالَ رَبُّكَ ویلی دی رب ستا چه هُوَ عَلَىَّ
هَيِّنٌ دا کار مانه اسان دے یعنی پید اکول د قوت د جماع په تا کښ او قوت د علوق
په ښځه ستا کښ وَ قَدْ خَلَقْتُكَ او دے ته نهٔ ګورے چه په تحقیق پیدا کړے ئے ما ته
مِنْ قَبْلُ پخوا له یحیٰی علیه السلام څخه وَلَمْ تَكُ شَيْئًا ۝۹ اوحال دا چه نهٔ

عه له څپل اصل او نسب ۱۲ سه یعنی قوت د حمل اخستو ۱۲

وے تہ هیڅ څیز یعنی صرف معدوم وے بیا په سبب د ډیرے خوشحالۍ په دے زیری
سره بل سوال ئے اوکړو د نښے پخوا له وقوعه لکه چه وائی قَالَ رَبِّ اجْعَلْ ووئیل زکریا
علیه السلام چه رب څما مقرر کړه لِّيٓ اٰيَةً ط ما لره یوه نښه چه معلومه شی پرے
ماته نزدے والے او لرے والے د دے وقوع قَالَ اٰيَتُكَ نو ووئیل ورته رب نښه ستا
چه ده اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ داده چه خبرے به نۀ شے کولے ته له خلقو سره ثَلٰثَ لَيَالٍ درے
شپے او ورځے په درپے سَوِيًّا ⑩ په دے حال کښ چه روغ او جوړ به اوسے ته ئے له طرفه
د ژبے خپلے بیا ناخابه ژبه ئے داسے غنډه شوه چه خوله ئے پرے ډکه شوه او هیڅ قدَر
حرکت ئے ژبے نه شو کولے په خوله کښ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ پس بیرون راووت په قوم خپل
باندے مِنَ الْمِحْرَابِ له عبادت خانے خپلے په هغه ورځ چه د شپے ئے ښځه حامله شوه
فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ پس اشاره ئے اوکړه دوئ ته ځکه چه له خبرو عاجزه وو اَنْ سَبِّحُوْا دا چه
موږ کوئ یا تسبیح وایئ دخدائ بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ⑪ په اول او آخرد ورځے کښ بیا چه یحیٰی
علیه الصلوٰة والسلام پیدا شو نو خطاب ورته اوشو لکه چه وائی يٰيَحْيٰى اے یحیٰی
خُذِ الْكِتٰبَ واخله دا کتاب چه تورات دے بِقُوَّةٍ ط په ښۀ کوشش یا په قوت د
زړه سره وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ او ورکړے وه موږ ده ته پیغمبری صَبِيًّا ⑫ په دے حال
کښ چه دے لا هلك وو درے کلنے وَّحَنَانًا او بل دا چه د لسوزی او مهربانی په خلقو
ورکړے وه موږ مِّنْ لَّدُنَّا خاص له خپل جانبه وَزَكٰوةً ط او ورکړے وه ورله موږه
پاکی له ګناهونو یا خیرات کول په دوستو خلقو وَكَانَ تَقِيًّا ⑬ او وو دے پرهیزګاره
چه نه ترے ګناه شوے وه او نه ئے قصد د ګناه کړے وو واصلاً وَّبَرًّا ۢبِوَالِدَيْهِ او بل دا
چه وفادار خدمتګار فرمانبردار وو د مور و پلار خپل وَلَمْ يَكُنْ او نۀ وو دے جَبَّارًا عَصِيًّا ⑭
متکبر عاصی له رب خپله یا عاق بے فرمان له مور او پلاره خپل وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ او سلام دے
په ده یا سلامتی ده له هر آفته يَوْمَ وُلِدَ په هغه ورځ چه پیدا شوے دے دے وَيَوْمَ

عله یعنی پخوا له پیدا کیدو د دے فرزند نښه ۱۲

يَمُوْتُ او په هغه ورځ چه مري به دے وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ⑮ او په هغه ورځ چه بيا
به راپاڅولے کيږي ژوند ے اوچاويلي دي چه مراد له اوله مس د شيطان دے اوله دوم
عذاب دقبر دے اوله دريمه هول دقيامت اوعذاب ددوزخ دے وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ
مَرْيَمَ او ياده کړه اے رسوله په قرآن کښ قصه دحمل اودوضع د بي بي مريم اِذِ انْتَبَذَتْ
چه په څنګ شوه اولاړه مِنْ اَهْلِهَا له عيال خپله چه تروړئے وه او د هغے خيلخانه وه.
مَكَانًا شَرْقِيًّا ⑯ هغه ځائ ته چه مشرق طرف ته وو ددے له کوره فَاتَّخَذَتْ پس
ونيوه يعنے ودروله دے مِنْ دُوْنِهِمْ رابيرته له دوئ يعني ددوئ طرف ته حِجَابًا تف پرده د
پاره دغسل له حيضه بياچه غسل ئے وکړ اوجامے ئے واغوستلے فَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهَا پس
راوليږه موږه دے ته رُوْحَنَا روح خپل چه جبريل عليه السلام دے او دا اضافت ئے
ځان خپل ته دپاره دتشريف اود تخصيص دے. فَتَمَثَّلَ لَهَا پس شکل خپل ئے سازکړ
دے ته بَشَرًا سَوِيًّا ⑰ دسړي ځوان خوبصورت اوحکمت په دے کښ دا وو چه ددے
شوق راپورته شي اونطفه ئے رحم ته راتوئ شي قَالَتْ نو وويل دے اِنِّيْٓ اَعُوْذُ چه
بيشکه زه پناه نيسم بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ په خدائ پورے له تا څخه اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا ⑱ که چرے
ئے ته پرهيزګار خدا ترس بيا هرکله چه جبريل عليه السلام اضطراب د دے اوليدهٔ
قَالَ نو وويل دهٔ اِنَّمَآ اَنَا بيشکه هم داخبره ده چه زهٔ رَسُوْلُ رَبِّكِ ق رالېږلے شوے د
رب ستايم لِاَهَبَ لَكِ دپاره ددے چه درکړم تالره په امردهٔ سره غُلٰمًا زَكِيًّا ⑲
فرزند پاک له نسبته دزنا اوله ګناه قَالَت نو وويل دے له ډيره تعجبه اَنّٰى يَكُوْنُ چه څرنګه
به پيدا شي لِيْ غُلٰمٌ ماله فرزند وَلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ اوحال دا چه نه دے لګيدلے په ما
لاس دهيڅ ادمي په نکاح سره وَّلَمْ اَكُ بَغِيًّا ⑳ اونه زه زناکاره يم او اسبابونه دولادت
خوهم دادوه دي قَالَ كَذٰلِكِ ج نو وويل ورته جبريل عليه السلام چه کار هم داسے دے لکه

له نوحاصل د معنٰی ئے دا شو چه سلامت اوپه امان وو دے له مسه کولو د شيطانه په وخت د زيږيدو کښ اوهم ارنګه په امان به وي له عذابه د قبره اوبيا هم ارنګه په امان به وي له عذابه اوله هيبته د دوزخ او د قيامته ۱۲

کتبه: صادق زهير چپرهاريه د اکوال ۱۳۷۴/۸/۱۰ ه ش

چہ تہٗ وائے لیکن قَالَ رَبُّكِ ویلی دی رب ستا هُوَ عَلَیَّ هَیِّنٌ ج چه دا کار په ما آسان
دے یعنی پید اکول دولد بے واسطے دپلاره دپاره دخوکارونو دپاره دے چه مشاهده اوکړے
ته د قدرت څمونږه وَلِنَجْعَلَهٗۤ اوبل دپاره دے چه وګرځوو مونږه دے اٰیَةً لِّلنَّاسِ یوه
غټه نښه د قدرت خپل خلقوله چه ټول یوه شی په دے چه دے قادرِ مطلق دے
او دا اسبابونه هسے بهانه ده وَرَحْمَةً مِّنَّا ج اوبل چه سبب د رحمت او د مهربانی څمونږه
له جانبه هغه چاله چه ایمان پرے راوړی وَكَانَ او دے دا پید اکول دده بے واسطے
دپلاره اَمْرًا مَّقْضِیًّا ﴿۲۱﴾ یو کار مقرر کړے شوے په ازل کښ بیا جبریل علیه السلام پوکے
وکهٔ په ګریوان یا په خوله دے کښ نو دا باد د دے پوکی او دے نطفه دواړه رحم له ورغله
فَحَمَلَتْهُ پس حامله شوه دا په فرزند سره فِی الحال او دے بیا اته یا اوه یا شپږ میاشتے
یا یو ساعت د موړ په نس کښ وه بیا چه په وخت د وضع حمل نزدے شو نوله خلقو
لرے لاړه لکه چه وائی فَانْتَبَذَتْ بِهٖ پس څنګ شوه له خلقوله د فرزند سره چه ئے
په نس کښ دے مَكَانًا قَصِیًّا ﴿۲۲﴾ هغه ځائی ته چه لرے وو له ښاره فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ
پس راوسته دادرد دلنګون په طریقه دا ضطراب سره اِلٰی جِذْعِ النَّخْلَةِ ج بناخ د هغه
خرماته چه پراته ووچه ولاړه وه او موده د ټے وه او خرما له دپاره د دے راغله چه
تکیه ورته وکا چه لنګون پرے آسان شی بیا له دیره حیاله اوله دیرحیا قَالَتْ یٰلَیْتَنِیْ
وویل دے چه اے کاشکے افسوس دے ما له مِتُّ قَبْلَ هٰذَا چه مره وے زهٔ پخواله دے
حاله وَكُنْتُ او وے زهٔ اوس یو څیز نسیا هیر شوے مَّنْسِیًّا ﴿۲۳﴾ یعنی له خاطره
وتلے چه اوس به څهٔ جواب ورکوم زهٔ دے خلقوله کهٔ سوال رد وکړی فَنَادٰىهَا
پس غږ وکړو دے ولد دے ته مِنْ تَحْتِهَاۤ له لاندے طرف دے څخه یعنی دے له نسیا
مراد جبریل علیه السلام دے اَلَّا تَحْزَنِیْ دا چے چه مه خفه کیږه ځکه چه قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ
په تحقیق پید اکړے دے رب ستا تَحْتَكِ سَرِیًّا ﴿۲۴﴾ لاندے ستا لخته دا او بو چه ترے او به

له یعنی چه وسینے قدرت شونږه ۲ ه

څکې یا سردار چه دا ولد دے وَهُزِّيٓ إِلَيۡكِ او او خوزوه یعنی اوښنده خپل ځان ته
بِجِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ ښاخ دد ے وُچے خرما او دا بَ زائده ده تُسَٰقِطۡ عَلَيۡكِ چه راتوی کا ندی په
تا رُطَبٗا جَنِيّٗا ۲۵ خُرما لوندے تازه او بیا دا سے خطاب ورته اوشو چه فَكُلِي وَٱشۡرَبِي پس
خوره دا خُرما او څښه دا او به وَقَرِّي عَيۡنٗاۖ او یخے لره سترګے خپلے په دے فرزند یعنی خوشحاله
اوسه او له هیڅ تر هه مه کوه فَإِمَّا تَرَيِنَّ پس که ولیدهٔ تا او دا إِمَّا په اصل کښ إِنۡ مَا
دے چه نون شرطیه مدغم شوے دے په ما زائده کښ او دا تَرَيِنَّ په اصل کښ تَرۡءَيِيۡنَ
دے صیغه د مؤنثِ مخاطبے له باب د فَتَحَ چه عین او لام ترحذف شو او فتحه د عین رَ له لاړه
نون د تاکید پرے داخل شو نو نون اعرابی ترے حذف شو او يَ د ضمیر مکسوره
شوه له جهته د التقاء د ساکنینو مِنَ ٱلۡبَشَرِ أَحَدٗا لا له آدمیانو کوم شخص چه تا پښتی
له حال د دے فرزند چه دا له کومه دے نو فَقُولِيٓ پس ووایه ورته په جواب کښ
إِنِّي نَذَرۡتُ چه بیشکه ما نذر منلے دے لِلرَّحۡمَٰنِ صَوۡمٗا خدائی له روژه او د دوئ
روژه به اِمساك وو هم له طعامه او هم له کلامه فَلَنۡ أُكَلِّمَ ٱلۡيَوۡمَ پس له سره به خبرے
ونهٔ کړم نن ورځ إِنسِيّٗا ۲۶ له هیڅ ادمی سره او دا قد رخبره کول ورله روا کړے
شوے وو له ضرورته چه دَفع د مجادلے پرے وکا له ځانه او حواله په ولد وکه او یاد اخبا
ئے هم په اشارت سره وو فَأَتَتۡ بِهِۦ قَوۡمَهَا پس راغله دا له فرزند سره قوم خپل ته
تَحۡمِلُهُۥۖ چه راخستے ئے وو یعنی په غیږ کښ نیولے وو بیا چه قوم دا اولیده چه بیغله
ده او په غیږ کښ ئے ځوئے دے قَالُواْ يَٰمَرۡيَمُ نو وویل ورته دوئ اے مریم لَقَدۡ
جِئۡتِ هرائینه په تحقیق راوړے دِ دے شَيۡـٔٗا فَرِيّٗا ۲۷ یو څیز عجیبه او ډیر بد۔
يَٰٓأُخۡتَ هَٰرُونَ اے خورے د هرون او دا هارون کوم صالح سړے وو تیر شوے
په دوئ کښ چه ضرب المثل وو په نیکئ کښ یا ے د ورور نوم وو یا هرون د
موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام په عفت کښ۔ مَا كَانَ نه وو أَبُوكِ ٱمۡرَأَ سَوۡءٖ پلار

له په دے قول کښ بجذع النخلة ۱۲ له یعنی بندید ل او منع کید ل هم له طعامه او هم له خبرو کولو سه یعنی دفع د جګړے د خلقو له دے سره ۱۲ سه یعنی په پاکی کښ د زنا نه د هارون علیه السلام په شان ئے۔

ستا د بدئ وَمَا كَانَتْ او نهٔ وه اُمُّكِ بَغِيًّا ﴿۲۸﴾ مور ستا زنا کاره نو دا رالهٔ په تا کښ
له کومه راغلو دے فَاَشَارَتْ اِلَيْهِ پس اشاره وکړه دے عیسیٰ علیه السلام ته چه
یعنی دے وغږوی[1] قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ نو ووئیل دوئ چه څرنګه خبرے وکړو مونږه
مَنْ كَانَ له هغه چا سره چه وی دے فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿۲۹﴾ په زانګو کښ هلک شیرخوا[2]
او په دے وخت کښ دهٔ تے روده بیا چه دا خبرے ئے له دوئ واوریدے تو تے ئے
پریخوده او دوئ ته ئے په فصیحه ژبه قَالَ ووئیل چه اِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ قف بیشکه چه
زهٔ بنده یم د خدائ یعنی نه خدائ یم او نه ئے ځوئے یم اٰتٰنِيَ الْكِتٰبَ او س
ئے راکړے دے ماله کتاب چه انجیل دے یعنی انجیل ئے مانه لولے دے د موړ
په نس کښ وَجَعَلَنِيْ نَبِيًّا ﴿۳۰﴾ او اوس ئے کړځولے یم زه پیغمبر او دا خبرے م
په دے عمر کښ معجزه ده وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا او کړځولے ئے یم زهٔ برکتناك ډیر
نفع رسونکے خلقو ته اَيْنَ مَا كُنْتُ ص هرچرته چه اوسم وَاَوْصٰنِيْ او اوس ئے
وصیت کړے دے ماته بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ په کولو د مانځه او په ورکولو د زکوٰة مَا
دُمْتُ حَيًّا ﴿۳۱﴾ صلے ترڅو چه ژوندے اوسم وَّبَرًّا بِوَالِدَتِيْ ز او نیکوکار وفادار خدمتګار
مهربان په مور خپلے باندے وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ او نه ئے کرځولے یم زهٔ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿۳۲﴾
ګردن کش متکبر بدبخت او دا اُوهٔ الفاظ دهٔ ویلی دی چه په اول سره نفی د ربوبیت
ده او په نورو شپږو وارو سره نفی د ولد زنا ده وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ او سلام دے د
خدائ په ما يَوْمَ وُلِدْتُّ په هغه ورځ چه پیدا شوے یم زهٔ وَيَوْمَ اَمُوْتُ
او په هغه ورځ چه مرم به وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا ﴿۳۳﴾ او په هغه ورځ چه بیا به پاڅولے
شم په قیامت ژوندے ذٰلِكَ دا چه بیرته احوال او اقوال ئے بیان شو عِيْسَى ابْنُ
مَرْيَمَ ج عیسیٰ علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام دے ځوئے د بی بی مریم
چه نه خدائ او نه ځوئے دے د خدائ لکه چه نصاریٰ ئے وائی او دا مخکښ

[1] یعنی له دے هلک ورکوتی سره چه ځوئے ستا دے خبرے وکړئ ۱۲ [2] یعنی چه انی عبدالله دے ۱۲

لفظ د قول منصوب دے په فعل مقدر سره چه قلت دے یعنی ما ووایه دا تیرحال
قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِیْ کفتار د حق دے هغه گفتار فِیْهِ یَمْتَرُوْنَ ۳۴ چه په هغه کښ شك
راوړی نصارٰی مَا کَانَ لِلّٰهِ نهٔ دی بائده خدائی لره اَنْ یَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ لا چه ونیسی
دے څوئی سُبْحٰنَهٗ ط پاك دے دے له نیولو د ولده او دے کښ تکذیب دے د نصارٰی
اِذَا قَضٰٓی اَمْرًا په هغه وخت چه حکم وکړی دے دکوم کار یعنی اراده وکړی د
احداث د هغهٔ فَاِنَّمَا پس بیشکه هم دا خبره ده یَقُوْلُ لَهٗ چه ووائی هغه څیز
ته کُنْ فَیَکُوْنُ ۳۵ ط چه شه پس شی بے مهلته وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدائی چه دے
رَبِّیْ وَرَبُّکُمْ رب څما او رب ستا سو دے ـ فَاعْبُدُوْهُ ط پس عبادت کوئی هم د
دهٔ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ۳۶ دا لاره ده سمه چه برابره ور غلے ده جنت لــه
فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ پس اختلاف وکړو ډولیو د نصارٰی وُ مِنْ م بَیْنِهِمْ ج په
خپل میځ کښ په باب د عیسٰی علی نبینا وعلیه الصلوة الصلوة والسلام کښ او
درے طایفے شوے نو نسطوریو ووئیل چه دے څوئی دے د خدائی او یعقوبیو ووئیل چه
دے پخپله خدائی دے چه څهٔ موده زمکے له راغلے وو بیا بیرته اسمان ته وخوت او ملکائیو
ووئیل چه دے دریم خدائی دے او دوه نور دی چه یو رب دکار او بی بی مریم دی
فَوَیْلٌ لِّلَّذِیْنَ کَفَرُوْا پس افسوس دے هغه کسانو لره چه کافر شوی دی مِنْ مَّشْهَدِ
یَوْمٍ عَظِیْمٍ ۳۷ له حاضریدو د هغه ورځے ډیر لوئے چه ورځ د قیامت ده یعنی له
هوله او له حسابه او له جزا دهغے ورځے اَسْمِعْ بِهِمْ څهٔ ډیر ښهٔ اوریدونکی به وی
دوئی وَاَبْصِرْ لا او څهٔ ډیر لیدونکی به وی او دا دواړه صیغے د تعجب دی یَوْمَ یَاْتُوْنَنَا به
هغه ورځ چه به راشی دوئی موږ له چه ورځ د قیامت ده لٰکِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْیَوْمَ
لیکن ظالمان یعنی کافران چه دے نن ورځ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۳۸ په گمراهئ ښکاره
کښ دی وَاَنْذِرْهُمْ او ویروه اے رسوله ته یعنی کفار مکه یَوْمَ الْحَسْرَةِ له ورځے د
افسوس او ارمان چه هرڅوك به پکښ ارمان کوی بد له بدئ او نیك لــه

قلته دنیکئ اِذْ قُضِیَ الْاَمْرُ په هغه ورځ چه کوتاه کړے شی حساب او د حکم وشی
چه فریق فی الجنة وفریق فی السعیر وَهُمْ فِیْ غَفْلَةٍ او دوئ لا هم هسے په غفلت کښ دوب
دی وَّهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۹﴾ او دوئ ایمان نهٔ راوړی په دغه ورځے اِنَّا بیشکه مونږه چه یو
نَحْنُ نَرِثُ الْاَرْضَ هم دا مونږه به وارثان شو د زمکے وَمَنْ عَلَیْهَا او د هرهغه چا چه
په دے زمکه دی یعنی دوئ به ټول مړه شی او زمکه به مونږ ته پاتے شی لکه مورث
چه مړه شی مال ئے ټول وارث ته پاتے شی وَاِلَیْنَا یُرْجَعُوْنَ ﴿۴۰﴾ او خاص هم دا مونږ ع ۵
له به راوستے شی دوئ د پاره د جزا وَاذْکُرْ او یاد کړه اے رسوله قوم خپل ته فِی الْکِتٰبِ
اِبْرٰهِیْمَ ۵ په قرآن کښ قصه د ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام اِنَّهٗ کَانَ بیشکه چه
وو دے صِدِّیْقًا نَّبِیًّا ﴿۴۱﴾ ډیر رښتینے پیغمبر اِذْ قَالَ لِاَبِیْهِ یاد کړه هغه چه
وویل دهٔ پلار خپل ته چه آزر بن ناخورا وو چه بت تراش او بت پرست وو -
یٰاَبَتِ اے پلاره ځما او دا په اصل کښ یَا اَبِیْ دے بیا ئ ترے حذف شوه او عوض ترے
ت راغله ځکه یَا اَبَتِیْ نهٔ شی ویلے لِمَ تَعْبُدُ ولے عبادت کوے مَا لَا یَسْمَعُ د هغه څیز چه
نهٔ اوری بلنه ستا چه ئے ته وبولے وَلَا یُبْصِرُ او نهٔ وینی حال ستا چه عبادت ئے کوے
او سجدے ورته کوے وَلَا یُغْنِیْ او نهٔ دفع کولے شی عَنْکَ شَیْئًا ﴿۴۲﴾ له تا کوم ضرر او نهٔ
رسولے شی درته کومه نفع یٰاَبَتِ اے پلاره ځما اِنِّیْ قَدْ جَآءَنِیْ بیشکه زهٔ چه یم په
تحقیق راغلے دے ماله مِنَ الْعِلْمِ له علمه یعنی له پوهے او له خبرداری مَا لَمْ یَاْتِکَ
هغه چه نهٔ دے راغلے تا ته فَاتَّبِعْنِیْ اَهْدِکَ پس راځه په ما پسے چه وښایم درته
صِرَاطًا سَوِیًّا ﴿۴۳﴾ لاره سمه رسونکے مطلب ته یٰاَبَتِ اے پلاره ځما لَا تَعْبُدِ الشَّیْطٰنَ ط
عبادت مهٔ کوه د شیطان او حکم ئے مهٔ قبلوه ځکه چه اِنَّ الشَّیْطٰنَ بیشکه شیطان چه دے
کَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِیًّا ﴿۴۴﴾ دے له خدائ سرکش بے فرمان یٰاَبَتِ اے پلاره ځما

له یعنی له کموالی له نیکئ خپلے یعنی دا ئی به چه ولے مو ډیره نیکی نهٔ کوله ۱۲ ـ ٢ه یعنی دا به حکم حکم به خدائ
وکړی چه یوه ډله د مومنانو ده په جنت کښ وی او بله ډله د کافرانو ده په اور کړم د دوزخ کښ وی ۱۲

اِنِّیۡۤ اَخَافُ بیشکه زهٔ ویریږم اَنۡ یَّمَسَّكَ له دے چه وبه رسیږی تا ته عَذَابٌ مِّنَ
الرَّحۡمٰنِ عذاب له جانبه دخدائ فَتَكُوۡنَ پس شے به لِلشَّیۡطٰنِ وَلِیًّا ﴿۴۵﴾ شیطان
له دوست او ملګرے په دوزخ کښ قَالَ نو ووئیل دهٔ ته په جواب کښ اَرَاغِبٌ
اَنۡتَ ایا ږړه کوونکے ئے ته عَنۡ اٰلِهَتِیۡ له خدایانو ځما یٰۤاِبۡرٰهِیۡمُ ج اے ابراهیم لَئِنۡ
لَّمۡ تَنۡتَهِ هر ائینه که چرے وانهٔ وختے له دے کاره لَاَرۡجُمَنَّكَ نو هر ائینه سنګسار
به دِکړم ضرور بالضرور وَاهۡجُرۡنِیۡ مَلِیًّا ﴿۴۶﴾ او لرے شه له ما ډیره موده چه ضرر
م در ته و نه رسیږی قَالَ بیا ووئیل ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام دده په جواب
کښ سَلٰمٌ عَلَیۡكَ ج سلام دے له جانبه ځما په تا فائده په بدل دسیئې کښ ئے
حسنه ور ته راوړه ځکه درجم په مقابله کښ ئے سلام ووائیه سَاَسۡتَغۡفِرُ زر دے چه بخښنه به
وغواړم لَكَ رَبِّیۡ ط ستا دپاره له رب خپله چه توفیق د توبے او دایمان درلره درکړه اِنَّهٗ کَانَ
بے شکه دے خدائ بِیۡ حَفِیًّا ﴿۴۷﴾ په ما ډیر مهربان وَاَعۡتَزِلُكُمۡ او کناره به شم له تاسے
تولو اے بت پرستانو وَمَا تَدۡعُوۡنَ او له هغه بتانو چه تاسو ئے بولئ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غیر له
خدائ وَاَدۡعُوۡا رَبِّیۡ ز او بولم به زهٔ یوازے رب خپل عَسٰۤی اُمید لرم اَلَّاۤ اَکُوۡنَ دا دے
چه نهٔ شم زهٔ بِدُعَآءِ رَبِّیۡ په بللو د رب خپل سره شَقِیًّا ﴿۴۸﴾ بدبخته بے بهرے لکه تاسے
چه په بللو د خدایانو خپلو بے برخے یئ فَلَمَّا اعۡتَزَلَهُمۡ پس هر کله چه په ځنګ شو له
دوئ په هجرت سره شام ته وَمَا یَعۡبُدُوۡنَ او له هغه بتانو هم چه دوئ به ئے عبادت
کولو مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ لا غیر له خدائ وَهَبۡنَا لَهٗۤ نو ورکړه مونږه دهٔ له اِسۡحٰقَ وَیَعۡقُوۡبَ ط
اِسحٰق نومے ځوئ او یعقوب نومے نوسے وَکُلًّا او هر یو له دوئ دواړو جَعَلۡنَا نَبِیًّا ﴿۴۹﴾
کړځولے وو مونږه پیغمبر وَوَهَبۡنَا لَهُمۡ او بل ورکړے وو مونږه دوئ لره مِّنۡ رَّحۡمَتِنَا
رحمت خپل یعنی ډیر مال او اولاد او دامن زائد دے وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ او ګرځولے وه
مونږه دوئ له لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِیًّا ع ﴿۵۰﴾ ژبه د صدق ډیره بلنده چه ټول خلق پرے

له یعنی په بدل د بدئ د تره خپل اذر کښ چه ډیر رټل او قهرئے ور ته کړے وو ۱۲

ثنا وائی ترقیامته پورے وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰىٓ ز او یاده کړه په قرآن کښې قصه د
موسیٰ علیه السلام اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا بیشکه چه وو دے پاک کړے شوے له هر
نالائق وَّ كَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾ او وو دے لیږلے شوے له خدائی خبر ورکونکے د خلقو
په نیکئ او په بدئ وَ نَادَيْنٰهُ اوغږ وکړو موږ ده ته مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ له ښی
طرف د کوهِ طور یعنی چه ښی لاس د ده ته وو په وخت د راتلو د ده د مَدْيَنَه وَقَرَّبْنٰهُ
نَجِيًّا ﴿۵۲﴾ او نزدے کړے وو موږ ده دے درګاه ته په دے حال چه راز کونکے وو له موږ ه سره
وَوَهَبْنَا لَهٗ او ورکړے وو موږ ده ته لره مِنْ رَّحْمَتِنَآ له مهربانئ خپلې اَخَاهُ هٰرُوْنَ
نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ ورور د ده چه نوم ئے هٰرون علیه الصلوٰة والسلام وو په دے حال کښې
چه پیغمبر وو هغه هم او وزیر هم وو وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ ز او یاده که په قران کښې
قصه د اسمٰعیل علیه السلام اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه وو دے صَادِقَ الْوَعْدِ رښتینې
په وعده خپله کښې لکه چه ویلے شوی دی چه له چا سره ئے وعده کړے وه په چول
کښې چه زهٔ به د لته د رته ناست یم ترهغه پورے چه ته راشے درے ورځے او په
روایت کښې یو کال ورته ناست وو په هم هغه ځائے کښې او پوستکی د ونو به ئے
خوارهٔ خو چه هغه ورله راغے وَكَانَ او وو دے رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾ لیږلے شوے پیغمبر وَ
كَانَ او وو دے يَاْمُرُ اَهْلَهٗ چه امر به ئے کولو په عیال خپل یا مراد ترے قوم دے بِا
لصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ص په کولو د مانځه او په ورکولو د زکوٰة وَكَانَ او وو دے عِنْدَ رَبِّهٖ په نزد
د رب خپل مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾ راضی کړے شوے وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِدْرِيْسَ ز او یاده کړه په
قرآن کښې قصه دادریس علیه السلام چه نوم ئے اخنوخ دے اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه
وو دے صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿۵۶﴾ قولا ډیر رښتینې پیغمبر وَّرَفَعْنٰهُ او پورته کړے وو موږ
دے ژوند مَكَانًا عَلِيًّا ﴿۵۷﴾ ځائے ډیر هسک ته چه خلورم یا شپږم یا اووم اسمان ته یا
جنت دے پس له مرکیدلو او بیا ژوندی کولو نو بیا ئے بیرته راتلل نشته[له] اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

[له] یعنی ده له عزرائیل علیه السلام راغلے وو نو ده ورځے ورغږه وو او خهٔ څیز ئے نه خوړلو نو ده ترے نه
پوښتنه اوکړه چه ته څوک ئے نو ده اوویل چه زه ملک الموت یم او اذن م د رب خپل (باقی په صـ ۴۹ کښې)

د ابیږ ته یاد شوی هغه کسان دی اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَیۡهِمۡ چه مهربانی کړے ده خدائے په
دوئ په اقسامو هم دینی هم دُنیاوی هم صوری هم معنوی مِّنَ النَّبِیّٖنَ چه هغه کسان
عبارت له پیغمبرانو علیهم الصلوٰة والسلامو دے مِنۡ ذُرِّیَّةِ اٰدَمَ ق چه اول دوئ له
اولاده د آدم علیه الصلوٰة والسلام څخه دی وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا او بیا له اولاده د هغه چا
دی چه سواره کړی وو موږ ه په بیړئ کښ مَعَ نُوۡحٍ له نوح علیه السلام سره چه
هغه ځامن ده دی ځکه چه د بل چا اولاد نه دے پاتے شوے وَمِنۡ ذُرِّیَّةِ اِبۡرٰهِیۡمَ
او له اولاده د ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام چه اسمٰعیل او اسحٰق او یعقوب
علیهم الصلوٰة والسلام دی وَاِسۡرَآءِیۡلَ ز او له اولاده د یعقوب چه موسیٰ او هارون
او زکریا او یحییٰ او عیسیٰ علیهم الصلوٰة والسلام دی وَمِمَّنۡ هَدَیۡنَا او له هغه ټولی
دی چه سمه لاره ورته ښودلے ده موږه وَاجۡتَبَیۡنَا ط او غوره کړی وو دوئ موږه
وَاِذَا تُتۡلٰی عَلَیۡهِمۡ په هغه وخت چه ولوستے شی په دوئ اٰیٰتُ الرَّحۡمٰنِ ایتونه
د خدائے خَرُّوۡا سُجَّدًا نو پریوځی خدائے ته په دے حال کښ چه سجده کونکی وی
وَّبُکِیًّا ﴿۵۸﴾ السجدة او ژړا کونکی وی له خوفه. او بُکِیًّ په اصل کښ بُکُوۡیٌ دے جمع د باکی اسم فاعل
لکه سجود چه جمع د ساجدٌ ده واو او ی جمع شو اول ترے ساکن وو نو دا واو ی
شوه او په ی کښ مدغم شوه او ماقبل ئے مکسور شو د پاره د متابعت نو بُکِیًّ شو.
فَخَلَفَ پس بیا را پیدا شو مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ پس له دوئ خَلۡفٌ بد اولاد او خَلَف په فتحه د
لام سره په نیکو کښ مستعمل دے شی او په سکون سره په بدو کښ لکه وائی عرب
خَلَف صدق او خَلۡف سوءٍ دلے اولاد چه له ډیره جهله او غفلته اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ
خراب ئے کړو مونځ په ترک سره وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ او پیروی ئے برپائی کړه د
ارزوګانو د نفس خپل په اقسامو د ګناهونو سره لکه زنا او شرابخوری او دا سے

(بقیه حاشیه صفحه ۴۸) نه غوښتلے دے په زیارت ستا کښ پس ادریس ؑ ده ته وویل چه ځما تا ته یو حاجت دے چه
قبض کړے روح ځما پس الله تعالیٰ وحی وکړه ده ته چه قبض کړه روح د ده نو پس د یو ساعت تیر یدو نه نو پس بیرته
ورکړو روح ده ته نو بیا عزرائیل ؑ سره یو ځای وخوت ۱۲

نو رشو فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾ پس زر دے چه پیښ به شی دوی په گمراهئ خپلے
جزا به وگوری او څوك وائی چه غَيّ نوم دیوے کندے دے په دوزخ کښ اما
غواړی له عذابه د هغے نه په هغے کښ وغورځولے شی اِلَّا مَنْ مگر هغه څوك
تَابَ وَاٰمَنَ چه راوگرځیده له بدو او ایمان ئے راوړو په صدق سره وَعَمِلَ
صَالِحًا او عمل ئے کولو د نیکو فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چه دی يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ
داخل به شی په جنت کښ وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْئًا ﴿۶۰﴾ او ظلم به ونهٔ کړے شی پرے
د هیڅ څیز نه له کمولو د نیکئ او نه له زیاتولو د بدئ جَنّٰتِ عَدْنِ ۟الَّتِيْ
جنتونه یعنی باغونه د اقامت او دا جَنّٰتُ بدل اشتمال دے له تیر جَنَّةَ
هغه باغونه وَعَدَ الرَّحْمٰنُ چه وعده کړے ده خدائی عِبَادَهٗ بِالْغَيْبِ ؕ له
بندگانو خپلو سره پسے شا یعنی د دخول په هغهٔ کښ او سره له دے چه دوئی
نهٔ دے لیدلے اِنَّهٗ بے شکه دے چه دے یا دا ضمیر شان دے كَانَ وَعْدُهٗ
دے هغه موعود د دهٔ چه جنت دے څکه چه دا مصدر دے مبنی د پاره د مفعول
مَاْتِيًّا ﴿۶۱﴾ را تلونکے که په معنیٰ د اسم فاعل شی یا راتلهٔ ورته شوی کهٔ په معنےٰ د اسم
مفعول شی کذا فی تفسیر الجلالین لَا يَسْمَعُوْنَ نهٔ به اوری دوئی فِيْهَا لَغْوًا په هغه
جنت کښ پوچه خبره اِلَّا سَلٰمًا ؕ مگر اوری به سلام له خدائی او یا له ملایکو او یا بو له
بله وَلَهُمْ او وی به دوئی لره رِزْقُهُمْ فِيْهَا روزی د دوئی په دے جنت کښ بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿۶۲﴾
صبا او بیگاه تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ دا بیرته تیر هغه جنت دے نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا چه ورکوو
به مونږه لکه میراث له بندگانو خپلو مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿۶۳﴾ هر هغه چا له چه وی دے
پرهیزگار ۔ **روایت دے** چه مشرکانو له احبارو د یهودو پوښتنه اوکړه د
کوم دا سے خبرے چه دے پرے عاجز او جمل شی او معلوم شی مونږه ته چه رښتیا
پیغمبر دے او که دروغ وائی نو احبارو ورته ووئیل چه وے پوښتئ له حاله د اصحاب
کهف او ذوالقرنین او د روح که د هٔو لو جواب ئے درکړو هم پیغمبر نه دے او کهٔ د

ہولوئے در نهٔ کړو هم پیغمبر نهٔ دے بیا چه حضرت ئے و پوښتید ودهٔ اوفرمایل صباله راشئ نوجواب به درکړم اوان شاء الله ئے ورسره ونه ویل نوپنځلس یا خلویښت ورځے وحی اومشرکانو به ویل چه وَدَّعَ رَبُّ مُحَمَّدٍ مُحَمَّدًا اَوَقَلٰهُ چه جبریل علیه الصلوٰة والسلام راغے نو دهٔ ورته وویل چه ورورہ داولے دومرہ مودہ نهٔ راتلے نو هغه ورله جواب ورکهٔ لکه چه وائی وَمَا نَتَنَزَّلُ او نهٔ راکوزیږو مونږه ملائکے اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ج مګر په امردرب ستا سره او ددهٔ امرنهٔ ووشوےځکه نهٔ راتلم لَهٗ مَا خاص هم دهٔ له دے هرهغه څیز بَيْنَ اَيْدِيْنَا چه په مخ څمونږ کښی دی لهراتلونکیو کارونو وَمَا خَلْفَنَا اوهرهغه چه د وروستوځمونږه دی له تیروکارونو وَمَابَيْنَ ذٰلِكَ ج اوهرهغه چه په دے مینځ کښ دی وَمَا كَانَ اونهٔ دے رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿۶۴﴾ رب ستا هیرونکے چه تهٔ ئے هیرشوے وے بلکه حکمت په هم دے کښ وو رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دے رب دے یعنی تربیت کونکے دے د اسمانونو او د زمکے وَمَا بَيْنَهُمَا اود هرهغه څیزچه په مینځ د دوئ کښ دی اوتربیت اوهیرخو سره منافی دی فَاعْبُدْهُ پس عبادت کوه ددهٔ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ط اوصبروکړه په عبادت ددهٔ باندے هَلْ تَعْلَمُ ایا پوهیږے تهٔ یعنی چرته درته معلوم دے لَهٗ سَمِيًّا ﴿۶۵﴾ دهٔ له همنامے چه ع ۱۵
هغه هم الله بللے شی وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ او وائی هغه انسان چه منکر دے له بعثه چه هغه اُبیُ بن خلف یا ولید بن مغیره دے ءَاِذَا مَا مِتُّ ایا پس هغه وخت چه مړشم زهٔ لَسَوْفَ اُخْرَجُ نوخامخا به وی داچه راوبه ایستے شم له قبره حَيًّا ﴿۶۶﴾ ژوندے اوداستفهام انکاری دے یعنی راوبه نه ایستے شم اَوَلَا يَذْكُرُ الْاِنْسَانُ ایانهٔ یادوی دا انسان اَنَّا خَلَقْنٰهُ دا چه بیشکه مونږه چه یو پیدا کړے دے مونږه دے مِنْ قَبْلُ مخوا له دے وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴿۶۷﴾ اونهٔ وودے هیڅ څیز یعنی معدوم محض ووچه نهٔ ئے ماده اونه ئے صورت ووا واوس ماده خو به ئے وی اکوکهٔ تارپه تار شوے وی فَوَرَبِّكَ پس قسم دے په رب ستا لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيٰطِيْنَ چه هراٰئینه

راجمع به کړو مونږه دوئ سره له شیطانانو ئے په قیامت یعنی هرکافر به له خپله
لعزیدونکی شیطان سره په یو ځنځیرکښ بند کړو ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ بیا هرائینه حاضر
به ئے کړو خا مخا حَوْلَ جَهَنَّمَ چاپیره له دوزخ جِثِيًّا ﴿۶۸﴾ په ګونډو او پراته له ډیره
هیبته ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ بیا هرائینه اول به رابیل کړو خا مخا مِنْ كُلِّ شِيعَةٍ له هرے فرقے
د دوئ أَيُّهُمْ أَشَدُّ هرهغه د دوئ چه ډیر سخت وی عَلَى الرَّحْمَٰنِ په خدائ باندے
عِتِيًّا ﴿۶۹﴾ له جهته د سرکشئ او زړه ورتوبه ثُمَّ لَنَحْنُ بیا هرائینه چه مونږه أَعْلَمُ
بِالَّذِينَ ښه پوهیو په هغه کسانو هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا چه دوئ ډیر لائق دی له دے دوزخ
سره صِلِيًّا ﴿۷۰﴾ له جهته د دخول او د سوځلو وَإِن مِّنكُمْ او نشته له تاسے إِلَّا وَارِدُهَا ج
مګر چه ورتلونکے دے دوزخ له مؤمن د پاره د تیریدلو په پُل صراط او کافر د پاره
د لویدلو پکښ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ دے دا ورود په دوزخ کښ په رب ستا حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿۷۱﴾
قطعی جزمی حکم پرے کړے شوے ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا بیا به خلاص کړو ترے مونږه
هغه کسان چه ځان ئے ساتلے وو له شرکه وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ او پرے به یږدو ظالمان
یعنی کافران فِيهَا جِثِيًّا ﴿۷۲﴾ په هغه دوزخ کښ ولاړ په ګونډو وَإِذَا تُتْلَىٰ او هرکله
چه ولوستے شی عَلَيْهِمْ په دے کافرانو آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ ایتونه څرګند په دے حال چه واضح
دی قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا نو وائی هغه کسان چه کافر دی له مشرکانو د قریشو لِلَّذِينَ
آمَنُوا هغه فقیرانو ته چه ایمان ئے راوړے دے أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ چه کوم یو له
دے دواړو ډلو چه مونږه یو او که تاسے خَيْرٌ مَّقَامًا ډیر غوره دے له جهته د
مسکنه یعنی چه د چا مینه غوره ده وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿۷۳﴾ او ډیر ښه دے له جهته د مجلس
نو د دوئ په جواب کښ په خپله خدائ وائی چه وَكَمْ أَهْلَكْنَا او ډیر هلاک کړیدی
مونږه قَبْلَهُم مخوا له دے مشرکانو د عربو مِّن قَرْنٍ ځو ځو قرنونه یعنی اهل د هرے
زمانے هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا چه دوئ به ډیر ښایسته وو له دے کفارو له جهته د

ت جِثِيًّا په زنګنونو پراته پر مخ ۱۲ مولانا جلال الدین صاحب نواکلی

مال متاع وَرِءْيًا ﴿۷۴﴾ او له جهته دشکله اوددوله قُلْ ووایه دوئ ته مَنْ كَانَ هرڅوک
چه وی فِي الضَّلٰلَةِ په گمراهئ یعنی کفر کښی فَلْيَمْدُدْ پس میبایدچه رادِکاږی لَهُ الرَّحْمٰنُ
مَدًّا ۚ دهٔ له خدائ عمر دده په رابنکلو سره یعنی ډیر اوږد عمر به ورلره ورکړی دپاره د
استدراج اودا اخبار دے په صورت د انشا کښی حَتّٰىٓ إِذَا رَاَوْا ترهغه پورے چه
ووینی دوئ مَا يُوْعَدُوْنَ هغه څیزچه وعده کولے شی د هغه له دوئ سره یا چه
ویروله کیږی ترے دوئ إِمَّا الْعَذَابَ چه هغه یا عذاب دے په د نیا کښی په قتل او
په بند سره وَإِمَّا السَّاعَةَ ط اویا قیامت دے چه په دوزخ کښی به وغورځولے شی .
فَسَيَعْلَمُوْنَ پس زر دے چه معلوم به کړی دوئ هغه وخت مَنْ هُوَ چه څوک دے هغه
شَرٌّ مَّكَانًا چه ډیر بد دے له جهته د ځایه وَّاَضْعَفُ جُنْدًا ﴿۷۵﴾ او ډیر ضعیف دے له
جهته د لښکره چه لښکر د دوئ شیطانان او ځائے ئے دوزخ دے او لښکر د مؤمنانو
ملائک او ځائے ئے جنت دے وَيَزِيْدُ اللّٰهُ اوزیاتوی خدائ په دنیا کښی الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا
هغه کسان چه سمه لاره ئے موندلے ده په ایمان سره هُدًى ط سمه لاره موندل په
نازلیدو د قرآن سره وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ او هغه باقی عملونه چه نیک دی لکه پنځه
مونځونه شول یا داڅلور کلمے شوے چه سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ
اَكْبَرُ ط دی یا مطلق نیک عملونه شول خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ډیر غوره دی په نزد د رب ستا
ثَوَابًا له جهته د ثوابه وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿۷۶﴾ او ډیر غوره دے له جهته د بیرته راتلو دے
نفع کونکی خپل ته **روایت دے** چه د خباب بن ارت رضی په عاص بن وایل باندے
قرض وو چه طلب ئے ترے وکړو نو عاص وویل دربه ئے نکړم څو چه کافر شوے
نهٔ ئے . خباب رض وویل چه کافر به نهٔ شم نه اوس او نه پس له مرګه او نه پس له بیا
ژوندونه بیا عاص وویل که چرے په ربنتیا سره بیا ژوندے شم نو زهٔ ډیر مال او
ځامن لرم هلته بیا راشه نو قرض به د ِدرکړم نو نازل شو اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ ایا پس
وینے ته هغه څوک كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا چه کفر ئے اختیار کړے دے په ایتونو ځمونږه پورے

وَقَالَ او وائی دے لَاُوْتَيَنَّ هرائینه را به کړے شی ماله په قیامت خامخاکهٔ چرے په
ربنتیا وه مَالًا وَّ وَلَدًا ﴿۷۷﴾ هم مال او هم ولد اَطَّلَعَ الْغَيْبَ ایا خبر شوے دے دا کافر په غیب
له لوح محفوظ او همزه دوصل ترے محذوف دے اَمِ اتَّخَذَ او که اخستے ده دهٔ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ
عَهْدًا ﴿۷۸﴾ په نزد خدائی وعده په دے چه دا مال او دا ولد به بیا دهٔ له ورکړے شی كَلَّا
نهٔ ده داسے لکه چه دے وائی سَنَكْتُبُ زر دے چه وبه لیکو مونږه مَا يَقُوْلُ هر هغه
چه وائی دے وَنَمُدُّ لَهٗ او وُبه غزوو دهٔ لره مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿۷۹﴾ له عذاب
څخه په عزولو سره یعنی ور به کړو له دیو عذاب د پاسه بل عذاب وَّنَرِثُهٗ
مَا يَقُوْلُ او میراث به یاتے کړو خپل ځان ته هغه مال او ولد چه وائی دے
چه دا ځما دے په مرګ ددهٔ سره وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا ﴿۸۰﴾ او را به شی دے مونږه
لره یواځے بے ماله بے ولده وَاتَّخَذُوْا او نیولی دی دغه کفارو دمکے مِنْ دُوْنِ
اللّٰهِ غیر له خدائی اٰلِهَةً خدایان یعنی بتان چه عبادت ئے کوی لِيَكُوْنُوْا د پاره ددے چه
شی دا معبودان لَهُمْ عِزًّا ﴿۸۱﴾ دوئی له سبب د عزت كَلَّا نه ده داسے لکه چه دوئ
ګنړی بلکه سَيَكْفُرُوْنَ زر دے چه منکر به شی دا الهه د دوئ بِعِبَادَتِهِمْ په بندګئ
دوئ وَيَكُوْنُوْنَ او شی به دا معبودان عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿۸۲﴾ په دوئ دښمنان اَلَمْ تَرَ اَنَّآ
ایا نهٔ وینے ته چه بیشکه مونږه اَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ لیږلی دی مونږه شیطانان یعنی
مسلط کړی م دی عَلَى الْكٰفِرِيْنَ په کافرانو باندے تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ﴿۸۳﴾ چه شړقوی
دوئ په شړقولو سره یعنی په ګناهونوئے باعث کوی فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ پس جلتی مهٔ
کوه په دوئ یعنی عذاب ور لره جلت مهٔ غواړه اِنَّمَا نَعُدُّ بیشکه هم دا خبره ده چه
شمیرو مونږه شپے او ورځے یا انفاس لَهُمْ عَدًّا ﴿۸۴﴾ دوئ له په شمیر لو سره تر وخته
د عذاب ددوئ پورے يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ او یاده کړه هغه ورځ چه راجمع به کړو مونږه
پرهیزګاران اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿۸۵﴾ خدائی ته سوارهٔ په اوبنانو وَنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ
او وبه شړو کافران اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿۸۶﴾ دوزخ ته تندے اخستی لَا يَمْلِكُوْنَ

الشَّفَاعَةَ اختیار به نهٔ لری د ابندګان کهٔ نیکان دی او که بد ان دی د خیر خواهئ د
هیڅ د پاره اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ مګر هغه څوك چه اخستے وی ده عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا ﴿۸۷﴾
په نزد د خدائ عهد د پاره د شفاعت وَقَالُوا او وائی د ایهود او نصاری او بل
هر هغه څوك چه ملائك لونړه د خدائ بولی اتَّخَذَ الرَّحۡمٰنُ وَلَدًا ﴿۸۸﴾ چه نیولے دے
خدائ ځوئ یعنی عُزیرؑ او عیسٰی او ملائك علیهم الصلوٰة والسلام نو ته ورته
او وایه اے رسوله چه لَقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا هر ائینه په تحقیق راوړے دے تاسے یو
خیز اِدًّا ﴿۸۹﴾ د یر ناکاره چه هغه نسبت دے د ولد تَكَادُ السَّمٰوٰتُ نزدے دی اسمانونه
يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ چه وچوی له د هشته د دے نسبته وَتَنۡشَقُّ الۡاَرۡضُ او پارچے پارچے
شی زمکه وَتَخِرُّ الۡجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ او راولویږی غرونه په زمکه ټوټے ټوټے اَنۡ دَعَوۡا
له دے جهته چه بولی دوئ لِلرَّحۡمٰنِ وَلَدًا ﴿۹۱﴾ خدائ له فرزند نو خدائ وائی وَمَا
يَنۡۢبَغِىۡ لِلرَّحۡمٰنِ او نهٔ ښائی خدائ لره اَنۡ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿۹۲﴾ چه ونیسی دے فرزند
اِنۡ كُلُّ مَنۡ نهٔ دے هر هغه څوك فِى السَّمٰوٰتِ چه په اسمانونو کښ دی وَالۡاَرۡضِ او
په زمکه کښ دی اِلَّاۤ اٰتِى الرَّحۡمٰنِ مګر راتلونکی دی داټول خدائ لره په قیامت
عَبۡدًا ﴿۹۳﴾ په دے حال چه بنده به وی هر یو نه فرزند که عزیر کهٔ عیسٰی علی نبینا
وعلیهما السلام دی او که نور څوك دی لَقَدۡ اَحۡصٰٮهُمۡ هر ائینه په تحقیق احاطه
کړے ده علم د دهٔ په دوئ وَعَدَّهُمۡ عَدًّا ﴿۹۴﴾ او شمیرلی دی داټول په شمیر لو سره
وَكُلُّهُمۡ اٰتِيۡهِ او واړه دوئ راتلونکی دی دهٔ لره يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ فَرۡدًا ﴿۹۵﴾ په ورځ
د قیامت یو اځے اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بے شکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا
الصّٰلِحٰتِ او عملونه ئے کړے دی د نیکو سَيَجۡعَلُ زر دے چه و به ګرځوی لَهُمُ
الرَّحۡمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾ دوئ له خدائ دوستی او محبت په زړونو د خلقو کښ فَاِنَّمَا
پس بیشکه هم داخبره ده يَسَّرۡنٰهُ بِلِسَانِكَ چه اسان کړے دے مونږ دا قرآن
په ژبه ستا لِتُبَشِّرَ د پاره د دے چه زیرے ورکړے ته بِهِ الۡمُتَّقِيۡنَ په دهٔ سره

په پرهیزګارانو وَتُنْذِرَ بِهٖ او چه وویروے ته په دهٔ سره قَوْمًا لُّدًّا ﴿۹۷﴾ هغه قوم چه
جګړه کونکی وو دے وَكَمْ اَهْلَكْنَا او ډیر هلاك کړی دی مونږه قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ مخوا
له دوئ له ډیرو قرنونو له جهته د تکذیبه د رسولانو هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ ایا وینے ته
په دے جهان کښی او مومے ته له دوئ څخه مِّنْ اَحَدٍ هیڅوك او تَسْمَعُ یا اورے
ته لَهُمْ رِكْزًا ﴿۹۸﴾ ع هغوئ له څخهٔ قدر کشار -

سُوْرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ　بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ　اٰيَاتُهَا ۱۳۵　رُكُوْعَاتُهَا ۸

طٰهٰ ﴿۱﴾ ج په دے کښی اختلاف له نورو مقطعاتو ډیر دے نو چا ویلی دی چه دا نوم دے
د قرآن یا نوم دے د سورة یا نوم دے د رسول علیه الصلوٰة والسلام لکه مزمل یا دا دوه
حرفونه دی له سرونو د اسماؤ د خدائ چه طؔ له طاهره او ہؔ له هادی دے یعنی زهٔ
پاك یم سمه لار ښودونکے خلقو ته او دا سے نور ډیر احتمالات دی او چا ویلی دی چه
طٰهٰ په اصل کښی طاها دے چه طا صیغه دامرده له باب د وَطَا يَطَا قیاس په وَضَعَ يَضَعُ
او ها ضمیر دے زمکے ته بیا ضمیر ترے حذف شوے دے او دا خطاب دے رسول صلے
الله علیه وسلم ته له دے جهته چه دے به تمامه شپه په یوه خپه خدائ ته ولاړ وو ترهغه چه
قدمونه ئے وپړسیدل نو خطاب ورته وشو چه طاها یعنی پائمال کړه اے رسوله تهٔ
دا زمکه په ایخود ود قدمونو سره په دے زمکه باندے مَا اَنْزَلْنَا نهٔ دے رالیږلے مونږه
عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ په تا قرآن لِتَشْقٰٓى ﴿۲﴾ لا د پاره د دے چه له اوږیدلو په مشقت کښی
پریوځے نهٔ او دا سے محنت په ځان واخلے چه خپے دِ وپړسیږی له ډیره قیامته
اِلَّا تَذْكِرَةً لیکن د پاره د پند لیږلے دے مونږه دا قرآن لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿۳﴾ لا د پاره د
هغه چا چه ویریږی له خدائ او دا استثناء منقطع ده او رالیږلے شوے دے دا قرآن تَنْزِيْلًا
مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ په رالیږلو سره له هغه چا چه پیدا کړے ئے ده زمکه وَالسَّمٰوٰتِ
الْعُلٰى ﴿۴﴾ او هغه اسمانونه چه ډیر هسک دی اَلرَّحْمٰنُ پروردګار چه دے عَلَى الْعَرْشِ

اسْتَوٰى ⑤ په عرش مستولی او غالب دے او ذکر د عرش له جهته د عظمته دے اگر که دے په تمامو موجوداتو متصرف او غالب دے او علی کرم الله وجهه ویلی دی چه الاستواء غیر مجهول والتکییف غیر معقول والایمان به واجب والسؤال عنه بدعة لانه تعالیٰ کان ولا مکان لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ خاص دهٔ له دی هر هغه چه په اسمانونو کښ دی وَمَا فِى الْاَرْضِ او هر هغه چه په زمکه کښ دی وَمَا بَيْنَهُمَا او هر هغه چه په مینځ د دوی کښ دی وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ⑥ او هر هغه چه لاندی دی د زمکے یعنی دا ټول مملوك دی د دهٔ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ او که په زور کوے ته خبره فَاِنَّهٗ پس بیشکه دے چه دے يَعْلَمُ السِّرَّ پوهیږی په پټه خبره وَاَخْفٰى ⑦ او په ډیره پټه هم یعنی دهٔ ته دے واړه برابر دی نو حاجت نشته په زوره ذکر کولو ته اَللّٰهُ خدائی چه دے لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَؕ نشته بل معبود برحق مگر یو اځے هم دے دے لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ⑧ هم دهٔ له دی ښایسته نومونه روایت دے چه هر کله موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام له شعیب علیه الصلوٰة والسلام سره لس کاله پوره کړهٔ په شپنئ کښ بیا رخصت ئے ترے وغوښته د تګ مصر ته د پاره د دیدن د مور او د وړو ورځیل نو هغه رخصت ورکړو او روان شو له ښځے خپلے سره چه صفورا نومِ وه لور د شعیب علیه السلام بیا په لاره کښ یو ځائے د ژمی شپه وه ډیره توره تاریکه او واورے هم وریدے. چه ناګاه لاره ترے ورکه شوه او مال ئے هم تار پار شو او ځوئے سئے هم په دغه شپه پیدا شو نو اور ئے پکار شو چه پنډ ئے وواهه اور ترے نه ووت ناکامه ئے له وړایه اور ولیده لکه چه وائی وَهَلْ اَتٰىكَ او په تحقیق راغلے ده تا له د ا هَلْ تحقیقیه دے حَدِيْثُ مُوْسٰى ⑨ قصه د موسیٰ بن عمران د پاره د دے چه د هغه سختی واورے نو ته هم صبر او تحمل وکړے په سختیو

له یعنی کرم الله وجهه ویلی دی چه استواء په عرش مجید باندے نه ده مجهوله یعنی معلومه ده او کیفیت ئے غیر معقول دے یعنی په عقل کښ نه شی راتلے او ایمان په مطلق استوای باندے واجب دے او پوښتنه کول له کیفیته د استواء نه بدعت او ناجائز دے ځکه چه الله پاك قدیم وو او مکان لا نه وو. فافهم والله اعلم ۱۲

د نبوت او په شدا ید و د کفار و لکه هغهٔ چه کړے وه چه تهٔ هم درجات عالیه بیا موے
د هغه په شان إِذْ رَا نَارًا یاد کړه هغه چه ولیدهٔ دهٔ اور له بنی طرف د کوهِ طور ه
فَقَالَ پس وویل دهٔ لِأَهْلِهِ امْكُثُوٓا عیال خپل ته چه مدار وکړئ تاسے په دے
ځائی إِنِّيٓ آنَسْتُ نَارًا بے شکه چه ما ولیدهٔ اور لَّعَلِّيٓ آتِيكُم بنائی چه راوړم زهٔ
تاسے لره مِّنْهَا بِقَبَسٍ له هغه اوره لګوے لمبه أَوْ أَجِدُ یا بیا مومم زه عَلَى النَّارِ هُدًى ⑩
په اور باندے آګاه کوونکے دا مصدر دے مبنی د پاره د فاعل اے هَادِيًا فَلَمَّآ أَتَىٰهَا پس
هر کله چه راغے دے اور له او سپین اور ئے اولیدهٔ په شنه و ونکښ او هلته نزدے ورته
هیڅوك نهٔ وو بیا چه ودرواندے شهٔ د پاره دا خستلو نُودِيَ غږ ورته وکړے شهٔ
داسے چه يَٰمُوسَىٰٓ ⑪ اے موسیٰ إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ بے شکه چه یم زهٔ رب ستا او دا
تکرار د ضمیر د پاره د تاکید دے فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ پس وباسه له خپو دواړو پیزاره
خپل چه خاوره دے پاکے کندے دِ په خپو ونکیړی او برکتونا کے شی یا دا چه دا
لاره دا دب ده چه بادشاهانو له څوك ورځی نو پیزار له خپو لرے کاندی إِنَّكَ
بیشکه چه تهٔ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ ئے په هغه ناؤ کښ چه مبارك یا پاك کړے شوے دے
طُوًى ⑫ چه نوم ئے طویٰ دے او طوی بدل له وادی دے وَأَنَا اخْتَرْتُكَ او زهٔ
چه یم غوره کړے ئے ما نهٔ د پاره د نبوت فَاسْتَمِعْ پس غوږ کیده ته لِمَا يُوحَىٰٓ ⑬
هغه خبرے ته چه وحی کیږی تا ته او هغه خبره دا ده چه إِنَّنِيٓ بیشکه زهٔ چه یم
أَنَا اللَّهُ هم دا زهٔ یم خدائے لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ نشته لایق د عبادت هم زهٔ یم
فَاعْبُدْنِي پس عبادت کوه ځما وَأَقِمِ الصَّلَوٰةَ او ودروه مونځ یعنے ادا کوه له
ټولو حقوقو سره لِذِكْرِيٓ ⑭ د پاره د یادولو ځما چه ما پکښ یاد کړے إِنَّ السَّاعَةَ
بیشکه قیامت چه دے ءَاتِيَةٌ راتلونکے دے خامخا أَكَادُ أُخْفِيهَا اراده لرم
چه پټ کړم دا یعنی وخت د ظهور ئے د پاره د ابتلاء لِتُجْزَىٰ د پاره د دے راز
چه جزا ورکړے شی كُلُّ نَفْسٍۭ هر شخص لره بِمَا تَسْعَىٰ ⑮ په هغه عملونو چه

کوی ئے دے خیر دے او کهٔ شر فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا پس نهٔ دِ اړوی تا خا مخا له دے
اقامت د مانځه یا له ایمانه په قیامت مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا هغه څوک چه باور نهٔ لری په
راتلو د دے قیامت یا په فرضیت د دے مانځه وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ او پیروی کوی د ارزو د نفس
خپل د هغه چا متابعت مهٔ کوه او کهٔ متابعت دِ او کهٔ فَتَرْدٰى ⑯ پس هلاک به شے
خطاب موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام ته دے او مراد ترے امت دے وَمَا تِلْكَ او څهٔ
څیز دے دا بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ⑰ په ښی لاس ستا کښ اے موسیٰ قَالَ هِيَ عَصَايَ ج
نو وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام چه دا همسا ده څما اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا چه تکیه
کوم په دے چه ستړے شم وَاَهُشُّ بِهَا او سندم په دے سره پاڼړے عَلٰى غَنَمِيْ
په ګډو خپلو چه وُړے شی وَلِيَ فِيْهَا اودے مالره په دے همسا کښ مَاٰرِبُ اُخْرٰى ⑱
مطلبونه نور دِ بر غیر له دے تیر و چه هغه دا وو چه دده سره به ئے خبرے کولے چه یواځے
به وو او له لیوانو له آفاتو به ئے ساتنه او له دشمن دده سره به ئے جنګ او مقدمه کوله
او چه کوهی له به راغے نو تنه به ئے رسئ او دواړه ښکرے به ئے بوقه شوه او دشپے به
ئے دواړه ښکرے دوه مشالونه شوا و چه میوے ته به ئے اشتها وشوه نو لکَهٔ به ئے
کړه په زمکه او ونه به شو نو هره میوه چه دهٔ به غوښته هم هغه به ترے را نوټی شوه
او په ګرمیٔ کښ به ئے سورے پرے کولو او چه تږے به شو نو په زمکه به ئے ووهله
او اوبهٔ به پرے راووتے او چه به دے او دهٔ شو نو زمَه به ئے وررله ساتله او دا آدم
علیه السلام راوړے وه له جنته چه لس ګزه اوګده وه او سرئے دوه شاخه وو او دا
بیا په میراث سره شعیب علیه السلام له راغله او هغهٔ بیا موسیٰ علیه السلام لره
ورکړه قَالَ بیا وویل ورته رب اَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ⑲ چه وے غورځوه اے
موسیٰ چه یوه بله عجیبه هم درته وښایم فَاَلْقٰىهَا پس وے غورځوله دا
همسا فَاِذَا هِيَ پس ناڅاپه دا چه وه حَيَّةٌ تَسْعٰى ⑳ مار وو چه منډے ئے وهلے
او دے په اول کښ وړوکے مار شو څکه چه جان بللے شوے دے او بیا وړو

وړو ولویده نو بنا مار شو چه ځلو یښت یا او یا ګرځه ئے خوله وه حُکه ثعبان بلے شی قَالَ خُذۡهَا بیا وویل رب چه ونیسه دا یعنی لاس وړ واچوه وَلَا تَخَفۡ وقف او مه ویریږه سَنُعِيدُهَا زر دے چه وبه ګرځوو مونږه دا سِيرَتَهَا الۡأُولَىٰ ﴿٢١﴾ په هم هغه پخوانی شکل ئے یعنی بیرته به ئے هم هغسې همسا کړو لکه چه پخوا وه نو دهٔ لاس وړ واچولو اوله دواړو ژامو نه ئے ونیوه نو بیرته همسا شوه بیا بل خطاب ورته وشو داسے وَاضۡمُمۡ يَدَكَ او یوست کړه لاس خپل إِلَىٰ جَنَاحِكَ تخرګ خپل پورې یعنے په تخرګ کښې ننه باسه تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ چه راوزی تک سپین مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٍ بے عیب د برګ والی ءَايَةً أُخۡرَىٰ ﴿٢٢﴾ په حال دکیدو د دے ید بیضا بله نښه یعنی معجزه په نبوت ستا او دا کار وکړو مونږه لِنُرِيَكَ دپاره د دے چه وښایو مونږه تا ته مِنۡ ءَايَٰتِنَا ٱلۡكُبۡرَى ﴿٢٣﴾ بعضے له هغه نښو ځمونږه چه ډیرے لوئے دی ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ لاړ شه فرعون ته له دے دواړو معجزو سره او توحید ته ئے وبوله حُکه چه إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٢٤﴾ بیشکه دے یاغی شوے دے بیا هر کله چه په دهٔ دا درونده بار واچولے شهٔ نو دپاره د حصول د توفیق او د استقامت او د امتثال د دے امر رب ته ئے د پرسوالونه وکړهٔ لکه چه وائی قَالَ وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام رَبِّ ٱشۡرَحۡ اے ربه ځما پرانزه او ارته کړه لِي صَدۡرِي ﴿٢٥﴾ ما له سینه ځما چه په دے مشقت کښې تنګی رانهٔ وړی وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ﴿٢٦﴾ او اسان کړے ما ته دا مهم ځما روایت دے چه په هغه وخت چه موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام لا کمکے وو یوه ورځ د فرعون په غیږ کښې وو او ددهٔ ږیره جراؤ وه په ملغلرو موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام چه دا ملغلرے ولیدے نو لاس ئے وړ واچولو ږیرے ته او ځهٔ قدر ویښته ئے ترے راوایستل نو فرعون په غضب شو او اراده د قتل ئے وکړه او بی بی آسیے عذر خواهی وکړه چه نادان دے که څوک سکارهٔ ورته کیږدی نو هغه به هم لاس واچوی نو دوه تغاری ئے ورته کیخودهٔ یو د سکرو بل د ملغلرو نو جبریل علیه السلام ددهٔ لاس سکرو ته وړاندے کړو او سکور ئے خولے ته واچولو او

ژبه نه پرے وسوه ځکه ئے ویلی دی وَاحۡلُلۡ عُقۡدَةً اوپرانزه غوټه مِنۡ لِّسَانِىۡ ﴿٢٧﴾
له ژبے ځما څخه يَفۡقَهُوۡا قَوۡلِىۡ ﴿٢٨﴾ چه فهم کاندی دا فرعونیان ګفتار ځما په وخت دپیغام
رسولوکښ وَاجۡعَلۡ لِّىۡ اوپیدا کړے ماله وَزِيۡرًا مِّنۡ اَهۡلِىۡ ﴿٢٩﴾ باربردار له خپله عیال ځما
هٰرُوۡنَ اَخِى ﴿٣٠﴾ هرون چه رورځما دے اودا دواړه عطف بیان دے دوزیر اشۡدُدۡ بِهٖۤ
اَزۡرِىۡ ﴿٣١﴾ محکمه کړے په ده سره شا ځما وَاَشۡرِكۡهُ فِىۡۤ اَمۡرِىۡ ﴿٣٢﴾ اوشریک کړے
دے له ما سره په دے کار ځما کښ یعنی په نبوت کښ كَىۡ نُسَبِّحَكَ دپاره ددے چه
تسبیح وایو یا مونځ کوو دواړه تا لره كَثِيۡرًا ﴿٣٣﴾ ډیر وَّ نَذۡكُرَكَ اویادوو دواړه تا په
حمد او په ثنا سره كَثِيۡرًا ﴿٣٤﴾ ډیر اِنَّكَ كُنۡتَ بیشکه چه ئے ته بِنَا بَصِيۡرًا ﴿٣٥﴾ په
احوالو ځمونږ خبردارلیدونکے قَالَ نو وویل ورته رب العزت قَدۡ اُوۡتِيۡتَ په تحقیق
درکړے شو تاله سُؤۡلَكَ يٰمُوۡسٰى ﴿٣٦﴾ سوال ستا اے موسیٰ یعنی داچه تا ترا څخه
اوغوښتل ټول م درلره درکړه وَلَقَدۡ مَنَنَّا اوهرائینه په تحقیق منت بار کړے وومونږه
عَلَيۡكَ مَرَّةً اُخۡرٰٓى ﴿٣٧﴾ په تا یو بل کرت هم پخواله دے اِذۡ اَوۡحَيۡنَاۤ هغه چه وحی کړے وه
مونږه اِلٰٓى اُمِّكَ مورستا ته په الهام یا په خوب یا په واسطه د مَلَك سره امّا نه په وجه
دنبوت بلکه د بی بی مریمے په شان په هغه وخت چه فرعون به هلکان وژل ستا له جهته
مَا يُوۡحٰىٓ ﴿٣٨﴾ هغه چه وحی ئے کولے شی او بے وحی نه معلومیږی نو مونږه ورته
پیغام وکړ اَنِ اقۡذِفِيۡهِ داسے چه واچوه دے فِى التَّابُوۡتِ په صندوق کښ فَاقۡذِفِيۡهِ
پس بیا واچوه دا صندوق فِى الۡيَمِّ په هغه سیند کښ چه نوم ئے نیل دے فَلۡيُلۡقِهِ
الۡيَمُّ پس میباید چه بیا د وغورځوی دغه صندوق دا سیند اودا خبار دے
په صورت دامر یعنی چه وے غورځوی بِالسَّاحِلِ غاړے خپلے ته يَاۡخُذۡهُ چه
ئے ونیسی هغه څوك عَدُوٌّ لِّىۡ چه هغه دشمن دے ځما وَعَدُوٌّ لَّهٗ اودشمن دے دده هم
چه هغه فرعون دے اودا تکرار دعدو دپاره د مبالغے دے **روایت دے**
چه بیا دے په امرالهی سره په صندوق کښ مالوچ وغوړول او دے ئے پکښ واچولو

او صندوق ئے سر پو ښ کۀ نو په سینه کښې ئے لاهو کۀ بیا له دغه سینډه یو ه لویه واله جدا شوې وه او د فرعون په باغ کښې ننوتلې وه او دې په دې باغ کښې له بی بی آسیې سره په تخت ناست وو ناګاه له پاسه په دې واله کښې یو صندوق راغې نو راوې کښې بیا چه سرئې ترې پورته کړو نو هلک پکښې پروت وو ډیر ښائسته او فرعون له مجبوراً لید وسره پرې ډیر مَین شو چه وائی وَ اَلْقَیْتُ عَلَیْكَ او اچولې م وو په تا مَحَبَّةً مِّنِّیْ ۚ ۵ مینه خما له طرفه یعنی د خلقو په زړونو کښې م ستا محبت واچولو وَلِتُصْنَعَ او د ا محبت م واچولو د پاره د دې چه لوی پولې شې ته یعنی تربیت ستا کولې شی عَلٰی عَیْنِیْ ﴿۳۹﴾ په نظر خما یعنی خما تر ارادې او حفظ لاندې **روایت دے** چه بیا دې فرعون او بی بی آسیې دواړو په فرزندئ وساتۀ بیا نو دایه ئے ورله پیدا کوله نو هره ښځه به ئے چه ورله راوسته دۀ به ئے له سره تې نۀ اخستۀ بیا خورد دۀ مریم نام چه مور له صندوق سره پښه لیږلې وه د پاره د جاسوسئ د صندوق دهغۀ هم هلته حاضره شوه چه دا حال ئے ولیدۀ نو دې ورته یوه خبره اوکړه لکه چه وائی یادکړه هغه چه اِذْ تَمْشِیْٓ اُخْتُكَ چه روانه شوه خور ستا او مجلس د فرعون ته حاضره شوه او هلک ئے ولیده چه د هیچا تې نه اخلی فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ پس وویل دې چه آیا آګاه کړم زۀ تاسې عَلٰی مَنْ یَّكْفُلُهٗ ؕ په هغه چا چه واخلی دا بار د تربیت دده نو بی بی آسیې ورته وویل کۀ داسې څوك د پید اکړو نو ډیر احسان به د ر سره وکړم بیا لاړه او خپله مور ئے ورسره راوسته او دهغې تې واخستۀ لکه چه وائی فَرَجَعْنٰكَ پس بیرته راوستې مونږه ته اِلٰٓی اُمِّكَ مور خپلې له د پاره د وفا په هغه وعده چه اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَیْكِ وه كَیْ تَقَرَّ عَیْنُهَا د پاره د دې چه یخې شی سترګې د دې په ملاقات ستا سره وَلَا تَحْزَنَ ؕ ۵ او خفه نۀ شې په فراق د دۀ وَقَتَلْتَ نَفْسًا او دې هغه وژلې چه مړ کړو تا یو سړې یعنې هغه قبطی چه له اسرائیلی سره په جنګ وو او تا ته ئے فریاد وکړو او بیا فرعون اراده اوکړه د قتل ستا فَنَجَّیْنٰكَ پس خلاص کړې مونږه ته مِنَ الْغَمِّ له غمه

ع۱ یعنی الله پاك ورته ویلی دو چه په تحقیق مونږه بیرته رد کونکی او راګرځونکی د دې ځوئې بیا هم تا ته یو ۱۲ منه

د قصاص او د عقاب وَ فَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ﴿ قف ﴾ او بیا واز میلی مونږه تهٔ په دے سفر د مدین کښې
په آزمیلو سره په انواع د مشقتونو لکه خوف او جد ایی او سفر او لوږه او شپنی او د آنور
دېرشو فَلَبِثْتَ سِنِیْنَ پس ووسیدے تهٔ څو کاله چه هغه څو کاله وو او په روایت د وهب اته
ویشت کاله وو له شعیب علیه الصلوة والسلام سره او اتلس ځان له په هغه ځائی کښې فِیْٓ
اَهْلِ مَدْیَنَ ﴿۵﴾ په خلقو د مدین کښې چه ښار وو د شعیب علیه الصلوة والسلام اتهٔ منزله
لرے د مصر نه ثُمَّ جِئْتَ بیا راغلے اوس دے وادی مقدس له عَلٰی قَدَرٍ په هغه مقدار
یعنی عمر چه بلوغ د رسالت پرے حاصلیږی چه هغه څلویښت کاله دی یٰمُوْسٰی ﴿۴۰﴾
اے موسٰی وَاصْطَنَعْتُكَ اوجوړ کړے یعنی غوره کړے ئے ما تهٔ لِنَفْسِیْ ﴿۴۱﴾ د پاره د
ځان خپل یعنی د عبادت او د وحی او د رسالت خپل اِذْهَبْ اَنْتَ ځهٔ تهٔ وَ اَخُوْكَ
بِاٰیٰتِیْ او ورور ستا له معجزو ځما سره وَلَا تَنِیَا او سستی او تقصیر مهٔ کوئی فِیْ
ذِكْرِیْ ﴿۴۲﴾ په یادگیری ځما یا په رسولو د پیغام ځما کښې اِذْهَبَآ اِلٰی فِرْعَوْنَ لاړشئ
دواړه فرعون لره اِنَّهٗ طَغٰی ﴿۴۳﴾ بیشکه چه دے یاغی شوے دے له ما نه فَقُوْلَا لَهٗ پس
ووایئ ورته قَوْلًا لَّیِّنًا خبره نرمه یعنی پاسته الفاظ ورته ووایئ او په نامه ئے بولئ بلکه
ابو العباس یا ابو الولید یا ابو مره خطاب ورته کوئی یا دا چه د آخرت معاشونه ورته
بیان کړئ لَّعَلَّهٗ یَتَذَكَّرُ بنائی چه دے پند واخلی په نرمه خبره او غاړه کیږدی حق ته
اَوْ یَخْشٰی ﴿۴۴﴾ یا وویریږی له عذابه قَالَا رَبَّنَآ نو وویل دوئی دواړو چه اے ربه ځمونږه
اِنَّنَا نَخَافُ بے شکه چه مونږه ویریږو اَنْ یَّفْرُطَ عَلَیْنَآ له دے چه جلتی به وکه په مونږه
د عذاب او معجزه ښکاره کولو ته به صبر ونه کړو اَوْ اَنْ یَّطْغٰی ﴿۴۵﴾ یا ویریږو له دے چه
لا زیات سرکش به شی او ستا په حق کښې نالایق الفاظ به ووایی قَالَ لَا تَخَافَآ نو وویل ورته
رب العزت چه مهٔ ویریږئ ځکه چه اِنَّنِیْ مَعَكُمَا بیشکه زهٔ له تاسے سره یم په ساتنه
او په مددگاری سره اَسْمَعُ وَ اَرٰی ﴿۴۶﴾ چه هم اورم او هم وینم یعنی اورم سوال ستاسے
او هم وینم حمله د دوئی په تاسے نو منع کوم به ئے له تاسے نو هیڅ خفگان مهٔ کوئی فَاْتِیٰهُ

پس ورشئ دواړه فرعون لره فَقُوْلَآ اِنَّا پس ووایئ ورته چه بیشکه مونږه رَسُوْلَا رَبِّكَ
رالیږلے شوی درب ستایوتا ته فَاَرْسِلْ مَعَنَا پس ولیږه له مونږه سره بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۥ
دا اولاد د یعقوب علیه الصلوة والسلام یائے له مرئي توبه آزاد کړه چه ځی له مونږه سره
شام ته وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ط اوعذاب دوئ لره په امرسره په سختو کارونو اوپه قتل د اولاد
د دوئ قَدْ جِئْنٰكَ په تحقیق راغلی یُو مونږ تالره بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ ط په غټه نښه یعنې
معجزه سره له جانبه د پروردګار ستا بیا فرعون ورته ووئیل چه هغه نښه دِ ښکاره که
نولاس ئے په تخرګ کښ ننه ایست اوچه بیائے راوِویست نوداسے شعاع ئے لرله
چه له نوره د پاسه وه وَالسَّلٰمُ اوسلام دے د ملائکو یا د خزانچیانو د جنت یاسلامتی
ده له عذابه عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى ﴿۴۷﴾ په هرهغه چا چه پیروی کوی د سمے لارے
اِنَّا بیشکه مونږه چه یُو قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَآ په تحقیق پیغام کړے شوے دے مونږه ته اَنَّ
الْعَذَابَ داسے چه بیشکه عذاب د خدائ عَلٰى مَنْ په هرهغه چا دے كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿۴۸﴾
چه نهٔ منی دا پیغام ځمونږه او شا کړه ورته بیا په امر الهی سره راغله دواړه فرعون لره
او ورته ئے ووئیل چه مونږه تالره رالیږلے یو رب ځمونږه قَالَ نو ووئیل فرعون فَمَنْ رَّبُّكُمَا
پس څوک دے رب ستاسے يٰمُوْسٰى ﴿۴۹﴾ اے موسیٰ قَالَ نو ووئیل موسیٰ علیه الصلوة والسلام
رَبُّنَا الَّذِيْٓ رب ځمونږه هغه څوک دے اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ چه ورکړے دے دهٔ هرڅیز
له مخلوقاتو خَلْقَهٗ صورت او شکل د دهٔ په هغه شان سره چه د دے ئے په حکمت بالغه
لایق ګڼړی یا طریقه د معاش او ګذران د ده ثُمَّ هَدٰى ﴿۵۰﴾ بیا لاره ئے وښوده ورته د
ګذران په دنیا کښ او د سعادت ابدی په آخرت کښ قَالَ بیا ووئیل فرعون چه فَمَا
بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿۵۱﴾ پس څهٔ دے حال د پخوا نیو لکه قوم د نوح او هود او صالح
او لوط او د نورو پیغمبرانو علیهم السلامو یعنې له نیکبختئ د نیکبخته او له بدئ د
بد بخته قَالَ عِلْمُهَا نو ووئیل موسیٰ علیه السلام چه علم په حال او په مال د هغه
قرونو عِنْدَ رَبِّيْ په نزد د رب ځما دے فِيْ كِتٰبٍ ج په لوح محفوظ کښ لیکلے لَا يَضِلُّ

رَبِّيْ نهٔ تیرووځی رب ځما یعنی نهٔ وُر کوی هیڅ څیز وَلَا يَنْسَى ﴿۵۲﴾ او نهٔ ئے هیروی الَّذِيْ
جَعَلَ هغه پرور دګار چه ګرځولے ده لَكُمُ الْاَرْضَ تاسے لره زمکه مَهْدًا بچاؤنړه چه ګرځئ
او کښینئ او څملئ او میښے اچوئ پرے وَّسَلَكَ لَكُمْ او اسانے کړے ئے دی تاسے لره فِيْهَا سُبُلًا
په دے کښں لارے د پاره درسیدو مطالبو خپلو ته وَّاَنْزَلَ او رالوزے کړے دی ده مِنَ
السَّمَآءِ مَآءً له طرفه د اسمانه اوبهٔ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ پس را ایستلی دی مونږه په دے اوبو
سره اَزْوَاجًا قسمونه رنګارنګ مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰى ﴿۵۳﴾ له زرغونیدونکو څیزونو څخه چه مختلف دی یو له
بله سره هم په خوند او هم په رنګ او هم په منافعو کښں چه بعضے په ا دمیانو پورے خاص
دی او بعضے په بهایمو پورے ځکه وائی چه كُلُوْا خورئ تاسے هغه څیزونه چه ستاسے
دخوراك دی لکه دانے او میوے شوے وَارْعَوْا اَنْعَامَكُمْ او څروئ چارپایان خپل په
هغه نباتاتو کښں چه ستاسے دخوراك نهٔ دی اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه په دے بیرته یاد
ع ۲ شویو کښں لَاٰيٰتٍ هر ائینه نښے دی رنګارنګ په قدرت ربانی باندے لِّاُولِي النُّهٰى ﴿۵۴﴾
د پاره د څښتنانو د خالص عقل مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ له هم دے زمکے پیدا کړی یئ مونږه تاسے
یعنی نیکه ستاسے چه ادم علیه الصلوة والسلام دے یا مراد هغه تومنه د بوټی خاورے ده
چه له نطفے د هر ادمی سره ئے ملګرے کړے وی وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ او په همدے زمکه کښں به بیا
ننه باسو مونږه تاسے پس له مرګه وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ او له هم دے زمکے به بیا را او باسو تاسے
تَارَةً اُخْرٰى ﴿۵۵﴾ بل کرت د پاره د حساب او د جزا وَلَقَدْ اَرَيْنٰهُ او هر ائینه په تحقیق
وښودل مونږه فرعون ته اٰيٰتِنَا كُلَّهَا نښے یعنی معجزے ټولے چه دا نهٔ دی عصا يد بيضا

ع۱ یعنی همسا دده چه په وخت د حاجت کښں به په معجزو د غورځولو سره مارجوړ شو تړنه ـ يد بيضا یعنی لاس مبارك دهٔ
چه په وخت د حاجت کښں به په مجرد ننه ایستو سره تخرګ خپل تک سپین لکه سپوږمۍ به شو ـ حجر یعنی هغه کاڼے چه له دهٔ ئے
جلے تختولے وے په وخت د غسل کښں او بیائے په امر د خدائی دځان سره ساتلے وو نو په وخت د حاجت کښں به له هغه نه
په مجې دوهلو سره دولس چینے روانے شوے او د پاره د هر قوم بیله بیله واله ځکه چه بنی اسرائیل هم دولس قومونه
وو ـ فلق البحر یعنی بل څیرے کیدل د دریاب په وخت د ملاقات د فرعونیانو له دوئ سره مراد او بل ملخ په
فرعونیانو چه ایمان ئے نهٔ راوړو او نورے سیږے په فرعونیانو اونورچینه خان او همدا رنګے وینے او ایستل د
دغرپه فرعونیانو لکه چه مشهور دی ۱۲

حجر، فلق البحر، جراد، ضفادع، دم، نتق الجبل فَكَذَّبَ وَأَبٰى ﴿٥٦﴾ پس دروغ ئے وګڼل
موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام ته او وے نهٔ مانه نصیحت ددهٔ له ډیره عناده قَالَ اَجِئْتَنَا
بیا ووئیل فرعون چه آیا راغلے ئے تهٔ اے موسیٰ مونږ ته لِتُخْرِجَنَا د پاره د دے چه وباسے
تهٔ مونږه مِنْ اَرْضِنَا له دے زمکے ځمونږه چه مصر دے بِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى ﴿٥٧﴾ په جادو
خپل سره اے موسیٰ فَلَنَاْتِيَنَّكَ پس هرآئینه رابه ورو مونږه خامخا تاته بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ
جادو په شان د دے جادو ستا چه له جادو سره جادو جنګیږي فَاجْعَلْ پس مقرر کړه
بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ ځمونږه او ستا په مینځ کښ مَوْعِدًا یو وعده ګاه لَا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ چه مخالفت
به نهٔ کوو له هغه وعدے نه مونږه وَلَآ اَنْتَ او نه تهٔ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾ په هغه ځائی کښ چه
هوار وي چه هرڅوك ئے وګوري دا هله که مکانًا منصوب شي په نزع د حافض سره او
یا بدل د دے د تیر موعدًا اتحه قَالَ مَوْعِدُكُمْ نو ووئیل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام
چه وعده ګاه ستاسو چه د ے يَوْمُ الزِّيْنَةِ ورځ د ځان ښائسته کولو د قبطیانو ده
چه هغه اختر ددوی دے یا ورځ د نوروز یا د عاشورے ده او دلته سوال د مکان وو
او جواب په زمان وشو ځکه چه له دے زمانه مکان هم معلوم شهٔ وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ
او هغه ورځ چه جمع کولے به شي آدمیان په یو ځائے کښ ضُحًى ﴿٥٩﴾ په وخت د څاښت
کښ د پاره د دے چه د هر ملك خلق به حاضر وي هلته نو حق او باطل به ښهٔ ظاهر او
مشهور او خور شي په تمام عالم کښ فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ پس مخ وګرځولو فرعون له هغه
مجلسه او ولاړ خلوت له د پاره د مصلحت د خپلو اکابرو سره بیا نو سرئ ئے په ساحرانو پسے
خوارهٔ کړهٔ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ پس راټول ئے کړو مکر او فریب خپل یعنی ساحران چه درے سوه
یا خلور سوه یا اویا زره وو ثُمَّ اَتٰى ﴿٦٠﴾ بیا راغے خپلے وعده ګاه له سره له هغه ساحرانو
قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى نو ووئیل دے ساحرانو ته موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا

مه یعنی فرعون موسیٰ علیه السلام ته ووئیل ووچه مقرر او معلوم کړه مونږ ته یو ځائے د پاره د مقابلے او د جادو کولو له تاسره او موسیٰ ورته د ویلے وو چه وعده ګاه ستاسے ورځ د اختر ده پس جواب د موسیٰ ؑ سوال د فرعون سره فی الواقع موافق شو ځکه چه په ورځ د اختر کښ ځائے د تماشے معلوم او معروف وی۔ فافهم والله اعلم ۱۲

افسوس دے تاسے لره مۀ تړئ له ځانه عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا په خدائ دروغ يعنی مۀ
بولئ دا معجزے دوه په سحر سره فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ پس هلاك به كړی تاسے په
عذاب سره وَقَدْ خَابَ او په تحقيق خراب او نا اميده شو مَنِ افْتَرٰى ﴿٦١﴾ هرهغه څوك
چه دروغ ئے اوتړل په خدائ فَتَنَازَعُوْٓا پس جګړه اوكړه دے ساحرانو په طريقه د
مصلحت سره كناره له خلقو اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ په دے مهم خپل كښ په خپل مينځ سره
اودا منصوب دے په نزع د خافض سره وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿٦٢﴾ اوپټ ئے كړو دا راز
اومصلحت خپل له مجلسيانو د فرعونؑ اوهغه نزاع اومصلحت ئے دا وو چه بعضو
ويل څومره په شان ساحر دے اوبعضو ويل چه دا كلام ئے د ساحرانو نۀ دے
بيا په دے ئے اتفاق وكۀ چه كۀ دے غالب شو نو پيغمبر دے تابع به ئے شو اوفرعون
له سره د مانړئ دوئ وليدل چه جرګه دی سره. نو راوے بلل چه تاسے څۀ
جرګه كوله نو دوئ له ويرے ورته ژبه واړوله. نو قَالُوْٓا وويل دے ساحرانو
اِنْ هٰذٰنِ بے شكه دا دوه رونړه چه دی لَسٰحِرٰنِ هرائينه جادوګران دی اودا
اِن مخفف دے له متقلے ځكه دا لام فارق په مابين د نافيے اود مخففے پرے داخل
شوے دے يادا اِن په معنٰی د ما او لام په معنٰی د اِلَّا دے يعنی ما هٰذٰنِ اِلَّا سٰحِرَانِ
يُرِيْدٰنِ چه اراده لری دد دے اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ دد دے چه اوباسی دوئ تاسے مِّنْ اَرْضِكُمْ
له دے زمكے ستاسے چه مصر دے بِسِحْرِهِمَا په جادو خپل سره وَيَذْهَبَا اوبوځی دوئ
يعنی محو كه بِطَرِيْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى ﴿٦٣﴾ دا مذهب اودين ستاسے چه ډير غوره دے اوخپل
دين جاری كه اودا بَ د پاره د تعديه ده بيا بعضو وويل بعضو ته يا فرعون وويل چه
فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ پس راجمع كړئ اوراواخلئ اسباب د مكر اود جادو خپل ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا
بيا راشی ميدان د معارضے له تړلی صفونه چه په زړونو د خلقو كښ هيبت او دهشت
ولويږی او دوئ اويا زره وو او هر يوه تخه يوه همسا او يو پړے وو وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ
او په تحقيق بريالی شو نن ورځ مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾ هرهغه څوك چه غالب شو

قَالُوْا يٰمُوْسٰى بیا وویل دوئ اے موسی اِمَّآ اَنْ تُلْقِىَ یا داسے کار دے چه اول وغورزے ته همساخپل وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ او یا چه اوسو مونږه اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ﴿۶۵﴾ لمړے دهغه چا چه غورځوی خپل قَالَ نو وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام بَلْ اَلْقُوْا ج بلکه وغورځوئ اول تاسے دپاره ددے چه سحر لاندے شی اوله پاسه پرے معجزه راشی چه تار په تارے کړی او بطلان ئے خلقو ته ښهٔ ظاهر شی نو دوئ داپری او همساکانے په پارے سره لړلی وغورځول فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَ عِصِيُّهُمْ پس ناچاپه هغه پړی ددوئ او همساکانے ددوئ چه وے يُخَيَّلُ اِلَيْهِ په خیال کښ راوستے کیده موسی علیه السلام ته مِنْ سِحْرِهِمْ له جهته دجادو اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿۶۶﴾ داسے چه بیشکه دا پری او همساکانے منډے وهی او پکښ وجه دحرکت داوه چه په دے پارو نور ولګیده نو جنبش ئے وکړ له تاوه دنوره او داپری اودا همسائے سره وخوزول فَاَوْجَسَ فِىْ نَفْسِهٖ پس بیامونده یا پټ کړ په زړهٔ خپل کښ خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿۶۷﴾ ویره موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام چه دا خلق به د معجزے او سحر فرق و نهٔ کړی نو ایمان به په مارانهٔ وړی قُلْنَا لَا تَخَفْ نو وویل ور ته مونږه چه مهٔ یریږه ځکه چه اِنَّكَ بیشکه چه ته ئے اَنْتَ الْاَعْلٰى ﴿۶۸﴾ هم ته ئے ډیر غالب ښکاره او په دے کښ ښځه مبالغے دی حرف د تحقیق او تکرار د ضمیر او تعریف دخبر او لفظ دعلو او صیغه د تفضیل وَاَلْقِ مَا او وغورځوه ته هغه څیز فِىْ يَمِيْنِكَ چه په ښی لاس کښ دِ دے یعنی همسا تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا اوچه له حلق تیر که دے هغه څیزونه چه سازکړی دی دوئ ځکه چه اِنَّمَا صَنَعُوْا بیشکه هم دا خبره ده چه سازکړی دی دوئ كَيْدُ سٰحِرٍ ط مکر د جادوګر لَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ او خلاصے او برے نهٔ مومی جادوګر حَيْثُ اَتٰى ﴿۶۹﴾ هرچرته چه راشی او راحاضر شی بیا چه دوئ دا عظیمه معجزه ولیده چه یو لکه اوپنځوس زره ماران به یو کرت خوړهٔ او نس ئے هیڅ قدر لوئ نهٔ شو او بیا چه لاس ئے ور واچولو نو بیرته هم هغه همسا شوه

عه یعنی باطل والے او عبث والے ئے خلقو ته ظاهر شی ۱۲

نو دوئ پوهـ شو چه دا یقیني پیغمبر دے نو مضطر کړے شو سجدے ته لکه چه وائي
فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ پس او غورځولے شو ساحران نسکور سُجَّدًا په دے حال چه سجده کونکي وو
خدائے ته یعني حق موج و واهه او په دوئ جذبه راغله نو بے اختیاره په سجده وُلویدل
قَالُوٓا اٰمَنَّا وویل دوی چه ایمان راوړے دے مونږه بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى ﴿۷۰﴾ په خدائے
د هٰرون او د موسی علیهما الصلوٰة والسلام او هٰرون اول ذکر شو له جهته د مشروالی یا له
رعایته د آخر د آیتونو قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ نو وویل فرعون چه ایمان راوړۀ تاسے په موسیٰ
علیه السلام قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ط چه اذن درکړم زۀ تاسے له د ایمان راوړلو
اِنَّهٗ بیشکه چه دے لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ هرهغه مشر ستاسے له دے عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ج چه
ښودلے دے دۀ تاسے جادو یعني تاسو په واقعه کښې ماته په یو اتفاق یئ فَلَاُقَطِّعَنَّ
پس هرائینه پرے به کړم زۀ خامخا اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ لاسونه ستاسے او خپے ستاسے
مِّنْ خِلَافٍ له مخالف جانبه یعني ښے لاس به پرے کړم له چپے خپے سره او چپ لاس له
ښئ خپے سره چه خلور واړه اندامونه له کاره بیخي ووزي وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ او هرائینه بیا
زوړند به کړم خامخا تاسے فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ ز په ښاخونو د خرماؤ کښې ځکه چه هغه ډیر
هسک دي نو هرڅوک به ئے کوري او عبرت به پرے اخلي وَلَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَآ او هرائینه
معلوم به کړئ تاسے خامخا چه کوم یو له مونږه دواړو چه زۀ یم او خدائے دے د
موسیٰ علیه السلام اَشَدُّ عَذَابًا ډیر سخت دے له جهته د عذابه وَّاَبْقٰى ﴿۷۱﴾ او
ډیر باقي سیئ او بږد دے عذاب د هغهٔ قَالُوْا وویل ساحرانو لَنْ نُّؤْثِرَكَ چه هیڅرے به
غوره نۀ کړو مونږه تا عَلٰى مَا جَآءَنَا په هغه څیز چه راغلے دے مونږ له مِنَ الْبَيِّنٰتِ
له ښکاره معجزو چه دلالت کوي په صدق د موسیٰ علیه السلام وَالَّذِيْ فَطَرَنَا قسم
دے په هغه خدائے چه پیدا کړي ئے یو مونږه فَاقْضِ مَآ پس وکړه هر هغه کار اَنْتَ
قَاضٍ ط چه تۀ کونکے ئے د هغه کار او هیڅ صرفه مۀ کوه مونږه به د غوره نۀ کړو اِنَّمَا
تَقْضِيْ بیشکه هم دا خبره ده چه خپل حکم به وکړے تۀ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۷۲﴾ په دے لږ

ژوندون کښې او په آخرت کښې به بيا هيڅ اختيار نهٔ لري اِنَّآ بيشکه موږه چه يو اٰمَنَّا
بِرَبِّنَا ايمان راوړے دے موږه په رب خپل لِيَغْفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا د پاره ددے چه وبخښي موږه
ته ګناهونه ځموږه له کفره اوله معاصيو وَمَآ اَكْرَهْتَنَا او وبخښي خصوصًا هغه ګناه چه
زور کړيدے تا په موږه عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ط په هغه کار چه عبارت دے له سحره تخه چه په
زور د راوستو مقابلے د موسیٰ عليه الصلوٰة والسلام ته وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿۷۳﴾ او خداى غوره
دے په رسولو د عذاب کښې مطيع خپل ته اِنَّهٗ بيشکه شان دا دے چه مَنْ يَّاْتِ هر هغه څوك
چه راشي رَبَّهٗ مُجْرِمًا رب خپل له کافر يعني کافر مړشي په حال د کفر کښې فَاِنَّ لَهٗ
جَهَنَّمَ ط پس بيشکه مقرر دے ده لره دوزخ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا چه نه به مري په دے دوزخ
کښې وَلَا يَحْيٰى ﴿۷۴﴾ او نه به ژوندے کيږي په داسے ژوندون چه څهٔ نفع ورو رسوى
وَمَنْ يَّاْتِهٖ او هر هغه څوك چه راشي ده لره مُؤْمِنًا په دے حال کښې چه مؤمن وى
يعني په ايمان مړشي قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ چه په تحقيق کړي وى ده کارونه نيك فَاُولٰٓئِكَ
پس دغه کسان چه دي لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴿۷۵﴾ مقرر دي دوئ لره مرتبے ډيرے لوئ
چه هغه مرتبے جَنّٰتُ عَدْنٍ جنتونه د اقامت دي او دا بدل دے له درجات نه تَجْرِىْ
چه بهيږي مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے د بنګلو يا د ونو د هغو خلورواړه قسمه ويالے خٰلِدِيْنَ
فِيْهَا ط چه هميشه به وى دوئ په دے باغونو کښې وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿۷۶﴾ او دا چه ده ع ۲ ۱۲
جزاده د هر هغه چا چه ځان ئے پاك کړے وى له ګناهونو **روايت دے** چه هرکله
فرعون په دے معجزه هيڅ عبرت وانهٔ خست او په بني اسرائيلو ئے عذاب لا زيات
کړو نو رب العزت اراده وکړه د غرق د فرعون نو پيغام ئے وکړو موسیٰ عليه الصلوٰة
والسلام ته لکه چه وائي وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ او هر آئينه په تحقيق پيغام اوکړو موږه
اِلٰى مُوْسٰٓى ۵ موسیٰ عليه السلام ته اَنْ اَسْرِ داسے چه وباسه د شپے له مصره او روان

ع۱ په نسخه منقول عنه کښې ذَاَبْقٰى ٭ ترجمه نشته نو موږه ئے د تفسير جلالين نه ليکو ۔ وَاَبْقٰى
او زيات باقي دے له جهته د عذاب ورکولو نه خپلو نافرمانو لره ۲ از تفسير جلالين

که بِعِبَادِیْ بندګان خما یعنی بنی اسراءیل فَاضْرِبْ لَهُمْ پس سازه کړه دوئ لره په
وهلو د همسا سره طَرِیْقًا فِی الْبَحْرِ لاره په سیند کښ یعنی کوڅه یَبَسًا لا وچه کلکه د
پاره د تیرید و دبنی اسراءیلو لَّا تَخٰفُ دَرَكًا په دے حال کښ چه نه ویریږے ته له در
رسیدلو د فرعون وَلَا تَخْشٰی ﴿۷۷﴾ او بل نه ویریږے له غرق په سیند کښ بیا موسیٰ علیه
الصلوٰة والسلام په امر الهی سره په اول د شپے کښ روان شو په طرف د سیند
د او یا زره شپږ سوه بنی اسراءیلو سره او فرعون په دے خبر شو نو د شپږ لکه لښکر
سره ور پسے راغے لکه چه وائی فَاَتْبَعَهُمْ پس راغے په بنی اسراءیلو پسے فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ
فرعون او لښکر دده او چه د سیند ته راورسیده دوئ بیا له سینده تیر شوی وو او په هغه لارو
ولاړو وو او هغه دولس وچے کوڅے د سیند چه بنی اسراءیل پکښ پورے وتلی وو هغه هم
هغسے وچے پرتے وے نو فرعون له ټول لښکر سره پکښ رانوت او بیا له پاسه او به پرے
رابنکته شوے فَغَشِیَهُمْ پس لاندے ئے کړه دوئ مِّنَ الْیَمِّ له سینده مَا غَشِیَهُمْ ﴿۷۸﴾
هغه څیز چه لاندے ئے کړه دوئ. نو ټول په یو کرت غرق شو او دا ابهام د پاره د تعظیم دے
وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ او ګمراه که فرعون قَوْمَهٗ قوم خپل وَمَا هَدٰی ﴿۷۹﴾ او ور ته ئے ونه ښوده
لاره سمه ځکه چه د خدائ له عبادته به ئے منع کول او خپل عبادت به ئے پرے کولو
یٰبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اے اولاده د یعقوب علیه الصلوٰة والسلا قَدْ اَنْجَیْنٰكُمْ به تحقیق
خلاص کړی مونږه تاسے مِّنْ عَدُوِّكُمْ له دښمن ستاسے چه فرعون وو وَوٰعَدْنٰكُمْ او وعده
کړه مونږه له تاسے سره یعنی له پیغمبر ستاسے سره د پاره د ور کولو د تورات جَانِبَ الطُّوْرِ
الْاَیْمَنَ بنی طرف د کوه طور وَنَزَّلْنَا او راولیږه مونږه د تیهه په ایام کښ عَلَیْكُمُ
الْمَنَّ په تاسے ترنجبین وَالسَّلْوٰی ﴿۸۰﴾ او وریت کړی مرزان او درته وویل مونږه كُلُوْا
مِنْ طَیِّبٰتِ خورئ له پاکیزه څیزونو مَا رَزَقْنٰكُمْ د هغه چه روزی کړی دی مونږه ستا سے
وَلَا تَطْغَوْا فِیْهِ او تجاوز مه کوی په هغه مرزوق کښ له حده چه شکر پرے ونه باسئ
یا په معاصیو کښ ئے صرف کوئ یا مستحقانو له ئے نه ور کوئ یا بعضے په بعضو ظلم پکښ

کوئ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِىْ پس راکوز به شی په تاسې قهر ځما وَمَنْ يَّحْلِلْ او هرڅوك چه
راکوز شی عَلَيْهِ غَضَبِىْ په هغه بانسې قهر ځما فَقَدْ هَوٰى ﴿۸۱﴾ پس په تحقیق هلاك
شو یا ولوید ګ داسې چه بیا نهٔ شی پاڅیدلے وَاِنِّىْ او بیشکه زهٔ چه یم لَغَفَّارٌ ګهر اٹینه
دیر بخښونکے یم لِّمَنْ تَابَ هغه چانه چه توبه ئې وویسته وَاٰمَنَ او ایمان ئې راوړو په وحدانیت
ځما وَعَمِلَ صَالِحًا او عمل ئې وکړو دنیکو ثُمَّ اهْتَدٰى ﴿۸۲﴾ بیا په سمې لارې روان وو په
استقامت سره **روایت دے** چه بنی اسرائیلو پس له هلاکه دفرعون له موسیٰ
علیه الصلوٰة والسلام یو کتاب وغوښت چه احکام د دین پکښ بیان وی او ده رب
ته سوال نو امر ورته وشو چه بیا کوه طور له راشه له یوځو اشرافو د بنی اسرائیلو سره
چه کتاب درکړم جامع د احکامو. نو دهٔ هٰرون علیه الصلوٰة والسلام په قوم کښ خلیفه
کړو او دے له اوئیا کسو سره لاړو چه ور نزدے شو نو ډیره شوقه د ملاقات ربانی
له دغه نورو ملګریو دے لومړے ورغے نو خطاب ورته وشولکه چه وائی وَمَآ اَعْجَلَكَ
او کوم څيز راجلت کړے ته چه لُمړے راغلے عَنْ قَوْمِكَ له قوم خپله يٰمُوْسٰى ﴿۸۳﴾ اے
موسیٰ قَالَ نو ووئیل دهٔ چه هُمْ اُولَآءِ دوئ دغه دی را روان دی عَلٰٓى اَثَرِىْ راپسې چه
اوس به راورسیږی وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ او جلتی م اوکړه تاته په راتلو کښ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴿۸۴﴾
اے ربه ځما دپاره ددے چه راضی شې ته قَالَ بیا ووئیل خدائ فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا پس بیشکه
مونږه چه یو په تحقیق یو ازمیښت راوستے دے مونږه قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ په قوم ستا
پس له تا چه ماله راغے **روایت دے** چه فرعون چه هلکان وژل یو هلك سامری
نومے مور پټ له ویرے دقتل د رود نیل په غاړه وغورځولو او جبریل علیه السلام
په امر الهی سره پرورش دده کولو نو دے ئې وپیژندلو بیا په ورځ د غرق د فرعون
دے سامری د جبریل علیه السلام د آس د سم دلاندے خاوره اخستے او ساتلے وه
بیا چه کله موسیٰ علیه السلام کوه طور له لاړهٔ نو دهٔ هٰرون علیه السلام ته ووئیل چه
هغه ګانړه چه مونږ له قبطیانو اخستے وه د تیخته په شپه په هغے کښ اوس بنی اسرائیلو

په ناروا خرید او فروخت شروع کړے دے که اجازه وی چه هغه وسیزوا وده اجازه
وکړه نو په یو خندق کښې ئے واچو له اوله پاسه ئے اور پړے بل که او تر ے لاندے سامری
پټ قالب دخُسی ساز کړو چه دا زر ویلی شوا و قالب ته ولویده نو دخُسی شکل سازشو
او په خولے کښې ئے د هغه خاوره واچوله نو ژوندے شهٔ او آوازئے کولو نو دهٔ بنی اسرائیلو
ته وویل چه خدائے د موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام دغه دے اوله دوئ څلور برخے خلق
په سجده ورته پریواته لکه چه وائی وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ ﴿۸۵﴾ او گمراه کړهٔ دوئ سامری فَرَجَعَ
مُوسٰٓى پس بیرته لاړهٔ موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام پس له هغه چه څلویښت ورځے ئے
هلته پوره کړے او تختے د تورات ورکړے شوے اِلٰى قَوْمِهٖ قوم خپل ته غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ
د ئے له قهره غمژن قَالَ يٰقَوْمِ نو وویل دهٔ چه اے قومه ځما اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ
ایا وعده نهٔ وه کړے له تاسره رب ستاسے وَعْدًا حَسَنًا ۚ وعده بنائسته رښتینے
د کتاب د رکولو چه هغه زر سورته وو او هر سورت ئے زر ایتونه وو چه اوّیا اوښان
به باریدل او کومه وعده به له دے بنائسته وی اَفَطَالَ ایا پس اوږده شوه عَلَيْكُمُ
الْعَهْدُ په تاسے زمانه د بیلتون ځما اَمْ اَرَدْتُّمْ او که اراده کړے ده تاسو اَنْ يَّحِلَّ
عَلَيْكُمْ د دے چه راکوزشی په تاسے غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ قهر له جانبه د خدائ ستاسے
د عبادت ته د خُسی فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِيْ ﴿۸۶﴾ پس خلاف کړه تاسے هغه وعده ځما چه
تاسے کړے وه له ما سره د استقامت په ایمان او د قیام په امر ځما قَالُوْا نو وویل
دوئ مَآ اَخْلَفْنَا چه نهٔ ده خلاف کړے مونږه مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وعده ستا په اختیار
خپل سره وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَآ او لیکن مونږه چه یُو په زور بار کړے شو په مونږه باندے
اَوْزَارًا بیتي مِّنْ زِيْنَةِ الْقَوْمِ له گانړے د ټولی د قبطیانو او یا مراد له اوزار ویتي
دی د گناهونو ځکه چه دا گانړے دوئ امانت اخستے وی له قبطیانو فَقَذَفْنٰهَا
پس وغورځول مونږه هغه پیتي د گانړو په اور کښې په حکم د هٰرون علیه السلامؑ
فَكَذٰلِكَ پس هم داسے لکه مونږه وغورځول اَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿۸۷﴾ وغورځولے سامری

هم هغه کا نرے چه دهٔ ځنه وے یا هغه خاوره د سُم د فرس حیوٰة فَاَخْرَجَ لَهُمْ
پس راوے ویسته دوئ لره له هغه خندق عِجْلًا جَسَدًا یو خسے له جهته د بدنه
چه غوښے او وینے ئے لرلے لَّهٗ خُوَارٌ چه وو دهٔ لره آواز د خسی فَقَالُوْا پس وویل
دوئ یعنی سامری او تابعانو هٰذَآ اِلٰهُكُمْ چه دا خسے خدائے دے ستاسے وَاِلٰهُ موسٰی ۵ او
خدائ دے د موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام فَنَسِیَ ⑧⑧ پس هیر کړے دے خدائ دلته
او دے کوه طور له وړ پسے تللے دے او یا د اُلفت د خدائے دے چه هیر کړهٔ سامری استقامت
په ایمان یا هیر ئے کړو دا چه خسے د خدائ لائق نهٔ دے په دلیل د دے قول چه اَفَلَا
یَرَوْنَ ای نهٔ وینی هغه عباد د خسی چه دی اَلَّا یَرْجِعُ اِلَیْهِمْ قَوْلًا ۵ بیرته نه راکرځوی
ع۱۳ دوئ لکه بزوانهٔ چې عزوړ ته ؤکه وَلَا یَمْلِكُ لَهُمْ او نهٔ اختیار لری دوئ له ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ⑧⑨
د ضرر دفع کولو او نه د نفع رسولو۔ او دا تیر اَنْ مخفف دے له مثقل چه اسم ئے محذوف دے
اے اَنَّهٗ۔ وَلَقَدْ قَالَ او هرآئینه په تحقیق ویلی وو لَهُمْ هٰرُوْنُ دے عابدانو د خسی
ته هٰرون علیه الصلوٰة والسلام مِنْ قَبْلُ مخوا له راتلو د موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام
له کوهِ طوره یٰقَوْمِ اِنَّمَا اے قومه ځما بیشکه همدا خبره فُتِنْتُمْ بِهٖ چه ازمیښت
راوستے شوے دے په تاسے په دے خسی یعنی په عبادت د دهٔ سره ځکه چه دے ستاسے
خدائ نهٔ دے وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ او بے شکه رب ستاسے رحمٰن دے فَاتَّبِعُوْنِیْ
پس پیروی کوئ ځما وَاَطِیْعُوْٓا اَمْرِیْ ⑨٠ او فرمانبرداری کوئ د امر ځما په عبادت د
هغهٔ کښ قَالُوْا نو وویل دوئ وړته لَنْ نَّبْرَحَ چه همیشه به اوسو مونږه عَلَیْهِ
عٰكِفِیْنَ په دهٔ یعنی په عبادت د دهٔ کلک ولاړ حَتّٰی یَرْجِعَ تر هغه پورے چه بیرته
راوګرځی له کوهِ طوره اِلَیْنَا مُوْسٰی ⑨۱ مونږ ته موسیٰ علیه السلام بیا چه موسیٰ
علیه السلام له کوه طوره راغے نو قَالَ یٰهٰرُوْنُ وے ویل اے هٰرونَ مَا
مَنَعَكَ کوم څیز منع کړے وے ته اِذْ رَاَیْتَهُمْ ضَلُّوْٓا ⑨۲ چه دِ ولیدل دوئ چه
وَلغزیدل اَلَّا تَتَّبِعَنِ ط له دے چه پیروی وکړئ ځما په غضب کښ چه ځما په شان

په غضب شے دپاره دخدائی یاچه ماپسے راشے کوه طورله او دالا زائده دے لکه اَلَّا
تَسْجُدَ کښې اَفَعَصَيْتَ اَمْرِیْ ﴿۹۳﴾ ایا پس بے فرمانی دِ اوکړه د امر ځما قَالَ نو وویل
ورته هٰرون علیه السلام يَبْنَؤُمَّ اے ځویه د مور ځما او اګرکه د ے سکه رورے
وو اما مورے یاده کړه دپاره د شفقت لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِیْ مه نیسه ږیره ځما وَلَا بِرَاْسِیْ ج
او نهٔ سر ځما او دائے ځکه وویل چه په چپ لاس ئے له ویښتو د ږیرے او په ښی
لاس ئے د ویښتو د سره نیولے وو او رابنکویے له ډیره غضبه بیا عذر د عدم متابعت
ورنه وکړو لکه چه وائی اِنِّیْ خَشِيْتُ بے شکه زهٔ ویریدم کهٔ قتال ورسره وکړم
یا ترے لارشم اَنْ تَقُوْلَ له دے چه وبه وا یے راته فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ
چه بیلتون دِ واچولو په مابین دبنی اسراءیلو کښې وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِیْ ﴿۹۴﴾ او ونهٔ
کاتهٔ هغه ویلو ځما ته چه درنه مِ ویلی وو چه اُخْلُفْنِیْ فِیْ قَوْمِیْ وَاَصْلِحْ بیا نو دده
عذر ئے قبول کړو او سامری ته ئے مخ کهٔ قَالَ نو وے ویل فَمَا خَطْبُكَ پس داخهٔ ډیر
لوئی یو بدکار وو ستا چه ودِ کهٔ يٰسَامِرِیُّ ﴿۹۵﴾ اے سامری قَالَ بَصُرْتُ نو وویل
دهٔ چه ولیدهٔ ما بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ هغه څیز چه نهٔ وو لیدلے دوئی یعنی جبریل
علیه السلام فَقَبَضْتُ قَبْضَةً پس واخستهٔ ما یو موټے خاوره مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ
له سمه داس دجبریل علیه الصلوٰة والسلام په ورځ دغرق د فرعون نو فَنَبَذْتُهَا
پس وَمِ غورزوله او س په خولے د دے خُسی کښې نو ژوندے شو او نغرے ئے
وهلے وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ او همدا سے لکه چه مِ کړهٔ ښائسته کهٔ دا کار لِیْ نَفْسِیْ ﴿۹۶﴾
ماته نفس ځما قَالَ بیا موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام وویل فَاذْهَبْ پس ځه له موږ
لرے شه فَاِنَّ لَكَ پس بیشکه مقرر شو تا لره فِی الْحَيٰوةِ په دے ژوندون کښې اَنْ
تَقُوْلَ دا چه وایے به تهٔ هغه چاته چه درنزدے کیږی لَا مِسَاسَ ص مهٔ لګیږه په ما
یعنی له ما څخه لرے شه چه نهٔ به هم ځما په شان پمن شے وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا او
بیشکه مقرر شو تا لره یو وعده ګاه چه دوزخ دے لَّنْ تُخْلَفَهٗ ج چه له سره به چپ

نۀ کړے شے تۀ له وعدے تخه بلکه ورته به وسته شے ورلره وَانْظُرْ او وګوره اِلٰٓى
اِلٰهِكَ الَّذِىْ هغه خدائی خپل ته ظَلْتَ چه همیشه به وے تۀ عَلَيْهِ عَاكِفًا ط په هغهٔ
مقیم او نسکور د پاره د عبادت لَنُحَرِّقَنَّهٗ چه اول هرائینه وبه ئے سیزو مونږه خامخا
په اور کښ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ بیا هرائینه وبه شیندو او باد به ئے کړو مونږه خامخا فِى
الْيَمِّ نَسْفًا ﴿۹۷﴾ په سیند کښ په شیندلو سره چه اثر ئے هم پاتے نۀ شی اِنَّمَآ اِلٰهُكُمُ
بیشکه هم دا خبره ده چه معبود برحق ستاسے چه دے اللّٰهُ الَّذِىْ هغه خدائی دے
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط چه نشته معبود په واقعه کښ مګر هم دے دے وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ چه
محیط دے علم دهٔ په هر څیز عِلْمًا ﴿۹۸﴾ له جهته د علمه او دا تمیز دے یعنی محیط
دے علم دهٔ په هر څیز كَذٰلِكَ او هم داسے لکه چه دا قصه وکړه مونږه تا ته اے رسوله
نَقُصُّ عَلَيْكَ قصے کوو مونږه په تا یعنی تا ته مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا له اخبارو او احوالو
د هر هغه چا قَدْ سَبَقَ ج چه پخوا تیر شوی دی له پخوانیو اُمتونو وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ او
په تحقیق درکړے دے مونږه تالره مِنْ لَّدُنَّا خاص له خپله جانبه ذِكْرًا ﴿۹۹﴾ پند
چه قرآن دے او دا سے پند دے مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ هر څوک چه څنګ وکۀ له دهٔ یعنی
ایمان پرے رانۀ وړی فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ پس بیشکه بار به که دے په ځان پخپل يَوْمَ
الْقِيٰمَةِ په ورځ د قیامت وِزْرًا ﴿۱۰۰﴾ یو لوئی بار د ګناهونو خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ط چه همیشه
به وی دوئی په عذاب د دے وزر کښ وَسَآءَ لَهُمْ او بد دے هغه بار دوئی لره
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ په ورځ حِمْلًا ﴿۱۰۱﴾ له جهته د بار وړلو چه هغه پیتے دے د دوئی چه
کفر او تکذیب د دوئی دے بار د دوئی او دا ساء فعل ذم دے او فاعل ئے ضمیر دے
پکښ مبهم او حملًا تمییز دے او مفسر دے د هغه مبهم او لام د لهم د بیان دے
لکه د هَيْتَ لَكَ او مخصوص بالذم ئے محذوف دے او تیر وزرًا دال دے پرے
نو تقدیر د کلام داسے شو چه سَآءَ الْحِمْلُ حِمْلًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرُهُمْ كذا فى
المدارك يَّوْمَ يُنْفَخُ په هغه ورځ چه پو کے وکړے شی فِى الصُّوْرِ په شپیلۍ کښ

دویم پو کے وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِیْنَ او راجمع به کړو مونږه کافران یَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿۱۰۲﴾ په دغه ورځ
شین سترګی یا ړانده نو ړمی یَتَخَافَتُوْنَ بَیْنَهُمْ چه ورو ورو او پټے خبرے به کوی پخپل
مینځ کښں سره او وائی به اِنْ لَّبِثْتُمْ چه نهٔ دے کړے مد ار تاسے په دنیا کښں اِلَّا عَشْرًا ﴿۱۰۳﴾
مګر لس ورځے نَحْنُ اَعْلَمُ مونږه ښهٔ پوهیږو بِمَا یَقُوْلُوْنَ په هغه اقوالو چه وائی ئے دوئ
اِذْ یَقُوْلُ هغه چه وائی اَمْثَلُهُمْ طَرِیْقَةً ډیر کامل ددوئ په عقل کښں اِنْ لَّبِثْتُمْ چه نهٔ
دے کړے مدار تاسے په دنیا کښں اِلَّا یَوْمًا ﴿۱۰۴﴾ مګر یوه ورځ یعنی طول د ورځے دقیامت
چه وګوری نو دا تمام عمر به ورته یوه ورځ ښکاره شی **روایت دے** چه مشرکانو
د قریشو یا یو سړی د ثقیفو پوښتنه وکړه له رسول صلی الله علیه وسلم نه چه په
ورځ دقیامت به ددے غرونو څهٔ حال وی نو نازل شو وَیَسْئَلُوْنَكَ او پوښتنه کوی له
تا عَنِ الْجِبَالِ له حاله ددے غرونو فَقُلْ یَنْسِفُهَا پس ووایه ورته چه تار په تار به
ئے که رَبِّیْ نَسْفًا ﴿۱۰۵﴾ رب زما په تار په تار کولو سره او بیا میده به ئے که لکه شګه او بیا
به برو یړے را والوځوی نو محو به ئے که چه ګرد به ئے هم پاتے نهٔ شی فَیَذَرُهَا پس
پرے به ږدی دا زمکه قَاعًا صَفْصَفًا ﴿۱۰۶﴾ یو ډاګ هوار لَا تَرٰی فِیْهَا چه نهٔ به ئے وینے ته
په دے زمکه کښں عِوَجًا وَّلَا اَمْتًا ﴿۱۰۷﴾ جوړ والے او نه لوړوالے هیڅ قدر یَوْمَئِذٍ په دغه
ورځ یَتَّبِعُوْنَ الدَّاعِیَ پیروی به کوی دا مخلوق دبلونکی چه اسرافیل علیه السلام
دے چه په صخرے د بیت المقدس به او دریږی او اواز به اوکړی چه اَیَّتُهَا الْعِظَامُ
الْبَالِیَةُ وَالْجُلُوْدُ الْمُتَمَزِّقَةُ وَاللُّحُوْمُ الْمُتَفَرِّقَةُ هَلُمِّیْ اِلٰی عَرْضِ الرَّحْمٰنِ نو را منډے به وهی وله تمام
دا مخلوق له مشرق نه تر مغرب لَا عِوَجَ لَهٗ یعنی نهٔ به وی هیڅ قدر کوږ والے او میل له دهٔ چه
څوک ترے سر وغړوی نهٔ مؤمن او نه کافر بلکه ټول به ورته منقادوی وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ
او چپ به شی اوازونه د مخلوق لِلرَّحْمٰنِ له هیبته دپروردګار فَلَا تَسْمَعُ پس نهٔ به اورے

له: نو دا چه آواز به اوکړے شی په امر دخدائی سره چه اے هډوکو وړستو او زړو او اے پوستکیو ذره ذره شویو
او اے غوښو جدا جدا شویو راځئ ټول په یو کوت د ربار د خدائی ته چه اسم پاک ئے رحمان دے یعنی رحمت کونکے په هر
چا ۱۲ له یعنی وګرځوی او انکار وکه ۱۲ له یعنی غاړه ایښودونکی امر د دهٔ ته او تابعان د حکم د دهٔ ۱۲

نهٔ اِلَّا هَمۡسًا ﴿۱۰۸﴾ مگر ډیر وړو چه شونډې قدرې پرې ریږدي یا مراد کشار د قدمونو دے
په وخت د تنګ محشر ته یَوۡمَئِذٍ په دغه ورځ لَا تَنۡفَعُ الشَّفَاعَةُ هیڅ فائده نهٔ رسوی شفاعت
د چا چا ته اِلَّا مَنۡ اَذِنَ لَهُ الرَّحۡمٰنُ مگر دهغه چا شفاعت چه اذن وکه ورته خدائی وَرَضِیَ
لَهٗ او خوښ که دے د پاره د دے شفاعت کړے شوی قَوۡلًا ﴿۱۰۹﴾ گفتار[1] د شافع یَعۡلَمُ مَا یوهیږي
په هرهغه بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ چه مخکښ دے د دوئی له اموروداٰخرت وَمَا خَلۡفَهُمۡ او په هرهغه
چه پس شا د دوئی له امورو د دنیا وَلَا یُحِیۡطُوۡنَ بِهٖ او احاطه نهٔ شی کولے دوئی په ذات
د دهٔ عِلۡمًا ﴿۱۱۰﴾ له جهته د پوهے وَعَنَتِ الۡوُجُوۡهُ او خوار او ذلیل شو مخونه یعنی څښتنان
د مخونو لِلۡحَیِّ الۡقَیُّوۡمِ هغه خدائی ته چه همیشه ژوندے ولاړ دے په تدبیر د عالم
وَقَدۡ خَابَ او په تحقیق خراب او نا اُمیده شو له رحمت د خدای مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمًا ﴿۱۱۱﴾
هرهغه څوك چه بار راغے حشرګاه له په کفر او شرك وَمَنۡ یَّعۡمَلۡ او هر څوك چه کوی
مِنَ الصّٰلِحٰتِ نیک کارونه دا مِنۡ زائد دے وَهُوَ مُؤۡمِنٌ او حال دا چه دے مؤمن وی
ځکه چه طاعت بے ایمانه قبول نهٔ دے فَلَا یَخٰفُ ظُلۡمًا پس نه به ویریږی په هغه ورځ
له ظلمه یعنی له زیاتولو د بدیو وَّلَا هَضۡمًا ﴿۱۱۲﴾ او نه له شکست یعنی له کمولو د نیکیو وَکَذٰلِكَ او
همدا سے لکه چه قصے کوو مونږه تا ته د تیرو امو اَنۡزَلۡنٰهُ رالیږلے دے مونږه دا کتاب قُرۡاٰنًا
عَرَبِیًّا لوستے شوے په عربی ژبه وَّصَرَّفۡنَا فِیۡهِ او بیا بیا راوړے دے مونږه په ده کښ
مِنَ الۡوَعِیۡدِ له اٰیاتو د وعید یعنی د ویرولو لکه طوفان او رجفه[2] او صیحه او خسف او مسخ او
غرق او باد او دا سے نور شو لَعَلَّهُمۡ یَتَّقُوۡنَ نبائی چه دوئی ځان وساتی له شرکه اَوۡ یُحۡدِثُ یا پیدا
که دا وعید یا قراٰن لَهُمۡ ذِکۡرًا ﴿۱۱۳﴾ دوئی له نوے پند یعنی په هغه عذابونو عبرت واخلی دوئی
فَتَعٰلَی اللّٰهُ پس بلند شان دے خدائی له دے اقوالو د مشرکانو اَلۡمَلِكُ الۡحَقُّ چه بادشاه
دے ثابت په ذات او په صفاتو خپلو کښ **روایت دے** چه جبریل علیه السلام

---

[1] یعنی خبرے د شفاعت کونکی ۱۲ [2] رجفه یعنی زلزله په کافرانو بخوانو په سبب د تکذیب رسول خپل ته صیحه آواز سخت او هیبتناك د جبریل علیه السلام خسف ډوبیدل په زمکه کښ مسخ بدلول د صورت په بد شکل سره غرق ډوبیدل په دریاب کښ ۱۲

اللهم اغفر لکاتبه

به آیتونه د قرآن راوړل او په رسول علیه الصلوٰة والسلام به ئے لوستل نو دهٔ به هم د
وېرې له هیریدلو یادتیر وتلو سره له جبریل علیه السلام سره لوستل په جلتئ نو نازل شو وَلَا
تَعۡجَلۡ او جلتی مهٔ کوه بِالۡقُرۡاٰنِ په لوستو د قرآن مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ پخوا له هغه یُقۡضٰۤی
اِلَیۡكَ چه ترسره کاوه شی تاته وَحۡیُهٗ ؕ وحی دهٔ یعنی ترڅو چه جبریل علیه الصلوٰة والسلام
ترې فارغ شوې نهٔ دې تهٔ مهٔ لوله بلکه غوږ ورته ایږده چه ستا هیر نه به ئے مونږ نهٔ
پریږدو وَقُلۡ رَّبِّ او ووایه وړ ته اے ربه زِدۡنِیۡ عِلۡمًا ﴿۱۱۴﴾ زیات کړه ماله جهته د پوهې
پوهه م زیاته کړه وَلَقَدۡ عَهِدۡنَاۤ او هرائینه په تحقیق پیغام کړے وو مونږ اِلٰۤی اٰدَمَ آدم علیه
السلام ته مِنۡ قَبۡلُ پخوا له دے چه دے وني ته مهٔ نږدے کیږه فَنَسِیَ پس هیر ئے کړو دا
امر وَلَمۡ نَجِدۡ او بیا نهٔ مونده مونږ لَهٗ عَزۡمًا ﴿۱۱۵﴾ دهٔ لره استقامت او صبر له منهی عنه
وَاِذۡ قُلۡنَا او یاد کړه هغه چه وویل مونږ لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اسۡجُدُوۡا ملائکو ته چه سجده او کړئ
لِاٰدَمَ آدم علیه السلام ته فَسَجَدُوۡۤا پس سجده وکړه ټولو اِلَّاۤ اِبۡلِیۡسَ ؕ مګر یو ابلیس چه
ابوالجن دے او دے پخوا له ملایکو سره به وو چه عبادت به ئے کولو د خدائ اَبٰی ﴿۱۱۶﴾ منع
ئے راوړه له سجدې فَقُلۡنَا پس وویل مونږه یٰۤاٰدَمُ اے آدم اِنَّ هٰذَا بیشکه چه دے عَدُوٌّ
لَّكَ دښمن دے تالره وَلِزَوۡجِكَ او جفت ستا له چه بی بی حوا دهٔ فَلَا یُخۡرِجَنَّكُمَا پس
خبردار چه ونهٔ باسی دے خامخا تاسے دواړه مِنَ الۡجَنَّةِ له جنت څخه فَتَشۡقٰی ﴿۱۱۷﴾ پس په
مشقت کښ به پریوځے د قلبه کولو د کرلو د ریبلو د غوبلولو باد ولو د اړولو د پخولو بیا چه
زمکے له راغے نو یو سور غوایه له جنته راوستے شو قلبه به ئے پرے کوله او خولے به ئے له وچولی
څخه پاکولے اِنَّ لَكَ بیشکه مقرر دے تالره په دے جنت کښ اَلَّا تَجُوۡعَ فِیۡهَا دا چه نهٔ به
وږے کیږے نه په دے کښ وَلَا تَعۡرٰی ﴿۱۱۸﴾ او نهٔ به بربنډیږے وَاَنَّكَ او بیشکه تهٔ چه ئے لَا
تَظۡمَؤُا فِیۡهَا نهٔ به تږے کیږے په دے کښ وَلَا تَضۡحٰی ﴿۱۱۹﴾ او نه به د ګرمی د نور خفه کوی
ځکه چه هلته نمر نشته **فائده** حاصل د مجموعے د دے کلام له یٰۤاٰدَمُ څخه تر لَا

له یعنی له هغه وني نه چه درئ منع کړے شوی وو له خوراکه د هغے ۱۲

تضحٰی پورې دادې چه وکوره اے آدم خبردار اوسه چه شیطان دِ په مکراوفریب سره له
انواع درا تخنه انواع د محنت او د مشقت ته وبنهٔ غورځوی ځکه چه د لته اصناف د معیشت او
د راحت ټول بې سعی بې کلفته تیار اماده پراتهٔ دی لکه چه متن کښ بیان شو او هلته بوه
ذره هم بې مشقته بې کلفته نهٔ میسریږی نوخامخا له موجباتو د خروج ځان خپل سا ته
فَوَسْوَسَ پس وسوسه واچوله اِلَیْهِ الشَّیْطٰنُ دهٔ ته شیطان پس له دخولے یه حیله
سره په جنت کښ په دے شان قَالَ چه ووئیل شیطان یٰاٰدَمُ اے آدم هَلْ اَدُلُّكَ آیا
خبردار کړم تا عَلٰی شَجَرَةِ الْخُلْدِ په ونے د خلود باندے یعنی په داسے وَنے چه هرچا چه
د هغے میوه وخوړه نو همیشه به جنت کښ وی او هیچرے به تِرِنهٔ ووځے وَمُلْكٍ لَّا یَبْلٰی ﴿۱۲۰﴾
او په داسے بادشاهئ چه له سره زوال نه لری بیا ئے نو رائے وست سجرے منهی له چه داده.
فَاَكَلَا مِنْهَا پس وخوړه دواړو له میوے د دے ونے تخنه فَبَدَتْ لَهُمَا پس ښکاره شو دواړو
ته سَوْاٰتُهُمَا عورات غلیظه د دوئ یعنی په مجرد خکلو د هغه میوے سره جامے د جنت تر ے
والوتے او بربنډ شو وَطَفِقَا او ولګیدل دواړه یَخْصِفٰنِ عَلَیْهِمَا چه تپل به ئے په دواړو عورتو نو
خپلو مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ز له پاڼو د ونو د جنت چه ایښوو وَعَصٰۤی اٰدَمُ او بے فرمانی وکړه آدم
علیه السلام رَبَّهٗ فَغَوٰی ﴿۱۲۱﴾ له رب خپل پس چپ شو له مطلوب خپل چه خلود وو یا له
مامور به یا له سمے لارے بیا پوهه شو په عصیان خپل نو په توبه ئے مداومت وکړو او نبی
آخرالزمان ئے رب ته شفیع کړو نو مغفرت ورته وشو ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ بیا غوره کهٔ دے
رب خپل فَتَابَ عَلَیْهِ پس قبوله ئے کړه توبه د دهٔ وَهَدٰی ﴿۱۲۲﴾ او لار ئے ورته وخودهٔ د
دوام په توبے قَالَ اهْبِطَا بیا ووئیل خدائ دوئ ته چه ځئ کوز شئ ز مکے ته مِنْهَا جَمِیْعًا له د غه
جنت ټول سره کډ یعنی تهٔ او ابلیس یا تاسے دواړه سره له هغه اولاد خپل چه ستاسے په
یشت کښ دی بَعْضُكُمْ چه بعضے ستاسے یعنے اولاد ستاسے لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ج له بعض نورو سره

له یعنی په اقسامو د خوشحالئ سره ۱۲ ے له اسبابو د تولد جنت آباده نه ۱۲ سه یعنی هغه ونے لره چه دوئ تر خدائ پاك حکیم منع کړی وو ۱۲ سه یعنی همیش والے په جنت کښ ۱۲ ھ یعنی له هغه څیزه چه امر کړے شوے وو ورته په هغه سره ۱۲

به دښمن وی لکه چه هغه عداوت په مخلوق کښی واقع دے فَاِمَّا یَاْتِیَنَّکُمْ پس که چرے
راغے تاسے لره خامخا په هغه وخت چه زمکه کښی وئی اودا اِمَّا په اصل کښی اِن مَا دے بیا
اِنْ شرطیه مدغم شوے دے په مازائده کښی مِنِّیْ هُدًی ۵ له ما راهنمائی چه کتاب او
شریعت دے یا رسول فَمَنِ اتَّبَعَ پس هرچا چه پیروی وکړه هُدَایَ دا راهنمائی ځما فَلَا یَضِلُّ
پس نهٔ به بے لارے کیږی په دنیا کښی وَلَا یَشْقٰی ﴿۱۲۳﴾ او نه به بدبخت کیږی په آخرت کښی
وَمَنْ اَعْرَضَ او هرڅوک چه څنګ وکړ عَنْ ذِکْرِیْ له کتاب یه له هدایته ځما چه موجب
دے د یادګیرئ ځما فَاِنَّ لَهٗ پس بیشکه مقرر دے دهٔ لره مَعِیْشَةً ضَنْکًا معاش تنګ
سخت په دنیا کښی وَنَحْشُرُهٗ او را ولاړ به ئے کړو یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په ورځ د قیامت اَعْمٰی ﴿۱۲۴﴾
ړوند د سر په سترګو یا د زړه په سترګو قَالَ رَبِّ نو وبه وائی دے چه اے ربه ځما
لِمَ حَشَرْتَنِیْٓ اَعْمٰی ولے دِ پاڅولم زهٔ ړوند او صیغه د ماضی ئے راوړه د پاره د تحقیق
د وقوع وَقَدْ کُنْتُ بَصِیْرًا ﴿۱۲۵﴾ او حال دا چه په تحقیق وُم زه بینا په دنیا کښی قَالَ کَذٰلِکَ
نو وبه وائی ورته خدائی چه همداسے وه لکه چه ته وائے خو اَتَتْکَ اٰیٰتُنَا راغلی وتاته
اٰیا تونه د کتاب یا علامے د وحدانیت ځمونږ فَنَسِیْتَهَا ج پس په هیر کښی واچول تا
چه نهٔ دے عمل پرے وکړ او نهٔ دے عبرت پرے واخستهٔ هیڅ قدر وَکَذٰلِکَ الْیَوْمَ او
په مثل د هیر ولو ستا ن ورځ تُنْسٰی ﴿۱۲۶﴾ هیر به کړے شے ته هم یعنی پرے به خودے شے په اور کښی
وَکَذٰلِکَ او په مثل د جزا ورکولو ځمونږ هغه چالره چه څنګ کوی له ذکره ځمونږ نَجْزِیْ
جزا ورکوو مونږ ه مَنْ اَسْرَفَ هغه چالره چه د حده تیر شو یعنی کافر شو وَلَمْ یُؤْمِنْ او
ایمان ئے رانهٔ وړو بِاٰیٰتِ رَبِّهٖ ط په ایتونو د رب خپل وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ او هر آئینه عذاب د آخرت
چه دے اَشَدُّ وَاَبْقٰی ﴿۱۲۷﴾ ډیر سخت دے او ډیر او ږد دے له عذابه د دنیا او هم له عذابه له قبره اَفَلَمْ
یَهْدِ لَهُمْ اٰیا سمه لار رونهٔ خوده دے مشرکانو د قریشو ته دے خبرے چه کَمْ اَهْلَکْنَا ډیر
هلاک کړی دی مونږه قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ مخوا له دوئی له تیرو قرونو لکه عاد ثمود مؤتفکات
او داسے نور ډیر یَمْشُوْنَ چه تیریږی دا قریش همیشه فِیْ مَسٰکِنِهِمْ ط په مینو د هغه هلاک

شو یو کښې او ویښے اثار د هلاک د هغوئ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے هلاک د هغوئ کښې
لَاٰیٰتٍ لِّاُولِی النُّهٰی ﴿۱۲۸﴾ هر ائینه ډیرے نښے دی د عبرت اخستلو دپاره د خښتنانو د خالص
عقلونو وَلَوْ لَا كَلِمَةٌ او که چیرے نۀ وے هغه کفته سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ چه مخوا وړاندے شوے ده
له طرفه د رب ستا چه عذاب د دے اُمت په دُنیا موقوف دے لَكَانَ لِزَامًا نو هر ائینه وو به
دا عذاب همیشه لازم له دوئ سره وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿۱۲۹﴾ او وخت نۀ وے مقرر په نامه کړے
شوے او دا عطف دے په لفظ د كَلِمَةٌ یعنی که هغه کفته او وخت مقرر د پاره د عذاب نۀ وے
نو اوس به عذاب ور له راغلے وو فَاصْبِرْ عَلٰی مَا پس صبر کوه اے رسوله په هغه خبرو یَقُوْلُوْنَ
چه وائی ئے دوئ او دا حکم بیا منسوخ شوے دے په ایت د سیف سره وَسَبِّحْ او تسبیح وایه
بِحَمْدِ رَبِّكَ سره د ثنا د رب خپل یعنی مونځ کذاره ده قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ مخوا له ختلو
د نمر یعنی د صبا مونځ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا او مخوا له پریوتلو د دهٔ یعنی د ماسپخین او د مازدیگر
وَمِنْ اٰنَآئِ الَّیْلِ او په بعضے او قاتو کښې له ساعتونو د شپے فَسَبِّحْ پس مونځ کذاره یعنی ماښام
او نماز خفتن بیا د صبا او د مازدیگر دواړه مونځونه ئے دپاره د ډیر اهتمام مکرر کړه په دے عبارت
سره وَاَطْرَافَ النَّهَارِ او په دواړو څنګونو د ورځے کښې او دلته مراد له جمع دوه دی لَعَلَّكَ
تَرْضٰی ﴿۱۳۰﴾ بنائی چه راضی شے ته په هغه اجر چه درکړے کیږی په دے کار وَلَا تَمُدَّنَّ عَیْنَیْكَ
او مهٔ اوږدوے کوی دواړه سترګے خپلے اِلٰی مَا هغه څیز ته مَتَّعْنَا بِهٖ چه معاش ورکړے دے
مونږه په هغه څیز اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ اصناف ته له دوئ لکه مجوسی او وثنی او کتابی او دا نور
شو چه ور کړے دے مونږه دوئ له زَهْرَةَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۵ زینت او بناښت د دے وارهٔ
ژوندون لِنَفْتِنَهُمْ فِیْهِ دپاره د دے چه وآزمایو مونږه دوئ په دے زیب کښې یا په فتنه کښې
واچوو دوئ وَرِزْقُ رَبِّكَ او روزی د رب ستا چه ده چه تا له ئے درکړے ده له نبوت او
له علمه خَیْرٌ وَّاَبْقٰی ﴿۱۳۱﴾ هغه ډیره غوره او ډیره اوږده ده له هغے روزئ چه دوئ له ورکړے
شوے ده وَاْمُرْ اَهْلَكَ او امر کوه په اهل بیت یا په اُمت خپل بِالصَّلٰوةِ په کولو د مانځه مخه

۔یعنی ویلے شوے په ازل کښې ۱۲ ؎ یعنی ذکر کړے شوی دی اطراف چه جمع ده او مراد ترے دوه دی ۱۲

واره وخته وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا اوټینګ په خپله هم پرې کلک ولاړ اوسه او د روزۍ غم له سره مهٔ
کوه ځکه چه لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا نهٔ غواړو مونږ له تا روزي نهٔ ستا او نه د اهل بیت ستا بلکه
نَحْنُ نَرْزُقُكَ مونږه روزي درکوو تا لره او عیال لره دِ هم نو ته زړهٔ خپل له روزۍ فارغ لره او
متوجه اوسه همیشه کار د آخرت ته وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿۱۳۲﴾ او ښه خاتمه چه ده اهل د پرهیزګارۍ
لره ده او **روایت دے** چه عیال د رسول الله صلی الله علیه وسلم بانديے به کله لوږه غلبه وکړه
نو مامور به ئې کړه نزول په مواظبت د صلوٰة او د اتیراتین به ئې ولوست وَقَالُوْا او وائی د اکفار
لَوْلَا يَأْتِيْنَا چه ولے نهٔ راوړی محمد صلی الله علیه وسلم مونږ ته بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ په
کومه داسے معجزه چه دلالت کوی په نبوت د ده له طرفه د رب خپل اَوَلَمْ تَأْتِهِمْ
بَيِّنَةُ مَا اٰيا نهٔ دے دلیل او برهان په هغه عقائدو او په احکامو کلیو فِي الصُّحُفِ
الْاُوْلٰى ﴿۱۳۳﴾ چه پخوانیو صحیفوکښ راغلی وو لکه تورات او انجیل او نور کتب سماویه شو
یعنی د اقرآن لابس نهٔ دے د دوئی له جهته د معجزے په دے سبب چه دے مشتمل دے په
خلص د عقائدو او د احکامو کلیو د پخوانیو کتابو نو بټولو وَلَوْ اَنَّآ اوکهٔ چرے بیشکه مونږه
چه یو اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ هلاک کړے وے مونږه دوئی په عذاب سره مِّنْ قَبْلِهٖ پخواله
رسول صلی الله علیه وسلم نه یاله قرآن یاله بیّنے چه په معنیٰ د برهان ده لَقَالُوْا رَبَّنَا نو هر
اٰئینه ویل به دوئی چه اے ربه ځمونږه لَوْلَآ اَرْسَلْتَ راوِدِ نه لیږدهٔ اِلَيْنَا رَسُوْلًا مونږ ته کوم
استاذ ے چه مونږه ئې بللی وی ستا طاعت ته فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ چه پیروی کړے وے مونږ
د ایتو نو ستا مِنْ قَبْلِ اَنْ پخواله هغه نَّذِلَّ چه خراب ذلیل کیږو مونږه په دنیاکښ په
قتل او په سبی سره وَنَخْزٰى ﴿۱۳۴﴾ او رسوا او شرمنده کیږو په آخرت کښ په دخول د دوزخ
سره قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ ووایه ته چه هر یو له مونږه او له تاسے منتظر دے د بل حال ته
فَتَرَبَّصُوْا پس منتظر اوسئ فَسَتَعْلَمُوْنَ پس زر دے چه معلوم به کړئ تاسے یعنی په
قیامت مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ چه کوم یو دے له مونږه او له تاسے څښتنان د سمے لارے

له یعنی امر به وړاندے وکړو رسول الله علیه وسلم په همیش والی د مانځه ۱۲

وَمَنِ اهْتَدٰى ﴿۱۳۵﴾ اوکوم یو دے چہ په سمے لارے روان دے مونږ ہ کۀ تاسے ۔ ع ۱۷

سُورَةُ الانبياء مكية | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۱۲ رُكُوْعَاتُهَا ۷

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ نزدے شوخلقو تہ وخت د حساب د دوئ یعنی مشرکانو تہ
وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ اوحال دا چه دوئ په غفلت کښں ډوب پراته دی له دغه حساب څخه
مُّعْرِضُوْنَ ﴿۱﴾ څنګ کونکی دی له ځان تیارولو په ایمان سره مَا يَاْتِيْهِمْ نه راځی دوئ له
مِّنْ ذِكْرٍ هیڅ پند او نصیحت مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ له ربه خپله نوے رالیږلے شوے اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ
مګر واوری دوئ هغه پند له پیغمبره خپله يَلْعَبُوْنَ ﴿۲﴾ وحال دا چه دوئ لوبے او مسخرے
کوی ورپورے لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ط په دے حال کښں چه غافل وی زړونه د دوئ له تامله
او تفکره په معانیو د هغه کښں او مشغول وی په زینت د دنیا وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ق اوپټوی دا
کافران رازخپل الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ق هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے او دا الذین بدل دے له واو د
اَسَرُّوا هَلْ هٰذَآ ایا دے دا یعنی محمد (علیه الصلوٰة والسلام) یعنی نۀ دے اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ
مګر یو ادمی دے په شان ستاسے چه خوری او څښی اوخوب کوی لکه تاسے نوستاسے او ده هیڅ
فرق نشته نو بنائی چه رسول دِ ملک وی او ده نخه خو غیر له سحره نور هیڅ نشته اَفَتَاْتُوْنَ
السِّحْرَ ایا پس راځی تاسو هغه جادو له چه د ده نخه دے وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۳﴾ اوحال دا
چه تاسو کورئ چه دا جادو دے قٰلَ رَبِّيْ نو وویل پیغمبر صلے الله علیه وسلم رب ځما چه دے
يَعْلَمُ الْقَوْلَ پوهیږی په کفتار د هر یو ویونکی فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ز چه په آسمان کښں وی او که
په زمکه کښں پټ وی او که ښکاره وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۴﴾ او دے اوریدونکے دانا دے په
اسرار د دوئ بَلْ قَالُوْٓا بلکه وائی دوئ یعنی څنګ کوی له هغه پخوانی خبرے او نورے
رنګارنګ خبرے وائی نو کله وائی چه اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ م ګډ وډ دی د خوبونو یعنی خوبونه ئے
ئے لیدلی دی په خوب کښں اوګمان ئے د وحی پرے کړے دے بیا وائی چه دا سے هم نه ده
بَلِ افْتَرٰىهُ بلکه دا ئے د ده چه دا ئے دروغ تړلی دی له ځانه په خدائ بیا وائی چه دا سے هم ده

بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ج بلکه دا سے دہ چه دے شاعر دے چه شعر وائی له خانه او بیا نسبت ئے کوی
خدائ ته او کهٔ له دے درے وارو خبرو یوه هم نهٔ وی او دے په رښتیا نبی وی فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ پس
پس میباید چه راوړی دے مونږ ه لره یوه غټه معجزه كَمَا اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ۵ لکه چه رالیږلے
شوی وو پخوانی پیغمبران علیهم الصلوٰة والسلام له معجزو سره لکه اوښه او همسا او ید بیضا
او رغول د ړندو او د برګو او ژوندی کول د مړیو. بیا رب العزت وائی په جواب د دوئ کښ چه
مَآ اٰمَنَتْ ایمان نهٔ وو راوړے په هغه ښکاره غټو معجزو چه هم دوئ به غوښتے وے قَبْلَهُمْ
پخوا له دے مشرکانو د قریشو مِنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ج له اهل د هیڅ ښاره چه هلاك کړی دی مونږه
اهل د هغهٔ یعنی پخوانیو اممو به معجزه وغوښته او بیا پس له ظهوره به ئے ایمان رانهٔ وړهٔ اَفَهُمْ
يُؤْمِنُوْنَ ۶ ایا پس دوئ به ایمان راوړی کهٔ هم هغسے معجزه ورته ښکاره کړو وَمَآ اَرْسَلْنَا
قَبْلَكَ او نهٔ وو لیږلے مونږه پخوا له تا اے رسوله! اِلَّا رِجَالًا مګر سړی یعنی بنی آدم نه ملائك
نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ چه وحی به وکړه مونږه دوئ ته د پاره د جنسیت چه له جهته د الفت فائده
ترے واخلی فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ پس وپوښتئ تاسے اهل کتاب یعنی عالمان د پخوانیو
کتابونو چه تورات او انجیل دے چه رسولان به پخوا بنی آدم وو او که ملائك اِنْ كُنْتُمْ کهٔ
چرے یئ تاسے لَا تَعْلَمُوْنَ ۷ چه نهٔ پوهیږئ په دے کار پخپله او کهٔ تاسے دلسے وائی چه
کهٔ دے پیغمبر وے نو خوب او خوراك به ئے نهٔ کولو نو پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام خو
خوراك کولو لکه چه وائی وَمَا جَعَلْنٰهُمْ او نهٔ وو کړی مونږه دا پیغمبران جَسَدًا لَّا يَاْكُلُوْنَ
الطَّعَامَ داسے جثے چه نه به ئے خوړو طعام هیڅ رے وَمَا كَانُوْا او نهٔ وو دوئ خٰلِدِيْنَ ۸
همیشه ژوندی په زمکه کښ چه نهٔ به مړه کیدل ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ بیا رښتینے به کړه مونږه
له دوئ سره هغه وعده خپله چه غلبه د موحدانو او مغلوبوالے د مشرکانو وو فَاَنْجَيْنٰهُمْ
پس وبه ساتل مونږه دا پیغمبران له هغه عذابه چه په قوم به ئے راغے وَمَنْ نَّشَآءُ او بل هغه
څوك هم چه اراده به وه څمونږه د هغه د ساتلو یعنی مؤمنان او بل هر هغه څوك چه ساتلو کښ
ئے حکمت وو وَاَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِيْنَ ۹ او هلاك به کړه مونږه له حده تیریدونکی په کفر او

معاصیو سره لَقَدْ اَنْزَلْنَا هرآئینه په تحقیق رالیږلے دے مونږه اِلَیْکُمْ کِتٰبًا تاسے ته اے
تولیه د قریشو یو کتاب چه قرآن دے فِیْهِ ذِکْرُکُمْ ؕ چه په هغه کښې نیک نامی او یادګاری یا
پند او وعظ ستاسے دے یا ژبه ستاسے ده اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ⑩ آیا پس عقل نهٔ کوئ تاسے وَکَمْ ع
قَصَمْنَا او ډیر ډیر توټے توټے کړی دی مونږه په هلاک سره مِنْ قَرْیَةٍ له ښارونو یعنی له اهله
ئے کَانَتْ ظَالِمَةً چه وو دا اهل دد ے قریے ظالم یعنی کافر وَّ اَنْشَاْنَا بَعْدَهَا او پیدا که مونږه
پس له هلاکولو د هغهٔ قَوْمًا اٰخَرِیْنَ ⑪ بل قوم په ځائے د دوئ فَلَمَّآ اَحَسُّوْا پس هر کله چه بیا مونده
دوئ یعنی ورو ورته رسیدهٔ بَاْسَنَآ اِذَا هُمْ عذاب ځمونږه ناګاه دوئ به وو مِّنْهَا یَرْکُضُوْنَ ⑫
له هغه عذاب تختیدل به په جلتئ او منډے به ئے وهلے ترلکه چارپایان نو ملائکو به ورته
وویل په طریقه د مسخرو سره لَا تَرْکُضُوْا مهٔ تختئ وَ ارْجِعُوْٓا اِلٰی مَآ او بیرته ورګرځئ هغه څیز
ته اُتْرِفْتُمْ فِیْهِ چه ښهٔ معاش درکړے شوے وو تاسے ته په هغه کښې چه عبید او اموال او
نقود او اجناس ستاسے وو وَمَسٰکِنِکُمْ او مینو خپلو لره لَعَلَّکُمْ تُسْئَلُوْنَ ⑬ ښائی چه پوښتیدے
به شئ تاسے چه هغه اموال او مساکن ستاسے څهٔ شو نو چه حال در ته معلوم وی قَالُوْا
یٰوَیْلَنَآ وبه وائی دوئ چه اے افسوس دے مونږ لره اِنَّا بیشکه مونږه چه یو کُنَّا ظٰلِمِیْنَ ⑭
وو مونږه ظالمان فَمَا زَالَتْ پس همیشه به وی تِلْکَ دَعْوٰىهُمْ دا بلنه د دوئ یعنی دا
لفظ د یٰوَیْلَنَا به ئے هر وخت په خولے کښې وو حَتّٰی جَعَلْنٰهُمْ تر هغه پورے چه وګرځول
مونږه دوئ حَصِیْدًا خٰمِدِیْنَ ⑮ ریبلی یخ پراتهٔ یعنی په توره به داسے وربیلے شو لکه
کښت چه په لور سره ریبلے کیږی وَمَا خَلَقْنَا او نهٔ دے پیدا کړے مونږه السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ
دا اسمان او زمکه وَمَا بَیْنَهُمَا او هر هغه چه په مینځ د دوئ کښې دی لٰعِبِیْنَ ⑯ په دے حال
کښې چه لوبے کونکی وو مونږه لَوْ اَرَدْنَآ که اراده وی ځمونږه اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا د دے چه
ونیسو مونږه یوه لوبه یعنی داسے څیز چه لوبے به کاوهٔ شی او طبع ورته میلان کوی لکه ښځه
او فرزند شو لَّاتَّخَذْنٰهُ نو هرآئینه نیولے به وو مونږه هغه څیز مِنْ لَّدُنَّآ ق له جانبه خپله
یعنی له هغه څیزونو چه له مونږه سره لایق وو لکه حورے یا ولدان یا ملائک نه مریم او عیسٰی

علیه الصلوة والسلام لکه چه وائی دوئی اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ⑰ کهٔ چرے وے مونږه کونکی دَدے کار
یا دا اِنْ نافیه دے یعنی لیکن نهٔ وو مونږه کونکی دَدے کار بیائے اعراض وکهٔ له لهوه اوله ښځے او
له فرزنده چه مونږ نه لوبے کوو او نه ښځه اوفرزند بید اکوو حُان له بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ بلکه ویشتل
کوو په حق سره چه ایمان یا اسلام یا قرآن یا مطلق خیر دے عَلَى الْبَاطِلِ په باطل چه کفر
یا شرك یا شیطان یا مطلق شر دے فَيَدْمَغُهٗ پس محوه کا دا حق دغه باطل فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ
پس ناځاپه چه دا باطل بیا هلاك اوورك وی تو له مونږه سره دالایق دی وَلَكُمُ الْوَيْلُ او تا سے
له افسوس دی اے کفارو مِمَّا تَصِفُوْنَ ⑱ له هغه څیزه چه ثابتوئ ئے تاسے خدائی ته
له ښځے اوله فرزنده وَلَهٗ مَنْ اوخاص هم دهٔ له دی په طریقه د مملوکیت سره هرهغه څوك
فِي السَّمٰوٰتِ چه په اسمانونو کښں دی له علویاتو وَالْاَرْضِ اوپه زمکه کښں دی له سفلیاتو
وَمَنْ عِنْدَهٗ اوهغه څوك چه دهٔ ځخه دی له جهته د مکان چه ملایک دی لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ کبر
اوسرکشی نه کوی عَنْ عِبَادَتِهٖ له بندگئ ددهٔ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ⑲ اونهٔ ستومانه کیږی
له عبادته د دهٔ یوطرفة العین يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ چه تسبیح وائی هم د شپے وَالنَّهَارَ اوهم دورځے
لَا يَفْتُرُوْنَ ⑳ چه نه ترے سستی کیږی او نه ضعف کیږی **حاصل** دا چه هغه
ملایک چه هم مقرب دی ځما د رګاه ته او په سجود دی شپه او ورځ ماته پس هغوئ
سره له دومره مرتبے کبر او ستومانی نهٔ کوی ځماله عباد ته او شپه او ورځ تسبیح ځما وائی
او یوان سستی پکښں نهٔ کوی نو تاسے ولے سرکشی کوئ له دهٔ اَمِ اتَّخَذُوْٓا بلکه نیولے یعنی
سازکړے دے دوئ اٰلِهَةً مِّنَ الْاَرْضِ خدایان له زمکے یعنی له هغه څیزونو چه لجنسه
د زمکے دی لکه سره زر او سپین زر او تیږه اولرګی هُمْ يُنْشِرُوْنَ ㉑ چه دا الهٔ ژوندی
کوی مړی په دے کښں رابنکل او شرمول دی د مشرکانو چه تاسو دا بتان خدایان بوئ
او لایق د خدائی خو هغه څوك وی چه مړی ژوندی کولے شی او تاسے بنه پوهیږئ چه دوئ په
هیڅ قادر نهٔ دی او سره له دے تاسے لاس ترے نهٔ اخلئ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ که چرے وے په دَ زمکه
اواسمان کښں اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ خدایان غیر له الله جل شانهٗ لَفَسَدَتَا نو هرا ئینه خراب

شوی به وو دواړه په سبب د اختلاف د دوی عادةً فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ پس پاکی ده هغه خدای لره
رَبِّ الْعَرْشِ چه څښتن د عرش دی عَمَّا یَصِفُوْنَ ﴿۲۲﴾ له هغه نالایقو څیزونو چه دوی منسوب کوی
ورته لکه ښځه او فرزند لَا یُسْـَٔلُ نهٔ پوښتیدے کیږی دے عَمَّا یَفْعَلُ له هغه کاره چه کوی ئے دے
ځکه چه حکمت هم په هغه کښ یا له جهته د عظمته د دهٔ وَهُمْ یُسْـَٔلُوْنَ ﴿۲۳﴾ او دوی پوښتیدے
کیږی له اقوالو او له افعالو او له احوالو خپلو ځکه چه دوی مملوکان دی او مملوک هیچرے پخپل
سر هیڅ کار نهٔ شی کولے اَمِ اتَّخَذُوْا بلکه نیولی یعنی پیدا کړی دی دوی مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً ط غیر له
دهٔ نور خدایان قُلْ هَاتُوْا او ووایه اے رسوله دوی ته چه راوړئ بُرْهَانَكُمْ ج دلیل خپل عقلی یا
نقلی او دواړه وته هیڅ لاره نشته ځکه چه عقلی خو ښوا بیان شو په لوکان کښ او نقلی دا دے چه هیڅ
پیغمبر غیر له توحید او تنزیه په بل څهٔ نهٔ دے مامور شوے لکه چه وائی هٰذَا ذِكْرُ مَنْ دے
دے پند د هغه چا مَّعِیَ چه له ما سره دی یعنی امت زما یعنی قرآن دے وَ ذِكْرُ مَنْ او دغه دے
پند د هغه چا قَبْلِیْ ط چه مخوا له ما نه تیر شوی دی یعنی د امتونو د تیرو پیغمبرانو چه تورات او انجیل
دے او نور اشیٔ او دغه ټول ولټوئ چه هر یو وارد دے په توحید د خدائ او په نفی د شریکانو کښ ،بیا
هر کله چه دوی دا خبره ونهٔ منله نو ځنګ ئے ترے وکړهٔ او دا سے وویل چه بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه زیات
د دوی چه دی لَا یَعْلَمُوْنَ لا الْحَقَّ نهٔ پوهیږی په حق چه توحید دے یا قرآن دے فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾
پس دوی ځنګ کونکی دی له توحیده یا له متابعت د رسول علیه الصلوٰة والسلام وَمَآ اَرْسَلْنَا
او نهٔ وو لیږلے مونږه مِنْ قَبْلِكَ مخوا مِنْ رَّسُوْلٍ هیڅ استاذے اِلَّا نُوْحِیْٓ اِلَیْهِ مګر چه پیغام
به وکړهٔ مونږه هغهٔ ته اَنَّهٗ چه بیشکه شان دا دے چه لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا نشته معبود برحق
هیڅوک مګر زهٔ یم بوازے فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾ پس عبادت کوئ هم زما وَقَالُوْا او وائی خزاعه چه
یو قوم دے له عربو اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا نیولے یعنی پیدا کړے دے خدائ فرزند چه دوی وائی
دا ملائک لونړه دی د خدائ سُبْحٰنَهٗ ط پاك دے دے له دغه او دا ملائک فرزندان نهٔ دی
بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ بلکه دوی بندګان دی نوازلی په عزت لَا یَسْبِقُوْنَهٗ چه نهٔ مخکې کیږی

لـه یعنی عادت هر وخت زمان هم دا دے چه دوه باد شاهان په یو مکان کښ نهٔ جمع کیږی ۱۲

په خدائ بِالْقَوْلِ په خبرے کولو سره یعنی بے اذنه دده هیڅ نهٔ غږیږی نو طمع د شفاعت ترے
پکار نهٔ ده بے اذنه وَهُمْ بِاَمْرِهٖ اودوئ خاص په امر دده سره یَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ عمل کوی او بے امره
هیڅ نهٔ شی کولے یَعْلَمُ مَا پوهیږی اومعلوم دے دهٔ ته هرهغه بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ چه مخکښ دی ددوئ وَمَا
خَلْفَهُمْ اوهرهغه چه شا ته دی ددوئ له عملونو نه وَلَا یَشْفَعُوْنَ لا اوسوال نهٔ کوی دوئ
خدائ ته دهیچا دپاره اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى مګر هغه چا دپاره چه راضی وی ترے خدائ وَهُمْ مِّنْ خَشْیَتِهٖ
اودوئ له ویرے دهٔ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾ لرزان اوترسان وی وَمَنْ یَّقُلْ اوهرهغه څوک چه وویل
مِنْهُمْ اِنِّیْٓ له دوئ چه بے شکه زهٔ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ خدائ یم غیر له هغهٔ فَذٰلِكَ پس دا قایل چه
دے نَجْزِیْهِ جَهَنَّمَ ط جزا به ورکوو مونږه دهٔ له دوزخ كَذٰلِكَ هم دا سے لکه چه دے دعوی کوونکی د
خدائ ته جزا ورکوو نَجْزِی الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۹﴾ ع جزا به ورکوو ظالمانو له په عبادت دغیر اَوَلَمْ یَرَ
الَّذِیْنَ ایا نهٔ وینی هغه کسان كَفَرُوْٓا چه کافر دی اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ دا چه بیشکه دا اسمانونه
اوزمکے چه دی كَانَتَا رَتْقًا وو دواړه سره ضم پیوسته فَفَتَقْنٰهُمَا ط پس بیل کړهٔ مونږه سره
دواړه نو یا اول یو څیز وو مجتمع بیا مونږه بیل کړهٔ په رنګا رنګ اشکالو وخواصو سره او یا دا چه اول اسمانونه
اول یو اسمان وو بیا مونږه بیل کهٔ او ترے اُوهٔ مرکړهٔ سره ممتاز په حرکاتو مختلفو او هم دا سے زمکه هم
اوه طبقے کړه مونږه په اختلاف دکیفیاتو او داحوالو سره او یا دواړه اول سره پیوسته وو بے فرجے
بیا بیل بیل کړهٔ سره مونږه اوهوا مو په مینځ کښ پیدا کړه او یا اوچ کلک وو دواړه چه نهٔ له هغهٔ
باران وریدهٔ او نه له دے ډکی زرغونیدے بیا وچیدل مونږه دواړه چه له هغه باران ووریده او
دے کیاه زرغونه شوه او رتق ضم دے او فتق فصل دے او دلته دواړه په معنیٰ دمفعول دی
یعنی مرتوق او مفتوق وَجَعَلْنَا اوګرځولے دے مونږه مِنَ الْمَآءِ له اوبو څخه كُلَّ شَیْءٍ حَیٍّ ط هر څیز چه
ژوندے دے اَفَلَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۰﴾ ایا پس ایمان نهٔ راوړی سره له ظهوره د دا سے قدرت وَ
جَعَلْنَا او تک وهلی دی مونږه فِی الْاَرْضِ رَوَاسِیَ په زمکه کښ میخونه یعنی غرونه اَنْ تَمِیْدَ بِهِمْ
دپاره ددے چه نهٔ خوزوی دا ادمیان او دا په اصل کښ لئلا تمید بهم چه لام او لا ترے حذف
شوی دی وَجَعَلْنَا فِیْهَا او سازے کړے دی مونږه په دے زمکه یا غرونو کښ فِجَاجًا سُبُلًا لارے ارتے

او سبلا بدل دے له فجاجا لَعَلَّهُمْ بنائی چه دوئ يَهْتَدُوْنَ ۞ ۳۱ سم بے کلفته ورسیږی مقصود خپل ته وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ او جوړ کړیدے مونږه اسمان سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ج بام ساتلے شوے له لوید لو وَهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا او دا کفار له هغه دلائیلو چه اسمان کښی دی په وجود د صانع لکه نمر او سپوږمۍ او ستوري او د آسمان باقی عجائب او غرائب شو مُعْرِضُوْنَ ۞ ۳۲ څنګ کونکی دی وَهُوَ الَّذِيْ او دے هغه قادر مطلق دے چه په حکمت بالغه سره خَلَقَ الَّيْلَ پیدا کړے ئے ده شپه چه په آرام شی پکښ دوئ او ستومانی د تیرے ورځے وکاږی وَالنَّهَارَ او ورځ هم چه کسب او معاش پکښ وکه دوئ وَالشَّمْسَ او نمر هم چه رنړا کوی د ورځے وَالْقَمَرَ ط او سپوږمۍ هم چه رنړا کوی د شپے كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ د اټول په اسمان کښ يَّسْبَحُوْنَ ۞ ۳۳ لامبو وهی یعنے د انمر او سپوږمی دا په جلتی روان دی په اسمان کښ لکه لامبوزن په سیند کښ **روایت دے** چه کفارو هر کله وویل چه نَتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ الْمَنُوْنِ یعنی انتظار به کوو مونږه ده ته د مرګ یعنے هر کله چه دے هم وفات شو نو لنیے او خوشحالی به یرے کووچه د اخر نکه رسول وو چه دے هم وفات شو نو نازل شو وَمَا جَعَلْنَا او نه دے مقرر کړے مونږه لِبَشَرٍ هیخ بشر لره مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ط پخواله تا همیشه والے په دنیا کښ اَفَاۡئِنْ مِّتَّ ایا پس که چرے وفات شوے ته فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ۞ ۳۴ پس دوئ کوند همیشه پکښ پاتے کیدونکی دی یعنی نه دی نو په مرګ شماتت پکار نه دے لکه چه شاعر ویلے دی۔

شعر

فَقُلْ لِلشَّامِتِيْنَ بِنَا اَفِيْقُوْا ∴ سَيَلْقَى الشَّامِتُوْنَ كَمَا لَقِيْنَا

كُلُّ نَفْسٍ هر نفس چه دے ژوندے په دنیا کښ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ط څکونکے دے د مرګ یعنی مری به خامخا وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ او از میو مونږه تاسے کله په سختئ لکه فقر او غم او رنځ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ط او کله په راحت لکه غنا او خوشحالی او صحت سره ازمیلو سره او دا مصدر مفعول مطلق د نبلو دے من غیر لفظه وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ۞ ۳۵ او بیا به مونږ ته راو ستے کیږئ تاسے ټول د پاره د حساب او د جزا **روایت دے** چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په ټولی د کفار و تیر شو نو ابوجهل وریوے وخندل او مجلسیانو ته ئے وویل چه وګوری دا پیغمبر دے د بنی عبد مناف نو نازل شو وَاِذَا رَاٰكَ او په هغه وخت چه وینی تا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه کسان چه کافر دی اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ نو نه نیسی دوئ تا

اِلَّا هُزُوًا ؕ مکر ځائی د مسخرے او وائی دوی اَھٰذَا الَّذِیۡ آیا دا هغه څوك دے یَذۡكُرُ اٰلِهَتَكُمۡ ۚ چه یادوی خدایان ستاسے په بدئ او په غیب په قرینه دحال سره وَھُمۡ بِذِكۡرِ الرَّحۡمٰنِ او حال دا چه یادوی په یادکیږئ دخدائ په وحدانیت سره هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴿۳۶﴾ دوی منکران دی **روایت دے** چه هرکله نضر بن حارث به ډیره تلوار کوله په راتلو دعذاب کښ نو نازل شه خُلِقَ الۡاِنۡسَانُ پیدا کړے شویدے آدمی مِنۡ عَجَلٍ ؕ له جلتئ دا مبالغه ده یعنے دا ډیر تلوار کوندے چه ته به وائے عین جلتی دے لکه چه عرب وائی کریم نه خُلِقَ مِنَ الۡكَرَمِ سَاُورِیۡكُمۡ اٰیٰتِیۡ زر دے چه وبه ښایم تاسے ته نښے دعقوبت خپل په دنیا کښ چه واقعه دبدر وه او په آخرت کښ په عذاب د دوزخ سره فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنِ ﴿۳۷﴾ پس تلوار مه کوئ په ما په غوښتلو دعذاب وَیَقُوۡلُوۡنَ او وائی دا کافران مَتٰی ھٰذَا الۡوَعۡدُ چه کله به دا وعده یعنے عذاب قیامت اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ﴿۳۸﴾ که چرے یئ رښتینی په دے کښ چه عذاب به درله راشی لَوۡ یَعۡلَمُ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا که چرے پوهیدے هغه کسان چه کافر دی حِیۡنَ لَا یَكُفُّوۡنَ هغه وخت چه نه به شی لرے کولے عَنۡ وُّجُوۡهِهِمُ النَّارَ له مخونو خپلو اور د دوزخ وَلَا عَنۡ ظُهُوۡرِهِمۡ او نه له شاکانو خپلو ځکه چه اور به احاطه ئے کړے وی وَلَا هُمۡ یُنۡصَرُوۡنَ ﴿۳۹﴾ او نه به دوی سره مدد کولے شی او جواب دلو محذوف دے او تقدیر ئے دا دے چه که چرے پوهیدے دوی په دے تیرو درے وارو کارونو نو دا عذاب به ئے نه غوښت بَلۡ تَاۡتِیۡهِمۡ بلکه رابه شی دا قیامت دوی ته بَغۡتَةً ناڅاپه په بے مقدمے فَتَبۡهَتُهُمۡ پس حیران به کړی دا قیامت دوی فَلَا یَسۡتَطِیۡعُوۡنَ رَدَّهَا پس طاقت به نهٔ لری دوی دلرے کولو دے قیامت له خپل ځانه وَلَا هُمۡ یُنۡظَرُوۡنَ ﴿۴۰﴾ او نه به دوی له مهلت ورکولے شی دپاره د توبے او دعذر وَلَقَدِ اسۡتُهۡزِئَ او هر آئینه په تحقیق مسخرے کړے شویدی بِرُسُلٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ په ډیرو رسولانو پورے مخوا له تانه ته هم پرے خفګان مه کوه فَحَاقَ بِالَّذِیۡنَ پس راګیر شو په هغه کسانو سَخِرُوۡا مِنۡهُمۡ چه مسخرے کولے دوی په هغه رسولانو پورے مَّا كَانُوۡا بِهٖ جزا د هغه څیزونو چه وُو دوی په هغه پورے یَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۴۱﴾ مسخرے کولے ع قُلۡ ووایه اے رسوله دے مستهزئینو ته مَنۡ یَّكۡلَؤُكُمۡ څوك دے چه ساتی تاسے بِالَّیۡلِ وَالنَّهَارِ د شپے او د ورځے مِنَ الرَّحۡمٰنِ ؕ له بدو دکاره یعنے له عذابه دده که چرے راولیږی یعنے ساتونکے بل هیڅوك نشته بلکه محض رحمت عامه دده حصا

کړیدے بَلْ هُمْ بلکه دوئی چه دی عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ له یاده درب خپل یا له قرآنه مُّعْرِضُوْنَ (۴۲)
څنګ کونکی دی چه هیڅ فکرپکښی نهٔ کوی اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ آیا دوئی له خدایان دی او په دے ام کښی دا استفهام
انکاری دہ یعنی نشته دے الهه تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا چه ساتی دوئی غیرله موجبه له عذابه که راشی
یا پخپله ئے ووبل چه لَا یَسْتَطِیْعُوْنَ طاقت نهٔ لری دا خدایان د دوئی نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ د مدد کاری له
خپلو ځانونو نوبره که څوك بدو ورسره کوی لکه ماتول یا لوړول یا کندہ کول یا دا نور څهٔ وَلَا هُمْ مِّنَّا او
نهٔ دوئی له موږ نه څخه یُصْحَبُوْنَ (۴۳) ساتلے کیږی یا ملګر توب ورسره کاوهٔ شی یعنے هر هغه چه
خپل ځان ته نفع او ضرر نهٔ شی رسولے هغه بل ته څهٔ ورسوی بیا وائی چه بَلْ مَتَّعْنَا بلکه برخودا
او معاش ورکړے دے موږ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ هم دے کفارو د مکے له او هم پلرونو د دوئی له په
انواعو د نعمتو نو حَتّٰی طَالَ تر هغه پورے چه اوږد شو عَلَیْهِمُ الْعُمُرُ ط په دوئی ژوندون او غره شو په
دے چه موږ به همیشه هم دا اوسو اَفَلَا یَرَوْنَ آیا پس نه وینی دوئی اَنَّا نَاْتِی الْاَرْضَ دے کار ته
چه بیشکه راځو موږ یعنے حکم څمونږ زمکے د دوئی ته نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ط چه راکموو ورځ په ورځ
له هر طرفه دد ے په فتح او په نصرت د دین د اسلام سره چه همیشه مؤمنان بنا رونه ترے نیسی او خپل
دین په کښی جاری کوی اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ (۴۴) آیا پس دوئی غالب دی او که رسول علیه السلام او
اصحاب کرامؓ د هغه په مددګاری سره قُلْ اِنَّمَآ ووایه دوئی ته چه بیشکه هم دا خبره دہ اُنْذِرُکُمْ
بِالْوَحْیِ زه چه ویروم ژهٔ تاسے په وحی یعنے په قرآن له عذاب نه له خپل ځان وَلَا یَسْمَعُ الصُّمُّ
الدُّعَآءَ او نهٔ اوری کانړهٔ بلل یعنے اوده هیڅ اِذَا مَا یُنْذَرُوْنَ (۴۵) په هغه وخت چه وویرولے شی
دوئی نو دوئی هم د کانړهٔ په شان خبره د حق نهٔ اوری وَلَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ او که ورسیږی دوئی
ته لږ څهٔ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ له عذابه درب ستا هغه چه ته د دوئی پرے ویروے لَیَقُوْلُنَّ نو
هرا ئینه وائی دوئی خامخا یٰوَیْلَنَآ اے افسوس دے موږ له اِنَّا کُنَّا ظٰلِمِیْنَ (۴۶) بیشکه موږ چه یُو وو
موږ ظالمان وَنَضَعُ الْمَوَازِیْنَ الْقِسْطَ او کیږدو موږ تلے د عدل لِیَوْمِ الْقِیٰمَةِ د پاره د اهل د
ورځے د ورځے د قیامت فَلَا تُظْلَمُ پس ظلم به و نهٔ کړے شی نَفْسٌ شَیْئًا ط په هیڅ نفس د هیڅ خیز وَاِنْ
کَانَ او که چرے وو دا خیز مِثْقَالَ حَبَّةٍ په قدر د یوے دانے مِّنْ خَرْدَلٍ له اورے څخه اَتَیْنَا بِهَا ط هم راحاضر

به ئے کړو مونږه میزان ته وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿۴۷﴾ او بس یو مونږه حساب کونکی یا ساتونکی وَلَقَدْ
اٰتَيْنَا او هر اٰئینه په تحقیق ورکړے وو مونږه مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ موسیٰ او هارون علیهما
السلام له کتاب چه ډیر فرق کونکے وو په مابین دحق او دباطل او دحلال او حرام کښ وَضِيَآءً
وَّذِكْرًا او رنړا او پند لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۸﴾ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ دپاره دهغه پرهیزګارانو چه
ویریږی دوئ له ربه خپله پسے شا چه لید لے ئے نهٔ دے وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ او دوئ له قیامته
مُشْفِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ ویریدونکی وی هر وخت وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ او دا قرآن چه دے یو پند دے ډیر
برکتناك او نفع مند اَنْزَلْنٰهُ ط چه رالیږلے دے مونږه دا په محمد صلے الله علیه وسلم اَفَاَنْتُمْ لَهٗ ایا
پس تاسے له دهٔ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع انکار کونکی یئ د ا استفهام د توبیخ دے یعنی منکر یږئ وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ او [ع ۵ ۱۲]
هر اٰئینه په تحقیق ورکړے وو مونږه اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ ابراهیم علیه السلام له سمه لاره موندل وجوه
دصلاحیت ته مِنْ قَبْلُ لا پخوا له بلوغ یا له رسول علیه الصلوٰة والسلام یا له موسیٰ او هٰرون علیهما
الصلوٰة والسلام وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾ ع او وو مونږه په لایق توب ددهٔ دغه مرتبے له د انا یان آګاه اِذْ
قَالَ یاد که هغه چه وویل دهٔ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ پلار خپل ته چه اذر دے او قوم خپل ته چه اهل دبابل
دے مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ چه څهٔ دی دغه شکلونه یعنی دا بتان چه څهٔ په شکل دلیوانو او څهٔ دچارپایانو
او څهٔ دمارغانو او څهٔ دادمیانو دی او ټول دوئ او یا وو او یو په دے ټولو کښ مشر وو چه هغه دسرو
زرو وو او دسترګو په ځائے ئے دوه جواهر ایښی وو الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا هغه بتان چه تاسے دپاره
دعبادت دهغوئ عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾ مقیمان جائ بندیئ قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا نو وویل دوئ چه موندلی دی
مونږه پلرونه خپل لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ دوئ له عبادت کونکی نو مونږه هم دهغو عبادت اختیار کړے دے
قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ نو وویل ورته دهٔ چه هر اٰئینه په تحقیق یئ تاسے اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ هم تاسے او
هم پلرونه ستاسے فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۴﴾ په ښکاره ګمراهئ کښ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ نو وویل ورته
دوئ چه ایا راوړے ده تا داخبره په رښتیا سره اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿۵۵﴾ او که ئے ته له لوبو کونکیو
څخه یعنی رښتیا وایے او که هسے خوشے لوبے کوے قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ نو وویل دهٔ چه بلکه رب ستاسے
چه دے رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ پیدا کونکے داسمانونو او دزمکے دے الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ز صلے هغه خدائ

چه پیدا کړی ئې دی دا اسمانونه او زمکه یادا تماثیل وَاَنَا عَلٰی ذٰلِكُمْ او زهٔ په دې تیرو ویلو
تا سے ته له توحید مِنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿۵۶﴾ له شاهدانو یم وَتَاللّٰهِ او سوګند دې په خدائ چه لَاَكِیْدَنَّ
اَصْنَامَكُمْ هرائینه یو فریب به وکړم خامخا په دغه بتانو ستاسے په کوشش سره یعنی مات به ئې
کړم بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا پس له هغه چه شاکړئ تاسے دغه بتانو ته مُدْبِرِیْنَ ﴿۵۷﴾ په دې حال کښ چه مخ
ګرځونکی اوسئ له دوئ او لاړشئ تماشے له په ورځ د اختر اما داخبره ئې وړو وکړه یته له قوم خو
یوسړی واوریده فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا پس کړه ئې دا بتان ټوټے ټوټے په تبر سره اِلَّا كَبِیْرًا لَّهُمْ مګر یو غټ
د دې بتانو یادوئ چه هغه ئې مات نهٔ کهٔ او تبر ئې د هغه په غاړه واچولو یا ره د دې چه لَعَلَّهُمْ اِلَیْهِ
بنائی چه دوئ د دې غټ بت ته یَرْجِعُوْنَ ﴿۵۸﴾ راشی او پوښتنه ترے نه وکه چه دا کار چا کړے دے یا چه
بیرته راغله او دا بتان ئې مات پراته او لیدل قَالُوْا مَنْ فَعَلَ نو وویل دوئ چه چا کړے دے هٰذَا
بِاٰلِهَتِنَاۤ دا کار په خدایانو ځمونږه اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۵۹﴾ بیشکه چه دے هرائینه له ظالمانو دے
په دے کارکښ قَالُوْا سَمِعْنَا نو وویل دوئ یعنی بعضو چه ترے اوریدلی وو مونږه فَتًی یَّذْكُرُهُمْ له
یو زلمی چه یادول ئې دا بتان یُقَالُ لَهٗۤ اِبْرٰهِیْمُ ﴿۶۰﴾ چه وایه شی ورته ابراهیم (علیه الصلوٰة والسلام)
قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ نو وویل نمرود او عملو ئې چه پس راولئ دے عَلٰۤی اَعْیُنِ النَّاسِ په سترګو دد ے
خلقو یعنی په حضور د دوئ چه ټول ئې ووینی او د دوئ په مخکښ اقرار وکه لَعَلَّهُمْ یَشْهَدُوْنَ ﴿۶۱﴾
بنائی چه بیا شاهدی ولولی دوئ چه دا کار هم دهٔ کړے دے بیا چه راغے قَالُوْۤا ءَاَنْتَ فَعَلْتَ نو وویل
ورته دوئ چه ایا تا کړے دے هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا دا کار په خدایانو ځمونږه باندے یٰۤاِبْرٰهِیْمُ ﴿۶۲﴾
اے ابراهیم قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ ق نو وویل ده چه بلکه کړے دے دا کار كَبِیْرُهُمْ هٰذَا مشر او غټ د دې بتانو
چه دغه دے ولاړ دے له دې قهره چه زهٔ ولاړیم او د دوئ عبادت کیږی ځما په مخکښ فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ
كَانُوْا یَنْطِقُوْنَ ﴿۶۳﴾ پس وپوښتئ تاسے هم دوئ که چیرے دا دی دوئ چه غږیږی نو فَرَجَعُوْۤا اِلٰۤی
اَنْفُسِهِمْ پس رجوع وکړه دوئ بیرته خپل ځان ته په فکر کولو سره فَقَالُوْۤا اِنَّكُمْ پس وې وییل
ځانونو خپلو ته بیشکه تاسے چه یئ اے ځمونږه نفسونو اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾ هم تاسے یئ ظالمان
چه عبادت کوئ د داسے چا چه خپل حال درته هم نه شی ویلے ثُمَّ نُكِسُوْا بیا نسکور کړے شو دوئ

عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ج په سرونو خپلو باندې یعنې سرونه ئې ښکته واچول له ډیر خجالته یا معنیٰ دا چه بیا بیرته وګرځیدل بخوانی کفرته پس له اقراره په ظلم خپل او مجادله ئې بنا کړه نو ئې وویل چه لَقَدْ عَلِمْتَ هرآئینه په تحقیق پوهـ ئې ته په خپله په دې چه مَا هٰۤؤُلَآءِ يَنْطِقُوْنَ ﴿۶۵﴾ نهٔ دي دا بتان قابل د دې چه وغږیږي له موږه ئې څهٔ له پوښتنه کوې قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ نو وویل ابراهیم علیه الصلوة و السلام چه آیا پس عبادت کوئ تاسې مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا د هغه څیز چه نفع نهٔ رسوي تاسې ته د هیڅ کار وَلَا يَضُرُّكُمْ ط ﴿۶۶﴾ او نه ضرر رسولی شي درته هیڅ قدر اُفٍّ لَّكُمْ افسوس او هلاک دې تاسې لره وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ او هغه هم چه عبادت ئې وکړ تاسې مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ط غیر له خدائ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ آیا پس تاسو دومره عقل هم نهٔ لرئ بیا هرکله چه نمرودیان له مجادلې عاجز شو نو د سیزلو د ابراهیم علیه السلام مصلحت ئې وکړ لکه چه وائي قَالُوْا حَرِّقُوْهُ بیا وویل دې نمرودیانو یو بل ته چه او سیزئ دې په اور کښې چه دا ډیر سخت عذاب دې وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ او مدد وکړئ له خدایانو خپلو سره په اخستلو د انتقام له دهٔ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿۶۸﴾ که چرې یئ تاسې کوونکي د دې مدد **روایت دے** چه هرکله نمرود مصلحت د سیزلو او کړو نو امر ئې وکهٔ په رعیت او یوه میاشت ئې خس پرې ټول کړهٔ او یوه لویه چار دیواري ئې سازه کړه او خس ئې پکښې واچول او له پاسه ئې ډیر تیل پرې واړول بیا ئې اور ورته کهٔ او ابراهیم علی الصلوة والسلام ئې بربنډ کړې طوق په غاړه لاس او خپې تړلې په منجنیق واچولو او ورته ئې ګذار که او په هوا کښې جبریل ع ورله راغی او ورته ئې وویل هَلْ لَكَ حَاجَةً یعنې څهٔ حاجت لرې نو دهٔ اما وویل اَمَّا اِلَيْكَ فَلَا یعنې هر چه تا ته دې خونښته بیا ئې ورته وویل فَسَلْ رَبَّكَ بارې نو سوال وکړه له رب خپله دهٔ وویل حَسْبِيْ سُؤَالِيْ عِلْمُهٗ بِحَالِيْ یعنې بس دے له سواله ځما علم د دهٔ په دې حال ځما او په درسته لاره کښې به ئې وویل چه حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ نو په برکت د دې دعا سره اور پرې خدائ ګلزار کهٔ لکه چه وائي قُلْنَا يٰنَارُ نو وویل موږ ه اے اوره! كُوْنِيْ بَرْدًا او سه یخ بیا د دې خوف پید اشو چه له ډیرې یخنئ به ئې هلاک که ځکه ئې ورته وویل وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ لا ﴿۶۹﴾ او ښتن د سلامتئ په ابراهیم علیه الصلوة والسلام نو په بردا سره ئې

کړی ورکه شوه او رنړا ئے باقی وه او یه سلمًا سره ئے بیا یعنی مهلک نهٔ شوه وَاَرَادُوْا بِهٖ كَیْدًا او اراده وکړه نمرود دیانو یه ابراهیم علیه السلام پورې د مکر فریب چه سیزل وو فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِیْنَ ﴿۷۰﴾ پس کړه مونږه دوئ ډیر زیانکاران ځکه چه هغه فعل د دوئ چه سیزل وو هم هغه معجزه شوه د اسے چه برهان قاطع شه یه حقیقت د ابراهیم علیه السلام او یه بطلان د دوئ **نظم:**

خوك چه خاص د خدائ بنده شی حال ئے نور شی۔ همیشه وی تیره توره یا سبل اور وی
هغه کله د بنده یه اور کښی سوزی۔ بلکه اور له هغه تختی تل یه شور وی
له عالمه شی جدا عزلت ئے کار شی۔ تل مدام به د اخلاص یه نیلی سور وی
د دوزخ چه خدائ ډك کړیدے له قهره۔ هم به جُزْیَا مؤمن وائی چه پرے نور وی
اے خالقه د ا مراد له تانه غواړی۔ د اسے حب چه نور له هرخه ئے زړهٔ تور وی

او خدائ ماشی راولیږل چه نمرود او یه قوم ئے چه د دوئ غوښے ئے او خوړے او وینے ئے ترے وڅښلے او یو ماشے د نمرود مغز ته ورخوت او هلته نیم بنکته وچ شوا و خلور سوه کاله ئے یه مغزو کښی وو لکه شیخ عطار قدس سره یه منطق الطیر کښی ویلی دی **بیت** نیم پشه بر سر دشمن گماشت ؛ در سر او چار صد سال اش بداشت وَنَجَّیْنٰهُ وَلُوْطًا او خلاص کړهٔ مونږه هم دے او هم وراره د دهٔ چه لوط بن هاران دے له عراق چه ځائ د نمرود دے او بوتلو مونږه د واړه اِلَى الْاَرْضِ الَّتِیْ هغه زمکے ته بٰرَكْنَا فِیْهَا چه برکت اچولے وو مونږه یه هغه زمکه کښی لِلْعٰلَمِیْنَ ﴿۷۱﴾ د یاره د خلقو چه زمکه د شام ده او یوله برکتونو ئے د ادے چه پیغمبران علیهم السلام یکښی ډیر دی او هم د اسے انهار او اشجار او ارزانی او بنهٔ عیش دے یکښی بیا دے هلته یه فلسطین کښی ډیره شوا و لوط علیه السلام یه مؤتکفت او ودے یه مینځ کښی یوه ورځ لاره وه وَوَهَبْنَا لَهٗٓ او ورکړے وو مونږه ده له ځوئ چه ئے غوښتے وو له مونږه اِسْحٰقَ ط چه نوم ئے اسحاق علیه السلام وو وَیَعْقُوْبَ نَافِلَةً ط او بل یعقوب علیه السلام نوسے تیرے له غوښتلو چه ځوئ وو د اسحق علیه السلام وَكُلًّا جَعَلْنَا او د اټول کرځولی وو مونږه یعنی هم دے او هم ئے ځوئ او هم ئے نوسے صٰلِحِیْنَ ﴿۷۲﴾ نیکان وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً او کرځولی وو مونږه ټول پیشوایان یَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا چه سمه لار به ئے ښودله خلقو ته یه فرمان

ځمونږه سره وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ اوپیغام کړے وو مونږه دوئ ته فِعْلَ الْخَيْرٰتِ دکولو دنیکو وَاِقَامَ
الصَّلٰوةِ اود دروولو دمانځه وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ج اود ورکولو دزکوٰة وَكَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ او وو دوئ[عه]
ټول خاص مونږ له عبادت کونکی نهٔ ښاتو له نو تا سے هم اے ټولیه دعربو اولاد ئے د ابراهیم علیه
السلام نومتابعت هم د هغهٔ وکړئ په دے کښ هم وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ اولوط علیه الصلوٰة والسلام
له ورکړے وو مونږه اونصب دلوطًا په فعل مقدر سره دے چه تفسیر ئے په دے مکښ اٰتَيْنٰهُ
کړیدے حُكْمًا وَّعِلْمًا هم نبوت یا قطع دخصومت اوعلم وَنَجَّيْنٰهُ اوخلاص که مونږه دے
مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ له هغه کلی نه كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ط چه وه دا قریه دا سے چه کول به ئے خبیث
کارونه لکه لواطت او لوبے په مرغانو اود اسے نور شو اِنَّهُمْ كَانُوْا بے شکه دوئ وو قَوْمَ سَوْءٍ ټولے
دبدو یعنی بدکاران فٰسِقِيْنَ ﴿۷۴﴾ فاسقان وَاَدْخَلْنٰهُ اوداخل کړے وو مونږه دے فِيْ رَحْمَتِنَا ط په درحمت
خپل کښ یعنی په اهل درحمت خپل یا په جنت کښ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ بیشکه چه دے له ټولی ع ۵
دصالحانو وو وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى اویادکه نوح علیه الصلوٰة والسلام چه سوال ئے وکړ رب ته د
هلاك دقوم خپل چه ئے وویل رَبِّ[عه] لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا اودا سوال ئے کړے
وو مِنْ قَبْلُ مخواله ابراهیم اولوط علیهما السلام نه فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ پس قبول کړ مونږه دهٔ لره
سوال ددهٔ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ پس وساتهٔ مونږه هم دے اوهم عیال ددهٔ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۶﴾
له ډیره لوئیه غمه چه طوفان یا آزار دقوم وو وَنَصَرْنٰهُ اومددګاری وکړه مونږه له ده سره او
خلاص کړ مونږه دے مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ له هغه قومه نه كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ط چه نسبت د دروغو به ئے کولو
آیاتو ځمونږه ته اِنَّهُمْ كَانُوْا بیشکه چه وو دوئ قَوْمَ سَوْءٍ ټولے دبدئ چه هم ئے تکذیب
کولو اوهم ئے ایذا رسوله فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۷۷﴾ پس غرق کړه مونږه دوئ یعنی نارینه ښځے
مشران کشران وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ او یادکه داود او سلیمان علیهما السلام چه پلار او ځوی دی
سره یعنی قصه د دوئ **روایت دے** چه یوه ورځ دوه سړی راغلهٔ داود علیه الصلوٰة و
السلام له دپاره دشریعت یو دهقان یو باغوان چه نوم ئے اَیْلیا وو او بل شپون چه

عه معنیٰ داچه اے ربه ما باقی مهٔ پریږده په مخ د زمکے بانده لهٔ کافرانو یو اهل خانه یعنی ټول کافران په یو کرت هلاك کړه په عذاب خپل سره ۱۲

کتبه: محمد صادق (زهیر) چپرهارے ډاکوال

نوم ئې یُوْحَنَّا وو او ایلیا دعوٰی اوکړه چه د یوحنا رمه د شپې څما په کبنت یا په باغ کښې راننوتلې وه او دستا فصل ئې خوړلے دے بیا چه یوحنا وپوښتیدهٔ هغه وویل هم داسې ده نو داود علیه الصلوٰة و السلام دا سې حکم وکړهٔ چه دا رمه دِ ایلیا له ورکړه په عوض د هغه خوړلی کبنت کښې بیا چه سلیمان علیه الصلوٰة والسلام په دے حکم خبر شو او دے په دے وخت یوولس یا دیارلس کلنے وو نو پلار ته ئې وویل چه داسې حکم به ښهٔ وی چه رمه د ایلیا څخه وی امانت او په شودو به ورځ په اولاد دِ دے نفع اخلی او کبنت یا باغ دِ یوحنا څخه وی چه تربیت ئې کوی تر هغه چه پخوانی حال ته ورسیږی بیا دِ هر یو خپل امانت بیرته واخلی، نو داوٗد علیه السلام هم داسې حکم وکړهٔ لکه چه وائی اِذْ یَحْكُمٰنِ هغه چه حکم وکړهٔ دواړو فِي الْحَرْثِ په کبنت یا په انګور وکښې اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ چه وخړیدے د شپې په هغه کبنت یا باغ کښې بے شپونه غَنَمُ الْقَوْمِ ج کډے د هغه قوم وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ او وو موږ په حکم د دوئ شٰهِدِيْنَ ﴿۷۸﴾ قلے لا خبردار حاضر فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ج پس پوهه که موږ سلیمٰن علیه الصلوٰة والسلام ځکه چه په دے کښې یو هم بیخی نهٔ محروم کیږی لدے چه شرعی حکم داسې وو لکه چه داود علیه الصلوٰة والسلام کړے وو اما په دے حادثه کښې د سلیمان علیه السلام په خولے منسوخ شو او دا حکم د دوئ په شریعت کښې وو او په نزد دامام اعظم حکم داسې دے چه که څوک ورسره نهٔ وی نو ضمان نشته لقوله ۲۴ وَكُلًّا اٰتَيْنَا او هر یو ته له دوئ دواړو ورکړے وو موږ حُكْمًا وَّ عِلْمًا ز نبوت او علم وَّسَخَّرْنَا او مسخر کړی وو موږ مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ له داود علیه السلام سره غرونه يُسَبِّحْنَ چه تسبیح به ئې ویلو ورسره وَالطَّيْرَ ط او مرغان مسخر کړے وو موږ په تسبیح ویلو وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۷۹﴾ او یو موږ کوونکی دد اسې کارونو دے ته تعجب مهٔ کوئ وَعَلَّمْنٰهُ او زده کړے وو موږ ده ته صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ سازول د یو قسم اغوستن چه زغره ده تاسې لره آ بنی آدمو لِتُحْصِنَكُمْ د پاره د دے چه وساتی تاسې دا زغره وِّنْ م بَاْسِكُمْ له جنګه او له قتل ستاسې فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ پس آیا یئ تاسې شکر کوونکی په دے نعمت یعنی شکر یئ وباسئ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ او بل مسخر کړے وو موږ سلیمان علیه السلام ته باد عَاصِفَةً سخت او تند چه تخت د دهٔ به په میښخ د یو فرش کښې کیښودے شو. او کرسئ د وی پرانو ترے چاپیره او نور لښکر له کرسیو چاپیره او دا فرش څلویښت فرسخه وو لکه چه

شیخ عطارؒ په منطق الطیر کښې ویلي دي ـه گرچه شاد روان چهل فرسنگ داشت ٭ هم بنام نیم دانگ سنگ داشت
او دغه ټول به ئې وړل او وړې به ئې دیوې میاشتې مزل کولو او بل ځائې کښې دي رُخَآءً نرم به
وو داباد نو توفیق ئې داسې دې چه کله به دده سخت په کار وو نو سخت به شو او چه نرم به ئې په کار وو
نو نرم به شو تَجْرِيْ بِأَمْرِهٖ چه روانیده به په فرمان دده سره او رسولو به ئې دے اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ هغه
زمکې ته بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ چه برکت اچولے دے مونږه په هغه زمکه کښې چه هغه شام دے وَكُنَّا بِكُلِّ
شَيْءٍ او یو مونږه په هر څیز عٰلِمِيْنَ ﴿۸۱﴾ دانا آگاه وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ او بعض له دیوانو هم مسخر کړی
وو مونږه دهٔ ته یعنی مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ هغه دیوان چه غوټه کیږی دوئی دهٔ لره په سیند کښې د
پاره د راایستلو د جواهرو وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا او کوی دوئی دهٔ لره نور عمل دُوْنَ ذٰلِكَ ج غیر له غوټې
د سیند لکه سازول د محاریبو او تماثیلو او دقدورو او دقصورو او دجفانو لکه سورهٔ سبا کښې ذکر دی وَكُنَّا
لَهُمْ او وو مونږه دې دیوانو لره حٰفِظِيْنَ ﴿۸۲﴾ ساتونکی له بې فرمانئ د سلیمان علیه الصلوٰة والسلام
نه **روایت دے** چه ایوب علیه الصلوٰة والسلام چه له اولاده د عیص بن اسحاق بن
ابراهیم علیهم السلام نه وو او دے ډیر لوئې مالدار وو چه درې زره ئې اوښان او اوه زره ئې ګډې
او داسې ئې کښت وو او دې په اصل کښې د روم وو بیا چه پیغمبر شو نو شام ته ولیږلے شو ناګاه
اراده د رب وشوه نو ابلیس له پرې کینه راغله او رب ته ئې سوال اوکه چه دے ایوب بنده خپل له
د روغ صورت او ډیر اولاد او ډیر مال ورکړے دې نو ولې به ستا عبادت نهٔ کوی؟ زهٔ به ئې نفس له
ومنم چه دا ټول ترې واخلې او دے هم هغسې لا په اخلاص او په اطاعت کښې مشغول وی نو رب ورته
اجازه وکړه چه ځهٔ په هر څهٔ ئې مسلط اوسه چه تا ته ئې هم اخلاص معلوم شی بیا نو خپل لښکر
ئې ولیږه او اوښان ئې ټول په صاعقه هلاک کړهٔ او ګډې ئې په سیلاب یوړې او ځامن او لونړه ئې
تر دیوال لاندې کړه او کښت ئې په باد والوځولو او په صورت مبارک ئې پوکے وکه نو ټول وپرسیدهٔ
او نکئ شوے بیا خسا شو او چینجی ئې واچول او هیڅوك ورله نزدې نه ورته مگر ښځه ئې رحیمت
افرایم بن یوسف علیه الصلوٰة والسلام یا ماخیر بنت منیشا بن یوسف وه او درې یا اوهٔ یا اتهٔ
یا اتلس کاله ئې په دې حال تیر کړهٔ او چه ښځې به ورته وویل چه رب ته سوال وکړه نو ویل به ئې

چه څومره موده روغ وُم- دے ویل، اتیا کاله نو به ئے ویل چه شرمیږم چه هغه قدر رکلو نه خو چه
رنځ کښې تیر شی نو هلته به سوال وکړم بیا ناگاه چپه درحمت راغله پرے او باقی احوال ئے تخیله په قرآن
کښې بیان کړے لکه چه وائی وَاَیُّوۡبَ او یاده کړه قصه د ایوب علیه السلام اِذۡ نَادٰی رَبَّهٗۤ چه وبالله
رب خپل یعنی دا ئے وویل اَنِّیۡ مَسَّنِیَ الضُّرُّ چه بیشکه رسیدلے دے ماته رنځ او سختی وَاَنۡتَ اَرۡحَمُ الرّٰحِمِیۡنَ ﴿۸۳﴾
او ته ډیر مهربانه د ټولو مهربانانو ئے فَاسۡتَجَبۡنَا لَهٗ پس قبول کړ مونږ ده لره له سوال ددهٔ فَکَشَفۡنَا پس
لرے کهٔ مونږه مَا بِهٖ مِنۡ ضُرٍّ هر هغه چه په دهٔ پورے وو له رنځ او له سختی یعنی روغ کهٔ مونږه وَّاٰتَیۡنٰهُ اَهۡلَهٗ
او ورکړو مونږه دهٔ لره عیال ددهٔ یعنی هم هغه ځامن او لونړه ورته مونږه بیرته ژوندی کړه وَمِثۡلَهُمۡ
مَّعَهُمۡ او په مثل یعنی په شمار ددوئ له دوئ سره نور هم په دے شان چه ښځه ئے بیرته ځوانه شوه نو اوه
ځامن او لونړه ئے نور هم راوړهٔ او ابن عباس رض ویلی دی چه اولاد خوئے دوچند شو او هغه زنده سر
ئے هم دوچند وله راغلهٔ او سره ورېځ راغله او د سرو زرو ملخ پرے ډیر وورید هٔ رَحۡمَةً مِّنۡ عِنۡدِنَا دپاره
درحمت او انعام رسولو دهٔ ته له جناب ځمونږه داسے وشو وَذِکۡرٰی لِلۡعٰبِدِیۡنَ ﴿۸۴﴾ او بل دپاره دپند
اخستلو دنورو عبادت کونکیو چه دوئ هم دده په شان صبر وکړو چه بیا جزا بیا موی هم ددهٔ پشان
وَاِسۡمٰعِیۡلَ وَاِدۡرِیۡسَ وَذَا الۡکِفۡلِؕ او یاد که اسمعیل او ادریس او ذوالکفل یعنی څښتنان د برخے چه
الیاس یا زکریا یا یوشع بن نون دے (علیهم الصلوۃ والسلام) او ذوالکفل ځکه ورته وائی چه خدائ تخه
ئے برخه یعنی مرتبه ډیره لویه وه کُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۸۵﴾ داټول د صبر کونکو وو په سختیو د تکلیف
وَاَدۡخَلۡنٰهُمۡ فِیۡ رَحۡمَتِنَاؕ او راننه ایستلی وو مونږه دوئ په رحمت خپل کښې چه نبوت یا نعمت اُخروی
دے اِنَّهُمۡ مِّنَ الصّٰلِحِیۡنَ ﴿۸۶﴾ بیشکه چه دوئ له صالحانو وو وَذَا النُّوۡنِ او یاد که څښتن د ماهی چه
یونس علیه الصلوۃ والسلام دے اِذۡ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا هغه له قومه خپله په غصه دوئ ته چه ځما دعوت
ئے ولے قبول نهٔ کړو یا خپل ځان ته چه ولے بے صریح امره راووتم فَظَنَّ اَنۡ پس گمان ئے وکهٔ ددے
چه لَّنۡ نَّقۡدِرَ عَلَیۡهِ چه له سره به جاری نه کړو مونږه قدر او قضا خپله په دهٔ او دا ځکه چه دا نقدر له قدر
دے نهٔ له قدرت لکه چه ابن عباس رض ویلی وو معاویه رض کذا فی المدارک فَنَادٰی فِی الظُّلُمٰتِ اَنۡ
پس نعرے به ئے وهلے په درے تیارو کښې چه تیاره دشپے او تیاره دسیند او تیاره دنس د ماهی وه یعنی

داسے بہ ئے ویل چہ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ نشته معبود برحق هیڅوک مګر هم ته ئے یواځے سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّىْ
پاك ئے ته له هر عیبه بیشکه چه زهٔ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۷﴾ یم له ظالمانو چه وتلے یم له قومه بے
اذنه ستا او په حدیث کښې راغلی دی چه هر غمجن دا دُعا ووائی نو سوال به ئے قبول شی ځکه چه
متصل ورپسے راغلی دی چه فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ پس قبول کړه مونږه دهٔ لره دا دعا د دهٔ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ او
خلاص کړ مونږه دے له دغه غمه د ماهی او د سینه چه امر مو وکړو ماهی ته چه بیرون د سینه په غاړه یه وچه
ئے امانت واچوه او باقی قصه ئے په سورة یونس کښې ذکر ده وَكَذٰلِكَ نُـْۨجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾ او هم
داسے لکه چه دے خلاص کړ مونږه له دے غمه په برکت د دے دُعا سره هم دغسے به خلاصوو باقی مؤمنان
هم په دے دُعا سره وَزَكَرِيَّآ او یاد کړه زکریا علیه السلام یعنی قصه ئے اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ هغه چه
وبالهٔ دهٔ رب خپل یعنے داسے ئے ووېل رَبِّ لَا تَذَرْنِىْ فَرْدًا اے ربه مه پرېږده ما یواځے بے
فرزنده چه ځما وارث شی وَّاَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۸۹﴾ او ته چه ئے بهتر د ټولو وارثانو ئے فَاسْتَجَبْنَا
لَهٗ ۫ پس قبول کړو مونږه دهٔ لره سوال د دهٔ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى او ورکړو مونږه دهٔ لره فرزند یحیٰی نام وَ
اَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ او لائقه کړه مونږه دهٔ لره ښځه د دهٔ د پاره د ولادت پس له شنډوالی یا خوشخویه کړه مونږه
پس له دے چه بدخویه وه اِنَّهُمْ كَانُوْا بیشکه دا بیرته یاد شوی پیغمبران چه دی وو دوی يُسٰرِعُوْنَ فِى
الْخَيْرٰتِ چه جلتی به ئے کوله په طلب د نیکو کښې وَيَدْعُوْنَنَا او بللو به ئے مونږه رَغَبًا وَّرَهَبًا ؕ له جهته
د مینے په ثواب او د ویرے له عذابه وَكَانُوْا لَنَا او وو دوی مونږه لره خٰشِعِيْنَ ﴿۹۰﴾ تواضع کونکی
ویریدونکی وَالَّتِىْٓ اَحْصَنَتْ او یاد کړه هغه ښځه چه ساتلے وُو دے فَرْجَهَا فرج خپل هم له حلالو په
نکاح سره او هم له حرامو په سفاح "زنا" سره چه بی بی مریم وه فَنَفَخْنَا فِيْهَا پس پُو کړه مونږه په دے کښې
یعنی جبریل علیه الصلوٰة والسلام د دے په ګریوان کښې مِنْ رُّوْحِنَا له روح ځمونږه یعنی له هغه روح
چه خاص ځمونږه په امر سره ده یا له جهته د روحه ځمونږه چه جبریل علیه السلام دے وَ
جَعَلْنٰهَا وَابْنَهَآ او کړه مونږ دا بی بی مریم او ځوئ د دے چه عیسی علیه السلام دے اٰيَةً
لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۱﴾ یوه لویه نښه د قدرت ځمونږه تمام عالم له تر قیامته چه هغه پیدا کول د فرزند
دی بے پلاره اِنَّ هٰذِهٖٓ بیشکه دا ملت د توحید او د اسلام چه د ے چه تاسے لره استقامت پرے واجب دے

اُمَّتُكُمْ د املت ستاسے د ټولو اے مخاطبینو او دا اُمَّةً په معنیٰ د ملت دے اُمَّةً وَّاحِدَةً ﺻﻠﮯ په دے حال
چه هم دا یو ملت دے په ټولو دیا نوکښ تر آدم علیه السلام پورے یعنی توحید وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۹۲﴾
او زهٔ رب یم ستاسے پس عبادت کوئ څما خاص څما نهٔ د بل چا وَتَقَطَّعُوْٓا اوبرے کړه دے
تیرو امو اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ ط کار د دین خپل په خپل مینځ کښ یعنی ټوټے ټوټے په دے شان چه فرقے
فرقے شو سره څوک یهود او څوک نصارٰی او هر یو تکفیر د بل کوی كُلٌّ اِلَيْنَا رٰجِعُوْنَ ﴿۹۳﴾ ع بیا دا
ټول مونږ له راتلونکی دی فَمَنْ يَّعْمَلْ پس هر څوک چه عمل وکړ مِنَ الصّٰلِحٰتِ له نیکو
کارونو وَهُوَ مُؤْمِنٌ او حال دا چه دے مومن وی ځکه چه د کافر عمل بے بیخه دے چه ایمان ئے
نشته نو په عقبیٰ کښ هیڅ فائده نهٔ لری فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهٖ ج پس نشته بے قدری یعنی هیڅ بے
قدری نهٔ شی کولے د سعی د دهٔ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴿۹۴﴾ او بیشکه مونږه سعی د ده لره لیکونکی یو یعنی امر
کوو مونږه په کرام الکاتبین چه لیکی دوئ عملونه ئے او بیا به ئے په قیامت ورکوو دوئ له **ابیات**

بَادِرُوْا بِالْبٰقِيٰتِ الصّٰلِحٰتِ فَاِنَّهٗ لَا يُضِيْعُ اللّٰهُ فِي الدَّارَيْنِ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ
وَاسْمَعُوْا يَآاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا مِنْ رَبِّكُمْ فَاعْبُدُوْا حَتّٰى اَتٰكُمْ فِي الْعِبَادَاتِ الْيَقِيْن

او د بیرته راتلو حکم به نه وی دنیا ته د پاره د تدارک د اعمالو لکه چه وائی وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ او حرام یعنی منع
دے په اهل د هر هغه کلی باندے اَهْلَكْنٰهَآ چه هلاک کړی دی مونږه دوئ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۹۵﴾ دا کار
چه دوئ به بیرته وګرځی دنیا ته د پاره د تدارک او دا اهلکه لا زائده شی او که اصلی شی نو معنیٰ دا چه
حرام دی دا چه دوئ بیرته ورنهٔ شی خدائی لره په بعث سره د پاره د جزا د اعمالو اما اول قول مشهور تر
دے نو معنیٰ دا سے شوه چه حرام دے بیرته تګ ئے بلکه مدام به په عذاب وی په قبرونو کښ حَتّٰٓى اِذَا
فُتِحَتْ تر هغه پورے چه پرانستلے یعنی لرے کړے شی يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ دیوال د یاجوج او د ماجوج چه
دوه قبیلے دی له بنی آدمو او نهه برخے دوئ دی او لسمه برخه نور ټول بنی آدم دی وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ
او دوئ به له هرے لوړے يَّنْسِلُوْنَ ﴿۹۶﴾ را وځی به په جلتئ او منډے به وهی چه تمام جهان به
ونیسی او د سیند ونو او به به ټولے اوڅښی او وچ لاؤنده به ټول وخوری وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ او
نزدے شوه هغه وعده چه رښتیا ده چه قیامت دے او بیا هر کله چه واقع شوه فَاِذَا هِيَ پس ناڅاپه قصه په

داسے وی چه شَاخِصَةٌ اَبۡصَارُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا ؕ وارے او نیغے ختلے به ولاړے وی له دهشت د قیامته
سترګے د هغه کسانو چه کافران دی او وائی به دوئ یٰوَیۡلَنَا اے افسوس دے مونږ له قَدۡ کُنَّا په تحقیق
وو مونږه فِیۡ غَفۡلَةٍ په ناپوهئ په ناخبرئ کښ مِّنۡ هٰذَا له دے ورځے او له دے حاله په دنیا کښ بیا
له دے خبرے به اعراض وکه او وبه وائی چه بَلۡ کُنَّا ظٰلِمِیۡنَ ﴿۹۷﴾ بلکه وو مونږه ظالمان پخپل ځان
چه تکذیب موکولو د پیغمبرانو علیهم السلام د آیاتونو اِنَّکُمۡ وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ بیشکه تاسے چه یئ
اے مشرکانو او هغه هم چه عبادت ئے کوئ تاسے مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غیر له خدائ حَصَبُ جَهَنَّمَ ؕ
خس دے د دوزخ اَنۡتُمۡ لَهَا وٰرِدُوۡنَ ﴿۹۸﴾ تاسے سره د معبودانو خپلو دے دوزخ له ورتلونکی یئ د پاره د
لویدلو لَوۡ کَانَ هٰٓؤُلَآءِ که چرے وے دا بتان ستاسے اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوۡهَا ؕ په رښتیا خدایان نو نه به وو اهل داخل
شوی په دے دوزخ کښ وَکُلٌّ فِیۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۹۹﴾ دا ټول یعنی بُتان او بت پرستان په دے دوزخ کښ به
همیشه پراته وی او هیڅ شان به ئے د خلاصی نه وی لَهُمۡ فِیۡهَا زَفِیۡرٌ وی به دوئ لره په دوزخ
کښ زوېرګی او فریاد وَّهُمۡ فِیۡهَا لَا یَسۡمَعُوۡنَ ﴿۱۰۰﴾ او دوئ په دے دوزخ کښ هیڅ به نه اوری په سبب د
شور او زوک د دوزخ **روایت دے** چه هرکله آیت د اِنَّکُمۡ وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ تر خٰلِدُوۡنَ پورے
نازل شهٔ او رسول علیه السلام مشرانو د قریشو ته ولوست نو دوئ په دے ډیر خفه شو او ابن
زبعری ورته وویل چه یهود د عزیر علیه السلام عبادت کوی او نصارٰی د مسیح ؑ او بنو ملیح د ملائکو
نو له دے داسے معلومیږی چه دا درے واړه به هم له بتانو سره په دوزخ کښ وی او دهٔ دے ته فکر
نهٔ کولو چه مَآ خو د غیر ذوی العقول دے نو دوئ پکښ داخل نهٔ دی اما هرکله چه دوئ له
اهل عناد وو او په دے قدر ئے اکتفاء نهٔ کوله نو نازل شهٔ اِنَّ الَّذِیۡنَ بیشکه هغه کسان
سَبَقَتۡ لَهُمۡ چه لُمړے شوے دے دوئ له مِّنَّا الۡحُسۡنٰۤی ۙ له مونږه ډیره ښهٔ خصلت چه توفیق د
طاعت یا زیرے د ثواب یا هسے نیکبختی ده چه عزیر او مسیح او ملائک علیهم السلام دی اُولٰٓئِکَ دا کسان
چه دی عَنۡهَا مُبۡعَدُوۡنَ ﴿۱۰۱﴾ له دے دوزخ لرے کړے شوی به وی لَا یَسۡمَعُوۡنَ حَسِیۡسَهَا ج نهٔ
به اوری دوئ آواز د لمبے د دے دوزخ هم پاتے لا پخپله دوزخ یعنی داسے به ترے لرے کړے شوی

وی چه آواز به ئې هم نه وراسیږی وَهُمْ فِیْ مَا اشْتَهَتْ اودوئ به په هرهغه نعمتونوکښې وی
چه ارزو وئې کوی اَنْفُسُهُمْ زړونه د دوئ خٰلِدُوْنَ (۱۰۲) همیشه به وی لَا یَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَکْبَرُ نه
به خفه کوی دوئ هغه ویره ډیره لویه چه دوزخیان دوزخ ته وبللے شی یاچه دروازے د دوزخ پورے
شی یاچه مرګ ذبح کړے شی او غږ وشی چه یَآاَهْلَ النَّارِ لَکُمْ خُلُوْدٌ وَّلَا مَوْتَ وَیَآاَهْلَ الْجَنَّةِ لَکُمْ
خُلُوْدٌ وَّلَامَوْتَ وَتَتَلَقّٰهُمُ الْمَلٰٓئِکَةُ ط او مخے له به ئې راځی ملائک په هغه وخت چه له قبرونو
راوځی او ورته وائی هٰذَا یَوْمُکُمُ الَّذِیْ چه دا هغه ورځ ده ستاسے کُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ (۱۰۳) چه وئ تاسے
چه وعده درسره کړے شوے وه په دنیا کښې یَوْمَ نَطْوِی السَّمَآءَ یاد که هغه ورځ چه راتاؤ به کړو مونږه
نیچه مونږه دا آسمان کَطَیِّ السِّجِلِّ لکه راتاویدل د صحیفے لِلْکُتُبِ ط دپاره د حفظ د هغه مکتوبا تو چه په
دیکښې دی او دا هله که مصدر مضاف وی مفعول ته یالکه تاوُول د ملک یاد کاتب د رسول د مکتوباتو
که مضاف وی فاعل ته او سِجِل یاصحیفه ده یانوم دے د هغه ملک چه په وخت د مرګ کښې اعمالنامے
د بنی آدمو قبضوی یانوم دے د کاتب د رسول کَمَا بَدَاْنَآ لکه چه آغاز کړے وو مونږه اَوَّلَ خَلْقٍ
د اول پیدا کولو د دے عالم له عدم محض چه ډیر سخت وو نُّعِیْدُهٗ ط اعاده به ئې وکړو بیا او دا مری به
ټول ژوندی کړو **فایده** دے کَمَا کښې اشاره ده د دے خبرے ته چه په اول پیدا کولو تاسے قایل
یئ او هغه خو لا بے مادے بے صورته وو او اعاده خو نسبت هغه ته ډیره اسانه ده نو تاسے ولے ترے
منکریږی وَعْدًا عَلَیْنَا ط دا وعده کړے ده مونږه وعده لازمه پخپل ځان اِنَّا کُنَّا فٰعِلِیْنَ (۱۰۴) نو
بیشکه مونږه کونکی یو د هغه کار چه وعده م کړے ده وَلَقَدْ کَتَبْنَا او هرآئینه په تحقیق لیکلی وو
مونږه فِی الزَّبُوْرِ په زبور کښې چه کتاب د داود علیه السلام یامراد هر منزل دے له کتب سماویه
مِنْۢ بَعْدِ الذِّکْرِ پس له ثبت په لوح محفوظ کښې چه اول هلته لیکلے وه دا خبره اَنَّ الْاَرْضَ چه
بیشکه زمکه د جنت یاد شام چه ده یَرِثُهَا عِبَادِیَ الصّٰلِحُوْنَ (۱۰۵) میراث به واخلی دا زمکه
هغه بندګان ځما چه نیکان دی یعنی امت محمدی ؐ یا عام مؤمنان اِنَّ فِیْ هٰذَا بیشکه په

له معنیٰ دا چه اے اهل نار و یعنی دوزخیانو تاسے لره همیشه والے دے په دوزخ کښې او مرګ درلره نشته او اے
جنتیانو تاسے لره همیشه والے دے په جنت کښې او مرګ درلره نشته ۱۲

دے تیرو اخبارو او مواعیظو او مواعیدو کښې لَبَلٰغًا لِّقَوۡمٍ عٰبِدِیۡنَ ﴿۱۰۶﴾ هرآئینه کفایت یا سبب دے
د وصول مطلب ته دپاره دهغه قوم چه مدام په عبادت کښې مشغول دی یعنی اُمت د محمد صلی الله
علیه وسلم۔ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ او نهٔ یې لیږلے مونږه ته اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۱۰۷﴾ مګر رحمت دپاره د تمام عالم
ادمیانو دی که پیریان مؤمنانو له خوځاهر دے او کافرانو له دپاره د دے چه بیخ کندنهٔ شو د نورو اُمتو په شان سره
له عونبتلو دعذاب قُلۡ اِنَّمَا ووایه اے رسوله کافرانو ته چه بیشکه هم دا خبره ده یُوۡحٰۤی اِلَیَّ چه پیغام
کولے شی ماته اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمۡ دا سے چه بیشکه معبود ستاسے چه دے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج خدائے دے یواځے
چه په خدائی کښې بل شریک نهٔ لری فَهَلۡ اَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴿۱۰۸﴾ پس ایا یئی تاسے غاړه ایخودونکی
دے خبرے ته فَاِنۡ تَوَلَّوۡا پس که شاکره دوئی اودا توحید یې قبول نهٔ که فَقُلۡ اٰذَنۡتُكُمۡ پس ووایه
دوئی ته چه اګاه م کړئ په دے عَلٰی سَوَآءٍ ط په دے حال چه برابر یو سره نهٔ او تاسے په دے پوهه
کښې یا غوږم درباندے وکه د جنګ چه ورته تیار شئ وَاِنۡ اَدۡرِیۡۤ او نهٔ پوهیږم زهٔ په دے چه
اَقَرِیۡبٌ اَمۡ بَعِیۡدٌ ایا نزدے دے او که لرے دے مَّا تُوۡعَدُوۡنَ ﴿۱۰۹﴾ هغه عذاب یا قیامت چه وعده
یې کولے شی له تاسے سره اِنَّهٗ یَعۡلَمُ الۡجَهۡرَ بیشکه چه دے پوهیږی په ښکاره مِنَ الۡقَوۡلِ له ګفتاره
بلکه له کرداره هم وَیَعۡلَمُ مَا تَكۡتُمُوۡنَ ﴿۱۱۰﴾ او همدا سے پوهیږی په هرهغه حسد او حقد چه پټوئ
یې تاسے وَاِنۡ اَدۡرِیۡ او نهٔ پوهیږم زهٔ لَعَلَّهٗ فِتۡنَةٌ لَّكُمۡ چه ښائی دا تاخیر د عذاب ازمیښت وی
تاسے له یعنی استدراج وی وَمَتَاعٌ اِلٰی حِیۡنٍ ﴿۱۱۱﴾ او برخورداری او معاش وی تر یو وخته مقدره
پورے قٰلَ بیا و ویل رسول علیه السلام رَبِّ احۡكُمۡ بِالۡحَقِّ ط اے ربه حُما حکم وکړه حُما او د
اهل مکې په مینځ کښې په حق سره وَرَبُّنَا الرَّحۡمٰنُ الۡمُسۡتَعَانُ او رب حُمونږه چه دے ډیر
مهربان دے په مطیعانو مددګاری غوښتے شوے ده له ده څخه عَلٰی مَا تَصِفُوۡنَ ﴿۱۱۲﴾ په هرهغه
څیز چه صفت یې کوئ تاسے او وایئ چه هغه عذاب ستاسے ولے نهٔ راځی۔

سورة الحج مدنیة — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ — اٰیاتها ۷۸ رکوعاتها ۱۰

یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اے خلقو دا خطاب عام دے ټولو مکلفانو ته ورته وائی چه اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ ح ان

وساتیٔ او وویریږی دعذاب درب خپل نه اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ بیشکه هغه زلزله چه نښه د قیامت ده

او یخوا ده له ختلو د نمر له طرفه د مغرب شَيْءٌ عَظِيمٌ ﴿١﴾ یو څیز دے ډیر لوئ هولناك يَوْمَ تَرَوْنَهَا

په هغه ورځ چه ووینئ تاسے دا زلزله یا قیامت تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ چه غافله به شی هرښځے ورکونکے له

هیبت د دے ورځے عَمَّا أَرْضَعَتْ له هغه فرزنده چه تے به ئے ورکولو هغه له وَتَضَعُ او کیبه بږدی یعنی

وبه غورځوی كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا میرمن د حمل بچے خپل یعنی له ډیره هیبته به حاملے ښځے تو لے

بچي د غورځوی وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَىٰ او وینے به نه خلق بیخوده له غلبے د دهشته وَمَا هُمْ بِسُكَارَىٰ

او حال دا چه نهٔ به وی دوئ په واقعه کښ بیخوده وَلَٰكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ ﴿٢﴾ او لیکن عذاب د

خدائ سخت دے وَمِنَ النَّاسِ او بعض له خلقو مَنْ يُجَادِلُ هغه څوك دے چه جګړه کوی فِي اللَّهِ

په خدائ یعنی په کتاب د ده لکه نضر بن حارث چه وائی ملائک لونړه دی د خدای او قرآن قصے دی

د پخوانیو او بعث نشته بِغَيْرِ عِلْمٍ بے پوهے او بے دلیله وَيَتَّبِعُ او پیروی کوی د كُلَّ شَيْطَانٍ مَرِيدٍ ﴿٣﴾

د هر شیطان سرکش گمراه كُتِبَ عَلَيْهِ أَنَّهُ چه لیکلے شوے دے په هغه په ازل کښ دا چه بیشکه شان

دا دے مَنْ تَوَلَّاهُ چه هر څوك دوستی او متابعت وکړی د ده فَأَنَّهُ يُضِلُّهُ وَيَهْدِيهِ پس بیشکه دا

شیطان چه دے گمراه کوی د اتابع خپل او بیائی ئے إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ ﴿٤﴾ عذاب د دوزخ ته يَا أَيُّهَا النَّاسُ اے

خلقو یعنی کفارو منکرانو له بعث إِنْ كُنْتُمْ که چرے یئ تاسے فِي رَيْبٍ په شك کښ مِنَ الْبَعْثِ له بیا

ژوندونه نو نظر وکړئ اول حال خپل ته چه فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ پس بیشکه پیدا کړی یئ مونږه تاسے

یعنی نیکه ستاسے چه آدم علیه السلام دے مِنْ تُرَابٍ له خاوره ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ پیدا که مونږه اولاد

د دهٔ له اوبو د منیٔ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ بیا له پارچے د کلکو وینو ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ بیا له غوښو مُخَلَّقَةٍ

بعضے پیدا کړے شوے پوره چه هیڅ عیب او نقصان پکښ نهٔ وی وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ او بعضے پیدا کړے

شوے ناسازه ناتمام چه څنے اجزاء ترے نقصانی وی **فائده** دا مضغ خدائ متفاوتے پیدا

کړے نو بعضے ترے کامل الخلقت دی خالی له هره عیبه او بعضے د دوئ په عکس دی بیا د دے

تفاوت له جهته دا مخلوق هم متفاوت شو په حسن په قبح په طول په قصر په شکل په رنګ په خوئ په خصلت

کښ کذا فی المدارك او دا نقل چه دے له یو حال نه بل حال ته لِنُبَيِّنَ لَكُمْ د پاره د دے چه بیان

او بنکاره کړو موږ ده تاسې ته قدرت خپل چه استدلال وکړئ له ابتداء په اعاده او په بعث قایل شئ
وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ او اقرار ورکوو په ارحامو کښې مَا نَشَاءُ هغه مضغ له چه اراده وشي ځمونږ ده دے
چه دا دِ په رحِم کښې کمال ته ورسیږی او خام تر ونهٔ لویږی إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى تر هغه وخته پورے چه په نامه
کړے شویدے د پاره د ولادت ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا بیا راو باسو موږ ده تاسې هلکان د مینډو له نسونو
یعنی دا ضعیف چه په خپل خیر و شر هیڅ قدر قادر نهٔ او سئ ثُمَّ لِتَبْلُغُوا بیا تربیت کوو ستاسو
پاره د دے چه ورسیږئ تاسې أَشُدَّكُمْ کمال او قوت خپل ته چه له دیرشو کلو نو دے تر څلو پښتو پورے
وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ او بعضے له تاسې هغه څوک دی چه مړ کړے شی یعنی په وخت د بلوغ یا لږ ترے پخوا
یا لږ ترے پس وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ او بعضے له تاسې هغه څوک دی چه رد کولے شی یعنے ژوندی پریښودے
شی چه ورسیږی إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ دیر بنکته او ضعیفے د مرتبے د عمر ته لِكَيْلَا يَعْلَمَ د پاره د دے چه نهٔ پوهیږی
مِن بَعْدِ عِلْمٍ پس له پوهے یعنے پس له هغه چه په هر څیز پوهه وی او بیا په سبب د بیرته پریوتلو
د ټولو قوی بدنیو هغه حد له ورشی چه نهٔ پوهیږی شَيْئًا په هیڅ څیز او س بل دلیل تیروی
په بعث نو وائی وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً او بل دا چه وینے به ته زمکه مړه چه فَإِذَا أَنزَلْنَا پس په هغه وخت
چه راکوزے کړو موږ ده عَلَيْهَا الْمَاءَ په دے او به له طرفه د اسمانه اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ نو وخوځیږی او را
پورته شی په ګیاه باندے وَأَنبَتَتْ او زرغون کړی مِن كُلِّ زَوْجٍ له هر قسمه د نباتاتو بَهِيجٍ ⑤ بنائسته
تازه تر چه لیدونکی ئے خوشحالیږی ذَٰلِكَ دا چه ذکر شو بیرته له پیدا کولو د بنی ادمو او د ژوندئ کولو
د زمکے بِأَنَّ اللَّهَ په سبب د دے چه بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْحَقُّ دے ثابت دے او موجود دے
وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ او بل له دے جهته چه بیشکه دے ژوندی کوی به مړی لکه چه ژوندئ کړے
ئے ده نطفه او زمکه وَأَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ⑥ او بل له دے جهته چه یقینی معلوم شی چه بیشکه
دے په هر څیز قادر دے وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ او بل له دے جهته چه یقینی معلوم شی چه بیشکه قیامت
راتلونکے دے لَّا رَيْبَ فِيهَا نشته هیڅ شک په هغه کښې وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ او بل له دے جهته
چه یقینی معلوم شی چه بیشکه خدائ به بیا ژوندی راپاڅوی مَن فِي الْقُبُورِ ⑦ هر هغه
څوک چه په قبرونو کښې پراته دی د پاره د حساب او د جزا او په دے وار دلیل دا وعده

چه كَمَا بَدَاْنَا اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ؕ وَمِنَ النَّاسِ او بعض له خلقو مَنْ يُّجَادِلُ هغه څوك دى چه
جګړه کوى فِى اللّٰهِ په خدائ کښ يعنى په قدرت يا په کلام دده کښ لکه ابوجهل او تابعان دده
بِغَيْرِ عِلْمٍ بے له پوهے چه ورکړے شوے وى ده لره وَّلَا هُدًى او نه کومه رهنمائى چه ده ته شوے
وى له موښږه وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿۸﴾ او نه کوم کتاب واضح چه په هغه کښ ئے کوم دليل ليدلے وى په حق
والى خپل يعنى له دے څيزونو يو هم نشته ورته بلکه محض عناد او جهل جګړه کوى ثَانِىَ عِطْفِهٖ
په دے حال چه تاوونکى وى د ګردن خپل له ډيره کبره يا له خياله او جګړه کوى لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ ؕ دپاره دے چه ګمراه که او واړوى خلق له لارے دخدائ لَهٗ فِى الدُّنْيَا خِزْىٌ مقرر ده
ده لره په دنيا کښ رسوائى او شرمندګى لکه چه په ورځ دبدر واقع شوه وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ او
وبه څکوو موښږه په ده په ورځ دقيامت عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۹﴾ عذاب دسيزونکى او راوبه وايو موښږ
ده ته چه ذٰلِكَ دا عذاب او شرمول چه دى بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ په سبب دهغه عملونو ده چه مخوا
ليږلى دى دواړو لاسونو ستا وَاَنَّ اللّٰهَ او بل په سبب د دے چه بيشکه خدائ لَيْسَ بِظَلَّامٍ
لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۰﴾ ع نه دے ظلم کوونکے هيڅ قدر په بندګانو خپلو **روايت دے** چه بعض اعراب مدينے
له راغلهٔ او ايمان ئے راوړه بيا نو که څوك به له دوئ روغ وو او ښځے به ئے ځوئ راوړ او اسپے به
ئے ښه بيانزه راوړه او نور مال به ئے هم ورځ په ورځ زياتيده نو ويل به ئے چه اسلام راپورے
ښهٔ شو او زړهٔ به ئے په اسلام خولهٔ ولګوله او که به کار ددے په عکس دده وو نو ويل به ئے چه
اسلام راپورے ښهٔ نهٔ شو او بيرته به مرتد شو نو نازل شو وَمِنَ النَّاسِ او بعض له خلقو مَنْ يَّعْبُدُ
اللّٰهَ هغه څوك دى چه عبادت کوى دخدائ عَلٰى حَرْفٍ ج په څنډه ددين نه په مينځ او په زړه ددين کښ
لکه څوك چه په کناره دښکر کښ ولاړ وى نو که برے ووينى هم هلته کلك شى او که لړے ووينى نو
وتختى فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ﹰ اِ پس که چرے ورسيږى ده ته کوم خير لکه صحت او سلامتى شوه په نفس
يا په مال کښ اطْمَاَنَّ بِهٖ ج نو په ارام شى په سبب ددے خير او ثابت شى په دين کښ وَاِنْ اَصَابَتْهُ
فِتْنَةُ ﹰ اِنْ او که ورسيږى ورته کوم ازمينت لکه مرض يا فقر يا داسے نور څه انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ثمّ نو بيرته
ګرځى په مخ خپل يعنى بيرته کفر ته وګرځوى او دين ته شا کړى خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ط نو زيانکار ده

شو هم په دنیا کښې چه مراد ته ونهٔ رسیدهٔ او هم په اخرت کښې چه محل ئے باطل شو او ځائی ئے دوزخ
شو ذٰلِكَ دا زیان دو اړو جهانو چه دے هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ⑪ هم دا زیان دے ښکاره يَدْعُوْا مِنْ
دُوْنِ اللّٰهِ بولی یعنی عبادت کوی غیر له خدائی مَا لَا يَضُرُّهٗ هغه بُت چه هیڅ ضرر نه شی رسولے دهٔ
ته که عبادت ئے ونهٔ کهٔ وَ مَا لَا يَنْفَعُهٗ او هغه چه هیڅ نفع نهٔ شی ور رسولے کهٔ عبادت ئے وکړلو
هر کله چه کار داسے شو نو ذٰلِكَ دا عبادت ددهٔ چه دے هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ⑫ هم دا گمراهی ده ډیره
لوے له مطلبه يَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗ بولی دے هغه څوک چه ضرر دهغهٔ چه قتل د دنیا او عذاب د
آخرت دے او د الام زائد دے اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ډیر نزدے دے له نفع دهغه چه امید دے د شفاعت
لَبِئْسَ الْمَوْلٰى هر ائینه بد مددګار دے وَ لَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ⑬ او هر ائینه بد ملګرے دے ددهٔ دا بُت
اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائی يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ننه به باسی هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے
وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دنیکو جَنّٰتٍ تَجْرِيْ هغه باغونو کښې چه بهیږی به مِنْ تَحْتِهَا
الْاَنْهٰرُ لاندے دبنګلو یا دونو دهغو خلور واړه قسمه ولے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائی يَفْعَلُ مَا
يُرِيْدُ ⑭ کوی هر هغه چه اراده ئے وشی له اکرامه د مطیع او له اعانته د عاصی **روایت دے**
چه هر کله یو طائفے د عطفان توقف کاوو په قبول د اسلام کښې او ویل به ئے چه دا کار د محمد
(صلی اللّٰه علیه وسلم) نهٔ دے ترسره کیدلو او هغه دوستی او محبت څمونږه چه د یهود و سره دے هغه
به راسره قطع شی او ددهٔ به هیڅ مدد را ونهٔ رسیږی نو نازل شهٔ مَنْ كَانَ يَظُنُّ هر څوک چه دا سے
وی چه گمان کوی اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ دے چه له ده سره به مددونه کاله دے رسول علیه الصلوٰة و
السلام سره خدائی فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ هم په دنیا کښې په غالب کولو په دشمنانو او هم په آخرت کښې
په قرب او په شفاعت فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ پس میاید چه وغزوی یو پړے اِلَى السَّمَآءِ اسمان ته
یا بام د کوټے خپلے ته او په لګرو پورے د وتړی او ځان د اویزان که ثُمَّ لْيَقْطَعْ بیا میاید چه د
پریکه دا پړے چه راپریوزی په زمکه او مړشی یا معنیٰ دا چه پړے د وتړی په اسمان پورے او د اسمان فت
د قطع که چه ور سیږی اسمان ته او نصرت قطع کاندے ځما له رسوله فَلْيَنْظُرْ پس میاید چه وګوری
چه سره له دوه مره مشقتو نو هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ چه ایا بیایئی د افریب او حیله ددهٔ په حصار ولود

نصرت کښې له رسول صلی الله علیه وسلم څخه مَا يَغِيظُ (۱۵) هغه څیز چه په غضب کړے ئے دے دے
وَكَذٰلِكَ او په مثل د دالیرلو د څمو نږه دا تیرا بیتونه اَنۡزَلۡنٰهُ رالیږلے دے مونږه دا قرآن اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ايتونه
ښکاره هم په احکامو هم په اخبار وکښې چه ښه معلوم شی تا سے وَّ اَنَّ اللّٰهَ او بل دا یاره د دے چه بیشکه
خدائ يَهۡدِىۡ مَنۡ يُّرِيۡدُ (۱۶) سمه لاره ښائی په دے قرآن سره هر هغه چا ته چه اراده ئے وشی د هدایت
د هغهٔ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بیشکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَالَّذِيۡنَ هَادُوۡا او هغه
کسان چه یهودیان دی وَالصّٰبِـِٕيۡنَ او ستورو ته سجده کونکی چه دی وَالنَّصٰرٰى او نصرانیان
چه دی وَالۡمَجُوۡسَ او مجوس چه دی وَالَّذِيۡنَ اَشۡرَكُوۡۤا ۖ او هغه کسان چه شریکان نیسی له
خدای سره یعنی بت پرستان اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ بیلتون به وکه په مابین دے ټولو شپږو
وارو طائفو کښې يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ په ورځ د قیامت په دے شان چه مؤمنان به په جنت کښې داخل کړی
او دا نور پنځه واړه په دوزخ کښې چه محق او مبطل سره ممتاز شی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ عَلٰى كُلِّ
شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ (۱۷) په هر څیز شاهد او اګاه دے اَلَمۡ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ ایا نهٔ وینے یعنی نهٔ یو هیږے ته
چه بیشکه خدائ چه دے يَسۡجُدُ لَهٗ سجده کوی دهٔ ته مَنۡ فِى السَّمٰوٰتِ هر هغه څوک چه په اسمانونو
کښې دی اما ملایک سجده د طوع او باقی اشیاء سجده د تسخیر کوی وَمَنۡ فِى الۡاَرۡضِ او هر هغه څوک
چه په زمکه کښې دی مؤمنان سجدهٔ د طاعت او نور سجده د تذلّل او د خضوع وَالشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ او نمر
او سپوږمۍ هم په پریوتلو سره پس له ختلو وَالنُّجُوۡمُ او ستوری هم دا سے وَالۡجِبَالُ او غرونه هم په
بهید لو د چینو او په پرورش د کانونو وَالشَّجَرُ او ونے هم له جهته د سوریو وَالدَّوَآبُّ او چارپایان هم
په هیبت تګ سره وَكَثِيۡرٌ مِّنَ النَّاسِ ؕ او زیات له آدمیانو هم چه مؤمنان دی په سجده د طاعت او د
عبادت وَكَثِيۡرٌ او ډیر دی له آدمیانو په سبب د کفر او ابا له سجدے حَقَّ عَلَيۡهِ الۡعَذَابُ ؕ لایق شوے
دے په دوئ یعنی دوئ لره عذاب وَمَنۡ يُّهِنِ اللّٰهُ او هر څوک چه خوار که خدائ فَمَا لَهٗ مِنۡ مُّكۡرِمٍ ؕ
پس نشته هغه لره عزت ورکونکے هیڅوک په سعادت یا په هدایت یا په توفیق اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
چه خدائ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ ؕ (۱۸) ۩ السجدة کوی هر هغه کار چه اراده ئے وشی د چا اهانت وکه او د چا اکرام
وکړی روایت دے چه هر کله یهودو او مومنانو سره جګړه او کړه دا سے چه یهودو و ویل مونږه

له تاسے بنۀ لائق یو د نزدے والی خدائی ته ځکه چه پیغمبر حمونږه پخوادے له پیغمبرستاسے او کتاب
حمونږه پخوادے له کتاب ستاسے او مومنانو وویل چه مونږه له تاسے بنۀ لائق یو ځکه چه مونږه ایمان
راوړے دے هم په خپل پیغمبر او هم ستاسے په پیغمبر او هم د دواړو په کتابونو چه خدائی رالیږلی دی
او تاسے ته ډیر بنۀ معلوم دے حمونږه پیغمبر او کتاب له تورات او له ډیره حسده ایمان پرې نۀ راوړی
نو نازل شو هٰذٰنِ خَصْمٰنِ دا دواړه طائفے چه مؤمنان او کفار دی جګړه کونکی دی سره دواړه هر یو
له بله سره اخْتَصَمُوْا فِیْ رَبِّهِمْ ز چه جګړه ئے برپا یے کړے ده په خپل رب کښ یعنی په دین یا په ذات
او صفا تو ده کښ او څوک وائی چه مراد له دے خصمینو هم هغه تیر شوی شپږ دی چه مؤمنان
یو خصم او دا نور نیځه واړه بل خصم دے بیا د هر یو خصم جزائے بیان کړه دکفارو په دے قول چه فَالَّذِیْنَ
کَفَرُوْا پس هر چه هغه کسان دی چه کافر شوی دی لکه دا تیرے پنځه طائفے قُطِّعَتْ لَهُمْ وخکلے شوے
دوئی له ثِیَابٌ مِّنْ نَّارٍ جامے له اوره په انداز ه د قدرد دوئی چه له سره تر قدمه پکښ جلبل کیږی او
سوزی یُصَبُّ بیا توئی به کړے شی مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِیْمُ ﴿۱۹﴾ پاس د سر د پاسه د دوئی او به
ځتکیدلے یُصْهَرُ بِهٖ چه ویلے به کړے شی په دے او سره مَا فِیْ بُطُوْنِهِمْ هر هغه چه په درونو د دوئی کښ دی
یعنی کلمے او زړۀ او انیته او پیوس او پختورګی او باقی وازده وَالْجُلُوْدُ ﴿۲۰﴾ او پوستکی هم یعنی دا او به به
درونه او بیرونه کښ په یو شان تاثیر کوی له غلبے د حرارته وَلَهُمْ مَّقَامِعُ او وی به دد دریاب دپاره ګرزونه
مِنْ حَدِیْدٍ ﴿۲۱﴾ له اوسپنے څخه چه دوئی به پرے په سر سروهلے کیږی کُلَّمَآ اَرَادُوْٓا هر کله چه اراده وکړی
دوئی اَنْ یَّخْرُجُوْا ددے چه ووزی دوئی مِنْهَا له دے اوره مِنْ غَمٍّ له جهته د هغه خفګان چه په
دوئی به وی په سبب ددے عذاب اُعِیْدُوْا فِیْهَا نو بیرته به راوغورځولے شی په دے او رکښ په ګذارونو
دګرزونو سره او یا کال مزل ښکته وَذُوْقُوْا او و به ویلے شی ورته چه وڅکئ تاسے عَذَابَ الْحَرِیْقِ ﴿۲۲﴾
عذاب د دے سیزونکی اور او د مؤمنانو په دے قول سره چه اِنَّ اللّٰهَ بے شکه چه خدای یُدْخِلُ الَّذِیْنَ
اٰمَنُوْا ننه به باسی هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے په خدائی او په رسول وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او
عملونه کوی دنیکو جَنّٰتٍ تَجْرِیْ په هغه باغونو کښ چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے د بنګلو یا د
ونو د هغو ځلور قسمه یُحَلَّوْنَ فِیْهَا چه وابه غوستولے شی دوئی ته په دغه مِنْ اَسَاوِرَ وخی چه وی

مِنْ ذَهَبٍ له سروزرو وَّ لُؤْلُؤًا ا او ملغلرے یعنے جړاؤ کړے په وخیو او دا عطف دے په محل د اَسَاوِرَ
وَلِبَاسُهُمْ او اغوستن د دوئ چه دے فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۲۳﴾ په دے جنتونو کښې د ریخمو به وی وَهُدُوْٓا اِلَى
الطَّيِّبِ او لاره به وخودے شی دے مؤمنانو ته په طرف د ښه پاك مِنَ الْقَوْلِ ۚ له گفتاره څخه چه لَآ اِلٰهَ
اِلَّا اللّٰهُ دے وَهُدُوْٓا اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴿۲۴﴾ او برابر به کړے شی دوئ لارے د خدائ ستائیلے شوے ته
چه هغه دین دے د اسلام اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چه کافر شوی دی وَيَصُدُّوْنَ او
اړوی خلق عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لارے د خدائ یعنے له دین د اسلام وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِيْ او له هغه
مسجد حرام یعنی منع کوی خلق له دخوله په هغه مسجد حرام کښې جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ چه گرځولے دے
موږ هٔ دا مسجد حرام دپاره د ټولو خلقو سَوَآءَۨ برابر چه تخصیص نشته په دهٔ کښې په کومے طائفے پورے
بلکه په یو شان دی پکښې دواړه طائفے الْعَاكِفُ فِيْهِ وَالْبَادِ ۭ چه یو مقیم دے په دیکښې او بل افاقی دے
چه له اطرافو ورله راغلے وی او دا سواء مفعول ثانی دے د جعلنا بیا دے شبه فعل دے او العاکف ئے
فاعل دے او بل دا چه خبر د اِنَّ محذوف دے او دلالت کوی پرے جزا د هغه شرط چه مخکښې ذکر دے
وَمَنْ يُّرِدْ او هر څوك چه اراده وکهٔ فِيْهِ بِاِلْحَادٍۢ په دے حرم کښې د الحاد یعنے د چپید لو له لارے د حق
بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ په طریقه د ظلم سره نو وبه څکوو موږ هٔ دهٔ ته مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۵﴾ ع له عذاب دردناك ع ۳ ۱۰
څخه وَاِذْ بَوَّاْنَا او یاد که هغه چه ښکاره کهٔ موږ هٔ لِاِبْرٰهِيْمَ ابراهیم علیه الصلوة و السلام ته مَكَانَ
الْبَيْتِ ځائ د هغه بیت چه پخوا ملایکو ساز کړے وو له سرو یاقوتو څخه پخپل خلا فت کښې بیا په
طوفان کښې اسمان ته یو وړے شو بیا ابراهیم علیه الصلوة و السلام ته ځائ د هم هغه بیت
رب معلوم کهٔ دا سے چه باد راغے او د پخوانیو دیوالونو ځایونه ئے جارو کړهٔ نو هلته دهٔ کوټه بنا کړه
او بیا چه ساره کړه نو موږ ورته پیغام وکهٔ اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْـًٔا دا سے چه شریک مهٔ نیسه له ما سره هیڅ
څیز وَّطَهِّرْ بَيْتِيَ او پاك که دا بیت ځما له بتانو او له نورو ناپاکیو لِلطَّآىِٕفِيْنَ دپاره د طواف کوونکو وَ
الْقَآىِٕمِيْنَ او دپاره د او سیدونکو په مکه کښې وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۲۶﴾ او دپاره د رکوع کوونکو سجده یعنے دپاره
د مصلیانو وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ او غږ وکه په خلقو کښې بِالْحَجِّ په حج سره او حج لوئے قصد ته وائی غټ
مطلوب ته نو په غږه د ابو قبیس وخوت او نعرے ئے کړے چه يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ رَبَّكُمْ بَنٰى بَيْتًا وَّاَوْجَبَ عَلَيْكُمْ

الْحَجِّ فَأَجِيبُوْا رَبَّكُمْ اوخلور واړو جانبو ته ئے مخ وګرځولو شرق ته غرب ته یمین ته شمال ته نو د

چاچه نصیب وو په حج کولو کښې هغهٔ داغږ واوریدهٔ اوجواب ئے ورکه داچه لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ اګر

کۀ په ارحامو یا په اصلابو کښې وو هم اوجواب دا مردادے يَأْتُوكَ رِجَالًا چه راشی دوئ تاته بعض

پیادګان یعنی پلی اودا اول یاد شو چه فضیلت په دے کښې ډیر دے وَعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ اوبعض سوارهٔ په

خوار اوښ باندے هسے اوښان يَأْتِيْنَ چه راځی دوئ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿۲۷﴾ له هرے لرے لارے لِيَشْهَدُوا

دپاره دد چه راشی اوحاضرشی مَنَافِعَ لَهُمْ هغه نفعوته چه مقرر دی دوئ له خاص په دغه عبادت

سره ددنیا اوهم ددین وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ اوبل دپاره دد چه یاد کهٔ دوئ نوم دخدائ فِيْ أَيَّامٍ

مَّعْلُوْمٰتٍ په هغه ورځو کښې چه معلومے دی چه په نزد د امام اعظم رح لس د ذی الحجے دی چه آخر

ئے یوم النحر دے او په نزد د صاحبینو درے ورځے دی د نحر یعنی چه یاد که دوئ نوم دخدای عَلٰى

مَا رَزَقَهُمْ په ذبح د هرهغه څیز چه روزی ورکړے ده خدائ دوئ ته مِنْ بَهِيْمَةِ الْأَنْعَامِ له

بے زبان چارپایانو لکه اوښان اوغوایان او ورځ او ګډے شوے چه په ورځ د اختر اوده ورځو ورپسے

حلالولے شی فَكُلُوْا مِنْهَا پس خورئ پخپله هم له غوښو د هغوئ په طریقه د اباحت سره وَأَطْعِمُوا الْبَآئِسَ

الْفَقِيْرَ ﴿۲۸﴾ اوهم وخوروئ په نادار تنګدست باندے اعلم ان الحج فی اللغة مطلق القصد وفی الشرع

قصد البيت الحرام قال الله تعالٰى وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا فاردت ان

ابين جميع احكامه وهی عشرة شرائط وجوبه وفرائضه وواجباته وسننه وادابه واشهره ومواقيته

ومنهياته وكيفية ادائه وَاَمَّا شرائط وجوبه فسبعة الاسلام والحرية والبلوغ والصحة والبصر والزاد

مع الراحلة وامن الطريق وَاَمَّا فرائضه فثلثة الاحرام والوقوف بعرفات وطواف الزيارة وَاَمَّا واجباته فخمسة

السعی بين الصفا والمروة والوقوف بمزدلفة ورمی الجمار والحلق اوالقصر وطواف الصدر للآفاقی

وَاما ماسوٰی تلك الثمانية فسنن وآداب وَاما اشهره فثلثة شوال وذوالقعده وعشر ذی الحجة

ولذا كره الاحرام قبلها وَاما مواقيته فثلثة اقسام لاهل مكة دويرة اهله ولاهل الحرم الحل مطلقاو

لاهل الآفاق خمسة اماكن فللمدنی ذوالحليفة وللعراقی ذات عرق وللشامی جحفة وللنجدی قرن

له معنی داچه اے خلقو بیشکه رب ستاسو جوړ کړو کور او واجب ئے کړو په تاسے قصد د تللو هغے ته نو قبول کړئ بلنه د رب خپل ۱۲

وللیمنی یلملم وحرم التاخیر عنها للافاق المرید دخول مکة **و** اما کیفیة الاحرام فان یتوضأ والغسل افضل ویلبس ازارا ورداءً جدیدین او غسیلین غیر مخیطین یتطیب ثم یصلی رکعتین ثم قال المفرد اللّٰھم انی ارید الحج فیسرہ لی وتقبلہ منی ثم لبی بنیة الحج ای قال لبیک اللّٰھم لبیک لاشریک لک ان الحمد والنعمة لک والملک لک لاشریک لک فاذا قال ذلک صار محرمًا **و** اما منہیاتہ بعد الاحرام فعشرون الرفث والفسوق والجدال وقرب النساء وقتل صید البر والاشارة الیہ والدلالة علیہ والتطیب وقلم الظفر وستر الوجہ والراس وغسل الراس واللحیة وقصہا وحلقہ وشعر سائر البدن ولبس المخیط والعمامة والخفین والمصبوغ بطیب غیر الحذر وجاز الاغتسال ودخول الحمام والاستظلال بالبیت اوالمحمل وشد الہمیان فی الخصر ویکثر التلبیة الاسیما فی خمسة اوقات بعد الصلوة وعند الرفع والہبوط وملاقات الرکبان وفی وقت السحر ھذا قبل دخول مکة واما اذا دخلہا فلیبدأ بالمسجد اذا رای البیت کبر وھلل ودعٰی ثم استقبل الحجر الاسود واستلمہ ان قدر والامسہ بعصاہ وقبل العصا وکبر وھلل ورفع یدیہ وحمد اللّٰہ وصلی علی النبی علیہ السلام وطاف طواف القدوم بادیا عن یمین البیت مما یلی الباب سبعة اشواط راملا فی الثلاثة الاول مضطبعا وکلما مر بالحجر فعل ماذکر وختم الرکن باستلام الحجر خرج فصعد الصفا واستقبل البیت وکبر وھلل وصلی علی النبی علیہ السلام ورفع یدیہ ودعا بما شاء ثم مشٰی نحو المروة ساعیًا بین المیلین الاخضرین وفعل علیہا ما فعل علی الصفا وطاف بینہما سبعة اشواط وبدأ بالصفا وختم بالمروة ثم سکن بمکة محرما وطاف بالبیت ما شاء نفلا **و** اما کیفیة اداء الحج فان یخطب الامام سابع ذی الحجہ ویعلم الناس فیہا المناسک ثم خرج الی منٰی ومکث بہا الی فجر یوم عرفة ثم ذھب الی عرفات بعد صلوة الفجر من یوم عرفة فاذا زالت الشمس خطب الامام خطبتین کالجمعة ویعلم الناس فیہا المناسک ثم صلی بعد الزوال الظہر والعصر باذان واقامتین بشرط الاحرام والامام **ثم** ذھب الی الموقف ووقف بقرب الجبل حامدا مکبرا مہللا ملبیا مصلیا داعیا **ثم** اذا غربت الشمس اتی مزدلفة ونزل عند جبل قزح وصلی العشاءین باذان واقامة ثم صلی الفجر بغلس ووقف مکبرا مہللا مصلیا داعیا **ثم** اتی منٰی بعدما اسفر فرمی جمرة العقبة من بطن الوادی بسبع حصاة وکبر بکل حصاة وقطع التلبیة باولہا ثم ذبح

وحلق اوقصر وحل له غیر النساء **ثم** اتی مکة یوم النحراو یومین بعده والاول افضل وطاف للزیارة سبعة اشواط بلا رمل وسعی ان رمل وسعی قبل والا فعمها وحل له النساء **ثم** اتی منی فی ثانی النحر ورمی الجمار الثلث بادیا بما یلی المسجد ثم بما یلیها ثم بجمرة العقبه سبعًا سبعًا وکبر بکل حصاة ووقف عند کل رمی بعده رمی ثم غدا کذالك ثم بعده کذالك ان مکث ولو رمی فی الیوم الرابع قبل الزوال صح **ثم** ذهب الی مکة ونزل بالمحصب ثم طاف للصدر سبعة اشواط بلا رمل وسعی وهو واجب الا علی اهل مکة **ثم** شرب ماء زمزم وقبل العتبة ووضع وجهه وصدره علی الملتزم وتشبث بالاستار ساعة ودعا مجتهدًا وبکی او تباکی ورجع قهقری حتی یخرج من المسجد تمت الرسالة ثُمَّ لْيَقْضُوا بیا میا یدچه ترسره دِ کړی تَفَثَهُمْ حاجتونه خپل چه اداده د مناسکو دَ یا لرے کول د خیری دی له ځانه او لرے کول د ویښتو او د نوکونو او دا سے نور وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ اوبل میا یدچه وفادوکه دوئ په نذرونو خپلو یعنی ادا دِ کړه هغه منلی خپل له هدیو او له قربانیو وَلْيَطَّوَّفُوا اوبل میا یدچه طواف دِ وکه طواف د زیارت چه رکن دے د حج بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾ په هغه بیت چه کریم یا عتیق دے ذَٰلِكَ کارهم دا سے دے چه ذکر شو او دا خبر دے د مبتدا محذوف وَمَن يُعَظِّمْ او هر څوك چه لوئے وشمیری او تعظیم وکه حُرُمَاتِ اللَّهِ هغه احکام د خدائ چه هتک د حرمت ئے روانه دے یا عام په ټولو تکالیفو کښ یا خاص په مناسکو د حج کښ او څوك وائی چه حُرمت د خدائ دا پنځه دی بیت حرام مسجد حرام بلد حرام مشعر حرام اشهر حرام فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ پس دا تعظیم دِ ډیر غوره دے دهٔ لره په آخرت کښ عِندَ رَبِّهِ په نزد د رب د دهٔ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ او حلال کړے شوی دی تاسے لره چارپایان یعنی خوراك ئے إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ مگر هغه چارپایان چه لوستے کیږی په تاسے تحریم د هغو په آیت حرمت علیکم المیتة کښ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ پس ځان وساتئ له پلیتئ مِنَ الْأَوْثَانِ له هغه پلیتئ چه بتان دی یعنی دامن بیانیه دے وَاجْتَنِبُوا اوبل ځان وساتئ قَوْلَ الزُّورِ ﴿٣٠﴾ له خبرے د دروغ چه شریک پیدا کول دی له خدائ سره یا شاهدی ده په ناحقه یا مطلق کفتار دے مخالف له معتقد حُنَفَاءَ لِلَّهِ په دے حال چه گرځیدونکی دی اوسئ په اخلاص سره خدائ ته یو لځے غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ چه شریکونکی نه اوسئ له دهٔ سره بل هیڅوك نه په الوهیت او نه په عبادت کښ او دا حال دے لکه

حنفاء له واو د اِجۡتَنِبُوۡا وَمَنۡ يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ او هرڅوك چه شريك ونيسي په خدائ پورې فَكَاَنَّمَا خَرَّ پس داسې شو چه ګويا كه راپريوت دے مِنَ السَّمَآءِ له اسمانه زمكې ته فَتَخۡطَفُهُ الطَّيۡرُ پس تختوى ئې سره مرغان يو له بله او بوټۍ بوټۍ كوى ئې اَوۡ تَهۡوِىۡ بِهِ الرِّيۡحُ يا لكه چه راوغورځوى دے باد له كومه هسكځايه فِىۡ مَكَانٍ سَحِيۡقٍ ﴿٣١﴾ په هغه ژورځائې كښ چه ډير لرے وى له دستګير فرياد رس حاصل دا چه له مشرك سره دوه تشبيه بنائى ځكه چه ډيالويدلے دے له اسمان د هدايت زمكې د ضلالت ته او بيا هلته مشتهيات د نفس پارچې پارچې كړے دے او يا دے باد د وسوسو شيطانى رالوزولے دے له لوړے د ايمان ژورے د كفر ته او په دے دواړو كښ بيا فرياد رس ئې هم له سره نشته نو عاقبت ئې خراب دے ذٰلِكَ دا كارهم دا سې دے لكه چه ذكر شو او دا خبر دے د مبتداء محذوف وَمَنۡ يُّعَظِّمۡ او هرڅوك چه تعظيم وكړ شَعَآئِرَ اللّٰهِ د نښو د خدائ چه فرائض د حج دى يا هدايا دى ځكه چه دا هم نښے دى د حج او تعظيم ئې دا دے چه چاخے بے عيبه قيمتي ډ وى فَاِنَّهَا پس دا تعظيم چه دے د ديو مِنۡ تَقۡوَى الۡقُلُوۡبِ ﴿٣٢﴾ له تقوى او پرهيزګارۍ د زړونو دے لَكُمۡ فِيۡهَا مَنَافِعُ دى تاسو لره په دے انعامو كښ ډير نفع په اقسامو لكه شودۀ او ماسته او شلومبے او قروت او پوخه او مترا او كوچ او غوړى او وړۍ او وجغنے او سوريدل او بارول او غوښے او پوستكى او قلبه او ګانړۍ او ارهټ ګرځول او داسې نور د پرشول اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى تر وخته په نامه كړے شوى پورے چه وخت د ذبح دے ثُمَّ مَحِلُّهَاۤ بيا وخت د ديو چه دے منتهى د اِلَى الۡبَيۡتِ الۡعَتِيۡقِ ﴿٣٣﴾ ع هغه بيت ته چه بلند شان دے او دلته مراد ذبح ده په حرم كښ چه دے هم حكماً بيت دے ځكه چه حريم دے دده وَلِكُلِّ اُمَّةٍ او هر ځائے طائفے د هغه مؤمنانو له چه پخوا وو له تاسے جَعَلۡنَا مَنۡسَكًا مقرر كړى يعنے فرمايلى وومونږ قربانى او تويول د وينو لِّيَذۡكُرُوا اسۡمَ اللّٰهِ د پاره د دے چه ياد كړى دوئ نوم د خدائ خاص نوم د بل نه عَلٰى مَا رَزَقَهُمۡ په وخت د ذبح د هر هغه څيز چه روزي وركړے ده خدائ مِّنۡۢ بَهِيۡمَةِ الۡاَنۡعَامِ له بے زبانه د چارپايانو چه د پاره د قربانۍ حلال و لے شى فَاِلٰهُكُمۡ پس معبود ستاسے د ټولو چه دے يعنے ستاسے او د پخوانيو امتونو اِلٰهٌ وَّاحِدٌ هم هغه يو خدائ دے فَلَهٗۤ اَسۡلِمُوۡا پس خاص هم ده ته غاړه كيږدئ او بل هيڅوك مه شريكوئ ورسره په دے قربانۍ كښ وَبَشِّرِ الۡمُخۡبِتِيۡنَ ﴿٣٤﴾ او زيرے اوكه اے رسوله! په هغه مخلصانو تواضع كونكيو او ويريدونكيو باندے چه

خلورم صفات لری چه دا مخکښ ذکر دی اَلَّذِیۡنَ اِذَا ذُکِرَ اللّٰهُ یعنې هغه کسان چه هر کله یاد کړے
شی خدائی د دوئ په مخکښ وَجِلَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ یو دا چه ویریږی زړونه د دوئ له جهته د جلال د دهٔ
وَالصّٰبِرِیۡنَ دویم دا چه صبر کوونکی دی عَلٰی مَاۤ اَصَابَهُمۡ په هغه سختیو او غمونو چه رسیږی دوئ ته وَالۡمُقِیۡمِی
الصَّلٰوۃِ او دریم دا چه ودرونکی وی د مانځهٔ یعنی ادا کوونکی وی سره له ټولو حقوقو ئے په خپلو اوقاتو کښ وَ
مِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ او څلورم دا چه بعض له هغه ماله چه ور کړے دے مونږه دوئ ته یُنۡفِقُوۡنَ ﴿۳۵﴾ ورکوی په
لار د خدائی کښ وَالۡبُدۡنَ او هغه اوښان او غوایان چه د هدیے دی جَعَلۡنٰهَا لَکُمۡ گرځولی دی مونږه
دا ټول تاسے لره مِّنۡ شَعَآئِرِ اللّٰهِ له نښو د دین د خدائی چه د دوئ ذبح نښه ده د دین لَکُمۡ فِیۡهَا خَیۡرٌ ۖ٭ چه
ده تاسے لره په دیو کښ ډیره نفع د دنیا او ډیر اجر په آخرت کښ فَاذۡکُرُوا اسۡمَ اللّٰهِ پس یاد دوئ نوم د
خدائی عَلَیۡهَا په دے اوښانو په وخت د ذبح کښ صَوَآفَّ ج په دے حال چه په دریو خپو ولاړ وی او یوه
خپه د مخے ترے تړلی وی فَاِذَا وَجَبَتۡ جُنُوۡبُهَا پس په هغه وخت چه پریواته اړخونه د دیو په زمکه او
روح ترے لاړ شو فَکُلُوۡا مِنۡهَا پس خوری تاسو هم له غوښو د دیو کهٔ خواهش لری وَاَطۡعِمُوا الۡقَانِعَ او خوروئ
په نا داره قناعت کرونکی غوښتونکی باندے هم وَالۡمُعۡتَرَّ ؕ او په غوښتونکی ښکاره یا په کنایه کَذٰلِکَ
همدا سے یعنی په ولاړه ذبح کولو هم سَخَّرۡنٰهَا لَکُمۡ مسخر کړی دی مونږه تاسے ته لَعَلَّکُمۡ تَشۡکُرُوۡنَ ﴿۳۶﴾
بنائی چه شکر و باسئ تاسے په دے نعمت څما لَنۡ یَّنَالَ اللّٰهَ له سره به ونهٔ رسیږی خدائی ته
لُحُوۡمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا نهٔ غوښے د دوئ او نهٔ وینے د دوئ وَلٰکِنۡ یَّنَالُهُ او لیکن رسیږی دهٔ ته
التَّقۡوٰی مِنۡکُمۡ ؕ پرهیزګاری له تاسے کَذٰلِکَ همدا سے لکه چه ذکر شو سَخَّرَهَا لَکُمۡ مسخر
کړی ئے دا انعام تاسے ته دا سے چه هم ئے د نیسئ او هم ئے حلال کړئ سره له د ومره
عجوالی لِتُکَبِّرُوا اللّٰهَ د پاره د دے چه تکبیر ووائی د خدائی په وخت د ذبح یا لوئی ووائی د
خدائی عَلٰی مَا هَدٰىکُمۡ ؕ په دے چه لاره ئے ښودلے ده تاسے ته د ښود دین او د مناسکو د حج
خپل وَبَشِّرِ الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۳۷﴾ او زیرے وکړه په نیکو کارانو د جنت اِنَّ اللّٰهَ بیشکه الله تعالی به د دے
مشرکینو د ضرر رسانی طاقت یُدٰفِعُ زر تر زره دفع کړی عَنِ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ؕ له مومنانو څخه اِنَّ اللّٰهَ
بیشکه چه خدائی لَا یُحِبُّ کُلَّ خَوَّانٍ کَفُوۡرٍ ﴿۳۸﴾ نهٔ خوښوی هر خیانتګر ناشکره **روایت دے** چه۔

ع۵

هرکله مشرکانو ډیر ظلم او جبر او تعدی بنا کړه په مومنانو تر دے حده چه یو به وهلے شوے راغے رسول صلی الله علیه وسلم لره او بل تهلے او بل زخمی او ډیره ژړا به ئے وړ ته وکړه د دوئ له لاسه او دوئ به وړته ویل چه صبر کوئ چه زهٔ لا په قتال ماموره شوے نهٔ یم او یو څو دپاسه اویا آیتونه راغلی دی په منع د قتال کښې بیا چه هجرت ئے وکړو نو آیت راغے د اذن د قتال او دا اول دهغه آیتونو دے چه په اذن د قتال کښې راغلے دے لکه چه وائی اُذِنَ لِلَّذِيْنَ رخصت ورکړے شو د قتال هغه کسانو يُقٰتَلُوْنَ چه قتال کولے شی له دوئ سره له طرفه د مشرکانو او دا اذن چه وړته شوے دے بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا په دے سبب چه په دوئ ظلم کړے شوے دے نو پس له دے قتال داوس کوی دوئ وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکه چه خدائ عَلٰى نَصْرِهِمْ په مدد کارئ د دوئ لَقَدِيْرُ ۟ (۳۹) هرائینه چه قادر دے الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا دوئ هغه کسان دی چه ایستلی شوی دی مِنْ دِيَارِهِمْ له کورو نو خپلو چه په مکه کښې وو بِغَيْرِ حَقٍّ په ناحق بے موجب د اخراج اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا مګر دا چه وویل دوئ رَبُّنَا اللّٰهُ ؕ چه رب ځمونږ الله دے خاص یو اځے نهٔ لات او نهٔ منات او سره له دے چه دا قول خو موجب د تمکین وو نه د اخراج وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ او که چرے نهٔ وے دفع کول د خدائ د دے خلقو بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ بعضے د دوئ په بعضو نورو یعنی که مسلط کړے او غالب کړے ئے نهٔ وے مؤمنان په کافرانو لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ نو هرائینه نړولے او ورانے کړے شوے به وے صومعے د راهبانو یعنی عبادت خانے د دوئ وَبِيَعٌ او کنیسے د نصارٰی وو وَصَلَوٰتٌ او کنیسے د یهود او دا دواړه هم ځایونه د مانځهٔ دی د دوئ وَّمَسٰجِدُ او جماتونه د مسلمانانو يُذْكَرُ فِيْهَا چه یاده شی په دے مساجدو کښې یا په دے ټولو مذکورو کښې اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ؕ نوم د خدائ ډیر وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ او هرائینه مدد کوی خدائ خامخا مَنْ يَّنْصُرُهٗ ؕ له هغه چا سره چه مدد کوی له ده سره یعنی له دین د دهٔ سره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ (۴۰) هرائینه توانا دے په نصرت د مؤمنانو غالب دے په هرچا اَلَّذِيْنَ دوئ هغه کسان دی اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ که چرے ډیره کړو مونږ دوئ فِى الْاَرْضِ په زمکه کښې او اختیار د زمکے دوئ لره ورکړو اَقَامُوا الصَّلٰوةَ نو ادا کوی به دوی مونځونه خپل سره له ټولو خلقو وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ او ورکوی به دوئ زکوٰة وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ او امر به کوی دوئ په خلقو د نیکو کارونو وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ او منع کوی به دوئ خلق له بد د کارونو وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ

الْاُمُوْرِ ﴿۴۱﴾ او خاص خدائی له دے نهایت یعنی سرانجام د ټولو کارونو دینی دی او که دنیوی دی
وَ اِنْ یُّکَذِّبُوْكَ او که تکذیب کوی د امشرکان د قریشو ستا اے رسوله نو خاطر د ملال کوه مه ځکه چه
دا تکذیب پخوانے رازوان دے چه فَقَدْ کَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ په تحقیق تکذیب کړے دے پخواله دے قومه
ستا قَوْمُ نُوْحٍ قوم د نوح علیه السلام د دهٔ وَّعَادٌ او عادیانو د هود علیه السلام وَ ثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ او
ثمودیانو د صالح علیه السلام وَ قَوْمُ اِبْرٰهِیْمَ او قوم د ابراهیم علیه السلام د دهٔ وَقَوْمُ لُوْطٍ ﴿۴۳﴾ او
قوم د لوط علیه السلام د دهٔ وَّ اَصْحٰبُ مَدْیَنَ ج او ښار د مدین د شعیب علیه السلام وَکُذِّبَ
موسٰی او تکذیب وکړے شو د موسٰی علیه السلام یعنی تکذیب ئے وکړو نورو خلقو چه
فرعون او قبطیان دی نه بنی اسراءیل ځکه قَوْمِ مُوْسٰی ئے ونهٔ ویل د نورو په شان
فَاَمْلَیْتُ لِلْکٰفِرِیْنَ پس مهلت ورکړو په تاخیر د عقوبت سره ما دغه تیرو کافرانو له تر یو وخته
چه بیا هیڅ عذر ئے پاتے نهٔ شی ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ح بیا ناګاه ونیول ما دوئی په طوفان په باد صرصر
په آواز د ملک په لښکر د ماشو په قرت د کانړو د وریځے لکه سائبان چه موجب د هلاك شو په غرق په
خسف فَکَیْفَ کَانَ نَکِیْرِ ﴿۴۴﴾ څرنګه وو خوښول ځما د کار د انکار د دوئی او تغیر ورکول ځما معاش د دوئی له
چه نعمت ئے په زحمت بدل شو او ژوندون ئے په هلاك او آبادی ئے په خرابی فَکَاَیِّنْ مِّنْ قَرْیَةٍ
پس ډیردی له کلیو او له ښارونو اَهْلَکْنٰهَا چه هلاك کړی دی مونږه یعنی او سیدونکی د دوئی وَهِیَ
ظَالِمَةٌ او حال دا چه ظالم وو د دوئی یعنی اهل ئے فَهِیَ خَاوِیَةٌ پس دغه کلی او ښارونه لویدلی پراته
وو عَلٰی عُرُوْشِهَا په بامونو خپلو یعنی اول به ئے بامونه ولویدل او بیا په بامونو دپاسه ئے دیوالونه
پریواتهٔ وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ او ډیر کوهی دی چه حیران بے منفعته پراته دی چه عامران ئے هلاك شویدی
وَّ قَصْرٍ مَّشِیْدٍ ﴿۴۵﴾ او ډیرے ښکلے دی چه چونه کچ یا لوړے چه خالی پرتے دی له جهته د هلاکه د او سیدونکو
اَفَلَمْ یَسِیْرُوْا ایا پس تګ نهٔ کوی دا کفار د مکے فِی الْاَرْضِ په زمکه د شام او د یمن کښی فَتَکُوْنَ
لَهُمْ پس وی به د وئی لره قُلُوْبٌ یَّعْقِلُوْنَ بِهَآ زړونه چه فکر کوی د وئی په هغو سره چه عاد قبیلے پخوانو
مکذبانو څهٔ وو اَوْ اٰذَانٌ یَّسْمَعُوْنَ بِهَا ج یا غوږونه چه خبرے اوریدے دوئی په هغو سره چه په آخر کښی
په کوم عذاب هلاك شو چه د وئی پرے عبرت واخلی فَاِنَّهَا پس قصه او حال دا دے لَا تَعْمَی الْاَبْصَارُ چه

نهٔ دی ړندے سترگے د سړو نو د دوئ ځکه چه هر څیز پرے وینی وَلٰکِنۡ تَعۡمَی الۡقُلُوۡبُ الَّتِیۡ لیکن
ړانده دی زړونه د دوئ یعنی سترگے د زړه نو هغه زړونه فِی الصُّدُوۡرِ ﴿۴۶﴾ چه دننه په سینو کښ دی ځکه
عبرت پرے نهٔ اخلی وَیَسۡتَعۡجِلُوۡنَکَ او جلتی کوی دا کفار د مکے په تا بِالۡعَذَابِ په راوستو د عذاب کښ لکه
نضر بن حارث او ملگری د ده وَلَنۡ یُّخۡلِفَ اللّٰهُ وَعۡدَهٗ ؕ او له سره به خلاف نهٔ که خدائ وعده خپله د
نزول د عذاب یعنی جلتی دِ نهٔ کوی په عذاب پخپله وړ لره راځی خامخا له جهته د وعدے وَاِنَّ یَوۡمًا
او بیشکه یوه ورځ چه ده عِنۡدَ رَبِّکَ په نزد د رب ستا د اسے اوږده ده کَاَلۡفِ سَنَةٍ لکه زر کاله شو
مِّمَّا تَعُدُّوۡنَ ﴿۴۷﴾ له هغه کلونو چه شمیرئ ئے تاسو وَکَاَیِّنۡ مِّنۡ قَرۡیَةٍ او ډیر دی له کلیو او له ښارونو
یعنی له او سیدونکیو ئے چه محض په رحمت خپل سره اَمۡلَیۡتُ لَهَا مهلت ورکړے دے ما هغوله او جلتی ئے م
نهٔ ده کړے په عقوبت د دوئ کښ وَهِیَ ظَالِمَةٌ او حال دا چه ظالمان وو دوئ د پاره د د چه ښائ چه
توبه وباسی دوئ ثُمَّ اَخَذۡتُهَا ج بیا نا خاپه ونیول ما دوئ په دنیا کښ په سخت عذاب سره چه توبه
ئے ونهٔ ویسته وَاِلَیَّ الۡمَصِیۡرُ ﴿۴۸﴾ ع او بیا خاص ماته دی راتلل ئے هم په اخرت کښ نو هلته به هم جزا ع ۱۳
ورکړو قُلۡ ووایه اے رسوله یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اے ادمیانو د مکے اِنَّمَاۤ اَنَا بیشکه هم دا خبره ده چه زهٔ
لَکُمۡ نَذِیۡرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۴۹﴾ ج تاسے له ویروونکے یم ښکاره فَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا پس هغه کسان چه ایمان ئے راوړے
دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د نیکو لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ مقرر دے دوئ لره بخښش د گناهونو وَرِزۡقٌ
کَرِیۡمٌ ﴿۵۰﴾ او غوره روزی چه جنت دے وَالَّذِیۡنَ سَعَوۡا او هغه کسان چه کوشش کوی یا منډے وهی
دوئ فِیۡۤ اٰیٰتِنَا په ایتونو څمونږه کښ یعنی په قران کښ په نیت د رد او د ابطال مُعٰجِزِیۡنَ په دے
حال چه نمړے کیدونکے دے په مونږه په عاجز کولو کښ په زعم خپل یعنی چه دوئ به ښتی له مونږه
او عذاب به ورونه رسولے شو مونږه اُولٰٓئِکَ دا کسان چه دی اَصۡحٰبُ الۡجَحِیۡمِ ﴿۵۱﴾ ملگری د
دوزخ دی چه همیشه به پکښ پراته وی **روایت دے** چه هر کله سوره والنجم رانغے او
رسول صلی الله علیه وسلم په مسجد حرام کښ په ډله د قریشو باندے ولوست په ډیر مدار سره چه
سامعان ئے په ښهٔ شان سره واوری نو شاید چه ایمان راوړی بیا چه د ایت له راغے اَفَرَءَیۡتُمُ اللّٰتَ
وَالۡعُزّٰی وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الۡاُخۡرٰی او پس له دے ایت ئے یو قدر سکوت وکړ لکه چه بیرته ئے عادت وو

نو په دغه وخت کښ شیطان وویل چه تِلْكَ الْغَرَانِيْقَ الْعُلٰى وَاِنَّ شَفَاعَتَهُنَّ لَتُرْتَجٰى یعنی دا درکے واړه
بتان چه دی چه ډیرغټان دی د قوم یا مرغان دی پلندپرواز او بیشکه شفاعت د دوی چه دے هر ائینه امید ترے
کاوۀ شی اما په دے آوازے وواېه چه مشرکانو دا گمان وکړ چه دا الفاظ رسول علیه السلام وویل نو ډیر
خوشحاله شو او په آخر د دے سورة کښ سجده ده چه رسول علیه السلام وکړه نو له ډیرے خوشحالئ
مشرکانو هم ورسره وکړه بیا د ے جبرائیل علیه السلام په د ے حال خبر کړ او ډیر غمناک شۀ نو د
پاره د تسلی د دهٔ نازل شهٔ وَ مَآ اَرْسَلْنَا او نۀ وو لیږلے مونږه مِنْ قَبْلِكَ مخوا له تا مِنْ رَّسُوْلٍ هیڅ
رسول وَّلَا نَبِيٍّ او نه هیڅ نبی **فائده** رسول هغه دے چه لیږلے وی خدائ په نوی شریعت سره چه
بولی خلق دغه شریعت ته او نبی هغه دے چه رالیږلے شوے وی د پاره د اثبات او د تقریر د شرع سابق
لکه انبیاء د بنی اسراءیلو حُکه حدیث دے چه عُلَمَآءُ اُمَّتِيْ كَاَنْبِيَآءِ بَنِيْ اِسْرَآءِيْلَ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى مگر په هغه
وخت چه لوستل کوی دے او تمنّیٰ په معنیٰ د قرء دے اَلْقَى الشَّيْطٰنُ نو وغورځوی شیطان فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ
په لوستلو د دهٔ کښ له ځانه خپل هغه کلام چه له خدایه نهٔ وی او په دے کښ حکمت دے فَيَنْسَخُ اللّٰهُ پس
بیا منسوخ کاندے خدائ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ هغه کلام چه غورځولے وی شیطان یعنی باطل او لرے ئے که
او پیغمبر خبر که په دے چه دا شیطان وو ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ بیا ثابت او محکم که خدائ ایتونه
او بے ساته له زیادته له شیطانه وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او خدائ دانا دے په احوالو د هرچا حَكِيْمٌ ﴿۵۲﴾ حکم کونکے
دے په مقتضی د حکمت بالغه سره او دا القاء وکړه شیطان په وخت د تلاوت کښ په اراده د خدائ سره
لِّيَجْعَلَ د پاره د دے چه وګرځوی خدائ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ هغه کلام باطل چه غورځوی ئے شیطان
فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ ازمیښت د پاره د هغه کسانو فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه په زړونو د دوی کښ مرض دے د شک
او د نفاق وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ط او بل د پاره د هغه کسانو چه تاریک او سخت دی زړونه د دوی چه مشرکان
مکذبان دی نو د دوی شک او تیارهٔ لا بیے زیاته شی وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ او بے شکه ظالمان یعنی دا تیرے
فرقے چه دی لَفِيْ شِقَاقٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾ هرائینه په دا سے مخالفت کښ دی له رسول علیه السلام او له
مؤمنانو سره چه ډیر لرے دی له حقه وَّلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ او بل القاء د پاره د دے دهٔ چه پوهـ شی په
یقین سره هغه کسان اُوْتُوا الْعِلْمَ چه ورکړے شوے دے وله علم د توحید او د قرآن اَنَّهُ الْحَقُّ چه بیشکه

دا قرآن حق دے مِنْ رَّبِّكَ چه راغلے دے له رب ستا فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ پس ایمان راوړی دوئی په دے
قرآن فَتُخْبِتَ لَهٗ پس مطمئن او نرم شی د قرآن ته قُلُوْبُهُمْ ط زړونه د دوئی او احکام ئے قبول کاندی
وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدائ چه دے لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا هر اُئینه لارښودونکے دے مؤمنانو ته اِلٰی
صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۴﴾ نیغے لارے ته چه دین داسلام دے وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او همیشه به وی هغه
کسان چه کافری فِیْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ په شک کښ له دے قرآن یا له صراط مستقیم حَتّٰی تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ تر
هغه وخته چه راشی دوئی له قیامت بَغْتَةً ناڅاپه اَوْ يَاْتِيَهُمْ یا راشی دوئی له عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿۵۵﴾
عذاب د ورځے سختے یا شنډے چه ورځ د بدر ده اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ط بادشاهی په دغه ورځ د قیامت
خاص به خدائ لره وی یواځے يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ط حکم به وکه په مابین د دے مؤمنانو او کافرانو کښ په ورځ د
قیامت فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پس هرچه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه
کوی د نیکو فِیْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾ په باغونو د نعمتونو کښ به وی همیشه به محنته وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا
وهرچه هغه کسان دی چه کافر شوی دی وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا او تکذیب کوی د ایتونو زمونږ نه
فَاُولٰٓئِكَ پس دغه کسان چه دی لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۵۷﴾ مقرر دے دوئی له هغه عذاب چه
خوارونکے او رسوا کونکے دے وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا او هرچه هغه کسان چه خپل وطن ئے پریخے دے
یعنی له مکے نه تللی دی مدینے ته فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدائ کښ یعنی د پاره د جهاد او طاعت او
درضا دده ثُمَّ قُتِلُوْۤا بیا قتل کړے د کفار وله لاسه په جهاد کښ اَوْ مَاتُوْا یا هسے مړه شو په خپل
مرګ بے له قتل لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ نو هر اُئینه روزی به ورکه دوئی له خدائ رِزْقًا حَسَنًا ط روزی چه ښه
نعمتونه دی د جنت او شهید او هسے مړه سره برابر کړے شوله جهته د برابر والی د نیت د دوارو وَاِنَّ
اللّٰهَ او بیشکه خدای چه دے لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۵۸﴾ هر اُئینه دے د ډیر غوره دے له ټولو روزی رسانو
څکه چه دے بے حسابه ورکوی لَيُدْخِلَنَّهُمْ هر اُئینه داخل به کڼ خامخا دوئی مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ط
په داسے د دخول یا ځائ د دخول چه خوښ به کړی دوئی هغه ځائ چه جنت دے وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدائ
چه دے لَعَلِيْمٌ هر اُئینه ښهٔ دانا دے په احوالو د شهیدانو او د هسے مړو په انتظار د شهادت حَلِيْمٌ ﴿۵۹﴾
صابر دے چه جلتی نهٔ کوی په عقوبت د نعاندانو د دوئی کښ روایت دے چه هر کله مشرکانو به

او اخر و د محرم کښ جنګ را ورِ په مسلمانانو او دوی ویل صبر وکړئ چه محرم تیرشی اوکفار منع نه شو
مسلمانانو ورسره جنګ اوکړو او فتح ئے اوکړه نو په شان ددوی کښ نازل شو ذٰلِكَ خبره هم دا ده
لکه چه مونږه و ویل وَمَنْ عَاقَبَ او هرهغه څوك له مؤمنانو چه جزاء ئے ورکړه او جزاء ته ئے هم عقوبت
ووایه دپاره دمشاکلت بِمِثْلِ مَا عُوْقِبَ بِهٖ په شان دهغه څیز چه کړے شوے وو په ده په هغه څیز سره
چه قتال دے د مشرکانو او زیادت ئے ونهٔ کهٔ یعنے که قتال وکړی مؤمن له مشرکانو سره لکه چه دوی
ورسره کړے وو په شهرحرام کښ ثُمَّ بُغِیَ عَلَیْهِ بیا دوباره ظلم وکړے شو په ده د دوی له جانبه په اخراج
سره له په خپل ځائی لَیَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ط هرائینه مددګاری به وکړی خامخا ورسره خدائی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
خدائی چه دے لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿۶۰﴾ هرائینه عفو کونکے بخښونکے دے مؤمنانو ته دقتال په شهرحرام کښ
ذٰلِكَ دا مددګاری چه ده بِاَنَّ اللّٰهَ په دے ده چه بیشکه خدائی یُوْلِجُ الَّیْلَ ننه باسی شپه فِی النَّهَارِ په ورځ
کښ وَیُوْلِجُ النَّهَارَ او ننه باسی ورځ فِی الَّیْلِ په شپه یعنے هغه قادر دے په نصرت د مظلوم وَاَنَّ اللّٰهَ
او بیشکه خدائی سَمِیْعٌ بَصِیْرٌ ﴿۶۱﴾ اوریدونکے دے دُعا د مؤمنانو بینا دے په احوال د منتقم ذٰلِكَ بِاَنَّ
اللّٰهَ بیا دا مددګاری چه ده په دے ده چه بیشکه خدائی چه دے هُوَ الْحَقُّ هم دے ثابت او واجب دے
له ذاته یواځے وَاَنَّ مَا یَدْعُوْنَ او بیشکه هرهغه چه بولی ئے دوی مِنْ دُوْنِهٖ غیر له دهٔ لکه بتان
شو هُوَ الْبَاطِلُ هم دے باطل دے وَاَنَّ اللّٰهَ او خدائی چه دے هُوَ الْعَلِیُّ الْکَبِیْرُ ﴿۶۲﴾ هم دے بلند شان
لوئے دے پاك دے له شریکه اَلَمْ تَرَ آیا نهٔ وینے ته اَنَّ اللّٰهَ چه خدائی اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً نو
راښکته کړی دی له طرفه د آسمانه اوبهٔ فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً ط پس شو زمکه په دے اوبو سره تازه شنه
پس له هغه چه پرته وه تورهٔ چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائی لَطِیْفٌ خَبِیْرٌ ﴿۶۳﴾ ډیر مهربان دے په
بندګانو خپلو بنهٔ خبردار دے په حال د رزق او د مرزوق لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ خاص هم ده له دی هرهغه
چه په آسمانونو کښ دی وَمَا فِی الْاَرْضِ ط او هرهغه چه په زمکه کښ دی په طریقه د مخلوقیت او د مملوکیت
سره وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدائی چه دے لَهُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیْدُ ﴿۶۴﴾ ع هرائینه هم دے بے پرواه لائق د ثنا
اَلَمْ تَرَ آیا نهٔ وینے ته اَنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائی چه دے سَخَّرَ لَکُمْ مسخر کړی ئے دی ستاسے دپاره
مَا فِی الْاَرْضِ هغه چه په زمکه کښ دی له چارپایانو دپاره د سورلئ په وچه کښ وَالْفُلْكَ تَجْرِیْ او مسخر

کړے ئے ده بیړئ او جهاز په دے حال کښ چه گرځی فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ط په سیند کښ په فرمان د
دهٔ سره وَیُمْسِکُ السَّمَآءَ او ساتی دے اسمان اَنْ تَقَعَ له دے چه راولویږی عَلَی الْاَرْضِ په زمکه باندے
اِلَّا بِاِذْنِهٖ ط مگر په اذن یعنی په اراده ددهٔ سره اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ بیشکه چه خدائ په خلقو لَرَءُوْفٌ
رَّحِیْمٌ ﴿۶۵﴾ هرائینه مهربان رحم کونکے دے په سلب د مضراتو او په جلب د منافعو دوئ ته وَهُوَ الَّذِیْٓ اَحْیَاکُمْ
دے هغه قادر مطلق دے چه ژوندی ئے کړئ تاسے پس له هغه چه مړه نطفه وئ ثُمَّ یُمِیْتُکُمْ بیا به
مړه کړی تاسے دے چه اجل راغے ثُمَّ یُحْیِیْکُمْ ط بیا به ژوندی کړی تاسے په آخرت کښ اِنَّ الْاِنْسَانَ
بیشکه انسان چه دے لَکَفُوْرٌ ﴿۶۶﴾ هرائینه ناشکره دے چه سره له ظهوره د دومره نعمتونو قدر د انی نه کوی
لِکُلِّ اُمَّةٍ هر یو لی لره له اهل ادیانو څخه جَعَلْنَا مَنْسَکًا مقرر کړے دے مونږ ه یو دین او شریعت هم
نَاسِکُوْهُ چه دوئ عمل کونکی دی په هغهٔ فَلَا یُنَازِعُنَّکَ پس جگړه دِ نهٔ کوی د اختیتنان د ادیانو څخه
تا سره فِی الْاَمْرِ په کار د دین کښ یا د ذبح کښ چه مشرکان وائ مسلمانانو ته چه تاسے خپله وژلی خوری
او د خدائ وژلی نه خورئ وَادْعُ اِلٰی رَبِّکَ ط او بوله خلق توحید او عبادت د رب خپل ته اِنَّکَ بیشکه
ته چه ئے عَلٰی هُدًی مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۶۷﴾ هرائینه په هغه سمے لارے ئے چه برابره تللے ده حق ته وَاِنْ
جٰدَلُوْکَ او کهٔ چرے جگړه کوئ له تاسے سره پس له ظهوره د حق او له لزوم د حجت فَقُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ
پس و وایه ورته چه خدائ ښهٔ پوهیږی بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۶۸﴾ په هغه جگړه او عناد چه کوئ ئے تاسے نو د دے
عمل جزا به درکه الله تعالیٰ یَحْکُمُ بَیْنَکُمْ خدائ به حکم وکړی ستاسے په مینځ کښ اے مومنانو او
کافرانو په ثواب او په عقاب سره یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په ورځ د قیامت فِیْمَا کُنْتُمْ په هغه څیز چه وئ تاسے
فِیْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۶۹﴾ چه په هغه کښ اختلاف به موکولو اَلَمْ تَعْلَمْ آیا نهٔ پوهیږے ته اَنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ چه
بیشکه خدائ پوهیږی مَا فِی السَّمَآءِ په هغه عجایبو چه په اسمان کښ دی وَالْاَرْضِ ط او په هغه غرایبو
چه په زمکه کښ دی اِنَّ ذٰلِکَ بیشکه چه دا دے ټولو قول او فعل فِیْ کِتٰبٍ ط په اعمال نامه کښ
محفوظ دے دا علم عَلَی اللّٰهِ یَسِیْرٌ ﴿۷۰﴾ په خدائ آسان دے وَیَعْبُدُوْنَ او عبادت کوی دا کفار د
مکے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ مَا لَمْ یُنَزِّلْ د هغه څیز چه نهٔ دے رالیږلے ده په سُلْطٰنًا

یعنی په لرے کولو د ضرری څیزونو او په رانیکلو او په نزدے کولو د نفع مند څیزونو ۱۲

په عبادت دهغه هيڅ حجت او دليل وَمَا لَيْسَ لَهُمْ او دهغه څيز چه نشته دوئ لره بِهٖ عِلْمٌ ط په عبادت دهغه هيڅ پوهه يعنی محض له جهل اوله تقليد عبادت د بتانو کوی بے دليله وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ او نۀ شته ظالمانو لره مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿۷۱﴾ هيڅ مددګار چه له عذابه ئے خلاص که وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ او په هغه وخت چه ولوستے شی په دوئ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ اٰيتونه د قرآن ځمونږه په دے حال چه واضح ښکاره بے تناقض بے خلله دی تَعْرِفُ معلوموے او وينے به ته فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ط په مخونو دهغه کسانوکښ چه کافردی انکارله ډيره غضبه اوتکبره يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ نزدے وی دے کاره چه غوټه وکه دوئ له غلبے د قهره بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ په هغه کسانو چه لولی عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ط په دوئ اٰيتونه ځمونږه قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ ووايه ورته چه اياپس خبرکړم تاسے بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ ط په بدترين له دے غضب اوغوټے ستا په دوئ ياله دے کراهت دلوستو اَلنَّارُ ط هغه اور دے ددوزخ دے چه سخت او بد دے قهره اوغوټے ستا ځنه وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ط چه وعده کړے ده دد ے اور خدائ له هغه کسانو سره چه کافردی وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۷۲﴾ اوبد ځائے دے دا دوزخ له جهته د بازګشت يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اے آدميانو د مکے ضُرِبَ مَثَلٌ بيان کړے شی يوه قصه اوحال عجيبه غريب تاسے ته فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ط پس غوږکيږدئ دی ته ول ورته اوهغه مثال دا دے اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ بيشکه هغه بتان چه بولئ ئے تاسے په خدايانو اوعبادت ئے کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غيرله خدائ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا له سره به پيدا نۀ کړے شی يو مچ هم وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ ط او اګرکه راټول شی دا معبودان ستاسے واړه اتفاق وکه سره په پيداکولو دغه مچ روايت دے چه عادت دے بت پرستانو دا وچه دا بتان خيل به ئے په شاتو او په خوشبويو سره ولړل او بيا د بت خانے دروازے به ئے کلکے پورے کړے دمچانو له غمه اوپه دريچو د بُت خانے به راننواتۀ دا مچان اوهغه به ئے تر ے وخوړه لکه چه وائی وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ اوکه چرے وتختوی له دوئ مچ شَيْئًا کوم څيزله هغه شاتو ياخوشبويګانو چه دوئ پرلړلی وو لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ نوخلاص به نۀ کړے شی دا بتان هغه مِنْهُ ط له دغه مچ ځنه اوهرکله چه حال دا شو ضَعُفَ الطَّالِبُ نو ډير عاجز او ناتوان دے دا طالب چه عابد يا بُت دے وَالْمَطْلُوْبُ ﴿۷۳﴾ او

ع په طالب اومطلوب دواړو کښ بت ذکر دے ځکه داخيال چه د طالب په تفسير کښ رچه عابد يا بت رے ، په ځائ رچه عابد دبت دے) وے نو ښه به وه ۱۲

دا مطلوب هم چه بُت یا مچ دے **فائده** دا اشارت دے برابرئ ته په مابین د بُت او د مچ کښ په
عاجزئ کښ بلکه که نظر د تحقیق وکړے شی نوبت له مچ هم ډیر عاجز دے ځکه چه بت جماد دے او هغه
حیوان دے او حیوان هرکله په جماد غالب وی مَا قَدَرُوا اللّٰهَ نهٔ دے پیژندلے دے مشرکانو د مکے خدائ حَقَّ
قَدْرِهٖ ط په حق د پیژندلو سره چه بُت عوندے ضعیف څیز ئے له ده سره شریک مقرر کړے دے اِنَّ
اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَقَوِیٌّ عَزِیْزٌ ﴿۷۴﴾ هر ائینه هم توانا او هم غالب دے نو څرنګه برابر وی دوئ عاجز او
مغلوب له توانا غالب سره اَللّٰهُ یَصْطَفِیْ خدائ غوره کوی مِنَ الْمَلٰٓئِکَةِ رُسُلًا له ملائکو څخه استاذی
چه واسطه کیږی په مابین د دهٔ او د انبیاؤ په وحی سره لکه جبریل او میکائیل او اسرافیل علیه الصلوٰة
والسلام او د اسے نور شو وَّ مِنَ النَّاسِ ط او له بنی آدمو څخه هم لکه ابراهیم او موسیٰ او عیسیٰ او محمد علیهم
السلام او د اسے نور شو او دا رد دے په هغه چا چه وائی رسول له بشره نهٔ وی بلکه له ملائکو وی نو
ځکه راغے چه رسول کله ملک او کله بشر وی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ سَمِیْعٌ بَصِیْرٌ ﴿۷۵﴾ اوریدونکے دے
د اقوالو د رُسُلو لیدونکے دے د احوالو د امو یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ پوهیږی دے په هر هغه عمل د دین او
د دنیا چه کړی دوئ وَمَا خَلْفَهُمْ ط او په هغه چه کوی به ئے دوئ پس له دے وَاِلَی اللّٰهِ او خاص خدائ
ته تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۷۶﴾ بیرته ګرځولے شی ټول کارونه یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اے هغه کسانو اٰمَنُوا ارْکَعُوْا چه ایمان
راوړیدے نا سو رکوع کوی پس له دے په مانځه کښ وَاسْجُدُوْا او سجده هم پکښ کوئ او دا امر ځکه دے
چه په اول د اسلام کښ مونځ په تش قیام او قعود سره وو او سجده پکښ نهٔ وه بیا د دواړه په دے آیت
سره فرض شو وَاعْبُدُوْا رَبَّکُمْ او عبادت کوئ د رب خپل نهٔ د بتانو وَافْعَلُوا الْخَیْرَ او کوئ کارونه نیک
لکه صله رحمی او ښهٔ خوئیونه شو لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۷۷﴾ ع السجدة ښائی چه تاسے خلاصے او بریے بیا مومئ وَجَاهِدُوْا
فِی اللّٰهِ او جهاد کوی اصغر چه له کفارو سره دے یا اکبر چه له نفس سره دے د پاره د خدائ حَقَّ جِهَادِهٖ
په حق د جهاد د دهٔ یعنی په هغه جهاد سره چه د دهٔ سره لائق دے چه په خلوص د نیت او په محبت د
زړهٔ وی لکه پخپله ده ویلی دی چه یُجَاهِدُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَلَا یَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ط هُوَ اجْتَبٰکُمْ دے
هغه مهربان دے چه غوره کړی یئ دهٔ تاسے د پاره د نصرت د دین خپل وَمَا جَعَلَ عَلَیْکُمْ او نهٔ دے ایخے

ع حق جهاد کونکی هغه کسان دی چه جهاد کوی په لاره د خدائ کښ او نهٔ ویریږی له ملامتیا د ملامت کونکی نه ۱۲

ده په تاسې فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ط په دین کښې هیڅ قدر مشقت بلکه رخصت ئې درکړیدې په وار و
مکلفاتو کښې او اسانه لارې درته ښودلې ده په وخت د عذر کښې لکه تیمم په اودسه کښې او اشاره او
قصر په مانځه کښې او افطار په سفر او مرض سره په روژه کښې او سقوط په عدم د زاد او د راحلې سره په حج کښې
اوهم داسې نور هم مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ط پیروي وکړئ تاسې د دین د پلار خپل چه ابراهیم علیه السلام دې
او دې ئې پلار و باله د درست اُمت له دې جهته چه دې پلار دې د رسول علیه السلام او هر رسول پلار
وي د امت خپل هُوَ سَمّٰكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ۵ لا خدائ یا ابراهیم علیه الصلوة والسلام نوم ایخې دې په تاسو
د مسلمانانو مِنْ قَبْلُ یخوا له دې کتاب چه قرآن دې وَفِيْ هٰذَا او په دې قرآن کښې هم او داغوره نوم ایخې دې په
تاسو د مسلمانانو لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ د پاره د دې چه شي رسول علیه السلام شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ
شاهد په تاسې په ورځ د قیامت په دې چه دهٔ په یقین رسولې دې پیغام د رب ستاسې تاسې ته او شاهدي
د دهٔ قبوله ده خپل ځان د پاره هم له جهته د اعتماده په عصمت د دهٔ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ او اوسئ تاسې
شاهدان عَلَى النَّاسِ ج صلے په نورو خلقو چه دوئ ته رسولانو پیغام رسولې وو او هر کله چه تاسې دا
کران شوئ خدائ ته فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ پس برپائ لرئ مونځ خپل وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ او ورکوئ زکوٰة
خپل وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ط او منګلې ښخې کړئ په فضل د خدائ هُوَ مَوْلٰىكُمْ ج دې یار او مددګار ستاسې دې
فَنِعْمَ الْمَوْلٰى پس ښهٔ بادار دې دې وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ع ⑦⑧ او ښهٔ مددګار دې دې ؛

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ مَكِّيَّةٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۱۸ رُكُوْعَاتُهَا ۶

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ① لا په تحقیق چه بریالي او بهره مند شو مؤمنان الَّذِيْنَ هغه مؤمنان
هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ چه دوئ په مانځه خپل کښې خٰشِعُوْنَ ② لا متواضعان وید ونکي وي یعني
لړزان ترسان وي له هیبته د جلال وَالَّذِيْنَ هُمْ او هغه چه دوئ عَنِ اللَّغْوِ له بدکاره او له بدګفتار
مُعْرِضُوْنَ ③ لا ځنګ کونکي وي او هم داسې له عبث هم وَالَّذِيْنَ هُمْ او هغه چه دوئ لِلزَّكٰوةِ
فٰعِلُوْنَ ④ لا د زکوٰة اداکونکي وي یعني جامع دي په مابین د عباداتو قولیو او فعلیو وَالَّذِيْنَ هُمْ
او هغه چه دوئ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ⑤ لا د فرجونو خپلو ساتونکي دي له حرامو اِلَّا عَلٰى اَزْوَاجِهِمْ

مګر په ښځو خپلو اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ يا په هغه وينځو چه مالکان شوی وی ښی لاسونه دوئ فَاِنَّهُمْ
پس دوئ چه دی په نۀ ساتلو د فرجونو له دے دواړو طائفو غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ﴿٦﴾ نهٔ دی ملامت کړے شوی
فَمَنِ ابْتَغٰى پس هر څوك چه وغواړی دفع د شهوت وَرَآءَ ذٰلِكَ غیر له دے دوه ځايونو فَاُولٰٓئِكَ پس دا
کسان چه دی هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿٧﴾ هم دوئ ظالمان یا تیرېدونکی دی له حلالو حرامو ته وَالَّذِيْنَ
هُمْ او هغه چه دوئ لِاَمٰنٰتِهِمْ امانتونو خپلو له کهٔ د خدائ وی لکه مونځ روژه حج زکوٰة او نور تول
او امر او که د بنده وی لکه چه څوك په ځا کوم مال یا خبره وسپاری وَعَهْدِهِمْ او د عهد خپل چه خدائ
یا له بنده سره ئے کړے وی رٰعُوْنَ ﴿٨﴾ رعایت کونکی وی چه خیانت پکښ نهٔ کوی وَالَّذِيْنَ هُمْ او هغه
چه دوئ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ په مونځونو خپلو يُحَافِظُوْنَ ﴿٩﴾ فهم داری کوی هر وخت په اوقاتو په شرائطو
په ادابو په نورو ټولو حقوقو ئے اُولٰٓئِكَ دا مؤمنان چه جامع دی د دے شپږو واړو اوصافو هُمُ
الْوٰرِثُوْنَ ﴿١٠﴾ هم دوئ وارثان یعنے لایق دی الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ چه میراث وړی هغه
جنت چه فردوس اعلیٰ باله شی او سردے د ټولو جنتونو او د میراث معنیٰ دا چه هر مؤمن او کافر له یو
جنت کښ او هم په دوزخ کښ ځائے مقرر دے نو دا مؤمنان به د دوئ برخه په جنت کښ واخلی او کافران
به د دوئ برخه په دوزخ کښ واخلی هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿١١﴾ دوئ به په جنت فردوس کښ همیشه وی
دا بیان وو د معاد. نو دے سره مناسب دے بیان د مبداء ځکه وړپسے وائی وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ او هر
اٰئینه په تحقیق پیدا کهٔ مونږه انسان یعنی ادم علیه السلام مِنْ سُلٰلَةٍ له خلاصے صافے له خیرے را خیستے
شوے مِّنْ طِيْنٍ ﴿١٢﴾ له خټو څخه ثُمَّ جَعَلْنٰهُ بیا وګرځولو مونږه هغه انسان چه نسل د دے د ادم
علیه السلام یعنی ماده د خلقت د دهٔ نُطْفَةً لړے اوبهٔ د منی ترڅلویښتو ورځو هم هغسے سپین
ساتلے شوے فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿١٣﴾ په یو قرارګاه محکم کښ چه رحم دے ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ بیا وګرځوله
مونږه دا نطفه عَلَقَةً پارچه د وینو کلکه سلیخنا که ترڅلویښتو پورے تکه سره فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ پس
بیا وګرځوله مونږه دا پارچه د وینو مُضْغَةً وړه بوټۍ د غوښے هډوکی چه یو ګرت پښ خولے کښ
واچولے شی بیا ترڅلویښتو پورے فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ پس بیا وګرځوله مونږه دا بوټۍ د غوښو عِظٰمًا
هډوکی پس له تمام دے څلویښتو فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ پس بیا واغوستوله مونږه دے هډوکو ته لَحْمًا

غوښنه یعنی موږ ه غوښه زر غوښه کړه په دے هډوکوا ما پس پیدا کولو دډکونو اوپلو او تارونو اود
نورو محتاج الیه دبدن په دیوثُمَّ اَنۡشَاۡنٰهُ بیا سازکهٔ موږ ه دا مذکوریا انسان خَلۡقًا اٰخَرَ په یوقسم ساز لو
سره چه مخالف وی له پخوانی سازولو څخه څکه چه اول جماد وو اوس ئے حیوان کهٔ او پرونه کونړ گنګ
وو اوس ئے بصیر سمیع ناطق کهٔ څکه امام اعظمؒ وائی چه کهٔ څوک هګئ له چا څخه غصب واخلی او بیا
دهٔ څخه چرګوړے شی نود اغاصب ضامن دهګئ دے نهٔ د چرګوړی څکه چه دا اوس بل څیز شو فَتَبٰرَكَ
اللّٰهُ پس ډیر بلند شان دے خدائ په علم او په قدرت او په حکمت خپل کښ اَحۡسَنُ الۡخٰلِقِيۡنَ ﴿۱۴﴾
چه ډیر ښهٔ صورت بندی ګوی دے له نورو ټولو مصورانو څخه فائده تعجب مه په دے چه رب
العزت پیدا کړه دا تمام موجودات یعنی زمکے اسمانونه، عرش، کرسی، لوح، قلم، جن، ملائک، نمر
سپوږمۍ، ستورے، جبال، اشجار، انهار دا سے نور ډیر اشیاء او په یو ئے هم دے ثنا په ذات خپل ونهٔ ویله لکه
په پیدا کولو د انسان نوله دے نه معلومه شوه دا خبره چه انسان ورته ډیر معزز او مکرم دے څکه ئے ویلی
دی چه وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِىۡۤ اٰدَمَ ثُمَّ اِنَّكُمۡ بیا بیشکه تا سے چه یئ بَعۡدَ ذٰلِكَ پس له دے ژوندی کولو ستاسے په
دغه طریقه چه موږ ه بیان کړه لَمَيِّتُوۡنَ ﴿۱۵﴾ هرائینه مړه کیدونکی یئ خامخا ثُمَّ اِنَّكُمۡ بیا بیشکه تاسے
چه یئ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ تُبۡعَثُوۡنَ ﴿۱۶﴾ په ورځ د قیامت به بیرته راپاڅولے شئ د پاره د حساب او دجزا
وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا فَوۡقَكُمۡ او هرائینه په تحقیق پیدا کړی دی موږ ه پاس په سرستاسے سَبۡعَ طَرَآئِقَ ۖ
اوهٔ لارے دا جمع د طریقهٔ ده یعنی اوه اسمانونه سره لاندے باندے چه لارے دی د کوزیدو او د ختو د
ملائکو وَمَا كُنَّا او نهٔ یو موږ ه عَنِ الۡخَلۡقِ غٰفِلِيۡنَ ﴿۱۷﴾ له دے مخلوق چه اسمانونه دی یا له ټولو مخلوقاتو
بے خبره وَاَنۡزَلۡنَا مِنَ السَّمَآءِ او رالیږلے کړی دی موږ ه له طرفه د اسمانه مَآءًۢ بِقَدَرٍ اوبه په هغه
اندازه چه صلاح د بندګانو په کښ وینو فَاَسۡكَنّٰهُ فِى الۡاَرۡضِ ۖ پس ودرولے موږ ه دا اوبه په زمکه کښ
یا ئے په سر باندے لکه په جوړونو کښ او یا ئے په کیږه کښ چه بیا چینے شی او ترے رابهیږی او له
ابن عباس رضؓ منقول دی چه پنځه نهره جبریل علیه السلام له چینے د جنت زمکے ته راکوزے
کړی دی سیحون د هند جیحون د بلخ فرات او دجله د عراق. نیل د مصر. وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۢ بِهٖ او
بیشکه چه موږ ه په بیولو او په ورکولو د دے اوبو په خښاکولو یا په زمکه کښ ننکته کولو یا ... ته اسمان ته

په خیژ ولو لَقٰدِرُوْنَ ⑱ هرائینه قادر یو لکه چه قادر یو په انزال ئے فَاَنْشَاْنَا لَکُمْ پس پیدا کړه مونږ
تاسے له بِهٖ جَنّٰتٍ په دے اوبو سره باغونه رنګا رنګ مِّنْ نَّخِیْلٍ له خرما کانو وَّاَعْنَابٍ م او له انګورو اودا
دواړه ځکه خاص یاد شو چه مدینه کښ خرما او طائف کښ انګور ډیر دی لَکُمْ فِیْهَا چه دی تاسے لره په
دے باغونو کښ فَوَاکِهُ کَثِیْرَةٌ میوے دی ډیرے غیر له خرما کانو او انګورو وَّمِنْهَا تَاْکُلُوْنَ ⑲ او له
دغه باغونو خورئ تاسے یعنی له میووے ئے او هم دا سے له نورو کښتونوئے وَشَجَرَةً تَخْرُجُ او بل پیدا کړه مونږه
هغه ونه چه زرغونیږی مِنْ طُوْرِ سَیْنَآءَ له کوهِ طور چه غر د موسیٰ علیه السلام دے د مصر او د
ایلیا په مینځ کښ او دا ونه خوَن دے تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ چه زرغونیږی له غوړو سره یعنی لرګی ئے
دا سے غوړ وی چه تیل ترے ووځی د پاره د چراغ وَصِبْغٍ لِّلْاٰکِلِیْنَ ⑳ او انګولے دے د پاره د طعام
خوړونکیو یعنی له دانوئے دا سے غوړ ووځی چه ډوډئ ورسره خوری وَاِنَّ لَکُمْ او بیشکه چه تاسے لره
فِی الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ط په چارپایانو کښ خامخا ډیر لوئ عبرت دے نُسْقِیْکُمْ مِّمَّا چه څکوو مونږه په
تاسے بعض له هغه څیزونو فِیْ بُطُوْنِهَا چه په درونو د دوئ کښ دی یعنی شودهٔ وَلَکُمْ فِیْهَا او دے تاسے له په
دے انعامو کښ مَنَافِعُ کَثِیْرَةٌ سودونه ډیر لکه سورلی او بار ول او زیږ ول او وړئ او وچغنے او دا سے نور ډیر
وَّمِنْهَا تَاْکُلُوْنَ ㉑ او بعض اجزاء له دیو خورئ تاسے لکه غوښے او وازدے مازغهٔ اکارغ وَعَلَیْهَا او په
دیو یعنی په وچه کښ وَعَلَی الْفُلْکِ او په بیړیو په جهازونو په دریاب کښ تُحْمَلُوْنَ ㉒ بارا وړشئ
یعنی تاسے له یو ځائے بل ځائے ته وړی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا او هرائینه په تحقیق لیږلے وو مونږه نُوْحًا
اِلٰی قَوْمِهٖ نوح علیه السلام قوم خپل ته فَقَالَ یٰقَوْمِ پس وویل دهٔ چه اے قومه څما اعْبُدُوا
اللّٰهَ عبادت کوئ یوا ځے د خدائ ځکه چه مَا لَکُمْ نشته تاسے لره مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ط بل هیڅ معبود
چه لایق وی د عبادت غیر له دهٔ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ㉓ آیا پس نهٔ ویریږئ له عذابه د دهٔ چه د بل چا عبادت
کوئ یعنی مهٔ کوئ فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِیْنَ پس وویل هغه مشرانو کَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ چه کافر وو له قومه
د دهٔ هغه عوامو عاجزانو ته چه تابع وو د دوئ مَا هٰذَآ چه نهٔ دے دا نوح علیه السلام اِلَّا بَشَرٌ
مِّثْلُکُمْ لا مګر یو آدمی دے ستاسے په شان په خوب په خوراک په نورو هر څهٔ کښ یُرِیْدُ اَنْ اراده لری
د دے خبرے یَّتَفَضَّلَ عَلَیْکُمْ ط چه مشری پیدا کړی دے په تاسے او تاسے خپل تابعان کړی وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

او کهٔ اراده وے دخدائ د رسول لیږلو بنی ادمو ته لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ج نو هرائینه رالیږلے به ئے وو ملائک
مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا نهٔ دی اوریدلی موږ ده دا چه رسول بنی ادم وی او دا له ډیره عناده به ئے ویل ځکه چه
ادریس علیه السلام خوله دوئ لږ پخوا تیر شوے وو فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۴﴾ په هغه پلرونو ځموږ ده
کښ چه پخوانی وو اِنْ هُوَ نهٔ دے دا نوح علیه السلام اِلَّا رَجُلٌ مګر یو دا سے سړے دے بِهٖ جِنَّةٌ چه په
دهٔ کښ اثر د لیونتوب دے ځکه دا سے وائی فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ پس انتظار او صبر وکړئ دهٔ ته حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۲۵﴾
تر یو وخته پورے چه حال ئے معلوم شی کهٔ روغ خو ډیره بنه او کهٔ نهٔ شو نو مړ به ئے کړئ قَالَ نو وویل
نوح علیه السلام پس له هغه چه طمع ئے قطع شوه له ایمانه د دوئ رَبِّ انْصُرْنِيْ اے ربه ځما مدد وکړه
له ما سره په انتقام اخستو کښ له دوئ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۲۶﴾ په سبب د دے چه تکذیب ئے وکه ځما یعنی
هلاک ئے کړهٔ نو قبول کهٔ خدائ دا سوال د دهٔ لکه چه وائی فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ پس وحی وکړه موږ ده دوئ
ته اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ دا سے چه او س سازه کړه یوه بیړئ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا په نګهبانئ ځموږ ده او په امر
ځموږ ده سره چه څوک د رنجه خرابه نهٔ که او سازه ئے راولے فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا پس هر کله چه راغے فرمان
ځموږ ده په سوریدلو په بیړئ کښ یا راغے عذاب ځموږ ده وَفَارَ التَّنُّوْرُ لا او راوختیدهٔ په اوبو هغه تنور
چه تا کره دے د تیږی چه له ادم علیه السلام در ته میراث راغلے دے او دا په کوفه کښ یا په شام کښ یا په
هند کښ وو فَاسْلُكْ فِيْهَا پس سوارهٔ که په دے بیړئ کښ مِنْ كُلٍّ له هر یو نوعے د حیوانانو چه توالد
او تناسل پکښ جاری کیږی زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ جوړه وی یعنی دوه دوه یو نر او یوه ماده چه تخم ئے یخی
ورک نهٔ شی او دا اثنین تاکید دے د زوجین وَاَهْلَكَ او عیال خپل هم اِلَّا مَنْ مګر هغه څوک سَبَقَ
عَلَيْهِ الْقَوْلُ چه او مړے شوے وو پرے ګفت ازلی ځما یعنی په ازل کښ ئے هلاک بنکلے شوے وو مِنْهُمْ ج
چه هغه له دوئ دوه تنه وو یو ئے ځوئ کنعان نوم او بل ئے ښځه ایله نوم ځکه چه دواړه کافر وو .
وَلَا تُخَاطِبْنِيْ او کوښ چه خطاب ونهٔ کړے له ما سره یعنی شفاعت ونه کړے ما ته فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا په حق
د هغه کسانو کښ چه ظلم ئے کړیدے په اختیار د کفر سره ځکه چه اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۷﴾ بیشکه چه دوئ غرق
کړے شوی مقرر دی ځما په دریاب کښ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ پس هر کله چه وختے ته اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ ته
او هر هغه څوک چه له تا سره دی له مؤمنانو عَلَى الْفُلْكِ په بیړئ او په قرار کښیناستے فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

پس ووایه چه ثنا ده خدائی لره اَلَّذِیْ نَجّٰىنَا هغه خدائی چه خلاص ئے کړو موږ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۸﴾
له هغه قوم چه ظالمان یعنی مشرکان دی وَقُلْ او بل ووایه په هغه وخت چه وختې بیړئ ته یا چه ترے
کوز شوے رَّبِّ اَنْزِلْنِیْ اے ربه ځما کوز که ما په بیړئ یا په مکه مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا په داسے کوځیدلو یا
په داسے ځائ دکوځیدلو چه ډیر برکت پکښ اچولے شوےوی وَّاَنْتَ خَیْرُ الْمُنْزِلِیْنَ ﴿۲۹﴾ او حال دا
چه ته ډیر غوره ئے له هغو ټولو چه کوزونکی دی په منازلو مبارکو کښ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے قصه د
نوح علیه السلام کښ او په هلاک دقوم دده کښ په دے شان لَاٰیٰتٍ هرائینه پند ونه او عبر تونه دی
پند اخستونکوله وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِیْنَ ﴿۳۰﴾ او بیشکه چه وو موږ هرائینه مبتلا کونکی د قوم دده په
عظیم بلاء او په سخت عذاب یا عبرت ورکونکی وو نورو خلقوته ترقیامته چه وګوري چه څولے پرے عبرت اخلی
او دا اِنْ مخفف دے له مثقلے او دا لام ئے نښه ده ثُمَّ اَنْشَاْنَا بیا پیدا کړه موږ مِنْۢ بَعْدِهِمْ پس له قومه د
نوح علیه السلام قَرْنًا اٰخَرِیْنَ ﴿۳۱﴾ بل قرن یعنی قوم چه عاد وو فَاَرْسَلْنَا فِیْهِمْ پس ولیږه موږ په دوی
کښ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ استاذے هم له دوی نه چه هود علیه السلام وو او وویل ورته موږ په لسان د
هغه رسول اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ دا چه عبادت کوئ خاص دخدائ ځکه چه مَا لَكُمْ نشته تاسے لره مِّنْ اِلٰهٍ
غَیْرُهٗ بل هیڅوک معبود چه لایق وی دعبادت غیر له دهٔ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۲﴾ ایا پس ځان نهٔ ساتئ
تاسے له عذاب وَقَالَ الْمَلَاُ او وویل مشرانو مِنْ قومه له قومه دده اَلَّذِیْنَ كَفَرُوْا هغه مشران چه کافر وو
وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ او دروغ ئے شمیرهٔ لیدل دا آخرت یعنی له حشره منکر وو وَاَتْرَفْنٰهُمْ او نعمتونه
ورکړي وو موږ دوی لره فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا په دے واړه ژوند ون کښ په ډیر ولو د اولاد او د مالو نو رنگارنګ
سره نو وویل دوی چه مَا هٰذَآ نهٔ دے دا چه وائی زهٔ رسول یم اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ مګر یوادمی دے په
شان ستاسے په هرڅهٔ کښ ځکه چه یَاْكُلُ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ خوري له هغه څیزونو چه خورئ تاسے وَیَشْرَبُ
مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ﴿۳۳﴾ او څښی له هغه او بو چه څښئ تاسے تر یعنی دے هم ستاسے په شان خوري او څښی نو
دے په څهٔ رسول شو وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ او قسم دے که فرمان ومانهٔ تاسے بَشَرًا مِّثْلَكُمْ د هغه سړي چه په شان
ستاسے دے اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ نو بیشکه چه تاسے په دغه وخت هرائینه زیانکاران به اوسئ اَیَعِدُكُمْ
اَنَّكُمْ ایا وعده کوی دے له تاسے سره د دے چه بیشکه تاسے چه یئ اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ په هغه وخت چه مړهٔ

شوئ او بیا وئ تاسې تُرَابًا وَّعِظَامًا خاورې او هډوکي وراسته به بې غوښو بې پلو اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ﴿۳۵﴾
نو بیشکه تاسې به بیرته را وویستې شئ له قبرو نو خپلو ژوندی هَیْهَاتَ هَیْهَاتَ ډېره لرې ده ډېره لرې
ده او دا اسم فعل دې په معنیٰ د ماضي په معنیٰ د بَعُدَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿۳۶﴾ هغه چه وعده کولی شی له تاسره
د هغه خیز چه بیا ژوندون دې اِنْ هِیَ اِلَّا نه دې دا ژوندون مگر حَيَاتُنَا الدُّنْيَا هم دغه ژوندون
دې کمکې هم دا دنیا نَمُوْتُ وَنَحْيَا چه مرو به او ژوندی کیږو به یعنی بعضې به مری او بعض به ژوندی
کیږی وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿۳۷﴾ او نه یو مونږه راپا څولی شوی ژوندی پس له مرګه اِنْ هُوَ اِلَّا نه دې
دا هود علیه السلام مگر رَجُلُ ن افْتَرٰى يو سړې دې چه له ځانه ئې ساز کړی دی عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا په خدائی
دروغ داچه بیا ژوندون دې پس له مرګه وَمَا نَحْنُ او نه یو مونږه لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۸﴾ ده ته ایمان راوړونکی
او نه یو په ده خبره باور کونکی قَالَ نو وویل هود علیه السلام رَبِّ انْصُرْنِیْ اې ربه ځما مدد وکړه له ما سره
بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۳۹﴾ په سبب د دې چه دروغژن ئې ویللم زه او ځما رسالت ئې و نه مانه قَالَ نو وویل
ورته رب عَمَّا قَلِيْلٍ له لږې مودې پس او دا ما زائده دې لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ ﴿۴۰﴾ هر اینه شی به دوی
پښیمانه په دې کفر او تکذیب خپل فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ پس ونیول دوی چغې د هلاک چه جبریل علیه السلام
یو ډیر لوئ هیبت ناک آواز پرې وویسته چه زړه نه د هغو لو پرې وچاودیده بِالْحَقِّ په حق سره فَجَعَلْنٰهُمْ
غُثَآءً ج پس کړه مونږه دوی لکه خشاک او بوراوړی یعنی په مثل د هغه په وچوالی کښی فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ
الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۱﴾ پس لرې والی دې قوم د ظالمانو له رحمته تذنیب بعضې مفسران دا آیتونه وائی چه
چه دا قصه د ثمود ده نه د عاد ځکه چه صیحه په دوئ وه او په عاد خو باد وو او چاچه د عاد ویلی ده هغه
دا دلیل وائی چه په سوره اعراف په هود په شعراء کښی په قصې د نوح علیه السلام پسې هم دا ذکر ده نو
په دې هر یو کښ عذاب نه صیحه وایه شی ځکه د لته هم صیحه ذکر شوې ده والله اعلم بالصواب ثُمَّ اَنْشَاْنَا
بیا پیدا کړه مونږه مِنْۢ بَعْدِهِمْ پس له دې ذکر شویو قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿۴۲﴾ نور خلق لکه قوم د لوط او د شعیب
علیهما السلام او دا آیتونه مَا تَسْبِقُ نه شی نمرې کیدې مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا هیڅ یو ټولی له اجل خپله چه ورته
مقرر دې وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۴۳﴾ او نه روستې پاتې کیدې شی ترې او دا من زائده دې دپاره د استغراق
ثُمَّ اَرْسَلْنَا بیا ولیږل مونږه رُسُلَنَا تَتْرَا ا رسولان خپل په دې حال چه سره متواتر و یعنی

یو په بل پسې پیوسته وو او دا تَ په اصل کښې واو دے یعنی وَتْرًا لکه تَ د تراث او الف د تانیت دے
ماخوذ دے له وتر چه مقابل د جفت دے یعنی یو یو كُلَّمَا جَآءَ هر کله چه به راغے اُمَّةً رَّسُوْلُهَا کوم یو ولی ته رسول
د دے كَذَّبُوْهُ نو دروغژن به ئے وبالهٔ او منکر به شو له توحید له نبوت له بعثه له حشره فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ
پس پله پسې به کړهٔ مونږه هم بعضے د دوئ بَعْضًا په بعضو نورو پسې په هلاکولو کښې وَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ
او وګرځول مونږه دوئ قصے د تعجب په عالم کښې تر قیامته او احادیث جمع دی د اُحدوثة چه قصے د
تعجب ته وائی فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۴﴾ پس لرے والے دے هغه قوم لره چه ایمان نه راوړی الرحمت
د خدائی ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بیا ولیږهٔ مونږه موسیٰ علیه السلام وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ او ورور د ده چه
هٰرون علیه السلام دے بِاٰيٰتِنَا سره د نهو معجزو خپلو چه بیرته بیان شوی دی چه عصا او ید
بیضا او دا نورے شوے وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۵﴾ او په دلیل واضح سره چه الزام کوی د خصم چه هغه
اٰیات اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فرعون او قوم د ده ته فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا پس کبر او سرکشی ئے اوکړه له
ایمانه او له متابعته او حال دا چه وو دوئ قَوْمًا عَالِيْنَ ﴿۴۶﴾ قوم متکبر سرکش فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ پس وویل
دوئ چه آیا ایمان راوړو مونږه لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا په دو وسړیو چه په شان ځمونږه دی په هرڅهٔ کښې
وَقَوْمُهُمَا او بل دا چه قوم د دے دواړو چه بنی اسرائیل دی لَنَا عٰبِدُوْنَ ﴿۴۷﴾ مونږ له خادمان مطیعان
ذلیلان دی لکه مریونه فَكَذَّبُوْهُمَا پس دروغژن ئے وبلل دوئ دواړه فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ﴿۴۸﴾ پس شو
دوئ له هلاک کړے شویو په غرق سره په بحر کښې په سبب د دے تکذیب سره وَلَقَدْ اٰتَيْنَا او هر آئینه په تحقیق
ورکړے وو مونږه مُوْسَى الْكِتٰبَ موسیٰ علیه السلام لره کتاب چه تورات وو پس له هلاک د
فرعون او د قوم د دهٔ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾ بنائی چه دا بنی اسرائیل سمه لاره بیا موی احکام و د شریعت
ته له جهته د دے کتاب وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ اوګرځوه مونږه قصه د ځوئ د بی بی مریم چه عیسےٰ علیه السلام
دے وَاُمَّهٗٓ اٰيَةً او قصه د مور د ده چه پخپله بی بی مریم ده یوه غټه نښه د قدرت خپل چه هغه په
زانګو کښې خبرے کولے او هغے بے خښتنه ځوئ راوړهٔ وَّاٰوَيْنٰهُمَآ او ځائے ورکړے وو مونږه دے دواړو
لره او راوستے وو مونږه اِلٰى رَبْوَةٍ یوے هسکے زمکے ته چه بیت المقدس یا دمشق یا فلسطین یا مصر دو
او ربوه لوړ ځائے ته وائی نو دیو ته ئے ځکه ربوه ویلے وه چه لوړ دے په نوره زمکه ذَاتِ قَرَارٍ چه خاوند د

قرارده یعنی هواره میوه داره ده چه اوسیده ونکی وربانده په ارام وی وَّمَعِيْنٍ ﴿۵۰﴾ ع اوخاونده د جاري یا ۳ ع ۱۸ ۳
دننکاره اوبوده نقل دے چه دامور اوځوئی دولس کاله په دے ربوه کښی وو اوحوراك د عیسیٰ علیه
السلام له مبلغ د هغه تارونو وو چه مور به ئے وریشل اوخرڅول به ئے يٰۤاَيُّهَا الرُّسُلُ اے پیغمبرانو
دا خطاب عام دے چه هریو ته په خپل زمانه کښی شوے دے اویا واځے رسول علیه السلام ته دے او
یا واځے عیسیٰ علیه السلام ته دے اولفظ د جمع له جهته د تعظیم دے كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ خورئی له دے
پاکیزه طعامونو اوله حلالو وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ط اوعملونه کوئی د نیکو چه خدای تعالیٰ هم داپکاربرې اِنِّيْ
بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۵۱﴾ ط بیشکه زهٔ په هغه کارونو چه کوئی ئے تاسے پوهـيم وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اوبیشکه دادین
سماوی چه دے اے رسولانو اُمَّتُكُمْ دین ستاسے دے د ټولو اُمَّةً وَّاحِدَةً په دے حال چه یودین دے
متفق په عقایدو اوپه اصولو د شرائعو کښی یادا ټولے ستاسے چه دے اے امته د محمد صلی الله علیه وسلم
یو ټولے دے متحد او متفق په ایمان او توحید بانده وَّاَنَا رَبُّكُمْ اوزه رب ستاسے یم فَاتَّقُوْنِ ﴿۵۲﴾
پس وویریږئی له ما او بے فرمانی مهٔ کوئی فَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ پس پرې کړه دے اهل کتابو دین خپل بَيْنَهُمْ
زُبُرًا ط په خپل مینځ کښی سره پارچے پارچے یعنی له دے یودینه ئے ادیانِ مختلفه سازکړهٔ او ټولی ټولی شو
له بل مخالف كُلُّ حِزْبٍ م چه هریو ټولے د دوئی بِمَا لَدَيْهِمْ په هغه خودساخته دین چه دوئی ته دے
فَرِحُوْنَ ﴿۵۳﴾ خوشحاله دی اودا سے وائی چه حق هم دادے فَذَرْهُمْ فِيْ غَمْرَتِهِمْ پس پرېږده دوئی اے
رسولَ د اکفار د مکے په گمراهی کښی حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۵۴﴾ تر یو وخته پورے چه وخت د قتل یا د موت د دوئی
دے اَيَحْسَبُوْنَ اَنَّمَا آیا گمان کوی دوئی د دے چه بیشکه هر هغه څیز نُمِدُّهُمْ بِهٖ چه ورکوو مونږه
دوئی له اومدد ورسره کوو په هغه څیز مِنْ مَّالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۵۵﴾ لا له ماله اوله ځامنو په دنیا کښی نُسَارِعُ
لَهُمْ جلتی کوو مونږه دوئی له فِي الْخَيْرٰتِ ط په خیر او په اکرام کښی یعنی دوئی ته پرے خیر رسوو اوعزت
کوو د دوئی بَلْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ اودا سے نهٔ ده بلکه نهٔ پوهیږی دوئی چه دا استدراج دے داتیر بیان
د اعداؤ وو او اوس بیان د اولیاؤ کوی لکه چه وائی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ
چه دوئی له خوفه د عذاب د رب خپل مُّشْفِقُوْنَ ﴿۵۷﴾ لا ویریدونکی وی همیشه وَالَّذِيْنَ اوهغه کسان
هُمْ بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ چه دوئی په ایتونو د رب خپل چه قرآن دے يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۸﴾ لا ایمان راوړی وَالَّذِيْنَ

او هغه کسان هُمۡ بِرَبِّهِمۡ چه دوئ په رب خپل پورې لَا يُشۡرِكُوۡنَ ﴿۵۹﴾ نهٔ شریکوی بل هیڅوک وَالَّذِيۡنَ او هغه
کسان يُؤۡتُوۡنَ مَاۤ اٰتَوۡا چه ورکوی هر هغه چه ورکوی یعنی زکوٰة او صدقات بلکه هر خیر او خیرات وَّقُلُوۡبُهُمۡ
وَجِلَةٌ او حال دا چه زړونه د دوئ په ویره وی چه مبادا دغه عمل څمونږه چرې مردود نه شی او پوهیږی چه
اَنَّهُمۡ اِلٰى رَبِّهِمۡ بیشکه دوئ رب خپل ته رٰجِعُوۡنَ ﴿۶۰﴾ بیا ورتلونکی دی اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی يُسٰرِعُوۡنَ
فِى الۡخَيۡرٰتِ ډیره جلتی او رغبت کوی په طاعاتو کښې پس یو تر بله ور لومړې کیږی وَهُمۡ لَهَا سٰبِقُوۡنَ ﴿۶۱﴾
او دوئ دغه خیرات ته لومړې کیدونکی دی وَلَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا او تکلیف نه کوو مونږه په هیڅ شخص باندې
اِلَّا وُسۡعَهَا مګر په قدر د طاقت د دهٔ وَلَدَيۡنَا كِتٰبٌ او مونږ څخه یو کتاب دې یعنی لوح محفوظ يَّنۡطِقُ بِالۡحَقِّ
چه غږیږی په رښتیا یا مراد اعمال نامې دی چه د هرچا اعمال پکښې لیکلی پراته دی وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُوۡنَ ﴿۶۲﴾
او په دوئ به هیڅ قدر ظلم ونه کړې شی نه په کمولو د ثواب او نه په زیاتولو د عذاب بَلۡ قُلُوۡبُهُمۡ بلکه زړونه
د دوئ چه دی یعنی د کافرانو فِىۡ غَمۡرَةٍ په غفلت کښې ډوب دی مِّنۡ هٰذَا له دې لوح یا اعمال نامې یا قرآن
وَلَهُمۡ اَعۡمَالٌ او دی دوئ لره عملونه ناپاك او کارونه بې پاك مِّنۡ دُوۡنِ ذٰلِكَ غیر له دې شرك د دوئ هُمۡ لَهَا
عٰمِلُوۡنَ ﴿۶۳﴾ چه دوئ د هغه عملونو کونکی دی او دوئ به هم دا سې په دې خپل معصیت او غفلت کښې
وی حَتّٰۤى اِذَاۤ اَخَذۡنَا ترهغه پورې چه ناګاه ونیسو مونږه مُتۡرَفِيۡهِمۡ بِالۡعَذَابِ هغه غنیان او مشران د
دوئ په عذاب د دې دنیا چه هغه یو قحط وو او هغه کال په خیرو د رسول علیه السلام سره چه دوئ ته ئې کړې
وې یا قتل وو په ورځ د بدر اِذَا هُمۡ يَجۡـَٔرُوۡنَ ﴿۶۴﴾ ناګاه دوئ په فریاد شی او استغاثه کوی دوئ او
مونږه ووایو ورته چه لَا تَجۡـَٔرُوا الۡيَوۡمَ تاسو مهٔ کوئ فریاد نن ورځ څکه اِنَّكُمۡ مِّنَّا لَا تُنۡصَرُوۡنَ ﴿۶۵﴾ بیشکه تاسې
سره له مونږه مدد نه شی کولې او له عذابه نهٔ شئ خلاصیدې او دا څکه چه قَدۡ كَانَتۡ اٰيٰتِىۡ په تحقیق وو ایتونه څمونږه
یعنی قرآن چه هر وخت تُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ لوستې کیدل به تاسې فَكُنۡتُمۡ پس وئ به تاسې عَلٰۤى اَعۡقَابِكُمۡ په
پوندو خپلو تَنۡكِصُوۡنَ ﴿۶۶﴾ منډې به مو وهلې بیرته پس شاله دې خوف چه څه وانهٔ ورو مُسۡتَكۡبِرِيۡنَ
په دې حال کښې چه کبر او لوئی کونکی وئ بِهٖ سٰمِرًا تَهۡجُرُوۡنَ ﴿۶۷﴾ چه مسخرې به مو کولې یا ترک کولو به
مو دا قرآن یا پیغمبر یا خانه کعبه چه طواف به مونهٔ کولو او قصې به مو چاپیره ترې کولې اَفَلَمۡ يَدَّبَّرُوا الۡقَوۡلَ
آیا پس تفکر نهٔ کوی دوئ په دې ګفتار کښې چه قرآن چه له اعجازه د الفاظو او له وضوح د معانیو د ته

معلوم شی چه دا کلام دحق دے اَمۡ جَآءَهُمۡ اوکهٔ راغلی دے دوی ته له کتاب د رسول مَّا لَمۡ يَاۡتِ هغه چه
نهٔ وو راغلی اٰبَآءَهُمُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۶۸﴾ هغه پلرو نو نیکونو د دوی ته اَمۡ لَمۡ يَعۡرِفُوۡا رَسُوۡلَهُمۡ اوکه نهٔ دی پیژندلے
دوی رسول خپل چه محمد صلی الله علیه وسلم دے بسره د دا سے کاملو صفاتو چه علم او حلم او کرم او صدق او امانت
او وفا او نیکخوئی او احسان او مروت او کمال دعقل او صحت د نسب او حسن د اخلاقو د اتول پکښ جمع دی
او دوی دے صفاتو ته له سره نظر نهٔ کوی فَهُمۡ لَهٗ مُنۡكِرُوۡنَ ﴿۶۹﴾ پس دوی له دهٔ نا آشنا بیگانه دی او نهٔ
پیژنی ځکه ترخنگ کوی اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ اوکهٔ وائی دوی دا سے بِهٖ جِنَّةٌ ؕ په ده لیونتوب پورے شوے دے ځکه دا سے
پرته وائی او په واقعه کښ دا یو هم پکښ نشته اما دوی له ډیره بغض او حسده وائی بَلۡ جَآءَهُمۡ بِالۡحَقِّ
بلکه دا سے ده چه راغلے دے دوی له په حق سره چه قرآن او دین د اسلام او توحید او احکام د شریعت
دی وَاَكۡثَرُهُمۡ او زیات د دوی چه دی لِلۡحَقِّ كٰرِهُوۡنَ ﴿۷۰﴾ په دے حق نا خوښه دی ځکه چه مخالف دے له
هواء نفسانی او له مقتضاء شیطانی د دوی او اکثر ئے ځکه وویل چه بعض محض له جهته د شرم او ننګه او د ملامتیه د
قوم ایمان نهٔ راوړی لکه ابو طالب وَلَوِ اتَّبَعَ الۡحَقُّ اَهۡوَآءَهُمۡ اوکه پیروی کړے وے حق یعنی قرآن یا خدائ د
ارزو گانو د دوی په دے شان چه خدایان ډیر وے په واقعه کښ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ نو هر آئینه خراب
شوی به وو دا آسمانونه او زمکه ځکه چه تعدد د حاکمانو موجب د فساد دے عادةً وَمَنۡ فِيۡهِنَّ ؕ او هر
هغه څوک چه په دے دواړو کښ دی هغه به هم خراب شوی وو کهٔ ملائک دی او که جن دی او که نور
څهٔ دی بَلۡ اَتَيۡنٰهُمۡ بِذِكۡرِهِمۡ بلکه راوړے مونږ ه دوی له وعظ او پند د دوی یعنی هغه قرآن چه بولی
د دوی خیر د اربنو ته فَهُمۡ عَنۡ ذِكۡرِهِمۡ پس دوی چه دی له پنده خپل مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۷۱﴾ ؕ مخ گرځونکی دی اَمۡ
تَسۡـَٔلُهُمۡ خَرۡجًا اوکهٔ غواړے ته له دوی څخه اُجرت په دے پیغام رسولو ځکه په تا تهمت لګوی فَخَرَاجُ رَبِّكَ
خَيۡرٌ ۖۗ پس هغه اُجرت د رب ستا چه رزق وسیع دے په دنیا کښ او مغفرت دے په عقبیٰ کښ هغه ډیر غوره
دے له اُجرته د دوی وَّهُوَ خَيۡرُ الرّٰزِقِيۡنَ ﴿۷۲﴾ او ډیر غوره د ټولو روزی رسانو دے وَاِنَّكَ لَتَدۡعُوۡهُمۡ
او بیشکه ته هر آئینه بولے دوی اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۷۳﴾ الربع لارے سمے ته چه دین د اسلام د سے ربع
وَاِنَّ الَّذِيۡنَ او بیشکه هغه کسان لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ چه ایمان نهٔ راوړی په قیامت عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوۡنَ ﴿۷۴﴾
له سمے لارے هر آئینه چپیدونکی دی او تلونکی دی لارے د گمراهئ ته روایت دے چه ابو سفیان

رسول صلے اللہ علیه و سلم ته وویل چه قسم دے کوم په خدای او په رحم چه ته خدای رالیږلے رحمت
دپاره دخلقو دهٔ وویل هو۔ بیا ابوسفیان وویل نو ولے دِ قتل کړه پلرونه په توره او ځامن په لوږه نو
نازل شو وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ مهربانی کړے وے مونږه په دوئ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ اولرے کړے وے مونږه هغه چه په
دوئ پورے وه مِّنْ ضُرٍّ له زحمته او سختئ چه هغه قحط وو په دوئ په مکه کښ لَّلَجُّوْا فِیْ طُغْیَانِهِمْ نو هرآئینه
لابه ښخ شوی وو په ګمراهئ خپلے کښ يَعْمَهُوْنَ چه سرګردان متردد به وو وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ او هرآئینه
په تحقیق ونیول مونږه دوئ بِالْعَذَابِ په عذاب دقتل یاد لوږے دقحط دپاره ددے چه نرم شی فَمَا اسْتَكَانُوْا
لِرَبِّهِمْ پس کردن ئے ښکته نه کهٔ رب خپل ته وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿۷۶﴾ او نهٔ تضرع او زاری ئے وکړه بلکه هم
هغسے په خپلے سرکشئ او بے فرمانئ کلک وو وَحَتّٰۤى اِذَا فَتَحْنَا تر هغه پورے چه پرانستله مونږه عَلَیْهِمْ بَابًا
په دوئ دروازه ذَا عَذَابٍ شَدِیْدٍ اخاونده د سخت عذاب چه لوږه وه اِذَا هُمْ فِیْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿۷۷﴾ ناڅاپه دوئ
په عذاب کښ نا اُمیده وو له هره خیره وَهُوَ الَّذِیْۤ او دے هغه قادر مطلق دے اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ چه
پیدا کړے دے دهٔ تاسے له قوت سامعه چه په هغه اوریدل کوئ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ط او سترګے او
زړونه چه اثار د قدرت وګورئ او فکر ترے تیر کړئ صانع ته قَلِیْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ لږ شکر وکارئ تاسے
او دا مَا زائده دے دپاره د تاکید وَهُوَ الَّذِیْ او دے هغه قادر بیچون دے چه ذَرَاَكُمْ فِی الْاَرْضِ پیدا کړئ
دهٔ تاسے او بیائے وشندلئ په زمکه کښ په توالد او تناسل سره وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۹﴾ او هم دهٔ ته بیا
به جمع کړے شی په قیامت پس له تار په تار کیدلو د اجزاؤ وَهُوَ الَّذِیْ او دے هغه فاعل مختار دے چه
یُحْیٖ وَیُمِیْتُ ژوندی کول کوی او وژل کوی په قدرت کامل سره وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّیْلِ او هم دهٔ لره دے
مخالفولے د شپے وَالنَّهَارِ ط او د ورځے چه کله یو زیاتوی او بل کموی او کله په عکس د دے اَفَلَا
تَعْقِلُوْنَ ﴿۸۰﴾ آیا پس عقل نهٔ کوئ تاسے چه ستاسے بیا ژوندی کیدل خو له دے سخت نهٔ دی بَلْ
قَالُوْا بلکه وائی دا کفار د مکے مِثْلَ مَا په شان د هغه کفتار قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿۸۱﴾ چه ویلے وو هغه قول
پخوانیو کفارو قَالُوْۤا ءَاِذَا مِتْنَا وائی دوئ آیا په هغه وخت چه مړه شو مونږه وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا او شو خاورے
او هډوکی وراسته ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۸۲﴾ آیا مونږه به هرآئینه بیا ژوندی را پاڅولے کیږو استفهام
انکاری دے یعنے نهٔ به شو ژوندی کړلے لَقَدْ وُعِدْنَا هرآئینه وعده کړے شوے وه له مونږه سره نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا

هٰذَا موږه او پلرونه څمونږه هم ددے ژوندون پس له مرګه مِنْ قَبْلُ پخوا له راتلو د محمد صلی الله علیه وسلم
نه اِنْ هٰذَآ نه دی دا خبرے اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸۳﴾ مګر دروغژنے قصے دی د پخوانیو خلقو بیا
رسول علیه الصلوٰة والسلام ته مامورکړے په ودرولو دحجت په مشرکانو لکه چه وائی قُلْ ووایه اے رسوله
دے منکرانو ته چه تاسے وایئ لِّمَنِ الْاَرْضُ چه چاله ده دا زمکه یعنی چا پیدا کړے ده وَمَنْ فِيْهَآ او
هرهغه څوک چه په دے کښ دی له مخلوقاتو ددے جواب راکړئ ماله اِنْ كُنْتُمْ که چرے یئ تاسو تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۴﴾
چه پوهیږئ په دے جواب سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ نو زر دے چه درته به ووائی دوئ چه خدائی له دی دا ټول
او هرکله چه دوئ دا سے وویل نو قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۵﴾ ووایه ورته چه آیا پس تاسے پند نه اخلئ
په دے او دا ترے نه معلوموئ چه هغه څوک چه دومره مخلوق له محض نیستی نه هستئ ته ایستے
شی نو هغه به له اعادے نه څرنګه عاجزوی قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ بیا ووایه ورته چه څوک دے
پروردګار د اوو اسمانونو وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۸۶﴾ او پروردګار د هغه عرش چه ډیر لوئ دے سَيَقُوْلُوْنَ
لِلّٰهِ نو زر دے چه به ووائی درته دوئ چه خدائی له دی دا ټول او د وارو رب هم دے قُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۸۷﴾
نو ووایه ورته چه آیا پس ځان نه ساتئ تاسے له شرکه چه مخلوق خپل له دا سے خالق سره شریکوئ قُلْ
مَنْۢ بِيَدِهٖ بیا ووایه ورته چه څوک دے چه په لاس دده کښ ده مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ بادشاهی او اختیار
د هر څیز یعنی د هر خیر او شر یا د هر نفع او ضرر یا د خزانو وَّهُوَ يُجِيْرُ او دے فریادرسی کوی او هر څوک
چه اراده ئے وشی له عذابه خپله وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ او فریادرسی نه کاوه شی په دهٔ د بل چا دا سے چه کوم
شخص بل څوک دده له عذابه خلاص که ددے جواب هم راکړئ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۸﴾ که چرے یئ
تاسے چه پوهیږئ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ نو زر دے چه به ووائی چه دا صفات ټول خدای له دی قُلْ
نو ووایه ورته چه فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ ﴿۸۹﴾ پس له کومه مکر او فریب کولے شی در باندے او چپولے شئ له
حق سره له ظهوره د دا سے دلائیلو او هرکله چه دوئ به ویل چه دا قرآن په دروغ دے چه نفی کوی د
ولد او څمونږه د خدایانو بلکه خدائی ولد لری او د څمونږ خدایان هم حق دی نو آیت راغے چه دا سے
نه ده بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ بلکه راوړے دے موږه دوئ له حق یعنی رښتیا چه قرآن دے وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۹۰﴾
او بیشکه دوئ هرآئینه دروغژن دی چه ترے انکار کوی مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ نه دے نیولے خدائی مِنْ وَّلَدٍ

فرزند څوک لکه چه ولد خوله جنسه او له نوع دوالدوی اود ے پاک دے هم له جنسه هم له نوعے وَمَا كَانَ
مَعَهُ او نشته ورسره مِنْ اِلٰهٍ بل خدائی په الوهیت کښی او که وے ورسره بل خدائی اِذًا نو په دغه وخت
کښی دوه کاروُنه به شوی. یو یو دا چه لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍ هرائینه بیولے به وو هر یو خدائی بِمَا خَلَقَ هغه
مخلوق چه ده پیدا کړے وو او ممتازه معلومه به وو پادشاهی او قلمرو د هر یو له پادشاهئ او قلمرو د
بل نه یعنی د هر یو پادشاهی وقلمرو به سره بیل بیل وو بل دا چه وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ او هرائینه دپاسه
کیدل او غلبه به غوښتله بعض له دوی عَلٰی بَعْضٍ په بعضو نورو او مقدمے او جنګونه به ئے همیشه
کیدل لکه چه کوی دا پادشاهان د دے دنیا او هر کله چه دا یو هم نشته په عالم کښی نو معلوم شو چه تعدد
باطل دے اود ے واحد لاشریک دے سُبْحَانَ اللّٰهِ پاکی ده خدائی لره عَمَّا يَصِفُوْنَ (۹۱) له هغه ولد او
شریکه چه وائی ئے دوی دا سے خدائی عٰلِمُ الْغَيْبِ چه خبردار دے په هر پټ وَالشَّهَادَةِ او په هر ښکاره
فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ (۹۲) پس ډیر لوئے او پورته دے له هر هغه څیز چه شریکوی ئے دوی ورسره
روایت دے له حسن رض چه رب العزت خپل رسول خبر کړ په دے چه ستا په امت کښی به هم
وی اما وخت ئے ورته معین نه کړو او امرئے ورته وکه په کولو د دے دعا لکه چه وائی قُلْ رَّبِّ ووایه اے
رسوله چه اے ربه ځما اِمَّا تُرِيَنِّي که چرے ښوده دے ماته خامخا مَا يُوْعَدُوْنَ (۹۳) هغه عذاب چه وعده
کړے شوے ده دغه له دوی سره او دا اِمَّا په اصل کښی اِنْ شرطیه دے چه په مَا زائده کښی مدغم
شوے دے رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ اے ربه پس مه لره مَا فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ (۹۴) په د له د ظالمانو کښی وَاِنَّا عَلٰی اَنْ
نُّرِيَكَ او بیشکه موږ په دے کار چه وښایو تاته مَا نَعِدُهُمْ هغه عذاب چه موږه وعده کوله دوی سره
لَقٰدِرُوْنَ (۹۵) هرائینه قادر یو اما تاخیرئے کوو د پاره د دے چه کوندی دوی یاد دوی له پشته څوک ایمان
راوړی اِدْفَعْ بِالَّتِيْ دفع که اے رسوله په هغه خصلت سره هِيَ اَحْسَنُ چه هغه ډیر ښه دے السَّيِّئَةَ ط
بدی او دا مفعول دا اِدْفَعْ دے یعنی بدی ئے عفو که او په مقابله کښی احسان ورسره وکړه او دا مخکښ وه
له امر په قتال نَحْنُ اَعْلَمُ موږه ښه پوهیږو بِمَا يَصِفُوْنَ (۹۶) په هغه خبرو چه وائی ئے دوی
چه مال که ولد او کله شریک پیدا کوی او تا کله ساحر او کله کاهن او کله شاعر بولی نو جزا به ورله ورته ومه
خفه کیږه وَقُلْ رَّبِّ او ووایه چه اے ربه ځما اَعُوْذُ بِكَ پناه نیسم په تا پورے مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ (۹۷)

له وسوسو د شیطانانو چه خلق را کاږی معصیت او ضلالت ته وَ اَعُوْذُ بِکَ رَبِّ او پناه یم په تا پورې اے ځما
ربه اَنْ یَّحْضُرُوْنِ ﴿۹۸﴾ له دے چه حاضر شی دوی ما ته په وخت د صلوٰۃ یا د تلاوت یا د نزع یا د مطلق د
پاره د خرابولو د عمل حَتّٰٓی اِذَا جَآءَ د اطلاق دے په بیرته یَصِفُوْنَ پورے یعنی دا کفار همیشه ما او
تا په بدئ یا دوی ترهغه پورے چه راشی اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ یو ته له دوی مرګ او وینی ځائ ځپل هم په دوزخ
هم په جنت کښی او اثار د عذاب هم وګوری قَالَ نو وائی هغه وخت چه رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿۹۹﴾ اے ربه ځما
بیرته وګرځوه ما دنیا ته او صیغه د جمع یا د پاره د تعظیم د مخاطب ده یا خطاب دے ملک الموت او اعوانو
ته دے لَعَلِّیْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا بنائی چه وکړم زه نیک عمل فِیْمَا تَرَکْتُ په هغه ځیز کښی چه ترک کړے وو
ما په دنیا کښی چه ایمان دے حاصل دا چه بیا زه یو کرت ژوندے که چه اول ایمان راوړم او بیا په
دے ایمان کښی عمل صالح وکړم کَلَّا نه ده دا سے لکه چه دے وائی یعنی بیرته رجوع نشته اِنَّهَا کَلِمَةٌ
بیشکه دا لفظ د رَبِّ ارْجِعُوْنِ یو ګفتار دے بے فائدے هُوَ قَآئِلُهَا چه دے وینکے دے د دے لفظ ده لره هیڅ
فائده پکښی نشته وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ او په مخکښی د دوی پرده ده چه قبر دے مانع له رجوع دنیا ته اِلٰی
یَوْمِ یُبْعَثُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ تر هغه ورځے پورے چه بیا ژوندی را پاڅولے شی دوی له قبرونو فَاِذَا نُفِخَ فِی الصُّوْرِ پس
په هغه وخت چه پو کے وکړے شو په شپیلئ کښی دویمه نفخه یا دریمه او قیامت قائم شو او مخلوق بیا
ژوندی شو فَلَآ اَنْسَابَ پس نه به وی له سره نسبونه بَیْنَهُمْ یَوْمَئِذٍ په مابین د دوی کښی په دغه ورځے
یعنی علاقے نه نسبی لکه پلار ولی، مور ولی، ځوئ ولی، رور ولی، خور ولی لکه چه راغلی دی یَوْمَ یَفِرُّ
الْمَرْءُ مِنْ اَخِیْهِ وَاُمِّهٖ وَاَبِیْهِ وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِیْهِ او نه حسبی لکه خسرولی خوابے ولی او نبی خیخ ولی
او د ا په سبب د بیر د هشت او حیرت بلکه لا ځپل ځان به ترے هم ورک وی یا معنیٰ دا چه د لته او س
په نسب فخر کوی چه زه د فلانی شاه د فلانی خان د فلانی صاحب پلار یا ځوئ یا ورور یم او هلته به دے
نسبت او دے سبب له هیڅ فائده نه وی وَّلَا یَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ او نه به پوښتنه کوی دوی یو له بله دے نسبت
او په سبب د بیر مشغولوالی د دوی ځپل غم او دا ځواله حسابه ځکه چه هلته خلاصے په نسبت او په
نسب نه دے بلکه په عمل دے لکه چه وائی فَمَنْ ثَقُلَتْ پس هر هغه څوک چه درانه وځاته مَوَازِیْنُهٗ

عه یا ده کړه اے محمده کفار و ته هغه ورځ چه تختی به ځوان له ورور او له مور ځپله او له پلار ځپله او له ملګری ځپله او له ځوئ ځپله ۱۲

میزانونہ یعنی تلے ددۀ پہ حسناتو۔ داھلہ کۀ جمع وی د موزون فَاُولٰٓئِكَ پس دغه کسان چه دی هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ هم دوئ خلاص او بریالی دی اگرکۀ کم نسبت او کم نسب وی هم وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ
او هرهغه څوک چه سپک وخاتۀ میزانونه یا موزونات ددۀ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ پس داهغه کسان دی
خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ چه زیان ئے کړے دے دخپل ځان چه تمام عمرئے په مخالفت درب او په متابعت دنفس
او د شیطان کښې ضایع کړیدے نو اوس دوئ چه دی فِیْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ په دوزخ کښې به همیشه پراته وی
اگرکۀ عالی نسبت او عالی نسب وی هم تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ سیزی به مخونه د دوئ اور د دوزخ وَهُمْ
فِیْهَا او دوئ په دے اور کښې کٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ غوبځ وچولی بد رنګ مخی به وی یو له د یره خفګانه او بل پوستکی
دمخ به ئے داور سره غوبځ کړے وی او دواړه شونډے به ئے ځلو بینسته ګزه پاس سره تښتیدلی وی او
دوئ ته به وویلے شی چه اَلَمْ تَكُنْ اٰیٰتِیْ آیا نه وو ایتونه څمونږه تُتْلٰی عَلَیْكُمْ چه لوستے کیدل به په تاسو په دنیا
کښې فَكُنْتُمْ پس وئ تاسو بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ چه په هغوئ پورے تکذیب به موکولو چه لائق شوی ددے
عذاب قَالُوْا رَبَّنَا نو وبه وائی دوئ اے ربه څمونږه غَلَبَتْ عَلَیْنَا شِقْوَتُنَا غالب شوے وو په مونږه
باندے شقاوت او بدبختی څمونږه وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّیْنَ ﴿۱۰۶﴾ او وو مونږه یو قوم د ګمراهانو چه لاره د
حق شیطان راتخه ورکه کړے وه رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا اے ربه څمونږه یوکرت وباسه مونږه له دے
دوزخ فَاِنْ عُدْنَا پس کۀ چرے بیا راوګرځیدو مونږه تکذیب او کفرته فَاِنَّا ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ نو پس بیشکه
مونږه به ظالمان او سو چه پس له مشاهدے به بیا هم کفر اختیارکړو او دا اخر کلام دے د دوزخیانو چه
پس له دے کلامه بیا هسے چغے او سورے به ئے وی او غږ بدل به نۀ وی ځکه چه امر د سکوت به ورته وشی لکه
چه وائی قَالَ نو وبه وائی ورب العزت په لسان دمالك پس له هغه چه دوه مثل د دنیا تیر شی اخْسَـُٔوْا فِیْهَا
چپ شئ او کینئ خوار خسته په دے دوزخ کښې وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ او مۀ غږیږئ له ما سره پس له دے به
باب دلوے کولو د عذاب کښې یا مطلق غږ مۀ کوئ نو په دے به ئے طمع بیخی قطع شی اِنَّهٗ كَانَ بیشکه
شان دا دے چه وو فَرِیْقٌ مِّنْ عِبَادِیْ یو ټولے د بندګانو ځما چه مهاجرین وو لکه بلال او عمار او صهیب او
سلمان رضی الله عنهم او دا اسے نور فقراء د دوئ یَقُوْلُوْنَ چه ویل به دوئ په دنیا په طریقه د تضرع چه
رَبَّنَآ اٰمَنَّا اے ربه څمونږه ایمان راوړے دے مونږه په تا او په رسول علیه الصلوۃ والسلام فَاغْفِرْ لَنَا وَ

ارْحَمْنَا پس وبخښه مونږه ته گناهونه او مهربانی رابانده وکړه وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ اوته ډیر
غوره د ټولو مهربانئ کونکوئے فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا پس نیولی وو تاسے داعاجزان مسخره بازی چه
پوچمنډ به مو ورپورے کولے حَتّٰى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ تر هغه حده پورے چه هیر که دوئ له تاسے یادول
ځما ئے پراشتغال ستا سے په مسخرو ددوئ یادګیری ځما له تاسے یعنی هیره کړه وَكُنْتُمْ او وئ به تاسے مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿١١٠﴾
چه په دوئ پورے خندل به موهر وخت له ډیره کبره اِنِّىْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بیشکه زهٔ چه یم جزا د اعمالو د دوئ م ورکړه
ورله نن ورځ بِمَا صَبَرُوْٓا په سبب ددے چه صبر کړے وو دوئ په مسخرو او په ازار ستاسے اَنَّهُمْ هُمُ
الْفَآئِزُوْنَ ﴿١١١﴾ بیشکه دوئ چه دی هم دوئ بریالی او مطلب ته رسیدلی دی په سبب د هغه صبر سره
قٰلَ بیا وبه وائی په خپله خدائ یا مالک به امر ددهٔ سره کفارو ته چه كَمْ لَبِثْتُمْ څومره ژوندکړیدے
تاسے فِى الْاَرْضِ په زمکه کښ عَدَدَ سِنِيْنَ ﴿١١٢﴾ په شمار د کلونو یعنی څو کاله په دنیا کښ ژوندی وئ؟
قَالُوْا لَبِثْنَا نو وبه وائی دوئ چه درنګ تیر کړے وو مونږه هلته يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ یو سلامته ورځ
او یا یوه ټوټه دورځے فَسْــَٔلِ الْعَآدِّيْنَ ﴿١١٣﴾ پس وپوښته ته د خپله حسابګری یا کرام الکاتبین چه حسا
د عمر ځمونږه دوئ ځنه ښکلے پروت دے او دا کموالے د لبثت به په نسبت سره خلود ته وی قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ
بیا وبه وائی خدائ چه واقعی ده چه نهٔ دے کړے مدار تاسے په دنیا کښ اِلَّا قَلِيْلًا مګر کمه موده نسبت
موده د آخرت ته لَّوْ اَنَّكُمْ كه چرے بیشکه تاسے كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١١٤﴾ یئ چه پوهیږئ په دے چه دنیا
نسبت آخرت ته ډیره کمه ده اَفَحَسِبْتُمْ ایا پس ګمان کوئ تاسے اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا دے چه بیشکه
پیدا کړی یئ مونږه تاسے عبث یعنی په لوبو بے فائدے بے حکمته وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا او بل دا ګمان کوئ چه
بیشکه تاسے مونږه ته لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿١١٥﴾ نهٔ به بیولی کیږئ بیرته د پاره د جزا د اعمالو فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ
الْحَقُّ پس بلند شان دے د خدائ چه باد شاه دے لائق د بادشاهئ مطلقًا لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته هیڅوک
لائق د عبادت په رښتیا مګر هم دے یواځے رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ﴿١١٦﴾ چه دے رب دے، هغه عرش
چه کریم دے ځکه چه رحمت ټول هم له دهٔ ځنه نازلیږی وَمَنْ يَّدْعُ او هرڅوک چه بولی مَعَ اللّٰهِ له
خدائ سره اِلٰهًا اٰخَرَ بل خدائ یعنی د هغه عبادت هم ورسره کوئ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ نشته هیڅ
دلیل دهٔ لره په عبادت د غیر فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ پس بیشکه هم دا خبره ده چه حساب ددهٔ عِنْدَ رَبِّهٖ

په نزد د رب د دهٔ دے نو په قدر د استحقاق به جزا ورله ورکړی په قیامت اِنَّهٗ بیشکه شان دا دے چه لَا یُفۡلِحُ الۡکٰفِرُوۡنَ ﴿۱۱۷﴾ بریے نه مومی او نه خلا صیبږی له عذابه هیچرے کافران **نکته** شروع ئے کړے وه په سورت په اثبات د فلاح مؤمنانو لره او ختم ئے کهٔ په نفی د فلاح کافرانو لره بیا رسول علیه السلام ئے مامور کهٔ په استغفار چه وَ قُلۡ رَّبِّ اغۡفِرۡ وَ ارۡحَمۡ او ووایه اے ربه مغفرت او رحم وکه وَ اَنۡتَ خَیۡرُ الرّٰحِمِیۡنَ ﴿۱۱۸﴾ او ته غوره ئے له ټولو رحم کونکو ع ۶

سُوۡرَةُ النُّوۡرِ مَدَنِیَّةٌ　بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ　اٰیَاتُهَا ۶۴　رُکُوۡعَاتُهَا ۹

سُوۡرَةٌ اَنۡزَلۡنٰهَا دا یو سورت دے چه رالیږلے دے مونږه له عالم قُدس نه تا سره ته وَ فَرَضۡنٰهَا او فرض کړیدے مونږه دا سورت په تا سره یعنی هغه احکام چه په دهٔ کښ ذکر دی وَ اَنۡزَلۡنَا فِیۡهَاۤ او رالیږلی دی مونږه په دے سورت کښ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ ایتونه واضح له حدودو او له نورو احکامو لَّعَلَّکُمۡ تَذَکَّرُوۡنَ ﴿۱﴾ بنائی چه تاسو پند واخلئ او له محارمو ځان وساتئ او یو له احکامو دا دے چه اَلزَّانِیَةُ وَ الزَّانِیۡ زنا کاره ښځه ده او زنا کار سړے چه دے او دا دواړه مبتدا دی او خبر ئے فَاجۡلِدُوۡا دے او دا الف لام په معنی د الذی دے چه متضمن دے معنی د شرط لره ځکه ف جزائیه داخله شوے ده په خبر باندے نو تقدیر ئے دا دے چه اَلَّتِیۡ زَنَتۡ وَ الَّذِیۡ زَنٰی فَاجۡلِدُوۡهُمَا فَاجۡلِدُوۡا پس ووهئ اے حاکمانو کُلَّ وَاحِدٍ مِّنۡهُمَا هر یو له دے دواړو مِائَةَ جَلۡدَةٍ۪ سل دُرے او دا حکم خاص د پیغلے او د لونډ دے په شرط د دے چه اصیلان وی ځکه چه د واده شویو حکم رجم دے او د مریو نو حکم پنځوس دُرے دی او حکم د تعزیر مذکور په نزد د امام اعظم هم په دے ایت منسوخ شوے دے لکه حکم د حبس او د اذی چه په سر د سورهٔ نساء کښ وو هغه هم په دے منسوخ دے وَّ لَا تَاۡخُذۡکُمۡ او نهٔ دی نیسی تاسو بِهِمَا رَاۡفَةٌ په دغه دواړو زناکارانو زړه سوے او مهربانی فِیۡ دِیۡنِ اللّٰہِ په حکم او په طاعت د خدای کښ اِنۡ کُنۡتُمۡ که چرے یئ تاسو تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰہِ چه ایمان مو راوړے وی په خدائ وَ الۡیَوۡمِ الۡاٰخِرِ ۚ او په ورځ د قیامت او په دے کښ ډیر لوئ تاکید دے چه باعث دے په کولو دے کار په اکمل وجه سره خامخا وَ لۡیَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا او میباید چه حاضر د شی عذاب کولو د دے دواړو ته طَآئِفَةٌ مِّنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۲﴾ یوه لویه فرقه له مؤمنانو چه مشهور شی دا عذاب او

باقی مخلوق پرے عبرت واخلی روایت دے چه یوه ښځه مالداره زناکاره وه مدینه کښې چه په اُمّ
مهزول بللے شوه ناګاه یو مؤمن اراده وکړه د نکاح کولو دے دپاره ددے مال نو نازل شو اَلزَّانِیْ زناکار
سړے چه دے یعنی هغه خبیث چه له شانه ئے زناده حقیقی زناکار لَا یَنْکِحُ نهٔ نکاح کوی یعنی رغبت نهٔ
کوی په نکاح کولو باکے ښځے کښې اِلَّا زَانِیَةً مګر زناکاره ښځه اَوْ مُشْرِکَةً یا مشرکه ښځه یعنې مګر رغبت
کوی هغے خبیثے ته چه ددے په شان وی وَالزَّانِیَةُ او هغه زناکاره ښځه چه ده لَا یَنْکِحُهَاۤ په نکاح نهٔ اخلی دا زانیه
ښځه اِلَّا زَانٍ مګر زناکار سړے یعنی مګر رغبت کوی ورته هغه خبیث فاسق چه ددے په شان وی
اَوْ مُشْرِکٌ ج یا مشرك سړے وَ حُرِّمَ ذٰلِكَ او حرامه کړے شویده دا زنا یا دا نکاح د زناکارو ښځو د
پاره د حاصلولو د مبلغ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۳﴾ په مؤمنانو باندے فائده معلومه دِ وی دا خبره چه دا تیر
ایت محض دپاره د رغبت ور کولو دے په نکاح د زناکارو کښې حُکمه چه زنا په قبح کښې نزدے ده شرك ته لکه
چه عفاف او تحصن نزدے دے ایمان ته او بل دا نفی په دے کښې په معنٰی د نهی ده لکه چه چا ویلی دی
او که په معنٰی د نهی وی نو منسوخ شوے دے په ایت د وَ اَنْکِحُوا الْاَیَامٰی سره وَالَّذِیْنَ او هر چه هغه
کسان دی یَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ چه ولی هغه ښځے چه له زنا پاکے وی په نسبت د زنا سره دا چه ورته
وائی چه ته زانیه ئے یا اے زانیے او په احصان د قذف کښې ښځه ځیزونه شرط دی حریت، عقل، بلوغ
اسلام پاکی زنا او محصن هم په حد قذف کښې دا سے دے له محصنه ثُمَّ لَمْ یَاْتُوْا بیا رانهٔ ولی او تیر نهٔ کړه د
حاکمانو په مخکښې بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ څلور تنه شاهدان چه شاهدی ولولی په زنا فَاجْلِدُوْهُمْ پس ووهئ تاسے
اے حاکمانو دا قاذفان که اصیلان وی ثَمٰنِیْنَ جَلْدَةً اتیا درے وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ او دوباره مهٔ قبلوئ
دوئ له یعنی ددوئ شَهَادَةً اَبَدًا ج شاهدی هیچرے یعنی ان تر وخته دمرګه وَ اُولٰٓئِكَ او دا قاذفان چه دی
هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۴﴾ دوئ فاسقان دی اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا مګر هغه کسان چه توبه و باسی مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ
پس له دغه قذف نه لهٔ دے ګناه وَاَصْلَحُوْا ج او صاف که نیت خپل په ترك د قذف د مسلمان سره نو هر چا چه
داسے او کړهٔ فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۵﴾ بخښونکے مهربان دے دا نوم د فاسق
به ترے پورته که اګر که هم هغے مردود الشهادة وی روایت دے چه پس له نزول ددے تیر
ایت عاصم بن عدی وویل چه اے رسول ﷺ که څوك بیګانه سړے له خپلے ښځے سره ووینی نو کهٔ دے

خلور شاهدان لتوی ترهغه به دځیل مطلب وکه اولاړ به شی او که بے شاهدانو دا حال وائی نوهم اتیا دُرے وهلے کیږی او هم فاسق او مردود الشهادة گرځی نو دے دخه علاج دے رسول علیه السلام ورته وویل چه خدائی هم دا سے حکم کړے دے بیا چه له مجلسه راپاخیدم مخے له ئے زوم راغے چه عویمر بن عمرو وچه شریک بن سمحاء ئے دخپلے ښځے په سینه پروت ولیدهٔ چه خوله بنت عاصم وه نو ډیره واویلائے وکړه چه داخو یخپل کالهٔ کښ پرے مبتلا شوم او بیرته رسول علیه السلام له راغے او حال ئے بیان کهٔ ورته اوده خوله راوسته چه پوښتنه ترے وکړه نو دا منکره شوه او چاویلی دی چه دا اٰیت په باب د هلال بن اُمیه کښی دے په هر تقدیر خو دا اٰیت دلعان نازل شو وَ الَّذِيْنَ او هرچه هغه کسان دی يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ چه وُلی په نسبت د زنا ښځے خپلے وَلَمْ يَكُنْ او حال دا چه نهٔ وی لَّهُمْ شُهَدَاۗءُ دوئی له شاهدان په دے کار اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ مګر خپل ځانونه د دوئی او دا انفسهم بدل دے له شهداء فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ پس واجب دی په دے کښی شاهدی لودل دیوله دوی اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ خلور شاهدئی په نامه دخدائی په دے خبره اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ⑥ چه بیشکه دا خبنتن هر اٰئینه له رښتیا ویونکو دے په دے نسبت د زنا کښ ښځے خپلے ته **نکته** دا خلور شاهدئی ځکه مقرر شوے چه اصل خو خلور شاهدان وو او هرکله چه پیدا نهٔ شو نو داهره یوه شاهدی په ځائی دیو سړی او دریم او طریقه دادائے دا سے ده چه زوج و وائی اَشْهَدُ شاهدی لوم زهٔ دخدائی د پاره چه زهٔ رښتنے یم په دے نسبت د زنا کښ دے ښځے خپلے ته وَالْخَامِسَةُ او پنځمه شاهدی چه دهٔ اَنَّ لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ دا سے ده چه لعنت دخدائی دِ وی په دے زوج باندے اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ⑦ که چرے وی دے له دروغ ویونکو څخه او دا پنځمه شاهدی په ځائے د تزکیے شوه اما هرکرت دِ اشاره کوی دے ښځے ته پس دالعان شو د زوج او په دے سره ساقط شو له دهٔ حد دقذف وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ او دفع کوی له دے ښځے عذاب اَنْ تَشْهَدَ دا کار چه شاهدی ولولی دا ښځه اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ خلور شاهدئی په نامه دخدائی په دے خبره اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ⑧ بیشکه چه خښتن خاهر اٰئینه له دروغ ویونکو دے په دے نسبت د زنا کښ ماته وَالْخَامِسَةَ او ولولی پنځمه شاهدی اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ دا سے چه بیشکه غضب دخدائی دِ وی په دے باندے اِنْ كَانَ که چرے وی دا زوج د دے مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ⑨ له رښتیا ویونکو څخه بیا رسول صلے الله علیه وسلم پس له ماخښهٔ دماز دیګر د داره زوجین را وستل او داړو همدا سے

شاهدئ ولو دے وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اوکهٔ نهٔ وے فضل دخدائ په تاسے وَرَحْمَتُهٗ او مهربانی
ددهٔ په ستر دے ناحشے سره وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ اوبل دا نهٔ وے چه بیشکه خدائ ډیر توبه قبلونکے دے
حَكِيْمٌ ۝ ۱۰ بر حکمته دے چه هیڅ کار ئے له حکمته خالی نهٔ دے اوجواب دلولا محذوف دے هغه دا دے هرائینه
شرمیدلی به وئ یا هرائینه عذاب به درلره جلت راغلے وو روایت دے چه پنځم کال پس له هجرته په غزا د
مریسیع یا دبنی مصطلق کښی رسول صلی الله علیه وسلم بی بی عائشه رض له ځان سره بوتلے وه پس له نزول
دحجاب بیا چه بیرته راوګرځیده اومدینے ته رانزدے شونوبی بی وائی چه یوه شپه دکوچ غږ وشه اوزه حاجت
ته لاړم چه راغلم ساروان اوبښ ته شا کړے کینا ست اوځما په غاړه کښی حمیل وو دجزع یمنی چه په سینه م
لاس وواهه حمیل رانه لویدلے وو نوبیرته لاړم اوهغه داسے ګمان وکهٔ چه دا کجاوه کښی نو ته نواوښ ئے پاځولو
اولاړ په لښکر پسے اوما چه حمیل بیامونده اوراغلم خلق ټول تللی وو اومیدان خالی وو نوهم هلته پریوتم
چه اوس به څوک راپسے راشی اوخوب یوړم ناګاه صفوان معطل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
مقرر کړے وو لښکر شاته دپاره دڅوکئ اوله ورایه دپروت بنی آدم سیاهی ولیده بیائے وپیژندلم اوما دمړی
ګمان ئے وکه نوپه زوره ئے ووئیل اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ عرس رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چه زهٔ په دے
آواز ویښه شوم اوقسم دے چه غیرله دے استرجاع نهٔ مانه کوم لفظ له دهٔ اوریدلے دے اونه دهٔ له ما نوخپل
اوښ ئے چوکه اوزه پرے سوره شوم اودهٔ مهار ونیوه اوغرمے له لښکر ته راغلو اوخبرے دتهمت په خلقو کښی
برپائ شوے اما زهٔ پرے هیڅ خبره نهٔ وم بیا چه کورته راغلم نویوه میاشت ناجوړه شوم اورسول علیه السلام
به م پوښتنے لره راغے اوویل به ئے اوس څنګه ئے اونور مهربانی اواختلاط به ئے نهٔ کولو ډیخوا ایشان
نوما اذن وغوښت اوپلارکره لاړم اوبیا هلته له دے حال خبره شوم نومرض م دوچند شو اودشپے ورځے
به م ژړل اودهٔ به هم له هرچا ځما دپاکئ پوښتنه کوله بیا چه موده پس هلته پلارکره راله راغے اوزهٔ ئے
په ډیره ژړا اوپه بد حال ولیدم نوراته ئے ووئیل اے عائشے! که دا ګناه دِ کړے وی نوخدائ ته توبه وباسه
اوبخښنه ترے وغواړه نوما مور اوپلار ته ووئیل چه ځما له طرفه تاسو جواب ورکړئ دوئ ووئیل مونږ
له جوابه عاجز یو له دے وجے نوما پخپله ورته ووئیل چه زهٔ هرڅوکهٔ خپله پاکی وایم هیڅوک اعتبار
پرے نه کوی خو زهٔ به هم دیعقوب علیه السلام په شان وایم چه فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ الآية ناګاه هم

هلته اثر دوحی پرے ښکاره شهٔ بیا چه اثر دوحی ترے پورته شو نو راته ئے وویل اَبْشِرِیْ یَاعَائِشَةُ فَقَدْ اَنْزَلَ
اللّٰهُ بَرَآءَتَکِ او نازل شو اِنَّ الَّذِیْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ بیشکه هغه کسان چه راوړی ئے دی عنه دروغ
په شان د بی بی عائشےؓ کښ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ ط یو ټولے دے له تاسے مسلمانانو چه هغه پنځهٔ کسه وو عبد الله
بن اُبَیُّ چه سردمنافقانو وو او زید بن رفاعه او حسان بن ثابت او مسطح بن اثاثه او حمیه بنت جحش لَا تَحْسَبُوْهُ
گمان مهٔ کوئ په دے دروغو شَرًّا لَّكُمْ ط شر او بدی تاسے لره او دا خطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته
او بی بی عائشےؓ او صفوان ته دے بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ط بلکه دا دروغ غوره دی تاسے لره ځکه چه په دے سره څو
څو کاروته وشو یو تاسے لره پراجر عظیم راغے بل په پاکئ ستاسے کښ ایتونه راغلهٔ بل عزت او لوئی ستاسے
هرچاته ښکاره شوه بل په دروغ ویونکو ستاسے سخت وعید راغے لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مقرر دے هر سړی لره
له دغه بهتان ویونکو مَّا اكْتَسَبَ جزا د هغه څیز چه گټلے دے دهٔ مِنَ الْاِثْمِ ج له گناه په قدر د خوض د دهٔ
چه چا خندلی دی او چا الفاظ فاحشه ویلی دی او چا سکوت کړے دے اما بل ئے منع کړے نهٔ دے له دے
وَالَّذِیْ تَوَلّٰی كِبْرَهٗ او هغه څوك چه ئے واخسته ډیره لویه او شنیعه د هغه خبرے مِنْهُمْ له دوئ تولی
مراد عبد الله بن اُبَیُّ دے چه صفوان له کجاوے سره راغے په هغه ډله چه عبد الله پکښ ناست وو نو
پوښتنه ئے وکړه چه دے کجاوه کښ څوك ده دوئ وویل عائشهؓ ده نو دهٔ وویل والله چه نهٔ دا ترخلاصه
یاتے شوے ده او نهٔ دے ترے خلاص پاتے شوے دے نو بیا مجلس پکښ برپائ شو لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ⑪
مقرر دے دهٔ لره عذاب لوئ په آخرت کښ چه دوزخ دے یا په دنیا کښ چه اتیا دُرے هم وهلے شو او زنلی
تر تلی هم شو د هرچا حسان وو چه نابینا شو یا مسطح وو چه شل شو روایت دے چه عمرؓ
وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه خدائ مج نهٔ دے پریخے چه ستا په بدن کینی ځکه چه په
نجاست به کښ وی نو څرنګه به ئے نهٔ ساتلے ته له هغه چا چه په دا سے فاحشے ککړوی او عثمانؓ وویل
چه ستا سورے خدائ نهٔ دے پید اکړے چه څوك به قدم پرے کیږدی نو څرنګه به ئے نهٔ ساتلے له دے چه په
حرم ستا څوك ککړ لاس کیږدی او علیؓ وویل چه جبریل علیه السلام ته ماموره کړے چه څپلئ د
وباسه چه پلیته ده نو څرنګه به ئے نه ماموره کولے په ویستلو له کوره د هغه چا چه ککړوی په

عه خوشحاله شه اے عائشے پس په تحقیق راولیږلو خدائ پاکوالے ستا ۱۲

په دا سے پلیتیٔ باندے او ابوایوب انصاری رض ته خپلے ښځے وویل چه که د صفوان په ځائ ته وے نو دا سے
کار به دِ له لاسه شوے وو له حرمه د رسول الله علیه وسلم سره دهٔ ووېل حاش لله لهدا سے کاره بیا ئے
ورته وویل چه کهٔ زهٔ د بی بی عائشےرض په ځائ وے نو ما خو به خیانت د رسول علیه السلام نهٔ وو کړے او
سره له دے چه صفوان له تا غوره دے او بی بی عائشه رض له ما غوره ده نو هغو به دا کار څرنګه کولو بلکه دا محض
دروغ دی د منا فقانو د خولے نو په تصدیق د دے کښې نازل شو لَوْلَآ ولے نه اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ په هغه وخت
چه واوریده تا سے دا خبره ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ کمان کولو مؤمنانو سړیو وَالْمُؤْمِنٰتُ او مؤمنانو ښځو
بِاَنْفُسِهِمْ په ځانو نو خپلو بعضے په بعض خَيْرًا لا د خیر او په مقتضی د ظن الْمُؤْمِنِيْنَ خیرا ئے وحمل ئے کولو
چه عائشه او صفوان ئے دواړه پاک بللی وے وَّ قَالُوْا هٰذَآ او ویلی وے تو لو دا سے چه دغه کفتار اِفْكٌ
مُّبِيْنٌ ﴿۱۲﴾ دروغ دی ښکاره لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ ولے رانهٔ وسته او تیر نهٔ کړه دوئ په دے خبره بِاَرْبَعَةِ
شُهَدَآءَ ج څلور شاهدان چه شاهدئ ولوی په دغه قذف د دوئ فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا پس هرکله چه رانهٔ وسته
او تیر نهٔ کړه دوئ بِالشُّهَدَآءِ دا څلور شاهدان فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ پس دا کسان چه دی د خدائ د وړاندے
هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۳﴾ هم دوئ دروغژن دی وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ او که نه وے فضل د خدائ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ
په تا سے او رحمت د دهٔ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ په دنیا کښې په توفیق د توبے سره او په اخرت کښې په عفوه
سره او په مغفرت سره لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ نو هرا ئینه رسیدلے به وو تا سے په هغه دروغو کښې اَفَضْتُمْ فِيْهِ چه
غوتے وهلے تا سے په هغه دروغو کښې عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۴﴾ عذاب لوئے هم دلته په دنیا کښې اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ
په هغه وخت چه رانیولے تا سے دا خبرے دا فك یو له بله بِاَلْسِنَتِكُمْ په ژبو خپلو یعنی هر یو به د
بل له خولے اوریدلے او په بغ به ئے هیڅ خبر نه وو او دلته یوه تے محذوفه ده چه په اصل کښې تَتَلَقَّوْنَهٗ
وو. وَتَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ او وبه وائ تا سے په خولو خپلو سره مَّا لَيْسَ لَكُمْ هغه دروغ چه نشته تا له
بِهٖ عِلْمٌ په هغه هیڅ پوهه وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ق او کنړئ تا سے دا خبره اسانه چه هیڅ ګناه پکښې نشته
وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ او حال دا چه دا خبره په نزد د خدائ عَظِيْمٌ ﴿۱۵﴾ ډیره لویه ده په باب د ګناه کښې وَلَوْلَآ او
ولے نه اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ په هغه وخت چه واوریده تا سے دا خبره قُلْتُمْ مَّا يَكُوْنُ لَنَآ ویل تا سے چه نهٔ
دی بائده موږ ه لره اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ق دا کار چه خوله وخوځوو په دے خبره باندے سُبْحٰنَكَ پاکی ده

تالره اے ربه او تعجب دے له دا سے غنبه د روغ چه حرم د رسول صلی الله علیه وسلم ته نسبت د فجور کولے
شی هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ ﴿۱۶﴾ دا دروغ دی ډیر لوئی جوړ کړی د منافقانو يَعِظُكُمُ اللّٰهُ پند در کوی تا سے ته
خدائ یعنی منع کوی تا سے اَنْ تَعُوْدُوْا له دے چه بیا عود ونهٔ کړئ لِمِثْلِهٖ اَبَدًا کولو دا سے رنګ کار
ته هیڅرے ترڅو چه ژوندی وئ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷﴾ که چرے یئ تا سے مؤمنان ځکه چه ایمان مانع دے
له نسبته د دا سے فاحشو هر مسلمان ته خصوصًا امهات المؤمنین ته وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ او بیانوی خدائ لَكُمُ الْاٰيٰتِ
تا سے ته ایتونه د پند او نصیحت په طریقه دادب زده کړئ او له بے ادبئ ځان وساتئ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او
خدائ دانا دے په اعمالو ستا سے حَكِيْمٌ ﴿۱۸﴾ پُرحکمته دے په امر او نهی کولو کښ اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه
هغه کسان يُحِبُّوْنَ چه مینه کوی دوئ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ په دے چه خوره شی فاحشه او بدنامی فِي
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په باب د هغه کسانو کښ چه ایمان ئے راوړے دے په دے شان چه مخلوق په مجلسونو
کوی لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ مقرر دے دوئ لره عذاب دردناك فِي الدُّنْيَا هم په دنیا کښ په حد قذف او په
بدنامئ سره وَالْاٰخِرَةِ او په آخرت کښ په اور د دوزخ سره وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او خدائ پوهیږی په ضرر د
هغه فاحشئ چه خوره کړے ده تا سے وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾ او تا سے نهٔ پوهیږئ په هغه وَلَوْلَا فَضْلُ
اللّٰهِ او که نهٔ وے فضل د خدائ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ په تا سے او مهربانی د دهٔ وَاَنَّ اللّٰهَ او دا نهٔ وے چه
بیشکه خدائ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۰﴾ مهربان رحیم دے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَتَّبِعُوْا مهٔ کوئ
پیروی خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ د کامونو د شیطان یعنی په دهٔ پسے مهٔ ځئ په لار د معصیت کښ وَمَنْ يَّتَّبِعْ
او هر چا چه پیروی وکړه خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ د کامونو د شیطان او د دهٔ په فرمان پسے لاړه فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ
بیشکه چه دے حو امر کوی تابع خپل ته بِالْفَحْشَآءِ په هغه کار چه ډیر قبیح وی هم په عقل هم په عرف
وَالْمُنْكَرِ او په هغه کار چه شرع ئے نهٔ خوښوی او طبائع ترے نفرت کوی وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ او که نهٔ
وے فضل د خدائ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ په تا سے په توفیق د توبے او رحمت په پاکولو ستا سے مَا زَكٰى مِنْكُمْ نو
نهٔ به وو پاك شوے له معصیت دا فک ستا سے مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا د هیڅوك هیڅرے وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ ولیکن
خدای چه دے پاکوی په قبول د توبے سره مَنْ يَّشَآءُ هر هغه څوك چه اراده ئے وشی وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ او
خدائ اوریدونکے دے د اقوالو د خلقو عَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾ دانا دے په نیتونو د دوئ او په اخلاص د دوئ روایت

دے چہ صدیق اکبر سوګند کړے وو چہ تر ورزئ خپل نه چہ مسطح نوم وو چہ یوله هغو بیځو تنو وو
چہ افک ئے برپائے کړے وو چہ نه به پس له دے څخه ورکوم ورلره او نه به دوباره احسان ورسره وکړم مطلقًا
نو نازل شو وَلَا يَاْتَلِ او سوګند دِ نهٔ کوی اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ خښتنان دفضل په دین کښ له تاسے وَالسَّعَةِ
او خښتنان دارتکاهئ او د فراخئ په مال کښ اَنْ يُّؤْتُوْا په دے چہ ورنه کړی نفقه اود لته لا یکښ مقدر
دے اُولِي الْقُرْبٰى خښتنانو دخپلولی له وَالْمَسٰكِيْنَ او محتاجانو علجزانو نادارانو له وَالْمُهٰجِرِيْنَ او هجرت کونکو
لره فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﷺ په لاره دخدائے کښ او مسطح په دے هم خپلوانو نه دے چہ تر ورزے دے او هم
مسکین او هم مهاجر دے نو ددهٔ خطا ته دے نه کوری وَلْيَعْفُوْا او میا باید چہ عفو دِ وکړی دهغه ګناه چہ ترے شوی دی
وَلْيَصْفَحُوْا او میا باید چہ مخ دِ وګرځوی او اعماض دِ وکړی او انتقام دِ ترے نهٔ اخلی ځکه چہ تا هم بیا له خپل
خدای سره معامله لرئ نو اَلَا تُحِبُّوْنَ آیا دوست نهٔ لرئ تاسے اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ط دا چہ بخښنه وکړی خدائ
تا ته د ګناهونو ستاسے وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (۲۲) او خدائ بخښونکے مهربان دے اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يَرْمُوْنَ
الْمُحْصَنٰتِ چہ ولی دوی په نسبت د زنا ښځے پاکے عفیفے الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ بے خبرے له دے فاحشے پاکے
ایمان راوړونکے په خدائ او رسول خبرد اِنَّ دا دے چہ لُعِنُوْا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ س لعنت وویلے شو په دوئ
هم په دنیا کښ په بدنامی او په رسوائی سره او هم په آخرت کښ په سخت عذاب سره لکه چہ وائی وَلَهُمْ
عَذَابٌ عَظِيْمٌ (۲۳) او مقرر دے دوئ لره عذاب لوئ يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ په هغه ورځ چہ شاهدی به ورکړی په
دوئ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ ژبے د دوئ او لاسونه د دوئ او خپے د دوئ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۲۴)
په هغه افعالو او اقوالو چہ کول به دوئ په دے دے وارو په دنیا کښ يَوْمَئِذٍ په دغه ورځے يُّوَفِّيْهِمُ اللّٰهُ پوره
به ورکړ دوئ له خدائے دِيْنَهُمُ الْحَقَّ هغه جزا د دوئ چہ لائق ده له دے عمله د دوئ وَيَعْلَمُوْنَ او پوهه به
شی دوئ بیا هغه وخت اَنَّ اللّٰهَ په دے چہ بیشکه خدائ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ (۲۵) دے ثابت قادر دے په
ثواب او په عقاب یا عادل دے چہ انتقام د مظلوم اخلی له ظالم اَلْخَبِيْثٰتُ ناپاکے ښځے او ناپاکے خبرے
چہ دی لِلْخَبِيْثِيْنَ د پاره د ناپاکو دی له خلقو وَالْخَبِيْثُوْنَ او ناپاک خلق چہ دی لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ د پاره
ناپاکو ښځو او ناپاکو خبرو دی وَالطَّيِّبٰتُ او پاکے ښځے او پاکے خبرے چہ دی لِلطَّيِّبِيْنَ د پاره د پاکو دی له خلقو
وَالطَّيِّبُوْنَ او پاک خلق چہ دی لِلطَّيِّبٰتِ ۚ د پاره د پاکو ښځو او پاکو خبرو دی یعنے د پاک سره هر کله پاک لائق دے

او له پلیت سره پلیت او هر کله چه دا سے شوه اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ دا اهل بیت یا رسول علیه السلام او بی بی
عائشه رض او صفوان رض چه دی پاك او بیزاره دی مِمَّا يَقُولُونَ ط له هغه نا لایقو خبرو چه وائی ئے دا دروغژن
په حق د دوی کښ لَهُم مَّغْفِرَةٌ مقرر ده دوی لره بخښش له خدائی وَّرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿۲۶﴾ او روزی ډیره هیشه ع
په جنت کښ **فائده** خلورته خدای په خلورو خیزونو پاك کړی دی یو یوسف علیه السلام په شاهد ئ
د طفل بل موسی علیه السلام په تختولو د تیرے جامے دده بل مریم رض په عزیزیدلو د ولد خپل بل
بی بی عائشه رض په نزول د آیت په حق دپاکئ ددے کښ نور ددے او د هغو خومره فرق دے چه دا
ترتیامته په منبرونو او محرابونو کښ لوستے شی دپاره د اظهار د لویئ د رسول علیه السلام **روایت**
دے چه یو ے ښځے رسول علیه السلام ته ووئیل چه مونږه په خپل کاله کښ بے پردګه ناستے او سو
او وایو چه په دے حال چاونه لیدلے ناګاه خوك په رانوځی بے اذن بے اګاهی او مونږه به په هغه
حال وو نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مومنانو لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا مه ننوځئ هغه کورو
ته غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ چه غیر وی له کورستاسے یعنی بیګانه کره دننه مه ځئ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا ترهغه چه
اول اذن وغواړئ د دخول وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا او بیا سلام واچوئ په اهل ددے کور او ولته اذن
په سلام هله مقدم دے که خوك ښکاره نه وو او که ښکاره وو نو اول سلام دے او داسے دے وائی ءَ اَدْخُلُ اَلسَّلَامُ
عَلَيْكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ دا اخبار او اذن غوښتل ډیر غوره دے تاسے لره او دا حکم دے دپاره ددے چه لَعَلَّكُمْ
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾ بنائی تاسے پند واخلئ په دے فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا پس که چرے بیا نه موئ تاسے فِيْهَآ اَحَدًا په دے کور نو
کښ هیڅوك فَلَا تَدْخُلُوْهَا پس مه ننوځئ په هغو کښ حَتّٰى يُؤْذَنَ لَكُمْ ترهغه چه اذن وکړے شی تاسے ته
او که خوك د اذن هم پکښ نه وی نو بیخی مه ننوځئ وَاِنْ قِيْلَ او که چرے ووئیلے شی لَكُمُ ارْجِعُوْا تاسے
ته پس له اذن غوښتلو چه بیرته وګرځئ فَارْجِعُوْا پس وګرځئ بیرته او الحاح د دخول مه کوئ چه دا منع
په له کومه عذره وی هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ط چه دا بیرته ګرځیدل ډیر پاك او غوره دی تاسے لره وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
عَلِيْمٌ ﴿۲۸﴾ او خدائی په هغه کارونو چه کوئی ئے تاسے دانا دے جزا به پرے درکړی **روایت دے**
چه پس له نزول ددے آیت صدیق اکبر له رسول صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چه د اسود اګر شام ته
او عراق ته ځی او په لاره کښ مسافرخانے وی او دکانونه وی او دوی خپل مالونه پکښ کیږدی او بخپل

عه ایا دننه کاله ته د رتګ خماله طرفه د سلام وی په تاسے باندے ۱۲

حاجت پسے لاړشی بیا چه راشی نو داذن غوښتلو څوک نه وی هلته دیکښ څهٔ حکم دے؟ نو نازل
شو لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ نشته په تاسے هیڅ گناه اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا په دیکښ چه ننوځئ تاسے بے
اذنه غوښتلو هغو کورونو ته غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ چه نه وی دچا اوسیدنے یعنی دچا کور پکښ نه وی
فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ط چه په هغو کښی مال متاع وی ستاسے یا له کرمئ او یخنئ ځان پناه کوئ وَاللّٰهُ
يَعْلَمُ اوخدائ پوهیږی مَا تُبْدُوْنَ په هغه چه ښکاره اذن غواړئ له کاله دښتنه وَمَا
تَكْتُمُوْنَ ﴿۲۹﴾ او په هغه چه پټوئ تاسے یعنی نیت لرئ د پټ ننوتلو چا کره د پاره فساد قُلْ ووایه
اے رسوله! لِّلْمُؤْمِنِيْنَ مؤمنانو ته يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ چه پټے دِ که سترګے خپلے او نا محرم ته دِ نهٔ
ګوری چه موجب د فتنے نهٔ شی وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ط او دِ دِ ساتی فرجونه خپل له حرامو ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ
دا پټول د سترګو او ساتل د فرج ډیر پاکیزه او سود مند دی دوئ له په دنیا او په اخرت کښ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ
بیشکه خدای خبردار دے بِمَا يَصْنَعُوْنَ ﴿۳۰﴾ په هغه نظر چه کوی ئے دوئ په حلال او په حرام او همدا
په استعمال د جوارحو په طاعاتو او په معاصیو کښ فائده هر کله چه ښکا نه ښځه ده هغے د ټول اعضاؤ ته
نظر روا دے مخ ته او لاسونو ته او قدمونو ته دواړه تربنده پورے او هرچه محرمه ده د هغے څلور وته روا دی
سرته سینے ته مټو ته پنډیو ته وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ او همدا سے ووایه مؤمنو ښځو ته هم چه يَغْضُضْنَ مِنْ
اَبْصَارِهِنَّ پټے دِ که سترګے خپلے او نهٔ دِ ګوری نا محرم سړیو ته چه مفضی نهٔ شی فتنے ته وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ او
دِ دِ ساتی فرجونه خپل له زنا نه وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ او نهٔ دِ ښکاره کوی ښائست خپل لکه ګانړه او جامه او
رنګ او داسے نور اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا مګر هغه چه ښکاره وی له دغه زینت په وخت د کار کولو کښ لکه ګوتے او
نکریزے او رانجهٔ او پیشکی دجامو او څوک وائی چه مراد ترے ځایونه د زینت دی نو مخ او لاسونه وَلْيَضْرِبْنَ
بِخُمُرِهِنَّ او میباید چه وا دِ چوی پړونئ خپل عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ص په ګریوانو نو خپلو باندے چه سینه ئے ښکاره
نهٔ شی وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ او نهٔ دِ ښکاره کوی زینت خپل هیچا ته اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ مګر مړونو خپلو ته چه
دا زینت هم دوئ د پاره دے اَوْ اٰبَآئِهِنَّ یا پلرونو خپلو ته او نیکه هم پکښ داخل دے اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ
یا پلرونو د مړونو خپلو ته یعنے خسرانو ته چه دوئ هم حکم د پلار لری اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ یا ځامنو خپلو ته او نوسی
هم پکښ داخل دی لکه ډیر ښکته وی هم اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ یا ځامنو د مړونو خپلو ته یعنے بنځ بوته چه

دوئ هم حکم د خپلو خامنو لری اَوۡ اِخۡوَانِهِنَّ یا رونړو خپلو ته اَوۡ بَنِیۡۤ اِخۡوَانِهِنَّ یا خامنو د رونړو خپلو ته
اَوۡ بَنِیۡۤ اَخَوٰتِهِنَّ یا خامنو د خویندو خپلو ته او دا اوۀ طائفے هغه دی چه نکاح ئے ورسره روانه ده او په رضاع
کښی هم دغه اوه طائفو حکم همدا سے دے چه ښکاره کول د زینت روا دی او نکاح ئے روانه ده اَوۡ نِسَآئِهِنَّ
یا ښځو خپلو ته چه اصیلے او مسلمے وی او که وینزے وی څکه چه په وینزو کښی ډیر حرج دے او هر چه کافره دے
له هر صنفه چه وی حکم د نامحرم سړی لری او په دیکښی اختلاف دے د علماؤ اَوۡ مَا مَلَکَتۡ یا هغه چا ته چه
مالک شوے وی د هغهٔ اَیۡمَانُهُنَّ ښی لاسونه د دوئ یعنے وینزو خپلو ته نه مریو ته چه مریونه حکم د
بیګانه لری اَوِ التّٰبِعِیۡنَ یا هغو تابعانو ته غَیۡرِ اُولِی الۡاِرۡبَةِ چه پرته وی له خښتنانو د حاجت ښځو ته مِنَ
الرِّجَالِ له سړیو یعنی له هغو کسانو چه محض د پاره د طعام راغلی وی او په هیڅ کار نهٔ لری او دا ښځه طائفے دے
دوه ترے چه زاړهٔ او لیونی دی هغه ښځی له شهوته خلاص دی په سبب د زوړوالی او د لیونتوب سره نو دا
د واړه په دے حکم کښی داخل دی او هغه درے نور چه خصیان او مجبوبان دی او خنثیٰ کان دوئ اګر که
قادر نهٔ دی په جماع اما په ارمان کښی ئے پراته دی نو دوئ ته اظهار روانه دے اَوِ الطِّفۡلِ الَّذِیۡنَ یا
هغه هلکانو ته. او دا لفظ د طفل جنس دے نو اطلاق ئے په جمع هم کیږی لَمۡ یَظۡهَرُوۡا چه نهٔ وی مطلع شوی
دوئ عَلٰی عَوۡرٰتِ النِّسَآءِ ص په عوراتو د ښځو یا په سبب د عدم شهوت یا د عدمِ قدرت په مباشرت وَلَا
یَضۡرِبۡنَ او نهٔ دِ وهی دا ښځے بِاَرۡجُلِهِنَّ هغه ښپے خپلے چه پکښی خلخالونه وی په وخت د تګ کښی
په زمکه په زوره لِیُعۡلَمَ مَا یُخۡفِیۡنَ د پاره د دے چه معلوم شی هغه څیز چه پټوی دوئ مِنۡ زِیۡنَتِهِنَّ ط
له کا نړے خپلے چه خلخال دی یعنی د خلخال ښپل او از دِ خلقو ته نهٔ او روی چه موجب د میلان د
طبایعو کیږی وَتُوۡبُوۡۤا اِلَی اللّٰهِ جَمِیۡعًا او توبه وباسئ خدائی ته او رجوع وکړئ ده ته ټول اَیُّهَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ اے
مومنانو لَعَلَّکُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿۳۱﴾ ښائی چه تا سے خلاصے بیا مومئ له عذابه **نظم**

چه په مونږه امر وشو د توبے له ذوالجلاله　نو توبه به مونږ هلو لو شو واجبه حالا له
خو توبلری دری شرطه یو به تیرو پښیمانی ده　او په حال کښی دے بخشش یا ور کول دی بے ملاله
بل فی الحال ترک کول دی د بد کار که پراخته وی　دریم عزم دے د ترک ئے ان تر موته ارتحاله

وَاَنۡکِحُوا الۡاَیَامٰی او په نکاح کوئ اے ویانو او خښتنانو هر هغه کسان چه جفت نهٔ لری مِنۡکُمۡ له تا سے نه

نارینه وی او که ښځه او ایامی جمع ده د اَیِّمٌ او ایم هغه چاته وائی چه جفت نهٔ لری نارینه وی او که ښځه بکره وی او که کونډه او بل د اچه دغه ایامی په اصل کښ ایایم وو بیا قلب مکانی وشو په مابین دی او د میم نو اَیَامیٰ شو بیا د ایٓ الف شوه نو ایامیٰ شو وَالصّٰلِحِیْنَ او بل په نکاح کوئ نیکان مِنْ عِبَادِکُمْ له مریونو خپلو وَاِمَآئِکُمْ او له وینزو خپلو حاصل دا چه اصیلان او اصیلې او مریونه او وینځې چه جفت نهٔ لری نو په نکاح کوئ ئے چه مؤمنان ډیر شی او دا امر د لزوم نهٔ دے ځکه چه نکاح لازم نهٔ دے اِنْ یَّکُوْنُوْا فُقَرَآءَ که چرے وو دا مذکور نادا ران بے ماله یُغْنِهِمُ اللّٰهُ نو بے پروابه کړی دوئ خدائ مِنْ فَضْلِهٖ له فضله خپله یا په صبر او په قنا عت سره او یا په کفایت سره او یا په جمع د رزق کینو سره د زوج او د روزئ د زوجے ده لکه چه حدیث دے چه اِلْتَمِسُوا الرِّزْقَ فِی النِّکَاحِ یعنی لټوئ روزی په نکاح وَاللّٰهُ وَاسِعٌ او خدائ څښتن د ارت رزق دے عَلِیْمٌ ﴿۳۲﴾ دانا دے په مستحقانو د فراخئ وَلْیَسْتَعْفِفِ الَّذِیْنَ او میبا یدچه عفت دِ وکه او ځان دِ وساتی له حرامو هغه کسان لَا یَجِدُوْنَ نِکَاحًا چه نهٔ مومی دوئ نکاح یعنی اسباب ئے له مهره او له نفقے حَتّٰی تر هغے پورے یُغْنِیَهُمُ اللّٰهُ چه غنی کړی دوئ لره الله تعالیٰ بیا نکاح اوکړی مِنْ فَضْلِهٖ له فضله او له کرمه خپله او بیا مومی دومره مبلغ چه د دوئ کفاف پرے کیږی روایت دے چه صبیح نومے مریے وو د عبد العزیٰ چه له دهٔ څخه ئے مکاتب والے طلب کهٔ او دهٔ اباء وکړه نو نازل شو وَالَّذِیْنَ یَبْتَغُوْنَ الْکِتٰبَ او هغه کسان چه غواړی دوئ مکاتبولے مِمَّا مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ په هغه وینزو مریونو چه مالک شوی دی د هغو بنی لاسونه ستاسے فَکَاتِبُوْهُمْ پس مکاتب ئے کړی او دا امر د استحباب دے او صورت ئے دا دے چه څښتن دِ ووائی خپل مرئی ته چه ته م مکاتب کړے مثلاً په سل روپئ نو هر کله چه دا سل روپئ دِ ماته ورسولے نو ته آزاد او سے اِنْ عَلِمْتُمْ که چرے پوهه وئ تاسے یعنی معلوم شو درته فِیْهِمْ خَیْرًا په دوئ کښ خیر یعنے قدرت په کټلو او وِساه په سپارلو د مبلغ بے سواله چه هغه مکروه دے وَّاٰتُوْهُمْ او ورکوئ دے مکاتبانو ا ے مسلمانانو هر څوک مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِیْٓ بعض له هغه مال د خدائ اٰتٰکُمْ چه درکړیدے دهٔ تاسے لره روایت دے چه ابن اُبَیْ منافق شپږ وینزے ساتلے وے چه زنا به ئے پرِ کوله په زوره د پاره د حصول مبلغ - معاذه، مسیکه، امیمه، قتیله، عمره، اروی بیا له هغو دوه تنو چه معاذه او مسیکه وے رسول صلے الله علیه وسلم ته ئے فریاد وکه نو نازل شو وَلَا تُکْرِهُوْا فَتَیٰتِکُمْ او جبر مهٔ کوی په وینزو خپلو

عَلَى الْبِغَآءِ په زنا او په بد کارئ کولو اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا که چرې اراده لري دوئ د پرهیز کارئ او دا قید
اتفاق دې لِتَبْتَغُوْا د پاره د دې چه حاصل کړئ تاسې په دې زنا کارئ سره عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ط مبلغ او متاع د
دې وارۀ ژوندون چه هغه اجرت دے د زنا او اولاد دے وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ او هر هغه څوك چه جبر ئې
وکه په دوئ د زنا فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ پس له جبره د ښځو نو په دوئ
غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۳﴾ بخښونکے مهربان دې په دے ویږو وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ او هر اٰئینه په تحقیق را الیږلی دی
مونږه تاسې ته اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ایتونه ښکاره کوونکی د حلالو د حرامو د حدودو د احکامو وَّمَثَلًا او بل را الیږلے دې
مونږه یو مَثَل یعنی قصه عجیبه چه د بی بی عائشې رض ده په شان د هغه قصو چه نقل شوی دی مِنَ الَّذِيْنَ
خَلَوْا له هغه کسانو چه تیر شوی دی دوئ مِنْ قَبْلِكُمْ بخوا له تاسې لکه قصه د یوسف علیه السلام او د بی بی
مریم په تهمت او په پاکئ کښ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۴﴾ او بل را الیږلی دی مونږه دا ایاتونه پند د پاره
د پرهیز کارانو او په دوئ پورے څکه خاص شو چه نفع پرې اخلی هم دوئ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط
خدائ نور دې د اسمانونو او د زمکے او نور هغه کیفیت دې چه باصره اول د ده ادراك کوی او بیا د دهٔ په واسطه
سره ادراك د باقی مبصراتو کښ لکه په محسوساتو کښ هغه کیفیت شو چه له نوره او له سپوږمئ راخور
دې په هغه کثیف اجراموچه و رسره مخامخ وی نو اطلاق د نور په دے معنیٰ سره روا نه دے په خدائ
څکه چه دے ذات دے او کیفیت عرض دے مگر په یو له څلورو وجهو چه یا مضاف پکښ مقدر شی چه
دے ښځتن د نور د دوئ دے او یا مجاز شی چه مصدر مبنی شی د پاره د فاعل یعنی منور دې د دیو چه
منور په خپله معنیٰ شی او یا دے په معنیٰ د معمّر شی یعنی ودانونکے د دیو په ملائکو او په انبیاؤ سره او یا په
معنیٰ د مدبر شی لکه چه رئیس د قوم ته نور القوم ویلے شی یعنی مدبر دے د دیو په حکمت بالغه سره مَثَلُ نُوْرِهٖ
مثال د نور د دهٔ چه دې او له اضافت د نوره ضمیر د دهٔ ته معلومیږی چه هغه تیر هم مجاز و كَمِشْكٰوةٍ دا سې دې لکه طاقچه فِيْهَا
مِصْبَاحٌ ط چه په هغه کښ بل چراغ پروت وی اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ط دا بل چراغ بیا په ښیښه کښ پروت وی
اَلزُّجَاجَةُ دا ښیښه چه ده په سبب د هغه رڼا د هغه څراغ له ډیرے صفائئ او لطافته كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ
گویا که دا ښیښه یو ستورے دې رُون ځلیدونکے له زهره یا مشتری یا بل یو شو يُّوْقَدُ چه بل کا وه شی
دا چراغ په سر کښ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ له تیلو د ونے برکتناکے چه څوک دې لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّ لَا

غَرْبِيَّةٍ ۙ چه نه شرقی طرف د ځمکې ته ده دا ونه او نه غربي طرف ته ده د دې ځمکې بلکه په شام کښې ده چه
مینځ د دواړو یا معنیٰ دا چه نه همیشه په نورد چه میوه ئې تاؤ سیزی او نه همیشه په سیوری ده چه میوه ئې
خامه پاتې شي يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيٓءُ نزدې وي تیل د دې ونې چه رڼا اوکه له خپله ځانه له ډیرې صفایئ
وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ او اګرکه نه وی وررسیدلې اور یعنی د ته قابو وی چه بې اوره رڼا اوکه په سبب د
ډیرې صفایئ پس دا رڼا چه ذکرده په دې تیرمثال کښې نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ دا یو نور د دپاسه دبل نور ځکه
چه هر کله دا څلور څیزونه سره جمع شو چه رڼا ئې د چراغ او صفائی د تیلو او لطافت د بنیښې او رابندول د طاقچې
دی نو دا رڼا ئې څلور چنده شوه والله اعلم يَهْدِي اللّٰهُ لاره ښائي خدائی لِنُوْرِهٖ د نور پاک له معرفت
خپل ته مَنْ يَّشَآءُ ؕ ط هر هغه چا ته چه اراده ئې وشی له بندګانو خپلو په الهام یا په استدلال سره وَيَضْرِبُ
اللّٰهُ او ترې خدائی الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ ط مثالونه خلقو ته یعنی معقولات ور ته بیانوی په صورت د محسوساتو کښې
چه فهم ته ئې قریب شي او مطلب ترې واخلی وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ او خدای په هر څیز د قایقو د معقولاتو
او محسوساتو او له حقایقو د خفیاتو او جلیاتو عَلِيْمٌ ﴿۳۵﴾ اګاه دانا دې فایده علماؤ په باب د دې تمثیل کښې وجوه
بیان کړی دی دلته به یو ترې راوړم د پاره د تبرک هغه دا دې چه فخرالدین رازی په اسرارالتنزیل کښې ویلی
دی چه سینه د مؤمن مشکوٰة دې او زړه پکښې زجاجه ده او ایمان په دې زړه کښې بل چراغ دې او
کلمه د اخلاص شجره د زیتون ده له ډیرې صفایئ او تصدیق په زړه د مومن کښې بې له ویلو په خوله دا سې
رڼا خوره که چه ټول عالم پرې منور شي او بیا چه له دې تصدیق سره اقرار لساني همضم شي او دا باقي امور
هم ټول ورسره یوځا ئ شي نو دا نور علی نور شي تسبیح وائی خدائی لره فِيْ بُيُوْتٍ په هغه کو ټو کښې اَذِنَ
اللّٰهُ چه اجازه کړې ده خدائی او امر کړې دې اَنْ تُرْفَعَ د دې چه پورته کړې شي یعنی اباد کړې شي
یا بلند قدری او تعظیم و کړې شي د دغه بیوتو وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ او یاد کړې شي په دیو کښې نوم د ده
مراد ترې مساجد دی چه ارفع او اشرف د مساکنو د تمام روئ زمین دی چه بنا ئې محض د پاره د عبادت
ده يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا چه تسبیح وائی یا مونځ کوی ده لره په د بیوتو کښې بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿۳۶﴾ ۙ صبا او بیګاه مراد
په غدو سره د صبا مونځ دې مونځ د دې پراخې او په اصال سره باقی څلور واړه مونځونه دی رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ
هغه سری چه نه حصاروی او نه اړوی دوئ او دا رجال فاعل د دې يُسَبِّحُ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ سوداګری یعنی

بیر و دل او نه خرڅول عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ له یاد کبری د خدائ وَ اِقَامِ الصَّلٰوةِ او له برپای لرلو د مانځه وَ اِیْتَاءِ
الزَّكٰوةِ او له ورکولو د زکاة حاصل ئے داچه ظاهر دوی مدام له مخلوق سره دا سے بند دے چه هر وخت
به تجارت او به بیع او به شراء مشغول وی او باطن ئے علی الدوام له حق سره دا سے پیوند دے چه هیڅ وخت
ئے له هغه طرفه غفلت مطلقًا نه راځی۔ رباعی

به باطن او سه اشنا او به ظاهر کښ بیگانه شه　به ښکاره او سه خالی او بکښ د ټ او بیانه شه
دا عجب دوش دے رو ره که پوهیږے تل پر د رومه　به ظاهر دانه د مېو به باطن کښ دُردانه شه

یَخَافُوْنَ یَوْمًا ویریږی دوی سره له دغه ذکره او طاعته له هغه ورځے تَتَقَلَّبُ فِیْهِ الْقُلُوْبُ چه گرځیږی
به هغے کښ زړونه د هر چا یعنی له ډیره دهشته به تغیر او خوری او مضطرب او بے حاله او له ځایه به
بے ځایه شی وَالْاَبْصَارُ ﴿۳۷﴾ او سترگے هم همدا سے بیتی به وخیږی او تکے شنے به شی له غلبے د ډار او دا
د یرتسبیح وائی دوی لِیَجْزِیَهُمُ اللّٰهُ دپاره د دے چه جزا به ورکړی دوی لره خدائ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا
د ډیره غوره جزا د هغه عملونو چه کړی دی دوی چه هغه جزا جنت دے وَیَزِیْدَهُمْ او زیاتولے به وکړی د
جزا د عملونو د دوی به ورکولو کښ مِّنْ فَضْلِهٖ له فضل خپله یعنی زیاتے له عمله به نور د یر ثمر ورکاندی
وَاللّٰهُ یَرْزُقُ او خدائ روزی ورکوی به دنیا کښ مَنْ یَّشَآءُ هر هغه چا له چه اراده ئے وشی بِغَیْرِ
حِسَابٍ ﴿۳۸﴾ بے حسابه یعنی پریمانه روایت دے چه عتبه بن ربیعه به جاهلیت کښ ډیر عبادت او
طلب د دین کولو بیا چه اسلام راغے نو کافر شو نو نازل شو وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا او هغه کسان چه کافر دی اَعْمَالُهُمْ
هغه عملونه د دوی چه به ظاهر کښ نیک ښکاریږی لکه صله رحمی یا الل یا د مرئ ازادول یا د بی مرول
یا دا سے نور خیر خیرات کول شو نو دا عملونه كَسَرَابٍۭ م بِقِیْعَةٍ به شان د هغه سراب دی چه به هوار میدان
کښ ښکا ریږی به سخته گرمئ کښ به وخت د استواء او دا سے بریښنا کوی چه یَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً ط
گمان و کړی پرے تږے دا و بوا و ورته ورځی حَتّٰٓى اِذَا جَآءَهٗ ترهغه چه راغے هغه ځائ له چه د او بو گمان
ئے پرے شوے وو لَمْ یَجِدْهُ شَیْــًٔا نو بیا ئے نه مونده هغه مظنون خپل هیڅ څیز وَّوَجَدَ اللّٰهَ او بیا ئے
مونده خدائ حساب کونکے خپل یا عذاب د ده عِنْدَهٗ به نزد د عمل خپل فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ پس ورکه
ده لره پوره جزا د عمل د ده وَاللّٰهُ سَرِیْعُ الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾ او خدائ جلت حسابے دے اَوْ كَظُلُمٰتٍ یا دا

عملونه د دوئ په شان د هغه تاریکو دے فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ چه په هغه ژور سیند کښ وی چه او به ئے بے حده ډیرے وی او د الجي منسوب دے لج ته چه ډیر و او بو د سیند ته وایه شی يَّغْشٰهُ مَوْجٌ چه لاندے که دا بحر یا واقع په دیکښ موج یعنی دا موج دا سے خیزونه وکړی او چپے ووهی چه په سیند د پاسه راسورشی له ډیره جوشه مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ چه د پاسه د هغه تیر موج بیا بل موج راسورشی مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ چه د پاسه د هغه دویم موج بیا وریځ پیدا شی په اسمان کښ چه د ستورو رنړا هم پرے پټه شی نودا چه دی ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا تاریکئ دی څلورقسمه چه بعض د دوئ فَوْقَ بَعْضٍ ؕ د پاسه د بعضو نورو دی په دے شان چه لاندے ظلمت د بحر بیا د هغهٔ د پاسه د اول موج بیا د هغهٔ د پاسه د دویم موج بیا د هغه د پاسه د وریځے او دا تاریکئ بیا دا سے غالبے شی چه اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ په هغه وخت چه راو باسی دا واقع په سیند کښ لاس خپل چه اقرب دا عضاؤ دے ستر کو ته لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ نهٔ وی نزدے د غه واقع چه ووینی دا لاس او دا مبالغه ده یعنے لیدلو ته نزدے هم نهٔ وی او څهٔ خاصه ئے چه ئے ووینی حاصل دا چه دوئ لــه خدائ رنړا نهٔ ده مقرر کړے په ازل کښ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ او هر هغه څوک چه نهٔ وی مقرر کړے خدائ لَهٗ نُوْرًا ده لره رنړا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴿۴۰﴾ پس نشته دهٔ لره هیڅ قدر رنړا چه لاره پرے بیا موی حق ته لکه چه راغلی دی په حدیث کښ چه خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فِيْ ظُلْمَةٍ ثُمَّ رَشَّ عَلَيْهِمْ مِّنْ نُّوْرِهٖ فَمَنْ اَصَابَهٗ مِنْ ذٰلِكَ النُّوْرِ اهْتَدٰى وَمَنْ اَخْطَاهُ ضَلَّ تنبیه رب العزت په اعمالو د کفار و پورے دوه مثالونه وتړل په درے اعتباره سره یا په اعتبار د تخییر چه اے مخاطبه که د دے عملونه کورے چه هیڅ فائده او نفع نهٔ لری نو لکه سراب دی او که د دے ته ئے گورے چه نور د حق ورسره مل نهٔ دے چه ایمان دے نو لکه ظلمات. او یا په اعتبار د تقسیم د مکانینو چه نظر عقبی ته دا لکه سراب دی او نظر د نیا لکه ظلمات دی کذا ذکرهٗ فی البیضاوی اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ ایا نهٔ وینے ته بے شکه خدای چه دے يُسَبِّحُ لَهٗ تسبیح وائی دهٔ لره مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هر هغه څوک چه په اسمانو نو کښ او په زمکه کښ دی وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ او مرغان هم په دے حال چه خواره کونکی دی د وزرو خپلو په هوا کښ

ع ۵

عه معنی دا چه پیدا کړے دے خدائ مخلوق په روزِ ازل کښ په تیاره کښ پس تو ئے کړه په دوئ د نوره خپل پس هغه څوک چه ورسیده دهٔ ته د دغه نور نه نولاره د نیکئ ئے بیا مونده په دے دنیا کښ او هغه څوک چه خطا شو د دغه نور نه نو گمراه شو ۱۲ اللهم اغفر لکا تبه

یعنی تسبیح وائی دهٔ لره کُلٌّ قَدْ عَلِمَ دا ټول مذکور چه دی بیرته یا یوا ځے مرغان په تحقیق پوهه دے خدائ
صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ ؕ په دُعا ددهٔ او په تسبیح ددهٔ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ او خدائ ښهٔ پوهه دے بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ په
هرهغه طاعت او عبادت چه کوی ئے دوئ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ او خاص خدائ لره ده
بادشاهی د اسمانونو او دزمکے وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۴۲﴾ او خاص خدائ لره بیا ورتلهٔ هم دی اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ
آیا نهٔ وینے ته بے شکه خدائ چه دے يُزْجِيْ سَحَابًا شړی او راکاږی وریځے قطعے قطعے هر طرف ته چه
اراده ئے وشی ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ بیا پیوند کوی په مابین د قطعو ددهٔ کښ چه ټول سره ضم که ثُمَّ
يَجْعَلُهٗ رُكَامًا بیا وګرځوی دوزیځ لاندے باندے سره قت په قت فَتَرَى الْوَدْقَ پس وینے به ته باران يَخْرُجُ
مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ چه راوزی له چاودونو او وتونو ددے وریځے وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ او ښکته کوی له طرفه
د اسمانه یعنی له وریځے مِنْ جِبَالٍ غرونه. مِنْ زائده دے یعنے دا سے کلکے قطعے د وریځے چه په شان د
غرونو وی په پیړوالی او په غټوالی کښ فِيْهَا مِنْۢ بَرَدٍ چه وی په غرونو کښ ږلئ فَيُصِيْبُ بِهٖ
پس رسوی دے دا ږلئ په حکمت بالغه خپل سره مَنْ يَّشَآءُ هرهغه چا ته چه اراده ئے وشی یعنے کینت یا
بلغ ته ئے وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ؕ او چپوی ئے له هرهغه چا چه اراده ئے وشی يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ نزدے
وی بریښنا د برق دهغهٔ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿۴۳﴾ بیا ئے سترګے یعنے ورکوی نظر د کتونکوله غلبے د رڼا
يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ؕ چه ګرځوی خدائ شپه او ورځ په بیولو او په راوستلو یا په کمولو او په زیاتولو یا په
ګرمئ او یخئ یا په ظلمت او په نور یا په نور احوالو سره اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه په دے تیرو ټولو کښ لَعِبْرَةً
لِّاُولِى الْاَبْصَارِ ﴿۴۴﴾ هر ائینه ډیر لوئ عبرت او پند دے د پاره دهغو خلقو چه د زړه سترګے لری وَاللّٰهُ
خَلَقَ او خدائ پیدا کړی دی كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ ۚ هر حیوان چه ګرځی په زمکه له اوبو چه جزء دے د
مادے ددهٔ یا مراد نطفه ده فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ پس بعضے له دے حیواناتو هغه دی چه تګ کوی عَلٰى
بَطْنِهٖ ۚ په نس خپل لکه مارا و میږے او نور هوام شو وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ او بعض له دوئ هغه چه تګ
کوی عَلٰى رِجْلَيْنِ ۚ په دوه خپو لکه انسان او مرغان وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ او بعض له دوئ هغه دی چه تګ
کوی عَلٰٓى اَرْبَعٍ ؕ په څلورو خپو لکه چارپایان او هغه ئے مقدم راوړه چه قدرت کښ ښهٔ ظاهر دے بیا به
تنزل تلے دے يَخْلُقُ اللّٰهُ پیدا کوی خدائ مَا يَشَآءُ ؕ هرهغه چه اراده ئے وشی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ

عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۴۵﴾ په هر څیز قادر دے لَقَدْ اَنْزَلْنَا هرآئینه په تحقیق رالیږلی دی مونږه اٰیٰتٍ مُّبَیِّنٰتٍ
ایتونه بیانونکی د حقایقو په انواع دد لیلونو وَاللّٰهُ یَهْدِیْ او خدائ لاره ښیئ مَنْ یَّشَآءُ هرهغه چاته چه
اراده ئے وشی په سبب د تفکر په دے ایتونو کښں اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۴۶﴾ سمے لارے ته چه لاره دجنت ده
روایت دے چه جګړه شود بشر منافق له یهودی سره یهودی وویل چه داجګړه ستا په محمد
(صلی الله علیه وسلم) کوتاه کوو نو نازل شو وَیَقُوْلُوْنَ او وائی دا منافقان اٰمَنَّا بِاللّٰهِ چه ایمان راوړے
دے مونږه په خدائ وَبِالرَّسُوْلِ او په استاذی دده هم وَاَطَعْنَا او فرمان هم منلے دے مونږه د
دواړو ثُمَّ یَتَوَلّٰی بیا شا که حکم ددوئ ته فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ یو ټولے له دوئ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ پس له اقراره
په ایمان او په اطاعت وَمَآ اُولٰٓئِكَ اونه دے دا ټولے بِالْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۴۷﴾ مؤمنان په صدق د زړه سره
وَاِذَا دُعُوْٓا او په هغه وخت چه وبللے شی دوئ اِلَی اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ کتاب د خدائ ته او حکم د رسول دده
ته لِیَحْكُمَ بَیْنَهُمْ د پاره دد ے چه حکم وکه په مابین ددوئ کښں په رښتیا سره اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ ناګاه یو
ټولے له دوئ چه بشر دے مُّعْرِضُوْنَ ﴿۴۸﴾ ډډه کونکی دی له حکم الهی څخه وَاِنْ یَّكُنْ اوکه چرے وی
لَّهُمُ الْحَقُّ دوئ لره حق یعنی حکم ددوئ په مقتضی کیږی نو یَاْتُوْٓا اِلَیْهِ راځی دوی رسول علیه السلام ته
مُذْعِنِیْنَ ﴿۴۹﴾ جلت فرمان منونکی بیا وائی داسے ولے کوی اَفِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ آیا په زړونو ددوئ کښں
رنځ دے دکفر اودمیل ظلم ته اَمِ ارْتَابُوْٓا که شکمن دی په نبوت دده کښں اَمْ یَخَافُوْنَ اوکه ویریږی
دوئ اَنْ یَّحِیْفَ اللّٰهُ له دے چه ظلم به وکړی خدائ عَلَیْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ په دوئ او رسول دده هم او په
واقعه کښں نه رسول محل د تهمت دے او نه خدائ او رسول په چا ظلم کوی بَلْ اُولٰٓئِكَ بلکه دوئ چه
دی هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۵۰﴾ هم دوئ ظالمان دی چه پر دے حق لاندے کوی او ځنګ کوی له حکم الهی څخه
اِنَّمَا كَانَ بے شکه هم داخبره ده چه دے قَوْلَ الْمُؤْمِنِیْنَ کفتار د مؤمنانو اِذَا دُعُوْٓا په هغه وخت چه
وبللے شی دوئ اِلَی اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ خدائ ته او رسول دده ته لِیَحْكُمَ بَیْنَهُمْ د پاره دد ے چه حکم وکه په
مابین ددوئ کښں په وخت د جګړے اَنْ یَّقُوْلُوْا داچه ووائی دوئ یعنی مؤمنانو سره دالایقه ده چه داسے
ووائی چه سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا واوریده مونږه قول ستا او قبول که مونږه فرمان ستا وَاُولٰٓئِكَ او دا ټولے دیونکی
چه دی هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۵۱﴾ هم دوئ خلاصے موندونکی دی له درکاتو او برے موندونکی دی په

درجاتو وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ اوهرڅوک چه فرمان ومنی دخدائ په فرائضو کښ وَرَسُوْلَهٗ اودرسول ددهٔ
په سنتوکښ وَيَخْشَ اللّٰهَ اوویریږی له خدائ په تیروګناهونو خپلو وَيَتَّقْهِ اوځان ساتی له غضبه ددهٔ اوګناه
نهٔ کوی او دا په اصل يَتَّقِيْهِ دے ی حذف شوه په جازم د شرط سره اوقاف ساکن شو دپاره د تخفیف
لکه کتف کښ چه اسکان د ت روا دے نو يَتَّقْهِ شو. فَاُولٰٓئِكَ پس دا فرمان منونکی ویریدونکی چه دی
هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۵۲﴾ هم دوئ بریالی اوموندونکی دی دجنت وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ اوسوګند کوی دا منافقان په
خدائ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ هغه ډیرسخت د سوګندونو خپلو په دے خبره چه لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ هرائینه کهٔ امر
وکړے ته دوئ ته دجهاد لَيَخْرُجُنَّ ط نو هرائینه وبه زی دوئ دغه جهاد ته بے مهلته قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا ج ووایه
ورته چه قسم مهٔ خورئ په دروغ طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ط فرمانبرداری په ښه وجه چه ده مطلوب ده له تاسے یعنے
په صدق دنیت سره اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بیشکه خدائ خبردار دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۳﴾ په هغه کارچه کوئ ئے
تاسے چه نفاق دے قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ ووایه ورته اے رسوله چه فرمان ومنئ دخدائ په خلوص دنیت
سره وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ج اوفرمان ومنئ د رسول علیه الصلوٰة و السلام هم په هرڅهٔ کښ فَاِنْ تَوَلَّوْا
پس کهٔ شاکړه تاسے اومخ وګرځوئ له فرمان بردارئ دده اے خلقو فَاِنَّمَا عَلَيْهِ پس بیشکه هم دا خبره ده چه
دے په رسول څما مَا حُمِّلَ هرهغه بارچه دے پرے مکلف کړے شوے دے چه رسول د پیغام دی وَعَلَيْكُمْ
مَّا حُمِّلْتُمْ ط اودے په تاسے هم هغه بارچه تاسے پرے مکلف کړے شوی یئ چه هغه انقیاد او امتثال دے
وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ او کهٔ فرمان ومنئ دده په امراو په نهی کښ تَهْتَدُوْا ط نو سمه لاربه بیاموئ وَمَا عَلَى
الرَّسُوْلِ اونهٔ دی په رسول څما اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾ مګر پیغام رسول دی ښکاره اوهغه خو دهٔ
ادا کړے دے او تاسے کارپا تے دے **روایت دے** چه هرکله رسول علیه السلام اومهاجران
مدینے ته راغله نو د قریشو له ویرے به ئے وسله هیڅ وخت له لاسه نهٔ شوه غورځولے او د شپے او د
ورځے به بے ارامه وو نوکوم سړی وویل چه ارمان دے کله به داسے وخت هم راشی چه په فارغ
زړهٔ به مونږه خدائ یاد کړو نو نازل شو وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ وعده کړے ده خدائ له هغه کسانو سره
اٰمَنُوْا مِنْكُمْ چه ایمان ئے راوړے دے له تاسے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دنیکو لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ
قسم دے چه هرائینه خلیفګان به کړے ځائ ناستی به ځائ دکفارو فِي الْاَرْضِ په زمکه درسته هم په عرب

هم په عجم کښې کَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ لکه چه خلیفګان کړی وو هغه کسان مِنْ قَبْلِهِمْ چه مخوا وو له دوی
یعنې بنی اسراءیل چه د زمکے د مصر او د شام ئے مالکان کړه چه خپل تصرف به ئے پکښې کولو او دا وعده بیا زر خدا ئی
ترسره کړه د اسے چه جزیرے د عرب او ملک د کسری او بلاد د روم ټول د دوی تر تصرف لاندے شو وَلَيُمَكِّنَنَّ
لَهُمْ او هر اینه قوی او ثابت به کړی دے خامخا دوی دِيْنَهُمُ الَّذِي په دین خپل کښې هغه دین
ارْتَضٰى لَهُمْ چه غوره کړے دے خدائی دوی لره هغه دین چه دین د اسلام دے یعنے غالب به ئے کا په ټولو ادیانو وَ
لَيُبَدِّلَنَّهُمْ او هر اینه بدل به ورکا خامخا دوی لره مِنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ پس له ویرے د دوی له دشمنانو اَمْنًا امن او بے
غمی له دوی يَعْبُدُوْنَنِيْ عبادت به کوی دوی ځما په فارغ زړه لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْئًا شریک به نه پیدا کوی دوی
له ما سره هیڅ څیز یعنې ځما له عبادته او توحیده به ئے هیڅوک چپولے نه شی وَمَنْ كَفَرَ او هر چا کفران او بے شکری
وکړه د دے نعمت بَعْدَ ذٰلِكَ پس له سره کیدو د دے وعدے د خلافت فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چه دی چه کفران
ئے کړیدے دوی د نعمت هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۵۵﴾ هم دوی فاسقان دی **فائده** امام ثعلبیؒ ویلی دی چه
اول کفران د دے نعمت قاتلانو د عثمان کړیدے ځکه چه تر دے مخوا ټول دا سے وو لکه رونړه او بیا نو فتنے
پکښې برپائی شوے وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ او اداکوی مونځ خپل سره له ټولو حقوقو ئے وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ او ورکوئ
زکوٰة خپل وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ او فرمان ومنئ د رسول ځما په هر امر او نهی کښې لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۵۶﴾ بنائی
چه رحم وکړے شی په تاسے او دا اقیموا الصلوٰة عطف دے بیرته په اطیعوا الله باندے لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
ګمان مه کوه اے رسوله په هغه کسانو چه کافر دی مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ عاجز کونکی د خدائی په زمکه کښې په
حصار ولو د عذاب د دهٔ سره وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ او ځائی د بیرته ورتلو د دوی او رد د دوزخ وَلَبِئْسَ
الْمَصِيْرُ ﴿۵۷﴾ او بد ځائی دے د بازګشت دا دوزخ **روایت دے** رسول علیه السلام یو ورځ د استواء
په وخت مُدلج نام یو هلک په عمرؓ پسے ولیږه چه دے مالره راوله بیا چه مدلج ورلره راغے او کاله ته ورننوت
نو دے اوده وو او جامه تر دے لویدلے وه نو ده وویل چه ارمان دے کهٔ خدائی دا ځمونږ پلرونه او ځامن
او خادمان منع کړے چه په دا سے اوقاتو کښې په مونږ نهٔ راننوتلے مګر په اذن سره دا ئے وویل او بیا ورسره
دوان شو چه رسول علیه السلام له راغے دا ایت تر دے مخوا نازل وو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مومنانو!
لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ مبابد چه اذن د غواړی له تاسے هغه کسان مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ چه مالکان شویدی

دھغو بنی لاسونه ستاسے مریونه وی او که وینزے وَالَّذِیْنَ لَمْ یَبْلُغُوا او هغه کسان هم چه نهٔ دی رسیدلی
دوئ الْحُلُمَ مِنْكُمْ حد د بلوغ ته له تاسے اصیلان ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ط درے کرته یعنی درے وخته مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ
الْفَجْرِ یو پخواله مانځهٔ فجره وَحِیْنَ تَضَعُوْنَ ثِیَابَكُمْ او بل هغه وخت چه وباسئ او بردئ تاسے جامے خپلے
مِّنَ الظَّهِیْرَةِ په وخت د استواء کښ وَمِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ۛ۫ او پس له مانځهٔ د نماز خفتن ځکه چه دا
مذکور چه دی ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ط درے عورات دی تاسے لره یعنی دا درے هغه وختونه دی چه په دیو
دستاسے په ځان پټولو کښ خلل واقع کیږی او عورت خلل ته وائی ځکه چه اعور ویلے شی هغه چاته چه
خلل ئے وی په سترګو کښ کذا فی المدارك لَیْسَ عَلَیْكُمْ نشته په تاسے وَلَا عَلَیْهِمْ او نه په دے مریونو او
هلکانو جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ ط هیڅ وبال غیر له دے درے اوقاتو کښ را ننوتی بے اذنه ځکه چه دوئ طَوّٰفُوْنَ
عَلَیْكُمْ ډیر ګرځیدونکی دی په تاسے هر وخت دپاره د خدمت بَعْضُكُمْ بعض ستاسے چه دی طواف کونکی
دی عَلٰی بَعْضٍ ط په بعض نورو یعنی دوئ په تاسے او تاسے په دوئ كَذٰلِكَ یُبَیِّنُ اللّٰهُ همدا سے بیانوی خدائ
لَكُمُ الْاٰیٰتِ ط تاسے ته ایتونه د احکامو وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ او خدائ دانا دے په مصالحو ستاسے حَكِیْمٌ (۵۸) پر حکمت
دے په هر کار کښ **تنبیه** په مریونو کښ تغیر په تیر حکم کښ را نغے ځکه چه موجب د تغیر ئے نهٔ و او په
اطفالو کښ موجب د تغیر وو چه بلوغ دے ځکه وائی وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ او په هغه وخت چه ورسیدل هلکان
مِنْكُمُ الْحُلُمَ له تاسے اصیلانو نه له مریونو حد د بلوغ ته او اراده د د ننوتلو ئے وکړه فَلْیَسْتَاْذِنُوْا پس میاید
چه یا دوئ د هم اذن په هر وخت کښ غواړی كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِیْنَ لکه چه غوښته به اذن هغو بالغانو
مِنْ قَبْلِهِمْ چه پخوا وو له دوئ كَذٰلِكَ یُبَیِّنُ اللّٰهُ همدا سے بیانوی خدائ لَكُمْ اٰیٰتِهٖ ط تاسے ته
ایتونه خپل وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ او خدائ دانا دے په احوالو ستاسے حَكِیْمٌ (۵۹) حکم کونکے دے په مصالحو د خلقو
وَالْقَوَاعِدُ او هغه زړے چه ناستے وی یعنی لویدلے او تیرے شوے وی له حد د حیضه او د ولادت نه
مِنَ النِّسَآءِ الَّتِیْ له هغو ښځو څخه لَا یَرْجُوْنَ نِكَاحًا چه امید نه لری دوئ د نکاح په سبب د ډیر
زوړوالی فَلَیْسَ عَلَیْهِنَّ پس نشته په دوئ جُنَاحٌ هیڅ وبال او ګناه اَنْ یَّضَعْنَ په دے چه کیږدی
دوئ یعنی کدلُ ځانه خپله ثِیَابَهُنَّ ظاهرے جامے خپلے لکه لفافه او ملحفه او جلباب شونه ازار او خمار کذا
فی المدارك الاحمدی غَیْرَ مُتَبَرِّجٰتٍ م بِزِیْنَةٍ ط په دے حال کښ چه ښکاره کونکے نهٔ وی دوئ د ښائست خپل یعنی

چه سرا و غوږ و نه اوگردن او ویخته او امثال د دیو پرته نه ښکاریږی وَاَنۡ یَّسۡتَعۡفِفۡنَ او دا چه پرهیز وکه
دوئ له ځان ښکاره کولو خَیۡرٌ لَّهُنَّ ط ډیر غوره دے دوئ لره اولرے د له تهمته وَاللّٰهُ سَمِیۡعٌ او خدائ
ورید ونکے دے د گفتار د دوئ عَلِیۡمٌ ﴿۶۰﴾ دانا دے په کردارونو د دیو **روایت دے** چه هر کله به مسلمانان
غزا له تلل نو د خپلو کورونو کلیګانے به ئے وسپارے په ړندو او په ګوډو او په مریضانو او په خپلوانو او اولاد
به ئے ورته وکه چه خوری حمو بزه له کورونو اما دوئ به سره له اذنه هم خوراک ترے نه کولو چه مبادا
په زړه کښ به دوئ چرے پرے راضی نه وی نو نازل شو لَیۡسَ عَلَی الۡاَعۡمٰی حَرَجٌ نشته په ړانده هیڅ
مشقت او ګناه وَلَا عَلَی الۡاَعۡرَجِ حَرَجٌ او نه په ګوډ هیڅ محنت او وبال وَّلَا عَلَی الۡمَرِیۡضِ حَرَجٌ او نه په رنځور هیڅ
سختی او ملامته وَّلَا عَلٰۤی اَنۡفُسِکُمۡ او نه په ځانونو ستاسے هیڅ کلفت او مضرت اَنۡ تَاۡکُلُوۡا په دے کښ چه خوری
تاسے او دا تیر اهل د ابتلا مِنۡۢ بُیُوۡتِکُمۡ له هغه کورونو ستاسے چه اهل او عیال ستاسے پکښ اوسی او کورونه د
اولاد هم په دے کښ داخل دی له درے جهته یو دا چه ولد بعض دے د سړی، نو حکم ئے حکم د خپل ځان
دے دویم دا چه حدیث دے چه اَنۡتَ[عه] وَمَالُکَ لِاَبِیۡکَ دریم دا چه بل حدیث دے چه اِنَّ اَطۡیَبَ مَا
یَاۡکُلُ الرَّجُلُ مِنۡ کَسۡبِهٖ وَاِنَّ وَلَدَهٗ مِنۡ کَسۡبِهٖ او هم داسے کورونه د ازواجو هم پکښ داخل دی ځکه چه
زوجین داسے دی سره لکه یو نفس نو کور ئے هم داسے شو لکه کور د زوج کذا فی المدارک اَوۡ بُیُوۡتِ
اٰبَآئِکُمۡ یا له کورونو د پلرونو خپلو اَوۡ بُیُوۡتِ اُمَّهٰتِکُمۡ یا له کورونو د میندو خپلو اَوۡ بُیُوۡتِ اِخۡوَانِکُمۡ
یا له کورونو د وروڼو خپلو اَوۡ بُیُوۡتِ اَخَوٰتِکُمۡ یا له کورونو د خویندو خپلو اَوۡ بُیُوۡتِ اَعۡمَامِکُمۡ یا له
کورونو د ترونو خپلو اَوۡ بُیُوۡتِ عَمّٰتِکُمۡ یا له کورونو د عمو خپلو چه د پلار خویندے دی اَوۡ بُیُوۡتِ
اَخۡوَالِکُمۡ یا له کورونو د ماماګانو خپلو اَوۡ بُیُوۡتِ خٰلٰتِکُمۡ یا له کورونو د تروړیانو خپلو چه د مور
خویندے دی او دا ځکه چه اذن له دے تیرو لو ثابت دے دلالةً نو صریح اذن ته حاجت
نشته اَوۡ مَا مَلَکۡتُمۡ یا له هغه کورونو چه واکدار شوی او سئ تاسے مَّفَاتِحَهٗۤ د کلیګانو د هغو
یعنی مال مبلغ رخت چه په تاسے چا سپارلے وی په طریقه د وکالت یا د حفظ او یا مراد ترے کورونه
د مریونو دی اَوۡ صَدِیۡقِکُمۡ یا له کوره د یار او دوست خپله **فائده** دا خوراک له کورونو د اولاد په

عه ته او ستا مال ستا د پلار دے ۱۲ عه په تحقیق سره ډیر ښه خیز دے چه خوری ئے سړے له کسبه خپله او په تحقیق سره هم ځوئ
د ده چه دے له کسبه د ده نه دے یعنی هر شے چه ځوئ ئے د ګټي او پلار ئے وخوری نو روا دے ۱۲

تدرد حاجت ضروری دے اما که پلار فقیر وو نو بے عوضه او که نقیر نهٔ وو نو په قیمت سره او د
مریونو خپلو مطلق روا دے کهٔ اذن وی دهغو او کهٔ نهٔ وی او هرچه دا نوردی ټول په هغو کښ رضا
شرط ده یا صریح په قرینه سره اما صاحب دمدارك ویلی دی چه دا پخوا زمانه کښ وه او اوس شُح[عـ]
په خلقو دیر غالب شوے دے نو بے صریح اذن دِ نه خوری **روایت دے** چه بنی لیث بن عمرو
به بے میلمه طعام نه خوړ او چه څوك به پیښ نه شو نو تر بیګاه به نهر کرځیدل او کله به ئے له ډیره
ضرورته څهٔ قدرے څهٔ وخوړل یا ټولے وله انصارو چه بے میلمه به ئے طعام نه خوړ یا بوه طایفه
وه چه سره یوځائے به ئے نه خوړله ډیرے کرکے به ئے یو له بله کیدے نو نازل شو لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ
نشته په تاسے هیڅ وبال اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا په دے چه اوخورئ طعام ټول سره یوځائ اَوْ اَشْتَاتًا
یا وخورئ بیل بیل یعنی په دواړو کښ هیڅ باك او وبال نشته فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا پس په هغه
وخت چه ننوزئ دے کورونو ته چه بیرته مذکور دی یا خپلو کورو نو ته یا مساجدو ته فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى
اَنْفُسِكُمْ پس سلام اچوئ په ځانونو خپلو یعنی کهٔ خپل کور یا دمؤمن کور وو نو په هغه ساکنانو ئے
سلام اچوئ او له سلام ددوئ ئے تعبیر وکهٔ په علٰی انفسکم سره په حکم دَالْمُؤْمِنُوْنَ كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ[عـ]
او که خالی کور یا مسجد وو نو وائی به چه[عـ] اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ دا سے سلام
اچول چه ثابت دی له جانبه د خدائ او مشروع دے په امرد هٔ سره او دا تَحِيَّةً مفعول مطلق دے
د تیر په فَسَلِّمُوْا الیکن نه له لفظه ئے لکه قعدتُ جلوسًا او دا سے تحیة مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ط چه برکتناك او
پاك وی چه د اوریدونکی زړه پرے خوشحالیږی كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ همد اسے بیانوی خدائ لَكُمُ
الْاٰيٰتِ تاسے ته ایاتونه دحکمت خپل لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۱﴾ ع بنائی چه تاسے عقل او فکر وکړئ چه خیر
خپل معلوم کړئ له شره اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ بیشکه هم دا خبره ده چه مؤمنان چه دی الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
هغه دی چه ایمان ئے راوړے دے بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ په خدائ او په رسول د دهٔ په اخلاص د زړه سره وَ
اِذَا كَانُوْا مَعَهٗ او په هغه وخت چه وی دوئ له دغه رسول سره ملګری عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ په کوم کار
جمع کونکی د خلقو یعنی دا سے کار چه بے لوئے ډلے نهٔ شی تر سره کیدے لکه جمعه او عیدین او جهاد او مشورة او دا سے

عه یعنی مؤمنان سره په خپلو کښ په شان دیو نفس دی ۱۲ عـه یعنی سلام دِ وی په موږ او په بندیګانو دخدائ چه نیکو کاران دی ۱۲

تورشو لَمْ يَذْهَبُوْا نو نهٔ ځي په خپل غرض پسې هيڅکله حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ ترهغه پورې چه اذن وغواړي له
دهٔ او دے اذن ورنه وکه اِنَّ الَّذِيْنَ بيشکه هغه کسان يَسْتَاْذِنُوْنَكَ چه اذن غواړي له تا اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
دا هٰولے هغه کسان دي يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ج چه ايمان راوړي او باور کوي په خدائ او په رسول د
دهٔ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ پس هرکله چه اذن وغواړي دوئ له تا له ضرورۍ يعنه لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ د پاره د برابرولو
د کارو نو خپلو فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ پس اذن وکه هر هغه چاته چه اراده وشي ستا له دوئ وَاسْتَغْفِرْ
لَهُمُ اللّٰهَ ؕ او بخښنه وغواړه د دوئ د پاره له خدايه ځکه چه اګر که تګ د دوئ په عذر سره دے اما هرکله چه
کار د دين نيمګړے پريږدي او د دنيا پوره کوي نو دا هم يو نوع د قصور ده اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ بيشکه چه خدائ
بخښونکے د تقصيرا تو دے بندګانو ته رَّحِيْمٌ ﴿۶۲﴾ مهربان دے په دوئ چه سختي ته ئے نه نيسي لَا تَجْعَلُوْا
مهٔ ګرځوئ اے مؤمنانو دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بلنه د رسول عليه السلام بَيْنَكُمْ په خپل مينځ کښ كَدُعَآءِ
بَعْضِكُمْ بَعْضًا ؕ په مثل د بلنے د بعض ستاسے بعضو نورو ته يعني کهٔ تاسے کله رسول عليه السلام
وبلئ نو اجابت کښ ئے سستي مهٔ کوئ يا که رسول عليه السلام کله تاسے بالهٔ نو په سپوره
نامه ئے مهٔ بولئ بلکه په تعظيم ئے بولئ لکه په يارسول الله يانبي الله **حاصل** دا چه سره دا سے
معامله کوئ لکه په خپل کښ يو بل سره **روايت دے** چه هر کله رسول عليه السلام به خطبه
وېله نو منافقان به پرے تنګدل شول او يو بل به ئے سره پناه کهٔ او له مسجده به را اُوتهٔ نو نازل شو
قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ په تحقيق پيژني خدائ هغه کسان چه له ډيره کراهته يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ کښيږي او
ورو ورو پټ بيرون وځي له تاسے لِوَاذًا ج په دے حال کښ چه يو له بله سره ځان پناه کوي فَلْيَحْذَرِ
الَّذِيْنَ پس ميبايد چه ډېر وويريږي هغه کسان يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ چه مخالفت کوي دوئ له فرمان د
دهٔ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ له دے چه و به رسيږي دوئ ته کومه سختي په دنيا کښ لکه قتل يا زلزله يا تسلط
سختي دا رنګ
د سلطان جابر يا قسوة قلبي يا دا سے نور اَوْ يُصِيْبَهُمْ يا و به رسيږي دوئ ته عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ عذاب
دردناک په آخرت کښ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ واورئ چه بيشکه دي خدائ لره په طريقه د مملوکيت مَا فِي السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ؕ هر هغه چه په اسمانونو او په زمکه کښ دي قَدْ يَعْلَمُ په تحقيق سره پوهيږي دے مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ ؕ
هر هغه څيز چه تاسے په هغه يئ له اخلاص طاعت موافقت او له نفاق معصيت مخالفت وَيَوْمَ يُرْجَعُوْنَ

اِلَیۡهِ او به هغه ورځے چه ورشی دوئ ده لره فَیُنَبِّئُهُمۡ بِمَا عَمِلُوۡا ؕ پس اګاه به کړی دوئ په هغه کارچه کوی ئے دوئ وَاللّٰهُ بِکُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ﴿۶۴﴾ اوخدائ په هرڅیز اګاه دے :-

سُوۡرَةُ الفرقان مکیۃ ۞ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ۞ اٰیاتها ۷۷ رکوعاتها ۶

تَبٰرَكَ الَّذِیۡ برکتناك اومبارك دے هغه قادر مطلق نَزَّلَ الۡفُرۡقَانَ چه رالیږلے دے داقرآن چه بیلونکے دے دحق اودباطل اودحلالو اودحرامو عَلٰی عَبۡدِهٖ په بنده خپل چه محمد صلے الله علیه وسلم دے لِیَکُوۡنَ لِلۡعٰلَمِیۡنَ دپاره ددے چه شی دے خلقوله که جن اوکه انس دی نَذِیۡرَا ۙ﴿۱﴾ ویرونکے له عذابه د خدائ اَلَّذِیۡ لَهٗ هغه خدائ چه خاص هم دۀ لره ده مُلۡکُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ بادشاهی داسمانونو اودزمکے وَ لَمۡ یَتَّخِذۡ وَلَدًا اونۀ دے نیولے دۀ فرزند هیڅوك لکه چه یهود اونصاری وائی وَّ لَمۡ یَکُنۡ لَّهٗ اونشته دۀ له شَرِیۡكٌ فِی الۡمُلۡكِ کوم شریك په بادشاهئ کښ لکه چه مشرکان وائی وَخَلَقَ کُلَّ شَیۡءٍ اوپیداکړیدے دۀ هرڅیز فَقَدَّرَهٗ تَقۡدِیۡرًا ﴿۲﴾ پس په اندازه کړے دے ده هرڅیز په اندازه کولو سره یعنے جنس، نوع، قد رنګ، خوئ، عمر، اجل، عمل، رزق، حیوة، موت، مکان داټول ئے په یومقدار دوله شکلی دی په لوح محفوظ کښ وَاتَّخَذُوۡا اونیولی دی دغه مشرکانو مِنۡ دُوۡنِهٖ غیرله خدائ اٰلِهَةً لَّا یَخۡلُقُوۡنَ شَیۡئًا داسے خدایان چه نه شی پیداکولے هیڅ څیزله جهته دعدم قدرته وَّهُمۡ یُخۡلَقُوۡنَ اوحال داچه دوئ پیدا کولے شی ځکه چه بل سازوی وَلَا یَمۡلِکُوۡنَ اوسره له مخلوقیت بیا اختیارهم نۀ لری دا الهه لِاَنۡفُسِهِمۡ ضَرًّا دځان خپل ددفع دکوم ضرر وَّلَا نَفۡعًا اونۀ دراسولو دکوم نفع یعنی دوئ خود ضرر او دنفع هیڅ نۀ لری اوخدائ خو هم ضار او هم نافع دے وَّلَا یَمۡلِکُوۡنَ مَوۡتًا اونه اختیار لری دوئ دوژلو دچا وَّلَا حَیٰوۃً اونه دژوندی کولو دچا وَّلَا نُشُوۡرًا ﴿۳﴾ اونۀ دژوندی کولو بیا پس له مرګه اوضمیرونه دعاقلانو ئے ورته راجع کړی دی نظر دعابدانو وَقَالَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا اووائی هغه کسان چه کافردی اِنۡ هٰذَاۤ نۀ دے دا قرآن چه محمد صلے الله علیه وسلم راوړیدے مونږه لره اِلَّاۤ اِفۡكُ ۣافۡتَرٰىهُ مګر دا دے دروغ دی چه له خپل ځانه ئے سازکړی دی وَاَعَانَهٗ عَلَیۡهِ اومدد کړے دے له ده سره په دے دروغ سازولو کښ قَوۡمٌ اٰخَرُوۡنَ ۛۚ نورو خلقو یعنے یهودو یا جبراو یسار او عداس اوفکیهه رومی چه دوئ قصے دپخوانو امتو پخپله

ژبه ورته کوی اودے ترے نقل کوی په عربی سره او بیا موږ ته ئے وائی نو رب العزت وائی چه فَقَدْ جَآءُوْ
پس په تحقیق راتله کړی دی دوی ظُلْمًا وَّ زُوْرًا ﴿۴﴾ په ظلم چه معجز کلام ئے په افک بللے دے او په دروغ
چه نسبت د افتراء ئے کړے دے قرآن پاک ته وَقَالُوْٓا او وائی دا کفار چه دا موږ ته دے لولی اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ
دا قصے دی د پخوانیو اسو اكْتَتَبَهَا چه اینکی په کاتبانو دے دا قصے څکه چه پخپله ئے بنکل نهٔ دی زده -
فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ پس دا قصے لوستے شی په دهٔ د پاره د حفظ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ﴿۵﴾ صبا او بیګاه او دے وائی چه دا
وحی ده قُلْ ووایه دوی ته اے رسوله اَنْزَلَهُ الَّذِيْ چه رالیږلے دے دا قرآن هغه چا چه يَعْلَمُ السِّرَّ اګاه دے په هر
پټ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ چه په اسمانونو او په زمکه کښ دے اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه خدائی دے غَفُوْرًا
رَّحِيْمًا ﴿۶﴾ بخښونکے د ګناهونو د بندګانو مهربانه په دوی وَقَالُوْا او وائی دوی مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ څه دی
دے رسول لره یعنی دا څهٔ ډیر بدکار دے چه دے ئے کوی سره له دعوے د رسالته يَاْكُلُ الطَّعَامَ چه خوری
دے طعام د نورو خلقو په شان وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ ؕ او ګرځی په بازارونو کښ د پاره د طلب د معاش لکه
دا نور خلق چه ګرځی نو دهٔ او د نورو خلقو څهٔ فرق شو سره نو اول خو بائده دا وو چه دے مَلَک وے چه
خوراک او ګرځیدل ئے نهٔ کولے او هر کله چه دا سے نهٔ دی نو لَوْلَآ اُنْزِلَ ولے رانه لیږلے شو اِلَيْهِ مَلَكٌ
دهٔ ته ملک بنکاره فَيَكُوْنَ مَعَهٗ پس چه وے د املک له ده سره نَذِيْرًا ﴿۷﴾ ویرونکے له عذابه چه معلوم
شوے وے صدق د دهٔ په تصدیق د هغه ملک سره اَوْ يُلْقٰٓى اِلَيْهِ یا دا چه غورځولے شوے وے دهٔ ته
كَنْزٌ خزانه له اسمانه چه معاش ئے پرے کولے او بازار ته ئے حاجت نهٔ وے اَوْ تَكُوْنُ یا خو وے لَهٗ جَنَّةٌ
دهٔ لره یو باغ يَّاْكُلُ مِنْهَا ؕ چه خوراک ئے کولے د میوے او د نوره محصوله د هغه وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ او وائی دا
ظالمان مؤمنانو ته اِنْ تَتَّبِعُوْنَ چه پیروی نهٔ کوئی تاسے اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ﴿۸﴾ مګر د دا سے سړی چه
جادو کړے شوے دے یعنے پرے شوے دے اُنْظُرْ وګوره اے رسوله چه دے معاندانو كَيْفَ ضَرَبُوْا څرنګه
ترلی دی دوی لَكَ الْاَمْثَالَ تا پورے مثالونه چه کله دے مسحور او کله د مفتری او کله د افاک بولی فَضَلُّوْا
پس ګمراه شو دوی یعنی ورکه ئے کړه هغه لاره چه نبی او غیر نبی معلومیږی فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴿۹﴾ پس
طاقت نه لری دوی د لارے موندلو دے معرفت یا ستا قدح ته تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ برکتناک او مبارک دے هغه

عه یعنی چه پیغمبر او غیر پیغمبر پرے معلومیږی ۱۲ عه یعنی پیژندلو د خدائی ته او صفت د پیغمبر ته ۱۲

خوښ إِنْ شَآءَ چه که اراده ئے وشی جَعَلَ لَكَ نو ساز به کړی د دے تاله په دنیا کښې خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ ډیر غوره له
د خزانے او له د باغ چه دوئ وائی جَنّٰتٍ تَجْرِیْ باغونه چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لا لاندے د ونو د
هغو ویلے وَيَجْعَلْ لَّكَ او ساز که تاله په دے باغونو کښې قُصُوْرًا ⑩ بنګلے او ماڼئ په اقسام واقسام یعنی
هسکے او منقشے بیا رسول خدائ ته وائی چه ته لا د دوئ له د تیرو اقوالو تعجب کوے له هغو زیاته واوره
چه بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ تن بلکه نسبت د دروغو کوی دوئ قیامت ته چه قیامت له سره نشته وَاَعْتَدْنَا
لِمَنْ او تیار کړیدے مونږه د پاره د هغه چا کَذَّبَ بِالسَّاعَةِ چه نسبت د دروغو کوی قیامت ته سَعِيْرًا ⑪ بل
اور د دوزخ إِذَا رَاَتْهُمْ په هغه وخت چه ووینی دا اور د دوزخ دوئ مِّنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ له هغه ځایه چه
لرے به وی له دوئ د سلو کالو یا د پنځه سوه کالو لار قدرے سَمِعُوْا لَهَا نو اوری به دوئ د هغه اور له تَغَيُّظًا
اواز د جوش له ډیره قهره وَّ زَفِيْرًا ⑫ او اواز د غریدلو له ډیره غضبه او د اهله که ضمیر د رَاَتْهُمْ سعیرته
وی او یا د اکلام د آسے د ے چه عه إِذَا رَاَتْهُمْ زَبَانِيَتُهَا تَغَيَّظُوْا وَزَفَرُوْا عَلَى الْكُفَّارِ وَإِذَا اُلْقُوْا مِنْهَا او په هغه وخت
چه وغورځولے شی دوئ له دے دوزخ مَكَانًا ضَيِّقًا په تنګ ځائ کښې د پاره د دے چه عذاب پرے دوچند
شی مُّقَرَّنِيْنَ په دے حال چه تړلے وی دواړه لاسونه د دوئ په ګردن پورے په آتشین زنځیر سره دَعَوْا
هُنَالِكَ نو بولی به د غه وخت کښې ثُبُوْرًا ⑬ هلاك ځیل یعنی وائی به چه وَا ثبوراه معنیٰ دا چه اے هلاکه
حُماراځه چه دادِ وخت دے او ورته به وویلے شی چه لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ مهٔ بولئ تاسے نن ورځ ثُبُوْرًا
وَّاحِدًا یو ثبور وَّادْعُوْا او بولئ ثُبُوْرًا كَثِيْرًا ⑭ ډیر ثبور ځکه چه عذاب ستاسے په ډیر قسم دے
او هر قسم له هغو ځان له ثبور دے قُلْ ووایه دوئ ته اَذٰلِكَ خَيْرٌ ایا دا خزانه او باغ یا دا عذاب او اور غوره
دے اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِیْ او که هغه جنت د همیشه او سیدلو وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ط چه وعده کړے شوے ده د
او سیدلو په هغه کښې له پرهیزګارانو سره كَانَتْ لَهُمْ چه دے د غه جنت دوئ لره جَزَآءً وَّمَصِيْرًا ⑮ جزا
د عمل د دوئ او ځائ د ډیره کاه د دوئ چه هلته به او سی په آخرت کښے لَهُمْ فِيْهَا وی به دوئ له په د
جنت کښے مَا يَشَآءُوْنَ هرهغه نعمت چه دوئ ئے غواړی فریانه خٰلِدِيْنَ ط په د ے حال کښے چه
همیشه به وی دوئ په دے جنت کښے كَانَ عَلٰى رَبِّكَ دے دا دخول او خلود د دے جنت په رب

عه یعنی چه ووینی دوئ زبانیه ملائکے د دوزخ نو په قهر به شی ورته او چیغه به و باسی پرے باندے ۱۲ عه یعنی
ځائے د ویرے د دوئ ۱۲

ستا وَعْدًا مَّسْـُٔولًا (۱۶) هغه موعود چه غوښتے شویدے یالایق دے د غوښتلو یا غوښتنے دے مؤمنانو چه رَبَّنَا
اٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ او ملایکو چه رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ نِ الَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ ـ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ
او یاده که هغه ورځ چه راټرونډی او بیا راجمع به کړی خدائی دا مشرکان وَمَا يَعْبُدُوْنَ او هغه هم چه
عبادت ئے کولو دوئی که بتان که ملائک که مسیح که عزیر علیه السلام دی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیرله خدائے
فَيَقُوْلُ پس وبه وائی دوئی ته ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ چه ایا تاسے گمراه کړی وو عِبَادِیْ هٰٓؤُلَآءِ بندګان ځما چه دغه
دی یعنی مشرکان اَمْ هُمْ او که دوئی پخپله ضَلُّوا السَّبِيْلَ (۱۷) ورکه کړے وه لاره د حق بے سعی ستاسے قَالُوْا
سُبْحٰنَكَ نو وبه وائی دا تول او بتان چه پاکی ده تا لره له شریکه مَا كَانَ يَنْۢبَغِیْ لَنَآ نهٔ بنائی او نهٔ دی
بانده پخپله موبزه لره اَنْ نَّتَّخِذَ دا چه ونیسو موبزه مِنْ دُوْنِكَ غیرله تا نو رخوك مِنْ اَوْلِيَآءَ دوستانو چه
خاصه چه بل څوك به په دے کار باعث کوو دوئی موبزه نهٔ دی گمراه کړی وَلٰكِنْ مَّتَّعْتَهُمْ ولیکن بنهٔ معاش
تاورکړے وو دوئی ته وَاٰبَآءَهُمْ او پلرونو دوئی ته په اوږد عمر او په صحت دبدن او په اموال او په اولاد
او په نورو انواعو د نعمتو نو حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ج ترهغه پورے چه هیر کړه دوئی ایمان په قران وَكَانُوْا قَوْمًا
بُوْرًا (۱۸) او وو دوئی په ازل کښ یو توله هلاکیدونکے او دا جمع ده د بائر. بیائے خطاب وکړ کفارو ته دا فَقَدْ
كَذَّبُوْكُمْ پس په تحقیق دروغژن کړی یئ معبودانو خپلو تاسے بِمَا تَقُوْلُوْنَ لا په هغه خبره کښ چه ویله به تاسے
چه دا شریکان دی دخدائی او دوئی له دے خبرے توبه کار شو فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ پس طاقت نهٔ لرئی تاسے اے
مشرکانو صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ج د دفع کولو دعذاب له خپله ځانه او نه مددګاری د یوله بله سره په دفع کولو
کښ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ او هرڅوك چه ظلم وکه له تاسے اے مکلفانو یعنی شرك اختیار که نُذِقْهُ عَذَابًا
كَبِيْرًا (۱۹) نو وبه څکوو موبزه په دهٔ عذاب لوئی چه خلود دے په او رکښ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ او نهٔ دے لیږلے
موبزه پخواله تا اے رسوله ! مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ هیڅوك له رسولانو اِلَّآ اِنَّهُمْ مګر بے شکه دوئی چه وو لَيَاْكُلُوْنَ
الطَّعَامَ هرائینه خوړ به ئے طعام وَيَمْشُوْنَ فِی الْاَسْوَاقِ ط او ګرځیدل به په بازارونو کښ دپاره د
مطالبو خپلو وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ او ګرځولی دی موبزه بعضے ستاسے لکه نادار او مریضان او رانده او ګډ او دا نورے

عه معنیٰ دا چه اے ربه ځمونږه راکړے موبږ ته هغه څیز چه وعده کړے ده تا له موبزه سره په ژبه د رسولانو خپلو چه
جنت دے ۱۲ عه یعنی اے ربه ځمونږه داخل کړه مؤمنان په جنت عدن کښ هغه چه وعده کړے ده تا له
دوی سره ۱۲ اللّٰهم اغفر لی

اهل د ابتلاء لِبَعْضٍ فِتْنَةً ط د پاره د بعض نورو لکه غنیان او صحیحان او بینایان او روغ او دا سے نور اهل د
تنعم ازمینبت اَتَصْبِرُوْنَ ج ایا صبر کوئ تاسے اے اهل د ابتلاء په دے محنت چه په تاسے دے او که
جزع فزع کوئ وَكَانَ رَبُّكَ او دے رب ستا بَصِيْرًا ﴿۲۰﴾ بینا په هر څهٔ **وَقَالَ الَّذِيْنَ** او وائی هغه
کسان لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا چه امید نهٔ لری دوئ د ملاقات ځمونږه یعنی چه قیامت نهٔ منی یا نهٔ ویریږی
ځمونږه له عذابه لَوْلَآ اُنْزِلَ ولے نهٔ را لیږلے کیږی عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ په مونږ باندے ملائک چه خبر که مونږه
په صدق د محمد صلی الله علیه وسلم او یا چه دوئ ځپله پیغمبران وی اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ط یا ولے نهٔ وینو مونږه
رب خپل چه په خپله خبرے را سره وکه او مونږ په متابعت د محمد صلی الله علیه وسلم مامور که او دا
قائلان اهل مکه دی لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا هرائینه په تحقیق کبر کړے دے دوئ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ په نفسونو خپلو
کښ په ویلو د دے الفاظو سره وَعَتَوْ او تیر شوی دی له خپله حده عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿۲۱﴾ په ډیر لوئ تیریدلو
سره چه پس له لیدلو د دا سے معجزاتو هم دوئ لا هم هغسے را تلهٔ د ملائکو او لیدل د رب غواړی يَوْمَ
يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ یاده که هغه ورځ چه وینی دوئ ملائک د موت یا د عذاب لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ نو نهٔ
به وی هیڅ زیرے په دغه ورځ یعنی کومه خبره د خوشحالی لِّلْمُجْرِمِيْنَ مجرمانو یعنی کافرانو له وَيَقُوْلُوْنَ او
وائی به دا کافران په دغه وخت کښ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۲۲﴾ دا الفاظ او دا حجر هغه مصدر دے چه فعل ئے
متروك الذكر دے او حجر منع ده او محجور ئے تاکید دے او معنیٰ ئے دا سے شوه چه پناه نیسی په خدائ
پورے له ملاقاته د ملائکو په منع مانع سره یا معنیٰ دا چه و به وائی ملائک چه کذا ذکره البیضاوی وَقَدِمْنَآ
اِلٰى مَا عَمِلُوْا او را به شو مونږه یعنی اراده به وکړو هغه ته چه کړے وه دے کفارو په دنیا کښ مِنْ عَمَلٍ له هغے
عمله چه په ظاهر کښ به نیک ښکاریدهٔ لکه صلهٔ رحمی او مرول دوږی او عزت د میلمه او دلاسا نیه د یتیم او
فریاد رسی د مظلوم او دا سے نور شو فَجَعَلْنٰهُ پس وګرځولو مونږه د اعمل د دوئ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿۲۳﴾ پشان ګرد
تار په تار شوے یعنی باطل بے نفعے ځکه چه شرط په قبول د عمل کښ ایمان دے او هغه دوئ نهٔ وو راوړے
اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ملګری د جنت یعنی جنتیان چه دی يَوْمَئِذٍ په دغے ورځے د قیامت خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا ډیر
غوره دی له جهته د اقرارګاه یعنی مساکن د دوئ به د مساکنو له کفارو په دنیا کښ ډیر غوره وی وَّاَحْسَنُ
مَقِيْلًا ﴿۲۴﴾ او ډیره به ښه وی له جهته د قیلولے یعنی استراحته ځکه چه په جنت کښ خوب نهٔ شته

روایت دے چه له دے اوه وارو اسمانو نو د پاسه یوه سپینه وریځ ده چه پیر والے د هغے د دے تولو اسمانونو قدر دے او د روند والے ئے له دے وارو زیات دے او هغه اوس پاس ولاړه ده بیا چه ورځ شوه د قیامت نو هغه به په امر د خدائی له پاسه را خطا شی او په هر اسمان چه لویږی ۷ فه به توټے توټے که لکه چه وائی وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ او یاده کړه هغه ورځ چه پارچے به شی دا اسمانونه بِالۡغَمَامِ په هغه وریځے سره وَنُزِّلَ الۡمَلٰٓئِكَةُ او را کوز به کړے شی ملائک زمکے ته تَنۡزِيۡلًا ﴿۲۵﴾ په را کوځولو سره اوچا ویلی دی چه ب په معنیٰ د مع د عَنۡ دے اَلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذِنِ بادشاهی چه ده په دغه ورځ الۡحَقُّ هسے بادشاهی چه حقه او ثابته ده لِلرَّحۡمٰنِ هغه خاص خدائی لره ده او بل هیڅوك ورسره شریك نه دے په دے کښ وَكَانَ يَوۡمًا او وی به دا قیامت یوه داسے ورځ عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ چه په کافرانو عَسِيۡرًا ﴿۲۶﴾ ډیره سخته په سبب د سختوالی د عذاب نه په مؤمنانو لکه چه په حدیث کښ راغلی دی چه يهون يوم القيمة[عه] على المؤمنين حتى يكون عليهم اخف من صلوة مكتوبة صلوها فى الدنيا كذا فى المدارك روایت دے چه عقبه بن ابی معیط عامه مهمانی کړے وه او رسول علیه السلام ئے هم بللے وه نو ده ورته وویل چه طعام به دِ ونه خورم څو چه کلمه دِ نه ده ویلے نو کلمه ئے وویله بیا اُبیُّ بن خلف چه خاص یار وو ده په دے خبر شو نو ورته ئے وویل چه مخ به درنه کرم څو چه مرتد شوے نه ئے پس بیرته مرتد شو نو نازل شو وَيَوۡمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ او یاده کړه هغه ورځ چه له ډیرے پښیمانئ غابنونه به کیمنډی او خوله به لګوی ظالم یعنی عقبه عَلٰى يَدَيۡهِ په دواړو لاسونو خپلو يَقُوۡلُ يٰلَيۡتَنِى اتَّخَذۡتُ وائی به په قیامت چه کاشکے نیولے وے مَعَ الرَّسُوۡلِ سَبِيۡلًا ﴿۲۷﴾ له رسول علیه السلام سره لاره د نجات يٰوَيۡلَتٰى اے افسوس دے مالره لَيۡتَنِىۡ لَمۡ اَتَّخِذۡ کاشکے نه وے نیولے ما فُلَانًا خَلِيۡلًا ﴿۲۸﴾ فلانے یعنی اُبیُّ خاص یار خپل لَقَدۡ اَضَلَّنِىۡ هر آئینه په تحقیق وُ لغزولم[عه] ده زه عَنِ الذِّكۡرِ له یادګیرئ د خدائی یعنی له کلمے د شهادت بَعۡدَ اِذۡ جَآءَنِىۡ پس له هغه چه راغلے وه ما لره یعنی چه اقرار مِ کړے وو په وحدانیت[سه] او په رسالت وَكَانَ الشَّيۡطٰنُ او دے شیطان یعنی ابلیس یا اُبیُّ خما

عه یعنی په دے قول کښ چه بالغمام دے نو تقدیر ئے داسے شو مع الغمام او عن الغمام ۱۲ عه یعنی اسانه به وی ورځ د قیامت[متا] په مومنانو ترهغه پورے چه وی به په مومنانو اسانه ډیره د یو مونځ فرض نه چه دوی ئے ګذاری په دنیا کښ ۱۲ عه یعنی وے خوځولم د لارے نه ۱۲ سه یعنی په یو والی د خدائی او په پیغمبرئ د رسول علیه السلام ۱۲

یا رِلِلْاِنْسَانِ خَذُوْلًا (۲۹) مطلق آدمی لره یاله لغزونکے وَقَالَ الرَّسُوْلُ او ووئیل رسول یعنی محمد علیه السلام
په دنیا کښې یا وبه وائی په آخرت کښې یٰرَبِّ اے ربه ځما اِنَّ قَوْمِی اتَّخَذُوْا بیشکه دا قوم ځما چه قریش
دی نیولے دے دوی یعنی ساز کړے ئے دے هٰذَا الْقُرْاٰنَ دا قرآن مَهْجُوْرًا (۳۰) مسخره یا متروک چه
ایمان پرے نهٔ راوړی وَكَذٰلِكَ او همدغسے لکه چه دا کفار دښمنان کړی دی مونږه ستا جَعَلْنَا لِكُلِّ
نَبِیٍّ گرځولی وو مونږه هر پیغمبر لره پخواله تا عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِیْنَ ط یو غټ دښمن له کفارو لکه نمرود
او فرعون او دا سے نور هم او دوی به صبر ورته کولو نو ته هم صبر کوه دوی ته وَكَفٰی بِرَبِّكَ او بس
دے رب ستا هَادِیًا وَّنَصِیْرًا (۳۱) سمه لار ښودونکے او مدد کونکے له تا سره وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا او وائی هغه
کسان چه کافر دی لَوْلَا نُزِّلَ ولے را ونهٔ ولیږلے شو عَلَیْهِ الْقُرْاٰنُ په دهٔ باندے قرآن جُمْلَةً وَّاحِدَةً ج ټول
په یو کرت لکه تورات او انجیل او زبور. نو رب العزت وائی چه رالیږلے دے مونږه كَذٰلِكَ ج هسے
تار په تار دپاره د ډیرو فائدو چه یوه تر دا ده چه لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ دپاره د دے چه قوی کړو مونږه
په دے تفریق سره زړهٔ ستا په حفظ او په فهم ددهٔ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِیْلًا (۳۲) او ولوست مونږه دا قرآن په
تا باندے آیت آیت په مهلت سره په لوستلو سره په مرار مرار سره چه نیول او یادول ئے آسان شی وَلَا یَاْتُوْنَكَ
بِمَثَلٍ او نهٔ راوړی دوی تا ته کوم مثل [1] ابطال د دین او د نبوت ستا اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ مگر چه راوړو
مونږه هم هغه مثل رښتیا واقعی چه دافع وی د مثل د هغو وَاَحْسَنَ تَفْسِیْرًا (۳۳) او ډیر ښهٔ وی له
جهته د بیانه او دوی چه دی الَّذِیْنَ یُحْشَرُوْنَ هغه دی چه راجمع کولے به شی په قیامت عَلٰی وُجُوْهِهِمْ
په مخونو خپلو یعنی پړمخے پراته به روان وی اِلٰی جَهَنَّمَ لا دوزخ ته په محشر اُولٰٓئِكَ دا کسان چه
دی شَرٌّ مَّكَانًا ډیر بد به وی له جهته د مکان نه دا وسیدلو له هغه منازلو د مؤمنانو چه په دُنیا کښې
وو وَّاَضَلُّ سَبِیْلًا (۳۴) او ډیر لغزیدلی به وی د بهته د لارے ځکه چه د دوی لاره دوزخ ته تللے ده
وَلَقَدْ اٰتَیْنَا او هرآئینه په تحقیق ورکړے وهٔ مونږه مُوْسَی الْكِتٰبَ موسیٰ علیه السلام لره کتاب چه
تورات وو پس له غرق د فرعون وَجَعَلْنَا مَعَهٗٓ او گرځولے مونږه له دهٔ سره اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِیْرًا (۳۵)
ور ورد دهٔ چه هٰرون علیه السلام وو بار بردار او مدد گار د په دعوت کښې فَقُلْنَا اذْهَبَآ پس ووئیل مونږه

[1] یعنی په لږ لږ نازولو د قرآن سره ۱۲ [2] یعنی په خرابولو د دین او په خرابولو د پیغمبری ستا ۱۲ [3] یعنی ورکونکے وی ۱۲

چه لاړشئ د واړه اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ هغه قوم ته كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَاؕ چه دروغژن ئے بللی دی ایتونه زمونږه
نو دواړه ورلره لاړهٔ او دعوت ئے ورته وکهٔ او هغوقبول نهٔ کهٔ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًاؕ ﴿۳۶﴾ پس هلاك کړهٔ مونږه
دوئ په هلاکولو سره دا سے چه ټول غرق کړه مونږه په سیند دقلزم کښ وَقَوْمَ نُوْحٍ او بل هلاك کړهٔ مونږه
قوم د نوح علیه السلام لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ هرکله چه دروغژن وبلل مونږه رسولان ځمونږه یعنی
نوح علیه السلام او چه څهٔ ترے مخکښ اوو لکه شیث او ادریس علیهما السلام یا تکذیب د یو تکذیب
د ټولو دے اَغْرَقْنٰهُمْ غرق کړه مونږه دوئ ټول په طوفان سره وَجَعَلْنٰهُمْ او کړهٔ مونږه دوئ یعنی دا
هلاك ئے لِلنَّاسِ اٰيَةًؕ مخکښ خلقو ته ترقیامته پورے نښه چه عبرت پرے اخلی وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ او
تیار کړیدے مونږه ظالمانو لره عَذَابًا اَلِيْمًاۚۖ ﴿۳۷﴾ عذاب دردناك وَّعَادًا وَّثَمُوْدَا۟ او بل هلاك کړه
مونږه عاد او ثمود چه تکذیب ئے وکهٔ د هود او دصالح علیهما السلام وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ او بل ملګری د
رس هلاك کړهٔ مونږه او رس یا کوهے دے په تهامه یا په اذربایجان یا په انطاکیه کښ یا قریه ده په
یمن کښ یا اُخدود دی او پیغمبر ئے یا شعیب یا حنظله بن صفوان علیهما السلام دے یا بل کوم دے
حاصل دا چه هر څوك چه تکذیب ئے وکه د خپل پیغمبر نو هلاك کړے شو وَقُرُوْنًاۢ بَيْنَ ذٰلِكَ او
نور خلق دقرنو نو هلاك کړه مونږه په مابین ددے تیرو مذکورینو کښ كَثِيْرًا ﴿۳۸﴾ ډیر غیر چه له خدائ
بل هیچا ته معلوم نهٔ دی وَكُلًّا او ویرولی وو مونږه هر یو له دوئ او له امثالو دوئ ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ
دا سے چه بیان کړے وو مونږه دوئ ته مثلونه یعنی عجیبه قصے د مخوانیو امموا و پیغمبران هم ورلره
لیږلی وو مونږه د پاره د قطع د حجت وَكُلًّا تَبَّرْنَا او ټول هلاك کړه مونږه تَتْبِيْرًا ﴿۳۹﴾ په هلاکولو سره
وَلَقَدْ اَتَوْا او هرآئینه په تحقیق راغی او تیریږی دا قریش همیشه چه شام له ځی په سودا کړی عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ
په هغه ښهر باندے اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِؕ چه ورولے شوے وو په هغه ښار باران د بدئ او دا ښار
سدوم نوے وو چه د مؤتفکاتو په ښارونو کښ ډیر لوئ وو او په اهل ئے تیږے ووریدے له آسمانه او
ټول هلاك شو اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَاۚ ایا پس نهٔ دی دا کفار د مکے چه وینی دوئ دا قریه په وخت د
تیریدلو شام ته چه عبرت پرے واخلی او دا سے نهٔ دی چه ئے نهٔ وینی بَلْ كَانُوْا بلکه دی دوئ چه له ډیره
کفره او حمقه لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿۴۰﴾ چه امید نهٔ لری د بیا ژوندون یعنی قیامت نه منی وَاِذَا رَاَوْكَ او

په هغه وخت چه وینی دوی تا اے رسوله اِنْ يَتَّخِذُوْنَكَ نو نهٔ نیسی دوی تا اِلَّا هُزُوًا مګر ځائ د
پوچمنو او د مسخرو لووائی په طریقه د استهزاء سره چه اَهٰذَا الَّذِیْ آیا دا چه دے هغه څوک دے بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا (۴۱)
چه رالیږلے دے خدائ رسول موږ ته اِنْ كَادَ بیشکه نزدے دے چه په د یر دعوت او کوشش سره لَيُضِلُّنَا
عَنْ اٰلِهَتِنَا هرائینه واړوی موږ ه له خدایانو خپلو لَوْلَآ اَنْ که چرے نهٔ وے دا کار چه صَبَرْنَا عَلَيْهَا صبر کړے
د موږ ه په دے اٰلهو خپلو یعنی په عبادت د دوئ نو رب العزت وائی چه وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ او ژر دے چه معلوم
(۴۲) به کړی دوئ حِيْنَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ په هغه وخت چه وینی دوئ عذاب په قیامت ښکاره مَنْ اَضَلُّ سَبِيْلًا
چه څوک دے ډیر ګمراه له جهته د لارے دوئ او که مؤمنان اَرَءَيْتَ آیا وینے ته مَنِ اتَّخَذَ هغه څوک چه
نیولے دے دهٔ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ خدائ خپل هوئ د نفس خپل اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ آیا پس ئے ته عَلَيْهِ وَكِيْلًا (۴۳)
په دغه چاچه هوا د نفس ئے په خدائ نیولے ده نګهبان چه منع کوی دے له دے کاره او دا آیت یا منسوخ
ده په آیت د سیف سره اَمْ تَحْسَبُ بلکه ګمان کوے ته اَنَّ اَكْثَرَهُمْ دا سے چه بیشکه زیات د دوئ
يَسْمَعُوْنَ اَوْ يَعْقِلُوْنَ اوری یا عقل کوی اِنْ هُمْ نهٔ دی دوئ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ مګر په شان د چارپایانو دی په عدم
انتفاع کښ په موعظت او په عدم تفکر او تدبر کښ په دلایل او معجزاتو بَلْ هُمْ بلکه لا دوئ چه دی اَضَلُّ
سَبِيْلًا (۴۴) ډیر ګمراه او خطا دی له لارے د صوابه له چارپایانو هم ځکه چه هغه ایل دی خپل څښتن ته او طلبګار
د خپل منفعت دی او دوئ سرکش دی له خپل ربه او طلبګار نهٔ دی د خپلے نفع چه فرمان منل دی د خپل
مولیٰ او طلب د ثواب دے او ځان ساتل دی له عقابه او له غضبه ددهٔ اَلَمْ تَرَ آیا نهٔ وینے ته اِلٰى رَبِّكَ
رب خپل ته چه محض په صنعت بالغه او قدرت کامله خپل سره كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ څرنګه را ښکلے دے دهٔ سورے
او خور کړے ئے دے په درست د روئ زمین او دا له طلوع د فجر نه تر طلوع د شمس دے له افقه پس دا
سورے ډیر لوئ نعمت دے چه دا وخت تیاره نهٔ وی چه موجب د انقباض د نور او د نفرت طبیعی او نور هم نهٔ
وی چه موجب دے د ګرمید لود هوا او تفریق د نور د سترګو نو دا ډیر معتدل وخت دے ځکه چه نعمتو نو د
جنت کښ یاد شوید ے چه فِيْ ظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ وَلَوْ شَآءَ او که اراده وے د خدائ لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا ج او هرائینه کړ ځولے

له یعنی دوئ په وعظ سره فائده نهٔ اخلی لکه چارپایان ۱۲ ؎ یعنی دوئ وعظ ته هیڅ فکر نهٔ کوی په مثل د چارپایانو ۱۲ ؎ یعنی
دا سورے د وخت د ختو د صبا نه تر وخته د ختو د نمره د کنارے د اسمانه پورے ۱۲ ؎ یعنی په دے کښ دا سے تیاره نهٔ وی
چه طبیعت د سړی تر ے خفه کیږی ۱۲　　اللّٰهم اغفر لی کاتبه ۱۲

به ئے وود اسورے ولاړ په ځائې همیشه ثابت په یوحال چه له سره نهٔ لرے کیدے په طلوع د نور سره یا دا
نور به همیشه په یوحال ولاړ وو نو سورے به هم خود ولاړ وو او دا تیر حال د هغه سوری وو چه پخواوی له
ظهوره د شمسه له اُفق او هرچه پس له طلوع د ے هغه حال ئے دا دے لکه چه وائی ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ بیا
وګرځولو مونږه دا نور پس راښکاره شوله اُفق عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿۴۵﴾ په دے سوری یعنے دے ته رهنمائی ځکه چه سورے
نوره نه معلومیږی ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا بیا راټول کهٔ مونږه دے خپل ځان ته یعنے هر هغه طرف ته چه اراده وه
ځمونږه قَبْضًا يَّسِيْرًا ﴿۴۶﴾ راټولول اسان یا په چه په تک ئے څوک نهٔ پوهیږی یا لږ لږ تدریجاً یعنے نور کم کم
راپوره ته کیږی نو دا سورے رو رو رالنډیږی خو چه ورک شی وَهُوَ الَّذِىْ او دے هغه حکیم مطلق دے چه په قدرت کامله
سره جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا ګرځولے ده دهٔ تاسو له شپه پوښ سا ترستاسو په تاریکئ خپلے سره لکه پوشاک وَ
النَّوْمَ سُبَاتًا او ګرځولے دے دهٔ خوب راحت او آرام د ابدا نو ستاسو په قطع د عمل سره وَّجَعَلَ النَّهَارَ
نُشُوْرًا ﴿۴۷﴾ او ګرځولے ده دهٔ ورځ خدا او نده د تار په تارکید لو د پاره د طلب د رزق او د معاش وَهُوَ الَّذِیٓ
او دے هغه قادر بیچون دے چه اَرْسَلَ الرِّيٰحَ راليږلی دی دهٔ بادونه بُشْرًا ۢ زیرے کونکی او دا جمع د بشور په
معنے د مُبشر بَيْنَ يَدَیْ رَحْمَتِهٖ ۚ په مابین د دوا ړو لاسونو د رحمت د دهٔ کښ او دا لفظ په عربو کښ کنایه دے
له مخکښ والی څخه یعنے په مخکښ د رحمت د دهٔ چه باران دے او پخوا له نزوله ئے او دا ځکه چه باد ورځ راغونډ
که اوله وریځے باران ووریږی وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ او راليږلے دے مونږه له طرفه د اسمانه مَآءً طَهُوْرًا ﴿۴۸﴾
او به هم پاک کونکے لِّنُحْیِیَ بِهٖ په یو د پاره د دے چه ژوندی کړو مونږه په دے او بو سره بَلْدَةً مَّيْتًا هغه ښار
چه مړ وی یعنے زمکه بے زرغو وچه کلکه پرته وی او بیا په دے باران سره ژوندئ یعنے شنه زرغونه ئے کړو په
فصل او په ګیاه سره وَّ نُسْقِيَهٗ او بل دا چه وڅکو و مونږه دا او بهٔ مِمَّا خَلَقْنَآ اَنْعَامًا له هغه چه پیدا کړیدی
مونږه چارپایان وَّاَنَاسِیَّ كَثِيْرًا ﴿۴۹﴾ او سړی ډیر او دا جمع دی د اِنْسِیٌّ او کثیر ئے ځکه وویل چه بعض خلق
د سیند و نو او د چینو او بهٔ څښی نو د اسمان او بو ته ئے حاجت نشته وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ او هر اینه چو لولی او مقرر
کړیدی مونږه دا او بهٔ یا باران یا منشا د باران بَيْنَهُمْ په مابین د دے خلقو په قران کښ لِيَذَّكَّرُوْا د دے د پاره
د دے چه یاد کړی دوئ دا نعمت او شکر یے وباسی فَاَبٰۤى اَكْثَرُ النَّاسِ پس منع راوړه او قبول نهٔ کړه زیاتو خلقو
اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۵۰﴾ مګر ناشکری او بے قدری د دے نعمت یا انکار له دے نعمت چه خدائی نهٔ کوی دا باران بلکه غیب

اوطلوع د مناز لو د قمر یے کوی وَلَوْشِئْنَا او که اراده وے څمونږه لَبَعَثْنَا فِیْ کُلِّ قَرْیَةٍ نو هر آئینه پیدا کړے
به وو مونږ ه په هره قریه کښ نَّذِیْرًا ﴿۵۱﴾ زصلے پیغمبر بیل بیل ویرونکے له عذاب څمونږه او تالږ دا مشقت دا انذارد
قریو د درست روئ زمین مونږه لرے کړے وو امّا هر کله چه ته سید المرسلین وے نو څکه اراده وکړه مونږه چه
فضایل د ټولو مرسلینو تا له درکړو نو ولیږلے مونږه ته تمام عالم ته جِنُّ انس عرب و عجمو ته له شرقه ترغربه او
له شماله ترجنوبه چه لوئ شی نوم ستا او ډیر شی اجر ستا او یواځے اندول شی د ټولو پیغمبرانو هر کله چه
ماته ئ په ټولو انبیاؤ غوره کړے فَلَا تُطِعِ الْکٰفِرِیْنَ پس فرمان برداری مهٔ کوه ته هم د کافرانو په دے کښ چه خپل
دین ته بولی وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ او مجاهده او مجادله کوه له دوئ سره په خدائ سره یعنی په توفیق او په مدد
ددهٔ یا په اسلام یا په قرآن یا په تورات یا په ترک د طاعت د دوئ جِهَادًا کَبِیْرًا ﴿۵۲﴾ جهاد ډیر لوئ لکه چه ته ډیر
لوئ ئے وَهُوَ الَّذِیْ او دے هغه پروردګار دے چه په قدرت کامله مَرَجَ الْبَحْرَیْنِ خوشی کړی ئے دی سره دوه
سیندونه چه یو د روم اوبل د فارس دے یعنی پریخی ئے دی دواړه سره څنګ په څنګ چه اوبهٔ ئے سره نګیږی
هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ دا اوبهٔ د دے سیند ښے خوږے دی وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ او دا اوبهٔ د دے بل تروے ترخے دی
وَجَعَلَ او او دروے ئے ده بَیْنَهُمَا بَرْزَخًا په مابین د دغه دواړو کښ پرده وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۵۳﴾ او حجاب
پناه له ستر کو نو په ظاهر کښ دواړه سره ګډ دی او په واقعه کښ سره بیل بیل دی وَهُوَ الَّذِیْ او دے هغه
حکیم مطلق دے خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ چه پیدا کړی دی دهٔ له اوبو چه خټه د آدم علیه السلام پرے اخلے شویده
یا چه جزء دے د انسانه یعنی له خلوص عناصر و ددهٔ یا له نطفے د منی بَشَرًا انسان فَجَعَلَهٗ پس بیا کړخولے
دے ده دغه انسان دوه قسمه نَسَبًا یو خښتن د نسب چه هغه خاص نارینه دے او نسبت د نسب هم
دوئ کړ کولے شی لکه فلان بن او فلانة بنت فلان وَّصِهْرًا او بل خښتن د صهر چه هغه خاص ښځے
دی او نسبت د مصاهرت هم دوئ ته کولے شی لکه په رشیدی کښ دی چه صهر لور ته او زوم ته او وخی ته
او د ښځے خیښ ته ویلے شی وَکَانَ رَبُّکَ قَدِیْرًا ﴿۵۴﴾ او دے رب ستا قادر په هر څهٔ چه هم له هغے نطفے کله
نارینه پیدا کړی او کله ښځه او کله جوړه یعنی دواړه هم نر او هم ښځه وَیَعْبُدُوْنَ او عبادت کوی دا مشرکان
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ مَا لَا یَنْفَعُهُمْ د هغه څیز چه نهٔ شی رسولے هیڅ قدر نفع دوئ ته که عبادت ئے کوی وَ
لَا یَضُرُّهُمْ ؕ او نهٔ هیڅ قدر ضرر رسولے شی دوئ ته که عبادت ئے نهٔ کوی چه هغه بتان دی وَکَانَ الْکَافِرُ

او دے جنس کافر عَلٰی رَبِّهٖ په بے فرمانی درب خپل ظَهِيْرًا ⑤⑤ مدد کار او معاون د شیطان په عداوت او
په شرك کښ یا مراد له دے کافرانو ابوجهل دے وَمَا اَرْسَلْنٰكَ او نه ئے لیږلے مونږه ته اِلَّا مُبَشِّرًا وَّ
نَذِيْرًا ⑤٦ مګر زیرے ورکونکے په مؤمنانو د ثواب او ویرونکے د کافرانو له عذابه قُلْ مَآ اَسْئَلُكُمْ ووایه دوی ته
چه نه غواړم زه له تاسو عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ په دے پیغام رسولو هیڅ قدر اجرت اِلَّا مَنْ شَآءَ مګر غواړم ایمان راوړل د هغه
چا چه اراده لری دے اَنْ يَّتَّخِذَ د دے چه ونیسی دے اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ⑤⑦ رب خپل ته لاره د رضا او قرب عه
وَتَوَكَّلْ او توکل وکړه په دفع د شر د دوی کښ او په بے پرواهئ د اجرت د دوی کښ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ په
هغه ژوندی باندے لَا يَمُوْتُ چه له سره نه مری او چه څوك مړه لری په هغه توکل ضائع شی په موت
د هغه سره وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ط او تسبیح وایه سره له ثنا د ده وَكَفٰى بِهٖ او بس دے دے بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ په
ګناهونو د بندګانو خپلو که پټ دی او که ښکاره خَبِيْرًا ⑤⑧ۚ خبردار او اګاه الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ
الْاَرْضَ هغه خدائ چه پیدا کړی ئے دی دا اسمانونه او زمکه وَمَا بَيْنَهُمَا او هر هغه چه په مابین د دے
دواړو کښ دی که عناصر که حیوانات که دا نور اشیاء دی فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ په مقدار د شپږو ورځو او شپو د
دنیا کښ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ بیا مستولی شو امر او حکم د ده په عرش باندے الرَّحْمٰنُ دے چه ډیر
مهربان دے فَسْئَلْ بِهٖ پس وپوښته له ذات او له صفاته د ده خَبِيْرًا ⑤⑨ کوم خبردار چه لایق وی د
دے سوال وَاِذَا قِيْلَ او په هغه وخت چه وویلے شی لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ دوی ته چه سجده وکړئ
خدائ مهربان ته قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ق نو وائی دوی په جواب کښ چه څه څیز دے رحمان مونږه ته خو
له سره معلوم نه دے اَنَسْجُدُ ایا سجده به کوو مونږه لِمَا تَاْمُرُنَا هغه څیز ته چه امر کوے ته په مونږه د
سجدے هغه وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ⑥۰ السجدة او زیات که دا یادول د رحمان یا امر د سجدے دوی ته تیخته او نفرت
له لارے د حق تَبٰرَكَ الَّذِيْ برکتناك دے هغه څوك جَعَلَ فِي السَّمَآءِ چه پیدا کړی دی ده په اسمان
کښ بُرُوْجًا دولس برجونه چه حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد، سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدی،
دلو، حوت دی دا بیا منازل د سبع سیاره نو حمل، عقرب د مریخ دے او ثور، میزان د زهره دے او جوزا
سنبله د عطارد دے او سرطان د قمر دے او قوس، حوت د مشتری دے او جدی، دلو د زحل او بیا د هغه

عه یعنی لاره د رضا د خدائ او نزدے والے خدائ ته ۱۲

د ولس په څلور وطبايعو برخه دی نو حمل، اسد، قوس ناري دی او ثور، سنبله، جدی ارضي دی او جوزا،
میزان، دلو هوائی دی او سرطان عقرب، حوت مائی دی کذا فی المدارك وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا او هم دلے
پيدا کړے دے دهٔ په دے اسمان کښې چراغ چه نمر دے وَقَمَرًا مُّنِيرًا ﴿٦١﴾ او سپوږمۍ هم روښانه کونکے د
عالم وَهُوَ الَّذِي او دے هغه بادشاه دے جَعَلَ الَّيْلَ چه ګرځولے ده دهٔ شپه وَالنَّهَارَ خِلْفَةً او ورځ سره
مخالف په صفاتو او په احوالو کښې یا خلیفه دیو بل په تعاقب کښې یا په او را دو دهریو کښې یعنې چه د شپے له
اوراد دو کوم يو ترے قضاشی نو په ورځ کښې ئے ادا که او په عکس د دے هم لِمَنْ أَرَادَ د پاره د هغه چا چه اراده
لری د دے أَن يَذَّكَّرَ د دے چه یاد که نعمتونه د خدائی او فکر پکښې وکه نو قدرت د صانع ترے معلوم که أَوْ أَرَادَ
شُكُورًا ﴿٦٢﴾ یا اراده لری د شکر د نعمتونو د منعم وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ او بندګان د خدائی چه دی او دا مبتدا
ده او خبر ئے مخکښې اولئك يجزون الغرفة دے او په دے مینځ کښې ټول صفات دی د مبتدا ء او دا بندګان
الَّذِينَ يَمْشُونَ هغه کسان دی چه تګ کوی دوئ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا په زمکه باندے په تواضع او په وقار
سره وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ او په هغه وخت چه خطاب وکه دوئ سره نادانان په طريقه د بے ادبئ
سره یعنی خبره نالايقه قَالُوا سَلَامًا ﴿٦٣﴾ نو وائی دوئ دغه جاهلانو ته خبره سلامه خالی له ګناه یاله ایذاء یاله
مجادلے یعنی پسته نرمه دا ئے دورځے حال دے له خلقو سره او د شپے حال ئے له حق سره دا دے لکه چه وائی
وَالَّذِينَ او هغه کسان دی چه يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ شپه صبا کوی دوئ رب خپل ته سُجَّدًا وَقِيَامًا ﴿٦٤﴾ په دے
حال کښې چه کله سجده کونکی او کله او درید ونکی وی په مانځه وَالَّذِينَ او هغه کسان دی چه سره له دغه طاعته
او خضوع او جد و جهده يَقُولُونَ وائی دوئ له غلبے د خوفه رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا اے ربه ځمونږه چپ کړه له
مونږه ځنه په خپل فضل عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ عذاب د دوزخ إِنَّ عَذَابَهَا بیشکه عذاب د دے دوزخ چه دے
كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ دے هلاك لازم یعنی همیشه إِنَّهَا سَاءَتْ بیشکه دا دوزخ بد دے مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٦٦﴾
له جهته د ارامګاه او له جهته د ځائے د استوږنے وَالَّذِينَ او هغه کسان دی إِذَا أَنفَقُوا په هغه وخت
چه ورکړه کوی دوئ چا ته د کوم څیز لَمْ يُسْرِفُوا نو نه اسراف کوی چه معاصیو او محرماتو کښې ئے ورکه
وَلَمْ يَقْتُرُوا او نه تنګی او بخل کوی چه حق د خدائی له مستحقانو ستون که یامراد نفقه د خپل عیال

ع چه ګناهونو او حرامو کښې ئے ورکه لکه په شرابو یا رمانو ته ۱۲

ده یا و ،کره دی خپلوانو ته یا مراد خپل خوراك او جامه ده چه میانه ئې کوی وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ او وی دغه
اتفاق ددوئ په مابین ددے اسراف او تقتیر کښی قَوَامًا ﴿۶۷﴾ میانه معتدل **روایت دے** چه بعضو
مشرکانو پوښتنه وکړه له رسول علیه السلام چه مونږ شرك او زنا او خونونه او نوره برنا روا کړیدی نو که
ستا خدائ دا ټول راته بخښی نو مونږ به ایمان راوړو نو نازل شو وَالَّذِينَ او هغه کسان دی لَا يَدْعُونَ
مَعَ اللَّهِ چه نه بولی له خدائ سره إِلَٰهًا آخَرَ بل خدائ وَلَا يَقْتُلُونَ او نه وژنی دوئ النَّفْسَ الَّتِي هغه نفس
حَرَّمَ اللَّهُ چه حرام کړے دے خدائ قتل دهغه یعنی نفس دمؤمن او دمعاهد[عه] إِلَّا بِالْحَقِّ مگر په حق سره
یعنی په موجبا تو دقتل لکه قصاص او رجم او شرك او ردة او سعی په زمکه کښی په فساد سره وَلَا يَزْنُونَ ج
او نه زنا کوی دوئ او دا درے حُکمه خاص یاد شو چه امهات الذنوب دی وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ او هرڅوك چه
وکړی یو له دے دریو مذکورو یا دوه یا درے وا یَلْقَ أَثَامًا ﴿۶۸﴾ نو وبه وینی جزا دعصیان خپل يُضَاعَفْ
لَهُ الْعَذَابُ چه دوچند به کړے شی دے کونکو دغه کارونو لره عذاب يَوْمَ الْقِيَامَةِ په ورځ دقیامت وَيَخْلُدْ
فِيهِ او همیشه به وی دے په دغه عذاب کښی مُهَانًا ﴿۶۹﴾ په دے حال کښی چه خوار او بے اعتباره به
وی إِلَّا مَنْ تَابَ مگر هغه څوك چه توبه وباسی له شرك وَآمَنَ او ایمان راوړی په خدائ او په رسول
علیه السلام وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا او وکړی دے کار نیک پس له توبے نو فَأُولَٰئِكَ پس دا کسان چه دغه درے
واړه کارونه وکه يُبَدِّلُ اللَّهُ بدل به کړی خدای په قیامت سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ط دا بدئ ددوئ په نیکو په دے
شان چه دا بدئ ددوئ به نه کړی په دے توبے سره او دهغو په ځای به نیکی وشکی چه ایمان او طاعت دے
او دا سے نه چه هغه بدی به بعینها نیکی شی وَكَانَ اللَّهُ او دے خدائ غَفُورًا بخښونکے چه سیات محو کوی
رَّحِيمًا ﴿۷۰﴾ مهربانه چه په بدل دهغو کښی حسنات شکی وَمَنْ تَابَ او هر څوك چه توبه وباسی له
گناهونو غیر له مذکورو وَعَمِلَ صَالِحًا او عمل وکړی نیک پس له دے دپاره د تدارك د مافات فَإِنَّهُ يَتُوبُ
پس بیشکه چه دے توبه وباسی او رجوع کوی إِلَى اللَّهِ بیرته خدائ ته مَتَابًا ﴿۷۱﴾ په ښه رجوع سره
وَالَّذِينَ او هغه کسان لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ لا چه شاهدی نه لوی د دروغو او د باطلو یا نه حاضریږی
مجالسو د باطل ته وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ او په هغه وخت چه تیریږی دوئ په یو فحش او نا کاره کار یا خبرے

عه یعنی حربی چه په امان سره دار اسلام ته راغلی وی ۱۲

مَرُّوْا كِرَامًا (۷۲) نو تیرېږي ترې خنک کونکي او ځان ساتونکي له ککړوالي په هغهٔ وَالَّذِيْنَ او هغه کسان دي
اِذَا ذُكِّرُوْا په هغه وخت چه پند ورکړې شي ده ته بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ په ایتونو د رب خپل یعنې په قرآن سره
لَمْ يَخِرُّوْا عَلَيْهَا نو نهٔ نسکورېږي په هغه ایتونو صُمًّا وَّعُمْيَانًا (۷۳) کاڼهٔ او ړانده چه نهٔ ئې اوري او نهٔ ئې
وینی بلکه نسکورېږي په سجده او په زړا او اورېدونکي او لیدونکي وي په بیدارو غوږونو او په غړېدلو
سترګو وَالَّذِيْنَ او هغه کسان دي يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا چه وائي دوئ اے ربه ځمونږه هَبْ لَنَا راکه مونږه لره محض خپل
فضل سره مِنْ اَزْوَاجِنَا له ښځو ځمونږه څخه وَذُرِّيّٰتِنَا او له فرزندانو ځمونږ د څخه قُرَّةَ اَعْيُنٍ هغه څوک چه یخوالے د
سترګو ځمونږه پرې راځي ځکه چه ستا مطیع وي مراد ترې عیال صالح دے وَّاجْعَلْنَا او کړه مونږه په مهربانئ خپلې سره
لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا (۷۴) پرهیزګارانو لره امام او پیشوا یعنې دومره پرهیزګاري راله راکړه چه پرې لایق شو د امامت
د متقیانو اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دے موصوف په دے تېرو لسو صفاتو سره يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ جزا به ورکولے
شي دوئ ته په هسکو مانړیو د جنت بِمَا صَبَرُوْا په سبب د دے چه صبر کړے وو دوئ په دنیا کښ په
سختو او په ایذاء د کفارو وَيُلَقَّوْنَ فِيْهَا او اچولے کېږي به په دوئ په دغه جنت کښ تَحِيَّةً وَّسَلٰمًا (۷۵)
دُعا او سلام خٰلِدِيْنَ فِيْهَا همیشه به وي دوئ په دے جنت کښ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا (۷۶) ښهٔ دے دا
جنت له جهته د قرار ګاهٔ او د استوږنے قُلْ مَا يَعْبَؤُا ووایه اے رسوله دے متکیانو ته چه هیڅ باک نهٔ کوي
بِكُمْ رَبِّيْ په تاسې رب ځما لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ که نهٔ وے بلل د خدائ تاسې لره یا بلل ستاسې خدائ لره
په سختو کښ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ پس په تحقیق تکذیب کړے دے تاسې د رسولانو او د قرآن فَسَوْفَ يَكُوْنُ
ع
پس زر دے چه وي به دا عذاب لِزَامًا (۷۷) لازم له تاسې سره ⁂ .. ⁂

سُوْرَةُ الشُّعَرَآءِ مَكِّيَّةٌ　بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ　اٰيَاتُهَا ۲۲۷　رُكُوْعَاتُهَا ۱۱

طٰسٓمٓ (۱) دا مقطعات هم په تاویل د متاخرینو یا نوم دے د خدای یا د قرآن یا د رے وارہ حرف دی له
سرونو د اسماؤ لکه طٓ له طاهر، سٓ له سمیع مٓ له مجید، یا طٓ اشارت دے طلب د مبتدیانو ته او سٓ
سیروں د متوسطانو ته او مٓ مشاهدے د منتهیانو ته نو خدائ قسم کړے دے په دے او جواب د قسم دا دے چه
تِلْكَ دا سورت چه دے اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ (۲) ایاتونه دي د هغه کتاب چه ښکاره کونکے دے د حق له باطله

او بیانونکے دے د احکامو د حلالو او د حرامو چه قران دے **روایت دے** چه هر کله رسول علیه السلام
په حریص وو په ایمان د قوم خپل او دوئ په دے کتاب ایمان رانهٔ وړو نو دهٔ خاطر شریف په دے ډیر
ملال شو نو دپاره د تسلی دهٔ نازل شو چه لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ بنائی چه ته هلاکونکے او قتلونکے ئے د ځان
خپل اَلَّا يَكُوْنُوْا په دے چه نه کیږی دوئ مُؤْمِنِيْنَ ﴿۳﴾ ایمان راوړونکے په دے قرآن ته خفګان مهٔ کوه
په دے اِنْ نَّشَاْ که اراده وشی ځمونږه د ایمان راوړلو د دوئ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ نو به راولیږو مونږه په دوئ
مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً له اسمانه یوه لویه نښه راوړونکی د دوئ ایمان ته فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ پس شی به ګردنونه د دوئ
لَهَا خٰضِعِيْنَ ﴿۴﴾ هغه نښے ته غاړه ایښودونکی وَمَا يَاْتِيْهِمْ او نهٔ راځی دوئ له مِّنْ ذِكْرٍ هیڅ پند او وعظ مِّنَ
الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ له خدائ نوے اِلَّا كَانُوْا مګر وی دوئ عَنْهُ مُعْرِضِيْنَ ﴿۵﴾ له هغه مخ ګرځونکی او لا
کلکیدونکی په هغه پخوانی کفر فَقَدْ كَذَّبُوْا پس په تحقیق تکذیب وکه دوئ د هغه ذکر یاد محمد صلی الله علیه وسلم
فَسَيَاْتِيْهِمْ پس زر دے چه رابه شی دوئ له اَنْبٰٓؤُا مَا كَانُوْا خبرونه او احوال د هغه څیز چه وو دوئ به
يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۶﴾ چه په هغے پورے مسخرے به ئے کولے چه هغه رسول یا قران دے یعنی د احال به ورته زر معلوم شی چه
هغه حق وو او که باطل وو اَوَلَمْ يَرَوْا آیا نهٔ ګوری دوئ اِلَى الْاَرْضِ دے زمکے ته چه په حکمت بالغه سره كَمْ
اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا چه څو زرغونه کړی دی مونږه په دیکښې مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ﴿۷﴾ له هر قسمه کیاه چه ښه او
نافع وی اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ط بیشکه په دے زرغونولو کښې هر ائینه ډیره لویه نښه ده په کمال د قدرت دهٔ
وَمَا كَانَ او نهٔ وو په علم د خدائ کښې اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸﴾ زیات د دوئ مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ او بے
شکه رب ستا چه دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هر ائینه دے غالب دے او قادر دے په انتقام اخستلو له کفارو الرَّحِيْمُ ﴿۹﴾ ع ۵
مهربان دے په مؤمنانو وَاِذْ نَادٰى او یاد کړه هغه چه وبالهٔ رَبُّكَ مُوْسٰٓى رب ستا موسیٰ علیه السلام
په هغه شپه چه اور ئے لیدلے وو په ونه کښې نو ئے ورته ئے وویل اَنِ ائْتِ دا سے چه ورشه الْقَوْمَ
الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰﴾ هغه قوم له چه ظالمان دی قَوْمَ فِرْعَوْنَ ط یعنی قوم د فرعون چه ظلم ئے کړیدے په کفر او
په مریو کولو نو بنی اسراءیلو او په ذبح د اولاد د دوئ اَلَا يَتَّقُوْنَ ﴿۱۱﴾ آیا نهٔ ویریږی او ځان نهٔ ساتی
له عذابه قَالَ رَبِّ وویل دهٔ چه اے ربه ځما اِنِّیْٓ اَخَافُ بیشکه زه ویریږم اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ط ﴿۱۲﴾ له دے
چه دروغژن به که دوئ ماله او باور به را باندے و نهٔ کړی په دے رسالت کښې وَيَضِيْقُ صَدْرِیْ

عه یعنی په دے تلوا و په پیغمبری ځما به باور وکړی ۱۲

اوبل تنګی به راوړی سینه له تکذیب د دوی وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِي اوبل وبه نهٔ چلیږی ژبه ځما په وخت
د رسولو د دے پیغام کښې ځکه چه نخلی په سبب د غوټے فَأَرْسِلْ پس ولیږه جبرئیل (علیه السلام)
إِلَىٰ هَارُونَ ﴿١٣﴾ هرون علیه السلام ته او پیغمبر ئے کړه چه مدد ګارشی ځما په دے مهم کښې وَلَهُمْ
عَلَيَّ ذَنْبٌ اوبل ده دوی لره په ما باندے دعوی د یو ګناه چه قتل دے د قبطی فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾
پس ویریږم زهٔ له دے چه مړ به کړی ما دوی په عوض د قبطی کښې پخواله ادا د رسالته قَالَ كَلَّا نو وویل
ورته خدائ چه نهٔ ده دا سے یعنی واوره له دے ګمانه چه د دوی لاس به په تا ورسیږی فَاذْهَبَا بِآيَاتِنَا پس لاړ
شئ دواړه یعنی ته او ورور ستا دِ سره له نښو یعنے معجزو ځمونږه چه عصا او ید بیضا او دا نو چه دالِ دی
په قدرت ځمونږه او حجت دے د نبوت ستا إِنَّا مَعَكُمْ بیشکه چه مونږه له تاسے سره په نصرت او په عون سره
مُسْتَمِعُونَ ﴿١٥﴾ اوریدونکی د هر هغه سوال او جواب چه ستاسے او د فرعونیانو په مینځ کښې به سره کیږی
فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ پس ورشئ دواړه فرعون لره فَقُولَا إِنَّا پس ووایئ چه بیشکه مونږه رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾
هر یو رالیږلی یو د رب د ټولو عالمیانو تا ته او درته وایو أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا دا سے چه ولیږه له مو سره بَنِي
إِسْرَائِيلَ ﴿١٧﴾ د افرزندان د یعقوب علیه السلام چه دِ مریونه کړی دی او س ئے پرده چه مونږ سره شام
له لاړ شی چه مسکن دے د اباوُ د دوی روایت دے چه هر کله په امر الهی سره موسیٰ علیه السلام
راغے سره له ورور خپله دروازے د فرعون لره او د ننوتو اذن ئے وغوښت نو تر یو کاله پورے اذن ورته
نهٔ کیده بیا دروانځی ورته وویل چه دلته یو سړے دے وائی چه زه خدای رالیږلے یم نو فرعون وویل
راځے وله چه یو ساعت خندا او مسخرے ورپورے وکړو بیا چه راغے ورلره نو وے پیژانده چه دا خو
موسیٰ دے قَالَ نو ورته ئے وویل چه أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا آیا نهٔ وو کړے مونږه تربیت ستا په مونږه کښې وَلِيدًا
په دے حال کښې چه هلک وے کوچنے شیرخور وَلَبِثْتَ فِينَا او درنګ یعنی اوسیدنه دِ کړے وه په مونږ کښې مِنْ
عُمُرِكَ له عمره خپله سِنِينَ ﴿١٨﴾ څو کاله چه دیرش وو وَفَعَلْتَ اوبل کړے وو تا فَعْلَتَكَ الَّتِي هغه کار دِ فَعَلْتَ
کړے وو تا هغه کار یعنی ځما خبار قبطی دِ وژلے وو وَأَنْتَ او حال دا چه ته اوس مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿١٩﴾ له
پټونکیو یاله منکرانو ئے د نعمت ځما او د هغه قتل قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا نو وویل موسیٰ علیه السلام چه کړے وو

ع یعنی په سبب د دے نکنت سره چه په ژبه ځما کښې دے ۱۲

مادا کار په هغه وخت چه هیڅ لاخبرنهٔ وو وَّ اَنَا مِنَ الضَّآلِّیْنَ ﴿۲۰﴾ او زهٔ یوله نا پوهو وَم له علمه له رسالته
فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ پس بیا و تختیدم زهٔ له تاسے ځنې لَمَّا خِفْتُكُمْ هغه وخت چه وویریدم له تاسے چه قصاص به
م کړئ او لاړم مدین ته فَوَهَبَ لِیْ پس راکړه ماله رَبِّیْ حُكْمًا رب ځما علم او فهم په هغه وخت چه له مدین
راوګرځیدم بیرته وَّجَعَلَنِیْ مِنَ الْمُرْسَلِیْنَ ﴿۲۱﴾ او وګرځولم دهٔ زهٔ له ډلې د رسولانو وَتِلْكَ نِعْمَةٌ او دا تربیت چه
تا کولو ځما دا یو نعمت دے تَمُنُّهَا عَلَیَّ چه اوس احسان باروے ته یې په هغه نعمت په ما باندے هغه په
واقعه کښې ستاله سفقته نهٔ وو بلکه اَنْ عَبَّدْتَّ له دے جهته وو چه مریونه کړی وو تا بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ ﴿۲۲﴾
فرزندان د یعقوب علیه السلام او ذبح کول به د ځامن د دوئ نو دا موجب شو د راتیږ لو ځما تاته او د تربیت
ستا حاصل دا چه ظلم ستا موجب شوے دے د تربیت ځما نهٔ شفقت ستا نو دا موجب د احسان باروُلو
نهٔ دے قَالَ فِرْعَوْنُ بیا وویل فرعون له دې جهته چه له موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام ځنې ئې اوریدلی وو چه
اَنَا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ نو ځکه ئې ترے پوښتنه وکړه چه وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲۳﴾ او څه څیز دے رب د
عالمیانو؟ قَالَ نو وویل ورته موسیٰ علیه السلام چه دے رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ پیدا کونکے دے د
اسمانونو او د زمکے وَمَا بَیْنَهُمَا او د هر هغه چه په مینځ د دے دواړو کښې دی اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِیْنَ ﴿۲۴﴾
که چرې یئ تاسے یقین کونکی په دے چه هم دے خالق دے نو هم په دهٔ یواځې ایمان راوړئ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗ نو
وویل فرعون هغه چاته چه چاپیر ترے ناست وو له اشرافو د قوم د دهٔ پنځه سوه کسه اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿۲۵﴾ ایا
نهٔ اورئ تاسے جواب د دے سړی چه زهٔ ترے پرسان د حقیقت کوم او دے جواب په افعالو راکوی قَالَ رَبُّكُمْ
بیا وویل ورته موسیٰ علیه السلام چه رب ځما پیدا کونکے دے ستاسے وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۲۶﴾ او
پیدا کونکے دے د پخوانیو پلرونو ستاسے نو فرعون په دے خبره په غضب شو ځکه قَالَ وویل دهٔ خپل قوم
ته اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِیْٓ بیشکه دا رسول ستاسے چه دے او رسول ئې د یو چمند وو ورته وویل هغه رسول
اُرْسِلَ اِلَیْكُمْ چه رالیږلے شوے دے تاسے ته لَمَجْنُوْنٌ ﴿۲۷﴾ هر آئینه په تحقیق لیونے دے چه غیر له ما بل خدائی
بولی قَالَ بیا وویل موسیٰ علیه السلام رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ چه پیدا کونکے د مشرق او د مغرب
دے وَمَا بَیْنَهُمَا او د هر هغه چه په مینځ د دے دواړو کښې دی اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾ که چرې یئ
تاسے چه څهٔ قدرے عمل کولے شئ نو ایمان به راوړئ قَالَ بیا وویل فرعون موسیٰ علیه السلام ته لَئِنِ

اتَّخَذْتَ هرائینه که چیرے ونیوهٔ تا اِلٰهًا غَیْرِیْ خدائ غیرله ما بل څوك لَاَجْعَلَنَّكَ نو هرائینه کرم به زهٔ خا
تا مِنَ الْمَسْجُوْنِیْنَ ﴿۲۹﴾ یوله بندی خانه کښی اچولی شوېږا و بندی خانه دده له مرکه ډیر بد تره وهٔ حکه
چه ژورکوهی کښی به ئے سړی یواځے واچولو چه نه به ئے څهٔ لیدل او نه به ئے اوریدل او نه بے مرګه
بیرون به چا ایسته قَالَ نو وویل ورته موسیٰ علیه السلام اَوَلَوْ جِئْتُكَ ایا دا سے کوے ته له ما سره او که
که راوړم زهٔ تالره بِشَیْءٍ مُّبِیْنٍ ﴿۳۰﴾ کوم څیز یعنی معجزه ښکاره قَالَ وویل فرعون فَاْتِ بِهٖ بنه
راوړه ته هغه دلیل اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۳۱﴾ که چرے ئے ته له رښتینا نو څخه فَاَلْقٰى عَصَاهُ نو وغورځوله
موسیٰ ؑ امسا خپله فَاِذَا هِیَ نو ناڅاپه هغه امسا ثُعْبَانٌ مُّبِیْنٌ ﴿۳۲﴾ اژدها شوه ښکاره وَنَزَعَ یَدَهٗ او راوے
ویست لاس خپل له ګریوانه فَاِذَا هِیَ پس ناڅاپه دا چه وهٔ بَیْضَآءُ لِلنّٰظِرِیْنَ ﴿۳۳﴾ تک سپین وکتونکیو ته او دا سے احدله برق از
بریښنا ئے کوله چه له ډیره شعاع به خلقو ورته کتلے نهٔ شوا و له مشرقه ترمغربه به ئے دے رڼا د تمام روئ زمین لاندے
که او د نمر رڼا به وی که شو قَالَ لِلْمَلَاِ نو وویل فرعون هغه اشرافو د قوم حَوْلَهٗۤ چه چاپیره له دهٔ ناست وو
اِنَّ هٰذَا چه بیشکه دا سړے چه دے لَسٰحِرٌ عَلِیْمٌ ﴿۳۴﴾ هرائینه جادوګر دے ډیر پوهنده په باب د سحر کښی
یُّرِیْدُ اَنْ یُّخْرِجَكُمْ اراده لری دده چه و باسی دے تا سے مِنْ اَرْضِكُمْ له زمکے ستا سے چه مصر دے بِسِحْرِهٖ
په جادو خپل سره فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ پس څرنګه امر کوئ تا سے ماته په باب دهٔ کښی **نکته** معجزے
د موسیٰ علیه السلام دے دا سے وارخطا کهٔ چه خدائ خپله ترهیره شوه او له خپنو بندګانو په مصلحت
غوښتلو شوا و وی ته محتاج شو قَالُوْۤا اَرْجِهْ نو وویل ورته دغه اشرافو چه مهلت ورکه دهٔ له یا مجوس
ئے که وَاَخَاهُ او ورور دے هم او په قتل ئے جلتی مهٔ کوه چه مبادا فتنه ولاړه نهٔ شی وَابْعَثْ فِی
الْمَدَآئِنِ او ولاړ که او ولیږه په دے ښارونو د قلمرو خپل کښی حٰشِرِیْنَ ﴿۳۶﴾ راټولونکی یَاْتُوْكَ بِكُلِّ
سَحَّارٍ چه راولی دوئ تالره هر هغه څوك چه ډیرلوئ جادوګروی عَلِیْمٍ ﴿۳۷﴾ چه پوهنده وی په باب
د سحر کښی بیا فرعون نوکران خپل ولیږل په ساحرانو پسے هرطرف ته فَجُمِعَ السَّحَرَةُ پس راټول کړے
شو ساحران لِمِیْقَاتِ یَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۳۸﴾ په وعده ګاه د هغے ورځے معلومے چه ثابت وو یوم الزینة نکه
چه طٰهٰ کښی تیر دے وَّقِیْلَ لِلنَّاسِ او وویلے شو خلقو د مصر ته یعنی فرعون وویل چه هَلْ اَنْتُمْ
مُّجْتَمِعُوْنَ ﴿۳۹﴾ ایا تا سے یوځائ کیدونکی یئ یعنی ټول راجمع شئ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ بنائ چه مونږه

پیروی وکړو د ساحرانو ټول په اتفاق سره اِنْ كَانُوْا که چرې وو دوی هُمُ الْغٰلِبُوْنَ (۴۰) هم دوی غالبان په موسیٰ علیه السلام باندې او دا ئې هواکیرکهٔ نو میباید چه مونږه هم هلته حاضر او سو ټول چه له دوی سره منکری شو او موسیٰ علیه السلام بیځی له دې وطنه د مصر و باسو یا مراد پیروی ده د ساحرانو په دین د دوی فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ پس هر کله چه راغله ساحران فرعون لره او دهٔ د یر عزت او دلنوازی د دوی وکړه نو دوی زړه ور شو قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ وویل دوی فرعون ته اَئِنَّ لَنَا آیا وی به مونږه لره لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ اجرت که چرې شو مونږه نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ (۴۱) هم دا مونږه غلبه کونکی په جادو ستا په خصمانو قَالَ نَعَمْ نو وویل فرعون چه هو وی به تاسې لره اجرت وَاِنَّكُمْ اِذًا او لا پرې د پاسه دا به هم وی چه بیشکه او سئی به تاسې په دغه وخت چه غالب شوئی لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ (۴۲) هرآئینه له ټولی د نزدې کړې شو یو ما ته یعنی اول به را ننوځئ تاسې ځما مجلس ته او له هر چا روستی به وځئ بیا نو ساحران راغله میدان د مخاصمې ته او صفونه ئې وتړل او موسیٰ علیه السلام ته ئې وویل چه اول ته غورځوې جادو خپل او که مونږه وغورځوو قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰۤى نو وویل دوی ته موسیٰ علیه السلام اَلْقُوْا مَاۤ چه وغورځوئی تاسې هر هغه څیز اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ (۴۳) چه تاسې غورځونکی یئ د هغه فَاَلْقَوْا حِبَالَهُمْ پس وغورځول دوی پړی خپل وَعِصِيَّهُمْ او همسا گانې خپلې چه هر یو او یا زره یا دوه او یا زره وو وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ او وویل دوی په هغه وخت چه دا پړی او همسا گانې سرې وخوزیدې له سحره چه قسم دې په لوییٔ او په قوت او په غلبې د فرعون اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ (۴۴) چه بیشکه مونږه غلبه کونکی یو په موسیٰ او په هٰرون علیهما السلام باندې فَاَلْقٰى مُوْسٰى عَصَاهُ پس بیا وغورځوله موسیٰ علیه السلام همسا خپله په امر د خدائی او فی الحال ښامار شوه فَاِذَا هِىَ پس ناگاه دا چه وه تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ (۴۵) یوه لقمه ئې کړه او له حلقه ئې تیره کړه هغه پړی او همسا گانې واړه په یو کرت چه دوی په دروغو په صورت د مارانو کړی وو په نظر د خلقو کښې په سحر سره فَاُلْقِىَ السَّحَرَةُ پس پرېمخې وغورځولی شو ساحران سٰجِدِيْنَ (۴۶) په دې حال کښې چه سجده کونکی وو خدائی ته ځکه چه پوهه شو په یقین چه دا کار د سحر نهٔ دې قَالُوْۤا اٰمَنَّا وویل تو لو چه ایمان راوړید ې مونږه بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۴۷) په رب د تمامو عالمیانو بیا د پاره د وهم بنه ئې واضح کهٔ چه رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ (۴۸) یعنی په رب د موسیٰ او د هٰرون علیهما السلام نهٔ په فرعون بیا چه فرعون خبر شو د دوی له ایمانه نو را حاضر ئې کړه او قَالَ

اٰمَنْتُمْ لَهٗ وویل فرعون چه ایمان راوړۀ تاسے په موسیٰ علیه السلام قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ج مخوا له هغه
چه اذن وکړم زه تاسے ته د ایمان راوړلو په دۀ اِنَّهٗ لَكَبِیْرُكُمُ الَّذِیْ بیشکه چه دے هر اٗئینه مشر ستاسے
دے هغه عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ج چه ښودلے ئے دے تاسے ته سحر او ټولو سره اتفاق کړے دے هلاك ځما تلا
خرابئ د دے ملك ته فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۵ پس هر اٗئینه زر دے چه معلوم به کړئ تاسے حال خپل لَاُقَطِّعَنَّ اَیْدِیَكُمْ
هر اٗئینه پرے به کړم خامخا لاسونه ستاسے وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ او خپے ستا سره مخالفے یعنی ښے لاس
او چپه خپه او چپ لاس او ښئ خپه یا معنیٰ دا چه له جهته د مخالفته وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِیْنَ (۴۹) هر
اٗئینه زر وند به کړم خامخا تاسے ټول چه مړه شئ او نور خلق د ربانده عبرت واخلی قَالُوْا لَا ضَیْرَ ز نو وویل
دوئ چه نشته هیڅ ضرر موږ ته په دے کښ او ستا له دغه د بکوا او له مرګه نۀ ویریږو ځکه چه اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا
بیشکه موږ رب خپل ته مُنْقَلِبُوْنَ (۵۰) ج بیرته ورتلونکی یُو او بل دا چه اِنَّا نَطْمَعُ بیشکه موږه امید لرو
اَنْ یَّغْفِرَ د دے چه بخښنه وکه لَنَا رَبُّنَا موږ ته رب ځموږ او عفوه که خَطٰیٰنَآ ګناهونه ځموږ اَنْ كُنَّآ
له دے جهته چه یُو موږ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِیْنَ (۵۱) ط ع اول د مؤمنانو له تا بعانو ستا یا په زمانه خپله کښ وَ
اَوْحَیْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى وکړه موږ موسیٰ علیه السلام ته پس د ایمان د ساحرانو څو کاله چه دوئ به ئے بلل
خدائ ته او دوئ ورځ په ورځ لا پسے ګمراه کیدل اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِیْٓ د اسے چه بوځه د شپے بندګان ځما
یعنی بنی اسرائیل بحر له اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ (۵۲) بیشکه چه تاسے متبوع یئ یعنی فرعون او قوم ئے د ربسے راتلونکے
دے نو تاسے به سلامت تیر کړم له بحره او دوئ به پکښ غرق کړم فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ پس ولیږل او خوارۀ
کړۀ فِی الْمَدَآئِنِ حٰشِرِیْنَ (۵۳) ج په ښارونو خپلو کښ چه زر ښارونه او دولس قریے وے دیو کښ ئے
را ولیږل جمع کونکی د لښکر او وے ویل چه اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ بیشکه د ابنی اسرائیل لَشِرْذِمَةٌ قَلِیْلُوْنَ (۵۴) لا هر
اٗئینه یوه ډلګئ ده ډیره لږه او دوئ شپږ سوه د پاسه او یا زره وو یا او یا زره د پاسه اوۀ لکهه وو او د فرعون
پیش خانه اوه لکهه خلق وو او ټول لښکر ئے اوۀ زره کرته زر وو کذا فی المدارك وَاِنَّهُمْ لَنَا او بیشکه چه
دوئ موږه له لَغَآئِظُوْنَ (۵۵) لا هر اٗئینه قهر راوستونکی دی وَاِنَّا او بیشکه چه موږه لَجَمِیْعٌ حٰذِرُوْنَ (۵۶)
هر اٗئینه ټول ویخ بیدار یا وسله دار یُو **روایت دے** چه بنی اسرائیلو ګاڼے اخستے له قبطیانو په
بهانه د اختر چه نزدے وو نو ډیر مبلغ ئے ټول کۀ او په امر الٰهی سره د شپے روانۀ له مصره او فرعون بیا

صبا نماز دیگر ترے خبر شو نو لښکرې ئې راجمع کړه او د شپې ورپسې راووتل لکه چه وائی فَاَخْرَجْنٰهُمْ پس راوویستل
مونږ دا فرعونیان مِّنْ جَنّٰتٍ له باغونو وَّعُیُوْنٍ ﴿۵۷﴾ وَّكُنُوْزٍ او له ولولو چه بهید لے په کوردونو کښې او له
ښکاره مالونو او له سرو زرو او له سپینو زرو او دا ئې په کنوزو بلل ځکه چه د خدائی په لاره کښې ئې ترینه ورکول
وَّمَقَامٍ كَرِیْمٍ ﴿۵۸﴾ او له ښو منازلو د اوسید و كَذٰلِكَ ط همدا سې وکړه مونږه له دوئ سره وَاَوْرَثْنٰهَا او میراث
پاتې کړه مونږه دا ځلور واړه قسمه بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ ﴿۵۹﴾ فرزندانو د یعقوب علیه السلام ته پس له
غرق د فرعون او د قوم ئې **روایت دے** چه فرعون ورپسې روان شو سره له پنځګانه لښکره دا سې
چه شپږ لکهه ئې مقدمه وه او شپږ لکهه ئې ساقه او شپږ لکهه ئې میمنه او شپږ لکهه ئې میسره او باقی
ئې قلب چه په مبنځ کښې له ده سره اشراف وو لکه چه وائی فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِیْنَ ﴿۶۰﴾ پس ورپورسیدل
بنی اسراءیلو ته په وخت د نمر ختلو کښې فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ پس هر کله چه سره ولیدل دغه دواړو لښکرو
قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓی نو وویل ملګر یو د موسیٰ علیه السلام اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ﴿۶۱﴾ چه بیشکه مونږه موندلے
شوی او لاندے کړے شوی یو یعنی بیرته لښکر د فرعون راپسې را ورسیده او مخکښې سیند دے نو کیو تو به
بد ځائی کښې قَالَ كَلَّا ج نو وویل ورته موسیٰ علیه السلام چه نهٔ ده دا سې یعنی تا سې نه شئ لاندے کولے
دوئ ځکه چه اِنَّ مَعِیَ رَبِّیْ بیشکه له ما سره رب ځما دے په یارئ او مددګارئ سره سَیَهْدِیْنِ ﴿۶۲﴾
زر دے چه لاره د خلاصی به وښائی ما ته فَاَوْحَیْنَآ اِلٰی مُوْسٰٓی پس وحی وکړه مونږه موسیٰ علیه السلام
ته اَنِ اضْرِبْ دا سې چه و وهه ته بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ط په همسا خپلې دا سیند د قلزم یا د نیل نو په همسا ئې
وواههٔ فَانْفَلَقَ پس وچاود سیند او دولس کوڅې پکښې سازې شوې فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ پس شوه هره کوڅه
هسکه دا سې كَالطَّوْدِ الْعَظِیْمِ ﴿۶۳﴾ لکه لوئ غر په هسکوالی کښې او زمکه ئې فی الحال باد وچه کړه او هر سبط
به په یوه یوه کوڅه ورننوت وَاَزْلَفْنَا او بیا را نزدے کړه مونږه ثَمَّ الْاٰخَرِیْنَ ﴿۶۴﴾ دے ځائی ته دغه نور چه فرعونیان
دی یعنی د سیند په غاړه ټول مو راجمع کړه او بنی اسراءیل ترے بیرون ووتهٔ او دوئ ورننوتهٔ او سیند
پسې را ښکته شو لکه چه وائی وَاَنْجَیْنَا مُوْسٰی او خلاص کړهٔ مونږه موسیٰ علیه السلام له غرق وَمَنْ
مَّعَهٗٓ اَجْمَعِیْنَ ﴿۶۵﴾ او هغه خلک چه ده سره وو واړه ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِیْنَ ﴿۶۶﴾ ط بیا غرق کړهٔ مونږه هغه
نور یعنی فرعونیان ټول اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً ط بیشکه په دے غرق د فرعون او د قوم د دهٔ کښې هر آئینه ډیره

لویه نښه ده په کمال د قدرت ځموږ وَمَا كَانَ او نهٔ وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٦٧﴾ زیات د دوی مؤمنان
وَاِنَّ رَبَّكَ او بیشکه رب ستا چه دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرآئینه غالب دے چه انتقام اخلی له کفارو الرَّحِيْمُ ٢٨
مهربان دے په مؤمنانو وَاتْلُ عَلَيْهِمْ او ولوله اے رسوله په کفارو د مکے نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ ﴿٦٩﴾ خبر او قصه د
ابراهیم علیه السلام اِذْ قَالَ یاد کړه هغه چه وویل ده لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ پلار خپل ته چه آزر وو او قوم خپل
ته مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٠﴾ د څهٔ څیز عبادت کوئ تاسے قَالُوْا نَعْبُدُ اَصْنَامًا نو وویل دوی چه عبادت کوو مونږه
د بتانو فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيْنَ ﴿٧١﴾ پس همیشه او سو مونږه دوی له مجاوران او ملازمان د عبادت د دوی
قَالَ نو وویل ورته ابراهیم علیه السلام هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ چه آیا اوری دوی بلنه ستاسے اِذْ تَدْعُوْنَ ﴿٧٢﴾ په
هغه وخت چه بولئ تاسے دوی اَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ یا نوره څهٔ نفع رسوی دوی تاسے ته چه عبادت ئے وکړئ اَوْ
يَضُرُّوْنَ ﴿٧٣﴾ یا څهٔ ضرر نه رسوی که عبادت ئے ونهٔ کړئ او هر کله چه دوی څخه د دے جواب نه وو
نو د تقلید لاره ئے وړاندے کړه لکه چه وائی قَالُوْا نو وویل دوی چه په دے د رے واړو کښی یو هم پکښی
نشته او مونږه ئے عبادت د دغه د پاره نهٔ کوو بَلْ وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا بلکه موندلی دی مونږه پلرونه خپل كَذٰلِكَ
يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٤﴾ چه همدا سے به ئے کول یعنی د بتانو عبادت به ئے کولو قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ بیا وویل دهٔ چه آیا پس وینی
تاسے یعنی پوهه شی په دے چه مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٥﴾ هر هغه څیز چه یئ تاسے چه عبادت د هغه کوئ
اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمُ الْاَقْدَمُوْنَ ﴿٧٦﴾ تاسے او پلرونه ستاسے چه ډیر پخوا تیر دی فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيْٓ پس بیشکه
چه دغه معبودان ستاسے دښمنان دی ځمانو زهٔ خوښ ئے عبادت نهٔ کوم اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٧﴾ لیکن عبادت
کوم د هغه چا چه رب دے د تمام عالمیانو الَّذِيْ خَلَقَنِيْ هغه رب چه اول ئے پیدا کړم یعنی له عدم نه ئے
وجود ته راوویستم فَهُوَ يَهْدِيْنِ ﴿٧٨﴾ پس بیا هم سمه لاره راته ښائی د اقوالو د افعالو د احوالو یا د دعوت
د خلق حق ته وَالَّذِيْ او هغه رب هُوَ يُطْعِمُنِيْ چه هم دے طعام راکوی ما لره او خوروی ئے په ما د
پاره د قوت د بدن وَيَسْقِيْنِ ﴿٧٩﴾ او راکوی را لره اوبهٔ چه تنده م پرے ورکه شی وَاِذَا مَرِضْتُ او هر کله چه
رنځور شم زه فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿٨٠﴾ پس هم دے شفا راکوی ما لره وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ او هغه رب چه وژنی به ما
په دنیا کښی ثُمَّ يُحْيِيْنِ ﴿٨١﴾ بیا به ژوندی کړی ما په آخرت کښی د پاره د حساب او د جزا وَالَّذِيْٓ اَطْمَعُ او هغه
رب چه امید لرم زهٔ له دهٔ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ د دے چه وبخښی دے ما ته خَطِيْٓـَٔتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٨٢﴾

ع۵ یعنی اول چه نه وم هیڅ شے او اوس ئے وجود راوبښلے دے ۳

گناهونو ځما په ورځ دجزا یا التفات ئے وکړ خطاب ته په طریقه د سوال نو وائی رَبِّ هَبۡ لِیۡ اے
ربه ځما راکه په فضل خپل ماله حُكۡمًا کمال په علم او په عمل یا حکمت یا نبوت یا حکم په حق سره
په مابین دخلقو کښی وَّ اَلۡحِقۡنِیۡ بِالصّٰلِحِیۡنَ ﴿۸۳﴾ او پیوست که ما پصالحانو ستا پورے وَاجۡعَلۡ لِّیۡ او
وګرځوه ماله لِسَانَ صِدۡقٍ ژبه دصدق او آوازه دنیکنامی فِی الۡاٰخِرِیۡنَ ﴿۸۴﴾ په روستیو کښی یعنی په
هغو کښی چه پس له دے به پیدا کیږی او راځی به تر قیامته پورے وَاجۡعَلۡنِیۡ او کړه ما مِنۡ وَّرَثَةِ جَنَّةِ
النَّعِیۡمِ ﴿۸۵﴾ له وارثانو دهغه جنت چه ډک دے له نعمتونو وَاغۡفِرۡ لِاَبِیۡۤ او بخښنه وکړه پلار ځما ته
یعنی توفیق دایمان ورکړه ورله چه لایق دبخښنے شی اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه دے دے مِنَ الضَّآلِّیۡنَ ﴿۸۶﴾
له ګمراهانو وَلَا تُخۡزِنِیۡ او مه شرموه او مه رسوا کوه ما یَوۡمَ یُبۡعَثُوۡنَ ﴿۸۷﴾ په هغه ورځ چه را پاخولے شی
آدمیان له قبرونو تخه یَوۡمَ لَا یَنۡفَعُ په هغه ورځ چه نفع نه رسوی هیڅ چاته مَالٌ وَّ لَا بَنُوۡنَ ﴿۸۸﴾ نه مال او
نه ځامن اِلَّا مَنۡ لیکن هغه چاته نفع رسوی اَتَی اللّٰهَ چه راغلے وی دے خدائ له بِقَلۡبٍ سَلِیۡمٍ ﴿۸۹﴾
په زړه سلامت پاك سره له شرکه له نفاقه او زړهٔ دکافرانو او د منافق مریض دے لکه چه پخپله وائی
فِی قلوبهم مرض. اما نفع هغه مال رسوی چه دخدائ په لاره کښی صرف شوے وی او هغه ځامن چه
صالحان وی وَاُزۡلِفَتِ الۡجَنَّةُ او په هغه ورځ چه رانژدے به کړے شی جنت لِلۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۹۰﴾ پرهیزګارانو
ته چه له موقف به ئے وینی او خوشحاله به شی وَبُرِّزَتِ الۡجَحِیۡمُ او ښکاره به کړے شی دوزخ لِلۡغٰوِیۡنَ ﴿۹۱﴾
دپاره دګمراهانو یعنی کافرانو چه له ورایه ئے وینی او غم او خفګان لا پرے زیات شی وَقِیۡلَ لَهُمۡ او ویلے شی دوئ
ته یعنی ملائک ورته ووائی چه اَیۡنَمَا كُنۡتُمۡ چیرته دی هغه بتان چه وئی تاسے تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۹۲﴾ چه عبادت
به موکولو دهغو په دنیا کښی مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غیر له خدائ هَلۡ یَنۡصُرُوۡنَكُمۡ آیا څهٔ مدد کوی دوئ او س له
تاسے سره په دفع دعذاب کښی اَوۡ یَنۡتَصِرُوۡنَ ﴿۹۳﴾ یا څهٔ مدد کوی له خپل ځان سره چه له اوره ځان
وباسی فَكُبۡكِبُوۡا فِیۡهَا پس وبه غورځولے شی دابتان نسکور په دے دوزخ کښی هُمۡ وَالۡغَاوٗنَ ﴿۹۴﴾ هم دوئ
او هم دا ګمراهان یعنی عابدان ئے وَجُنُوۡدُ اِبۡلِیۡسَ او لښکر دابلیس به هم نسکور وغورځولے شی په دوزخ
کښی اَجۡمَعُوۡنَ ﴿۹۵﴾ ټول تابعان دده که معبودان دی لکه بتان او نمر او سپوږمۍ او ستوری او که عابدان
دی لکه عاصیان دجنو او دانسو یا مراد له جنوده دده خپل شیاطین دی قَالُوۡا وَهُمۡ وائی به دابتان کفار و

ته او حال دا چه دوئ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ په دے دوزخ کښ سره جګړه به کوی نو وائی به داعابدان چه
تَاللّٰهِ قسم دے په خدائی چه اِنْ كُنَّا بیشکه وو مونږه په دنیا کښ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٩٧﴾ هرائینه په
ګمراهئ ښکاره کښ اِذْ نُسَوِّيْكُمْ څکه چه برابرولئ مونږه تاسے په استحقاق د عبادت کښ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٨﴾
له پرورد ګار د عالمیانو سره وَمَآ اَضَلَّنَآ او نهٔ وو ګمراه کړی مونږه اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٩٩﴾ مګر بدکارانو د مشرانو
څمونږ عه یا ابلیس او لښکرو ده فَمَا لَنَا پس نشته مونږه لره له سره مِنْ شَافِعِيْنَ ﴿١٠٠﴾ له شفاعتګرو هیڅوک لکه مؤمنا
له چه دی له ملایکو له انبیاء علیهم السلام له مومنانو وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ﴿١٠١﴾ او نه کوم یار مهربانه چه څمونږ
په دے مصیبت غمژن عه شی فَلَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً پس کاشکے کهٔ وے مونږه لره یو کرت بیرته ورتله دنیا ته
فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٢﴾ پس شو به مونږ له مؤمنانو یعنی نو ایمان به راوړے وو چه قبول شوے وے
اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ط بیشکه چه په دے قصه د ابراهیم علیه السلام کښ هرائینه ډیره لویه نښه ده په
کمال د قدرت څما وما کان او نهٔ وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٣﴾ زیات د دوئ مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ او
بیشکه رب ستا چه دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرائینه دے غالب دے په اعدا عه او الرَّحِيْمُ ﴿١٠٤﴾ مهربان دے په مؤمنانو
كَذَّبَتْ نسبت د دروغو وکړو قَوْمُ نُوْحِ ۣالْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٠٥﴾ ج قوم د نوح علیه السلام رسولانو ته یا تیرو ته
پس له اخباره د دهٔ یا ټولو ته چه بعث د رسلو یعنی منکر شو یا تکذیب د یو تکذیب د ټولو دے اِذْ
قَالَ لَهُمْ یاد که هغه چه و ویل دوئ ته اَخُوْهُمْ نُوْحٌ رور د دوئ چه نوح علیه السلام دے اَلَا
تَتَّقُوْنَ ﴿١٠٦﴾ ایا نهٔ ویرېږئ له خدائ چه عبادت د خدائ کوئ اِنِّيْ لَكُمْ بیشکه چه زه تاسے لره
رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٠٧﴾ رالیږلے شوے یم امانتګر چه مشهور یم په تاسے کښ په امانت سره فَاتَّقُوا
اللّٰهَ پس و ویرېږئ له خدائ او بت پرستی مهٔ کوئ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٠٨﴾ ج او فرمان و منئ څما په قبلولو د
ایمان کښ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ او نهٔ غواړم زه له تاسے عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ په رسولو د دے پیغام څهٔ اجرت اِنْ اَجْرِيَ
نهٔ دے اجرت د رسالت څما اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ ج مګر په رب د عالمیانو فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس بیا و ویرېږئ
له خدائ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١١٠﴾ ط او فرمان و منئ څما او د اتکرار دے د یاره د تاکید وکهٔ چه دوئ ډیر سخت دل وو
قَالُوْٓا نو و ویل دوئ په جواب کښ چه اَنُؤْمِنُ لَكَ ایا ایمان راوړو مونږه په تا وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ﴿١١١﴾ او

عه یعنی چه په دے غم کښ سره شریک شی ١٢　عه یعنی په دښمنانو خپلو ١٢

حال دا چه پیروی کړے دہ ستا کم پا یه خلقو نه الوکم نسبو خوارو قَالَ وَمَا عِلۡمِیۡ نو وویل دهٔ او نشته پوهه
ځما بِمَا کَانُوۡا یَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۱۲﴾ په هغه کار چه دی دوئ چه کوی یعنی زهٔ خو ظاهر گورم چه مؤمنان دی نو
چه په اخلاص وکړ یه نفاق دی اِنۡ حِسَابُهُمۡ نهٔ دے حساب د دوئ اِلَّا عَلٰی رَبِّیۡ مګر په رب ځما دے نو جزا به
ورکه لَوۡ تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۱۳﴾ که پوهيدے تاسو په دے نو د بتانو عبادت به مو نهٔ کولو بیا قوم ورته وویل چه
دا ارذال له خانه وشړه چه مونږه ایمان راوړو نو دهٔ ورته وویل چه وَمَاۤ اَنَا بِطَارِدِ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۱۴﴾ او نهٔ یم زهٔ
شړونکے د مؤمنانو اِنۡ اَنَا اِلَّا نَذِیۡرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۱۱۵﴾ نهٔ یم زه مګر ویروونکے ښکاره یعنی زهٔ رالیږلے شوے یم
د پاره د بللو ایمان ته که غنی وی که فقیر قَالُوۡا نو وویل دهٔ ته قوم لَئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهِ چه هرائینه که وانهٔ وختے
له دے ویلو یٰنُوۡحُ اے نوحه لَتَکُوۡنَنَّ نو هرائینه شے به تهٔ خامخا مِنَ الۡمَرۡجُوۡمِیۡنَ ﴿۱۱۶﴾ له سنګسار کړے شویو
بیا چه په دے ویلو یعنی نا امیده شو قَالَ رَبِّ دویل دهٔ چه اے ربه ځما اِنَّ قَوۡمِیۡ کَذَّبُوۡنِ ﴿۱۱۷﴾ بے شکه چه
قوم ځما دروغژن وبللم زه فَافۡتَحۡ پس حکم وکه د فیصل بَیۡنِیۡ وَبَیۡنَهُمۡ فَتۡحًا په مابین ځما او د دوئ کښ
په حکم کولو سره وَ نَجِّنِیۡ وَمَنۡ مَّعِیَ او وساته ما او هر هغه څوک چه ما سره دی مِنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۱۸﴾ له
مؤمنانو له قصد یا له شامت د دوئ فَاَنۡجَیۡنٰهُ وَمَنۡ مَّعَهٗ پس وساتهٔ مونږه دے او هر هغه څوک چه له دهٔ سره
وو فِی الۡفُلۡکِ الۡمَشۡحُوۡنِ ﴿۱۱۹﴾ په هغه بیړئ کښ چه ډکه وه له خلقو یعنی له بنی آدمو له حیوانا تو له مرغانو
له نورو هغه څیزونو چه محتاج الیه وو ثُمَّ اَغۡرَقۡنَا بیا غرق کړه مونږه بَعۡدُ الۡبٰقِیۡنَ ﴿۱۲۰﴾ پس له ساتلو
د دهٔ هغه باقی هر څوک چه پاتے وو له قومه د دهٔ اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیَۃً بیشکه چه په دے صبر د دهٔ او په غرق
د قوم د دهٔ کښ په دے شان هرائینه ډیره لویه نښه ده په کمال د قدرت ځما وَمَا کَانَ اَکۡثَرُهُمۡ او نهٔ وو اکثر
مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۲۱﴾ زیات د دوئ مؤمنان وَاِنَّ رَبَّکَ او بیشکه رب ستا چه دے لَهُوَ الۡعَزِیۡزُ هرائینه دے ډیر
غالب دے په اعداؤ الرَّحِیۡمُ ﴿۱۲۲﴾ مهربان دے په مؤمنانو کَذَّبَتۡ نسبت د دروغو وکه عَادُ الۡمُرۡسَلِیۡنَ ﴿۱۲۳﴾
عادیانو رسولانو ته اِذۡ قَالَ لَهُمۡ یاد که هغه چه وویل دوئ ته اَخُوۡهُمۡ هُوۡدٌ ورور د دوئ چه هود علیه السلام
وو اَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿۱۲۴﴾ آیا نهٔ ویریږئ له خدائ چه عبادت د غیر کوئ اِنِّیۡ لَکُمۡ بیشکه چه زهٔ تاسو له رَسُوۡلٌ
اَمِیۡنٌ ﴿۱۲۵﴾ رسول یم امانتګر چه ادا د پیغام فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ویریږئ له خدائ او مخالفت مهٔ کوئ
له امره د دهٔ وَاَطِیۡعُوۡنِ ﴿۱۲۶﴾ او فرمان ومنئ ځما په ایمان راوړو کښ وَمَاۤ اَسۡـَٔلُکُمۡ او نهٔ غواړم زهٔ

له تلسه عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ ۚ په رسؤلو دے پیغام څهٔ اُجرت اِنۡ اَجۡرِیَ نهٔ دے اجرت د رسالت ځما اِلَّا عَلٰی
رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۱۲۷﴾ مګر په رب د عالمیانو اَتَبۡنُوۡنَ ایا سازوئ تاسے بِکُلِّ رِیۡعٍ په هر هسک ځائ په لوئ
لاره کښ اٰیَةً تَعۡبَثُوۡنَ ﴿۱۲۸﴾ یوه نښه هسکه لکه برج د حمام یا بنګله چه پکښ کینئ او عبث کوئ او مسخرے
کوئ په تیرید ونکو پورے بے ځایه وَتَتَّخِذُوۡنَ مَصَانِعَ اوسازوئ تاسے حوضونه د اوبو یا قلا کلانے او بنګلے
چونه ګچ لَعَلَّکُمۡ تَخۡلُدُوۡنَ ﴿۱۲۹﴾ بنائیږی چه تاسے یعنی امید لرئ د دے چه همیشه به اوسئ تاسے په دے
دنیا کښ وَاِذَا بَطَشۡتُمۡ او په هغه وخت چه حمله کوئ په چا یا انتقام اخلئ له چا بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِیۡنَ ﴿۱۳۰﴾
نو حمله کوئ یا انتقام اخلئ په دے چه سرکشانه او نامهربانه اوسئ فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ له خدائ
او دا سرکشی مهٔ کوئ وَاَطِیۡعُوۡنِ ﴿۱۳۱﴾ او فرمان ومنئ ځما چه ستاسے نفع[عه] په دے کښ دے وَاتَّقُوا الَّذِیۡۤ
او ویریږئ له هغه خدایه اَمَدَّکُمۡ بِمَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۳۲﴾ چه مددګاری ئے کړیده له تاسے په هغه څیز چه
پوهیږئ پرے تاسے له رنګا رنګ نعمتونو اَمَدَّکُمۡ بِاَنۡعَامٍ مددګاری او احسان ئے کړے دے له تاسره
په درکولو د چارپایانو لکه پیلان، اوښان، غوایان، اسونه، خرهٔ، قچر، میږے، وزے وَّبَنِیۡنَ ﴿۱۳۳﴾ او په
ځامنو چه مددګاران او پشتی ستاسے دی په هر وخت کښ وَجَنّٰتٍ وَّعُیُوۡنٍ ﴿۱۳۴﴾ او په باغونو چه میوے ترے
خورئ او په چینو چه هم ترے کښتونه او باغونه اوبهٔ کوئ اِنِّیۡۤ اَخَافُ عَلَیۡکُمۡ بیشکه
چه زهٔ ویریږم په تاسے کهٔ په دے کفر خپل ثابت اوسی عَذَابَ یَوۡمٍ عَظِیۡمٍ ﴿۱۳۵﴾ له عذابه د ورځے لوئ چه
ورځ د قیامت ده قَالُوۡا نو وویل ورته عادیانو سَوَآءٌ عَلَیۡنَاۤ برابره خبره ده په مونږه اَوَعَظۡتَ چه ایا پند راکړے
ته مونږه اَمۡ لَمۡ تَکُنۡ او کهٔ نهٔ او سے ته مِّنَ الۡوٰعِظِیۡنَ ﴿۱۳۶﴾ له پند راتلونکو یعنی مونږه به په هیڅ شان دا
خپله طریقه پرے نږدو اِنۡ هٰذَاۤ نهٔ دے دا مرګ او ژوند څمونږه یا دا وعظ او نصیحت ستا اِلَّا خُلُقُ
الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۱۳۷﴾ مګر عادت د پخوانیو چه همدا سے پیدا کیږی او مری او نه بیا ژوندون شته او نه قیامت دا ویل
ستا افتراء او دروغ دی د پخوانیو وَمَا نَحۡنُ او نهٔ یو مونږه بِمُعَذَّبِیۡنَ ﴿۱۳۸﴾ عذاب کړے شوی په دغه کردار و نو خپلو
فَکَذَّبُوۡهُ پس دروغژن وباله دوئ هود علیه السلام فَاَهۡلَکۡنٰهُمۡ پس هلاک کړه مونږه دوئ ټول
په باد صرصر سره اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیَةً بیشکه چه په دے هلاک د عادیانو کښ هراٸینه ډیره لویه نښه ده په کمال د

عه یعنی په اداکولو د امورو شرعیو سره تلسے ته چه له جانبه د خدائ راغلی دے مانه   عمه یعنی په منلو د فرمان ځما کښ ستاسے خیر دے ۱۲
اللهم اغفرلی ۲

دقدرت خما وَمَا كَانَ اونهٔ وو أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (۱۳۹) زیات د دوئ مؤمنان وَإِنَّ رَبَّكَ او بیشکه رب ستا
چه دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرائینه دیر غالب دے په تعذیب دکفارو الرَّحِيْمُ (۱۴۰) مهربان دے په مؤمنانو چه ساتی ئے
له عذابه كَذَّبَتْ نسبت د دروغو وکه ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ (۱۴۱) ثمود رسولانو ته إِذْ قَالَ لَهُمْ یاد که هغه چه
وویل دوئ ته أَخُوْهُمْ صٰلِحٌ ورور د دوئ چه صالح علیه السلام وو أَلَا تَتَّقُوْنَ (۱۴۲) ایا نه ویریږئ له خدائ
چه عبادت د غیر کوئ إِنِّيْ لَكُمْ بیشکه زهٔ تاسے له رَسُوْلٌ أَمِيْنٌ (۱۴۳) رالیږلے شوے یم امانتگر په ادا د
رسالت فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ له خدائ او قبول کړئ اوامر او نواهي دده وَأَطِيْعُوْنِ (۱۴۴) او فرمان
ومنئ ځما په قبلولو د توحید کښ وَمَا أَسْئَلُكُمْ او نهٔ غوارم زهٔ له تاسے عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ په دے نصیحت خپل
څهٔ اجرت إِنْ أَجْرِيَ نهٔ دے اجرت د نصیحت ځما إِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۱۴۵) مگر په رب دعالمیانو أَتُتْرَكُوْنَ
ایا پریښے به خودے شئ تاسے یعنی پریښے به نه خودی شئ فِيْ مَا هٰهُنَا په هغه څیز کښ چه یئ تاسے په
دے دنیا کښ له خوځو مساکنو او منازلو او باغونو او له نورو او نوا او دنعمتونو أٰمِنِيْنَ (۱۴۶) په امان له
افاتو او له سختیو او غمونو او دردونو فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ (۱۴۷) په باغونو او په چینو کښ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ او په
کښتونو او په خرماکانو چه طَلْعُهَا هَضِيْمٌ (۱۴۸) شگوفه د هغو نرمه او پسته وی وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ او کنئ
او سازوئ تاسے له غرونو څخه یعنے په غرونو کښ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ (۱۴۹) کوټے په دے حال چه ماهر یئ تاسے په
توکلو دنیزه فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ له خدایه او د اطول د امل مهٔ کوئ وَأَطِيْعُوْنِ (۱۵۰) او فرمان ومنئ ځما
په احکامو د شرع کښ وَلَا تُطِيْعُوْا أَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ (۱۵۱) او مهٔ منئ فرمان د اسراف د کونکیو یعنی د کافرانو
الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ فِي الْأَرْضِ هغه کسانچه فساد کوی د دوئ په زمکه د حجر کښ په ظلم او په کفر سره وَلَا
يُصْلِحُوْنَ (۱۵۲) او اصلاح او سازوارئ نهٔ کوی په عدل او په ایمان سره قَالُوْا نو وویل ثمودیانو چه إِنَّمَا
أَنْتَ بیشکه همدا خبره ده چه ته مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ (۱۵۳) له جادو کړے شوے یعنی داسے سحر دربانذے
شوے دے چه عقل د بیخی مغلوب شوے دے وَمَا أَنْتَ نهٔ ئے ته إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا مگر آدمی پشان
ځمونږه نو څهٔ سبب دے چه ته پیغمبر شوے او مونږه نهٔ شو او که په دے دعوی کلک ولاړ ئے نو
فَأْتِ بِاٰيَةٍ راوړه یوه نښه په رسالت خپل له خوارقو إِنْ كُنْتَ که چرے ئے ته مِنَ الصّٰدِقِيْنَ (۱۵۴)

عه یعنی په زوال دخدای کښ ۱۲ عه یعنی امید داوږدوالی په ژوند کښ مهٔ کوئ ۱۲ سه یعنی مخالفت له عادت نه یعنی داسے
څیز ظاهر که چه په عادت کښ نه ظاهریږی ۱۲

له ربښتينو په دے دعوىٰ کښې نو صالح عليه السلام ورته وويل چه تاسو څرنګه خارق عواړئ؟ دوئ
وويل چه له دغه معينې تيږې ديوه اوښه راووځى چه سپينه ګزمے سينه وى او هغه دِ فى الحال ننګه شى
او خپل ځان قدرے بچے دِ راوړى بيا صالح عليه السلام دُعاوکړه نو هم دا سے اوښه پيدا شوه او ننګه
شوه بيا نو قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ وويل صالح صالح عليه السلام دا اوښه ده چه تاسے ئې خپله غوښتے ده
نو اوس لَّهَا شِرْبٌ دے له برخه ده د اوبو وَّلَكُمْ او تاسے له هم شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۱۵۵﴾ برخه د
اوبو د ورځے معلومے يعنے يوه ورځ دِ اوبه دا څښى او يوه ورځ ئے تاسے پکاروى او چه د دے ورځ
وى نو تاسو له او بو سره هيڅ غرض مه لرئ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ او لاس مه وروړئ دے له په نيت د
بدئ نه په نيت د وهلو او د وژلو او که دا سے وکړه تاسے فَيَاْخُذَكُمْ پس ونه نيسى تاسے عَذَابُ يَوْمٍ
عَظِيْمٍ ﴿۱۵۶﴾ عذاب د لوئ ورځے يعنى د هغے ورځے چه عذاب ئے د ير لوئ دے فَعَقَرُوْهَا پس حلاله ئے کړه دا
اوښه يعنے بعضو په رضاد نورو پورلو سره او عاقرئے قدار نوم وو فَاَصْبَحُوْا نٰدِمِيْنَ ﴿۱۵۷﴾ پس بيا شو دوئ
پښيمانه په دے حلالو لو په وخت د نزول د عذاب فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ پس ونيول او لاندے کړه دوئ عذاب موعود
چه هغه چيغه وه د جبريل عليه السلام نو تول هلاک شو اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً بيشکه چه په دے هلاک
د ثمود يانو کښى هرائينه ديره لويه نښه ده په کمال د قدرت ځما وَمَا كَانَ او نه وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵۸﴾
زيات د دوئ مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ او بيشکه رب چه د ے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرائينه ډير غالب دے چه هيچرے نه
مغلوب کيږى الرَّحِيْمُ ﴿۱۵۹﴾ مهربان دے چه بے ګناه خوک نه نيسى كَذَّبَتْ نسبت د دروغو وکه قَوْمُ لُوْطِ
الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۶۰﴾ قوم د لوط عليه السلام رسولانو ته اِذْ قَالَ لَهُمْ ياد که هغه چه وويل دوئ ته اَخُوْهُمْ
لُوْطٌ ورور د دوئ چه لوط عليه الصلوة والسلام دے اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ آيا نه ويريږئ له خدائ چه
عبادت د غير کوئ اِنِّیْ لَكُمْ بيشکه چه زه تاسے لره رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۶۲﴾ رالېږلے شوے يم امانتګر په ادا د
پيغام او خيرخواه يم ستاسے فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وويرېږئ له خدائ او نار وا مه کوئ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۶۳﴾ او
فرمان ومنئ ځما په ترک د ناروا وکښى وَمَا اَسْئَلُكُمْ او نه غواړم زه له تاسے عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ په دے پند
او نصيحت خپل څه اُجرت اِنْ اَجْرِیَ نه دے اُجرت ځما د دے پند اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۴﴾ مګر په رب د
عالميانو اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ آيا راځئ تاسے نارينه وو لره مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۵﴾ له خلقو يعنے لواطت کوئ وَتَذَرُوْنَ

او پریږدئ تاسې مِنْ اَزْوَاجِكُمْ ط له ښځو ستاسې یعنی ښځې پریږدئ او نارینه وُ سره جماع کوئ بَلْ اَنْتُمْ بلکه
تاسو چه یئ قَوْمٌ عٰدُوْنَ (۱۶۶) یو قوم یئ له حده تیریدونکی چه سره له وجوده د ښځو نارینه وُ سره کوئ قَالُوْا نو
وویل ورته دوئ چه لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ هرائینه که وانه وختې له دې ویلو یٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ اې لوطه نو هرائینه شې به
ته خامخا مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ (۱۶۷) له بیرون ایستلېو شویو له دغه ښاره قَالَ نو وویل لوط علیه السلام دوئ ته
اِنِّیْ لِعَمَلِكُمْ چه بیشکه زهٔ دې عمل ستاسې سره مِنَ الْقَالِيْنَ ط (۱۶۸) له بغض لرونکو یم بیا له دوئ نه مخ
وګرځولو خدائ ته او سوال ئې وکړو چه رَبِّ نَجِّنِیْ اې ربه خلاص وساته ما وَاَهْلِیْ مِمَّا او عیال زما له شامته د هغه
کاوهٔ یَعْمَلُوْنَ (۱۶۹) چه کوی ئې دوئ فَنَجَّيْنٰهُ پس وساتهٔ مونږه دې وَاَهْلَهٗۤ اَجْمَعِيْنَ لا (۱۷۰) او عیال د دهٔ هم
تول اِلَّا عَجُوْزًا مګر یوه زړه ښځه د دهٔ چه هغه پاتې شوه فِی الْغٰبِرِيْنَ ج (۱۷۱) په بیرته پاتې کیدونکیو کښې یعنې
له قومه سره ځکه چه دې وویل زهٔ له قوم سره راضي یم هرچه دوئ سره کیږی هغه د ما سره هم وشي
ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ج (۱۷۲) بیا هلاک کړه مونږه هغه نور یعنې قوم وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ او وراوهٔ مونږه په دوئ
مَّطَرًا ج باران د قرتکانړو یا د ګوګړو له اوره سره فَسَآءَ پس بد وو مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ (۱۷۳) باران د دغه ویرولو
شویو چه ایمان ئې رانهٔ وړو اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ط بیشکه چه په دې عذاب د موتفکاتو کښې هرائینه ډیره
لویه نښه ده په کمال د قدرت زما وَمَا كَانَ او نهٔ وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (۱۷۴) زیات د دوئ مؤمنان وَاِنَّ
رَبَّكَ او بیشکه رب ستا چه دې لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرائینه دې ډیر غالب دې چه هیڅ کله نهٔ عاجز کیږی
الرَّحِيْمُ ع (۱۷۵) مهربان دې چه ځواله اګاهئ هیڅ له عذاب نهٔ ورکوی كَذَّبَ نسبت د دروغو وکړهٔ اَصْحٰبُ
لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ج صلے (۱۷۶) منکرو د ایکې رسولانو ته او ایکه نوم دې د یو ځنګل نزدې مدین ته چه ونې او
میوې پکښې ډیرې وې نو د هغه ځنګل او سیدونکیو له خدائ شعیب علیٰ نبینا وعلیه السلام ولیږه او خلو د
ښاره په هغه کښې وو امادهٔ خپل قوم نهٔ وو ځکه نسبت د وړور ئې ورته ونهٔ کړهٔ او وې ویل چه
اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ یاد که هغه چه وویل دوئ ته شعیب علیه السلام چه اې خلقو اَلَا تَتَّقُوْنَ ج (۱۷۷)
آیا نهٔ ویریږئ تاسې له خدائ چه عبادت د غیر کوئ اِنِّیْ لَكُمْ بیشکه چه زهٔ تاسې لره رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ لا (۱۷۸)
رسول یم امانتګر په تبلیغ د رسالت فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ له خدائ او کفر او تکذیب مهٔ کوئ
وَاَطِيْعُوْنِ ع (۱۷۹) او فرمان ومنئ زما په ترک[عه] د مناهیو کښې وَمَآ اَسْئَلُكُمْ او نهٔ غواړم زهٔ له تاسې عَلَيْهِ

عه یعنی په نه کولو د هغه کارونو کښې چه شریعت منع ترې کړې ده ۱۲

مِنْ اَجْرٍ ۚ په دے تبلیغ څهٔ اُجرت اِنْ اَجْرِیَ نهٔ دے اُجرت ځما اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۸۰﴾ مگر په
رب د عالمیانو اَوْفُوا الْكَيْلَ پوره کوئ پیمانه په هغه وخت چه چا ته غله پیمانه کوئ وَلَا تَكُوْنُوْا او مهٔ
کیږئ مِنَ الْمُخْسِرِیْنَ ﴿۱۸۱﴾ له کم پیمانه کونکیو څخه وَزِنُوْا او بل دا چه تول کوئ بِالْقِسْطَاسِ
الْمُسْتَقِیْمِ ﴿۱۸۲﴾ په تلې برابرے یعنی ډنډئ مهٔ وهئ په وخت د تول کښې وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ او مهٔ
کوئ خلقو ته اَشْیَآءَهُمْ څیزونه د دوئ یعنی په کم تول سره د دوئ حقوق مهٔ ستنوئ وَلَا تَعْثَوْا فِی
الْاَرْضِ او ډیر فساد مهٔ کوئ په زمکه کښې په قتل او په غارت او په قطع د طریق سره او دا کارونه به
دوئ کول حُکه ترے منع شو مُفْسِدِیْنَ ﴿۱۸۳﴾ په دے حال چه فساد کونکی اوسئ وَاتَّقُوا الَّذِیْ او ځان
وساتئ له عذاب د هغه خدائ خَلَقَكُمْ چه پیدا کړی یئ تاسے وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۱۸۴﴾ او هغه پخوانے
تیر مخلوق ان تر آدم علیه الصلوٰة والسلام پورے قَالُوْٓا نو وویل ورته دوئ چه اِنَّمَآ اَنْتَ بیشکه همدا
خبره ده چه ته مِنَ الْمُسَحَّرِیْنَ ﴿۱۸۵﴾ له جادوکړیو شویو ئے یعنی چا در باندے جادو کړے دے او عقل
در څخه بیخی تللے دے وَمَآ اَنْتَ او نهٔ ئے ته اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا مگر یو سړے ئے په شان ځمونږه په هر څهٔ
کښې نو ستا پیغمبری نهٔ منو وَاِنْ نَّظُنُّكَ او بیشکه چه مونږه گمان کوو په تا لَمِنَ الْكٰذِبِیْنَ ﴿۱۸۶﴾ هر اَئینه
له دروغژنو په دغه دعوی کښې فَاَسْقِطْ عَلَیْنَا پس راوغورځوه په مونږه باندے كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ توه توته
له اسمانه اِنْ كُنْتَ که چرے ئے ته مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۱۸۷﴾ له رښتینو په دے کښې چه عذاب به په مونږه راشی
قَالَ رَبِّیْٓ اَعْلَمُ نو وویل شعیب علیه السلام چه رب ځما بنهٔ پوهـ دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ په هغه کارونو
چه کوئ ئے تاسے روایت دے چه هرکله انکار او سرکشی د اصحاب ایکه له حده تیره شوه نو
اوهٔ شپے او ورځے پرے خدائ داسے سخته گرمی راوسته چه د کوهیو او چینو اوبهٔ ئے په جوش راغلے او
دوئ هم ډیر بے طاقته شو ناګاه توره وریځ راپیدا شوه او یخ باد هم راوالوت نو دوئ ډیر خوشحاله شو
او ټول سوری لاندے راجمع شو نو ناڅاپه اور ترے راووریدهٔ او دوئ ټول پرے وُسولکه چه وائی .
فَكَذَّبُوْهُ پس تکذیب وکهٔ دوئ د شعیب علیه السلام فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ یَوْمِ الظُّلَّةِ ؕ پس ونیول یعنی
لاندے کړه دوئ عذاب د ورځے د سایه وان د وریځے یا د غزهٔ اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه دا عذاب د دوئ وو

عه یعنے په وژلو او په لوټ او په شوکولو د لارے سره ۱۲

عَذَابَ یَوۡمٍ عَظِیۡمٍ ﴿۱۸۹﴾ عذاب د لوئ ورځې اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیَۃً ؕ بیشکه چه په دے عذاب داصحاب ایکه
کښې هرآئینه ډیره لویه نښه ده په کمال د قدرت زما وَمَا کَانَ اَکۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۹۰﴾ اونهٔ وو اکثر زیات د دوئ
مؤمنان وَاِنَّ رَبَّکَ او بیشکه رب ستا چه دے لَهُوَ الۡعَزِیۡزُ هرآئینه ډیر غالب کونکے دے دانبیاؤ علیهم
الصلوٰة والسلام په اعداؤ الرَّحِیۡمُ ﴿۱۹۱﴾ مهربان دے په انبیاؤ او په تابعانو د دوئ وَاِنَّهٗ او بیشکه دا ع ۱۰ ۱۴
قرآن چه دے لَتَنۡزِیۡلُ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۱۹۲﴾ هرآئینه رالیږلے دے رب د عالمیانو په دے شان چه نَزَلَ بِهِ
راکوز شوے دے په دغه قرآن سره الرُّوۡحُ الۡاَمِیۡنُ ﴿۱۹۳﴾ روح امانتگر چه جبریل علیه السلام دے عَلٰی
قَلۡبِکَ په زړه ستا لِتَکُوۡنَ دپاره د دے چه اوسے ته مِنَ الۡمُنۡذِرِیۡنَ ﴿۱۹۴﴾ له ویرونکیو د خلقو له عذابه
بِلِسَانٍ عَرَبِیٍّ مُّبِیۡنٍ ﴿۱۹۵﴾ په ژبه عربی ښکاره سره او ښکاره رسول علیه السلام په عربی ژبه سره ځلور
پیغمبرانو ویرول کړی دی چه هود او صالح او اسمٰعیل او شعیب علیهم الصلوٰة والسلام دی وَاِنَّهٗ
او بیشکه دا قرآن چه دے لَفِیۡ زُبُرِ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۱۹۶﴾ هرآئینه په کتابونو مخکنیو کښې پروت دے احوال د دهٔ
یا معانی د دهٔ روایت دے چه مشرکان د عربو په احبارو د بنی اسرائیلو له ښکاره لتلهٔ په باب
حوادثو خپلو کښې او بیا د دوئ په گفته به ئے عمل کولو او دغه د دوئ قول به ئے حجت کولو هم نو ځکه رب
العزت وائی چه اَوَلَمۡ یَکُنۡ لَّهُمۡ ایا نهٔ ده دے مشرکانو د قریشو لره نښه په صحت د قرآن یا په نبوت د
محمد صلی الله علیه وسلم اَنۡ یَّعۡلَمَهٗ داچه پوهیږی په دے قرآن سره له صفت د دهٔ یا په دے پیغمبر سره له نعمته
د دهٔ عُلَمٰٓؤُا بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ ﴿۱۹۷﴾ عالمان د بنی اسرائیلو چه پوهنده د خلقو دی وَلَوۡ نَزَّلۡنٰهُ او که رالیږلے وے موږ
دا قرآن عَلٰی بَعۡضِ الۡاَعۡجَمِیۡنَ ﴿۱۹۸﴾ په بعض له عجمیانو یعنی په کوم عجمی باندے په عربی ژبه سره فَقَرَاَهٗ
عَلَیۡهِمۡ پس لوستے وے دے عجمی دا قرآن په دوئ په عربی سره مَّا کَانُوۡا بِهٖ نو نه به وو دوئ په دے قرآن
مُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۹۹﴾ ایمان راوړونکی له دے جهته چه ویل به ئے عرب له عار دے چه د عجم متابعت کوی او که
په عربی ژبه نهٔ وے د قرآن. نو ویل به ئے چه مونږه ئے په معنیٰ نهٔ پوهیږو کَذٰلِکَ سَلَکۡنٰهُ همدا سے
ننه ایستلے دے دا عناد او انکار فِیۡ قُلُوۡبِ الۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۲۰۰﴾ په زړونو د مشرکانو د مکے کښې لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ
چه ایمان نهٔ راوړی دوئ په دے قرآن حَتّٰی یَرَوُا الۡعَذَابَ الۡاَلِیۡمَ ﴿۲۰۱﴾ ترهغه پورے چه وینی عذاب
دردناک په دنیا کښې د باقی امو په شان او یا په قیامت فَیَاۡتِیَهُمۡ بَغۡتَةً پس راشی دا عذاب دوئ ته ناڅاپه

وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۰۲﴾ او حال دا چه دوئ پوهـ نه وی په وخت د راتلوئے فَيَقُوْلُوْا پس بیا نو وائی دوئ له ډیره افسوسه چه هَلْ نَحْنُ مُنْظَرُوْنَ ﴿۲۰۳﴾ ایا یو مونږه مهلت راکړے شوی یعنے ایا مونږه له به څوک مهلت راکړی چه بیرته ورشو او تصدیق وکړو اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۲۰۴﴾ ایا پس په راتلو د عذاب څمونږه جلتی کوی دوئ چه وائی امطر علینا حجارةً اوفتاتنا بما تعدنا او سره له دے راتلو د عذاب هم مهلت غواړی اَفَرَءَيْتَ ایا پس وینے ته اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ که چرے ژوندون او معاش ورکړو مونږه دوئ له سِنِيْنَ ﴿۲۰۵﴾ څو کاله چه بنهٔ معاش پکښ وکړی او د ډیره ارمانونه پکښ وباسی ثُمَّ جَآءَهُمْ بیا راشی دوئ له مَّا كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿۲۰۶﴾ هغه عذاب چه وو دوئ چه وعده کړے شوے ورو دهغه له دوئ سره مَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ دفع به نهٔ کاندی عذاب له دوئ مَّا كَانُوْا يُمَتَّعُوْنَ ﴿۲۰۷﴾ هغه چه وو دوئ چه هغه معاش ئے کولو یعنی اوږد د تمتع د دنیا دافع کید لے نهٔ شی د عذاب وَمَآ اَهْلَكْنَا او نهٔ دی هلاک کړی مونږه مِنْ قَرْيَةٍ هیڅ ښار اِلَّا لَهَا مُنْذِرُوْنَ ﴿۲۰۸﴾ مگر چه وو به هغه ښار له ویرونکی ذِكْرٰی تنبیه د پاره د پندورکولو یعنے اول به مو پیغمبران ورولیږل چه دوئ به ئے توحید ته وبلل او له عذابه به ئے ویرول بیا چه دوئ به سرکشی وکړه نو هلاک به مو کړهٔ وَمَا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۲۰۹﴾ او نه یو مونږه ظالمان چه بغیر له ویرولو او اګاهئ به مو هلاکول روایت دے چه مشرکانو به ویل دا چه شیطانان محمد صلے الله علیه وسلم ته دا قرآن ښائی او دے ئے بیا مونږ ته وائی نو نازل شو وَمَا تَنَزَّلَتْ او نهٔ راکوزیږی بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ﴿۲۱۰﴾ په دے قرآن سره شیطانان یعنے شیطانان ورته تعلیم د قرآن نهٔ کوی وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ او نهٔ ښائی دوئ له دا ویل وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۲۱۱﴾ او نهٔ طاقت او نهٔ قدرت لری د راوړلو ځکه چه ملایک او لمبے داورے مانع دی له تللو اسمان ته اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ بیشکه چه دوئ له اوریدلو د کلام د ملائکو لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴿۲۱۲﴾ هرائینه منع کړے شوی دی په لمبو سره فَلَا تَدْعُ پس مهٔ بوله نهٔ مَعَ اللّٰهِ له خدائی سره اِلٰهًا اٰخَرَ بل خدای لکه چه دوئ درته وائی او که داسے دِ وکړه فَتَكُوْنَ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ﴿۲۱۳﴾ پس شے به ته له عذاب کړے شویو وَاَنْذِرْ او ویروه اے رسوله عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿۲۱۴﴾ هغه خپلوان چه ډیر نزدے دی درته له عذابه بیا پس له نزول د دے ایت رسول علیه السلام کوه صفا ته عه اُختوت او غږئے وکړه چه اے بنی عبد المطلبو! اے بنی هاشمو! اے بنی عبد منافو!

عه یعنے چه وروکړه په مونږه باندے که نږے یا اوږد مونږه له هغه څیز چه وعده کړے د د تا له مونږه سره ۱۲ عه یعنی غږ د صفا ته ۱۲

اے عباس ځما تره اے صفیے ځما توررے تۀ ل له عذابه ځان خلاص کړئ چه زۀ له تاسه هیڅ نشم دفع
کولے وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ اونښکته کۀ وزر خپل داکنایه ده له مهربانۍ یعنې تواضع اومهربانی کوه لِمَنِ
اتَّبَعَكَ هرهغه چا لره چه پیروی ئے کړیده ستا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۲۱۵﴾ له مؤمنانو څخه فَإِنْ عَصَوْكَ پس که بے فرمانی
وکړه دے خپلوانو دِ له تا اوستا متابعت ئے ونه کۀ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ پس ووایه ورته چه بیشکه زۀ بَرِیٌّ مِّمَّا
تَعْمَلُونَ ﴿۲۱۶﴾ بیزاره یم لههغه کاره چه کوئ ئے تاسه وَتَوَكَّلْ اوتوکل وکړه په تولو مهمّاتو خپلو کښ عَلَى
الْعَزِيزِ په هغه خدای چه غالب اوقادردے په قهرد اعداؤ الرَّحِيمِ ﴿۲۱۷﴾ هم مهربان اوتوانا دے په نصرت
داولیاؤ الَّذِي يَرَاكَ هغه خدائ چه وینی تا حِينَ تَقُومُ ﴿۲۱۸﴾ هغه وخت چه پاخیږے د شپے یولځے د
پاره د تهجد گذارلو وَتَقَلُّبَكَ او اوختل ستا هم وینی فِي السَّاجِدِينَ ﴿۲۱۹﴾ په د له د ساجدانو کښ یعنے په
صف د مصلیانو کښ چه امامت کوے د دوئ اوقیام رکوع سجود قومه جلسه قعده کوے ته إِنَّهُ بیشکه دے
چه دے هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿۲۲۰﴾ هم دے اوریدونکے دانا دے هَلْ أُنَبِّئُكُمْ آیا خبرکړم زۀ تاسه اے مشرکانو
عَلَىٰ مَنْ په هغه چا باندے له خلقو تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ ﴿۲۲۱﴾ راکوزیږی شیطانان بیا پخپله وائی چه تَنَزَّلُ
راکوزیږی دوئ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿۲۲۲﴾ په هر دروغژن کذاب مرتکب دګناهونو یُلْقُونَ السَّمْعَ چه
ږدی داشیطانان غوږ ملائکو داسمان ته یا دغه کذابان شیاطینو ته وَأَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ ﴿۲۲۳﴾ اوزیات
د دوئ دروغژن دی نولږ څۀ هغو واوری اونورله ځانه ورسره پیرپیوند که او بیا خپلو دوستانو ته وائی
روایت دے چه څو شاعرانو دکفارو په ذم د رسول علیه الصلوۃ والسلام اودین د اسلام څه اشعار
ویلی وو او هغه بیا مشرکانو نزے یاد کړے وو او هرچرته به ئے په مجلسونو کښ ویل نو نازل شو وَالشُّعَرَاءُ او
شاعران چه دی يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ ﴿۲۲۴﴾ پیروی کوی د دوئ لیونی کم عقل یا مشرکان یا شیندونکی داشعارو
د دوئ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ آیا نۀ وینے تۀ چه بیشکه دوئ فِي كُلِّ وَادٍ په هره کنده له انواع دکلام يَهِيمُونَ ﴿۲۲۵﴾ ځی
روان وی سرګردان په هرفن د دروغو کښ لکه افراط یا تفریط شو په مدح یا په ذم دچا کښ یا مبالغه په هجو
یا په عطا اومنع دچا کښ یا داسے نورشو وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ اوبل داچه وائی دوئ په خلے مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿۲۲۶﴾

عه یعنی په سخت کارونو خپلو کښ ۱۲ عه یعنی په بدئ د رسول علیه السلام او په بدئ د دین د اسلام کښ ۱۲ عه یعنی ویونکی
اوخوروونکی ۱۲ عه یعنی له قسمونو دخبرونو نه ۱۲ عه یعنی زیاتوالے په بدئ دچا کښ اوکمولے په صفت دچا کښ ۱۲

هغه کار چه کوی به ئے نه۔ نکه دروغ او وعده خلافی او خپل حسن او لوئی اودا سے نور هم روایت دے چه پس له نزول ددغه ایت حسان بن رواحهؓ او نورؓ شاعران د اصحابو رسول علیه السلام ته وویل چه خدائے خو مطلق شاعران یاد کړی دی او مونږ هم شاعران یو نو ویریږو چه مبادا په دے صفت مره نهٔ شو مونږه نو دهٔ ورته وویل چه مؤمن کله په توره جهاد کوی او کله په ژبه او دغه اشعار چه تاسے ئے وایئ د دوئ په هجو او په ذم کښې هغه په دوئ دیر سخت لګیږی له تورے او له نیزے او دا ایت نازل شو اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شاعران ټول مذموم دی مګر هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دوئ د نیکو یعنی چه مدح کوی د پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام د مؤمنانو او ذم کوی د کفارو وَذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا او یادوی دوئ خدائ دیر به اشعارو خپلو کښې په توحید او په تمجید او په حرص د طاعت او په منع له معصیت له غفلته وَّانْتَصَرُوْا او انتقام اخلی دوئ په هجو د کفارو سره مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا ط پس له هغه چه ظلم کړے شو بدے په دوئ یعنی چه اول کفارو هجو د رسول علیه السلام یا د مؤمنانو کړی دی او دوئ په هغه بدل کښې هجو د دوئ وکه نو دا معاف دے بلکه جهاد دے وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا او زر دے چه معلوم به کړی هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے په کفر سره اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ﴿۲۲۷﴾ چه ع ۱۵
کوم ځائی لره به لاړ شی دوئ۔

سورة النمل مکیة ۲۷ ۲۸ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ایاتها ۹۳ رکوعها ۷

طٰسٓ قف په دے کښې هم هر رنګه تاویلات کړی دی متاخرینو په مثل د نورو اینو مقطعاتو چه پورته دا دے چه طٓ له طلبه او سٓ له سلامته دے یعنی قسم کوم په طلب د سالکانو او په سلامت د زړه نو د دوئ له غیر چه تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ داسورت ایتونه د قران دی وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱﴾ او د هغه کتاب چه ښکاره کونکے دے د احکامو د حلالو او د حرامو او قران ئے وویل ورته ځکه چه لوسته شی او کتاب ځکه چه بنکل شی هُدًى وَّ بُشْرٰى دے لاره ښودونکے دے سم او زیرے کونکے دے لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲﴾ الَّذِيْنَ په هغه مؤمنانو يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ چه برپائی لری مونځ خپل یعنی ادا کوی ئے سره له ټولو حقوقو د دهٔ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ او ورکوی دوئ زکوٰة دا موالو خپلو مستحقانو له وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ او دوئ په ورځ د قیامت هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۳﴾ هم دوئ

یقین لری چه راتلونکی دے بے شبهے اِنَّ الَّذِیْنَ بیشکه هغه کسان چه دی لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه
ایمان نهٔ راوړی دوئ په ورځ دقیامت زَیَّنَّا لَهُمْ بنایسته کړی دی مونږه دوئ اَعْمَالَهُمْ عملونه ددوئ
چه بد دی فَهُمْ یَعْمَهُوْنَ ④ پس دوئ سرګردان دی په خپلے ګمراهئ کښ اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ دا هغه کسان
دی لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ چه مقرر دے دوئ لره بد ترعذاب په دنیا کښ چه قتل او بند دے په ورځ د بدر
وَهُمْ فِی الْاٰخِرَةِ او دوئ چه دی په قیامت کښ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ⑤ هم دوئ زیانکاران دی چه له
ثوابه محروم او لایق دعقوبت شو وَاِنَّكَ او بیشکه چه ته لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ هرائینه ښودلے لیږی او
تلقین کولے شی درته دا قران مِنْ لَّدُنْ حَكِیْمٍ له طرفه دهغه خدائ چه پُرحکمته دے عَلِیْمٍ ⑥ دانا
په هرڅهٔ اِذْ قَالَ یاد که هغه چه وویل مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ موسی علیه السلام عیال خپل ته په هغه لاره کښ
چه له مَدینَ مصر ته روان وو اِنِّیْٓ اٰنَسْتُ نَارًا ط بیشکه چه ما ولیدهٔ اوله لرے ځایه سَاٰتِیْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ
زر دے چه به راوړم تاسے لره حال د لارے او دا ځکه چه هغه شپه کښ لاره ترے ورکه شوے وه اَوْ اٰتِیْكُمْ یا
به راوړم تاسے لره بِشِهَابٍ قَبَسٍ لمبه لګولے د سر د پلیتے یا د لرګی لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ⑦ بنائی چه تاسے
تاوده شئ په هغه اور فَلَمَّا جَآءَهَا پس هر کله چه راغے موسیٰ علیه السلام هغه اور لره چه له ورایه ئے
لیدلے وو په شپه کښ نُوْدِیَ اَنْۢ بُوْرِكَ نو غږ وکړے شو چه برکتناك کړے شوے دے مَنْ فِی النَّارِ
هغه ځوك چه په اور کښ دی چه دا بقعه یا ملائك دی وَمَنْ حَوْلَهَا ط او هغه ځوك چه چاپیر دی له دغه
اوره چه موسیٰ علیه السلام دی وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ او وویه اے موسیٰ چه پاکی ده خدائ لره له شریکه
رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ⑧ چه رب دے دعالمیانو له شریک یٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اے موسیٰ شان دا دے چه اَنَا اللّٰهُ الْعَزِیْزُ
الْحَكِیْمُ ⑨ زهٔ یم خدائ غالب پُرحکمته وَاَلْقِ عَصَاكَ ط او وغورځوه دا همسا د په زمکه نو ده وغورځوله
او فی الحال یو لوی مار شوه او بیا له ځایه وخوځیده له په اختیا ردتګ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ پس هر کله چه ولیده
ده دا همسا چه حرکت کوی په اضطراب سره او منډے وهی هر طرف ته كَاَنَّهَا جَآنٌّ چه کویا که دا همسا
یو مار دے وړوکے جلت او بل ایت کښ دی چه اذا هی ثعبان یعنی ناګاه دے لوئ بنامار وو نو چاولی
دی چه په وخت د غورځولو کښ به جان وو او بیا روستو به ثعبان شو او چاولی دی چه دلته جان وو او
بیا فرعون مخته ثعبان شو حاصل دا چه هر کله موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام دا مار ولید وَلّٰى مُدْبِرًا نو مخ ئے

ترے وګرځولو په دے حال چه په تیخته وو له ویرے د هغهٔ وَّلَمْ يُعَقِّبْ ط او را ونهٔ ګرځیده بیرته او بیا غږ
وړے وشو چه يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ قف اے موسیٰ مهٔ ویریږه له بل هیڅ غیر له ما اِنِّىْ لَا يَخَافُ بیشکه زهٔ چه یم نهٔ
ویریږی لَدَىَّ الْمُرْسَلُوْنَ ⑩ ماته لیږلے شوی ځما اِلَّا مَنْ ظَلَمَ لیکن ویریږی هغه څوک غیر له انبیاؤ
څکه چه دوئ ظلم نهٔ کوی چه ظلم ئے کړے وی په ځان خپل یا له رسولانو چه دا سے ذلتعه ترے صادر شوے
وی چه دے پرے ماذون شوے نهٔ وی له هغه قسمه چه صدور ئے کیږی له انبیاؤ لکه له آدم او له یونس
او له داؤد او له سلیمان علیهم الصلوٰة والسلام ځنے کذا فی المدارک ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا ۲ بیا یه بدل کښ راوړی
دے نیکی یعنی توبه بَعْدَ سُوْٓءٍ پس له بدئ چه ګناه ده فَاِنِّىْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑪ پس بیشکه چه زهٔ
بخښونکے یم د توبه کونکیو مهربان یم په دوئ وَاَدْخِلْ يَدَكَ او ننه باسه لاس خپل فِىْ جَيْبِكَ په
ګریوان د قمیص خپل کښ او بیا بیرته ئے راوباسه تَخْرُجْ بَيْضَآءَ چه راووځی تک سپین ځلیدونکے
نورانی مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ قف بے علت د برګوالی پس دا دواړه معجزے چه حساب دی فِىْ تِسْعِ اٰيٰتٍ په هغه نهه
معجزو کښ چه درکړے شوی دی تالره نو لاړشه او دا یوسه اِلٰى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهٖ ط فرعون او قوم د دهٔ ته اِنَّهُمْ
كَانُوْا بیشکه دوئ چه دی دی دوئ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ⑫ دله د فاسقانو فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ پس هر کله چه راغلهٔ
فرعون او قوم د دهٔ ته یعنے ونبودلے شووے ته اٰيٰتُنَا مُبْصِرَةً معجزے ځمونږه ښکاره په ډاګ قَالُوْا هٰذَا
نو وویل فرعونیانو چه دا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ⑬ جادو دے ښکاره وَجَحَدُوْا بِهَا او منکر شو دوئ په دے
معجزو وَاسْتَيْقَنَتْهَآ او حال دا چه په یقین معلوم وے دا معجزے چه په حق دی اَنْفُسُهُمْ ځانونو
د دوئ ته اما انکار ئے کولو ظُلْمًا وَّ عُلُوًّا ط له جهته د ظلمه او د سرکشئ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ پس وګوره
چه څرنګه وه عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ⑭ آخره خاتمه د مفسدانو چه په دنیا کښ ټول غرق شو په دریاب
کښ او په آخرت کښ به په دوزخ کښ سوزی وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ او هر آئینه په تحقیق ورکړے وه مونږه
داؤد علیه السلام لره وَسُلَيْمٰنَ او سلیمان علیه السلام له چه ځوئ وو د دهٔ عِلْمًا ج پوهه په احکامو د
شریعت او په خبرو د مرغانو او د اسے نورهم وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ او دویل دوئ دواړو وچه ثنا ده هغه
خدائ لره چه فَضَّلَنَا عَلٰى كَثِيْرٍ مُوره کړے یُو دهٔ مونږه په ډیرو مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ⑮ له هغو بندګانو

عه او هغه ذلت چه له دوئ صادر شوے دے هر یو په خپل خپل قصه کښ ذکر دے ۱۲

خپلو چه مؤمنان دی وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ او میراث واخست سلیمان علیه السلام دَاوٗدَ له داود علیه
السلام نه نبوت یا علم یا بادشاهی چه دے د پلار په ځای وو ربړه ؤ غیر له نورو ځامنو ئے چه نولس وو
وَقَالَ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ او وویل سلیمان علیه السلام چه اے خلقو عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ ښودلی شوی دی
مونږ ته خبرے د مرغانو لکه چه **روایت دے** چه یو ورځ بلبلے نعرے وهلے او رقص ئے کولو
ده وویل چه دا بلبله وائی چه نن ما نیمه خُرما خوړلے ده خاورے د دنیا. او بیا کوترے غږ وکړ نو ده وویل
چه دا وائی کاشکے چه دا خلق نه وے پیدا شوے او دا سے نور ډیر حکایات کتابونو راوړی دی وَاُوْتِيْنَا او
راکړے شوید مونږ ته مِنْ كُلِّ شَيْءٍ له هغه څیز چه ورکاوه شی انبیاؤ او ملوکو ته اِنَّ هٰذَا بیشکه دا
چه دے لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ (۱۶) هرائینه فضل دے ښکاره **روایت دے** چه میدان د جمع
کیدلو د لښکر د سلیمان علیه السلام سل فرسخ اوږد او هم دا سے پلن وو او په دیو کښ بیا پنځه ویشت
فرسخه د انس او دا سے د جن او دا سے د وحوشو او دا سے د طیورو او زر ئے د ښیښو کوټے وے چه په
درے سوه کښ به ئے منکوحے او په اوه سوه کښ به ئے سرئیے وے. او جن یو بساط وله او دلے وو له ریښمو او له
سرو زرو چه یو فرسخ اوږد او همدا سے پلن وو نو دا بساط به واچولے شو او د هغه په مینځ کښ به تخت د
ده کیخودے شو چه له سرو زرو او له سپینو زرو جوړ وو نو دے به پرے کیناست او له ده تخته چاپیر به شپږ لکهه
کرسئ کانے کیخودے شوے څه له سرو د پاره د انبیاؤ او څه له سپینو د پاره د علماؤ او له دوی چاپیر به عام خلق د
انس او له هغو چاپیره د جنو او د دیوانو وو او مرغانو به پاس صفونه وتړل او زر به ئے سره او دل د پاره د سوری
کولو بیا نو امر به ئے وکړ باد ته چه دا بساط به ئے له هر څه سره پورته کړ او بیا به ئے روان کړ او د یو میاشتے
مسافت به ئے تر صبا قطع کولو او د یوے به ئے بیگا لکه چه وائی وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ او جمع کړے شو د پاره د سلیمان
علیه السلام جُنُوْدُهٗ لښکرے د ده مِنَ الْجِنِّ له پیریانو وَالْاِنْسِ وَالطَّيْرِ او له آدمیانو او له مرغانو
فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ (۱۷) پس دوی به راحصار ولے شو یعنی اول ئے د پاره د دے چه آخر ئے هم ور سره یو
ځای شی یو ورځ دا جنود له شامه رار وان شو یمن ته حَتّٰۤى اِذَاۤ اَتَوْا تر هغه پورے چه راغله دوی عَلٰى
وَادِ النَّمْلِ لا په کنده د میږیو چه په شام کښ یا په طایف کښ وو قَالَتْ نَمْلَةٌ نو وویل یوے کُډے میږئ
چه مشره وه د میږیو د هغه وادی او نوم ئے طاخیه یا منذره وو او په قدر د چرگ یا د گدے یا د لیوه به غټه

وه په هغه وخت چه لښکرے ولید له ورایه نو به هسک ځائی وخته او په زوره ئے نعرے کړے چه یَآاَیُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا اے میږیو ننوځئ یَوْل مَسٰكِنَكُمْ ځ سوړ خپلو ته لَا یَحْطِمَنَّكُمْ چه مات او چیت نهٔ کړی تاسو سُلَیْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ لا سلیمان علیه السلام او لښکرے دده وَهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ⑱ او حال دا چه دوئی به پوهـ نهٔ وی ستاسے په پائمالولو نو اواز دے میږئی باد له درے کروه مسافته د سلیمان علیه السلام په غوږ ونګولو فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا پس تبسم ئے وکهٔ په دے حال چه خندا کونکے وو مِّنْ قَوْلِهَا له گفتاره له تعجبه د زیرکئ یاد نصیحت دے میږئی نورو میږیو ته روایت دے چه سلیمان علیه السلام دا بیا را او بلله او ورته ئے وویل چه دا خرنګه چیتول ویل حُما لښکر خو ظلم نهٔ کوی او بل دا چه په هوا دے نو دے ورته وویل چه حُما غرض پائمالی د زړونو وه چه په لیدلو د دغه جاه او جلال او د دغه دبدبے به مشغول شئ او له یاد د خدائی به غافل شی بیائے پوښتنه ترے وکړه چه ستا څو مره لښکر دے؟ وویل حُما څلور زره سرکردګان دی او له هر یو سرکرده سره څلور زره نقیبان دی او له هر یو نقیب سره څلوېښت زره میږی دی بیائے ورته وویل چه دا لښکر دِ بیرون ولے نه راوکا ږے؟ نو دے ویل چه مونږ له خوئے د زمکے خ راکړے وو خو مونږه قبول نه کهٔ او زمکے لاندے پټ شو چه غیر له خدائی بل هیچوک را باندے خبر نهٔ وی بیا نو جناب د رب ته ئے خ کهٔ د پاره د ادا د شکر وَقَالَ او دا ئے وویل چه رَبِّ اَوْزِعْنِیْٓ اے ربه حُما الهام وکړه ما ته یعنی په زړهٔ کښ م دا چوه اَنْ اَشْكُرَ دا چه شکر کوم نِعْمَتَكَ الَّتِیْٓ د هغه نعمت ستا چه محض په مهربانئ خپلے سره اَنْعَمْتَ عَلَیَّ انعام کړے دے تا په ما وَعَلٰی وَالِدَیَّ او په مور او پلار حُما وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا او بل دا چه عمل کوم د نیکو هسے عمل تَرْضٰىهُ چه خوښ وے تهٔ هغه عمل وَاَدْخِلْنِیْ بِرَحْمَتِكَ او داخل کړه ما په مهربانئ خپلے سره فِیْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِیْنَ ⑲ په تولئ هغه بندګانو خپلو کښ چه نیکان دی روایت دے چه په همدغه سفر کښ یوه ورځ سلیمان علیه السلام په یو داسے ډاګ کښ وا ړول چه او به پکښ نهٔ وے بیا چه وخت د مانځه راغے او د او داسه او به پیدا نهٔ شو نو هُدهُدع ئے طلب کهٔ ځکه چه او به تر زمکے لاندے دهٔ ته به ښکاریدے نو په هر ځائے کښ چه به نژدے وے هغه ځائے به ده وخودهٔ او دیوانو به زر وکنودهٔ او او به به ئے راو ویستے نو ځکه هُدهُد لټاوو لکه چه وائی وَتَفَقَّدَ الطَّیْرَ او لټول

عه هُدهُد یعنی ملا چرګک ۱۲

ذکرہ سلیمان علیه السلام د مرغانو دپاره د هد اودے ئے پکښ بیانه موندہ فَقَالَ مَا لِيَ پس وویل دۂ چه
څهٔ چل دے په ما لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ چه نهٔ وینم زه هُد هُد په طایفه د مرغانو کښ ایا پکښ نشته
او کهٔ زهٔ ئے نهٔ وینم اَمْ كَانَ بلکه دے دا هُد هُد مِنَ الْغَآئِبِيْنَ ⑳ له پناه شویو لطایفے د مرغانو لَاُعَذِّبَنَّهٗ هر
ائینه عذاب به ورکرم زهٔ خامخا دهٔ له دپاره د تادیب چه بے اذنه ځما تللے دے عَذَابًا شَدِيْدًا عذاب سخت لکه
ایستل د بنړکو او نورو ته اچول یا غورځول میږیو ته چه خوری ئے یا اچول په قفس کښ له مخالف جنس خپل
سره اَوْ لَاَاذْبَحَنَّهٗٓ یا هر ائینه ذبح به کړم زه خامخا دے اَوْ لَيَاْتِيَنِّيْ یا به هرائینه راوړی دے خامخا ماله
بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ㉑ دلیل ښکاره په عذر خپل باندے فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيْدٍ پس د رنګ وکهٔ هُد هُد نه لرے یعنی
زر راغے او سلیمان علیه السلام عتاب ورته وکهٔ نو ده وویل چه کار پسے تللے وم سلیمان علیه السلام تے
پوښتنه وکړه چه څهٔ کار وو؟ فَقَالَ اَحَطْتُّ پس وویل ده چه احاطه وکړه ما یعنی په سراو په بیخ خبر شوم
بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ په هغه څیز چه احاطه نهٔ ده کړے تا په هغه باندے وَجِئْتُكَ او راغلے یم تا له مِنْ سَبَاٍ له ښار
د سبا څخه بِنَبَاٍ يَّقِيْنٍ ㉒ په داسے خبر چه یقین دے نو سلیمان علیه السلام پوښتنه ترے وکړه چه د
هغه ملک بادشاه څوک وو او دین د هغو څهٔ وو نو هُد هُد وویل اِنِّيْ وَجَدْتُّ امْرَاَةً بیشکه چه ما
بیا موندہ یوه ښځه تَمْلِكُهُمْ چه بادشاهی ئے کوله د دغه اهل د سبا چه نوم ئے بلقیس دے بنت سراحیل
بن مالک بن ریان او پلار ئے بادشاه وو د یمن او بے د دے لوره ئے نور اولاد نهٔ وو ځکه بادشاهی
یا دے شوه پس له پلاره وَاُوْتِيَتْ او ورکړے شوے دے دغه ښځے لره اسباب مِنْ كُلِّ شَيْءٍ له هر هغه څیزه
چه بادشاهان ورته محتاج کیږی وَّلَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ ㉓ او دے دے یو تخت ډیر لوئے چه اتیا ګزه اوږد
او اتیا پلن او اتیا هسک او له سرو زرو او له سپینو زرو ساز وو جړاؤ په ملغلرو او په سرو یاقوتو او په شنو
زبرجدو او په زمردو او څلور واړه خپے ئے هم د سرو یاقوتو او د شنو زبرجد وا و د زمردو وے او اوهٔ ئے کوټے
وے یوه له بلے د ننه او هرے کوټے له دروازه وه د ننه په بله کوټه کښ او دغه اوه واړه دروازے ئے پورے
کړے وے او د اپه او مه کوټه کښ پرته وه مګر چه کوم حاجت به وو نو به را ووته له ضروره او دا او قوم ئے ټول
مجوسیان وو چه نمر ته به ئے سجدے کولے لکه چه وائی وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا بیا موندله ما دا ښځه او قوم د دے
يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ چه سجدے کوی دوئ نمر ته مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ او

بناسته کړی دی دوئ ته شیطان اَعۡمَالَهُمۡ عملونه د دوئ چه عبادت دی د نمر او که نور قبیح عملونه دی
فَصَدَّهُمۡ عَنِ السَّبِيلِ پس حصار کړی ئے دی دوئ له سمے لارے فَهُمۡ لَا يَهۡتَدُونَ ﴿۲۴﴾ پس دوئ نشی
برابر کید لے په سمے لارے ځکه چه شیطان بنایسته کړی دی دوئ ته اَلَّا يَسۡجُدُوا دا کار چه سجده نه کا
دوئ لِلّٰهِ الَّذِي هغه خدائ ته يُخۡرِجُ الۡخَبۡءَ چه راوباسی او ښکاره کوی دے هغه پټ څیزونه او دا خبء
مصدر دے په معنیٰ د مخبوء فِي السَّمٰوٰتِ چه په آسمانونو کښ دی لکه نمر او سپوږمۍ او ستوری چه همیشه ئے
له مشرقه راوباسی او ښکاره کوی ئے او څاڅکی د باران وَالۡاَرۡضِ او چه په زمکه کښ دی لکه دا ټول انواع د
نباتاتو وَيَعۡلَمُ مَا تُخۡفُونَ او هغه خدائ چه پوهیږی په هر هغه چه پټوئ ئے تاسے په زړونو خپلو کښ
وَمَا تُعۡلِنُونَ ﴿۲۵﴾ او په هر هغه چه ښکاره کوئ ئے تاسے په ژبو خپلو اَللّٰهُ خدائ چه دے لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ
نشته لائق د عبادت هیڅوک مګر یوازے هم دے دے رَبُّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ ﴿۲۶﴾ السجدة چه پیدا کونکے دے د هغه
عرش چه ډیر لوئے دے بیا چه هُدهُد دا خبره خپله تمامه کړه قَالَ سَنَنۡظُرُ نو ووئیل سلیمان علیه السلام
زر دے چه وبه ګورو مونږه او فکر به وکړو چه اَصَدَقۡتَ آیا رښتیا وئیلی دی تا دا خبره اَمۡ كُنۡتَ او که ئے ته
مِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ ﴿۲۷﴾ له دروغ وئیونکو بیا چه سلیمان علیه السلام یو کاغذ وښکه او هُدهُد له ئے ورکه او
ور ته ئے ووئیل چه اِذۡهَبۡ بِّكِتٰبِيۡ هٰذَا یوسه دا کاغذ زما او په هغه کښ دا ښکلی وو چه من عبد الله
سلیمٰن بن داود الی بلقیس ملکة سبا بسم الله الرحمن الرحیم السلام علی من اتبع الهدیٰ اما بعد
فلا تعلوا علی واتونی مسلمین ط فَاَلۡقِهۡ اِلَيۡهِمۡ پس وې غورځوه دوئ ته یعنے بلقیس او قوم د دے ته ثُمَّ تَوَلَّ
عَنۡهُمۡ بیا ئے وجار باسه له دوئ او پټ شه تر ے فَانۡظُرۡ پس ګوره له ورایه چه مَاذَا يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۲۸﴾ څه وائی
دوئ یو بل ته سره په جواب د دغه کاغذ کښ بیا دا کاغذ هُدهُد په مخوکه واخسته او دے له راغے په هغه وخت
چه دا د ننه په او مه کوټه کښ پرته وه او دروازے ټولے پورے وے اما په دے واړو کوټو کښ روزانونه
وو یو بل سره نو دے په دغه روزانو ننوو ننوت او کاغذ ئے د دے په سینه وغورځولو نو دا په هیبت
راپاڅیده او کاغذ ئے ولیده بیا د روازوله راغله چه ټولے زنځیروے نو حیرانه شوه او اشراف خپل ئے

عه معنیٰ د اچه دا کاغذ له طرفه د بنده د خدائ نه دے چه نوم ئے سلیمان دے او ځوئ دے د داود علیهما الصلوة والسلام
طرف د بلقیس ته چه بادشاهی د سبا وطن کوی بسم الله الرحمن الرحیم ۰ سلام خدائ دی په هغه چا چه پیروی د لارے سمے کوی
او پس له دے لوئ مه کوئ په ما او راشئ ما ته مسلمانان ۱۲　　　کتبه: صادق زهیر، چپرهارے ډاکوال ۱۳۷۲/۸/۲۰

راحاضر کړه او قَالَتْ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَؤُا و ویل بلقیس چه اے اشرافو اِنِّيْٓ اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ (۲۹) بیشکه زهٔ
چه یم راغورځولے شوے دے ماته یو کاغذ عجیبه نبه چه راوړونکے ئے هم معلوم نهٔ دے او مهر هم پرے
لګیدلے دے او خواهش دملک هم پکښ نشته بلکه محض خدائ نه بلل دی نو دوئ پوښتنه ترے وکړه
چه له مهره خو به معلومه شوے وی چه له چا رالیږلے دے؟ نو دے وویل اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ بیشکه چه دا
کاغذ له سلیمان علیه السلام رالیږلے دے وَاِنَّهٗ او بیشکه چه ړغه کاغذ کښ دا لیکلی دی بِسْمِ اللّٰهِ
الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (۳۰) یعنی لیږم دا کاغذ چه مصدر دے په نامه دهغے خدائ چه روزی رسان مهربان
دے تا له او وایم درته اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ دا سے چه لوئي او کبر مه کوئ په ما باندے وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ (۳۱) ع ۲ ۱۷
او راځئ تول ما له ګردن نهاده فرمان ځما سونکی بیا هر کله چه دوئ خیران شوله ډیره تجبه چه دا سے کلام
قلیل اللفظ کثیر المعنیٰ له به څرنګه جواب بنائی او مکوت ئے وکړ نو دے بیا ورته خطاب وکړ او قَالَتْ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَؤُا
بیا وویل دے چه اے اشرافو اَفْتُوْنِيْ فِيْٓ اَمْرِيْ ځ فتویٰ او مصلحت راکړئ ما له په دے کار ځما کښ مَا
كُنْتُ نهٔ یم زهٔ قَاطِعَةً اَمْرًا فیصل کونکے دکوم کار حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ (۳۲) ترهغه پورے چه حاضر شئ تا سے
ماته یعنی بے حضوره او بے مصلحته ستا سے زهٔ هیڅ کار نهٔ کوم قَالُوْا نَحْنُ نو وویل دے اشرافو چه
مونږه اُولُوْا قُوَّةٍ هم څښتنان دقوت یو وَّاُولُوْا بَاْسٍ شَدِيْدٍ ۙ او هم څښتنان دسخت جنګ یو یعنی هرچه
مونږه یو خو هم ډیر قوت او هم شجاعت او ډیر اسباب او ډیر لښکر لرو وَّالْاَمْرُ اِلَيْكِ او هرچه کار او حکم
دے هغه مفوض دے تا ته او په لاس ستا کښ دے فَانْظُرِيْ پس وګوره ته او فکر خپل وکه مَاذَا تَاْمُرِيْنَ (۳۳) چه
څهٔ امر او حکم کوے په مونږه دجنګ او که دصلح هر یو چه وائے مونږه ئے منو قَالَتْ نو وویل دے چه جنګ
کښ خیر نشته ځکه چه اِنَّ الْمُلُوْكَ بیشکه بادشاهان چه دی اِذَا دَخَلُوْا قَرْيَةً په هغه وخت چه داخل
شی دوئ په کوم کلی او یا ښار په غلبه او په قهر سره اَفْسَدُوْهَا نو خرابه کاندی هغه قریه وَجَعَلُوْٓا او
ګرځوی دوئ اَعِزَّةَ اَهْلِهَآ اَشْرَاف او عزیزان دهغه قریے اَذِلَّةً ج خوار زار سپک بندیان بیا رب العزت
تصدیق دے او کړ چه وَكَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ (۳۴) او همدا سے کوی دا ملوک لکه بلقیس چه ویلی دی یادا مقوله
بلقیس ده چه تاکید دے دهغه پخوانی قول وَاِنِّيْ مُرْسِلَةٌ او بیشکه زهٔ لیږونکے یم دا ستاذی اِلَيْهِمْ بِهَدِيَّةٍ دوئ
ته سلیمان علیه السلام ته او قوم دده نه له پیشکشئ سره فَنٰظِرَةٌ ۢ پس بیا ګتونکے او انتظار کونکے

يم چه بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٣٥﴾ په خبر نګه حال بيرته راځي داليږلے شوى ځما يعنې كه هديه ئے قبوله
کړه نو بادشاه دے په دولت به ئے دَ لا سه کړم او كهٔ قبول ئے نهٔ کړهٔ نو پيغمبر دے شاخ جنګی ورسره پکار نه ده
روایت دے چه بلقيس يوله اکابرو دقوم چه نوم ئے منذر بن عمرو وو سليمان عليه السلام لره
وليږهٔ سره له ډيرو خلقو او لهدوئ سره ئے وليږل پنځه سوه مريونه په لباس دښځو او پنځه سوه وينزے په
لباس د سړيو او زر خښتے د سرو زرو او يو تاج جړاو کړے په مرغلرو او په ياقوتو او يو ډبلے چه پکښې يوه
مرغلره وه ناسوراخ او يوه خرمهره وه چه سورے ئے کوږ وو او څهٔ مقدار مشک او عنبر او نور ډير قيمت بها
نفيس څيزونه وو او يو كاغذ چه دا ټول پکښې اچولى وو او منذر ته ئے وويل چه اول ورغلے نو ورته وګوره کهٔ
په غضب ئے درته وکتل نو بادشاه دے او كهٔ په پرانستى وچولى ئے وکتل نو پيغمبر دے بيا دا كاغذ وله ورکه
او ورته ووايه چه دا زنانه دى ډيو کښې نرا و ښځے سره بيل كه او دا مرغلره سورئ کړه او دے خرمهره کښې تار
واچوه بيا چه دا ايلچيان روان شو نو هُدهُد ترے نړے په جلتئ دا خبر سليمان عليه السلام له راوړ
او دهٔ ديوانو ته حکم وکهٔ چه او ه فرسخه دا يلچيا نو په لاره کښې خښتے د سرو زرو او د سپينو وغوړوئ او ترے
چاپيره د سرو او د سپينو قلا وکړئ او بيا په ورځے د راتلو دا يلچيانو په اقسامو مرکبونه هم برى او هم بحرى چاپير
له دغه ميدان ئے قطار و درول او دے په تخت کيناست او چاپيره ئے ترے کرسئ کانے کيخودے او ديوان او
آدميان او وحوش او طيور په فراسخو ترچاپيره صفونه تړلى په ادب ودريدل بيا چه ايلچيان د خښتو حد
له راغلهٔ او چارپايانو د مرکبو بوئے په خښتو تړلى ولاړ وليدل چه خرشنه او بول ئے پرے کول نو په دغو خپلو
هديو ډير شرمنده شول بيا چه منذر مجلس ته راحاضر شول نو ډير دارمدار ئے ورسره وکړ بيا چه کاغذ
ئے ورلره ورکهٔ او هغهٔ ولوست نو ډبلے ئے ترے مطلب کهٔ او مرغلره ئے ترے راوويسته او وَيْنِې ته ئے کيخوده
چه ئے سورئ کړه او خرمهره ئے يو سپين چينجى ته کيخوده نو تار ئے په خوله کښې ونيوهٔ او په سورى کښې تير شو بيا اوبهٔ
ئے راوغوښتلے او هغه وينزو او مريونو ته ئے وويل چه مخونه و وينځئ چه د لارے ګرد درځنه لاړ شى نو مريونو
به اوبهٔ واخستے په لاس کښې او دواړه به ئے مخ ته واچولے او وينزو به په يو لاس کښې او بيا له هغه به ئے
په بل لاس واچولے نو پس له هغه به ئے مخ ته واچولے نو په دغه حکمت ئے نرا و ښځے سره بيل کړه او
هديے ئے ټولے بيرته ورکړے لکه چه وائی فَلَمَّا جَآءَ پس هر کله چه راغے استازے دبلقيس سره له

هد ئے او تابعانو خپلو سُلَيْمٰنَ سليمان عليه السلام لره او هديه ئے ورته کیخوده قَالَ نو وویل ورته دهٔ -
اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ ز ایا مددګاری کوئ تاسے له ما سره په دے مال فَمَآ اٰتٰىنِ ۦَ اللّٰهُ پس هغه څیز چه راکړیدے
ماله خدائ چه نبوت او علم او بادشاهی ده خَيْرٌ مِّمَّآ اٰتٰىكُمْ ۚ ډیر غوره دے له هغه څیز چه درکړے ئے
بے تاسے لره چه مال متاع د دنیا دی بَلْ اَنْتُمْ بلکه تاسے بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ (۳۶) په دے هد ئے خپلے خوشحالیږئ
چه فخر کوئ په مال او متاع د دنیا اے استاذی د بلقیس اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ بیرته ورشه دوئ لره یعنې بلقیس او
قوم ته ئے او ورته ووایه چه رادِ شی بتول کردن نهاده او که رانغلهٔ دوئ فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ پس هراٰئینه دابه ولو
مونږ خامخا دوئ لره بِجُنُوْدٍ د اسے لښکرے چه له جهته د ډیروالی او قوته لَّا قِبَلَ نهٔ وی هیڅ طاقت د مقاومت
لَهُمْ بِهَا دوئ لره له هغه لښکرو سره وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ او هراٰئینه وبه باسو او وبه شړو مونږ خامخا دوئ
مِّنْهَآ اَذِلَّةً له کښاره د سبا څخه په دے حال چه بے عزته او بے حرمته به وی وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ (۳۷) او حال دا
چه دوئ به خوار او خسته وی بیا نو منذر له هد ئے سره بیرته راغے او دا حال ئے بلقیس ته ووایهٔ نو دے اراده
وکړه د راتلو او تخت خپل ئے کیخوده د ننه له هغه اوو کوټو چه د ننه وے د اکوټے له هغه قصره چه داخل
وه هغه له اوو قصرو څخه او دروازے ئے ورپسے قلف کړے او کلیګانے ئے له ځان سره واخستے او څوکیداران
ئے پرے ودرول او دا روانه شوه له دولسو زرو سردارانو سره چه له هر یو سره په زرګونو خلق وو بیا چه یو
فرسخ رانږدے شوه او دے په دے خبر شو قَالَ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا او وویل ده اے ټولیه د مشرانو اَيُّكُمْ يَاْتِيْنِيْ کوم یو له
تاسے به راوړی ماله بِعَرْشِهَا تخت د دے قَبْلَ اَنْ یخواله هغه يَّاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ (۳۸) چه راځی دوی ماله
کردن نهاده چه وګوری معجزه یا پس له اسلام به ئے اخستل د مال منع وی یا چه څهٔ تغیر کینی وکړو
چه عقل ئے معلوم کړو او دا څکه چه جنو ورته ویلی وو چه په عقل کښی ئے نقصان دے او دواړه پندۍ
ئے ببرے دی په ویښتو او خپے ئے د خرهٔ په شان دی چه کوتے نه لری قَالَ عِفْرِيْتٌ نو وویل یو خبیث سرکش
سخت قوی مِّنَ الْجِنِّ له قومه د پیریانو چه نوم ئے زکوان وو اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ چه زهٔ به راوړم تا لره دا تخت
قَبْلَ اَنْ تَقُوْمَ یخواله هغه چه پا څیږے ته مِنْ مَّقَامِكَ ۚ له دغه ځایه خپله یعنې له دے مجلس د حکومت او
عادت دهٔ داسے وو چه ترغرمے پورے به ناست وو وَاِنِّيْ عَلَيْهِ او بیشکه چه زه به راوړلو د دے تخت لَقَوِيٌّ
اَمِيْنٌ (۳۹) هراٰئینه قوی امانتګریم یعنې هم ئے په بنه وجه راوړے شم او هم خیانت به نهٔ کوم او په تا

به ئے سلامت وسپارم بیا سلیمان علیه السلام وویل چه له دے جلد راوړونکے غواړم قَالَ الَّذِیْ نو وویل
هغه سړی عِنْدَهٗ عِلْمٌ چه ده څخه پوهه وه مِنَ الْکِتٰبِ له کتاب منزل یعنی اسم اعظم ئے ترے یاد کړے وو
چه هغه اصف بن برخیا وو وزیر دده اَنَا اٰتِیْکَ بِهٖ زهٔ به راوړم تا له دا تخت قَبْلَ اَنْ یَّرْتَدَّ مخکښے له هغه چه
بیا راګرځی اِلَیْکَ طَرْفُکَ ط تا ته سترګه ستا یعنی چه تهٔ نظر خپل کوم څیز ته واړوے او بیا ترے نظر بیرته
راتولوے ما به بیا حاضر کړے وی درته نو سلیمان علیه السلام اجازه ورته وکړه او دے په سجده پریوت
او اسم اعظم ئے ولوست او سوال ئے وکړ خدائے ته نو تخت سلیمان علیه السلام څخه حاضر شو
په دے شان چه هلته په زمکه کښې ډوب شو او دلته دده په مجلس ښکاره شو په قدرت د
خدائ په یو طرفة العین کښې فَلَمَّا رَاٰهُ پس هرکله چه ولیدهٔ دهٔ دا تخت مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قرارا
پروت ده څخه قَالَ هٰذَا نو وویل دهٔ دا کرامت چه دے مِنْ فَضْلِ رَبِّیْ ﵻ له فضل د رب زما دے لِیَبْلُوَنِیْٓ
دپاره دد ے چه وازمائی ما په مثل دد ے کراماتو چه ءَاَشْکُرُ ایا شکر کوم زهٔ د نعمتونو دده اَمْ اَکْفُرُ ط
او کهٔ بے شکری او کفران کوم زهٔ وَمَنْ شَکَرَ او هر څوک چه شکر کوی په نعمتونو د خدائ فَاِنَّمَا یَشْکُرُ پس
بیشکه همدا خبره ده چه شکر کوی دے لِنَفْسِهٖ ج دپاره دځان خپل ځکه چه شکر موجب دے د دوام او د
زیادت دد ے نعمت وَمَنْ کَفَرَ او هر څوک چه بے قدری او کفران کوی فَاِنَّ رَبِّیْ پس بیشکه چه رب زما
غَنِیٌّ بے پروا دے له شکر گذاری او له کفرانه د خلقو کَرِیْمٌ ﴿۴۰﴾ خښتن دے د سخاوت په مستحقانو د انعام
قَالَ نَکِّرُوْا بیا وویل سلیمان علیه السلام چه نا اشنا کړئ یعنی په بل شان کړئ لَهَا عَرْشَهَا دے لره
تخت دد ے چه تغیر د شکل او د ډول دده سره دا سے چه وے وینې نو نا اشنا پرے ونګیری نَنْظُرْ اَتَهْتَدِیْٓ
چه وګورو مونږه پس له پوښتیدلو دد ے چه ایا لاره مومی معرفت د تخت خپل اَمْ تَکُوْنُ او کهٔ کیږی
دا مِنَ الَّذِیْنَ له هغه کسانو لَا یَهْتَدُوْنَ ﴿۴۱﴾ چه لاره نهٔ مومی معرفت د اشیاؤ ته فَلَمَّا جَآءَتْ پس هر کله چه
راغله بلقیس سلیمان علیه السلام لره او خپل تخت ئے ولید چه ورڅخه پروت وو قِیْلَ نو وویلے شو د
ته چه اَهٰکَذَا عَرْشُکِ ط ایا همد اسے دے تخت ستا قَالَتْ نو وویل دے کَاَنَّهٗ هُوَ ج چه ګویا هم د
دے او دے ته خو په واقعه کښې ښه معلومه شوه چه دا هم هغه ځما تخت دے اما لکمال عقل تشبیه
ورکه لکه چه دوئ تشبیه ورکړے وه د پاره د موافقت د جواب له سوال سره او کهٔ دوئ تشبیه نهٔ و

هغه دی بیا دے ووئیل هُوهم چه ووبلی به دے نو دے تخت استا دا چه وے ویلے ئے او داسے کړے ورکړے
وَ اُوتِيْنَا الْعِلْمَ او راکړے شوے وو مونږ لره علم په کمال دقدرت الٰهی او په نبوت دسلیمان علیه السلام مِنْ
قَبْلِهَا مخواله دے معجزے وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ ﴿۴۲﴾ او وو مونږه کردن نهاده حکم ده ته وَصَدَّهَا او حصاره
کړے وه له عبادته دخدائ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ هغه څیز چه وه دا چه عبادت ئے کاوه دهغه څیز چه هغه
نمر وو مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ط غیرله خدائ اِنَّهَا كَانَتْ بیشکه چه داوه مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿۴۳﴾ له هغه قوم چه
کافران وو **روایت دے** چه سلیمان علیه السلام امر وکړ چه ما لره یوه بنګله سازه کړئ او چاپیره
ترے دا سے بنیښه کاری وکړی چه لاندے ترے اوبه وی او په هغه او بوکښ بیاغټ غټ ماهیان واچوئ
چه پنډی اوخپے دبلقیس وګورو لکه چه وائی قِيْلَ لَهَا و یلے شو بلقیس ته ادْخُلِي الصَّرْحَ ج چه ورځه دننه
دے بنګلے ته فَلَمَّا رَاَتْهُ پس هرکله چه ولیدله دے دا بنیښه چاپیره له بنګلے او دا ماهیان ترے لاندے حَسِبَتْهُ
لُجَّةً نو ګمان ئے وکړو پرے داوبو ناپایاوه وَ كَشَفَتْ او پورته ئے کړه جامه خپله عَنْ سَاقَيْهَا له دواړو پنډو خپلو
او وے لیدل قدمونه او پنډئ ددے چه ډیر بنایسته وو قَالَ اِنَّهٗ نو وو یل سلیمان ع چه بیشکه دا چه ته ګمان
داوبو پرے کوے صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ دا بنګله ده او چاپیر ترمیدان دے هوار صاف ځلیدونکے ساز شوے
مِّنْ قَوَارِيْرَ ط له بنیښو قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ نو وو یل دے چه اے ربه ځما بیشکه زه چه یم ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظلم کړے
دے ما په خپل ځان په عبادت د نمر سره یا په بدګمانئ سره په سلیمان علیه الصلوٰة والسلام دعزقولو ځما په
دے کرداب کښې وَاَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمٰنَ او ایمان راوړے دے اوکردن ا یښے دے ما سره له لسلیمان
علیه السلام لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۴﴾ خدائ ته چه رب دے دتمام عالمیانو وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ او هر ع ۳ ۱۸
اُئینه په تحقیق لیږلے وو مونږه اِلٰى ثَمُوْدَ قبیلے د ثمود ته اَخَاهُمْ صٰلِحًا ورور ددوی چه صالح علیه
الصلوٰة والسلام وو چه وو ایه دوئ ته اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ دا چه عبادت کوئ دخدائ یوالے فَاِذَاهُمْ
پس ناڅاپه دوئ چه وو فَرِيْقٰنِ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۵﴾ دوه فرقے وو مؤمنان او کافران چه سره په
جنګ او په خصومت شو یو له بله سره او باقی حال ئے په سورة اعراف کښې تیر دے بیا دوئ ورته
ووئیل چه اے صالحؑ را وړه هغه عذاب چه مونږه دې پرے ویرولو قَالَ يٰقَوْمِ نو وو یل ده چه اے قومه
ځما لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ ولے جلتی کوئ بِالسَّيِّئَةِ په بدئ یعنی په نزول دعذاب قَبْلَ الْحَسَنَةِ ج مخواله نیکئ

یعنې له توبې اوداځکه چه دوئ به ویل چه مونږه ولید نو توبه به وباسونو دهٔ ورته وویل لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُوۡنَ
اللّٰهَ ولې بخښنه نه غواړئ له خدائ په ایمان او په توبې سره لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ (۴۶) بنائ چه په تاسې رحم
وکړے شي اوعذاب درلره رانه شي قَالُوا اطَّيَّرۡنَا بیا وویل ورته دوئ چه بد فالي نیولے ده مونږه په تا وَبِمَنۡ
مَّعَكَ ط او په هغه چا چه لتا سره دی له مؤمنانو ځکه چه هرکله تا دعوت بنا کړ او بل دین دې ښکاره کړ نو په مونږه
سختي او محنت راغے او سره تار به تار شو قَالَ طٰٓئِرُكُمۡ نو وویل ده چه فال ستاسې دخیر دے اوکهٔ د شر عِنۡدَ اللّٰهِ
هغه خدائ ته دے یعني سختي او محنت ستاسې د خدائ په حکم دے نه زما په دعوت بَلۡ اَنۡتُمۡ بلکه تاسې چه یئ
قَوۡمٌ تُفۡتَنُوۡنَ (۴۷) یو داسې قوم یئ چه ازما یلے کیږئ کله په دولت کله په محنت کله په سختئ کله په اسانئ وَ
كَانَ فِي الۡمَدِيۡنَةِ او وو په دے ښار د ثمود کښې چه حجر دے تِسۡعَةُ رَهۡطٍ نهه سړي له اشرافو د قوم چه مشر
ئې قذار بن سالف وو او سعی په حلالولو د اوښه کښې هم دوئ کړے وه يُّفۡسِدُوۡنَ فِي الۡاَرۡضِ چه فساد به ئے
کولو په زمکه د حجر کښې په کفر او په معاصیو سره وَلَا يُصۡلِحُوۡنَ (۴۸) او صلاحیت به ئے نه کولو په طاعت
قَالُوۡا وویل دوئ بوه ورځ یو بل ته تَقَاسَمُوۡا بِاللّٰهِ او حال دا چه سوګند ئے سره وکړ په خدائ په دے کار
لَنُبَيِّتَنَّهٗ هرائينه شبخون به کړو مونږ خامخا په صالح علیه السلام وَاَهۡلَهٗ او په عیال د دهٔ او په هغه
چا چه ایمان ئے پرے راوړیدے یعني د شپې به ئے مړکړو ثُمَّ لَنَقُوۡلَنَّ بیا هرائینه وبه وایو مونږه خامخا
لِوَلِيِّهٖ هغه ولي د دهٔ نه چه طلبګار ئے د خون وی کهٔ پوښتنه راځنه وکړي چه صالح علیه السلام چا وژلے
دے؟ نو ورته به وو ایو چه مَا شَهِدۡنَا نهٔ وو حاضر مونږه مَهۡلِكَ اَهۡلِهٖ په ځائ د هلاک د عیال د دهٔ
کښې نو مونږه هیڅ خبر نهٔ یو چه دے چا وژلے دے؟ وَاِنَّا لَصٰدِقُوۡنَ (۴۹) او بیشکه چه مونږه به هرائینه
په دغه کښې رښتیني او سو ځکه چه مونږه خو به مباشران بو او حاضر خو غیر دے له مباشره وَمَكَرُوۡا مَكۡرًا
او فریب وکړو دوئ په فریب کولو سره داسې چه صالح علیه السلام او عیال به ئے مړکړو او ولي ته به
ئے وو ایو چه مونږه ترے خبر نهٔ یو وَمَكَرۡنَا مَكۡرًا او جزا د فریب ورکړه مونږه هم دوئ لره په جزا ورکولو
سره د دے چه عقوبت پرے جلت مونږه راوست وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ (۵۰) او حال دا چه دوئ په دے آګاه نهٔ وو
روایت دے چه صالح علیه السلام به په یو غار کښې د شپے مونځ کولو نو دوی سره وویل چه دهٔ
مونږه ته د هلاک درے ورځے وعده ایښے ده نو راځئ چه مونږه دے ترے پخوا هلاک کړو نو د شپے

لاړه او غار کښې پټ شو چه دے راشي او مړے کړو نو له پاسه يوه لويه تيږه پرېوته خداى راخطا کړه او نور
هلاک شو فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ پس وګوره چه څرنګه وو عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ لا اخرکار دفريب ددوى اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ چه
بيشکه موږ هلاک کړه دغه نهه واړه په غارکښې وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۱﴾ او باقي قوم ددوى هم په اواز دجبرائيل
عليه السلام سره فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ پس دادي کورونه ددوى کورى خَاوِيَةًۢ بِمَا ظَلَمُوْا په دے حال چه خراب او
خالي پرانه دي په سبب ددے چه ظلم يعنى شرک کولو دوى اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بيشکه چه په دے عذاب د
ثمود کښې لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۵۲﴾ هرآئينه ډيره لويه نښه ده دپاره دعبرت هغه قوم لره چه پوهيږى په خير
او شرخپل او پند پرے اخلي وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او وساتل موږ له دے عذابه هغه کسان چه ايمان
ئے راوړے وو وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۳﴾ او وو دوى چه پرهيز به ئے کولو له کفره او له معاصيو وَلُوْطًا او ياده کړه قصه
د لوط بن هاران عليه السلام اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ هغه چه ووئيل دهٔ قوم خپل ته اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ايا راځئ
يعنى کوئ تاسو بد کار چه لواطت دے وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۴﴾ او حال دا چه تاسو پوهيږئ په دے چه دا بدکار
دے يا وينئ سره يو بل يعنى ښکاره په مجلس کښې کوئ اَئِنَّكُمْ ايا تاسو چه يئ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ هرآئينه
راځئ سړيو لره شَهْوَةً له جهته د شهوت ته مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ط غير له ښځو چه پيدا دى دپاره ددفع دشهوت دى
بَلْ اَنْتُمْ بلکه تاسو قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۵۵﴾ يو قوم ئے ناپوهه په عاقبت دکار خپل نه پوهيږئ فَمَا كَانَ پس نهٔ
وو جَوَابَ قَوْمِهٖٓ جواب د قوم دده اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا مګر دا به وو چه به وئيل دوى يو بل ته اَخْرِجُوْٓا اٰلَ لُوْطٍ چه
وباسئ او وشړئ خپلخانه د لوط عليه السلام مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ج له دے ښاره خپله چه سدوم دے اِنَّهُمْ
اُنَاسٌ بيشکه چه دوى داسے سړى دى يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿۵۶﴾ چه ځان پاک ساتي له لواطت څخه فَاَنْجَيْنٰهُ وَ
اَهْلَهٗٓ پس وساته موږ هم دے او هم عيال دده اِلَّا امْرَاَتَهٗ مګر ښځه دده چه قَدَّرْنٰهَا ګرځولے وه
موږ دا په تقدير ازلي خپل مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ له باقي پاتے کيدونکيو په عذاب کښې وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ
او ووراوهٔ موږ په دوى مَّطَرًا ج باران د تيږو فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ع ﴿۵۸﴾ پس بد وو باران د ويرولے
شويو په عذاب سره قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ و وايه اے رسوله چه ثنا ده خداى لره په هلاک د تيرو کفارو وَسَلٰمٌ
عَلٰى عِبَادِهِ او سلام دے وى په بندګانو دده الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ط هغه بندګان چه غوره کړى دى خداى دوى
په درست مخلوق او په خپل عصمت ئے ساتلي دى له فواحشو آٰللّٰهُ خَيْرٌ ايا خداى غوره دے اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اوکهٔ هغه بتان غوره دی چه د کفارو له خدائ سره شریکان بولی
اوکهٔ هغه ځوك غوره دے چه پیدا کړی دی دهٔ اسمانونه او زمکه وَاَنْزَلَ لَكُمْ او رالېږلے کړی دی ده ستاسے
دپاره مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ج له طرفه د اسمانه اوبهٔ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ پس زرغونه کړه مونږه په دغه اوبو سره حَدَآئِقَ
ذَاتَ بَهْجَةٍ ج باغونه ښېستنان د تازګی او د بناشت مَا كَانَ لَكُمْ نه دے کیدونکے له تاسے اَنْ تُنْۢبِتُوْا داکا
چه زرغونے کړئ تاسے شَجَرَهَا ط وَنے د هغه باغونو ءَ اِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنی
نشته بَلْ هُمْ بلکه دا مشرکان چه دی قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ط (۶۰) یو داسے ټولے دے چه څنګ کوی له توحید ۞ اَمَّنْ
جَعَلَ الْاَرْضَ اوکهٔ هغه ځوك غوره دی چه ګرځولے ده دهٔ زمکه قَرَارًا قرارګاه او ارامګاه دادمیانو او د
چارپایانو وَجَعَلَ خِلٰلَهَآ اوګرځولی دی ده په مینځ د دغه زمکه کښ اَنْهٰرًا سیند ونه رودونه ولے داوبو
وَّجَعَلَ لَهَا اوګرځولی دی دهٔ دغه زمکے لره رَوَاسِيَ میخونه چه غرونه دی لوئ هسك دپاره د دے چه زمکه
پرے ټلکه شی اونهٔ خوځیږی او کانونه او اوبه ترے راووځی تاسے لره وَجَعَلَ اوګرځولے ده دهٔ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ
په مابین د دوو سیندونو کښ چه یو ترے خوږ دے او بل تریو حَاجِزًا ط پرده چه یو له بله سره خلط نشی ءَ اِلٰهٌ
مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنی نشته بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه زیات د دے مشرکانو لَا يَعْلَمُوْنَ ط (۶۱)
نهٔ پوهیږی په لارے د توحید ځکه ایمان نهٔ راوړی اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اوکهٔ ځوك غوره دے چه سوال
قبلوی د عاجز اِذَا دَعَاهُ په هغه وخت چه وبولی دے هغه وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ او لرے کوی دے هغه سختی چه دا
مضطر ئے خفه کړے وی وَيَجْعَلُكُمْ اوګرځوی دے تاسے خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ط خلیفګان په زمکه کښ په
ځائ د تیرو خلقو ءَ اِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنے نهٔ شته قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ (۶۲)
لږ یئ هغه چه پند اخلئ یا چه خدائ یادوئ یا له سره ئے نهٔ یادوئ او عبادت د بتانو کوئ اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ اوکهٔ
هغه ځوك غوره دے چه لاره ښائی تاسے ته په ستورو سره چه کوم مطلب یے حئ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ په
تاریکیو د بیابان او د سیند کښ وَمَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ او هغه ځوك چه رالیږی بادونه بُشْرًاۢ زیری کونکی
بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ط مخکښ د رحمت خپل یعنی مخواله بارانه ءَ اِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ
سره یعنی نشته تَعٰلَى اللّٰهُ لوئ دے خدائ او بلند شان دے عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ط (۶۳) له هغه چه شریک پیدا
کوی ورسره دا مشرکان اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ اوکهٔ هغه ځوك غوره دے چه اغاز کوی اول د پیدا کولو او

مخلوق له نطفې په ارحامو کښې ثُمَّ يُعِيدُهٗ او بیا به ئې ژوندی کوی پس له مرګه په قیامت وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ
او هغه څوک چه روزی درکوی تاسې لره مِّنَ السَّمَآءِ له اسمانه په باران وَالْاَرْضِ ط او له زمکې پیدا غونو لود نباتاتو
سره ءَ اِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنې نشته بل هیڅوک دا سې چه دغه کارونه کولے شی غیر له
خدائ او سره له دغه دلیلونو چه دوئ شریکان ورسره پید اکوی نو قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ و وایه ورته اے
رسوله چه راوړی حجت او دلیل خپل په دے چه غیر له دهٔ بل څوک هم قادر دے په دے کارونو کولو اِنْ كُنْتُمْ
صٰدِقِيْنَ (۶۴) کهٔ چرے یئ تاسې رشتینی په دے دعوی کښې او دا استفهام په دے بیرته پنځه اَمَّنْ کښې
تقدیری دے یعنې هم دے غوره دے روایت دے چه سوال وکهٔ مشرکانو له وخته د ظهور د قیامت
له رسول الله صلی الله علیه وسلم نو نازل شو قُلْ لَّا يَعْلَمُ و وایه دوئ ته چه نهٔ پوهیږی مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ هغه څوک چه په اسمانونو کښې دی او په زمکه کښې دی کهٔ ملائک دی او کهٔ ادمیان دی الْغَيْبَ په هر
هغه څیز چه پټ او پناه وی ترے اِلَّا اللّٰهُ ط لیکن خدائ پرے پوهیږی وَمَا يَشْعُرُوْنَ او نهٔ پوهیږی دا کفا
اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ (۶۵) چه کله به بیا ژوندی کړے شی دوئ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ ایا رسیدلے دهٔ پوهه د دوئ
او دا حکه چه دا بَلْ په معنیٰ د هَلْ دے یعنې استفهام دے انکاری فِي الْاٰخِرَةِ قف په باب د قیامت کښې چه
به راشی څکه چه پوښتنه کوی چه کله به وی یعنې پوهه ئې نهٔ ده رسیدلے بَلْ هُمْ بلکه دوئ چه دی
فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا قف په ګمان کښې دی له قیامته یعنې له راتلوئې بَلْ هُمْ بلکه دوئ مِّنْهَا عَمُوْنَ (۶۶) له دغه ع ۵ ۸
قیامت راندہ دی د زړهٔ په سترګو چه فکر نهٔ شی کولے په دلیلونو د وقوع د قیامت کښې وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا
او وائی هغه کسان چه کافر دی او د زړه سترګے ئې ړندے دی ءَ اِذَا كُنَّا تُرٰبًا ایا په هغه وخت چه شو
مونږه خاورے وَّاٰبَآؤُنَآ او پلرونه ځمونږه هم چه خاورے شوی دی اَئِنَّا لَمُخْرَجُوْنَ (۶۷) ایا بیشکه
مونږه به هرائینه راایستے شوی به او سوله قبرونو او بیا به ژوندی کړے شو لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا هرائینه
په تحقیق وعده کړے شوے ده له مونږه سره د دے قیامت نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هم له مونږه سره او له پلرونو
ځمونږه سره مِنْ قَبْلُ لا پخوا له وعدے د محمد صلی الله علیه وسلم یعنې پخوانورو انبیاؤ به هم دا وعدے د قیامت
کولے او تر اوسه پورے هیڅ ترے معلوم نهٔ شول اِنْ هٰذَآ نهٔ دی دا خبرے او دا وعدے اِلَّآ اَسَاطِيْرُ
الْاَوَّلِيْنَ (۶۸) مګر قصے دی بے فائدے د پخوانیو خلقو قُلْ سِيْرُوْا و وایه ورته اے رسوله چه ځئ وګرځئ

فِی الْاَرْضِ په زمکه د تکذیب کوونکو کښې لکه حجر او احقاف او مؤتفکات او داسې نور د پر شول فَانْظُرُوْا کَیْفَ
کَانَ پس وګورئ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِیْنَ (۶۹) اخر کار د مجرمانو یعنې د کافرانو وَلَا تَحْزَنْ عَلَیْهِمْ او
مه کوه خفګان اے رسوله! په دوئ وَلَا تَکُنْ او مه اوسه فِیْ ضَیْقٍ په تنګدلۍ کښې مِمَّا یَمْکُرُوْنَ (۷۰) له هغه چه
مکر کوی دوئ ستا په باب کښې ځکه چه په عصمت ځما کښې ئے وَیَقُوْلُوْنَ او وائی دا کفار مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ چه
کله به وی دا وعده د نزول د عذاب اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ (۷۱) که چرے یئ تاسې رشتینی په دے کښې چه دا عذاب
راتلونکے دے په مکذبانو قُلْ عَسٰٓی اَنْ یَّکُوْنَ ووایه ورته چه نزدے ده دا خبره چه وی به حکم د خدائ رَدِفَ
لَکُمْ پیوست په تاسې پسې او دا لام زائده دے بَعْضُ الَّذِیْ بعض له هغه عذاب تَسْتَعْجِلُوْنَ (۷۲) چه په
جلتئ ئے غواړئ تاسې او هغه عذاب وو د ورځے د بدر یا قحط وو او وه کاله وَاِنَّ رَبَّکَ او بیشکه رب ستا
چه دے لَذُوْ فَضْلٍ هرائینه څښتن د فضل او د مهربانۍ دے عَلَی النَّاسِ په خلقو باندے چه په ګناهونو
ئے جلت نهٔ نیسی وَلٰکِنَّ اَکْثَرَهُمْ او لیکن زیات د دوئ چه دی لَا یَشْکُرُوْنَ (۷۳) شکر نهٔ کوی په دے نعمت
وَاِنَّ رَبَّکَ او بیشکه رب ستا چه دے لَیَعْلَمُ مَا هرائینه پوهیږی په هر هغه څیز تُکِنُّ صُدُوْرُهُمْ چه پټوی
ئے زړونه د دے کفارو له بغضه او له حسده او له حقده په تا باندے وَمَا یُعْلِنُوْنَ (۷۴) او په هر هغه چه
ښکاره کوی ئے دوئ له تکذیبه او له عداوته ستا وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ او نشته هیڅ پټ او پنا له حوادثو فِی
السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ چه په اسمان کښې او په زمکه کښې وی اِلَّا فِیْ کِتٰبٍ مُّبِیْنٍ (۷۵) مګر چه هغه ټول لیکلے
پروت دے په ښکاره کتاب کښې چه لوح محفوظ دے اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ بیشکه دا قران چه دے یَقُصُّ قصه
کوی یعنې لولی عَلٰی بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ په بنی اسرائیلو اَکْثَرَ الَّذِیْ زیات د هغه څیز هُمْ فِیْهِ یَخْتَلِفُوْنَ (۷۶)
چه دوئ په هغه څیز کښې سره اختلاف کوی وَاِنَّهٗ لَهُدًی او بیشکه دا قران هرائینه راهنما ئے دے د
ګمراهانو وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ (۷۷) او رحمت د پاره د مؤمنانو چه له عذابه ئے خلاصوی اِنَّ رَبَّکَ بیشکه رب ستا
چه دے یَقْضِیْ بَیْنَهُمْ فیصله به وکه په مابین د دے بنی اسرائیلو کښې په ورځ د قیامت بِحُکْمِهٖ ج په حکم
خپل سره وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْعَلِیْمُ (۷۸) او دے غالب دانا دے نو نه د ده حکم څوک رد ولے شی او نه دے په
خطا حکم کوی فَتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ ط پس توکل د کړه خاص په خدائ او له عداوته د معاندانو مهٔ ویریږه اِنَّکَ
عَلَی الْحَقِّ الْمُبِیْنِ (۷۹) بیشکه چه ته په ښکاره حق ولاړ یې اِنَّکَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰی بیشکه چه ته نشې اورولے

خبره مړیو ته وَلَا تُسۡمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ او هم دا سے نه شے اور ولے کنړو ته اواز دنعرو اِذَا وَلَّوۡا مُدۡبِرِيۡنَ ﴿۸۰﴾
په هغه وخت چه بیرته وګرځي دوئ په دے حال چه شا کوونکي وي وَمَآ اَنۡتَ او نهٔ ئے ته بِهٰدِی الۡعُمۡیِ لاره خودونکے
ړندو ته عَنۡ ضَلٰلَتِهِمۡ له ګمراهئ خپلے حاصل دا چه دغه کفار هم دمړیو په شان دی چه په پند نفع
نهٔ شی اخستلے او هم دکنړو په شان دی چه دنعرو په اواز له خپلے لارے بیرته نهٔ شی راګرځیدے نو ته دوئ نه
لارے ته راوستلے شے او نه ورته خهٔ او رولے شے اِنۡ تُسۡمِعُ نهٔ اورے ته پند او نصیحت خپل اِلَّا مَنۡ مګر
هغه چا ته یُّؤۡمِنُ بِاٰیٰتِنَا چه ایمان راوړی په ایتونو زمونږه فَهُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴿۸۱﴾ پس دغه کسان ګردن نهاده
دی فرمان ته او مخلصان هم دی په توحید سره وَاِذَا وَقَعَ الۡقَوۡلُ او په هغه وخت چه نزدے شو
وقوع دقیامت او دعذاب عَلَیۡهِمۡ په دے ادمیانو یعنی هرکله چه قیامت بندهٔ رانزدے شو او امر معروف
او نهی منکر بهٔ موقوف شو او دروازے د توبے پورے شوے او نښے دقیامت ځ په ظهور شوے چه یو نږ
داده چه وائی اَخۡرَجۡنَا لَهُمۡ نو به راوباسو دوئ له دَآبَّةً مِّنَ الۡاَرۡضِ یو ژوندے خوزیدونکے له زمکے د مسجد
حرام یا له صفا مروه یا له بله ځایه او په حدیث کښ دی چه طول به ئے شپیته ګزه وی او خلور خپے او دوه وزرې
او بږئ او ږیره ویخته لکه دمرغانو دپچیو او سر دغوایئ او سترګے دخنزیر او غوږونه دفیل او ښکر دګوزی او
ګردن دشترمرغ او سینه دمزری او رنګ دپړانګ او تښی دپیشو او لکئ دپسه او دخپو تلی داوښ به لری
او همسا د موسیٰ علیه السلام او مهر د سلیمان علیه السلام به ورځنه وی نو دا همسا به په وچولی د
هرمومن و وهی نو ځ به ئے تک سپین شی او دا مهر به په وچولی د هرکافر و وهی نو ځ به ئے تک تور
شی او پس له هغه به بیا په نامه هیڅوک نهٔ شی بللے بلکه مؤمن ته به جنتی او کافر ته به دوزخی وائی
خلق او دا سے به جلت وی چه طالب ئے نه شی نیولے او هارب ترے خلاصیدلے نهٔ شی او دا تبه
او له نښه ده په زمکه کښ دقیامت لکه چه اول نښه په اسمان کښ طلوع ده د شمس له مغربه
تُکَلِّمُهُمۡ لا چه خبرے به کوی دا به له دوئ سره په ژبه عربی او دا سے به ورته وائی چه اَنَّ النَّاسَ بیشکه
داخلق کَانُوۡا دی دا چه بِاٰیٰتِنَا په ایتونو زمونږه چه قران دے مشتمل په وعد په وعید په بعث په ثواب په
عقاب لَا یُوۡقِنُوۡنَ ﴿۸۲﴾ یقین نهٔ کوی یعنی ایمان پرے نه راوړی وَیَوۡمَ نَحۡشُرُ او یاده کړه هغه ورځ چه
راولاړ به کړو مونږه له قبرونو مِنۡ کُلِّ اُمَّةٍ له هرے خیله سره فَوۡجًا مِّمَّنۡ یو ټولے د مشرانو او داشرافو له

هغه طایفے یُّکَذِّبُ بِاٰیٰتِنَا چه تکذیب کوی په ایتونو حُمونږه پورے فَهُمْ یُوْزَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ پس دوئ به
راحصار وے شی چه هغه خوارارذال هم ورپسے راو رسیږی او ټول سره جمع شی حَتّٰۤی اِذَا جَآءُوْ تر هغه پورے چه
راشی دوئ ټول حشرګاه له قَالَ نو وبه وائی ورته خدائ اَكَذَّبْتُمْ بِاٰیٰتِیْ ایا تکذیب کړے وو تاسے د هغه ایاتونو
حُما چه خپلو رسولا نولره م لیږلی وو وَلَمْ تُحِیْطُوْا او حال دا چه احاطه نهٔ وه کړے تاسے بِهَا عِلْمًا په هغه ایتونو له
جهته د علمه یعنے دا تکذیب کمے دا احاطے د علم ستاسے وو په کُنْهٔ د دغه ایتونو اَمَّا ذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۸۴﴾
او که کوم کار وو هغه چه وئ تاسے چه کولو یه تاسے هغه کار نو دوئ به دد ے سوال هیڅ جواب نهٔ لری نو
سکوت به وکړی لکه چه وائی وَوَقَعَ الْقَوْلُ او واقع به شی ګفت یعنے را به شی عذاب موعود عَلَیْهِمْ بِمَا ظَلَمُوْا
په دوئ په سبب د دے چه ظلم کړے وو دوئ چه تکذیب ئے کړے وو د ایتونو فَهُمْ لَا یَنْطِقُوْنَ ﴿۸۵﴾ پس دوئ
به هیڅ نه غږیږی په عذرخواهئ له جهته د عذاب غیرمتناهی اَلَمْ یَرَوْا اَنَّا ایا نه وینی دا منکران د حشر چه
بیشکه مونږ چه یو جَعَلْنَا الَّیْلَ ګرځولے ده مونږه شپه توره تاریکه لِیَسْكُنُوْا فِیْهِ د پاره د دے چه ارام وکړی دوئ
په هغه کښ په خوب او په قرار سره وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا او ګرځولے ده دهٔ ورځ په دے حال چه لیدونکے ده یعنے
لیدونکے دی اهل د دے ورځے لارے دکسب او د معاش خپل او دا مُبْصِرًا په اصل کښ لِیُبْصِرُوْا فِیْهِ وو
موافق له ماقبل سره اماله د یرے مبالغے نسبت ئے نهار ته وکه اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے تعاقب د ظلمت
او د نور کښ په دے شان سره لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ﴿۸۶﴾ هرائینه ډیرے نښے دی په وقوع د قیامت د پاره
د هغه قوم چه ایمان راوړی وَیَوْمَ یُنْفَخُ او یاد که هغه ورځ چه پوکے وکړے شی فِی الصُّوْرِ په شپیلئ کښ
فَفَزِعَ مَنْ پس وویریږی له ډیره هیبته هر هغه څوک فِی السَّمٰوٰتِ چه په اسمانونو کښ دی وَمَنْ فِی
الْاَرْضِ او چه په زمکه کښ دی او صیغه د ماضی د پاره د تحقیق د وقوع ده اِلَّا مَنْ مګر هر هغه څوک
شَآءَ اللّٰهُ ط چه اراده وشی د خدائ د دے چه هغه د نهٔ ویریږی چه څلور ملائک مقرب دی چه جبریل
میکائیل اسرافیل عزرائیل علیهم الصلوٰة والسلام دی یا حمله د عرش او خزنه د جنت او حورے دی یا
شهیدان دی یا موسٰی علیه السلام دے یا ادریس علیه السلام دے وَكُلٌّ اَتَوْهُ او دا ټول ادمیان
چه دی را به شی دوئ موقف له یا خدائ له دٰخِرِیْنَ ﴿۸۷﴾ خوار ذلیل وَتَرَى الْجِبَالَ او وینے به
ته غرونه تَحْسَبُهَا جَامِدَةً ګمان به کوے ته په هغو د دے چه ځائ ولاړ دی وَّهِیَ تَمُرُّ او حال دا

چه د دوئ به تیریږی او ټک به کوئ مَرَّ السَّحَابِ ؕ په شان د تلو د وریځې په جلتئ په هغه وخت چه باد ئې زغلوی او ټک ئې نه معلومیږی صُنْعَ اللهِ وکړهٔ خدائ دا کار په کولو سره او دا حُکم چه دا په اصل کښ صَنَعَ اللهُ ذٰلِكَ صنعًا وو بیا فعل ترې حذف شو فاعل ته نو صُنع الله شو الَّذِیْٓ اَتْقَنَ هغه خدائ چه محکم کړیدې ده كُلَّ شَیْءٍ ؕ هر څیز په هغه شان چه بنائی اِنَّهٗ خَبِیْرٌۢ بیشکه چه دے خبردار دے بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۸۸﴾ په هرهغه افعالو چه کوئ ئې تاسے کهٔ ظاهر او کهٔ باطن نو جزا به ئې درکه لکه چه وائی مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ هر څوك چه راتله وکه په نیکئ سره چه قول د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ دے په نزد د جمهورو فَلَهٗ خَیْرٌ مِّنْهَا ج پس مقرر ده ده له جزا غوره له هغه او غوره حُکه دے چه خسیس ئې په شریف بدل شو او فانی ئې په باقی او یو ئې په اوه سوه وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ او دوئ به له ویرے د سختئ چه ویره دا ورده یَوْمَئِذٍ اٰمِنُوْنَ ﴿۸۹﴾ په ورځے د قیامت په امان وی وَمَنْ جَآءَ بِالسَّیِّئَةِ او هر څوك چه راتله وکهٔ په بدئ سره چه شرك دے۔ فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ پس نسکور به واچولے شی مخونه د دوئ یعنی بخپله دوی فِی النَّارِ ؕ په اور د دوزخ کښ او مخ حُکه یاد شو چه د ے اشرف د اعضاؤ دے او و به ویلے شی ورته چه هَلْ تُجْزَوْنَ ایا جزا درکولے کیږی تاسے ته یعنی نه درکولے کیږی اِلَّا مَا كُنْتُمْ مگر هغه چه وئ تاسے په دنیا کښ تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۰﴾ چه کول به مو اِنَّمَآ اُمِرْتُ بیشکه همدا خبره ده چه مامور شوے یم زهٔ اَنْ اَعْبُدَ په دے چه عبادت کوم زه رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ د پروردګار د دغه ښار چه مکه ده الَّذِیْ حَرَّمَهَا هغه خدائ چه کرځولے دے ده دا ښار حرام په امن چه وانهٔ او اغزی او ښکار ه ئې نقول په امان دی او ظلم او خونریزی پکښ څوك نه شی کولے وَلَهٗ كُلُّ شَیْءٍ ز او خاص هم دهٔ لره دی په طریقه د مخلوقیت او د مملوکیت هر څیز سره له دغه ښاره حُکه چه دے مالک د ے د دنیا او د آخرت وَّاُمِرْتُ اَنْ او مامور شوے یم زهٔ په دے چه اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿۹۱﴾ چه اوسم زهٔ کلك ولاړ په ملت د اسلام وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ج او بل مامور یم په دے چه لولم او تلاوت کوم د قرآن فَمَنِ اهْتَدٰی پس هر څوك چه لاره ئې بیا موندله لجهته د متابعت حُما توحید د خدائ او نفی د شرکاؤ ته فَاِنَّمَا یَهْتَدِیْ پس بیشکه هم دا خبره ده چه لاره موی دے لِنَفْسِهٖ ج د پاره د ځان خپل چه نفع ئې هم دهٔ ته راجع ده وَمَنْ ضَلَّ او هر څوك چه ګمراه شو له جهته د مخالفته حُما فَقُلْ اِنَّمَآ پس ووایه ورته چه بیشکه هم دا خبره ده چه اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِیْنَ ﴿۹۲﴾ زه له ویرونکو یم

او په ما بغیر له پیغام رسولو بل هیڅ نشته او وبال د ضلال د بل چا ما ته نهٔ رسیږی وَ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ او ووایه چه ثنا ده خدائی لره په نعمت د نبوت سَيُرِيكُمْ اٰيٰتِهٖ زر دے چه به وښائی تاسے ته نښے د قدرت خپل لکه شق د قمر او خروج د دابة الارض او داسے نورهم یا نښے د قهر په دنیا کښ لکه واقعه د بدر او په آخرت کښ عذاب ابدی فَتَعْرِفُوْنَهَا ط پس وبه پیژنئ تاسے هغه نښے اما دا معرفت به تاسے ته هیڅ فائده ونهٔ رسوی وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ او نهٔ دے رب ستا غافل بے خبره عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾ له هغه عمل چه کوئ ئے تاسے اے مشرکانو۔ ع

سُوْرَةُ الْقَصَصِ مَكِّيَّةٌ ۲۸ ۴۹ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۸۸ رُكُوْعَاتُهَا ۹

طٰسٓمٓ ﴿۱﴾ د دے بیان پخوا تیر شوے دے په سورة شعراء کښ تِلْكَ دا سوره دا اٰیتونه چه دی اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اٰیتونه دی د هغه کتاب چه ښکاره دے خیر او برکت ئے یا چه بیانونکے دے د حلالو حرامو او د وعد وعید او د اخلاص توحید نَتْلُوْا عَلَيْكَ لولو مونږه په تا باندے مِنْ نَّبَاِ مُوْسٰى بعض له خبرو او د قصے د موسیٰ علیه السلام وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ او د فرعون په رښتیا سره لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۳﴾ د پاره د هغه قوم چه باور او تصدیق ئے کوی اِنَّ فِرْعَوْنَ بیشکه فرعون چه دے عَلَا فِى الْاَرْضِ لوئی او فخر او ظلم او بغی ئے اختیار کړے وه په زمکه د مصر کښ وَجَعَلَ اَهْلَهَا او کرځولے وو دهٔ اهل د دے مصر هم قبطیان هم سبطیان شِيَعًا ټولی ټولی او هریو ټولے به ئے خدمت لره مقرر کړے وو او هیڅ کوردن کشی ترے نهٔ شو کولے یا بعض ئے معزز کړے وو لکه قبطیان او بعض ذلیل کړی وو لکه سبطیان لکه چه وائی يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ چه ضعیف او مقهوره کړے ئے وه یوه طائفه له دوئ چه بنی اسرائیل وو وو په دے شان چه يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ ذبح کول به ئے ځامن د دوئ چه کاهنانو ورته وبلی وو چه بنی اسرائیلو کښ به یو هلک پیدا شی چه د هغه په سبب به ستا بادشاهی خرابه شی او نوی زیږه هلکان ئے وژلی وو د پاره د دفع د دے خرابئ وَيَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ط او ژوندئ به ئے پریخودے ښځے یعنی جینکئ د دوئ د پاره د خدمت اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه دے وو مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۴﴾ له فسادکونکیو چه قتل په ناحق او آزاد خلق او اولاد د پیغمبرانو ئے مریونه کول وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ او اراده وکړه مونږه د دے چه مهربانی وکړو او احسان یاد کړو عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا په هغه کسانو چه عاجزان او بیچاره کړے شوی وو فِى الْاَرْضِ

په زمکه د مصر کښې چه هغه بنی اسرائیل وو چه له ظلم او سختئ د فرعون نه خلاص کړو وَنَجۡعَلَهُمۡ
أَئِمَّةً او چه وګرځوو مونږه دوئ امامان یعنی پیشوایان چه اقتداء ورپسے کولے شی په هرنیک کار کښې یا
بلونکی د خلقو خیرته یا والیان او بادشاهان وَنَجۡعَلَهُمُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ۝٥ او وګرځوو دوئ وارثان د مال متاع د
نقدی د جنسی د مینو د باغونو د فرعونیانو پس له غرقولو د دوی وَنُمَكِّنَ لَهُمۡ او چه ځائ داوسیدلو او تسلط
ورکړو دوئ له فِي ٱلۡأَرۡضِ په زمکه د مصر او د شام کښې وَنُرِيَ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ او چه بنایو مونږ فرعون او
هامان ته چه وزیر ئے دے وَجُنُودَهُمَا او لښکرو نو د دغه دوا ړو ته مِنۡهُم له بنی اسرائیلو مَّا كَانُواْ
يَحۡذَرُونَ ۝٦ هغه چه وو دوئ چه ویریدل به ترے یعنی هغه مولود چه کاهنانو ورته ویلی وو چه خرابیدل
د بادشاهئ ستا به د دغه مولود له لاسه وی **روایت دے** چه فرعون پس له اخباره د کاهنانو څو کیدا ران
کینول په امید د بنځو د بنی اسرائیلو چه هلک به پیدا شونو هم هلته به ئے حلال کړو او د موسی علیه السلام
دائی وویل مور ته ئے چه له ما مه ویریږه زه به ستا حال نه وایم او څو کیدارته به و وایم چه مړه
لور وه مونږه بنځه کړه او څوک وائی چه سړی راننوا ته او دے خورځیلے په بل تنور کښې وغورځولو
بیا چه سړی لاړه نو مور ئے ورغله تنار ه لره چه ګوری او ر ګلونه شوی دی او دے پرے لوبے کوی نو
په دغه شان ئے درے میاشتے پټ ساتلے وو چه ناګاه الهام الهی ورته و شو لکه چه وائی وَأَوۡحَيۡنَآ
او وحی وکړه مونږه په الهام سره یا په خوب لیدو سره إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ مور د موسیٰ علیه السلام ته أَنۡ
أَرۡضِعِيهِۖ دا سے چه تے ورکوه ده لره او تربیت ئے کوه تر هغه چه پټ دے ساتلے شو فَإِذَا خِفۡتِ عَلَيۡهِ
پس هر کله چه وویریدے په دهٔ داسے چه پوهه شوے نه په دے چه او س خلق پرے خبر شول او مړ به ئے کړه
فَأَلۡقِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ پس وئے غورځوه په سیند کښې یعنی رود نیل کښې اما اول ئے په صندوق کښې واچوه
بیا دا صندوق په او بو کښې وغورځوه وَلَا تَخَافِي او مهٔ ویریږه له غرق او له هلاکه ئے وَلَا تَحۡزَنِيٓۖ او مهٔ
خفه کیږه له جهته د فراق ئے ځکه چه إِنَّا رَآدُّوهُ بیشکه مونږه راوستونکی یو د دهٔ إِلَيۡكِ تا ته جلت په
بنه وجه سره وَجَاعِلُوهُ او بیا ګرځونکی یو د دهٔ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝٧ له لیږلو شویو یعنی پیغمبر به هم کړو
نکته په دے ایت کښې خدائ ته څیزه ذکر کړی دی دوه امره چه أَرۡضِعِي او أَلۡقِي دے او دوه نهی چه
لا تخافی و لا تحزنی دے او دوه اخبار مچه رآدوه او جاعلوه دے او دوه زیرے چه د بیرته راوستلو او بل د

رسالت دے روایت دے چه هرکله مورد موسیٰ علیه السلام خبره شوه چه فرعون په هلکانو د
دبنی اسرائیلو پسے بیا دیرلټون شروع کړیدے نو دے یو نجار چه نوم ئے خربیل بن صبورا او د فرعون
د تره خوی وو راوست او صندوق ئے پرے ساز کړو ناګاه خربیل په دے واقعه خبر شو نو خوکیدار انو له
ورغے چه په دے مولود ئے اګاه کړی هلته ژبه ئے کونګه شوه بیا چه کوږته راغے نو ژبه ئے خلاصه شوه بیا ئے
فرعون له اراده د تګ وکړه نو سترګے ئے ړندے شوے نو پوهه شو چه هغه مولود چه کاهنانو فرعون ته د یے
دګهم دا د ے نو ایمان ئے پرے پټ راوړو او هغه مؤمن د ال د فرعون هم دے وو بیا موسیٰ علیه السلام
مور په صندوق جامه کړی کښی واچولو او صندوق ئے په رود نیل کښی پټ الا هو کړه او بغرعون
یوه لوروه چه مرض د برص ورپورے وو او کاهنانو ورته ویلی وو چه په فلانی ورځ به په د ے
رود کښی یو هلک راشی کهٔ د هغه لاړے پرے پورے شوے نو دا به روغه شی نو په دغه ورځ د ریشته
خیلخانه د فرعون د نیل په غاړه منتظره ناسته وه چه ناڅاپه صندوق راغے او دوئ را او نیوه لکه چه وائی
فَالْتَقَطَهٗٓ پس بیاموندو او ونیوهٔ موسیٰ علیه السلام له تابوت سره اٰلُ فِرْعَوْنَ تابعانو د فرعون
لِيَكُوْنَ لَهُمْ دپاره د د چه شی دے دغه فرعونیانو لره عَدُوًّا وَّحَزَنًا ، دښمن ناربینو لره چه سبب د غرق
د دوئ به شی او غم ښځو لره چه وینزے به ئے شی او دا لام د عاقبت دے یعنی عاقبت د دے نیولو به دا دغه
کار رونه شی اِنَّ فِرْعَوْنَ بیشکه چه دے وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا او هامان او لښکرے د دغه دواړو چه دی
كَانُوْا خٰطِـِٕيْنَ ⑧ وو دا تول خطا کاران روایت دے چه هرکله دوئ تابوت بر سیره کړ
او نظر د حاضرانو په موسیٰ علیه السلام ولګیده نو د هرچا په زړه کښی محبوب واقع شو او د فرعون
په زړه کښی خرشنه پیدا شوه نو داسے ئے وویل چه دا هلک څرنګه له قتل خلاص شوے دے مبادا
چه دا هم هغه هلک وی نو ځله ښځے ورته وویل چه ما له منجمانو اوریدلی دی چه هغه مرده لو
تیره شوه نومهٔ ئے وژنه او مالره ئے راکړه چه اوس د لور علاج پرے وکړم او ګوندی اینده له هم
خبر ترے بیا موموچه ددهٔ لاړے ئے د لور په برص پورے کړے نو فی الحال روغه شوه لکه چه وائی وَ
قَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ او وویل ښځے د فرعون چه اسیه بنت مزاحم وه له قوم د بنی اسرائیلو وچا
ویلی دی چه عمه وه د موسیٰ علیه السلام قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ چه دا هلک یخوالے د سترګے دے ما لره

وَلَكَ ط او تا لره هم چه د دهٔ له جهته ځمونږ فرزند شفا بیا موند ه لَا تَقْتُلُوْهُ ق نو مهٔ وژنئ دے۔ عَسٰی
اَنْ يَّنْفَعَنَآ بنائی چه ځهٔ نفع ورسوی مونږ ه دوارو ته ځکه چه په وچولی کښ ئے خیر ځلیږی اَوْنَتَّخِذَهٗ
وَلَدًا یا به ونیسو دے په فرزندئ نو دے ئے په بی بی آسیه وسپارهٔ او دے به ئے تربیت کولو وَهُمْ
لَا يَشْعُرُوْنَ ⑨ او حال دا چه فرعون او قوم ئے په دے نهٔ پوهیدل چه ځمونږ هلاک له ده له لاسه
دے وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰی او شهٔ زړهٔ د موسیٰ علیه السلام فٰرِغًا ط خالی له صبره او له عقله
چه ئے واوریده چه صندوق د فرعون په لاس کښ کیوت یا له ډیرے خوشحالئ چه خبر شوه چه
فرعون پرے مهربانی وکړه په ځوئ وینو اِنْ كَادَتْ بیشکه چه نزدے شوه دا دے حال ته چه له
ډیره اضطرابه لَتُبْدِيْ بِهٖ ښکاره که چه دے ځما دے لَوْلَآ اَنْ رَّبَطْنَا که چرے نهٔ وے دا چه پټئ د صبر او
د ثبات ترلے وه مونږه عَلٰی قَلْبِهَا په زړه د دے باندے دا کار مونږه او کړو لِتَكُوْنَ د پاره د دے چه شی دا مِنَ
الْمُؤْمِنِيْنَ ⑩ له باور کونکیو په وعده ځمونږه وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ او وویل دے خور د موسیٰ علیه السلام یعنے خپلے
لور ته چه کلثوم نوم وه قُصِّيْهِ ز چه ځه ورپسے او ورته گوره چه صندوق ئے کوم طرف ته ځی فَبَصُرَتْ بِهٖ
پس کتل به ئے ده ته عَنْ جُنُبٍ له لرے ځایه پټ له دوئ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ⑪ او حال دا چه دوئ نه پوهیدل
په دے چه دا ئے خور د ه او د دهٔ جاسوسی کوی وَحَرَّمْنَا او حرام کړی وو مونږه عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ په دهٔ شودهٔ
د دائی گانو تو لو مِنْ قَبْلُ پخوا له راتلو د کلثوم یا د مورئے روایت دے چه په دے مینځ کښ اته شپے او
اته ورځے تیرے شوے او فرعون به ورلره دائی گانے راوستلے اما دهٔ د هیچا تی ته نهٔ خوله کوله او فرعون
او ښځه ئے او قوم ئے ټول به ورته حیران او خفه ناست وو او موسیٰ علیه السلام به خپله گوته رودله
او په نهمه ورځ چه خورئے بیا خبر اخستو له راغله او دوئ ئے ټول مضطرب ولیدل په دائی پسے نو
دا ورلره راغله لکه چه وائی فَقَالَتْ پس وویل دے خورئے چه هَلْ اَدُلُّكُمْ آیا خبر کړم تاسے عَلٰٓی اَهْلِ
بَيْتٍ په اهل د یو دلسه کاله باندے يَكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ چه واخلی دوئ دا هلک او وے ساتی تاسے لره
وَهُمْ لَهٗ نَاصِحُوْنَ ⑫ او دا اهل بیت به دهٔ لره خیرخواهان وی یعنی په ارضاع او په نور تربیت
کښ به ئے هیڅ تقصیر نهٔ کوی روایت دے چه هر کله کلثوم دغه لفظ ووایه نو هامان وویل چه دا
ښځه ونیسی چه د دغه هلک له حاله خبر ده نو دے وویل چه ځما مراد مَلِك و و چه دوئ د ملک

خیرخواه دي بیا ئې دے ته ووېل چه ورشه هغه ښځه راوله چه مورئې راغله او هلک ئې دده په غېږکښ
واچولو او د مور بوی پرے ونګیده نو زر ئې تے په خوله کړو او فرعون ورته ووېل چه ته اخولے پیدا
هلک ستا تے واخست دے خود هیڅ یا تے نه اخلی دے ورته ووېل چه ځما بو ده ډیرخوا ږه دی هر ډ
هلک پرے میل کوی نو فرعون موسیٰ علیه السلام پرے وسپارهٔ او اُجرت ئې ورله مقرر که او ورته ئې
ووېل چه په هفته کښ یو کرت ئې ماله راوله نو دے کورته راوړلکه چه وائی فَرَدَدْنٰهُ پس بیرته راوستو
دے اِلٰی اُمِّهٖ مورخپلے لره کَیْ تَقَرَّ عَیْنُهَا دپاره ددے چه یخے او روښانه شی سترګے دده په فرزند وَلَا تَحْزَنَ
بل چه غمژن نهٔ شی په فراق دده وَلِتَعْلَمَ او بل دپاره ددے چه پوهه شی دا په علم مشاهده سره اَنَّ
وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ په دے چه وعده دخدائ رښتینې ده وَلٰکِنَّ اَکْثَرَهُمْ او لیکن زیات د قبطیا نو لَا یَعْلَمُوْنَ
نهٔ پوهیږی په دے وعده او نه په دے چه دائې موراو دائې خورده وَلَمَّا بَلَغَ او هرکله چه ورسیده
علیه السلام اَشُدَّهٗ نهایت د قوم او تمام دعقل خپل ته او داجمع ده دشدة لکه انعم چه
ده د نعمت وَاسْتَوٰٓی او برابر او محکم شو په کمال دعقل کښ یعنی چه څلویښت کاله ئې پوره شو
اٰتَیْنٰهُ حُکْمًا نو ورکهٔ مونږه دهٔ لره نبوت وَّعِلْمًا او پوهه په احکامو د دین وَکَذٰلِکَ او همدا سے لکه چه
ورکړهٔ مونږه له موسیٰ علیه السلام او له مور سره ئې نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۴﴾ جزاورکوو مونږه نیکو
کارانو لره **فائده** رب العزت دا تیر ایت لکه جمله معترضه په مینځ د قصه کښ راوړه دپاره دیوځا
کولو دبیان دصدق د دواړو وعدو چه یوه درد وه د موسیٰ علیه السلام بیرته مورته او بله درا
دهٔ وه وَدَخَلَ الْمَدِیْنَةَ او راننوت موسیٰ علیه السلام یوه ورځ ښار د مصرته په هغه موده چه
دیر شو کالو په یو روایت وو عَلٰی حِیْنِ غَفْلَةٍ په وخت دغفلت مِّنْ اَهْلِهَا چه پید او وله اهله
ددے مدینے یعنی په وخت د قیلولے ددوئ فَوَجَدَ فِیْهَا پس بیا موندل ده په دے مدینه کښ
رَجُلَیْنِ یَقْتَتِلٰنِ دوه سړی چه په جګړه وه سره په خپلو کښ هٰذَا مِنْ شِیْعَتِهٖ چه دا یو تر ے له
تابعانو د موسیٰ علیه السلام یعنی اسرائیلی وو چه نوم ئې سامری یا ملیخا وو وَهٰذَا مِنْ عَدُوِّهٖ
او دا بل ترِله دشمنانو دده وو یعنی قبطی وو چه نوم ئې فاتون یا فیلقون وو چه خباز وو د فرعون او په دغه
اسرائیلی ئې خس وړل په جبرا شیزخانے د فرعون ته نو دوئ په جګړه وو چه موسیٰ علیه السلام

پرے راغے فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِیْ پس فریاد وکړو موسیٰ علیه السلام هغه سړی ته مِنْ شِیْعَتِهٖ چه
له تابعانو ددهٔ ووعَلَی الَّذِیْ په هغه سړی چه مِنْ عَدُوِّهٖ له دښمنانو ددهٔ وو نو موسیٰ علیه السلام
ورته وویل چه دے پریږده او هغه قبطی دهٔ ته وویل چه د اغواړے چه اوس دغه خس په تا بار کړم -
فَوَکَزَهٗ مُوْسٰی پس په سوك ووههٔ دے موسیٰ علیه السلام او دے ډیر قوتناك وو فَقَضٰی عَلَیْهِ ق پس مړ ئے
کړ اما ددهٔ قصد دقتل نهٔ وو ځکه قَالَ هٰذَا او ویل موسیٰ علیه السلام چه دا کار مِنْ عَمَلِ الشَّیْطٰنِ ط
له عمله د شیطان دے چه ځما غضب ئے راپورته کړ اِنَّهٗ عَدُوٌّ بیشکه چه دے دشمن دے د بنی
آدم مُضِلٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۱۵﴾ لغزونکے دے ښکاره قَالَ رَبِّ اِنِّیْ بیا وویل موسیٰ علیه السلام له جهته د
پښیمانئ چه اے ربه ځما بیشکه زهٔ چه یم ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظلم م کړے دے په خپل ځان په قتل د
قبطی سره فَاغْفِرْ لِیْ پس وبخښه ماته داګناه ځما فَغَفَرَ لَهٗ ط پس و باخهٔ خدائی دهٔ ته داتقصیر په دے
استغفار سره اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ بے شکه دے چه دے هم دے بخښونکے د ګناه د بندګانو ته الرَّحِیْمُ ﴿۱۶﴾
مهربان دے په دوئ قَالَ رَبِّ بیا وویل دهٔ اے ربه ځما بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ قسم دے په دغه انعام ستا
په ما د مغفرت او جواب د قسم محذوف دے هغه دا دے چه پس له دے به توبه و باسم له دے کاره
فَلَنْ اَکُوْنَ پس هیچرے به نه شم زهٔ دوباره ظَهِیْرًا لِّلْمُجْرِمِیْنَ ﴿۱۷﴾ مددګار او یاد ګنهګارانو
فَاَصْبَحَ فِی الْمَدِیْنَةِ پس صبا کهٔ موسیٰ علیه السلام په دغه ښار کښ خَآئِفًا یَّتَرَقَّبُ په دے حال کښ چه
ویریدونکے وو په خپل ځان چه انتظار به ئے کولو او ځان به ئے ساتهٔ له دے چه مبادا خولهٔ م پرے
قصاص نهٔ کړی فَاِذَا الَّذِی اسْتَنْصَرَهٗ پس ناڅاپه هغه سړے چه وو چه مدد غوښتے وو هغهٔ له
موسیٰ علیه السلام نه بِالْاَمْسِ یَسْتَصْرِخُهٗ ط په پرون هغه اوس نارے وهی او مدد غواړی له
موسیٰ علیه السلام نه په بل قبطی باندے قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓی نو وویل هغه اسرائیلی ته موسیٰ
علیه السلام اِنَّكَ لَغَوِیٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۱۸﴾ بیشکه ته چه ئے هر اٰئینه ګمراه ئے ښکاره چه پرون د سړے
راباندے مړکهٔ او اوس بیا نارے راته وهے فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ پس هرکله چه اراده وکړه موسیٰ علیه
السلام او دا اَنْ زائده دے اَنْ یَّبْطِشَ ددے چه ونیسی دے بِالَّذِیْ هُوَ هغه قبطی چه وو
عَدُوٌّ لَّهُمَا دښمن ددغه دواړو یعنی د سبطی او د موسیٰ علیه السلام ځکه چه په دین کښ

ترے بیل وو یا چہ قبطیان دشمنان وو د سبطیانو قَالَ نو وویل هغه سبطی په دے گمان چه هرکلہ دہٗ
رانه غَوِيٌّ مُّبِيْنٌ ویلے دے نو اوس ہم وژنی خُکه ئےورته وویل چه یٰمُوْسٰۤى اَتُرِیْدُ اے موسیٰ آیا
خواهش لرے ته اَنْ تَقْتُلَنِیْ د دیچه مرکړے تهٔ ما هم دا سے كَمَا قَتَلْتَ لکه چه وژلے دے تا نَفْسًا بِالْاَمْسِ ۖ
یو سرے یعنی قبطی پرون یا دا مقوله د قبطی ده خُکه چه اگرکه قاتل د هغه پخوانی قبطی معلوم نهٔ وو
اما هرکله چه موسیٰ علیه السلام دا سبطی په غوی مبین و باله نو دهٔ گمان وکهٔ چه هغه پرونے قبطی هم
همدهٔ وژلے دے د دغه سبطی دپاره اِنْ تُرِیْدُ اراده نهٔ لرے تهٔ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ مگر د دے چه اوسے
ته جَبَّارًا فِی الْاَرْضِ سرکښه په زمکه کښ وَمَا تُرِیْدُ اَنْ تَكُوْنَ او اراده نهٔ لرے تهٔ چه شے تهٔ مِنَ
الْمُصْلِحِیْنَ ⑲ له صلاحیت کونکو په مابین دا د میانو کښ روایت دے چه هرکله د سبطی یا
د قبطی له خولے دا خبره ناش شوه چه قاتون خباز موسیٰ علیه السلام وژلے دے او فرعون هم په
دے خبر شو نو خپل مشیران ئے راحاضرکړه او مصلحت ئے د قتل د موسیٰ علیه السلام وکهٔ
ناگاه حزبیل نجار مؤمن د آل فرعون په دے مصلحت خبر شو نو په منډه راغے موسیٰ علیه السلام
لره دپاره د اگاهئ لکه چه وائی وَجَآءَ رَجُلٌ او راغے یو سرے یعنی حزبیل مِّنْ اَقْصَا الْمَدِیْنَةِ له لرے
طرفه د هغه ښاره چه هلته دربار وو د فرعون یَسْعٰی زر چه را منډے ئے وهلے او په لنډه لارے راغے
موسیٰ علیه السلام لره قَالَ یٰمُوْسٰۤى نو وویل ورته ده چه اے موسیٰ اِنَّ الْمَلَاَ بیشکه اشراف د قوم
چه دی یَاْتَمِرُوْنَ بِكَ مصلحت کوی او تدبیر ترے ستا لِیَقْتُلُوْكَ دپاره د دے چه مرکه دوئ تا په
عوض د هغه قبطی کښ فَاخْرُجْ اِنِّیْ لَكَ پس ووځه له دغه ښاره بیشکه چه زهٔ تا لره مِنَ النّٰصِحِیْنَ ⑳
له نصیحت کونکویم او خیرخواه دِیم فَخَرَجَ مِنْهَا پس ووت د ے هغه دم له ښاره خَآئِفًا په دے حال چه
ویریدونکے وو په خپل ځان یَّتَرَقَّبُ چه کتل به ئے هرطرفته چه مبادا چه څوک راپسے را ونه رسیږی
قَالَ رَبِّ نَجِّنِیْ نو وویل دهٔ چه اے ربه خُما وساته ما او خلاص م که مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ㉑ له دغه
قومه چه ظالمان دی یعنی فرعون او تابعان ئے روایت دے چه په لاره کښ جبریل علیه
السلام ورلره راغے په صورت د بنی آدم او ورته ئے وویل چه د مدین ښار لره لار شه او په هغه
طرف ئے برابر کهٔ لکه چه وائی وَلَمَّا تَوَجَّهَ او هرکله چه ع کهٔ دهٔ تِلْقَآءَ مَدْیَنَ طرف د مدین

بنار ته چه له مصره اتهٔ ورځې مزل لرے وو قَالَ نو ووئیل دهٔ په وخت د توجه کښې چه عَسٰی رَبِّیْٓ امید
لرم له رب خپل اَنْ یَّهْدِیَنِیْ د دے چه برابر که دے مَا سَوَآءَ السَّبِیْلِ ﴿۲۲﴾ په سمے لارے نو ملګ ورسره شو په
صورت د آدمی او مدین ته ئے ورسولو وَلَمَّا وَرَدَ او هر کله چه ورسیدهٔ موسٰی علیه السلام مَآءَ
مَدْیَنَ اوبو د مدین ته چه هغه کوهے وو د بنار په څنګ کښې وَجَدَ عَلَیْهِ نو بیائے موندل په هغه اوبو
اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ یوه لویه ډله د آدمیانو چه راجمع شوی وو یَسْقُوْنَ ۵ چه اوبهٔ ئے ورکولے چارپایانو
خپلو له وَ وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ او بیا ئے موندے راښیرته له دوی امْرَاَتَیْنِ تَذُوْدٰنِ ۚ دوه ښځې چه رامنع کولے
به ئے ګډے خپلے له او بو چه خلطے نهٔ شی د خلقو له ګډو سره قَالَ مَا خَطْبُکُمَا ط نو ووئیل ورته موسٰی علیه
السلام چه د اخڅنګه حال دے ستاسے چه رمه خپله نهٔ اوبهٔ کوئ قَالَتَا لَا نَسْقِیْ نو ووئیل دغه دواړو
چه اوبه نهٔ ورکوو مونږه میږ و خپلو له حَتّٰی یُصْدِرَ الرِّعَآءُ سکته تر هغه پورے چه بیرته وکرځی
داشپانه رمے خپلے له او بو څخه وَ اَبُوْنَا او پلار ځمونږه چه دے شیخ دے شَیْخٌ کَبِیْرٌ ﴿۲۳﴾ زوړ دیر مود دے
نو دومره قوت نهٔ لری چه راشی او رمه راولی او به کړی ځکه مونږه ئے لیږو فَسَقٰی لَهُمَا پس اوبه کړه
دهٔ هغه رمه دواړو له په بل کوهی چه دا سے لویه تیږه دوئ په سر ئے اړولے وه چه لسو سړو به راپورته
کولے نهٔ شوه او دا سے بوقه ئے لرله چه لسو سړو به را ایستله او دا تیږه ئے یواځې ترے لرے کړه او هغه
بوقه ئے هم یواځے راو ویستله سره له دے چه اتهٔ ورځے ئے طعام نهٔ وو خکلے ثُمَّ تَوَلّٰٓی بیائے شاکړه
اولاړ اِلَی الظِّلِّ سوري له دیوځ اونے چه اغزی لری فَقَالَ رَبِّ اِنِّیْ پس ووئیل دهٔ چه اے ربه ځما بیشکه زهٔ
چه یم لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَیَّ هر هغه څیز ته چه ولیږے تهٔ ما ته مِنْ خَیْرٍ له خیره یعنی لږ او که ډیر وی .
فَقِیْرٌ ﴿۲۴﴾ محتاج یم بیا دوئ دواړه کور ته راغلے خوله نوره کله نه څوا. نو پلار ترے پرسان وکړو د سبب د
دغه جلتئ او دوئ د احال ورته ووایهٔ نو یو مے ئے ولیږ له ور پسے چه مالره ئے راوله فَجَآءَتْهُ اِحْدٰهُمَا
پس راغله موسٰی علیه السلام له یوه له دغو دواړو تَمْشِیْ چه تګ ئے کولو عَلَی اسْتِحْیَآءٍ ز په طریقه
د حیا چه لستونړے ئے په مخ اچولے وو له شرمه قَالَتْ اِنَّ اَبِیْ نو ووئیل دے موسٰی علیه السلام
ته چه بیشکه پلار ځما یَدْعُوْکَ بولی تا لِیَجْزِیَکَ اَجْرَ مَا د پاره د دے چه عوض درکړی تا له اجرت د
هغه سَقَیْتَ لَنَا ط چه اوبه کړے ده تا مونږ له رمه ځمونږه. بیا د ا په مخکښې شوه او دے ور پسے روان

شو خو چه دغه لاره کښې پاچا مه دده به بادخوزوله او پښتی به ئے بنکاره کیدله نو موسیٰ علیه السلام ورته وویل چه ته ځما د وروستو راځه او که لارم خطاکول نو غږ را باندے کوه فَلَمَّا جَآءَهٗ پس هرکله چه راغے موسیٰ شعیب علیه السلام له وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ او بیان ئے کړه شعیب علیه السلامؑ ته قصه او خپل حال له فرعون سره قَالَ لَا تَخَفْ ۫ٚ نو وویل ورته دهٔ چه مهٔ ویریږه نَجَوْتَ چه خلاص شوے مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵﴾ له ټولی د ظالمانو چه فرعون او قوم ئے دے ځکه چه دلته د هغه تصرف نشته قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا بیا وویل یوے له دغه دواړو چه مشره وه صفورا ئے نوم وو يٰٓاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ز چه اے پلاره ځما مزدور که دے د پاره د میږو څرولو اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ بیشکه چه غوره د هغه چا چه مزدور کوے ئے ته الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ﴿۲۶﴾ هغه څوک دے چه هم قوتناک هم امانتګروی نو به کنایة ئے ادا کړه داخبره چه دے هم قوی او هم امین دے نو پلار ورته وویل چه تا قوت او امانت ئے له څهٔ معلوم کړے دے نو صفورا ورته قصه د تیږے او د بوتے او د امر په راتلو شاته ورته وکړه نو خوشحاله شوا وقَالَ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ وویل دهٔ موسیٰ علیه السلام ته چه بیشکه زهٔ اراده لرم اَنْ اُنْكِحَكَ د دے چه په نکاح درکړم زهٔ تاته اِحْدَى ابْنَتَيَّ یو له دواړو لونړو خپلو هٰتَيْنِ چه دا حاضرے دی عَلٰٓى اَنْ تَاْجُرَنِيْ په دے چه مزدور او سے ته ځما د پاره درمه بیولو ثَمٰنِيَ حِجَجٍ ۚ اته کاله فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا پس که پوره کړهٔ تا لس کاله یعنی دوه کاله دِ نور هم راسره تیر کړه چه لس شی فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ پس هغه به ستا له طرفه احسان وی له ماسره هسے زیاتی وَمَآ اُرِيْدُ او زه اراده نهٔ لرم اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ؕ د دے چه مشقت واچوم په تا چه خامخا لس کاله راسره پوره کړه سَتَجِدُنِيْٓ زر دے چه بیا به مومے تهٔ ما اِنْ شَآءَ اللّٰهُ که اراده وی د خدائی مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ له نیکانو وفا کونکیو په وعدو قَالَ ذٰلِكَ بیا وویل موسیٰ علیه السلام چه هم دا عهد مقرر شو بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ؕ په مابین ځما او ستا کښې چه اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ هر یو له دے دواړو نیټو چه اتهٔ کاله او لس کاله دی قَضَيْتُ پوره کړهٔ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ؕ پس بیا دِ نه وی تعدی په ما باندے په زیات سره وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ او خدائی په دے چه وایو مونږه وَكِيْلٌ ﴿۲۸﴾ نګهبان او شاهد دے فَلَمَّا قَضٰى پس هرکله چه پوره کړه مُوْسَى الْاَجَلَ موسیٰ علیه السلام هغه نیټه خپله چه لس کاله وو او په یو روایت کښې لس کاله

ئے نورهم ورسره تیرکړه پس له نکاح دصفورا او بناپه دغه روایت دے له مصر دسلو کالو راوتلے وو
وَسَارَ بِاَهۡلِهٖۤ او روان شو دے سره له عیاله خپل مصرته په یخه تاریکه شپه کښ اولاره ترے ورکه شوه اوږمه
ترے تاره په تارشوه او په نبځې ئے درد د لنگتابۀ راغے او دے محتاج شو اورته او په لوږه وخوت نو ناگاه اٰنَسَ
ولیده دهٔ مِنۡ جَانِبِ الطُّوۡرِ نَارًا ج له طرفه دکوه طور اور قَالَ لِاَهۡلِهِ امۡكُثُوۡۤا نو وویل ده عیال خپل ته چه
مدار وکړئ تاسے هم په دغه ځائے کښ چه اِنِّیۡۤ اٰنَسۡتُ نَارًا بیشکه ولیدما اور لَّعَلِّیۡۤ اٰتِیۡكُمۡ بنائی چه
راوړم زهٔ تاسے لره مِّنۡهَا له دے اوره څخه او دا په حذف دمضاف سره دے ای من مُوقدها یعنی له بلونکی
ددے اور څخه بِخَبَرٍ خبر دلارے چه ورکه شوے ده راڅخه په توره شپه کښ او داځکه چه تنوین عوض دے
له مضاف اِلیه څخه چه الطریق دے لے بخبر الطریق اَوۡ جَذۡوَةٍ مِّنَ النَّارِ یا چه راوړم به بسرے یا لمبه
له هغه اوره لَعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُوۡنَ ﴿۲۹﴾ بنائی چه تاسے پرے تاوده شئ فَلَمَّاۤ اَتٰىهَا پس هرکله چه راغے
موسیٰ علیه السلام دغه اور لره نُوۡدِیَ نو غږ وکړے شو مِنۡ شَاطِئِ الۡوَادِ الۡاَیۡمَنِ له غاړے له هغه
کندے چه ښی طرف ته وه نسبت موسیٰ علیه السلام ته فِی الۡبُقۡعَةِ الۡمُبٰرَكَةِ په هغه قطعه د زمکے
کښ چه برکتناکه وه ځکه چه کلام پکښ اوریدلے شوے وو مِنَ الشَّجَرَةِ له هغې ونے چه په دغه غاړه
ولاړه وه اَنۡ یّٰمُوۡسٰۤی اِنِّیۡۤ دا سے غږ وشو چه اے موسیٰ بیشکه زهٔ چه یم اَنَا اللّٰهُ هم دا زهٔ یم خدائ
رَبُّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۳۰﴾ رب د عالمیانو ناگاه چه ونے ته ئے وکتل سپینه لمبه پکښ ولیده بے لوگے
وَاَنۡ اَلۡقِ عَصَاكَ ط او بل دا سے غږ ورته وشو چه وغورزوه دا همسا دِ. نو دهٔ همسا په زمکه
وغورځوله او مار شو فَلَمَّا رَاٰهَا تَهۡتَزُّ پس هرکله چه وے لیده دا همسا چه مار شوے ده او منډے
وهی كَاَنَّهَا جَآنٌّ چه گویا که دا نرے مار دے چه خلق ورته تیر مار وائی وَّلّٰی مُدۡبِرًا نو شاتۀ کړه
ترے په دے حال چه تختید ونکے وو له ویرے وَّلَمۡ یُعَقِّبۡ ط او ونهٔ گرځیده و رته بیرته نو بیا غږ وشو
چه یٰمُوۡسٰۤی اَقۡبِلۡ اے موسیٰ مخ که او بیرته راوگرځه وَلَا تَخَفۡ ننه او مهٔ ویریږه له دے مار اِنَّكَ مِنَ
الۡاٰمِنِیۡنَ ﴿۳۱﴾ بیشکه چه ته له امان موندونکو ئے له هر آفته اُسۡلُكۡ یَدَكَ ننه باسه لاس خپل
فِیۡ جَیۡبِكَ په گریوان دقمیص خپل کښ او بیائے راباسه وبیرون که تَخۡرُجۡ بَیۡضَآءَ چه راووزی تک سپین
او دا سے شعاع لری لکه شعاع د نمر مِنۡ غَیۡرِ سُوۡٓءٍ نے بے عیب د برگوالی بلکه یوساعت به سپین وی

بیا به هم هغسې غنم رنګه وَاضْمُمْ اِلَيْكَ اوپیوست اورانزدې که ځان ته یعنې سینې ځیلې ته جَنَاحَكَ
سانګ دِ یعني لاس دِ مِنَ الرَّهْبِ له جهته دویرې دماریاله برص یعني که له برص دِ ویره وشي نوبیائې تخرګ
لاندې که چه بیرته غنم رنګه شي فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ پس دغه دواړه چه عصا اوید بیضا دي حجت او معجزې
دي مِنْ رَّبِّكَ له طرفه درب ستا نښې درسالت ستانوزۀ له دې دواړوسره اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ط فرعون او دې
ددۀ ته اِنَّهُمْ كَانُوْا بیشکه چه دوئ دي قَوْمًا فٰسِقِیْنَ ﴿۳۲﴾ د له د فاسقانو قَالَ رَبِّ نوویل موسیٰ علیه
السلام چه اې ربه ځما اِنِّیْ قَتَلْتُ بیشکه زۀ چه یم وژلې دې ما مِنْهُمْ نَفْسًا له دغه قبطیانو
یوسړې فَاَخَافُ اَنْ یَّقْتُلُوْنِ ﴿۳۳﴾ پس ویریږم له دې چه مړبه کړي دوئ ما په قصاص سره وَاَخِیْ
هٰرُوْنُ او ورور ځما چه دې هٰرون علیه السلام هُوَ اَفْصَحُ دې دیر فصیح دې مِنِّیْ لِسَانًا
له ماله جهته دژبې فَاَرْسِلْهُ مَعِیَ پس ولیږه هغه ماسره رِدْاً یُّصَدِّقُنِیْٓ ز یار او مدد کار چه تصدیق
ځما په وخت دحجت بازئ کښې او دفع د شبهې کوي له ما یا دا چه مراد ځما په ښه وجه بیانوي
اِنِّیْٓ اَخَافُ بیشکه چه زۀ ویریږم اَنْ یُّكَذِّبُوْنِ ﴿۳۴﴾ له دې چه دروغژن به که دوئ ما قَالَ سَنَشُدُّ
نوویل ورته خدائ زر دې چه محکم به کړو مونږه عَضُدَكَ بِاَخِیْكَ مټ او بازو ستا په ورور دِ
وَنَجْعَلُ لَكُمَا او دربه کړو مونږه تاسو ته سُلْطٰنًا غلبه او تسلط په دشمنانو فَلَا یَصِلُوْنَ پس وبه نۀ رسیږي دوي
اِلَیْكُمَا ج تاسې دواړو ته په سبب دمعجزو او دحجتو نوځمونږه یعنې په تاسې به ئې هیڅ لاس نه شي رسیدې اَنْتُمَا
تاسې دواړه وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا او هر هغه څوک چه پیروي ئې وکړه ستاسې الْغٰلِبُوْنَ ﴿۳۵﴾ غالبان به اوسئ همیشه
فَلَمَّا جَآءَهُمْ پس هر کله چه راغې دوئ لره مُّوْسٰى بِاٰیٰتِنَا موسیٰ علیه السلام له معجزو ځمونږه سره
بَیِّنٰتٍ چه ښکاره ظاهرې وې قَالُوْا مَا هٰذَآ نوویل فرعونیانو چه نه دې دا اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى
مګر جادو دې په دروغ تړلې شوې په خدائ او معجزه نۀ ده وَمَا سَمِعْنَا بِهٰذَا او نۀ ده اوریدلې مونږه دا
دعوې دنبوت یا دا سحر فِیْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِیْنَ ﴿۳۶﴾ په زمانه دهغه پلرونو ځمونږه کښې چه پخوا تیر دي وَقَالَ
مُوْسٰى او وویل موسیٰ علیه السلام رَبِّیْٓ اَعْلَمُ چه رب ځما ښۀ دانا دې بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى په هغه چا
چه راغلې وي دې په هدایت سره له انبیاؤ مِنْ عِنْدِهٖ له طرفه درب یعني ښه پوهـ دې په دې چه زۀ په
حق یم او تاسې په باطل یئ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ او ښۀ دانا دې په هغه چا چه وي به دۀ لره عَاقِبَةُ الدَّارِ ط

بنه خاتمه په دنیا کښې په سلامتیٔ دایمان سره یا په آخرت کښې په خلاصی له دوزخ او په دخول د جنت سره اِنَّهٗ لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾ بیشکه شان دا دے چه بریے به نه موی ظالمان یعنی په هدایت سره په دنیا کښې او په خاتمه سره په عقبیٰ کښې وَقَالَ فِرْعَوْنُ او ووبل فرعون یٰۤاَیُّهَا الْمَلَاُ اے ډلیه د مشرانو مَا عَلِمْتُ لَکُمْ نهٔ پیژنم زهٔ تاسے له مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرِیْ ج کوم خدائی غیرله ما چه تعظیم او عبادت ئے وکړئ تاسے او موسیٰ علیه السلام وائی چه خدائی بیدا کونکے دے داسمان نو شاید چه هغه به په اسمان کښې وی فَاَوْقِدْ لِیْ پس بل او رحُما د پاره یٰهَامٰنُ اے هامانه عَلَی الطِّیْنِ په خټے چه پخه شی او دیوالونه د بنا ترے محکم راشی نو هامان خښتے سازے کړے او بیا په اور کښې ئے پخے کړے او اول خښتے هم دهٔ بنا کړیدی پخوانه وے فَاجْعَلْ لِّیْ صَرْحًا پس سازه کړه ماله ماڼۍ لَّعَلِّیْۤ اَطَّلِعُ بنائی ماله چه وخیژم اِلٰۤی اِلٰهِ مُوْسٰی لا خدائی د موسیٰ علیه السلام ته او وے گورم چه شته او که نشته وَاِنِّیْ لَاَظُنُّهٗ او بیشکه هر اینه گمان کوم زهٔ په دهٔ مِنَ الْکٰذِبِیْنَ ﴿۳۸﴾ د ډوله د دروغژنو **روایت دے** چه هرکله فرعون طریقه د خښتو ساز ولو هامان ته وخوده اما په دا سے عجیبه عبارت چه مشتمل دے په ډیر تکبر او تعظیم د دهٔ او په ډیر ذلت او اهانت د مخاطب باندے حُکه چه ئے وباله په یا سره یعنی یٰهَامٰنُ چه وضع دے د پاره د بعید سره د هغه له حضوره او بیا په اسم محضه سره او بیا په وسط د کلام کښې او داهر یو مشیر دی ذلت او اهانت د منادیٰ او بیا مامور ئے کهٔ په جوړ ولو دیوے ډیرے لوئی هسکے ماڼۍ د پاره دختو اسمان ته نو هامان پخوس زره اوستا کاران راوستل او داسے پخه او هسکه ماڼۍ ئے سازه کړه چه پخوا په جهان کښې داسے هیڅ یا نهٔ وه سازه کړے او چاویلی دی چه اوهٔ کروه پورته وه بیا چه پوره شوه او ډیرے وخوت په دے زعم چه اوس اسمان ته به نژدے شوے او سم بیا چه پورته ئے وکتل اسمان هم هغسے لرے وو لکه له زمکے نو شرمنده ترے راکوز شو او بیا دا ماڼۍ په امر الٰهی سره جبریل علیه السلام په خپل پر ووهله نو درے حُایه شوه یو حُائی د فرعون په لښکر ولویده چه یو لک قبطیان ترے لاندے مړهٔ شول او یو حُائی په سیند کښې او یو حُائی هسے په وچه ولویده او له هغه استاکارانو او مزدورانو هیڅوک ترے خلاص نهٔ شول او د فرعون لاعزی او تکبر زیات شو لکه چه وائی وَاسْتَکْبَرَ او تکبر او سرکشی ئے وکړه هُوَ وَجُنُوْدُهٗ هم پخپله دهٔ او هم لښکر د دهٔ فِی الْاَرْضِ په زمکه د مصر کښې بِغَیْرِ الْحَقِّ په ناحق

بے استحقاق وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ او گمان وکړ دوئ دا چه بیشکه دوئ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ (۳۹) مونږ ته به را نه ورستلے
شی په قیامت دپاره د حساب فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ پس راونیوهٔ مونږه هم دے او هم لښکرے ددهٔ فَنَبَذْنٰهُمْ
پس د غورځول مونږه دغه ټول فِى الْيَمِّ ج په سیند کښ چه ټول په یو کرت غرق شو فَانْظُرْ پس وګوره
ته كَيْفَ كَانَ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ (۴۰) اخره خاتمه د ظالمانو وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً او ګرځولی وو مونږه
دوئ په دنیا کښ پیشوایان په ګمراهئ کښ يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ج چه بولی دوئ اور ته تابعان خپل
یعنی په دا سے عملونو ئے مامور کوی چه مفضی وی دوزخ ته لکه کفر او معصیت وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ او بیا په ورځے
د قیامت لَا يُنْصَرُوْنَ (۴۱) مدد به ونه کړے شی له دوئ سره یعنی دا سے به هیڅوك نهٔ وی چه عذاب
له دوئ دفع کړی وَاَتْبَعْنٰهُمْ او تابع کړه مونږه د دوئ یعنی لازم کړهٔ مونږه د دوئ سره فِىْ هٰذِهِ الدُّنْيَا په دے
جهان کښ لَعْنَةً ج لرے والے له رحمت یا ښیرل د خلقو ورپسے لعنت چه تر قیامته ملائک او بنی ادم
پرے لعنت وائی وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ او په ورځے د قیامت هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ (۴۲) ع دوئ له قبیح کړی شویو به وی
یعنی تورمخی یا رټلی به وی وَلَقَدْ اٰتَيْنَا او هرائینه په تحقیق ورکړے وو مونږه مُوْسَى الْكِتٰبَ موسیٰ
علیه السلام لره کتاب چه تورات وو مِنْۢ بَعْدِ مَآ پس له هغه اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى چه هلاك کړی
وو مونږه خلق د پخوانیو قرونو لکه قوم د قرونو لکه قوم د نوح او د صالح او د لوط علیهم السلام په حال د
کید و دا بتونو او د احکامو د دغه کتاب بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ بصیرتونونه دپاره د خلقو او دا جمع د بصیرة چه نور د
زړهٔ ته وائی یعنی انوار دپاره د زړونو د دوئ وَهُدًى او لاره ښودونکی احکامو د شرع ته وَّرَحْمَةً او مهربانی دپاره د
عاملانو او تابعانو لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ (۴۳) بنائی چه دوئ پند واخلی پرے وَمَا كُنْتَ او نهٔ وے حاضر اے
رسوله بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ په طرف د هغه غرهٔ یا د هغه وادئ یا د هغه مکان چه غربی وو له موسیٰ علیه السلام
څخه په وخت د مناجات کښ اِذْ قَضَيْنَآ په هغه ځائ کښ چه وکړهٔ مونږه اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ موسیٰ
علیه السلام ته وحی د رسالت فرعون ته او قوم ددهٔ ته وَمَا كُنْتَ او نهٔ وے ته مِنَ الشّٰهِدِيْنَ (۴۴) له
حاضرانو په وخت د وحی کښ دهٔ ته چه دا احوال ددهٔ مشاهدی وائی وَلٰكِنَّآ او لیکن مونږه وحی وکړه
تا ته د دغه قصے دپاره د دے چه اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا پیدا کړهٔ مونږه پس له موسیٰ علیه السلام د ډیر
قرونو ربڼا ګڼک یعنی اهل د قرونو چه ډیر اوږد و د عمرونه ئے لرل فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ج

پس او بہ دۀ شول پہ دوئ داعمرونہ نو علوم پکښې ورک شو او احکام شرعیہ متغیر شو او اخبار بہ بلع چیہ شو نو را ولیږلے مونږہ نۀ دپارہ دتجدید دد ے تولو چہ هر یو چا تہ معلوم شي چہ دا کار دوحی دے وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا او نۀ وے تہ مقیم فِيٓ اَهْلِ مَدْيَنَ پہ مابین داهل مدین ښار کښې تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ چہ لوستل بہ دِ پہ دوئ یعنې چہ زده کول بہ دِ لہ دوئ اٰيٰتِنَا دهغہ ایتونہ ځمونږہ چہ پہ هغو کښې وہ قصہ د شعیب او دموسیٰ علیهما السلام یعنې پہ مدین کښې خونۀ وے چہ دا قصہ دِ هلتہ زده کړے ده وَلٰكِنَّا اولیکن مونږہ چہ یو كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿۴۵﴾ یو مونږہ لیږونکی ددغہ قصوتا تہ وَمَا كُنْتَ او نۀ وے تۀ حاضر بِجَانِبِ الطُّوْرِ پہ څنګ دکوہ طور اِذْ نَادَيْنَا پہ هغہ ځائ کښې چہ غږ وکۀ موسیٰ علیه السلام تہ چہ خذ الکتٰب بقوۃ واخلہ کتاب پہ قوت سرہ وَلٰكِنْ رَّحْمَةً اولیکن ولیږلے مونږہ تۀ جهتہ دهغہ رحمت چہ پہ تا واقع دے مِّنْ رَّبِّكَ لہ طرفہ درب ستا او خبر کړے مونږہ پہ قصو لِتُنْذِرَ قَوْمًا دپارہ ددے چہ وویرے تۀ هغہ قوم مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ چہ نۀ دے راغلے دوئ لرہ هیڅ ویرونکے لہ عذاب مِّنْ قَبْلِكَ بغوالہ تا یعنې لہ هغہ خلقو تہ اګر کۀ نور و خلقو لہ راغلی وو لکہ بنی اسراء یلو لرہ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۶﴾ بنائی چہ دوئ پند واخلی ستا پہ انذار وَلَوْلَآ اَنْ او کۀ چرے نۀ وے لحاظ ددے خبرے تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌ چہ بہ ورسیږی دغہ مکیانو تہ غم یعنې عذاب بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ پہ سبب دهغہ شرک او معاصیو چہ مخوالیږلی دی لاسونو ددوئ یعنې چہ کړی دی دوئ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا پس وبہ وائی دوئ پہ وخت دنزول دعذاب کښې چہ اے ربہ ځمونږہ لَوْلَآ اَرْسَلْتَ ولے نۀ رالیږۀ تا اِلَيْنَا رَسُوْلًا مونږہ لرہ کوم رسول چہ ستا پیغام ئے مونږہ لرہ راوړے وے فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ پس پیروی کړے وے مونږہ دایتونو ستا سرہ لہ تصدیقہ د رسول وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ او وے مونږہ اوس لہ مؤمنانو فائدہ د اول لولا امتناعیہ دے چہ شرط او جزا غواړی او دا ایت ئے تر اخرہ شرط دے او جزائے محذوفہ دہ چہ لَمَآ اَرْسَلْنٰكَ یا لَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْعَذَابَ دے او دغہ دویم لولا تحضیضیہ دے چہ لہ درست مدخول خپل سرہ واقع شوے دے پہ سیاق د اول لولا کښې نو حاصل دایت دا شو چہ کہ چرے نۀ وے دا قول ددوئ پہ وخت دنزول دعذاب کښې لہ جهتہ دکفرہ او دمعاصیو ددوئ چہ اے ربہ ولے دِ نۀ رالیږۀ مونږہ لہ کوم رسول چہ ستا ایتونہ ئے مونږہ لرہ راوړی وے او مونږہ پرے عمل کړے وے او اوس مؤمنان وے نو مونږہ بہ تہ نۀ وے لیږلے

یا عذاب به مورالیږلے دو روایت دے چه هرکله قریشو یهودو وپوښتیدل له نبوت د رسول علیه
السلام او .. وئ وویل چه پیغمبر دے نعت ئے په تورات کښ راغلے دے نو مشرکانو وویل چه مونږ
داخبره هم نهٔ منو ځکه چه کهٔ پیغمبر وے نو د موسیٰ علیه السلام په شان معجزے به ئے لرے لکه چه
د .. فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ پس هرکله چه راغے دے کفارو د مکے له حق یا قرآن یا رسول مِنْ عِنْدِنَا له
جانبه ځمونږه قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِیَ نو وویل دغه کفارو چه ولے نهٔ دی ورکړے شوی معجزے محمد صلی
الله علیه وسلم ته مِثْلَ مَآ په شان دهغه معجزو اُوْتِیَ مُوْسٰی ط چه ورکړے شوے وے موسیٰ علیه السلام
له یعنی ده له عصا او ید بیضا او کتاب ټول په یوکرت او داسے نورے هم ورنهٔ کړے شوے دهغه پیغ‍ن
نو رب العزت وائی چه اَوَلَمْ یَکْفُرُوْا آیا نهٔ وو کافر شوی دوئ یعنی هغه جنس د دوئ په کفر او په عناد
راغے او په مذهب کښ چه کفارو د زمانے د موسیٰ علیه السلام وو بِمَآ اُوْتِیَ مُوْسٰی په هغه معجزو چه
ورکړے شوے وے موسیٰ علیه السلام ته مِنْ قَبْلُ ج پخوا له قرآنه قَالُوْا سِحْرٰنِ چه وویل قبطیانو
چه ځښتنان د جادو دی دا دواړه چه موسیٰ او هارون علیهما السلام دی تَظٰهَرَا وقف چه یشتی یا
معاون شوی دی سره دیو بل په خوارتوکښ یا مشرکان د مکے وائی چه تورات او قرآن دواړه جادو دے
یو دبل معاونان وَقَالُوْٓا اِنَّا او وائی دا قبطیان یا مشرکان چه بیشکه مونږه بِکُلٍّ کٰفِرُوْنَ (۴۸) په ټولو
پیغمبرانو یا کتابونو کافران یو یعنی یو هم نه منو قُلْ فَاْتُوْا بِکِتٰبٍ وو ایه ورته چه پس راوړئ تاسے یو
داسے کتاب مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ له جانبه دخدائ هُوَ اَهْدٰی مِنْهُمَآ چه هغه بنهٔ لاره خودونکے وی له دے دواړو
کتابونو اَتَّبِعْهُ چه پیروی وکړم زهٔ دهغه کتاب اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ (۴۹) که چرته یئ تاسے رشتینی په
دعویٰ کښ چه تورات او قرآن سحر دے فَاِنْ لَّمْ یَسْتَجِیْبُوْا لَکَ پس کهٔ چرے ونهٔ منله دوئ داخبره
ستا او داسے کتاب ئے رانهٔ وړو فَاعْلَمْ اَنَّمَا پس پوهه شه تهٔ چه بیشکه هم داخبره ده یَتَّبِعُوْنَ
اَهْوَآءَهُمْ ط چه پیروی کوی دوئ د ارمانونو خپلو بے دلیله بے حجته وَمَنْ اَضَلُّ او څوک دے ډیر ګمراه
مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ له هغه چا چه پیروی کوی د ارمان خپلے بِغَیْرِ هُدًی بے له بنودلو د لارے مِّنَ اللّٰهِ ط له
طرفه دخدائ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ (۵۰) ع نهٔ ښائی سمه لاره هغه ټولی
د ظالمانو ته چه بیخ ونلی وی په هوا د نفس کښ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا او هر آئینه په تحقیق پیوسته کړی

دی سره مونږ لَهُمُ الْقَوْلَ دوئ لره هر هغه خبره چه د دوئ پکښ منفعت وی یعنی لیږلے دے مونږ دوئ لره دا قرآن چه ټول سره وعد او وعید او عبرت او قصے او نصائح او دلائل او امثال دی پیوسته یو په بل پسے یا دا چه یو آیت په بل پسے او یو سورت په بل پسے په تدریج سره راغلے دے د پاره د دے چه لَعَلَّهُمْ یَتَذَکَّرُوْنَ ﴿۵۱﴾ بنائی چه دوئ پند یرے واخلی او بنهٔ فکر پکښ وکړی چه دا سے ښیچ د ریچ کلام او معجز د شان د بنده نهٔ دے اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ هغه کسان چه ورکړے دے مونږ دوئ لره کتاب یعنی تورات که دا آیت پکښ مدنی دی لکه ابن سلام او ملګری د دهٔ شو یا انجیل لکه هغه دوه دیرش سړی چه جعفر طیار سره له حبشو راغلی وو مکے لره او اتهٔ تنه له شام د اخلوینت نهاری وو چه اسلام ئے راوړے وو مِنْ قَبْلِهٖ مخکښ اله قرآن هُمْ بِهٖ دوئ په دے قرآن یُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ ایمان راوړی وَاِذَا یُتْلٰی عَلَیْهِمْ او په هغه وخت چه ولوستے شی دا قرآن په قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ نو وائی دوئ چه ایمان راوړے دے مونږ ه په دے قرآن او یقین دے ځمونږ ه په دے چه اِنَّهُ الْحَقُّ بیشکه دے چه حق دے چه راغلے دے مِنْ رَّبِّنَآ له طرفه د ربه ځمونږ ه اِنَّا کُنَّا بیشکه چه مونږ ه وو مِنْ قَبْلِهٖ لا مخکښ اله نزول د دهٔ مُسْلِمِیْنَ ﴿۵۳﴾ کردن نهاده د دهٔ ځکه چه د دهٔ ټول حال له مخکښ اینو کتابونو مونږ ته معلوم وو اُولٰٓئِکَ دغه کسان چه دی ایمان ئے راوړے دے په قرآن کهٔ یهود که نصارٰی دی یُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ ورکړے شی دوئ لره اجر د دوئ مَّرَّتَیْنِ دوه کرته یو کرت په ایمان د خپل کتاب او بل کرت په ایمان د قرآن بِمَا صَبَرُوْا په سبب د دے چه صبر کړے وو دوئ په دواړو ایمانونو یا په ایمان د قرآن مخکښ اله نزول روایت دے چه دے خلویښتو نصرانیانو ته ابو جهل او ملګرو به ئے زور ورتے کولے او دوئ به ورته ویل چه تاسے لره دِ هم خدائ توفیق د ایمان درکړی یا منافقانو به طعن ویلو په ابن سلام او په ملګرو ئے او دوئ به نرمه خبره ورته کوله نو د دوئ په مدح کښی نازل شو وَیَدْرَءُوْنَ او دفع کوی دوئ بِالْحَسَنَةِ السَّیِّئَةَ په ښے خبرے سره بده خبر یا په طاعت سره معصیت یا په حلم سره ضرر وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او بعض له هغه مال چه ورکړے دے مونږ ه دوئ لره یُنْفِقُوْنَ ﴿۵۴﴾ ورکوی دوئ په لار د خدائ کښی وَاِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ او په هغه وخت چه واوری دوئ کومه عبثه خبره لکه زوږول د مشرکانو او طعن د منافقانو اَعْرَضُوْا عَنْهُ نو څنګ وکړی دوئ له هغه لغو او په سکوت کښ ئے تیر کړی وَقَالُوْا او وائی دوئ هغه څښتنانو د لغو ته لَنَآ اَعْمَالُنَا دی مونږ ه لره عملونه ځمونږ ه له حمله او له صبره وَلَکُمْ اَعْمَالُکُمْ ز او دی تاسے

له عملونه ستاسي له حماقت اوله لغو یا مونږ. ه لره خپل دين دے سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ز سلام دے یعنی امان دے له مونږه تاسے لره له دے چه ستاسے دلغو مقابله وکړو مونږه په لغو سره لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ﴿۵۵﴾ نه غواړو مونږه جاهلان یعنی صحبت او اختلاط ددوئ چه موجب د خسارت دے په دنيا او په عقبیٰ کښ روایت دے چه ابوطالب په وخت د مرګ کښ وویل چه اے بنی هاشمو رشتینے وبولئ محمد صلی الله علیه وسلم چه خلاص شی له عذابه نو رسول الله علیه وسلم ورته وویل چه اے ځما تره نورو خلقو ته نصیحت کوے او خپل ځان دِ هیر دے نو هغهٔ وویل چه وراره څرنګه راته وائے دهٔ وویل یوکرت ووایه چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ چه ځما عذر خواهیٔ ته جوړشی نو ابوطالب وویل چه که چرے زهٔ نهٔ ویریدے له سرزنش او له ملامتیٔ د وړو او د زړو ښځو د قریشو نو به م ویلی وو او له دے سره موافق ښوایه ایام د صحت څو ابیات ئے هم ویلی دی چه دا دی ۔ سه

تَااللهِ لَنْ يَّصِلُوْا اِلَيْكَ بِجَمْعِهِمْ	حتی اُوَسَّدَ فِی التُّرَابِ دَفِيْـنًـا
فَاصْدَعْ بِاَمْرِكَ مَا عَلَيْكَ غَضَاضَةٌ	اَبْشِرْ بِذَاكَ وَقَرَّ مِنْهُ عُيُوْنًا
وَدَعَوْتَنِيْ وَزَعَمْتُ اَنَّكَ نَاصِحِيْ	وَلَقَدْ صَدَقْتَ وَكُنْتَ ثَمَّ اَمِيْنًا
وَعَرَضْتَ دِيْنًا لَا مُحَالَةَ اِنَّهٗ	مِنْ خَيْرِ اَدْيَانِ الْبَرِيَّةِ دِيْنًا
لَوْ لَا الْمَلَامَةُ اَوْحَذَارِیَ سَبَّةٍ	لَوَجَدْتَنِيْ سَمِحًا بِذَاكَ مُبِيْنًا

او هر کله چه دهٔ د پر حرص کو لو په ایمان د ابوطالب نو نازل شو اِنَّكَ بیشکه ته چه ئے لَا تَهْدِیْ هدایت نهٔ شے کولے یعنی تهٔ قادر نه ئے په دے چه د ایمان په لارے ئے برابر کړے مَنْ اَحْبَبْتَ هر هغه څوک چه ته محبت لرے د هدایت د هغهٔ سره وَلٰكِنَّ اللهَ اولیکن خدائ چه دے يَهْدِیْ مَنْ يَّشَآءُ سمه لاره بنائی هر هغه چاته چه اراده ئے وشی وَهُوَ اَعْلَمُ او دے ښهٔ دانا دے بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ په سمه لاره موندونکیو یعنی په هغوچه حکم ازلی شوے دے په هدایت د هغو روایت دے چه حارث بن عثمان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چه مونږه پوهیږو چه ته رشتینے ئے او مونږه ته هغه لار ښائے چه ځمونږه د دواړو جهانو پکښ خیر دے اما که ستا متابعت وکړو نو له دے ویریږو چه دا چا به مونږه له دغه ځائ په جلتیٔ و باسی او وړل به شو نو په رد د دے قول کښ نازل شو وَقَالُوْٓا او وائی دا

کفار ان نَّتَّبِعِ الْهُدٰى كه چرے متابعت وکړو موږ د دلارے د حق مَعَكَ له تا سره او ایمان به نا راوړو
نُتَخَطَّفْ نو وابه لوزولے شو او به جلتیٰ به وویستلے شو مِنْ اَرْضِنَاؕ له زمکے خپلے یعنی له دغه خپله وطنه نو رب
العزت فرمائی په جواب د دوئ کښ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ ایا نهٔ دے ورکړے ځائ موږ دوئ لره حَرَمًا اٰمِنًا داسے
حرم په امان دے له قتل او له غارته چه نور تمام عرب پرے مبتلا دی او بل دا چه یُّجْبٰۤى اِلَیْهِ راجولے شی له هره طرفه
دے حرم ته ثَمَرٰتُ كُلِّ شَیْءٍ میوے د هر څیز سره له کیده لو دے حرم وادی بے کښت رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا روزی له جانبه
حُموږ د بے منت نو هر کله چه دوئ سره له دغه بت پرستیٔ موږ دا سے په امان ساتو نو بس له ایمان راوړلو به
ئے څرنګه نه ساتو یعنی لا بنهٔ به ئے ساتو وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ او لیکن زیات د دوئ چه دی لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾
نه پوهیږی په دے وَكَمْ اَهْلَكْنَا او ډیر هلاک کړی دی موږ د مِنْ قَرْیَةٍۭ له اهل د ښاره چه په سبب د بے
فکرئ بَطِرَتْ مَعِیْشَتَهَاۚ چه کافر شوی دی په عیش خپل کښ یعنی دا وفور د نعمتونو موجب د بغی د
وی شو لکه اهل د مکے نو موږ هلاک کړه دوئ فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ پس دا دی کورونه د هغوئ چه خرا بے
او الی پرتے دی لَمْ تُسْكَنْ چه اُسید نه پکښ نهٔ ده کړے شوے یعنی پکښ نهٔ دی اوسیدلی مِّنْۢ بَعْدِهِمْ
پس له هلاکه د دوئ اِلَّا قَلِیْلًاؕ مګر لږ یو ساعت د کوم مسافر یا ره روی وَكُنَّا او وو موږ نَحْنُ الْوٰرِثِیْنَ ﴿۵۸﴾
هم دا موږ وارثان یعنی ټول هلاک شوا و مساکن ئے موږ ته پاتے شو لکه مورث چه مړ شی او هر څه ئے
وارثانو ته پاتے شی وَمَا كَانَ رَبُّكَ او نهٔ دے رب ستا له جهته د عادت ته مُهْلِكَ الْقُرٰى هلاکونکی د ښارونو
هر وخت بلکه عادت ئے دا دے چه نهٔ ئے هلاکوی حَتّٰى یَبْعَثَ تر هغه پورے چه ولیږلی دے فِیْۤ اُمِّهَا
په مور یعنی په اصل او په غټ د هغه ښارونو کښ رَسُوْلًا یَّتْلُوْا یو رسول چه لولی دے عَلَیْهِمْ اٰیٰتِنَاۚ
په دوئ ایتونه حُموږ د دپاره د قطع کولو د عذر وَمَا كُنَّا او نهٔ یو موږ مُهْلِكِی الْقُرٰۤى هلاکونکی یعنی
خرابونکی د دغه ښارونو په عذاب سره اِلَّا وَاَهْلُهَا مګر په هغه وخت چه اهل د دغه ښارونو ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۹﴾
ظالمان وی په تکذیب د رسلو او په انکار له حق وَمَاۤ اُوْتِیْتُمْ او هر هغه چه درکړے شوی دی تاسے ته مِّنْ
شَیْءٍ له کوم څیزه چه اسباب وی د دنیا فَمَتَاعُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا پس هغه معاش دے د دغه وارہ ژوندون
وَزِیْنَتُهَاۚ او ښایست دے د دغه دنیا فانی بے بقا وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ او هر هغه چه خدائ څخه دی چه
غفران او رضوان او جنت او دیدار دے خَیْرٌ وَّاَبْقٰىؕ هغه هم غوره او هم باقی دے حُکه چه نهٔ

ع

يګنې محنت او مشقت شته اونهٔ فنا لري اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۰﴾ ايا پس تاسے عقل نهٔ کوئ چه اسان په سخت او باقي په فاني بدلوئ اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ ايا پس هغه څوك چه وعده وکړه مونږه له دهٔ سره وَعْدًا حَسَنًا وعده ښه چه هغه وعده ده دجنت اودديدار فَهُوَ لَاقِيْهِ پس دے مونده ونکے دے دهغه وعدے بے شبهے كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ دے داسے دے لکه هغه څوك چه معاش ورکړے وی مونږه دهٔ له مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا معاش دد دے واړه ژوندون لکه نعمت د زحمت سره او دولت له محنت سره او مال له زوال سره او جاه وجلال له انتقال سره ثُمَّ هُوَ پس له هغه بيا دے يَوْمَ الْقِيٰمَةِ په ورځ دقيامت مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۱﴾ له حاضر کړے شويو به وی او رته اوله دعو دواړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم او ابوجهل دے يا على رض حمزه رض عمار رض او ابوجهل دے يا مطلق مؤمن او کافر دے وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ اوياده که هغه ورځ چه غږ به وکړه خدائے دغه کفارو ته فَيَقُوْلُ پس وبه وائی ورته چه اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ چرته دی اواوس څهٔ شو هغه شريکان ځما كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۲﴾ چه وئ تاسے په دنيا کښ چه ګمان به موکولو پرے د شريکانو ځما قَالَ الَّذِيْنَ نو وبه وائی هغه کسان حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ چه ثابت او واجب شوے دے په دوی ګفت په دخول د نار چه هغه شيطانان يا مشران دی د کفارو چه وائی به رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اے ربه ځمونږه دا ضعيفان او تابعان هغه کسان دی اَغْوَيْنَا ج چه لغزولی وو مونږه دوی په دنيا کښ۔ دا هٰٓؤُلَآءِ مبتدا دی او الذين اغوينا ئے خبر دے او عايد يګښ محذوف دے چه هُمْ دے او دا مکښ ځان له کلام دے يعنی دا چه اَغْوَيْنٰهُمْ لغزولی وو مونږه دوی داسے كَمَا غَوَيْنَا ج لکه چه ګمراه شوی وو مونږه په خپله او يا دا موصول صفت دے دمبتدا او اغوينهم ئے خبر دے حاصل مراد د دغه شياطينو يا کفارو دا دے چه مونږه خو خپل اختيار لغزيدلی وو نو هم داسے دوئ هم په خپل اختيار لغزيدلی وو ځکه چه که مونږه دوئ کفر ته بللی وو خو په مقابله ددے کښې خدائ هم ايمان ته بللی وو چه رسولان او کتابونه ئے ورلره رالېږلی وو سره له دلائلو دعقل او هرکله چه داسے وو تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ ز بيزاره يُو مونږه تا ته هم له دوئ او هم له هغه کفره ددوئ چه پخپل اختيار ئے غوره کړے وو مَا كَانُوْٓا نهٔ وو دوئ اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾ داسے چه ځمونږه عبادت ئے کولو بلکه عبادت د هوا د نفس خپل ئے کولو وَقِيْلَ ادْعُوْا وبه وئيلے شی دے کفارو ته چه وبولئ تاسے شُرَكَآءَكُمْ هغه شريکان خپل يعنی هغه بتان چه تاسے

په خدایئ کښې ماسره شریکان کړي وو چه اوس دا عذاب د رڅخه دفع کړي فَدَعَوْهُمْ پس وبه بولي دا کفار
هغه بتان په طمع د مدد کارۍ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ پس هر هیڅ جواب به ورنهٔ کړي دا بتان دوئ له په سبب
عجزله جواب اوله نصرت وَرَاَوُا الْعَذَابَ ج او وبه وینی دوئ عذاب. هم تابعان اوهم متبوعان لَوْ اَنَّهُمْ
کهٔ چرې دوئ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ ﴿۶۴﴾ وے په دنیا کښې چه سمه لاره ئې نیولے وے نو دا عذاب به ئې اوس نهٔ ولید لے
وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ اوياده کړه هغه ورځ چه غږ به وکړي خدائ مکذبانو ته فَيَقُوْلُ پس وبه وائي ورته مَا ذَآ
اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶۵﴾ هغه څرنګه جواب وو چه ورکړے وو تاسے رسولانو لره په هغه وخت چه تاسے
ئې حق ته بللي وئ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ پس پټ به شي په دوئ جواب د پیغمبرانو له ډیره هیبته
یا جواب خپل چه پرے خلاصیږي یا حجت يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ د فرسان فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۶۶﴾ پس
دوئ به نهٔ پوښتنې سره څپلو کښې یو له بله هم ځکه چه ټول به لاجواب وي فَاَمَّا مَنْ پس هر چه
هغه څو دي تَابَ وَاٰمَنَ چه توبه وباسي له شرکه او ایمان راوړي په خدائ او په رسول وَعَمِلَ
صَالِحًا او عمل کوي د نیکو فَعَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنَ پس بنائي چه وي به د ے مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ ﴿۶۷﴾ له خلاصیدو نکو
په وخت د سوال کښې له جوابه روایت دے چه هرکله مشرانو د قریشو وویل چه خدائ ولے محمد
صلی الله علیه وسلم لره دا نبوت ورکولو دا څو ډیر لوئ منصب وو نو میبایډ چه کوم غټ سړي لره له
مکے یا له طائف ورکړے شوے وے لکه ولید بن مغیره د مکے یا ابو مسعود د طائف. لکه ایت دے چه[عه] لَوْلَا
نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ۝ نو په جواب د دوئ کښې نازل شو وَرَبُّكَ يَخْلُقُ
او رب ستا پیدا کوي مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ط هر هغه څوک چه اراده ئې وشي د پیدا کو د هغه بے موجبه بے مانع او
غوره کوي دے د پاره د رسالت هر هغه څوک چه اراده ئے وشي مَا كَانَ او نهٔ دے لَهُمُ الْخِيَرَةُ ط دوئ لره
اختیار د دے رد او د قبول بلکه خدائ لره دے سُبْحٰنَ اللّٰهِ پاکی ده خدائ لره له دے چه د بل چا اختیار
له دهٔ د پاسه شي وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۸﴾ او بلند شان دے له هغه شرکه چه دغه بت پرستان ئے
تا بتوي وَرَبُّكَ يَعْلَمُ او رب ستا پوهیږي مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ هغه عداوت ستا او کینه د مؤمنانو چه
پټوي ئے سینے د دوئ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۶۹﴾ او هغه طعن او تکذیب د قرآن چه ښکاره ئے وائي دوئ وَهُوَ

عه معنیٰ دا چه نه نازلیدهٔ دا قرآن په یو لوئ سړي باندے له دوو قریو څخه ۲

اللّٰهُ اود ے هغه خدائے دے چه مختص او مستحق دے دالوهیت لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط نشته بل لائق دالوهیت
او د معبودیت مگر خاص هم دے دے لَهُ الْحَمْدُ خاص هم دهٔ لره ثناده فِي الْاُولٰى وَالْاٰخِرَةِ زهم په دنیا او
هم په اخرت کښ ځکه چه ښتن د نعمتونو د دواړو جهانو هم دے دے وَلَهُ الْحُكْمُ او خاص هم ده له دے
حکم او قضا په مابین د بندګانو خپلو کښ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۷۰﴾ او خاص هم دهٔ ته به بیا بیولے شی په قیامت
قُلْ اَرَءَيْتُمْ ووایه اے رسوله دغه مکیانو ته چه ایا وینی تاسے یعنی خبر نکه د رته ښکاره کړی چه اِنْ جَعَلَ
اللّٰهُ کهٔ چرے وګرځوی خدائ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا په تاسے داشپه اوږده همیشه اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ این تر
ورځے د قیامت پورے په دے شان چه نمر همیشه زمکے لاندے حصارکه او راختلو ته ئے نه پرېږدی
مَنْ اِلٰهٌ نوخوک دے هغه خدائ غَيْرُ اللّٰهِ بے له الله جل شانه يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ط چه راوړی تاسے له رڼا چه
پکښ خپل ګزران وکړے شئ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴿۷۱﴾ ایا پس نهٔ اورئ تاسے داخبره د زړهٔ په غوږ چه موجب
داوختو ستاسے شی له شرکه قُلْ اَرَءَيْتُمْ بیا ووایه ورته چه ایا وینئ تاسے اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ چه کهٔ چرے
وګرځوی خدائ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا په تاسے داورځ اوږده همیشه اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ این تر ورځے د
قیامته پورے داسے چه نمر پاس په مینځ د اسمان کښ حصارکه او لویدلو ته ئے نهٔ پرېږدی مَنْ اِلٰهٌ
نوخوک دے هغه خدائ غَيْرُ اللّٰهِ بے له الله عزاسمه يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ چه راوړی تاسے له شپه تَسْكُنُوْنَ
فِيْهِ ط چه ارام وکړئ تاسے په هغهٔ کښ او په خوب سره راحت درلره حاصل شی اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۷۲﴾ ایا
پس نهٔ وینئ تاسے دا اثار د قدرت چه موجب شی داوختو ستاسے له شرکه وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ او خاص
له رحمته خپله پیدا کړے ده دهٔ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ تاسے لره هم شپه او هم ورځ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ د پاره د
دے چه آرام وکړئ تاسے په دے شپه کښ وَلِتَبْتَغُوْا او چه ولټوئ په دے ورځے کښ مِنْ فَضْلِهٖ له
فضله یعنی له روزئ دده وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾ او بنائی چه شکر وکړئ تاسے په دے نعمت د شپے او
د ورځے وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ او یاده کړه هغه ورځ چه غږ به وکړی خدائ دغه بت پرستانو ته فَيَقُوْلُ پس وبه
وائی ورته چه اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ چرته دی اوچه شول اوس هغه شریکان ځما كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۷۴﴾
چه وئ تاسے په دنیا کښ چه ګمان به موکولو پرے ځما د شریکانو په دروغو وَنَزَعْنَا او بیرون به راوباسو
مونږه مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ له هر یو لی شَهِيْدًا یو شاهد په افعالو او اقوالو ددوئ یعنی پیغمبر د هغه وخت چه

شاهدی به ووائی په کفر او په تکذیب د دوئ فَقُلْنَا هَاتُوْا پس وبه وایو مونږ ه دوئ ته چه راوړئ اوس
بُرْهَانَكُمْ هغه حجت او دلیل خپل چه لرئ ئے په دے شرك او تكذیب فَعَلِمُوْٓا پس پوهه به شی دوئ هغه وخت
په یقین اَنَّ الْحَقَّ لِلّٰهِ چه بیشکه اُلوهیت او توحید خاص خدائ لره دے او بل هیڅوك ورسره شریک نهٔ دی
په دغه کښ وَضَلَّ عَنْهُمْ او ورك به شی له دوئ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۷۵﴾ هغه اثبات د شركاؤ او امید ع
د شفاعت له بتانو چه وو دوئ چه په دروغو به ئے ثابتول اِنَّ قَارُوْنَ بیشکه قارون چه وو كَانَ مِنْ
قَوْمِ مُوْسٰى وو له قومه د موسىٰ علیه السلام څخه یعنی له بنی اسراءیلو وو چه د موسىٰ علیه السلام د تره
ځوئ وو دا سے چه قارون بن یصهر بن قاهث بن لاوی بن یعقوب علیه السلام وو او دے په سبب
د ډیر ښائست منور بالهٔ شه او په اول کښی مسلمان او ښهٔ قاری وو د تورات. او یو له هغو اویا کسو
وو چه موسىٰ علیه السلام راز له بیولی وو اماد سامری په شان منافق شو او دے چه عاجز او
نادار وو نو ډیر متواضع وو بیا چه دولتمند شو نو ډیره لوئی او کبر ئے پیدا کړو لکه چه وائی فَبَغٰى
عَلَيْهِمْ ص پس جبر او تعدیٰ او لوئی ئے بنا کړه په دے بنی اسراءیلو په سبب د کبر او د ډیروالی د مال سره
ځکه چه دولت ئے ډیر شو بے حسابه لکه چه وائی وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ او ورکړے وو مونږه دهٔ لره له خزانو
مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ دومره قدر چه بیشکه کلیګانے د هغه چه وی او دا مَا په معنیٰ د الَّذِیْ دے او دغه اِنَّ
سره له اسم او له خبره خپله ئے صله ده لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ هرائینه درنه او ستومانه کوله به ئے یوه
لویه ډله د سړیو چه څلویښت ننګ ویلی دی اوچا اویا اُولِی الْقُوَّةِ ۚ تول ښتنتان د قوت یعنی پهلوانان
او صاحب د مدارك ویلی دی چه شپیته قچرو به پرے بار یدل او دغه ټولے د پوستکو وے او له کوتے به
زیاتے نهٔ وے او هرے خزانے له به یوه کلی وه او چا ویلی دی چه مراد له مفاتیح لونبی د ساتلو د مال
دی او هغه څلور کروړه او څلویښت زره خیګان وو د اټول ډك له سرو او سپینو زرو وو وَاِذْ قَالَ یاد
که هغه چه وویل لَهٗ قَوْمُهٗ دهٔ ته قوم خپل یعنی مسلمانانو ئے لَا تَفْرَحْ چه مهٔ خوشحالیږه په ډیروالی د مال
یعنی کبر او فخر پرے مهٔ کوه ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ ﴿۷۶﴾ نهٔ خوښوی خوشحالیدونکی
یعنی کبر او فخر کونکی په مال وَابْتَغِ او غواړه فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ په هغه دولت کښی چه درکړے دے تا له خدائے
الدَّارَ الْاٰخِرَةَ هغه جهان یعنی د اموال د صرف که په لاره د خدای کښی او وسیله ئے که حصول د آخرت

ته وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ او مه هيروه برخه خپله مِنَ الدُّنْيَا له مال د دنيا يعني مه هيروه د اچه برخه د په د خت
کوچ کښې له دغه ماله چه د جمع کړيدي يو کفن به وی فقط يا معنیٰ د اچه په دنيا کښې هم په ځان لګوه هغه قدر
مبلغ چه کفاف د پره کيږی وَ اَحْسِنْ او احسان کوه له بندګانو د خدائ سره په ورکړود مال كَمَآ اَحْسَنَ
اللّٰهُ لکه چه احسان کړے دے خدائ اِلَيْكَ له تا سره چه دا سے د ير دولت ئے درله درکړے دے وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ
اومه غواړه فساد فِى الْاَرْضِ په زمکه کښې په لويئ او په ظلم او په بغی سره اِنَّ اللّٰهَ بيشکه چه خدائ لَا يُحِبُّ
الْمُفْسِدِيْنَ (۷۷) نه خوښوی فساد کونکی قَالَ نو وويل قارون دوئ ته په جواب کښې اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ بيشکه هم دا
خبره ده چه راکړے شوے دے ما له دغه مال عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ په هغه علم چه ما څخه دے يعنی علم د تورات
يا د کيميا يا د سود اګرئ يا د دهقانئ يا د کوم بل کسب دے فائده سهل ويلی دی چه نيلبخت هغه
سړے دے چه اقوال او افعال او احوال خپل ئے ټول منسوب کړل خدائ ته او په هر يوه کښې ئے ځان ممنون
بالله او بدبخت هغه دے چه دغه ټول ئے ځان ته منسوب کړل او فخر به ئے پرے کولو او له خدائ نه بيخی
غافل وو لکه قارون۔ نو عاقبت ئے هلاک دے دهغه په شان اَوَلَمْ يَعْلَمْ آيا معلوم شوی نه وو دهٔ ته له
تورات او له کتابونو دا خبره چه اَنَّ اللّٰهَ بيشکه خدائ قَدْ اَهْلَكَ په تحقيق هلاک کړي دی دهٔ مِنْ قَبْلِهٖ
مخ واله دغه قارون مِنَ الْقُرُوْنِ له اهل د زمانو مَنْ هُوَ اَشَدُّ هر هغه څوک چه د ير سخت وو مِنْهُ
قُوَّةً له دے قارون له جهته د قوت وَّ اَكْثَرُ جَمْعًا او د ير وو له جهته د مال يا له جهته د ملاتړه
وَلَا يُسْـَٔلُ او نهٔ به شی پوښتيد لے عَنْ ذُنُوْبِهِمُ الْمُجْرِمُوْنَ (۷۸) له ګناهونو خپلو مجرمان يعنی مشرکان
ځکه چه پوښتنے ته به حاجت نهٔ وی يا له دغه جهته چه دے پخپله پرے مطلع دے بے اخباره د دوی او يا
يعنی خدائ پخپله پرے خبر دے ۱۲
چه معلوم به وی دوئ په نښه چه مخونه به ئے تور وی او يا چه دوزخ لره به حی بې سواله فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ پس
راووت دے بيرون په قوم خپل فِىْ زِيْنَتِهٖ له په ښايست او د بد به خپله کښې له سے چه څلور يا نوی زره سواره
وو ورسره بعض په اسونو او بعض په سپينو قچرو چه زينونه ئے د سرو زرو وو او د دوئ جامے د ټولو د
سرے د ريائی يا د زيړے ارغوانی وے حاصل داچه هر کله دے په دغه د بد به کښې قوم وليد نو
قَالَ الَّذِيْنَ وويل هغه کسانو يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا چه غوښته ئے د اګکے ژوند او ميل د زړه ئے هم دهٔ
ته وو او چا ويلی دی چه کفار وو يٰلَيْتَ لَنَا اے کاشکے چه وے موږ ته لره هم له دولت لوله مال مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ

شان د هغه مبلغ اُوْتِيَ قَارُوْنُ چه ورکړے شوے دے قارون له اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ (۷۹) بیشکه چه دے
هرائینه خښتن دے د لوئی برخے له دنیا نه وَقَالَ الَّذِيْنَ او ووئیل هغه کسانو اُوْتُوا الْعِلْمَ چه ورکړے شوے
وو دوئ لره علم په حال د آخرت یا په برکت د توکل او د قناعت دغه ارمان کونکو ته وَيْلَكُمْ چه افسوس
دے تا لره اے طالبانو د دنیا ثَوَابُ اللّٰهِ ثواب او جزا د خدائ چه ده په آخرت کښی خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ ډیر غوره
ده هر هغه چا لره چه ایمان ئے راوړے دے په خدائ او په رسول وَعَمِلَ صَالِحًا ج او عمل ئے کړے وی د
نیکو وَلَا يُلَقّٰهَآ او ښودنه نهٔ شی کولے د دے خبرے چه عالمانو کړیده اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ (۸۰) مګر صبر کونکو ته په
طاعاتو د نفس **روایت دے** چه قارون (ملعون) به همیشه ایذا (ضرر) رسوله موسیٰ علیه السلام ته او ده به ډیر مدارا
ور سره کوله جهته د صله رحمئ تر هغه پورے چه حکم د زکوٰة راغے نو صلح ئے وکړه له قارون سره په
دے چه له زرو دینارو یو دینار او له زرو درهمو یو درهم زکوٰة وباسه بیا دهٔ چه حساب تول وکړ نو نفس
ئے قبول نهٔ کړ په سبب د ډیروالی او بنی اسرائیلو ته ئے ووئیل چه موسیٰ علیه السلام له تاسے اوس د
مالونه اخلی نو دوئ ورته ووئیل چه څه مونږه اختیار ستا دے هر څه چه وائے راته دهٔ ووئیل مصلحت
داده چه دے په خلقو کښی رسوا کړو نو یوے ښځے فاجرے له ئے دنیا ورکړه په دے چه ته ووایه چه موسیٰ
علیه السلام په ما لاس لګولے دے بیا په ورځ د اختر موسیٰ علیه السلام په خطبه کښی ووئیل چه
کهٔ څوک غلا وکړی او لاس ئے پرے کړئ او کهٔ زنا وکړی نو لونډ په دُرو ووهئ او د واده خاوند
سنګسار کوئ. نو قارون ووئیل کهٔ ته ئے هم نو موسیٰ علیه السلام ووئیل کهٔ زهٔ اوسم نو هم. نو دهٔ
ووئیل چه بنی اسرائیل وائی چه تا په فلانئ ښځے لاس لګولے دے نو هغه ئے حاضره کړه او ورته
ئے ووئیل چه ستا دِ قسم وی په هغه خدائ چه سیند ئے چولے دے او تورات ئے رالیږلے دے چه
رښتیا ووایه نو ښځے ووئیل چه قارون ما له مبلغ راکړے دے چه ته د خلقو په مخ کښی دا بهے ووایه نو
موسیٰ علیه السلام په سجده پریوت او خدائ ته ئے سوال وکړ چه کهٔ زهٔ واقعی رسول یم نو ځما انتقام
ترے واخله نو وحی ورته وشوه چه زمکه مې ستا مطیعه کړه هر څهٔ چه وائے منی به ئے نو دهٔ عذر وکړ
چه هر څوک چه د قارون ملګرتیا نهٔ کوی ترے لرے شئ چه غضب د خدائ راغے نو دوه سړی ور سره
پاتے شول او نور ټول ترے لاړل نو ده ووئیل چه اے زمکے! قارون نیسه نو تر ګنډو پورے لاړه بیا ئے ووئیل

چه ئے نیسه نو تر نامه د وب شو بیا ئے وویل چه ئے نیسه نو ترا اوږمیږه د وب شو بیا ئے وویل چه ئے نیسه
نو ټول د وب شو بیا خلقو وویل چه قارون ئے دے دپاره د وب کړو چه مال د ده ته میراث پاتے شی نو بیا ئے
خدائ ته سوال وکړو نو مځکے ئے هم وربسره له ټول ماله ورپسے د وبه شوه لکه چه وائی فَخَسَفۡنَا بِهٖ پس
وچولو مونږ ه په قارون وَبِدَارِهِ الۡاَرۡضَ ؔ او په مینه د ده هم زمکه داسے چه ټول پکښں ښکته لاړه او هره
ورځ په قدر د خپل قد ښکته کیږی فَمَا كَانَ لَهٗ پس نه وو ده لره په دے وخت د وبید لو کښں مِنۡ فِئَةٍ کومه ډله
د دوستانو یَّنۡصُرُوۡنَهٗ چه مددگاری ئے کړے وے له ده سره مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ق غیر له خدائ وَمَا كَانَ او نهٔ
وو دے مِنَ الۡمُنۡتَصِرِیۡنَ ﴿۸۱﴾ له حصارونکو د عذاب له خپل ځانه یعنی نهٔ بل چا د اعذاب تر دفع کړے
شو او نهٔ ده پخپله وَاَصۡبَحَ الَّذِیۡنَ او صبا کړهٔ هغه کسانو تَمَنَّوۡا مَكَانَهٗ چه ارمان ئے کولو د عزت او جاه او
مرتبے د دهٔ په دنیا کښں بِالۡاَمۡسِ په پرون یعنی پخوا له نزول د عذاب نه د غه تیره ورځ یَقُوۡلُوۡنَ چه
ویل به ئے سره یو بل ته وَیۡكَاَنَّ اللّٰهَ دا وَیۡ اسم فعل دے په معنیٰ د اَعۡجَبُ او دا کاف په معنیٰ د لام دے
نو معنیٰ ئے داسے شوه چه تعجب کوم زهٔ دپاره د دے چه بیشکه خدائ او په دے کښں مذاهب هم دی
یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ ارتوی رزق لِمَنۡ یَّشَآءُ هر هغه چا لره چه اراده ئے وشی د ارتولو مِنۡ عِبَادِهٖ له بندګانو خپلو
په فضل خپل نهٔ په استحقاق د دهٔ وَیَقۡدِرُ ج او تنګوی دے د غه روزی په هر چا چه اراده ئے وشی د تنګولو
په مقتضیٰ خپلے نهٔ په کومه ګناه لَوۡلَاۤ اَنۡ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَیۡنَا که چرے نهٔ وے داخبره چه منت بار کړے دے
خدائ او را کړے ئے نهٔ دے هغه څیز چه ارمان ئے نهٔ کولو مونږ ه له دنیا نو که نهٔ وے دا مهربانی د دهٔ
لَخَسَفَ بِنَا ط نو هرا ئینه د وب کړی به ئے وو مونږ ه هم په زمکه کښں د قارون په شان وَیۡكَاَنَّهٗ ارمان
د ے ته نهٔ پو هیږے په دے چه شان دا دے لَا یُفۡلِحُ الۡكٰفِرُوۡنَ ع ﴿۸۲﴾ چه خلاصے نهٔ مومی کافران له عذاب
لکه قارون تِلۡكَ الدَّارُ الۡاٰخِرَةُ دا حویلیٔ چه وروستیٔ ده له حویلیو د دنیا چه جنت دے نَجۡعَلُهَا لِلَّذِیۡنَ
مقرر کوو مونږ ه دپاره د هغه کسانو لَا یُرِیۡدُوۡنَ چه اراده نهٔ لری یعنی نهٔ کوی د وئ عُلُوًّا فِی الۡاَرۡضِ لوئی
او تکبر په زمکه کښں وَلَا فَسَادًا ط او نه فساد کوی او نهٔ ظلم کوی په خلقو لکه قارون وَالۡعَاقِبَةُ او ښه خاتمه
چه ده لِلۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۸۳﴾ پرهیزګارانو لره ده مَنۡ جَآءَ بِالۡحَسَنَةِ هر هغه چا چه وکړه کومه نیکی له هر قسمه چه
وی یعنی قولی یا فعلی یا مالی فَلَهٗ خَیۡرٌ مِّنۡهَا ج پس مقرر ده هغه لره جزا غوره له هغه نیکیٔ د دهٔ لکه چه

بیان شوی دی په سورة نمل کښې وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ اوهرچا چه وکړه کومه بدی لکه شرک یا تکذیب
یا دا سے کوم بل فَلَا يُجْزَى الَّذِيْنَ پس نه شی ورکولے جزا هغه کسانولره عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ چه کړی دی
دوئ بدئ اِلَّا مَا مګر هم هغه قدر كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۴﴾ چه وو دوئ په دنیا کښې چه کولے به ئے هغه
بدئ روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه وسلم په جُحفه کښې ووچه میقات دے د شامیانو
چه مکے ته ئے ډیر اشتیاق پیدا شوځکه چه مولد وو دده او د ا باؤئے او عادت ئے ورسره اخستے وو
نو نازل شو اِنَّ الَّذِیْ فَرَضَ عَلَیْكَ الْقُرْاٰنَ بیشکه هغه خدائ چه لازم کړے دے دهٔ په تا تلاوت او
عمل او تبلیغ د قرآن لَرَآدُّكَ اِلٰی مَعَادٍ ؕ هرائینه بیرته بیونکے دے ستا هغه عادت ګاه نه دِچه مکه
ده او دغه وعده بیا ترسره شوه په ورځ د فتح چه بیرته ئے ورلره راوست او د ا معاد ماخوذ له عادت نه
دے نهٔ له عود قُلْ رَّبِّیْٓ ووایه اے رسوله مشرکانو ته چه رب ځما اَعْلَمُ مَنْ ښهٔ پوه دے په هرهغه
چا جَآءَ بِالْهُدٰی چه راوړی دے سمه لار یا توحید یا قرآن او هغه زهٔ یم وَمَنْ هُوَ او په هرهغه چا
چه دے فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۸۵﴾ په ښکاره ګمراهئ کښې وی لکه منکران ځما وَمَا كُنْتَ او نهٔ وے تهٔ
تَرْجُوْٓا اَنْ چه امید دِ لرلو دے چه يُّلْقٰٓى اِلَيْكَ الْكِتٰبُ را وبه لیږلے شی تا ته یعنی قرآن اِلَّا رَحْمَةً
لیکن را ولیږلے شو مِّنْ رَّبِّكَ له جانبه د رب ستا فَلَا تَكُوْنَنَّ پس مهٔ کیږه ته خا مخا ظَهِيْرًا
لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۶﴾ پشتی او یار مدد ګار د کافرانو په دین د دوئ فَلَا يَصُدُّنَّكَ او خبردار چه وا نهٔ
وړی دوئ خا مخا تا په مکر او په فریب عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ له عمل په ایتونو د خدائ بَعْدَ اِذْ پس
له هغه اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ چه رالیږلے شوے دے تا ته وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ وبوله خلق توحید او
عبادت د رب خپل ته وَلَا تَكُوْنَنَّ او مهٔ کیږه تهٔ خا مخا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۸۷﴾ له مشرکانو وَلَا تَدْعُ
او مهٔ بوله تهٔ مَعَ اللّٰهِ له خدائ سره اِلٰهًا اٰخَرَ م بل معبود ځکه چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته
هیځ اله لائق د بللو مګر هم دے دے یواځے ځکه چه كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ هر څیز فانی
کیدونکے دے اِلَّا وَجْهَهٗ ؕ مګر ذات پاك دده لَهُ الْحُكْمُ هم ده لره دے
حکم یعنی قضا نافذه وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۸﴾ او
هم دهٔ لره به بیرته بوتلے شئ۔

سُوْرَةُ العنکبوت (۲۹) مکیه (۸۵)   بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ   اٰیَاتُهَا ۶۹   رُکُوْعَاتُهَا ۷

الٓمّٓ ① د دے بیان بیرته د وه ځائ تیر شوے دے اَحَسِبَ النَّاسُ ایا ګمان کوی داخلق اَنْ یُّتْرَکُوْٓا
د دے چه به پریخودے شی دوئ اَنْ یَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا به هم دے قدر چه وائ دوئ چه ایمان راوړید موږه
یعنی په مجرد هم دے قول به دوی خلاص نهٔ شی وَهُمْ لَا یُفْتَنُوْنَ ② اِو حال دا چه دوئ به وا نهٔ ازمیلے
شی او دا اٰیت چا ویلی دی په حق د بعض اصحابو کښ دے چه فریاد ئے او کهٔ له ضربه د مشرکانو او
چا ویلی دی چه په حق د عمار بن یاسر کښ دے وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِیْنَ او هر ائینه په تحقیق ازمیلی وو
موږه هغه کسان مِنْ قَبْلِهِمْ چه تیر شوی دی له دغه مؤمنانو یعنی دا ازمیښت یو سنت جاریه د موږه
چه پخوانی امم به هم پرے مبتلا کولے شو فَلَیَعْلَمَنَّ اللّٰهُ پس هر ائینه معلوم به کړی یعنی ښکاره یا بیل به
کړی خامخا خدائ الَّذِیْنَ صَدَقُوْا هغه کسان چه رښتینی دی په دعوی د ایمان کښ وَلَیَعْلَمَنَّ الْکٰذِبِیْنَ ③
او بیا هر ائینه بیل یا ښکاره به کړی خلقو ته خامخا د روغژن په دغه دعوای کښ چه مخلص[عه] او بے
اخلاصه سره ممتاز شی اَمْ حَسِبَ الَّذِیْنَ بلکه ګمان کوی هغه کسان یَعْمَلُوْنَ السَّیِّاٰتِ چه عمل کوی
دوئ د بدیو لکه شرک او معاصی شو اَنْ یَّسْبِقُوْنَا د دے چه رومبی به شی دوئ په موږه یعنی موږه
به عاجز که له جزاء ورکولو د دغو بدیو سَآءَ مَا یَحْکُمُوْنَ ④ بد دے هغه حکم چه کوی ئے دوئ. مَنْ
کَانَ یَرْجُوْا هر هغه څوک چه دے امید لری هغه لِقَآءَ اللّٰهِ د ملاقات د خدائ په جنت کښ یا مراد له
لِقَآءَ وصول دے د ثواب د دهٔ ته په آخرت کښ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ پس نیټه د خدائ چه ده د پاره د لقاء په
آخرت کښ لَاٰتٍ هر ائینه راتلونکے ده نو میباید چه هر څوک د په خپلو اعمالو فهم دا روئ ځکه چه
وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ⑤ او دے اورید ونکے دے د اقوالو د بندګانو دانا دے په احوالو د دوئ وَمَنْ جَاهَدَ
او هر څوک چه جهاد کوی له کفارو یا د هوا د نفس خپل سره فَاِنَّمَا پس بیشکه هم دا خبره ده چه یُجَاهِدُ
لِنَفْسِهٖ ط جهاد کوی[عه] د پاره د ځان خپل ځکه چه خیر ئے هم دهٔ له ورځی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ
لَغَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ ⑥ هر ائینه بے پروا دے له طاعاتو او له مجاهداتو د عالمیانو او دا امراو نهی

عه یعنی اخلاص کونکے په دعویٰ د اسلام کښ او د روغژن په دے کښ ۱۲ عه عقل لرونکی وی یعنی خپل عمل ته د فکر کوی چه بد
تر ے د نهٔ شی ۱۲

محض له مهربانۍ دی په بندګانو خپلو وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
او عملونه کوی د نیکو لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ هرائینه وبه رجوع وموږه خا مخا له دوئ سَيِّاٰتِهِمْ گناهونه ددوئ که شرک
دے او که نور معاصی دی په ایمان او په توبے سره وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ او هرائینه جزا به ورکړو موږه خامخا دوئ لره
اَحْسَنَ الَّذِيْ ښه جزا د هغه عمل كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۷﴾ چه وو دوئ چه کولو به ئې په اسلام کښ روایت
دے چه هرکله سعد بن ابی وقاص ایمان راوړو نو مورې چه حمنه بنت ابی سفیان وه قسم وکړ چه له نمره
به سوری ته نهٔ شم له سره او نهٔ به څهٔ وخورم او نهٔ به څهٔ وڅښم ترڅو چه دے بیرته مرتد شوے نهٔ دے
او په هم دے کښ درے ورځے تیرے شوے بیا سعدؓ داحال رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویلو نو نازل
شو وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ او امر کړے دے موږه په اٰدمی بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ط له مور و پلار خپل سره د نیکئ کړے
او د وفادارئ هرکله په هرڅهٔ کښ غیر له ګناه چه هغه دا دے وَاِنْ جَاهَدٰكَ او که کوشش او جنګ جدل
وکړی دوئ دواړه له تا سره لِتُشْرِكَ بِيْ د پاره د دے چه شریک ونیسے ته له ما سره په خدائئ کښ مَا لَيْسَ هغه
څیز چه نشته لَكَ بِهٖ عِلْمٌ تا لره په الوهیت د هغه علم او مراد له نفی د علم دلته نفی د هغه معلوم یعنی د هغه
څیز چه لائق نهٔ دے د الوهیت فَلَا تُطِعْهُمَا ط پس مهٔ منه ته فرمان ددوئ په دے باب کښ بوله د جهته چه
فرمان برداری د مخلوق په معصیت د خالق کښ روا نهٔ ده او بل له د جهته چه اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ خاص ما لره
دی بیا راتلهٔ ستاسے د ټولو یعنی د هر مؤمن، کافر، وفادار، بے وفا فَاُنَبِّئُكُمْ پس اګاه به کړم تاسے په وخت
د جزا کښ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۸﴾ په هغه عملونو چه وئ تاسے چه کول به مو وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان
چه ایمان ئې راوړے دے پس له کفره وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د نیکو پس له فساد لَنُدْخِلَنَّهُمْ هر
ائینه داخل به کړو موږه خامخا دوئ فِي الصّٰلِحِيْنَ ﴿۹﴾ په ټولی د صالحانو کښ چه انبیاء او صلحاء دی
یعنی له دوئ سره به ئې پاڅوو په ورځ د حشر را نه به ئې باسو په ځائ د اوسیدلو د دوئ کښ چه جنت
دے دا نیر حال د مؤمنانو وو او اوس د منافقانو حال وائی وَمِنَ النَّاسِ او بعضے له اٰدمیانو مَنْ يَّقُوْلُ هغه
خلک دی چه وائی تش په خولے اٰمَنَّا بِاللّٰهِ چه ایمان راوړے دے موږه په خدائ فَاِذَآ اُوْذِيَ پس هغه
وخت چه سختی او ضرر ورسولے شی دهٔ ته فِي اللّٰهِ په لاره د خدائ کښ له طرفه د کفارو په سبب د
ایمان سره جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ نو مقرر که او شماری دے فتنه د ادمیانو یعنی سختی او عذاب ددوئ

كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ په مثل د عذاب د خدائ یعنی ایمان پرېږدی له ویرې د خلقو لکه چه مناڼی پرېږدل د کفر له ویرې د خدائ وَلَئِنْ جَآءَ او قسم دے که چرې راشی نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ مدد کاری د مؤمنانو له طرفه د رب ستا یعنی فتح او غنیمت لَيَقُوْلُنَّ نو هرومرو اٰئینه وائی دوئی تاسے ته اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ چه بیشکه مونږه هم یو له تاسره په دین په ایمان کښې نو مونږه لره هم برخه راکړئ له غنیمت اَوَلَيْسَ اللّٰهُ آیا نهٔ دے خدائ یعنی دے بِاَعْلَمَ بِمَا پوهه له هر چا په هغه اخلاص او نفاق فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ⑩ چه په د رونو او سینو د میانو کښې پروت دے یعنی خدائ لسانی کنا محکم ته نهٔ گوری بلکه قلبی معاملے ته نظر کوی وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ او هرو اٰئینه پوهه دے خامخا خدائ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په احوال د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے په اخلاص د زړهٔ سره وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ⑪ او بیا هرو اٰئینه پوهه دے خامخا په احوال د منافقانو چه زړهٔ ئے له ایمانه خالی دے پس موافق جزا به ورکړی هرے فرقے له بیله بیله **روایت دے** چه هر کله کفارو د قریشو وویل مومنانو ته چه پس له مرګه بیا ژوندون نشته دا دوئ تول د روغ وائی او که بنا د دوئ تول ژوندی شو مونږه او تاسے نو ستاسے د گناهونو بار به مونږه په ځان خپل واخلو او تاسو به تر خلاص کړو نو نازل شو وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وائی هغه کسان چه کافر دی لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړیدے اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا چه پیروی وکړئ تاسے د لارے ځمونږه یعنی ځمونږه دین ته راوګرځئ وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ؕ او بیا پس له راګرځیدلو ستاسو میاید چه واخلو مونږه په خپل ځان دا بار د گناهونو ستاسے وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ او حال دا چه نهٔ دئ دوئ په خپل ځان اخستونکی مِنْ خَطٰيٰهُمْ له گناهونو د دوئ مِّنْ شَيْءٍ ؕ هیڅ څیز یعنی اوس وعده د تولو گناهونو کوی او بیا به په وخت د رښتیا کښې یوه ذره هم ترے وانخلی اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ⑫ بیشکه چه دوئ هرو اٰئینه د روغژن دی په دغه وعده کښې ځکه چه اوس ئے لا اخستل په زړهٔ کښې نشته او بل لا دا چه باور د دوئ بغیر له گناهونو د مؤمنانو هم ډیر د روندوی وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ او هرو اٰئینه وابه خلی دوئ په قیامت بارونه د گناهونو خپلو په سبب د کفر خپل وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ ز او نور بارونه هم غیر له گناهونو د مؤمنانو پیوسته له بارونو خپلو سره چه هغه بارونه د گناهونو د هر هغه چا دی چه گمراه کړی وو دوئ سره له دے چه له هغو به هیڅ بار کم نهٔ شی بلکه دا به د دوئ د خپل عمل جزا

عه یعنی رب العلمین ثبے دچا ته نهٔ گوری چه څوک په ژبه ووائی چه وو مونږه تا سره بلکه د زړه معاملے ته نظر کوی ۲

وی چه اضلال وو وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اوهرا ئینه وبه پوښتنیدلے شی دوئ په ورځ د قیا عَمَّا كَانُوْا
يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳﴾ له هغه دروغ چه وو به دوئ په دنیا کښ چه له ځانه به ئے سازول د پاره د گمراه کولو د نورو
خلقو وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اوهرا ئینه په تحقیق رالیږلی وو مونږه نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ نوح علیه السلام قوم خپل ته
فَلَبِثَ فِيْهِمْ پس موده ئے تیره کړه په دوئ کښ اَلْفَ سَنَةٍ زر کاله د پاره د دعوت حق ته اِلَّا خَمْسِيْنَ
عَامًا مگر پنځوس کاله ترے کم او دا پس له مبعوث کیدلو او مشهور روایت دا دے چه درست عمر د دهٔ
یو زر او پنځوس کاله وو په دے کښ پنځوس کاله پخوا له بلوغ د نبوت وو او نهه نیم سوه کاله ئے دعوت کړے
دے او شپیته کاله پس له طوفان پا ئید لے دے **فائده** را وړل د دے قصے د پاره د تسلئ د رسول صلے
الله علیه وسلم دی چه وگوره نوح علیه السلام دو مره کاله به دعوت کا وو او وجفا به ئے د قوم را بنکله او
دوئ ایمان پرے نه راوړو او سره له دے دهٔ له دعوت لاس نهٔ اخستهٔ ترهغه چه ټول هلاک شو لکه چه
وائی فَاَخَذَهُمُ الطُّوْفَانُ پس ونیول دوئ عذاب د طوفان وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۴﴾ او حال دا چه دوئ ظالمان
وو په سبب د کفر سره فَاَنْجَيْنٰهُ پس وساته مونږه دے له دغه عذاب وَاَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ او ملگری د بیړئ
هم. چه ټول سره اتهٔ اویا تنه وو نیم نارینه او نیمے ښځے او بیا په دوئ کښ درے دده ځامن وو سام،
حام، یافث. او درے د دوئ ښځے وے وَجَعَلْنٰهَآ اوکړه مونږه دا سفینه یا قصه اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۵﴾ یوه
لویه نښه د قدرت د پاره د عالمیانو چه عبرت او پند پرے اخلی وَاِبْرٰهِيْمَ او یاده که قصه د ابراهیم علیه
السلام اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ هغه چه وویل دهٔ قوم خپل ته اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ چه عبادت کوئ د خدائ
او وویریږئ له عذابه دده ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ دا عبادت او ویره ډیره غوره ده تاسے لره له کفره اِنْ كُنْتُمْ
تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۶﴾ که چرے یئ تاسے چه پوهیږئ په خیر او په شر خپل اِنَّمَا تَعْبُدُوْنَ بیشکه همدا خبره
ده چه عبادت کوئ تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ اَوْثَانًا د بتانو وَتَخْلُقُوْنَ اِفْكًا او سازوئ تاسے
دروغ له ځانه چه په خدایانو ئے بولئ او بیا له خدائ سره ئے شریکان کوئ اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان
تَعْبُدُوْنَ چه عبادت ئے کوئ تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ لَا يَمْلِكُوْنَ قدرت او طاقت نهٔ لری
دوئ چه درکه دوئ لَكُمْ رِزْقًا له روزئ فَابْتَغُوْا پس ولټوئ تاسے عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ خدائ نه
روزئ چه قادر دے په رسولو د روزئ وَاعْبُدُوْهُ او عبادت کوئ هم دده چه لائق دے د عبادت

وَاشْكُرُوْا لَهٗ ط او شکر کوئ دهٔ لره. په شکر سره زیاتوالے راځی د نعمت اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ (۱۷) هم دهٔ ته به بېرته
بیولے کیږئ په قیامت. دے پورے مقوله د ابراهیم علیه السلام وه او س رب العزت وائی مکیانو ته وَ
اِنْ تُكَذِّبُوْا اوکه تکذیب وکړئ تاسے اے مکیانو د رسول ﷺ فَقَدْ كَذَّبَ پس په تحقیق تکذیب کړے
وو د پیغمبرانو خپلو اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ط د یرو قومونو مخوا له تاسے لکه قوم د نوح علیه السلام او د هود او
د صالح او د لوط او د شعیب علیهم السلام او د اسے نورو هم نو دوئ هیڅ ضرر و نهٔ رسولو په دغه
تکذیب سره پیغمبرانو ته بلکه په خپل ځان ئے د عذاب دروازه پرانستہ نو هلا د شو بس زه خو هم یو
رسول یم وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ او نشته په رسول باندے اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ (۱۸) مگر رسول دی د پیغام
ښکاره او چا ویلی دی چه دا مقوله هم د ابراهیم علیه السلام ده له هغه تیره اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ ایا نهٔ وینی
دا منکران له بعث څرنګه يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ اول پیدا کوی دا خلق بے مادے بے صورته بے نمونے
او له نیستئ محض ئے هستئ ته راوباسی نو هغه قادر مطلق چه دے ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ط بیا به راو ګرځوی او
ژوندی به کړی د اخلق پس له مرګه او واورئ دا چه اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ (۱۹) بیشکه دغه اعاده په خدائے
آسانه ده ځکه چه هر کله په اول کښ دے بے مادے صورت غواړی نو خو د نسبت اول ته دا آسان شو قُلْ وو اے
دغه منکرانو ته چه لاره د تفکر او د استدلال و نیسئ دا چه سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ وګرځئ په زمکه کښ فَانْظُرُوْا
كَيْفَ پس وګورئ چه څرنګه بَدَاَ الْخَلْقَ پیدا کړیدے خدائ دا خلق یعنے وګورئ د یروالی ته ئے او بیا
اختلاف د اشکالو افعالو احوالو اخلاقو ارزاقو اعمالو ته ئے او بیا له دے نقلیات استدلال وکړئ په دے چه
هر کله دے دا سے قادر مطلق دے نو اعاده به هم وکړے شی لکه چه وائی ثُمَّ اللّٰهُ بیا خدائ يُنْشِئُ النَّشْاَةَ
الْاٰخِرَةَ ط وجود ته به راوباسی پیدا کول هم په مثل د اول پیدا کولو ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ عَلٰى
كُلِّ شَيْءٍ په هر څیز باندے چه ابتداء وی او که اعاده وی قَدِيْرٌ (۲۰) ج قادر توانا دے ځکه چه قدرت
صفت ذاتی دے د دهٔ نو نسبت ئے ټولو ممکناتو ته یو شان دے يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ عذاب ورکوی هم
هغه چا لره چه اراده ئے وشی د عذاب د هغهٔ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ ج او رحم کوی په هر هغه چا چه
اراده ئے وشی د رحم د هغهٔ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ (۲۱) او خاص هم دهٔ ته به بېرته بیولے شئ تاسے په ورځ د جزا وَمَآ
اَنْتُمْ او نهٔ یئ تاسو اے خلقو بِمُعْجِزِيْنَ عاجزکونکی د خدائ له عذابه خپله فِي الْاَرْضِ نه په زمکه کښ

چه لاندے پکښې ننوځئ او ترے پټ شی وَلَا فِي السَّمَاءِ ز او نهٔ په اسمان کښې چه پاس لاړشئ او په تیخته
ترے خلاص شئ ځکه چه قدرت ددهٔ په هرځائ محیط دے وَمَا لَكُمْ او نشته تاسے لره مِنْ دُوْنِ اللهِ غیر له
خدائ مِنْ وَّلِيٍّ هیڅ دوست چه وساتی تاسے له عذاب ددهٔ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۲۲﴾ او نهٔ هیڅ مدد گار چه همت ع ۲ ۱۴
درسره وکړی په دفع دعذاب کښې وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هرچه هغه کسان دی چه کافر دی او باور نهٔ کوی بِاٰيٰتِ
اللهِ په اٰیتو نو دخدائ چه قران دے وَلِقَائِهٖ او په ملاقات ددهٔ یعنی په بعث اُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا دا کسان
نا امیده دی په دنیا کښې یا نا اُمیده به شی په قیامت او ذکر دلفظ دماضی دپاره دتحقیق دوقوع دے
مِنْ رَّحْمَتِيْ له رحمتہ ځما یعنی له جنت وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ او بیا دوئ چه دی مقرر دے دوئ لره عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۳﴾
عذاب دردناك فَمَا كَانَ پس نهٔ وو جَوَابَ قَوْمِهٖٓ جواب دقوم دابراهیم علیه السلام په هغه وخت کښې
چه دوئ ئے وبلل ایمان ته لکه چه په سر د تیرے رکوع کښې بیان شوے دے اِلَّآ اَنْ قَالُوا مگر دا او وچه
وویل دوئ یعنی بعض بعضو ته چه اقْتُلُوْهُ مړکړئ دے اَوْحَرِّقُوْهُ یا وسیزئ دے په اور کښې نو
اتفاق ئے وکړو په سیزلو نو اور ته ئے وغورزاوو لکه چه ټوله قصه ئے په انبیاؤ کښې تیره شویده
فَاَنْجٰىهُ اللهُ پس خلاص کړو او وساتهٔ دے خدائ مِنَ النَّارِ ط له اوره چه ورته ئے وویل بَرْدًا وَّسَلٰمًا
عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ . اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دغه خلاصی ددهٔ کښې له اوره لَاٰيٰتٍ هراٰئینه ډیرے نښے دی دکمال
قدرت لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾ دپاره دهغه قوم چه ایمان راوړی دوئ په وحدانیت او په قدرت دخدائ
وَقَالَ او وویل ابراهیم علیه السلام قوم خپل ته چه اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ بیشکه هم دا خبره ده چه نیولی
دی تاسے مِّنْ دُوْنِ اللهِ اَوْثَانًا لا غیر له خدایه بُتان په خدائ سره مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ دپاره دو...
په مابین ستاسے کښې یعنی تاسے دا بت پرستان سره جمع کیږئ په عبادت دبتانو او دا اجتماع ...
موجب دپیوند او محبت ستاسے کیږی یوله بله سره فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دغه واړه ژوندون کښې ...
دا پیوند او دوستی به تر هغه پورے وی چه څو دا دنیا ده ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ بیا په ورځ دقیامت يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ ...
شی بعض ستاسے چه متبوعان دی یعنی بتان بِبَعْضٍ له بعضو نورو چه تابعان دی یعنی عابدان ددوئ
بَعْضُكُمْ او لعنت به وائی بعض ستاسے چه تابعان او عابدان دی بَعْضًا ز په بعضو نورو چه متبوعان ...
وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ او ځائ داستوګنے ستاسے ددواړو طائفو دتابعانو او دمتبوعانو اور دے ...

نهٔ به وی تاسے لره په هغه ورځ کښې مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ هيڅوك له مدد كارانو چه خلاص كه تاسے له دغه اورہ روايت دے چه هركله ابراهيم عليه السلام له اوره د نمرود سلامت راووت او هيڅ قدرا ثرئے پرے ونهٔ كهٔ نو اول پرے خپل وراره يا خورئ ايمان راوړهٔ چه لوط بن هاران وو لكه چه وائی فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ م پس ايمان راوړه او تصديق وكهٔ دده لوط عليه السلام وَقَالَ او ووئيل ابراهيم عليه السلام چه اِنِّیْ مُهَاجِرٌ بيشكه زهٔ هجرت كونكے يم له دغه قومه خپل اِلٰى رَبِّیْ ط رب خپل ته يعنى هغه طرف ته چه امرئے كړيدے ما ته د هجرت اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ بيشكه دے چه دے هم دے غالب دے نو له اعداو به م وساتى الْحَكِيْمُ ﴿۲۶﴾ پُرحكمت دے نو امر به نهٔ كوى ما ته مگر د هغه كار چه ځما پكښې خير وى روايت دے چه ابراهيم عليه السلام هجرت وكهٔ له سواد د كوفے سره له لوط عليه السلام او له ښځے خپلے چه بی بی ساره وه د تره لورئے حران ته بيا له حرانه شام ته۔ نو دے پخپله په فلسطين كښې ديره شو او لوط عليه السلام په سدوم كښې چه دواړه ښارونه دى ځكه وئيلے شوى دى چه هر پيغمبر يو هجرت كړے دے او ابراهيم عليه السلام دوه هجرته كړيدى وَوَهَبْنَا لَهٗ اِسْحٰقَ او وركړے وو مونږه دهٔ لره اسحٰق عليه السلام چه ځوئ دے دده وَيَعْقُوْبَ او بل يعقوب عليه السلام چه نوسے دے دده په اخر د عمر كښې او دے له اسمٰعيل عليه السلام ځوارلس كاله كشر وو وَجَعَلْنَا او ايخے وه مونږه فِیْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ په اولاد دده كښې نبوت هم په بنى اسمٰعيل كښې هم په بنى اسراء يلو كښې وَالْكِتٰبَ او جنس كتاب يعنے تورات او انجيل، زبور، فرقان وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ او وركړے وو مونږه دهٔ لره اجر د هجرت دده فِی الدُّنْيَا ج په دنيا كښې چه هغه ولد دے په اخر د عمر كښې له شنډے ښځے او پاك اولاد او دوام د نبوت دے په دوئ كښې او ثناء حسن او صلوٰة دے په دهٔ په ټولو اديانو كښې اين تر قيامته او دا سے نور ډير كارونه دى وَاِنَّهٗ فِی الْاٰخِرَةِ او بيشكه چه دے په اخرت كښې لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ هرائينه له ټولى د صالحانو دے وَلُوْطًا او ياد كه لوط عليه السلام اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ چه ووئيل ده قوم خپل ته اِنَّكُمْ بيشكه چه تاسے لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ز هرائينه راځئ يعنى كوئ تاسے هغه كار چه ډير قبيح دے چه په سبب د قباحت ئے مَا سَبَقَكُمْ بِهَا نهٔ دے لومړے شوے په تاسے په دے قبيح كار مِنْ اَحَدٍ هيڅوك مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾ له تيرو عالميانو اين تر ادم عليه السلام پورے يعنى له تاسے مخوا دا كار هيچا نهٔ وو كړے

اَئِنَّكُمْ ایا بیشکه تاسې چه یئ دا درې قبیح کارونه کوئ یو دا چه لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ هرائینه راځئ تاسې سړیو
له دپاره د لواطت او دویم داچه وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ ۀ اوقطع کوئ تاسې لاره یعنی هرڅوك چه په لاره تیریږی
مال ئے تاسې اخلئ اوسرئے پریکوئ چه په دے سبب لا رچول شوه او دریم داچه وَتَأْتُونَ او راځئ یعنې کوئ
تاسې فِي نَادِيكُمُ الْمُنْكَرَ په مجلس کاه خپل کښې هر قبیح کارچه عقل اوعرف ئے دواړه ناکاره بولی لکه
زوروول او پوچ ویل او سنګریزے په کتهو ویشتل او شپیلی وهل او باد اچول او پاجامه لرے کول په مجلس کښې
اوشراب خوری او مسخرے په رهزیو یورے او داسې نور دیر قبائح کوئ له دیرے بباکئ فَمَا كَانَ پس نهٔ وو جَوَابَ
قَوْمِهٖٓ جواب د قوم د دهٔ اِلَّآ اَنْ قَالُوا مکرد اوو چه ویل به دوئ ائْتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ چه راوړه مونږه لره عذاب
دخدائ اِنْ كُنْتَ که چرے ئے ته مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۹﴾ له رښتیا ویونکو چه دا کارونه قبیح او موجب د نزول
د عذاب دی بیا چه له دوئ نا امیده شو نو قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ وویل دهٔ چه اے ربه حما مدد وکړه
له ماسره په راولیږلو د عذاب عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۳۰﴾ په دغه ټولی د فساد کونکیو په پیدا کولو د ع ۳ / ۱۷
ناکاره خصلت په عالم کښې نو داسوال ئے خدائ قبول کهٔ او ملائك ئے راولیږل دپاره د هلاك لکه چه
وائی. وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ او هرکله چه راغلل لیږلی حمونږه یعنی ملائک اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى لا ابراهیم علیه
السلام لره په زیری د حُوئ او د نوسی سره چه اسحٰق او یعقوب علیهما السلام دی او بل په دے چه قَالُوٓا
اِنَّا وویل دوئ چه بیشکه مونږه مُهْلِكُوٓا اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ هلاکونکے د اهل د دے بناریو چه
سدوم دے حُکه چه تکذیب کوی د دارهٔ یا د خودیی ستا اِنَّ اَهْلَهَا بیشکه اهل د دے قریے چه دی
كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ دی دوئ ظالمان په سبب د کفر او د اقسامو د منکراتو قَالَ نو وویل دوئ ته
ابراهیم علیه السلام چه اِنَّ فِيْهَا لُوْطًا ط بیشکه په هغه بنارکښې لوط علیه السلام هم دے چه هغه
خوظالم نهٔ دے قَالُوْا نو وویل دغه ملائکو چه نَحْنُ اَعْلَمُ مونږه ښهٔ پوهه یو بِمَنْ فِيْهَا وقف په
هغه چاچه په دغه بنارکښې دی کهٔ مؤمن دے کهٔ کافر او مونږه له لوط علیه السلام څخه غافلان
نهٔ یو لَنُنَجِّيَنَّهٗ هرائینه وبه ساتو مونږه هم دے وَاَهْلَهٗٓ او هم عیال د ده له هلاك اِلَّا امْرَاَتَهٗ ق
مکر ښځه د دهٔ چه كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ دهٔ له بیرته پاتے کیدونکیو په دغه عذاب یا په دغه بنارکښې

عه یعنی بیا بان شو او لارے شاړے شوے ۱۲ عه سبب د راتلو د عذاب

وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ اوهر كله چه راغله رُسُلُنَا لُوْطًا هغه ملائك رالیږلی څمونږه لوط علیه السلام له
پس له ملاقات او له زیری د ابراهیم علیه السلام څخه سِیْٓءَ بِهِمْ نوغمژن او خفه کړے شودے په
سبب د دوی چه قوم به ئے راڅخه بوځی د پاره د فجور او ما به څخل که وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا اوتنګ شو په دے
رُسُلو سره زړهٔ او طاقت ددهٔ بیا چه ملائکو داخفګان ددهٔ ولیدهٔ نو دهٔ له ئے داسی ورکړه وَقَالُوْا لَا تَخَفْ
او وویل دوی چه مهٔ ویریږه څمونږه له جهته څکه چه د دوی لاس په مونږه نه شی رسیدلے وَلَا تَحْزَنْ نف
اومهٔ خفه کیږه دځان له جهته چه اِنَّا مُنَجُّوْكَ بیشکه ساتونکی یو ستا وَاَهْلَكَ او عیال ستا له عذابه اِلَّا
امْرَاَتَكَ مګر ښځه كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٣٣﴾ چه ده هغه له بیرته پاتے کیدونکیو په دے عذاب یا ښار
کښ اِنَّا مُنْزِلُوْنَ بیشکه چه مونږه رالیږلی یو عَلٰٓى اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ په اهل د دے ښار باندے رِجْزًا
مِّنَ السَّمَآءِ عذاب له اسمانه چه سنګ باران وو بِمَا كَانُوْا په سبب د دے چه وو دوی يَفْسُقُوْنَ ﴿٣٤﴾ چه
فسق او بدکاری به ئے کوله. بیا مؤتفکات هلاك شو او ښارے خراب کندرپاتے شو د پاره د عبرت لکه چه
وائی وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ او هر ائینه په تحقیق پریخوده مونږه له هغه قریے اٰيَةً بَيِّنَةً یوه نښه ښکاره لِّقَوْمٍ
يَّعْقِلُوْنَ ﴿٣٥﴾ د پاره د هغه قوم چه عقل لری او عبرت پرے اخلی او هغه نښه یا خراب کندرے یا تیږے د سنګریزو
یا تورے او به دی چه اوس هم شته وَاِلٰى مَدْيَنَ او لیږلے وو مونږه اهل د مدین ته اَخَاهُمْ شُعَيْبًا لا وروړ
د دوی چه شعیب علیه السلام وو فَقَالَ پس وویل دهٔ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ اے قومه څما عبادت کوئ
یوازے دخدائ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ او امید وارشئ د نجات او د ثواب د هغه ورو ستئ ورځے چه
ورځ د قیامت ده په ترك د بدو او په کولو د نیکو وَلَا تَعْثَوْا او فساد مهٔ کوئ. دا نهی ده له باب د
عَثِيَ اے اَفْسَدَ قیاس په خَشِيَ فِي الْاَرْضِ په زمکه د مدین کښ په کمولو د کیل او د میزان سره.
مُفْسِدِيْنَ ﴿٣٦﴾ په دے حال چه اراده کونکی د فساد او سئ تاسے دا حال دے موکده د عامل خپل فَكَذَّبُوْهُ
پس دروغژن وبالهٔ دوی شعیب علیه السلام او له خپل فساد نه منع نهٔ شو فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ
پس ونیول دوی سختے زلزلے یا چغے د جبریل علیه السلام چه زړونه ئے پرے ولړزیدل او
وچاودل فَاَصْبَحُوْا پس صبا کهٔ دوی فِيْ دَارِهِمْ په حویلو خپلو کښ جٰثِمِيْنَ ﴿٣٧﴾ په ګونډو ښکوړمړهٔ
پراتهٔ وَعَادًا وَّثَمُوْدَاۡ او یاد که قوم د عاد او د ثمود او هلاك د دوی وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ او په تحقیق سره ښکاره شوے

دے تاسے تہ هلاک د دوئ مِّن مَّسٰكِنِهِمْ قف له مینو د دوئ چه خرابے کنډرے پرتے دی په حجر او په یمن
کښ هرکله چه تاسے سوداګرئ له ځئ او پرے تیریږی همیشه نو حال ئے وینئ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ او
ښائسته کړی وو دوئ ته شیطان اَعْمَالَهُمْ عملونه د دوی فَصَدَّهُمْ پس را ایرولی وو دغه شیطان دوئ عَنِ
السَّبِيْلِ له لارے د حق چه پیروی د پیغمبرانو ئے ونه کړه وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿۳۸﴾ او وو دوئ بینایان
عاقلان پوهنده خو ځان خپل ئے ړوند کونړ کړ خو چه هلاک شو وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ قف او یاد
که قارون او فرعون او وزیر ئے هامان وَلَقَدْ جَآءَهُمْ او هرائینه په تحقیق راغلے وو دوئ له مُّوْسٰى
بِالْبَيِّنٰتِ موسیٰ علیه السلام له ښکاره معجزو سره فَاسْتَكْبَرُوْا پس کبر او سرکشی بناکړه دوی فِي
الْاَرْضِ په زمکه د مصر کښ وَمَا كَانُوْا او نه وو دوئ سٰبِقِيْنَ ﴿۳۹﴾ لومړے کید ونکی له حکمه او له عذابه
ځمونږه بلکه ورورسیدهٔ فَكُلًّا اَخَذْنَا پس هریو له دغه مذکورینو ونیوهٔ مونږه بِذَنْۢبِهٖ ج په ګناه خپل
فَمِنْهُمْ مَّنْ پس بعضے له دوئ هغه څوک دی اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ چه را لوځولے وو مونږه په ده حَاصِبًا ج سخت
باد چه سنګریزے ئے پکښ لکه قوم د لوط علیه السلام وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعضے له دوئ هغه څوک دی۔
اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ج چه ونیوه دوئ چغے او زړهٔ ئے له هیبته پرے وچاودهٔ لکه ثمود او مدین وَمِنْهُمْ مَّنْ
او بعضے له دوئ هغه څوک دی خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ج چه وچوله مونږه پرے زمکه او دوئ پکښ ډوب
شو لکه قارون وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعض له دوئ هغه څوک دی اَغْرَقْنَا ج چه غرق کړهٔ مونږه په اوبو کښ
لکه قوم د نوح علیه السلام او فرعون وَمَا كَانَ اللّٰهُ او نهٔ وو خدای لِيَظْلِمَهُمْ داسے چه ظلم
وکه په دوئ او بے ګناه ئے په عذاب که وَلٰكِنْ كَانُوْٓا او لیکن وو دوئ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۴۰﴾
چه په خپلو ځانو نو به ئے ظلم کولو په کفر او په معصیت سره تر څو چه لایق شو د عذاب نو پرے نازل
شو مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مثل یعنی حال د هغه کسانو چه نیولے دے دوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ غیر
له خدائ دوستان یعنی خدایان چه بتان دی او دوئ امید د نفع ترے لری نو حال ئے په ضعف
او په عدم جلب عه د نفع او سلب د ضرر کښ داسے دے كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ج لکه حال د غڼے
په دے کښ چه اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ط ونیسی یعنی سازکه د ایوکورله تارونو ځان له چه پکښ اوسی وَ
اِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ او بیشکه ډیر ضعیف او بے فائدے د ټولو کورونو چه دے لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ هر

عه یعنی په را ښکلو د نفع کښ او په لرے کولو د ضرر کښ ۱۲

جولا "

اپُنه کور د غنړے دے ځکه چه هیڅ پرے نهٔ حصاریږی نهٔ باد نهٔ باران نهٔ گرمی نهٔ یخنی نو همدا سے حال دے
دبتانوچه نه ورته هیڅ قدرنفع رسولے شی اونه ترے هیڅ ضرر دفع کولے شی لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ که چرے
وے دوئ دا سے چه په دے پوهید ے نو دبتانو عبادت به ئے نه کولو اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ بیشکه چه خدائ پوهیږی
مَا يَدْعُوْنَ په هغه چه بولی یعنی عبادت ئے کوی دوئ مِنْ دُوْنِهٖ غیر له خدائ مِنْ شَيْءٍ له هر څیز چه وی
یعنی که بت وی او که ستوری او که ملک او که آدمی وَ هُوَ الْعَزِیْزُ او دے غالب دے نو شریک نهٔ لری الْحَكِیْمُ ﴿۴۲﴾
برحکمت دے نوجلتی نه کوی په عذاب دمشرکانو کښ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ او دا امثالونه چه ذکر دی په قرآن کښ
نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ج ترواو راوړو ئے مونږ ه دپاره دا دمیانوچه طلب ورته بنهٔ واضح شی په دغه مثلونو سره دَ
مَا يَعْقِلُهَآ اونهٔ شی راوسیے په عقل کښ دا امثالونه یعنی فائده ترے نهٔ شی اخستے اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ مگر
هغه پوهنده چه بیخ دخبرے راسپړی خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ پیدا کړی دی خدائ دا اسمانونه وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ط
اوزمکه هم په حق سره اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے پیدا کولو یا مثل راوړلو کښ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۴﴾
هرائینه نښه ده دپاره دمؤمنانو

اُتْلُ مَآ اُوْحِیَ

اِلَيْكَ لوله هغه چه رالیږلے شوے دے تا ته
مِنَ الْكِتٰبِ له کتاب چه قرآن دے وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ط او برپائ لره مونځ خپل اِنَّ الصَّلٰوةَ بیشکه مونځ چه دَ
تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ منع ساروی مصلی له هغه بدو چه عقل ترے نفرت کوی لکه زنا شوه وَالْمُنْكَرِ ط او له هغه
بدو چه شرع ترے مانع وی لکه ټول معاصی شو ځکه چه حضرت حسن رض ویلی دی چه هر مونځ چه مصلی
ئے منع نهٔ که له بد و هغه مونځ ئے مونځ نهٔ دے بلکه لاو بال دے په غاړه ئے نو ځولو وائی چه مانع دے له منکراتو
په وخت دادا کښ. دا خو ظاهر دے او ځولو وائی چه مانع دے مطلقاً ځکه چه دوام په دهٔ موجب دا
دوام د ذکر دے او دوام د ذکر بیا موجب دخشیت دخدائ دے او خشیت بیا په خاصیت سره موجب دا
منع دے له گناهونو وَلَذِكْرُ اللّٰهِ او هرائینه یادگیری دخدائ یعنی مونځ چه دے اَكْبَرُ ط ډیر لوئ دے له نورو
طاعاتو ځکه چه معراج دے دمؤمنانو او شامل دے ډیرو اقسامو د طاعاتو قولیو او فعلیو لره وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او
خدای پوهیږی مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۴۵﴾ په هر هغه طاعت چه کوئ ئے تاسے که مونځ وی او که بل کوم طاعت
نوجزا به ئے درکړی درلره په احسن وجه سره وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ او جګړه مهٔ کوی اے مومنانو
له اهل کتابو یعنی یهودو او نصارا راؤ سره اِلَّا بِالَّتِيْ مگر په هغه خصلت سره هِيَ اَحْسَنُ ق صلے چه هغه ډیره ښه

وی یعنی د سختیٔ په نرمیٔ او د غضب په صبر او د شغب په نصیحت سره اِلَّا الَّذِیۡنَ مگر هغه کسان ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ
چه ظلم وکه له دوئ نه که معاهد عهد مات کهٔ یا جزیه د هنده جزیه منع کړه او خوك وائی مراد له ظالم هغه
خوك دی چه ولد یا شریك وله ثابتوی یا وائی چه ید الله مغلولة او که یو له د غه کارو نو ځ وکه نو مجادله ورسره
کوئ په سیف سره وَقُوۡلُوۡۤا اٰمَنَّا او وایئ تاسه دوئ چه ایمان راوړے دے مونږه بِالَّذِیۡۤ اُنۡزِلَ اِلَیۡنَا په
هغه کتاب چه رالیږلے شوے دے مونږه ته چه قران دے وَ اُنۡزِلَ اِلَیۡکُمۡ او چه رالیږلے شوے دے تاسه
ته چه تورات انجیل زبور دے وَ اِلٰـهُنَا او خدائ ځمونږه وَ اِلٰـهُکُمۡ وَّاحِدٌ او خدائ ستاسو یو دے
وَّ نَحۡنُ لَهٗ مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۴۶﴾ او مونږه ده ته گردن نهاده یو او موحداو، او تاسه شریکان ولره بیداکوئ وَ
کَذٰلِكَ او همداسے لکه چه تیرو انبیاؤ ته مونږه کتابونه رالیږلی و و اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَیۡكَ الۡکِتٰبَ رالیږلے دے مونږه
تا ته کتاب چه قرآن دے چه موافق دے د پخوا انبیو کتابونو سره په اصولو د دین کبنی فَالَّذِیۡنَ پس هرچه
هغه کسان دی اٰتَیۡنٰهُمُ الۡکِتٰبَ چه ورکړے دے مونږه دوئ له کتاب لکه ابن سلام او ملگری دده
یُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ ج ایمان راوړی دوی په دے قران وَمِنۡ هٰۤـؤُلَآءِ او بعض له دغه مکو هم مَنۡ یُّؤۡمِنُ
بِهٖ ط هغه څوك دی چه ایمان راوړی په دے قرآن او یا مراد له دواړو اهل کتاب دی اما له فالذین هغه
مراد دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعث پخوا وو او نادیده ایمان ئے راوړے وو په رسول صلی
الله علیه وسلم او په قرآن لکه قیس بن ساعده او بحیرا راهب او نسطورا او ورقه بن نوفل او امثال دد وئ
او له مَنۡ هٰؤُلَاءِ هغه مراد دی چه دده په زمانه کبنی وو وَمَا یَجۡحَدُ او انکار نه کوی بِاٰیٰتِنَاۤ له دے ایتونو ځمونږ
اِلَّا الۡکٰفِرُوۡنَ ﴿۴۷﴾ مگر کافران له یهودو لکه کعب بن اشرف او امثال ئے وَمَا کُنۡتَ او نهٔ وے ته اے د رسوله
تَتۡلُوۡا مِنۡ قَبۡلِهٖ داسے چه لوست به تا پخوا له دے قرانه مِنۡ کِتٰبٍ کوم کتاب له پخوا نیو کتابونو وَلَا تَخُطُّهٗ
او نهٔ به دِ نوشته کولو دغه کتاب بِیَمِیۡنِكَ په ښی لاس خپل او کهٔ چرے وے ته پخوا قاری کاتب اِذًا
لَّارۡتَابَ الۡمُبۡطِلُوۡنَ ﴿۴۸﴾ نو په دغه وخت هرائینه په شك کبنی به لویدلی وو د باطل بلونکی د حق له
یهودو او له مشرکانو د مکے چه یهودو به ویل مونږه په تورات کبنی داسے لیدلی دی چه نبی اخر الزمان نه کاتب
دے نه قاری او دے دواړه دی او مشرکانو به ویل چه د اله کتابونو د پخوانیو خلقو په خپل لاس اینکی او بیا
هغه مونږ ته لولی او وائی چه د اله خدائ راغلی دے بَلۡ هُوَ بلکه دا قران چه دے اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ ایتونه

دی ښکاره فِیْ صُدُوْرِ الَّذِیْنَ په سینو د هغه کسانو کښې اُوْتُوا الْعِلْمَ ؕ چه ورکړې شوے دے ورله علم یعنې مؤمنان چه یاد دی ئے وَمَا یَجْحَدُ بِاٰیٰتِنَآ او انکار نهٔ کوی له اٰیتونو ځمونږه اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ مګر ظالمان نکه یهود چه پس له یقین ترے منکر شوی دی وَقَالُوْا او وائی دا کفار د مکے لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَیْهِ ولے نه شی رالیږلے په دهٔ اٰیٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ ایتونه له طرفه د پروردګار ددهٔ یعنی دا سے معجزے لکه د پخوانو انبیاؤ وے لکه اُوښه د صالح علیه السلام او همسا د موسیٰ علیه السلام او مائده د عیسیٰ علیه السلام قُلْ اِنَّمَا الْاٰیٰتُ ووایه ورته چه بیشکه همدا خبره ده چه معجزے چه دی عِنْدَ اللّٰهِ خاص خدائ تهٔ دی پورے اوځما په اختیار کښې نهٔ دی وَاِنَّمَآ اَنَا او بیشکه هم دا خبره ده چه زهٔ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۵۰﴾ ویروونکے یم ښکاره له عذابه او په ما غیرله انذاره او اظهار د هغه اٰیا توچه راکړے شوی دی بل هیڅ نشته اَوَلَمْ یَکْفِهِمْ اَنَّآ نه دی کافی دوئ لره له جهته د معجزے دا چه بیشکه مونږه اَنْزَلْنَا عَلَیْکَ الْکِتٰبَ رالیږلے دے په تا کتاب یعنی قراٰن چه همیشه یُتْلٰی عَلَیْهِمْ ؕ لوستے کیږی په دوئ او دوئ سره له دا سے فصاحت او بلاغت خیل له معارضے دپوا دنی سورت هم عاجزدے نوله دے دا زیاته معجزه غواړی اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ بیشکه چه په دے کتاب کښې چه باقی پاتے دے په هر زمان او مکان کښې تر قیامته لَرَحْمَةً وَّذِکْرٰی هر اٰئینه مهربانی او پند دے لِقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۱﴾ ع د پاره د هغه قوم چه ایمان راوړی او باور ئے کوی قُلْ کَفٰی بِاللّٰهِ ووایه ته چه بس دے خدائ بَیْنِیْ وَبَیْنَکُمْ په مابین ځما او په مابین ستاسے کښې شَهِیْدًا ج شاهد په صدق او په تبلیغ ځما او په تعنت او په تکذیب ستاسے یَعْلَمُ مَا چه پوهیږی په هر هغه څیز فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ چه په اٰسمانونو کښې او په زمکه کښې دی نو ځما او ستاسے حال له هغه هیڅ فد ر پټ نهٔ دے وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے بِالْبَاطِلِ په ناحق یعنی په هغے معبودانو چه غیر دی له خدائ وَکَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ او کافر شوی دی په خدائ اُولٰٓئِکَ دغه کسان چه دی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۵۲﴾ هم دوئ زیانکاران دی چه ایمان ئے په کفر بدل کړے دے وَیَسْتَعْجِلُوْنَکَ او جلتی کوی دا کفار په تا بِالْعَذَابِ ؕ په راتلو د عذاب یعنې وائی چه دا عذاب ولے زر نهٔ راځی په دنیا کښې وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّی او که نه وی هغه موده چه په نامه کړے شوے ده د پاره د عذاب لَجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ؕ نو هر اٰئینه راغلے به وو دغه جلت غوښتونکیو له عذاب فی الحال له غوښتو سره وَلَیَاْتِیَنَّهُمْ او هر اٰئینه رابه شی دا عذاب دوئ لره بَغْتَةً نا څاپه یا په دنیا کښې لکه حادثه د بدر او

یا په اخرت کښې پس له مرګه وَهُمۡ لَا یَشۡعُرُوۡنَ ﴿۵۳﴾ او حال دا چه دوئ به نهٔ پوهیږی په وخت د راتلو ئے -
یَسۡتَعۡجِلُوۡنَكَ بِالۡعَذَابِؕ جلتی کوی دوئ په تا په نزول د عذاب په دنیا کښې وَاِنَّ جَهَنَّمَ او حال دا چه بیشکه
دوزخ لَمُحِیۡطَةٌۢ بِالۡكٰفِرِیۡنَ ﴿۵۴﴾ هرا ئینه احاطه کونکے دے له کافرانو یعنی په قیامت به ترے چاپیرشی یَوۡمَ
یَغۡشٰهُمُ الۡعَذَابُ یاد که هغه ورځ چه لاندے به که دوئ عذاب له هر طرفه یعنی مِنۡ فَوۡقِهِمۡ له پاسه د
سرونو د دوئ وَمِنۡ تَحۡتِ اَرۡجُلِهِمۡ او لاندے د خپو د دوئ وَیَقُوۡلُ او و به وائی ورته خدائ یا ملک په امر
د دهٔ یا کوم بل دوزخی ذُوۡقُوۡا ما چه وڅکئ تاسے مزه یعنی جزا د هغه عمل كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۵۵﴾ چه وئ تاسے
په دنیا کښې چه کولو به موځکه چه دنیا دارو د عمل او اخرت دار دے د جنت روایت دے چه یو
طائفه د مؤمنانو له مکے هجرت نهٔ کولو چه یا ئے زاد یا استعداد نهٔ وو او یا محبت د وطن یا د خپلوانو حصار کړی
وو او عبادت به ئے پټ په ویره کولو نو نازل شو یٰعِبَادِیَ الَّذِیۡنَ اے هغه بندګانو زما اٰمَنُوۡٓا چه ایمان مو
راوړے دے که چرے عبادت نهٔ شئ کولے په فراغ د زړهٔ سره له خوفه د مشرکانو په یو ځائ کښې نو اِنَّ
اَرۡضِیۡ وَاسِعَةٌ بیشکه زما فراخه ده پس هجرت وکړی له هغه ځایه او د امن ځائ له ورشئ فَاِیَّایَ
فَاعۡبُدُوۡنِ ﴿۵۶﴾ پس خما عبادت کوئ هلته بے تشویشه او که اوس له دے وطنه او له خپلوانو مفارقت
نهٔ شئ کولے نو اخر به ترے سفر وکړئ ځکه چه كُلُّ نَفۡسٍ هر ژوندے سر چه دے ذَآئِقَةُ الۡمَوۡتِ څکونکے
دے د مرګ یعنی اخر به مری او د مرګه نهٔ خلاصیږی ثُمَّ اِلَیۡنَا تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۵۷﴾ بیا به مونږ ته پس له
مرګه راوستے کیږئ په بعث سره د پاره د جزا وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د نیکو لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ هرا ئینه د یره به کړو مونږ ه خامخا دوئ مِّنَ الۡجَنَّةِ غُرَفًا له
جنت په هسکو مانړو کښې او د اغرفًا منصوب دے په نزع د خافض سره د اسے مانړئ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ
چه بهیږی لاندے د هغو ولے څلور واړه قسمه خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَاؕ په دے حال کښې چه همیشه به وی دوئ
په دغه مانړیو کښې نِعۡمَ اَجۡرُ الۡعٰمِلِیۡنَ ﴿۵۸﴾ ښهٔ دے اجر د غو عمل کونکیو د نیکیو د جنت الَّذِیۡنَ صَبَرُوۡا
هغه عاملان چه صبر ئے کړے دے په ازار د مشرکانو او په هجرت له اوطانو وَعَلٰی رَبِّهِمۡ او په رب خپل باندے
یَتَوَكَّلُوۡنَ ﴿۵۹﴾ توکل کوی دوئ او توکل کار په دهٔ سپاری روایت دے چه هر کله مؤمنان مامور
شو په هجرت او دوئ پخپلو کښې سره و ویل چه څرنګه لاړ شو مونږه د اسے وطن له چه هیڅ اسباب ګذران

خمونږ هلته نشته نو نازل شو وَكَاَيِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ او ډیر دی له خوزیدونکیو یعنی ژنده سرلَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا
چه نهٔ اخلی روزی خپله یعنی طاقت نهٔ لری دد ے چه څان سره وګرځوی روزی .نپله په سبب د ضعف خپل
سره دا واړه اقسام د دوابو که وحوش دی که طیور دی که سباع که هوام او که نور حیوانات دی د بریاد بحر
لکه اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا خدائ روزی ورکوی دغه دوابو لره وَاِيَّاكُمْ ز او تاسے له هم درکوی ا ے مهاجرانو که نهٔ
وی زاد او نفقه تاسے څخه وَهُوَ السَّمِيْعُ او د ے اوریدونکے د ے د اقوالو ستاسے الْعَلِيْمُ ﴿۶۰﴾ پوهه د ے په نیتونو
ستاسے او حضرت حسن رض ویلی دی چه مراد له دغه حمل ذخیره ده یعنی نهٔ ذخیره کوی د رزق خپل او
ډیرے خلکه ویلی دی چه بعض ئے ذخیره کوی لکه دا د ے نوع د حیواناتو چه د میان او مږک او میږی دی
فقط وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او قسم د ے که پوښتنه وکړے ته له دوئ دا سے چه مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ چا پیدا
کړی دی د اسمانونه او زمکه وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ او مسخر کړے د ے نمر او سپوږمئ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ج نو
هر ائینه وبه وائی چه خدائ۔ نو هر کله چه دوئ پوهیږی په د ے چه خالق دد ے ټولو هم خدا ای
دے فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۱﴾ پس کوم طرف ته چپولے شی دوئ لره توحید پس له دغه اقراره اَللّٰهُ يَبْسُطُ
الرِّزْقَ خدائ فراخ کوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ د پاره د هغه چا چه اراده ئے وشی مِنْ عِبَادِهٖ له بندګانو
خپلو وَيَقْدِرُ لَهٗ ط او تنګوی په ده چه اراده ئے وشی پس له فراخئ یا له اوله اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ
بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۶۲﴾ په هر څیز دانا د ے چه پوله هغه قبض او بسط هم دے وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او بیا
قسم دے چه که پوښتنه وکړے ته له دوئ دا سے مَنْ نَّزَّلَ چا رابښکته کړے دے مِنَ السَّمَآءِ له طرفه د اسمانه
مَآءً او به فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ پس ژوندی کړے ئے ده په دے او بو سره زمکه یعنی تکه شنه ئے کړه په کیا
سره مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا پس له مرګه او وچوالے دے لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ط هر ائینه وبه وائی چه خدائ بیا هر کله
چه دوئ دا اقرار هم او کهٔ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ط ووایه چه ثنا ده خدائ لره چه زهٔ ئے له دے ګمراهئ ساتلے
یم او حجت حُما ئے په تاسے ثابت کړو بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه زیات د دوئ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ ع عقل نهٔ لری څکه
تناقض کوی دا سے چه اول خالق د کل مخلوقاتو هم دے بولی او بیا بتان شریکوئ ورسره په خدائی کښ
چه الهه ئے بولی وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ او نهٔ دے دا ګمکے ژوندون اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ط مګر عبث او لوبے
دی یعنی اهل دے دنیا یو څو ورځے دی چه رالیدا اشی او عبث او بے فائدے کارونه وکړی او جلت سره

تار په تارشی په مرګ لکه هلکان چه یو ساعت سره راټول شی او لوبے وکړی بیا تار په تار شی وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ
او بیشکه هغه دیروستیٔ حویلیٔ چه ده لَهِیَ الْحَیَوَانُ ۘ هرآئینه هغه ژوندون دے فائده اخرتے په
ژوندون وباله لهٔ ډیرے مبالغے څکه چه مرګ پکښ له سره نشته لَوْ كَانُوْا یَعْلَمُوْنَ ﴿۶۴﴾ که چرے وے دوئ
چه په دے پوهیدلے نو دنیا به ئے پرے نه غوره کوله فَاِذَا رَكِبُوْا پس په هغه وخت چه سواره شی دا کفار
فِی الْفُلْكِ په جهاز یا په بیړیٔ کښ او په چپو د دریاب باندے راشی دَعَوُا اللّٰهَ نو بولی دوئ هلته یواز ے
خدائ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ۚ۵ په دے حال چه خالص کونکی وی دوئ خدائ لره د بن خپل یعنی په ظاهر کښ
د مخلصانو معامله شروع له دهٔ سره څکه چه هلته غیر له ده بل هیڅوک نهٔ بولی د پاره د دے چه پوهیږی
چه له دغه سختیٔ مونږه بل هیڅوک نهٔ شی خلاصولے فَلَمَّا نَجّٰهُمْ پس هر کله چه خلاص که خدائ
دوئ له هغه خوف او سلامت ئے راوباسی اِلَی الْبَرِّ وچے ته اِذَا هُمْ یُشْرِكُوْنَ ﴿۶۵﴾ ناګاه دوئ بیا شریکان
نیسی له دهٔ سره لکه پخوا لِیَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَیْنٰهُمْ ۚ د پاره د دے چه کافرا و منکر شی دوئ په هغه نعمت چه
ورکړے وو مونږه دوئ لره چه هغه نجات وو له غرق وَلِیَتَمَتَّعُوْا وقفہ او بل چه معاش وکه دوئ په دے
چه راټول شی سره او محبت پیدا که په عبادت د بتانو فَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ ﴿۶۶﴾ پس زر دے چه معلوم به کړی
دوئ عاقبت د دے خپل کردار په وخت د نزول د عذاب کښ اَوَلَمْ یَرَوْا آیا نهٔ وینی دا اهل د مکے اَنَّا جَعَلْنَا
دا چه ګرځولے دے مونږه دا ښار د دوئ حَرَمًا اٰمِنًا حرم یعنے ساتلے شوے او اهل د دهٔ په امان شوے له
قتل له غارته وَیُتَخَطَّفُ النَّاسُ او حال دا چه تختولے کیږی نور خلق مِنْ حَوْلِهِمْ ۭ چاپیر له دوئ یعنے هغه
خلق چه چاپیر دی له مکے ـ هم وژلے کیږی او هم شوکولے کیږی او هم په بند بیولے کیږی او دوئ
په دے مینځ کښ له دغه ټولو بے غمه ناست دی اَفَبِالْبَاطِلِ یُؤْمِنُوْنَ آیا پس په باطل چه بتان
دی ایمان راوړی دوئ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ او په نعمت د خدائ چه استوږنه ده په حرم کښ او امن دے
له خوفه یا محمد صلے الله علیه وسلم یا دین د اسلام دے یَكْفُرُوْنَ ﴿۶۷﴾ کفران او بے قدری کوی او کفرا
ئے دا دے چه شریکان ورسره پیدا کوی وَمَنْ اَظْلَمُ او څوک دے ډیر ظالم مِمَّنِ افْتَرٰی له هغه
چا چه له ځانه وتړی دے عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا په خدائ دروغ چه شریک ورله ثابتوی بے حجتـــه ـ
اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ یا تکذیب وکه د حق یعنے د رسول الله صلے الله علیه وسلم یا د قرآن لَمَّا جَآءَهٗ هغه وخت

چه راشي دغه حق ده له اَلَيۡسَ فِيۡ جَهَنَّمَ ايا نه شته په دوزخ کښ مَثۡوًى لِّلۡكٰفِرِيۡنَ (۶۸) ځاۓ
داستو بزئے کافرانو لره اوهرچه هغه کسان دی جَاهَدُوۡا چه کوشش کوی دوئ د شپے او د ورځے
فِيۡنَا په موښزه کښ یعنی په روښانه کولو ددین څموښزه کښ لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ هرامئینه وبه ښایو موښزه
دوئ ته سُبُلَنَا ط له لارے خپلے چه برے موښزه لره راځی وَاِنَّ اللّٰهَ اوبیشکه چه خدائے لَمَعَ
الۡمُحۡسِنِيۡنَ (۶۹) هرامئینه له نیکوکارانو سره دے ؛



الٓمّٓ (۱) ددے بیان مخوا تیر شوے دے غُلِبَتِ الرُّوۡمُ (۲) غلبه ورکړے شوه په روم یعنی په اهل دروم
چه اهل کتاب دی داسے چه فارسیان برے غالب شواو دوئ بُت پرست وو نوکفار د مکے په دے ډیر خوشحال
شول اومؤمنانو ته ئے وویل چه موښزه به هم به تاسے غلبه وکړو لکه فارس په روم ځکه چه مؤمنان او
فارسیان دواړه مشرکان یواو تاسے اومؤمنان دواړه کتابیان یئ فِيۡۤ اَدۡنَى الۡاَرۡضِ په هغه ډیرنزدے زمکے کښ
عربوته چه هغه اطراف دی د شام . اود الف لام بدل دے له مضاف الیه وَهُمۡ او دغه رومیان چه دی
مِّنۡۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ پس له مغلوب کید لو ددوئ . اودا مصدر دے مفعول ته سَيَغۡلِبُوۡنَ (۳) زر دے چه بیا به
غالب شی دوئ په فارسیانو فِيۡ بِضۡعِ سِنِيۡنَ ۵ په یو څوکلونو کښ چه له دریو تر نهو یا تر لسو پورے
دی روایت دے چه پس له نزول ددے ایت صدیق اکبرؓ مشرکانو ته وویل چه تاسے مه
خوشحالیږئ روم به بیا غالب شی په فارسیانو په دغه څو کلونو کښ . اُبَیّ بن خلف ورته وویل چه
دروغ وایے راځه چه کرو سره کیږدو نو درے کاله ئے شرط کیخودلو په لسو اوښانو چه څوانان وی بیا چه
رسول صلے الله علیه وسلم په دے خبر شو نو صدیق اکبرؓ ته ئے وویل چه موده اومال دواړه ور سره
زیات کړه اوښان ئے سل کړه تر سلو کلونو پورے اواُبَیّ بیا مخوا له تمامه ددے مودے په جنګ د اُحد کښ له زخم
د رسول صلے الله علیه وسلم مړشو نو بیا په ورځ د حدیبیے روم غالب شو په فارس نو صدیقؓ سل اوښان
له وارثانو د اُبَیّ واخستل او رسول الله صلے الله علیه وسلم ورته وویل چه خیرات ئے کړه اودا مخوا دوله
تحریمه د قمار لِلّٰهِ الۡاَمۡرُ خاص خدائے لره دے فرمان اوحکم مِنۡ قَبۡلُ مخوا له غلبے د فارس په روم وَمِنۡۢ بَعۡدُ ط

اوپس له غلبے د دوم په فارس یعنی په هر وخت کښې قضاء د ده نافذه ده وَيَوْمَئِذٍ او په دغه ورځ چه

روم غالب شو په فارس يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ ﴿۴﴾ خوشحاله به شي مؤمنان بِنَصْرِ اللّٰهِ ط په مدد کارئ د خدای تعالیٰ

له اهل کتابو سره په بت پرستو يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ط مدد کوی دے له هر هغه چا سره چه اراده ئے وشی وَهُوَ

الْعَزِيْزُ او دے غالب دے چه انتقام اخلی له سرکشے طائفے الرَّحِيْمُ ﴿۵﴾ مهربان دے چه مظلومه طائفه

په ظالمے طائفے باندے غالبه کوی وَعْدَ اللّٰهِ ط وعده کړے ده خدای په وعده کولو سره دا ځکه چه په اصل

کښې دا کلام دا سے دے چه وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وعداً بیا فعل او مفعول ئے دواړه تړے حذف کړه او مصدر

ئے په ځائ د فعل کیښود ه نو وَعْدَ اللّٰهِ شه لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ نه ئے خلاف کوی خدای وعده خپله وَلٰكِنَّ

اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات خلق چه دی یعنی کفار د مکے لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶﴾ نه ئے پو هیږی په دے چه دده په

وعده کښې خلاف نه وی يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا بلکه پو هیږی دوئ په بنکاره کارونو مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ج

له دغه واړه ژوندون ځنے لکه دولت او عزت او جاه او جلال او مال او متاع او تجارت او زراعت او غرس

او بنا او دا سے نور د پرشو وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ او حال دا چه دوئ له هغه آخره چه مقصود دے له آبادئ دد ے

دنیا هُمْ غٰفِلُوْنَ ﴿۷﴾ هم دوئ غافل دی اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا آیا فکر نه کوی دوئ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قف په ځانونو

خپلو کښې او دا ځکه چه هر نفس عالم صغیر دے او مرآة دے د عالم کبیر. یعنې هر چه په عالم کبیر کښې

دی. دهغه نمونه په هر نفس کښې شته نو دا تفکر به ئے مفضی شوے و وفکر د عالم کبیر ته یا ولے فکر نه کوی

دوئ په اول خلقت خپل کښې چه یقین ئے په قدرت د اعادے راشی او بل په دے چه مَا خَلَقَ اللّٰهُ نه دی پیدا

کړی خدای السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ دا اسمانونه او زمکه وَمَا بَيْنَهُمَآ او هر هغه چه په مابین د دغه دواړو

کښې دی اِلَّا بِالْحَقِّ مګر په حق یعنې په حکمت او په رښتیا نه په عبث او په لو بو بلکه د پاره د استدلال

په قدرت د بعث وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ط او په هغه نیټه چه په نامه کړے شوے ده چه دا هر څه به هلته منتهی

کیږی او بیا به ئے اعاده کولے شی د پاره د حساب او د جزا وَاِنَّ كَثِيْرًا او بیشکه چه ډیر مِّنَ النَّاسِ له

آدمیانو چه کفار دی بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ په ملاقات د رب خپل یعنی په ورځ د قیامت چه وخت دے د لقاء

لَكٰفِرُوْنَ ﴿۸﴾ هر ائینه منکر دی چه وائی قیامت له سره نشته اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا آیا ګرځیدلی نه کوی دوئ فِي

الْاَرْضِ په زمکه کښې یعنی په مینو د عاد او ثمود او دا سے د نورو کفارو په وخت د سوداګرئ کښې فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ

كَانَ پس وګورئ دا چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ آخره خاتمه د هغه کسانو چه تیر شوی دی مِنْ قَبْلِهِمْ
پخواله دوئ كَانُوْٓا اَشَدَّ چه وو هغه پخوانی اُمم ډیر سخت مِنْهُمْ قُوَّةً له دغه مکیانو له جهته دقوت
لکه عاد او ثمود او امثال د دوئ وَّ اَثَارُوا الْاَرْضَ او ښوروله به دوئ زمکه په قُلبه او په بیل او په تسکوړ
د پاره دکښت او د غرس او دکوهیو او دکاریزونو او د معادونو وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ او اباده کړے وه دوئ دا
زمکه ډیره زیاته مِمَّا عَمَرُوْهَا له هغه قدره چه اباده کړے ده دے مکیانو ځکه چه دوئ په دا سے وادئ کښ
پراته دی چه کښت پکښ نهٔ کیږی او چاپیر ترے غرونه دی نو دا باد ئ شان پکښ نشته وَجَآءَتْهُمْ او
راغلی وو دوئ له رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ پیغمبران د دوئ په ښکاره نښو یا معجزو او دوئ پرے ایمان نه راوړونو
هلاك شو فَمَا كَانَ اللّٰهُ او نهٔ وو خدائ داسے لِيَظْلِمَهُمْ چه ظلم دکه په دوئ یعنی چه هلاك ئے کاے لو
د رسولانو او بے کفره او بے تکذیبه وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اولیکن وو دوئ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۹﴾ چه پخپل ځان ئے
ظلم کولو په تکذیب د پیغمبرانو خپلو سره ثُمَّ كَانَ بیا دہ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا آخره خاتمه د هغه
کسانو چه بد ئے کړی دی په اختیار ولو د کفر سره او دا عَاقِبَةُ خبر دے د كَانَ چه مقدم شویدے په
اسم ځیل السُّوْٓاٰى ډیر بد چه دوزخ دے او دا سُوْاٰی په وزن د فُعلٰی مونث د اَسْوَءُ دے چه اسم تفضیل
دے او اسم دے د کان چه مؤخر دے له خبره خپله حاصل ئے دا چه عاقبت د مشرکانو دوزخ دے اَنْ كَذَّبُوْا په دے
سبب چه تکذیب کړے دے دوئ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ د ایتونو د خدائ یعنی د قران وَكَانُوْا بِهَا او وو دوئ په دنیا
کښ چه په دغو ایتونو پورے يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۰﴾ مسخرے او ټوقے به ئے کولے اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ
خدائ پیدا کول کوی د ادمی له نطفے ثُمَّ يُعِيْدُهٗ بیا اعاده به کوی د دهٔ یعنے ژوندی به کړی پس له مرګه
په قیامت ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱﴾ بیا خاص هم دهٔ ته به بوتلے کیږئ تاسے د پاره د حساب او د جزا -
وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ او په هغه ورځ چه برپا ئ شي قیامت يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۲﴾ نا امیده او چپ
به شی دا مشرکان ځکه چه هیڅ حجت به نه لری وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ او نه به وی دوئ له مِنْ شُرَكَآئِهِمْ
شُفَعٰٓؤُا له هغه شریکانو د دوئ شفاعتګرنه بتان نه ملائك نه نمر نه سپوږمۍ نه ستوری وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ
او شی به دوئ له شریکانو خپلو پس له نا امیدئ كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ بیزاره او منکر له عبادته د دوئ وَيَوْمَ تَقُوْمُ
السَّاعَةُ او په هغه ورځ چه برپا ئ شی قیامت يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿۱۴﴾ په دغه ورځ به تار په تار

شی سره داخلق یعنی دوه طائفے به شی یو مؤمنان یو کافران لکه چه وائی فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا پس هرچه
هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دنیکو فَهُمْ فِیْ رَوْضَةٍ پس دوئ چه
دی وی به په جنت کښی چه مشتمل دے په ازهارو په انهارو په خوش اوازونو دا بکار و یُحْبَرُوْنَ ﴿۱۵﴾
خوشحاله به کړے شی داسے چه له ډیرے خوشحالئ نه به ئے تجلی کوی وَاَمَّا الَّذِیْنَ کَفَرُوْا او هرچه هغه
کسان دی چه کافر شوی دی وَکَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا اوتکذیب کوی دایتونو زمونږه یعنے دقرآن وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ او په
ملاقات داخرت یعنی په راتلو دقیامت فَاُولٰٓئِكَ پس داکسان چه دی فِی الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ په عذاب
کښی به حاضر کړے شوی وی همیشه چه هیچرے به ترے نه غائب کیږی **فائده** هر کله چه رب العزت وعدا او
وعید دواړه ذکر کړه نو ورپسے اراده ئے وکړه ددے چه بیان کړی هغه څیز چه سړے رسوی وعدے ته او ساتی
ئے له وعیده نو دے ویل فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ پس پاکی ده خدائ لره او دا مصدر دے په معنیٰ د امر یعنے تسبیح او
پاکی وایئ اے مؤمنانو خدائ لره یا مونځ کذاروئ ورلره حِیْنَ تُمْسُوْنَ په هغه وخت چه داخلیږئ
تاسے په شپه کښی نو دے کښی دوه مونځونه داغلهٔ د ماښام او د ماسختن وحِیْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾ او په هغه
وخت چه داخلیږئ تاسے په صبا کښی نو دے کښی د صبا مونځ راغے وَلَهُ الْحَمْدُ او خاص هم ده لره ثناده
فِی السَّمٰوٰتِ په اسمانونو کښی وَالْاَرْضِ او په زمکه کښی **تنبیه** داجمله معترضه ده او معنیٰ ئے داده چه
لازم دی په ټولو اهلِ تمیزو دملونیو چه دوئ د هر وخت ثنا وائی خدائ لره خصوصًا په دغه تیر واو قاتو
کښی وَعَشِیًّا او په هغه وخت چه تاخلیږئ تاسے په اخر دورځے کښی نو دے کښی دمازدیګر مونځ راغے
وَّحِیْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ او په هغه وخت چه داخلیږی تاسے په ظهر کښی نو دے کښی دماسپخین مونځ
راغے یُخْرِجُ الْحَیَّ راوباسی دے په قدرت کامله سره ژوندے مِنَ الْمَیِّتِ له مړی لکه مرغه له هګئ او
انسان له نطفے او مؤمن له کافره او عالم له جاهله وَیُخْرِجُ الْمَیِّتَ او راوباسی مړی مِنَ الْحَیِّ له ژوندی
لکه عکس دتیرو وَیُحْیِ الْاَرْضَ او ژوندی کوی دے زمکه په سبزئ سره بَعْدَ مَوْتِهَا پس له مړوالی
ع ۲
او وچوالی ددے وَکَذٰلِكَ او په مثل ددغه زمکے چه اول مړه وه او بیا ئے ژوندئ کړه تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۹﴾
راوبه ایستلے شئ تاسے هم ژوندی له قبرونو یعنی لکه چه دے کښی شک نشته هغه کښی هم نشته ځکه چه
دے قادر مطلق دے **روایت دے** له ابن عباس رض چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی چه

من قرء فسبحن الله حين تمسون الى الثلث واخر سورة الصّٰفّٰت دبر كل صلوة كتب له من الحسنٰت عدد نجوم
السماء وقطر الامطار وورق الاشجار وتراب الارض فاذا مات اُجزى له بكل حرف عشر حسنٰت في قبره
او بل روايت دے له دهٔ چه من قال حين يصبح فسبحن الله حين تمسون وحين تصبحون الى قوله وكذلك
تخرجون ادرك ما فاته من يومه ومن قالها حين يمسى ادرك ما فاته في ليلته كذا في المدارك وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ
او يو له نښو د قدرته د دهٔ اَنۡ خَلَقَكُمۡ دا دے چه پيدا كړى دهٔ تاسے يعنى اصل ستاسے چه آدم عليه السلام
و دے مِّنۡ تُرَابٍ له خاورے چه راجمع كړے شوے وے له تمام روئ زمين او بيا اښكلو شوى وئ څلوينت
ورځے په لاس د قدرت او بيا قالب د ادم عليه الصلوة والسلام ترے ساز كړے شو ثُمَّ اِذَآ اَنۡتُمۡ
بيا ناځاپه تاسے چه وئ بَشَرٌ تَنۡتَشِرُوۡنَ ﴿۲۰﴾ بشر وئ چه تاره تاركيدئ په زمكه كښے د پاره د پيدا كيدلو د
اسبابو د معيشت خپل وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ او بل د نښو د قدرت د دهٔ اَنۡ خَلَقَ لَكُمۡ دا دى چه پيدا كړى دى ده تاسے
له مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ اَزۡوَاجًا له ځانونو ستاسے ښځے يعنے له پوښتئ ستاسے لكه حوا يا له پښته ستاسے لكه دا
نورے ښځے يا له جنسه او له شكله ستاسے لِّتَسۡكُنُوۡۤا اِلَيۡهَا د پاره د دے چه مايل شئ تاسے دوئ ته او په
آرام شئ په سبب د جنسيت وَجَعَلَ بَيۡنَكُمۡ او پيدا كړے ده دهٔ په مابين ستاسے كښے سره مَّوَدَّةً وَّرَحۡمَةً
دوستى او مهربانى او خوك وائى چه مودة كنايه دے له اجماع او رحمت له ولد يا مودة له ځوانئ سره او
رحمت له زړے سره اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ بيشكه چه په پيدا كولو د ازواجو كښے هم شكله او هم جنسه له نارينه
په بشريت كښے لَاٰيٰتٍ هراٰئينه ډيرے لوئ نښے دى د كمال قدرت لِّقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿۲۱﴾ د پاره د هغه قوم
چه فكر كوى په دے كښے چه آبادى د دنيا په توالد او تناسل سره ده وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ او بل له نښو د قدرت د
دهٔ خَلۡقُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ پيدا كول دى د آسمانونو او د زمكے مشتمل په انواعو د حكمت او د عبرت وَاخۡتِلَافُ
اَلۡسِنَتِكُمۡ او بل مخالفت دے د ژبو ستاسے لكه عربى او فارسى او تركى او هندى او سريانى او يونانى او دا سے
نورے تر نهه سوه پورے وَاَلۡوَانِكُمۡ ؕ او بل مخالفت د دے رنګونو ستاسے لكه سرخى او سفيدى او سياهى او
زردى او سبزى او دا سے نور ډيرات اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ بيشكه چه په دے اختلاف د ژبو او د رنګونو كښے لَاٰيٰتٍ
لِّلۡعٰلِمِيۡنَ ﴿۲۲﴾ هراٰئينه لوئ نښے دى د قدرت او د حكمت د پاره د دانايانو وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ او بل له نښو د قدرت
كامله د دهٔ مَنَامُكُمۡ بِالَّيۡلِ وَالنَّهَارِ خوب دے ستاسے د شپے او د ورځے د پاره د آرام د قواؤ د نفس او د قوت

تواؤ د طبیعت وَابۡتِغَآؤُكُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ط او بل لټول ستاسے دی بعض له فضل دده یعنی د روزی او د نورو
اسبابو د معیشت او یا په ایت کښې لف نشر د ے مرتب داسے چه اول فعل لګیږی له اول زمانے سره او دویم له
دویمے زمانے سره. ای منامکم باللیل وابتغاؤکم من فضله بالنهار. بیا نهار مقدم کړے شۀ پخپل فعل
دپاره داګاهۍ په دے چه هر یوله دغه دواړو زمانو اګرکه خاص دے پخپل ملګری پورے له فعلینو. اما
په وخت د احتیاج کښې هر یو لائق دهغه بل فعل هم دے کذا ذکره البیضاوی اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ بیشکه چه
په دے خوب او معیشت کښې لَاٰيٰتٍ هر اثینه لوئ نښے د عبرت لِّقَوۡمٍ يَّسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۳﴾ دپاره دهغه قوم چه
اوریدل کوی د زړه په غوږونو وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ او بل له نښو د حکمته دده دادے چه يُرِيۡكُمُ الۡبَرۡقَ ښائی
تاسے ته بریښنا خَوۡفًا وَّ طَمَعًا دپاره د ویرے له صاعقے او د امید د باران وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ او راښکته کوی
دے له طرفه د اسمانه مَآءً فَيُحۡيٖ اوبۀ پس ژوندئ که دے بِهِ الۡاَرۡضَ په دغه اوبو سره زمکه چه شنهٔ
وابنهٔ ترے نه زرغون شی بَعۡدَ مَوۡتِهَا ط پس له مرګه دد ے یعنی چه کلکه پرته وه لکه مړے اِنَّ فِيۡ
ذٰلِكَ بیشکه چه په دے بریښنا او باران کښې لَاٰيٰتٍ هر اثینه لوئ نښے دی د قدرت الهی لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ﴿۲۴﴾
دپاره دهغه قوم چه عقل لری او فکر کوی په تقلبا تو د موجودا تو کښې وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ او له نښو د قدرته دده اَنۡ
تَقُوۡمَ السَّمَآءُ دا دے چه ودریږی اسمان پاس بے ستنو او نهٔ لویږی او زمکه په سر د اوبو او نهٔ
ډوبیږی بِاَمۡرِهٖ ط په فرمان او په ساتلو دده سره ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمۡ بیا په هغه وخت چه وبولی دے تاسے
یعنی اسرافیل علیه السلام په امر دده دَعۡوَةً ۖ ق په بللو سره په دے شان چه يَاَيُّهَا الۡمَوۡتٰى اُخۡرُجُوا
یعنے اے مړیو راووزئ بیرون مِّنَ الۡاَرۡضِ ق له زمکے نه اِذَاۤ اَنۡتُمۡ نوناچاپه تاسے تَخۡرُجُوۡنَ ﴿۲۵﴾
راووبه وزئ له قبرونو بیرون وَلَهٗ مَنۡ او خاص هم دهٔ لره دی هر هغه څوک فِي السَّمٰوٰتِ چه په
اسمانونو کښې دی وَالۡاَرۡضِ ط او چه په زمکه کښې دی كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوۡنَ ﴿۲۶﴾ دا ټول دهٔ لره فرمان منونکی
دی هر وخت یعنی په ژوند په مرګ په بعث په نشور کښې او په هیڅ وخت له دهٔ تمرد نهٔ شی کولے وَهُوَ
الَّذِيۡ او دے هغه قادر مطلق دے چه يَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ اول کرت پیدا کوی خلق او بیائے وژنی ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ
بیا به راژوندی کړی دا خلق پس له مرګه وَهُوَ اَهۡوَنُ عَلَيۡهِ ط او دا اعاده خو ډیره اسانه ده په ده له
اول پیدا کولو نه ستاسے په اعتقاد کښې اګرکهٔ ده ته په واقعه کښې دواړه برابر دی او په اول پیدا کولو

تا سے خو قائل یئ نو له اعادے ولے منکریږئ وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰی او خاص هم ده لره دے صفت بلند شان لکه قدرت کامله او حکمت شامله او وحدت د ذات او عظمت د صفاتو او دا سے نور دیر فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ج هم په اسمانونو کښ او هم په زمکه کښ پوهه ته له عقله ادراکه وَ هُوَ الْعَزِیْزُ او دے دا سے غالب دے چه هیڅ کله نه عاجز کیږی له ابدا او له اعادے د ممکناتو الْحَکِیْمُ (۲۷) پر حکمت دے چه هیڅ کارئے له حکمته خالی نهٔ وی ضَرَبَ لَکُمْ تری خدائ تا سے لره مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِکُمْ ط یو مثل له نفسونو ستا سے څخه دپاره د دے چه فهم ته اقرب شی ځکه چه په محسوسا تو کښ بل هیڅ څیز تا سے ته نزدے نهٔ دے هَلْ لَّکُمْ ایا شته دے تا سے لره یعنے نشته مِّنْ مَّا مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ له هغه مریو نو چه مالک شوی دی د هغو ښی لاسونه ستا سے مِّنْ شُرَکَآءَ شریکان له تا سے سره فِیْ مَا رَزَقْنٰکُمْ په هغه مال متاع کښ چه درکړی دی مونږه تا سے لره فَاَنْتُمْ فِیْهِ سَوَآءٌ پس تا سے او دا مریونه ستا سے په تصرف د هغه مال کښ سره برابر او سئ یعنی لکه چه تا سے پکښ تصرف کوئ بے اجازے د دوئ دا سے دوئ هم پکښ تصرف کولے شی بے اذنه ستا سے یودا او بل داچه تَخَافُوْنَهُمْ ویریږئ تا سے له دغه مریونو خپلو په وخت د تصرف کولو کښ دا سے کَخِیْفَتِکُمْ لکه ویریدل چه وی دا اصیلا نو ستا سے اَنْفُسَکُمْ ط له ځانونو خپلو یعنے له نورو اصیلانو شریکانو ستا سے څخه حاصل اے اصیلانو ایا تا سے کله مریونه خپل له ځان سره شریکان کړی دی په مال متاع خپل کښ دا سے چه تا او دوئ په تصرف د دغه مال کښ سره یو شان او سئ او هر یو له تا سے له ویرے د بله تصرف په دغه مال کښ یو ازے نشئ کولے یعنے نهٔ دی شریکان کړی تا سے لکه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت مشرانو د قریشو ته ولوست نو دوئ وویل چه کلا واللّٰهِ لایکون ذٰلک ابدا یعنی نه قسم دے په خدائ چه وبه شی هیچرے دا کار بیا نو ده ورته وویل چه هرکله تا سے خپل مریونه نهٔ شریکوئ له ځان سره نو مخلوق له خالق د ده سره څرنګه شریکوئ په خدائی کښ کَذٰلِکَ په مثل د دے تفصیل نُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ په تفصیل سره بیانو و مونږه ښے او دلیلونه د وحدت خپل لِقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ (۲۸) دپاره د هغه قوم چه عقل لری او په فکر سره له دغه مثل توحید معلوموی اما مشرکان له دغه فکره محروم دی لکه چه وائی بَلِ اتَّبَعَ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْٓا بلکه پیروی کوی هغه کسان چه ظالمان دی په شرك اَهْوَآءَهُمْ دارزوګانو د نفسونو خپلو

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ بے له پوهے او بے له کومه حجته فَمَنْ يَّهْدِيْ پس هغه څوك دے چه سمه لار وښائی مَنْ اَضَلَّ
اللّٰهُ ؕ هغه چا چه گمراه کړے وی د خدائ وَمَا لَهُمْ او نشته دغه مشرکانو گمراهانو لره مِّنْ نّٰصِرِيْنَ (۲۹)
هیڅوك له مددگارانو چه دوئ خلاص کړه له عذابه د دوزخ بیا هرکله چه دوئ په دے مثل عبرت وانه
خست نو خطاب ئے وکړهٔ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه هرکله دوئ له شرکه لاس نهٔ اخلی
او توحید ته غاړه نهٔ ږدی فَاَقِمْ وَجْهَكَ پس برابر کړه اے رسوله مخ خپل لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ؕ دین د
خدائ ته په دے حال چه مایل اوسے له ټولو ادیانو هم د دین ته او بل دا چه کلک ونیسه ته او تابعان
دِ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ هغه فطرت یعنی پید اینت د خدائ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ چه پید اکړی دی دهٔ
خلق په هغه فطرت باندے چه هغه دین د اسلام یا معرفت د صانع یا عهد د الست یا ایمان
فطری دے لَا تَبْدِيْلَ له سره بدلول نهٔ شته لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ دین د خدائ لره یعنی قدرت نشته یا بائد
نهٔ دی هیچا لره تغیر یا مهٔ کوئ پکښی تغیر چه مراده له دغه نفی نهی شی ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙۗ دا
دے هغه دین سم چه هیڅ قدر کوږوالے پکښ نشته وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات ادمیان چه دی
لَا يَعْلَمُوْنَ (۳۰) قالا نهٔ پوهیږی په توحید د خدائ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ په دے حال چه بیرته گرځید ونکی
اوسئ تاسے یعنی ته او امت دِ خدائ ته په ټولو او امرو او نواهیو کښ د احال دے له غافل د
اَقِمْ وَاتَّقُوْهُ او ویریږئ له دهٔ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ او ودروئ مونځ خپل وَلَا تَكُوْنُوْا او مهٔ کیږئ تاسے
مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (۳۱) لا له مشرکانو مِنَ الَّذِيْنَ یعنی له هغه کسانو دا بدل دے له مِن المشرکین څخه په اعاده
د جار سره فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ چه تار په تار کړے ئے دے دین خپل وَكَانُوْا شِيَعًا ؕ او شوی دی دوئ
فرقے فرقے دا سے چه دین د اسلام ئے پریخے دے او څوك عبادت کوی د بتانو څوك د ملائکو څوك د
ستورو وکُلُّ حِزْبٍۢ م هره فرقه چه ده له دوئ بِمَا لَدَيْهِمْ په هغه دین چه دوئ څخه دے فَرِحُوْنَ (۳۲) خوشحاله
دی او دا سے گمان کوی چه حق دین هم دا څوموږه دے وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ او په هغه وخت چه ورسیږی
دے خلقو یعنی کفارو د مکے ته ضُرٌّ کوم قسم ضرر لکه نادارئ یا بیماری یا قحط یا کومه بله سختی دَعَوْا
رَبَّهُمْ نو بولی دوئ رب خپل په ډیر تضرع سره مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ په دے حال چه رجوع کونکی وی دهٔ
ته له نورو خدایانو خپلو ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ بیا په هغه وخت چه وڅکوی دوئ مِّنْهُ رَحْمَةً له خپل

طرفه مهربانی یعنی فراخی یا صحت یا ارزانی یا کوم بل قسم راحت او هغه سختی تر لاره شی إِذَا فَرِيقٌ
مِّنْهُم ناڅاپه یوه طائفه له دوی بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿۳۳﴾ ځپل رب پورې نور شریکان پیدا کوی یعنی په ځای
د شکر کبن دا سے کفر کوی لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ ط دپاره ددې چه و ته مني او کفران وکړه دوئ په هغه
نعمتونو چه ورکړیدی مونږ ه دوئ ته فَتَمَتَّعُوا ۚ پس عیش وکړی اے کفارو خووړځے په نعمتونو د دے
فانی دنیا۔ او دا امر د تهدید دے فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿۳۴﴾ پس زر دے چه معلوم به کړئ تا سے عاقبت د کردار ځپل
چه عاقبت عذاب ابدی دے او دا کفار د آپے ولے کوی. أَمْ أَنزَلْنَا آیا لیږلے دے مونږه عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا په
دوئ کوم کتاب یا حجت فَهُوَ يَتَكَلَّمُ پس هغه غږیږی یعنی دلالت کوی بِمَا كَانُوا بِهِ په هغه خیز چه
دی دوئ بِهِ يُشْرِكُونَ ﴿۳۵﴾ چه په سبب د هغه شریک نیسی له خدائ سره وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ او په
هغه وخت وڅکوو مونږه د مشرکانو ته رَحْمَةً کوم قسم مهربانی ځپل لکه صحت او فراخی او امثال
د دوئ فَرِحُوا بِهَا ط نو خوشحاله شی دوئ په هغه رحمت وَإِن تُصِبْهُمْ او که چرے ورسیږی دوئ ته
سَيِّئَةٌ ؏ کوم قسم زحمت لکه تنګی د رزق او مرض او امثال د دوئ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ په سبب د هغه خیز
چه مخو الیږلے دے لاسونو د دوئ یعنی په شناعت د هغه کار چه کړے دے دوئ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴿۳۶﴾ ناګاه
دوئ بیا نا امیده شی او فریاد کوی یعنی نه شکر کوی په نعمت کبن او نه صبر کوی په زحمت کبن أَوَلَمْ
يَرَوْا آیا نهٔ وینی دوئ أَنَّ اللَّهَ دا چه بیشکه خدائ يَبْسُطُ الرِّزْقَ فراخوی روزی لِمَن يَشَاءُ هر هغه
چا ته چه اراده ئے وشی وَيَقْدِرُ ط او تنګوی په هر هغه چا چه اراده ئے وشی إِنَّ فِي ذَٰلِكَ بیشکه په دے بسط
او قبض کبن لَآيَاتٍ هر آئینه لوئ نښے دی د عبرت لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿۳۷﴾ د پاره د هغه قوم چه ایمان راوړی
او غاړه ږدی حکم الهی ته هم په بسط او هم په قبض کبن فَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ پس ورکړه اے
مومنه خښتن د قرابت لره حَقَّهُ حق د دهٔ له براوله صله رحمی ځنه او په نزد د امام اعظم رح دا نفقه د
محارمو واجب ده په هم دغه آیت سره وَالْمِسْكِينَ او بل ورکړه نادار ه محتاج لره هم وَابْنَ السَّبِيلِ ط او
هم دا سے مسافر لره هم برخه د دوئ له هغے صدقے چه مقرر شوے ده دوی لره ذَٰلِكَ خَيْرٌ دغه ورکول
د دے حقونو غوره دی له اساکه لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ هغه کسانو لره چه غواړی دوئ وَجْهَ اللَّهِ ز ذات

عه یعنی لفظ د تمتعوا چه صیغه د امر ده ۱۲

یا قرب یا رضا یا ثواب د خدائ په دئ عمل سره وَ اُولٰٓئِكَ او دا ټولے د مُنفقانو چه دے هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (۳۸) هم دوئ بریالی او خلاص دی وَ مَآ اٰتَیْتُمْ او هر هغه څیز چه تاسے ئے ورکوئ مِنْ رِّبًا له تحفے یا له هبے او د هغه څیز مسمٰی شۀ په اسم د ربٰوا سره چه هغه زیات دے په معامله کښې ځکه چه دے وسیله دے ربٰواته لِّیَرْبُوَا د پاره د دے چه زیات شی او کثه وکړی دا ورکړه د مبلغ ستاسے فِیْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ په مالونو د خلقو کښې یعنی چه بیا زیات له هغه بیرته راشی لکه چه عادت د خلقو برے جاری دے فَلَا یَرْبُوْا پس زیادت نکوی دا مبلغ عِنْدَ اللّٰهِ په نزد د خدائ ځکه چه دا ورکړه د خدائ په جهت نۀ وه بلکه د پاره د دے وه چه زیات بیرته راشی وَمَآ اٰتَیْتُمْ او هر هغه څیز چه ورکوئ تاسے مِنْ زَكٰوةٍ له زکٰوة مفروضه یا له صدقے او په هغه ورکولو سره تُرِیْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ اراده لرئ یعنی غواړئ تاسے په هغه سره ثواب او رضا د خدای نۀ عوض او نه ریا او نه آوازه د ورکړو فَاُولٰٓئِكَ پس دغه کسان چه ورکول کوی محض د پاره د خدائ نه د پاره د مکافات هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ (۳۹) هم دوئ زیاتونکی دی د حسناتو خپلو او د ثواب یو په لس یو په سل یو په اوه سوه په قدر د نیت او د اخلاص خپل سره او په دے کښې التفات دے له خطاب غیبت ته د پاره د تعمیم[عه]

اَللّٰهُ الَّذِیْ خدائ هغه قادر دے خَلَقَكُمْ چه اول پیدا کړی دۀ تاسے یعنی له نیستی محض ئے هستئ ته راوویستئ ثُمَّ رَزَقَكُمْ بیا روزی ئے درکړه رنګا رنګ هم له حظوظو هم له لذو تر آخره د حیٰوة پورے ثُمَّ یُمِیْتُكُمْ بیا به مره که دے تاسے په وخت د انتها د اجل ستاسے ثُمَّ یُحْیِیْكُمْ بیا به ژوندی کا دے تاسے پس له مرګه په قیامت نو خدائ خو په دغه ټولو واړو کارونو قادر دے چه در دے ترے تاسے لید لی دی او ځلورم هم ترے قیاس دے هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ آیا شته له دغه شریکانو ستاسے یعنی له دے بتانو چه تاسے ئے شریکان د خدائ بولئ مَّنْ یَّفْعَلُ هغه څوک چه کولے شی د مِنْ ذٰلِكُمْ له دغه ځلورو واړو کارونو چه خلق او رزق او امات او احیاء دی مِّنْ شَیْءٍ کوم یو څیز چه په هغۀ سره دے لایق د عبادت شی یعنی نشته او هر کله چه دا یو کار هم ترے نۀ شی کیدلے نو دوئ لائق د شریک نیولو نۀ دی سُبْحٰنَهٗ وَ تَعٰلٰی پاک دے خدائ او بلند شان دے عَمَّا یُشْرِكُوْنَ (۴۰) له دے[ع] چه شریک پیدا کوی دوئ له دۀ سره په خدایئ کښې ظَهَرَ الْفَسَادُ ظاهر شۀ یعنی آثار د خرابئ فِی

عه یعنی حاضر مخاطب او غایب ته ۱۲

الْبَرِّ په وچه کښې په قحط او په خشک سالئ او په مُلخو او په ډېرو بادونو او په ډېرو بارانونو او په انواعِ د امراضو او په وبا او په تاکو[عه] او په هامی او په توخکی او د اسې نور هم وَالْبَحْرِ او په سیند کښې هم کله په کموالی د او بو سره چه فصل له ډېرې تندے وسوزی او کله په ډېر والی ئې چه موج ووهی او په ابادو راو خېژی نوکلی او بنارونه ټول یوسی او کرلی فصلونه له زمکو سره لاهو که او په غرقولو د بېړو او د جالو او په هلاکولو د چار پایانو او دغه ټوله خرابی چه ده بِمَا كَسَبَتْ په شامت دهغه گناه او شرك ده چه کړی دی اَيْدِي النَّاسِ لاسونو د ادمیانو او د اثار د خرابئ ئې ظاهر کړه لِيُذِيقَهُمْ د پاره د دچه وڅکوی د دوئ ته بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوْا بعض جزا د هغه عملونو چه کړی دی دوئ او بعض ئې ځکه وویل چه ټول به ئې بیا په اخرت کښې مومی او غرض له دے څکولو د ادے چه لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۱﴾ بناٸی چه دوئ واوړی له دغه بد و په دے شان چه په تیرو پښیمان شی او نور پسے بس کا یعنے د اشرك په توحید بدل کا او معصیت په طاعت قُلْ سِيْرُوْا ووایه دغه مشرکانوته چه وګرځئ فِي الْاَرْضِ په زمکه د تیرو امموکښې فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ پس وګورئ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ اخره خاتمه د هغه کسانو مِنْ قَبْلُ ط چه پخوا دوئ وولکه عاد او ثمود او مؤتفکات او د اسے نور ډېر كَانَ اَكْثَرُهُمْ وو زیات د دوئ یعنے هغه چه هلاك شوی دی تر ے مُشْرِكِيْنَ ﴿۴۲﴾ شریك پیدا کونکی فَاَقِمْ وَجْهَكَ پس برابر او سم که مخ خپل یعنی وجود خپل لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ دین سم معتدل ته چه دین د اسلام دے مِنْ قَبْلِ اَنْ پخوا له هغه يَّاْتِيَ يَوْمٌ چه راځی هغه ورځ لَا مَرَدَّ لَهٗ چه نشته له سره بیرته ګرځیدل هغه لره مِنَ اللّٰهِ له جانبه د خدائ یعنی بیرته هیڅوك نشی ګرځولے ورځ د قیامت ځکه چه راتلمے ئې مقرر دی له جانبه د خدائ يَوْمَئِذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿۴۳﴾ په دغه ورځ به سره تار په تار شی دوئ یعنی دوه فرقے به شی بیل بیل جدا فريق فی الجنة وفريق في السعير. لکه چه وائی مَنْ كَفَرَ هرڅوك چه کافرشهٔ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ج پس هم په دهٔ ده جزا د کفر د دهٔ چه نار ابدی دے. وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا او هرڅوك چه وکاندی نیك عمل دوی فَلِاَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُوْنَ ﴿۴۴﴾ پس خاص د پاره د ځانونو خپلو فراشونه غوړوی او ځایونه تیاروی په جنت کښې او دا دوه فرقے کول د خلقو چه دی لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا د پاره د دے چه جزا ورکړی خدائ هغه

عه څونډ په وطن کښې دغوا بیز و دا مرضونه دی ټو پکے. اے توخکے هر کله چه دا مرضونه راشی نو په زرګونو تباه شی ۱۲

کسانو له چه ایمان ئې راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دنیکو مِنْ فَضْلِهٖ له فضله خپله
تخه او دکفارو جزا ئې یاده نهٔ کړه ځکه چه مقصود بالذات مؤمنان دی بلکه دا قدرئې دویل چه اِنَّهٗ
لَا یُحِبُّ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۴۵﴾ بیشکه چه دے نهٔ خوښوی کافران ځکه دوزخ ته ئې لیږی وَمِنْ اٰیٰتِهٖٓ او بعض له نښو د
قدرت کامله دده اَنْ یُّرْسِلَ الرِّیَاحَ دا دے چه رالیږی دے دا درے قسمه بادونه چه صبا او شمال او
جنوب دے مُبَشِّرٰتٍ زیرے ورکونکی د باران او دا درے واړه ځکه خاص شو چه دا بادونه درحمت دی او
هر چه دَبُور دے هغه باد دعذاب دے ځکه حدیث دے چه اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رِیَاحًا وَلَا تَجْعَلْهَا رِیْحًا اورب
العزت په دے بادونو ښځه فائدے او نعمتونه بیان کړی دی یو هغه تیر چه دا دپاره د زیری رالیږلی
شوی دی وَلِیُذِیْقَكُمْ اوبل دپاره ددے چه وڅکوی دے په تاسے په سبب ددے بادونو مِّنْ رَّحْمَتِهٖ
بعض له رحمته خپله او مراد له بعضِ هغه نعمتونه دی چه منشا ئې دغه بادونه دی لکه نزول
د باران او حصول دارزانئ او بناسُت والے دشینوالی د زمکے او وصاف والے د هوا او فرحت د
زړهٔ په دفع دمکاره هو سره وَلِتَجْرِیَ الْفُلْكُ اوبل دپاره ددے چه روان شی په دے بادونو سره
جهازونه په دریاب کښ بِاَمْرِهٖ په فرمان دده او په تدبیر دده سره وَلِتَبْتَغُوْا اوبل دپاره ددے وچه ولټوئی
تاسے په چلولو دے جهازونو سره په دریاب کښ دپاره دسود اکرئی مِنْ فَضْلِهٖ بعض له فضله دده چه هغه
سود دے په دغه تجارت کښ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾ اوبل دپاره ددے چه شکر وباسئی تاسے په دغه
نعمتونو اے مکیانو چه له شرکه واوړئی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اوهر اٰئینه په تحقیق لیږلی وو موږه مِنْ
قَبْلِكَ مخوا له تا اے رسوله رُسُلًا اِلٰی قَوْمِهِمْ رسولان قوم خپل ته فَجَآءُوْهُمْ پس راپه غلهٔ دوئی قوم
خپل له بِالْبَیِّنٰتِ په ښکاره معجزو یا احکامو له حلالو او له حرامونه بعضو له قومه دده ایمان یوړے
راوړه او بعضو کفر اختیار کړهٔ فَانْتَقَمْنَا پس انتقام واخست موږه مِنَ الَّذِیْنَ اَجْرَمُوْا له هغه کسانو
چه کافر شو او تکذیب ئې وکړهٔ د رسولانو او هلاک کړهٔ موږه دا کافران او مدد کاری وکړه موږه د مؤمنانو وَ
کَانَ حَقًّا عَلَیْنَا او وه لائیقه او حق په موږه نَصْرُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۴۷﴾ مدد کاری د مؤمنانو ځکه چه دوئی
لائق د مدد کاری دی اَللّٰهُ الَّذِیْ خدائی هغه قادر مطلق دے یُرْسِلُ الرِّیٰحَ چه رالیږی بادونه

عه یعنی اے خدایه وګرځوے دا بادونه دبور په مثل د صبا او د شمال او جنوب او مه ئې ګرځوه باد دبور ۱۲

فَتُثِيْرُ سَحَابًا پس راپورته کوی دا بادونه وریځې په هوا کښې فَيَبْسُطُهٗ فِى السَّمَآءِ پس وغوړوی ئې دا وریځې
پاس په طرف دآسمان کښې او سره ئې متصل که كَيْفَ يَشَآءُ هر رنګه چه اراده ئې وشي وَيَجْعَلُهٗ كِسَفًا
او بیائې وګرځوی قطعې بیلې بیلې یعنې کله ئې سره ټوله که او کله ئې ټوټې ټوټې که فَتَرَى الْوَدْقَ پس
وبینې به ته باران يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ج چه راوځي دا باران له مینځه دده وریځې فَاِذَآ اَصَابَ بِهٖ پس هغه
وخت چه ورسوی خدای دا باران مَنْ يَّشَآءُ هغه چاته چه اراده وشي دده مِنْ عِبَادِهٖٓ له بندیګانو
خپلو اِذَا هُمْ ناڅاپه چه دوئ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ ج زیرے کوی او خوشحالیږی وَاِنْ كَانُوْا او بیشکه چه
وو دوئ مِنْ قَبْلِ اَنْ پخوا له دے چه يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ رالیږلے کاوه شي دا باران په دوئ مِّنْ قَبْلِهٖ پخوا
له ظهوره دده باران ـ دا تاکید دے لَمُبْلِسِيْنَ ﴿۴۹﴾ هرائینه نا امید له نزول ئې فَانْظُرْ پس وګوره
اِلٰٓى اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ نښو د مهربانئ دخدائ ته كَيْفَ يُحْيِ الْاَرْضَ چه څرنګه ژوندی کوی دے دغه زمکه
په دے باران سره په اقسام دنباتاتو او په انواعو داشجارو او په اصناف دثمارو بَعْدَ مَوْتِهَا ط پس له
مړوالی او له وچوالی دده اِنَّ ذٰلِكَ بیشکه هغه قادر بیچون چه مړه زمکه ژوندئ کوله شي لَمُحْيِ
الْمَوْتٰى ج هرائینه ژوندے کونکے دے ددغه مړیو څکه چه دا هم دهغه پشان دی لا ترے آسان
دی وَهُوَ او بل دا چه دے عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ په هر څیز له مقدوراتو قادر دے او دا هم
یو له مقدوراتو دے وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا رِيْحًا او قسم دے چه که ولیږو مونږه باد یعنی د بوړ فَرَاَوْهُ
مُصْفَرًّا پس ووینی دوئ دا کښت زیړ پس له شینوالی قریب وچیدلو ته لَّظَلُّوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ نو هر
اٰئینه و به ګرځی دوئ پس له دغه اصفراره یا له استبشاره يَكْفُرُوْنَ ﴿۵۱﴾ کفران به وکه او منکران
به شی په تیرو نعمتو نو هم. او ته هم له دوئ طمع مه کوه اے رسوله د فهم او دقبول دنصیحت خپل
څکه چه فَاِنَّكَ پس بیشکه ته چه ئې لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى نه شے اوروله ته قول خپل مړیو ته او کفار
هم حکم د مړیو لری څکه چه زړونه ئې مړهٔ دی وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ او بل دا چه نهٔ شے اوروله
ته کنړو ته آواز دبللو خپلو اِذَا وَلَّوْا په هغه وخت چه وګرځوی دوئ مخ مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۲﴾ په دے حال چه
شاکونکی وی تا ته وَمَآ اَنْتَ او نهٔ ئې ته بِهٰدِ الْعُمْيِ سمه لار ښوونکے کوړ دلانو ته[عه] چه د زړه سترګے ئې ړندے
دی عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ط راګرځونکی له ګمراهئ ددوئ یعنی ته په دے قادر نهٔ ئې چه توفیق د ایمان ورکړے

عه یعنی درانده زړه خاوندانو ته ۱۲

دوئ لره اِنۡ تُسۡمِعُ نهٔ اوروے تهٔ وعظ او نصیحت خپل په اورولو د فهم او د قبول سره اِلَّا مَنۡ مگر هغه
چاته یُّؤۡمِنُ بِاٰیٰتِنَا چه ایمان راوړی اوباور کوی په ایتونو څمونږه یعنی په قرآن فَهُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴿۵۳﴾ پس
دوئ گردن نهاده دی تولو اوامرو او نواهیو ته اَللّٰهُ الَّذِیۡ ـــ هغه قادر مطلق معبود برحق دے چه
خَلَقَكُمۡ مِّنۡ ضُعۡفٍ پیدا کړی یئ دهٔ تاسے له ضعفه یعنی له ضعیف څیز چه نطفه ده ثُمَّ جَعَلَ بیا
درئے کهٔ تاسے لره مِنۡۢ بَعۡدِ ضُعۡفٍ پس له بل ضعفه چه هغه ضعف د طفولیت دے قُوَّةً قوت یعنی توانائی
د ځوانئ ثُمَّ جَعَلَ بیا ئے درکړه تاسے لره مِنۡۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ پس له قوته د ځوانئ ضُعۡفًا وَّشَیۡبَةً ط ضعیفی
او زوړوالے یَخۡلُقُ مَا یَشَآءُ ج پیدا کوی دے هر هغه څیز چه اراده ئے وشی له ضعفه له قوته له
ځوانئ له زوړوالی وَهُوَ الۡعَلِیۡمُ او دے پوهه دے په احوال د بندګانو الۡقَدِیۡرُ ﴿۵۴﴾ قادر دے په چورلولو د صفاتو
د دوئ وَیَوۡمَ تَقُوۡمُ السَّاعَةُ او په هغه ورځ چه برپائی شه قیامت یُقۡسِمُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۵ سوګند به خوری
کافران په دے چه مَا لَبِثُوۡا نهٔ دے کړے مدار دوئ په دنیا یا په قبورو کښ غَیۡرَ سَاعَةٍ ط غیر له یو ساعت
او دا به وائی یا له جهته د ډیر هوله د قیامت او د ډیرو وددرید و د هغه په سختیو کښ او یا به ئے هیروی او یا
به دروغ وائی چه کَذٰلِكَ په مثل د دغه چپولو له صدق چه اخرت کښ دے کَانُوۡا یُؤۡفَكُوۡنَ ﴿۵۵﴾ وو دوئ
په دنیا کښ هم چپ کړے شوی له صدقه کذب ته ځکه ویل به ئے چه اِنۡ هِیَ الاحیاتنا الدنیا ومانحن عه
بمبعوثین ـ وَقَالَ الَّذِیۡنَ او وبه وائی دوئ هغه کسان اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ چه ورکړے شوے وو دوئ له علم
وَالۡاِیۡمَانَ او ایمان چه ملائك او انبیاء او مؤمنان دی چه تاسے دروغ وائی بلکه لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ هر
آئینه په تحقیق مدار کړے دے تاسے په دنیا کښ ډیره موده او بیا هغه مدار ستاسے معلوم او مسطور دے
فِیۡ كِتٰبِ اللّٰهِ په کتاب د خدائ کښ چه لوح محفوظ یا قرآن دے یا حکم د قضاالٰهی دے چه تاسے به
په دنیا کښ او بیا به قبورو کښ اوسئ اِلٰی یَوۡمِ الۡبَعۡثِ ز تر ورځے د بعث یعنی قیامت پورے فَهٰذَا یَوۡمُ
الۡبَعۡثِ پس دغه ده ورځ د بعث چه تاسے به ترے انکار کولو وَلٰكِنَّكُمۡ كُنۡتُمۡ او لیکن وئ تاسے په
دنیا کښ داسے چه له ډیره جهله او غفلته لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۵۶﴾ نهٔ پوهیږی په دے چه بعث حق دے او
تو به ورلره پکار ده فَیَوۡمَئِذٍ پس په دغه ورځ کښ لَّا یَنۡفَعُ الَّذِیۡنَ نفع نه رسوی هغه کسانو ته ظَلَمُوۡا

عه یعنی نشته قیامت مگر ژوند زمونږه په دنیا کښ او نه یو مونږه پورته کیدونکی له قبرونو ۱۲

ع ۵
۸

قوله ضعف بضم الضاد و فتحها فی الثلاثة لکن الضم مختار ۱۲ه

چه ظلم ئے کړے دے پخپل ځان په کفر سره مَعۡذِرَتُهُمۡ عذر خواهي د دوئ وَلَا هُمۡ اونه به وی دوئ دا سے
چه يُسۡتَعۡتَبُوۡنَ ﴿۵۷﴾ وباله شی راضی کولو دخدائ ته ځکه چه خدائ له دوئ هیچرے نه راضی کیږی
وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ اوهرائینه په تحقیق بیان کړی دی موږ ه خلقوته فِیۡ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ په دے قرآن کښ
مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ ط له هرقسمه مَثَله چه بکاریږی د دوئ په اثبات د توحید او د بعث او د صدق د رسول
صلے الله علیه وسلم کښ وَلَئِنۡ جِئۡتَهُمۡ بِاٰيَةٍ او قسم دے چه که راوړے ته اے رسوله دوئ له کوم آیت
له ایتونو د قرآن یا کومه معجزه لکه عصا او ید بیضا د موسیٰ علیه السلام لَيَقُوۡلَنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا نو هر
ائینه وبه وائی خامخا هغه کسان چه کافر شوی دی له ډیره عناده اِنۡ اَنۡتُمۡ چه نهٔ یئ تاسے یعنی رسول
علیه السلام او مومنان اِلَّا مُبۡطِلُوۡنَ ﴿۵۸﴾ مگر دروغژن او باطل چلونکی كَذٰلِكَ همدا سے لکه چه
مهرایخے دے خدائ په زړونو د دوئ يَطۡبَعُ اللّٰهُ مهر کړی خدائ عَلٰى قُلُوۡبِ الَّذِيۡنَ په زړونو د
هغه کسانو لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۵۹﴾ چه نهٔ پوهیږی او نه طلب د پوهے کوی فَاصۡبِرۡ پس کوه اے رسوله په ایذا او
په عداوت د دوئ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه وعده دخدائ حقه ده په مدد کارئ ستا او په پوره کولو
د دین د اسلام په ټولو ادیانو چه داوعده به ترسره کیږی خامخا وَّلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ الَّذِيۡنَ او نهٔ دِ باعث کوی
په خفت او په جلت عو بنتلو دعذاب خامخا تا یا په جزع فزع او په بے صبرئ دِ نهٔ راولی په نالا تقو
اقوالو هغه کسان لَا يُوۡقِنُوۡنَ ﴿۶۰﴾ چه یقین نهٔ راوړی او نه قایل کیږی په بعث په حشر په نشر

سورۃ لقمٰن (۳۱) مکیة (۵۷) بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ اٰیاتها ۳۴ رکوعها ۴

الٓمّٓ ﴿۱﴾ د دے بیان تیر شوے دے تِلۡكَ دا چه لوستے کیږی په دے مخکښ سورة کښ اٰيٰتُ
الۡكِتٰبِ الۡحَكِيۡمِ ﴿۲﴾ ایتونه د هغه کتاب چه پرحکمت دے یا حکم کونکے دے په حلالو او په حرامو
چه قرآن دے هُدًى وَّرَحۡمَةً چه د هدایت او د رحمت سبب دے لِّلۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۳﴾ الَّذِيۡنَ
دپاره د هغه نیکو کارونو يُقِيۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ چه همیشه برپائی لری دوئ فرض مونځ خپل
وَيُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ او ورکوی دوئ واجب زکوٰة خپل وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ او دوئ په راتلو د
قیامت هُمۡ يُوۡقِنُوۡنَ ﴿۴﴾ هم دوئ یقین کوی اُولٰٓئِكَ دا کسان چه موصوف دی په د ے

صفاتو عَلٰی هُدًی په سمے لارے دی مِّنْ رَّبِّهِمْ له جانبه له ربه خپله وَاُولٰٓئِكَ او دا کسان چه دی هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ⑤ هم دوئ خلاص او بریالی دی روایت دے چه نضر بن حارث چه په سوداګرئ
تللے وو فارس ته او هلته ئے قصے د رستم او اسفندیار وپیرودے بیا چه مکے له راغے نو د قریشو په ډله
کښ به کیناست او دا قصے به ئے ورته کولے او ویل به ئے چه محمد صلی الله علیه وسلم قصے د عاد او ثمود
او احوال د بادشاهئ د داود او سلیمان علیهما الصلوٰة والسلام درته کوی او زه قصے د بادشاهانو د عجمو درته
کوم نو نازل شهٔ وَمِنَ النَّاسِ او بعض له خلقو مَنْ يَّشْتَرِيْ هغه څوک دی چه پیری لَهْوَ الْحَدِيْثِ عبثے
خبرے یعنی هسے خبرے چه اړونکی وی له حق د قصے د رستم او د اسفندیار لِيُضِلَّ د پاره د دے چه
ولغزوی خلق عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لارے د خدائ چه دین د اسلام یا استماع د قراءت د قرآن دے بِغَيْرِ
عِلْمٍ ۖ بے پوهے په عاقبت د کردار خپل او بے دلیله وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا او چه اونیسی دے دا لاره یا ایتونه
د قرآن مسخره بازی اُولٰٓئِكَ دا کسان چه موصوف دی په دے صفاتو لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ⑥ مقرر دے
دوئ لره عذاب سپکوونکے وَاِذَا تُتْلٰى او په هغه وخت چه ولوستے شی عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا په دهٔ ایتونه څمونږه
یعنی قرآن وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا نو وګرځوی ترے مخ په دے حال چه متکبر او ګردن کش وی یعنی هیڅ التفات ورته
نهٔ کوی كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا داسے چه ګویا که له سره نهٔ دی اوریدلی ده دا ایتونه كَاَنَّ فِيْٓ اُذُنَيْهِ ګویا که په
دواړو غوږونو د دهٔ وَقْرًا ۚ داسے ثقل دے چه قدرت ئے په اوریدو نشته فَبَشِّرْهُ پس زیرے یعنی
اګاهی وکړه ته په دهٔ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ⑦ په عذاب دردناک سره اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه
ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دوئ د نیکو لَهُمْ جَنّٰتُ النَّعِيْمِ ⑧ مقرر دی
دوئ لره جنتونه ډک له نعمتونو د پاره د استوږنے خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ په دے حال چه همیشه به وی
دوئ په دے باغونو او نعمتونو کښ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ۭ دا وعده کړے ده په وعده کولو سره خدائ
په رښتیا چه هیڅ شک پکښ نشته وَهُوَ الْعَزِيْزُ او دے غالب دے نو هیڅوک ئے مانع کیدے نهٔ شی له
وفا الْحَكِيْمُ ⑨ باحکمت دے خَلَقَ السَّمٰوٰتِ پیدا کړی دی دهٔ اسمانونه بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا بے ستنے چه
وینئ تاسے یئے وَاَلْقٰى فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ او غورځولی یعنی پیدا کړی دی دهٔ په زمکه کښ میخونه یعنی
غرونه هسک لوئ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ د پاره د دے چه نهٔ خوزوی دا زمکه تاسے او دلته لا پکښ مقدر دے

یعنی ان لا نمید بکم وَبَثَّ فِيهَا او وشیندل دۀ په دے زمکه کښې مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ط له هر قسم د خوزیدونکی
زنده سره وَ اَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ اور ابنکته کړی دی مونږ ه له طرفه د آسمانه مَآءً فَاَنْبَتْنَا فِيهَا او به زرغون
کړیدی مونږه په دے زمکه کښې مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ⑩ له هر قسم د گیاه بنۀ د ډک له منفعته هٰذَا خَلْقُ اللهِ
دا ټول چه بیرته ذکر شو پید ا ئښت دے د خدائ که آسمانونه که زمکه که غرونه که حیوانات که نباتات که نور
اشیاء دی فَاَرُوْنِيْ مَاذَا پس وښایئ اے مشرکانو تاسے ما ته چه هغه کوم څیز دے په عالم کښې خَلَقَ الَّذِيْنَ
چه پید ا کړی دی هغه بتانو چه مِنْ دُوْنِهٖ ط غیر دی له دۀ یعنی دا سے څیز نشته نو دوئ لائق د خدائ نۀ
دی بَلِ الظّٰلِمُوْنَ بلکه دا ظالمان چه دی یعنی مشرکان فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ⑪ ع په ښکاره گمراهئ کښې دی
دا سے عاجز او مخلوق ئې له توانا خالق سره په خدائ کښې شریکوئ **روایت دے** چه هر کله قصے
د لقمان حکیم او وصیتونه د دۀ په یهودو کښې ډیر مشهور وو او عرب په هره حادثه کښې د یهودو له
به راتلۀ او پوښتنے به ئې ترے کولے او دوئ به حکمتونه د لقمان ورته بیانول ځکه رب العزت اراده
وکړه د بیان د احوالو د دۀ نو نازل شۀ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا او هرائینه په تحقیق ورکړے وو مونږه لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ
لقمان له حکمت چه عبارت دے له استکماله د نفس انسانی په اقتباس د علوم نظریه و سره او له پیدا
کولو د ملکے تامے په غوره افعالو په قدرت د طاقت خپل سره او دے ځوئ وو د باعور بن تارخ بن ازار او
خورئې یا ترور زے وو د ایوب علیه السلام او دے یا نجار یا شپون یا قاضی وو د بنی اسرائیلو او زیات ئې
عمر وو او زمانے د داود علیه السلام ته رارسیدلے وو او له دۀ نه ئې اخذ د علم هم ډیر کړے
وو او په نبوت کښې ئې اختلاف دے اما په حکمت کښې بے نظیره وو چا ویلی دی چه لس زره
کلمات د حکمت له دۀ نه منقول دی چه هره کلمه ئې په لکهونو ارزیږی. القصه او س رب
العزت وائی چه مونږه لقمان له حکمت ورکړے دے او ورته ویلی وو مونږه اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ط دا سے چه شکر کوه
خدائ له په نعمت د حکمت وَمَنْ يَّشْكُرْ او هر څوک چه شکر کوی فَاِنَّمَا يَشْكُرُ پس بیشکه هم دا خبره ده
چه شکر کوی دے لِنَفْسِهٖ ج د پاره د ځان خپل ځکه چه نفع ئې هم دۀ ته راجع ده چه هغه دوام د نعمت او استحقاق
د زیات دے وَمَنْ كَفَرَ او هر څوک چه بے قدری وکا د نعمت فَاِنَّ اللهَ پس بیشکه چه خدائ غَنِيٌّ
حَمِيْدٌ ⑫ بے پرواه دے له شکره د خلقو لائق دے د ثنا اگر که څوک ثنا د دۀ نۀ وائی هم وَاِذْ قَالَ او یاد که

هغه چه و ویل لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ لقمان خوی خپل ته چه نوم ئے انعم یا اشکر یا ماثان یاساران وو. وَهُوَ يَعِظُهٗ اوحال دا چه ده پند ورکولو خوی لره نو د اسے ئے ورته وویل چه يٰبُنَيَّ اے بچو رِیه حُما اودتصغیر دپاره دشفقت دے لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ط مهٔ شریکوه له خدائی سره په اُلوهیت او په عبادت کښ بل هیڅوک اِنَّ الشِّرْكَ بیشکه شرک چه دے لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۳﴾ هرُ ائینه ظلم دے دیرلوئی ځکه چه برابرول دمخلوق دی له خالق سره وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ او وصیت کړے دے مونږه ادمی ته او امر کړے دے مونږه په ده چه بِوَالِدَيْهِ ج له مور او پلاره خپل سره دِ احسان او وفاداری کوی ځکه چه حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ گرځاوهٔ به دے مور خپلے په نس کښ لس میاشتے او ورځ په ورځ به ضعیفه کیدله او ستړیده به وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ ضعف دپاسه دبل ضعف ځکه چه یو ضعف دحمل بل ددرد دوضع بل دلنگانهٔ وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ او پریکول ددهٔ چه دی له تی څخه په پوره کیدلو د دوه کالو کښ دی او ورته ویلی دی مونږه اَنِ اشْكُرْ لِيْ دا دے چه شکر کوه ماله ځکه چه موجد حقیقی ستا یم وَلِوَالِدَيْكَ ط او بیا شکر کوه مور و پلار خپل لره ځکه چه دوئی موجد مجازی ستا دی اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿۱۴﴾ خاص ماته بیا راتلهٔ ستا دی نو د شکر او د بے شکرئی به هلته درکرم وَاِنْ جَاهَدٰكَ اوکهٔ کوشش وکه دا مور او پلار په تا عَلٰٓى اَنْ تُشْرِكَ بِيْ په دے چه شریک و نیسے ته لما سره مَا لَيْسَ لَكَ هغه څیز چه نهٔ وی تا لره بِهٖ عِلْمٌ لا په استحقاق دشرکت دهغه څیز پوهه فَلَا تُطِعْهُمَا پس مهٔ کوئی فرمانبرداری دے دواړو په هغه کښ وَصَاحِبْهُمَا او ملگرتیا کوه دے دواړو سره فِي الدُّنْيَا په دے دنیا کښ مَعْرُوْفًا ز ښه ملگرتیا یعنی هغه قسم مصاحبت چه په هغه کښ رضاوی دشرع او مقتضاوی د کرم وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ او پیروی کوه په دین کښ دلارے دهغه چا اَنَابَ اِلَيَّ ج چه بیرته راگرځیدلی دی ماته په توحید او په اخلاص په طاعت سره ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ بیا ماته راتله ستاسے ددرے واړو دی فَاُنَبِّئُكُمْ پس اگاه به کړم تاسے بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ په هغه عملونو چه وئی تاسے چه کول به مو کهٔ خیر دے او کهٔ شر دے او دا دوه ایتونه په مینځ د قصے دلقمان کښ په طریقه د جملے معترضے راغلی دی دپاره د تاکید دهغه نهی چه لقمان کړے وه خپل خوئی ته له شرکه. نو گویا که رب العزت وویل چه مونږه هم وصیت کړے دے انسان ته په مثل د وصیت دلقمان او ذکر د والدینو دپاره د مبالغے دے په تعظیم د دوئی کښ سره له نهی د متابعت په شرک کښ اگر که ډیر کوشش وکه هم او نزول د دے دوه

وقف النبی صلی اللہ علیہ وسلم

ایتونو پہ حق د سعد بن ابی وقاص او دمورد ده کښې دے لکه چه په سورة عنکبوت کښې تیر شوی دی او س
بیا وصیت د لقمان بیانوی چه ده وویل خپل خوئی ته دا سے چه یٰبُنَیَّ اِنَّهَآ اے بچوریه خما بیشکه هر خصلت
چه دے دا دمی کهٔ د خیر وی کهٔ د شر اِنْ تَكُ کهٔ چرے وی دغه خصلت مثلاً په کلی والی کښې مِثْقَالَ حَبَّةٍ
په قدر ددانے مِّنْ خَرْدَلٍ له اوری تخمه پس وی دا حبه کهٔ د خیر وی کهٔ د شر فِيْ صَخْرَةٍ په هغه شنه تیږه
کښې چه تراوهٔ واړه زمکو تخمه لاندے ده اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ یا وی په اسمانونو کښې اَوْ فِي الْاَرْضِ یا وی په زمکه
کښې چه هیڅوك پرے خبر نهٔ وی يَأْتِ بِهَا اللّٰهُ ط نو هم رابه ئے وړی خدائ او حاضر به ئے کړی ځائ
د حساب او د جزا ته ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ لَطِيْفٌ باریك بین دے چه علم ئے په هر څیز محیط دے
خَبِيْرٌ ﴿۱۶﴾ خبردار دے په مکان د هر څیز یٰبُنَیَّ اے بچوریه خما اَقِمِ الصَّلٰوةَ برپائ لره مونځ خپل د
پاره د دے چه نفس دِ کمال ته ورسیږی وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ او امر کوه خلقو ته په نیکو وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ
او منع کوی دوئ له بده کاره چه نور خلق د رباندے کمال ته ورسیږی وَاصْبِرْ عَلٰى مَآ او صبر کوه په هغه
سختئ اَصَابَكَ ط چه ورسیږی تا ته له جانبه د خدائ یا له خلقو خُصُوْصًا په دے امر او نهی کښې اِنَّ
ذٰلِكَ بیشکه دا چه درته وویلے شو مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾ له هغه واجباتو د امورو دے چه قطع کړیده
خدائ په کولو د هغو یه تولو امو سا بقو کښې وَلَا تُصَعِّرْ او مه چپوه ته خَدَّكَ لِلنَّاسِ مخ خپل له خلقو
له ډیره کبره لکه چه عادت دے د متکبرانو بلکه مخ کوه دوئ ته په تواضع سره وَلَا تَمْشِ او مه ګرځه تګ فِي
الْاَرْضِ مَرَحًا ط په زمکه کښې په ډیره نخره او په خوشحالئ سره لکه جاهلان دنیاپرست اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
چه خدائ لَا يُحِبُّ نهٔ خوښوی كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۱۸﴾ هر نخریلے فخر کونکے په خلقو په اسباب او په دولت
وَاقْصِدْ فِيْ مَشْيِكَ او میانه روی اوسه په تګ خپل کښې یعنی پرېجلت مهٔ ځه چه د اغښنه د سپکوالی
ده او ډیر روهم مهٔ ځه چه نښنه د کبر ده بلکه قدم په وقار سره په تواضع سره ګده وَاغْضُضْ مِنْ
صَوْتِكَ ط او ښکته او نرم که اواز خپل یعنی دراز زبان او سخت ګو مهٔ اوسه دا سے چه نارے سورے وهی ځکه
چه اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ بیشکه ډیر نا کاره د ټولو اوازونو چه دے لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ ﴿۱۹﴾ هر اټینه اواز د خره
دے اَلَمْ تَرَوْا آیا نهٔ وینئ تا سے اے ادمیانو اَنَّ اللّٰهَ چه بیشکه خدائ سَخَّرَ لَكُمْ ایل کړی دی ستاسے د نفع د
پاره مَّا فِي السَّمٰوٰتِ هر هغه چه په اسمانونو کښې دی لکه نمر او سپوږمئ او ستوری چه د ورځے کسب او

معاش برے کوئ او د شپے برے لاره برابروی وَمَا فِی الْاَرْضِ او هرهغه چه په زمکه کښ دی لکه غرونه او
سیندونه او حیوانات او نباتات او معادن چه تاسے برے نفع اخلئ وَاَسْبَغَ عَلَیْکُمْ اوپوره کړی دی دهٔ په
تاسے نِعَمَهٗ نعمتونه خپل ظَاهِرَةً وَّ بَاطِنَةً ؕ هم ښکاره اوهم پټ فائده ښکاره هغه دی چه په مشاهده
معلومیږی لکه حسن صوری، صحت بدنی، ذکرلسانی، اقرارنطق، نهار، صلوٰة، سمع، بصر، لسان نور
جوارح ظاهره او پټ هغه دی چه نهٔ معلومیږی مگر په دلیل لکه حسن خلق، صحت باطنی، فکرقلبی،
تصدیق، عقل، لیل، صوم، بصیرة سمع قلبی. وَمِنَ النَّاسِ او بعضے له خلقو یعنی له مکیانو. مَنْ یُّجَادِلُ
هغه څوک دے چه جګړه کوی دے فِی اللّٰهِ په حق د خدائ کښ یعنی نضربن حارث چه قصه ئے په سورة
الحج کښ تیره شوے ده بِغَیْرِ عِلْمٍ بے له دا سے پوهے څخه چه وحدانیت پرے معلوم که وَّلَا هُدًی او بے له
رهنمائی له رسول صلی الله علیه وسلم وَّلَا کِتٰبٍ مُّنِیْرٍ ﴿۳۰﴾ او بے له کتاب واضحه چه له خدا ای ورلره
راغلے وی بلکه محض په تقلید د اباؤ سره لکه چه وائی وَاِذَا قِیْلَ او په هغه وخت چه وویلے شی لَهُمُ
اتَّبِعُوْا ادوئ ته چه پیروی وکړئ په صدق سره مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ دهغه قرآن چه رالیږلے دے خدائ او ایمان
پرے راوړئ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ نو وائی دوئ چه دهغه پیروی نهٔ کوو بلکه پیروی کوو مونږه مَا وَجَدْنَا دهغه څیز
چه موندلی وو مونږه عَلَیْهِ اٰبَآءَنَا ط په هغه پلرونو خپل چه بت پرستی ده نو رب العزت وائی چه دوئ د
پلرونو خپلو پیروی کوی اَوَلَوْ کَانَ الشَّیْطٰنُ ایا اګر که وی شیطان یَدْعُوْهُمْ داسے چه بولی دوئ یا پلرونه
د دوئ اِلٰی عَذَابِ السَّعِیْرِ ﴿۲۱﴾ عذاب د دوزخ ته یعنی نهٔ دی کوی وَمَنْ یُّسْلِمْ وَجْهَهٗۤ او هر څوک چه وسپاری
ځان خپل اِلَی اللّٰهِ خدائ ته یعنی توکل وکړی په دهٔ او تفویض د ټولو امورو خپلو دهٔ ته وکا وَهُوَ مُحْسِنٌ
او حال بیا دا چه دے نیکوکاره وی فَقَدِ اسْتَمْسَکَ پس په تحقیق منګلے ښخ کړیدی دهٔ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰی ط
په هغه پړی یعنی د ستاویز چه محکم دے او د شوکید وویره ئے نهٔ وی چه هغه اسلام یا قرآن یا کلمه دشهادت
یا متابعت د اهل سنت او جماعت دے وَاِلَی اللّٰهِ او خاص خدائ ته دے عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۲۲﴾ اخرکار د ټولو
امورو د خلقو نو جزا به ورکوی هرچالره په مناسبت د عمل سره وَمَنْ کَفَرَ او هر څوک چه کافر شهٔ او په
دے پړی ئے منګلے ښخ نهٔ کړے فَلَا یَحْزُنْکَ کُفْرُهٗ ط پس نهٔ د خفه کوی تا کفر د دهٔ ځکه چه اِلَیْنَا مَرْجِعُهُمْ
خاص مونږ ته دی بیا راتلهٔ د دوئ په قیامت فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا پس اګاه به کړو مونږه دوئ

په هغه عملونو چه کړی دی دوئ د لته خو جزا به ورکړو وله د دغه کفره اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ بيشکه چه خدائ
ښه خبردار دے بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۲۳﴾ په هر هغه څیز چه په سینو ستاسو کښ دی که خیر دے او که شر
دے نُمَتِّعُهُمۡ قَلِيۡلًا معاش به ورکوو مونږ ه دوئ لره لږ ه موده په نعمتونو او په خوشحالئ سره په دنیا
کښ ثُمَّ نَضۡطَرُّهُمۡ بیا به ئے راولو په ډیر ضرورۍ او په عاجزئ سره اِلٰى عَذَابٍ غَلِيۡظٍ ﴿۲۴﴾ سخت عذاب
لره چه عذاب د دوزخ دے وَلَئِنۡ سَاَلۡتَهُمۡ او قسم دے که و پوښتے ته د ا کفار چه مَّنۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
وَالۡاَرۡضَ چا پیدا کړی دی دا اسمانونه او زمکه لَيَقُوۡلُنَّ اللّٰهُ ؕ نو هر اٰئینه وبه وائی دوئ خامخا چه خدائ
بیا هر کله چه دوئ اقرار وکا په دے نو قُلِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ ؕ ووایه چه ثنا ده خدائ لره په دے چه اعتراف وکه
دوئ په هغه څیز چه موجب دے د بطلان د معتقد د دوئ بَلۡ اَكۡثَرُهُمۡ بلکه زیات د دوئ چه دی لَا
يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۵﴾ نه پوهیږی په دے چه مونږ په دے پریکو لِلّٰهِ مَا خاص خدائ لره دی په طریقه د مملوکیت
سره هر هغه فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ چه په اسمانونو او زمکه کښ دی نو په دے دواړو کښ مستحق د عبادت
غیر له ده بل هیڅوک نشته اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے هُوَ الۡغَنِىُّ الۡحَمِيۡدُ ﴿۲۶﴾ هم دے بے پرواه دے له ثنا
خوانا نو لائق دے فِی ذاته د ثنا اګر که هیڅوک پرے ونه وائی هم وَلَوۡ اَنَّ مَا فِى الۡاَرۡضِ او که چرے دا سے کار وشی
چه هر هغه چه په زمکه کښ دی مِنۡ شَجَرَةٍ اَقۡلَامٌ له ونو څخه هغه ټول قلمونه شی وَّالۡبَحۡرُ يَمُدُّهٗ او بحر
محیط چه دے دا کا بزی دے او همت وکا له ده سره مِنۡۢ بَعۡدِهٖ پس له تمامید لو د او بو دے بحر محیط سَبۡعَةُ
اَبۡحُرٍ اوه دریابه نور ده په شان او دا ټول بیا سیاهی شی او دا اسیاهی او دا قلمونه بیا تمام کړے شی په
لیکلو د کلماتو د پروردګار چه عبارت دے له معلوماتو د ده مَّا نَفِدَتۡ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ؕ نو خلاص به نه شی
کلمات د خدائ بلکه که سل یا زر د ومره نور هم ورسره شی هم خلاص به ئے نه کا ځکه چه دا متناهی
او کلمات غیر متناهی دی نو متناهی غیر متناهی ته کله رسید لے شی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای عَزِيۡزٌ
غالب دے نو بل هیڅوک پرے نه شی د پاسه کید لے حَكِيۡمٌ ﴿۲۷﴾ پر حکمت دے نو له علم او له حکمته
ئے هیڅ څیز نه شی وتلے مَا خَلۡقُكُمۡ نه دی پید اکول ستا سو اے مکیانو وَلَا بَعۡثُكُمۡ او نه بیا ژوندی کول
ستا سے پس له مرګه اِلَّا كَنَفۡسٍ وَّاحِدَةٍ ؕ مګر دا سے دی لکه پید اکول او بیا ژوندی کول د یو تن ځکه چه
نسبت قول د کُنۡ ته یو او سل او زر برابر دی پس له تعلقه د ارادے د ده سره له قدرت ذاتی اِنَّ اللّٰهَ

بیشکه چه خدائ سَمِیْعٌ بَصِیْرٌ ﴿۲۸﴾ اوریدونکے دهر مسموع لیدونکے دهر مبصردے او یُوله بل شاغل نه نه دے نو حکم دخلقت هم هم داسے دے اَلَمْ تَرَ ایا نهٔ وینے ته اَنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ یُوْلِجُ الَّیْلَ ننه باسی دے شپه په قدرت کامله سره فِی النَّهَارِ په ورځے کښ وَیُوْلِجُ النَّهَارَ او ننه باسی ورځ فِی الَّیْلِ په شپه کښ په دے شان چه هره ورځ په سیر طبعی دشمس سره شپه له یو طرفه لنډوی او ورځ اوږدوی او له بل طرفه په عکس ددے او تل هم داسے کوی تر هغه پورے چه اوقات دشپے تول ورشی ورځے له او ورځے تول ورشی شپے له وَسَخَّرَ الشَّمْسَ او مسخر کړے دے ده نمر دپاره دمنافع دخلقو وَالْقَمَرَ ز او سپوږمۍ هم چه دورځے دهغه په رڼا نفع اخلی او دشپے ددے په رڼا كُلٌّ يَّجْرِىٓ هر یوله دغه دواړو روان دی په خپل فلک کښ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى تر هغه مودے پورے چه په نامه کړے شوے ده چه هغه ورځ ده د قیامت حکه چه بیا به ئے تګ قطع شی وَاَنَّ اللّٰهَ او بے شکه چه خدائ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۲۹﴾ په هغه کارونو چه کوئ تاسے آگاه دے ذٰلِكَ داچه بیرته ذکر دی له سعته دعلم او له شموله دقدرته اوله عجائبو دصنع اوله اختصاصه ددوئ په خدائ پورے بِاَنَّ اللّٰهَ په دے دی چه بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْحَقُّ هم دے ثابت دے په ذات خپل کښ او واجب دے په وجود خپل کښ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ او بیشکه هغه بتان چه بولی ئے دوئ یعنی عبادت ئے کوی مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ لا غیر له خدایه هغه باطل ناحق دی وَاَنَّ اللّٰهَ او بل داچه بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْعَلِىُّ الْكَبِيْرُ ﴿۳۰﴾ هم دے ډیر بلند شان عظیم القدرت دے چه په هرڅه غالب دے اَلَمْ تَرَ ایا نهٔ وینے ته اَنَّ الْفُلْكَ دے ته چه بیشکه دا بیړئ او جهازونه تَجْرِىْ فِى الْبَحْرِ تګ کوی په دریاب کښ پاس داوبو په سر بِنِعْمَتِ اللّٰهِ په نعمت د خدائ سره چه باد دے یا په منت او احسان دده سره چه تاسے په سر داوبو بیاپی له غرق په امان لِيُرِيَكُمْ مِّنْ اٰيٰتِهٖ ط دپاره ددے چه وښائ دے تاسے ته بعضے له نښو د قدرته خپله اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ بیشکه په دے بیړیو او په دریاب کښ لَاٰيٰتٍ هراٰئینه ډیرے نښے دی دعبرت لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۱﴾ دپاره دهر صابر په بلاؤنو دخدائ شاکر په نعمتونو دده وَاِذَا غَشِيَهُمْ او په هغه وخت چه لاندے که دا کافران مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ هغه موج دبحر چه په شان دلویو سائبانو یادغرونو یا دوریځو وی دَعَوُا اللّٰهَ

عہ یعنی هر هغه څیز چه اوریدے شی ۱۲ عہ یعنی هر هغه څیز چه لیدے شی ۱۲ ۳ عہ یعنی چه خدائ ډیر عالم دے او په هر شی قادر دے او عجیب څیزونو له پیدا کونکے دے ۱۲

نو بولی دوئ خدائ په دغه وخت کښې مُخۡلِصِیۡنَ لَهُ الدِّیۡنَ ۵ په داحال چه خالص کونکی وی د دوئ خدائ لره دین یعنی دا سوال او بل هیڅوک ورسره نهٔ بولی ځکه چه هوا او تقلید ترے ضائع شوے وی له شل نه دخوفه. فَلَمَّا نَجّٰىهُمۡ پس هر کله چه بیا خلاص کړی خدائ دوئ له موجبه او د راوے باسی اِلَی الۡبَرِّ بهر وچے ته فَمِنۡهُمۡ مُّقۡتَصِدٌ ط پس بعض له دوئ چه مومنان دی باقی وی هم هغسے په کښیل یخوان ایمان وَمَا یَجۡحَدُ بِاٰیٰتِنَاۤ او انکار نهٔ کوی له نښو د قدرت څمونږ نه اِلَّا کُلُّ خَتَّارٍ مگر هغه چه وی غدار وی کَفُوۡرٍ (۳۲) ناشکره په نعمتو نو د خدائ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اے خلقو یعنی مکیانو یا عام خطاب دے اتَّقُوۡا رَبَّکُمۡ وویریږئ په ول له عذابه د رب خپل وَاخۡشَوۡا یَوۡمًا او وویریږئ بیا له هغه ورځے لَّا یَجۡزِیۡ وَالِدٌ چه نهٔ شی دفع کولے هیڅ والد عَنۡ وَّلَدِهٖ ز له فرزنده خپل وَلَا مَوۡلُوۡدٌ او نه هیڅ فرزند وی دا هُوَ جَازٍ چه دے دفع کونکے شی عَنۡ وَّالِدِهٖ له والده خپله څخه شَیۡئًا ط کوم څیز یعنی څهٔ قدر د له عذابه اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه وعده د خدائ رښتیا ده د بعث د حساب د جزا فَلَا تَغُرَّنَّکُمُ الۡحَیٰوۃُ الدُّنۡیَا نو پس نهٔ دِ غره کوی تاسے خامخا او فریب دِ نهٔ درکوی دا کمکے ژوندون په دے فانی نعمتونو او لذتونو خپلو وَلَا یَغُرَّنَّکُمۡ او بیا خبر دار اوسئ چه غره نهٔ کړی خامخا تاسے بِاللّٰهِ الۡغَرُوۡرُ (۳۳) په عفو او په کرم د خدائ هیڅ غره کونکے نه شیطان او نهٔ دنیا او نهٔ طولِ امل اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے عِنۡدَهٗ عِلۡمُ السَّاعَةِ هم دهٔ څخه دے خاص علم د قیام د قیامت وَیُنَزِّلُ الۡغَیۡثَ ج او هم دے را ښکته کوی باران په هغه خپل مقرر مکان او زمان کښې بے تقدیمه او تاخیره وَیَعۡلَمُ مَا او هم دے پوهیږی په هر هغه څیز فِی الۡاَرۡحَامِ چه په ارحامو د میندو کښې وی یعنی هر هغه چه د مور په نس کښې وی دهٔ ته معلوم وی چه نر دے کهٔ ښځه تام دے کهٔ ناقص دے وَمَا تَدۡرِیۡ نَفۡسٌ او نهٔ پوهیږی هیڅ شخص کهٔ نیکو کار دے کهٔ بدکار دے په دے چه مَّاذَا تَکۡسِبُ غَدًا ط کوم کار به کوی دے صبا او ورځے کښې له خیره او له شره ځکه چه د برکرت دده په اراده کښې خیر وی او شر ترے وشی او یا په عکس دے وشی وَمَا تَدۡرِیۡ نَفۡسٌ ؟ او بل نهٔ پوهیږی هیڅ شخص په دے چه بِاَیِّ اَرۡضٍ تَمُوۡتُ ط په کومه زمکه به مری دے ځکه چه ډ کرت به یو شخص تمام عمر په یو ځای کښې ډیره وی او له سره ئے اراده کوم طرف ته نهٔ وی ناګاه تقدیر الٰهی به ئے داسے ملک ته یو ته او که چه په خاطر کښې به ئے هم کله نهٔ وی راغلے که روایت دے

چه یوه ورځ ملک الموت سلیمان علیه السلام له راغے او یو سړے تہ ئے کتل دده له مجلسیا نو څخه نو هغه وویل چه دا څوک دے سلیمان علیه السلام وویل چه دا ملک الموت دے بیا په دغه سړی لرزه راغله او وے ویل چه دا ماته چه کوری نو زهٔ به ئے په کار او سم هله باد ته امرو که چه ما هند له بوځی نو هند له ئے یوړ بیا ملک الموت سلیمان علیه السلام ته وویل چه زهٔ ډیر په تعجب کښں وم چه زهٔ په دے ماموره یم چه ددے سړی روح په هند کښں قبض که او دے دلته تا څخه په شام کښں ناست دے او اجل ئے ډیر نزدے دے نو دا به څرنګه شی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَلِیْمٌ آګاه دے په هر غیبت کښں خَبِیْرٌ ﴿۳۴﴾ خبردار په تیر او په راتلونکیو ټولو باندے۔ ع

سُوْرَةُ السجدة مکیة (۳۲) (۷۵) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اٰیَاتُهَا ۳۰ رُکُوْعَاتُهَا ۳

الٓمّٓ ﴿۱﴾ ددے بیان مخوا تیر شوے دے تَنْزِیْلُ الْکِتٰبِ دے رالیږلے شوے د اکتاب یعنی قرآن او دا تنزیل خبر دے د مبتدا محذوف چه هُوَ دے۔ لَا رَیْبَ فِیْهِ نشته هیڅ شک په ده کښں یعنی په نزول په احکامو ده کښں او دا ئے خبر ثانی دے۔ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲﴾ راغلی دے له پرورد ګاره د عالمیانو او دا ئے خبر ثالث دے بیا د رب العزت وائی چه مکیان نهٔ منی دا خبره چه دا قرآن له خدای راغلے دے اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ج بلکه دا سے وائی دوئ چه دا محمد صلے اللّٰه علیه وسلم له خپل ځانه ویلے دے او بیا په دروغو ئے په خدائ تړلے دے او دوئ دا خبره دروغ وائی ځکه چه دا سے نهٔ ده بَلْ هُوَ الْحَقُّ بلکه دا سے دا ده چه دے حق دے چه راغلی دے مِنْ رَّبِّکَ له جانبه د رب ستا لِتُنْذِرَ قَوْمًا د پاره ددے چه ویرو ے ته له عذابه دا سے قوم یعنی عرب مَّآ اَتٰىهُمْ چه نهٔ دے راغلی دوئ له مِّنْ نَّذِیْرٍ هیڅ ویرونکے له عذابه مِنْ قَبْلِکَ مخوا له تا این تر اسمٰعیل علیه السلام پورے چه دا زمانه د فترة وه یعنی د قطع د وحی وه او دا قریب خلور نیم زره کاله به وه پس له اسمٰعیل علیه السلام تر رسول علیه السلام پورے چه په دے مینځ کښں پیغمبرنه وو پیدا شوے په بنی اسمٰعیل کښں نو موږ ته دا ولیږلے ته دوئ له لَعَلَّهُمْ یَهْتَدُوْنَ ﴿۳﴾ بنائ چه دوئ سمه لار بیا موی ستا په دے ویرولو سره اَللّٰهُ الَّذِیْ خدائ هغه قادر مطلق دے چه خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدا کړی دی ده اسمانونه او زمکه وَمَا بَیْنَهُمَا او هغه چه په مینځ ددے دواړو

کښې دی فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ په مقدار د شپږ ورځو د دنیا کښې چه اول ئې یکشنبه وه او اخرئې جمعه وه ثُمَّ
اسْتَوٰی بیا مستولی او متوجه شۀ حکم ددۀ عَلَى الْعَرْشِ ط په عرش چه اعظم د مخلوقاتو دے پس ایمان
راوړئ تاسے په دۀ او تابع اوسئ همیشه د حکم ددۀ حُکه چه مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ نشته تاسے لره غیر لدۀ په دنیا
په عقبیٰ کښې مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ ط نه هیڅوك دوست او نه شفاعت کړ چه یاری او مددګاری درسره وکړی
اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴﴾ آیا نۀ اخلئ پند تاسے په دے وعظ او نصیحت. او دا سے حکیم مطلق دے چه يُدَبِّرُ
الْاَمْرَ تدبیر کوی د کار د دنیا یعنی لیږی هغه ملك چه مسلط دے په دغه کار مِنَ السَّمَآءِ اِلَى
الْاَرْضِ له آسمانه زمکے ته دپاره د کارسازئ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ بیا خیږی دا امر او تدبیر ددۀ ته دپاره د
دے چه هلته ثابت او موجود وی دده په علم کښې فِيْ يَوْمٍ په هغه ورځ کښې یعنی په هغه زمانه کښې
كَانَ مِقْدَارُهٗٓ چه دے مقدار د هغه زمانے اَلْفَ سَنَةٍ یو زر کاله مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿۵﴾ له هغه چه شمارئے
کوی تاسے له کلونو او له ایامو د دنیا یعنے راکوزیږی او بیا خیژی په دومره زمانه کښې چه که ئې څوك او بیا
راځی نو په زر کاله کښې به لا رشی او بیا به راشی حُکه چه تر آسمانه تر زمکے پنځه سوه کاله لاره ده نو مقدار
د کوزیدلو او بیا د ختلو خود زر کاله شو ذٰلِكَ دا خالق او مدبر چه دے په ټولو صفاتو د کمال موصوف
دے خصوصًا په دغه لسو صفاتو چه مخکښې مذکور دی عٰلِمُ الْغَيْبِ چه آگاه دے په هر پټ وَالشَّهَادَةِ
او په هر ښکاره له خلقو الْعَزِيْزُ چه غالب دے په حکم او په تدبیر خپل کښې الرَّحِيْمُ ﴿۶﴾ چه مهربان دے
په مطیعانو خپلو په دے تدبیر کښې الَّذِیْٓ اَحْسَنَ هغه خدائی چه ښۀ مزین کړے دے دۀ كُلَّ شَيْءٍ
خَلَقَهٗ هر څیز چه پیدا کړے دے دۀ هغه یعنے هر موجود ئې په مقتضیٰ د حکمت بالغه خپل سره سا
کړیدے خصوصًا انسان لکه چه وائی وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ او شروع کړے دے دۀ اول پیدا او ښت د
انسان یعنی د آدم علیه السلام مِنْ طِيْنٍ ﴿۷﴾ له خټے څخه چه قصه ئې معلومه ده. ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ
بیا پیدا ئې کۀ نسل یعنی اولاد ددۀ مِنْ سُلٰلَةٍ له نطفې څخه یعنی مِنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿۸﴾ له هغه او بو څخه
چه ضعیفې او حقیرے دی چه منی ده او دا بدل دے له سُلٰلَةٍ ثُمَّ سَوّٰىهُ بیا برابر او اراسته ئې کړۀ
قالب ددۀ یعنی د آدم علیه السلام په ښۀ لائق شکل سره وَنَفَخَ فِيْهِ او پو ئې کړۀ په دے قالب
کښې یعنی پکښې داخل ئې کړۀ مِنْ رُّوْحِهٖ له روحه خپله یعنی له هغه څیزه چه خاص دے په دۀ او

پہ علم دده پورے او دا نسبت د روح خپل ځان ته محض د پاره د اظهار د تشریف او د تکریم دے د دهٔ
وَجَعَلَ او در کړه دهٔ لَكُمُ السَّمْعَ تاسو له غوږونه چه اوریدل پرے کوئ وَالْاَبْصَارَ او سترگے چه لیدل
پرے کوئ وَالْاَفْئِدَةَ ط او زړونه چه عقل او فکر پرے کوی او دا بیا موجب دے د ډیر شکر ځکه چه خپل
صفات ئے په تاسو کښ ظاهر کړی دی اما قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ⑨ لږ شکر کوئ تاسو په دا لویو نعمتونو
وَقَالُوْٓا او وائی دا منکران له بعث لکه ابی بن خلف شهٔ ءَاِذَا ضَلَلْنَا آیا په هغه وخت چه ورک شو مونږ
فِي الْاَرْضِ په زمکه کښ یعنی چه خاورے شو او له زمکے سره دا سے خلط شو لکه او به شو د و سره حُمونږه
او د خاورو هیڅ نمیز نهٔ کیدهٔ ءَاِنَّا آیا بیشکه بیا مونږه لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۃ هرائینه په نوی
پیدائښت کښ به او سو یعنی بیا به هم داسے سر دو باره ساز کړے شو لکه چه اوس یو دا دروغ دی او دا نهٔ
ده لکه چه وائی دوئ بَلْ هُمْ بلکه دا سے ده چه دوئ بِلِقَاۗءِ رَبِّهِمْ په ملاقات د رب خپل كٰفِرُوْنَ ⑩ منکر
دی په آخرت یعنی ایمان نهٔ دے راوړے قُلْ و وایه اے رسوله منکرانو د بعث ته چه زر دے چه يَتَوَفّٰىكُمْ
قبض به کا ارواح ستاسو مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِيْ هغه ملک چه وژلو له مقرر دے یعنی عزرائیل علیه السلام
وُكِّلَ بِكُمْ چه مسلط کړے شوے دے په تاسو د پاره د قبض د ارواحو ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ بیا رب خپل ته
ع پس له مرگه تُرْجَعُوْنَ ⑪ بیرته به بیولے کیږئ تاسو پس له بیا ژوندونه د پاره د حساب او د جزا
وَلَوْ تَرٰٓى او که وو ینے ته اے بنده اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ هغه چه دا کافران نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ ښکته غورځولی
وی د سرونو خپلو عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په نزد د رب خپل په ورځ د قیامت له ډیره خجالته عه او ندامته او وائی به دوئ
رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا اے ربه حُمونږه ولیدهٔ مونږه هغه چه وعده کړے وه تا وَسَمِعْنَا او واوریده مونږه له تا
تصدیق د رسولانو یا ولیدهٔ مونږه هول د قیامت او واوریدهٔ مونږه آواز د صور فَارْجِعْنَا پس بیرته
بوزه مونږه دنیا له نَعْمَلْ صَالِحًا چه وکړو مونږه هلته نیک عملونه اِنَّا مُوْقِنُوْنَ ⑫ بیشکه چه اوس
مونږه بے گمان یو یعنی اوس حُمونږه یقین راغے په دے چه قیامت حق دے او جواب د لَوْ محذوف
دے چه دا دے عه لَرَاَيْتَ اَمْرًا فَظِيْعًا نو وائی رب العزت چه وَلَوْ شِئْنَا او که اراده شوے وے
حُمونږه لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ نو هرائینه ورکړے به وو مونږه هر شخص له په دنیا کښ هُدٰىهَا

عه یعنی له ډیره شرمه او پښیمانتیا ۱۲، عه فظیع په معنیٰ د شنیع یعنی ډیر قبیح معنیٰ داده چه خامخا به وینے ته کار سخت ډیر قبیح ۱۲
کتبه: محمد صادق (زهیر) چپر هارے دا گوال

هغه چه لاره پرے موندلے وے دۀ ایمان او عمل صالح ته وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ او لیکن مقرر شو یدے دا گفت
او حکم مِنِّیْ له ما نه چه هغه دا دے چه لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ هرآئینه ډك به کړم زۀ خامخا دوزخ مِنَ الْجِنَّةِ
وَالنَّاسِ له کفارو دپیریانو او دا دمیانو اَجْمَعِیْنَ ﴿۱۳﴾ له ټولو د دوی او بیا وائی به ورته پس له دخوله خازنان
د دوزخ فَذُوْقُوْا پس وڅکئ تاسے دا عذاب بِمَا نَسِیْتُمْ په سبب د دے چه هیر کړے وو تاسے یعنی
بے التفاتی مو کړے وه لِقَآءَ یَوْمِكُمْ هٰذَا ج ملاقات د ورځے خپلے چه دا ده یعنی باور نۀ وو ستاسے په راتلو
د قیامت نو اوس جزائے داده چه اِنَّا نَسِیْنٰكُمْ بیشکه مونږه به هم هیر کړئ واچوو تاسے وَذُوْقُوْا او وڅکئ
نن تاسے عذاب الْخُلْدِ عذاب د همیشه والی یعنی دائم بِمَا كُنْتُمْ پس د هغه کفر او تکذیب چه وئ تاسے
تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ چه کولو به مو په دنیا کښ اِنَّمَا یُؤْمِنُ بیشکه هم دا خبره ده چه ایمان راوړی بِاٰیٰتِنَا
الَّذِیْنَ په آیتونو څمونږه یعنی په قرآن هغه کسان اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا په هغه وخت چه پند ورکړے
شی دوی لره په دغه آیتونو خَرُّوْا سُجَّدًا نو پرېوځی پریوځی دوی په دے حال چه سجده کوونکی دوی خدائی
ته له ډیره تواضع او له ویرے او له شکره په دے نعمت چه په دوی ئے اسلام پیرزو کړے دے وَسَبَّحُوْا
بِحَمْدِ رَبِّهِمْ او پاکی وائی دوی سره له ثنا د رب خپل یعنی له صفات ذمیمه ئے پاك او په صفات حمیده ئے
ئے موصوف بولی یا سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ وائی دوی وَهُمْ لَا یَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ السجدة او دوی کبر او سرکشی نۀ
کوی له ایمانه له طاعته له سجده او بل هغه کسان چه تَتَجَافٰی جُنُوْبُهُمْ رابیل شی او لرے شی ارخونه
د دوی د شپے چه او دۀ وی یعنی راپاخیږی عَنِ الْمَضَاجِعِ له ځایونو د خوبه او له فراشونو د راحت
دیارہ د تهجد یعنی چه ټول خلق اوده شی نو دوی راپاخیږی له خوږه خوبه نو تهجد وکړی او
یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بولی دوی رب خپل پټ له خلقو خَوْفًا وَّطَمَعًا ز له ویرے د قهر او له امید د رحمت
یعنی په مابین د خوف او د رجا کښ وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او بعض له هغه مال چه ورکړے دے مونږه دوی
لره یُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ ورکوی دوی په لاره د خدائی کښ یعنی د شپے هغه کوی او بیا د ورځے داکوی فَلَا تَعْلَمُ
نَفْسٌ پس معلوم نۀ دے هیڅ شخص ته یعنی نه ملك مقرب ته او نه نبی مرسل ته مَّآ اُخْفِیَ لَهُمْ هغه
خیز چه پټ کړے شوے دے دوی لره له کراماتو او له مراتبو مِّنْ قُرَّةِ اَعْیُنٍ ج له یخوالی د سترګو جَزَآءًۢ بِمَا

ع یعنی رب العلمین لره د صفاتو قبیحو نه پاك بولی ۔

د پاره د جزا ورکولو په هغه عمل كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾ چه وو دوئ چه کولو به ئے یعنی دوی به له خلقو پټ
عمل کولو ما لره نو ما هر جزا و سزا پټه ساتلے ده دوئ لره لکه حدیث دے چه یقول الله تعالیٰ اعددت
لعبادی الصلحین مالاعین رات ولا اذن سمعت ولاخطر علی قلب بشر ما اطلعتم علیه اقرء وا
ان شئتم فلا تعلم نفس ما اخفی لهم الایة روایت دے چه ولید بن عقبه وویل علی رض ته په طریقه
دفخر چه ځما نیزه ستا له نیزے تیره ده او ځما ژبه هم ستا له ژبے تیره ده او علی رض ورته وویل چه
چپ شه اے فاسقه ځما او ستا څه برابری ده سره نو د پاره د تصدیق نازل شه اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا
أیا پس هر هغه څوک چه وی دے ایمان راوړونکے په خدائ په رسول الله صلی الله علیه وسلم لکه علی رض
شهٔ كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ط داسے دے هغه څوک چه فاسق وی یعنی سرکش له خدائ له رسول صلی الله علیه
وسلم لکه ولید لَا يَسْتَوٗنَ ﴿۱۸﴾ نهٔ برابریږی سره دواړه طائفے چه مؤمنان او فاسقان دی له دے جهته
چه اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هر چه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عمل ئے
کړے دے د نیکو فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ز پس دوئ لره مقرر دے د پاره د استوږنے جنت الماویٰ چه
چه یو جنت دے له هغه اتو جنتو نو چه یمین د عرش دے نُزُلًا بِمَا په طریقه د میلمستیا په سبب د
هغه عملونو كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ چه وو دوئ چه کول به ئے په دنیا کښ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا او هر چه
هغه کسان دی چه فاسقان شوی دی په کفر او په تکذیب سره فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ط پس ځای د استوږنے
د دوئ او رد دے د دوزخ په ځائ د جنت الماویٰ د مؤمنانو كُلَّمَآ اَرَادُوْآ هر کله چه اراده وکه دوئ اَنْ
يَّخْرُجُوْا مِنْهَآ د دے چه راووزی له دغه اوره اُعِيْدُوْا فِيْهَا نو بیرته به وغورځولے شی دوئ په دغه اور کښ
یعنی هر کله چه دوزخ په جوش راشی او دا کفار به د لمبو په سر راپورته شی او دروازو ته ئے رانزدے شی
او طمع ئے د تلو پیدا شی نو اراده به وکا د خروج خازنان د دوزخ به ئے بیرته د دوزخ تلی ته پرتاوکا
وَقِيْلَ لَهُمْ او به ویلے شی دوئ ته له ډیره اهانته ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ چه وڅکئ تاسے دا عذاب د
اور الَّذِيْ كُنْتُمْ هغه عذاب چه وئ تاسے پخوا په دنیا کښ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۰﴾ چه د هغه تکذیب

عه یعنی وائی خدائ چه تیار کړی دی ما په قدرت خپل سره د پاره د بندګانو خپلو چه نیکو کاران دی ځیزونه چه نه د چا سترګو لیدلی دی او نه د چا غوږونو اوریدلی دی او نه تیر شوی دی په زړه د هیڅ بشر او که تاسو خبر نهٔ یئ په هغه ځیزونو نو ولولئ که چرے تاسو خوښه وی ـ فَلَا تَعْلَمُ الایة

به موکولو وَلَنُذِيقَنَّهُمْ او هرامئینه و به څکوو مونږه په دوی مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ بعضې له هغه نژدې عذاب
چه عذاب دد نیادے لکه قتل یا بند یا قحط یا امراض دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ رابیرته له هغه لوی عذابه
چه د اخرت دے لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۲۱﴾ بنائی چه دوی رجوع وکا له کفره اسلام ته وَمَنْ أَظْلَمُ او څوک
دے ډیر ظالم مِمَّن ذُكِّرَ له هغه چا چه پند ورکړے شی ورلره بِآيَاتِ رَبِّهِ په ایتونو درب خپل سره یعنی
په قرآن ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا ط بیا مخ وګرځوی ترے او فکر پکښ ونهٔ کا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ بے شکه چه
ع ۱۱ 15 مونږه له مشرکانو مُنتَقِمُونَ ﴿۲۲﴾ انتقام اخستونکی یو په هلاک او په عذاب سره وَلَقَدْ آتَيْنَا او هرامئینه
په تحقیق ورکړے وو مونږه مُوسَى الْكِتَابَ موسیٰ علیه السلام لره کتاب چه توراة وو لکه تا لره چه قرآن
دے روایت دے په وسیط کښ چه رب العزت وعده کړے وه پخواله رسول الله صلی الله
سره - چه تهٔ به پخواله وفاته خپله موسیٰ علیه السلام وینې نو اوس تاکید د هغه وعدے کوی
څکه وائی فَلَا تَكُن پس مهٔ کیږه تهٔ فِي مِرْيَةٍ په شک کښ مِّن لِّقَائِهِ له ملاقات د موسیٰ علیه
السلام څخه او دا ملاقات بیا وشو په شپه د معراج په شپږم اسمان کښ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى او کړے
وو مونږه موسیٰ علیه السلام یا کتاب دده رهنمائی لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿۲۳﴾ دپاره د بنی اسرائیلو. وَ
جَعَلْنَا مِنْهُمْ او کرځولی وو مونږه بعض له دوی أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا پیشوایان چه لاره به ئے بنودله
په احکامو د تورات خلقو ته په فرمان څمونږه سره لَمَّا صَبَرُوا ط هر کله چه صبر وکړی دوی په ایمان
یا په سختو د قوم یا په طاعت وَكَانُوا او وو دوی داسے چه بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿۲۴﴾ په ایتونو څمونږه چه
موسیٰ علیه السلام څخه وو یقین ئے راوړے وو إِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دے هُوَ يَفْصِلُ هم دے به
حکم کوی بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ په مابین ددے مخلوق کښ په ورځ د قیامت فِيمَا كَانُوا په هغه څیز
کښ چه وو دوی په دے دنیا کښ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿۲۵﴾ چه په هغه کښ اختلاف به ئے کولو له امره د
دین څخه نو د احکم الٰهی به محق او مبطل سره بیل که او هر یو له به جزا ورکه مناسب له عمل دده
سره أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ ایا لاره د عبرت نهٔ ده ښودلے دغه مکیانو ته دے کار چه كَمْ أَهْلَكْنَا څومره هلاک
کړیدی مونږه مِن قَبْلِهِم پخواله دوی مِّنَ الْقُرُونِ له اهله د ډیرو قرنونو لکه عاد او ثمود او داسے نور
د یَمْشُونَ چه همیشه تیریږی د امکیان چه شام ته سوداګری له ځی فِي مَسَاكِنِهِمْ ط په هغه ځایونو د

استوږنو د هغو کښې اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ بیشکه چه په دے هلاکولو د پخوانیو قرنونو کښې لَاٰیٰتٍ ط هرآئینه لوی نښے
دی د پاره د عبرت د خلکو را تلونکیو خلقو اَفَلَا یَسۡمَعُوۡنَ (۲۶) آیا پس نه اوری دوئ د زړه په غوږونو چه
پند ترے واخلی اَوَلَمۡ یَرَوۡا آیا نهٔ وینی دوئ اَنَّا نَسُوۡقُ الۡمَآءَ دا چه بیشکه مونږه راکاږو او بیایو دا
اوبهٔ د سیلاب او د سیند اِلَی الۡاَرۡضِ الۡجُرُزِ هغه زمکے ته چه وچه کلکه وی او گیاه نهٔ لری په سبب د وچوالی
سره فَنُخۡرِجُ بِهٖ زَرۡعًا پس راوباسو او زرغونو مونږه په دغه اوبو سره کښت یعنی غله او وښے تَاۡکُلُ مِنۡهُ
چه خوری له دغه کښت نه اَنۡعَامُهُمۡ چارپایان د دوئ گیاه او پاڼړے د ونو وَاَنۡفُسُهُمۡ ط او پخپله دوئ دانه
او میوه اَفَلَا یُبۡصِرُوۡنَ (۲۷) آیا پس نهٔ وینی دوئ دا آثار د قدرت چه دا ترے معلوم که چه هر کله دے په
دغه قادر دے نو په ژوندی کولو د مړیو به هم قادر وی وَیَقُوۡلُوۡنَ او وائی دا مکیان مؤمنانو ته مَتٰی
هٰذَا الۡفَتۡحُ چه کله به وی دا فتح یعنی دا فیصله څمونږه او ستاسے په مینځ کښې اِنۡ کُنۡتُمۡ که چرته یئ تاسے
صٰدِقِیۡنَ (۲۸) رشتینی په دے وعده د فیصلے کښې قُلۡ یَوۡمَ الۡفَتۡحِ ووایه ورته اے رسوله چه په ورځ د فتح
کښې چه قیامت دے لَا یَنۡفَعُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا هیڅ نفع به ونهٔ رسوی هغه کسانو ته چه کفر ئے اختیار کړے
دے اِیۡمَانُهُمۡ ایمان راوړل د دوئ وَلَا هُمۡ یُنۡظَرُوۡنَ (۲۹) او نه به وی دوئ داسے چه انتظار ورته وکړے
شی او مهلت ورکړے شی په قیامت په تاخیر د عذاب سره فَاَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ پس څنګ وکړه له دوئ په
طریقه د اهانت او مخ ترے وګرځوه تر نزول د آیت سیف وَانۡتَظِرۡ او منتظر اوسه نصرت الٰهی
ته اِنَّهُمۡ مُّنۡتَظِرُوۡنَ (۳۰) ع بیشکه دوئ هم منتظر دی دغه خبرے ته چه غلبه وکړی اما دا نهٔ شی ع ۳ ۸ ۱۶
کولے ځکه چه اَلۡحَقُّ یَعۡلُوۡا وَلَا یُعۡلٰی ...

سورة الاحزاب (۳۳) مدنية (۹۰) | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ | آیاتها ۷۳ | رکوعها ۹

روایت دے چه ابو سفیان او عکرمه بن ابی جهل او ابوالاعور السلمی مدینے له راغله پس له جنګ
د اُحد د پاره د صلح او ابن ابی کره ئے وارول. بله ورځ دوئ له دریو منافقانو سره چه ابن ابی او ابن
قشیر او ابن قیس دے رسول الله صلی الله علیه وسلم لره راغله او ورته ئے وویل چه په دے به صلح

عه یعنی حق لوئ او پورته دے په هر څیز او په ده باندے هیڅ لوید لے او پورته کید لے نه شی ۱۲

وکړ وچه ته حمو نږه په خدایا نو بدمهٔ وایه او داسې وایه چه په قیامت دوئ لره شفاعت شته نو مونږ
به تا پرېږدو چه دخپل خدائے عبادت کوے او دے منافقانو هم ورته وویل چه دا شرافو دعربو قول دے
رد وُل ئې په کارنهٔ دی نو نازل شهٔ یَاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبره اتَّقِ اللّٰهَ په ویره اوسه همیشه له خدائ او
مدام ثابت اوسه په تقوٰی وَلَا تُطِعِ الْکٰفِرِیْنَ او مهٔ منه خبره دکافرانو چه ابو سفیان او ملګری ئې دی
وَالْمُنٰفِقِیْنَ ط او نهٔ د منافقانو چه ابن اُبَی او ملګری ئې دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ کَانَ عَلِیْمًا دے دانا په
ګفتار د دوئ حَکِیْمًا ⑴ حکم کونکے په مقتضی دحکمت وَّاتَّبِعْ مَا یُوْحٰۤی اِلَیْكَ او پیروی کوه دهغه حکم چه رالیږلے
کیږی تا ته مِنْ رَّبِّكَ ط له جانبه درب ستا لکه نهی شوه له فرمانبردارئ د دوئ اِنَّ اللّٰهَ کَانَ بیشکه چه
خدائ دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرًا ⑵ په هغه کار چه کوئ ئې تاسے آګاه وَّتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ ط او توکل وکړه په
خدائ او خپل کارونه په دهٔ وسپاره وَکَفٰی بِاللّٰهِ وَکِیْلًا ⑶ او بس دے خدائ وکیل یعنی کارساز ے نګهبان

روایت دے روایت دے چه عربو به درے کارونه لازم ګنړل اول دا چه هر پوهنده سړے دوه زړونه
لری ځکه دوئ به ابو معمر بن جمیل په پوهنده وو ذو القلبین بالهٔ او دهٔ به ویل ځما دوه زړونه دی
او په هر یو له محمد صلی علیه وسلم زیات فهم کوم . دویم دا چه هر چا چه به خپلے ښځے ته نسبت د
مظاهرے وکړهٔ نو هغه ئې مور شوه په هر څه کښ این تر حُرمت د بیا نکاح . دریم دا چه هر بیګانه
چه چا په ځوئ وباله هغه به ئې ځوی شهٔ په هر څهٔ کښ این تر میراث وړلو او تر حرمت د نکاح د
ښځې د هغه ځکه دوئ به ویل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په باب د زید بن حارثه کښ چه عتیق
ددهٔ وو او په ځوئ ئې بیا نیولے وو او ددهٔ مطلقه ئې بیا په نکاح واخسته چه محمد صلی الله علیه وسلم
خپله نږور په نکاح کړه نو په رد ددغه درے وارو کښ نازل شه مَا جَعَلَ اللّٰهُ نهٔ دے پیدا کړے خدائے
لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَیْنِ هیڅ سړی لره دوه زړونه فِیْ جَوْفِهٖ ج په درونه ددهٔ کښ ځکه چه زړه معدن د
روح حیوانی دے او هغه خو یو دے نو تعداد په قلب کښ هم منع دے وَمَا جَعَلَ او بل نه دی ګرځولی خدائے
اَزْوَاجَکُمُ الّٰٓئِیْ هغه ښځے ستاسے تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ چه ظهار کوئ تاسے له هغو ځنې اُمَّهٰتِکُمْ ج میندے
ستاسے - او ظهار دا دے چه څوك ووائی ښځې خپلې ته چه انتِ علیّ کظهر اُمّی . معنی دا چه ته په ما دا سې
حرامه شوے لکه شا د مور ځما چه را باندے حرامه ده یعنی په دغه ویلو سره خدائ نهٔ میندے کوی

ستاسې ځکه چه زوجيت مقتضي دے دخادميت او اومت دمخدوميت نو جمع ئے په يوه ښځه کښ محال
ده وَمَا جَعَلَ او بل نهٔ دی ګرځولی خدائ اَدْعِيَآءَكُمْ په ځامنو بللی ستاسې اَبْنَآءَكُمْ ط واقعي ځامن ستاسې
ځکه چه په بنوت کښ شرط دے ولادت او په دعوت کښ عدم د ولادت نو جمع ئے په يو شخص کښ سره
محال ده ذٰلِكُمْ دا بيرته مذکور چه دی قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ط وينا ستاسې دی هسے عبث محض په خولو ستاسې چه
هيڅ حقيقت ورلره نشته وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ او خدائ چه دے وائی د حق مطابق له واقع سره وَهُوَ
يَهْدِی السَّبِيْلَ ④ او دے ښائی سمه لاره اُدْعُوْهُمْ وبولئ تاسې دا ادعيا يعنې نسبت ئے کوئ لِاٰبَآئِهِمْ پلرونو
د دوئ ته هُوَ اَقْسَطُ دا نسبت خپلو پلرونو ته ډير برابر او ډير غوره دے عِنْدَ اللّٰهِ ج په نزد دخدائ فَاِنْ
لَّمْ تَعْلَمُوْٓا پس که معلوم نهٔ وو تاسې ته اٰبَآءَهُمْ پلرونو د دوئ فَاِخْوَانُكُمْ پس دوئ رونړه ستاسې
دی فِی الدِّيْنِ په دين د اسلام کښ نو په وروړے بولئ يعني ورته وائ يا اخي وَمَوَالِيْكُمْ ط او دوستان ستاسې
دی په دين کښ نو يا مولائی ورته وائ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ او نشته په تاسې هيڅ وبال فِيْمَآ اَخْطَاْتُمْ بِهٖ لا
په هغه کښ چه خطا وزئ تاسې په هغه ګفتار کښ مثلاً ناګاه ستاسې له خولے ووځي چه زيد بن محمد
صلے اللّٰه عليه وسلم چه څوک له نهی وی او که پس په نسيان وی او که په سبق د لسان وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ
قُلُوْبُكُمْ ط وليکن شته وبال په هغه کښ چه قصد وکړی زړونه ستاسې د دوئ نسبت او غير له پلاره نسبت
ئے وکړی بل چاته عمداً وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا او دے خدائ بخښونکے د صاحب د خطا رَّحِيْمًا ⑤ مهربان په
صاحب د عمد که توبه وباسی روايت دے هرکله چه رسول اللّٰه صلے اللّٰه عليه وسلم اراده وکړه د
غزا جانب د تبوک ته او مؤمنان ئے ماموره کړه په تګ . نو بعضو وويل چه موږه به خپل مور او پلار
و پوښتو که اذن ئے راکړو نو به لاړ شو . نو نازل شو النَّبِیُّ پيغمبر چه دے اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِيْنَ ډير لائق
دے له مؤمنانو سره مِنْ اَنْفُسِهِمْ له نفسونو د دوئ ځکه په امتثال د امر او تنفيذ د احکامو دهٔ کښ په
دوئ ځکه چه په امر دهٔ کښ سر تر سره صلاح او فلاح ده د دوئ او نفس خو اَمّاره بالسوء دے نو امر د
دهٔ موجب دے د شقاوت نو حاصل دا چه که دهٔ يو شان امر وکه په دوی او نفسونو ئے بل شان امر وکه
مخالف له هغهٔ نو دا هغه په مخکښ مردود دے وَاَزْوَاجُهٗٓ او ښځے د دهٔ چه دی اُمَّهٰتُهُمْ ط ميندے دی د دوئ
ليکن محض په تعظيم او په حرمت د نکاح کښ له دوئ سره او په نورو څه کښ په مثل د اجنبيانو

دی ځکه ویل به بی بی عائشې چه لسنا بامهات النسآءِ روایت دے چه هر کله میراث په اول د اسلام کښ په درے څیزونو جاری وو په هجرت په مواخات په موالات او په رحم سره. نو دپاره د نسخ دے حکم نازل شو وَاُولُوا الْاَرْحَامِ او خپلوان د ارحامو یعنی د خپلولۍ چه دی بَعْضُهُمْ بعض د دوئ اَوْلٰی بِبَعْضٍ لائق تر دی په بعض نورو په وړلو د میراث کښ فِیْ کِتٰبِ اللّٰهِ په کتاب د خدائ کښ چه لوح محفوظ دے یا قرآن دے یعنی په هم دے ایت یا په ایت د میراث مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ له مؤمنانو وَالْمُهٰجِرِیْنَ او له مهاجرانو او دا مِنْ بیانیه دے یعنی بیان کوی د اولی الارحام یا صله د اولٰی او په تقدیر د ذکر د مهاجرینو پس له مؤمنانو تخصیص دے پس له تعمیم اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْٓا مگر یا لیکن دا چه کوئ تاسې په وخت د ژوند خپل کښ اِلٰٓی اَوْلِیٰٓئِکُمْ له یارانو دوستانو خپلو سره مَّعْرُوْفًا احسان یا وصیت د ثلث یا کم او دا استثناء یا متصل ده یعنی اولوا الارحام په هر وخت کښ لائق تر دی د نفع او د احسان مگر نه دی په دغه وخت مخصوص او یا منقطع ده یعنی معروف کول ستاسې له دوستانو خپلو سره روا دی کَانَ ذٰلِکَ دے دا نسخ د میراث د ایمان او د هجرت په میراث د ذوی الارحامو سره فِی الْکِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۶﴾ په لوح محفوظ یا په قرآن کښ ښکلی وَاِذْ اَخَذْنَا او یاد که هغه چه واخست مونږه مِنَ النَّبِیّٖنَ له ټولو پیغمبرانو علیهم السلام مِیْثَاقَهُمْ عهد د دوئ په دے چه پخپله د هم عبادت کوی د خدائ او نورو خلق د هم بولی د دهٔ عبادت ته او هر یو د تصدیق د نورو هم کوی او خپل امت ته نصیحت د هم کوی او دا میثاق په ورځ د الست وو وَمِنْکَ وَمِنْ نُّوْحٍ او خصوصًا له او له نوح علیه السلام نه وَّاِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی او هم دا سې له ابراهیم او له موسی علیهما السلام نه هم وَعِیْسَی ابْنِ مَرْیَمَ ص او هم دا سې له عیسٰی علیه السلام نه چه ځوئ دے د بی بی مریم او تخصیص د ذکر د دے پنځو دپاره د دغه دے چه دوئ په ارباب د شرائعو کښ ډیر مشهور دی او اولوا العزم هم دی او تقدیم د پیغمبر ځمونږه د پاره د تعظیم د دهٔ دے وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ او واخست مونږه له دغه پیغمبرانو مِّیْثَاقًا غَلِیْظًا ﴿۷﴾ عهد محکم یعنی مؤکد په یمین سره لِّیَسْـَٔلَ الصّٰدِقِیْنَ دپاره د دے چه وپوښتی خدائ رښتینی عَنْ صِدْقِهِمْ ج له رښتیا ویلو د دوئ یعنی دا محکم عهد مونږه واخست دپاره د دے چه وپوښتی یا خدائ په ورځ د قیامت پیغمبران له صدق له عهد خپله دا سې چه وفاء په عهد خپل په رسولو د پیغام قومونو

خپلو ته کړے د وکه نه یائے وپوښتی له منلود تومونو پیغام د پیغمبرانو خپلو د پاره د الزام د دوئ چه د دے تومونو پیغام ستاسے منلے ووکه نه. یاچه وپوښتی تومونه له صدقه خپله چه دوئ پیغام د خپلو پیغمبرانو منلے ووکۀ نه. یاچه وپوښتی مومنان چه صدق ئے کړے دے په عهد د الست کښ که نه وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ او تیار کړے دے ده د پاره د کافرانو عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۸﴾ عذاب دردناک[ع] **روایت دے** چه هرکله بنی نضیر وعهد مات کۀ او رسول صلی الله علیه وسلم له مدینے وشړل نو لاړۀ خیبر ته. نو حُیَیُّ بن احطب له تولی د یهود و سره مکے له راغے او له ابوسفیان سره ئے عهد د جنګ وکۀ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره او قریب د ولس زره لښکر له قریشو او له نورو عربو سره جمع شو په اراده د مدینے او د دلۀ اصحابو مصلحت وغوښت نو سلمان فارسی رض بنا په عادت د عجمو خندق وایۀ او درے زره اصحاب وو نو چاپیره له مدینے زمکه پرے قسمت کړه او دوئ په کنودو د خندق لاس پورے کۀ او ده به هم خاورے راایستلے ناګاه د خندق په مینځ کښ یوه برخه رانښکاره شوه نو دے ورله راغے او پلګ ئے پورته کړه او وئے ویل بسم الله او کذارئے پرے وکړو نو دریمه حصه ترے والوته او لویه لمبه ترے هسکه شوه چه په رڼړا دهغے ماڼړئ د شام ئے پرے ولیدے نو الله اکبر ئے وویل چه کلیګانے د شام مالره راکړے شوے بیا دویم ګذارئے پرے وکړۀ نو بیا دویمه حصه ترے والوته او لمبه ترے پورته شوه چه ماڼړئ دیمن ئے پرے ولیدے نو بیا الله اکبر ئے وویل چه کلیګانے دیمن هم مالره راکړے شوے بیا دریم ګذارئے پرے وکړه نو ټوله والوته او لویه لمبه ئے وکړه چه ماڼړئ دکسرای ئے پرے ولیدے نو بیا الله اکبر ئے وویل چه کلیګانے د فارس مالره راکړے شوے او منافقانو به سره یو بل ته ویل چه تاسے ګورئ دغه سړی ته چه اوس له ویرے د دشمن خندق له ځانه چاپیروی او دے ساده ګانو سره وعده د فتح د شام او دیمن او د فارس کوی بیا چه خندق سازشۀ او لښکرے راغلے او چاپیره له خندق ئے واړول او قریب یو میاشت به ئے تیزی او غشی سره ګذارول او بیا له میاشتے پس په شپه د ژمی کښ داسے یخ ناهیل[ع] پرے راوالوت چه سترګے ئے له خاورو ډکے شوے او او رونه ئے مړۀ شو او خیمے ئے وغورځولے او اسونه ئے کمندونه وشوکول او چاپیر لښکرو سورشۀ د تکبیراتو د ملائکو. نو ماتے پرے ګډه شوه او بے جنګه وتختیدل لکه چه وائی يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اے هغه کسانو اٰمَنُوا اذْكُرُوْا چه ایمان ئے راوړے دے یاد کړئ نِعْمَةَ اللّٰهِ

ع سخت سیلئ او زوراوره باد ۱۲

عَلَیْکُمْ نعمت دخدائ په تاسے اِذْ جَآءَتْکُمْ جُنُوْدٌ هغه چه راغلی تاسے لره لښکرے دکفارو چه قریش

او عطفان او کنانه او یهود وو او چاپیره درځه یو میاشت پراته وو فَاَرْسَلْنَا پس راولیږه مونږه عَلَیْهِمْ

رِیْحًا په دوئ باد د ناهیل وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا او داسے لښکرے چه نهٔ لیدلے تاسے یعنی د ملائکو وَکَانَ

اللّٰهُ او دے خدائ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرًا ⑨ په هغه کارونو چه کوئ تاسے بینا اِذْ جَآءُوْکُمْ یادکړی هغه

چه راغلهٔ د اکفار تاسے لره مِّنْ فَوْقِکُمْ بعض له پاس جانبه ستاسے چه طرف د مشرق دے له مدینے چه هغه

عطفان او یهود وو. وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْکُمْ او بعض له کوزه طرفه ستاسے چه جانب د مغرب دے له مدینے

چه هغه قریش او کنانه وو وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ او هغه چه چپے او خیرے شوے سترګے او بوتے

وختے له ډیره خوفه وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ او بل ورسیدل زړونه حناجرو ته یعنی له خپله ځایه

راپورته شو بیخو نو د مری ته او حناجر جمع دهٔ د حنجر او هغه منتهی د حلقوم دے چه مدخل

دے د طعام او د شراب او داځکه چه هرکله ویره په سړی غالبه شی نو سږی ئے راوپړسیږی

او دے هم راپورته شی او زړهٔ هم له ځانه سره راپورته کاندی حنجرے ته وَتَظُنُّوْنَ او ګمانونه کول

تاسے بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ⑩ په خدائ رنګارنګ ګمانونه چه مخلصانو به د اسے ګمان کولو چه خدائ به له

رسول صلی الله علیه وسلم او له مؤمنانو سره مددګاری وکه او خپل دین به غالب کا او منافقانو به د اسے

ګمان کولو چه لښکر د اسلام ډیرکم دے د دے احزابو تاب به رانهٔ وړی او بیخکن به شی او دا الف د

ظنونا زائده دے چه راوړے شوے دے د پاره د رعایت د فاصلے هُنَالِکَ ابْتُلِیَ الْمُؤْمِنُوْنَ په دغه وخت

وازمیلے شو مؤمنان نو ښکاره او بیل شو مخلص له منافقه او ثابت له متزلزله وَزُلْزِلُوْا او وشړقولے شو

دوئ په غلبه د خوف سره زِلْزَالًا شَدِیْدًا ⑪ په شړقولو سخت سره وَاِذْ یَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ او یادکه

چه وویل منافقانو لکه ابن ابی او ابن قشیر شهٔ وَالَّذِیْنَ او بل وویل هغه کسانو فِیْ قُلُوْبِهِمْ چه په زړونو

د دوئ کښ مَّرَضٌ رنځ وو د ضعف د اعتقاد مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ چه وعده نهٔ وه کړے له مونږه سره خدائ

وَرَسُوْلُهٗ او رسول د دهٔ د فتح د شام او د یمن او د فارس اِلَّا غُرُوْرًا ⑫ مګر باطل په فریب وَاِذْ قَالَتْ

او بیا یاد که هغه چه وویل طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ یوے طائفے له دغه منافقانو چه اوس بن قبطی او تابعدار

عه یعنی له دے ټولی ذکر شوی چه هغه عطفان او یهود او قریش او کنانه دی دی ۱۲ عه یعنی بیخ به مو وو وځی ۱۲

ئے دی یٰٓاَھْلَ یَثْرِبَ اے اھل دیثرب او یثرب هغه زمکے ته وائی چه مدینه پکښ ده لَا مُقَامَ لَکُمْ نشته دلته
ځائی د اقامت او د توقف ستاسے فَارْجِعُوْا ج پس بیرته وګرځئ او لاړشئ خپلو کورونو ته له مدینے یا نشته په
دین د اسلام کښ ځائی ستاسے نو وګرځئ بیرته کفار و ته او امان ترے وغواړی چه په ارام شئ وَیَسْتَاْذِنُ
فَرِیْقٌ او اذن د رجوع وغوښت یوے طائفے مِّنْهُمُ النَّبِیَّ له دوئی څخه له پیغمبره (صلی الله علیه وسلم) چه بنوحارثه
او بنو سلمه دو یَقُوْلُوْنَ او وائی دوئی ورته اِنَّ بُیُوْتَنَا عَوْرَةٌ ط چه بیشکه کورونه ځمونږه بیرته په مدینه
کښ خالی پراته دی نو ویریږو چه دشمن پرے چپاؤ ونه کړی نو اذن راکه چه کورونو له لاړشو وَمَا ھِیَ
بِعَوْرَةٍ ج او حال دا چه نه دی کورونه ئے خالی بلکه بنه محکم دی اِنْ یُّرِیْدُوْنَ اراده نه لری دوئی په
دغه تګ سره اِلَّا فِرَارًا ⑬ مګر د تیختے له جنګه وَلَوْ دُخِلَتْ او که راننه ایستے شی دا جنود د کفارو عَلَیْهِمْ
په دوئی په مدینه کښ مِّنْ اَقْطَارِھَا له اطرافو د مدینے یعنی چه ناګاه ترے چاپیره شی او کلک ئے
ونیسی ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ بیا طلب وکړے شی له دوئی د فتنے یعنی بیا طلب ترے وکا دا کفار د شرک او د مقاتلے له
مسلمانانو سره لَاٰتَوْھَا نو هرائینه وربه کا دوئی د افتنه دغه کفارو لره یعنی قبول به کا دا طلب د دوئی او
شرک او قتال له مسلمانانو سره به اختیار که وَمَا تَلَبَّثُوْا بِھَآ او مدار به ونه کا دوئی په دے قبلولو د فتنے کښ
اِلَّا یَسِیْرًا ⑭ مګر لږ یعنی په جلتئ به مشرکان شی او جنګ به بنا کړی له مسلمانانو سره یا مدار به ونه کړی
دوئی په دغه مدینه کښ پس له مرتد کیدلو مګر لږ یعنی بیا به زر ترے وویستے شی وَلَقَدْ کَانُوْا او هرائینه
په تحقیق وو دوئی یعنی بنو حارثه او بنو سلمه عَاھَدُوا اللّٰهَ چه عهد ئے کړے وو له خدائی سره مِنْ
قَبْلُ پخوا له دے په ورځ د اُحد چه په لاره کښ بے زړه شول او بیرته وګرځیدل او بیا پښیمان شو نو عهد
ئے وکړه له رسول صلی الله علیه وسلم سره داسے چه پس له دے به هیڅ لَا یُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ط ونه ګرځوی
دوئی شا خپلے دشمن ته یعنی تیخته به ترے هیڅ ونه کا وَکَانَ عَھْدُ اللّٰهِ او دے عهد د خدائی تعالی
مَسْئُوْلًا ⑮ پوښتیدلے شوے یعنی ترے پوښتیدلے به شی چه ماته کړے ئے وه نو نیولے به شی پرے او
که ئے وفائے پرے کړے وه نو جزا به ورکړے شی قُلْ ووایه دوئی ته اے رسوله لَنْ یَّنْفَعَکُمُ الْفِرَارُ چه له
سره به نفع ونه رسوی تاسے ته تیخته اِنْ فَرَرْتُمْ که چرے وتختئ تاسے مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ له مرګ
یا له قتل چه خلاصے نشته هیڅ شخص لره له یو دے دواړو په وخت معین کښ حکم به د شوید ے

او قلم پرے چلیں لے دے او کهٔ او س وتختی او دا تیخته نفع درته وکړی متلا دا چه فی الحال مړهٔ نه شئ هم
له اجله خو به تیر نهٔ شی لکه چه وائی وَ اِذًا او په دغه وخت چه وتختیدئ لَّا تُمَتَّعُوْنَ ژوندی به پاتے
نهٔ کړے شی په دے دنیا کښں اِلَّا قَلِیْلًا (۱۶) مګر لږه موده قُلْ بیا ووایه ورته مَنْ ذَا الَّذِیْ چه څوک دے هغه
کس یَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ چه وساتی تاسے له عذابه دخدائی اِنْ اَرَادَ که چرے اراده وکه خدائی بِکُمْ سُوْٓءًا
له تاسے سره د بدئ یعنی دهلاک یا دماتے اَوْ اَرَادَ یا اراده وکړی د ے بِکُمْ رَحْمَةً ط له تاسره درحمت یعنی
د نصرت او دغنیمت بلکه دضرر مانع کیدے شی او نهٔ دنفع وَلَا یَجِدُوْنَ لَهُمْ او نهٔ به مومی دوئی خپل ځان
لره مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائی وَلِیًّا نهٔ کوم دوست چه نفع ورته ورسوی وَّلَا نَصِیْرًا (۱۷) او نهٔ کومه مددګار
چه ضرر ترے دفع کا روایت دے چه یو سړے له دغه لښکر بیرته مدینے لره لاړ او هلته خپل
ورور ئے ولیده چه بے غمه ناست وو په انواع د نعمتو نو کښں نودهٔ ورته وویل چه تهٔ دلته ناست ئے
معاش کوے بے غمه او رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته د تورو او د نیزو په مینځ کښں ولاړ دے
او هغه ورته په جواب کښں وویل چه ته هم راځه دلته ما ځنه کینه او ګوره چه په منکرو دے یوه دا سے
عظیمه بلا راغلے ده چه به ترے نه یو هم خلاص نهٔ شی نو نازل شو قَدْ یَعْلَمُ اللّٰهُ په تحقیق پیژنی خدائے
الْمُعَوِّقِیْنَ مِنْكُمْ منع کونکی او حصارونکی د خلقو له نصرته د رسول صلی الله علیه وسلم ځنه له تاسو لی
تاسے وَالْقَآئِلِیْنَ لِاِخْوَانِهِمْ او پیژنی هغه ویونکی ورونړو خپلو ته هَلُمَّ اِلَیْنَا ج چه راځی مونږه
لره یعنی منافقان وائی مؤمنانو ته. وَلَا یَاْتُوْنَ الْبَاْسَ او بخیله هم نهٔ راځی جنګ لره اِلَّا قَلِیْلًا (۱۸) مګر کم
راتلل یا کم زمان یا کم جنګ هم هغه په ریا سره اَشِحَّةً عَلَیْكُمْ ج په دے حال چه بخیلان وی دوئی په تاسے په
معاونت او په نفقه کښں یعنی همیشه په دے ارمان کښں وی چه معاونت ورسره ونه کړی او چا ځهٔ ورنهٔ
کړے چه خوار و ذلیل شوے فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ پس په هغه وخت چه راشی ویره د دشمن رَاَیْتَهُمْ
نو وینے به تهٔ دوئی چه له ډیره هیبته او وارخطایئ یَنْظُرُوْنَ اِلَیْكَ کوری به دوئی تا ته تَدُوْرُ اَعْیُنُهُمْ
چا پیره به چورلی سترګے ددوئی یعنی کاتی ئے کَالَّذِیْ په مثل د هغه یُغْشٰی عَلَیْهِ چه لړزه او بے خودی
راوستے شوے وی په ده مِنَ الْمَوْتِ ج له سکراتو د مرګه یعنی دوی هم د هغه په شان هیبت زده او
وارخطاوی فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ پس بیا په هغه وخت چه لاړه شی دا ویره او راجمع کړے شی اموال

د غنیمت سَلَقُوْكُمْ نو ازار درکوی دوئ تاسے ته او سخت خبرے در ته کوی او سلق ژبان درازئ ته وائی
او دراز دستئ ته وائی په تیرہ ژبو بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ په ژبو تیرو سره اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ په دے حال چه بخیلان وی
په خیر یعنی په غنیمت چه په لاس لګولو ئے غواړی اُولٰٓئِكَ داکسان چه موصوف دی په دے صفاتو
لَمْ يُؤْمِنُوْا ایمان نهٔ دے راوړے دوئ په اخلاص دزړه سره فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ط پس باطل کړیدی
خدائ عملونه ددوئ چه په ریا سره ئے کړی دی خالی له صدقه وَكَانَ ذٰلِكَ او دی دا باطل کول د
عملونو عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ⑲ په خدائ اسان يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ ګمان کوی دا منافقان په دے لښکرو
دکفارو داسے چه لَمْ يَذْهَبُوْا ج نهٔ دی تللی دوئ بیرته مکے ته په ماتے بلکه هم هغسے لاچاپیره له مدینے
پراته دی او دا له ډیرے وارخطائ نو دوئ په دغه سبب په ماتے لاړه دلښکر له مینځه په مدینه ننواته
او په خپلو کورونو کښ کیناسته وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ او که چرے بیا راشی دا لښکرے په جنګ دویم کرت
يَوَدُّوْا نو دوست به ګنړی دوئ او ارمان به کوی دوئ چه لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ کاشکے وے موږ صحرا نشین یعنی
بانډه چیان فِى الْاَعْرَابِ په اعرابو کښ یعنی بدو یانو کښ يَسْاَلُوْنَ چه له ورایه پوښتے کولے دوئ له
رهرویانو څخه عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ له اخبارو ستاسے وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ او که چرے دا کرت هم وے دوئ په تاسے
کښ او کوره نو ته نهٔ وے تختیدلی او جنګ بناشوے وے مَّا قٰتَلُوْٓا نو نهٔ به وو کړے دوئ جنګ
اِلَّا قَلِيْلًا ⑳ مګر لږ او هغه هم په ریا او له خوف دعار لَقَدْ كَانَ لَكُمْ هر اٰئینه په تحقیق دے تاسے
لره اے وارخطا ویریدونکو فِىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ په کار د رسول د خدائ کښ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ خصلت ښهٔ
مرغوب چه لائق ورسره داده چه اقتداء ورپسے وکړے شی په هر څهٔ کښ په عباداتو په معاملاتو
په ماکولاتو په مشروباتو په ملبوساتو په حرکاتو په سکناتو په الاتو د حرب په شجاعت په سخاوت په
صبر د محنتو نو په تحمل د سختیو کښ بلکه په ټولو افعالو اقوالو احوالو د دهٔ کښ ځکه چه دے محبوب وو
د رب نو هر څه ئے ښایسته وو او له جملہ نالایقو ئے داسے ساتلے وو چه په هیڅ باب کښ د طعن ځائ
پکښ نه وو او وانک لعلی خلق عظیم ۝ ئے شاهد دے نو ځکه اقتداء ده حسنه په ده پسے لِّمَنْ
كَانَ دپاره د هغه چا چه وی دے داسے چه يَرْجُوا اللّٰهَ امید لری له خدائ د لقاء د رضا د ثواب د نجات
وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ او د نعمتونو د ورستئ ورځے چه آخرت دے وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ㉑ او یادوی خدائ

دیرهم په خوله اوهم په زړه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه وسلم اصحاب خبر کړی وو
له جمع او له راتلو د احزاب یعنی اله وقوعه او ورته ئے ویلی ووچه اول کښ به په تاسے سختی ویره راشی
اوبیا به آخر کښ به نصرت او غلبه تاسے لره وی په دوی. نو ځکه وائی وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ
او هرکله چه ولیدے مؤمنانو لښکرے د کفارو قَالُوْا هٰذَا اما نو ووبل دوی چه دا هم هغه لښکرے دی وَعَدَنَا اللّٰهُ
چه وعده کړے وه له مونږه سره خدائ چه را به ئے ویلی ووچه ام حسبتم ان تدخلوا الجنة ولما یاتکم
مثل الذین خلوا من قبلهم الایة. وَرَسُوْلُهٗ او رسول د ده هم چه را به ئے ویلی ووچه سیشتد علیکم
الامر باجتماع الاحزاب علیکم والعاقبه لکم علیهم. وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ او رښتیا ویلی و خدائ
او رسول د ده هم چه وعده کړے وه هغهٔ د ابتلاء او د جمع د احزاب وَمَا زَادَهُمْ او زیات نهٔ که دے
لید لود احزابو دغه مؤمنانو لره اِلَّآ اِيْمَانًا مګر په ایمان کښ په سبب د صدق د وعدے وَّتَسْلِيْمًا ﴿۲۲﴾ او
ګردن ایښودل امر د رسول صلے الله علیه وسلم ته روایت دے چه هرکله بعض اصحابو لکه حمزه او
مسعب او عثمان او طلحه او انس او د آ نورو عهد کړے وو له خدائ سره او نذر ئے ایخے وو چه که چرے
مونږه له رسول صلے الله علیه وسلم سره ملګری شو په جنګ کښ نو کلک به ولاړ او سو او په آرام به ونه کړو
ترڅو چه شهیدان شوی نهٔ یو. نو د دوی په مدح کښ نازل شو مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ بعضے له مؤمنانو
داسے سړی دی صَدَقُوْا ما چه رښتیا کړے دے دوی هغه کار مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ چه عهد کړے وو دوی له خدائ
سره عَلَيْهِ ج په هغه کار چه ثبات او استقامت وو په قتال کښ فَمِنْهُمْ مَّنْ پس بعض له دوی هغه څوک
دی قَضٰى نَحْبَهٗ چه ترسره ئے کړهٔ نذر خپل یعنی په جنګ کښ کلک ولاړ وو ترڅو چه شهید شه پکښ لکه
حمزه رض او مصعب رض او انس رض وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ ز او بعض له دوی هغه څوک دی چه منتظر دی ترسره کولو
ته ئے او لا ئے کړے نهٔ دے په سبب د تاخیر د اجل لکه عثمان رض او طلحه رض وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ او تغیر
ئے ورنهٔ کړهٔ عهد خپل لره په تغیر ورکولو سره په خلاف له حاله د منافقانو لِيَجْزِيَ اللّٰهُ د پاره د دے
چه جزا ورکړی خدائ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ رښتینو لره یعنی په عهد وفا کونکو لره په راستئ خپله یعنی په
پوره کولو د عهد خپل سره وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ او عذاب ورکه دے منافقانو لره اِنْ شَآءَ که اراده ئے

له معنی دا چه سخت به شی په تاسو بانددے اول کار د جنګ په سبب د جمع کیدو د لښکر د کفارو په تاسو او آخر به ئے تاسو لره
دے به هغوئ بانددے ۱۲ اللهم اغفر لکاتبه ۱۲ کتبه: محمد صادق ذهیر چیرهارے

وشی چه په نفاق ئے مرهٔ که اَوۡ یَتُوۡبَ عَلَیۡهِمۡ ط یا رجوع وکه دئے دوئ ته په توفیق ورکولو د توبے سره چه له نفاقه خپله تائبان شی بخواله موته اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ کَانَ غَفُوۡرًا دے بخښونکے د توبه کونکیو رَّحِیۡمًا (۲۴) مهربانه په دوئ **حکایت** دے چه په ایا مود مقدمے دخندق کښ یو شپه یو پهلوان د عرب چه عمرو بن ود وو اوله زرو سرو یو سره به یواځے جنګیدهٔ له خلوړ قوتنا کو سرو یو سره له خندق نه راودنګل او غږ ئے وکهٔ مؤمنانو ته چه څوک جنګ له راشئ نو دوئ له آوازه معلوم کړهٔ چه عمرو بن ود دے نو رسول صلے اللّٰه علیه وسلم غږ وکه چه مخے ته ئے څوک راباځئ نو یو سړے راپاڅیدهٔ او رسول صلے اللّٰه علیه وویل څوک ئے؟ دهٔ وویل علی رض یم . ورته ئے وویل ته ورځه په خپل ځائ بیرته کینه نو لاړه بیرته . بیا دویم غږ ئے وکه چه څوک راپاڅئ نو یو سړے راغے . نو دهٔ وویل څوک ئے؟ هغه وویل علی رض یم . نو بیا ئے بیرته کیناوو . او بیا دریم غږ ئے وکهٔ نو بیا یو سړے راغے ده وویل څوک ئے؟ هغه وویل علی یم . نو رسول صلے اللّٰه علیه وسلم پوهه شو چه بل هیڅوک ئے مخے له نه شی ورتلے نو ډیره دعا ئے ورته وکړه او خدائ ته ئے سوال اوکړو چه دا د خپل تره ځوئ رب په تا امانت کړه سلامت ئے بیرته راله راولے نو لاړ بیا چه عمرو له ورغے نو ستونه ئے یو بل ته سره ډیر وکړه دا ول ګذار کولو . خو آخر دا چه علی رض له مقرر شهٔ بیا چه دهٔ د ذوالفقار ګذار بربے وکړو په ملا . نو دوه ځایه وچاودهٔ او هغه نو ربیرته وتختید ل نو رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه وسلم وویل چه لمبارزة علیؓ یوم الخندق افضل من اعمال امتی الی یوم القیمة بیا نو خورئے هم په ویرده کښ بیتونه ویلی دی چه دادی . **رباعی**

لوان قاتل عمرٍ وغیر قاتلـه	لکنت ابکی علیه آخر الابـد
لکن قاتله من لا یعـاب بـه	من کان یدعی قدیما بیضة البلد

وَ رَدَّ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا او بیرته وشړل خدائ له مدینے هغه کسان چه کافر وو یعنے هغه لښکر د احزاب چه دولس زره کسان راغلی وو دپاره د جنګ هغه ئے بیرته وزغلول چه په ملاتے لاړل هوړل بے جنګه پس له دے چه یوه میاشت پراته وو بِغَیۡظِهِمۡ سره له قهره خپله هم هغسے دک ځړ ونه بیرته لاړل ځکه چه لَمۡ یَنَالُوۡا خَیۡرًا ط بیا نه موند دوئ خیر یعنی لاس برے په مؤمنانو وَکَفَی اللّٰهُ او بس شهٔ

عه یعنی خاځا ثواب د جنګ د علی رض په ورځ د خندق ډیر دے له ثوابه دعملونو دامت ځما نه تر ورځے د قیامت پورے ۱۲

خدائ یعنی کفایت ئې وکړه **الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ** مؤمنانو لره په حق د جنګ کښې په باد صبا او په
ملائکو سره لکه چه قصه ئې تېره شوه اوس مفصل بیان شوے ده وَ **كَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا** او دے خدائ ښتن
د ډیر قوت هم څه چه خواهش ئې وشي هغه کولے شي **عَزِيْزًا** ﴿۲۵﴾ غالب په هر چا **روایت دے**
چه هر کله لښکرے د احزابو له مدینے چاپېره شوے نو د بني قریظه وَدا ګمان وشه چه اسلام اوس
بیخکن شه نو عهد ئې مات کړو او د قریشو مل کرتیا ئې وکړه بیا چه احزاب د شپے په ماتے لاړه و تختید ل
او مؤمنان خپلو کورونو له راغله او وسلے ئې کیخودے ناګاه جبریل علیه السلام راغے په حیزوم سور او هم
په دهٔ او هم ئې په حیزوم ئې ګرد پروت وو نو رسول صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه دا دخه ګرد
دے نو هغه وویل چه دا د قریشو د زغلو لوړے بیا جبریل علیه السلام ورته وویل چه ته ځو زغره و باسے او
ملائکو لا وسلے نهٔ دی ایښے او نه خدائ مامور کړے ئې په تګ بني قریظه وَ ته او زهٔ خو دغه د ے
لا ړم او تاسے راپسے راځئ خدائ ویلی دی چه بني قریظه به تاسے وټکوم لکه ټکول د هګئ په تیږه نو
غږ ئې وکړو په اصحابو چه مونځ د ماز دیګر بل ځائ مهٔ کوئ غیر له بني قریظه نو راغلهٔ او ترے چاپېره
شوا و پنځویشت ورځے ئې حصار کړهٔ نو ډیر تنګ شو بیا رسول صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه راکوز شئ
د سعد بن معاذ رض په حکم . نو راضی شوا و راکوز شو نو سعد حکم وکهٔ په قتل د جنګیالو او په بند د ښځو
او د هلکانو. نو رسول صلی الله علیه وسلم وویل - الله اکبر هغه حکم دِ وکړو چه اوو اسمانو نو د پاسه ښکلے
دے خدائ نو د مدینے په بازار ئې خندق وویست او د اته یا د نهه سوه مقاتلانو ګردنونه ئې ووهل
او په هغه خندق کښې ئې وغورځول او اوه ښځے او هلکان ئې بندیان راوستل لکه چه وائي **وَاَنْزَلَ**
الَّذِيْنَ او راکوز کړهٔ خدائ په قهر او غلبے خپلے سره هغه کسان **ظَاهَرُوْهُمْ** چه هم پشت شو د احزابو
او مددګاری ئې ورسره وکړه **مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ** له اهل کتابو چه بني قریظه وو **مِنْ صَيَاصِيْهِمْ** له قلعه کانو
خپلو **وَقَذَفَ** او وغورځوله خدائ **فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ** په زړونو د دوئ کښې ویره له رسول صلی الله علیه
وسلم او له لښکرو **فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ** چه یوه فرقه ترے ووژله تاسے چه نهه سوه مقاتلان وو. **وَ**
تَاْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ﴿۲۶﴾ او بندی کوله او مریونه کوله تاسے بله فرقه چه اوه سوه ښځے او هلکان وو. **وَ**
اَوْرَثَكُمْ او میراث ئې در کړهٔ تاسے ته **اَرْضَهُمْ** زمکه د دوئ یعنے کښت زاری او باغونه **وَدِيَارَهُمْ** او قلاګانے

او مینے او بنگلے ددوئ وَ اَمْوَالَهُمْ او مالونه ددوئ یعنی نقود او مواشی او نورلوکل اسبابونه د کور نــو
روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زمکے ددوئ یوازے مهاجرینوله ورکړے غیر لــه
انصار و او ورته ئے وویل چه تاسے مینے لرئ او دوئ نهٔ لری وَ اَرْضًا لَّمْ تَطَـُٔوْهَا او بل میراث ئے درکړ
هغه زمکه چه نهٔ وه پائمال کړے تاسے یعنی الکه خیبر یا فارس او روم یا تمام روئ زمین چه اهل اسلام
ئے نیسی تر قیامته وَكَانَ اللّٰهُ اوده خدائ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرًا ﴿۲۷﴾ په هر څیز قادر نو په دے هم قادر دے
روایت دے چه په نهم کال له هجرت نه حرمه د رسول صلی الله علیه وسلم د و تولے ورته راجمع
شوے او خوراك او جامــه ئے له دهٔ وغوښته زیات له مقدوره ددهٔ نو طبیعت ئے په دے ډیر ملال
شهٔ او سوګند ئے وکړهٔ چه یوه میاشت به له دوئ سره اختلاط ونهٔ کړم او لاړه په مسجد کښ دیره
۲۹ شهٔ بیا چه نهه ویشت ورځے تیرے شوے نو نازل شهٔ یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبره قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ ووایه
بنځو خپلو ته د اسے چه اِنْ كُنْتُنَّ که چرے یئ تاسے تُرِدْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا چه غواړئ تاسے هم دغه ورکړے
ژوندون یعنی معاش ددهٔ وَ زِیْنَتَهَا او ښائست ددهٔ یعنی ډیر کانړه او قیمت بها جامے او نوره فراخی
دمال فَتَعَالَیْنَ اُمَتِّعْكُنَّ پس راځئ تولے چه درکړم متعه د طلاق وَ اُسَرِّحْكُنَّ او بیا خوشے کړم تاسے
یعنی طلاق درکړم سَرَاحًا جَمِیْلًا ﴿۲۸﴾ خوشے کول په ښهٔ وجه سره یعنی په رغبت نهٔ په کراهت وَ
اِنْ كُنْتُنَّ او که چرے یئ تاسے تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ چه اراده لرئ یعنے غواړئ تاسے خدائ او رسول
ددهٔ یعنی رضا ددوئ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ او نعمتونه دهغه جهان فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ اَعَدَّ
لِلْمُحْسِنٰتِ تیار کړے دے دپاره دنیکوکارو بنځو مِنْكُنَّ له تاسے څخه اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۲۹﴾ اجر لوئ چه جنت
دے بیا نو رسول صلے الله علیه وسلم کورته راغے او اول ئے عائشه وپوښتیده او دا دواړه ایتونه ئے ورته
تیر کـړهٔ او چاویلی دی چه داسے ئے هم ورته وویل چه یخواله پوښتنے له مور او پلار د جواب راله
مهٔ کوه نو دے وویل چه دے کښ د مور و پلار پوښتنے ته څهٔ حاجت دے ما خدائ او رسول
صلی الله علیه وسلم او هغه جهان اختیار کړے او غوره کړے دے او د لته هیڅ نهٔ غواړم
او بیا نورو همدا سے وویل لکه چه دے ویلی وو یٰنِسَآءَ النَّبِیِّ اے بنځو د پیغمبر صلے الله علیه وسلم
مَنْ یَّاْتِ مِنْكُنَّ هر څوك چه راتلهٔ وکاله تاسے بِفَاحِشَةٍ مُّبَیِّنَةٍ په داسے بد کار چه ښکاره وی بدی

ئے يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ نو دوچند به کړے شی هغې له عذاب ضِعْفَيْنِ ط دوه حصے دهغه عذاب چه نورو ښځولره دوئی حُکه چه د نورو ښځو قبیح د دوئی په حق کښ اَقبح دے نو زیادت دقبح موجب دے د زیادت دعذاب وَكَانَ ذٰلِكَ او دے دا تضعیف دعذاب په دوئی عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾ په خدائی آسان

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ او هرڅوك چه مَدَا و مت په طاعت له تاسے او فرمانبرداری کوی لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ خدائی لره او رسول ددهٔ لره وَتَعْمَلْ صَالِحًا او عمل کوی د نیکو نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ نو ورېه کړو مونږه هغې لره اجر دهغې دوه کرته یعنې دیلے ښځے په دوچند یوکرت په طاعت دخدائی او یوکرت په طلب د رضا د رسول صلی الله علیه وسلم په قیامت او په ښهٔ معامله سره وَاَعْتَدْنَا لَهَا او تیار به کړو مونږه دے له رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾ روزی ډیره ښه تیرے له اجره يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ اے ښځو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ نهٔ یئ تاسے لکه یوه بله ښځه مِنَ النِّسَآءِ له ښځو دامت حُکه چه تاسے لره په سبب د مصاحبت د رسول صلی الله علیه وسلم ډیر لوئی فضیلت دے په نورو ښځو اِنِ اتَّقَيْتُنَّ نو کهٔ چرے پرهیزګاری کوله تاسے او ویریدئ له مخالفت د خدائی او د رسول صلی الله علیه وسلم فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ پس نرمی او تواضع مهٔ کوئی له کوم بیګانه سری سره نو په نرمیٔ سره ژبه ورسره خطاب مهٔ کوئی فَيَطْمَعَ الَّذِيْ پس کهٔ نرمه خبره تاسے وکړه نو په طمع کښ به پریوځی هغه څوك فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ چه په زړهٔ ددهٔ کښ رنځ دے د نفاق یا د فجور وَّقُلْنَ او وائی ورته قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ خبره ښه لیکن زیګه چه موجبه د فتنے نهٔ شی وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ او قرار او آرام ونیسئ په کورونو خپلو کښ- او دا په اصل کښ اِقْرَرْنَ دے وروستئ رَ حذف شوه دپاره د تخفیف او فتحه دَ قَ له لاره او همزه ولویده نو قَرْنَ شهٔ وَلَا تَبَرَّجْنَ او مهٔ کوئی تګ په نخره یا مهٔ ښکاره کوئی زینت خپل بیګانه سړیو ته تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى په مثل د نخرے یا د اظهار د ښځو د جاهلیت قدیمه او جاهلیت قدیمه په مابین د آدم او د نوح علیهما السلام ده یا زمانه د ولادت د ابراهیم علیه السلام ده یا زمانه د داود او سلیمان علیهما السلام ده چه ښځے به ئے په ډیر واعلیٰ قیمت بهاجامو او کانرو سره راووتے لارے ته د پاره د ښود نے بیګانه سړیو ته او جاهلیت حدیثه د عیسیٰ او محمد صلی الله علیهما السلام په مابین کښ دے او چا ویلی دی چه جاهلیت اولیٰ د کفر دے او اُخریٰ د

اسلام دے یعنی د فسق او د فجور په اسلام کښی وَ اَقِمْنَ الصَّلٰوۃَ او برپا ئ لرئ مونځ خپل چه بیخ د
عبادات بدنیو دے وَ اٰتِیْنَ الزَّکٰوۃَ او ورکوئ زکوٰۃ چه بیخ د عبادا تو مالیو دے وَ اَطِعْنَ اللّٰہَ او فرمان ومنئ د
خدائ پیفرا ئضو کښی وَرَسُوْلَہٗ ط او د رسول دهٔ په سنتو کښی اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰہُ بیشکه همدا خبره ده چه اراده لری
خدائ لِیُذْهِبَ عَنْکُمُ الرِّجْسَ دے چه لرے کالة تاسے گناه اَهْلَ الْبَیْتِ اے خیلخانے د رسول صلے اللّٰہ علیه
وسلم وَیُطَهِّرَکُمْ او پاک کرے دے تاسے له پلیتئ دگناهو نو تَطْهِیْرًا ﴿۳۳﴾ په پاکو لو سره وَاذْکُرْنَ مَا او یادوئ
اے بیبیانو د رسول صلے اللّٰہ علیه وسلم هغه یُتْلٰی فِیْ بُیُوْتِکُنَّ چه لوستے کیږی په کورونو ستاسے کښی
مِنْ اٰیٰتِ اللّٰہِ له اٰیتونو د خدائ یعنی قرآن وَالْحِکْمَۃِ ط او له حکمت یعنی له خبرو د رسول صلی اللّٰہ علیه
وسلم چه سر ترسره حکمت دے اِنَّ اللّٰہَ بیشکه چه خدائ کَانَ لَطِیْفًا دے مهربان په تاسے
خَبِیْرًا ﴿۳۴﴾ ع خبردار په افعالو اقوالو ستاسے **روایت دے** چه هر کله دا ایتونه په حق د بیبیانو د رسول ع ۲
صلی اللّٰہ علیه وسلم کښی راغلهٔ نو نورو ښځو د مؤمنانو وویل چه څمونږه په باب کښی هیڅ هم څـهٔ
رانغلهٔ په قرآن کښی نو نازل شهٔ اِنَّ الْمُسْلِمِیْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ بیشکه سری گردن نهاده او ښځے گردن
نهادے چه دی وَالْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ او باور کونکی سری او ښځے چه دی وَالْقٰنِتِیْنَ وَالْقٰنِتٰتِ
او فرمانبردار سری او ښځے چه دی وَالصّٰدِقِیْنَ وَالصّٰدِقٰتِ او رښتینی سری او ښځے چه دی په ایمان
په قول په فعل کښی وَالصّٰبِرِیْنَ وَالصّٰبِرٰتِ او صبر کونکی سری او ښځے چه دی په طاعت یا له معصیت
وَالْخٰشِعِیْنَ وَالْخٰشِعٰتِ او ویریدونکی او تواضع کونکی سری او ښځے چه دی هم په زړهٔ هم په
جوارحو وَالْمُتَصَدِّقِیْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ او صدقه کونکی یعنی زکوٰۃ او خیرات ورکونکی سری
او ښځے چه دی په لاره د خدائ کښی وَالصَّآئِمِیْنَ وَالصّٰئِمٰتِ او روژه نیونکی سری او ښځے
چه دی وَالْحٰفِظِیْنَ فُرُوْجَهُمْ او ساتونکی سری چه دی عورتونو خپلو لره وَالْحٰفِظٰتِ او ساتونکی
ښځے چه دی وَالذّٰکِرِیْنَ اللّٰہَ کَثِیْرًا او ډیر یادونکی د خدائ سری چه دی وَالذّٰکِرٰتِ لا او ډیرے
یادونکے ښځے چه دی هم په زړهٔ او هم په خوله او دا بیرنه مذکورلس واړه اسما دی د اِنَّ په طریقه
د عطف سره او خبرئے دا جمله ده چه اَعَدَّ اللّٰہُ تیار کړی دی خدائ لَهُمْ مَّغْفِرَۃً دوئ لره
بخشش دگناهو نو وَّ اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۳۵﴾ او اجر لوئ زیات له طاعت د دوئ **روایت دے**

چه کله زینب بنت جحش چه لور وه دترور د رسول صلی الله علیه وسلم یعنی د امیمه بنت عبد المطلب
هغه رسول صلی الله علیه وسلم وغوښته د زید بن حارثه دپاره چه آزاد کړده وو د رسول صلی الله علیه وسلم او بیا
ئے په خوئی نیولے وو نو دے او ورورئے چه عبد الله نوم وو دوارو دا سے ګمان وکړو چه دے خپل ځان له
غواړی نو دواړه راضی شو بیا چه خبر شو چه د زید دپاره ئے غواړی نو زینب منع وکړه چه آزاد به ولے کومه
او ورورئے هم منع وکړه نو نازل شو. وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ او نهٔ دی روا هیڅ مؤمن لره یعنی عبد الله بن جحش
لره وَلَا مُؤْمِنَةٍ او نه هیڅ مومنے ښځے لره یعنی زینب بنت جحش لره اِذَا قَضَى اللّٰهُ په هغه وخت چه حکم وکړه
خدائ وَرَسُوْلُهٗ اَمْرًا او رسول دده په یو کار کښی یعنی په نکاح د زینب کښی له زید سره او د لته مطلب
حکم د رسول صلی الله علیه وسلم دے او ذکر د خدای دپاره د تعظیم دے او بل یکښی اشارت دے
دے ته چه حکم د رسول صلی الله علیه وسلم عین حکم د خدائ دے. اَنْ يَّكُوْنَ دا چه وی لَهُمُ الْخِيَرَةُ
دوئ لره اختیار پس له حکم د رسول صلی الله علیه وسلم نه مِنْ اَمْرِهِمْ له کاره خپله د هیڅ بلکه واجب ده
په دوئ دا خبره چه اختیار خپل د تابع که د اختیار د خدائ او د رسول صلی الله علیه وسلم وَمَنْ يَّعْصِ
اللّٰهَ او هر څوک چه بے فرمانی وکه له خدائ چه حکم ئے قبول نه کا وَرَسُوْلَهٗ او له حکم د رسول دده هم
فَقَدْ ضَلَّ پس په تحقیق ګمراه شو ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴿۳۶﴾ په ګمراهی ښکاره سره وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِىْٓ او یاد که
هغه چه وویل تا هغه چا ته اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ چه انعام کړے دے خدائ په هغه په پیرزو کولو د اسلام سره
وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ او انعام کړے تا هم پرے په آزادولو او په خوئی نیولو سره چه هغه زید بن حارثه دے. اَمْسِكْ
عَلَيْكَ چه وساته ځان له زَوْجَكَ ښځه خپله چه زینب بنت جحش ده روایت دے چه یوه ورځ
رسول صلی الله علیه وسلم زینب ولیده پس له نکاح د زید. نو په زړهٔ کښی ئے مرغوبه راغله او وے
ویل چه سبحٰن الله مقلب القلوب. او دا تسبیح زینب واوریده نو زید ته ئے حال و وایهٔ او په زیرکئ
سره په مطلب پوهه شوه او دده زړهٔ ترے خدائ تور کړو له جهته د رسول صلی الله علیه وسلم زید ورته
وویل چه زهٔ خو دا خپله ښځه پریږدم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه دا ولے ؟
څهٔ دِ ترے لیدلی دی دهٔ وویل والله ما ترے نه دی لیدلے مګر خیر. لیکن دا قریشه ده له بنی هاشمو

عه پاکی ده خدائ لره چه ګرځونکے د زړونو دے ۱۲

او زهٔ آزاد کړده یم نو ډیره رابانده ے درنه ده نوځکه ده ورته وویل چه وساته ښځه دِ او مهٔ ئے طلاقوه ۔
وَاتَّقِ اللّٰهَ او ویریږه له خدائ او بے سببه طلاق مهٔ ورکوه وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ او حال دا چه پټوله تا په
زړه خپل کښ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ هغه خبره چه خدائ ښکاره کونکے وو د هغے او هغه دا وه چه کهٔ زید طلاقه
کړه نو زه به ئے په نکاح واخلم وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ او ویریدے ته له خلقو چه وائی به محمد صلی الله علیه وسلم
خپله نږور په نکاح کړه وَاللّٰهُ اَحَقُّ او خدائ ډیر لائق دے اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ دد ے چه ویریږے ته له دهٔ
په هر هغه څیز کښ چه ویره بانده وی فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ پس هر کله چه ترسره کړو زید مِّنْهَا وَطَرًا له هغے
حاجت خپل یعنی چه نور مطلب ئے ورپورے پاتے نهٔ شی او طلاقه ئے کړه او عدت ئے تیر شهٔ نو
روایت دے چه رسول صلی الله علیه وسلم زید ته وویل چه له تا بل هیڅوک ځان خپل ته نزدے نهٔ
وینم نو هم ته نهٔ دے ته لاړ شه او ځما پیغام زینب لره یوسه نو زید راغے او زینب ته ئے وویل چه
زیرے م درباندے چه رسول صلی الله علیه وسلم دِ خپل ځان له غواړی نو دا ډیره خوشحاله شوه او په
نکاح ئے کړه لکه چه وائی زَوَّجْنٰكَهَا نو په نکاح کړه مونږه تا ته دا زینب لِكَيْ لَا يَكُوْنَ دپاره دد ے چه نهٔ وی
تر قیامته عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ په مؤمنانو سختی او وبال فِيْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ په نکاح کولو د ښځو د ادعیاؤ
خپلو اِذَا قَضَوْا په هغه وخت چه ترسره که دا ادعیاء مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ له دغه ښځو خپل حاجت یعنی چه
طلاقه ئے کړی وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ او دے هر مقرر د خدائ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾ کیدونکے چار لاچار مَا كَانَ عَلَى
النَّبِيِّ نشته په پیغمبر مِنْ حَرَجٍ هیڅ قدر سختی یا وبال فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ په هغه کار کښ چه مقرر
کړے وی خدائ دهٔ لره چه هغه نکاح دے د زینب او معلوم شمارد ے د منکوحاتو او د اطریقه خاص یوازے
په دهٔ پورے نهٔ ده سُنَّةَ اللّٰهِ دا یوه پخوانئ تړلے لار ده د خدائ فِي الَّذِيْنَ په حق د هغه پیغمبرانو کښ
خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ؕ چه تیر شوی دی پخوا له محمد صلی الله علیه وسلم نه یعنی په هغوئ به ئے هم هیڅ قدر
سختی نهٔ ایخوده په هر هغه څیز کښ چه دوئ ته به ئے مباح کړے وو لکه چه لکه چه دد داود علیه
السلام سل اصیلے او درے سوه سریتے وے وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ او دے مقرر د خدائ قَدَرًا
مَّقْدُوْرَا ۨ ﴿۳۸﴾ یو حکم مقرر شوے په قطع او په جزم سره اَلَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ هغه پیغمبران چه رسوی
دوئ او دا بدل دے د هغه تیر الذین څخه رِسٰلٰتِ اللّٰهِ پیغامونه د خدائ خپلو امتیانو ته وَيَخْشَوْنَهٗ

او ویریږی له ده وَلَا یَخْشَوْنَ اَحَدًا او نه ویریږی دوی له بل هیچا اِلَّا اللّٰهَ ؕ مګر یوا ځې لـه خدائ
وَكَفٰى بِاللّٰهِ او بس دے خدائ حَسِیْبًا ﴿۳۹﴾ حساب کونکے له بندګانو سره او یا دے ساتونکے د اعمالو ددوئ
روایت دے چه پس له نکاح د زینب معاندانو طعنې برپا ئې کړے چه ګوری د اسرے چه نوړ وته
وائی چه نکاح د ښځې دځوئ سره حرامه ده او پخپله ئې دځوئ ښځه په نکاح کړه ځکه چه زید ؓ
په ځوئ نیولے وو. نو نازل شه مَا كَانَ مُحَمَّدٌ نه دے محمد صلے اللّٰه علیه وسلم اَبَآ اَحَدٍ پـلار
حقیقی دهیچا مِّنْ رِّجَالِكُمْ له سړیو ستاسے نو د زید هم حقیقی پلار خو نه دے نو باك نشته
په نکاح د ښځې دهغه کښې وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ او لیکن رالیږلے شوے دے د خدائ خلقو ته وَخَاتَمَ
النَّبِیّٖنَ ؕ او مهر دے د پیغمبرانو یعنی لکه چه مهر وهلے شی نو بنګل بس شی همدا اسے چه دے پیدا
شهٔ نو نبوت بس شهٔ یعنی پس له ده بیا پیغمبر نشته او هرچه عیسیٰ علیه السلام دے چه راکوزشی
نو هم دهٔ په دین به وی او هـم دهٔ دین به چلوی ځکه چه دے به هم یو سړے وی ددهٔ له
امته وَكَانَ اللّٰهُ او دے خدائ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۴۰﴾ په هر څیز اګاه چه یو ترے دا هم دے چه
نشته پیغمبر پس له دهٔ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اے هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دے اذْكُرُوا
اللّٰهَ یادوئ خدائ ذِكْرًا كَثِیْرًا ﴿۴۱﴾ په ډیر یادولو سره یعنې په اوقاتو کښې او په انواعو د یادګیرئ
سره لکه تقدیس او تحمید او تهلیل او تمجید شهٔ وَسَبِّحُوْهُ او تسبیح وائئ دهٔ یا مونځ ګذارئ ده لره
بُكْرَةً وَّاَصِیْلًا ﴿۴۲﴾ په اول د ورځې او په آخر د ورځې کښې او تخصیص ددے دواړو د یاره ددے دے
چه مقوله ده چه الوجود بین العدمین عدم. نو هر کله چه کهٔ غفلت موجود شهٔ په مابین ددوه وُ
اوقاتو د یادګیرئ کښې نو هغه به هم په عدم دغفلت حساب شی هُوَ الَّذِیْ دے هغه پروردګار
دے یُصَلِّیْ عَلَیْكُمْ چه درود لیږی په تاسے په وړ لو د رحمت سره وَمَلٰٓئِكَتُهٗ او ملائک ددهٔ درود
لیږی په تاسے د استغفار سره د پاره دګناهونو ستاسے او دا دواړه درود په تاسے وائی لِیُخْرِجَكُمْ
د پاره ددے چه وباسی خدائ تاسے مِّنَ الظُّلُمٰتِ له تاریکو دکفر او د معصیت اِلَى النُّوْرِ ؕ نور
د ایمان او د طاعت ته وَكَانَ او دے خدائ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَحِیْمًا ﴿۴۳﴾ په مؤمنانو مهربانه چه پخپله
هم رحمت پرے وروی او ملائک هم مامور ه کوی په طلب د استغفار د پاره ددوی تَحِیَّتُهُمْ پیشکشی د

دوئ چه ده له طرفه د خدائ یَوْمَ یَلْقَوْنَهٗ په هغه ورځ چه ملاقي شي دوئ له ده سره یعني په وخت
د مرګ یا د خروج له قبره یا د دخول په جنت کښ سَلٰمٌ ﷺ لفظ د سلام به وي چه اخبار کونکے دے په
سلامتئ سره له هر مکروه او له هره آفته وَاَعَدَّ لَهُمْ او تیار کړیدے ده دوئ لره اَجْرًا كَرِيْمًا (۴۴) اجر ډیر لوئ
چه جنت دے او انواع د نعمتونو دي يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبره اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ بیشکه مونږه لیږلے ئے ته
خلقو ته شَاهِدًا شاهد په هر هغه چا چه ته ورته لیږلے شوے ئے وَّمُبَشِّرًا او زیرے ورکونکے د جنت په
هر هغه چا چه تا ربنیئے بولی وَّنَذِيْرًا (۴۵) او ویرونکے له دوزخ هر هغه خوك چه دروغژن بولي تا
وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ او بلونکے د خلقو خدائ ته یعنے ده ده عبادت ته او اقرار ته په توحید بِاِذْنِهٖ په امرد
ده سره وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا (۴۶) او چراغ رڼا کونکے چه تاریکي د کفر بېرے وركه شوے ده او ګمراهانو پر لاره
موندلے ده لکه چه تیاره د شپے په چراغ ورکیږي او هرڅه پرے لیده شي وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ او زیرے
ورکړه په مومنانو بِاَنَّ لَهُمْ په دے چه دوئ لره مِّنَ اللّٰهِ له طرفه د خدائ فَضْلًا كَبِيْرًا (۴۷) فضل ډیر
لوئ زیاتي له اجره د دوئ چه هغه دید اردے وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ او فرمان مه منه د کافرانو وَ
الْمُنٰفِقِيْنَ او د منافقانو هم په هر هغه کار کښ چه مخالف دے له شریعته ستا وَدَعْ اَذٰىهُمْ او پریږده
ضرر رسول د دوئ ته یعني په اراده د انتقام اخستو کښ مه اوسه تر څو چه ماموره شوے نه ئے وَ
تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ او توکل وکړه په خدائ په دفع د شر د دوئ کښ. نو دے به دِ بس شي وَكَفٰى بِاللّٰهِ
او بس دے خدائ وَكِيْلًا (۴۸) کارسیارلے شوے او مهم ساز د هرچا يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اے مؤمنانو اِذَا
نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ په هغه وخت چه په نکاح واخستے تاسے مؤمنے ښځے ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ بیا طلاقے
کړئ تاسو دوئ مِنْ قَبْلِ اَنْ مخوا له هغه تَمَسُّوْهُنَّ چه مس کړی دی تاسے دوئ او امام اعظم
مراد له دے مس خلوت صحیحه هم وائی فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ پس نشته تاسو لره په دغه مطلقاتو مِنْ
عِدَّةٍ شمار د ورځو چه انتظار به کوی د امطلقات د پوره کید لو د هغو تَعْتَدُّوْنَهَا چه پوره کوئ به تاسو
شمار د هغو ورځو ځکه چه په دے صورت کښ له سره انتظار نشته ولے چه انتظار خو د پاره د معلومولو
د خلو د رحم سره او د لته خو له سره مس نه دے راغلی نو هغه نه حاجت پاتے نه شه او په نسبت د عدت
کښ رجالو ته اشارت د بی بی دے چه د احق د دوئ دے فَمَتِّعُوْهُنَّ پس برخوردارے کړئ تاسے دوئ

له په متعه سره ولے داهله که مهر مسمیٰ ورسره نهٔ وو او که چرے وو نو نصف دے د مسمیٰ او متعه مندوبه ده په نزد د امام اعظم رح او باقی بیان ئے په سورة بقره کښې تیر شوید دے وَسَرِّحُوْهُنَّ او ایله کړئ یعنی پریږدئ تاسے دوئ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۴۹﴾ په ښهٔ پریخودلو سره ځکه چه په تاسو خو ئے عدت نشته نو له خپله کوره ئے وباسئ او بند یوانلئ ئے مه ساتئ محض د پاره د ضرر رسولو يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبره اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ بیشکه مونږ چه یو حلالے کړی دی مونږه تا له څلور قسمه ښځے چه اول ترے اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْٓ هغه ښځے ستا دی اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ چه ورکړی دی تا مهرونه د هغو وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ او دویم ترے هغه ښځے دی چه مالک شوی دی د هغو ښی لاس ستا یعنی وینزے مِمَّآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ له هغو ښځو چه راګرځولی دی خدائی په تا یعنی چه ستا په برخه ئے کړی دی له غنیمته د مشرکانو چه صفیه رض او جویریه رض دی چه تا بیا دواړه آزادے کړے او بیا دِیه نکاح کړے وَبَنٰتِ عَمِّكَ او دریم ترے هغه ښځے دی چه وی دوئ لونړه د تره ستا وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ او بل لونړه د خویندو د پلار ستا له اولاده د عبد المطلب وَبَنٰتِ خَالِكَ او بل لونړه د ماما ستا وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ او بل لونړه د خویندو د مور ستا له اولاده د عبدِ مناف بیا د اڅلور واړه قسمه لونړه قید لری لکه چه وائی الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ ز لیکن هغه لونړه له دغو څلور واړه اقسامو چه هجرت ئے کړے دے له تا سره وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً او څلورم ترے هغه ښځه چه مومنه وی او حِل د دے بیا د وه قیده لری یو ترے دا چه اِنْ وَّهَبَتْ که هبه که دا ښځه یعنی وبخښی نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ ځان خپل پیغمبر صلے اللہ علیه وسلم ته بے مهره او بل ترے دا چه اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ که اراده وکړه پیغمبر صلے اللہ علیه وسلم اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ق د دے چه په نکاح واخلی د دے دغه ښځه او دا ځکه چه اراده د ده په منزله د قبول دے د دغه هبے نو په ده سره تمامے راځی او دا ښځے بیا څلور دی میمونه بنت حارث او زینب بنت حزیمه انصاریه، او ام شریک بن جابر او خوله بنت حکیم او نکاح په لفظ د هبے سره په نزد د امام اعظم رح د هر چا منعقد کیږی او هر چه مهر دے هغه خاص هم د دهٔ په حق کښې ساقط دے لکه چه وائی چه خالص کړے شوے دے دا حکم خَالِصَةً لَّكَ په خالص کولو یو ځے تا لره یعنی دا انعقاد د نکاح بے لزومه د مهر خاص تا له دے مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ط غیر له نورو مؤمنانو ځکه چه له هغو مهر به په هیڅ شان نهٔ ساقطیږی نه په ترك او نهٔ په نفی سره تنبیه

داخلو رقسمه ښځې چه بېرته ذکر شوے دی په څلور وارو کښې ورسره قید ذکر شوے دے اما په اولو دوو
کښې قید دافضیلت دے په یقین سره نه شرط د احلال ځکه چه فی الحال ورکول د مهر یا په نامه کول
ئے واجب نهٔ دی بلکه اولی دی همدا سے مالک کیدل د وینځے یوازے په غنیمت سره لازم نهٔ دی بلکه
اولی دی ځکه چه نور وجوه د مملوکیت هم د یردی لکه شرا و هبه او ارث او وصیت اشو او په دریم کښې
دوه احتماله دی یو دا چه دغه هم قید شی دافضیلت ځکه چه داخلو واړه طائفے بے هجرته له رسول
صلی الله علیه وسلم سره هم روادی او بل دا چه دغه شرط شی داحلال اما خاص هم ددهٔ په حق
کښې او په څلورم کښې دواړه قیدونه د شرط د احلال په یقین سره ځکه چه حل بے له هبه دد ے او
بے له اراد ے د نکاح کولو د هغهٔ له سره متصور نهٔ دی قَدْ عَلِمْنَا په تحقیق معلوم دی مونږ ته مَا
فَرَضْنَا عَلَیْهِمْ هغه شرائط د عقد چه فرض کړی دی مونږه په دوئی فِیْٓ اَزْوَاجِهِمْ په باب دنکاح د
ښځو د دوئی کښې یعنی شاهد ان او مهر او نفقه او وجوب د قسم او نکاح کول د څلور و اصیلو وَمَا مَلَکَتْ
اَیْمَانُهُمْ او په باب د ساتلو د وینځو د دوئی کښې یعنے ارتکاهی په دے باب کښې۔ او له قَدْ علمنا نه تر
ایمانهم پورے جمله معترضه ده چه په مینځ د احوالو د رسول صلے الله علیه وسلم کښې۔ او مونږه حلالے
کړے تا ته ښځے په مجرد هبه سره بے مهره لِکَیْلَا یَکُوْنَ د پاره د دے چه نهٔ وی عَلَیْکَ حَرَجٌ ط په تا هیڅ
سختی وَکَانَ اللهُ غَفُوْرًا او دے خدائی بخښونکے د هر هغه کار چه ځان ساتل ترے سخت وی رَّحِیْمًا ﴿۵۰﴾
مهربانه دے په بندګانو خپلو په توسع سره په هغه ځائی کښې چه ګمان د حرج وی تُرْجِیْ مَنْ بېرته کوے ته
له خپله ځانه هر هغه ښځه تَشَآءُ مِنْهُنَّ چه اراده وشی ستا له دے بیبیا نو خپلو څخه وَ تُؤْوِیْٓ اِلَیْکَ
او ځائے ورکوے او رانږدے کوے ځان ته مَنْ تَشَآءُ ط هر هغه ښځه چه اراده وشی ستا روایت
دے چه پس له نزول ددے ایت دهٔ ښځے له ځانه لرے کړے چه سودهؓ او جویریهؓ او صفیهؓ
او میمونهؓ او ام حبیبهؓ دی او څلورے ځان ته نږدے کړے چه عائشهؓ او حفصهؓ او ام سلمهؓ او زینبؓ
دی اما سره له رخصته هم دهٔ په رعایت د قسم کاووتر آخره عمره پورے غیر له سودےؓ چه هغې خپل نوبت
بی بی عائشےؓ له ورکړے وو او رسول صلے الله علیه وسلم ته ئے ویلی وو چه ما مه طلاقوه چه په
قیامت ستا په ښځو کښې حساب اوسم وَ مَنِ ابْتَغَیْتَ او هر یو چه بېرته طلب کوے ته فرش

خپل ته او صحبت ورسره کوے مِمَّنْ عَزَلْتَ له هغه چا چه لرے کړے وی تا له ځانه خپله فَلَا جُنَاحَ
عَلَيْكَ ط پس نشته هیڅ سختی او وبال په تا ذٰلِكَ دا بیرته طلب د منزوکو او ځان ته نزدے کول د لرے
کړیو چه دی اَدْنٰٓى اَنْ ډیر نزدے دی دے ته تَقَرَّ اَعْيُنُهُنَّ چه روښانے او یخے شی سترګے د دوئ وَلَا
يَحْزَنَّ او بل چه غمژنے نهٔ شی دوئ وَيَرْضَيْنَ او بل دا چه راضی شی دوئ بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ په هر هغه
څیز چه ورکوے ته دوئ له كُلُّهُنَّ ط ټولے له دوئ ځکه چه هر کله چه دوئ پوهے شوے په دے چه دا
ارجا او ایوا او تقریب او تبعید په فرمان د خدائ سره دی نو زړونه به ئے په ارام شی او خفګان به
ئے ورك شی او رضا به ئے حاصله شی او سترګے به ئے رڼړے او یخے شی وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او خدائ پوهیږی
مَا فِىْ قُلُوْبِكُمْ ط په هر هغه څیز چه په زړونو ستاسے کښی دی کهٔ رغبت وی او کهٔ کراهیت وَكَانَ اللّٰهُ
عَلِيْمًا او دے خدائ اګاه په احوالو د زړونو د بندګانو حَلِيْمًا ﴿٥١﴾ خښتن د حلم چه جلتی نه کوی په عقوبت
د مجرمانو لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ نهٔ دی حلالے تا لره ښځے مِنْۢ بَعْدُ پس له دغو نهو چه اوس دی په نکاح
کښی دی وَلَآ اَنْ او نه دا کار دهٔ له روا دے چه تَبَدَّلَ بِهِنَّ بدل کړے ته په دوئ مِنْ اَزْوَاجٍ له نورو
ښځو څخه یعنے چه یوه له دغو نهو طلاقه کړے او د هغے په ځائے بله په نکاح کړے وَّلَوْ اَعْجَبَكَ او اګر کهٔ
تعجب راولی تا لره حُسْنُهُنَّ ښائست د هغو نورو هم دله بدلول روا نه دی او چا ویلی دی چه
هغه د ښائست میرمن اسماء بنت عمیس وه ښځه د جعفرؓ بن ابی طالب او عائشهؓ او ام سلمهؓ وائی
چه نه دے وفات شوے رسول صلے الله علیه وسلم تر هغه پورے چه بیا ورته روا کړے دے خدائ
دا کار چه په نکاح کوی دِ له ښځو هر څوك چه اراده ئے وشی نو معلوم شهٔ چه دا ایت منسوخ شوید ے
یا په سنت سره او یا په ایت د انّا احللنالك سره او اګر کهٔ هغهٔ په قراءت کښی ترے مقدم دے اما
په نزول کښی مؤخر دے او روا نهٔ دی تا له نورے ښځے پس له دے نهو اِلَّا مَا مګر روا دی دهٔ له هغه
ښځے مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ط چه مالك شوی دی د هغو ښے لاس ستا یعنے وینزے وَكَانَ اللّٰهُ او دے خدائ
عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ رَّقِيْبًا ﴿٥٢﴾ په هر څیز باندے نګهبان روایت دے چه یو ټولے وو د سړیو ع

عه یعنی چه ویلی دی خدائ دا سے چه تُرْجِىْ مَنْ ۱۲ عه یعنی چه رب العلمین فرمایلی دی دا سے وَتُـْٔوِىْٓ اِلَيْكَ ۱۲
سه چه خدائ فرمایلی دی وَمَنِ ابْتَغَيْتَ ۱۲ صه چه خدای فرمایلی دی مِمَّنْ عَزَلْتَ ۱۲

چه بهرله دروازے د رسول صلی اللہ علیہ وسلم به ناسته وه منتظر بخلی دطعام ته بیا چه به ئې نوکے ولیدٌ
نو ورننه به واتهٔ بے بللو بے اذ نه او هلته به کیناست دپاره دخوراک نو دهغهٔ په منع کبن نازل شهٔ یٰاَیُّهَا
الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَدْخُلُوْا مهٔ ننوځئ بُیُوْتَ النَّبِیِّ په کورونو دپیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم اِلَّا اَنْ
مګر هغه وخت ننوځئ یُّؤْذَنَ لَکُمْ چه اذن وکړے شی تاسے ته د ننوتلو په بللو سره اِلٰی طَعَامٍ خوراک دطعام
غَیْرَ نٰظِرِیْنَ په داسے حال چه منتظر نهٔ اوسئ تاسے اِنٰىهُ لا پخلی یا وخت د دغه طعام ته او دا اِنَا مصدر دے له
باب دَاَنیٰ اِنًا. یعنی پس له دے منتظر مهٔ کینئ پخلی یا وخت دطعام ته په دروازه د رسول صلی اللہ علیہ وسلم
کبن او بے بللو مهٔ ننوځئ هم مه روایت دے چه هر کله رسول صلی اللہ علیہ وسلم زینبؓ په نکاح کړه او انسؓ ئے
ولیږلو چه خلق به ئے ډلے ډلے راوستل کوم ته طعام د ولیمے ته او بیا به تلل او له وروستی ډلے پس له خوراک نه
سرے لاړل او دریے تنه ترے په هغه ځائ پاتے شول او مجلس ئے بناکړو او زینبؓ هم په هغه کاله کبن ع دیوال ته
کړے حیرانه ناسته وه او خواهش د رسول صلی اللہ علیہ وسلم داوو چه دا سړی هم اوس لاړے اما له حیائے ورته
هیڅ نهٔ ویل نو دے ترے پاڅیدهٔ او په نورو حجرو خپلو وګرځیدهٔ چه کوندی دوئ هم پاخیږی بیا چه راغے دوئ لا
ناست وو نو بیا ئے کره ورته بیا چه دوئ په خاطر ملالئ ئے پوهه شو نو راو واتهٔ او نازل شهٔ وَلٰکِنْ اِذَا دُعِیْتُمْ
او لیکن په هغه وخت چه وبللے شئ تاسے فَادْخُلُوْا پس ننوځئ فَاِذَا طَعِمْتُمْ پس په هغه وخت چه
طعام وخورئ تاسے فَانْتَشِرُوْا پس تار په تار شئ او هلته نور مهٔ ډارمهٔ کوئ وَلَا مُسْتَاْنِسِیْنَ او مهٔ کینئ
هلته آرام کونکی لِحَدِیْثٍ ط دپاره دخبرے او دمجلس کولو د یوله بله سره اِنَّ ذٰلِکُمْ بیشکه دا مدارکول
ستاسے پس له خلاصید لو د خوراکه او دا کیناستل ستاسے دپاره د مجلس کَانَ یُؤْذِی النَّبِیَّ دے دا
کار داسے چه خفګان او ضرر رسوی پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم ته له جهته د دے چه تنګ شی دا
کور په دے کیناستلو ستاسے سره په تمامے خیلخانے یعنی هم په دهٔ او هم په عیال ئے فَیَسْتَحْیٖ مِنْکُمْ
پس حیا کوی دے له تاسے نو نه وائی درته چه پاځیږئ له کوره ووځئ وَاللّٰهُ لَا یَسْتَحْیٖ او خدائے حیا
نهٔ کوی مِنَ الْحَقِّ ط له ویلو دحق چه ویستل دی له کوره روایت دے چه په اول کبن دا بیبیا نے
له بیګانه سړیو نه، نهٔ پټیدلے نو یوه ورځ عمرؓ مسجد ته تیریده چه کاته ئے بیبیانے په مسجد
کبن ناستے وے له نورو ښځو سره ئے مجلس کولو نو دهٔ ورته وویل چه تاسو په نورو ښځو دا بهترے یئ لکه ښځت

ستاسے چه په نورو سړیو بهتر دے نو تاسے که بیرون نهٔ گرځید لے نو دا کار به ښهٔ وو او چا ویلی دی چه رسول صلے الله علیه وسلم ته ئے وویل چه هر نیک او فاسق او فاجر تا کره ننوځی نو کهٔ بیبیانے محجوبے شوے نو دا کار به غوره وو نو نازل شهٔ وَاِذَا او په هغه وخت سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا چه غواړئ تاسے اے مؤمنانو له دے بیبیانو د پیغمبر صلے الله علیه وسلم نه کوم اسباب د کالهٔ چه حاجت ذی ورته ستاسے فَسْئَلُوْهُنَّ پس غواړئ تاسے هغه اسباب له دوئ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ط را بیرته له پردے یعنی پس له دے ستاسے او د دوئ په مینځ کښ دِ پرده وی چه یو بل سره نهٔ وینی ذٰلِكُمْ دا غوښتل ستاسے چه دی د پردے د وړستو اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ ډیر پاك او پاك ساتونکی دی د زړهٔ نو ستاسے وَقُلُوْبِهِنَّ ط او د زړهٔ نو د دوئ له وسوسو د شیطان او له موجباتو د فتنے نه وَمَا كَانَ لَكُمْ او نهٔ دی روا تاسے لره اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ دا کار چه خفگان او ضرر ورسوئ تاسے رسول د خدائ صلے الله علیه وسلم ته یعنی چه داسے کار کوئ چه دے بد گنړی هغه روایت دے چه یو سړی له اصحابو وویل چه کهٔ رسول الله صلے الله علیه وسلم وفات شهٔ نو عائشه رضؓ به زهٔ په نکاح کړمه او د بل سړی هم داسے په زړهٔ کښ تیر شوی وو اما په خوله ئے نهٔ وو ویلی نو نازل شهٔ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا او بل نهٔ دے روا دا کار هم چه په نکاح واخلئ تاسے اَزْوَاجَهٗ بیبیانے د دهٔ مِنْۢ بَعْدِهٖٓ اَبَدًا ط پس له وفات یا طلاق د دهٔ هیچرے لیکن هغه چه دخول ئے ورسره کړے وی ځکه چه دوئ میندے دی ستاسے او مور په حوی حرامه ده اِنَّ ذٰلِكُمْ بیشکه اِذا رسول دهٔ ته او نکاح د ازواجو دهٔ چه دی كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ دے دا کار په نزد د خدائ عَظِيْمًا (۵۳) ډیره لویه گناه **فائده** په دے ایت کښ څلور څیزونه ذکر شوی دی دوه منع او دوه امره۔ منع د دخول د بیت ده بے اذنه۔ او امر په انتشار پس له طعام او بل امر په سوال من وراءِ حجاب او بل منع له نکاح د ازواجو د دهٔ اِنْ تُبْدُوْا شَيْئًا کهٔ چرے ښکاره کړئ تاسے کوم څیز او په خوله وایئ یعنی د بعض له امهات المؤمنین نه اَوْ تُخْفُوْهُ یا پټ وساتئ هغه څیز په خپل زړهٔ کښ او په خوله ئے ونهٔ وایئ له سره فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بیشکه چه خدائ دے بِكُلِّ شَيْءٍ

عه د ازواجو مطهراتو سره د نکاح حرامید ل مجملًا خو منصوص او اجماعی دی البته په بعضے تفصیلاتو کښ اختلاف دے امام الحرمین او رافعیؒ تحریم لره د مدخول بها سره ئے خاص ویلے دے او امام رازیؒ او امام غزالیؒ هغه ښځے لره حلال ویلی دی چه هغه د تخییر نه پس دنیا لره اختیار کړی۔ قاله العلامة النهاوندی فی تفسیره خو د دے مفسرد رابډش کلام نه داسے معلومیږی چه دوئ قول اول غوره کړے دے ۱۲

عَلِیْمًا (۵۴) په هر څیز خبردار نو جزا به درکړی دهریو روایت دے چه هرکله آیت دحجاب راغے نو پلرونو او وروڼړو او نورو اقاربو ددوئ وویل چه اے رسوله دخدائ مونږه به هم له دوئ سره پردے دوړ ستوخبرے کوونو نازل شۀ لَا جُنَاحَ عَلَیْهِنَّ اونۀ شته هیڅ وبال په دغه ښځو فِیْٓ اٰبَآئِهِنَّ په حق دپلرونو خپلوکښې وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ اونۀ په حق دځامنو خپلوکښې وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ اونۀ په حق دروڼړو خپلوکښې وَلَآ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ اونه په حق دوریرونو خپلوکښې وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ اونۀ په حق دخوریونو خپلوکښې دا ښځه طائفے له سرهٔ یو شوے وَلَا نِسَآئِهِنَّ اونه په حق د ښځو خپلوکښې او مراد ترے مؤمنان دی په دلیل د اضافت سره کلمے د هُنَّ ته او دا یوه طائفه شوه له ښځو وَلَا مَا مَلَکَتْ اَیْمَانُهُنَّ ج اونه په حق دهغه وینځوکښې چه مالکان شوی دی دهغو سره ددوئ او مریونه ددیو په نزد دجمهوړو د بیګانو په شان دی او دا هم یوه طائفه شوه له مملوکانو دا ټولے سره اوۀ طائفے شوے نوکۀ له دغو طائفو ځان نۀ پټوی نوګناه نۀشته په دے کښې او ترۀ او ماما ئے یاد نۀ کړۀ ځکه چه هغه دوا ړه په حکم د والدینوکښې دی بیا عدول ئے وکړۀ له غیبته خطاب ته د پاره د ډیر تشدید او تهویل او امرئے ورته وکړۀ چه وَاتَّقِیْنَ اللّٰهَ ط او ویریږئ اے ښځو له خدائ او له پردے مۀ ووځئ او یو هشئ چه اِنَّ اللّٰهَ کَانَ بیشکه خدائ دے عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ په هر څیز باندے شَهِیْدًا (۵۵) حاضر ګواه یعنی په اقوالو په افعالو په احوالو په ظاهر په باطن ستا سے یو رنګه خبردار دے نو هر وخت په ځان خپل فهمدار او څوکیدار اوسئ بیا هرکله چه له تیرو آیتونو لوئی او شرافت او تکریم د رسول صلی الله علیه وسلم معلومیدۀ اما ضمناً. اوس ئے تصریح پرے وکړه لکه وائی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے وَمَلٰٓئِکَتَهٗ او ملائک ددۀ چه دی یُصَلُّوْنَ عَلَی النَّبِیِّ ط درود وائی په پیغمبر د خدائ په انزال د رحمت سره په دۀ او ملائک په طلب د رحمت دۀ له او په اظهار د شرف او دبلند شانۀ سره او هرکله چه دے دا سے بلند شان دے نو یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو صَلُّوْا عَلَیْهِ درود وایئ تاسے هم په دۀ یعنی طلب د رحمت کوئ ورله له خدائ چه دا سے وایئ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا (۵۶) او سلام هم پرے وایئ په سلام ویلو سره یعنی وَسَلِّمْ عَلَیْهِ هم ورسره وایئ یا معنی داچه ګردن نهاده اوسئ امر ددۀ ته اِنَّ الَّذِیْنَ یُؤْذُوْنَ اللّٰهَ بیشکه هغه کسان چه ایذا

رسوی خدائ ته چه ولد او شریک ورله ثابتوی وَرَسُوْلَهٗ او ایذا رسوی رسول دده ته هم قولی
چه شاعر او ساحر او مجنون ئے بولی او هم فعلی چه غابښ او وچولے دده ماتوی لَعَنَهُمُ اللّٰهُ لرے کړیدی
خدائ له رحمته خپله فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ هم په دنیا او هم په آخرت کښ وَاَعَدَّ لَهُمْ او تیار کړے دے
دهٔ دوئ لره عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾ عذاب سپکونکے وَالَّذِيْنَ او هر چه هغه کسان دی يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ
چه ایذا رسوی دوئ مؤمنانو سړو ته وَالْمُؤْمِنٰتِ او مؤمنو ښځو ته لکه صفوان رض او عائشه رض او دا آسے
نور شوله پاکانو بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا په غیر له هغه کاره چه کړے وی دوئ یعني په ناکړی کار فَقَدِ احْتَمَلُوْا
بُهْتَانًا پس په تحقیق باروی دوئ په خپل ځان غټ دروغ وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾ او گناه ښکاره موجب
دعقوبت **روایت دے** چه په اوایلو داسلام کښ ښځے په هغه ځوانی علادت به کرځیدلے
په شان دوینځو په قمیص او څادرو کښ نو اکثر به د دوئ او د وینځو فرق سره نهٔ کیده او بدکارانو [وینځي او څادر ۱۲]
به د شپے په وینځو پسے ډیره سعی کوله په هغه وخت چه کله دوئ به دپاره دحاجت بیرون خرماګانو
یا کنډرو ته راووتے او له اصیلانو سره به ئے له سره غرض نهٔ کولو او ډیر کرت به اصیلے ته وړاندے
شو په دے گمان چه دا وینزه ده نو دپاره د دفع دګمان دمفسد انو نازل شه يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبره
قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ ووایه بیبیانو خپلو ته وَبَنٰتِكَ او لونړو خپلو ته وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ او ښځو د نورو
مؤمنانو ته هم يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ چه نزدے دِکار کوی او خواره دِ کا په ځانو نو خپلو مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ط
بعضے له پړونو او له څادرونو خپلو یعنی اکثر دِ له بدن نه چاپیره که او یو پیسکے دِ ترے په سر او مخ
واچوی چه پرے ممتازے شی له وینځو ذٰلِكَ اَدْنٰٓى دا پټول دبدن او د سر د مخ ډیر نزدے دی اَنْ يُّعْرَفْنَ
دے ته چه وپیژندلے شی دوئ په صلاحیت او په عفت سره یا په آزادئ سره یعنې چه دا اصیلانے دی
نو څنګ به ترے وکړی فَلَا يُؤْذَيْنَ ط پس ایذا ونهٔ رسولے شی دوئ ته له طرفه د بدکارانو په دے
گمان چه دا وینزے دی وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا او دے خدائ بخښونکے د ډیرو گناهونو که مخکښ څوک تورے
وباسی رَّحِيْمًا ﴿۵۹﴾ مهربانه چه لارے دخلاصی بندګانو ته بیانوی لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ قسم
دے که وانهٔ وختل دامنافقان له نفاقه خپله ځنے وَالَّذِيْنَ او وانهٔ وختل هغه کسان فِيْ
قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه په زړونو د دوئ کښ رنځ دے د بدکارئ او د میل زنا ته وَالْمُرْجِفُوْنَ او

وانهٔ وختهٔ لوا بدے آوازے کړونکی فِي الْمَدِيْنَةِ په ښار د مدینه کښې په باب د لښکر د اسلام کښې دا سے
چه آوازه کړه که چه لښکر د اسلام کفارو مات کهٔ یا ئے قتل که او کفار راغلهٔ یا دا سے نورے سپکے کوی
دوی د مؤمنانو لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ نو هرا ئینه وبه کماړو او مسلط به کړو مونږه خامخا په دوی او امر به درته وکړو
په قتل د دوی ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ نو بیا به همسایه توب و نهٔ که دوی ستا په دغه مدینه کښې اِلَّا
قَلِيْلًا ﴿٦٠﴾ مګر لږه موده یعنی بیا زر به له ښاره ووېستے شی مَلْعُوْنِيْنَ ۚ د تلی ترتلی اَيْنَمَا ثُقِفُوْا
هرچرته چه بیاموندے شی اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا نو و به نیولے شی او قتل به کړے شی تَقْتِيْلًا ﴿٦١﴾ په قتلولو
خوارئ سره سُنَّةَ اللّٰهِ د ایوه لاره ایخے ده خدائ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا په حق د هغه منافقانو او مرجفانو
کښې چه تیر شوی دی مِنْ قَبْلُ ۚ مخوا له دے تیرو اممو چه انبیاؤ د هغه وخت ته به حکم کیده د
قتل د هغوئ وَلَنْ تَجِدَ او نهٔ به مومے ته لِسُنَّةِ اللّٰهِ لارے د خدائ لره تَبْدِيْلًا ﴿٦٢﴾ بدلول او تغیر
ورکول يَسْئَلُكَ النَّاسُ پوښتنه کوی له تا خلق عَنِ السَّاعَةِ ۭ له احواله د قیامت چه به کله وی یعنی
مشرکان دِ پوښتی د پاره د مسخرے او جلتئ او یهود د پاره د ازمیښت ځکه چه تورات کښې ئے وخت
معلوم نهٔ وو قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا و وایه دوئ ته چه بیشکه همدا خبره ده چه پوهه په وخت د قیامت
چه ده عِنْدَ اللّٰهِ ۭ خاص خدائ څخه ده او بل هیچا ته ئے معلومه کړے نهٔ ده هیڅ ملک مقرب ته او نه
هیڅ نبی مرسل ته وَمَا يُدْرِيْكَ او کوم څیز اګاه کوی تا په وخت د قیامت یعنی ته مطلق پرے خبر
نهٔ ئے بیا نو ورته وایئ لَعَلَّ السَّاعَةَ ښائی چه قیام د قیامت تَكُوْنُ قَرِيْبًا ﴿٦٣﴾ وی نژدے او په دے
زجر او تهدید دے د پاره د جلت غوښتونکو او اسکات دے د پاره د ازمیښت کونکیو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
چه خدائ لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ رټلی دی او له رحمته خپله لرے کړی دی هغه کافران چه منکر دی له
بعثه وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ﴿٦٤﴾ او تیار کړے دے دوئ لره عذاب د هغه اور چه د پر تند دے خٰلِدِيْنَ
فِيْهَآ په دے حال چه همیشه به وی دوئ په دغه اور کښې اَبَدًا ۚ تل ترتله دا تاکید دے لَا يَجِدُوْنَ
وَلِيًّا نهٔ به مومی دوئ کوم دوست چه راوباسی دوئ له دغه دوزخ څخه وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٦٥﴾ او نهٔ کوم
مددګار چه عذاب ترے بیرته که يَوْمَ تُقَلَّبُ یاد که هغه ورځ چه و به چورلولے شی وُجُوْهُهُمْ فِي
النَّارِ مخونه د دوئ په اور کښې یعنی ټول ابدان د دوئ او ذکر د وجوه د پاره د دغه دے چه دے اشرف

د اعضاؤ دے یَقُوْلُوْنَ یٰلَیْتَنَآ وائی به دوئی اے افسوس دے موږه لره کاشکے اَطَعْنَا اللّٰهَ فرمان منلے وے موږه د خدائی وَ اَطَعْنَا الرَّسُوْلَا (۶۶) او بل چه فرمانبرداری کړے وے موږه د رسول صلی الله علیه وسلم چه له دے عذابه خلاص شوے وے وَقَالُوْا او بیا به وائی دوئی رَبَّنَآ اِنَّآ اے ربه څموږه بے شکه چه موږه اَطَعْنَا سَادَتَنَا فرمان منلے وو موږه د مشرانو خپلو وَکُبَرَآءَنَا او د غټانو پیشوایانو خپلو او تابع شوی وو موږه د دوئی فَاَضَلُّوْنَا السَّبِیْلَا (۶۷) پس ورکه کړه دوئی له موږه لار د حق او د دوزخ له ئے راوستو رَبَّنَآ اٰتِهِمْ اے ربه څموږه ورکړه دوئی لره په سبب د ګمراه کولو څموږه ضِعْفَیْنِ مِنَ الْعَذَابِ په دوچنده له عذابه ځکه چه دوئی هم پخپله ګمراه وو او هم ئے موږه ګمراها کړی وو. وَالْعَنْهُمْ او وَرَټه او لرے که دوئی له رحمته خپله لَعْنًا کَبِیْرًا (۶۸) په هغه رټلو سره چه ډیر لوئی وی روایت دے چه د زید رض او د زینب رض په باب کښ بعضے خلقو نالایقے خبرے کړے وے او د رسول صلے الله علیه وسلم خاطر مبارك د پرملال شوے وو او په صحیح بخاری کښ داسے وېلی دی چه رسول صلے الله علیه وسلم کوم غنیمت قسمت کړۀ نو یو سړی وویل چه دا قسمت خو خدائی نۀ وو نو دے په غضب شۀ بیا ئے وویل چه موسٰی علیه السلام ته له دے زیاته ایذا رسیدلے وه او صبرئے وکړۀ نو نازل شۀ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَکُوْنُوْا مۀ کیږئ تلسے کَالَّذِیْنَ په شان د هغه کسانو اٰذَوْا مُوْسٰی چه ایذائے رسولے وه موسٰی علیه السلام ته چه کوم ښځے ته ئے رشوت ورکړے وو چه موسٰی علیه السلام بانده دعوٰی د زنا وکړه. لکه چه دا بیان مفصل تیر دے په قصه د قارون کښ. یا چه دے او هارون علیهما السلام کوه طور له تللے وو او هارون علیه السلام هلته وفات شه او دوئی موسٰی علیه السلام ته وویل چه دے تا وژلے دے نو هغه خدائی بیا ژوندے کۀ او په پاکئ دۀ ګویان یا چه موسٰی علیه السلام به له ډیرے حیا ځان پټ ساتۀ نو دوئی وویل چه دۀ په بدن کښ عیب دے ځکه ئے پټ ساتی ناګاه یوه ورځ د غسل اراده ئے وکړه نو جامے ئے په یوه تیږه کیخودے او تیږےع په خلقو منډے کړے او دۀ ورپسے منډے وهلے او وویل چه ثوبی حجر ثوبی حجر بیا چه بربنډ ورغے خلقو

ع یعنی جامے ځما راکه اے تیږے ۱۲

لره او دوئ ولیدهٔ چه ډیر خوبصورت وو نو تیر ه ودریده او جامے ئے ترے واخستے لکه چه وائی فَبَرَّاَهُ
اللّٰهُ پس پاک کړهٔ دے خدائ مِمَّا قَالُوْا ط له هغه دروغو چه دوئ پرے ویل لکه چه رسول صلے الله علیه
وسلم ئے پاک کړو په دے ایت سره چه ماکان محمد ابا احد من رجالکم - وَ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ او وو داموسیٰ
علیه السلام په نزد دخدائ وَجِيْهًا ﴿۶۹﴾ ط معزز کران مستجاب الدعوات - يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا
اللّٰهَ اے مؤمنانو وویریږئ له خدائ وَقُوْلُوْا او وایئ قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿۷۰﴾ لا خبره محکمه او رستیا. نهٔ
متزلزله او دروغ لکه قصه دافک دعائشے رض او قصه د زینب رض او چا ویلی دی چه قول سدید
کلمه د لا اله الا الله ده یا هغه قول دے چه خدائ پرے راضی کیږی يُّصْلِحْ لَكُمْ چه صالح او
نیک کهٔ خدائ تاسے لره اَعْمَالَكُمْ عملونه ستاسے او ثواب او خپله رضا پرے مرتبه که وَيَغْفِرْ لَكُمْ
او وبخښی دے تاسے ته ذُنُوْبَكُمْ ط گناهونه ستاسے وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ او هر چا چه فرمان ومانهٔ دخدائے
وَرَسُوْلَهٗ او درسول دهٔ په هر باب کښ نو فَقَدْ فَازَ پس تحقیق بریالے شهٔ هغه فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۷۱﴾
په بری لوئے سره یعنی ورسیدهٔ منتهٰی د مقصود خپل ته چه جنت او دیدار دے اِنَّا بیشکه موږ
چه عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ عرض کړه موږ امانت چه طاعت دے حُمونږه یا حدود دی دشرع یا پنځه
بناده یا هر هغه کردار او گفتار دے چه په کولو ئے ثواب او رضا مرتبه کیږی او په ترک ئے عقاب او
غضب عَلَى السَّمٰوٰتِ په اسمانونو وَالْاَرْضِ او په زمکه وَالْجِبَالِ او په غرونو پس له پیدا کولو دفهم
او دنطق په دوئ کښ فَاَبَيْنَ پس اِبا او کړه دے درے وارو سره له دا سے قوته د دینیته اَنْ يَّحْمِلْنَهَا
له دے چه واخلی دوئ دا بار دامانت په سر او په ځان ئے قبول کړه وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا او ویریدل له دغه
بار یعنی دا ابائے له خوفه وه نه له مخالفته وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ط او واخست په سر یعنی قبول کړهٔ دا
بار د امانت انسان سره له دا سے ضعفه له دینیته اِنَّهٗ بیشکه چه دا انسان چه دے كَانَ ظَلُوْمًا
دے دا انسان ستمکار پخپل نفس ځکه چه دا سے درونډ بار ئے واخست چه دے اجرامو عظامو نهٔ شو
اخستے جَهُوْلًا ﴿۷۲﴾ لا نادان بے خبره له عاقبته ددے امانت چه بیا ئے ادائے په ډیر قوت او مشقت سره
کیږی او دے وصف دے د جنس په اعتبار داغلب سره او دعرض ددے امانت وکړه خدائ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ

عه نهٔ دے محمد ص پلار دهیچا سړی ستاسے ۱۲ یعنی چه دعا ئے قبلیدله ۱۲ سه یعنی قصه د دروغو په بی بی عائشے رض
پورے ۱۲

دپاره ددے چه عذاب ورکړی خدای الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ منافقانو سړیو او منافقانو ښځو لره له جهته د
خیانته په امانت کښی وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ او مشرکانو سړیو او مشرکو ښځو لره له جهته د خیانته په
هغه امانت کښی وَيَتُوْبَ اللّٰهُ او چه قبوله کړه خدای توبه او رجوع وکړه په رحمت سره عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ
وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ په مؤمنانو سړیو او په مؤمنو ښځو وَكَانَ اللّٰهُ او دے خدای غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۷۳﴾ بخښونکے مهربان



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ ثنا ده هغه خدای لره لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ چه دی د ده لره هر هغه چه په اسمانونو کښی دی
وَمَا فِی الْاَرْضِ او هر هغه چه په زمکه کښی دی هم له جهته د ملک او هم له جهته د خلق وَلَهُ الْحَمْدُ
او خاص هم ده لره ثنا ده فِی الْاٰخِرَةِ ؕ په هغه جهان کښی لکه چه په دے جهان کښی ده لیکن نه له جهته د تکلیف
بلکه له جهته د خوشحالئ لکه چه وائی به الحمد لله الذی هدٰنا لهٰذا ۔ بل الحمد لله الذی صدقنا وعده ۔
او بل الحمد لله الذی احلّنا دار المقامة الاٰیة ۔ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۱﴾ او دے پرحکمته خبردار دے
په هر یو او ښکاره د بندګانو خپلو يَعْلَمُ مَا خبردار دے په هر هغه څیز چه يَلِجُ فِی الْاَرْضِ
ننوځی په زمکه کښی لکه اوبه او خزانے او کانونه او داسے نور اشیاء وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا او په هر
هغه څیز چه بیرون راوځی له زمکے لکه انواع د نباتاتو او نور اشیاء لکه جواهرا و معادن شو وَمَا يَنْزِلُ
او په هر هغه چه راښکته کیږی مِنَ السَّمَآءِ له اسمانه لکه ملائک او کتابونه او بارانونه او اندازے
ارزاقو او داسے نور اشیاء وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ؕ او په هر هغه چه پورته ختلی په دے اسمان کښی لکه
ملائک او اعمال نامے د بندګانو او پاکے کلمے او پاک ارواح او دعوات د عبادو او داسے نور اشیاء وَهُوَ
الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ﴿۲﴾ او دے مهربان دے په انزال د رحمت بخښونکے دے د هر ګناه او ذلت وَقَالَ الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا او وائی هغه کفار چه منکر دی له بعثه لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ؕ چه رابه نه شی مونږ ته قیامت
قُلْ بَلٰى ووایه ورته اے رسوله چه ولے به رانه شی بلکه رابه شی وَرَبِّیْ قسم دے ما په رب خپل
چه لَتَاْتِيَنَّكُمْ ؕ هر اٰئینه رابه شی د قیامت خامخا تاسے لره اے منکرانو هسے رب چه عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ
اګاه او خبردار دے په هر یو چه یو له هغو د اقیامت دے ۔ او دا صفت دے د رب ۔ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ نه پټیږی

له دهٔ اونهٔ لرے وړوکی ترهرڅیز مِثْقَالُ ذَرَّةٍ چه په قدر د دواړه میږی دے یا د ذرے له ذراتو دهوا فِی
السَّمٰوٰتِ نه په آسمانونوکښی وَلَا فِی الْاَرْضِ اونهٔ په زمکه کښی وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ اونه کم له دے واړهٔ
میږی څخه وَلَآ اَكْبَرُ اونه لوئ ترے اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ مُّبِیْنٍ ﴿۳﴾ مګرچه دا ټول بنکلی پراته دی په هغه
کتاب کښی چه واضح دے یعنی په لوح محفوظ کښی او دا ټول ئے په لوح محفوظ کښی بنکلی دی لِّیَجْزِیَ
الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا د پاره ددے چه جزا ورکه خدائ په هغه ورځ کښی هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا
الصّٰلِحٰتِ او عملونه ئے کړی دی دنیکو اُولٰٓئِكَ دا مؤمنان نیکوکاران چه دی لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ مقرر ده
دوئ لره بخښنه د ګناهونو وَّرِزْقٌ كَرِیْمٌ ﴿۴﴾ او روزی ښه وافره بے طلبه بے مشقته وَالَّذِیْنَ سَعَوْ او
هرچه هغه کسان دی چه سعی او چلتی کوی دوئ فِیْٓ اٰیٰتِنَا په اَبطال د آیتونو ځمونږ ه کښی یعنی په درغزن
کولو د قرآن کښی او په ترهولو د خلقو کښی له دهٔ څخه مُعٰجِزِیْنَ په دے حال چه عاجزکونکی وی دوئ
ځمونږ په زغم خپل کښی له عذاب یعنی دا ئے ګمان کوی چه عذاب به راننهٔ شی مونږ ه لره ځکه چه
بیا ژوندون نهٔ شته اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی لَهُمْ عَذَابٌ مقرر دے دوئ لره عذاب مِّنْ رِّجْزٍ له هغه
سخت قسم د عذاب اَلِیْمٌ ﴿۵﴾ هسے قسم عذاب چه دردناک وی او دا الیم صفت دے د عذاب ځکه
مرفوع دے وَیَرَى الَّذِیْنَ او بل د پاره ددے چه ووینی یعنی معلوم که هغه کسان اُوْتُوا الْعِلْمَ چه ورکړے
شوے دے دوئ لره علم یعنی عالمان د محمد یا نو یا د اهل کتابو لکه ابن سلام او ملګری دده الَّذِیْٓ اُنْزِلَ
اِلَیْكَ هغه قرآن چه رالیږلے شوے دے تاته مِنْ رَّبِّكَ له جانبه د رب ستا هُوَ الْحَقَّ ۙ دا چه دے
حق او رشتیا دے بے شبهے وَیَهْدِیْٓ او برابروی خلق د امنزل اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ ﴿۶﴾ لارے
دهغه خدائ ته چه هم غالب هم ستایلے شوے دے چه هغه لاره د توحید او دین دے د اسلام **ترکیب**
د ایری فعل قلب دے چه دوه مفعوله غواړی او دا الذین سره د خپلے صلے ئے فاعل دے او دا الذی سره
له خپلے صلے ئے مفعول اول دے او دا هو ضمیر د فصل دے او دا الحق ئے مفعول ثانی دے او دا جمله د
یری بیا په موضع د نصب کښی عطف ده په جمله د تیر یجزی باندے او دا یهدی عطف دے په الحق
باندے **حاصل** یعنی قسم دے چه قیامت به راشی جزا به ورکړی خدائ مؤمنانو لره او چه
معلوم که عالمان په وخت دظهور د قیامت کښی عیانا چه دامنزل حق دے لکه چه معلومه وه

درته یخوا برهانًا ۔ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وائی کافران دقریشو بعضے بعضو نورته له ډیره تعجبه چه هَلْ
نَدُلُّكُمْ ایا اګاه کړو مونږ تاسے عَلٰى رَجُلٍ يُّنَبِّئُكُمْ په یو سړی چه خبر کوی دے په تاسے یعنی محمد
صلے اللہ علیه وسلم چه داسے درته وائی اِذَا مُزِّقْتُمْ په هغه وخت چه ذرے ذرے کړے شوئ تاسے او تار
په تار کړے شوا جزاستاسے چه د اعضا ستاسے په خاوره کښی وراسته او پوتی پوتی شو ۔ كُلَّ
مُمَزَّقٍ ۙ په ټول تار په تار کید لوسره داسے چه په زمکه کښی خاوره شوئے او د اخاوره بیا سیلابونه
هرهر ملك ته یوسی نو اِنَّكُمْ بیشکه تاسے پس له دغه خاورے کیدلو لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ⑦ هرائینه
په نوی پیدا ئیښت کښی به اوسئ یعنی بیا به راژوندی کړے شی پس له راجمع کولو د دے خاورو او
جوړولو د بدن نو دا خبرے چه دے کوی اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ایا تړلی دی ده له خپله ځانه په
خدائ دروغ اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ او که ورپورے دے جنون چه داسے ناشدنی خبرے کوی نو خدائی وائی چه
بَلِ الَّذِيْنَ بلکه هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه ایمان نهٔ راوړی په آخرت یعنی بیا ژوندون او
حساب او جزا فِي الْعَذَابِ په عذاب کښی به وی په آخرت کښی وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ ⑧ او په دنیا کښی په
هغه ګمراهئ کښی دی چه ډیره لرے ده یعنی خښتن د دے ګمراهئ له حقه نو وصف د ضلال په بعید سره
په اسناد مجازی دے اَفَلَمْ يَرَوْا ایا پس نه ګوری دا کافران اِلٰى مَا هغه څیز ته بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ چه
په مخکښی دے د دوئ وَمَا خَلْفَهُمْ او هغه څیز ته چه وروستو دے د دوئ چه هغه عبارت دے
مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ له آسمان او له زمکے چه احاطه ئے کړے ده په دوئ داسے چه دوئ پکښی
محبوس دی اِنْ نَّشَاْ که چرے اراده وشی ځمونږ ه نَخْسِفْ بِهِمُ الْاَرْضَ نو څیری به کړو په دوئ
دا زمکه او پکښی به ئے ډوب کړو د قارون په شان اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ یا به وغورځوو په دوئ كِسَفًا
مِّنَ السَّمَآءِ ؕ یوه ټوټه له آسمانه په سبب د انکار د دوئ له دغه نبود قدرته ځمونږ ه او له بعث
اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه په دے کتلو کښی آسمان او زمکے ته یا په دے فکر کښی د خسف او د اسقاط لَاٰيَةً
هرائینه لویه نښه ده د قدرت ځمونږ ه لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ⑨ د پاره د هر هغه بنده چه رجوع
کوی حق ته په فکر کولو سره په هغه دلیلونو د قدرت او عجائبو د قدرت کښی چه دلالت کوی
په قادر والی ځمونږ ه په بعث او بیا عبرت پرے اخلی دوئ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ او هرائینه په تحقیق

ور کړے وو مونږه داؤد علیه السلام ته مِنَّا فَضۡلًا ط له خپل جناب بهترې په ټولو خلقو په نبوت په کتاب، په بادشاهۍ. په عدل، په بخشش عاجزانو ضعیفانو ته په صورت حسن، په حلاوت د مناجات، په علم په خلافت. او دا فضل دا و یلے دے چه پخپلے مخکښې وائی هغه دا دے چه وویل مونږه غرونو ته چه یٰجِبَالُ اَوِّبِیۡ مَعَهٗ اے غرونو راوګرځوئی آوازونه خپل له دهٔ سره په وخت د تسبیح کښې وَالطَّیۡرَ ج او مرغانو ته هم مونږه وویل چه تاسے په وخت د تسبیح د دهٔ کښې آوازونه ورسره وباسئ. او دا عطف دے په محل د جبال باندے روایت دے چه داؤد علیه السلام به خپل شکل بدل کړو او په بله جامه به شو نو په خلقو کښې به پټ ګرځیدهٔ او له هرچا به ئے پوښتنه کوله چه داود څرنګه سړے دے نو هرچا پرے ښهٔ وویل ناګاه یو ملک ورله خدائ راولیږه په صورت د آدمی او دهٔ پوښتنه ترے وکړه نو هغه ورته وویل چه ډیر ښهٔ سړے دے خو ارمان دے کهٔ دا یو کار پکښې نهٔ وے چه د عیال روزی ئے له بیت المال څخه نهٔ وے نو دهٔ سوال د کوم کسب وکړهٔ له ربه چه روزی ئے له خپل کسبه شی نو تعلیم ورته وشهٔ د زغرے سازولو لکه چه وائی وَاَلَنَّا لَهُ الۡحَدِیۡدَ ⑩ او نرمه کړے وه مونږه دهٔ لره اُسپنه ئے اوره بے پلکه چه دا سے به ئے غونډله په لاس کښې لکه موم او بیا وویل مونږه دهٔ ته اَنِ اعۡمَلۡ سٰبِغٰتٍ دا سے چه سازوه ترے زغرے فراخے اوږدے چه په زمکه لګیږی وَقَدِّرۡ فِی السَّرۡدِ او اندازه په نظر کښې لره په اودلو کښې چه حلقے سره برابرے وی روایت دے چه دهٔ به هره ورځ یو زغره سازوله او په شپږ زره درهمه به ئے خرڅوله نو څلور زره به ئے د خدائ په جهت ورکړے او دوه زره به ئے نفقه کړه د عیال او چه وفات شه شپږ زره زغرے ور کړه وخت‌ے وَاعۡمَلُوۡا صَالِحًا ط او وویل مونږه ده ته او عیال ته ئے چه عمل کوی ټول د نیکو خالی له ټولو اغراضو خالص مالره اِنِّیۡ بیشکه زهٔ چه یم بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ په هغه کارونو چه کوئ تاسے بَصِیۡرٌ ⑪ ښه بینا یم چه ټول راته ښکاره دی او جزا به ورکړم هرچا لره په قدر د عمل د دهٔ وَلِسُلَیۡمٰنَ الرِّیۡحَ او بل مسخر کړے وه مونږه سلیمان علیه السلام لره باد صبا غُدُوُّهَا شَهۡرٌ چه الوتل د دے باد په اول د ورځے کښې یعنے د نمر د ختو نه ترزوال د یوے میاشتے منزل به وو په تګ د چلت سوارهٔ وَّرَوَاحُهَا شَهۡرٌ ج او په آخر د ورځے کښې هم یعنی له زواله تر

ما بنام پورې الوتل ددې دیوې میاشتې منزل به وو دا سې چه نمرخاته به له دمشق روان شه اودغرمې
خوب به ئې په اصطخر د فارس کښې چه د یوې میاشتې مزل دې بیا پس له زواله به له اصطخر روان
شهٔ او شپه به ئې کابل له راورسېده چه دا هم د یوې میاشتې مزل دې کذا فی المدارك وَ اَسَلْنَا لَهٗ او بیولې وه
مونږه دهٔ لره عَیْنَ الْقِطْرِ ط چشمه د مِس و یلې کړې وه چه په هره میاشته کښې به درې ورځې لکه د اوبو
او بهیده به یمن کښې دصنعا په څنګ چه بنهردې مِنَ الْجِنِّ او مسخر کړې وو مونږه دهٔ لره له دیوا نو مَنْ
یَّعْمَلُ هغه څوك چه کار به ئې کوو بَیْنَ یَدَیْهِ چه په مخکښې ددهٔ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ط په فرمان د رب ددهٔ سره
وَمَنْ یَّزِغْ مِنْهُمْ او هرچا چه څنګ او سرکشي به وکړه له دوئ عَنْ اَمْرِنَا له فرمان څمونږه او ددهٔ طاعت
به ئې ترك کړهٔ نُذِقْهُ نو وبه څکوو مونږه هغه ته په آخرت کښې مِنْ عَذَابِ السَّعِیْرِ ⑫ له عذابه د دوزخ
او چا ویلې دی چه په دنیا کښې یو ملك ورسره مقرر وو چه اتشین مطروقه به ورسره وه نو هرچا چه به
څنګ وکړهٔ له فرمان دسلیمان علیه السلام نو هغه به ئې په دې مطروقه وواههٔ نو و به سوځید ه.
یَعْمَلُوْنَ لَهٗ سازولو به دغه دیوا نو دهٔ لره مَا یَشَآءُ هر هغه څیز چه اراده به وشوه ددهٔ مِنْ مَّحَارِیْبَ له
هسکو بنګلو خوشنما یو تخته یا له ځایونو د جنګ لکه لوئې پخې قلاګانې او حصارونه او مورچلې وَ
تَمَاثِیْلَ او تمثالونه یعنی له صورتونو د ملائکو او د انبیاؤ په هغه هیئت چه دوئ به په عبادت مشغول وو د
پاره د دې چه خلق ئې په دغه هیئت و وینی او ددوئ هم شوق عبادت ته کوندی پیدا شی او ددهٔ په
شریعت کښې بتان سازول مباح وو او نورو پرشکلونه به ئې سازول د مرغانو او دسباع لکه چه روایت دې
چه دوه شکلونه د مزریو ئې ساز کړی وو ددهٔ تر تخت لاندې او دوه شکلونه د ټپوسانو ئې ساز کړی وو ددهٔ
د سر د پاسه نو هر کله چه دې به په تخت ختو تو دې مزریو به څنګلې را اوږدې کړې ورته نو ده به خپې
پرې کیخودلې او پاس به وختو او بیا چه په تخت به کیناستهٔ نو دغه ټپوسانو به وزر سره خوارهٔ کړهٔ
او په دهٔ به ئې سورې کړو ـ وَجِفَانٍ او له لویو کاسو د لرګیو یا د بل څیز او دا جمع د جفنې ده چه کاسه
ده کَالْجَوَابِ په شان د لویو حوضونو دا سې لوئې کاسې چه زرو کسانو به په یوه کاسه کښې طعام وخوړ
او تول به ماړهٔ شو او دا جمع د جابیه ده چه لوئې حوض دې وَقُدُوْرٍ رّٰسِیٰتٍ ط او له لویو دیګونو تیږویاد
مِسو قرار پراته د نغریو په سر همیشه په سبب د ډیر درونډ والی چه چا به نه شو کوځولې او ددهٔ دو لس

زرګ اشپزان وو چه طعام به ئے پخولو په دغه دیګونوکښ اوچا ویلی دی چه لا اوس هم په شام یا یمن کښ هغه دیګونه پراتهٔ دی چه په زینه ورختړی او وویل مونږه دوئ ته چه اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ عمل کوئ دنیکوا ے خیلخانے دداود علیه السلام شُكْرًا ؕ دپاره د شکرکذ ارئ د دا ے نعمتونو ددوئ دپاره د امتثال په دے امرساعتونه د ورځ او دشپو سره قسمت کړی وو نو یو خو به خامخا په شکرکذ ارئ مشغول وو وَقَلِيْلٌ او لږ دی مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿۱۳﴾ له بندګانو ځما شکرکذار **روایت دے** چه موسی علیه السلام به کیږ دئ وهلے وه په هغه ځائے کښ چه اوس پکښ بیت المقدس دے دپاره د عبادت بیا دا کیږ دئ میراث پاتے شوه نوعابدانو به عبادت پکښ کولو تبرکاً. بیا چه زمانه دداود علیه السلام راغلهٔ نو دهٔ هلته بیت المقدس بنا کړه اما په دهٔ وخت دوفات راغے پخواله پوره کیدلو دبیت المقدس نو وصیت ئے وکړو سلیمان علیه السلام ته دِ اتمام. او دهٔ دیوان پرے ونګول. اما په دهٔ هم وخت دوفات راغے پخواله اِتمام ئے نو اراده ئے وکړه دد ے چه ځما په مرګ دِ دغه دیوان خبر نهٔ شی چه داعمارت هم پوره شی اوبل دوئ دعوٰی دعلم غیب کوی چه هغه هم باطل شی نو دیوانو ته ئے وویل چه دبینبکارئ کنیذه راباندے د هم کړئ بے دروازے او دے پکښ ودریدهٔ په امسا په همسا تکیه اوروح ئے هلته قبض شه په ولاړه او دیوان به پکارلګیا وو په دے ګمان چه دے ژوندے راته ولاړ دے بیا چه عمارت پوره شهٔ نو وینو دهمسابیخ وخوړا ودے راولویدهٔ او دیوان لاړه بیا دوئ یو وینهٔ دهمسا په خوکه کیخوده چه یوه ورځ او شپه تیره شونو دهغه مقدار ئے معلوم کړو چه دوفات لے یو کال تیر شوے دے او ټول عمر دهٔ درے پنځوس کاله وو او په دیارلسم کال بادشاه شهٔ اوچه څلورکاله ئے دبادشاهئ تیر شونو بنا داتمام دبیت المقدس ئے وکړه کذا ذکره البیضاوی لکه چه وائی فَلَمَّا قَضَيْنَا پس هرکله چه حکم وکړهٔ مونږهٔ عَلَيْهِ الْمَوْتَ په سلیمان علیه السلام دمرګ او دے مړ ولاړ وو تکیه په همسا یو کال مَا دَلَّهُمْ نو هیچا خبر کړے نهٔ وو دادیوان عَلٰى مَوْتِهٖٓ په مرګ ددهٔ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ مګر چینجی لرګی خور ونکی یعنے هغه چینجی چه لرګی خوری چه په عربی کښ ورته اُرضه او سرقه وائی او په فارسی کښ کرمک چوب خور او په پښتو کښ وینهٔ او هرچه ارض دے په سکون دَ رَ سره هغه لګیدل ددهٔ دی په لرګی دپاره دخوراک. او اَرَض چه دے په فتحه د رَ سره مطلوع دے دهغهٔ لکه چه

وایهٔ شی ارضت الارض الخشبه ارضا فارضت ارضا کذا فی الصراح نو به دے دابة الارض کښې اضافت شوے دے دَ دابة فعل دَدهٔ ته چه هغه ارض دے یعنې خوراک دے د لرګی تَأْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ج چه وے خوړه همسا ددهٔ فَلَمَّا خَرَّ پس هر کله چه ولویدهٔ دے په زمکه تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ نو پوهـ شو دا دیوان او پیریان تول په پوهے ښکاره او کامل سره پس له ګړ وے په عوامو او ضعیفانو د دوی اَنْ لَّوْ كَانُوْا به دے چه که چرے وے دا دیوان او پیریان يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ چه پوهیدے په علم غیب مَا لَبِثُوْا نو نهٔ به ئے تیرولے سلامت یو کال فِی الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿۱۴﴾ په هغه مشقت او عذاب کښې چه سپکونکے او خوارونکے وو چه هغه تکالیف شاقه وو په عمل دعمارت د بیت المقدس کښې **حکایت دے** چه افریدون بادشاه اراده کړے وه دختلو په تخت دسلیمان علیه السلام بیا چه خپله ئے پورته کړه نو هغه تخت لاندے زمریو هغه خپه په پنجه ووهله او ماته ئے کړه نو دوباره هیڅ اقدام ورته ونهٔ کړو **روایت دے** چه یو سړے وو چه نوم ئے سبا بن یشخب بن یعرب بن قحطان وو او ددهٔ په سبب اولادئے هم په سبا باله شهٔ بلکه هغه ښارئے مارب نوم ئے وو هغه به هم په سبا باله شهٔ او دا ښار دسبا په یو ناؤ کښې پروت وو چه مینځ ئے وو دوو غرونو او اوږدوالے د دغه ناؤ له بره سره ترکوزه سره اتلس فرسخه وو او ښکته او پورته ناؤ په دغه ښاره دسبا نور ډیر ښارونه پراته وو په مینځ د دغه ناؤ کښې ددهٔ له اولاده. او په یو طرف په بل طرف له دے ښارونو باغونه یو ځکه سره پراته وو د ناؤ له بره سره ترکوزه سره پورے او اوبهٔ به ئے له بره سره د ناؤ راتلے او فصلونه او باغونه به ئے پرے اوبه کیدل. او کله به اوبه د ولایت د شجرو سره ګډے شوے نو به ئے خرابے کړو نو دوی بلقیس چه حاکمه وه د دوی په ولایت دیمن کښې سوال وکړهٔ چه دا اوبه څموږ ده نه بندے کړه نو هغې په سر د ناؤ کښې یو لوئی دیوال وکړهٔ چونه ګچ له یو غره تر بله غره پورے چه اوبه د چینو د دوئی او دشجر او د باران ټولے هلته حصارے شوے او په دغه دیوال کښې ئے درے سوری وکړهٔ یو پاس او بل په مینځ او بل په کوز سر د دیوال کښې. چه اوبه به ډیرے وے نو پاس سوری به ئے پرانست او که به میانه وے نو د مینځ او که به لږے وے نو به کوز. لکه چه وائی. لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ هر آئینه په تحقیق وو فرزندانو د سبا سړی یا سا کنانو د ښار د سبا لره فِیْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ج په مسکن د دوئی کښې یوه غټه نخښه په وجود

او په قدرت کامله د صانع بانندے او هغه نښه دا وه جَنَّتٰنِ چه دوه باغونه وو عَنْ يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ۬ له ښی طرفه د مینو د دوی او له چپه طرفه نکته باغونه خو په واقعه کښی ډیر وو بے حسابه او د لته نسبت د دوو ورته شوے دے نو یا په دے سبب دے چه هر کله دا ډیر سره پیوسته وو نو ګویا که یو باغ په ښی طرف وو له مینو د دوی له بره سره تر ګوټه سره او یو هغه اسے په چپ طرف وو او یا د هر سړی یو باغ په ښی طرف وو له مدینے د ده او یو ئے په چپ طرف وو۔ او ورته وویلے شو داسے كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ چه خورئ له روزئ د رب خپل یعنے له داسے وافرو میوو چه سنځه به تشه تو کړئ به سر د ونو لاندے شوه په کوم کار پسے نو دا ټو کرئ به پخپله له میوے ډکه شوه بے له اچولو دے۔ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ او شکر کوئ د ده لره او قدر دانی کوئ د نعمتونو ئے بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ دا ښار د صبا چه دے ښار دے ډیر پاکیزه چه ځج او سپږه او وږه او ماشے او مار او لړم له سره پکښی نشته تر دے حده چه که کوم مسافر ورلره راشی نو هلته سپږے ئے ټولے مړے شی له جهته د اعتدال د هوا وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ⑮ او دا پروردګار چه تاسے لره ئے دا نعمتونه درکړی دی داسے رب دے چه بخښونکے دے د شکر ګذار انو فَاَعْرَضُوْا پس ښکنګ وکړه دوی او مخ ئے وګرځولو له دعوته د هغه پیغمبرانو چه راغلی وو ورلره فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ پس راخوشے کړه مونږه په دوی سَيْلَ الْعَرِمِ سیلاب د عَرِم۔ او عرم یا نوم دے د سخت سیلاب یا د بارا یا د موش د شتے چه دا دیوال ئے سورے کړے وو یا هغه دیوال یا د هغه وادئ چه دا دیوال پکښی بلقیس جوړ کړے وو۔ خو په هر تقدیر مونږه سخت سیلاب پرے راولیږه چه د دوی مالونه او فصلونه او باغونه ئے ټول لاهو کړه وَبَدَّلْنٰهُمْ او بیا بدل درکړه مونږه دوی لره بِجَنَّتَيْهِمْ په هغه بخوا نیو دوا ړو باغونو د دوی جَنَّتَيْنِ دوه باغونه نور ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ چه دواړه خاوندان وو د میوے ترخے بے مزے وَّاَثْلٍ او د شوره ګز چه کوم قسم دے له غز و نو څخه چه پاڼږه د هغه سپینه وی او داسے ځائ ته باغ ویل محض د پاره د مشا کلت دی وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ⑯ او یو قدر له بیرے هم خو ډیر لږ او دا هم د پاره د دے چه هغه بخوانئ میوے ئے هیرے نه شی او د اَثْلٍ او سِدْرٍ عطف دے په اُكُلٍ نه په خمط۔ ځکه چه غز خوله سره میوه نه لری ذٰلِكَ دا عذاب چه مونږه ورکړه دوی لره په سبب د دے چه هم کفران د نعمتونو څو مونږه کړے وو دوی او هم ئے کفر اختیار کړے وو چه څو مونږه رسولان

ئے نۀ وو منلی ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ط دا کارجزا ورکړه مونږه دوئ په سبب دھغے چه کافران
شوی وو دوئ وَهَلْ نُجٰزِیْٓ او آیا جزا ورکوو مونږه په دے شان یعنے نۀ ورکوو اِلَّا الْكَفُوْرَ ﴿۱۷﴾ مګر بے قدره
لره چه څمونږه دنعمتونو قدر دانی ئے نۀ وی کړی روایت دے چه پاتی شوی دښار دسبا پس له
دغه حادثے پیغمبر علیه السلام له راغله او ورته ئے وویل چه مونږ اوس خدائ او رسول
ویژندل نو که بیا په مونږه مهربانی وکړی نو حق به ئے ادا کړو او بے قدری به نۀ کوو او عبادت
به کوو په دے وجه نو رب العزت بیا پرے دروازه دنعمت پرانسته لکه وائی وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ او پیدا
کړه او اباد کړه مونږه په مابین ددے اهل دسبا وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِىْ او په مابین دهغه کلیو او دښارونو چه
بٰرَكْنَا فِيْهَا برکت اچولے وو مونږه په هغوکښ په فراخئ درزق او دمیوو او دانهارو او داشجارو چه
هغه ولایت ددے دشام قُرًى ظَاهِرَةً کلی او ښارونه ښکاره چه له یو کلی به بل لیدے شو دا سے سره پیوسته
له سبا ترشامه پورے او دا هم نول څلور زره اوۀ سوه کلی وی وَقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ ط او اندازه کړی وو مونږ
په دغه مینځ دښارونو او کلیوکښ تګ ددوئ دا سے چه په یو کلی کښ به ئے غرمه تیرولے او په بل کښ به
ئے شپه کوله او نه به تو ښے نه محتاج وو او بدرقی ته ترآخره سفره او ورته وویل مونږه چه سِيْرُوْا فِيْهَا
ځئ او راځئ په دے کلیو کښ د سودا کولو دپاره ترشامه پورے لَيَالِىَ وَاَيَّامًا دشپے او دورځے اٰمِنِيْنَ ﴿۱۸﴾
په امان له هرآفته له دشمنه له سباعه له لوږے له تندے. بیا نو په دے کارا غنیاؤ لره حسد راغے چه دا
خو مونږه او فقراء سره برابر شو ځکه چه دوئ هم څمونږ په شان په بے غمئ په خپل حاجت پسے ځی او
راځی فَقَالُوْا رَبَّنَا پس وویل دے اغنیاؤ چه اے ربه څمونږه بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا لوئ واټن پیدا کړه
په مابین دسفرونو څمونږه کښ یعنے په دے مینځ کښ ځائ په ځائ کلی وران کړه چه او ږده بیابانونه
پکښ پیدا شی او هرخوار عاجز نۀ شی تللے نو مونږ قبول کړه داسوال ددوئ او په مینځ کښ کلی
وران کړۀ مونږه وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ او ظلم وکړه دوئ په ځانونو خپلو چه راحت ئے بدل کړۀ په مشقت
او بے غمی په خواری او آسانی په سختی فَجَعَلْنٰهُمْ پس کړه مونږه دا اهل دسبا اَحَادِيْثَ خبرے او
قصے چه درست عالم ئے کوی له ډیر تجبه په احوال ددوئ وَمَزَّقْنٰهُمْ او تار په تار کړه مونږه دوئ
كُلَّ مُمَزَّقٍ ط په پوره تار په تارکولو سره یعنی ورک کړه مونږه له خپل وطنه او په عالم کښ خواره

شو دا سے چه غسان ترے شام نه لاړه او انمار ترے یثرب له لاړهٔ او جذام تهامی له او ازد عمان
له اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ بیشکه چه په دے بیړنه مذکورکښ لَاٰیٰتٍ هراٗئینه رنګارنګ نښے دی دعبرت اخستو
لِکُلِّ صَبَّارٍ شَکُوْرٍ ﴿۱۹﴾ دپاره دهر صابره په زحمتونو شاکر په نعمتونو وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَیْهِمْ اوهراٗئینه په
تحقیق رښتینے بیاموندهٔ په دوئ اِبْلِیْسُ ظَنَّهٗ شیطان ګمان خپل یعنی ده چه ګمان کولو چه زه به دا
بنی آدم په سبب د شهوت او دغضب چه په دوئ کښ دے ولغزولے شم هغه ګمان ئے په اهل د سبا کښ
بیاموندہ فَاتَّبَعُوْهُ پس پیروی وکړه دوئ د شیطان اِلَّا فَرِیْقًا مګر یو ے فرقے مِّنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۲۰﴾
چه هغه فرقه مؤمنان دی او د اِمِنْ بیانیه دے نه تبعیضیه وَمَا کَانَ لَهٗ اونهٔ وو دے شیطان لره
عَلَیْهِمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ په دوئ تسلط اِلَّا لِنَعْلَمَ مګر خاص دپاره ددے چه معلوم کړو مونږ په علم
شهودی سره مَنْ یُّؤْمِنُ هغه څوک چه ایمان راوړی بِالْاٰخِرَةِ په راتلو د آخرت مِمَّنْ هُوَ له هغه
چه دے مِنْهَا فِیْ شَکٍّ له دے آخرته په ګمان کښ دے وَرَبُّکَ او رب ستا چه دے عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ
حَفِیْظٌ ﴿۲۱﴾ په هرڅیز نګهبان دے قُلِ ووایه اے رسوله مشرکانو دقوم خپل ته ادْعُوا الَّذِیْنَ زَعَمْتُمْ
چه وبولئ تاسے هغه معبودان خپل چه ګمان به کولو تاسے په دوئ د خدایانو او دا په اصل کښ زعمتموهم
الهة دے .حُکه چه زعمتم دوه مفعوله غواړی او دلته یوهم نشته بیا مفعول اول چه ضمیر دے عائد
حذف شهٔ دپاره ددے چه طول د موصول راغلے په صلے سره او دے فضله دے او مفعول ثانی چه
اٰلهةً دے هغه حذف شهٔ او په ځائ ددهٔ صفت ئے قائم شهٔ چه دا دے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ج غیر له خدائ
یعنی وبولئ تاسے معبودان خپل اما دوئ په جلب د نفع او په سلب د ضرر کښ تاسے ته هیڅ فائده نهٔ شی
رسولے او څرنګه به فائده ورکوی لَا یَمْلِکُوْنَ نهٔ لری اختیار دوئ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ په قدر د واړهٔ میږی
نه دخیر او نهٔ د شر فِی السَّمٰوٰتِ نه په آسمانونو کښ وَلَا فِی الْاَرْضِ او نه په زمکه کښ او دا دواړهٔ
ئے ذکر کړهٔ . چه بعضے الهه د دوئ سماوی دی لکه ملائک او کواکب او بعضے ارضی دی لکه بتان
شو وَمَا لَهُمْ او نشته دغه خدایانو د دوئ له فِیْهِمَا مِنْ شِرْکٍ په دے آسمانونو او زمکه کښ څهٔ
قدرے شرکت نهٔ خلقًا او نهٔ مُلکًا. وَمَا لَهٗ مِنْهُمْ او هم دا سے نشته خدائ لره هم له دغه خدایانو
د دوئ مِّنْ ظَهِیْرٍ ﴿۲۲﴾ هیڅوک مددګاری کونکے په تدبیر او په تصرفاتو ددهٔ کښ او که دوئ

ترے شفاعت په طمع وی هغه هم نشته لکه چه وائی وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗ اوهمدا نهٔ رسوی هیڅ نفع دوئی ته شفاعت دَدے معبودانو په نزد دخدائی لکه چه گمان دوئی کړے چه شفاعت هیڅ فائده نهٔ رسوی خدائی تعالیٰ اِلَّا لِمَنْ مگر شفاعت دهغه چا اَذِنَ لَهٗ ط چه اذن وکړه خدائی دهٔ ته یاد پاره ددهٔ دشفاعت بل چا ته یعنی یا معنیٰ دا چه تا ته اذن دے ددے چه شفاعت وکړه هر چاله چه کوے او یا دا چه دفلانی دپاره کهٔ شفاعت کوے نو اذن دِ درته وُکه روایت دے چه په ورځ دقیامت به هر څوک سره په ویره او په هیبب وی هم شفاعت گر په دے چه مونږه ته به ددے اذن وشی که نه۔ چه د چا شفاعت وکړو او گنهگاران په دے چه څمونږ دپاره به اذن دشفاعت وشی که نه او دا ویره ددوئی به باقی وی حَتّٰۤى اِذَا فُزِّعَ ترهغه وخته پورے چه بیرته کړے شی دا ویره عَنْ قُلُوْبِهِمْ له زړونو ددوئی په دے شان سره چه رب العزت ووائی چه اذن دے اوس تاسے ته ددواړه قسم دشفاعت او بیا هر کله چه داغږ اوشهٔ قَالُوْا نو وبه وائی دوئی یو بل ته سره مَاذَا لا قَالَ رَبُّكُمْ ط چه دا څرنگه خبره ده چه وویله رب ستاسے۔ قَالُوا الْحَقَّ ج نو وبه وائی ورته هغه نور چه حق ئے وویل چه دا دے چه اوس اذن دے دشفاعت دپاره دمومنانو وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۲۳﴾ او دے ډیر بلند شان لوئے له دے چه بے له اذن دهٔ څوک شفاعت وکړه اگرکهٔ پیغمبر یا ملک قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ ووایه دوئی ته اے رسوله چه څوک روزی درکوی تاسے لره مِّنَ السَّمٰوٰتِ له طرفه داسمانونو په ورولود باران سره۔ وَ الْاَرْضِ ط او له زمکے په زړغونولو دنباتاتو سره بیا نو دوئی په ځائی هم تهٔ قُلِ اللّٰهُ لا ووایه چه خدائی درکوی او بیا دا سے هم ورته ووایه چه وَاِنَّاۤ او مونږه مومنان چه یو چه روزی رسان هم هغه یو بولو او عبادت هم هغه لره کوو بے شریکه اَوْ اِيَّاكُمْ یا اسے مشرکان چه هغه بتان چه په کوزه مرتبه دامکان دی چه جمادیت دے هغه لره واجب الوجود سره شریکوی لَعَلٰى هُدًى هر اٰئینه په سم لارے یو اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۴﴾ یا په دا سے گمراهئ کښے یو چه ښکاره ده حاصل دا چه معلوم به شی په قیامت چه کوم یو له دغه دواړو ډلو له دے معاملے سره په سمے لارے روان وو او کوم یو د خپلے گمراهئ پسے قاب کښے ډوب وو قُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ بیا ووایه ورته چه نه به شی پوښتنے تاسے عَمَّاۤ اَجْرَمْنَا له هغه بدیو چه کړی وی مونږه وَلَا نُسْـَٔلُ او همدا سے نهٔ به پوښتنے کیږی مونږه

عَمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۵﴾ له هغو بد يو چه كوئ يئ تاسو بلكه هر يو به له خپل عمله پوښتنې لې كيږي نهٔ د بل
له عمله قُلۡ يَجۡمَعُ بياووايه ورته چه جمع به وكړي بَيۡنَنَا رَبُّنَا څمونږه په مينځ كښ رب څمونږه په
ورځ دقيامت ثُمَّ يَفۡتَحُ بيا حكم او فيصله به وكړي بَيۡنَنَا بِالۡحَقِّ ۖ په مينځ څمونږه كښ په حق سره په دې
شان چه محقان به بوځي جنت له او مبطلان به بوځي دوزخ له وَهُوَ الۡفَتَّاحُ او هم دے دے فيصل كوَنكے
د مشكل قضيو الۡعَلِيۡمُ ﴿۲۶﴾ دانا دے په طريقو د فيصل كولو قُلۡ اَرُوۡنِيَ الَّذِيۡنَ بياووايه ورته چه وښيئ
تاسو ماته هغه خدايان خپل اَلۡحَقۡتُمۡ بِهٖ چه پيوست كړي دي ..... تاسو په خداي پورې شُرَكَآءَ
شريكان په عبادت كښ يعنے په دوی كښ كوم كمال دے چه په هغه سره تاسو دوی د خداي شريكان
ساز كړي دي. كَلَّا نهٔ دي داسے يعنے لائق نهٔ دي د شركت له دهٔ سره بَلۡ هُوَ اللّٰهُ الۡعَزِيۡزُ بلكه هم دے دے
خداي غالب چه د هيڅ تو ان نشته د شركت ورسره. الۡحَكِيۡمُ ﴿۲۷﴾ چه پرحكمت دے وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ او
نهٔ يے ليږلے مونږه ته اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ مگر په دے حال چه جامع يے ته خلقو لره يعنے احاطه كوَنكے
يے له دوی په اندازه په ابلاغ سره. او داهلهٔ چه كَآفَّةً حال شي له كاف د خطاب او تے د پاره د مبالغے
شي لكه علامت كښ. او يا معنے دا چه نهٔ يے ليږلے مونږه ته مگر په دے حال چه خلقو ته يے يعنے انس
وجن و عرب و عجم وا ړو ته او نه نبعضو ته لكه څوانې رسولان. او داهله چه حال شي له الناس سخه اما
مقدام شوے دے په دهٔ د پاره د اهتمام بَشِيۡرًا زيرے وركوَنكے د رضوان د جنت د ديدار په مومنانو. وَ
نَذِيۡرًا او ويرۇنكے له عذابه د كافرانو وَّلٰكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ او ليكن زيات خلق چه دي له كفارو د مكے
لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۸﴾ نهٔ پوهيږي په كمالاتو او په فضائلو ستا او جهل خپل ترلې دي ستا مخالفت ته وَ
يَقُوۡلُوۡنَ او وائي دوی له ډيره جهله مَتٰى هٰذَا الۡوَعۡدُ چه كله به وي دا عذاب يا ظهور د قيامت مونږه
پورے اگاه كړئ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۹﴾ كه چرے يئ تاسو رښتني په دے كښ چه قيامت به راشي. قُلۡ
لَّكُمۡ مِّيۡعَادُ يَوۡمٍ ووايه ورته چه مقرره ده تاسو لره وعده د يوے ورځ. او دا اضافت بياني دے يعنی
مقرره ده تاسو لره ورځ د قيامت د پاره د عذاب لَّا تَسۡتَاۡخِرُوۡنَ چه نه به وروستی كيږي تاسو عَنۡهُ
سَاعَةً له هغه ورځ يو ساعت هم وَّلَا تَسۡتَقۡدِمُوۡنَ ﴿۳۰﴾ او نه به رومبے كيږئ تر وَقَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا
او وائي هغه كسان چه كافر دي له مكيانو لَنۡ نُّؤۡمِنَ له سره به ايمان رانهٔ وړو مونږه بِهٰذَا الۡقُرۡاٰنِ

په دے قرآن چه راغلے دے په محمد صلی الله علیه وسلم باندے وَلَا بِالَّذِیْ او نه په هغه چه راغلی دی
بَیْنَ یَدَیْهِ ط یعنې اله دغه قرآن چه تورات او انجیل او داسے نور دی یا مراد قیامت او جنت او دوزخ
دے وَلَوْ تَرٰٓی او که و وینې ته اِذِ الظّٰلِمُوْنَ چه د اظالمان یعنې مشرکان مَوْقُوْفُوْنَ ودرولے شوی
په موقف د حساب کښ عِنْدَ رَبِّهِمْ ج په نزد د رب خپل او جواب ئے محذوف دے چه داد ے لَرَاَیْتَ
اَمْرًا صَعْبًا یعنی هرا ئینه و به وینې ته سخت امر یَرْجِعُ بَعْضُهُمْ چه سره اړوی به بعض د دوئ اِلٰی بَعْضِ
نِ الْقَوْلَ ج له بعضو نورو سره خبره داسے چه یَقُوْلُ الَّذِیْنَ و به وائی هغه کسان اسْتُضْعِفُوْا چه ضعیف گنړلے
شوی وو یعنی تابعان او پس روان لِلَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْا هغه کسانو ته چه تکبر او سرکشی به ئے کوله
یعنی مشران او رئیسان لَوْلَآ اَنْتُمْ چه که نۀ وے تاسے یعنی دا گمراه کول او اړول ستاسے له ایمانه
لَکُنَّا مُؤْمِنِیْنَ ﴿۳۱﴾ نو هرا ئینه وو به مونږه مؤمنان اما تاسے گمراه کړو مونږه او ایمان ته مو پرے
نۀ خو. قَالَ الَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْا او بیا به وائی هغه کسان چه کړودن کشی به ئے کوله لِلَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْا
هغه کسانو ته چه عاجزان او بیچاره گنړلے شوی وو. اَنَحْنُ صَدَدْنٰکُمْ آیا چه حصار کړی وئ مونږه تاسے
عَنِ الْهُدٰی له سمے لارے او له قبول د ایمان بَعْدَ اِذْ جَآءَکُمْ پس له هغه چه راغلے وو داهدایت تاسے
لره بَلْ کُنْتُمْ مُّجْرِمِیْنَ ﴿۳۲﴾ بلکه وئ تاسے پخپله گنهگاران چه په مونږ پسے راتلئ بے حجته. وَقَالَ الَّذِیْنَ
اسْتُضْعِفُوْا او بیا به و وائی هغه کسان چه خوار عاجز گنړلے شوی وی لِلَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْا هغه کسانو
ته چه لوئی او کبر ئے اختیار کړے وو بَلْ مَکْرُ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ بلکه دا فریب وو ستاسے چه شپه او ورځ
به مونږه پسے وئ د پاره د حصار ولو له ایمانه اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ چه امر به کولو تاسے مونږه ته هر وخت
اَنْ نَّکْفُرَ بِاللّٰهِ د دے چه کفر اختیار کړو مونږه په خدائ پورے وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ط او پیدا کړو
مونږه دۀ لره شریکان وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ او پټه به کړه دوئ یعنی د واړه طائفے پښیمانی خپله یو
بل نه یا ښکاره به که پښیمانی سره یو بل ته او دا ځکه چه اَسَرُّوْا له اضداد و دے یعنی اطلاق ئے په
دواړو صحیح دے کذا ذکره البیضاوی لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ط په هغه وخت چه ووینی دوئ عذاب وَ
جَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ او وا به چوو مونږه طوقونه داوس فِیْٓ اَعْنَاقِ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا ط په ګردنونو د هغه کسانو
چه کافر شوی دی که تابعان دی او که متبوعان دی هَلْ یُجْزَوْنَ آیا جزا ورکولے شی دوئ لره یعنی

نهٔ شی ور کولے اِلَّا مَا كَانُوْا مگر د هم هغه عمل چه وی دوئ په دنیا کښں یَعْمَلُوْنَ ﴿۳۳﴾ چه کاوهٔ به ئے
بیا د پاره د تسلئ د رسول صلی الله علیه وسلم وائی چه وَمَا اَرْسَلْنَا او نهٔ و ولیږلے مونږه پخوا له تا څخه
فِيْ قَرْيَةٍ په هیڅ کلی او ښار کښں مِّنْ نَّذِيْرٍ هیڅ ویرونکے له عذابه یعنی کوم پیغمبر اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَا مگر
ویل به مشرانو او متکبرانو د هغه قرئے هغه پیغمبرانو علیهم السلام ته اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ چه بیشکه مونږه
په هغه څیز چه رالیږلے شوی یئ تاسے بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ په هغه څیز سره ستاسے په زعم کافران او
منکران یو وَقَالُوْا نَحْنُ او بل ویل به ئے چه مونږه اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ډیر لوئ یو له جهته د مالو
اود اولاد ده. نو پیغمبری خو مونږ سره لایقه ده وَّمَا نَحْنُ اوبل دا چه نهٔ یو مونږه بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۳۵﴾ عذاب
کړے شوی له دے جهته چه مونږه خدائ ته ډیر گران یو ځکه داسے ډیر مال او اولاد ئے راکړے دے نو مونږه
ته به ولے عذاب راکوی قُلْ اِنَّ رَبِّيْ ووایه ورته بیشکه رب زما چه دے يَبْسُطُ الرِّزْقَ ارتوی
او فراخه کوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ د پاره د هر هغه چا چه اراده ئے وشی وَيَقْدِرُ او تنگوی ئے په
هر هغه چا چه اراده ئے وشی په مقتضٰی د حکمت بالغه سره وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلق چه
دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾ ع نهٔ پوهیږی په دے چه مبادا چه دا کثرت د مال او د اولاد چرے له جهته د استدراج عه
نه وی نکه چه دوئ ته پخپله وائی وَمَآ اَمْوَالُكُمْ او نهٔ دی دا مالونه ستاسے وَلَآ اَوْلَادُكُمْ او نه دا اولاد
ستاسے بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ دا سے څیز چه نزدے کوی تاسے عِنْدَنَا زُلْفٰٓى په نزد ځمونږ په نزدے کولو سره
ځکه چه نزدیکت خدائ ته په عمل صالح دے نه په مال او په اولاد او هغه تاسے نهٔ لری اِلَّا مَنْ اٰمَنَ
مگر نزدے کوی له تاسے هر هغه څوک چه ایمان راوړی وَعَمِلَ صَالِحًا او عمل کوی د نیکو یعنی مال
د خدائ په لاره کښں صرفوی او اولاد په سمے لارے بیائی فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چه داسے کار کوی
لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ مقرره ده دوئ لره جزا دوچند یعنی زیات تر لسو تر اووهٔ سوه بِمَا عَمِلُوْا په سبب
د هغه نیکیو چه کړی دی دوئ وَهُمْ فِي الْغُرُفٰتِ او دوئ په مانړیو د جنت کښں اٰمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾ په امان
به وی له هر مکروه او سختئ او آفت وَالَّذِيْنَ يَسْعَوْنَ او هغه کسان چه سعی او کوشش کوی فِيْٓ اٰيٰتِنَا
په ابطال د آیتونو ځمونږه کښں مُعٰجِزِيْنَ په دے حال چه عاجز کونکی وی دوئ ځمونږه په

عه الاستدراج هو الاخذ من حیث لا یحتسب ۱۲

خپل گمان کښې له عذابه د دوئ اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی فِی الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ (۳۸) په عذاب د
دوزخ کښې حاضر کړے شوی به وی قُلْ اِنَّ رَبِّیْ ووایه ورته اے رسوله چه بیشکه رب زما یَبْسُطُ
الرِّزْقَ فراخه کوی روزی لِمَنْ یَّشَآءُ هرهغه چاته چه اراده ئے وشی مِنْ عِبَادِهٖ له بندګانو خپلو
پاره د امتحان وَیَقْدِرُ لَهٗ ط او تنګوی ورلره چه اراده ئے وشی یا له اوّله او یا پس له بسطه ابتلاءً وَ
مَآ اَنْفَقْتُمْ او هرهغه چه ورکوئ تاسے د خدائ په لاره کښې مِّنْ شَیْءٍ له کوم څیزه څخه لږ یا ډیر فَهُوَ
یُخْلِفُهٗ ج پس هم دے عوض ورکوی هغه لره یا د لته په مال هلته په ثواب وَهُوَ خَیْرُ الرّٰزِقِیْنَ (۲۹) او
دے غوره دے د ټولو روزی رسانو ځکه چه دے رازق حقیقی دے او نور ټول واسطه دی په رسولانو د رزق کښې
وَیَوْمَ یَحْشُرُهُمْ او یاده که هغه ورځ چه راجمع به که خدائ دا کفار جَمِیْعًا ټول یعنی هم مشران
متکبران او هم کشران عاجزان ثُمَّ یَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ بیا به ووائی خدائ ملائکو ته چه اَهٰٓؤُلَآءِ اِیَّاكُمْ
آیا هغه ګمراهان دا دی اے ملائکو چه خاص ستاسے به له خدایه کَانُوْا یَعْبُدُوْنَ (۴۰) وو دوئ
چه عبادت به ئے کولو په دنیا کښې قَالُوْا سُبْحٰنَكَ نو وبه وائی ملائک په جواب کښې چه پاکی ده
تا لره له هره عیبه خصوصًا له شریکه اَنْتَ وَلِیُّنَا ته ئے دوست او معبود زمونږه مِنْ دُوْنِهِمْ غیر له
دوئ یعنی زمونږه دوستی خاص له تا سره کوونه له بل چا سره او بخپله عابدان یو مونږه نو ځکه به ځان
د بل معبود کوو او دوئ په واقعه کښې زمونږ عبادت نه کاوه بَلْ کَانُوْا بلکه وو دوئ چه له ډیره
جهله او حماقته یَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ ج عبادت ئے کوه د شیطانانو ځکه چه هم د هغه فرمانبردار وو چه
څه هغوئ ورته وئیل هم هغه به ئے کول اَكْثَرُهُمْ بِهِمْ زیات د دوئ په دے شیطانانو مُّؤْمِنُوْنَ (۴۱)
ایمان راوړونکی وو بیا نو خدائ وائی فَالْیَوْمَ لَا یَمْلِكُ پس نن ورځ اختیار نه لری بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ
بعضے ستاسے چه معبودان دی د پاره د بعضے نورو نَّفْعًا وَّلَا ضَرًّا ط نه د نفع رسولو او د ضرر دفع کولو
یعنی دا معبود به خپلو عابدانو ته نن ورځ هیڅ خیر نه شی رسولے وَنَقُوْلُ او وبه وایو مونږه لِلَّذِیْنَ
ظَلَمُوْا هغه کسانو ته چه ظلم ئے کړے دے په خپل ځان چه وضع د عبادت ئے کړے ده په غیر له موضع[عه]
خپله ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّتِیْ چه وڅکئ عذاب د هغه اور کُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ (۴۲) چه وئ تاسے په

عه یعنی بے ځایه خپل چه هغه عبادت غیر له خدائ دے ۱۲

دنیا کښې چه د دې تکذیب به موکولو چه قیامت او دوزخ نشته وَاِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمْ او په هغه وخت چه
ولوستې شي په دوئ اٰیٰتُنَا بَیِّنٰتٍ اٰیتونه زمونږ ه په دې حال چه واضح دي یعني قرآن قَالُوْا مَا هٰذَآ نو
وائي دوئ چه نهٔ دے دا سړے یعنې محمد صلی الله علیه وسلم اِلَّا رَجُلٌ یُّرِیْدُ مګر یو داسې سړے دے چه
اراده لري اَنْ یَّصُدَّکُمْ د دې چه واړوي تاسې عَمَّا کَانَ له هغه څیزه چه وو دا یَعْبُدُ اٰبَآؤُکُمْ ج
چه عبادت به کاوود هغه پلرو نوستاسې وَقَالُوْا مَا هٰذَآ او بل دا وائي دوئ چه نهٔ دے دا کلام چه لولی
یې دې یعني قرآن اِلَّآ اِفْکٌ مُّفْتَرًی ط مګر دروغ دی له ځانه ساز شوی او په خدائ تړلے شوی وَقَالَ
الَّذِیْنَ کَفَرُوْا او وائي هغه کسان چه کافر دی له مکیانو لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ لا حق ته چه قرآن یا اسلام
یا امر د نبوت دے هر کله چه راغے دوئ لره اِنْ هٰذَآ اچه نهٔ دے اِلَّا سِحْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۴۳﴾ مګر جادو د ښکاره
او دا خبره دوئ له کومه کوی وَمَآ اٰتَیْنٰهُمْ او حال دا چه نهٔ دے ورکړے مونږ ه دوئ ته مِّنْ کُتُبٍ یَّدْرُسُوْنَهَا
له کتابونو را لیږلو شویو چه لولی دوئ هغه کتابونه او په هغو کښې دلیل وی واضح په صحت د شرک وَمَآ
اَرْسَلْنَآ او نهٔ لیږلی وو اِلَیْهِمْ قَبْلَکَ دوئ ته پخوا له تا مِنْ نَّذِیْرٍ ﴿۴۴﴾ ط کوم ویرونکے چه بولی دوئ
شرک ته او ویروی ئے ترک د هغهٔ وَکَذَّبَ الَّذِیْنَ او تکذیب کړے وو هم داسې هغه کسانو
مِنْ قَبْلِهِمْ لا چه پخوا وو له دانبیاء علیهم السلام وَمَا بَلَغُوْا او حال دا چه نه دی رسیدلی دا
مکیان مِعْشَارَ مَآ اٰتَیْنٰهُمْ لسمې برخې د هغه ته چه ورکړے وو مونږ ه هغه پخوانیو لره یعني ډیر
قوت او ډیر مال او ډیر عمر او معشار عشر ته وائي فَکَذَّبُوْا رُسُلِیْ قف پس تکذیب وکړهٔ هغه پخوانیو
د رسولانو زما فَکَیْفَ کَانَ نَکِیْرِ ﴿۴۵﴾ ع پس وګوره چه څرنګه وو انکار زما په دوئ چه بیخ کن او هلاک ع ۱ ۹ ۱۳
م کړهٔ ټول. نو دوئ دِ هم وویریږی چه هم هغسې پرے ونهٔ شي چرے قُلْ اِنَّمَآ و وایه دوئ ته چه
بیشکه هم دا خبره ده اَعِظُکُمْ بِوَاحِدَةٍ ج پند درکوم تاسې ته د یوې خبرې او هغه خبره اَنْ تَقُوْمُوْا
داده چه راپا څیږئ تاسې له مجلسه د رسول صلی الله علیه وسلم سخه لِلّٰهِ محض د پاره د لحاظ
د خدائ نه د پاره د هوا د نفس او د تعصب او بیا سره هم بیل شئ مَثْنٰی وَفُرَادٰی دوه دوه او یو
یو یعني یا سره دوه دوه شئ او بیا هر یو دِ حاصل د خپل فکر ووائي بل ته اما په طریقه د صدق او د انصاف
چه دا فکر صادق ئے مفضی شي معرف د حق ته او یا سره یو یو شئ چه هر یو سړے خپل فکر راټول که

او دا فکر بیاله عقل سره وجنګوی په عدل او په انصاف سره او پاځیدل له مجلس ځکه وائی چه فکر
د سړی په مجلس کښې مشوش وی نو چه ځان له شو نو فکر به ئې راټول شی او صواب به را بیل که له
خطا څخه نو میاید چه اول راپاځیدل وکړئ ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا‌ اؤ بیا بیا ښهٔ فکر وکړئ په باب د محمد صلی
الله علیه وسلم کښې یعنی په رسوخ د اقوالو او افعالو او احوالو دده کښې له اوله تر آخره نو بیخیله به در ته
معلوم شی دا چه مَا بِصَاحِبِكُمْ نشته په ملګری ستاسې پورے چه محمد صلی الله علیه وسلم دے .
مِّنْ جِنَّةٍ ؕ هیڅ قدر جنون چه موجب وی د دعوی د نبوت بلکه کمال د عقل دده تاسے ته بیخیله
معلوم دے او دا کافی دے په باب د صدق دده کښې پس هر کله چه مجنون نشته نو اِنْ هُوَ نه دے
دا محمد صلی الله علیه وسلم اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ مګر ویرونکے مقرر کړے شوے دے تاسے له بَيْنَ يَدَيْ
عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿۴۶﴾ په مخکښې د سخت عذاب چه هغه عذاب دے د قیامت او که دوئی ویریږی
له طلب د اجرت په دے انداز نو قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ و وایه دوئی ته چه هر هغه چه وغوښت
ماله تاسے له اجرته په دے انداز او تبلیغ ځما د پیغام فَهُوَ لَكُمْ ؕ پس هغه دِ هم ستاسے وی او ما
لره ئے له سره مهٔ راکوئ اِنْ اَجْرِيَ نه دے اجرت د دعوت ځما اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۚ مګر په خدائی دے وَهُوَ عَلٰى
كُلِّ شَيْءٍ او دے په هر څیز باندے شَهِيْدٌ ﴿۴۷﴾ حاضر ګواه قُلْ اِنَّ رَبِّيْ بیا و وایه دوئی ته چه بیشکه
رب ځما چه دے يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ راغورځوی حق یعنی رالیږی وحی په هرچا چه اراده ئے وشی یا
خوروی
شیندی دین د اسلام سره له احکامو ئے په آفاقو کښې عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿۴۸﴾ چه ډیر ښهٔ خبردار دے په ټولو
پټو اشیاؤ چه هیڅ تر ے مخفی نهٔ دی قُلْ جَآءَ الْحَقُّ بیا و وایه ورته چه اوس راغے حق چه قرآن یا اسلام
دے او هر چه ابلیس یا بُت دے هغه په هیڅ قادر نهٔ دے لکه چه وائی وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ او پیدا کولے
نهٔ شی باطل چه ابلیس یا بت دے یو اَدنیٰ څیز هم وَمَا يُعِيْدُ ﴿۴۹﴾ او نهٔ بیرته ژوندے کولے شی
کوم مړے یعنی نه په خلق د چا قادر دے او نهٔ په بعث ئے قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ بیا و وایه ورته چه که
چرے واغزیدم زهٔ له لارے د حق لکه چه ګمان کوئی تاسے په ما فَاِنَّمَآ اَضِلُّ پس بیشکه هم دا خبره ده
چه به ولغزیږم عَلٰى نَفْسِيْ ۚ په ځان خپل یعنی ضرر به ئے هم د هغه ماته بیرته راجع وی او که اِنِ اهْتَدَيْتُ
او که په سمے لارے روان وم فَبِمَا يُوْحِيْٓ پس په سبب د دے به وی چه وحی رالیږی اِلَيَّ رَبِّيْ ؕ ماته

رب ځما ځکه چه توفیق د هغه له جانبه دے اِنَّهٗ سَمِیْعٌ بیشکه چه دے اوریدونکے دے د هر گفتار

د بنده قَرِیْبٌ ﴿۵۰﴾ نزدے دے هم ماته او هم تاسے ته نو جزا د عمل به هر یو له ورکه وَلَوْ تَرٰۤی او که

ووینے ته او جواب ئے محذوف دے چه دا دے لَرَاَیْتَ اَمْرًا عَظِیْمًا اِذْ فَزِعُوْا هغه چه ووېرېږی دوی

په وخت د مرګ یا د بعث یا د بدر فَلَا فَوْتَ پس نهٔ به وی هلته هیڅ خلاصے له عذابه نه به تښته او

نهٔ به پټیدلو وَاُخِذُوْا او ونیولے شی دوی ته مِنْ مَّکَانٍ قَرِیْبٍ ﴿۵۱﴾ له هغه ځایه چه به نزدے

وی یعنی له زمکے قبر ته یا له موقف دوزخ ته یا له صحرا له بدره کوهی ته وَّقَالُوْۤا اٰمَنَّا بِهٖ او وائی مشرکان

چه ایمان راوړیدے مونږه په خدائ یا په پیغمبر علیه السلام یا په حشر وَاَنّٰی لَهُمُ التَّنَاوُشُ

او له کومه به وی دوی له تناول د ایمان یعنی ایمان به دوی ته څرنګه راورسیږی او دوی به وینیسی

مِنْ مَّکَانٍۭ بَعِیْدٍ ﴿۵۲﴾ له لرے ځایه چه هغه دار التکلیف دے یعنی بیرته دار التکلیف ته دوی خوځ نهٔ

بیاپی او ایمان د لته ورله نهٔ شی راتلے چه له تکلیف وتلی نو خو د سره لرے شو وَقَدْ کَفَرُوْا بِهٖ او

حال دا چه کفر اختیار کړے وو دوی په خدائ یا په پیغمبر علیه السلام یا په حشر مِنْ قَبْلُ ۚ

مخواله دے په دار التکلیف کښ وَیَقْذِفُوْنَ بِالْغَیْبِ او ګزارول به دوی په نادیده په ناخبره د رسول

او د بعث په باب کښ خبرے نالائقے چه رسول علیه السلام به ئے ساحر، شاعر، کاهن باله او

قرآن به ئے سحر، شعر، کهانت باله مِنْ مَّکَانٍۭ بَعِیْدٍ ﴿۵۳﴾ له لرے ځایه له حق او له صدق او له

صواب چه هغه دار د آخرت دے وَحِیْلَ بَیْنَهُمْ او پرده او جدائی واچولے شوه په مابین د دوی کښ

وَبَیْنَ مَا یَشْتَهُوْنَ او په مابین د هغه څیز کښ چه ارزو او ارمان ئے کوی چه هغه قبول د ایمان

او بیرته راتلۀ دی دنیا ته کَمَا فُعِلَ لکه چه کړے شوے وو دا کار بِاَشْیَاعِهِمْ له هم سنګو د دوی

سره له مخوانیو کفارو مِّنْ قَبْلُ ؕ مخواله دے یعنی له هغو به هم ایمان د باس نهٔ قبلیدهٔ اِنَّهُمْ

بیشکه دوی چه وو کَانُوْا فِیْ شَکٍّ وو دوی په دا سے ګمان مُّرِیْبٍ ﴿۵۴﴾ چه په ریب او تردد کښ اچونکے دے ع

سُورَةُ فَاطِرٍ (۳۵) مکیة (۴۳) — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — اٰیَاتُهَا ۴۵ — رُکُوْعَاتُهَا ۵

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حمد او ثنا ده هسے خدائ لره فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ چه بے نمونے پیدا کونکے دے د آسمانونو

وَالْاَرْضِ او د زمکے جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا چه کونکے دے د ملائکو استاذی په پیغام د دهٔ را وړی
انبیاؤ ته دا ئے استاذی اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ خښتنان د وزرو مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ط دوه دوه او درے درے
او څلور څلور او مراد له دے خصوصیت دهمدغه اعدادو او نفی د زیادت نه دے لکه چه حدیث کښی دی چه
جبریل علیه السلام شپږ سوه وزرے لری يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ زیاتوالے کوی دے په پیدا ایښت کښی
مَا يَشَآءُ ط هر هغه قدر چه اراده ئے وشی په وزرو د ملائکو کښی یا په صفاتو د ادمیانو کښی لکه
عقل او علم او کرم او فصاحت او حسن او ملاحت او قوت او شجاعت او صبر او سخاوت او تواضع او
عفت او صدق او محبت او دا سے نور ډیر. اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ① په هر
څهٔ قادر دے مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ هر هغه چه پرانزی خدائ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ د پاره د خلقو او رالیږی دوئ
ته له رحمت خپله لکه نعمت او عافیت او فراخی او صحت او دا سے نور ډیر فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ج پس له سره
نشته هیڅوک حصار ونکے هغهٔ لره وَمَا يُمْسِكْ او هر هغه چه حصار که ئے [بندکا] له خلقوله عطا خپلے [درکړه وخپلو]
فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ پس له سره نشته لیږونکے د هغهٔ هیڅوک مِنْ بَعْدِهٖ ط پس له حصار ولو دهٔ وَهُوَ الْعَزِيْزُ
او دے غالب او قادر دے هم په ارسال او هم امساک الْحَكِيْمُ ② پرحکمت دے چه دواړه په مقتضی د
حکمت بالغه سره کوی يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلقو اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ط یاد کړی نعمت د خدائ
په تاسے له عدم ئے وجود ته وویستئ او بیائے روزی درکړه او په احسانانو کښی ئے پته کړئ
هَلْ مِنْ خَالِقٍ نو ایا شته بل کوم خالق غَيْرُ اللّٰهِ بے له خدائ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ چه روزی
درکوی له طرفه د اسمانه په واسطه د باران سره وَالْاَرْضِ ط له زمکے په زرغونیدلو د گیاه سره لَآ اِلٰهَ
اِلَّا هُوَ ز صلے نشته بل هیڅوک معبود برحق مگر هم دے دے فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ③ پس کوم طرف ته گرځ اړولے
شی تاسے له لارے د توحید وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ او که تکذیب وکه د امکیان ستا فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ پس
په تحقیق تکذیب کړے شوے وو د هغو رسولانو مِّنْ قَبْلِكَ ط چه پخوا له تا نه تیر شوی دی او هغو بے
صبر کولو نو تهٔ هم د دوئ په ایذاء صبر کوه وَاِلَى اللّٰهِ او خاص خدائ ته تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ④ بیرته
گرځولے شی ټول کارونه نو تاله به د صبر جزا درکړی او دوئ لره د تکذیب يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلقو
اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه چه وعده د خدائ حق او رښتیا ده چه قیامت او حساب او جزا د اعمالو شته

فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا پس خبر دار چه عه غره نه که تاسے دا کمکے ژوندون چه اخرت د ژغنه هیرنهٔ
شی وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ ﺳﻌ اونهٔ دِ غره کوی تاسے بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ⑤ په کرم د خدائ غره کونکے چه شیطان دے
اِنَّ الشَّيْطٰنَ بیشکه شیطان چه دے لَكُمْ عَدُوٌّ تاسے لره دشمن دے فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ط پس تاسے هم
ونیسئ دے په دشمن اوطاعت ئے مهٔ کوئ عه اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ پس بیشکه هم دا خبره ده چه بولی دے د له
خپله چه کفار دی ځائ د هلاکت ته لِيَكُوْنُوْا د پاره د دے چه شی دوئ مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ⑥ له ملګرو
د دوزخ په آخرت کښ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه کسان چه کافر شوی دی لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۵ ط مقرر دے
دوئ لره عذاب سخت وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوله شیطان ئے
مخالفت کړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی د نیکو لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ مقرر دے دوئ لره بخښش دګناهونو
وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ⑦ ع او اجر ډیر لوئ چه رضوان صه اوجنت اودیدار دے اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ آیا پس هغه څوک
چه ښایسته کړے شوے دے دوئ ته سُوْٓءُ عَمَلِهٖ بد عمل د دهٔ فَرَاٰهُ حَسَنًا ط پس وینی ئے دے ښائسته
لکه ابوجهل شهٔ یا امثال د دهٔ فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ گمراه کوی هر هغه
څوک چه اراده ئے وشی وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ز صلے اوسمه لار ښائی هر هغه چاته چه اراده ئے وشی فَلَا
تَذْهَبْ نَفْسُكَ پس نهٔ دِ ځی نفس ستا یعنی نه دِ مائل کیږی هلاک ته عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ط په
ګمراهئ د دوئ له جهته د ډیر افسوسونو په دے چه ایمان ولے نه راوړی اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ م بیشکه چه
خدائ ښهٔ پوهـ دے بِمَا يَصْنَعُوْنَ ⑧ په هغه کارونو چه کوی ئے دوئ نو جزا به ورکه ورلره وَاللّٰهُ
الَّذِيْٓ اوخدائ هغه قادر مطلق دے اَرْسَلَ الرِّيٰحَ چه رالیږی دا درے قسمه بادونه چه قبول او
شمول اوجنوب دے فَتُثِيْرُ سَحَابًا پس راپورته که دغه بادونه وریځے فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّيِّتٍ
پس راکاږو موږ ه دغه وریځ هغه کلی ته یعنی زمکے د هغه کلی ته چه مړه یعنی چه کلکه بے ګیاه پرته
وی فَاَحْيَيْنَا بِهِ الْاَرْضَ پس ژوندی کړو موږه په دغه اوبو چه له دے وریځے راوځی هغه وچه زمکه
بَعْدَ مَوْتِهَا ط پس له مړوالی اوله وچوالی كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ⑨ همدارنګه به وی حال د بعث هم مَنْ

عه یعنی د زغلوی تاسے ۱۲ عه یعنی وسوسه د شیطان مهٔ منئ ۱۲ سه یعنی چه وسوسه د شیطان ئے نهٔ ده منلے ۱۲
صه یعنی رضامندی اوخوشحالی د خدائ ۱۲ لعه یعنی په مثل د ژوندی کیدلو د مړے زمکے به قیامت راشی اوخلق به ژوندی
شی پس له مرګه ۱۲

اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ۱۲

کَانَ هر څوک چه وی دے یُرِیْدُ الْعِزَّةَ چه غواړی عزت نو هغه په طاعت او په رضاد خدای کښ دے
لکه چه وائی فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِیْعًا ط پس خاص خدائی له دے عزت ټول هم په دنیا او هم په اخرت کښ
پس که څوک عزت دداربنو غواړی نو طاعت دِ کوی دخدائی. هم قولًا او هم فعلًا ځکه چه اِلَیْهِ خاص
دۀ ته یعنی مقام د قبول او د رضا ددهٔ ته یَصْعَدُ الْکَلِمُ الطَّیِّبُ پورته خیژی خبرے پاکے چه کلمه
طیبه ده یعنی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ چه سردعزت دداربنو هم داده او هم داسے نور اقوال
حسنه دی لکه تسبیح او تحمید او تهلیل او ذکر او دعا او استغفار او قراءت د قرآن شهٔ او قیاس د لته
الکلم الطیبه وو او دا هر جمع چه نهٔ وی د هغے او دواحد په مینځ کښ مگر په ت سره په هغه تذکیر سره
او تانیث دواړه روا دی وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ او نیک عمل چه دے عبارت دے له عبادت خاصه لکه
صلوٰة او زکوٰة او حج او بنا د مسجد او کنودل د کوهی او ایخودل د پل او صدقه او جهاد او دا سے نور افعال
حسنه شو یَرْفَعُهٗ ط پورته کوی د غه پاکے خبرے داعمل صالح مقام د قبول ته او دا ضمیر مستکن په
یرفعه کښ راجع دے الْکَلِمُ ته ځکه چه عمل نهٔ قبلیږی مگر په توحید سره وَالَّذِیْنَ او هر چه
هغه کسان دی له قریشو یَمْکُرُوْنَ السَّیِّاٰتِ چه سازوی دوئی تا ته بد مکرونه یعنی چه په دار الندوة
کښ رنګارنګ مصلحتونه درته کوی څوک دحبس او څوک دقتل او څوک داخراج لکه چه په سورة
انفال کښ بیان شوی دی لَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌ ط مقرر دے دوئی له عذاب ډیر سخت په اخرت کښ
وَمَکْرُ اُولٰٓئِكَ او فریب ددغه قریشو چه دے ستا په باب کښ هُوَ یَبُوْرُ ﴿۱۰﴾ دا مکر فاسد او باطل
او هلاک دے یعنی بے فائدے دے وَاللّٰهُ خَلَقَکُمْ او خدائی په اول کښ پیدا کړی تاسے یعنی نیکه
ستاسے چه ادم علیه السلام وو مِّنْ تُرَابٍ له خاورو ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ بیا تاسے دهغه اولاد ئے پیدا
کړی له نطفے یعنی له څاڅکی دمنی ثُمَّ جَعَلَکُمْ اَزْوَاجًا ط بیا کړی دهٔ سره جوړے جوړے یعنی
ښځه او میړهٔ د پاره دتوالد او تناسل وَمَا تَحْمِلُ او نهٔ اخلی حمل مِنْ اُنْثٰی هیڅ ښځه چه فرزند ئے
په نس کیږی وَلَا تَضَعُ او نهٔ ږدی هیڅ ښځه هغه فرزند چه دے په نس کښ دے یعنی نهٔ لنګیږی
اِلَّا بِعِلْمِهٖ ط مګر پیوسته وی داټول له علمه دهٔ سره چه یوه ذره هم ترے پټه نهٔ وی وَمَا یُعَمَّرُ او

له یعنی جوړه ول دجمات ۱۲ عه یعنی غزاکول دکفارو سره ۱۲ سه یعنی د پاره داولاد له تاسه نه ۱۲

نهٔ شي او نهٔ به دولے مِنْ مُّعَمَّرٍ د هیڅ او بِدْ د عمر و د کپے شوی وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ او نه هیڅ قدر کم
کولے شي له عمره د بل معمره نه چه عمرئے کم وی له هغه نه یخوانی معمره. او دا ضمیر راجع دے هغه بل
معمر ته اګر که مذکور نهٔ دے. له مقابلے معلومیږی حاصل دا چه هیڅ زیاتوالے او کم والے د عمر نهٔ دے
اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ ؕ مګر په کتاب کښی یعنی په لوح محفوظ کښی دا ټول مقرر کړے شوی او لیکلے پروت دے
اِنَّ ذٰلِكَ بیشکه دا اندازه د درازئ او د کوتاهئ د عمر چه ده عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ⑪ په خدائے آسان کار
دے وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرٰنِ ۖ او بل دا چه نه برابریږی سره دواړه سیندونه یعنی خواږه او تریخ تول
صفاتو کښی اګر که په بعض کښی سره برابر دی لکه رطوبت[عه] اولین او برودت شو لیکن په ډیرو کښی سره
متفاوت دی ځکه چه هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ دا یو خوږ دے چه نهایت ډیر خوږ والے لری سَآئِغٌ شَرَابُهٗ
چه ښهٔ هضمید ونکے او آسان تیرید ونکے دی له حلقه او به د دهٔ وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ او دا بل تریو دے
مائل تریخوالی ته وَمِنْ كُلٍّ او له هر یو څخه له دغه دواړه قسمه سیندونو تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِيًّا خورئ
تاسے غوښے تازه یعنی ماهی وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ او بل راوباسئ تاسے له دغه تارخهٔ سینده حِلْيَةً
تَلْبَسُوْنَهَا ج کاڼره له ملغلرو او له مرجانو چه اغوندئ تاسے یعنی اغوندوئ ښځو خپلو ته تنبیه
دا مثال دے د مؤمن او د کافر چه دواړه اګر په بعض صفاتو کښی سره برابر دی لکه اکل[عه]، شرب، نوم
سخاوت، شجاعت. اما په ډیرو کښی سره متفاوت دی ځکه چه مؤمن په سبب د ایمان او د اعمال
صالحهٔ سره خوږ دے او کافر له جهته د کفره او د عصیان خپله تریو تریخ دے وَتَرَى الْفُلْكَ او بل
وینے به ته بیړئ او جهازونه فِيْهِ مَوَاخِرَ په هر یو کښی له دے دواړ و څیرونکی د اوبو او د امواخر
جمع ده د ماخرة مؤنث د ماخر له باب د مخر یمخر مخراً معنے ئے څیرول د اوبو لِتَبْتَغُوْا د پاره د دے چه
ولټوئ تاسے مِنْ فَضْلِهٖ بعض له فضل د رب یعنی سود په سوداګرئ کښی وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ⑫ او
بل د پاره د دے چه ښائی وباسئ تاسے شکر په دا سے لوئی نعمت يُوْلِجُ الَّيْلَ ننه باسی دے شپه یعنی
ساعتونه د شپے فِي النَّهَارِ په ورځے کښی یعنی په هوره ورځ کښی یو قطعه له شپے اخلی او په ورځ ئے
زیاتوی او دا اوله د انقلاب شتوی وی ان تر انقلاب صیفی پورے[سه] وَيُوْلِجُ النَّهَارَ او بیا هم دا سے

عه یعنی تر والے او نرم والے او یخوالے ۱۲ عه یعنی خوراک څښاک خوب او سخاوت او زړه ورتوب ۱۲ سه یعنی اول د کرځیدو
د ژمی نه تر ګرځیدلو د اوړی پورے ۱۲

نه باسی د ے ورځ یعنی ساعتونه ئے فِی الَّیْلِ لا په شپه کښ چه د ره ورځ یوه قطعه له ورځے راخلی
او په شپه ئے زیاتوی او دا بیا اول د انقلاب صیفی وی ان تر انقلاب[عه] شتوی پورے وَسَخَّرَ الشَّمْسَ
وَالْقَمَرَ ز اوایل کړی دهٔ نمر او سپوږمی د داره فرمان خپل كُلٌّ يَّجْرِیْ چه هر یو بهیږی یعنی روان
وی په اسمان لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ط ترهغه وخته پورے چه په نامه کړے شوی دی چه منتهی د دور
ده یا ورځ ده د قیامت چه بیا جریان ئے ورك شی ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ دا خالق د دے واړو
مذکورو چه دے خدائ دے چه رب دے ستاسے لَهُ الْمُلْكُ ط هم دهٔ لره ده بادشاهی وَ
الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ او هر چه هغه بتان دی چه بولئ ئے تاسے او عبادت ئے کوئ مِنْ دُوْنِهٖ غیر له
خدائ مَا یَمْلِكُوْنَ نهٔ لری اختیار دوئ مِنْ قِطْمِیْرٍ ﴿۱۳﴾ له هغ مهینے پردے چه د خرما په هډوکی
کښ پرته وی اِنْ تَدْعُوْهُمْ که چرے وبولئ تاسے دوئ یعنی دا معبودان خپل لَا یَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ
نو نهٔ اوری دوئ بلل ستاسے ځکه چه جمادات دی او جماد خو غوږ نهٔ لری وَلَوْ سَمِعُوْا او که واوری
په تقدیر د فرض سره مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ط نو نهٔ درکوی جواب دوئ تاسے لره ځکه چه ژبه نهٔ لری
وَیَوْمَ الْقِیٰمَةِ او بیا په ورځ د قیامت یَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ ط منکران به شی دوئ په دے شریکولو او
په دے عبادت ستاسے وائی بهچه ماکنتم ایانا تعبدون نهٔ وئ تاسے چه عبادت مو کړے وو
ځموږه وَلَا یُنَبِّئُكَ او خبر به نه کا تا له حقیقت د دے کاره هیڅ خبر ورکے مِثْلُ خَبِیْرٍ ﴿۱۴﴾ په شان
د هغه علام الغیوب چه خبردار دے په حقائقو د امورو یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اے خلقو اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ
تاسے ټول محتاج یئ اِلَی اللّٰهِ ج خدائ ته هر څوك په هر وخت په هر څه کښ یعنی هم په روزئ
هم په جنت هم په رضامندئ کښ وَاللّٰهُ او خدائ چه دے هُوَ الْغَنِیُّ هم دے غنی بے پرواه
دے چه هیڅ احتیاج نهٔ لری هیچا ته او منعم دے په ټولو موجوداتو په انواع د نعمتونو هم ظاهرًا
او هم باطنًا . الْحَمِیْدُ ﴿۱۵﴾ چه ستائیلے شوے دے په انواع د محامدو او چه څوك خپل احتیاج
ورته ښکاره کوی او سوال ترے کوی نو دے پرے خوشحالیږی او بنده ته چه سوال کوے نو
خفه کیږی لکه شاعر وائی ۔ ؎

عه یعنی اول د کرخیدلو د اوږی نه تر کرخیدلو د ژمی پورے ۱۲

عه وَاللهُ يَغْضِبُ اِنْ تَرَكْتَ سُؤَالَهُ وَابْنُ اٰدَمَ حِيْنَ يُسْئَلُ يَغْضِبُ

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ که اراده وشی دخدای د لرے کولو ستاسے نو بوبه څی تاسے له روی زمین یه هلاك
سره وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ (۱۶) او رابه ولی دے نوی مخلوق نوے چه له تاسے ډیر فرمان بردار وی یا داسے
مخلوق چه نهٔ چا لیدلے او نه اوریدلے وی وَمَا ذٰلِكَ اونهٔ دی دا لرے کول ستاسے او راوستل د نوی
عَلَى اللهِ بِعَزِيْزٍ (۱۷) په خدای سخت وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ اونهٔ اخلی هیڅ نفس ګنهګار وِّزْرَ اُخْرٰى ط
بار د ګناهونو د بل نفس وَاِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اوکهٔ وبولی کوم داسے نفس چه درونه وی بار د ګناهونو
ئے بل څوك اِلٰى حِمْلِهَا بار د ګناهونو خپلو ته چه څهٔ قدرے ترے دے واخلی ورسره چه په هغهٔ بار
لږ سپک شی لَا يُحْمَلْ نو وابه نهٔ خستے شی مِنْهُ شَيْءٌ له هغه باره د ګناهونو دهٔ هیڅ یعنی دا بللے
شوے به له بلونکی هیڅ قدر پیټے وَ انهٔ خلی نه لږ او نه ډیر وَّلَوْ كَانَ او اګر کهٔ وی دا بللے شوے
ذَا قُرْبٰى ط خښتن د خپلوئ لکه پلار یا ځوی یا ورور یا بل کوم قریب وی ځکه چه دهر چا به خپل بار
ډیر درونه وی نو د بل چا به ورسره نهٔ شی اخستے اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ بیشکه همدا خبره ده چه ویروے
ته هغه کسان يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ چه ویریږی دوئ له ربه خپله پس شاله دهٔ یاله عذابه یاله خلقو
وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ط او برپا ئی لری دوئ مونځ خپل په خپلو او قاتو کښ وَمَنْ تَزَكّٰى او هر هغه څوك
چه ځان خپل پاك که په کولو د طاعاتو او په ترك د معاصیو سره فَاِنَّمَا پس بیشکه هم دا خبره ده چه
يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ط پاکوی ځان دپاره د نفس خپل ځکه چه نفع د دهٔ پاکئ هم دهٔ له وی وَاِلَى اللهِ
الْمَصِيْرُ (۱۸) او خاص خدائ له ورتله دی دهر چا نو پاکانو له به هلته جزا ورکوی د دے پاکئ.
وَمَا يَسْتَوِى الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ (۱۹) اونهٔ برابریږی سره ړوند او بینا یعنی کافر او مؤمن وَلَا الظُّلُمٰتُ
وَلَا النُّوْرُ (۲۰) او همداسے نه سره تاریکئ او نه رڼا یعنی باطل او حق وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ (۲۱)
او همداسے نه سره سورے او نهٔ ډیره ګرمی یا ګرم باد یعنی ثواب او عقاب یا جنت او دوزخ وَمَا
يَسْتَوِى الْاَحْيَآءُ او همداسے نهٔ برابریږی سره ژوندی وَلَا الْاَمْوَاتُ ط اونهٔ مړی یعنی عالمان او جاهلان
او دا لَا په دغو ټولو کښ دپاره د تاکید د نفی دا ستوی دے او تکرار ئے دپاره د زیادت د تاکید دے.

عه خدائ په غضب کیږی که چرے پریږدے ته سوال د دهٔ - او بنی آدم چه سوال کولے شی ترے نو په غضب کیږی.

اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای یُسْمِعُ مَنْ یَّشَآءُ ج اوروی هرهغه چا ته چه اراده ئې وشی خبرې دپند
او د هدایت چه موجب ئې شی د ایمان وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ او نهٔ ئې ته اوروونکې د قول نافع مَّنْ
فِی الْقُبُوْرِ ﴿۲۲﴾ هغو ته چه په قبرونو کښې پراته وی یعنې کفار او دوئ ئې مشابه کړه له مړیو سره څکه چه دوئ
د مړیو پشان نفع او پند نهٔ اخلی په مسموع خپل اِنْ اَنْتَ نه ئې ته اِلَّا نَذِیْرٌ ﴿۲۳﴾ مګر ویروونکې یعنې په تا
فقط هم دا انذار او ابلاغ دے اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بیشکه موږ ه چه یو لیږلے ئې موږ ه ته په رښتیا
سره بَشِیْرًا وَّنَذِیْرًا ط زیرے ورکوونکې د جنت او ویروونکې له دوزخ وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ او نه وو هیڅ تولے
د پخوانیو امتو اِلَّا خَلَا مګر چه تیر شوے دے فِیْهَا نَذِیْرٌ ﴿۲۴﴾ په هغه کښې ویروونکې یا پیغمبر او یا
کوم بل پوهنده چه انذار کوی وَاِنْ یُّکَذِّبُوْكَ او که دروغژن بولی دوئ تا، نو خفګان مهٔ کوه څکه چه
فَقَدْ کَذَّبَ الَّذِیْنَ پس په تحقیق چه نسبت د دروغو کړے وو د خپلو پیغمبرانو ته هغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ ج
چه پخوا وو له دوئ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ چه راغله دوئ ته رسولان د دوئ بِالْبَیِّنٰتِ په ښکاره معجزو
سره چه به شاهدوی په نبوت د دوئ وَبِالزُّبُرِ او په صحیفو سره له جانبه د خدای لکه صحیفې د شیث
او د ادریس او د ابراهیم علیهم الصلوٰة والسلام شوے وَبِالْکِتٰبِ الْمُنِیْرِ ﴿۲۵﴾ او په کتاب ښکاره کوونکې او
بیانوونکې د احکامو د حلالو او د حرامو لکه تورات او انجیل شو ثُمَّ اَخَذْتُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا بیا ونیول ما
په سخت عذاب سره هغه کسان چه به کافر شو فَکَیْفَ کَانَ نَکِیْرِ ﴿۲۶﴾ پس څرنګه وو انکار او عذاب څما د دوئ ع ۳ ۱۲ ۱۵
له اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ آیا نهٔ وینې ته چه بیشکه خدای چه دے اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ج را ښکته کړی
دی دهٔ له طرفه د آسمانه اوبهٔ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ پس راوویستلې موږ ه له زمکې په واسطه د دے اوبو
سره میوې رنګا رنګ لکه انار او بهَی او منڼې او زردالو او شفتالو او انګور او اینځر او د اسې نورې
ډیرې مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ط په دے حال چه سره مخالف وی رنګونه د دوئ چه د بعضو رنګ تور د بعضو
سور د بعضو شین د بعضو زیړ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ ۢ او همدا سې پیدا کړی دی موږ ه له غرونو لارې
یعنې په غرو نو کښې رنګونه رنګا رنګ بِیْضٌ وَّحُمْرٌ بعضې سپین او بعضې سره مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا چه سره
مخالف دی رنګونه د دے سپینو او د سرو په شدت او په ضعف کښې د اسې چه بعض به ډیر سپین او ډیر
سرهٔ وی ، بعض به هغسې ډیر نه وی وَغَرَابِیْبُ سُوْدٌ ﴿۲۷﴾ او بعض نور تک تور سیاه رنګ وَمِنَ

النَّاسِ اوس هم دلته له اد میانو څخه هم وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ او هم دا سے له نورو ژنده سرو او چارپایانو
هم مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ چه سره مخالف دی رنګونه ئے كَذٰلِكَ ط هم دا سے لكه چه مخالف دی رنګونه دمیوو او د
رنګونو اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ بیشکه هم دا خبره ده چه ویریږی له خدائ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ط له بندګانو د
دهٔ پوهنده عالمان چه دی په صفاتو پیژنی او تعظیم ئے کوی ځکه څوك چه ډیر داناوی هغه ډیر
ویریږی له دغه جهته انبیاء علیهم السلام اخوف وو له ټولو خلقو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ عَزِيْزٌ
غَفُوْرٌ ﴿۲۸﴾ غالب دے چه انتقام اخلی له دشمنانو خپلو بخښونکے دے چه مغفرت کوی د دوستانو خپلو
اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ چه لولی دوئ کتاب دخدائ یعنی قرآن وَاَقَامُوا
الصَّلٰوةَ او برپای لری همیشه مونځ خپل سره له شرائطو ادابو وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او ورکوی دخدائ
پدجهت بعضے له هغه مال چه ورکړے دے مونږه دوئ لره سِرًّا پټ له خوف دریا وَّعَلَانِيَةً اوښکاره
چه بل څوك ئے ووینی او د هغه هم میل پیدا شی ورکولو ته یا پټ په نفلی کښی اوښکاره په فرضی کښی
يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً امید لری دوئ د دا سے سودا کری لَّنْ تَبُوْرَ ﴿۲۹﴾ چه له سره نهٔ هلاکیږی او نهٔ نقصانی
کیږی او زیان نهٔ راولی خدائ په دے سودا کری کښی لِيُوَفِّيَهُمْ اُجُوْرَهُمْ دپاره ددے چه پوره ورسوی
خدائ دوئ ته اجرونه دحسناتو ددوئ وَيَزِيْدَهُمْ او زیاتے ورکه خدائ دوئ لره اجر داعمالو ددوئ
مِّنْ فَضْلِهٖ ط له فضله خپله په ارتولو د قبر سره یا په تضعیف دحسناتو یا په اذن د شفاعت دپاره
دخپلوانو او یارانو دوستانو اِنَّهٗ غَفُوْرٌ بیشکه چه دے بخښونکے دے دګنهګارانو شَكُوْرٌ ﴿۳۰﴾ قدردان
دے چه په لږ عمل ډیر اجر ورکوی وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ او هرچه هغه دے چه رالیږلے دے مونږه
اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ تاته له کتابه چه قرآن دے او دا مِنْ بیانیه دے هُوَالْحَقُّ هغه رښتیا دے
مُصَدِّقًا په دے حال چه رښتینی بلونکے او موافق دے لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ط له هغه کتابونو سره چه
تړے مخوا وولکه تورات او انجیل په عقائدو او په اصولو داحکامو کښی اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ بیشکه چه
خدائ په بندګانو خپلو لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۳۱﴾ هر اٹینه خبردار دے په پټو ددوئ بیناد دے په ښکاره
ددوئ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ بیا پس کتب سابقه اوس میراث پاتے کهٔ مونږه دا کتاب چه قرآن دے
پس له تا یعنی حکم وکړهٔ مونږه په میراث پاتے کولو دے کتاب الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا هغه کسانو ته چه

غوره کړی دی موږ ده د ئی او عائد پکښې محذوف دے چه په اصل کښې اصطفینهم دے مِنۡ عِبَادِنَا
له بندګانو خپلو چه هغه امتیان ستادی اے رسوله که اصحاب دی او که تابعین او که تبع تابعین او
که څوک به راځی او پیدا کیږی این ترقیامته پورے او دا ځکه چه خدائی دوئی غوره کړی دی په
ټولو بخوانیو امتونو باندے لکه چه ویلی دی وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ الآیة
او دوئی ئے خاص کړی دی په ټولو امتونو په دے چه امت ئے کړی دی د سرتاج د ټولو رسولانو چه
بنی اخرالزمان دے لکه چه محمد بصیری صاحب ویلی دی په قصیده برده کښې ؎

لَمَّا دَعَى اللهُ دَاعِيۡنَا لِطَاعَتِهٖ عه بِاَكۡرَمِ الرُّسُلِ كُنَّا اَكۡرَمَ الۡاُمَمِ

بیا دا امت په درے قسمه شو لکه چه وائی فَمِنۡهُمۡ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ پس بعض له دوئی هغه څوک دے چه
ظالم دے پخپل ځان ځکه چه ښېنتن دے د کبائرو یا چه سیئات ئے ډیر دی له حسناتو یا چه جاهل
دے یا چه اخرت ئے بیخی هیر دے له جهته د ډیر شغل د دنیا یا چه عبادت کوی په غفلت او په عادت
سره چه دنیا راټولوی بے پروانه که حلاله وی که حرامه یا چه طالب وی یوازے د دنیا وَمِنۡهُم
مُّقۡتَصِدٞ او بعضے ترے میانه رو دی ځکه چه ښېنتن دی د صغایرو یا چه سیئات ئے برابر دی له حسناتو
سره یا چه متعلم دے یا چه دنیا او اخرت ئے دواړه په نظر کښې دی یا چه عبادت په خوف عه او په رجا سره
یا چه سعی کوی په طلب د حلالو کښې یا چه طالب وی د یواځے عقبیٰ وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ او بعض ترے
هغه څوک دی چه ځان وړومبے کونکی دی هر کار د خیر ته او همیشه په عمل د احکامو د قرآن مشغول
دے یا هغه دے چه مجتنب عه وی له کبائرو له صغائرو یا چه حسنات ئے ډیر وی له سیئاتو یا چه عالم
وی یا چه دنیا ئے هیره وی له ډیره شغله د عقبیٰ یا چه عبادت کوی محض په استحقاق یا چه دنیا
ته ئے شا وی که حلاله وی او که حرامه یا چه طالب وی یواځے د مولیٰ کذا فی المدارك بِإِذۡنِ ٱللَّهِ په
اذن او په توفیق د خدائی سره ذَٰلِكَ دا توریث عه او اصطفی چه ده هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ﴿۳۲﴾ دا یو فضل دے

عه د بیت د قصیدے مبارکے معنیٰ دا ده چه هر کله وباله الله جل جلاله رسول صلے الله علیه وسلم عبادت ته په ډیر غوره د رسلو
علی نبینا و علیه السلام سره نو دے وجه نه شو موږ ډیر غوره د امتونو لقوله علیه السلام فی الحدیث القدسی انک خیر الرسل
و امتک خیارهم هم ته چه ئے اے محمد صلعم غوره د ټولو رسولانو ئے او امت ستا غوره د امتونو دوئی دے ۱۲ مولانا جلال الدین نوکلی
عه یعنی په ویره له دوزخ او په امید د جنت سره ۱۲ عه یعنی چه ځان ساتی د ګناهونو لویو او وړو کو نه ۱۲ عه یعنی
میراث د قرآن او غوره والے د دوئی دے ۱۲

ډیر لوی جَنّٰتُ عَدۡنٍ جنتونه دا قامت چه دی یَدۡخُلُوۡنَهَا ننوځی به دا درے واړه طائفے چه بیرته ذکر
شوی دی په دے جنتونو دعدن کښ یُحَلَّوۡنَ فِیۡهَا چه په لاس کاوه به شی دوئ ته په دغه جنت کښ
مِنۡ اَسَاوِرَ له وخیو څخه یعني وخی او دا اساور جمع ده د اسورة او دے بیا جمع دے د سِوار چه ساز شوی دی د
او څی مِنۡ ذَهَبٍ له سرو زرو خالصو وَّ لُؤۡلُؤًا ج اوله ملغلرو صافو چه په دغو وخیو به جړاو وی او دا علامه
د بادشاهانو دعی بوده لکه تاج د عجمو وَلِبَاسُهُمۡ فِیۡهَا حَرِیۡرٌ (۳۳) او اغوستن د دوئ په دغه جنت کښ
د ریابی به وی خونه لکه دریابی دد ے جهان څکه چه هغه به چا اودلی نهٔ وی وَقَالُوا او وبه وائی
دوئ چه له دوزخ تیر شو او په جنت کښ داخل شو چه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡۤ ثنا ده هغه خدائ لره چه
اَذۡهَبَ عَنَّا الۡحَزَنَ ط لرے کړو او بوته دهٔ لره موږ خفګان د اور یا دموت یا درد د طاعاتو اِنَّ رَبَّنَا
بیشکه رب څموږه چه دے لَغَفُوۡرٌ هرائینه بخښونکے دے د ګناهونو اګرکهٔ ډیر وی هم شَکُوۡرُ ﴿۳۴﴾
قبلونکے دے د طاعاتو اګرکهٔ لږ وی هم الَّذِیۡۤ اَحَلَّنَا هغه رب چه ډیره کړو ده موږه دَارَ الۡمُقَامَةِ
په حویلے د اقامت چه هیچرے به ترے نهٔ لرے کیږو نه په موت او نهٔ په اخراج مِنۡ فَضۡلِهٖ ج له
فضل او له مهربانئ خپلے نه څموږه عمل سره لَا یَمَسُّنَا فِیۡهَا چه نهٔ به رسیږی موږه ته په دے
دار د اقامت کښ نَصَبٌ هیڅ سختی او مشقت وَّلَا یَمَسُّنَا فِیۡهَا لُغُوۡبٌ ﴿۳۵﴾ او هم دا به نهٔ به رسیږی
موږه ته په دے دار کښ ستومانی او ملالی څکه چه تکلیف پکښ نشته وَالَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا او هر
چه هغه کسان دی چه کفر ئے اختیار کړے دے لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ ج دوئ لره مقرر دے اور د دوزخ
لَا یُقۡضٰی عَلَیۡهِمۡ نهٔ به شی کولے حکم په دوئ د مرګ فَیَمُوۡتُوۡا پس چه مړه شی دوئ او په آرام شی
وَلَا یُخَفَّفُ عَنۡهُمۡ او نهٔ به سپکوالے کاوهٔ شی له دوئ مِّنۡ عَذَابِهَا ط له عذاب د دے اور د دوزخ کَذٰلِکَ نَجۡزِیۡ
هم دا سے جزا ورکوو موږه کُلَّ کَفُوۡرٍ ﴿۳۶﴾ هر شکر بے ایمان ته وَهُمۡ یَصۡطَرِخُوۡنَ فِیۡهَا ج او دوئ
به سورے وهی او فریاد به کوی په دے دوزخ کښ او دا سے به وائی چه رَبَّنَاۤ اَخۡرِجۡنَا اے ربه څموږه
یو کرت وباسه موږ له دے دوزخ او بیا ولیږه موږه دنیا ته نَعۡمَلۡ صَالِحًا چه وکړو موږه هلته
نیک عمل غَیۡرَ الَّذِیۡ غیر له هغه عمله کُنَّا نَعۡمَلُ ط چه وو موږه چه کاوو به مو مخوا په دنیا کښ او دا
سورے به مو دومره مو ده وی لکه اول دد نیا تر آخره پورے بیا نو رب العزت به ورته ووائی چه

اَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُمۡ ایا نه وو درکړے مونږه تاسے له عمر مَّا یَتَذَكَّرُ فِیۡهِ دومره قدر چه پند اخلی په هغه
کښې مَنۡ تَذَكَّرَ هر هغه څوك چه طلب لری د دې چه پند واخلی وَجَآءَكُمُ النَّذِیۡرُ ؕ او راغلے وو تاسو له
ویرونکے چه پیغمبر وو یا کتاب یا موت یا د اقرآن یا سپین ویخته نو دوی به وائی چه هو عمر د ہم
راکړے وو او ویرونکے هم راله راغلے وو بیا نو رب العزت به ورته وائی چه فَذُوۡقُوۡا پس وڅکئ عذاب د دوزخ
فَمَا لِلظّٰلِمِیۡنَ پس نشته ظالمانو یعنی کافرانو له مِنۡ نَّصِیۡرٍ ﴿۳۷﴾ مددګار هیڅوك چه له دے عذابه ئے
خلاص که اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ عٰلِمُ غَیۡبِ السَّمٰوٰتِ خبردار دے په پټو د اسمانونو وَالۡاَرۡضِ ؕ او
د زمکے یعنی هرچه له تاسے پټ دی هغه ټول ده ته ښکاره دی اِنَّهٗ عَلِیۡمٌۢ بیشکه چه دے اګاه دے
بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۳۸﴾ په هر هغه څیز چه پټ دے په سینو کښې یعنی په زړونو د خلقو کښې نو هر کله چه په
پټو زړونو خبر دے نو په نورو پټو خو به په طریقه اولیٰ سره خبر وی هُوَ الَّذِیۡ دے هغه قادر مطلق دے
جَعَلَكُمۡ خَلٰٓئِفَ چه ګرځولی یئ ده تاسے خلیفګان د تیرو خلقو فِی الۡاَرۡضِ ؕ په زمکه کښې یعنی تاسے ئے
د پخوانیو خلقو په ځائ کینولی او تصرف د زمکے ئے تاسے له درکړو او حظوظ او لذوذ ئے ټول د رته
مباح کړه چه شاکران شئ او د توحید او د طاعت په لاره روان شئ فَمَنۡ كَفَرَ پس هر څوك چه کافر شه
یا کفران ئے وکړه د دے نعمت فَعَلَیۡهِ كُفۡرُهٗ ؕ پس بار دے په ده د اکفر یا کفران د ده یعنی موجب شه د غضب
د خدائ او د خسارت د اخرت لکه چه وائی وَلَا یَزِیۡدُ الۡكٰفِرِیۡنَ كُفۡرُهُمۡ او نه زیاتوی کافرانو له د اکفر
د دوی عِنۡدَ رَبِّهِمۡ په نزد د رب د دوی اِلَّا مَقۡتًا ۚ مګر غضب وَلَا یَزِیۡدُ الۡكٰفِرِیۡنَ كُفۡرُهُمۡ او نه زیاتوی
کافرانو ته د اکفر د دوی اِلَّا خَسَارًا ﴿۳۹﴾ مګر زیان قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ ووایه دوی ته چه ایا وینئ تاسے
شُرَكَآءَكُمُ الَّذِیۡنَ هغه شریکان ستاسے تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ چه بلل به موا و عبادت به مو کولو
د دوی غیر له خدائ اَرُوۡنِیۡ مَاذَا خَلَقُوۡا وښایئ تاسے ماته چه کوم څیز پیدا کړے دے خدایانو ستاسے
مِنَ الۡاَرۡضِ له زمکے څخه اَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٌ اوکه شته دے دوی لره کوم قسم شریکوالے فِی السَّمٰوٰتِ ۚ
په پیدا وبنت د اسمانونو کښې له خدائ سره په الوهیت کښې اَمۡ اٰتَیۡنٰهُمۡ كِتٰبًا اوکه ورکړے دے مونږه
دوی لره کوم کتاب چه هغه ناطق دے په دې چه دوی شریکان دی څما فَهُمۡ عَلٰی بَیِّنَتٍ مِّنۡهُ ۚ پس
دوی په پاخه حجت ولاړ دی له هغه کتابه او دا یو هم نه دے بَلۡ اِنۡ یَّعِدُ الظّٰلِمُوۡنَ بلکه نه کوی

وعده د ظالمانو یعني مشرکان بَعْضُهُمْ بعض د دوی چه اشراف او مشران دي بَعْضًا بعضو نورو ته چه
اذنال او اتباع دي اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۴۰﴾ مګر د غره کولو په مکر او په فریب سره چه ورته وائی چه دا بتان به ستاسی
شفاعت وکه خدائی ته. اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چه دے یُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ ساتی دا آسمانونه وَالْاَرْضَ
او دا زمکه اَنْ تَزُوْلَا ۚ له دې چه زائل شی یعنی چه لمځایه خپلے ځایه شی ځکه چه ممکن لره په
حال د بقا کښې لازم دے ساتونکے خالق وَلَئِنْ زَالَتَاۤ او که څه په زوال شی دا دواړه په طریقه
د فرض سره اِنْ اَمْسَكَهُمَا نو و به نه ساتی له زواله مِنْ اَحَدٍ هیڅوک مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ غیر له خدای
اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه دے دے حَلِیْمًا څښتن د حلم چه مشرکان زر نه نیسی په شرک غَفُوْرًا ﴿۴۱﴾
بخښونکے دے تائبانو له شرکه روایت دے چه قریشو واوریدل څو اله بعث د رسول صلی الله علیه
وسلم چه اهل کتابو تکذیب وکړه د خپلو رسولانو نو دوی وویل چه لعنت دِ وی د وخت په یهودو
او په نصارٰی وُ چه رسولان ئے و نه منل قسم دے که مونږ ه له رسول راغلے دے نو هرائینه وو به مونږه
ډیر سم په لارے له هر یو له دے ټولو. بیا چه رسول صلے الله علیه وسلم پیدا شهٔ او دوی و نهٔ مانهٔ نو نازل
شهٔ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ او سوګند کوی په خدائی د کفار د مکے جَهْدَ اَیْمَانِهِمْ په هغه سخت سوګند خپل سره
په دے چه لَئِنْ جَآءَهُمْ هرائینه که چرے راغے دوی لره نَذِیْرٌ ویرونکے یعنی پیغمبر صلی الله علیه
وسلم لَّیَكُوْنُنَّ اَهْدٰی نو هرائینه وی به دوی ډیر برابر په سمے لارے مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ له یو د
تیرو امتونو چه یهود او نصارٰی او نور امم دی یعنی هر یو چه واخلے د دغه تیرو امو مونږ به ترے ډیر
سم یو فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِیْرٌ پس هر کله چه بیا راغے دوی له ویرونکے چه محمد صلے الله علیه وسلم دے
مَّا زَادَهُمْ نو زیات نهٔ کړه دے راتلو دهٔ دوی ته اِلَّا نُفُوْرَا ۙ﴿۴۲﴾ مګر تیختہ له حقه او لرے کیدل
اسْتِكْبَارًا فِی الْاَرْضِ د پاره د طلب د لویئ په زمکه کښې وَمَكْرَ السَّیِّئِ ؕ او د پاره د کولو د بد مکر په
رسول صلے الله علیه وسلم پورے چه هلاک ئے کړ وَلَا یَحِیْقُ الْمَكْرُ السَّیِّئُ او احاطه نهٔ کوی دا بد مکر
اِلَّا بِاَهْلِهٖ ؕ مګر په اهل خپل باندے چه مکر کونکے او له دوی نه ئے هم بیا احاطه وکړه په ورځ د
بدر فَهَلْ یَنْظُرُوْنَ پس آیا انتظار کوی دوی یعنی نهٔ کوی اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِیْنَ ۚ مګر د لارے د څوانو
مکذبانو چه هغه تعذیب د دوی به وو په تکذیب د دوی فَلَنْ تَجِدَ پس له سره به نهٔ موے تهٔ لِسُنَّتِ اللّٰهِ

لارے اوعادت دخدائ لره تَبْدِیْلًا ۚ بدلول اوتغیر ورکول چه عذاب ددهٔ خوك په ثواب بدل که

وَلَنْ تَجِدَ اوبیا له سره به نهٔ مومے تهٔ لِسُنَّتِ اللّٰهِ لارے اوعادت دخدائ لره تَحْوِیْلًا ﴿۴۳﴾ گرځول اوله

مستحق چپول بل چاته اَوَلَمْ یَسِیْرُوْا ایا نهٔ دی گرځیدلی دا مکیان فِی الْاَرْضِ په زمکه دشام او

دیمن او دعراق کښ فَیَنْظُرُوْا پس چه وویني دوئ په لارو دد اوطانو کښ كَیْفَ كَانَ چه څرنگه وو

عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ اخره خاتمه دهغه مکذبانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه مخوا له دوئ تیر شوی دی لکه عاد او ثمود

او دا نور وَكَانُوْٓا اَشَدَّ اوسره له دے چه ووهغه مخوانی مکذبان ډیر سخت مِنْهُمْ قُوَّةً ط له دغه

مکیانو څخه په قوت کښ اوهغه هلاك کړے شو په سبب دد تکذیب وَمَا كَانَ اللّٰهُ اونهٔ دے خدائ

دا سے لِیُعْجِزَهٗ مِنْ شَیْءٍ چه عاجز که دے کوم څیز دا سے چه ترے فوت شي یا ترے تیر شي فِی

السَّمٰوٰتِ نه په اسمانونو کښ وَلَا فِی الْاَرْضِ اونه په زمکه کښ اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه دے

دے عَلِیْمًا قَدِیْرًا ﴿۴۴﴾ دانا په احوالو د هرچا قادر په تصرف په دوئ کښ چه څرنگه ئے

اراده وی بے مزاحم وَلَوْ یُؤَاخِذُ اللّٰهُ او که چرے نیولے خدائ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا دا خلق په

سبب د هغه شرك او معصیت چه کړے وَمَا تَرَكَ عَلٰی ظَهْرِهَا نو پریخے به ئے نهٔ وے په شا دد زمکے

مِنْ دَآبَّةٍ هیڅ زنده سرو وَّلٰكِنْ یُّؤَخِّرُهُمْ لیکن وروستی کوی دوئ اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی ج تروخته

په نامه کړے شوی پورے فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ پس چه راغے اجل ددوئ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ پس بیشکه

دے خدائ بِعِبَادِهٖ بَصِیْرًا ﴿۴۵﴾ په بندګانو خپلو بینا ۵ ع ۱۷

سُوْرَةُ یٰسٓ (۳۶) مکیة (۴۱) — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — اٰیَاتُهَا ۸۳ رُکُوْعَاتُهَا ۵

یٰسٓ ﴿۱﴾ ج په دے کښ هم متاخرینو رنګا رنګ اقوال کړی دی نو څوك وائی چه دا نوم دخدائ دے

اوڅوك وائی چه دا نوم د پیغمبر علیه السلام دے لکه حدیث دے چه [عه] اِنَّ اللّٰهَ سَمَّانِیْ فِی الْقُرْاٰنِ

بِسَبْعَةِ اَسْمَاءَ مُحَمَّدٌ وَّ اَحْمَدُ وَطٰهٰ وَیٰسٓ وَ مُزَّمِّلٌ وَ مُدَّثِّرٌ وَعَبْدُ اللّٰهِ اوڅوك وائی چه

عه بیشکه چه خدائ نامه ایښے ده ما لره په قرآن کښ په اوو نومونو سره یو محمد دوئم احمد دریم طٰهٰ څلورم یٰسٓ پنځم مزمل شپږم مدثر اوم عبد اللّٰه ۱۲

دا سورة دے لکه حدیث دے چه ان الله قرءطٰهٰ ویٰسٓ قبل ان خلق السموت والارض بالف عام
اوخوك والئ چه دده معنیٰ یا انسان ده په ژبه دبنی طی - او اصل یا انیسیین دے بیا نو اختصار پکښ
وشو دپاره دخفت دا چه دا دوه کلمے دے نو له هرے یوے یو حرف واخست یعنی له یائے یٰ اوله انیسیین
نے سٓ راواخست نو یٰسٓ شواو دسورة متممهم بالهٰشی ځکه چه مقاصد ددارینو تماموی دخپل قاری
اودافعه هم بالهٰشی ځکه چه دفع دټولو مکارهو ترے کوی - او قاضیه هم بالهٰشی ځکه چه حاجات
نے ټول ترسره کوی او قلب القرآن هم بالهٰشی ځکه چه حدیث دے چه لکل شیءٍ قلب وقلب القرآن
یٰسٓ روایت دے چه کفارو د مکے هرکله وویل رسول صلے الله علیه وسلم ته چه ته خدائے نه
نے رالیږلے او دا ټول له ځانه وائے نو نازل شو وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِیْمِ ﴿۲﴾ قسم دے په هغه قرآن چه
محکم دے یا حکم کونکے دے په حق یا خښتن دے د حکمت اِنَّكَ او بیشکه ته چه نے لَمِنَ الْمُرْسَلِیْنَ ﴿۳﴾
له هغو رسولا نو چه لیږلے شوی دی خلقو ته عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۴﴾ روان په سمے لارے او رالیږلے
شوے دے تا ته دا قرآن تَنْزِیْلَ الْعَزِیْزِ په رالیږلو دهغے خدائے غالب سره چه معاندان نے
عاجز کړی دی په فصاحت او بلاغت ددے منزل سره الرَّحِیْمِ ﴿۵﴾ مهربان دے پرے چه دوستان نے
رابنکلی دی خپل ځان ته په لطف او په لذیذ خطاب او دا راغلے دے تا ته لِتُنْذِرَ قَوْمًا دپاره ددے
چه وویروے ته هغے قوم مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ چه نه دو ویرولے شوی پلاران ددوئ ابن اسمٰعیل علیه
الصلوة والسلام پورے چه دا زمانه دفترة وه قریب خلور زره کلو نو ته به وه فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ﴿۶﴾ پس
دوئ یعنی غافل او بے خبره دی له توحیده او له ایمانه او له هدایته لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ هر آئینه
په تحقیق واجب شو هغه کنت دعذاب چه دا دے لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعین
عَلٰٓی اَكْثَرِهِمْ په زیاتو ددوئ یعنی په ازل کښ حکم شوے دے په دے چه دوئ به مری یا به
قتلیږی به کفر لکه ابوجهل او امثال ددهٔ فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۷﴾ پس نو دوئ ایمان نه راوړی اودا
ځکه چه اِنَّا جَعَلْنَا بیشکه موږه چه یو اچولی دی موږه فِیْٓ اَعْنَاقِهِمْ اَغْلٰلًا په کردنو نو ددوئ کښ طوقونه
پس له پیوسته کولو دلاسونو ددوئ په پاس زنو ددوئ کردنو نو خپلو پورے فَهِیَ اِلَی الْاَذْقَانِ

عه معنیٰ دا چه بیشکه خدائ لوستلے وه سوره طٰهٰ او یٰسٓ پخوا دپیدا دښت دآسمانونو او دځمکے زر کاله ۱۲

پس دا طوقونه رسیدلی دی پاس زنو د دوئ ته له جهته د ډیرپلنوالی نو د ے طونو سرونه د دوئ دا ے
کلک نیولی دی چه له سره حرکت ته ئے نهٔ پریږدی نو هرکله چه دا سے شهٔ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ ⑧ پس
دوئ جګ سری کړے شوی دی او سترګے ئے هم پټے کړے دی نو نه سرښکته کولے شی او نهٔ ګردن
راکږولے شی او نه سترګے غړولے شی حق ته روایت دے چه ابوجهل سوګند کړے وو چه
کهٔ محمد صلے الله علیه وسلم په مانځه کله ما ولیده نو په سجده کښی به ئے سر مات کړم بیا چه په مانځه
ئے ولیدهٔ نو تیږه په لاسونو کښی وله راغے چه تیږه ئے پورته کړه نو په ګردن پورے ئے کلکه ونښته
او په لاسونو پورے ئے هم سلیښت شوه نو بیرته راغے او هغه تیږه په ډیره سختئ خلقو تر نه لرے
کړه بیا بل سړی وویل چه زه به اوس لاړ شم او سر به ئے په دے تیږه مات کړم نو چه هغه تیږه
په لاس نزدے راغے نو ړوند کړے وخدائ. او نازل وَجَعَلْنَا او وګرځولے دے مونږه مِنْ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ
سَدًّا په مخکښی د دوئ دیوال او پرده وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا او وروستو شا طرف ته د دوئ هم پرده او
دیوال فَاَغْشَيْنٰهُمْ پس پټے کړے دی مونږه سترګے د دوئ په پردے د جهل او دعناد سره فَهُمْ لَا
يُبْصِرُوْنَ ⑨ پس دوئ هیڅ نهٔ وینی. محققا نو ویلی دی چه مخکښی دیوال د طول امل دے او شا
ته دغفلت دے له خپلو جنایاتو او هرڅوک چه دا سے دیوالونو او پردو نیولی دی هغه کله لیدلے شی
دلایل د قدرت او لاره د هدایت او خلاصی وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ او برابر دے په دوئ دا کار ءَاَنْذَرْتَهُمْ
چه ایا ویرولے ته دوئ له عذابه اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ یا نهٔ ویرولے ته دوئ لَا يُؤْمِنُوْنَ ⑩ ایمان نهٔ
راوړی دوئ ځکه په ازل کښی د دوئ موت یا قتل په کفر مقرر دے اِنَّمَا تُنْذِرُ بیشکه هم دا خبره
ده چه ویرولے ته مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ هر هغه څوک چه پیروی کوی د قرآن او اوری مواعظ په سمع د قبول
سره وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ او ویریږی له خدائ بِالْغَيْبِ ج پس شا نادیده یا پناه له خلقو فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ
پس زیرے ورکړه اے رسوله په هغه بخښنه د ګناهونو وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ⑪ او په ډیر لوئ اجر سره
په آخرت کښی چه جنت رضوان دی دا رد ے اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى بیشکه مونږه چه یو هم
دا مونږه به ژوندی کو و مړی په بعث یا په مړ زړونو په هدایت یا کفار په ایمان وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا
اَو ښکو مونږه هغه چه لیږلی دی دوئ په هغه وخت چه لا ژوندی وو دوئ کهٔ نیک وی او کهٔ بد

وی وَ اٰثَارَهُمْ ط او پس له مرګه عملونه د دوئ هم یعنی هغه عملونه چه پس له مرګه ورپسے رسیږی کۀ د خیر وی لکه د نذرپس د علم یا تصنیف د کتاب یا کنودل د کوهی یا ساز ول د مسجد یا د لارے یا وقف کول د زمکے یا د ونے یا ایخودل د جرندے یا د پل یا وقف کول د قرآن یا د کتاب یاد سے کوم بل کار د خیر جاری او کۀ د شر وی لکه شیندل د کوم باطل یا جوړول د آلاتو د ملاهی لکه ډول او سود ني او سرنده او رباب او داسے نور ډیر دی یا بنیا د ایخودل د کوم ناروا لکه حاکمان دد ے زمانے چه هر یو چه راشی نو بے عمل جاری کوی په رعیت مخالف له کتاب او تحصیل د مبلغ ته یوه بهانه جوړوی او چا ویلی دی چه مراد له د غه اثار و قدمونه دی د مصلیانو چه مساجدو ته ئے اخلی د پاره د ادا د فرائضو او جمعوا و عیدینو لکه روایت دے چه په مدینه کښ کوړنه د بنی سلمهٔ له مسجده ډیر لرے وو نو دوئ اراده د نزدے کید لو وکړه مسجد ته او رسول صلی الله علیه وسلم په دے خبر شو نو منع ئے وکړه له راتلو او ورته ئے وویل چه دیارکم تکتب اثارکم یعنی هم هلته اوسئ چه ډیر ښکلے کیږی قدمونه ستاسے وَكُلَّ شَيْءٍ او بیان کړے دے مونږه هر څیز اَحْصَيْنٰهُ یعنی په شمار کړی او په ضبط کړی دی مونږه د غه څیز فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٢﴾ په هغه دفتر کښ چه پیشوا او ښکاره دے یعنی لوح محفوظ روایت دے چه عیسیٰ ع ۱۸
علیه السلام یخواله ختلو د اسمان ته دوه سړی چه صادق او صدوق نومونه ئے وو ښار د انطاکیے ته و لیږل د پاره د دعوت چه دوئ ښار ته رانزدے شو نو هلته یو شپون وو چه کډ مے ئے پوَلے، نوم ئے حبیب نجار وو هغه دوئ ته وویل چه څوک ئے دوئ وویل استاذی یو د عیسیٰ علیه السلام تا سے لره راغلو چه بتان پریږدئ او یو ازے د خدائ عبادت کوی هغه وویل چه کوم معجزه لرئ دوئ وویل هو. مریض او برګے او خوارځ ئے رغوو په امر د خدائ نو دهٔ خپل ځوی ورلره راوست چه دده کلونو مریض وو او دوئ پرے لاس راخکو نو فی الحال روغ شو او حبیب پرے ایمان راوړو بیا دا خبره په ښار کښ مشهوره شوه او ډیر خلق ترے روغ شو چه بادشاه خبر شو نو حاضر ئے کړه او ورته ئے وویل چه غیر له خدایانو ځمونږ تا سے بل خدائ هم لرئ؟ دوئ وویل، هو هغه چه هم تهٔ او هم ستا خدایان ئے پید اکړی دی نو زندان کښ ئے واچول بیا عیسیٰ علیه السلام دریم سړی ورپسے ولیږهٔ چه سمعون نوم ئے وو نو راغے او له عملے د بادشاه سره اختلاط بنا کړهٔ

بیا چه ډیر وړ سره خلط شهٔ نو د دوئ احوال ئے بادشاه ته ورسا وو چه دے ئے راو بالهٔ او خان څخه ئے ډیر
کړه نو ډیر وړته مقرب شو بیا یو ورځ ده بادشاه ته وویل چه اورم چه تا دوه سړی په زندان کړی دی دا
ولے، څه ئے ویلے دی؟ ته ئے راحاضر کړه بیا چه راغلهٔ ده وویل چا رالیږلی یئ؟ دوئ وے خدائ. بیا دهٔ
وویل وصف ئے وکړئ خو کوتاه دوئ وویل یفعل مایشاء ویحکم مایرید بیا ئے ورته وویل چه معجزه لرئ
دوئ وویل هو. هرچه بادشاه غوارې نو یو اَکْمَهٔ ئے وله راوست او دوئ ورته دعا وکړه نو سترګے ئے
وچاودے او دوئ پنډوسی پکښ کیخودے نو کاتی شو چه لیدل ئے پرے وکړهٔ نو شمعون بادشاه ته وویلو
چه له تا به خوځال پتومه دوئ خو څهٔ نه وینی نه څهٔ اوری نه نفع لری نه ضرر لری بیا شمعون دوئ
ته وویل چه ستاسے خدائ کهٔ مړی ژوندی که نو مونږ به ایمان راوړو ددربانډ ے نو مړی لره ئے وړ وستل
چه دمړلے ئے اومه ورځ وه چه دوئ دعا وکړه هغه راپاسیدهٔ او وویل ئے چه زهٔ په اومه کنده د دوزخ
کښ وم په سبب د شرک او اوس تاسے نه وانم چه بت پرستی پریږدئ او ایمان راوړئ په خدائ
او بیا ئے وویل چه د اسمان دروازے ټولے پرانستلے دی او یو خوش رویه ځلمے د چه امین کوی په دُعا
د دوئ درے وارو. نو بادشاه وویل کوم درے؟ هغه وویل شمعون او دا دواړه نو بادشاه ډیر تعجب وکړو
او شمعون په نرم دلئ ددهٔ پوهه شهٔ نو نصیحت ئے ورته وکړو. نو بادشاه او بعضو له قومه ئے ایمان راوړهٔ
او په هغهٔ باقی جبریل علیه السلام یو چیغه وویسته نو هلاک شو لکه چه وائی. وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا
او بیان که اے رسوله دے مکیانو ته یو مثل اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ م د اوسیدونکیو د هغه ښهر چه
انطاکیه باله شو اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ⑬ په هغه وخت چه راغله دے قریے لره استاذی اِذْ
اَرْسَلْنَآ یاد که هغه چه ولیږل مونږه اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ دوئ لره دوه استاذی چه صادق او صدوق
یعنی عیسٰی علیه السلام ولیږل په امر خپل مونږه سره فَكَذَّبُوْهُمَا پس تکذیب وکړو د غه خلقو دے
دواړو او په زندان کښ ئے واچول فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ پس عزت ورکړهٔ یعنی کړهٔ مونږه هغه دواړه
په دریم سره چه شمعون وو فَقَالُوْٓا پس وویل دوئ اهل د انطاکیے ته چه اِنَّآ اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ⑭
بیشکه مونږه تاسے ته لیږلے شوی یو د عیسٰی علیه السلام له جانبه قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ نو وویل دے
خلقو هغه استاذیو ته چه نهٔ یئ تاسے اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ مګر ادمیان څمونږ ه په شان او نشته

په تاسے کښې کوم زیاتی څیز چه موجب د اختصاص ستاسے شی په ارسال پورې وَمَآ اَنۡزَلَ الرَّحۡمٰنُ او
بل داچه نهٔ دے رالیږلے مونږ ه ته خدائ مِنۡ شَیۡءٍ ۙ هیڅ څیز له وحی او نه له رسالته اِنۡ اَنۡتُمۡ نهٔ یئ
تاسے اِلَّا تَکۡذِبُوۡنَ ⑮ مګر خو دروغ وایئ په دې دعوی د رسالت کښې قَالُوۡا رَبُّنَا یَعۡلَمُ بیا وویل استاذیو
چه رب څمونږ ه پوهیږی اِنَّآ اِلَیۡکُمۡ لَمُرۡسَلُوۡنَ ⑯ چه بیشکه مونږ ه تاسے ته هرائینه رالیږلے شوی
یو وَمَا عَلَیۡنَآ او نشته په مونږ بل هیڅ اِلَّا الۡبَلٰغُ الۡمُبِیۡنُ ⑰ مګر پیغام رسول دی ښکاره سره له معجزې
قَالُوۡٓا اِنَّا بیا وویل دغه خلقو مونږ ه بیشکه چه یو تَطَیَّرۡنَا بِکُمۡ ۚ بد فالی نیولے ده مونږ ه ستاسے په
راتلو یعنی تاسے چه دې ښار لره راغلی یئ نو باران راباندے بند شوے دے او غلے راته وچې شوې لَئِنۡ
لَّمۡ تَنۡتَهُوۡا هرائینه که وانهٔ وختئ له دې دعوی خپلې لَنَرۡجُمَنَّکُمۡ نو هرائینه سنګسار به کړو مونږ ه خامخا
تاسے وَلَیَمَسَّنَّکُمۡ مِّنَّا او هرائینه و به رسیږی څمونږ ه له طرفه تاسے ته عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ⑱ عذاب دردناک
قَالُوۡا طَآئِرُکُمۡ بیا وویل استاذیو چه بد فالی ستاسے چه ده مَّعَکُمۡ ؕ له تاسے سره ده له جهته د کفره -
اَئِنۡ ذُکِّرۡتُمۡ ؕ آیا که پند درکړے شی تاسے ته نو بد فالی نیسئ او د قتل اراده کوئ بَلۡ اَنۡتُمۡ بلکه هم دغه
تاسے قَوۡمٌ مُّسۡرِفُوۡنَ ⑲ یو قوم یئ له حده د انصاف تیریدونکی په سبب د شرک خپل سره روایت
دے چه هر کله د اجګړه دد دے قوم له استاذیو سره برپائ شوه او حبیب نجار په دے خبره خبر شو او
کوږ په کوز د ښار سر کښې وو نو په منډه وړ لره راغے لکه چه وائی وَجَآءَ مِنۡ اَقۡصَا الۡمَدِیۡنَةِ او راغے
له کوزه سره د ښاره رَجُلٌ یَّسۡعٰی یو سړے چه منډے ئې وهلے بیا چه قوم له راغے نو پوښتنه ئې
وکړه له قومه چه دا استاذے په دے پیغام راوړلو څهٔ مزدوری درځنې غواړی؟ دوئ وویل نهٔ غواړی
قَالَ یٰقَوۡمِ نو وویل دهٔ چه اے قومه څما اتَّبِعُوا الۡمُرۡسَلِیۡنَ ⑳ ۙ پیروی وکړئ دد دې استاذیو او نصیحت
ئې قبول کړئ او بله کله له ما واورئ چه اتَّبِعُوۡا مَنۡ همیشه پیروی کوئ او خبره منئ د هغه چا
لَّا یَسۡـَٔلُکُمۡ اَجۡرًا چه نهٔ غواړی له تاسے اجر د پیغام رسولو وَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ㉑ او حال دا چه دوئ
په سمې لارے روان وی یعنی د خیر په لارے نو دوئ د دنه وویل چه بارے نه هم د دوئ په
دین ئې نو دهٔ وویل **وَمَالِیَ** او کوم مانع دے ما لره چه د زړهٔ په صدق لَآ اَعۡبُدُ الَّذِیۡ عبادت
نهٔ کوم د هغه خدائ فَطَرَنِیۡ چه پیدا کړے یم زهٔ او له عدمه ئې وجود ته راایستلے یم او تاسے هم

همدا سے دۀ پیدا کړی یئ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۲﴾ او هم دۀ لره به بیا هم بیولے کیږئ نو میبایدچه تا سے
هم خاص هم د دهٔ عبادت کوئ ءَاَتَّخِذُ آیا نیسم او پیدا کوم زهٔ مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً غیرله پرورد کاره
نور خدایان اِنْ يُّرِدْنِ الرَّحْمٰنُ که اراده وکړهٔ له ماسره خدای بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّيْ د ضرر رسولو
نود فع به نهٔ کړی له ماسره شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا شفاعت د دوی بتانو هیڅ له ضرره وَّلَا يُنْقِذُوْنِ ﴿۲۳﴾ او نهٔ به
خلاص که دوی ماتر ے په زوره او هر کله چه دا سے ده نو اِنِّيْۤ اِذًا بیشکه زهٔ چه یم په دے وخت
چه نور خدایان ونیسم لَّفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۴﴾ هرائینه په ګمراهئ ښکاره کښ به او سم بیا چه دا خبره
ترے قوم واوریده نو اراده ئے وکړه د ده د قتل او دهٔ هغه استاذیوته مخ که او ورته ئے وویل چه
اِنِّيْۤ اٰمَنْتُ بیشکه زهٔ چه یم ایمان راوړے دے ط بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُوْنِ ﴿۲۵﴾ په رب ستا سے پس واورئ
تا سے دا خبره له ماچه په قیامت بیا شاهدان اوسئ ځما په ایمان او چا ویلی دی چه دا خطاب قوم
ته دے بیائے قتل کړو نو قِيْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ط وویلے شو ورته چه ننوزه جنت ته او قبرئے په
بازار د انطاکیه دے او چا ویلی دی چه ژوندئے ترے یوړ و جنت له ۔ او په هر تقدیر بیا په
جنت کښ داخل شهٔ او نعمتونه ئے پکښ ولیدل بے انتها نو قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ وویل ده چه
اے کاشکے چه دا قوم ځما يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ بِمَا غَفَرَ لِيْ پوهـ شوے په هغه بخښنه چه وکړه ماته رَبِّيْ
رب ځما وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۷﴾ او کړمهٔ ئے زهٔ له عزت ورکړے شویو په حال د جنت سره
وَمَاۤ اَنْزَلْنَا او نهٔ وو لیږلے مونږه عَلٰى قَوْمِهٖ په قوم د حبیب مِنْۢ بَعْدِهٖ پس له قتل یا له رفع دهٔ
اسمان ته مِنْ جُنْدٍ کوم لښکر مِّنَ السَّمَآءِ له اسمانه یعنی ملایك د پاره د هلاکولو د دوئ وَمَا
كُنَّا مُنْزِلِيْنَ ﴿۲۸﴾ او نهٔ وو مونږه رالیږونکی د لښکرو په دے چه له دوی خسیسانو سره اسمانی لښکر
نه بنائیده او په بدر په حنین کښ محض د پاره د عزت د رسول صلی الله علیه وسلم راغلے وو
او بل په دے چه لښکر ته هیڅ حاجت نهٔ وو ځکه چه اِنْ كَانَتْ نهٔ وو عاقبت د دے قوم اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً
مګر یوه چغه وه د جبریل علیه الصلوٰة والسلام پرے وے کړه فَاِذَا هُمْ خٰمِدُوْنَ ﴿۲۹﴾ پس
ناګاه دوی بیا مړه پراته وو لکه اور دوی ئے مشابه کړه له اوره سره ځکه چه ژوندی لکه اور
دے او مړ لکه هیرے دی لکه لبید شاعر ویلی دی ۔ اشعار :

وَمَا النَّاسُ اِلَّا کَالدِّیَارِ وَاَهْلِهَا بِهَا یَوْمَ حَلُّوْهَا وَغَدَوْا بَلَاقِعُ
وَمَا الْمَالُ وَالْاَهْلُوْنَ اِلَّا وَدِیْعَةٌ وَلَا بُدَّ یَوْمًا اَنْ تُرَدَّ الْوَدَائِعُ
وَمَا الْعُمْرُ اِلَّا کَالشِّهَابِ وَضَوْئِهٖ یَصِیْرُ رِمَادًا بَعْدَ اِذْ هُوَ سَاطِعُ

یٰحَسْرَةً اے ډیر افسوس دے عَلَى الْعِبَادِ ج په کافرو بندګانو چه مَا یَاْتِیْهِمْ نهٔ دے راغلے دوئ ته مِّنْ
رَّسُوْلٍ هیڅ رسول اِلَّا کَانُوْا مګر چه وو به دوئ بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ (۳۰) چه په هغې پورے مسخرے به ئے
کولے اَلَمْ یَرَوْا آیا نهٔ وینی دا مکیان یعنی نهٔ پوهیږی په دے چه کَمْ اَهْلَکْنَا څو یا ډیر هلاک
کړی دی مونږه قَبْلَهُمْ مخوا له دوئ مِّنَ الْقُرُوْنِ له قرنونو لکه قوم د نوح علیه السلام او عاد او ثمود
او موتفکات او مدین او اصحاب د ایکے او فرعون او دا سے نور اَنَّهُمْ اِلَیْهِمْ چه بیشکه هغه هلاک
شوی دوئ ته لَا یَرْجِعُوْنَ ط (۳۱) نهٔ راګرځی یعنی بیرته د نیا له نه راځی وَاِنْ کُلٌّ او نهٔ دی دا ټول
لَّمَّا جَمِیْعٌ مګر دا ټول یعنی رسولان او مؤمنان او کافران به ګډ سره لَّدَیْنَا مُحْضَرُوْنَ (۳۲) ع وی
به مونږه څخه حاضر کړے شوی د پاره د جزا په ورځ د قیامت وَاٰیَةٌ لَّهُمُ او یوه نښه چه ده
دوئ له په قدرت ځمونږه باندے په بیا ژوندی کولو دے مړیو الْاَرْضُ الْمَیْتَةُ ج زمکه ده مړه
یعنی وچه کلکه بے سبزئ اَحْیَیْنٰهَا چه ژوندی کړه مونږه دا زمکه په باران سره وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا او
وویستے مونږه له دے زمکے له دے څخه حَبًّا دانه یعنی دا جنس لکه غنم او وریشے او جوار او شولے
او مویز او غوښت او ګدن او باجره او مټر او نخود او موټ او کونږلے او کلول او مشنګ او لوبیا او
دا سے نور حبوب عذائیه شو فَمِنْهُ یَاْکُلُوْنَ (۳۳) پس له هم د غے دانے عوری او خپل قوت پرے
کوی دوئ او ظرف ئے دلته مقدم که چه دلالت وکا په دے چه دا دانه ډیره اعلیٰ ده په اقسامو
د معاش کښی ځکه چه ژوندون د بنی آدمو په همدغه دے ځکه کمیدل د دے موجب د قحط دے
او ورکیدل ئے موجب د هلاک دے وَجَعَلْنَا فِیْهَا او بل دا چه پیدا کړی دی مونږه په دے زمکه
کښی جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِیْلٍ باغونه له رنګا رنګ خرما کانو وَّاَعْنَابٍ او له رنګا رنګ انګورو وَّفَجَّرْنَا
فِیْهَا او راخیځولی دی مونږه په دے زمکه کښی مِنَ الْعُیُوْنِ لا (۳۴) له چینو د اوبو لِیَاْکُلُوْا د پاره
د دے چه وخوری دوئ مِنْ ثَمَرِهٖ لا له میوے د هغه چه مذکور شو وَمَا عَمِلَتْهُ او نهٔ ده پیدا کړے

او نهٔ دهٔ سازه کړے د امیوه اَیۡدِیۡهِمۡ ؕ لاسونو د دوئی بلکه محض د خدائی په قدرت پیدا شوی دی
اَفَلَا یَشۡکُرُوۡنَ ﴿۳۵﴾ ایا پس شکر نهٔ وباسی دوئی سُبۡحٰنَ الَّذِیۡ پاکی ده له هره عیبه هغه خدائی
لره خَلَقَ الۡاَزۡوَاجَ کُلَّهَا چه پیدا کړی دی ده په قدرت کامله خپل سره دا انواع او اصناف ټول
مِمَّا تُنۡۢبِتُ الۡاَرۡضُ له هغو څیزونو چه زرغونوی ئے زمکه لکه کښت او دانے او ونے او میوے او
نورے ترکاری او سبزئی په اقسامو اقسامو وَ مِنۡ اَنۡفُسِهِمۡ او له خپلو ځانونو د دوئی یعنی اولاد
لکه ځامن او لونړه او پسے نوسی او کړوسی وَ مِمَّا لَا یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳٦﴾ او له هغه مخلوقاتو چه نهٔ ئے پیژنی
دوئی لکه مخلوق د اسمانونو او د سیندونو او د زمکے د مینځ او نور د اسے عجیبه غریبه مخلوق چه
بندګان پرے خدائی نهٔ دی مطلع کړی وَ اٰیَةٌ لَّهُمُ الَّیۡلُ ۚۖ او بله نښه چه دهٔ د وی لره شپه ده چه
په حکمتِ بالغه خپل سره نَسۡلَخُ مِنۡهُ النَّهَارَ راو باسو او لرے کوو له دے شپے رنړا د ورځے د اسے لکه سپین
قمیص چه لرے کولے شی له حبشی یا پوست چه لرے کولے شی له ډنګره فَاِذَا هُمۡ مُّظۡلِمُوۡنَ ﴿۳۷﴾ پس ناګاه
دوئی په دغه وخت ننوتی دی په تیرو وَ الشَّمۡسُ او بله نښه دوئی لره نمر دے تَجۡرِیۡ لِمُسۡتَقَرٍّ لَّهَا ؕ
چه ځی دے او روان دے همیشه هغه قرارګاه ته چه مقرر دے دهٔ لره نو مراد له دغه قرارګاه
ددهٔ سیر یومی دے چه هره ورځ په مغرب تمامیږی چه له سترګو غائب شی او یا عامی دے چه
دور فلکی ددهٔ ترکاله پورے شی او یا له سره ئے اغاز وکه او یا عمری دی چه تر اخره د دنیا به
روان وی نو سیر به ئے بیخی منتهی شی ذٰلِکَ دا جریان ددهٔ چه دے تَقۡدِیۡرُ الۡعَزِیۡزِ اندازه کول
دی د هغه خدائی چه غالب دے په بادشاهی خپله کښی الۡعَلِیۡمِ ﴿۳۸﴾ دانا دے چه دانا دے په
مخلوق خپل وَ الۡقَمَرَ او مقدر کړے دے مونږه نمر یا سیږد سپوږمی قَدَّرۡنٰهُ مَنَازِلَ یعنی په اندازه کړے
مونږ نمر یا سپوږمی ددهٔ په اتهٔ ویشتو منازلو کښی چه ټول بیرته بیان شوی دی نو دا سپوږمی یوه
شپه په هر یو منزل کښی تیروی او نه ترے زیات او اول چه د اله نمره را تیره شی نو ډیره نری بنکاریږی
لکه تار بیا وړه وړه ترے نه وړ وستو بیا تے کیږی او نورے ئے وړځ په ورځ زیا تیږی تر څوار لسم
پورے بیا بیرته وړه وړه په کمیدو شی حَتّٰی عَادَ تر دے چه وګرځی کَالۡعُرۡجُوۡنِ الۡقَدِیۡمِ ﴿۳۹﴾ لکه
وچه کلکه څانګه د خرما چه له ډیرو چوالی کږه شوے وی لکه لینده او تر اتهٔ ویشتمه پورے

بیا یوه یا دوه شپے له نمره لاندے شی نو ور که شی بیا چه له نمره تیره شی نو میاشت را ښکاره شی وهکذا. لَا الشَّمْسُ نه دے نمر دا سے یَنْۢبَغِیْ لَهَآ چه ښائی دهٔ لره یعنی چه صحیح او اسان نهٔ وی ورلره اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ دا چه را لاندے کا دے سپوږمی او ورور سیږی یا په زمان کښ چه په شپو کښ ورسره یو ځائی شی او یا په مکان کښ چه دے هم دغه څیرمه اسمان ته وله راکوزشی او یا په صفت کښ چه دده سیر هم دهغه په شان جلت شی او یا په کمال او په سلطان کښ چه په خوار لسم کښ ورسره گډ شی او یا په منافعو او په اثارو کښ چه دے هم د سپوږمئ خواص پیدا کړ او هر یو له دغو پنځو ممنوع دی او دلیل دهر یوه ښکاره دے نو بیان ته ئے حاجت نشته. وَلَا الَّيْلُ او نه شپه سَابِقُ النَّهَارِ ط وړومبئ کیدونکے ده په ورځ یعنی پخوا له تیریدلو د ورځے دا نهٔ شی راتلے وَكُلٌّ او دا ټول چه دی یعنی نمر او سپوږمئ او ستوری فِیْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۴۰﴾ په اسمان کښ لامبو وهی یعنی فراخ پکښی روان دی وَاٰيَةٌ لَّهُمْ او بله نښه چه ده دوئ لره اَنَّا حَمَلْنَا دا ده چه بیشکه مونږه چه یو سواره کړی دی مونږه ذُرِّيَّتَهُمْ هغه اولاد د دوئ چه باعث شوی دی د اپلرونو په تګ د دوئ سوداګرئ ته یعنی چه خپل اولاد ئے سوداګرئ لره لیږلی وی یا هغه هلکان یا ښځے د دوئ چه ورسره ځی او پورے وځی فِی الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۴۱﴾ په هغه بیړئ کښ چه ډکه وی له خلقو داهل که مراد مطلق بیړئ شی یا مراد ترے بیړئ د نوح علیه الصلوٰة والسلام ده او مراد له ذریة هغه اولاد دے چه په اصلابو دهغو سوریدونکیو کښ وو او تخصیص د پاره د امتنان دے په دوئ. وَخَلَقْنَا لَهُمْ او پیدا کړی دی مونږه دوئ مِّنْ مِّثْلِهٖ په شان د بیړئ مَا يَرْكَبُوْنَ ﴿۴۲﴾ هغه چه سوریږی پرے دوئ یعنی اوښان چه هغه د وچے بیړئ دی او یا مراد ترے ورے بیړئ او کشتیګانے دی وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ او کهٔ اراده وشی ځمونږه نو غرق به کړو دا د بیړئ خلق فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ پس پیدا به نهٔ شی له سره کوم فریادرس دوئ لره چه له غرق ئے خلاص که وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ﴿۴۳﴾ او نه به دوئ په زوره خلاصولے کیږی له مرګه اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا مګر نهٔ ئے غرقوو محض د پاره د مهربانئ له مونږه وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿۴۴﴾ او بل د پاره د معاش کولو دوئ تر وخته د اجل پورے وَاِذَا قِيْلَ او په هغه وخت چه وویلے شی لَهُمُ اتَّقُوْا دے کفارو ته چه ووېرېږئ مَا

بَیْنَ اَیْدِیْكُمْ له هغه عذاب چه رسیدلے دے پخوا له تاسے امم مکذبو ته وَمَا خَلْفَكُمْ او له هغه
عذاب چه وروستو به درپسے راځی په اخرت کښې او ایمان راوړی لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ (۴۵) نو چه تاسے
لره چه رحم در باندے اوکړے شی وَمَا تَاْتِیْهِمْ اولیکن عادت ددوی دادے چه نهٔ راځی دوی له
مِّنْ اٰیَةٍ هیڅ نښه مِّنْ اٰیٰتِ رَبِّهِمْ له نښو د رب ددوی یعنے قرآن یا کومه معجزه یا دلیل د وحدت اِلَّا كَانُوْا
مګر چه وی دوی عَنْهَا مُعْرِضِیْنَ (۴۶) له نښے ځنګ کونکی وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ او په هغه وخت چه ووئیلے شی
دوی ته یعنی مشرکانو د مکے ته اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ لا خرچ وکړو ل وکړی عاجزانو نادارانو ته له هغه
ماله چه روزی کړی دی تاسے خدائی قَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا نو وائی هغه کسان چه کافر دی لِلَّذِیْنَ
اٰمَنُوْٓا هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے دے په طریقه دمسخرو سره چه اَنُطْعِمُ آیا طعام ورکړو
مونږه یعنے نهٔ ورکوو مَنْ لَّوْ یَشَآءُ اللّٰهُ هغه چا لره چه که اراده وے دخدای اَطْعَمَهٗٓ نو طعام
به ئے ورکړے وو هغه لره یعنی تاسے دخدای ځړی اوس په مونږ مه وئی اِنْ اَنْتُمْ نهٔ یئی تاسے اِلَّا فِیْ
ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ (۴۷) مګر په ښکاره ګمراهی کښې چه مونږ ته امر کوی په مخالفت دمشیت وَیَقُوْلُوْنَ او
او وائی دوی مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ چه کله به وی دا وعده دقیامت و وایئ راته اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ (۴۸) که
یئی تاسے رښتینی په دے کښې چه قیامت شته نو خدائی وائی مَا یَنْظُرُوْنَ نهٔ به وینی دوی اِلَّا صَیْحَةً
وَّاحِدَةً مګر یوه چیغه تَاْخُذُهُمْ چه ونیسی دوی یعنی پرے به وشی وَهُمْ یَخِصِّمُوْنَ (۴۹) او حال
دا چه دوی به دغه وخت کښې په سودا او په سودا خپله سره په جګړه وی او چه دا چیغه پرے وشو
نو ټول په ځائی ځائی مړهٔ شی فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ تَوْصِیَةً پس نه به ئے توان وشی د وصیت وَّلَآ اِلٰٓی
اَهْلِهِمْ یَرْجِعُوْنَ (۵۰) ع او نه به اهل خپل لره بیرته راشی وَنُفِخَ فِی الصُّوْرِ راو به یا دویم پو که به وکړے
شی په صور د اسرافیل علیه السلام کښې پس له خلویښت کاله فَاِذَا هُمْ پس ناګاه دوی به
راوزی مِّنَ الْاَجْدَاثِ له قبرونو خپلو اِلٰی رَبِّهِمْ یَنْسِلُوْنَ (۵۱) رب خپل ته به منډے وهی او په
دے خلویښتو کالو کښې به په مابین د نفختینو کښې دی عذاب به په هیڅ نهٔ وی نه په کفارو او نه په
عاصیانو مؤمنانو قَالُوْا یٰوَیْلَنَا نو وائی به دوی چه اے افسوس دے مونږه لره مَنْۢ بَعَثَنَا دا چا
راپاخولو مونږه مِنْ مَّرْقَدِنَا مرګه له د خوابګاه خپله اوځکه به دا سے وائی چه دوی

پس له ډیر وعذ ابونو د اخلوبینت ځاله به راحت موندلے وی نودا سے به وئی لکه په خوب چه
اودهٔ وی بیا به ووائی ملائک یا متقیان یا پخپله دا کفار چه یاد ئے شی کفتار د پیغمبرانو علیهم السلام چه
داله خوبه را پاڅیدل نهٔ دی بلکه هٰذَا مَا دا هغه دویم ژوندون دے دقیامت وَعَدَ الرَّحْمٰنُ چه وعده کړے وه
خدائی د راتلو دهٔ او تاسے به هم همیشه ویل چه متیٰ هذا الوعد - وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۲﴾ او رښتیا
ویلی وو رسولانو اِنْ كَانَتْ نهٔ به وی دا وروستی نفخه اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً مګریوه چیغه او هرکله چه دا
وشوه فَاِذَا هُمْ پس ناڅاپه دوئی چه دی جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿۵۳﴾ ټول به مونږ ته حاضر کړے شوی
وی بیا به وویلے شی ورته چه فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ پس نن ورځ چه ورځ دجزاده نهٔ به شی کولے ظلم په
هیچا شَيْئًا دهیڅ څیز نه په کمولو دنیکئ او نه په زیاتولو دبدئ وَّلَا تُجْزَوْنَ او نهٔ به درکولے کیږی تاسے
لره جزا اے دمحشر خلقو اِلَّا مَا كُنْتُمْ مګر هم هغه قدر چه وئی تاسے په دنیا کښ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۴﴾ چه عمل
به مو کولو کهٔ خیر وو او کهٔ شر اِنَّ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ بیشکه جنتیان چه دی نن ورځ فِيْ شُغُلٍ په
مشغولا او په عیش کښ به وی خوشحاله نازېروره فٰكِهُوْنَ ﴿۵۵﴾ لذت اخستونکی به هرلذیذ خصوصًا
په ابکارو میوے خواره هُمْ وَاَزْوَاجُهُمْ دوئی او ښځے د دوئی هم له بنی ادمو او له حورو فِيْ ظِلٰلٍ په سوریو
کښ به ناست وی عَلَى الْاَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ﴿۵۶﴾ په تختونو تکیه وهلی لَهُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ وی به دوئی لره
په دے جنت کښ انواع دمیوو وَلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿۵۷﴾ او بل وی به دوئی لره هغه څیز چه غواړی او ارزو
به ئے کوی دوئی او هغه څیز چه دے سَلٰمٌ قَوْلًا سلام به وی په ګفتار سره په واسطه یا بے واسطے مِّنْ
رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿۵۸﴾ له هغه رب چه ډیر مهربان دے یعنی دوئی به مشغول وی په نعمتونو د جنت باندے چه
ناګاه له پاسه به نُور پړے راښکاره شی او دوئی به سرونه وړ پورته که نو اواز به وشی له رب العزت چه
السلام علیکم یا اهل الجنة سلام دِ وی په تاسے اے اهل دجنت روایت دے چه هرکله دا
مخلوق ټول په محشر کښ راجمع شی نو په اول کښ به مؤمنان او کفار سره ګډ ودرولاړ وی نو کفار به
په دے ډاډه وی ناګاه به غږ وشی چه وَامْتَازُوا الْيَوْمَ او راجدا شئ نن ورځ له مؤمنانو څخه اَيُّهَا
الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۹﴾ اے مجرمانو یعنے اے منافقانو او کافرانو په دوئی به لړزان ګډ شی بیا رب العزت به عام
خطاب وکه او به وائی چه اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ ایا پیغام او وصیت نهٔ وو کړے ما تاسے ته لا پخوا په دنیا کښ

يٰبَنِيٓ اٰدَمَ اے فرزندانو د آدم علیه السلام اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ج دا سے چه عبادت مهٔ کوئ د
شیطان یعنی د بتانو په فرمان د دهٔ سره حُکم چه اِنَّهٗ لَكُمْ بیشکه چه دے تاسے لره عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۶۰﴾ دشمن
دے ښکاره بخوانے د نیکه دوخته او عاقل به د دشمن هیڅرے وِساه نهٔ کوی وَّاَنِ اعْبُدُوْنِيْ ط اودا سے
چه عبادت کوئ یوازے ځما هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۶۱﴾ دا عبادت کول ځما یوه لاره ده برابره سمه
تللے جنت لره وَلَقَدْ اَضَلَّ اوهرآئینه په تحقیق گمراه کړه دهٔ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا ط له تاسے خلق ډیر
بخواله تاسے اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۲﴾ ایا پس نهٔ یئ تاسے دا سے چه عقل خپل وچلوئ اوله دهٔ ځان
ایمان خپل وساتئ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ دا هغه دوزخ دے كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ چه وئ تاسے په دنیا
کښ چه وعده د رسره کړے شوے وه ددے اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ ځئ ننوځئ په دے کښ نن ورځ بِمَا كُنْتُمْ
تَكْفُرُوْنَ ﴿۶۴﴾ په سبب ددے چه وئ تاسے په دنیا کښ چه حق به مو پټولو او د انبیاء علیهم السلام
تصدیق به مونهٔ کولو روایت دے[عه] چه هر کله په دے مشرکانو دائره تنګه شوه په وخت د
حساب او د جزا کښ نو له شرکه به بیخی منکر شی دوئ، او کاوندیان خپلوان خپلخانے به شاهدی
پرے و وائی د شرک بیانو قسم به وکا چه وَاللّٰهِ[عه] ربنا ما کنا مشرکین بیا پس له هغه به ئے په خولے مُهر
سکوت و وهلے شی نو گنگی به شی او لاسونه او خپے به ئے وغږولے شی لکه چه وائی اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ نن
ورځ به مهر و وهو مونږه عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ په خولو د دوئ نو حصار به ئے کړو له غږ یدلو وَتُكَلِّمُنَآ
اَيْدِيْهِمْ او خبرے به وکړی له مونږه سره لاسونه د دوئ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ او شاهدی به ولولی خپے د دوئ
بِمَا كَانُوْا په هغه کارونو چه وو به دوئ په دنیا کښ يَكْسِبُوْنَ ﴿۶۵﴾ چه کاوه به ئے هغه کارونه بلکه
هر اندام به وغږیږی په هغه کار چه له دهٔ څخه صادر شوے وو فائده لکه چه اندامونه د اعداؤ
به شاهدی وائی په دوئ باندے همدا سے اندامونه د اولیاؤ به هم شاهدی وائی د دوئ د پاره په صدق
د طاعا تو له دوئ این ترکوتو چه شاهدی به ووائی په تسبیح د مسجینو لکه حدیث دے چه فانهن
مسئولات مستنطقات. وَلَوْ نَشَآءُ او که اراده شوے وے ځمونږه او س په دے دنیا کښ لَطَمَسْنَا عَلٰٓى
اَعْيُنِهِمْ نو هر آئینه مهر د محو به وهلے وو مونږه په سترګو د دوئ یعنے ړندے کړے به مو وے فَاسْتَبَقُوا

عه یعنی پیغمبران به مونه منل او د هغوئ دیل بهمود دروغ گنڑل ۱۲ عه قسم دے اے ربه ځمونږه نهٔ وو مونږه مشرکان ۱۲

الصِّرَاطَ پس بیا چه ورانده شوی وی هغه لارے ته چه پخوا همیشه به پرے تلل دوئ فَاَنّٰی یُبْصِرُوْنَ (۶۶) پس څرنګه به لیدلے وه دوئ هغه لاره وَلَوْ نَشَآءُ او بلداچه که اراده شوے وے ځمونږه لَمَسَخْنٰهُمْ نو هرآئینه مسخ کړی به وو مونږه دوئ یعنی بیزوګان یا خنازیر یا تیږی کړی به موو عَلٰی مَکَانَتِهِمْ په ځائ خپل باندے یعنی هر ځائ چه ولاړ یا ناست یا پراته وی هم هلته به وچ کلک پاتے شوی وو فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِیًّا پس طاقت به ئے نه درلود د تګ دواړندے وَّلَا یَرْجِعُوْنَ (۶۷) او نه به ئے طاقت ع شوے وو د بیرته کرځیدلو وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ او هر هغه څوک چه اوږد عمر ورکړو ورله مونږه نُنَکِّسْهُ فِی الْخَلْقِ نو نسکورا و راچپه به ئے کړو مونږه په خلقت کښ یعنی هر څیز ئے چه په اول د عمر کښ په زیاتیدو وو اوس توله په کمیدو شی لکه چه زیادت د جسم په نقصان بدل[عه] شی او قوت په ضعف او پوهه په ناپوهئ او هم دا سے نور هم اَفَلَا یَعْقِلُوْنَ (۶۸) ایا پس نه کوی دوئ د اعقل چه هغه څوک چه قادر دے په بدلولو د ځوانئ په زوړوالی او د قوت په ضعف او د پوهے په ناپوهئ هغه به په طمس[عه] او په مسخ او په بعث هم قادر وی نو ایمان راوړی وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ او نه دے زده کړے او سبودلے مونږه محمد صلے الله علیه وسلم ته شعر وَمَا یَنْۢبَغِیْ لَهٗ او نه ښائ ورله شعر ویل نو دوئ ناحق وائ چه دا قرآن شعر دے اِنْ هُوَ نه دے دا کلام چه ده راوړیدے اِلَّا ذِکْرٌ مګر پند او رهنمائ دے له جانبه د خدائ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِیْنٌ (۶۹) او کتاب دے سماوی لوستے شوے په محراب و نو کښ ښکاره کونکے د احکامو او د حدودو د شرع او راغلے دے لِّیُنْذِرَ مَنْ د پاره د دے چه وویروی دے هر هغه څوک چه هغه څوک کَانَ حَیًّا چه وی دے ژوندے په زړه یعنی عاقل فهیم ځکه چه نادان او بے عقل به مثال د مړی دی چه هغه مؤمن دے او تخصیص ئے په ده پورے ځکه وشو چه نفع پرے هم دے اخلی وَیَحِقَّ الْقَوْلُ او چه واجبه شی کلمه د عذاب عَلَی الْکٰفِرِیْنَ (۷۰) په هغه کافرانو چه قرآن نه منی او کلک دی په خپل کفر او دوئ په مثال د مړیودی ځکه چه خطاب د قرآن په غوږونو د قبول نه شی اوریدلے۔ اَوَلَمْ یَرَوْا اَنَّا ایا نه وینی دوئ چه بیشکه مونږه چه یو خَلَقْنَا لَهُمْ پیدا کړی دی مونږه دوئ لره مِّمَّا عَمِلَتْ له هغه چه ساز کړیدی اَیْدِیْنَآ اَنْعَامًا لاسونه د قدرت ځمونږه یعنی پخپله

عه یعنی ښورب والے په مانده والی ۱۲ عه یعنی په مهر د مخوه کولو او په مسخ کولو او په پورته کولو له قبرونو نه ۱۲

مونږه بے شریکه دغیر چارپان لکه اوښان او غوایان او وزان او پسونه فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ (٧١) پس دوئی
د هغو مالکان او واکداران دی وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ او ایل کړی دی مونږه دغه چارپایان دوئی ته فَمِنْهَا
رَكُوْبُهُمْ پس بعضے له دے چارپایانو هغه دی چه مرکوب دی چه دوئی پرے سورېږی لکه اوښان او
غویان وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ (٧٢) او بعضے نور له دیو هغه دی چه دوئی ئے غوښے خوری لکه پسونه او وزان
وَلَهُمْ فِيْهَا او دوئی لره په دے چارپایانو کښی مَنَافِعُ ډیر سود ونه دی لکه وړئی چه لمڅی او ستړنجی
او لوئیکانے او چمکنونه او شالونه او شړی او خرجی او بوجی او جرابے ترے سازوی او وړغنے
چه کیګدئی او غوندی او جوالونه او کمندونه او رسئی ترے جوړوی او پوستکی چه خرمنے او
بوزیکان او خیګونه او کوړی او جی او پیتړے او کوښے او موزے او څپلئ او داسے نور ډیر اسبابونه ترے
رغوی او کجُ او غوړی او قورت او پنیر او پوڅه . وَمَشَارِبُ ط او نور د څښلو څیزونه لکه شودهٔ او
ماسته او شلمبے او خرپړی او لسی او داسے نور څیزونه اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ (٧٣) آیا پس شکر نهٔ وباسی
دوی په دے نعمتونو وَاتَّخَذُوْا او نیولی دی دغه مشرکانو مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ اٰلِهَةً نور
خدایان دپاره دعبادت لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ (٧٤) چه بنا ئیږی دوی سره مدد وکړے شی په
مددګاری دد ے خدایانو سره او واقعه بیا داده چه لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نهٔ لری طاقت دالهه نَصْرَهُمْ
د مدد کولو له دوئی سره ځکه چه جمادات دی وَهُمْ لَهُمْ او حال دا چه دغه الهه دے مشرکانو سره
جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ (٧٥) لښکر به وی حاضر کړے شوی له دوئی سره په دوزخ کښی په ورځ د قیامت فَلَا
يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ م پس نهٔ دِ خفه کوی تا د اګفتار د دوئی چه ځمونږ په باب کښی یا ستا په باب کښی
ئے کوی چه مونږ ته نسبت د ولد او د شریک کوی او تا ته نسبت د شعر او د سحر کوی او خفګان ځکه
مهٔ کوه چه اِنَّا نَعْلَمُ بیشکه مونږه چه یو پوهیږو مونږه مَا يُسِرُّوْنَ په هغه حسد او بغض چه پټوی
ئے دوئی وَمَا يُعْلِنُوْنَ (٧٦) او په هغه کفر او عناد چه ښکاره ئے کوی دوئی نو د دغه ټولو جزا به ورکړو
ورلره **روایت دے** چه اُبیُّ بن خلف یوه ورځ وروست هډوکے د بنی آدم رسول صلے
اللّٰه علیه وسلم لره راوړلو او په لاس کښی ئے ښه میده کړه چه بیخی ګرد شه او بیا هغه ګرد ئے
پوکړو چه لاړ والوت نو ویل اے محمد (صلے اللّٰه علیه وسلم) دا ګرد به خوک بیا را ژوندی کړی

او ترے سری به سازکه نو دهٔ ورته وویل چه خدائ به دا هم بیا ژوندی که اوتا به هم بیا ژوندے که
او بیا دوزخ له به دِ یوځی نو نازل شه اَوَلَمۡ یَرَ الۡاِنۡسَانُ ایا نهٔ وینی او نهٔ پوهیږی دا انسان یعنے اُبی
بن خلف اَنَّا خَلَقۡنٰهُ په دے چه بیشکه موږ چه یُو پیدا کړے دے مونږه دے مِنۡ نُّطۡفَةٍ له اوبو د منیٔ چه هغه
بچیله هم پلیتی دی او وتلے هم له پلیت ځایه فَاِذَا هُوَ پس ناګاه چه دے خَصِیۡمٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۷۷﴾ جګړه کونکے
ډکود دے بنکاره له رب خپل سره وَضَرَبَ او ترې دے لَنَا مَثَلًا په موږ پورے مثال د وراسته هړوکی وَّنَسِیَ
خَلۡقَهٗ ط او هیر کړے دے ده پیدا ایښت خپل چه دے څرنګه پیدا شوے دے او له نیستیٔ نه هستیٔ ته وتلے
دے قَالَ مَنۡ یُّحۡیِ الۡعِظَامَ وائی چه څوک بیرته ژوندی او تازه به که دا هډوکی وَّهِیَ رَمِیۡمٌ ﴿۷۸﴾ او
حال دا چه دا وراسته پوځی پوځی شوی دی قُلۡ یُحۡیِیۡهَا الَّذِیۡۤ ووایه دے خبیث ته چه بیا تازه
او ژوندے به ئے کړی هغه قادر مطلق اَنۡشَاَهَاۤ اَوَّلَ مَرَّةٍ ط چه پیدا کړی ئے دی دا هډوکی اول
کرت او له عدم محض ئے وجود ته راایستلی دی وَهُوَ او حال دا چه دے بِکُلِّ خَلۡقٍ په هر قسم پیدا ایښت
عَلِیۡمُ نِ ﴿۷۹﴾ بنهٔ پوهه دے که نوے وی او کهٔ زوړ اَلَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمۡ هغه خدائ چه پیدا کړے دے
دهٔ تاسے لره مِّنَ الشَّجَرِ الۡاَخۡضَرِ نَارًا له شنے اونے څخه اور یعنے هغه خدائ چه په قدرت کامله خپل
سره دوه ضده جمع کولے شی چه اور او به دی دا سے چه د بانډو عربو به شنه لختنه را ماته کړه له هغے ونے چه
مرَخ باله شی او هغه به و مرې په شنے لختے دیلے ونے چه عفار بالۂ شی او حال دا چه له دواړو به اوبهٔ څاځی
او د غو دواړو لختو له میځه به دا سے اور راووځی چه دوئ ئے بلوی لکه چه وائی فَاِذَآ اَنۡتُمۡ پس
ناګاه تاسے چه یئ مِّنۡهُ تُوۡقِدُوۡنَ ﴿۸۰﴾ له هغه شنے ونے بیا بلوئ اور نو هغه خدائ دا مړی هم ژوندی
کولے شی او د ا متفرقه اجزاء ئے هم راټولولے شی له بره وی او کهٔ له بحره او بل دلیل په قدرت د مړی
ژوندی کولو دا دے چه اَوَلَیۡسَ الَّذِیۡ ایا نهٔ دے هغه پروردګار چه خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ
پیدا کړی دی دهٔ اسمانونه او زمکه سره له دومره لوی والی د دوئ بِقٰدِرٍ عَلٰۤی اَنۡ قادر او توانا دے
په دے کار یَّخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ ط پیدا که دے مثل د دوئ په کمکیوالی د بدن کښی بیا نو بچیله وائی
بَلٰی ن ولے نهٔ دے یعنی دے وَهُوَ الۡخَلّٰقُ الۡعَلِیۡمُ ﴿۸۱﴾ او حال دا چه دے ډیر پیدا کونکے ډیر دانا
دے او په هر قسم پیدا کولو پوهیږی یعنی هم نوی او هم په اعادے دواړو. او بل دلیل

په قدرت د مړي ژوندی کولو او په آسان والی د دے کار داد ے چه اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ بیشکه هم دا خبره ده
چه شان او حال د دهٔ چه د ے اِذَآ اَرَادَ شَيْئًا په هغه وخت چه اراده وکه د ے د پيدا کولو د کوم څيز
اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ داد ے چه ووائی د ے هغه څيز ته چه ساز شه فَيَكُوْنُ ﴿۸۲﴾ پس ساز شی
فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ پس پاکی او بے عيبی ده هغه خدائ لره چه بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ په لاس د قدرت
د دهٔ کښ واکداری او بادشاهی د هر څيز ده وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ ع او خاص هم دهٔ ته به بيا بيولے
کيږئ تا سے په قيامت د پاره د جزا د اعمالو ستاسے. حديث د ے چه عه مَن قرء يٰسٓ ان كان جائعًا اشبعه
الله وان كان ظمٰان اَرواه الله وان كان عريانًا البسه الله وان كان خائفًا اٰمنه الله وان كان
متوحشًا انسه الله وان كان فقيرًا اغناه الله وان كان فی السجن اخرجه الله وان كان اسيرًا اخلصه
الله وان كان ضالًا هداه الله وان كان مديونًا قضی الله دينه من خزائنه او بل حديث د ے
چه قرء يٰسٓ يريد بها وجه الله غفر له وَاُعطیَ من الاجر كانما قرءِ القراٰن اثنين وعشرين مرة
او بل حديث د ے چه من قرء سورة يٰسٓ اَمام حاجته قضيت له الحمد لله رب العلمين ط



وَالصّٰٓفّٰتِ قسم د ے په هغو ملايکو چه صف تړلی ولاړ دی د نفوسو په عبادت کښ يا د ونو په
هوا کښ منتظر امر ربّانی ته صَفًّا ﴿۱﴾ لا په صف تړلو سره فَالزّٰجِرٰتِ پس بيا شړونکی د شيطانانو
وی له پټ اوريدلو يا د وريځو وی ځائ د و د ريدلو ته زَجْرًا ﴿۲﴾ لا په شړلو سره فَالتّٰلِيٰتِ پس بيا
لوستونکی دی ذِكْرًا ﴿۳﴾ لا د وحی په انبياؤ يا په هغو غازيانو چه صف تړلی ولاړ وی په جهاد کښ

عه معنیٰ دا چه ويلی دی رسول کريم صلے الله عليه وسلم هر څوک چه ووائی سورة يٰسٓ که چرے وږے وی موړ به که د ے خدائ تعالیٰ او که وی تږے سيراب به که د ے خدائ تعالیٰ او که وی بربنډ جامه به وا غوندوی پرے خدائ تعالیٰ او که چرے وی ويريدونکے په امن به که خدائ تعالیٰ دهٔ لره او که چرے وی پريشانه نو اُنس به ورکه ورله خدائ تعالیٰ او که چرے وی فقير غنی به ئے که خدائ تعالیٰ او که چرے وی بندی خلاص به ئے کا خدائ که بند داو که مد ے وی گمراه لار ښائی ورته خدائ او که چرے وی قرضدار ے خلاص به کړی خدائ قرض د دهٔ له خزانو خپلو نه. بل حديث د ے چه چا ولوستو سورة يٰسٓ چه اراده لری پرے د ذات د خدائ بخښنه به وکړی ورته خدائ او وربه کړی ورله ثواب و نه لکه چه لوستلی قرآن دوه ويشت ځلے. بل حديث د ے چا چه ولوستو سورة يٰسٓ مخکښ له حاجت خپل نه پوره به کړے شی ورله حاجت ئے ۱۲

اوشرونکی د اسونوخپلو یا د کفارو وی اولوستونکی د تهلیل او د تکبیر وی په وخت د جنګ کښ یا په
هغو مؤمنانو چه صف تړلی ولاړوی په فرائضو کښ اوشرونکی د نفس خپل وی له معاصیو اولوستونکی د
قرآن وی په مانځه کښ یا په هغه عالمانو چه صف تړلی ولاړوی د قد مونو خپلو په تهجد و او په نورو
مونځونو کښ اوشرونکی د خلقو وی له کفره اوله فسقه په نصیحتونو او په دلیلونو سره اولوستونکی د ایاتو
او د احکامو وی عوامو ته یا په هغو مرغانو چه صف تړلی ځی په هوا کښ اوشرونکی د افاتووی له خپله
ځانه اولوستونکی د تسبیح وی په هر وخت کښ ۔ او په هر تقدیر جواب د قسم د ادے چه اِنَّ اِلٰهَكُمْ بے
شکه خدائی ستاسے چه دے اے مکیانو لَوَاحِدٌ ﴿۴﴾ هر اٰئینه یو دے او دا په رد د دوئ کښ دے چه
ویل به ئے ځمونږه دریے سوه شپیته خدایان دی او دا ټول ځمونږه کار نهٔ شی برابرولے او محمد
صلے اللّٰه علیه وسلم د تمام جهان کار په یو خدائی برابروی دا دروغ دی رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دے
تربیت کونکے دے د اسمانونو او د زمکے وَمَا بَيْنَهُمَا او د هر هغه چه په مابین د دے دواړو کښ دی
وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ﴿۵﴾ او پید اکونکے د دریے سوه شپیتهٔ مشرقونو دے او همدا سے د همدومره مغربونو
اما اکتفائے وکړه په ذکر د احد الضدین لکه سرابیل تقیکم الحر ۔ اِنَّا بیشکه مونږه چه یو زَيَّنَّا السَّمَآءَ
الدُّنْيَا بنائسته کړے دے مونږه دا ښیرمه اسمان بِزِيْنَةِ ِالْكَوَاكِبِ ﴿۶﴾ په بنائست سره یعنی په ستوریو
سره او دا کواکب بدل دے له زینت نه فائده اګر که په دے ښیرمه اسمان کښ یوازے قمر دے
او دا نور شپږ سیارے یو یو دی په باقی پورته شپږو اسمانونو کښ او ثوابت ټول په کرسیٔ کښ
دی اما د زمکے د خلقو په نظر کښ دا ټول په دے ښیرمه اسمان کښ ښکاره کیږی نو ځکه نسبت ئے
دهٔ ته وشو حفظًا او ساتلے دے دا ښیرمه اسمان په ساتلو سره مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ﴿۷﴾ له
هره شیطانه سرکشه بے فرمانه چه ویشتلے کیږی له پاسه په لمبو سره لَا يَسَّمَّعُوْنَ غوږ نهٔ نیسی
دا شیطانان د پاره د خبرو اوریدلو او دا په اصل کښ يَتَسَمَّعُوْنَ دے بیا تے سین شوه او
ادغام وشهٔ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى هغه ټولی بلند مکان یا بلند شان ته چه مطلق ملائک دی
یا اشراف دی د دوئ یعنی چه دا ملائک یو بل ته سره اسرار د لوح محفوظ وائی نو دوئ ترے یو قدر
واوری او نور دروغ ورسره خلط کا ۔ نو کاهنانو ته ئے بیاوائی وَيُقْذَفُوْنَ او ویشتلے کیږی دا شیطانان

په لمبو سره مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ⑧ له هر هغه طرفه د آسمان چه د دوی اراده وکه د ختلو دُحُوْرًا د پاره د شړلو
او د لرے کولو له آسمان وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ⑨ او مقرر دے دوی لره عذاب دائم یا سخت په آخرت کښ
اِلَّا مَنْ مګر غوږ نیسی هغه شیطان خَطِفَ الْخَطْفَةَ چه غوږ ته وکه په یو کرت غوږ ته کولو سره او چه را اوخلی
کومه کلمه چه واوری له ملائکو فَاَتْبَعَهٗ پس ورپسے راخطا شی له پاسه شِهَابٌ ثَاقِبٌ ⑩ لمبه رڼا
کوونکے فَاسْتَفْتِهِمْ پس وپوښته د مشرکان د مکے له دے پيد اينت چه اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا آیا دوی دیر سخت
دی له جهته د پيد اينت اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا یا هغه څوک چه پيدا کړی دی مونږه یعنی آسمانونه او زمکه
او غرونه او ملائک او مشارق او مغارب او شهب اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ بیشکه مونږه چه یو پيدا کړی دی مونږه
دوی مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ⑪ له خټے سلیخناکے یعنی هر کله چه دوی له دا سے خسیس څیز څخه پيدا شوی
دی نو دومره تکبر ورسره مناسب نهٔ دے چه تکذیب کوی د رسول صلی الله علیه و سلم او د قرآن
او سره له دا سے واضحو دلایلو انکار هم کوی دوی له بعث له حشر له نشره روایت دے چه هر کله
رسول علیه الصلوٰة والسلام داګمان کولو چه هر چا چه د اقرآن واوریدهٔ نو ایمان به پرے راوړی او چه
مشرکانو د مکے واوریدهٔ او ایمان ئے پرے رانهٔ وړو بلکه مسخرے به ئے ورپورے کولے نو دهٔ په دے کار
دیر تعجب وکړو. نو نازل شهٔ بَلْ عَجِبْتَ بلکه تعجب کوے تهٔ له دے انکاره او تکذیبه د دوی وَيَسْخَرُوْنَ ⑫
او حال دا چه دوی مسخرے کوی درپورے وَاِذَا ذُكِّرُوْا او په هغه وخت چه پند ورکړے شی دوی لره
په قرآن سره لَا يَذْكُرُوْنَ ⑬ نو نهٔ یادوی دوی او پند پرے نهٔ اخلی وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً او په هغه
وخت چه وینی دوی کومه معجزه د لالت کوونکے په صدق ستا لکه انشقاق د قمر یا دا سے
بله يَّسْتَسْخِرُوْنَ ⑭ نو بچیله هم مسخرے ورپورے کوی او نورو خلقو ته هم نارے وهی چه
راځئ مسخرے ورپورے وکړو وَقَالُوْٓا او وائی دوی اِنْ هٰذَآ چه نهٔ دے دا چه مونږه ولیدهٔ اِلَّا سِحْرٌ
مُّبِيْنٌ ⑮ مګر جادو دے ښکاره اِذَا مِتْنَا آیا په هغه وخت چه مړه شو مونږه وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا
او شو مونږه خاورے او هډوکی ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ⑯ آیا مونږه به بیا ژوندی راپاڅولے شوی او سره
اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ⑰ آیا هغه لومړی پلرونه څمونږه قُلْ نَعَمْ ووایه ورته اے رسوله چه هو

عه په رښتینوالی ستا سره لکه نیم کیدل د سپوږمۍ چه مشهوره معجزه ده ۱۲

راپا به ځولے شئ هم تاسے اوهم پلرونه ستاسے وَاَنۡتُمۡ دَاخِرُوۡنَ ﴿۱۸﴾ اوحال دا چه تاسے به خواراو بے
مقدارا وسئ هلته فَاِنَّمَا هِیَ پس بیشکه همدا خبره ده چه دا قیامت زَجۡرَةٌ وَّاحِدَةٌ یوه چیغه به وی
یعنی ظهور به ئے په دیر کوتاه وخت کښې وشی او بیا چه دا نفخۀ ثانیه وشوه فَاِذَا هُمۡ پس ناګاه دا
مخلوقات چه دی یَنۡظُرُوۡنَ ﴿۱۹﴾ کوری به یعنی ژوندی او ولاړ به وی منتظرچه څه به راسره کیږی
وَقَالُوۡا یٰوَیۡلَنَا او وائی به دوئ چه اے افسوس دے مونږه لره هٰذَا یَوۡمُ الدِّیۡنِ ﴿۲۰﴾ دا خو هغه ورځ
ده دجزا چه مونږه به نۀ منله بیا نو ملائک به ورته و وائی چه هٰذَا یَوۡمُ الۡفَصۡلِ الَّذِیۡ دا هغه ورځ ده
ع ۲/۱ ۵ دقضا او دفیصل په مابین دنیکو کارانو او د بدکارانو کُنۡتُمۡ بِهٖ تُكَذِّبُوۡنَ ﴿۲۱﴾ چه وئ تاسے په دنیا
کښې چه ددے تکذیب به موکولو او باور نۀ کولو تاسے په راتلو ددغې ورځې بیا رب العزت به و وائی
ملائکو ته چه اُحۡشُرُوا الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡا راټول کړئ تاسے هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے پخپلو ځانونو په
شرك سره وَاَزۡوَاجَهُمۡ او ښځې ددوئ هم چه کافرے وی یا اشتباه ددوئ یعنی بت پرستان له بت پرستانو
سره او ستاره پرستان له ستاره پرستانو سره. یا اقران یعنی ملګری ددوئ په یونا روا چه زانی له زانی
او خمار له خمار سره او قمار باز له قمار باز سره یا اعوان یعنی مددګاران ددوئ په دے ظلم کښې لکه
روایت دے چه کوم درزی پرسان وکړه له ابن مبارکؒ چه زۀ جامے دظالمانو ګنډم نو په دے
قدر سره خو به ددوئ داعوانو نه نۀ کیږم نو دۀ ورته و ویل چه تۀ له اعوانو ددوئ نۀ ئے بلکه ته له
عین ظالمانو ئے او اعوان خو ئے هغه څوك دی چه ستنې او تارونه په تا خرخوی وَمَا كَانُوۡا او هغه
بتان چه وو دا مشرکان یَعۡبُدُوۡنَ ﴿۲۲﴾ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ چه عبادت به ئے کولو دوئ غیر له خدائے
ع فَاهۡدُوۡهُمۡ پس برابر او روان کړئ تاسے دا ټول اِلٰی صِرَاطِ الۡجَحِیۡمِ ﴿۲۳﴾ لارے د دوزخ ته وَقِفُوۡهُمۡ
او ودروئ دوئ په دغه لاره کښې اِنَّهُمۡ مَّسۡئُوۡلُوۡنَ ﴿۲۴﴾ چه بیشکه دوئ پوښتنه کړے شوی دی
یعنی پوښتیدے شی بیا به ورته و ویلے شی دپاره دشرمولو چه مَا لَكُمۡ کوم مانع دے تاسے لره
لَا تَنَاصَرُوۡنَ ﴿۲۵﴾ چه مدد نۀ کوئ یو له بله سره په دے خلاصی کښې لکه دنیا کښې چه به وئ
بیا هرکله چه دوئ به ددے خبرے جواب نۀ لری نو ددوئ له طرفه به و ویلے شی بَلۡ هُمُ الۡيَوۡمَ
بلکه دوئ چه دی نن ورځ مُسۡتَسۡلِمُوۡنَ ﴿۲۶﴾ ګردن نهاده او منقاد دی له ډیرے عاجزئ

وَ اَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ اومخ به کړي په هغه موقف کښې بعضې د دوئ عَلٰی بَعۡضٍ بعضو ته رو ته یعنې مشران او
کشران سره یَّتَسَآءَلُوۡنَ ﴿۲۷﴾ چه پرسان به کوي سره یو له بله یا جګړه به کوي او ملامته به اچوي یو به
بل سره دا سې قَالُوۡۤا چه وائي به دا کشران تابعان مشرانو متبوعانو ته اِنَّکُمۡ کُنۡتُمۡ بیشکه تاسې چه یئ وئ
په دنیا کښې تَاۡتُوۡنَنَا عَنِ الۡیَمِیۡنِ ﴿۲۸﴾ راتلئ به تاسې مونږه لره د یاره د لغزولو له جانبه د قوت او د زور
یعنې مونږه به تاسې په زور ګمراه کولو یا له جانب د سوګند ده چه سوګند وبه به موکول راته چه دا دین حق
دے قَالُوۡا نو وبه وائي ورته دا متبوعان چه بَلۡ لَّمۡ تَکُوۡنُوۡا مُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۲۹﴾ بلکه نهٔ وئ تاسې پخپله
مؤمنان یعنې تاسې خو بے ګمراه کولو څمونږه پخپله ګمراهان وئ او مؤمنان نهٔ وئ نو مونږه به
څرنګه ګمراه کولئ وَ مَا کَانَ لَنَا او نهٔ وه مونږه لره عَلَیۡکُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍ په تاسې هیڅ قوت او غلبه چه
مونږه په زور ګمراه کولئ بَلۡ کُنۡتُمۡ بلکه وئ تاسې پخپله قَوۡمًا طٰغِیۡنَ ﴿۳۰﴾ یو ه ډله د باغیانو
څمونږه په شان فَحَقَّ عَلَیۡنَا پس اوس واجب شو په مونږه ټولو باندے قَوۡلُ رَبِّنَاۤ ٭ هغه ګفتار
د رب څمونږه چه لأملئن جهنم من الجنة والناس اجمعین عہ اِنَّا لَذَآئِقُوۡنَ ﴿۳۱﴾ نو بیشکه مونږه
هرائینه څکونکي یو ٔ د عذاب په سبب د هغه ګفتار فَاَغۡوَیۡنٰکُمۡ پس ګمراهان کړي
مونږه یعنې ګمراهئ ته وبللئ مونږه څکه چه اِنَّا بیشکه مونږه چه یو کُنَّا غٰوِیۡنَ ﴿۳۲﴾ وو مونږه
ګمراهان نو مونږه داسې اراده وکړه چه تاسې هم څمونږه په شان اوسئ نو رب العزت وائي فَاِنَّهُمۡ یَوۡمَئِذٍ
پس بیشکه دوئ چه دي په دغه ورځ د قیامت فِی الۡعَذَابِ مُشۡتَرِکُوۡنَ ﴿۳۳﴾ په عذاب کښې سره شریکا
دي لکه چه په ګمراهئ کښې شریکان وو اِنَّا کَذٰلِکَ بیشکه چه مونږه هم داسې لکه چه دوي سره
مو وکړه نَفۡعَلُ بِالۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۳۴﴾ کوو مونږه له ټولو مجرمانو یعنې مشرکانو سره اِنَّهُمۡ کَانُوۡۤا بیشکه چه
دوئ دي داسې چه اِذَا قِیۡلَ لَهُمۡ په هغه وخت چه وویلے شي دوئ ته چه لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ نشته دے
معبود برحق هیڅوک مګر یو ازے الله دے جل شانهٗ۔ یعنې چه دا کلمه د توحید ورته وویلے شي یا چ
څوک وبولي دوئ دے کلمے ته یَسۡتَکۡبِرُوۡنَ ﴿۳۵﴾ نو سرکشي کوي دوئ په دے بلونکي باندے وَ یَقُوۡلُوۡنَ
اَئِنَّا او وائي دوئ چه آیا بیشکه مونږه لَتَارِکُوۡۤا اٰلِهَتِنَا هرائینه پریخودونکي یو د خدایانو خپلو

عہ هرائینه ډک به کړم زه دوزخ له پیریانو او انسانانو ټولو نه ۱۲

یعنی دعبادت د دوئ لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿۳۶﴾ دپاره دے شاعر لیونی بیارب العزت وائی د دوئ په
جواب کښی چه دا سے نهٔ ده لکه چه دوئ ئے وائی ۔ بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ بلکه راتلهٔ کړی دی ده په
حق او په رښتیا سره چه توحید دے وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِیْنَ ﴿۳۷﴾ او رښتینی بولی تیر رسولان ټول ۔
اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا بیشکه تاسو چه یئ اے کفارو هرا ئینه څکونکی یئ الْعَذَابِ الْاَلِیْمِ ﴿۳۸﴾ دعذاب درد
ناك په سبب دشرك او دتکذیب سره وَمَا تُجْزَوْنَ او جزا به نه درکولے کیږی تاسے ته اِلَّا مَا كُنْتُمْ
تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۹﴾ مګر په قدر د هغه عمل چه وئ تاسے په دنیا کښی چه کول به مو اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ لیکن هغه
بندګان دخدائ الْمُخْلَصِیْنَ ﴿۴۰﴾ چه پاك کړی شوی دی له پلیتیٔ دشك او دشرکه نو دهغو جزا
مضاعف ده څکه چه اُولٰٓئِكَ دا مخلصین چه دی لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۴۱﴾ مقرر ده دوی لره په جنت
کښی روزی چه ظاهرا و ښکاره دی جنس د هغې روزئ چه خالصے فَوَاكِهُ ج میوے به وی همیشه دپاره
د تلذذ او قوت ته به ئے هیڅ حاجت نهٔ وی څکه چه جنتیا نو لره به دا سے ډیر محکم اجسام ورکړے شی
چه ترابد الاباده به محفوظ وی له هره خلل نو په قوت پورے به هیڅ توقف نه لری نو هر کله کهٔ هلته
خوراك چا کولو نو محض د پاره د تلذذ به وی او یا ښکاره په وخت د هغې روزی چه صبا او بیګاه به
وی یا خاصیات د هغې چه میوے به وی باقی دائمی چه ډیر اعلی رنګ او خوند او لذت به لری وَهُمْ
مُّكْرَمُوْنَ ﴿۴۲﴾ او حال دا چه دوئ لره به عزت ورکړے شوے وی فِیْ جَنّٰتِ النَّعِیْمِ ﴿۴۳﴾ په هغه
باغونو کښی چه ډك به وی له انواع و د نعمتونو عَلٰی سُرُرٍ ناست به وی په تختونو چرا ؤ کړیو ۔
مُّتَقٰبِلِیْنَ ﴿۴۴﴾ مخامخ سره یو بل چه هر یو په دیدن د یو بل خوشحالیږی یُطَافُ عَلَیْهِمْ گرځولے به
شی په دوئ یعنی ساقیان د جنت به پرے ګرځوی بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِیْنٍ م ﴿۴۵﴾ په جام ډك له هغه شرابو
چه بهیږی به له چشمو په مخ د زمکے لکه او به بَیْضَآءَ چه تك سپین به وی دا جام یا دا شراب لَذَّةٍ
لِّلشّٰرِبِیْنَ ﴿۴۶﴾ قف چه ډیر لذتناك به وی دپاره د څکونکیو لَا فِیْهَا غَوْلٌ نه به وی په دغه شرابو کښی
آفت او علت لکه فساد د مزاج او ذهاب دعقل او درد دسر چه په شرابو د دنیا کښی وی وَّلَا هُمْ عَنْهَا
او نهٔ به وی دوئ له هغه شرا بو څخه یُنْزَفُوْنَ ﴿۴۷﴾ چه مست او بے خوده کولے شی وَعِنْدَهُمْ او وی
به په نزد د دوئ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ حورے کوتاه سترګے په ازواجو خپلو یعنی چه سترګے به ئے پخپلو

ازواجو بندوی او وړاندې بل چاته به تیرے شوے نه وی عِیۡنٌ ﴿۴۸﴾ سترګورے به وی یعنې سترګے
به ئې غټې وی کَاَنَّهُنَّ چه ګویا که دوئ چه دی بَیۡضٌ مَّکۡنُوۡنٌ ﴿۴۹﴾ هګئ به وی د شترمرغ پټه
ساتلے شوے یعنې لکه چه شترمرغ هګئ خپله وزرلاندے پټه ساتی چه غبار ریږو نه لوبیږی او هغه
تکه سپینه وی یو قدرے مائل زردئ ته چه احسن دالوانو دے نو دوئ به هم همداسے صافې ښائسته وی
فَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ پس مخ به وګرځوی بعض ددے جنتیانو عَلٰی بَعۡضٍ بعض نورو ته یَّتَسَآءَلُوۡنَ ﴿۵۰﴾ چه
پوښتنې به کوی سره یو له بله له احوالو ددنیا چه پرے تیرشوی وو یا له دوست او له دشمنه قَالَ قَآئِلٌ
مِّنۡهُمۡ نو وبه وائی یو ویونکے له دوئ په مینځ دے مجلس کښ اِنِّیۡ بیشکه چه زهٔ به هغه وخت چه په دنیا کښ
وم کَانَ لِیۡ قَرِیۡنٌ ﴿۵۱﴾ و وځما یو یارچه منکر وو له بعث او چاویلی دی چه داحال دهم هغه دوه
ورونړو دے چه قصه ئې په سورهٔ کهف کښ تیره شوے ده چه یو مؤمن وو یهوداتو ے او بل کافر
وو قطروس نومے یَّقُوۡلُ نو دے کافر دویل مانه چه اَئِنَّکَ ایا بیشکه ته چه ئې لَمِنَ الۡمُصَدِّقِیۡنَ ﴿۵۲﴾
هرائینه له باورکونکوئې په بعث باندے ءَاِذَا مِتۡنَا ایا په هغه وخت چه مړهٔ شو مونږه وَکُنَّا تُرَابًا
وَّعِظَامًا او شومونږه خاورے او هډوکی وراسته اِنَّا لَمَدِیۡنُوۡنَ ﴿۵۳﴾ ایا بیشکه مونږه به جزا کړے
شوی او سویعنی مونږه به بیاژوندی کړے شو او جزا به راکړے شی قَالَ بیا به ووائی هغه قائل یا
خدائ جنتیانوته هَلۡ اَنۡتُمۡ مُّطَّلِعُوۡنَ ﴿۵۴﴾ ایا یئ تاسے نظراچونکی دوزخ ته چه ښکاره شی ورته حال دهغه
قرین یاد قطروس یاد پلو دوزخیانو چه دخپلو نعمتونو قدر درته معلوم شی روایت دے چه په
جنت کښ به موریکانے وی دوزخ ته چه په هغو کښ جنتیان تماسے کوی د دوزخیانو او خبرے به هم
ورسره کوی لکه چه بیان ئې په سورهٔ اعراف کښ تیرشوے دے فَاطَّلَعَ پس نظر به واچوی هغه قائل
فَرَاٰهُ پس وبه وینی دے هغه قرین یاورخپل چه قطروس وو فِیۡ سَوَآءِ الۡجَحِیۡمِ ﴿۵۵﴾ په مینځ
ددوزخ کښ قَالَ نو وبه وائی دا قائل تَاللّٰهِ اِنۡ کِدۡتَّ چه قسم دے په خدائ چه بیشکه نزدے وے ته
اے قرینه یاوره ځما دے ته لَتُرۡدِیۡنِ ﴿۵۶﴾ چه هرائینه هلاك کړے وے تازهٔ په ګمراه کولو سره وَ
لَوۡ لَا نِعۡمَةُ رَبِّیۡ او که چرے نه وے نعمت د رب ځما په ما باندے په عصمت او په هدایت او په عطاد
ایمان سره لَکُنۡتُ نو هرائینه وم به زهٔ اوس مِنَ الۡمُحۡضَرِیۡنَ ﴿۵۷﴾ له حاضر کړے شویو له تاسره

په دوزخ کښې بیا به وُوائي دا قائل یا ټول جنتیان د پاره د اظهار د نعمت او د احسان د رب چه اَفَمَا
نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿۵۸﴾ ایا پس نهٔ یو مونږه مړهٔ کیدونکی په دې جنت کښې یعنی مونږه به همیشه دلته
ژوندی او سوا وله سره به مړ وځکه چه مونږه لره بل مرګ نهٔ دے مقرر شوے اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى مګر هم
هغه یو مرګ ځمونږه چه ړومبے تیر شوے دے په دنیا کښې نو اوس به نه مړ و مونږه وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۵۹﴾
او نهٔ یو پس له دې مونږه عذاب کړے شو بیا به وائی دا قائل یا جنتیان یا خدائ اِنَّ هٰذَا بیشکه دا حیوٰة
ابدی او خلود او بے غمی چه ده له عذاب لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۰﴾ هر آئینه دا چه دے لوئی بری دے لِمِثْلِ
هٰذَا خاص د پاره د مثل د دې نعمتونو فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ﴿۶۱﴾ پس میباید چه عمل دې کوی عمل کونکی
نه د پاره د جاه او د مال د دنیا چه فانی دی اَذٰلِكَ ایا دا چه مذکور شوی دی بیرته له نعمتونو د جنتیانو
خَيْرٌ نُّزُلًا غوره دے له جهته د میلمستیا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴿۶۲﴾ او که ونه د زقوم چه میوه ئے د
دوزخیانو میلمستیا ده او دا یوه ونه ده بد بویه چه پاڼړه ئے وړه او میوه ئے ترخه او ځائی ئے تهامه ده
اِنَّا بیشکه چه مونږه جَعَلْنٰهَا ګرځولے ده مونږه دا ونه فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۳﴾ محنت او عذاب د پاره د
کافرانو په آخرت کښې اِنَّهَا شَجَرَةٌ بیشکه دا چه ده یوه ونه ده تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ﴿۶۴﴾ چه زرغونیږی
په بیخ د دوزخ کښې او بناخونه به ئے خواره شوی وی په ټولو درکاتو کښې یا معنٰی دا چه دغه ونه از مینت
ده کافرانو لره چه وائی دوئ چه او رخوونه سیزی نو دې څرنګه وائی چه دا په بیخ د دوزخ کښې زرغونیږی
طَلْعُهَا غنچه د هغې ونے چه ده كَاَنَّهٗ ګویا که دا غنچه چه ده رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ ﴿۶۵﴾ سرونه د شیطانانو
چه د خلقو په اعتقاد کښې دا خبره پرته ده چه شیطانان به ډیر مکروه الطبع او قبیح المنظر وی یا
سرونه دی د هغه مارانو چه ډیر کریه او هولناك دی فَاِنَّهُمْ پس بیشکه دا دوزخیان چه دی لَاٰكِلُوْنَ
مِنْهَا هر آئینه خوړونکی به وی له میوے د هغه زقوم سره له دا سے بد بوئ او تریخ والے د هغه په سبب
د ډیرے لوږے فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿۶۶﴾ پس ډکونکی به وی له هغه نسونه ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ بیا بیشکه
دوی لره عَلَيْهَا لَشَوْبًا خوراك د هغه د پاسه هر آئینه ګډون او خلط کول یعنی څکل به وی مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿۶۷﴾
له هسے ګرمو اوبو چه ګلمے غُتے غُتے پریکوی او دا زقوم و حمیم یوه میلمستیا ده د دوی چه ورکولے کیږی
به ورله پخوا له دخوله د دوزخ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ بیا پس له دغه خوراك او څښلو بیشکه ورتله د دوی چه

دی لَاۡاِلَی الۡجَحِیۡمِ (٦٨) هرائینه دوزخ ته دوئ اِنَّهُمۡ بیشکه چه دوئ اَلۡفَوۡا اٰبَآءَهُمۡ ضَآلِّیۡنَ (٦٩) موندلی
دی پلرونو خپل ګمراهان فَهُمۡ عَلٰۤی اٰثٰرِهِمۡ پس دوئ په پلونو اوقدمونو دهغوئ باندې یُهۡرَعُوۡنَ (٧٠)
جلت منډې وهی یعنی تقلید کوی دهغوئ وَلَقَدۡ ضَلَّ او هرائینه په تحقیق ګمراه شوی وو قَبۡلَهُمۡ مخوا
له دغه قومه ستا اَکۡثَرُ الۡاَوَّلِیۡنَ (٧١) ډیرله مخوانیو مولکه قوم د نوح علیه السلام او عاد او ثمود او دا
نور ډیر وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا او هرائینه په تحقیق لیږلی وو مونږه فِیۡهِمۡ مُّنۡذِرِیۡنَ (٧٢) په دوئ کښې ویرونکی
له عذاب یعنی پیغمبران علیهم السلام اما دوئ هغه ونهٔ منل فَانۡظُرۡ کَیۡفَ کَانَ پس وګوره ته چه
څرنګه وه عَاقِبَةُ الۡمُنۡذَرِیۡنَ (٧٣) اخره خاتمه دویرولیو شویو چه قومونه وو د کفارو یعنی چه څهٔ
قسم عذاب پرې راغلے وو اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِیۡنَ (٧٤) مګر هغه بندګان د خدائ چه پاک کړے شوی
وو له بے فرمانئ یعنی هغه خلاص شوی وو له عذابه او هرکله چه بیان شهٔ رالیږل د منذرینو چه
رسولان دی مخوانیو امو ته او نه منل او بد عاقبت د منذرینو هم. نو اوس حال د بعضو صریح بیانوی
چه موجب شی د عبرت نو وائی وَلَقَدۡ نَادٰىنَا نُوۡحٌ او هرائینه په تحقیق عرض وکړه مونږ ته نوح
علیه السلام په هغه وخت چه نو رامید ئے قطع شه له ایمان د قوم خپل او سوال ئے راته وکړو
داچه رب انی مغلوب فانتصر فَلَنِعۡمَ الۡمُجِیۡبُوۡنَ (٧٥) پس هرائینه ښهٔ قبلونکی وو مونږه د سوال
دهٔ چه کفار د قوم دهٔ مو ټول په طوفان هلاك کړه له شرقه نزغربه او له شماله ترجنوبه وَنَجَّیۡنٰهُ
وَاَهۡلَهٗ او وساته مونږه دې او خپلخانه دده هم مِنَ الۡکَرۡبِ الۡعَظِیۡمِ (٧٦) له لویه غمه چه غرق یا
ایذا د قوم وه وَجَعَلۡنَا ذُرِّیَّتَهٗ او وګرځوه مونږه فرزندان دهٔ چه درے تنه وو سام، حام، یافث
هُمُ الۡبٰقِیۡنَ (٧٧) هم دوئ باقی پاتے کیدونکی د پاره د نسل او دهغه نورو مؤمنانو نسل نهٔ دے پاتے شو
بلکه درست روی زمین هم دهٔ له اولاده دے څکه دے ادم ثانی باله شی وَتَرَکۡنَا عَلَیۡهِ او پریخوده
مونږه په دهٔ مدح او ثنا فِی الۡاٰخِرِیۡنَ (٧٨) په وروستیو خلقو کښې له ده څخه ان تر قیامته پورې ګلا انبیاؤ
اوله امو سَلٰمٌ عَلٰی نُوۡحٍ سلام دے له خدائ په نوح علیه السلام باندے او دعا ده په ثبوت
د دغه تحیة دهٔ لره فِی الۡعٰلَمِیۡنَ (٧٩) په درستو عالمیانو کښې یعنی په جن او په انس او په ملائکو کښې

ع۱ اے څما ربه بیشکه زهٔ عاجزیم پس مدد وکړه ته له ما سره ۱۲

إِنَّا كَذٰلِكَ بیشکه چه مونږ هم داسې لکه چه نوح علیه السلام لره جزا ورکړې ده نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (۸۰) جزا ورکوو مونږه ټولو نیکو کارانو لره إِنَّهُ بیشکه دے چه وو مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ (۸۱) له هغو بندګانو زمونږه وو چه مومنان دی ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ (۸۲) بیا غرق کړۀ مونږه په سوال ددۀ سره هغه نور یعنی کفار دقوم ددۀ وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ او بیشکه یو له پیروانو ددۀ چه دے لَإِبْرَاهِيمَ (۸۳) هرآئینه ابراهیم علیه السلام وو په ایمان او په اصولو دین کښې او ددوئ دواړو په مینځ کښې دوه زره او شپږ سوه او شلویښت کاله وو او په دے مابین کښې دوه پیغمبران وو چه هود او صالح علیهما السلام دے إِذْ جَاءَ رَبَّهُ یاد که هغه چه راغے د رب خپل لره بِقَلْبٍ سَلِيمٍ (۸۴) په داسې زړۀ چه پاک وو له اعلاقو یا له محبته د دنیا یا له حظوظو د نفس یا له درست ما سوی الله څخه إِذْ قَالَ یاد که هغه چه وویل دۀ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ پلار خپل ته او قوم خپل ته مَاذَا تَعْبُدُونَ (۸۵) داڅۀ څیز دے چه عبادت ئے کوئ تاسې أَئِفْكًا آلِهَةً آیا په دروغ نور خدایان دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ (۸۶) غیر له پروردګاره غواړئ تاسې یعنی عبادت ئے کوئ فَمَا ظَنُّكُمْ پس څۀ ګمان دے ستاسې بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (۸۷) په رب د تمام عالمیانو چه تاسې لره په دعبادت دغیر درنه ګه روایت دے چه دوئ په ورځ د اختر خپل عیدګاه ته ټول روان شول او پاخه طعامونه خپل ئے بتانو ته کیخودل د پاره د تبرک په دے نیت چه بیرته راشي نوخوری به ئے او دوئ ټول نجومیان وو نو ابراهیم علیه السلام ته ئے هم وویل چه څه له مونږ سره عیدګاه لره فَنَظَرَ نَظْرَةً پس نظر واچاوو دۀ یو کرت په نظر اچولو سره په طریقه د تفکر فِي النُّجُومِ (۸۸) په ستوریو کښې یعنی طرف د اسمان ته یا په کتاب د نجوم کښې د پاره د تیریستلو د دوئ په دے حیله سره فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ (۸۹) پس وویل دۀ چه بیشکه زۀ مریض یم یعنی مریض القلب یم له جهته د کفره ستاسې یا مریض یم ځکه چه مرګ م په مخکښې دے او هرڅوک چه مرګ ئے په مخکښې وی هغه مریض وی . یا نزدے یم مرض ته او اکثر مرض د دوئ به طاعون وو او دوئ به ډیر ترې ترهیدل نو هرکله چه د مرض خبره ئے ترې واوریده فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ (۹۰) پس بیرته وګرځیدل له دۀ په دے حال چه شا کونکی

وو دهٔ ته او وتختیدل ترے له ویرے د طاعون بیا چه دوئ تزے لاړل فَرَاغَ اِلٰٓی اٰلِهَتِهِمْ پس پټ راغے
دے په پرده کښی خدایانو د دوئ لره نو وے لیدل چه ټول جراوُ کړی دی او انواع د طعامونو ورته پراته دی فَقَالَ
پس وویل دهٔ بتانو ته په طریقه د مسخرے سره چه اَلَا تَاْكُلُوْنَ (۹۱) ایا نهٔ خوری تاسے دا طعامونه او چه له
دوئ هیڅ غږ ونهٔ خوت نو بیا ئے ورته وویل مَا لَكُمْ چه څهٔ بلا ده په تاسے لَا تَنْطِقُوْنَ (۹۲) چه غږ نهٔ
کوئ او جواب نهٔ را کوئ ما لره چه بیا غږ ونهٔ شهٔ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ پس پټ راننوت په دوئ او ټول ئے په تبر
مات مات کړهٔ غیر له یو غټه چه هغه ئے تبر په اوږه سلامت پریخوده ولاړ ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ (۹۳) په وهلو
سره په قوت یا په ښی لاس یا په سبب د هغه سوګند چه کړے وو دهٔ په تاالله لاکیدون اصنامکم
او دا قصه په کمال سره بیان شوے ده په سورهٔ انبیاء کښی بیا چه دوئ کوم لیدونکی خبر کړهٔ
فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ يَزِفُّوْنَ (۹۴) پس متوجه شو دوئ ابراهیم علیه السلام ته چه رامنډے ئے وهلے نو وے
نیولو او نمرود لره ئے راوست نو ټولو ورته وویل چه دا ولے ؟ مونږ ه ئے عبادت کوو او ته ئے
راله ماتوے قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ نو وویل ده ورته په جواب چه ایا عبادت کوئ تاسے مَا تَنْحِتُوْنَ (۹۵)
د هغه بتانو چه توکئ او سازوئ ئے په خپلو لاسونو وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ او حال دا چه خدائ پیدا کړی یئ تاسے
وَمَا تَعْمَلُوْنَ (۹۶) او هغه کارونه چه کوئ ئے تاسے په لاسونو خپلو یعنی خدائ خالق دے هم ستاسے
او هم د اعمالو ستاسے نو د بل چا عبادت ولے کوی او دا دلیل دے څو مونږه په دے چه خالق د افعالو د
بندګانو خدائ دے کهٔ خیر دے او کهٔ شر دے بیا هر کله چه دا نمرودیان ملزم کړه ابراهیم علیه السلام
او له جوابه عاجز شونو قَالُوا ابْنُوْا او وویل دوئ سره یو بل ته چه بنا کړئ یعنی ساز کړئ لَهٗ بُنْيَانًا د پاره د
سیزلو د دهٔ یوه چار دیواری له تیږو نو چار دیواری ئے سازه کړه چه دیرش ګزه اوږده او شل ګزه پلنه وه
او له خسو ئے[۱۲] ډکه کړه فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ (۹۷) بیا وغورځوئ دے په هغه سخت تیز اور کښی فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا
پس وکړه دوئ له دهٔ سره د فریب او د فتنے د پاره د سیزلو د دهٔ فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ (۹۸) پس وګرځول مونږ
دوئ خوار خسته مقهور چه هغه فریب ئے عبث شهٔ او دے له هغه اوره راووت او هغه اور وے
ګلزار کړه مونږه وَقَالَ او بیا وویل ابراهیم علیه السلام پس له هغه چه له اوره سلامت راووت
اِنِّيْ ذَاهِبٌ چه بیشکه زهٔ تلونکے یم اِلٰى رَبِّيْ رب خپل ته یعنی هغه ځائ ته چه دهٔ مامور کړے یم

چه شام دے سَیَهۡدِیۡنِ ﴿۹۹﴾ زر دے چه برابر به کا دے ما هغه لارے ته چه په هغه کښې صلاح د ما دینو
وی څما روایت دے چه هرکله دے شام ته روان شه نو په دے لاره کښې بی بی ساره
لمچایوه ویښزه ورکړه هاجره نومے. او هغه بیا ابراهیم علیه السلام ته وبخښله او دهٔ آزاده کړه بیا
ئے په نکاح کړه بیا هرکله چه ورسیده شام ته نو سوال ئے وکړو چه رَبِّ هَبۡ اے ربه څما راکړه ما
لره یو فرزند مِنَ الصّٰلِحِیۡنَ ﴿۱۰۰﴾ له نیکوکارانو چه مددګار وی څما په طاعت ستا کښې او ملګرے م وی
په غربت کښې فَبَشَّرۡنٰهُ پس زیرے وکړو موږ ه په دهٔ بِغُلٰمٍ حَلِیۡمٍ ﴿۱۰۱﴾ بیا داسے فرزند چه خښتن د
حلم او د صبر به وی بیا فرزند ورله خدائ ورکه روایت دے چه دهٔ بیا په امر د خدائ سره
دا مور او څوئ دواړه راوستل او په هغه ځائ کښې ئے کوز کړه چه اوس پکښې مسجد حرام دے بیا چه اسمٰعیل
علیه السلام د اوو کالو یا د یارلسو کالو شو نو ابراهیم علیه السلام ورله راغے د پاره د دیدن او
هلته ئے درے شپے وکړے چه د ترویے او دعرفے او د نحر دی نو په اوله شپه ئے خوب ولیدهٔ چه څوک
ورته وائی چه خدائ داسے امر درته کړے دے چه دا څوئ دِحلال که نو صبا ورځ ئے ټوله په تفکر کښې
تیره کړه چه دا خوب رحمانی دے که شیطانی - نو ځکه ترویه بالهٔ شی چه ترویه تفکر ته وائی او چه
دویمه شپه ئے بیا هم داسے خوب ولیدهٔ نو ورته معلوم شهٔ چه دا حق دے نو ځکه عرفه باله شی او په
دریمه شپه ئے بیا هم داسے خوب ولیدهٔ نو صباله ئے اسمعیل علیه السلام منیٰ له راوست او هلته ئے
دحلال او بنا وکړه ځکه چه نحر باله شی لکه چه وائی فَلَمَّا بَلَغَ پس هرکله چه ورسیدهٔ ابراهیم علیه
السلام مَعَهُ السَّعۡیَ له څوئ خپل سره ځائ د سعی ته چه مینځ دے د صفا او د مروه یا چه ورسیدهٔ
اسمٰعیل علیه السلام حد د تلو ته له پلار سره ځائ د ذبح ته چه منیٰ دے یا حد د کرځیدلو ته له پلار
سره په کارونو او په حاجتونو د دهٔ کښې قَالَ یٰبُنَیَّ نو و ویل ورته ابراهیم علیه السلام چه اے بچوړیه
څما اِنِّیۡۤ اَرٰی بیشکه چه زهٔ وینم فِی الۡمَنَامِ په خوب کښې اَنِّیۡۤ اَذۡبَحُکَ داسے چه بیشکه زهٔ ذبح
کوم تا یعنی دا درے شپے سر په سر په خوب کښې وینم چه امر کیږی را ته چه دا څوئ دِ ذبح کړه.
فَانۡظُرۡ پس ته هم فکر وکړه پکښې مَاذَا تَرٰی چه ته څه ګنړے او دا ئے د پاره د از مینبت ورته و ویل
چه غاړه ورته ږدی او که نه ږدی قَالَ یٰۤاَبَتِ افۡعَلۡ نو و ویل ورته دهٔ چه اے پلاره څما او کړه مَا تُؤۡمَرُ ز

هر هغه کار چه ماموره کیږے ته په هغه کار چه خوب د پیغمبرانو علیهم السلام حق وی لکه چه وحی وی د دوی په ویښه سَتَجِدُنِیۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ زر دے چه بیا به مومے ته ما که اراده وشی دخدائ مِنَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۰۲﴾ له صبر کونکو په ذبح یا په حکم دخدائ روایت دے چه هر کله ابراهیم علیه السلام منی له رادوست او اراده د ذبح ئے وکړه نو دوه ورته و ویل چه پلاره! د رے کار ونه وکړه یو دا چه لیتونه او خپے م د تره چه مبادا په وخت د ذبح کښ اضطراب ونه کړم او جامے دِ په وینو ککړے نشی او بل دا چه سترگے د تره خما او هم خپلے او پر مخ م واچوه چه په وخت د تیغ را ښکلو په وچولی کښ م تغیر پیدا نهٔ شی او شفقت پدری موجب د تقصیر او تاخیر د امر الهی نهٔ شی او بل دا چه دا قمیص م بیا مور له ورکه خما تسلی به پرے کوی نو ابراهیم علیه السلام همدا سے وکړهٔ لکه چه وائی فَلَمَّآ اَسْلَمَا پس هر کله چه غاړه کیخوده دوی دواړو دے حکم الٰهی ته او ده لاسونه او خپے ئے و تړل وَتَلَّهٗ لِلْجَبِیْنِ ﴿۱۰۳﴾ او واے چولو اسمٰعیل علیه الصلوٰة والسلام پر مخ په وچولی ده په ویلو سره او چاٖ ویلی دی چه په بنی ارخ باندے او چاړهٔ ئے راښکله په حلق ده نو هیڅ قدر غوڅول و نکړهٔ په امر د رب سره وَنَادَیْنٰهُ او غږ وکړهٔ مونږ ده ته یعنی ورته و ویل مونږ ه اَنْ یّٰٓاِبْرٰهِیْمُ ﴿۱۰۴﴾ دا چه اے ابراهیم علیه السلام قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْیَا ج په تحقیق چه رښتیا کړه تا خوب خپل او جواب د لَمَّا محذوف دے چه قَبِلْنَا مِنْهُ دے او یا هم دا نادینه دے په زیادت د واو سره اِنَّا کَذٰلِکَ بیشکه چه مونږ ه په مثل د جزا ستا نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۰۵﴾ جزا ورکوو نیکو کارانو لره په خوشحالئ سره پس له سختئ سره پس له سختئ اِنَّ هٰذَا بیشکه دا ماموره چه دے لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِیْنُ ﴿۱۰۶﴾ هر آئینه ازمینت یا محنت دے ښکاره چه پرے مخلّص عه له غیر مخلص معلومیږی وَفَدَیْنٰهُ او فدیه ورکړه مونږ ه اسمٰعیل علیه السلام لره بِذِبْحٍ عَظِیْمٍ ﴿۱۰۷﴾ په پسهٔ لوئے چاغ سره چه هابیل قربانی کړے وه او بیا ورو دے وو جنت لره او هلته به څریدهٔ تر دغه وخته پورے هغه جبریل علیه السلام لره جنت را روان کړهٔ او څلورم اسمان لره چه راغے نو په زوره ئے وویل چه الله اکبر الله اکبر او ددوی دا اواز واوریدهٔ نو اسمٰعیل علیه السلام وویل چه لا اله عه الا الله والله اکبر او په دغه میخ کښ بیا پسهٔ ئے

عه اخلاص کونکے غیر اخلاص کونکے ۱۲ عه نشته بل خدائ مگر یو خدائ دے ۱۲

ئے راورساووا ود اسمٰعیل علیه السلام په ځائی ئے ورته څملا ووا وهغه ئے ترے لرے کړه نو ډیر
خوشحاله شۀ په دے خکه چه داسے گمان ئے وکړو چه مامور به م په ځای ونکیده چه اسمٰعیل
علیه السلام ذبح شه نو دے ویل چه الله اکبر ولله الحمد بیا چه سترگے ئے پرانستلے نو وے لیدلو چه
څوئی ئے ناست وواوپسه ورته حلال کړے پروت وو نو دا اویل سنت جاریه شۀ ان تر قیامته
پورے نو په نزد دامام اعظمرح کۀ چاند دکیخودۀ په کوم کار ذبح دولد خپل نو لازمیږی پرے ذبح دپسۀ
اودلیل ئے دا ایت دے وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ او باقی پریخودۀ مونږ په دۀ بنه ثنا اومدح فِي الْآخِرِينَ ﴿۱۰۸﴾ په
وروستیو امموکښں ان تر قیامته سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۱۰۹﴾ سلام دے څمونږه په ابراهیم علیه السلام بانډ
كَذٰلِكَ په مثل دجزا ددۀ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ جزا ورکوو نیکوکارانو لره اِنَّهٗ بیشکه دے چه دے
مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ له هغو بندګانو څمونږه دے چه مومنان دی وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ او
زیرے ورکړۀ مونږه په دۀ پس له اسمٰعیل علیه السلام په بل څوی چه نوم به ئے اسحٰق علیه
السلام وی نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ پیغمبر له صالحانو وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ او برکت اچولے وو مونږ
په ده په اولاد دتکثیر سره وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ط او په څوی ددۀ چه اسحٰق علیه السلام دے په
دے شان چه پیدا کړه مونږه له پښته دده یو زر پیغمبران چه اول ئے یعقوب علیه السلام
او اخرئے عیسی علیه السلام دے وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا اوله اولاد ددے دواړو وځنی مُحْسِنٌ
ع
څوک نیکوکاردے په ایمان او په طاعت سره وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿۱۱۳﴾ او څوک ظالم دے
په ځان خپل ښکاره په کفر او په معصیت سره وَلَقَدْ مَنَنَّا اوهراٸینه په تحقیق منت او احسان
بار کړے وو مونږه عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ په موسٰی او په هارون علیهما السلام په نبوت
وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا او خلاص کړه مونږه دوئی دواړه او قوم ددوئی هم چه نو دبنی اسرائیل
وو مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۱۵﴾ له ډیر لوئی غمه چه هغه مرئی توب وو د فرعون وَنَصَرْنٰهُمْ او
مددګاری وکړه مونږه له دوئی سره په وخت د مقابلے کښں له قبطیانو سره فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۶﴾ پس وو دوئ
په دشمن باندے هم دوئی غلبه کونکی وَاٰتَيْنٰهُمَا او ورکړے وو مونږه دواړو ولره الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿۱۱۷﴾
کتاب ډیر ښۀ بیانونکے دشرائعو او داحکامو چه تورات وو وَهَدَيْنٰهُمَا او ښودلی وه مونږ دوئی دواړو

ته الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ (۱۱۸) لاره سمه رسونکے مقصودته وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا اوپریخوده مونږه په دوئ
دواړو بنه ثنا اومدح فِي الْاٰخِرِيْنَ (۱۱۹) په وروستیو امموکښ این تر قیامته پورے سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى
وَهٰرُوْنَ (۱۲۰) سلام دے څمونږه په موسٰی او په هارون علیهما السلام اِنَّا كَذٰلِكَ بیشکه چه
مونږه همداسے نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ (۱۲۱) جزا ورکوو نیکو کارانو لره اِنَّهُمَا بیشکه چه دوئ دواړه مِنْ
عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۲۲) له هغو بندګانو څمونږه ووچه مؤمنان دی وَاِنَّ اِلْيَاسَ اوبیشکه الیاس بن
یاسین علیه السلام چه دے چه له اولاده د هارون علیه السلام وو اولیږلے شوے وو بنار د
بعلبک او نواحیو د هغهٔ ته لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ (۱۲۳) هر ائینه یوله رسولانو وو خلقو ته د پاره د دعوت
اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ یاد که هغه چه وویل دهٔ قوم خپل ته اَلَا تَتَّقُوْنَ (۱۲۴) ایا نهٔ ویریږئ تاسے له
عذاب دخدا ئ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا ایا بولئ تاسے بعل یعنی عبادت کوئ د هغه بت چه نوم ئے
بعل دے او دا یو بت وو د دوئ د سرو زرو چه شل ګزه اوږود او څلور ئے مخونه وو یعنے تاسے
عبادت د هغه بت کوئ وَتَذَرُوْنَ اوپریږدئ تاسے اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ (۱۲۵) عبادت د هغه خدائ
چه غوره د خالقینو یعنے مصورینو دے اللّٰهَ رَبَّكُمْ یعنی د هغه الله جل شانه چه هم رب د ستاسے
وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ (۱۲۶) اوهم رب دے د هغو پخوانیو پلرو نوستاسے او دا درے واړه بدل دے له
احسن څخه فَكَذَّبُوْهُ پس تکذیب وکړو دوئ د هغه فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ (۱۲۷) پس بیشکه دوی هر ائینه
حاضر کړی شوی دی په دوزخ کښ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ مګر هغه بندګان دخدا ئ له قومه د دهٔ الْمُخْلَصِيْنَ (۱۲۸)
چه پاک کړی شوی وو له شرکه له نفاقه وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ اوپریخوده مونږه په ده بنه ثنا او مدح فِي
الْاٰخِرِيْنَ (۱۲۹) په وروستیو امموکښ این تر قیامته سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ (۱۳۰) سلام دے څمونږه
په الیاس خیلو یعنی په هغه چا چه ایمان ئے پرے راوړے دے اِنَّا كَذٰلِكَ بیشکه چه مونږه همداسے
نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ (۱۳۱) جزا ورکوو نیکو کارانو لره اِنَّهٗ بیشکه چه دے مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۳۲) له
هغه بندګانو څمونږه دے چه مؤمنان دی وَاِنَّ لُوْطًا اوبیشکه لوط بن هارون علیه السلام چه دے
لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ (۱۳۳) هر ائینه یوله رسولانو وو خلقو اِذْ نَجَّيْنٰهُ یاد که هغه چه خلاص کړهٔ مونږه
دهٔ لره وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ (۱۳۴) او اهل بیت د دهٔ ټول اِلَّا عَجُوْزًا مګر یوه زړه چه ښځه وه د دهٔ هغه

پاتے شوه فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۳۵﴾ په بيرته پاتے کيدونکو کښې يعنى له قومه سره ځکه چه دا هم کافر وه ثُمَّ دَمَّرْنَا
الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ بيا هلاک کړه مونږه هغه نور بيرته پاتے شوى يعنى قوم دده وَ اِنَّكُمْ او بيشکه تاسے اے
مکيانو لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ هر اَئينه تيريږى او را تيريږى په ميندو دوئ په هغه وخت چه شام له ځئ
په سودا کړئ مُّصْبِحِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ په دے حال چه داخل کيدونکى اوسئ په صبا کښې وَ بِالَّيْلِ او د شپے هم
يعنى هر وخت پرے تيريږى اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ ايا پس عقل نۀ کوئ تاسے چه عبرت پرے واخلئ وَ اِنَّ
يُوْنُسَ او بيشکه يونس بن متى عليه السلام چه دے لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۳۹﴾ هر اَئينه يو له رسولانو
وو خلقو د نينوى ته چه ښار دے له بلاد دو موصل څخه او دوئ ئے توحيد ته وبلل او دوئ
پرے ايمان رانۀ وړ۔ نو وعده د نزول د عذاب ئے ورسره وکړه او دے ترے لاړ بيا چه عذاب راغے
او دوئ ايمان راوړۀ نو عذاب ترے بيرته لاړ شۀ بيا چه دے يو څو ورځے پس ورله راغے او له
ورايه ئے ښهر وليدۀ چه هم هغسے اباد دے نو له صحرا بيرته وګرځيده لکه چه وائى اِذْ اَبَقَ ياد
که هغه چه وتختيدۀ دے له قومه خپله اِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۴۰﴾ هغه بيړئ ته چه ډکه وه له
ادميانو او له متاعه بيا چه دے پکښې سور شۀ نو بيړئ په ځائ ودريده په مينځ د سيند کښې نو ملاحانو
وويل چه کوم مريے دے تختيدلے له خپلتن په دے بيړئ کښې نو قرعه واچوئ فَسَاهَمَ پس قرعه
واچوله ده د بيړئ له خلقو سره درے کرته فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ پس شۀ دے له مغلوبانو نه
قرعه کښې دړے واره کرته يعنى په هم دۀ وختنه بيا نو ځان ئے سيند ته واچولو۔ فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ پس
يوه لقمه کړۀ دے ماهي او سلامت ئے حلق تير کړۀ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۱۴۲﴾ او حال دا چه دے ملامته اچونکے
وو په ځان خپل په دے فعل چه کړے ئے وو روايت دے چه ماهي ته امر وشۀ چه
خبردار چه خراب ئے نکړے چه دے ستا خوراکى نه دے بلکه در څخه امانت دے نو دے ئے په او وسيندونو
کښې وګرځولو او د ماهي بدن ورته خدائ ائينه کړه نو عجائب او غرائب د سيندونو به ئے ليدل او
نارے به ئے وهلے چه عه لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ نو رب العزت وائى چه
فَلَوْلَآ پس که چرے نۀ وے دا کار اَنَّهٗ كَانَ چه بيشکه وو دے مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ له تسبيح ويونکو

عه معنیٰ دا چه نشته معبود برحق مګر ته ئے پاکى دے ستا لره بيشکه زۀ يم د ظالمانو نه ۱۲

لَلَبِثَ فِیْ بَطْنِهٖۤ نو هامیشه پاتې به وو په نس د دې ماهی کښې اِلٰی یَوْمِ یُبْعَثُوْنَ ﴿۱۴۴﴾ تر هغې
ورځې پورې چه بیا ژوندی کوے شی دا خلق فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ پس بیرون وغورځولو مونږه دے په د ا ډاګ
میدان باندې چه په هغه کښې نه ونه نه بوټی او نه ګیاه وه وَهُوَ سَقِیْمٌ ﴿۱۴۵﴾ او حال دا چه دے رنځور وو یعنې
ډیر ضعیف وو او بدن ئے دا نازک شوے وو لکه د هغه هلک چه له موره پیدا شی وَاَنْۢبَتْنَا عَلَیْهِ او زرغو
کړه مونږه په سر ددهٔ شَجَرَةً مِّنْ یَّقْطِیْنٍ ﴿۱۴۶﴾ ونه یعنی بوټے د کدو چه د پانړو سورے پرے وکړه
او مچ هم ورته نژدے نهٔ شی او دا خاصه ده د کدو وَاَرْسَلْنٰهُ او بیا ولیږه مونږه دے اِلٰی مِائَةِ اَلْفٍ
سل زره مخلوق ته اَوْ یَزِیْدُوْنَ ﴿۱۴۷﴾ بلکه زیات وو له دے شل زره یا دیرش زره یا اویا زره فَاٰمَنُوْا پس
ایمان راوړو دوی یعنی تجدید د ایمان ئے وکړو د یونس علیه السلام په مخکښې فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰی
حِیْنٍ ﴿۱۴۸﴾ پس ژوندی پاتے کړهٔ مونږه دوی تر یو وخت پورے او فی الحال مو هلاک نهٔ کړه
فَاسْتَفْتِهِمْ پس وپوښته ته دا کفار د مکے د پاره د الزام یا جهینه او بنی خزاعه او بنی ملیح چه ملائک
لونړه بولی د خدائی یعنی د ا قول وپوښته له دے قسمه چه اَلِرَبِّکَ الْبَنَاتُ ایا رب ستا له لونړه
دی په زعم د دوی چه ملایک دی وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۱۴۹﴾ او دوی له ځامن دی ځکه چه په لونړو خفه
کیږی اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِکَةَ اِنَاثًا او که پیدا کړی دی مونږ ملائک ښځے وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ او
حال دا چه دوی حاضر وو په وخت د پیدا کولو د دوی کښې اَلَآ اِنَّهُمْ واوره او خبردار او سه چه
بیشکه دوی مِّنْ اِفْکِهِمْ له د روغ اوله افتراء خپله لَیَقُوْلُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَدَ اللّٰهُ لا هرآئینه وائی دوی چه
اولاد راوړید ے خدائی یعنی ملائک وَاِنَّهُمْ لَکٰذِبُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ او حال دا چه بیشکه دوی هرآئینه
دروغژن دی په دے ویلو کښې اَصْطَفَی الْبَنَاتِ ایا غوره کړی دی لونړه چه مکروه طبعی ستاسے
دی عَلَی الْبَنِیْنَ ﴿۱۵۳﴾ په ځامنو چه موجب د فخر او د معاونت ستاسے دی مَا لَکُمْ تف کوم باعث
دے په تاسے د دے قسمت نالائق کَیْفَ تَحْکُمُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ څرنګه حکم کوئ تاسے په دے فاسد حکم سره
اَفَلَا تَذَکَّرُوْنَ ﴿۱۵۵﴾ ایا پس فکر نهٔ کوی تاسے چه خدائی پاک دے له ښځے او له اولاده ځکه چه مولود له
جنسه د والد وی او دے منزه دے له مثل له شبیه اَمْ لَکُمْ او که شته تاسے لره سُلْطٰنٌ مُّبِیْنٌ ﴿۱۵۶﴾ کوم
دلیل او حجت ښکاره واضح په دے چه خدائی اولاد لری فَاْتُوْا بِکِتٰبِکُمْ پس راوړئ هغه کتاب منزل

خپل چه تورات دے چه مونږه هم وګورو چه په هغه کښې دا حکم شته اِنْ كُنْتُمْ که چرې یئ تاسې
صٰدِقِیْنَ ﴿۱۵۷﴾ رښتینی په دے قول خپل کښې وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ او پیدا کړې دی دغه مشرکانو په مابین دخدائ
وَبَیْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا او په مابین دجناتو کښې چه پټ دی له سترګو یعنی ملائک نسبت او خپلولی چه
ئے لونړه بولی دوئ د دهٔ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ او هرا ئینه په تحقیق پوهیږی دا جنات چه اِنَّهُمْ
لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ بیشکه دا قائلان چه دی چه نسبت د ولد کوی خدائ ته هرا ئینه حاضر کړے شوئ
دی په دوزخ کښې سُبْحٰنَ اللّٰهِ پاك دے خدائ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ له هغه نسبت د شریکه او د
ولد چه وائی دا کفار اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۶۰﴾ لیکن هغه بندګان دخدائ چه پاك کړے شوید ی
له شرکه له معصیته هغه منزه دی له دغه نسبت د نسبه او له حضوره د دوزخ فَاِنَّكُمْ پس بیشکه چه
تاسو اے کفارو د مکے وَمَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ او هغه بتان چه عبادت ئے کوئ تاسے مَآ اَنْتُمْ نهٔ یئ
تاسے ټول یعنی عابدان او معبودان عَلَيْهِ بِفٰتِنِيْنَ ﴿۱۶۲﴾ په دے بت پرستئ سره په فتنه کښې
اچونکی یعنی ګمراه کونکی د هیچا اِلَّا مَنْ مګر دهغه چا هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۶۳﴾ چه دے ننوتونکے د دوزخ
دے په علم دخدائ کښې بیا جبریل علیه السلام وویل رسول علیه السلام ته چه وَمَا مِنَّآ او نشته
له مونږه هیڅوك اِلَّا لَهٗ مګر چه مقرر دے دهٔ لره مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۱۶۴﴾ ځائ دخدمت او دعبادت
معین کړے شوی په اسمانونو کښې چه عبادت کوی دخدائ او تجاوز نړے نهٔ شی کولے وَاِنَّا او
بیشکه مونږه لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ ﴿۱۶۵﴾ هرا ئینه مونږه صفونه تړونکی یو په وخت دطاعت کښې
او په ځائ دخدمت کښې وَاِنَّا او بیا بیشکه مونږه چه یو لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ﴿۱۶۶﴾ هرا ئینه مونږ
تسبیح ویونکی یو حاصل دا چه مونږه پخپله عابدان یو نو لایق د معبودیت نهٔ یو وَاِنْ كَانُوْا او بے
شکه چه وو د اکفار له قریشو پخوا له بعث لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۱۶۷﴾ چه هرا ئینه ویل به ئے دا سے لَوْ
اَنَّ عِنْدَنَا چه که چرے بیشکه وے مونږه ځنے ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۶۸﴾ کوم کتاب له کتابونو د
پخوانیو اممو لکه تورات یا انجیل یا نور صحف شو نګنتا نو هرا ئینه وو به مونږه هم عِبَادَ اللّٰهِ
الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۶۹﴾ هغه بندګان دخدائ چه پاك کړے شوے دی له شائبے د شرك او د کفر او بیا
چه راغی ورلره هسے کتاب چه ډیر غوره وو له ټولو کتب سماوی وچه قران دے فَكَفَرُوْا بِهٖ پس کافر شو په

هغهٔ او چا سحر او چا شعر و باله فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۷۰﴾ پس زر دے چه معلوم به کړه دوی عاقبت د دے کفر وَلَقَدْ سَبَقَتْ او هر ائینه په تحقیق ړومبے شوید ے كَلِمَتُنَا كفتار خمونږه د نصرت لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ له هغو بندګانو خمونږه سره چه لیږلی شوی دی خلقو ته چه هغه کلمه داده چه اِنَّهُمْ بیشکه دوئ چه دی لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿۱۷۲﴾ هر ائینه هم دوئ یاری کړے شوی دی وَاِنَّ جُنْدَنَا او بیشکه لښکر خمونږه چه دے یعنی تابعان دد ے رسولانو چه مؤمنان دی لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ هر ائینه هم دوئ غالب دی په کفارو په نصرت او په حجت سره او کهٔ کله خلاف دد ے واقع شی په دنیا کښی نو په آخرت کښی خا غالب دی فَتَوَلَّ عَنْهُمْ پس مخ ؤ کرځوه له دوئ اے رسوله یعنی له کفارو د مکے حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۴﴾ تر یو وخت پور ے یعنی تر هغه چه مامور شوے نه ئے په قتال تا تر وخته د نصرته چه و رځ د بدر یا فتح د مکے ده وَّاَبْصِرْهُمْ او بیا وګوره دوئ پس له لږے مود ے چه څه ورسره کولے شی فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۵﴾ پس زر دے چه و به وینی دوئ عاقبت د کفر خپل بیا نو دوئ وویل له پوچ منډوے چه دا به نو کله وی نو نازل شهٔ اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ آیا پس په را تلو د عذاب خمونږه تلوار کوی دوئ چه یخوا د خپل وخت ئے غواړی فَاِذَا نَزَلَ پس په هغه وخت چه را کوز شی دا عذاب بِسَاحَتِهِمْ په غولی دد وئ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۷﴾ پس بد دے هغه صباد ویرولو شویو چه چیاؤ د عذاب به پرے را لیږے او بیا د و باره ئے وائی د پاره د تاکید چه وَتَوَلَّ عَنْهُمْ او مخ ؤ کرځوه له دوئ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۸﴾ تر یو وخته یعنی څو چه امر د قتال نه دے شوے وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ او وګوره بیا حال دد وئ پس زر دے چه دوئ به هم وینی حال خپل په وخت د نزول د عذاب کښی هم دلته او هم هلته سُبْحٰنَ رَبِّكَ پاکی ده رب ستا لره له هره عیبه نقصانه رَبِّ الْعِزَّةِ چه خښتن دے د عزت او د قوت او د غلبے او دے پاک دے عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ له هر هغه خیزه چه دا مشرکان ئے ورته منسوب کوی لکه شریک او فرزند وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ او سلام دے په ټولو رسولانو وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ او ثناده خدائ لره رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾ چه تربیت کونکے دے د تمام عالمیانو ۔ وَعَنْ عَلِيٍّؓ من احب ان یکتال بالمکیال الاوفی من الاجر یوم القیٰمة فلیکن اٰخر کلامه اذا قام من مجلسه سبحٰن ربك رب العزة عما یصفون وسلم علی المرسلین والحمد لله رب العلمین ۞

عه هر څوک چه دوست لري چه و تلے شی دهٔ لره په تللو پوره سره له ثواب په ورځ د قیامت نو وی دے دهٔ لره ورستی خبره ددهٔ هر کله چه پاڅی له مجلسه خپله سبحٰن ربک رب العزة عما یصفون وسلم علی المرسلین والحمد لله رب العٰلمین وی ۱۲

سُوْرَةُ صٓ مَكِّيَّةٌ ۳۸ — بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۸۸ رُكُوْعَاتُهَا ۵

صٓ متاخرین په تاویل ددهٔ کښی داسے وائی چه دا یو نوم دے دخدای یاد قرآن یاد دے سورة یا نوم دے د اول حرف داسم صانع او دصمد او دصادق او دصبور. یعنی قسم دے په دے څیز ونو چه مذکور دی صراحةً یا اشارةً یا دلالةً او بل وَالْقُرْاٰنِ قسم دے په قرآن ذِي الذِّكْرِ ① چه څښتن د پند یا یادبیان یادشرف دے او جواب د قسم محذوف دے هغه دادے چه داسے نهٔ ده لکه داکفار د مکے چه وائی له تعدد دخدایانو بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بلکه هغه کسان چه کافر دی له مشرانو د قریشو فِيْ عِزَّةٍ په کبر او سرکشئ کښی دی له قبول دحق وَّشِقَاقٍ ② او په مخالفت کښی دی له خدایانو او له رسول او دے نه نهٔ گوری چه كَمْ اَهْلَكْنَا ډیر هلاک کړی دی مونږه مِنْ قَبْلِهِمْ پخواله دے قومه ستا مِنْ قَرْنٍ له څو څو قرنونو د تیرو اُمموپه سبب ددغه کبر او د سرکشئ فَنَادَوْا پس نارے به ئے وهلے په وخت د نزول د عذاب کښی د پاره د استغاثے یا د پاره د توبے او د استغفار وَّلَاتَ او حال دا چه نهٔ به وو دا وخت یعنی چه عذاب په یو کرت راغے حِيْنَ مَنَاصٍ ③ په وخت دخ کرځولو او تختیدلو او دا لَا لیسی دے چه تَ پرے زائده شوی د پاره د تاکید. او په دے تَ سره ئے حکم مغیر شوے دے داسے چه او س نهٔ داخلیږی مګر په حِيْنَ باندے. او بل واجب شی حذف د یو له معمولینو دده یعنی د اسم او یاد خبر او ذکر دد او ږد منع دے او مناص مصدر دے د ناص ینوص نوصًا ومناصًا ای فات یفوت فوتًا او دا عبارت ماخوذ دے له دے مقولے دعربو چه هر کله دوئ په جنګ کښی به مغلوب شو نو نارے به ئے کړے چه مَنَاصَ مَنَاصَ چه تختئ چه دا وخت د تیختے دے نو او س دلته ئے اسم محذوف دے او تقدیر ئے دکلام دا دے چه فنادوا ولیس هذا الحین حین مناص اے منجاء وفرار. وَعَجِبُوْا او تعجب کوی داکفار د مکے اَنْ جَآءَهُمْ له دے چه راغلے دے دوئ له ته مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ ویرونکے له عذاب دقیامت د دوئ له خپل جنس یعنی بشر په شکل د دوئ یا له قبیلے د دوئ چه قریش دی وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ او وائی دا کافران چه هٰذَا سٰحِرٌ دا منذر جادوګر دے چه دا خوارق مونږ ته ښکاره

کوی کَذَّابٌ ④ ج صلے ډیر دروغ گوئی دے په دعوت د نبوت کښې یا په نسبت د قرآن کښې خدائے ته

روایت دے چه مشران د قریشو پس له اسلام د امیر حمزه رض او عمر رض ډیر مضطرب شو نو ابو

طالب له راغلهٔ چه نهٔ مشرے د پټولو نو خمونږه او ددے وراره په مینځ کښې یو حکم وکړه چه دے دغه بے عقلان

خمونږه یو یو په مکر او په فریب راخوخی خپل دین ته را کاډی. نو دهٔ رسول صلی الله علیه وسلم را وست او ورته

ئے وویل چه دا قوم دِ ستا له لاسه په ژړا راله راغلی دے نو دهٔ قوم ته وویل چه ستا سے څهٔ مدعاده

دوئ ویل چه خمونږه دین دِ نهٔ خرابوی او خمونږه د خدایانو بد دِ هم نهٔ وائی. نو دهٔ وویل چه زهٔ هم

تاسے ته سوال کوم چه کلمه د توحید دِ ووائی چه روی زمین تمام درنه مسخر شی هم عرب او هم

عجم. دوئ ویل هغه کومه کلمه ده. نو دهٔ وویل چه لا اله الا الله. نو ټول په یو کرت تر ے پاڅیدل

او یو بل ته ئے سره وویل چه اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ آیا گرځولی دی دهٔ دا درے سوه شپیته خدایان اِلٰهًا

وَّاحِدًا ج صلے یو خدائی بے شریکه اِنَّ هٰذَا بیشکه چه دا گرزول د ډیرو خدایانو یو خدائی لَشَیْءٌ عُجَابٌ ⑤

هر ائینه یو څیز دے ډیر عجیبه چه مثل نهٔ لری ځکه چه خمونږه دومره ډیر خدایان کارسازی د یو ښهر

د ملک نهٔ شی کولے نو یو خدائی به څرنګه کارسازی د تمام عالم وکړے شی وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ او روان

شو هغه پنځهٔ ویشت مشران چه ابوطالب له راغلی وو مِنْهُمْ له ټولی د قریشو پس له آوریدو د

دے قول له رسول صلی الله علیه وسلم او یو بل ته ئے سره وویل اَنِ امْشُوْا دا سے چه له دے

ځایه. وَاصْبِرُوْا عَلٰی اٰلِهَتِکُمْ ج صلے او صبرا ختیار کړئ په عبادت د خدایانو خپلو اِنَّ هٰذَا

بیشکه دا مخالفت د محمد صلی الله علیه وسلم چه دے له مونږه سره لَشَیْءٌ یُّرَادُ ⑥ ج صلے هر ائینه یو څیز

دے چه اراده ئے کړے شویده په تقدیر الهی کښې نو خلا صے تر ے نشته مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا نهٔ دے اوریدلے

مونږه دا وحدانیت چه دوئ وائی فِی الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ج صلے په هغه وروستی ملت کښې چه ملت د عیسیٰ

علیه السلام دے چه نصارٰی دی یعنی هغه هم توحید نهٔ وائی بلکه تثلیث وائی یا چه ملت د

قریشو دے چه مونږ پرے پلرونه موندلی دی اِنْ هٰذَآ نهٔ دے دا توحید او قرآن چه دے وائی اِلَّا

اخْتِلَاقٌ ⑦ مګر دروغ دی دا سے چه له خپل ځانه ئے پیدا کړی او ساز کړی دی ءَاُنْزِلَ عَلَیْهِ

عه یعنی خدایان درے وائی یو خدائی دویم بی بی مریم دریم حضرت عیسیٰ علیه السلام

الذِّكْرُ ايا راليږلے شوے دے په دهٔ دا قرآن مِنْۢ بَيْنِنَا ط له مابين څمونږه يعنى مشران اواشراف
محروم شواو په دے مينځ كښى وحى په دهٔ راغله اوداخبره دوئ له حسده وائى بَلْ هُمْ بلكه دوئ چه دى
فِىْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِىْ ج په شک او گمان كښى دى له وحى ځماچه قرآن دےځكه تكذيب كوى دراو پرنكى ئے
بَلْ لَّمَّا يَذُوْقُوْا عَذَابِ ⑧ بلكه لهسره نهٔ دے څكلے دوئ عذاب ځما اوكهٔ ئے وڅكلوعذاب نو شك
به ئے ورك شى اماهغه وخت به هيڅ نفع ورته ونهٔ رسيږى اَمْ عِنْدَهُمْ ايادوئ څخه دى
خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ خزانے درحمت درب ستا هسے رب الْعَزِيْزِ الْوَهَّابِ ⑨ چه ډيرغالب او
ډير وركړه كونكے دے يعنى اختيار دخزانو درحمت او دعطا دنبوت ددوئ په لاس كښى نهٔ دے چه اشراف
دقريشو لره به ئے وركړى بلكه دا محض پوفضل الٰهى دے په هرچا چه ئے وكړى اَمْ لَهُمْ اوكهٔ دوى لره
ده مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بادشاهى داسمانونو او دزمكے وَمَا بَيْنَهُمَا قف اودهرهغه چه په مينځ د
دے دواړو كښى دى نو كه چرے دوئ داسے زعم لرى فَلْيَرْتَقُوْا پس نوميبايد چه ودِخيژى دوئ اسمان
ته فِى الْاَسْبَابِ ⑩ په هغه اسبابو كښى چه په هغوسره وصول كيږى اسمان ته اوبيا له هغه
ځايه دِ تدبيردعالم وترى او وحى دِ هم راوليږى په هرهغه چاچه مرضى وى ددوى او دا امر په دواړو ځايو
كښى دپاره د استفهام انكارى دے يعنى داسے بيا اوس احباركوى رب العزت په رسول صلے الله عليه
وسلم دماتے اودخرلے دلښكرو د قريشو لا مخوا له وقوع په دے ايت سره چه جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ دوئ
خو يو لښكر كوتے دے دلته دا اشارت دے بدرته او هغوځايونو ته چه دوئ بيا پكښى قتل شوى
دى مَهْزُوْمٌ چه مات او خراب كړے شوى دى زر يعنى لږه موده پس او دا قريش هم حساب
دى مِّنَ الْاَحْزَابِ ⑪ له هغو لښكرو څخه چه شاخ جنگى به ئے كوله له مخوا نيو رسولانو سره چه
بيا به هغه ټول هلاك شولكه چه وائى كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ تكذيب كړے وو مخواله دے قومه
ستا قَوْمُ نُوْحٍ قوم دنوح عليه السلام وَّعَادٌ اوبل عاديانو وَفِرْعَوْنُ ذُو الْاَوْتَادِ ⑫ اوبل
فرعون چه خښتن وو دميخونو چه څلور ستنے به ئے ودرولے وے نو په هرچا چه به په غضب شهٔ
اوعذاب به ئے ورلره وركولو نو دهغه لاسونه او خپے به ئے په هغو ستنو پورے وتړلے او وپاسه به
ئے ميخونه پرے ټكوهل نو هم داسے به ئے ساه په ولاړے وختنه وَثَمُوْدُ اوبل ثمود وَقَوْمُ لُوْطٍ اوبل

قوم د لوط علیه السلام وَاَصْحٰبُ لْئَیْکَةِ ط او بل اهل د ځنګل چه شعیب علیه السلام ورلره

رالیږلے وو. اُولٰٓئِکَ الْاَحْزَابُ ⑬ دا مذکورین چه دی هم هغه ټولے دے دمکذبانو چه جند مهزوم

د قریشو هم پکښ داخل دے. نو اولئك اشارت دے دغه احزابو ته اِنْ کُلٌّ نهٔ دے هر یو له

دوی اِلَّا کَذَّبَ الرُّسُلَ مګر چه تکذیب ئے کړے دے د ټولو رسولانو فَحَقَّ عِقَابِ ⑭ پس لایق او

واجب شهٔ عذاب ځما دوی لره نو پرے واقع شه **فائده** دلته ټول رسولان یا د شول سره

له دے چه هر قوم تکذیب کړیدے یو ائے د خپل رسول له دے جهته چه تکذیب د یو رسول تکذیب

دے د ټولو ځکه چه دعوت د ټولو یو شے نه دے چه توحید دے وَمَا یَنْظُرُ هٰٓؤُلَآءِ او انتظار نه کوی

دا قوم ستا اِلَّا صَیْحَةً وَّاحِدَةً یو کړیکے چه نفخه اولی ده چه پرے وشی او و رسره پرے عذاب نازل

شی مَا لَهَا چه نشته هغه کړیکے لره مِنْ فَوَاقٍ ⑮ هیڅ قدر بیرته ګرځیدل یعنی چه هیڅوك ئے نهٔ شی

بیرته رد کولے وَقَالُوْا رَبَّنَا او وائی معاندان د قریشو لکه نضر بن حارث او امثال دده چه اے ربه ځمونږه

عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا په جلتئ سره راکړه مونږ ه لره برخه ځمونږه له هغه عذابه چه محمد صلی الله علیه

وسلم مونږه پرے ویروی یا اعمال نامه ځمونږه چه مونږه ئے اوس ووینو قَبْلَ یَوْمِ الْحِسَابِ ⑯ مخوا

له ورځے د حساب او دا به ئے د پاره د پوچ منهٔ و ویل نو رب العزت وائی رسول خپل ته اِصْبِرْ عَلٰی

مَا صبر کوه په هر هغه ناخوالو خبرو یَقُوْلُوْنَ چه وائی دوی وَاذْکُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ او یاده که او تیره

که دوی ته قصه د بنده ځمونږه چه داود علیه السلام دے د پاره د عبرت یعنے چه دے سره له دومره

عزته او بلند شانئ او ګران والی په خدائ په یوه صغیره سره څومره عتاب ورته وشهٔ او په هغه

صغیره او زلت کښ ډیر اختلافات دی د راویانو اما صحت ته اقرب پکښ دا دے چه یو سړے وو او ریا

نومے هغه یوه ښځه وغوښته او نزدے شو دے ته چه نکاح ئے وتړی ناګاه اولیاءُ د ښځے ورسره

ناسازه شوه بیا داود علیه السلام خپل ځان له وغوښته او په نکاح ئے کړه او مخوا له دے یو کم سل ښځے

ئے درلودے نو هغهٔ زلت دا خِطبه وه دده په خِطبه د اسلامی دور خپل باندے سره له دومره

نورو ښځو او بیا په دے زلت ملائکو ورلره څومره ډیر زجر او تنبیه ورکه په کنایه او په مثال

ترلو سره او بیا دے په زیرکئ سره پوهـ شهٔ په خپل زلت نو مغفرت ئے وغوښت له ربه خپله

او هر کله چه هغه داسې شنه نو د دې کافرانو به څهٔ وی له دې کبره او طغیان سره نو دا قصه ته دوئ ته هم
تیره کړه او ته ځپله هم عبرت پرې واخله چه مبادا ناته هم داسې حادثه پیښه نه شی ذَا الْاَيْدِۚ چه
خښتن وو د ډیر زور او قوت په عبادت کښ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۱۷﴾ بیشکه دې ډیر بیا بیا رجوع کونکے وو رضا د
خدائی ته ځکه چه همیشه په نیمه شپه قائم وو او یوه ورځ پس به صائم وو اِنَّا بیشکه چه مونږه سَخَّرْنَا
الْجِبَالَ مسخر کړی وو مونږه غرونه مَعَهٗ يُسَبِّحْنَ له دهٔ سره چه تسبیح به ئې ورسره وایه بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ ﴿۱۸﴾
په اخر او په اول د ورځې کښ وَّالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةًؕ او بل مسخر کړی وو مونږه دهٔ ته مرغان په دې حال چه
راټول کړے شوی به وو دهٔ د سرود پاسه صفونه تړلی كُلٌّ لَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۱۹﴾ هر یو چه وو له غرونو او له
مرغانو دهٔ لره ډیر مطیع وو یا بیا راګرځونکی د او از خپل وو دهٔ لره په وخت د تسبیح د دهٔ کښ وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ او محکم
کړے وو مونږه بادشاهی د دهٔ په دعاد مظلومانو یا په نصیحت د وزیرانو یا په امان کولو د رعیت له ظالمانو یا په اچولو
د هیبت په زړونو د دشمنانو یا په سازولو د زغرو او د نورو وسلو د پاره د سپاهیانو یا په ډیروالی د څوکیدارانو
چه د رے دیرش زره به هره شپه ترے چاپیره ولاړ وو نو هر کله چه متخاصمین به ورلره راغلهٔ نو د ډیرو
لاس به ور ورسیدهٔ او ډیر به له سره نهٔ رسیدهٔ وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ او ورکړے وو مونږه دهٔ لره نبوت
سره له قوته د علم او کمال د عمل وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾ او علم د قضا او د قطع د خصوماتو او د بیلتون په
مابین د حق او د باطل کښ روایت دے چه داود علیه السلام خپلې ورځې څلور قسمه کړے وې
داسې چه یوه ورځ به ئې د عبادت وه او بله د قضا او بله د وعظ او بله د شغل په خپلو مهماتو
ناګاه په ورځ د عبادت د دې پاس په بالاخانه کښ په خپل ورد مشغول وو. د دروازې ټولې پوڅوے
او څوکیداران چاپیره ولاړ وو چه ناڅاپه دوه متخاصمین هر یو سره له لولی دې له پاسه په دیوال د بالا
خانے راوختل لکه چه وائی وَهَلْ اَتٰىكَ او آیا راغلے دے تاته اے رسوله نَبَؤُا الْخَصْمِ م خبر د هغو دوه
د لو د جګړه کونکیو او چاویلی دی چه هغه دوه جبریل او میکائیل علیهما السلام وو چه سره له نورو
ملائکو په صورت انسانی سره ورلره راغلے وو اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿۲۱﴾ یاد که هغه چه راوختل
ټول پاس په دیوال د محراب یعنی د عبادت خانے د دهٔ اِذْ دَخَلُوْا په هغه وخت چه راننوتهٔ ټول عَلٰى
دَاوٗدَ په داود علیه السلام بانده او دهٔ ولیدل فَفَزِعَ مِنْهُمْ پس ووېریده دے له دوئ. لـه

دوه جهته یو په دے چه بے اجازے راغلهٔ او بل په دے چه په لارے رانغلهٔ په دیوال راوښتهٔ قَالُوْا لَا تَخَفْ ج وویل ورته دوئ چه مه ویریږه خَصْمٰنِ مونږه دوه ډلے یو چه جګړه لرو سره په خپلو کښ او خصم مصدر دے اطلاق ئے په واحد په کثر په دواړو کیږی بَغٰى بَعْضُنَا چه ظلم کړے دے بعضو ځمونږه عَلٰى بَعْضٍ په بعضو نورو فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ پس حکم وکړه په مابین ځمونږه کښ وَلَا تُشْطِطْ او جور مه کوه په حکم کښ یعنی تجاوز مهٔ کوه له حقه وَاهْدِنَآ او برابر کړه اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾ میانه لارے ته چه عدل دے نو یو وویل چه اِنَّ هٰذَآ اَخِیْ تحقیق بیشکه دے ورور دے ځما په دین یا صداقت یا په شرکت د مال کښ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً چه دهٔ لره نهه نوی ګډے دی وَّلِیَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ فقط او ما لره یوه ګډه ده یعنے سره له دے چه دے نهه نوی لری او زهٔ یوه لرم او دے په دغه نهه نوی صبر نه کوی فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا پس وائی دے ما ته چه را که ما لره دا ستا یوه هم چه ځما پرے سل پوره شی۔ وَعَزَّنِیْ فِی الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾ او غلبه ئے کړے ده په ما باندے په ګفتګو کښ یعنی د پرخوله ور دے نو په خبرو کښ ئے نهٔ شم لاندے کولے یا مراد له خطاب خطبه ده د ښځے له بابه د مبالغے ای خاطبنی فعزنی فی الخطاب یعنے بُردبائی دهٔ راسره برپائی کړه په خطبه کښ پس غلبه ئے وکړه را باندے په هغهٔ کښ ځکه چه ده راځنه دهٔ په نکاح کړه **نکته** نعجه په لغت کښ ګډے ته وائی او کله کله په دے سره کنایت کاوهٔ شی له ښځے او کنایت او تمثیل په وخت د تعریض کښ ابلغ دے له تصریح نو ځکه دوئ مقصود په کنایت سره په تمثیل کښ ادا کهٔ. قَالَ نو وویل ورته داود علیه السلام پس له اعتراف د مدعی علیه او یا په تقدیر د صدق د مدعی چه لَقَدْ ظَلَمَكَ قسم دے چه په تحقیق ظلم ئے کړیدے په تا بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ په غوښتلو او په جمع کولو د دے یو ګډے ستا اِلٰى نِعَاجِهٖ ط له یو کم سلو خپلو سره **فائده** دا خصومت دوئ ځکه دهٔ له راوړهٔ چه دے بخیله دا حکم وکه چه بیا پرے هم دے ملامتیږی وَاِنَّ كَثِيْرًا او بیشکه زیات چه دی مِّنَ الْخُلَطَآءِ له هغو شریکانو چه مالونه خپل له یو بل سره خلط کوی لَيَبْغِیْ بَعْضُهُمْ هرائینه ظلم کوی بعض د دوئ عَلٰى بَعْضٍ په بعضو نورو چه له خپله حقه زیات غواړی اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مګر هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د دوئ د نیکو وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ط او ډیر لږ دی دوئ په مابین د شرکاؤ کښ او دا هم مبتدا دے مؤخر او قَلِيْلٌ

ئے خبر دے مقدم او دا مَا زائده دے دپاره د ابهام او د تعجب له قلت د دوئ بیا نو د ا دواړه مَلَک په خپل شکل شو او اسمان ته په ختو شو او یو بل ته ئے سره و ویل چه قضی الرجل علی نفسه یعنی دکورئ چه حکم د پرو کړ دے سړی په خپل ځان او و لاړه غائب شو. وَظَنَّ دَاؤدُ او پوه شهٔ په یقین داؤد علیه السلام اَنَّمَا فَتَنّٰهُ په دے چه بیشکه همدا خبره ده چه په فتنه او په ازمیښت کښ واچوؤ مونږه دے په سبب د هغه تقصیر به دے حکومت سره فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ پس بخښنه ئے وغوښته له ربه خپله د دے گنا وَخَرَّ رَاكِعًا او پرېوت په دے حال چه سجده کونکے وو خدائ ته وَّاَنَابَ ﴿۲۴﴾ او بیرته راجع شهٔ خدائ ته په توبے سره او په یو روایت څلوېښت شپے او ورځے په سجده پروت و واو سر به ئے نهٔ پورته کولو مگر ما ښځه لره یا کوم ضرورۍ لره او د اوښکو په اوبو ئے وابنهٔ زرغون شوی وو د سجدے په ځائ کښ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ؕ پس وبخښهٔ مونږه دهٔ ته هغه تقصیر وَاِنَّ لَهٗ او بیشکه چه دهٔ لره عِنْدَنَا لَزُلْفٰى په نزد د مونږه هرائینه د پر قرب وو په دنیا کښ وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾ او ښه مرجع ده په عقبیٰ کښ چه رضوان او جنت او دیدار دے او بیا ورته وویل مونږه یٰدَاوٗدُ چه اے داود علیه السلام اِنَّا جَعَلْنٰكَ بیشکه مونږه چه یو گرځولے ئے مونږه ته خَلِیْفَةً فِی الْاَرْضِ خلیفه په زمکه کښ چه بادشاهی مو در کړے ده یا خلیفه کړے ئے مونږه ته د تیرو انبیاؤ علیهم السلام فَاحْكُمْ بَیْنَ النَّاسِ پس حکم کوه په مابین د خلقو کښ بِالْحَقِّ په حق او په رښتیٔ سره وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى او پیروی مهٔ کوه د هوا د نفس او د ارزو گانو د دهٔ چه تصدیق د مدعی بخوا له پو ښتنے له مدعیٰ علیه څخه فَیُضِلَّكَ پس چپ به که دغه هوا تا عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ؕ له لارے د خدائ اِنَّ الَّذِیْنَ بیشکه هغه کسان یَضِلُّوْنَ چه چپیږی دوئ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ له لارے د خدائ یعنی له دین د اسلام او له هغو براهینو چه دال دی په توحید لَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌۢ مقرر دے دوئ لره عذاب سخت بِمَا نَسُوْا په سبب د دے چه هیره کړے ده دوئ یَوْمَ الْحِسَابِ ﴿۲۶﴾ ورځ د حساب ع وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ او نهٔ دی پیدا کړی مونږه د اسمان او زمکه وَمَا بَیْنَهُمَا بَاطِلًا ؕ او هر هغه چه په مابین د دے دواړو کښ دی په باطل او په عبث بلکه هر یو پیدا شوید ے په حکمت بالغه سره څکه موجب د استدلال دے په وجود واجب او بے

وحدانیت دده ذٰلِكَ دا پیدا کول په باطله چه دی ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ گمان دے دهغه کسانو
چه کافردی او عاقبت د دے پیدا ایښت ته نهٔ گوری فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس افسوس دے هغه کسانو
لره چه کافردی له مکیانو او دا سے باطل گمانو نه مِنَ النَّارِ ﴿۲۷﴾ له اوره د دوزخ چه سوزی به په
کښ روایت دے چه کفارو د مکے وویل مؤمنانو ته چه په آخرت کښ به مونږه له تا سے قدر
لا بلکه زیات له تا سے نعمتونه راکړے شی نو نازل شو أَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا آیا گرځوو مونږه
هغه کسان چه ایمان ئے داوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دوئی دنیکو كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي
الْاَرْضِ ز پشان دهغو چه فساد کوونکی دی په زمکه کښ په جزا او په عطا کښ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ
او که گرځوو مونږه پرهیزگاران كَالْفُجَّارِ ﴿۲۸﴾ پشان د بدکارانو یعنی نهٔ گرځوو كِتٰبٌ دا قرآن یو کتاب دے
دا سے أَنْزَلْنٰهُ إِلَيْكَ چه رالیږلے دے مونږه دے تا ته مُبٰرَكٌ چه برکت ورکړے شوید ورله لِّيَدَّبَّرُوْا
اٰيٰتِهٖ دپاره د دے چه سنه فکر وکړی دوئی په ایتونو دده کښ او واقف شی په هغه معانیو چه مستنبط دے
ترے او په هغه تاویلاتو صحیحو چه مستخرج دے ترے نو ایمان پرے راوړی او دا په اصل کښ يَتَدَبَّرُوا
وو د ال واقع شهٔ پس له ت د تفعل نو دا ت دال شوه او دال په دال کښ مدغم شو وَلِيَتَذَكَّرَ او
بل دپاره د دے چه پند واخلی پرے أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴿۲۹﴾ خښتنان د صاف عقلونو وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ او
ورکړے وو مونږه داوٗد علیه السلام لره سُلَيْمٰنَ ط فرزند چه نوم ئے سلیمان علیه السلام وو نِعْمَ
الْعَبْدُ ط ښه بنده وو دے إِنَّهٗٓ أَوَّابٌ ﴿۳۰﴾ بیشکه چه دے ډیر رجوع کونکے وو خدائی ته په توبے
سره یا ذکر او تسبیح ته روایت دے چه سلیمان علیه السلام جنگ کړے وو له کفارو د
دمشق او د نصیبین سره او زر اسونه ئے ترے راوستی وو یا پلار ئے په غزا کښ له عمالقه وٗ
راوستی وو او بیا دهٔ میراث پاتے شوی وو یا بحری اسونه وو چه وزر ئے درلود دهٔ بیا یوه ورځ
پس له مانځه د نماز پښین دے په تخت کیناست دپاره د تماشے د دے اسونو تر هغه پورے چه نمر
پریوت او مازیگر ترے قضاء شو. لکه چه وائی إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ یاد که هغه چه عرض کړے شو په
دهٔ بِالْعَشِيِّ په آخر د ورځے کښ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ﴿۳۱﴾ هغه کهره او تیز رو اسونه چه په درے ښپے
ولاړ وی او د څلورمے ښپے ئے نوکه لګولے وی او دا د اسونو خوبائی ده. او صٰفِنٰت جمع مؤنث د

اسم فاعل دہ لہ باب دصفن یصفن صفوناً لہ حد د کرم او جیاد جمع د جواد دہ فَقَالَ اِنِّیۤ پس وویل دۂ بیشکہ زۂ چہ یم اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَیْرِ غورہ کڑۂ ما محبت دا اسونو او دوئ تہ خیر وابۂ شی ځکہ چہ پہ دوئ کبنی ډیر خیر دے لکہ حدیث دے چہ الخیل معقود بنواصیہا الخیر الی یوم القیامۃ ۔ او زۂ غافل کڑم زہ عَنْ ذِکْرِ رَبِّیْ ج لہ یادګیرئ د رب خپلہ یعنی لہ وردہ د نماز دیګرہ یا لہ مانځۂ حَتّٰی تَوَارَتْ تر ھغہ پورے چہ پناہ شۂ نمر بِالْحِجَابِ ﴿۳۲﴾ پہ پردہ سرہ او نماز دیګر قضا شۂ بیا نو وویل سلیمان علیہ السلام خپلو سړیو تہ رُدُّوْهَا عَلَیَّ ط چہ بیرتہ راولئ دا اسونہ ما لہ نو بیرتہ ئے ورلرہ راوستل فَطَفِقَ پس ونګیدہ سلیمان علیہ السلام مَسْحًا ای یمسح بالسیف مسحًا یعنی یضرب بہ ضربًا معنیٰ دا چہ ونګیدۂ پہ وھلو دے اسونو پہ تورہ بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾ پہ پنډیو او پہ ګردنونو د دوئ یعنی خپے او ګردنونہ ئے ترے نہ پریکول او غوښے ئے پہ خلقو خیرات کولے او غوښہ د اسونو پہ ددۂ پہ شریعت کبنی خوړے شوے بیا چہ دۂ اسونہ حلال کڑہ خدائ د پارہ نو خدائ د ھغو پہ عوض کبنی باد ورتہ مسخر کړو چہ ھم تږ غورہ او ھم ترے جلت وو روایت دے چہ د سلیمان علیہ السلام ځوئ پیدا شۂ نو دیوانو سرہ وویل چہ دے کۂ لوئے شۂ نو د پلار پہ شان بیا دے بہ ھم مونږہ پہ عذابوی خوراځئ چہ اوس ئے لا مړ کړو او دے پہ دغہ مصلحت خبر شہ نو پہ وریځے وسپارہ چہ ددہ تربیت بہ ئے کولو ناګاہ یوہ ورځ راولویدہ ددۂ پہ تخت او چا ویلی دی چہ دۂ پہ جزیرہ کبنی ښار دصیدون فتح کڑۂ او دھغہ بادشاہ ئے مړ کڑۂ او لور ئے جرادہ نوم ترے راوستہ او سریہ ئے کړہ ځکہ چہ ډیرہ ښایستہ وہ او دے پرے مین وو اما ھغے بہ ھمیشہ پلار پسے ژړل نو دۂ پہ دیوانو د پلار شکل ورلرہ ساز کړو د پارہ د تسلئ دے نو دے بہ سجدے ورتہ کولے اما پتہ ناګاہ دے یوہ ورځ غسلخانے تہ ننوت او ګوتہ ئے خپلے اُم ولدے لرہ ورکڑہ چہ امینہ نوم وو او ددہ دا مملکت تول ھم پہ دغہ ګوتے پورے تړلے وو نو یو پیرے صخر نوے بچو الہ سلیمان علیہ السلام لہ ھغہ غسلخانے راووت پہ شکل ددۂ او ګوتہ ئے واخستہ او لاړ پہ تخت کیناست او درستہ بادشاھی پرے راټولہ شوہ او خپل حکم ئے جاری کڑۂ غیر لہ حرمہ ددۂ بیا چہ سلیمان علیہ السلام لہ غسلخانے راووت

عہ ترے شوے دے پہ تندی دا اسونو پورے خیر تر ورځے د قیامتہ پورے ۱۲

اوګوته ئے له امیئے وغوښته نو دے ورته اوګه او پوچ ئے ورته وویل نو پوهه شهٔ چه وینولے
شوم په اول روایت په ترك د توکل او په دویم په بے غورئ د بت پرستئ لکه چه وائی وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ
او هراٰئینه په تحقیق ازمائیلے وو موبږه سلیمن علیه السلام وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ او غورځولے وه موبږه
په تخت دده جَسَدًا یو بدن بے روح چه څوئ وو دده یا هغه صخر پیرے وو او دے بے روح بدن
ځکه وبالهٔ شهٔ چه ځان ئے سلیمان کړے وو او سلیمانیت ئے نهٔ درلودهٔ نو نسبت سلیمان علیه
السلام ته داسے شهٔ لکه بے روح بدن بیا پس له دومره ورځو چه بت پرستی پکښې شوے وه
چه ښاوینت ور ځے وے هغه صخر و تختیدهٔ او هغه ګوته ئے په سیند کښې وغورځوله او ماهی
تیره کړه بیا هغه دده په لاس راغے او دهٔ ئے نس څیرے کړهٔ نو ګوته پکښې پرته وه چه هغه ئے
په لاس کړه نو هغه بادشاهی ورله بیا راغله او خدائ ته په سجده پریوت لکه چه وائی ثُمَّ
اَنَابَ ﴿۳۴﴾ بیا رجوع ئے وکړه خدائ ته یا بادشاهئ خپلے ته پس له خلوینتو ورځو بیا نو قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ
وویل ده چه اے ځما ربه مات هر هغه تقصیر چه له ما صادر شوے دے وَهَبْ لِيْ مُلْكًا او راکه
ماله داسے بادشاهی لَا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ چه نهٔ ښائی بل هیچا له مِّنْۢ بَعْدِيْ ۚ غیر له ما او دا ئے له
شفقته وویل نه له حسده یعنی دا پردروند بار دے نو غیر له ما ئے په بل چا مهٔ اچوه اِنَّكَ بیشکه
ته چه ئے اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾ هم ته ئے ډیر ورکونکے روایت دے چه هر کله سلیمان علیه
السلام هم پیغمبر او هم بادشاه وو نو دیوے داسے معجزے سوال ئے رب نه وکړو چه هم پکښې
خرق عادت وی او هم پکښې کارسازی د بادشاهئ وی نو ځکه ئے وویل هب لی ملکا الخ بیا دا
سوال ئے قبول شهٔ لکه چه وائی فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ پس مسخر کړے وو موبږه دهٔ ته باد په دے
شان چه تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖ رُخَآءً روانیدهٔ به په فرمان دده سره هر کله چه به ئے امرورته وکړ نرم راد
پیوست نه کلک او تند حَيْثُ اَصَابَ ﴿۳۶﴾ هر ځائی ته چه به اراده وشوه دده وَالشَّيٰطِيْنَ او بل مسخر
کړی وو موبږه دهٔ ته دیوان كُلَّ بَنَّآءٍ هر بنا کونکے د عمارتو نو چه بنهٔ بنهٔ ځایونه ورله سازوی
وَّغَوَّاصٍ ﴿۳۷﴾ او هر غوته وهونکے په سیند کښې د پاره د ایستلو د جواهرو دهٔ له وَّاٰخَرِيْنَ او نور
دیوان وو ډیر سرکش غیر له هغو تیرو دوه طائفو مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿۳۸﴾ چه سره تړلی او

پیلی به پراته وو په زنځیرونو کښې دپاره د تادیب او چه ضرر چاته و نه رسوی او اَصۡفَاد جمع دے د صفد او صفد قید ته وائی او بیا مونږه ورته وویل چه هٰذَا عَطَآؤُنَا دا بخشش دے ځمونږه تاته فَامۡنُنۡ پس منت بار وه یعنے ورکوه هرچا لره چه اراده د وشی اَوۡ اَمۡسِكۡ یا امساك کوه یعنی حصار وه له هرچا چه اراده د وشی بِغَيۡرِ حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ بے حسابه یعنے د دے حساب به د ریسره نهٔ شی کولے وَاِنَّ لَهٗ او بیشکه چه دهٔ لره عِنۡدَنَا لَزُلۡفٰی په نزد ځمونږه هرائینه د یر قرب وو په دنیا کښې وَحُسۡنَ مَاٰبٍ ﴿٤٠﴾ او ښهٔ مرجع ده په عقبی کښې چه رضوان او جنت او دید ار دے وَاذۡكُرۡ عَبۡدَنَاۤ اَيُّوۡبَ م او یاد که بنده ځمونږه چه ایوب علیه السلام دے اِذۡ نَادٰی رَبَّهٗۤ هغه چه غږ ئے وکړه رب خپل ته اَنِّیۡ مَسَّنِیَ الشَّيۡطٰنُ دا سے چه بیشکه زهٔ چه یم مس کړے یم شیطان بِنُصۡبٍ وَّعَذَابٍ ﴿٤١﴾ ط په رنځ او په درد سره نو جبریل علیه السلام ورته وویل چه اُرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَ ج و وهه خپه خپله په زمکه نو وے وهله او خپے لاندے چینه د اوبو را وخټکیده نو بیا ئے ورته وویل چه هٰذَا مُغۡتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ﴿٤٢﴾ دا اوبهٔ دی یخے چه هم غسل پرے کولے شے او څکلے هم شے نو هم ئے غسل وکړهٔ او هم ئے وڅښلے نو بیرون او درون ئے د واړه روغ پاك صاف شهٔ په اذن د خدائی او چا ویلی دی چه دوه چینے وے یوه توده او بله سړه نو په کړے ئے غسل وکړهٔ او له سړے ئے اوبهٔ وڅښلے وَوَهَبۡنَا لَهٗۤ او وورکړه مونږه دهٔ لره یعنے بیرته ژوندے کړه مونږه اَهۡلَهٗ عیال ئے فرزندان د دهٔ وَمِثۡلَهُمۡ مَّعَهُمۡ او په شمار د دوی نور هم له دوئ سره یعنے اولادے ئے لا یخوا دو چند کړلو مونږه رَحۡمَةً مِّنَّا محض په مهربانئ سره له جنابه ځمونږه وَ ذِكۡرٰی اوبل دپاره د پند اخستلو لِاُولِی الۡاَلۡبَابِ ﴿٤٣﴾ خښتنانو د صاف عقلونو لره چه دوئ هم صبر کاوو په سختیو په امید د فراخی او خوشحالئ روایت دے چه رحیمه نومے ښځه د ایوب علیه السلام چه لور دوه د افرائیم بن یوسف علیه السلام یوه ورځ په کوم کار پسے لاړه او ډیر زنده ئے کړو نو دهٔ سوګند وکړه چه که چرے زهٔ خدائی روغ کړم نو سل کندا رونه به پرے وکړم بیا چه روغ شهٔ نو حیله د سوګند ئے ترسره کولو ورته خدائی وښودله دا سے چه وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثًا او ونیسه په لاس خپل کښې جارو د کنړکو فَاضۡرِبۡ بِّهٖ پس و وهه په هغه جارو سره ښځه خپله وَلَا تَحۡنَثۡ ط او ځان مه حانث کوه په ترك د وهلو سره اِنَّا بیشکه مونږه چه یو وَجَدۡنٰهُ صَابِرًا ط موندلے وو مونږه

وقف لازم ٣ ع ١٢

دے صبرناك په هغه سختیو چه رسیدلی وے دهٔ ته په نفس په اهل په مال کښې نِعۡمَ الۡعَبۡدُ ؕ ښهٔ بنده وو
دے اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۴۴﴾ بیشکه چه دے ډیر رجوع کونکے دے درگاه ځموږ ته په صبر او په توکل سره وَاذۡکُرۡ
عِبٰدَنَاۤ او یاد که بندګان ځموږه اِبۡرٰهِیۡمَ وَاِسۡحٰقَ وَیَعۡقُوۡبَ چه دا درے واړه دی چه پلار او ځوئ
او نمسے دی سره اُولِی الۡاَیۡدِیۡ وَالۡاَبۡصَارِ ﴿۴۵﴾ چه خښتنان دلاسونو او د سترګو وو چه په لاسونو به ئے
اعمالِ صالحه کول او په سترګو به ئے قدرتونه لیدل په نظر دعبرت سره یا خښتنان دقوت وو په طاعت
کښې او دبصیرت وو په دین کښې اِنَّاۤ بیشکه موږه چه یو اَخۡلَصۡنٰهُمۡ خالص کړی وو موږه دوئ خپلځان
لره بِخَالِصَةٍ په خالص خصلت سره یعنې ذِکۡرَی الدَّارِ ﴿۴۶﴾ په یادولو د دار د آخرت سره خلقو ته لکه
چه عادت دے دانبیاء علیهم السلام وَاِنَّهُمۡ عِنۡدَنَا او بیشکه دوئ چه دی په نزد ځموږه لَمِنَ
الۡمُصۡطَفَیۡنَ هر ائینه له غوره کړے شویو وو په مابین داهل د زمانے خپلے کښې الۡاَخۡیَارِ ﴿۴۷﴾ زیات کړی وو
له هرچا سخه په خیر کښې وَاذۡکُرۡ اِسۡمٰعِیۡلَ وَالۡیَسَعَ او یاد که اسمعیل او یسع بن اخطوب علیهما السلام چه
په اول کښې خلیفه وو دالیاس علیه السلام او په آخر کښې بیا بخپله پیغمبر شهٔ او دا لام
پکښې زائده دے ۔ وَذَاالۡکِفۡلِ ؕ او بل خښتن دضمانت چه وراره وو د یسع یا ځوئ وو دایوب
علیه السلام چه پس له پلاره بیا مبعوث شوے وو یو قوم ته له شامه او ذاالکفل ورته ځکه وائی چه
سل پیغمبران علیهم السلام ورته پیدلی وو له ویرے د قتل او دهٔ ورلره ځائ ورکړه او کفیل ئے شهٔ
وَکُلٌّ او دا مذکورین ټول مِنَ الۡاَخۡیَارِ ﴿۴۸﴾ له غوره کړے شویو وو په خلقو کښې هٰذَا ذِکۡرٌ دا حال
چه بیان شو د انبیاء علیهم السلام یو پند دے هرپند اخستونکیو لره یا ذکر جمیل دے د دوئ وَاِنَّ
لِلۡمُتَّقِیۡنَ او بیشکه پرهیزګارانو ټولو لره که دوئ دی او که نور دی تر قیامته لَحُسۡنَ مَاٰبٍ ﴿۴۹﴾ هر
ائینه ښه خاتمه ده په آخرت کښې او هغه خاتمه داده چه جَنّٰتِ عَدۡنٍ باغونه دی دا قامت
مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الۡاَبۡوَابُ ﴿۵۰﴾ په دے حال چه پرانستے به پرته وی دهغو د پاره دروازے دهغو باغونو
مُتَّکِـِٕیۡنَ فِیۡهَا تکیه وهلی به ناست وی دوئ په هغو باغونو کښې په تختونو یَدۡعُوۡنَ فِیۡهَا چه غواړی به دوئ
او خواهش به کوی په هغو کښې بِفَاکِهَةٍ کَثِیۡرَةٍ د ډیرو میوو وَّشَرَابٍ ﴿۵۱﴾ او د ډیر څښلو او یوازے
میوے یادے شوے ځکه چه خوراك هلته محض دپاره دلذت دے او لذت په میوو کښې ډیر دے وَعِنۡدَهُمۡ

او وی به دوئ تخنه یعنی د دوئ ښځې به وی له حورو قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ بند ونکے دسترګو په خپلو ازواجو
یعني غیر له دوئ ئے بل څوك لیدلی نهٔ وی اَتْرَابٌ (۵۲) همزولے په خپلو کښې سره یا له ازواجو خپلو سره
چه ټول به په عمر د یرشو کلو وی نهٔ کم نهٔ زیات۔ او ملائك به ورته وائي هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ دا هغه
نعمتونه دی چه وعده به کولے شوه له تاسے سره د دوئ په دنیا کښې لِيَوْمِ الْحِسَابِ (۵۳) د پاره دخوشحالي
د ورځے د حساب اِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا بیشکه چه دا معطی هر ائینه روزی ده ځمونږه او دا رزق کے
مضاف فاعل ته وی نو دا مقوله د رب العزت ده او که مفعول ته وی نو د جنتیانو ده مَالَهٗ مِنْ
نَّفَادٍ (۵۴) چه نشته دهٔ لره هیڅ قدر قطع او کموالے هٰذَا ط دا خوحال دے د مطیعانو چه مؤمنان دی وَاِنَّ
لِلطّٰغِيْنَ او بیشکه چه د پاره د باغیانو چه کفار دی لَشَرَّ مَاٰبٍ (۵۵) هر ائینه بده مرجع ده جَهَنَّمَ ج
يَصْلَوْنَهَا ج چه هغه دوزخ دے چه داخل به شی دوئ په هغهٔ کښې او یکښې به سوزی فَبِئْسَ الْمِهَادُ (۵۶)
پس بد ارام ګاه دے دوزخ هٰذَا لا دا مذکور عذاب دے د دوزخیانو فَلْيَذُوْقُوْهُ پس میبایدچه د وڅکی
دوئ هغه حَمِيْمٌ چه هغه یشیدلے اوبهٔ به وی بدبویه په اورد دوزخ د پاره د څکلو وَّغَسَّاقٌ (۵۷) او زوے
به وی بد بویه چه له پوستکی او له غوښے د دوزخیانو له فروجو د زانیانو به رابهیږی د پاره د دوئ او
چا ویلی دی چه حمیم د یرے ګرمے اوبه دی او غساق دیرے یخے دی چه د واړه قسم سیزل کوی یو له ډیرے
غلبے د ګرمئ او بل له ډیرے غلبے د یخنئ وَّاٰخَرُ او دے دوئ لره بل قسم عذاب هم مِنْ شَكْلِهٖٓ له شکل د
هغه تیر عذاب اَزْوَاجٌ (۵۸) ط چه هغه په انواع مختلف دی روایت دے چه هر کله مشران د
کفارو په دوزخ ننواتهٔ نو تابعان به ئے هم ورسره ننوځی نو ملائک به دے مشرانو ته ووائی چه هٰذَا فَوْجٌ
دا یوه دله ده د تابعانو ستاسے په ګمراهئ کښې مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ج چه په سختئ رانوتلے ده په دوزخ کښې له
تاسے سره بیا متبوعان به ووائی ملائکو ته لَا مَرْحَبًاۢ بِهِمْ ط چه نهٔ دِ وی هیڅ کرامت او خوشحالی او
فراخي دے تابعانو سره ځکه چه اِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ (۵۹) بیشکه دوئ ننوتونکی دی په اور کښې په خپلو عملونو
سره لکه مونږه په خپلو عملونو ننوتونکی یو او دا اخبار دے له دے چه هغه دوستی او محبت به ئے سره قطع
شی بلکه په عداوت به بدل شی قَالُوْا بیا به ووائی دا تابعان متبوعانو خپلو ته چه بَلْ اَنْتُمْ قف بلکه تاسے
چه یئ لَا مَرْحَبًاۢ بِكُمْ ط نهٔ دِ وی هیڅ فراخي او کرامت او خوشحالی هم تاسے لره او تاسے بنه لائق یئ د دے

عذاب حُکه چه اَنۡتُمۡ تاسے چه یئ قَدَّمۡتُمُوۡهُ لَنَا ج راوړاندے کړے دے تاسے دا عذاب مونږ۫ه ته حُکه
چه مونږه په سبب دګمراه کولو ستاسے دے دوزخ له راغلی یُو فَبِئۡسَ الۡقَرَارُ ﴿۶۰﴾ پس بد قرارګاه دے دا
دوزخ بیا به سوال او زاری وکه رب ته دا تابعان نو قَالُوۡا رَبَّنَا و به وائی دوئ چه اے ربه څومونږه
مَنۡ قَدَّمَ هرڅوك چه یخوائے تړلے او سازه کړے ده لَنَا هٰذَا مونږه لره دا لاره دکفر او دضلال او مونږه
ئے لغزولی یُو فَزِدۡهُ عَذَابًا پس زیات که ته هغه لره عذاب ضِعۡفًا فِی النَّارِ ﴿۶۱﴾ دوچند په اور
کښی او دا ضعفًا مصدر دے په معنیٰ دمفعول اے مضاعفًا یعنی هغه عذاب چه تا ورلره رالیږلے هغه
قدر نور هم ورسره که یوه برخه دضلال بله د اضلال وَقَالُوۡا او وائی به دامشران دکفار وبه دوزخ
کښی چه مَالَنَا څه مانع دے مونږه لره لَانَرٰی رِجَالًا چه نهٔ وینو مونږه هغه سړی دلته کُنَّا نَعُدُّهُمۡ
چه وومونږه په دنیا کښی چه شمیرل به مو دوئ مِّنَ الۡاَشۡرَارِ ﴿۶۲﴾ له ټولی دبدکارانو یعنی مشران
دقریشو به وائی چه دا څهٔ سبب دے چه هغه فقراء دمسلمانانو چه مونږه به مسخرے وریوری کولے
لکه عمار رض او صهیب رض او بلال رض او سلمان رض او اوس ئے نهٔ وینو په دوزخ کښی اَتَّخَذۡنٰهُمۡ سِخۡرِیًّا
آیا نیولی وو مونږه دوئ مسخره بازی اَمۡ زَاغَتۡ او که میل کړے دے او چپے شوے دی عَنۡهُمُ
الۡاَبۡصَارُ ﴿۶۳﴾ له لیدلو ددوئ سترګے څمونږه حاصل دا چه دوئ به هلته وائی چه لهٔ دغه
وهٔ کارونو کوم یو شو یدے چه دوئ اوس په جنت کښی دی او څمونږه مسخرے وریورے
په دروغ وے او که په دوزخ کښی دی له مونږه سره اما څمونږه له سترګو چرته په څنګ شوی دی
اِنَّ ذٰلِكَ بیشکه دا چه مونږه بیان کړه بیرته لَحَقٌّ هرائینه حق او ربښتیا دی چه خامخا واقع کیږی
هغه تَخَاصُمُ اَهۡلِ النَّارِ ﴿۶۴﴾ جګړه او جنګ دے سره په مینځ کښی ددوزخیانو او دا تخاصم خبر دے د
مبتدا محذوف چه هُوَ دے قُلۡ ووایه اے رسوله کفارو د مکے ته اِنَّمَآ اَنَا مُنۡذِرٌ چه بیشکه هم دا
خبره ده چه زهٔ ویرونکے یم دخلقو له عذابه د خدائ وَّمَا مِنۡ اِلٰهٍ او نشته هیڅ خدائ لائق دعبادت
اِلَّا اللّٰهُ مګر الله دے یوازے جل شانه الۡوَاحِدُ چه یکانه دے په ذات خپل کښی چه نه شرکت
قبلوی او نهٔ کثرت ورته لاره کولے شی الۡقَهَّارُ ﴿۶۵﴾ چه ډیر قهر کوونکے دے په اعداؤ خپلو
رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ دے رب دے هم داسمانونو او هم د زمکے وَمَا بَیۡنَهُمَا او هم د هر هغه

چه په مابین د دوئ کښ دی یعنی خدائی او بادشاهی ټوله هم دده ده په تمام عالم کښ اَلۡعَزِیۡزُ چه
غالب دے دا چه حکم ئے هیڅوک نهٔ شی رد کولے اَلۡغَفَّارُ ﴿۶۶﴾ چه ډیر بخښونکے دے د تقصیراتو د احباؤ خپلو
قُلۡ هُوَ و وایه دوئ ته چه دا ټول چه ما درته بیان کړهٔ یعنی انذار خپل او وحدانیت د خدائی او ثبوت
د قیامت نَبَؤٌا عَظِیۡمٌ ﴿۶۷﴾ خبره ده ډیره لویه چه هیڅ قدر غفلت ترے پکار نهٔ دے اَنۡتُمۡ عَنۡهُ
مُعۡرِضُوۡنَ ﴿۶۸﴾ تاسو ترے څنګ کونکی یئ په سبب د کمال د غفلت خپل یا د انبوت ځما ډیر لوی
څیز دے او تاسو ترے څنګ کوئ او دے ته نهٔ ګورئ چه کهٔ ماته وحی شوے نهٔ وے نو د اسمانو حال زما
کله د یلے شوے لوستو او ریدلو له بل چا څکه چه مَا کَانَ لِیَ نشته ماله مِنۡ عِلۡمٍۢ هیڅ قدر پوهه
بِالۡمَلَاِ الۡاَعۡلٰۤی په هغه مخلوق چه ډیر پاس دے یعنی په ملائکو اِذۡ یَخۡتَصِمُوۡنَ ﴿۶۹﴾ هغه وخت چه
جګړه کوله دوئ په باب د آدم علیه الصلوٰة والسلام کښ اِنۡ یُّوۡحٰۤی اِلَیَّ وحی نهٔ شی کولے ماته اِلَّاۤ اَنَّمَاۤ
اَنَا مګر د دے چه بیشکه هم دا خبره ده چه زه نَذِیۡرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۷۰﴾ ویرونکے یم ښکاره له موجباتو د عذاب
څخه اِذۡ قَالَ رَبُّکَ یاد که هغه وخت چه وویل رب ستا لِلۡمَلٰٓئِکَةِ ملائکو ته داسے چه اِنِّیۡ خَالِقٌۢ
بَشَرًا بیشکه زه پیدا کونکے یم د یو بشر مِّنۡ طِیۡنٍ ﴿۷۱﴾ له خټے څخه یعنی آدم علیه السلام فَاِذَا
سَوَّیۡتُهٗ پس په هغه وخت چه پوره کړهٔ ما قالب دده په احسن شکل سره وَ نَفَخۡتُ فِیۡهِ او پو
کړهٔ ما قالب دده کښ مِنۡ رُّوۡحِیۡ له روح خپله څخه او دا نسبت د روح خپل ځان ته محض د پاره
د شرافت او د طهارت دده دے یعنی بیا هر کله چه روح خپل زه په قالب کښ پو کړه او دے پرے ژوندے
شهٔ فَقَعُوۡا لَهٗ پس پریوځئ ټول دهٔ ته سٰجِدِیۡنَ ﴿۷۲﴾ سجده کونکی له جهته د تعظیم او تکریم دده
سجده د تحیة فَسَجَدَ الۡمَلٰٓئِکَةُ پس سجده وکړه ملائکو کُلُّهُمۡ اَجۡمَعُوۡنَ ﴿۷۳﴾ ټولو د دوئ وارو او په
دے کښ دوه تاکیده دی اِلَّاۤ اِبۡلِیۡسَ ؕ مګر چه هغه سجده ونه کړه اِسۡتَکۡبَرَ تکبر او لوئی ئے وکړه
او فرمان ئے ونهٔ مانهٔ وَ کَانَ مِنَ الۡکٰفِرِیۡنَ ﴿۷۴﴾ او شهٔ په دے بے فرمانئ سره له کافرانو یا
و ولا یځوا په علم د خدائی کښ له کفارو قَالَ یٰۤاِبۡلِیۡسُ نو وویل رب العزت چه اے ابلیسه مَا مَنَعَکَ
څهٔ څیز حصار کړے ته اَنۡ تَسۡجُدَ له دے چه سجده وکړے لِمَا خَلَقۡتُ بِیَدَیَّ ؕ هغه څیز ته چه پیدا
کړے دے ما په دواړو لاسونو خپلو او ذکر د یَدۡ په اضافت سره خپل ځان ته محض د پاره د

تشریف دآدم علیه السلام دے یعنے چه بے واسطے دوالدینو م پیدا کړے دے او یا په عرف کښ اکثر
نسبت داعمال بدینو ته کولے شی ځکه چه صدور د اکثر واعمالو له هم دوئ دے نو عمل دد وئ غالب
دے په نورو جوا رجو یا مراد له ید ینو صفتین دی د مهر او دقهر ځکه چه دا دواړه مشتمل دی په
باقی ټولو صفاتو الهیو. کهٔ جلالی دی کهٔ جمالی دی او مخلوق ټول مظهر د هم دغه دواړو نکه
ملائک مظهر د جمالی او شیطانان مظهر د جلال او انسان مظهر د دواړو دے ځکه دے نسخه جامعه او لایق د
مسجودیت شهٔ أَسْتَكْبَرْتَ آیا تکبر د وکهٔ بے استحقاقه أَمْ كُنْتَ او که وے ته په واقعه کښ مِنَ الْعَالِينَ ﴿۷۵﴾
له هغو بلند شانو چه لائق توب لرې د لوئې قَالَ نو وویل ابلیس أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ طحه زهٔ په واقعه
کښ غوره یم له ده ځکه چه خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ پیدا کړے یم تا زه له اور هٔ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴿۷۶﴾ او
پیدا کړے دے دے له خټو او په اور کښ لطافت او نورانیت دے او په خټه کښ کثافت او ظلمانیت دے
او دا لعین په دے قیاس کښ خطا وتلے وو نکه چه ټول بیان ئے په سورهٔ اعراف کښ تیر شوے دے
قَالَ بیا وویل رب العزت چه هرکله کبر د وکړهٔ او ځما د فرمانی د وکړه فَاخْرُجْ مِنْهَا پس
ووځه له جنت یا له اسمانونو یا له صورتِ مَلَکی بلکه فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿۷۷﴾ پس بیشکه چه ته رټلے شوے
ئے له رحمته او لرے کړے شوے ئے له مرتبے د کرامته وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي او بیشکه چه په تا لعنت او
غضب دے ځما إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ﴿۷۸﴾ این تر ورځے د جزا پورے فائده د اِلیٰ غایة د مطلق لعنت نهٔ
دے بلکه د هغهٔ لعنت دے چه خالی وی له عذاب او بیا پس له ورځے د جزا تر ابد الاباد پورے به
وی سره له عذابه قَالَ رَبِّ بیا وویل ابلیس چه اے ربه ځما فَأَنظِرْنِي پس هرکله چه د مردود
کړم نو مهلت خو راکه رالره إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿۷۹﴾ تر هغے ورځے پورے چه بیا ژوندی کولے کیږی د
خلق او غرض ئے په دے کښ خلاصے وو له مرګه قَالَ فَإِنَّكَ نو وویل ورته رب پس بیشکه چه ته
ئے مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿۸۰﴾ له مهلت ورکړے شویو إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ﴿۸۱﴾ تر ورځے د وخت
معلومه پورے چه هغه زمانه د نفخے اولی ده چه هر څوک به پرے مری قَالَ فَبِعِزَّتِكَ بیا وویل
ابلیس چه پس قسم دے په غلبے او په قهر ستا لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۸۲﴾ چه هرامثینه ګمراهان به کړم خامخا
دوئ ټول إِلَّا عِبَادَكَ مګر هغه بندګان ستا مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿۸۳﴾ له دوئ پاك کړے شوی لـه

پلیتیٔ د شرك او د عصیانه قَالَ فَالْحَقُّ ز نو ووېل رب چه پس حق له ما د ے یا زهٔ حق یم یعنی په حذف
د خبر یا د مبداء سره وَ الْحَقَّ اَقُوْلُ ﴿۸۴﴾ او زهٔ همیشه وایم هم حق او چا ویلی دی چه تقدیر د اول
فالحق قسمی د ے او د ا دوئم جمله معترضه د ه په مابین د مقسم به چه فالحق قسمی د ے او جواب د
قسم دا د ے لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ چه هرائینه ډك به کړم زهٔ خامخا دوزخ مِنْكَ وَمِمَّنْ له تا سره له ذریت
د ا وبل له هغه چا تَبِعَكَ مِنْهُمْ چه پیروی ئے کړے وی ستا له د ے بنی آدمو اَجْمَعِیْنَ ﴿۸۵﴾ له ټولو.
چه یو به هم پر ے نړ دم نه متبوع او نه تابع قُلْ ووایه اے رسوله د ے کفارو د مکے ته مَآ اَسْئَلُكُمْ چه
نهٔ غواړم زهٔ له تاسے عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ په د ے قرآن یا په د ے رسولو د پیغام هیڅ قدر اجرت وَّمَآ اَنَا
او بل دا چه نهٔ یم زهٔ مِنَ الْمُتَكَلِّفِیْنَ ﴿۸۶﴾ له کلفت کونکیو د هغه کار چه زهٔ ئے اهل نهٔ او سم یعنے
چه دعوٰی به کوم د نبوت په دروغ او قرآن به سازوم له ځانه اِنْ هُوَ نه د ے دا قرآن اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۸۷﴾
مګر پند د ے د پاره د عالمیانو له جنو او انسو وَلَتَعْلَمُنَّ او هرائینه زر د ے چه معلوم به کړئ تاسے خامخا
نَبَاَهٗ خبر د د ے قرآن هرهغه چه په دهٔ کښ دی له وعده له وعیده یا خبر او صدق د محمد صلی
الله علیه وسلم بَعْدَ حِیْنٍ ﴿۸۸﴾ پس له کوم وخت چه موت یا قیامت یا ظهور د اسلام د ے. ع ۵ ۱۴

سُوْرَةُ الزُّمَر (۳۹) مکیة (۵۹) بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اٰیَاتُهَا ۷۵ رُکُوْعَاتُهَا ۸

تَنْزِیْلُ الْكِتٰبِ رالیږل د د ے کتاب چه دی د قرآن مِنَ اللهِ الْعَزِیْزِ له هغه خدائی د ے چه غالب
د ے په تقدیر خپل کښ الْحَكِیْمِ ﴿۱﴾ پوحکمت د ے په تدبیر خپل کښ اِنَّآ اَنْزَلْنَآ بیشکه مونږه چه
یو رالیږلے د ے مونږه اِلَیْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ تا ته دا کتاب چه قرآن د ے په حق سره فَاعْبُدِ اللهَ پس
عبادت کوه د خدائی مُخْلِصًا لَّهُ الدِّیْنَ ﴿۲﴾ په د ے حال چه پاکونکے اوسے ته د دین خپل له شرکه او
له ریا څخه دا په ظاهره کښ خطاب د ے رسول صلی الله علیه وسلم ته او یکښ مراد نور امت د ے
اَلَا لِلّٰهِ الدِّیْنُ الْخَالِصُ ط واورئ چه خاص خدائی لره د ے هغه عبادت چه پاك وی له شائبه د
شرکه او د ریا. که له دغه دواړو د رسره وی نو قبول نهٔ د ے او د ے مطلع د ے په پټو او په ضمائرو وَالَّذِیْنَ
اتَّخَذُوْا او هر چه هغه کسان دی چه نیولے د ے دوی مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِیَآءَ م غیر له خدائی نور

دوستان کۀ ملائک دی اوکه بتان اوکهٔ نورخهٔ او د الذین مبتدا دے اوخبرئے محذوف دے چه یقولون دے یعنی وائی دوئ مَا نَعۡبُدُهُمۡ چه عبادت نکو و موبږ د دوئ اِلَّا لِيُقَرِّبُوۡنَا مگر د پاره د دے چه نزدے کا دوئ موبږه اِلَى اللّٰهِ زُلۡفٰى ؕ خدائ ته په نزدے کولو سره یعنی څموبږ شفاعت به وکا خدائ تعالیٰ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ حکم به وکه په ورځ د قیامت په مابین د دوئ او د مسلمانانو کښې فِىۡ مَا هُمۡ فِيۡهِ په هغه څیز کښې چه دوئ په هغه کښې يَخۡتَلِفُوۡنَ ؕ سره اختلاف کوی یعنی په کار د دین کښې نو مؤمنان به جنت له بوځی او کفار دوزخ له اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَا يَهۡدِىۡ مَنۡ نهٔ ورکوی توفیق د هدایت هغه چا لره هُوَ كٰذِبٌ چه دے دروغ کوے په نسبت د شرک او د ولد کښې كَفَّارٌ ﴿۳﴾ ناشکره دے چه منعم حقیقی ته ئے شا کړے ده لَوۡ اَرَادَ اللّٰهُ که چرے اراده کړے وے خدائ اَنۡ يَّتَّخِذَ وَلَدًا د دے چه ونیسی دے فرزند لکه چه وائی دوئ لَّاصۡطَفٰى مِمَّا نو هرا ئینه غوره کړے به ئے وو له هغه مخلوق يَخۡلُقُ چه پیدا کوی ئے دے مَا يَشَآءُ ۙ لا هر هغه چه اراده وی د دهٔ نهٔ هغه چه وائی دوئ یعنی اشرف او اکمل به وو نهٔ اخس او ارذل لیکن سُبۡحٰنَهٗ ؕ پاکی ده دهٔ لره له اتخاذه د شریکه او د ولده هُوَ اللّٰهُ الۡوَاحِدُ ځکه چه دے یکا نه بے شریکه او بے ولده په هغه وحدتِ ذاتی سره چه هغه منافی دے له مماثلت د ماسوا سره فضل له تو الده الۡقَهَّارُ ﴿۴﴾ چه ډیر قهر کونکے او انتقام اخستونکے دے له کاذبانو مشرکانو خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ پیدا کړی دی ده اسمانونه او زمکه بِالۡحَقِّ ۚ په حق سره نه په باطل بلکه د پاره د دلالت په وجود د صانع حکیم قادر علیم باندے يُكَوِّرُ الَّيۡلَ چاپیروی او تاووی دے شپه یعنی ظلمت د دے عَلَى النَّهَارِ په ورځے یعنی په نور د دهٔ لکه تاوول د پګړی چاپیر له سره د دا چه تیاره د دے پرے احاطه وکه او رنړا د هغه پټه کا وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ او بیا هم دا سے تاووی دے او چاپیروی ورځ عَلَى الَّيۡلِ په شپے چه شعاع د دهٔ پرے احاطه وکه او تیارهٔ د دهٔ پټی ورکه کا وَسَخَّرَ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ ؕ او مسخر کړی دی دهٔ نمر او سپوږمئ د پاره د سیر كُلٌّ يَّجۡرِىۡ چه هر یو روان دے په فلک خپل کښې داسے چه یو آن قرار نه کوی بلکه منډے وهی لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ تر هغه وخت چه په نامه کړے شوے دے چه هغه ئے منتهی ده د دور یا یومی او شهری او عامی او یا پټی انقطاع دے د دور چه هغه ورځ ده د قیامت اَلَا هُوَ الۡعَزِيۡزُ و او وَئی چه دے غالب دے په هر څیز او ډیر

قهر کونکے او انتقام اخستونکے دے له اعداؤ خپلو اَلۡغَفَّارُ ⑤ وبر بخښونکے دے داولیاؤ خپلو خَلَقَکُمۡ
پید اکړی یئ دهٔ تاسے مِّنۡ نَّفۡسٍ وَّاحِدَةٍ له یو شخص چه ادم علیه السلام دے دا سے چه راویستی
تاسے دهٔ له پُښت دهغهٔ څخه پید اکولو د حواء واړه په قدر د مېږیو ثُمَّ جَعَلَ بیا پس له هغه
پیدا کړهٔ دهٔ مِنۡهَا زَوۡجَهَا له دهٔ ښځه د دهٔ چه حواء ده له وړوکے پُښتئ د چپ طرف د دهٔ وَاَنۡزَلَ لَکُمۡ
او رالیږل له جنت یا پیدا کړه دهٔ تاسے لره مِّنَ الۡاَنۡعَامِ له چارپایانو ثَمٰنِیَةَ اَزۡوَاجٍ اته صنفه دوه
له اوښانو یو نر یو ماده او همدا سے ده له غوا او له ګډ و او له اوزو د پاره د معاش ستاسے هم په خوراک
او هم په پوشاک کښې لکه په سورۂ انعام کښې په تفصیل سره بیان شویدے اوس رب العزت بیان کوی
د هغه خلقت چه بیرته ذکر شوی دی هم د بنی ادمو او هم د چارپایانو د پاره د اظهار د عجائبو د
قدرت خپل او اُولی العقل ئے خاص کړهٔ په خطاب سره ځکه چه مقصود هم دوئ دی نو وائی چه
یَخۡلُقُکُمۡ پیدا کوی دے تاسے فِیۡ بُطُوۡنِ اُمَّهٰتِکُمۡ په نسو نو د میندو ستاسے کښې خَلۡقًا مِّنۡۢ بَعۡدِ خَلۡقٍ یو
قسم پیدا ایښت پس له بل قسم پیدا ایښت دا سے چه اول نطفه وګرځوی علقه کا بیا هغه مضغه کا
بیا هغه تش هډوکی بیا هغه هډوکی په غوښه پټ کا بیا هغه حیوان مستوی کا لکه چه په سوره مؤمنون
کښې په تفصیل سره بیان شویدے فِیۡ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ په درے تاریکیو کښې چه یوه تاریکی د مشیمے دویمه
د رحم دریمه د بطن ده ذٰلِکُمُ اللّٰهُ رَبُّکُمۡ دا موصوف په دے صفاتو هم هغه خدائ دے چه رب دے
ستاسے لَهُ الۡمُلۡکُ خاص هم دهٔ لره ده بادشاهی همیشه بے زواله لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته بل هیڅوک
لائق د عبادت مګر هم دے دے یو ازے فَاَنّٰی تُصۡرَفُوۡنَ ⑥ پس کوم طرف ته چپولے کیږئ تاسے
له لارے د حق سره له دا سے ښکاره دلیلونو اِنۡ تَکۡفُرُوۡا که چرے کفر اختیار کړئ تاسو اے د مکے خلقو
فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ غَنِیٌّ عَنۡکُمۡ تف بے پروا دے له تاسے یعنی له ایمان او له عبادت ستاسے
وَلَا یَرۡضٰی او نهٔ خوښوی دے لِعِبَادِهِ الۡکُفۡرَ د پاره د بندګانو خپلو کفرا کرکهٔ وی کله کله په اراده دهٔ
سره وَاِنۡ تَشۡکُرُوۡا او که شکر ګذاری وکړئ تاسے په نعمت د توحید یا په ظهور د رسول په تاسے
کښې یَرۡضَهُ لَکُمۡ نو خوښوی هغه تاسے لره ځکه چه خیر پکښې ستاسے دے وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ او وا به نخلی
بار هیڅ نفس بار اخستونکے وِّزۡرَ اُخۡرٰی بار د ګناهونو د بل نفس بلکه هر یو به خپل بار وړی

عہ مشیمه د هغه پردے دے چه بچے پکښې وی او له دهٔ نه چاپیره وی ۱۲

ثُمَّ اِلٰی رَبِّکُمْ بیا خاص رب ستا سے تہ مَّرْجِعُکُمْ بیرتہ ورتلہ ستاسے دی دپارہ دجزا داعمالو فَیُنَبِّئُکُمْ پس خبر بہ کادے بِمَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ط پہ ھغہ عملونو چہ وئی تاسے چہ کول بہ موہغوا اِنَّہٗ عَلِیْمٌ بیشکہ چہ دے داناد ے بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ⑦ پہ نیاتو اوپہ عزائمو دسینو وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ او پہ ھغہ وخت چہ ورسیږی انسان کافر تہ لکہ ابوجهل یا عتبہ بن ربیعہ یا ابوحذیفہ بن مغیرہ یا ھرکافر شہ۔ ضُرٌّ کوم قسم سختی لکہ فقر یا مرض یا بل آفت دَعَا رَبَّہٗ نو بولی دے رب خپل مُنِیْبًا اِلَیْہِ پہ دے حال چہ بیرتہ گرځیدونکے وی دۀ تہ او شاکونکے وی خدایانو خپلو نہ ثُمَّ اِذَا خَوَّلَہٗ بیا پہ ھغہ وخت چہ ورکړہ دے دغہ کافرلرہ نِعْمَۃً مِّنْہُ نعمت لہ خپل جانبہ او ھغہ سختی ترے لرے کانَسِیَ مَا کَانَ نو ھیرکادے ھغہ سختی چہ وودے یَدْعُوْا اِلَیْہِ چہ بالہٗ بہ ئے خدائی دفع دھغۀ لرہ یاھیرکا ھغہ خدائی چہ زاری بہ ئے کولہ ھغہ تہ مِنْ قَبْلُ پخوالہ دے نعمت وَجَعَلَ اوبیا پیداکہ دے لِلّٰہِ اَنْدَادًا خدائی لرہ شریکان پہ عبادت کښ لِیُضِلَّ عَنْ سَبِیْلِہٖ ط دپارہ ددے چہ گمراہ کہ دے خلق لہ لارے ددۀ چہ دین داسلام دے قُلْ تَمَتَّعْ ووایہ ورتہ اے رسولہ چہ عیش او معاش وکړہ بِکُفْرِکَ قَلِیْلًا ق پہ کفرخپل لرہ مودہ چہ باقی ژوندون ددے پہ دنیاکښ اولہ عیش دآخرتہ امید قطع کاځکہ چہ اِنَّکَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ⑧ بیشکہ تہ لہ اهل ددوزخ ئے بیا رب العزت وائی چہ آیا داسے کافر غورہ دے۔ اَمَّنْ اوکۀ ھغہ خوک غورہ دے چہ ھُوَ قَانِتٌ دے فرمانبرداروی درب لکہ صدیق رض فاروق رض یا عمار رض یا سلمان رض یا عبداللہ بن مسعود او مشھورہ دادہ چہ مراد ترے عثمان رض دے او ھمیشہ مستقیم ولاړوی پہ انواع دطاعت آنَاءَ الَّیْلِ پہ ساعتونو دشپے کښ سَاجِدًا وَّ قَآئِمًا کلہ پہ سجدہ او کلہ ولاړ خپل رب تہ پہ مانځہ کښ پہ مابین دخوف او درجا کښ یَحْذَرُ الْاٰخِرَۃَ چہ ویریږی لہ عذابہ دآخرت وَیَرْجُوْا او امید لری دے رَحْمَۃَ رَبِّہٖ ط د مھربانئ درب خپل یعنی سرہ لہ دے مجاھدے او طاعت متردد وی پہ مابین دخوف او درجا کښ قُلْ ووایہ دوئی تہ چہ ھَلْ یَسْتَوِی الَّذِیْنَ چہ آیا برابر دی ھغہ کسان یَعْلَمُوْنَ چہ پوھیږی او خښتنان دعلم دی وَالَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ ط او ھغہ کسان چہ نۀ پوھیږی او امیان دی یعنی برابر نۀ دی سرہ نو لکہ چہ عالم او جاھل سرہ

برابر نهٔ دی هم داسې قانت او عاصي هم سره برابر نهٔ دی. اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ بیشکه هم داخبره ده چه پند
اخلي په دې مواعیظو سره اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۹﴾ خښتنان دخالصو عقلو نو قُلْ ووایه دوئ ته حٔما له طرفه ع ۱۵
داسې چه يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰ هغه بندګانو حٔما اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ط چه ایمان ئې راوړے دے ویرېږئ
له عذابه دربه خپله په امتثال داوامرو او په اجتناب دنواهیو ددهٔ سره لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مقرره
ده هغه کسانو لره چه نیکي ئې کړے ده فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا په دې دنیا کښې په ویلو دکلمې دشهادت په صدق
دزړهٔ یا په لزوم دطاعت سره حَسَنَةٌ ط نیکي یعنې ښه جزا په اٰخرت کښې چه جنت او رضوان دے
وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ط او زمکه دخدائ ارته ده نو کهٔ چا پخپل وطن کښې نیکئ کولو ته نهٔ پرېږدئ
تا سې نو بل هسې وطن ته لاړشئ چه څوك پکښې مانع نهٔ وي کهٔ نیکي او صبر اختیار کړئ په مفارقت
دوطن یا په سختئ دغربت یا په مشقت دعبادت یا په ایذاء داعداؤ ځکه چه اِنَّمَا بیشکه هم داخبره
ده چه يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ پوره یعنې ډیرله اندازې زیات ورکولې کیږي صبر کونکیو لره په دے
شدایدو اَجْرَهُمْ اجر ددوئ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۱۰﴾ بې حسابه بې شماره یعنې داسې ډیر چه حساب دحساب کرو
احاطه پرې کولے نهٔ شي روایت دے چه کفارو دمکې رسول صلی اللّٰه علیه وسلم ته وویل
چه په تا کوم باعث دے چه نوے دین دې برپائ کړیدے او دا باؤ اجدادو دین دې پریخے دے چه دوئ
به عبادت کاوو دبتانو او ته ئې نهٔ کوے نو نازل شهٔ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ ووایه دوئ ته چه بیشکه
زهٔ مامور شوے یم اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ په دے چه عبادت کوم دخدائ یواځې مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ﴿۱۱﴾ په
دې حال چه پاکونکے یم دهٔ لره دین خپل له شرك په توحید سره وَاُمِرْتُ او مامور شوے یم په
دغه عبادت دیوازې خدائ لِاَنْ اَكُوْنَ دپاره ددې چه او سم زهٔ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲﴾ اول د
ګردن نهادانو له دے امته څخه قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ بیا ووایه چه بیشکه زه ویریږم اِنْ عَصَيْتُ
رَبِّيْ کهٔ چیرے بې فرماني اختیار کړم له ربه خپله په ترك دتوحید او په اختیار دشرك سره عَذَابَ
يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۳﴾ له عذابه دهغې ورځې چه لویه ده یعنې ورځ دقیامت چه په قدر دپنځوس زرو
کالو ده قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ بیا ووایه چه خاص دخدائ عبادت کوم زهٔ مُخْلِصًا لَّهٗ دِيْنِيْ ﴿۱۴﴾ په دے
حال چه خالص کونکے یم دهٔ لره دین خپل له شرکه یا عمل خپل له ریا. نو حٔما خو دا معامله ده. او

هرچه تاسے یئ فَاعۡبُدُوۡا مَا شِئۡتُمۡ پس عبادت کوئ تاسے د هر هغه څیز چه اراده وشی ستاسے مِّنۡ دُوۡنِهٖ ط غیر له خدائ دا امر د پاره د تهدید او تنبیه په خذلان او په حرمان د دوئ. او دا بیا منسوخ دے په ایت د سیف سره روایت دے چه هر کله دا تیر اینونه مشرکانو واوریدل نو رسول صلی الله علیه وسلم ته ئے وویل چه ته په زیان یئ وکړه خپل په مخالفت د دین د اباؤ خپلو سره نو نازل شه قُلۡ ووایه دوئ ته چه اِنَّ الۡخٰسِرِیۡنَ بیشکه زیان کاران چه دی الَّذِیۡنَ خَسِرُوۡۤا هم هغه خلک دی چه زیان ئے رسولے دے اَنۡفُسَهُمۡ وَاَهۡلِیۡهِمۡ هم ځانونو خپلو ته په ضلال سره او هم عیالونو خپلو ته په اضلال سره یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ ط په ورځ د قیامت په خلود د دوزخ او په حرمان د جنت سره اَلَا ذٰلِكَ واورئ دا خلود د نار او حرمان له جنت چه دے هُوَ الۡخُسۡرَانُ الۡمُبِیۡنُ ﴿۱۵﴾ هم دا دے زیان ښکاره لَهُمۡ مقرر دی دغه زیانکارانو لره په اخرت کښې مِّنۡ فَوۡقِهِمۡ د پاسه د سرونو د دوئ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ سایبانونه له اوره وَمِنۡ تَحۡتِهِمۡ ظُلَلٌ ط او لاندے د خپو د دوئ به هم طبقے وی د اور غرض دا چه اور به په دوئ احاطه کړے وی له هره طرفه ذٰلِكَ دا عذاب چه بیرته ذکر شه یُخَوِّفُ اللّٰهُ ویروی خدائ بِهٖ عِبَادَهٗ ط په دے عذاب سره بندګان خپل یعنی مؤمنان د پاره د دے چه ځان خپل ترے وساتی بیا خطاب ئے ورته وکړو چه یٰعِبَادِ فَاتَّقُوۡنِ ﴿۱۶﴾ اے بندګانو ځما پس ویریږئ له ماخذ او اقدام مه کوئ هغه څیزونو ته چه موجب وی د غضب ځما او د عذاب د اخرت روایت دے چه یو څو تنه لکه سلمان فارسی رض او ابوذر غفاری رض او زید بن عمرو رض په زمانه د جاهلیت کښې هم په وحدانیت د خدائ مُقِر وو او بت پرستی ئے نۀ وه کړے نو د دوئ په مدح کښې نازل شه وَالَّذِیۡنَ او هرچه هغه کسان دی اجۡتَنَبُوا الطَّاغُوۡتَ چه ځان ساتلے دے دوئ له شیطانانو یا له بتانو اَنۡ یَّعۡبُدُوۡهَا یعنی له دے چه عبادت وکا دوئ او دا بدل اشتمال دے له طاغوت او دلته مراد ترے جمع ده فائده دا طاغوت په اصل کښې طغیوت دے چه مبالغه ده په طغیان کښې لکه رحموت په رحمت کښې بیا یَی مقدم شوه په غ او الف شوه نو طاغوت شه بیا په دے الفاظ د طاغوت کښې دریے مبالغے دی یو تسمیه په مصدر سره چه ګویا که دے عین طغیان دے دویم په قلب مکان سره د پاره د اختصاص دریم په الحاق

د واو او تا سره و رپورے وَ اَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ او مخ کړيدے دوی خدای ته په اخلاص دزړه سره لَهُمُ
الْبُشْرٰى ج خاص هم دوی لره دے زیرے هم په دنیا کښې په لسان دملائکو په وخت دموت او
هم په عقبیٰ کښې په مغفرت او په جنت سره روایت دے چه هرکله صدیق اکبرؓ ایمان
راوړو او بیا شپږ تنه له مبشره وُ په دهٔ پیښ شو چه عثمانؓ او طلحهؓ او زبیرؓ او سعد بن زیدؓ او سعد
بن ابی وقاصؓ او عبد الرحمٰن بن عوفؓ دے او له دهٔ ئے د ایمان اوصاف واوریدل نو دوی
هم ایمان راوړه او په باب ددوی کښې نازل شهٔ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿۱۷﴾ الَّذِيْنَ پس زیرے وکړه اے
رسوله په هغو بندګانو چه يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ چه واوری دوئ قول دصدیقؓ یا قرآن فَيَتَّبِعُوْنَ
اَحْسَنَهٗ ط پس پیروی کوی دوئ د ډیر ښهٔ دهغه چه بلنه ده توحید ته یا محکم دے یا منسوخ
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ داهغه کسان دی هَدٰىهُمُ اللّٰهُ چه په سمے لارے روان کړی دی خدائ ۔ وَ
اُولٰٓئِكَ او بیا داکسان چه دی هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۸﴾ هم دوئ خښتنان دخالصو عقلونو دی
اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ آیا پس هرهغه څوک چه واجب شوے وی په دهٔ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ط گفتار دعذاب
چه لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعین دے اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ آیا پس تهٔ خلاصوے مَنْ فِي
النَّارِ ﴿۱۹﴾ ج هغه څوک چه مقرر شوے وی په اورکښې لٰكِنِ الَّذِيْنَ لیکن هغه کسان چه دی
اتَّقَوْا رَبَّهُمْ چه ویریږی دوئ له ربه خپله او په ایمان او په طاعت مشغول وی لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا
غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ لا نورے ماڼړئ به وی بنا کړے شوے یعنی ډیرے محکمے لکه چه هغه هم په زمکه ولاړے وی
تَجْرِيْ چه بهیږی به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ط دلاندے دهغو ماڼړیو څلور واړه قسمه ویلے وَعْدَ اللّٰهِ ط دا
وعده کړے ده په وعده کولو سره خدائ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿۲۰﴾ نهٔ خلاف کوی خدائ وعده
خپله اَلَمْ تَرَ آیا نهٔ وینے تهٔ اَنَّ اللّٰهَ دے نه چه بیشکه خدائ اَنْزَلَ راليږلے دی مِنَ السَّمَآءِ مَآءً له
طرفه د اسمانه او به فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ پس ننویستلی دی دهٔ دا اوبهٔ او چینے کړے ئے دی فِي الْاَرْضِ
په زمکه کښې یعنی دا سے ئے جاری کړیدی په زمکه کښې لکه رګونه په بدن کښې ثُمَّ يُخْرِجُ بیا وباسی دے
بِهٖ زَرْعًا په دے او بو سره کښت له زمکے مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ په دے حال چه مخالف دی سره رنګونه دکښت
یعنی شین او سور او زیړ او سپین او دا سے نور یا اصناف دے یعنی غنم او وریشے او جوار او شولے او

دا سے نور ثُمَّ يَهِيجُ بیا وچ شی پس له شینوالی هغه وخت چه پوخ شی فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا پس وینې به ته
داکښت تک زیړ پس له تازه والی ثُمَّ يَجْعَلُهٗ حُطَامًا بیا وګرځوی خدائ داکښت پوټې اِنَّ فِيْ
ذٰلِكَ بیشکه چه په دې انزال داوبو او اخراج دکښت کښې لَذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۲۱﴾ هرائینه ډیر
لوئی پند دے دپاره دخښتنانو دخالصو عقلونو اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ آیا پس هرهغه څوک چه پرانستے اوارت
کړے وی خدائ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ سینه دده قبول داسلام ته چه بے کلفته پکښې ځائے شوے وی
فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ پس دا د ارتے سینے خښتن په نور دهدایت او دمعرفت ولاړ دے مِّنْ رَّبِّهٖ له
طرفه دربه خپل هغه دا سے دے لکه څوک چه زړه ئے کلف او ابی وی له قبول د اسلام فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ
قُلُوْبُهُمْ پس افسوس دے هغه بدبختانو لره چه سخت وی زړونه ددوئ چه اعراض کونکی وی مِّنْ
ذِكْرِ اللّٰهِ له یادګیرئ دخدائ اُولٰٓئِكَ داسنګدلان غافل چه دی فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۲﴾ په ښکاره
ګمراهئ کښې دی اَللّٰهُ نَزَّلَ خدائ رالیږلے دے اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ ښائسته او خوږ کلام یعنی كِتٰبًا
مُّتَشَابِهًا یو کتاب چه متشابه دی بعض ئے له نورو بعض سره په اعجاز کښې یا په وعظ او حکمت
کښې یا په صدق او په بیان کښې یا په جودة دلفظ او صحت د معنیٰ کښې یا دا سے په نورو اشیاؤ
کښې مَّثَانِيَ تلے چه مکرر دے او داجمع ده دمثنی چه صفت واقع شوے ده دکتاب په اعتبار دتفاصیلو
دۀ سره لکه چه وائی قرآن سورتونه او آیتونه دی یعنی هر بیان ئے عبرت او مکرر دے کۀ ئے قصے او کۀ
ئے اخبار او کۀ ئے احکام دی لکه امر، نهی او وعد و وعید او ثواب عقاب او جنت دوزخ او ذکر فکر
او مطیع عاصی او مؤمن کافر او دا سے نورهم تَقْشَعِرُّ مِنْهُ چه لړزیږی او ریږی له دۀ یعنی له
ذکره دوعید دۀ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ پوستکی د هغه کسانو يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ج چه ویریږی دوئ له ربه خپله
ثُمَّ تَلِيْنُ بیا نرم شی او په آرام شی جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ پوستکی ددوئ او زړونه ددوئ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ
یادګیری دخدائ ته په رحمت او په مغفرت سره یعنی هرکله چه وعید پکښې راشی نو دوئ په لړزان
شی او بیا چه وعده راشی نو په اطمینان شی ذٰلِكَ دا کتاب چه قرآن دے هُدَى اللّٰهِ رهنمائی دہ
دخدائ يَهْدِيْ بِهٖ چه سمه لاربنهائی دے په دے کتاب سره مَنْ يَّشَآءُ ط هرهغه چاته چه اراده
وشی دده وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ او هرهغه څوک چه ولغزوی دے خدائ فَمَا لَهٗ پس پیدا به نۀ شی

هغه لره مِنْ هَادٍ (۲۳) هیڅوک لاره ښودونکی اَفَمَنْ یَّتَّقِیْ ایا پس هغه څوک چه ځان ساتی بِوَجْهِهٖ
په مخ خپل سره سُوْٓءَ الْعَذَابِ له سختئ د عذاب یَوْمَ الْقِیٰمَةِ ط په ورځ د قیامت هغه د آسے دی لکه
هغه څوک چه په امان وی له عذابه او په خوشحالئ کښی وی یعنی نهٔ وی حاصل دا چه عادت د
انسان دا دے چه هر کله کوم مکروه مخامخ ور لره راشی نو دے دواړه لاسونه خپل ورته نیسی او سپر کوی
چه مخ ترے وساتی ځکه چه دے ورته اعزدے د اعضاؤ خپلو او هر څوک چه په دوزخ کښی اچولے کیږی
نو اول دواړه لاسونه ئے په گردن پورے وتړلے شی نو گویا که دا سے شی لکه چه مخ ئے سپر کړے وی
اوریته کذا فی المدارک وَقِیْلَ لِلظّٰلِمِیْنَ او وبه ویلے شی ظالمانو ته یعنی کفارو د مکے ته ذُوْقُوْا مَا چه وڅکئ
خوند د هغه عمل کُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ (۲۴) چه وئ تاسے په دنیا کښی چه کولو به موچه تکذیب وو د
رسول علیه السلام كَذَّبَ الَّذِیْنَ هم دا سے تکذیب کړے وو هغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه پخوا
تیر شوی دی له دوئ د رسولانو خپلو فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ پس راغے ور لره عذاب مِنْ حَیْثُ له دا سے
طرفه لَا یَشْعُرُوْنَ (۲۵) چه نه به پوهیدل دوئ او گمان به ئے نه وو دے چه له دغه طرفه به عذاب
ور لره راشی فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْیَ پس وبه څکوله په دوئ خدائی خواری او رسوائی فِی الْحَیٰوةِ
الدُّنْیَا ج په دے لنډ ژوندون کښی په قتل او په سبی او په جلا وطنئ او په خسف او په مسخ او دا سے
په نورو اقسامو له عذاب وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ او هرآئینه عذاب د آخرت چه دے اَكْبَرُ م ډیر لوئ
دے له عذابه د دنیا په سبب د شدت او د دوام سره سره لَوْ كَانُوْا یَعْلَمُوْنَ (۲۶) که چرے وی دوئ
دا سے چه پوهیدلے په دے نو ایمان به ئے راوړے وو وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ او هرآئینه په تحقیق بیان
کړے دے مونږ خلقو ته فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ په دے قران کښی مِنْ كُلِّ مَثَلٍ له هره مثل چه پکار یږی
او احتیاج ورته پریوځی په امورو د دین کښی لَّعَلَّهُمْ یَتَذَكَّرُوْنَ (۲۷) ج بنائی چه دوئ به
پند واخلی قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا په حال د لید لو د دوئ لوستلے شوے په عربی ژبه کښی غَیْرَ ذِیْ عِوَجٍ نه
خښتن د کږئ له هیڅ وجهے نقصان او خلل پکښی نشته رالیږلے شوے دے د پاره د دے چه لَعَلَّهُمْ

ع یعنی په وزلو او په قیدولو او په سړلو له وطنونو خپلو نه او په غرقولو په زمکه او په بدلولو د صورت انسانی
سره په صورت حیوانی لکه بیزوگان او میلوگان او خنزیران ۱۲

يَتَّقُوْنَ ﴿۲۸﴾ بنائی چه دوئی ځان وساتی له کفره ضَرَبَ اللّٰهُ تړی یعنی بیانوی خدائی مَثَلًا رَّجُلًا
یومثال داسے چه یو سړے وی مرئے فِیْهِ شُرَكَآءُ چه وی په دهٔ کښی ډیر شریکان مُتَشٰكِسُوْنَ ټول
بد خویه سره ناسازه امروس نه کوی مخالف له بله او د ے یو هم نه شی تر سره کولے نو یو هم تر راضی
نهٔ وی وَرَجُلًا او یو بل سړے وی هغه هم مرئے سَلَمًا لِّرَجُلٍ ط خوسلامت ټول د یو سړی وی
چه بل هیڅوك ورسره شریك نهٔ وی او د هغه خدمت ته شپه او ورځ ولاړوی نو هغه راضی کړے
شی نو هم دا حال حال دے د مشرك او د موحد هَلْ يَسْتَوِيٰنِ آیا برابر دی سره دا دواړه مریونه
مَثَلًا ط له جهته وصف او د حال اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ثناده خدائی لره چه پاك دے له شریکه بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه
زیات د خلقو چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۹﴾ نهٔ پوهیږی په نفع او په ضرر خپل روایت دے چه مشرکانو
به ویل نتربص به ریب المنون یعنی انتظار کوو دهٔ ته د حادثے د مرګ چه ترے خلاص شو۔ نو نازل شو
اِنَّكَ مَيِّتٌ بیشکه چه تهٔ هم مړکید ونکے ئے وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ﴿۳۰﴾ او بیشکه دوئی هم مړهٔ کیدونکی دی
نو خوشحالی پکار نهٔ ثُمَّ اِنَّكُمْ بیا بیشکه چه تاسے يَوْمَ الْقِيٰمَةِ په ورځ د قیامت عِنْدَ رَبِّكُمْ په
نزد د رب تَخْتَصِمُوْنَ ﴿۳۱﴾ جګړه به کوئی سره په امورو د دین کښی **فَمَنْ اَظْلَمُ**
پس څوك دے ډیر ظالم مِمَّنْ كَذَبَ له هغه چاچه دروغ تړلی دی عَلَى اللّٰهِ په خدائی چه نسبت
د شریك او د ولد ورته کوی یعنی نشته وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ او تکذیب کوی د هغه رښتینی ګفتار چه
قران دے اِذْ جَآءَهٗ ط په هغه وخت چه راغے دا قران د ے مکذب لره اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ آیا
نشته په دوزخ کښی یعنی شته مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ ځائی د پاره د کافرانو وَالَّذِيْ جَآءَ بِالصِّدْقِ
او هر چه هغه فرقه ده چه راوړے ئے دے دا صدق وَصَدَّقَ بِهٖٓ او تصدیق ئے کړیدے د دهٔ چه هغه
رسول صلے اللّٰه علیه وسلم او مؤمنان دی اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۳۳﴾ هم دوئی
پرهیزګاران دی چه ځان ئے ساتلے دے له شرکه لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ مقرر دے دوئی لره هر هغه نعمت او
کرامت په جنت کښی چه طلب د اربئے کوی دوئی عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په نزد د رب خپل ذٰلِكَ دا مذکوره چه
ده جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾ جزاده د نیکوکارانو په سبب د ښهٔ والی د اقوالو او د افعالو او د احوالو خپلو او
داسے به ورسره وشی لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ د پاره د دے چه ورجوی او توئی کا خدائی له دوئی اَسْوَاَ الَّذِيْ

عَمِلُوْا بد تر د هغه گناه چه کړے وی دوئ او دا اسوء یا د شهٔ د پاره د مبالغې یعنی هر کله چه تکفیر د بد تر وشهٔ نو د قدرِ بد خو په طریقه اولیٰ سره به وشی او یا دا اسوء او محکښ احسن دواړه په معنیٰ د اصل فعل دی وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ او چه جزا ورکه خدای دوئ لره د اجر د دوئ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ په سبب د هغه ډیر ښهٔ عمل سره كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٥﴾ چه وو دوئ په دنیا کښ چه کولو به ئے هغه عمل چه هغه ایمان او توحید وُو اَلَيْسَ اللّٰهُ ایا نهٔ دے خدای بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ بس کیدونکے د بنده خپل یعنی د محمد صلے الله علیه وسلم په کفایت د مهمات او د اعداؤ کښ یعنی بس دے چه له سره د اعداؤ به ئے وساتی بلکه دے به په پرے غالب کا او دین د دهٔ به ناسخ کا د ټولو ادیانو روایت دے چه هر کله رسول صلے الله علیه وسلم به عیبونه د بتانو ډیر ویل نو مشرکانو د مکے ورته وویل چه څومره په خدایانو بد وایې چه دوئ به ضرر درته ورسوی او لیونے به دِ کا۔ نو نازل شهٔ وَيُخَوِّفُوْنَكَ او ویروی دوئ تا بِالَّذِيْنَ په هغه بتانو چه عبادت ئے کوی دوئ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ غیر له خدائ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ او هر څوک چه گمراه کا خدائ نو د دهٔ کفایت نه هیرکا او ویرول کوی په هغه څیز چه نهٔ ضرر لری او نهٔ نفع فَمَا لَهٗ پس پیدا به نهٔ شی دے گمراه لره مِنْ هَادٍ ﴿٣٦﴾ هیڅوک سمه لار ښودونکے چه دے په لارے برابر کا وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ او هر څوک چه سمه لار ورته وښائی خدائ او غیر له دهٔ له هیڅا نهٔ ویریږی فَمَا لَهٗ پس نهٔ به وی دهٔ لره مِنْ مُّضِلٍّ ؕ هیڅوک گمراه کونکے چه دے له لارے چپ کا اَلَيْسَ اللّٰهُ ایا نهٔ دے خدائ بِعَزِيْزٍ ذِي انْتِقَامٍ ﴿٣٧﴾ غالب په اعداؤ خښتن د اخستلو د انتقام له دوئ یعنی دے۔ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او هرا ئینه که دِ وپوښتے ته دا مشرکان د مکے چه مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ چا پیدا کړی دی دا اسمانونه او زمکه لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ نو هرا ئینه وبه وائی خامخا چه خدائ یعنی اقرار به وکا په تفرد د خالقیت د دهٔ قُلْ نو ووایه ورته چه اَفَرَءَيْتُمْ ایا پس وینئ تاسے مَّا تَدْعُوْنَ هغه بتان چه بولئ ئے تاسے یعنی عبادت ئے کوئ تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ هغه څرنگه د رنه ښکاریږی چه اِنْ اَرَادَنِيَ اللّٰهُ که چرے اراده وکه له ما سره خدائ بِضُرٍّ د ضرر رسولو یعنی د مرض یا د فقر یا د کومے بلے سختئ هَلْ هُنَّ ایا کید لے شی دا بتان كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖٓ دفع کونکی د هغه ضرر له ما اَوْ اَرَادَنِيْ یا اراده وکه دے له ما سره بِرَحْمَةٍ د نفع رسولو یعنی د صحت یا د غنا یا د کوم بل راحت هَلْ هُنَّ نو ایا

کیدٰ شی مُمۡسِکٰتُ رَحۡمَتِهٖ حصاروںکے دهغه نفع له ماچه دوی ئے وپوښتیدل او رسالت نه لا
جواب شونو دۀ ته امر وشو چه قُلۡ حَسۡبِیَ اللّٰهُ وواېه چه بس دے ما خدائی هم په دفع دضرر
کښ او هم په رسولو د خیر او د نفع کښ عَلَیۡهِ چه خاص هم په دۀ یَتَوَکَّلُ الۡمُتَوَکِّلُوۡنَ ﴿۳۸﴾ توکل
کوی توکل کونکی یعنی ټو امور حیل په هم دۀ سپاری قُلۡ یٰقَوۡمِ اعۡمَلُوۡا بیا ووایه دوی ته چه
اے قومه ما ژوند او روزګار کوئ تاسے عَلٰی مَکَانَتِکُمۡ په حال او په مناسبت خپل سره له بغض او له
عداوت او امکانت په معنیٰ د مکان دے او د لته مراد ترے حال دے اِنِّیۡ عَامِلٌ ج بیشکه چه زه هم
ژوندون او روزګار کونکے یم په حال او په مناسبت خپل سره له صبره او له توکل فَسَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۹﴾
پس زر دے چه معلوم به کړئ تاسے له ما او له تاسے مَنۡ یَّاۡتِیۡهِ هغه څوک چه رابه شی ورله عَذَابٌ
یُّخۡزِیۡهِ داسے عذاب چه وبه شرموی او رسوا به کا دے وَیَحِلُّ عَلَیۡهِ او راکوز به شی په دۀ عَذَابٌ
مُّقِیۡمٌ ﴿۴۰﴾ عذاب همیشه اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَیۡکَ الۡکِتٰبَ بیشکه مونږه چه یو رالیږلے دے مونږه په تا
دا کتاب چه قرآن دے لِلنَّاسِ بِالۡحَقِّ ج د پاره د خلقو په حق سره یعنی چه پرے وویرولے شی له
دوزخ او زیرے پرے وکړے شی د جنت چه له معصیته طاعت ته راوګرځی فَمَنِ اهۡتَدٰی پس هر
څوک چه سمه لاره ئے بیا موندله په دے قران سره یعنی چه عمل ئے وکړو په احکامو د دۀ فَلِنَفۡسِهٖ
پس هم دۀ لره ده فائده ئے وَمَنۡ ضَلَّ او هر څوک چه ګمراه شه چه د دۀ په احکامو ئے عمل و نه کړو
فَاِنَّمَا پس بیشکه هم دا خبره ده یَضِلُّ عَلَیۡهَا ج چه ګمراه کیږی دے په خپل ځان ځکه چه ضرر ئے هم
دۀ ته راجع دے وَمَاۤ اَنۡتَ او نۀ ئے ته عَلَیۡهِمۡ بِوَکِیۡلٍ ﴿۴۱﴾ په دوی نګهبان اَللّٰهُ یَتَوَفَّی الۡاَنۡفُسَ
خدائی قبضوی نفسونه د عبادو یعنی راوباسی ئے له ابدانو د دوی څخه په دوه وخته کښ یو حِیۡنَ
مَوۡتِهَا په وخت د موت د دے عبادو کښ یعنی د هر هغه چا چه عمر ئے تمام شوے وی او اجل ئے
راغلے وی وَالَّتِیۡ لَمۡ تَمُتۡ او بل هغه نفسونه د عبادو چه نۀ وی دوی مړه یعنی د هغو هم قبضوی
لکه فِیۡ مَنَامِهَا ج په وخت د خوب د هغو کښ یعنی چه او د دۀ شی روایت دے له محی السنة په
معالم کښ چه هر سړے د دوه نفسونه لری یو نفس د حیوٰة چه حرکت او ساه ورسره تړلی دی او
بل نفس د عقل او د تمیز نو هر چه نفس د حیوٰة دے هغه په وخت د مرګ ترے جدا کیږی اما

نفس د عقل د تمیز هم ورسره لارشی ځکه چه په تګ کښې هغه هم ورسره تړلے ده د جهته مړي
عقل تمیز هم نه لری او هر چه نفس د عقل او د تمیز دے هغه په وخت د خوب کښې ترجدا کیږی
اوله دهٔ سره نفس د حیوٰة نهٔ ځی ځکه او د عقل او تمیز نهٔ لری او حرکت کوی او ساه هم اخلی او
نقل دے له ابن عباس رضی چه هر سړے یو نفس لری او یو روح چه په مابین دد دوئ کښې دا سے شعاع ده
لکه شعاع د شمس اوله نفس سره عقل تمیز تړلی دی اوله روح سره حرکت او ساه او په تګ د روح
سره تګ د نفس لازم دے نو او دهٔ حرکت او ساه لرلی ځکه، چه روح پکښې دے او عقل او تمیز نهٔ لری ځکه
چه نفس ترے تللے دے او مړے یو هم نهٔ لری ځکه چه روح او نفس دواړه ترے تللی دی فَيُمۡسِكُ الَّتِیۡ
پس وساتی دے هغه نفس قَضٰی عَلَیۡهَا الۡمَوۡتَ چه مقرر کړے دے دهٔ په هغه مرګ هم هلته په
هغه عالم کښې او بیائے بدن لره را و نهٔ لیږی وَیُرۡسِلُ الۡاُخۡرٰۤی او بیرته رالیږی بدن لره هغه لره
بل نفس یعنی هغه چه او دهٔ وی او مرګ ئے ورلره نهٔ وی مقرر کړے ځکه چه عمرئے لا باقی وی
اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی ط تر هغه مودے پورے چه په نامه کړے شوے ده یعنی معین ده چه منتهی ده د عمر
اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے قبض او ارسال او امساك کښې لَاٰیٰتٍ هر ائینه دیرلوئ نښے دی د کمال
د حکمت او شواهد دی د قدرت په بعث او په حشر لِّقَوۡمٍ یَّتَفَکَّرُوۡنَ ﴿۴۲﴾ د پاره د هغه قوم چه
فکر کوی په دے کښې چه هغه قادر مطلق چه دا ټول کولے شی هغه مړی هم بیا ژوندی کولے
شی اما دا مشرکان د غه فکر نهٔ کوی اَمِ اتَّخَذُوۡا بلکه نیولی دے دوئ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غیر له خدائ
شُفَعَآءَ ط شفاعتګر یعنی بتان چه خدائ ته خواست او زاری وکا د دوئ د پاره قُلۡ ووایه دوئ ته
چه شفاعت به کوی دا بتان ستاسے اَوَلَوۡ کَانُوۡا ایا اګرکه وی دوئ په دے حال چه لَا یَمۡلِکُوۡنَ
شَیۡئًا اختیار نهٔ لری د دوئ د هیڅ خیز یعنی نه د شفاعت او نه د بل کوم امر وَّلَا یَعۡقِلُوۡنَ ﴿۴۳﴾ او
نه عقل لری دوئ چه ستاسے عبادت ورته معلوم شی ځکه چه جمادات دی قُلۡ بیا ووایه دوئ ته
چه لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ خاص خدائ لره دے اختیار د شفاعت جَمِیۡعًا ط ټول او بل هیچا لره دخل پکښې نشته
مګر په اذن ددهٔ سره ځکه چه لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ خاص هم دهٔ لره ده بادشاهی د اسمانونو

عه یعنی شاهد دی د قدرت د خدائ په پوره تاکیدلو د خلقو او په جمع کیدلو ۱۲

کتبه : محمد صادق زهیر عفی عنه

وَالْاَرْضِ ؕ او د ځمکې ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۴۴﴾ بیا خاص هم دهٔ ته به بیرته بیولې کیږئ تاسې په ورځ
د قیامت او هلته به هم بادشاهي هم دهٔ وي یوازې وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ او په هغه وخت چه یاد کړې
شي خدای وَحْدَهٗ یوازې هم دې بې له خدایانو د دوئ یعنې چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وویلې شي نو اشْمَاَزَّتْ
قُلُوْبُ الَّذِيْنَ وتړهیږي او تنبض شي زړونه د هغه کسانو لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ چه ایمان نهٔ راوړي
او باور نهٔ لري په اٰخرت په ذکر د توحید سره وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ او په هغه وخت چه یاد کړې شي
هغه کسان مِنْ دُوْنِهٖٓ چه غیر دي له خدائ یعنې بتان اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ ناګاه د دوئ
تازه روئ شي یعنې خوښ نه دانړه شي او وچولې ئې پراخه شي له ډیرې خوشحالئ او اشمیزاز او استبشارَ
ئې سره مقابل کړهٔ ځکه چه هر یو له دوئ په خپل باب کښ منتهي ته رسیدلی دی فائده بیا رسول
صلی الله علیه وسلم ته امر وشهٔ له جنابه د رب العزت چه هر کله ته حیران شوې د دوئ په دې امر
کښ او عاجز شوې له دې بغض او عناد د دوئ نو خدائ ته سوال او زاري وکه د پاره د فیصل د دې مهم
لکه چه وائي قُلِ اللّٰهُمَّ ووایه چه اې پروردګاره فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اې پیدا کونکیه د اسمانونو
او د ځمکې عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اې خبرداره په پټو او په ښکاره اَنْتَ تَحْكُمُ ته به حکم کوې په ورځ د
قیامت بَيْنَ عِبَادِكَ په مابین د بندګانو خپلو فِيْ مَا كَانُوْا په هغه کار د دین کښ چه وو دوئ فِيْهِ
يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ چه په هغه کښ اختلاف به ئې کولو په دنیا کښ اوس بیا اخبار کوي رب العزت
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له سختئ د عذاب د دې کفارو او له نه خلاصي د دوئ له عذابه
په هیڅ وجه سره وَلَوْ اَنَّ او که چرې بیشکه لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مملوك شي د هغه کسانو چه ظلم ئې اختیا
کړې دې یعنې کافران شوي دي مَا فِي الْاَرْضِ هغه مال او مبلغ چه په ځمکه کښ دي جَمِيْعًا ټول
یعنې له اوله تر آخره او له شرقه تر غربه او له شماله تر جنوبه وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ او په مثل یعنې په قدر د هغه
مال نور هم ورسره شي نو جزا ئې داده لَافْتَدَوْا بِهٖ هرائینه فدیه به ورکاوي دا ټول مبلغ په
خلاصي د ځان خپل کښ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ له سختئ د عذابه يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ په ورځې د قیامت کښ
وَبَدَا لَهُمْ او ښکاره به شي دوئ ته مِّنَ اللّٰهِ له طرفه د خدائ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا هغه قهر او عذاب چه
نهٔ وو دوئ يَحْتَسِبُوْنَ ﴿۴۷﴾ چه ګمان به کاوو د هغه یعنې دوئ ګمان کولو په عبادت د بتانو سره د

رضا او د ثواب او بیا هم هغه عبادت ئې موجب شئ د قهر او د عذاب نو هله به ورته خپله
زیانکاری ښکاره شی۔

نظم

ډیر واویل او اه افسوس دے هغه چاله | چه دے نیک ګنړی عمل او بد شی وړ دوره
لکه څوک چه ځي بازار ته سود سودا له | او دے واخلی ښځه کره روپۍ له کوره
بیا صراف ته چه ښکاره که ځما لاله | دے ئې سرے پیسے راوباسی له اوره
دا مراد چه مختورن دے ذوالجلاله | ته ئې وساتے له اوره له پیغوره

وَبَدَا لَهُمْ او ښکاره به شی دوئ ته سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا بدی د هغه عملونو چه کړی وو دوئ
وَحَاقَ بِهِمْ او چاپیره به شی له دوئ مَّا كَانُوْا هغه څیز چه وو دوئ په دنیا کښ بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۸﴾
چه په هغه پورے مسخرے به ئې کولے چه هغه قهر الٰهی او عذاب ابدی دے فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ پس
په هغه وخت چه ورسیږی جنس انسان ته ضُرٌّ دَعَانَا ڒ کوم قسم ضرر او سختی نو بولی دے مونږ
او زاری کوی دپاره د دفع د هغهٔ ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ بیا په هغه وخت کښ چه ورکوو مونږه دهٔ له نِعْمَةً
مِّنَّا لا کوم نعمت له خپل جنابه لکه مال او عزت او جاه قَالَ اِنَّمَا نو وائی دے چه بیشکه هم دا خبره ده
اُوْتِيْتُهٗ چه راکړے شوے دے ما له دا نعمت عَلٰى عِلْمٍ ط په سبب د هغے پوهے ځما په وجوه د کسب چه
دا نعمت م پرے حاصل کړے دے یا په سبب د علم د خدائی په استحقاق ځما دے نعمت له او په
واقعه کښی دا سے نهٔ ده لکه چه دے وائی بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ بلکه دا نعمت یو ازمیښت دے دوئ له
دا سے چه آیا دوئ پرے شکر کوی او که نه کوی وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ او لیکن زیات د دے خلقو چه دی
لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۹﴾ نهٔ پوهیږی په دے چه دا تخویل چه دے یو ازمیښت او استدراج دے مونږه له
قَدْ قَالَهَا په تحقیق سره ویلے وه دا خبره یعنی دا کلام چه انما اوتیته علی علم الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ هغه
کسانو له چه تیر شوی دی مخوا له دوئ لکه قارون او هغه قوم د دهٔ چه په دے ویلو ئې راضی وو
فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ پس هیڅ قدر عذاب دفع نهٔ کړ له دوئ مَّا كَانُوْا هغه مال او متاع د دنیا چه وو
دوئ يَكْسِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ چه کسب ئې کاوو د هغهٔ او په کسب ئې حاصلولو فَاَصَابَهُمْ پس ورسید لے
هغه مخوا نیو ته سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ط جزا د هغو بدیو چه کړے وے دوئ دا سے چه له مالونو او له مینوسره

ډوب شو په زمکه کښې چه لاتر اوسه پورې ښکته روان دی وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا او هرچه هغه کسان دی چه کافران شوی دی او ناشکری ئې کړې ده د نعمتونو مِنْ هٰٓؤُلَآءِ له دې قومه سَيُصِيْبُهُمْ زر دے چه وربه رسیږی دوئی ته هم سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا لا جزا د هغو بديو چه کړی دی دوئی لکه چه هغو پخوانیو ته رسید لے وه وَمَاهُمْ او نهٔ دی دوئی بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۱﴾ عاجز کونکی څمونږه له تعذیبه[عه] بیا هغه وعده د جزا تر سره شوه د اسے چه اووهٔ کاله روزی ترے حصاره شوه په قحط سره او بل مشران ئې بتول قتل شو په ورځ د بدر کښې اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا آیا نهٔ پوهیږی دوئی اَنَّ اللّٰهَ په دے چه بیشکه خدائ يَبْسُطُ الرِّزْقَ فراخوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ هغه چاله چه اراده ئې وشی د پاره د ازمیښت وَيَقْدِرُ او تنګوی دے په هغه چا چه اراده ئې وشی د پاره د ابتلاء اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے بسط او قبض کښې لَاٰيٰتٍ هرائینه ډیرے ښے دی د کمال د قدرت لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ د پاره د هغه قوم چه ایمان راوړی دوئی په دے چه باسط او قابض هم دے دے روایت دے چه یوه طائفه د مشرکانو رسول علیه السلام له راغله او سوال ئې وکړو چه له مونږه ډیر قتل او ډیرے زنا او د اسے نور ډیر ګناهونه صادر شوی دی نو اوس کهٔ مونږه د استادین قبول کړو نو د اتیر ګناهونه څمونږه به راته وبخښلے شی او که نه؟ او چا ویلی دی چه د اسوال وحشی بن حرب قاتل د امیر حمزه رض وکړو د نو نازل شهٔ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ ووایه اے رسوله چه وائی پروردګار چه اے هغه بندګانو زما څما اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ چه اسراف ئې کړے دے په ځانونو خپلو یعنی ډیر افراط مو کړے دے په کولو د ګناهونو کښې چه له حده زیات معاصی در څخه صادر شوی دی لَا تَقْنَطُوْا مهٔ نا امیده کیږئ مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ط له رحمه د خدائ ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ بخښی[عه] ګناهونه جَمِيْعًا ط ټول اګرکهٔ ډیروی هم، غیر له شرك اِنَّهٗ بیشکه دے چه دے هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾ هم دے بخښونکے مهربان دے۔ **نظم**

راشه واوره ګنهګاره دا آیت له ذوالجلاله — زړهٔ خوشحاله لره تل او طبیعت مهٔ کړه ملاله

دی آیت کښې دی څوخیزه چه هر یو ئې بے بها دے — یو خطاب عِبَادِيَ[عه] د عُصاةً نهٔ دے لا له

عه یعنی له عذاب ورکولو خپلو نه مونږه عاجز یو ۱۲ عه یعنی خطاب عام خلقو ته دے نه خاص ګنهګارانو ته ۱۲

بل عتاب دے په نرمئ چه اَسْرَفُوْا نه اَخْطَاءُ دے	بل لا تقنطوا ته کوره بل وردرومه جَمِيْعًا لـــه
بل تاکید دے په دوه اِنَّ بل بے شرطه مغفرت دے	حکه قید د مشیت دنیک عمل نه شته هیچا لــه
بل تکرار دے دے دوارو چه رحمت او مغفرت دے	بل دے حصر په هُوَ کښې د غفران او رحمت خالــه
دا مراد په گنهگار دے امیدوار د رحمت دے	ته غفور ئے هم رحیم په مغفرت ئے کړے خوشحاله

او دا ایت بهترا و امید وار ترد ایتونو دے او حدیث دے چه ما اُحِبُّ عه ان لی الدنیا و ما فیها بهذه الآیة وَاَنِيْبُوْٓا
اِلٰى رَبِّكُمْ او بیرته وګرځئ رب خپل ته اے مشرکانو له شرکه توحید ته اے عاصیانو غافلانو له عصیانه
طاعت ته او له غفلته دُعا او زارئ ته وَاَسْلِمُوْا لَهٗ اوغاړه کیږدئ ده ته په اسلام سره یا په اخلاص
دعمل، سره مِنْ قَبْلِ اَنْ یخوا له هغه يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ چه راځی تاسے لره عذاب ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ۵۴
بیا مد دګاری به درسره نه شی کولے په دفع دعذاب کښې وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ او پیروی
کوی د ډیر غوره حکم د هغه قرآن چه رالیږلے شوے دے هغه تاسے ته مِّنْ رَّبِّكُمْ له جانبه د رب
ستاسے نه یعنی د عزیمت، نه د رخصت او د ناسخ نه د منسوخ مِنْ قَبْلِ اَنْ یخوا له هغه يَّاْتِيَكُمُ
الْعَذَابُ بَغْتَةً چه راشی تاسے لره عذاب ناڅاپه وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۵۵ او حال دا چه تاسے به
نه پوهیږئ په طرف د راتلو د ده چه تدارک ئے وکړئ اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ یخوا له هغه چه وائی
شخص يّٰحَسْرَتٰى اے پښیمانئ ځما او دا الف بدل دے له یٓ د متکلم عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ په هغه څیز
چه تقصیر کړے دے ما فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ په طرف د خدائ کښې یعنی په هغه طرف کښې چه
مفضی وو رضا د خدائ ته وَاِنْ كُنْتُ او بیشکه چه وم زه لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ۵۶ هر آئینه له مسخره
کونکیو په قرآن او په رسول الله صلی الله علیه وسلم او په مؤمنانو پورے اَوْ تَقُوْلَ یا چه وائی دغه شخص
لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ که چرے دا سے وے چه بیشکه خدائ سمه لار ښودلے وے ما ته لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ۵۷
نو هر آئینه وم به زه له ځان ساتونکیو له شرکه او له معصیته اَوْ تَقُوْلَ یا چه وائی دغه شخص حِيْنَ
تَرَى الْعَذَابَ په هغه وخت چه ووینی دے عذاب لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً اے کاشکے چه وے ما لره یو کرت
تګ بیرته دنیا ته فَاَكُوْنَ پس وم به زه مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۵۸ له نیکوکارانو یعنی له موحدانو او

عه یعنی دوست نه لرم زه په تحقیق که شی ما لره دنیا او هغه چه په دے کښې دی مګر له دے ایت سره دوستی
لرم او خوشحالیږم پرے ۱۲

بیا ورته وائی خدائی بَلٰی ولے م هدایت نهٔ وو کړے درته بلکه کړے م وو درته ځکه چه قَدْ جَآءَتْكَ
اٰیٰتِیْ په تحقیق راغلی وو تاته اٰیتونه د کتاب ځما چه قرآن وو فَكَذَّبْتَ بِهَا پس تکذیب کړے وو تا د
هغو وَاسْتَكْبَرْتَ او کبر او سرکشی دِ کړے وه له ایمان نه په هغو وَكُنْتَ او وے ته مِنَ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۵۹﴾ له نه
منونکیو د هغو او د بَلٰی جواب دے د نفے تقدیری ځکه چه معنے د لوان الله هدٰنی داده چه ماهدیتنی عه
وَیَوْمَ الْقِیٰمَةِ او په ورځ د قیامت کښ تَرَی الَّذِیْنَ وینے به ته هغه کسان كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ چه دروغ
ئے تړلی دی په خدائی په اتخاذ د ولد عه وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ط چه مخونه د دوئ به تور وی لا یخوا د دخول
د دوزخ په سبب د هغے سختئ چه په دهٔ به وی اَلَیْسَ فِیْ جَهَنَّمَ ایا نشته په دوزخ کښ مَثْوًی
لِّلْمُتَكَبِّرِیْنَ ﴿۶۰﴾ ځائ د متکبرانو یعنی شته وَیُنَجِّی اللّٰهُ او وبه ساتی خدائی له دے دوزخ نه الَّذِیْنَ
اتَّقَوْا هغه کسان چه ځان ئے ساتلے دے له شرکه بِمَفَازَتِهِمْ ز په سبب د خلاصی د دوئ
په ایمان او په اخلاص د عمل سره او تفسیر د هغه خلاصی داده چه لَا یَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ نهٔ
به مسه کوی دوئ یعنی ابدان ئے هیڅ سختی او مکروه وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ﴿۶۱﴾ او نهٔ به دوی یعنے زړونه
ئے غمژن کیږی اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ ز خدائی پیدا کونکے د هر څیز دے کهٔ ایمان دے کهٔ کفر خیر دے
کهٔ شر او دا رد دے په معتزلو او په ثنویو۔ وَهُوَ او دے عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ وَّكِیْلٌ ﴿۶۲﴾ په هر څیز نګهبان
دے لَهٗ مَقَالِیْدُ السَّمٰوٰتِ خاص هم دی لره دی او هم دهٔ په تصرف کښ دی کلیګانے د خزانو
د اسمانونو وَالْاَرْضِ ط او د زمکے یعنی د بارانونو د اسمان او د نباتاتو د زمکے یا د نور د هر څیز وَالَّذِیْنَ
كَفَرُوْا او هر چه هغه کسان دی چه کافر شوی دی بِاٰیٰتِ اللّٰهِ په اٰیتونو د خدائی چه قرآن دے اُولٰٓئِكَ
د غه کسان چه دی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۶۳﴾ ع هم دوئ زیان کاران دی چه ځائ ئے دوزخ دے روایت
دے چه کفارو د قریشو رسول الله علیه السلام ته وویل چه راشه دا ځونږه د خدایانو تعظیم
وکړه په بنګلولو یا په دود سنته سلام په لاس سره نو مونږه به هم ایمان راوړو وستا په خدائی بانده
نو نازل شهٔ قُلْ اَفَغَیْرَ اللّٰهِ ووایه دوئ ته چه ایا پس غیر له خدائی په عبادت د بل چا تَاْمُرُوْٓنِّیْ
اَعْبُدُ امر کوئ تاسے ماته د دے چه عبادت ئے کوم اَیُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿۶۴﴾ اے نادانانو بے خبرو

عه هدایت نهٔ وو کړے تا ماته ۱۲ عه یعنی چه نسبت د ولد نیولو خدائی ته کوی ۱۲

پہ توحید دخدائ وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ او هرآئینه پہ تحقیق وحی کړے شوے دہ تاته وَاِلَى الَّذِيْنَ
او هغه کسانو ته هم مِنْ قَبْلِكَ ۚ چه مخواله تا تیر شوی له پیغمبرانو داسے چه لَئِنْ اَشْرَكْتَ قسم دے چه
که شرك اختیار کړے تا پہ تقدیر د فرض د محال یا مراد ترے بکښې خطاب دے امت ته لَيَحْبَطَنَّ
عَمَلُكَ نو هرآئینه خراب به شی خامخا مخوانی عمل ستا چه پہ د ایمان دِ کړے وی وَلَتَكُوْنَنَّ او هر
آئینه شے به ته خامخا مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۵﴾ له زیانکارانو بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ بلکه یواځے دخدائ
عبادت کوه او د دوئ پہ ویلو پسے له سره مه ځه وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۶۶﴾ او اوسه همیشه لـه
شاکرانو پہ نعمت د توحید روایت دے چه یو له احبارو د یهودو رسول علیه السلام له
راغے او وړنه ئے وویل چه اے محمد تاته معلوم دی او که نه چه خدائ پہ ورځ دقیامت دا
اوه واړه آسمانونه به پہ یوے گوتے کیږدی او دا اوه واړه زمکے به پہ بلے او دا غرونه به پہ بلے او
دا دواړه کرتے اِبی او خاکی به پہ بلے او دا ټول مخلوق به پہ بلے نو دا لاس به وښوروی او وبه وائی
چه اَنا الملك ابن الملوك عه نو رسول علیه السلام تبسم وکړو له دے قوله د ده پہ طریقه د تعجب سره نو
نازل شو وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ او تعظیم نه دے کړے دے کفارو د خدائ حَقَّ قَدْرِهٖ عه هغه حق
د تعظیم د ده ځکه چه دوئ بخپله هم عبادت د بتانو کوی او رسول علیه السلام پرے ماموره کوی
وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ او حال دا چه دے داسے عظیم الشان دے چه زمکه ټوله سره له داسے
عظمته دده یو موټے به وی دده يَوْمَ الْقِيٰمَةِ پہ ورځ د قیامت وَالسَّمٰوٰتُ او اوه واړه اسمانونه
چه دی مَطْوِيّٰتٌ ۢ بِيَمِيْنِهٖ ؕ تاؤ کړی به نیولی وی پہ ښی لاس دده کښې او دا الفاظ هم له هغو
متشابهاتو دی چه متقدمین پکښې سکوت کوی او متاخرین پکښې تاویلات کوی سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى
پاك دے او بلند شان دے عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۷﴾ له هغه چه شریك نیسی دوئ له ده سره وَنُفِخَ فِى
الصُّوْرِ او پوکے به وکړے شے پہ شپیلئ کښې اول کرت فَصَعِقَ پس مړه به شی مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ
هر هغه څوك چه پہ آسمانونو کښې دی وَمَنْ فِى الْاَرْضِ او هر هغه څوك چه پہ زمکه کښې دی اِلَّا
مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ مگر هغه څوك چه اراده کړے وی خدائ د نه وژلو د هغو چه څلور ملائك عه

عه معنی دا چه زهٔ بادشاه یم چرته دی بادشاهان ۱۲ عه ملائک مقربین یعنی جبریل، میکائیل، اسرافیل، عزرائیل علیهم الصلوة والسلام

یا حملة العرش یا خزنه دجنت او دوزخ دی ثُمَّ نُفِخَ بیا بوکے به وکړے شی پس له خلو ییشتو کالو فِیۡهِ اُخۡرٰی په دے شپیلۍ کښ دویم فَاِذَا هُمۡ پس ناڅاپه دا خلق چه مړهٔ وو قِیَامٌ يَّنۡظُرُوۡنَ ﴿۶۸﴾ ولاړ به وی په خپو چه یو بل طرف ته به ګوری لکه بے خوده یا بے قرار حیران به وی منتظر امر د خدائی ته په باب خپل کښ چه څه ټنګه به وی وَ اَشۡرَقَتِ الۡاَرۡضُ او روښانه به شی زمکه د میدان د محشر بِنُوۡرِ رَبِّهَا په نور د رب خپل سره په هغه وخت چه تجلّی وکړی دے دپاره د قضا په مابین د بندګانو کښ یا مراد روښنائی د عدل ده چه نور د عدل به راشی او ظلمت د ظلم به پرے ورک شی وَ وُضِعَ الۡکِتٰبُ او کیخودے شی کتاب یعنے اعمال نامه خپله د هر چا په لاس کښ دچا په ښی لاس کښ او دچا په چپ وَ جِایۡٓءَ بِالنَّبِیّٖنَ او رابه وستلے شی پیغمبران علیهم السلام محشر ته دپاره د سوال له تبلیغ د رسالت اوله جوابه د اُمت وَ الشُّهَدَآءِ او شاهدان هم له هر امته یعنی نیکان د هرے زمانے چه شاهدی به کوی په اهل د هغے زمانے باندے یا امت د محمد صلی الله علیه وسلم چه شاهدی کوی دوئی دپاره د رسلو په ادا د رسالت یا ملائک حفظه چه به کوی په هر سری وَ قُضِیَ بَیۡنَهُمۡ بِالۡحَقِّ او حکم به وکړے شی په مابین د دوئی کښ په حق او په عدل سره وَ هُمۡ لَا یُظۡلَمُوۡنَ او دوئی به مظلومان نهٔ کړے شی هیڅ قدرته په نقصان د ثواب او نه په زیادت د عقاب سره فائده افتتاح د دے آیت په عدل وه او اختتام ئے په نفی د ظلم وشهٔ وَ وُفِّیَتۡ کُلُّ نَفۡسٍ او پوره به ورکړے شی هر شخص لره مَّا عَمِلَتۡ جزا د هغه عمل چه کړے وو دهٔ وَ هُوَ اَعۡلَمُ او حال دا چه دے ښهٔ خبردار دے بِمَا یَفۡعَلُوۡنَ ﴿۶۹﴾ په هغه عملونو چه کوی ئے دوئی نو حاجت نشته کاتب او شاهد ته وَ سِیۡقَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا او وشړلی او را بنکلی کیږی به لکه بندیان هغه کسان چه کافر دی اِلٰی جَهَنَّمَ زُمَرًا ط دوزخ ته ډلے ډلے بعضے په بعضو پسے حَتّٰۤی اِذَا جَآءُوۡهَا تر هغه پورے چه څوراشی دوئی دوزخ لره فُتِحَتۡ اَبۡوَابُهَا نو پرابه نستلے شی ورته اوهٔ واړه دروازے د دوزخ او دا جواب دے د اذا ۰ وَ قَالَ لَهُمۡ او وبه وائی دوئی ته خَزَنَتُهَاۤ حزا نچیان د دوزخ یعنی هغه ملائک چه مسلط دی په تعذیب د دوزخیانو اَلَمۡ یَاۡتِکُمۡ چه آیا نهٔ

عه حملة العرش یعنی هغه ملائک چه عرش ئے په اوږو خپلو پورته کړے دے ۱۲

وو راغلي تاسو ته رُسُلٌ مِّنۡكُمۡ رسولان له تاسې يعنې ستاسې له خپل جنسه له بني آدمو يَتۡلُونَ عَلَيۡكُمۡ
چه لوستل به دوئ په تاسې ءَايَٰتِ رَبِّكُمۡ ايتونه درب ستاسې چه انبياء عليهم السلام لره راغلي وو۔
وَيُنذِرُونَكُمۡ او ويرولې به دوئ تاسې لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ له ملاقاته د ورځې ستاسې چه دغه
ده قَالُواْ بَلَىٰ نو وبه وائي دا كفار چه ولې نه وو راغلي بلكه راغلي وو مونږ ته او مونږه ئې ويرولي
هم وو وَلَٰكِنۡ حَقَّتۡ او ليكن واجبه شوه كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ كفته د عذاب چه لاملئن جهنم اه دې عَلَى
ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾ په كافرانو باندې قِيلَ ٱدۡخُلُوٓاْ بيا به وويلې شي دوئ ته چه ننوځئ أَبۡوَٰبَ
جَهَنَّمَ دروازو د دوزخ كښې خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ په دې حال چه هميشه به اوسيدونكي اوسئ تاسې په دغه
كښې فَبِئۡسَ پس بد دې مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾ ځائ د استوږنې د متكبرانو دا دوزخ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ
او بيولي كيږي به هغه كسان ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ چه ويريدل به دوئ له ربه خپله بيول په عزت په كرامت
په مراكبو سوارۀ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ زُمَرًاۖ جنت ته ډلې ډلې وړاندې وروستو په تفاوت د مراتبو سره
په شرف او په علوشان سره حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا تر هغه پورې چه څوراشي دوئ جنت لره وَفُتِحَتۡ
أَبۡوَٰبُهَا او حال دا چه لا پخوا به پرانستلې پرتې وي ورته دروازې د دې جنت چه انتظار ونه كا دوئ
وَقَالَ لَهُمۡ او وبه وائي دوئ ته خَزَنَتُهَا خزانچيان د دې جنت سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ سلامتي او بې غمي
ده تاسې لره له هره مكروه يعنې پس له دې به سختي او خفگان ونه وينئ تاسې له سره ځكه چه طِبۡتُمۡ
پاك وئ په دنيا كښې له خبرې د گناهونو فَٱدۡخُلُوهَا پس ننوځئ دغه جنت ته خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾ په دې
حال چه هميشه اوسيدونكي اوسئ تاسو په دغه كښې وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ او وبه وائي دوئ ته چه ننوتۀ
جنت ته چه ثنا ده لِلَّهِ ٱلَّذِي هغه خدائ لره صَدَقَنَا وَعۡدَهُۥ چه رښتيا ئې كړه له مونږ سره وعده
خپله له بعثه او له نعمتونو د عقبي وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ او ميراث ئې را كړه مونږ ته دا زمكه د جنت
چه بې مشقته نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلۡجَنَّةِ ځائ نيسو او ډيره كيږو مونږه له دې جنته حَيۡثُ نَشَآءُۖ په هر
ځائ چه اراده وشي ځمونږه فَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾ پس ښۀ دې اجر د نيك عمل كونكيو په دنيا
كښې وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ او وبه وينې ته ملائك حَآفِّينَ طواف كونكي مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ چاپيره
له عرش يُسَبِّحُونَ چه تسبيح به وائي دوئ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۖ سره د ثنا د رب خپل وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ

او حکم به وکړے شی په مابین د خلقو کښې په حق سره وَقِيۡلَ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ او وبه ویلے شی چه
ثناء د خدائ لره رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۷۵﴾ چه رب دے د عالمیانو۔ ع ۸ / ۵

سُوۡرَةُ الۡمُؤۡمِن (۴۰) مکیۃ (۶۰) — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ — اٰیاتها ۸۵ رکوعاتها ۹

حٰمٓ ﴿۱﴾ چاویلی دی نقل له ابن عباسؓ چه دا مجموعه اسم اعظم دے د خدائ او چاویلی دی چه هر
حرف ئے اشارت دے یو ے کلمے ته چه په هغې قسم کړے شوے دے۔ نو "ح" اشارت دے حکم د
خدائ ته او "م" ملک د دهٔ ته یعنی قسم کوم په حکم او ملک خپل او جواب د قسم دا دے چه
تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ رالیږل د دے کتاب چه دی چه قرآن دے مِنَ اللّٰهِ له هغه خدائ د دے الۡعَزِيۡزِ الۡعَلِيۡمِ ﴿۲﴾
چه غالب دانا دے په هر څیز غَافِرِ الذَّنۡۢبِ چه بخښونکے د ګناه د عاصیانو وَقَابِلِ التَّوۡبِ او قبلونکے
دے د توبے د تائبانو شَدِيۡدِ الۡعِقَابِ چه سخت عقوبت د دے د سرکشانو مخالفانو خپلو ذِى الطَّوۡلِ ؕ
چه خښتن د فضل دے په مطیعانو خپلو یا خښتن د بے پروایئ دے له هرچا لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ
نشته لائق د عبادت هیڅوک مګر یوازے هم دے دے اِلَيۡهِ الۡمَصِيۡرُ ﴿۳﴾ خاص بیرته هم دهٔ ته
ورتلهٔ دی د بندګانو د پاره د جزا د اعمالو مَا يُجَادِلُ جګړه نهٔ کوی او طعنے نهٔ وائی فِىۡۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ
په ایتونو د خدائ کښې پس له تحقیق د نزول اِلَّا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مګر هغه کسان چه کافر شوی دی له دے
فَلَا يَغۡرُرۡكَ پس نهٔ دِ تیرباسی تا تَقَلُّبُهُمۡ فِى الۡبِلَادِ ﴿۴﴾ چورلیدل او ګرځیدل د دوئ په ښارونو د
شام او یمن کښې د پاره د سودا ګری خوشحاله بے غمه ځکه چه وخت د عقوبت ئے په یر نزدے دے له که
تیر کفار چه كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ تکذیب کړے وو د رسول صلے اللّٰه علیه وسلم خپل مخوا له دوئ قَوۡمُ
نُوۡحٍ وَّالۡاَحۡزَابُ او همدا سے نور اقوام هم تکذیب کړے وو د رسولانو خپلو مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ پس له قوم
د نوح علیه السلام لکه عاد او ثمود او قوم د لوط علیه السلام او دا سے نور هم وَهَمَّتۡ او اراده
کړے وه كُلُّ اُمَّةٍۢ هر ټولے له بِرَسُوۡلِهِمۡ په رسول خپل لِيَاۡخُذُوۡهُ د دے چه ونیسی دوئ

سه د دے ایت دیرے ټکرے ترجمه د تفسیر بیان القرآن نه لیکم عوام د پاره د دے چه ستا سو بصیرت زیات شی ترجمه كَذَّبَتۡ
قَبۡلَهُمۡ تکذیب کړے وو د دوئ نه مخکښې د حق دین قَوۡمُ نُوۡحٍ وَّالۡاَحۡزَابُ قوم د نوح علیه السلام او نورو ډولیو هم مِنۡ
بَعۡدِهِمۡ کوم چه د هغوئ نه پس وو لکه عاد او ثمود د غیرهم ۱۲

دا رسول علیه السلام د پاره د ایذا یا د حبس یا د قتل په انواع د تعذیب وَجٰدَلُوْا بِالْبَاطِلِ او جګړه به
ئے کوله له دغه رسول علیه السلام سره په باطله یعنی په بے هوده خبرو لِيُدْحِضُوْا د پاره د دے
چه محو کا دوئ بِهِ الْحَقَّ په دے باطل سره حق چه توحید دے فَاَخَذْتُهُمْ قف پس ونیول ما دوئ
په سبب د دے ایذاء او د جګړے له رسولانو خپلو سره او هلاک م کړل فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ⑤ پس
څرنګه وو عقوبت زما دوئ لره یعنی تا سے خو همیشه تیریږئ په مینود هغوئ او وینئ آثار د عقاب
او د قهر وَكَذٰلِكَ او هم دا سے لکه چه واجب شوے وه په هغه مکذبانو کلمه د عذاب حَقَّتْ كَلِمَتُ
رَبِّكَ واجب شوے ده کلمه د عقاب د رب ستا عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا په هغه کسانو چه کافر شوی دی
له قومه ستا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ⑥ هغه کلمه دا ده چه بیشکه دوئ ملازمان د اور دی او دا بدل
دے له كَلِمَتُ رَبِّكَ څخه بیا رب العزت وائی چه که ستا قوم عبادت نه کوی زما نو غیر له دوئ نور هم
زما عابدان او ثناخوان ډیر دی له اشراف د مخلوقاتو چه بعض تر ے حاملان او طوفان د عرش دی
لکه چه وائی اَلَّذِيْنَ هغه کسان چه دی له ملائکو يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ چه اخلی عرش وَمَنْ حَوْلَهٗ او
هغه څوک چه چاپیره دی له دغه عرش چه کړو بیان بالۀ شی او دوئ سرکرده او مشران دی د ټولو
ملائکو او په قرب کښ هم په اعلی مرتبه کښ دی او په وجود کښ هم له ټولو ورمیے دی روایت دے
چه د حاملانو د عرش خپے ښکته په اومه زمکه کښ دی او سرونه ئے له عرش پورته ختلی دی او ستر ګے
خپلے له ډیره هیبته د جلال هیچرے نهٔ پورته کوی او نور ملائک علیهم الصلوة والسلام ټول خدائے
ماموره کړی دی په دے چه هر صبا او هر بیګا سلام کوی دوئ د دغه حاملانو د پاره د تعظیم او اجلال
د دوئ او دا کروبیان او اویا زره صفونه دی د ملائکو چه مدام په طواف کښ دی چاپیر له عرش او هر
وخت تهلیل او تکبیر وائی او بیا له دوئ په را بیرته اویا زره صفونه نور دی چه هغه مدام په یو ځائ
ولاړ دی او دوئ هم هر وخت تهلیل او تکبیر وائی او بیا له دغو ولاړو په را بیرته یولك صفونه نور دی
چه ښی لاسونه خپل ئے په څټو ایښی دی او یو مغایر له بله تسبیح وائی کذا فی المدارك يُسَبِّحُوْنَ
تسبیح وائی دا حاملان او طوافان او دا خبر دے د تیر اَلَّذِيْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ پیوست له ثنا د رب خپل
سره وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ او ایمان راوړی دوئ په دهٔ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ او بخښنه غواړی دوئ له خدائ لِلَّذِيْنَ

اٰمَنُوْا ج دپاره د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے له جهته د مماثلت د دوئ له مؤمنانو سره په وصف
د ایمان کښې اګر که په جنس او په مکان کښې سره لرے دی او وائی دوئ داسے چه رَبَّنَا اے ربه ځمونږه
وَسِعْتَ رسیدلے ئے ته كُلَّ شَيْءٍ هرځیز ته رَّحْمَةً وَّعِلْمًا له جهته د بخشش او دانائی چه دِ موجود کړی
دی او بیا نګهبانی ئے هم کوی په روزئ رسولو سره یعنی ستا رحمت او علم رسیدلے دے هرځیز ته فَاغْفِرْ
پس بخښنه وکړه لِلَّذِيْنَ تَابُوْا هغه کسانو ته چه توبه ئے ایستلے ده له شرکه وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ او
پیروی ئے کړے ده د لارے ستا چه دین د اسلام دے وَقِهِمْ او وساته دوئ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ⑦ له
عذابه د دوزخ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ اے ربه ځمونږه مهربانی وکړه او ننباسه دوئ جَنّٰتِ عَدْنِ ن
الَّتِيْ هغه باغونو د اقامت ته وَعَدْتَّهُمْ چه وعده کړے ده تا د هغه باغونو له دوئ سره په مهربانئ
خپلے سره وَمَنْ صَلَحَ او هغه څوک ننباسه ورسره چه نیک شۀ یعنی اعمال صالحه ئے کړی وی مِنْ
اٰبَآئِهِمْ له پلارانو د دوئ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ او له ښځو د دوئ او له فرزندانو د دوئ چه په دیدن
د دوئ او په فضل ستا خوشحالی د دوئ په جنت کښې دوچنده شی اِنَّكَ بیشکه ته چه ئے اَنْتَ الْعَزِيْزُ
الْحَكِيْمُ ⑧ هم ته ئے غالب پرحکمت چه هیڅ کار دِ له حکمته خالی نۀ دے وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ او وساته دوئ
له بدیو یعنی له ګناهونو په دنیا کښې یا له جزاد ګناهونو په عقبیٰ کښې چه عذاب دے داور وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ
او هر څوک چه وساتے ته له بدیو یعنی له هغه عذابه چه په سبب د بدیو ورکولے شی ورله يَوْمَئِذٍ
په دغه ورځ د قیامت فَقَدْ رَحِمْتَهٗ پس په تحقیق چه مهربانی دِ وکړه په هغۀ وَذٰلِكَ او دا ساتل
ستا چه دی له عذابه هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ⑨ هم دا بری دے لوئ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان ع
چه کافر شوی دی يُنَادَوْنَ غږ به ورته وکړے شی په لسان د ملائکو په هغه وخت چه دوزخ ته
ننوځی او هلته خپل ځان ته په غضب شی دوئ او ملامته به پرے وائی چه تاسو خو د رسولانو ایمان
ته بللی وئ په دنیا کښې نو تاسو ها له ایمان ولے نه راوړو نو ملائک به ورته وائی چه دا لا
څۀ دے زیات له دے وا وری چه لَمَقْتُ اللّٰهِ هر اٰئینه دښمنی او غضب د خدائ چه دے په تاسے په
سبب د کفر اَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ هغه ډیر لوئ دے له دښمنئ او له غضبه ستاسے اَنْفُسَكُمْ په خپلو
ځانونو ځکه چه مقت ستاسے خواوس پیدا شۀ پس له مشاهدے د عذابه او مقت د خدائ خو لا

څو اپه دنیا کښې وو اِذْ تُدْعَوْنَ په هغه وخت چه بللے کیدلئ به تاسے اِلَى الْاِيْمَانِ ایمان ته په خدائ
او په رسول صلے الله علیه وسلم فَتَكْفُرُوْنَ ⑩ پس نو کفر به اختیارولو تاسے او له ایمانه به تختید لئ
قَالُوْا رَبَّنَآ نو وبه وائی دوئ چه اے ربه څمونږه اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ مړهٔ دِ کړو مونږه دوه کرته وَاَحْيَيْتَنَا
اثْنَتَيْنِ او بیا ژوندی دِ هم کړو مونږه دوه کرته پس دوه اماتته چه دی اول ئے په انتها د عمر کښې
دے او دوئم ئے په قبر کښې دے پس له سوال او جوابه او دوه احیاء چه دی اول ئے په قبر کښې دے دپاره
د سوال او جواب او دوئم ئے په قیامت کښې دے یعنی پس له معاینے به اعتراف وکا دوئ نو وبه وائی
چه فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا پس قایل شو مونږه په ګناهو نو خپلو چه انکار کولو مونږه له بعث او تکذیب
به مو کولو د رسولانو او مسخرے به مو کولے په رسولانو پورے فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ پس آیا او س شته و تلو
څمونږه ته له دے دوزخ مِّنْ سَبِيْلٍ ⑪ کومه لاره چه پرے ووځو او له دے عذابه خلاص شو نو ملائک
به ورته ووائی چه لاره د خروج نشته او دا عذاب تاسے ابدی دے او ذٰلِكُمْ دا عذاب چه دے
تاسے لره ابدًا بِاَنَّهٗ په دے سبب دے چه بیشکه شان او حال داوو په دنیا کښې اِذَا دُعِيَ اللّٰهُ
په هغه وخت چه به وبللے شو الله وَحْدَهٗ یواځے بے له خدایانو ستاسے كَفَرْتُمْ ج نو کفر به اختیار
کړو تاسے یعنی منکران به شوئ په وحدانیت دهٔ او ویل به مو چه اجعل الالهة الها واحدا[عه].
وَاِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ او بیا چه به هم وبللے شوله دهٔ سره تُؤْمِنُوْا ط نو ایمان به راوړو تاسے په دے شرکاؤ
او دوئ به مو و منل فَالْحُكْمُ پس نن ورځ حکم یعنی اختیار چه دے د هرچا په هر باب کښې لِلّٰهِ
الْعَلِيِّ خاص هغه خدائ لره دے چه بلند شان دے له شریکه الْكَبِيْرِ ⑫ لوئے دے له دے چه
بل څوک ئے مساوی شی په خدائی کښې هُوَ الَّذِيْ دے هغه قادر بیچون دے [ش] يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ چه ښائی
تاسے ته نښے د قدرت خپل لکه باد او وریځ او رعد او صواعق او داسے نور هم او دا هو مبتدا دے
او اخباره ئے دلته مذکوردی چه الذی یریکم ئے اول دے وَيُنَزِّلُ لَكُمْ او را کوزوی ستاسے د
پاره مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ط له طرفه د اسمانه روزی یعنی باران چه سبب دے د روزئ وَمَا يَتَذَكَّرُ
او پند نه اخلی په دے نښو د قدرت اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ ⑬ مکر هغه څوک چه راګرځید لی وی له شرکه

عه یعنی آیا وګرځول پیغمبر صلی الله علیه وسلم دیر خدایان یو خدائ ۱۲

توحید ته اوله معصیته طاعت ته فَادْعُوا اللّٰهَ پس وبولئ تاسے خدائ یعنې عبادت کوئ دده مُخْلِصِیْنَ
لَهُ الدِّیْنَ په دې حال چه خالص کونکی او پاك کونکی اوسئ تاسے دهٔ لره د دین خپل له شرکه وَلَوْ کَرِهَ
الْکٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ او اګرکه بد ګنړی کافران دا اخلاص ستاسے هم رَفِیْعُ الدَّرَجٰتِ عظیم الصفات دے
پورته کونکے دے د درجو یعنې د منازلو د مؤمنانو په جنت کښ د بعضو له بعضو په تفاوت د مقاماتو
سره یا په دنیا کښ په طاعت او په اخلاص سره یا د مراتبو د انبیاؤ په صفوت په دعوت په خلت په
قربت په زهادة په شفاعت یا د مصاعدو د ملائکو یا د اسمانونو بوله بل تحه او دا ئے خبر ثانی دے
ذُو الْعَرْشِ ج چه خښتن دے دهغه عرش چه سر د عالم جسمانی دے او سر رشته د بادشاهۍ او
اجراء د احکامو هم له هغهٔ ده او دا ئے خبر ثالث دے یُلْقِی الرُّوْحَ چه راغورځوی یعنې رالیږی
دې روح چه جبریل علیه السلام دے او دا ئے خبر رابع دے او یا وروستی اخبار دی د مبتداء
محذوف مِنْ اَمْرِهٖ له امره خپله یعنې په فرمان خپل سره عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ په هر هغه چا چه
اراده ئے وشی مِنْ عِبَادِهٖ له بندګانو خپلو یعنې نبوة ورلره ورکه لِیُنْذِرَ یَوْمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾ د پاره د
دے چه ویروی دے خلق د ورځے د پیښئ یعنې چه پکښ پیښیږی به اهل سماء په اهل ارض یا
اولین په اخرینو یا ارواح په اجسادو یا اعمال په عاملانو یا مظلومان په ظالمانو یا عابدان په
خپلو معبودانو یَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ په هغه ورځ چه دوئ به ښکاره وی یعنې راوتلی به وی له
قبرونو یا ښکاره به وی ابدان د دوئ یعنې نه به ئے جامے وی دخان پټولو او نه به ئے ځائ وی د پناه
کیدلو یا اعمال او سرائر د دوئ لَا یَخْفٰی چه نهٔ به وی پټ عَلَی اللّٰهِ په خدائ باندے مِنْهُمْ
شَیْءٌ ؕ له دوئ هیڅ څیز اعیان او اعمال او احوال به ئے ټول ورته معلوم وی نو هر یو لره به خپله
خپله جزا ورکه او داسے غږ به وشی چه لِمَنِ الْمُلْکُ الْیَوْمَ ؕ چالره ده بادشاهی نن ورځ او هم
کله چه هیڅوك د جواب پیدا نهٔ شه نو خپله به ووائ چه لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۱۶﴾ خاص خدائ
لره ده بادشاهی چه یوازے لاشریک دے ګرد نونه ماتونکے دے د مخالفانو او چا ویلی دی چه دا
جواب به د محشر عالم ورکا په اتفاق مؤمنان له جهته د ایمان قدیم او کفار له جهته د هغه علم
ضروری چه فی الحال به ورلره حاصل شوے وی بیا به وویلے شی د پاره د دفع د وهم د جور یا

د تیروتلو په حساب کښ چه اَلْیَوْمَ تُجْزٰی نن ورځ به جزا ورکولے شی کُلُّ نَفْسٍ هر شخص لره بِمَا
کَسَبَتْ ط په قدر د هغه عمل چه کړی وی دہ او لَا ظُلْمَ الْیَوْمَ ط نشته هیڅ قدر ظلم نن ورځ نه په
کمولو د نیکئ او نه په زیاتولو د بدئ او نه په نیولو د یو سړی په گناه د بل ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ
سَرِیْعُ الْحِسَابِ ⑰ د یر جلت دے په حساب کښ او بل تیروتل هم پکښ نشته نو نقصان هیڅ لره
نهٔ ورولی د هیڅ څیز وَ اَنْذِرْهُمْ او ویروه اے رسوله دا کفار یَوْمَ الْاٰزِفَةِ له عذابه د ورځے د ډیر
نزدے څیزه چه قیامت دے او ازوف قرب دے نو قیامت ته ازفه وایهٔ شی له جهته د قرب دده
اِذِ الْقُلُوْبُ په هغه وخت چه زړونه د دوئ لَدَی الْحَنَاجِرِ په نزد د حلقو نو به وی یعنی زړونه به
ئے له خپله ځایه راپورته شوی وی له ډیره خفګانه او غمه او حلقونو ته به ولاړ وی او نه به راووځی
چه مړهٔ شی او نه بیرته خپل ځائ لره ځی چه په ارام شی کٰظِمِیْنَ ط په دے حال چه زغمونکی به
ځښتنان دے زړونو د غم او د خفګان مَا لِلظّٰلِمِیْنَ نهٔ به وی دے ظالمانو یعنی کافرانو لره په دغه
ورځ کښ مِنْ حَمِیْمٍ هیڅوک دوست مهربانه چه د عذاب تر دفع کا وَّ لَا شَفِیْعٍ یُّطَاعُ ⑱ او نهٔ
کوم شفاعتګر چه په شفاعت ئے له عذابه خلاص که یَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْیُنِ پوهیږی خدائ په خیانت
د سترګو لکه نظر ثانی شهٔ غیر محرم ته یا سترګک وهل په عیبونو د خلقو وَ مَا تُخْفِی الصُّدُوْرُ ⑲
او پوهیږی په هغه څیزونو هم چه پټوی ئے سینے د خلقو لکه امانت او خیانت او نظر د شهوت اجنبیه
پټه بیا تفکر په جمال د دے کښ وَاللّٰهُ یَقْضِیْ او خدائ به حکم کوی بِالْحَقِّ ط په حق سره په جزا د نیکو
کارانو او بدکارانو وَ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ او هرچه هغه بتان دی چه بولی ئے دا مشرکان مِنْ دُوْنِهٖ غیر
له خدائ لَا یَقْضُوْنَ بِشَیْءٍ ط حکم نهٔ شی کولے دوئ په هیڅ څیز نه د خیر او نه د شر ځکه چه اول خو
دوئ جمادات دی قادر نهٔ دی په حکم او دوئم که بالفرض حکم وکه نو حکم ئے بے ځایه دے ځکه چه
دوئ پخپله مخلوق او مملوک دی او د مملوک حکم په هیچا باندے نافذ نهٔ دے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ
چه دے هُوَ السَّمِیْعُ هم دے دے اوریدونکے د اقوالو د عبادو الْبَصِیْرُ ⑳ لیدونکے د افعالو د
دوئ اَوَلَمْ یَسِیْرُوْا ایا نهٔ ګرځی دا مشرکان د مکے فِی الْاَرْضِ په زمکه د شام او د یمن په وخت
د سفر د پاره د سودا ګرئ یعنی ګرځی فَیَنْظُرُوْا پس وګوری دوئ کَیْفَ کَانَ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ

اخره خاتمه د هغه کسانو مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ چه وو دوئ پخوا له دغه مشرکانو لکه عاد او ثمود او موتفکات
او دا سے نور هم ؕ کَانُوۡا چه وو هغه پخوانی مکذبان هُمۡ اَشَدَّ هم دوئ ډیر سخت مِنۡهُمۡ قُوَّةً وَّ اٰثَارًا له
دغه مکیانو هم په جهت د قوت او هم له جهته دنښو فِی الۡاَرۡضِ په زمکه کښی لکه لوئ لوئ بنارونه او
چونه گچ قلاګانے او هسکے بنګلے او نور دا سے رنګا رنګ عمارتونه فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ پس ونیول دوئ خدائ
یعنی هلاك ئے کړهٔ بِذُنُوۡبِهِمۡ ؕ په سبب د ګناهونو د دوئ چه کفر او تکذیب وو وَمَا کَانَ لَهُمۡ او نهٔ
وو دوئ لره مِّنَ اللّٰهِ له خدائ یعنی له عذابه د دهٔ مِنۡ وَّاقٍ ﴿۲۱﴾ هیڅوك ساتونکے چه له دوئ هغه
عذاب لرے کا۔ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ دا نیول د دوئ په دے سبب وو چه بیشکه دوئ چه وو کَانَتۡ
تَّاۡتِیۡهِمۡ دا سے کار وو چه راتله به دوئ لره رُسُلُهُمۡ بِالۡبَیِّنٰتِ رسولان د دوئ په ښکاره دلیلونو او
معجزو فَکَفَرُوۡا پس کفر به ئے اختیار که او د رسولان به ئے و نهٔ منل فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ پس ونیول
دوئ خدائ یعنی هلاك به ئے کړه اِنَّهٗ قَوِیٌّ بے شکه چه دے خښتن د ډیر قوت دے شَدِیۡدُ
الۡعِقَابِ ﴿۲۲﴾ سخت عقوبت دے په اهل شرکو وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا او هرآئینه په تحقیق لیږلی وو موږ
مُوۡسٰی بِاٰیٰتِنَا موسیٰ علیه السلام له معجزو خپلو سره چه هغه آیات تسعه وو وَسُلۡطٰنٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۲۳﴾
او په ښکاره حجت سره چه عصا وه اِلٰی فِرۡعَوۡنَ فرعون ته چه بادشاه وو د مصر وَهَامٰنَ او هامان ته
چه وزیر وو د دهٔ وَقَارُوۡنَ او قارون ته چه تربور یا خورے وو د موسیٰ علیه السلام او مقرب
وو د فرعون نو دوئ ئے و بلل توحید ته فَقَالُوۡا پس وویل دوئ سٰحِرٌ کَذَّابٌ ﴿۲۴﴾ چه
جادوګر دے په اظهار د خوارق کښی ډیر دروغ ګوئ دے په دے ګفتار کښی چه بل خدائ
شته او زهٔ رسول یم فَلَمَّا جَآءَهُمۡ بِالۡحَقِّ پس هر کله چه راغے دوئ لره هغه پیغام چه رښتیا
وو مِنۡ عِنۡدِنَا له جانبه زمونږه په لسان د موسیٰ علیه السلام قَالُوا اقۡتُلُوۡۤا نو وویل دوئ
عملے خپلے ته چه قتلوئ تا سے اَبۡنَآءَ الَّذِیۡنَ ځامن د هغه کسانو اٰمَنُوۡا مَعَهٗ چه ایمان ئے
راوړیدے له دهٔ سره یعنی اوس بیا دویم کرت قتل کړئ کړئ په ځامنو ئے چه له دهٔ بیزاره
شی لکه چه پخوا ئے کړے کړے وو تلے له جهته د دهٔ وَاسۡتَحۡیُوۡا نِسَآءَهُمۡ ؕ او ژوندئ پریږدئ
تا سے ښځے یعنی لونړه د دوئ د پاره د خدمت وَمَا کَیۡدُ الۡکٰفِرِیۡنَ او نهٔ دے مکر او فریب د کافرانو له

انبیاؤ اوله مؤمنانو سره اِلَّا فِیْ ضَلٰلٍ ﴿۲۵﴾ مگر په گمراهئ او بې عقلئ کښې دے ځکه چه هغه مکرونه اندے
نه ځی بلکه بیرته په هم دوئ راګرځی **روایت** دے چه هر کله فرعون عجز خپل ولیدهٔ نو اراده
ئې وکړه د قتل د موسیٰ علیه السلام اما خواصو ئې ورته وویل چه په قتل به خلق دا سے گمان
وکړی چه ورته عاجز شو ځکه ئې مړ کړو او دے خو ساحر دے نو ساحران ورله راوله او په
هغوئ ئې پړ که نو بیائې مړ کړه او دے هم په زړه کښې ویریده له دے چه که اراده د قتل ئې
وکړم او سره له دے چه پکښې خو ما ته ښهٔ معلوم دے چه دے پیغمبر دے په حق سره نو مبادا
چه فی الحال پرے هلاک شم نو قتل ئې نهٔ شو کولے لکه چه وائی وَقَالَ فِرْعَوْنُ او وویل فرعون
علے خپلے ته ذَرُوْنِیْٓ پریږدئ ما اَقْتُلْ مُوْسٰی چه مړ کړم زه موسیٰ علیه السلام وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ ۚ
او میاید چه دِ راوبولی دے رب خپل چه اوس ئې له ما خلاص که اِنِّیْٓ اَخَافُ بیشکه زهٔ
ویریږم اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ له دے چه بدل کا او تغیر ورکه دے دین ستاسے لره یعنی چه
حصار که دے تاسے له عبادته ځما او د بتانو ځنے اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ یا له دے چه ظاهر کا دے او
برپائی کا فِی الْاَرْضِ الْفَسَادَ ﴿۲۶﴾ په دے زمکه د مصر کښې فساد دا سے چه تا یعان پیدا کا او بیا به له
تاسے سره جنګ برپائی که وَقَالَ مُوْسٰۤی او وویل موسیٰ علیه السلام قوم خپل ته پس له
هغه چه په دے گفتار د فرعون خبر شو اِنِّیْ عُذْتُ چه زهٔ پناه نیسم بِرَبِّیْ وَرَبِّكُمْ په خپل او
او په رب ستاسے پورے مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ له هره کبرجنه سرکشه یعنی له شره د ده دلے متکبر لَّا يُؤْمِنُ
چه نهٔ راوړی دے ایمان او باور نهٔ کوی بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۲۷﴾ ع په راتلو د ورځے د حساب او د جزا ع ۳ ۸
بیا هر کله چه د امصلحت د قتل د دهٔ مشهور شه نو دښمنان ئې خوشحاله شوا او دوستان ئې خفه شو وَقَالَ
رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖ ق او وویل یو سړی چه مؤمن وو او وو دے مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ له خیلخانے د فرعون او چا
ویلی د تره ځوئ ئې وو او نوم ئې خربیل یا سمعان وو يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ چه پټاوو دهٔ ایمان خپل له
فرعونیانو یعنی په هغه وخت چه دے خبر شه له دغه مصلحته نو راغے او دوئ ته ئې وویل چه اَتَقْتُلُوْنَ
رَجُلًا آیا وژنئ تاسے یو سړے اَنْ يَّقُوْلَ په دے چه وائی دے رَبِّيَ اللّٰهُ چه رب ځما الله دے
جل شانهٗ وَقَدْ جَآءَكُمْ او حال دا چه په تحقیق راوړے دے دهٔ بِالْبَيِّنٰتِ ښکاره معجزے

او دلیلونه مِنْ رَّبِّكُمْ ؕ له جانبه د رب ستاسے لکه عصا او ید بیضا او داسے نورے ډیرے وَاِنْ
يَّكُ كَاذِبًا او بل دا چه که چرے وی دے دروغګوئی نو تاسے ته هیڅ زیان نه رسیږی ځکه چه فَعَلَيْهِ
كَذِبُهٗ ۚ پس په هم دهٔ به بیرته راوګرځی وبال د دروغو دهٔ او هم دے به پرے هلاک شی وَاِنْ يَّكُ صَادِقًا او که
چرے وی دے رښتینے يُّصِبْكُمْ نو وبه رسیږی تاسے ته بَعْضُ الَّذِىْ يَعِدُكُمْ ؕ بعضے له هغه عذابه چه
وعده کوی دے دهغه له تاسے سره او بعضے ځکه ووئیل چه دے خودرته هم عذاب د دنیا او هم د
اٰخرت وائی نو دا بعضے چه د دنیاوی دا خو فی الحال به درله راشی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائی چه دے
لَا يَهْدِىْ سمه لار نهٔ ښائی یعنی توفیق نهٔ ورکوی د هدایت مَنْ هُوَ هر هغه چالره چه دے مُسْرِفٌ
كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ اسراف کونکے ډیر دروغ ګویه. او دا په ظاهر کښ ئے موسیٰ علیه السلام بنوده او
پکښ اشارت وو فرعون ته یعنی دے مسرف دے په شرك او په قتل د بے ګناه هلکانو کښ او
ډیر کذاب دے په دعوٰی د ربوبیت کښ او په انکار کښ له رسالته د موسیٰ علیه السلام تحه يٰقَوْمِ
اے قومه ځما لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ تلسے لره بادشاهی نن ورځ ظٰهِرِيْنَ په دے حال چه غالب
یئ تاسے په بنی اسرائیلو فِى الْاَرْضِ ؗ په دے زمکه د مصر کښ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا پس څوك دے چه
مدد کاری به وکه له موږه سره او وبه ساتی موږه مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ له عذابه د خدائی اِنْ جَآءَنَا ؕ که
چرے راشی دا عذاب موږه ته له موسیٰ علیه السلام سره بیحش پکار نهٔ دے قَالَ فِرْعَوْنُ نو ووئیل
فرعون هم هغه مؤمن او هغه نورو خلقو ته چه حاضر وو په مجلس کښ مَآ اُرِيْكُمْ چه نهٔ ښائم
زهٔ تاسے ته په باب د موسیٰ علیه السلام کښ اِلَّا مَآ اَرٰى مګر هم هغه مصلحت چه وینم زهٔ
چه په دے کښ خیر دے تاسے لره چه قتل دے دهٔ وَمَآ اَهْدِيْكُمْ او نهٔ ښایم تاسے په حق د دهٔ
کښ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ مګر لار د صلاحیت او د صواب بیا نو حضرت خربیل بله طریقه د نصیحت
ورته اغاز کړه چه هلاك د پخوانو مکذبانو ئے ورته حجت کړو لکه چه وائی وَقَالَ الَّذِىْٓ اٰمَنَ او ووئیل
هغه سړی چه ایمان ئے راوړے وو يٰقَوْمِ اے قومه ځما اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه چه زهٔ ویریږم
په تاسے له جهته د دهٔ د غهٔ تکذیبه ستاسے چه مبادا رانه شی دربانده مِّثْلَ يَوْمِ الْاَحْزَابِ ﴿۳۰﴾
په مثل د عذاب د ورځے د ډلے دا ممو سابقو په سبب د تکذیب د رسلو بیا نو تفصیل کوی د احزابو لکه

وائی مِثْلَ دَاْبِ په مثل دحال د قَوْمِ نُوْحٍ قوم د نوح علیه السلام چه ټول په طوفان هلاک شو
وَّعَادٍ او په شان دعاد یانو چه په باد صرصر ټول هلاک شو وَّ ثَمُوْدَ او په شان د ثمود چه ټول
په چیغه هلاک شو۔ وَالَّذِیْنَ او په شان دهغو نورو مکذبانو مِنْ ۢ بَعْدِهِمْ ط چه له دغه درے وارو
تیر شوی دی لکه مؤتفکات او اصحاب دایکے وَمَا اللّٰهُ یُرِیْدُ او نهٔ دے خدائی داسے چه اراده
کوی ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ (۳۱) د ظلم په بندګا نو خپلو چه بےګناه دوئی په عذاب کا۔ نو تاسے بے فرمانی مهٔ کوئی
چه مستحق دعذاب نهٔ شئ وَ یٰقَوْمِ او اے قومه خما اِنِّیْ اَخَافُ عَلَیْکُمْ بیشکه چه زه ویریږم په تاسے
له جهته د دے تکذ یبه ستاسے یَوْمَ التَّنَادِ (۳۲) له عذاب د هغه ورځے د بللو یعنی د نا روسره یو بل
ته د پاره د فریاد رسئ او هیڅوک به دچا فریاد رسی نه شی کولے یا چه جنتیان به دوزخیانو ته نارے
وهی او د وزخیان به جنتیانو ته لکه سورهٔ اعراف کښ په تفصیل بیان شوے دے یا چه موت به ذبح
کړے شی او غږ به وکړے شی چه یا عه اهل الجنة خلود ولاموت ویا اهل النار خلود ولاموت. یا
چه غږ وشی الا عه ان فلانا سعد سعادة لا یشقی بعدها ابدًا الا ان فلانا شقی شقاوة لا یسعد بعدها
ابدًا. یَوْمَ تُوَلُّوْنَ په هغه ورځ چه بیرته وګرځولے شئ تاسے له موقف د حساب د دوزخ ته او روان شئ
تاسے مُدْبِرِیْنَ ج شا ګرځونکی موقف ته په طرف داور مَا لَکُمْ مِّنَ اللّٰهِ نهٔ به وی تاسے لره له عذابه
د خدائی مِنْ عَاصِمٍ ج هیڅوک ساتونکے وَمَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ او هرڅوک چه ګمراه کړ او ولغزوهٔ خدائی فَمَا لَهٗ
مِنْ هَادٍ (۳۳) پس پیدا به نهٔ شی هغهٔ لره هیڅوک لاره ښودونکے وَلَقَدْ جَآءَکُمْ او هر ائینه په تحقیق
راغلے وو تاسے لره یُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ یوسف علیه السلام مخوا له موسیٰ علیه السلام نه
بِالْبَیِّنٰتِ په ښکاره معجزو سره فا ئده لا لهٔ لقد جاءکم یوسف نه داسے معلومیږی چه دلته
یوسف دے کار و نو نه دے چه کهٔ دا مذکور یوسف بن یعقوب علیهما السلام وی نو دا فرعون د
موسیٰ علیه السلام هم هغه فرعون د یوسف علیه السلام دے چه عمرئے اوږد شوید ے
او ددهٔ زمانے نه رسیدلے دے او یا دا بل یوسف دے چه ځوئ دے د افرایم بن یوسف

عه یعنی اے اهل د جنت همیشه اوسئ په دهٔ کښ او نشته مرګ او اے اهل د دوزخ همیشه اوسئ په دهٔ کښ او نشته مرګ ۱۲
عه پس خبر دار شئ په تحقیق سره فلانکے نیک بخت شهٔ په نیک بختئ سره چه بد بخته به نهٔ شی پس له دے هیڅیرے او په
تحقیق سره بد بخته شهٔ فلانکے په بد بختئ سره چه نیک بخته به نهٔ شی پس له دے هیڅیرے ۱۲

بن یعقوب علیهما السلام او یادا نسبت شوے دے دا حوالو د پلرو او اولاد ته یعنی راغلی وو یؤ وته
ستاسے فَمَا زِلْتُمْ پس همیشه به وئ تاسے فِي شَكٍّ په شک او په گمان کښې مِّمَّا جَآءَكُم بِهٖ ط له هغه
حکم الٰهی چه راوړے وو دۀ تاسے لره هغه حکم شرعی حَتّٰٓى إِذَا هَلَكَ تر هغه پورے چه خو هلاك شویعنے
له دنیا تیر شو قُلْتُمْ نو وویل تاسے لَن يَّبْعَثَ اللّٰهُ له سره به راونهٔ لیږی خدائ مِنۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ط
پس د دهٔ هیڅ رسول یعنی هر کله چه مونږه دے ونهٔ منهٔ نو بل به راشی په دے سبب چه هغه به هم
ونهٔ منلے شی كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ همدا سے گمراه کوی خدائ په وادی د طغیان مَنْ هُوَ هر هغه څوك چه
دے مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ۨ ﴿۳۴﴾ له حده تیریدونکے وی په انکار کښې شک راوړونکے وی په هغه رسالت
کښې چه په معجزو ثابت شوے وی بیا اوس بیان کوی د مسرفانو مرتابانو وائی الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ
یعنی هغه کسان چه جگړے کوی له انبیاء علیهم السلام سره فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ په ابطال او په دفع د آیتونو
د خدائ کښې بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ط بے کومه حجته چه را غلے دے دوئ بلکه په تقلید د اباؤ یا
هسے په وهم خیل سره كَبُرَ مَقْتًا ډیر لوئ دے دا مسرف کذاله جهته د بغض یاد اجدال ئے
عِنْدَ اللّٰهِ په نزد د خدائ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ط او په نزد د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے
یعنی هم ئے خدائ او هم ئے مؤمنان دښمنان دی كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ همدا سے مهر وهی
خدائ د کفر او د شقاوت عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾ په هر زړهٔ د کبرجن د یر جبر کونکی
نکته بیا فرعون خپل وزیر ته نارے کړے د پاره د دے چه څخ د حاضرانو د مجلس له د غه وعظ د حضرت
خربیل بل طرفته وګرځی مبادا چه دا پند په دوئ کښې تاثیر وننهٔ کړی نکه چه وائی وَقَالَ فِرْعَوْنُ
او بیا وویل فرعون وزیرخپل ته چه يٰهَامٰنُ ابْنِ اے هامانه بنا که لِيْ صَرْحًا ماله یوه مانړئ
هسکه پخه چونږ بنکاره لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ بنایئ چه زه ورسیږم لارا او دروازو ته په
ختلو د دے مانړئ سره **نکته** دا اسباب ئے اول مبهم یاد کړهٔ او بیا اوس ئے واضح کوی د پاره
د تعظیم او تفخیم د شان د کار نو وائی اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ یعنی هغو لارو او دروازو د آسمانونو ته چه رسونکی
وی څما پورته یعنی له یو آسمانه بل ته او له هغه بیا پسے بل تر آخره پورے چه له دے نو آسمانونو پورته
وخیژم او عرش له ورسم فَاَطَّلِعَ پس آګاه شم او نظر وکړم اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى خدائ د موسیٰ

علیه السلام ته چه واقعی شته او که نشته وَاِنِّیْ او بیشکه زهٔ چه یم لَاَظُنُّهٗ کَاذِبًا هرائینه گمان
کوم په دهٔ د دروغژن په دے دعویٰ د دهٔ کښې چه غیر له ما بل خدائی هم شته دے وَكَذٰلِكَ
او همدا سے زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ بناسته کړے شوے وو فرعون ته سُوْٓءُ عَمَلِهٖ بدی د کردار د دهٔ وَصُدَّ
عَنِ السَّبِيْلِ ؕ او حصار کړے شوے وو دے له سمے لارے وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ او نهٔ وو دا مکر او فریب د
فرعون په ساز و لود دے مانړئ کښې د پاره د تلبیس شوم اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾ مګر په زیانکارئ او په
هلاک کښې دے وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ او بیا وویل هغه سړی چه ایمان ئے راوړے وو یعنی حضرت حزبیل
يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اے قومه خما پیروی کوئی خما اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾ و به ښایم درته
لاره د هدایت يٰقَوْمِ اِنَّمَا اے قومه خما بیشکه هم د اخبره ده چه هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا دا ژوندون چه
کوتاه دے مَتَاعٌ ز یولږ معاش دے د یو څو ورځو چه زوال ئے لري دے وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ او بیشکه اخرت
چه دے هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾ هغه حویلئ ده د ارام او د قرار چه زوال نهٔ لري مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً هر
څوک چه وکا بد کار فَلَا يُجْزٰٓى پس جزا نهٔ شي ورکاوهٔ هغهٔ له اِلَّا مِثْلَهَا ج مګر په قدر د هم هغه
سیئې او دا په حکم د عدل سره وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا او هر څوک چه وکا نیک کار مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى که نارینه
وي او که له ښځې وي وَهُوَ مُؤْمِنٌ او حال دا چه دے مومن وي ځکه چه قبول د عمل صالح مشروط
دے په ایمان سره فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چه موصوف دي په ایمان او په عمل صالح يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ داخل
به شي دوئ په جنت کښې يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بیا روزی به ورکاوهٔ شي دوئ له په هغه جنت کښې بِغَيْرِ
حِسَابٍ ﴿۴۰﴾ بے حسابه یعنی په قدر د عمل بلکه زیات له اندازے وتلے او دا په حکم د فضل سره
بیا هر کله چه فرعونیان پوهه شو په دے چه دهٔ هم ایمان راوړے دے نو دوی پرملامت ئے پیر وو ایهٔ
چه ولے نهٔ د فرعون پرستش نه کوے نو دهٔ هم ورته خطاب د عتاب اغاز کړو لکه چه وائی وَيٰقَوْمِ
مَا لِيْٓ او اے قومه خما څهٔ دي ما لره یعنی دا خما او ستاسے سره څرنګه د مخالفت معامله ده چه
اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ بولم زهٔ تاسے خلاصی ته له عذابه په توحید د خدائی او په متابعت د رسول
سره وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ ﴿۴۱﴾ ط او بولئ تاسے ما اور د دوزخ ته په عبادت او په متابعت د فرعون
سره تَدْعُوْنَنِيْ بولئ تاسے لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ د پاره د دے چه کفر اختیار کړم زهٔ په خدائے پورے

وَاُشْرِكَ بِهٖ او چه شریک کړم زهٔ له دهٔ سره په ربوبیت کښې مَا لَیْسَ لِیْ هغه څیز چه نشته ما لره بِهٖ عِلْمٌ ز
په هغه یعنی په ربوبیت د هغهٔ پوهه او دلته مراد په نفی د علم سره نفی د معلوم ده یعنې څرنګه شریک
کړم ورسره هغه څیز چه نهٔ دے اله او هرکله چه په واقعه کښې اله نهٔ دے نو علم په الوهیت ئے هم محال
دے وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ او حال دا چه زهٔ بولم تاسے اِلَى الْعَزِیْزِ هغه خدائی ته چه غالب او قادر دے په
تعذیب د مشرکانو الْغَفَّارِ ﴿۴۲﴾ چه بخښونکے دے او محوه کونکے دے د ګناهونو د موحدانو لَاجَرَمَ حق
او واقعی ده دا خبره او د اجَرَمَ فعل دے په معنی د حَقَّ او فاعل دا محکښې یعنې اَنَّمَا بیشکه هغه څیز
چه دے یعنی معبود ستاسے چه بتان دی تَدْعُوْنَنِیْٓ اِلَیْهِ چه بولئ تاسے ما هغهٔ ته یعنی عبادت
د هغهٔ ته لَیْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ نشته دهٔ لره بلنه یعنې طاقت د بلنې خپل عبادت ته د هیڅ یو حکمه چه د جماد
دے قابلیت د بلنې نهٔ لری فِی الدُّنْیَا په دے دنیا کښې وَلَا فِی الْاٰخِرَةِ او نه په آخرت کښې چه شفا عت
به وکه د چا وَاَنَّ مَرَدَّنَآ او بله دا هم حق ده چه بیشکه بیا رجوع ځمونږ ده اِلَى اللّٰهِ خاص خدائی
ته په مرګ سره او هلته بیا جزا د اعمالو به راکه مونږ لره وَاَنَّ الْمُسْرِفِیْنَ او بله دا هم حق ده
چه بیشکه مسرفان یعنې مشرکان چه دی هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ﴿۴۳﴾ هم دوئ ملګری یعنې همیشه او سیدونکی
دی د اور د دوزخ بیا نو فرعونیانو دهٔ د قتل اختیار هم وکړو نو دهٔ ورته وویل چه فَسَتَذْكُرُوْنَ پس
زر دے دا چه یاد به کړئ تاسے په وخت د معاینې د عذاب کښې مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ط صدق د هغه
اقوالو د نصیحت چه اوس ئے وایم زهٔ تاسے ته وَاُفَوِّضُ اَمْرِیْٓ اِلَى اللّٰهِ ط او سپارم زه هر کار خپل
خدائی ته هم جانی هم مالی هم دینی هم دنیوی خصوصًا دا ځان خپل او په هم دهٔ توکل کوم چه
ستاسے له شره م وساتی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائی بَصِیْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾ بینا دے د ټولو اقوالو او
افعالو د بندګانو هم ځما او هم ستاسے روایت دے چه هرکله حضرت خربیل له فرعونیانو
سره دا مباحثه وکړه نو تړے غرهٔ ته وتختیدهٔ او هلته په عبادت مشغول شو او خدائی چا پیره
ترے لیوان ودرول د پاره د نګهبانئ او فرعون یو زر تنه ورپسے چاوړ ولیږل نو زیات هغه لیوانو هلته
مات کړل او څوک چه بیرته ترے راغلل هغه ټول فرعون په غرغره کړهٔ او دے ترے صحیح سلامت خلاص
شهٔ لکه چه وائی فَوَقٰىهُ اللّٰهُ پس وساتهٔ دے خدائی په حمایت خپل سره سَیِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا له سختئ

د انواع د هغه عذاب چه دوئ ورته په مکر او فریب سره بنا کړے وو وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ او نازل شهٔ
په اٰل د فرعون یعنی په قوم ئے سره له دهٔ او چاپیره شهٔ ترے سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ بد عذاب چه په دنیا
کښی غرق دے او بیا په اٰخرت کښی اَلنَّارُ اور د دوزخ دے یُعْرَضُوْنَ عَلَیْهَا چه عرض کاوه شی دوئ
په دغه اور یعنی خودلے شی دوئ ته په برزخ کښی هغه ځائ د استوږنے د دوئ له دوزخ غُدُوًّا
وَّعَشِیًّا ج هر صبا او هر بیګاه وَیَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ قف او بیا په هغه ورځ چه برپائ شه قیامت نو
رب العزت به ووائی ملائکو ته چه اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ ننه باسئ فرعونیان اَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿۴۶﴾ په
سخت عذاب کښی له هغه عذابه د برزخ چه عذاب دے د جهنم وَاِذْ یَتَحَآجُّوْنَ او یاد که هغه
چه جګړه به کوی سره یو تر بله دا دوزخیان فِی النَّارِ په اور د دوزخ کښی فَیَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا پس وبه
وائی عاجزان د قوم لِلَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْٓا هغه کسانو ته چه کبرجن او مشران وو په دنیا کښی یعنی تابعان
به خپلو متبوعانو ته ووائی چه اِنَّا کُنَّا بیشکه چه مونږه وو په دنیا کښی لَکُمْ تَبَعًا تاسے لره تابعان
او فرمانبرداران او تاسے بللی وو شرک او تکذیب د انبیاؤ علیهم السلام ته او دا هم تاسے سبب شوئ
د دخول ځمونږه په دے دوزخ کښی فَهَلْ اَنْتُمْ پس آیا اوس یئ تاسے مُّغْنُوْنَ عَنَّا دفع کونکی له
مونږه څخه نَصِیْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿۴۷﴾ یو برخه له اوره قَالَ الَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْٓا نو وبه وائی هغه کسان
چه متکبران او متبوعان وو چه مونږه کله قادران یو په دفع د عذاب له تاسے نهٔ کوړئ دے ته چه
اِنَّا کُلٌّ فِیْهَآ لا بیشکه مونږه ټول پراته یو په دے اور کښی یعنی کهٔ مونږه قادر وے په دفع د عذاب
نو اول به مو له خپل ځان نه دفع کړے وو اما دا ځمونږه له قدرته بیرون ده ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بے
شکه خدائ قَدْ حَکَمَ په تحقیق حکم کړے دے په مقتضی د حکمت سره بَیْنَ الْعِبَادِ ﴿۴۸﴾ په مابین
د بندګانو د اسے چه هر څوک ئے خپلو خپلو هغو ځایونو لره چه له دوئ سره لائق ولیږل مستحقان
د جنت جنت لره او لائقان د دوزخ دوزخ لره وَقَالَ الَّذِیْنَ او بیا به ووائی هغه کسان فِی النَّارِ چه
په اور کښی به وی پس له هغه چه یو له بلهٔ سره امید قطع شی لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ خزانچیانو د دوزخ
ته ادْعُوْا رَبَّکُمْ چه وبولئ یعنی سوال او زاری وکړئ ځمونږ د پاره رب خپل ته یُخَفِّفْ عَنَّا چه
سپک کا دے له مونږه څخه یَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ﴿۴۹﴾ یوه ورځ په مقدار د ایامو د دنیا یو قدر لـه

عذاب تخفیف کړی چه په مونږ ه لږ بار سپک شی او دوی ته به ځکه وائی چه د دوی سوال به قبول نکړی

قَالُوْٓا نو وبه وائی خزانچیان دوی ته چه اَوَلَمْ تَكُ ایا نهٔ وو دا حال چه تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ راغلی وو

تاسے لره په دنیا کښی رسولان ستاسے بِالْبَيِّنٰتِ ؕ له ښکاره معجزو سره له جانبه د خدائ او دعوت

ئے کړے وو تاسے ته قَالُوْا بَلٰى ؕ نو وبه وائی دا دوزخیان چه ولے نهٔ وو راغلی بلکه راغلی وو خو مونږ

ئے تکذیب کړے وو. قَالُوْا فَادْعُوْا ج نو وبه وائی ورته خزانچیان چه هرکله حال دا ستاسے دے نو اوس

تاسے بولئ خدائ او مونږ ته خو اذن د سوال نشته او کوئ سوال ورته اما بے مصرفه ځکه چه وخت

داجابت د تخفیف تیر شوے دے چه د نیا وه وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ او نه ده بلنه او سوال د کافرانو اِلَّا

فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۵۰﴾ ع مګر په بطلان او په ضایع والی کښی ده ځکه چه هیڅ فائده نهٔ لری او دا کلام یا د 　ع۵ ۱۰

خدائ دے یا د خازنانو دے اِنَّا بیشکه مونږه چه یو لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا هرائینه مدد کوو لـــه

رسولانو خپلو سره وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او له هغه کسانو سره چه ایمان ئے راوړے دے فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

هم په دے وار ه ژوندون کښی په حجت او په ظفر او په انتقام سره له اعداؤ د دوی وَيَوْمَ يَقُوْمُ

الْاَشْهَادُ ﴿۵۱﴾ لا او هم په هغه ورځ چه ولاړ به شی شاهدان یعنی په ورځ د قیامت د پاره د ادا د

شاهدئ په خلقو کهٔ ملائک دی کهٔ انبیاء کهٔ مؤمنان دی يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ په هغه ورځ

چه نهٔ به رسوی هیڅ نفع ظالمانو ته مَعْذِرَتُهُمْ عذر خواهی د دوی او دا بدل دے له يَوْمَ يَقُوْمُ

وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ او مقرر دے دوی لره لعنت یعنی لرے والے له رحمت د خدائ وَلَـــهُمْ سُوْٓءُ

الدَّارِ ﴿۵۲﴾ او بل مقرر دے دوی لره بده حویلئ چه دوزخ دے وَلَقَدْ اٰتَيْنَا او هرائینه په تحقیق

ورکړے وو مونږه مُوْسَى الْهُدٰى موسی علیه السلام لره رهنمائی یعنی هر هغه څیز چه

لاره پرے موندہ شی کهٔ معجزات دی او کهٔ تورات دے او کهٔ نور شرائع دی وَاَوْرَثْنَا او میراث

باتے کړهٔ یعنی پریخودهٔ مونږه پس له وفاته د دهٔ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿۵۳﴾ لا بنی اسراءیلو ته کتاب

یعنی تورات هُدًى وَّذِكْرٰى هم رهنمائی او هم پند لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۵۴﴾ د پاره د خښتنانو د خالصو

عقلونو فَاصْبِرْ پس صبر وکړه اے رسوله په ایذا د کفارو اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه وعده د

خدائ حق ده د نصرت د انبیاؤ علیهم السلامُ او د هلاک د اعداؤ او دا معلوم کا له حالـه

د موسیٰ علیه السلام چه په اخرکښې نصرت ورسره وشهٔ په فرعون وَّاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ او بخښنه
وغواړه له خدائ دپاره دګناه خپل داکلا په حذف د مضاف سره ده ای لذنب امتك یعنی دپاره
دګناه دامت خپل وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ او تسبیح وایه سره له ثنا درب خپل بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿۵۵﴾ هم
په اخراوهم په اول دورځې کښې یعنی سبحان الله وبحمده وایه یا مراد ترې دوه مونځونه دی د
ماذدیګر او دصباځکه چه اول په مکه کښې هم دادوه مشروع وو فقط روایت دے چه هرکله مشرکانو
د مکے به مجادله کوله له رسول صلی الله علیه وسلم سره په باب دقرآن او بعث کښې دا سے چه دا قرآن له
خدایه نهٔ دے راغلے بلکه خود ساخته کلام دے او بیا ژوندون هم له سره نشته نو نازل شو اِنَّ الَّذِيْنَ
بیشکه هغه کسان يُجَادِلُوْنَ چه جګړه کوی فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ په بطلان اودفع دایتونو دخدائ کښې
بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ بے کوم حجت اسمانی یا دلیل عقلی اَتٰىهُمْ ؕ چه راغلے یا ښکاره شوے وی دوئ ته
بلکه محض په تعصب او په حماقت سره اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ نهٔ دی په سینو ددوئ کښې اِلَّا كِبْرٌ
مګر کبر سرکشی له حقے خبرے یا د مشرئ او دریاست چه د دوئ دپاسه بل هیڅوك نهٔ وی یا حکم
یا لوئی موهومه دا سے کبر او ریاست مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ چه نهٔ دی دوئ رسیدونکی هغه ته
فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ پس پناه ونیسه په خدائ پورے له شره ددوئ اِنَّهٗ بیشکه دے چه دے هُوَ السَّمِيْعُ هم دے
اوریدونکے دے داقوالو ددوئ الْبَصِيْرُ ﴿۵۶﴾ لیدونکے دے د افعالو ددوئ نو جزا به ورکا ورلره لَخَلْقُ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هر اٰئینه پیدا کول داسمانونو اود زمکے چه دی اَكْبَرُ ډیر لوی دی په نزدستا سے
مِنْ خَلْقِ النَّاسِ له پیدا کولو دادمیانو هغه څوك چه قادر دے په پیدا کولو ددا سے اجراموعظامو
بے مادے او بے نمونے هغه بیشکه قادر دے په پیدا کولو دانسان دویم کرت سره له وجود د مادے
او نمونے وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات خلق چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ نه پوهیږی په دے چه
دا دویم کرت پیدا اینبت اسان دے له اوله وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى او نهٔ برابریږی سره پوروند وَ
الْبَصِيْرُ ۙ او بل بینا یعنی غافل اوذ اکر یا جاهل یا عالم یا دا سے نور وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هم دا نه برابریږی
سره هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه ئے کړیدی دنیکو وَلَا الْمُسِيْٓءُ ؕ
او نه هغه بدکاردی یعنی لکه چه روند او بینا سره برابر نهٔ دی په دنیا کښې همدا سے مؤمن او کافر

هم سره برابر نهٔ دی په عقبیٰ کښې قَلِيۡلًا مَّا تَتَذَكَّرُوۡنَ ﴿۵۸﴾ لږ پند اخلی تاسې اے خلقو او هر کله
چه دا دنیا دار د تکلیف او د امتحان وو نو بیا دار د جزا هم پکار دی چه هر حقدار په خپل حق
ورسیږی نو ځکه وائی اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ بیشکه قیامت چه دے هرائینه راتلونکے دے لَّا رَيۡبَ فِيۡهَا
نشته هیڅ شک په راتلو د هغه کښې ځکه چه اتفاق دے د ټولو رسولانو په وقوع د هغهٔ کښې وَلٰكِنَّ
اَكۡثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات د خلقو چه دی لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۹﴾ ایمان نهٔ راوړی په دے قیامت او تصدیق
ئے نهٔ کوی له جهته د کم فکرئ خپلے وَقَالَ او وائی رَبُّكُمُ ادۡعُوۡنِىۡۤ رب ستاسې اے بندګانو چه
بولئ ما او سوال راته کوئ اَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ ؕ چه قبول کړم زهٔ تاسې لره سوال ستاسې یا توحید کوئ
ځما چه مغفرت درته وکړم یا عبادت کوئ ځما چه جنت درکړم او د دے ورو ستی شاهد دا دے
چه اِنَّ الَّذِيۡنَ بیشکه هغه کسان يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ چه کبر او سرکشی کوی دوئ عَنۡ عِبَادَتِىۡ له عبادته
ځما نو سَيَدۡخُلُوۡنَ جَهَنَّمَ زر دے چه داخل به شی په دوزخ کښې دٰخِرِيۡنَ ﴿۶۰﴾ خوار خسته **نظم**

تاویلی دی له فضل اے خالقَ مهربانه　　چه ما بولئ بندګانو او هم سوال کوئ له مانه
قبلوم به زهٔ له تاسې هغه سوال چه په خلوص وی　　خو ګ چه سوال نهٔ کړی له کبرځی به اور له بے ګمانه
ځکه غواړو له تا داسې چه ساتے مونږه له شره　　د اعمالو بدو خپلو بیا له نفسه له شیطانه
بیا له تا نه غواړو عفو هم بخشش د ګناهو نو　　برخه وکړے ځمونږه غنته ته له عفو له غفرانه
بیا ساتے مونږ حفیظه ته د قبر له عذابه　　هم امان را کړے له حرق او له حوف د نیرانه
بیا مونږه تیر کړے بے حسابه بر جنت ته چه فردوس دے　　ذو المنن ئے عطا وکړے بے عوضه اے منانه
دا مَراد چه بینوا دے طلبګار د عطا دے　　برخه غواړی ډیره غنته ستا له حب له رضوانه

اَللّٰهُ الَّذِىۡ خدائ هغه مهربان چه جَعَلَ لَكُمُ الَّيۡلَ پیدا کړے ئے ده تاسې لره په فضل خپل
شپه لِتَسۡكُنُوۡا فِيۡهِ د پاره د دے چه آرام وکړئ تاسې په هغے کښې له جهته د تیرے او په راحت شی به
کښې بدن ستاسې لکه مقوله ده چه النوم راحة البدن و زیادة العقل وَالنَّهَارَ مُبۡصِرًا ؕ او پیدا
کړے ده ده ورځ لیدونکے یعنی سبب د لید لو ستاسې چه کسب او معاش پکښې کوئ له جهته د رڼا
او دا اسناد د لید لو نهار ته مجاز دے د پاره د مبالغه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَذُوۡ فَضۡلٍ هر اَئینه

بخښنې د فضل او د مهربانۍ دے عَلَى النَّاسِ په ادمیانو چه اول ئې پیدا کړه اوبیائې روزي جامه عقل فکر وغیره ورکړهٔ او بیا ئې اسباب دارام او د راحت او د کسب او د معاش ورله پیدا کړه چه لیل او نهار دے وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات دخلقو چه دي لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۱﴾ شکر نهٔ کوي په دے نعمتونو ذٰلِكُمُ دا کار ونه چه کوي چه له خواصو د الوهیت او د ربوبیت دي اَللّٰهُ رَبُّكُمْ هغه خدائې دے چه رب ستاسے دے خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ م چه پیدا کونکے دے د هر څیز لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته بل هیڅوک لائق د عبادت مګر هم دے دے یوازے فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۲﴾ پس څرنګه او په کومه وجه کرځولے کیږئ تاسے له عبادته د دهٔ د بل چا عبادت ته كَذٰلِكَ همدا سے لکه چه کرځولے شوے دے دغه قوم ستا يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ کرځولے کیږي له حقه هرهغه کسان كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ چه وي دوئ چه په ایتونو د خدائې پورے يَجْحَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ انکار کوي اَللّٰهُ الَّذِيْ خدائې هغه قادر مطلق دے جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ چه کرځولے ده دهٔ تاسے لره دا زمکه قَرَارًا ځائے د ارام چه خپل ګذران او معاش پرے کوئ وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً او بل کرځولے ئے دے اسمان بام پاس په سر و نو ستاسے وَّصَوَّرَكُمْ او بل صورت بندي وکړهٔ دهٔ ستاسے فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ پس ډیر بنائسته ئې ساز کړهٔ صورتونه ستاسے. بادي البشرة مستقیم القامة غیر منکوس کالبهائم - په دے شان چه بل هیڅ حیوان دا سے بنائسته نهٔ دے ساز شوے وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ او بیا روزي ئې ورکړه تاسے لره له پاکیزه او لذتناکو څیزونو د ماکولاتو او اشرف ممتازه له ماکولاتو د حیوانا تو څخه ذٰلِكُمُ اللّٰهُ دا چه دا سے صورت بندي ئې کړے ده ستاسے - خدائې دے رَبُّكُمْ چه رب ستاسے دے فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ پس بلند شان دے د خدائې رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾ چه رب دے د تمام عالمیانو هُوَ الْحَيُّ هم دے ژوندے دے په دا سے حیوٰة سره چه ذاتي دے لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته بل هیڅوک لائق د عبادت مګر هم دے دے یوازے فَادْعُوْهُ پس هم دے بولئ تاسے هم او هم د دهٔ عبادت کوئ مُخْلِصِيْنَ په دے حال چه خالص کونکي اوسئ تاسے لَهُ الدِّيْنَ ط دهٔ لره دین خپل له شرکه او طاعت خپل له ریا. او وایئ دا سے چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ثناء د خدائې لره رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾ چه رب دے د تمام عالمیانو قُلْ و وایه اے رسوله هغه مشرکانو ته چه بولي

عه یعني ظاهر مخ برابر قد نه ټیټ سر لکه چارپایان ۱۲

تا دین دا باؤخیلو ته چه اِنِّیْ نُهِیْتُ بیشکه زهٔ منع کړے شوے یم اَنْ اَعْبُدَ له دے چه عبادت وکړم
الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ د هغه بتانو چه بولی ئے تاسے یعنی عبادت ئے کوئ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیرله خدائ
لَمَّا جَآءَنِیَ الْبَیِّنٰتُ هر کله یعنی پس له هغه چه راغلهٔ ماله ره بنکاره دلیلونه دتوحید مِنْ رَّبِّیْ زله
جانبه د رب خما وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ او مامور شوے یم زهٔ په دے چه منقاد شم زهٔ او غاړه کیږدم
لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ (۶۶) رب د تمام عالمیانو ته هُوَ الَّذِیْ دے هغه قادر مطلق دے خَلَقَكُمْ چه اول پیدا
کړئ دهٔ تاسے یعنی نیکهٔ ستاسے چه ادم علیه السلام دے مِّنْ تُرَابٍ له خاورو ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ بیائے
پیدا کړئ تاسے اے اولاده ددهٔ له اوبو دمنئ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ بیا له هغه کلک پارچے دوینو چه پس
له خلویښتو ورځو په رحم کښې سازه شوے ده له هغه اوبو دمنئ ثُمَّ یُخْرِجُكُمْ بیا راوباسی دے تاسے له
ارحامو دمیندو طِفْلًا ای اَطْفَالًا واړهٔ هلکان ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا بیا تربیت کوی ستاسے دپاره ددے
چه ورسیږئ تاسے اَشُدَّكُمْ منتهٰی دقوت خپل ته چه هغه له دیرشو کالو ځخه تر خلویښتو پورے
دے چه منتهٰی ده دشبات ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا بیا ژوندی ساتی تاسے دپاره ددے چه شئ تاسے شُیُوْخًا
زاړهٔ بے قوته بے مجاله وَمِنْكُمْ مَّنْ او بعضے له تاسے هغه څوك وی چه یُّتَوَفّٰی مِنْ قَبْلُ چه مرکاوهٔ
شی دے پخواله بلوغ یاله شیخوخة وَلِتَبْلُغُوْٓا او بل دپاره ددے چه ورسیږئ تاسے اَجَلًا مُّسَمًّی
هغه مودے ته چه په نامه کړے شوے ده چه وخت دمرګ ستاسے دے وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ (۶۷)
او بل دپاره ددے چه عقل وکړئ تاسے په دے پیدا ښت خپل کښې هُوَ الَّذِیْ دے هغه قادر
بیچون دے یُحْیٖ وَیُمِیْتُ ج چه هم ژوندی کول کوی او هم وژل کوی فَاِذَا قَضٰٓی اَمْرًا پس په
هغه وخت چه اراده وکه دے دموجود کولو دیو څیز فَاِنَّمَا یَقُوْلُ پس بیشکه هم دا خبره ده
چه ووائی دے لَهٗ كُنْ هغه څیز ته چه موجود شه فَیَكُوْنُ (۶۸) ع پس بیا موجود شی هغه فی الحال
بے مهلته بے کلفته اَلَمْ تَرَ ایا نهٔ وینے ته اِلَی الَّذِیْنَ هغه کسانو ته یُجَادِلُوْنَ چه جګړه او
نزاع کوی دوئ فِیْٓ اٰیٰتِ اللّٰهِ ط په ایتونو دخدائ کښې یعنی په قران کښې اَنّٰی یُصْرَفُوْنَ (۶۹) ع
چه څرنګه کرځاوه شی له تصدیق دهغو بل طرف یاله ایمانه او داجګړه کونکی دی اَلَّذِیْنَ كَذَّبُوْا
هغه کسان دی چه تکذیب کړے دے دوئ بِالْكِتٰبِ هم په دے کتاب دخدائ چه

قرآن دے چہ کفار دی دیکے وَبِمَآ اَرۡسَلۡنَا اوپہ ھغہ څیز یعنی پہ ھغو کتابو نو یا پہ احکامو او شرائعو
چہ رالیږلی وو موږ د بہ رُسُلَنَا قف پہ ھغہ سرہ رسولان خپل فَسَوۡفَ یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۷۰﴾ پس زر دے
چہ معلوم بہ کا دوی عاقبت د تکذیب او د انکار خپل اِذِ الۡاَغۡلٰلُ پہ ھغہ وخت چہ اتشین طوقونہ
فِیۡۤ اَعۡنَاقِهِمۡ پہ گردنونو د دوی کښی بہ وی وَالسَّلٰسِلُ ط او زنځیرونہ ھم چہ پہ دے طوقونو کښی بہ
اچولی وی او بیا پہ دے زنځیرونو سرہ یُسۡحَبُوۡنَ ﴿۷۱﴾ فِی الۡحَمِیۡمِ ۵ لا راښکلے کیږی بہ دوی پرمخے پہ
خوټکیدلو او بو کښی پہ اور د دوزخ ثُمَّ فِی النَّارِ بیا پس لہ ھغہ پہ اور د دوزخ کښی یُسۡجَرُوۡنَ ﴿۷۲﴾
سیزلے او وریتولے بہ شی دوی ثُمَّ قِیۡلَ لَھُمۡ بیا پس لہ ھغہ وبہ ویلے شی دوی تہ اَیۡنَمَا کُنۡتُمۡ
چہ اوس چرتہ دی ھغہ بتان چہ وی تاسے پہ دنیا کښی تُشۡرِکُوۡنَ ﴿۷۳﴾ چہ شریکول بہ مولہ خدائی
سرہ پہ اُلوھیت کښی او عبادت بہ موکاوو د ھغو مِنۡ دُوۡنِ اللّٰہِ ط غیر لہ خدائی چہ اوس خلاص
کا تاسے لہ دے عذابہ قَالُوۡا نو وبہ وائی دوی ضَلُّوۡا عَنَّا چہ پناہ شوی دی اوس لہ سترگو
څمونږہ او د لتہ مونږہ ھیڅ منفعت ترے ونۂ لیدۂ بل لَّمۡ نَکُنۡ نَّدۡعُوۡا بلکہ گویا نۂ وو مونږہ
چہ بالہ بہ مو او عبادت بہ موکاوو مِنۡ قَبۡلُ شَیۡئًا ط مخوالہ دے پہ دنیا کښی د ھیڅ څیز یعنی اوس
راتہ دا معلوم شہ چہ څمونږہ ھغہ کارونہ ټول خطا و وکَذٰلِکَ یُضِلُّ اللّٰہُ ھمدا سے پشان د دغہ
مجادلانو گمراہان کوی خدائی الۡکٰفِرِیۡنَ ﴿۷۴﴾ کافران چہ لارہ بیا نۂ مومی ھغہ څیز تہ چہ دوی
لرہ نفع رسوی پہ آخرت کښی او بیا بہ ورتہ وویلے شی چہ ذٰلِکُمۡ دا گمراھی او لغزش ستاسے
چہ دے نن ورځ پہ آخرت کښی بِمَا کُنۡتُمۡ پہ سبب د دے دے چہ وی تاسے مخوا پہ دنیا کښی تَفۡرَحُوۡنَ
فِی الۡاَرۡضِ چہ خوشحالی بہ موکولہ او بے غمہ بہ گرځیدئی پہ زمکہ کښی بِغَیۡرِ الۡحَقِّ پہ ھغہ څیز چہ
غیر وو لہ حقہ یعنی باطل وو چہ ھغہ شرک او طغیان وَبِمَا کُنۡتُمۡ او بل پہ سبب د دے چہ وی
تاسے تَمۡرَحُوۡنَ ﴿۷۵﴾ چہ ناز او تکبر بہ موکاوو بیا بہ ورتہ وویلے شی چہ اُدۡخُلُوۡۤا اے ننوځئ
اَبۡوَابَ جَهَنَّمَ پہ ھغو او و دروازو د دوزخ کښی چہ ھر طائفہ لرہ بیلے بیلے مقرر شویدی لہ
تاسے خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَا ج پہ دے حال چہ ھمیشہ پاتے کیدونکی اوسئ پہ ھغہ کښی فَبِئۡسَ مَثۡوَی
الۡمُتَکَبِّرِیۡنَ ﴿۷۶﴾ پس بد آرامگاہ د متکبرانو دے دا دوزخ او ھر کلہ چہ حال دا سے دے نو

فَاصْبِرْ پس صبر کوه اے رسوله په ایذاء د قوم خپل ځکه اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ج بیشکه وعده د خدائ
په نصرت داولیاؤ او په هلاکولو د اعداؤ حق ده یعنی خامخا کید ونکے ده او خفګان مه کوه فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ
پس که چرے وخودو مونږ ه تا ته په حین د حیوٰة ستا کښ او دا په اصل کښ فان نرینک وو بیا ما پرے زائید
شوے دے د پاره د تاکید د معنیٰ د شرط ځکه نونَ ملحق کړے شو په فعل پورے بَعْضَ الَّذِيْ بعض له
هغه عذاب نَعِدُهُمْ چه وعده کوو مونږ ه د هغه له دوئ سره چه قتل او بندے دورځے د بدر او جزاد
اِنْ محذوف ده یعنی فبها ونعم اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ یا که مړ کړو مونږ ه تا مخوا له ظهوره هغه عذاب فَاِلَيْنَا
يُرْجَعُوْنَ (۷۷) پس خاص مونږ ته به راوستلے شي دوئ بیا په ورځ د قیامت او جزا به ورکړو تو لو له
یعنی په هیڅ وجه ځمونږ ه له عذابه خلاصید ونکی نهٔ دی دوئ روایت دے چه هر کله کفار و د مکے
رنګا رنګ معجزے وغوښتلے له رسول صلے اللّٰه علیه وسلم لکه چه په سورۂ بنی اسراءیل کښ تیر شوی
دی نو نازل شهٔ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا او هر آئینه په تحقیق لیږلی وو مونږ ه رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ رسولان مخوا له
تا مِنْهُمْ مَّنْ بعض له دوئ هغه دی قَصَصْنَا عَلَيْكَ چه قصے د هغو کړی دی مونږ ه تا ته چه هغه
۲۹
نهٔ ویشت پیغمبران علیهم السلام دی وَمِنْهُمْ مَّنْ او نور بعض له دوئ هغه دی لَّمْ نَقْصُصْ
عَلَيْكَ ط چه نهٔ دی کړی مونږ ه قصے د هغو تا ته چه هغه باقی دی له دوئ او مشوره دا سے ده چه
۱۲۴۰۰۰
نوں سره یو لکھ او څلیریشت زره پیغمبران علیهم السلام دی وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ او نهٔ دی
بائده هیڅ رسول لره او نه ئے له لاسه کیږی اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ دا چه راوړی دے کومه معجزه چه
علامه شي په نبوة د دهٔ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ج مګر په اذن د خدائ سره یعنی دوئ له دهٔ معجزه غواړی
او دے اختیار د هغه نهٔ لری بے اذن ځما او ځما په عدم د وقوع د هغو معجزو کښ حکمت دا دے چه
کهٔ هغه د دوئ غوښتے معجزے زهٔ واقع کړم او حال دا چه دوئ خو پس له هغه هم ایمان نه راوړی
نو عذاب به پرے نازل شي بے مهلته خامخا او ځما اراده لا نهٔ ده د هلاکولو د دوئ نو ځکه ئے نه واقع
کوم لکه چه وائ فَاِذَا جَآءَ پس په هغه وخت چه راشی اَمْرُ اللّٰهِ فرمان د خدائ په نزول د عذاب
پس له وقوع د دغو معجزو په غوښتو نکیو او بیانهٔ منونکیو له ډیره عناده قُضِيَ بِالْحَقِّ نو حکم به وکړے شي
په حق سره په مابین د رسول او د مکذبانو ئے وَخَسِرَ او زیان به وکا هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ (۷۸) په د غه ع ۸ ۱۲

ځای کښې باطل او دروغ بلونکی د دغه رسول او د دغو معجزو اَللّٰهُ الَّذِیْ خدائ هغه قادر مطلق دے
جَعَلَ لَکُمُ الْاَنْعَامَ چه پیدا کړی دی ده په حکمت بالغه سره تاسے لره چارپایان لکه فیلان او اوښان
او اسونه او قچرې او خرهٔ او غوایان او میږے او وزے بیا د ا انه واړه په دریے قسمه دی ځلور یکښې خاص د
سورلئ او د بار وړلو دی چه فیلان او اسونه او خره دی او دوه خاص د خوراك دی چه کډے او وزے
دی او دوه د دواړو کارونو دی چه اوښان او غوایان دی لکه چه وائی لِتَرْکَبُوْا مِنْهَا د پاره د دے چه
سوریږئ تاسے په بعضو د دوئ وَمِنْهَا تَاْکُلُوْنَ ﴿۷۹﴾ او له بعضو د دوئ خوراك کوئ تاسے وَلَکُمْ
فِیْهَا او دی تاسے لره په دے انعامو کښې مَنَافِعُ نفع رنګارنګ لکه نسل شودهٔ، وړئ او وژغنے او پوستکی
او داسے نور ډیر وَلِتَبْلُغُوْا عَلَیْهَا او بل د پاره د دے چه ورسیږئ تاسے په دے حَاجَةً فِیْ صُدُوْرِکُمْ
هر هغه حاجت ته چه په زړونو ستاسے کښې وی لکه مثلاً غلے او رختونه او نور ټول اسبابونه وړل
بل وطن ته په وخت د حاجت کښې وَعَلَیْهَا او بل په دے انعامو په برکښې وَعَلَی الْفُلْكِ او په بیړیو او
په جهازونو په بحر کښې تُحْمَلُوْنَ ﴿۸۰﴾ سورولے کیږئ تاسے وَیُرِیْکُمْ اٰیٰتِهٖ ۖ ق او ښائی خدائ تاسے
ته نښے د قدرت خپل فَاَیَّ اٰیٰتِ اللّٰهِ پس په کوم یوے باندے د نښو د خدائ چه دلالت کوی په
وحدانیت تُنْکِرُوْنَ ﴿۸۱﴾ انکار کوئ تاسے چه دا اله خدائ نهٔ دے اَفَلَمْ یَسِیْرُوْا ایا پس نهٔ دی ګرځیدلی
دوئ فِی الْاَرْضِ په زمکه د عاد او د ثمود کښې فَیَنْظُرُوْا پس چه نظر وکا دوئ کَیْفَ کَانَ چه څرنګه وه
عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ اخره خاتمه د هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ ط چه پخوا له دوئ تیر شویدی له امو کَانُوْا
اَکْثَرَ چه وو هغه پخوانی ډیر زیات مِنْهُمْ له دے کفارو په شمار کښې وَاَشَدَّ قُوَّةً او هم ډیر سخت
وو په قوت بدنی کښې له دوئ وَّاٰثَارًا فِی الْاَرْضِ او هم په هغه قدمونو کښې چه له ډیره زوره په تیږو
کښې ښخ شوی دی یا په هغو مانړیو او قلاګانو کښې چه اوس یے هم نښے ولاړے دی فَمَآ اَغْنٰی عَنْهُمْ
پس هیڅ قدر عذاب دفع نه کاله دوئ مَّا کَانُوْا هغه څیز چه وو دوئ یَکْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾ چه کسب
او پیدا کول به یے کول د هغه چه مال او جاه او سپاه وو فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ پس هر کله چه به راغلهٔ دوئ
لره رُسُلُهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ رسولان د دوئ په ښکاره معجزو سره فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ نو خوشحاله به شو
دا کفار په هغه څیز چه وو به دوئ څخه مِنَ الْعِلْمِ چه عبارت دے له پوهِ د دوئ یعنی دا خپله بے ورته

غورځ ښکاره شوه او د رسولانو علم به ورته سپک او هیڅ ښکاره شو چه ویل به یې چه مَآ اَنۡتُمۡ اِلَّا بَشَرٌ
مِّثۡلُنَا او ما نحن بمبعوثین ۰ او دا سے نور دیر وَحَاقَ بِهِمۡ او چاپیر او محیط شه به دوی مَّا كَانُوۡا
هغه خیز چه وو دوی بِهٖ یَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۸۳﴾ چه په هغه پورے مسخرے به یې کولے چه عذاب وو فَلَمَّا
رَاَوۡا پس هر کله چه به ولید دوی په دنیا کښې بَاۡسَنَا سختی د عذاب ځمونږه قَالُوۡۤا اٰمَنَّا نو و به ویل
دوی چه ایمان راوړے دے مونږه بِاللّٰهِ په خدائ باندے وَحۡدَهٗ چه یوازے دے بے شریک وَكَفَرۡنَا
بِمَا كُنَّا او کافر شو مونږه او س په هغه خیز چه وو مونږه بِهٖ مُشۡرِكِیۡنَ ﴿۸۴﴾ به هغه خیز سره
مشرکان چه بتان دی فَلَمۡ یَكُ پس نهٔ وو دا کار یَنۡفَعُهُمۡ اِیۡمَانُهُمۡ چه نفع ورسوی دوی ته
ایمان د دوی لَمَّا رَاَوۡا بَاۡسَنَا هر کله چه به ولید دوی عذاب ځمونږه سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِیۡ سنت ایخے دے
خدائ په سنت ایخود لو سره هغه سنت قَدۡ خَلَتۡ فِیۡ عِبَادِهٖ ج چه په تحقیق تیر شوے دے بخوا په
بندګانو د هٔ کښې وَخَسِرَ هُنَالِكَ الۡكٰفِرُوۡنَ ﴿۸۵﴾ ع او زیان کاران شو دا وخت کافران ؏



حٰمٓ ﴿۱﴾ ج بیان د دے تیر شوے دے په سر د سورة مؤمن کښې او دا بیا مبتداء دے او خبر یې دا
محکښې دے یعنی دا قرآن یا دا سورة چه دے تَنۡزِیۡلٌ رالیږلے شوید ے مِّنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ﴿۲﴾ ج له
هغه خدائ چه روزی رسان دے د هر چا او مهربان دے په مطیعانو كِتٰبٌ فُصِّلَتۡ اٰیٰتُهٗ یو دا سے
کتاب دے چه بیان کړے شوی دی په تفصیل سره ایاتونه د هٔ له احکامو او له امثالو او له مواعظو
او له وعدا او له وعیده او له دا سے نورو اموهم او دا خبر ثانی دے د حٰمٓ. قُرۡاٰنًا عَرَبِیًّا په دے حال
چه لوستے شو یدے په عربی ژبه لِّقَوۡمٍ یَّعۡلَمُوۡنَ ﴿۳﴾ لا د پاره د هغه قوم چه پوهیږی دوی په ژبه د
عربی یا په نزول د د هٔ من عند الله. بَشِیۡرًا وَّنَذِیۡرًا ج زیرے کونکے په مطیعانو د رضوان د جنت
د دیدار او ویرونکے د متمردانو له غضب له دوزخ له حرمان فَاَعۡرَضَ اَكۡثَرُهُمۡ پس خنک وکړه
اوږ وګرځاوو زیاتو د دوی له قبوله د د هٔ یعنی کافرانو فَهُمۡ لَا یَسۡمَعُوۡنَ ﴿۴﴾ پس دوی نه اوری په

عـه نه یئ تا سے مګر سړی ځمونږه په شان ۱۲　　عـه او نه یو مونږ بیا پا څید و نکی ۱۲

سماع د قبول سره وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا او وائی دا کفار چه زړونه ځمونږه فِیْٓ اَکِنَّةٍ په پردو کښې دی مِّمَّا
تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ له فهم د هغه توحید ه یا قرآنَ چه بولے ته ځمونږه هغهٔ ته وَ فِیْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ او بل په
غوږونو ځمونږه کښې ثقل دے د کوڼوالی چه مانع دے ځمونږه له اوریدلو د قول ستا وَمِنْۢ بَيْنِنَا او
په مابین ځمونږه وَبَيْنِكَ حِجَابٌ او په مابین ستا کښې پرده ده د مخالفت په دین کښې چه یو بل
سره نزدے کیدلو ته نهٔ پریږدی یعنی زړونه او غوږونه او سترګے چه موجبات د الفت او اختلاط
او د مودّة دی هغه ځمونږه ټول له تا چپ او په نفرت دی نو ځمونږه او ستا سره هیڅ شان د الفت
او د اختلاط نشته فَاعْمَلْ نو پس عمل کوه ته په دین اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ⑤ بیشکه چه مونږه هم
عمل کونکی یو په دین خپل قُلْ اِنَّمَآ اَنَا ووایه دوئ ته چه بیشکه هم داخبره ده چه زهٔ بَشَرٌ
مِّثْلُكُمْ بشر او آدمی یم په مثل ستاسے لیکن ځما او فرق دے له تاسے چه یُوْحٰٓى اِلَیَّ پیغام کاوه شی
ماته له جانبه د رب اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ د اسے چه بیشکه هم دا خبره ده چه خدائ ستاسے چه دے اِلٰهٌ
وَّاحِدٌ خدائ دے یو بے شریکه فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ پس مستقیم شی په توحید او مخ کړئ دهٔ ته په
ایمان او په طاعت سره وَاسْتَغْفِرُوْهُ ط او بخښنه غواړئ له دهٔ د هغو ګناهونو چه پس له اسلام صادر
شوی وی در نه وَوَيْلٌ او افسوس دے لِّلْمُشْرِكِيْنَ ⑥ الَّذِيْنَ هغو مشرکانو لره لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ
چه نهٔ ورکوی زکوٰة له بخله او له عدم شفقته په خلقو یا نهٔ کوی هغه کار چه دوئ پرے پاکیږی
چه هغه ایمان او طاعت دے وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ او دوئ چه دی په آخرت یعنی په بعث په ثواب په
عقاب هُمْ كٰفِرُوْنَ ⑦ هم دوئ منکران دی اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان
ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د دوئ د نیکو لَهُمْ اَجْرٌ مقرر دے دوئ لره اجر
ع ۱ ۲ ۱۵ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ⑧ بے منت بے قطع یعنی په دے اجر به نهٔ پرے احسان بار اوهٔ شی او نه به ترے قطع
کاوه شی او چا ویلی دی چه دا په حق د رنځورانو او د عاجزانو او د شلو او د زړو کښې نازل شوید ے
یعنی هر کله چه دوئ له عباد ته عاجز شی په سبب د دے عوارضو نو ښکل کاوه شی ورلره عبادت د
وخت د صحت او د قوت روایت دے له ابن عباس رض په باب د ابتداء د ایجاد د عالم کښې د اسے
چه هر کله اراده وکړه خدای د ایجاد نو اول یوه شنه مرغلره ئے پیدا کړه چه طول ئے د لسو

زیهږ کالو منزل وو او عرض ئې دیو زرو کالو وو بیا نظر دهیبت ئې پرې وکړو نو له خوفه ئې اوبه شوه بیا په دے اوبو ئې اور مسلط کړو نو په جوش راغلې او په سر ئې ژګ پیدا شهٔ او بخار هم ترې ولاړ شهٔ په شان د لوګی نو اول ئې له دهٔ ژګه زمکه سازه کړه یعنې جرم د دے او بیا ئې له دے بخار اسمان ساز کړو کذا فی المدارک لکه چه وائی قُلْ اَئِنَّكُمْ وو ایه دوئ ته چه ایا بیشکه تاسے لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِیْ هرائینه کفر اختیا روئ په هغه خدائ پورے خَلَقَ الْاَرْضَ چه پیدا کړے ده دهٔ زمکه فِیْ یَوْمَیْنِ په دوه ورځو کښ چه یکشنبه "اتوار" او دوشنبه "ګل" دی داسے چه په اول کښ ئې پیدا کړه او په دوئم کښ ئې وغوړوله وَتَجْعَلُوْنَ او سازوئ تاسے له خیل ځانه لَهٗۤ اَنْدَادًا ؕ دهٔ لره شریکان ذٰلِكَ دا چه زمکه ئې سره له دا سے لوئ والی په دوه ورځو کښ پیدا کړے ده رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ۚ (۹) پرورګار دے د عالمیانو وَجَعَلَ فِیْهَا رَوَاسِیَ او بیا پیدا کړه دهٔ په دے زمکه کښ غرونه کلک محکم مِنْ فَوْقِهَا له پاسه دے چه هر څوک ئې وینی او عبرت پرے اخلی او په منافع ئې معاش هم کوی وَبٰرَكَ فِیْهَا او بیا برکت ئې خوز کړو په دے زمکه کښ په پیدا کولو د انهارو او د اشجارو او زروعو او د حیواناتو او یا په دے غرونو کښ په پیدا کولو د ینابیع "چینو" او د معادنو او د رنګارنګ صنایعو وَقَدَّرَ فِیْهَاۤ او مقرر او په اندازه ئې کړے په دے زمکه کښ اَقْوَاتَهَا روزی ګانے د دے یعنی د اهل د دے د هر صنف بیلے بیلے داسے چه غلے د ادمیانو او وابنهٔ د بهائمو او غوښے د سباعو او دهرے طائفے بیا بیل بیل اقسام دی د مطعوماتو چه بیان ئې ډیر دراز کیږی فِیْۤ اَرْبَعَةِ اَیَّامٍ ؕ په څلورو ورځو کښ اما له هغو تیرو دوه ورځو سره یعنې دا کارونه ئې هم په دوه ورځو وکړه چه سه شنبه او چارشنبه دی داسے چه په اول کښ ئې غرونه پیدا کړهٔ او په دوئم کښ ئې انهار او اشجار او اقسام د زروعو او اصناف د حیواناتو ئې پیدا کړه سَوَآءً لِّلسَّآئِلِیْنَ (۱۰) برابر شوے یعنې پوره څلور شوے دا ورځے په برابر کیدو سره بے زیادت او نقصان د پاره د پوښتنه کونکیو له پیدا کولو د زمکے او د مافیها **فائده** له دے داسے معلومیږی چه پیدا کیدل د زمکے لمړے دی له پیدا کیدلو د اسمان او سره له دے چه په سوره النّٰزعٰت کښ دی چه والارض بعد ذلک دحٰها نو د دوئ موافقت ئې سره داسے کړے چه جرم د زمکے له اسمانه مخوا پیدا شوید ے او غوړیدل ئې ترے وروستو پیدا شوی دی ثُمَّ اسْتَوٰۤی بیا اراده وکړه خدائ اِلَی السَّمَآءِ

اسمان ته د پیدا کولو وَهِيَ دُخَانٌ او حال دا چه دا بولوګے وو ولاړ یعني بخار وو پشان دلوګی فَقَالَ
لَهَا پس ووېل خدائ دغه اسمان ته یعني دغه بخار ته چه اسمان به ترے جوړیږی وَلِلْاَرْضِ او دغه
زمکے ته یعني دغه جرم ته چه بیا غوړیږی به او زمکه به ترے جوړیږی ائْتِيَا چه راشئ دواړه او
ومنئ هر هغه فرمان ځما چه درته ئے کوم طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ط په دے حال چه یرے خوښ اوسئ یا
ناخوښ یعني خا مخا ئے وکړئ کهٔ په رضا وی که بے رضا او مراد له دے طوع او کره اظهار دے د
کمال د قدرت او د وجوب د وقوع د مراد رباني نه اثبات د طوع او د کره قَالَتَآ اَتَيْنَا نو ووېل دے
دواړو چه راغلو او ومانهٔ مونږه فرمان ستا طَآئِعِيْنَ ⑪ په دے حال چه په خوښه مونږ یو فرمان
ستانهٔ په کره او داغږ اول هغو اجزاؤ د مکے کړے چه او س پکښ کعبه ده نو ځکه دا قبله شوه د
تمام مخلوقاتو تر قیامته او له اجزاؤ د اسمان هم هم دغه محاذات غږ ورکړے دے فَقَضٰهُنَّ پس
نو ساز کړهٔ دهٔ له هغه بخار دا سَبْعَ سَمٰوٰتٍ اوه اسمانونه فِيْ يَوْمَيْنِ په دوه ورځو کښ چه
پنجشنبه او جمعه دی دا سے چه په اوکښ ئے اسمانونه پیدا کړهٔ او په دویم کښ ئے نمر او سپوږمۍ
او ستوری پکښ کیښودل وَاَوْحٰی او وُلیږهٔ دهٔ فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ په هر اسمان کښ اَمْرَهَا ط امر د هغه
اسمان یعني هر هغه کار چه دهٔ لره مقرر شوے دے یا اهل د هر یو ته امر د عبادت او د نورو او امرو
وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا او ښائسته کړے دے مونږه دا را نزدے او ښیرمه اسمان بِمَصَابِيْحَ ق په څراغونو
سره یعني په هغو ستورو سره چه دا سے رڼا کوی لکه څراغونه **فائده** دا ستوری چه دی ټول
غیر له سبع سیارهٔ په کرسئ کښ دی اما نسبت ئے دے ښیرمه اسمان ته ځکه شوے دے چه په
سبب د شفاف د ټولو اسمانونو ناظر ته دا سے ښکاره کیږی چه ټول دے اسمان کښ دی وَحِفْظًا ط
او ساتلے دے مونږه دا اسمان په ساتلو سره له غوږ ایښودلو د شیطانانو ذٰلِكَ دا بیرته یاد شوی
چه دی له عجائبو پیدائښت تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ⑫ اندازه او پیدائښت دے د هغه خدائ چه
غالب دانا دے فَاِنْ اَعْرَضُوْا پس کهٔ چرے څنګ وکا او مخ وګرځاوو دے کفارو د مکے له راوړلو د
ایمان پس له دے بیان فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ پس ووایه ورته چه ویروومه زهٔ تاسے صٰعِقَةً له هغه سخته
عذابه چه په مثل د تندروی مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ لکه عذاب د عاد چه باد د صرصر وو وَّثَمُوْدَ ط ⑬ او

د شود چه چیغه وه د جبریل علیه السلام او دا د وه قومه ځکه یاد شو چه دوئ به ئے همیشه په مینو
تیریدل په وخت د تجارت او آثار د عذاب به ئے لیدل اِذۡ جَآءَتۡهُمُ الرُّسُلُ په هغه وخت چه راغلل
دوئ له رسولان چه هود او صالح علیهم السلام وو مِنۡۢ بَیۡنِ اَیۡدِیۡهِمۡ د مخے طرفه د دوئ . وَمِنۡ
خَلۡفِهِمۡ او وروستو د دوئ نه هم - یعنی کوم پیغمبران چه د هغوئ طرف ته لیږلے شوی وو هغوئ
په لوئ کوشش سره دوئ پوهه کړۀ لکه چه کوم یو سړے چا له که د وړاندے نه راشی پوهه ئے
کړی او کله د وروستو نه راشی پوهه ئے کړی او هغه پیغمبرانو علیهم السلام هم دا وویل
یعنی له هره طرفه ورله راغلۀ او ټول ئے پرے تمام کړے لیکن غیر له اعراض ئے له دوئ نه
هیڅ ونۀ لیدل په هغه وخت چه ورله راغلۀ او ورته ئے وویل اَلَّا تَعۡبُدُوۡٓا دا چه مۀ کوئ
عبادت د بل هیچا اِلَّا اللّٰهَ ؕ مګر یواځے د خدائ قَالُوۡا نو وویل ورته کفارو په جواب کښ لَوۡ شَآءَ رَبُّنَا
که چرا اراده کړے وے رب ځمونږ د لیږلو د رسولانو لَاَنۡزَلَ مَلٰٓئِکَةً نو هرُ ابۀ ئے رالیږلی وو ملائک
ستاسے په ځائ فَاِنَّا پس بیشکه چه مونږ بِمَآ اُرۡسِلۡتُمۡ په هغه څیز چه رالیږلے شوی یئ تاسے
په زعم خپل بِهٖ کٰفِرُوۡنَ ﴿۱۴﴾ په هغه څیز کافران یعنی نه منونکی یو ځکه چه تاسو خو ځمونږ په
شان آدمیان یئ نو تاسے له په مونږ هیڅ بهتری نشته اوس بیا په تفصیل سره بیانوی قصه
د دوئ نو وائی فَاَمَّا عَادٌ پس هر چه عاد وو فَاسۡتَکۡبَرُوۡا پس کبر او لوئی ئے اختیار کړه فِی الۡاَرۡضِ
په زمکه د احقاف کښ چه بلاد و د یمن ده بِغَیۡرِ الۡحَقِّ په ناحق چه مستحقان د دے کبر نه وو
پس دوئ هود علیه السلام له عذاب وویرول وَقَالُوۡا مَنۡ او وویل دوئ چه څوک دی اَشَدُّ
مِنَّا قُوَّةً ؕ ډیر سخت له مونږ نه په قوت کښ چه په مونږ به دے عذاب راولیږی او دوئ
په بدن کښ ډیر اوږده او غټ وو او په قوت کښ هم دا سے ډیر قوتناك وو چه یو سړی به ترے
لویه تیږه له غرۀ په لاس راولوڅوله او بل وطن له به ئے یوړه اَوَلَمۡ یَرَوۡا آیا نه لیدل دوئ او نه
پوهیدل اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیۡ په دے چه بیشکه هغه خدائ خَلَقَهُمۡ چه پیدا کړی دی هغه دوئ هُوَ اَشَدُّ هغه
ډیر سخت دے مِنۡهُمۡ قُوَّةً ؕ له دوئ نه له جهته د قوت وَکَانُوۡا او وو دوئ چه له ډیر غرور او تکبره او
تعصبه بِاٰیٰتِنَا یَجۡحَدُوۡنَ ﴿۱۵﴾ په آیتونو ځمونږ پورے انکار به ئے کولو سره له علمه په دے چه دا

حق دے فَاَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ پس راولیږه مونږه په دوئ رِيۡحًا صَرۡصَرًا باد تند ډیر هیبتناك
آواز کونکے یا ډیر یخ چه له یخنۍ سړے وژنی او دابرودت فِیۡۤ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ په هغو ورځوکښ چه
ډیرے نحس او شومے وے او دا باد په آخر د شوال کښ پرے را الوتے وو چه له صبا د یوچارشنبے شروع
شوے وو ترماز دیگر د بلے چارشنبے پورے چه دا واړه اتهٔ ورځے او اوهٔ شپے شوے او دا باد په دوئ
رالیږلے وو مونږه لِّنُذِيۡقَهُمۡ د پاره د دے چه وڅکو مونږه په دوئ باندے عَذَابَ الۡخِزۡىِ عذاب
د رسوایئ او د خوارئ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا په دے واړه ژوندون کښ چه ټول موله ځیرمه هلاك کړے
وو وَلَعَذَابُ الۡاٰخِرَةِ او هر آئینه عذاب د آخرت چه دے اَخۡزٰى ډیر زیات دے له جهته د رسوایئ
او د خوارئ وَهُمۡ لَا يُنۡصَرُوۡنَ (١٦) او حال دا چه مدد به ونهٔ کړے شی له دوئ سره له طرفه د هغو بتانو
چه دوئ به ئے عبادت کاوو په اُمید د مدد د کارئ وَ اَمَّا ثَمُوۡدُ او هرچه ثمود وو فَهَدَيۡنٰهُمۡ پس
وښود له لاره د حق مونږه دوئ ته په ورد رولو د دلیلونو او په لیږلو د رسولانو سره فَاسۡتَحَبُّوا الۡعَمٰى
پس غوره کړهٔ دوئ ړوندوالے یعنی جهل او گمراهی او کفر عَلَى الۡهُدٰى په هدایت یعنی په علم او په
رهنمایئ او په ایمان فَاَخَذَتۡهُمۡ پس ونیول دوئ صٰعِقَةُ الۡعَذَابِ الۡهُوۡنِ تندر آواز د سپکونکی عذاب
پشان د تندر یعنی چیغه د جبریل علیه السلام چه هلاك ئے کړه دوئ بِمَا كَانُوۡا په سبب د
هغه کار چه وو دوئ يَكۡسِبُوۡنَ (١٧) چه کاوو به ئے چه هغه تکذیب وو د صالح علیه السلام
وَنَجَّيۡنَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا او وساتل مونږه له دے صاعقے هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وو په صالح
علیه السلام وَكَانُوۡا يَتَّقُوۡنَ (١٨) او وو دوی دا سے چه پرهیز به ئے کاوو له شرك وَيَوۡمَ يُحۡشَرُ
او یاده کړه هغه ورځ چه راولاړ او گرد به کړے شی اَعۡدَآءُ اللّٰهِ دښمنان د خدائ اِلَى النَّارِ اور
د دوزخ ته فَهُمۡ يُوۡزَعُوۡنَ (١٩) پس دوئ به راحصار ولے شی یعنی لمړی د دوئ به راحصار ولے
شی د پاره د دے چه راورسیږی وروستی د دوئ چه سره تار په تار نهٔ شی بیا چه ټول سره یو
ځائ شی نو روان به کړے دوزخ ته حَتّٰۤى اِذَا مَا تر هغه وخت پورے جَآءُوۡهَا چه راشی دوئ دغه
اور له او وپوښتیدلے شی له بدو کردارو نو خپلو او دوئ منکر شی شَهِدَ عَلَيۡهِمۡ نو شاهدی به
ورکوی په دوئ یعنی په کولو د بدو کردارو نو د دوئ سَمۡعُهُمۡ غوږونه د دوئ او هر هغه چه اوریدلی

وی دوئ وَاَبْصَارُهُمْ او سترگے د دوئ د هر هغه چه لیدلی وی دوئ وَجُلُوْدُهُمْ او پوستکی د دوئ د هر هغه چه لمس کړے وی د حرام یا مراد له جلود فروج دی چه شاهدی به لوئ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۰﴾ په هر هغه کار چه وو دوئ چه کاوو به ئے وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ او وبه وائی دا کافران پوستکیو خپلو ته له ډيره تعجبه لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ط چه ولے شاهدی ولودهٔ تاسے په مونږه باندے او سره له دے چه مونږه خو دا انکار دپاره د دفع د عذاب له تاسے کاوو فائدهٔ یو اځے سوال له جلود وشه غیر له سمع او له بصر له دے جهته چه شاهدی د جلودو ډيره اعجبه او ابعده دهٔ ځکه چه د دوئ له شان نه سمع او نه بصر دے قَالُوْٓا نو وبه وائی دا جلود چه مونږه په خپله نهٔ یو غږیدلے بلکه اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِیْٓ غږولی یو مونږه هغه خدائ چه په قدرت کامله خپله سره اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ غږولے دے دهٔ هر څیز له حیوان وَهُوَ خَلَقَكُمْ او حال دا چه دهٔ پیدا کړی یئ تاسے اَوَّلَ مَرَّةٍ هغه اول کرت چه په عدم محض کے وجود ته راوستی یئ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ او بیا هم خاص هم دهٔ ته بیرته بیولی به شئ دپاره د جزا او د ا کلام یا د جلود دے او یا د خدائ وَمَا كُنْتُمْ او نهٔ وئ تاسے په وخت د کولو د فواحش کښ تَسْتَتِرُوْنَ دا سے چه پټول به تاسے د افواحش اَنْ يَّشْهَدَ له دے چه شاهدی به ولوئ بیا عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ په تاسے غوږونه ستاسے وَلَآ اَبْصَارُكُمْ او نهٔ سترگے ستاسے وَلَا جُلُوْدُكُمْ او نهٔ پوستکی ستاسے ځکه چه تاسے خوله بعث او له جزا بیخی منکران وئ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ او لیکن گمان به کولو تاسے اَنَّ اللّٰهَ د دے چه بیشکه خدائ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا نهٔ پوهیږی په زیاتو باندے مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾ له هغو کارونو چه کول به تاسے حاصل دا چه تاسے به دا فواحش پټ پټ کول په دنیا کښ هغه پټول ستاسے له دے جهته نهٔ وو چه بیا شاهدی به وکوئ په تاسے دا جوارح ستاسے بلکه په دے سبب وو چه تاسے خدائ نه کاڼه په ډيرو کارونو خپلو خبردار او دا ځکه چه دے کفار و به دا سے ویل چه هر کار چه مونږه ښکاره کوو په هغه خدائ پوهیږی او چه پټ ئے کوو په هغه دے نهٔ پوهیږی نو خدائ ورته وائی وَذٰلِكُمْ او دا فاسد گمان ستاسے چه دے ظَنُّكُمُ الَّذِیْ هغه گمان چے ستاسے ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ چه کاوو به دا گمان تاسے په رب خپل چه دے په پټو اعمالو ځمونږه خبردار نهٔ دے اَرْدٰىكُمْ هلاک کړئ دے فاسد گمان تاسے اوس په آخرت کښ

فَاَصْبَحْتُمْ پس شوئ تاسو په سبب د هغه فاسد گمان سره مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ له زیان کارانو
نه فَاِنْ يَّصْبِرُوْا پس که صبر کوي دوئ په عذاب فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۚ پس اور ځائے دے د دوئ
یعنی نه په صبر خلاصیدے شي ددوئ له اوره او نه په فریاد وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا او که خوښی او رضا
غواړي دوئ د خدائ فما هُمْ پس نه به وي دوئ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ﴿٢٤﴾ له هغو خلقو چه خوښی تر راغلے
وي او عُتبٰى خوښی او رضا نه وائ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ او مقرر کړے دے مونږه دے مشرکانو د مکے لره او
مسلط کړي مودي پر دے قُرَنَآءَ همنشینان او دوستان له شیطانانو فَزَيَّنُوْا لَهُمْ پس بنا ئسته کړے
دے دے شیطانانو دوئ ته مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ هغه څیزونه چه په مخکښ دی د دوئ چه زینت دے
د دنیا او پیروی ده د هوا د نفس چه هم هغو پسے روان دی وَمَا خَلْفَهُمْ او هغه څیزونه چه شاته
دی د دوئ له امورو د آخرت چه ورته وائ بعث نشته حساب نشته وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ او لازم
او واجب شه په دوئ گفتار د عذاب چه لاملئن جهنم الخ دے فِيْٓ اُمَمٍ په هغه امتونو کښ قَدْ
خَلَتْ چه په تحقیق تیر شوي دی هغه اُمم مِّنْ قَبْلِهِمْ پخواله دوئ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ له پیریانو
او له ادمیانو یعنی هغو لکه بد عملونه کول او پرے لائق شو د عذاب همدا سے دوئ هم په دے بدو
اعمالو لائق شویدی د عذاب اِنَّهُمْ بیشکه چه دوئ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ ع دی زیانکاران په دواړو
جهانو کښ روایت دے چه کفارو به یو بل ته ویل چه هر کله محمد صلے الله علیه وسلم د قرآن په
لوستلو لاس پورے کړو نو غوږ ورته مه ږدئ تاسے او شورماشور واچوئ هلته چه ستاسے آواز ونه
پرے د پاسه شي او هغه قراءت پرے گډ وډ شي بیا نو هر کله چه ده به شروع وکړه په قراءت نو دوئ
به هلته سره راټول شول او نارے سورے به ئے وهلے او لاسونه به ئے ټکول او شپیلی به ئے وهل او
ناکاره بے هوده اشعار به ئے ویل لکه چه وائ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وائ هغه کسان چه کافر
شوي دی سره یو بل ته لَا تَسْمَعُوْا چه غوږ مه نیسئ لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ دے قرآن ته چه محمد صلی
الله علیه وسلم ئے لولی وَالْغَوْا فِيْهِ او چیغے وهئ او شورماشور واچوئ په وخت د قراءت د ده کښ
لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿٢٦﴾ بنائ چه تاسے غالب شئ په ده او هغه لوستلو ئے حصار کړئ نو رب العزت
وائ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس هرائینه وبه څکوو مونږه خامخا هغه کسانو ته چه کافران دی

عَذَابًا شَدِيْدًا عذاب سخت وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ او هرائینه جزا به ورکړو مونږه خامخا دوئ لره اَسْوَاَ
الَّذِيْ د ډیره بده جزا د هغه عمل كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ چه وو دوئ چه کولو به ئے له ډیره جهل او غضب
ذٰلِكَ دا سخت عذاب چه دے جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ جزا ده د دشمنانو د خدائ النَّارُ یعنی اور دا
عطف بیان دے د جزا یا خبر دے د مبتدا محذوف[عه] لَهُمْ فِيْهَا مقرر دے دوئ لره په دغه اور کښ دَارُ الْخُلْدِ
دار د همیشه والی یعنی دا سے مقام چه همیشه به وی دوئ په هغه کښ جَزَآءً بِمَا كَانُوْا جزا به ورکړے
شی دوئ په جزا ورکولو سره په سبب د دے چه وو دوئ بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۲۸﴾ په ایتونو زمونږه
چه قرآن دے انکار به ئے کا وو وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وبه وائی هغه کسان چه کافران دی په ورځ
د قیامت په دوزخ کښ رَبَّنَآ چه اے ربه زمونږه اَرِنَا الَّذَيْنِ وښایه مونږه ته هغه دوه تنه اَضَلّٰنَا
چه ګمراهان کړی وو هغو مونږه په دنیا کښ چه وو هغه دواړه مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ له پیریانو او له
آدمیانو چه ابلیس او قابیل دے چه یو اول تا دو د کفر او د عصیان ایښے دے او بل د خون په
ناحقه نَجْعَلْهُمَا چه واچوو مونږه هغه دواړه تَحْتَ اَقْدَامِنَا لاندے د قدمو نو خپلو او انتقام د
اضلال خپل ترے واخلو یا په کوزه کنده د دوزخ کښ ئے وغورځوو لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾ د پاره د دے
چه شی هغه دواړه له هغو کفارو چه دی دوئ په ډیره کوزه پایه کښ له دوزخ چه عذاب ئے زمونږه له
عذابه ډیر سخت شی اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا بیشکه هغه کسان چه ویلی دی دوئ په صدق د زړه سره رَبُّنَا
اللّٰهُ چه رب زمونږه خدائ دے یعنی اقرار ئے کړے وی په توحید ثُمَّ اسْتَقَامُوْا بیا محکم ولاړ وی په
هم دے اقرار تر آخره د عمره او په مقتضیاتو د دے اقرار چه ثبات دے په ایمان او امتثال دے په
اوامرو او په نواهیو کښ او اخلاص دے په عمل کښ او ادا د فرائضو ده پس هر کله چه دا کار وشونه
وکړه دوئ نو جزا به ئے دا وی چه تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ را کوزیږی به په دوئ ملائک په وخت
د مرګ کښ یا په وخت د خروج له قبرونو یا په لحدونو کښ یا په درے وارو احوالو کښ او وائی به ورته
اَلَّا تَخَافُوْا دا سے چه مه ویریږئ له هغو سختیو چه ستا سے په مخکښ دی ځکه چه هغه به په تا سے
خدائ اسانے کا۔ وَلَا تَحْزَنُوْا او مه خفه کیږئ په سبب د هغه چا چه بیرته درځنه پاتے شویدی

عه یعنی چه لفظ د هُوَ دے نو تقدیر دا سے شۀ چه هو النار۔ چه هغه جزا اور دے ۱۲

له عیال چه خدائی به ئے نگهبان شی وَاَبۡشِرُوۡا او خوشحاله اوسئ بِالۡجَنَّةِ الَّتِیۡ په استوږنے د هغه
جنت کُنۡتُمۡ تُوۡعَدُوۡنَ ﴿۳۰﴾ چه وئ تاسے په دنیا کښ چه وعده به ئے د رسره کولے شوه په لسان د رسولانو
اوبل به داسے ورته وائی چه نَحۡنُ اَوۡلِیٰٓؤُکُمۡ مونږه دوستان و ستاسے فِی الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا هم په
دے واړه ژوندون کښ چه له آفاتو به مونږه ساتلئ او خیرته به مومدام رابنکلئ او په کولو د نیکئ
کښ به مومعاونت د رسره کاوو وَفِی الۡاٰخِرَةِ ج او هم په آخرت کښ په تعظیم او په تکریم او په شفاعت
او په مدد سره نژ هغه پورے چه جنت ته ننوځئ وَلَکُمۡ فِیۡهَا او مقرر دے تاسے لره په دے آخرت
کښ مَا تَشۡتَهِیۡۤ اَنۡفُسُکُمۡ هغه ټول څیزونه چه آرزو کوی نفسونه ستاسے له لذتونو او له کراماتو او له
نعمتونو وَلَکُمۡ فِیۡهَا او بیا مقرر دے تاسے لره په دے آخرت کښ مَا تَدَّعُوۡنَ ﴿۳۱﴾ هر هغه څیز چه غواړئ
تاسے او ارمان ئے کوئ نُزُلًا په دے حال چه دا میلمستیا ده تیاره کړے شوے مِّنۡ غَفُوۡرٍ رَّحِیۡمٍ ﴿۳۲﴾ ع
له هغه پروردګاره چه ډیر بخښونکے او مهربان دے وَمَنۡ اَحۡسَنُ قَوۡلًا او څوك دے ډیر ښائسته له جهته
د ګفتار مِّمَّنۡ دَعَاۤ له هغه چا چه بولی خلق اِلَی اللّٰهِ خدائی ته یعنی عبادت د ده ته وَعَمِلَ صَالِحًا
او عمل هم کوی دے ښځیله د نیکو وَقَالَ او داسے هم وائی چه اِنَّنِیۡ مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ ﴿۳۳﴾ زه له مسلمانانو
ګردن نهادونکیم خدائی ته او دا آیت یا په شان د رسول صلے الله علیه وسلم کښ دے چه خلق
بولی توحید ته یا مراد ترے اصحاب رض دی او عمل صالح ئے متابعت دے د رسول صلے الله علیه وسلم
او یا علماء دی چه احکام د دین بیانوی خلقوته او عمل صالح ئے عمل دے په علم خپل او یا محتسبان
دی چه امر د معروف او نهی د منکر کوی خلقوته او عمل صالح ئے صبر او تحمل دے په هغو مکاروهو چه
دوئ ته پکښ پیښیږی او یا مؤذنان دی چه خلق بولی مانځه ته او عمل صالح ئے دوه رکعته نفل دی
د اذان او د اقامت په مینځ کښ او یا هر هغه څوك دی چه جامع وی د دے صفاتو لوا و هادی
او داعی وی د خلقو خدائی ته وَلَا تَسۡتَوِی الۡحَسَنَةُ او نه برابریږی سره نیکئ وَلَا السَّیِّئَةُ ؕ او
نه بدی په جزا او په حسن د عاقبت کښ او دا لا زائده دے د پاره د تاکید د نفی د لمړی لَا. پس هر کله
چه کار داسے شو اِدۡفَعۡ دفع کوه ته د هغے بدئ چه څوك ئے وکا له تاسره بِالَّتِیۡ په هغه خصلت سره
هِیَ اَحۡسَنُ چه هغه غوره دی له هغے بدئ فائده دفع بیا په دوه قسمه ده یوه په وجه حسن ده

اوهغه داده چه مثلاً غضب په حلم دفع کړی اوګناه په عفواوپوچ په درګذرسره اوبله په وجه حسن
ده اوهغه داده چه دبدئ په ځائ نیکی ورسره وکړی لکه چه څوك ستاذم وکا اوته ئ په مقابله کښ
مدح وکړې اوهرکله چه دا سے دِ وکړهٔ فَاِذَا الَّذِیْ پس ناګاه هغه څوك بَیْنَكَ چه په مابین ستا وَبَیْنَهٗ
عَدَاوَةٌ او په مابین دهغهٔ دشمنی وی نوهغه به دوست شی ستا په دے شان چه كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ
حَمِیْمٌ ﴿۳۴﴾ ګویا که دے یار دے ستا مهربان لکه نقل دے له امام اعظم رح چه ده ویلی دی
چه هرکله زهٔ به خبرشوم چه فلانے ستا دیربد وائی نوما به دهغه دیره مدح اوثنا کوله ترهغه پورے
چه بیا به خبرشوم چه هغه هم ستا مدح اوثنا کوی وَمَا یُلَقّٰهَآ اونهٔ شی بنودلے اوورکولے دا
خصلت چه دفع دبدئ ده په نیکئ اِلَّا الَّذِیْنَ صَبَرُوْا ج مګر هغه کسانوته چه صبرکوی په مکارهو دخلقو او نفس
حصاروی له انتقامه وَمَا یُلَقّٰهَآ اوبیا نهٔ شی بنودلے دا خصلت اِلَّا ذُوْحَظٍّ عَظِیْمٍ ﴿۳۵﴾ مګرخښتن د
دلوئ برخے ته وَاِمَّا یَنْزَغَنَّكَ اوکه چیرے واړوی تا او دے کښ ادغام شویدے دنون د ان شرطیے
په ما زائده کښ مِنَ الشَّیْطٰنِ له طائفے دشیطان نَزْغٌ ای نازغٌ کوم اړونکے له دغه خصلته په
وسوسره یعنی که چرے دا سے وسوسه شیطانی دِ زړه لره راغله چه له دے خصلت ئے اړولے
فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ط نو پناه ونیسه ته په خدائ پورے له شره دهغه اِنَّهٗ بیشکه دے چه دے هُوَ السَّمِیْعُ
هم دے اوریدونکے دے داستعاذے ستا الْعَلِیْمُ ﴿۳۶﴾ دانا دے په نیت ستا وَمِنْ اٰیٰتِهِ الَّیْلُ وَالنَّهَارُ
او یوله نښنو دقدرته دده شپه اوورځ دی چه په یوکښ لباس او په بل کښ معاش دے وَالشَّمْسُ
وَالْقَمَرُ ط او بله له نښنو دقدرت دده نمراوسپوږمئ دی چه هریوه جدا سیر مقرر دے لَا
تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ سجده مهٔ کوی نمرته وَلَا لِلْقَمَرِ اونهٔ سپوږمئ ته ځکه چه دا دواړه هم مخلوق
دی ستاسے په شان وَاسْجُدُوْا اوسجده کوئ لِلّٰهِ الَّذِیْ هغه خدائ ته خَلَقَهُنَّ چه پیدا کړی ئے دی
دا خلوره واړه ایات چه لیل، نهار، شمس، قمر دے۔ اِنْ كُنْتُمْ که چرے یئ تاسے اِیَّاهُ
تَعْبُدُوْنَ ﴿۳۷﴾ چه خاص هم دده عبادت کوئ ځکه چه سجده اَخص دعباداتو ده نو دا خالق ته
بائده ده نهٔ مخلوق ته فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا پس که لوئی اوسرکشی وکړه دوئ له سجدے کو لوخدائ ته
یوائے فَالَّذِیْنَ پس هغه څوك عِنْدَ رَبِّكَ چه په نزد درب ستا دی له ملائکو یُسَبِّحُوْنَ لَهٗ تسبیح

وائی دهٔ لره یا موږ ګڼ ذاکری دهٔ لره بِالَّیۡلِ وَالنَّهَارِ هم د شپې او هم د ورځې یعنی همیشه په عبادت د د ځ
مشغول دی وَهُمۡ لَا یَسۡـَٔمُوۡنَ ﴿۳۸﴾ او حال دا چه دوئی نهٔ ملا له کیږی او نهٔ ستومانه کیږی په اثر
د عبادت او په نزد د امام اعظم سجده د لته ده او په نزد د امام شافعیؒ په تعبدون ده وَمِنۡ اٰیٰتِهٖ
او بل له نښو د قدرته د دهٔ اَنَّکَ دا ده چه بیشکه ته چه ئې تَرَی الۡاَرۡضَ وینې به ته دا زمکه یخوا له
نزول د باران خَاشِعَۃً وچه کلکه بےګیاه فَاِذَاۤ اَنۡزَلۡنَا پس بیا په هغه وخت چه رالیږلے کړے موږ ه
عَلَیۡهَا الۡمَآءَ په دے او به د باران اهۡتَزَّتۡ نوسره وخوزیږی له جهته د زرغونید لو ډکیا وَرَبَتۡ او راپورته
شی او وپړسیږی په سبب د سریان د بخونود نبا تا تو په دے کښی او ژوندی شی نو له دے حال د زمکے
معلوم کړئ تاسے چه اِنَّ الَّذِیۡۤ بیشکه هغه خدائ اَحۡیَاهَا چه ژوندئ کړے ئے دا زمکه لَمُحۡیِ
الۡمَوۡتٰی ط هرائینه ژوندے کونکے دے د مړیو یعنی لکه چه په هغه قادر دے په دے هم قادر دے اِنَّهٗ بیشکه
چه دے عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۳۹﴾ په هر څیز بنهٔ قادر دے کهٔ احیاء دے که امانت دے ۔ اِنَّ
الَّذِیۡنَ بیشکه هغه کسان یُلۡحِدُوۡنَ فِیۡۤ اٰیٰتِنَا چه میل کوی دوئی له حق باطل ته په ایتونو ځمونږ
کښی په طعن او په تحریف او په تکذیب او په تاویل باطل سره لَا یَخۡفَوۡنَ عَلَیۡنَا ط نهٔ دی پټ دوئی
په مونږه یعنی د الحاد او طعن او تحریف او تکذیب د دوئی مونږه ته پوره پښکاره دے نو جزا د ټولو به
ورلره ورکړو ته مه خفه کیږه اَفَمَنۡ یُّلۡقٰی آیا پس هغه څوک چه وغورځولے شی فِی النَّارِ خَیۡرٌ په اور
کښی هغه غوره دے اَمۡ مَّنۡ یَّاۡتِیۡۤ او کهٔ هغه څوک چه راشی دے اٰمِنًا یَّوۡمَ الۡقِیٰمَۃِ ط په امن له دوزخ په
ورځ د قیامت دا تمثیل دے د مؤمن او د کافر او چا ویلی دی چه ابوجهل او رسول صلی الله علیه وسلم
دے بیا او س وائی کفار و ته د پاره د تهدید او د زجر اِعۡمَلُوۡا مَا شِئۡتُمۡ لا چه کوئ اے کفار و هم
هغه کار چه اراده وشی ستا سے اِنَّهٗ بیشکه چه دے بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِیۡرٌ ﴿۴۰﴾ په هغه کار و نو چه
کوئ ئے تاسے بنهٔ بینا دے نو جزا به د ټولو درکا اِنَّ الَّذِیۡنَ بیشکه هغه کسان کَفَرُوۡا بِالذِّکۡرِ چه
کافر شوی او منکر شوی دی له قرآن چه بهترپند دے لَمَّا جَآءَهُمۡ ج په هغه وخت چه راغے
دوئی لره او خبر د اِنَّ پکښی محذوف دے چه سیعذ بون یا هالکون دے وَاِنَّهٗ او حال دا چه بیشکه
دا قرآن لَکِتٰبٌ عَزِیۡزٌ ﴿۴۱﴾ لا هرائینه یو کتاب دے ډیر نافع یا عدیم النظیر یا منیع لَا یَاۡتِیۡهِ

الْبَاطِلُ چه نۀ راځي ورلره باطل له هیڅ طرفه مِنۡ بَیۡنِ یَدَیۡهِ نۀ د مخے نه له طرفه دده وَلَا مِنۡ خَلۡفِهٖ ؕ
اونه له شاله طرفه ئے په هیڅ وجه له وجوه نه په زیادت او نه په نقصان سره ځکه چه تَنۡزِیۡلٌ رالیږلے
شوے دے مِّنۡ حَکِیۡمٍ له هغه پروردګاره چه پرحکمت دے حَمِیۡدٍ ﴿۴۲﴾ ستایلے شوید ے مَا یُقَالُ
لَکَ نۀ ویلے کیږی تا ته یعنی نۀ وائی تا ته قوم ستا اے رسوله اِلَّا مَا مګر هغه ګفتار قَدۡ قِیۡلَ چه په
تحقیق ویلے شوے وو یعنی بخوانیو کفارو ویلی وو لِلرُّسُلِ مِنۡ قَبۡلِکَ ؕ هغه رسولانو ته چه
بخواله نا تیرشوی دی یا معنیٰ دا چه نۀ وائی خدائی تا ته مګر په مثل د هغه چه ویلی وو ده
بخوانیو رسولانو ته اِنَّ رَبَّکَ بیشکه رب ستا چه دے لَذُوۡ مَغۡفِرَۃٍ هر اٰئینه څښتن د مغفرت دے احبابو
خپلو ته وَّ ذُوۡ عِقَابٍ اَلِیۡمٍ ﴿۴۳﴾ او څښتن د دردناک عذاب دے اعداؤ خپلو لره روایت دے چه
کفارو د قریشو به ویل چه دا قرآن نول ولے عربی دے بائده دا سے وو چه بعضے ترے عجمی هم وے
چه دواړو طائفو ترے فائده اخستلے نو نازل شه وَلَوۡ جَعَلۡنٰهُ او که ګرځولے اورالیږلے مونږ دا
کتاب قُرۡاٰنًا اَعۡجَمِیًّا قرآن په ژبه د عجمو لَّقَالُوۡا نو هر اٰئینه ویلی به وو کفارو د عربو چه لَوۡلَا
فُصِّلَتۡ اٰیٰتُهٗ ؕ ولے واضح بیان کړے شوی نۀ دی ایتونه دده یعنی په هغه ژبه چه مونږه پرے پوهیږو
دا خو د یرے فائدے منزل دے چه ءَاَعۡجَمِیٌّ آیا هغه کلام چه نازل دے عجمی دے وَّعَرَبِیٌّ ؕ او مخاطب
ئے عربی دے یعنی په هره وجه دوئی خدشه پکښ پیدا کوی له جهته د عناده قُلۡ هُوَ وو ایه دوئی
ته چه دا قرآن چه دے لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا دپاره د هغو کسانو چه ایمان ئے راوړے دے هُدًی وَّشِفَآءٌ ؕ
لاره ښودونکے د حق ته او شفا ورکونکے دے له امراضو او د شکوکو او د شبهو وَالَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ
او هر چه هغه کسان دی چه ایمان نه راوړی په دے قرآن فِیۡۤ اٰذَانِهِمۡ وَقۡرٌ په غوږونو د دوئی
کښ دروند والے دے د کونړوالی چه دوئی ئے دزړه په غوږونو نۀ شی اوریدلے چه پند
پرے واخلی وَّهُوَ او حال دا چه دا قرآن عَلَیۡهِمۡ عَمًی ؕ په دوئی ړوند والے او پټوالے دے نو هیڅ
ترے نۀ شی فهمولے اُولٰٓئِکَ دغه کسان چه دی ایمان ئے نه دے راوړے په قرآن ګویا که داسے
دی لکه چه یُنَادَوۡنَ غږ ورته کاوه شی مِنۡ مَّکَانٍۢ بَعِیۡدٍ ﴿۴۴﴾ له لرے ځایه یعنی لکه چه چا ته
څوک له لرے نارے وهی چه نۀ هغه ویني او نه ئے آواز اوری نو دا غږ هغه ته هیڅ نفع نۀ رسوی۔ هم

داسے دوئ ته هم دا بلل د قرآن هیڅ فائده نهٔ لری وَلَقَدْ اٰتَيْنَا اوهرآئینه په تحقیق ورکړے وو مونږه
مُوْسَى الْكِتٰبَ موسیٰ علیه السلام لره کتاب چه تورات وو فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ط پس اختلاف کړے
شوے وو په هغه کښ په مثل د قرآن په تصدیق او په تکذیب سره وَلَوْلَا كَلِمَةٌ او چرته
وے هغه گفتار سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ چه وړمبے شوے په هرڅه له طرفه د رب ستا چه هغه وعده ده د
تاخیر د عذاب تر قیامته لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ط نو هرآئینه حکم به کړے شوے وو په مابین د دے مکذبانو
کښ په بیخکنئ سره چه په دنیا کښ به ټول هلاک شوی وو وَاِنَّهُمْ او بیشکه دا مشرکان یا یهود چه دی
لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ هرآئینه په شک او گمان کښ دی له دے قرآن یا له توراتہ مُرِيْبٍ ﴿٤٥﴾ چه موجب د
اضطراب وی مَنْ عَمِلَ صَالِحًا هر څوک چه وکا کارنیک فَلِنَفْسِهٖ پس د پاره دخپل ځان ئے دے
ځکه چه نفع ئے دهٔ ته راجع ده وَمَنْ اَسَآءَ او هر څوک چه بد کار وکا فَعَلَيْهَا ط پس هغه هم په
دهٔ بار دے ځکه چه ضرر ئے هم دهٔ راجع دے وَمَا رَبُّكَ او نهٔ دے رب ستا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿٤٦﴾ ظلم
کوونکے په بندګانو چه موجب ئے په عذابوی اِلَيْهِ يُرَدُّ خاص هم دهٔ ته رد کاوهٔ شی عِلْمُ
السَّاعَةِ ط علم د قیامت یعنی کهٔ څوک پوښتنه کوی له ظهوره د قیامته نو حواله ئے په خدائ پکار ده
چه بل هیڅوک پرے خبر نهٔ دے وَمَا تَخْرُجُ او نهٔ راوځی مِنْ ثَمَرٰتٍ هیڅ قسم له میوو مِّنْ اَكْمَامِهَا له
پردو او له غلافونو خپلو وَمَا تَحْمِلُ او نهٔ اخلی بار - مِنْ اُنْثٰى هیڅ ماده نهٔ له انسان او نه له نورو
حیواناتو وَلَا تَضَعُ او نه بږدی بار یعنی حمل اِلَّا بِعِلْمِهٖ ط مگر په علم د دهٔ سره یعنی لکه چه علم په
قیامت خاصه د دهٔ ده همدا سے علم په ثمارو او په نتائجو هم خاصه د دهٔ ده وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ او په هغه ورځ
چه غږ به وکړی خدائ د مشرکانو ته یعنی دا سے به ورته ووائی چه اَيْنَ شُرَكَآءِيْ لا څهٔ شو هغه شریکان
ځما په زعم ستا سے قَالُوْٓا اٰذَنّٰكَ لا نو به وائی دوئ چه خبر کړے مونږه تهٔ په دے چه مَا مِنَّا نشته له مونږه
مِنْ شَهِيْدٍ ﴿٤٧﴾ ج هیڅوک شاهدی کوونکی په دے چه دا شریکان دی ستا ځکه چه اوس حقیقت د
دا امر راته معلوم شهٔ او یا دا کلام د شرکاؤ دے چه له مونږه هیڅوک شاهد نهٔ دے په حقیقت د دوئ په
دے نسبت د شرک کښ وَضَلَّ عَنْهُمْ او ورک به شی له دوئ مَا كَانُوْا يَدْعُوْنَ هغه بتان چه وو دوئ
چه عبادت به ئے کاوهٔ هغو مِنْ قَبْلُ پخوا له دے په دنیا کښ ځکه چه نه به ئے وینی او نه به ئے څهٔ نفع

الجزء الخامس والعشرون (٢٥)

یقین بہ سیبوی وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ او یقین به راشی ددوی په دے چه نشته دوی لره مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿۴۸﴾ هیڅ
ځائی د تیختې لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ نه ملاله کیږی او نه ستومانه کیږی انسان مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ له
غوښتلو د خیر یعنی هر وخت طلب د عیش او د انواع د نعمت او د فراخ کولو په مال کښې او دا په
اصل کښې من دعائه الخیر دے بیا ضمیر د فاعل ترے حذف شه او مصدر مضاف شهٔ مفعول ته وَاِنْ
مَّسَّهُ الشَّرُّ که ورسیږی ده ته یو قدر سختی لکه فقر یا مرض یا بله کومه سختی شوه فَيَـُٔوْسٌ پس
د نیا نا امیده وی له هره خیره او له راحته قَنُوْطٌ ﴿۴۹﴾ امید پرے کړے له رحمته دخدائی تعالیٰ او دا او
مابعد ئے په حق د کافر کښې دے وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ او هر اَئینه که چرے وڅکوو مونږه دغه کافر ته
رَحْمَةً مِّنَّا رحمت له جانبه خپل مونږه لکه صحت یا غنا شوه مِنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ پس له هغه سختی
چه رسیدلے وی ده ته لکه مرض یا فقر شهٔ لَيَقُوْلَنَّ نو هر اَئینه وائی دے هٰذَا لِیْ دا چه دا خیر او
عافیت ما لره مقرر دے او زهٔ ئے مستحق یم وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ اوگمان نهٔ کوم زهٔ په قیامت
قَآئِمَةً دا بر پای کیدو نکے چه به راشی وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ او قسم دے چه که چرے بیرته وگرځولے شم زهٔ
له مرګه او بیا ژوندے کړے شم او بوتلے شم اِلٰى رَبِّیْٓ رب خپل ته لکه چه د اسلمان وائی اِنَّ لِیْ عِنْدَهٗ
نو بیشکه ما لره به وی ده ته لَلْحُسْنٰى ج هر اَئینه هغه څیز چه ډیر ښهٔ دے چه هغه جنت دے یعنی
زهٔ مستحق یم د کرامت که په دنیا یم که په عقبیٰ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس هر اَئینه آگاه
به کړو مونږه خامخا هغه کسان چه کافران دی بِمَا عَمِلُوْا ز په هغه کفر او تکذیب چه کړیدے دوی وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ
او بیا هر اَئینه وبه څکوو مونږه خامخا دوی ته مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۵۰﴾ له هغه عذابه چه سخت او
لوئی دے وَاِذَآ اَنْعَمْنَا او په هغه وخت چه انعام وکړو مونږه او د فرحت او د راحت د روازه پرانزو
عَلَى الْاِنْسَانِ په آدمی باندے نو اَعْرَضَ څنګ وکه دے له شکر وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ج او لرے شی په
سبب د غرور او د کبر خپل له لارے د حق او له یادګیری د خدائی او جانب عبارت له نفس ای تباعد
بنفسه ۔ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ او په هغه وخت چه ورسیږی ده ته سختی او بلا فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ﴿۵۱﴾
پس بیا دے خښتن وی ډیرے بلنے او اوږدے دُعا یعنی هر وخت په سوال او په زاری مشغول وی

عــه یعنی لرے شی په نفس خپل سره ۱۲

قُلْ اَرَءَيْتُمْ ووایه دوئ ته چه آیا وینئ تاسے نو ما هم خبر کړئ چه اِنْ كَانَ كه چرے وی دا قرآن مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ له جانبه دخدائ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ بیا کفر اختیار کړے دے تاسے په هغهٔ بوږے دلیلے بے تامله نو تاسے پخپله فکر وکړئ چه مَنْ اَضَلُّ څوك دے ډیر گمراه مِمَّنْ هُوَ له هغه چا چه دے فِىْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۵۲﴾ وی په مخالفت کښ له خدائ چه دے ډیر لرے دے سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا زر دے چه وبه ښایو مونږه دے کفارو د مکے ته ښنبے دقدرت خپل فِى الْاٰفَاقِ په ټولو افاقو کښ یعنی هم په کنارو د آسمان کښ لکه مثلاً شق عہ دقمر او رجم د نجوم او دا سے نور عجائب او غرائب سماویه شو او په کنارو د زمکے کښ لکه مثلاً نباتات او انهار او اشجار او دا سے نور عجائب او غرائب ارضیه شو یا لکه نور هغه حوادث اتیه شو چه له هغو اخبار کړے وو رسول صلے اللّٰه علیه وسلم او بیا پس له هغه اخباره واقع شوی دی لکه مثلاً فتح د روم او د فارس او د یمن یا واقعه د بدر او هم دا سے حوادث ماضیه لکه قصے د تیر و انبیاؤ علیهم السلام او د امم و سابقهٔ و په وجه د خرق د عادت سره وَفِىْٓ اَنْفُسِهِمْ او په نفسونو د دوئ کښ یعنی هغه عجائب دصنع الٰهی چه د دوئ په ابدانو کښ پیدا کړے شوی دی حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ د پاره د دے چه ښکاره شی دوئ ته اَنَّهُ الْحَقُّ ط دا چه بیشکه دا قرآن یا رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم یا توحید دخدائ حق دے اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ آیا کافی او بس نهٔ دے رب ستا یعنی بس دے او دا بآ زائده ده د پاره د تاکید یعنی آیا بس نهٔ ده دا خبره چه اَنَّهٗ بیشکه دے عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۵۳﴾ په هر څیز شاهد حاضر دے دا بدل دے د اَوَلَمْ يَكْفِ څخه اَلَآ اِنَّهُمْ واوره دا چه بیشکه دا کفار فِىْ مِرْيَةٍ په شك کښ دی مِّنْ لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ط له ملاقاته درب خپل یعنی له بعثه او له جزا اَلَآ اِنَّهٗ بیا واوره چه بیشکه دے بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيْطٌ ﴿۵۴﴾ ع په هر څیز احاطه کونکے دے علم او قدرت د دهٔ۔

سُوْرَةُ الشُّوْرٰى ۴۲ مَكِّيَّةٌ ۶۲ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۵۳ رُكُوْعَاتُهَا ۵

حٰمٓ ﴿۱﴾ عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ ج دا دواړه الفاظ اکرکهٔ خماسی دی په شان د كٓهٰيٰعٓصٓ۔ اما دوئ مخالف دی له هغه په دے کښ چه هغه یو آیت دے او دا دوه آیتونه دی چه یو حٰمٓ دے او بل عٓسٓقٓ دے او

عہ یعنی څیرے ولے د سپوږمی او ویشتل دستورو ۱۲

چا ویلی دی چه د دواړه نومونه دی دد غه سورت ځکه جدا شکلی کیږی سره او دوه ایتونه حسابیږی اوکهٔ مجموعه سره یونوم وی نو جدا جدا بشکل دحٰمٓ دپاره دمطابقت دی له نوروحوامیموسره اوځا ویلی دی چه پنځه حرفونه اخستے شوی دی اوله اوائلو داسماؤ درب. چه حکیم، مجید، علیم، سمیع، قدیر دے کَذٰلِكَ په مثل د وحی دد ے صورت یُوْحِیْٓ اِلَیْكَ همیشه وحی کوی تاته وَاِلَی الَّذِیْنَ او هغه رسولا نو ته هم مِنْ قَبْلِكَ د چه مخواله تا تیرشوی دے اللّٰهُ الْعَزِیْزُ هغه خدائ چه غالب دے نو هیڅوك ئے له وحی نهٔ شی حصارولے الْحَكِیْمُ ﴿۳﴾ پُرحکمت دے چه مستحق د وحی ورته معلوم دے او د الله فاعل دے د تیر یُوْحِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ خاص هم دهٔ لره دی په طریقه د مملوکیت سره هر هغه چه په اسمانونو کښ دی له علویاتو وَمَا فِی الْاَرْضِ ط او هم داسے هر هغه چه په زمکه کښ دی له سفلیاتو وَهُوَ الْعَلِیُّ او دے ډیر لوئ دے الْعَظِیْمُ ﴿۴﴾ ډیر بلند شان دے چه لوئی او عظمت ئے بے انتها دے تَكَادُ السَّمٰوٰتُ نزدے دی اسمانونه ټول دے ته یَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ چه وُچوی دوئ له پاس طرفه خپل یعنی هغه اسمان چه د ټولو د پاسه دے چه اول هغه وُچوی پسے ترے د اکوز تراخره له جهته د ظهور د کبریا او عظمته د پروردګار یا له جهت دنسبت د ولد دهٔ ته یا له جهته د کثرته د ملائکو وَالْمَلٰٓئِكَةُ او هغه ملائك چه حاملان دی دعرش او هغه کروبیان چه تر چاپیره دی یا مطلق ټول ملائك یُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ تسبیح وائی دوئ پیوست له ثنا د رب خپل سره وَیَسْتَغْفِرُوْنَ او بخښنه غواړی دوئ له خدائ لِمَنْ فِی الْاَرْضِ ط د پاره د هغه مؤمنانو چه په زمکه کښ دی اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ واورئ بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ﴿۵﴾ هم دے ډیر بخښونکے مهربان دے وَالَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا او هر چه هغه کسان دی چه نیولی دی دوئ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِیَآءَ غیر له خدائ نګهبان دے نور دوستان یعنی بتان چه ئے وی اللّٰهُ حَفِیْظٌ عَلَیْهِمْ ز صلے خدائ نګهبان دے یعنی اقوال افعال احوال د دوئ ټول ورته معلوم دی نو جزا به د ټولو ورلره ورکړی وَمَا اَنْتَ او نهٔ ئے ته اے رسوله! عَلَیْهِمْ بِوَكِیْلٍ ﴿۶﴾ په دوئ مسلط کړے شوے بلکه په تا تبلیغ دے فقط وَكَذٰلِكَ او هم داسے لکه چه هر پیغمبر ته به مونږه وحی کوله په لسان دقوم خپل سره اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ وحی وکړه مونږه تاته په لسان دقوم ستا سره قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا قرآن عربی لِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰی د پاره د دے چه

چه ووېروې ته مور د ښارونو دروی زمین یعنی اهل د مکې وَمَنْ حَوْلَهَا او ووېروې هر هغه څوک چه چاپېره دی له دې ام القرٰی له هر جانبه تر اخره د زمکې **فائده** دې مکې ته ام القرٰی وایه شی ځکه چه دا اصل د ټولو بلادو او مېنځ هم دې د زمکې. هم له همدې نه خورې شوې ده هره طرفته وَتُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ او چه ووېروې ته خلق له هوله او له عذابه د ورځې د جمع چه قیامت دې لَا رَيْبَ فِيهِ ۭ چه نشته هیڅ شک په وقوع د هغه کښې او دې ته ځکه ورځ د جمع وایه شی چه اولین او اخرین به پکښې یوځائې کاوه شی یا ارواح او ابدان یا اعمال او عاملان او بیا پس له جمع او کوناهی د حساب خلق به دوه فرقې شی فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ یوه فرقه به وی په جنت کښې چه مؤمنان مؤحدان دی وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ⑦ او بله فرقه به وی په دوزخ کښې چه مشرکان او منافقان دی وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ او که اراده شوې وې د خدائې لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً نو هر ائینه کړې به ئې وو دا ټول مخلوق یو ټولې. یعنی واړه مؤمنان یا واړه کافران وَلَٰكِنْ يُدْخِلُ او لیکن ننباسی دې مَنْ يَشَاءُ هر هغه څوک چه اراده وشی د ده فِي رَحْمَتِهِ ۚ په رحمت خپل کښې په هدایت او په توفیق د طاعت سره وَالظَّالِمُونَ او هر چه ظالمان یعنی کافران دی مَا لَهُمْ نشته دوئی لره مِنْ وَلِيٍّ هیڅوک دوست چه غمخواری وکه د دوئی وَلَا نَصِيرٍ ⑧ او نه کوم مددګار چه دوئی له عذابه خلاص که۔ أَمِ اتَّخَذُوا بلکه نیولی دی دوئی مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ غیر له خدائې نور دوستان یعنی بتان او که دوئی چرې حقانی دوست غوښتلې نو فَاللَّهُ پس خدائې چه دې هُوَ الْوَلِيُّ هم دې دوست دې وَهُوَ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ ز او هم دې ژوندی کوی مړی په قیامت نه بتان وَهُوَ او دې چه دې عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ⑨ په هر کار قادر دې نه بتان. بیا رسول صلے الله علیه وسلم ویل مؤمنانو ته او رب العزت ترې حکایت کړې دې داسې چه وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ او هر چه هغه کار دې چه اختلاف کوئ په هغه کښې تاسې اې مؤمنانو له کفارو له اهل کتابو سره او له مشرکانو سره مِنْ شَيْءٍ له کوم څیز نه له امورو د دین یا د دنیا فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ۭ پس حکم یعنی فیصل د هغه مفوض دې خدائې ته چه به ئې فیصل کوی په دنیا کښې به نصرت او په هزیمت سره یا په عقبٰی کښې په ثواب او په عقاب سره ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي دا چه حکم کوی په حق دا خدائې دې چه رب زما دې۔ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ خاص په هم ده اعتماد کړې دې ما په هر

کښې وَاِلَیۡهِ اُنِیۡبُ ⑩ او خاص هم دهٔ ته رجوع کوم په ټولو مهماتو خپلو کښې فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ
پیدا کوونکے دے د اسمانونو او د زمکے جَعَلَ لَکُمۡ پیدا کړی دی دهٔ تاسو لره مِّنۡ اَنۡفُسِکُمۡ له ځانونو
ستاسو یعنی له جنسه ستاسو. یا چه بی بی حوائے پیدا کړے ده له پوښتئ د آدم علیه السلام
ځنې اَزۡوَاجًا ښځے وَّمِنَ الۡاَنۡعَامِ اَزۡوَاجًا او بل پیدا کړی دی ده تاسو لره چارپایان رنګارنګ
اصناف یا نران او ښځے یَذۡرَؤُکُمۡ فِیۡهِ ؕ د پروی او زیاتوی دے تاسو په دے توالد او تناسل
کښې لَیۡسَ کَمِثۡلِهٖ شَیۡءٌ ۚ نشته په شان د ده هیڅ څیز او دا کاف زائد دے وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡبَصِیۡرُ ⑪
او دے اوریدونکے لیدونکے دے د هر هغه چه اوریدهٔ او لیدهٔ شی لَهٗ مَقَالِیۡدُ السَّمٰوٰتِ خاص هم
دهٔ لره دی او په تصرف د دهٔ کښې دی کلیګانے د خزانو د اسمانونو وَالۡاَرۡضِ ۚ او د زمکے یعنے کلیګانے
د رزق چه اوبه ئے له اسمانه دی او نباتات ئے له زمکے دی یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ فراخ کوی دے روزی
لِمَنۡ یَّشَآءُ هر هغه چالره چه اراده ئے وشی په مقتضیٰ د مشیت وَیَقۡدِرُ ؕ او چالره چه وغواړی
کمه ورکوی اِنَّهٗ بِکُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ⑫ بیشکه چه دے په هر څیز دانا دے له استحقاق د بسط او
د قبض شَرَعَ لَکُمۡ بیان کړی او ښکاره کړی دی ده تاسو لره مِّنَ الدِّیۡنِ له دین ځنې مَا وَصّٰی هغه
څیز چه فرمائش کړے وو دهٔ بِهٖ نُوۡحًا په هغه څیز سره نوح علیه السلام ته چه اول دے د
انبیاؤ د شرائع وَّالَّذِیۡۤ اَوۡحَیۡنَاۤ اِلَیۡکَ او بل هغه څیز چه رالیږلے دے مونږه تا ته چه آخرنے
د دوئ وَمَا وَصَّیۡنَا بِهٖۤ او بل هغه څیز چه فرمائش کړے وو مونږه په هغه څیز سره هغو انبیاؤ
ته چه په دے مینځ کښې دی چه دا دی اِبۡرٰهِیۡمَ وَمُوۡسٰی وَعِیۡسٰۤی یعنی دا دریواړه چه
خښتنان دی د شرائع حاصل دا چه مقرر کړی او رالیږلی دی دهٔ تاسو لره دین د نوح
او د محمد علیهما السلام او دین د هغه انبیاؤ چه په دے مینځ کښې دی له خښتنانو د شرائعو
هغو واړو ته یو امر مشترك له اصول د دین ځنې ئے رالیږلی دی چه هغه اَنۡ اَقِیۡمُوا الدِّیۡنَ
دا دے چه برپا ئی لرئ دین چه هغه توحید او طاعت دے د خدائ او ایمان دے په رسولانو
او په کتابونو د دهٔ او په ورځ د آخرت او په ټولو هغو څیزونو چه سړے پرے مسلمان کیږی
نو دا د ټولو ادیانو حد مشترك دے. او هر چه باقی شرائع دی. هغه سره مختلف دی لکه

چه وارد دے لِکل جعلنا منکم شرعة ومنهاجًا وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِیْهِ ط او مه تاریه تارکیږئ سره په سبب
د اختلاف په هغه دین کښ کَبُرَ عَلَی الْمُشْرِکِیْنَ لوی او گران او سخت دے په مشرکانو مَا تَدْعُوْهُمْ هغه
څیز چه بولے ته دوئ اِلَیْهِ ط هغه څیز ته چه توحید د خدائ او نفی د شرك ده اَللّٰهُ خدائ چه دے
یَجْتَبِیْٓ اِلَیْهِ راکاږی او راجمع کوی دے ځان ته یادغه دین ته مَنْ یَّشَآءُ هر هغه څوك چه اراده
وشی ده د رابنکلو د هغهٔ وَیَهْدِیْٓ اِلَیْهِ او برابروی دے ځان ته یادغه دین ته مَنْ یُّنِیْبُ ⑬
هر هغه څوك چه مخ کوی طاعت د ده ته یعنی هر څوك چه له غیر اعراض وکه او مخ که ده ته نو دے
سم لاره ورته ښائی وَمَا تَفَرَّقُوْٓا او نهٔ وو تاریه تار شوی پخوانی امتونه له قبول د دین لکه عاد او
ثمود او مؤتفکات یا اهل کتاب اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا مگر پس له هغه جَآءَهُمُ الْعِلْمُ چه راغلے وو دوئ
له علم په دے چه دا تفرق گمراهی ده له اخباره د رسولانو یا علم په حقیقت د رسول علیه السلام
له تورات او له انجیل نو دوئ هیڅ التفات ورته ونهٔ کړه بَغْیًا له جهته د هغه حسد او عداوت او تکبره
یا له جهته د هغه طلب د دنیا او د عزت او د جاه چه واقع وو بَیْنَهُمْ ط په مابین د دوئ وَلَوْلَا کَلِمَةٌ
او که چرے نه وے هغه کلمه سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ چه نمړے شوے ده له جانبه د رب ستا په مهلت
د عذاب او په تاخیر د جزا اِلٰٓی اَجَلٍ مُّسَمًّی تر هغه وخته په نامه کړے شوے پورے چه هغه آخر
د عمر د دوئ دے یا ورځ د قیامت ده لَّقُضِیَ بَیْنَهُمْ ط نو هرآئینه حکم به کړے شوے وو په مابین
د دوئ کښ په بیخکنئ د مبطلانو او په خلاصی د محقانو سره وَاِنَّ الَّذِیْنَ او بیشکه هغه مشرکان
اُوْرِثُوا الْکِتٰبَ چه ورکړے شوے دے تورات او انجیل یا هغه اهل کتاب د زمانے د رسول علیه
السلام چه وو لره ورکړے شوے دے قرآن پس له کتاب خپل مِنْۢ بَعْدِهِمْ پس له پخوانیو
امتونو لَفِیْ شَكٍّ مِّنْهُ هرآئینه واقع دی په شك کښ چه له دے دینه یا له قرآنه یا له رسول
علیه السلام څخه دا سے شك مُرِیْبٍ ⑭ چه په اضطراب کښ اچونکے دے فَلِذٰلِكَ پس
د پاره د دغے تفرقے چه موجب شوے ده د پیدا کولو د انواع د کفر فَادْعُ ج پس وبوله ته دا
خلق اتفاق ته په توحید او په دین د اسلام وَاسْتَقِمْ او محکم ولاړ او سه په دے دعوت کَمَآ
اُمِرْتَ ج لکه چه ماموره شوے ئے ته روایت دے چه ولید بن مغیره رسول صلی الله

علیه وسلم ته وویل چه له دے دین او دعوته لاس واخله نو نیم مال خپل به درله درکړم او شیبه
بن مغیره ورته وویل چه بیرته دین د ابا وُ ځمونږه ته راوګرځه نو خپله لور به درکړم نو نازل شُه
وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاءَهُمْ ج او تابعدارى مه کوه دباطلو ارزوګانو ددوئ بلکه کلک اوسه په خپل دین
اودعوت وَقُلْ اٰمَنْتُ او ووایه دوئ ته چه ایمان راوړے دے ما بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه چه رالیږلے
دے خدائ مِنْ كِتٰبٍ ج له جنس دکتاب چه ماته راغلے دے اوکهٔ نورُ انبیاؤ ته یعنې الهامی اوبه
هغو ټولوکښې حکم او امر رالیږلے دے خدائ په توحید او په نفی د شرک وَ اُمِرْتُ او بل مامور
شوے یم زهٔ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ ط په دے چه برابری کوم په مابین ستاسے کښې هم په حکو ماتوکښې
اوهم په تبلیغ داحکامو کښې چه اشرافو او ارزالو سره یو رنګ معامله کوم په دے دواړو کښې .
اَللّٰهُ رَبُّنَا خدائ چه دے رب دے ځمونږه وَرَبُّكُمْ ط او رب د ستاسے لَنَآ اَعْمَالُنَا مونږه لره دی
عملونه ځمونږه یعنی جزا ئے وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ط او تاسے لره دی عملونه ستاسے یعنی جزائے . لَا
حُجَّةَ نشته هیڅ جګړه بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ط په مابین ځمونږه او په مابین ستاسے کښې ځکه چه حق
ظاهر شوے دے نو حجت بازئ ته هیڅ حاجت نشته اوکهٔ چا انکار یا خلاف کاوو پس له دے نو هغه به
له عناد اوله سرکشئ وی اَللّٰهُ خدائ چه دے يَجْمَعُ بَيْنَنَا ج جمع به وکا په مابین ځمونږه کښې
یعنی مونږ او تاسے به سره یو ځائ کړ په قیامت دپاره دقضا وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ⑮ اوهم دهٔ ته بیا ورتلل
دی دهرچا وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ او هرچه هغه کفار دی چه جګړه کوی دوئ فِى اللّٰهِ په خدائ کښې یعنې
په دین ددهٔ کښې مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه اُسْتُجِيْبَ لَهٗ چه منلے شوے دے حکم دخدائ او داخل
شوی دی ډیر خلق په دین داسلام کښې یا چه منلے ده خدائ دعا د رسول صلے الله علیه وسلم په
اظهار ددین په نصرت ددهٔ په ورځ دبدر یا چه منلے د اهل کتاب نبوت د رسول صلے الله علیه وسلم په تورات
کښې او ایمان ئے پرے راوړے دے حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ حجت ددوئ باطل دے عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد درب
ددوئ پس له ظهوره د ایتونو ځکه چه دا محض عناد دے وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ او په دوئ غضب دے د
خدائ له جهته د باطلے مجادلے وَّلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ⑯ او دوئ لره سخت عذاب مقرر دے
اَللّٰهُ الَّذِىْٓ خدائ هغه قادر مطلق دے اَنْزَلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ چه رالیږلے دے دهٔ کتاب چه قران دے

په حق وَالْمِيْزَانَ ط او رالیږلے ده دهٔ تله چه خرخونکے او اخستونکے دواړه نقصان نشی وَمَا يُدْرِيْكَ
او څهٔ خبر خبر کړے ئے تهٔ په دې چه لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ ﴿۱۷﴾ بنائی چه قیامت نزدے وی يَسْتَعْجِلُ بِهَا
جلتی کوی په راتلو د قیامت الَّذِيْنَ هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا ج چه نهٔ راوړی ایمان په هغه
قیامت وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے په خدائ په رسول الله صلے الله علیه
وسلم په قیامت مُشْفِقُوْنَ مِنْهَا لا په ویره دی له قیامت او حیران چه خدائ به څرنګه معامله
راسره وکا وَيَعْلَمُوْنَ او پوهیږی دوئ اَنَّهَا الْحَقُّ ط په دے چه دا قیامت حق دے اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ واورئ
چه بیشکه هغه کسان يُمَارُوْنَ چه جګړه کوی دوئ فِي السَّاعَةِ په راتلو د قیامت کښ او وائ چه
قیامت له سره نشته لَفِيْ ضَلٰلٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۱۸﴾ هر ائینه په هغه ګمراهئ کښ دی چه لرے ده له صوابه
اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ خدائ مهربان دے په بندګانو خپلو ځکه ئے په لوږه نهٔ هلاکوی په سبب د
ګناهونو يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ ج روزی ورکوی دے هر هغه چاله چه اراده ئے وشی وَهُوَ الْقَوِيُّ
ع ۲ الْعَزِيْزُ ﴿۱۹﴾ او دے قوی دے په مراد خپل کښ غالب دے په حکم او په اراده خپله کښ مَنْ كَانَ هغه څوک
چه وی دے يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ چه غواړی په عمل خپل سره کښت د اخرت یعنی ثواب ئے.
نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ج نو زیاتوالے کوو مونږه دهٔ لره په کښت د دهٔ کښ داسے چه یوه حسنه په لسو
ورله بنکو یا په اوهٔ سوه یا زیات وَمَنْ كَانَ او هغه څوک چه وی دے يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا چه غواړی
په عمل خپل سره کښت د دنیا یعنی مال متاع یا عزت جاه یا بل کوم مطلب له مطالبو د دنیا نُؤْتِهٖ
مِنْهَا نو ورکوو مونږه دهٔ لره تر هغه قدر چه مونږه ورله مقرر کړے وی بے زیادته او نقصانه وَ
مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ او نهٔ وی دهٔ لره په اخرت مِنْ نَّصِيْبٍ ﴿۲۰﴾ هیڅ قدر برخه ځکه چه حدیث دے انما
الاعمال بالنیات و انما لامرءٍ مانوٰی (الحدیث)، اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا بلکه دی دغه کفارو د مکے لره
شریکان په معصیت کښ له شیطانانو شَرَعُوْا لَهُمْ چه ساز کړی دی هغو دوئ لره یعنی بنا نسته
کړی ئے دی په زړونو د دوئ کښ مِّنَ الدِّيْنِ له دین د جاهلیت مَا لَمْ يَاْذَنْۢ هغه چه امر نهٔ دے کړے
بِهِ اللّٰهُ ط په هغه خیر خدائ لکه شرک او انکار له بعث او عمل دپاره د دنیا او تحریم د بحیرے او د سائبے
او داسے نور هم وَلَوْ لَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ او که چرے نه دے کلمه د فصل یعنی قضا سابق په تاخیر د جـزا

یاد لے وعده چه فیصلے به په ورځ د قیامت کیږی لَقُضِیَ بَیۡنَهُمۡ ؕ نو هرآئینه حکم به کړے شوے وو
په مابین د مؤمنانو او د کفارو یا د مشرکانو او د شرکاؤ د دوئ کښ وَاِنَّ الظّٰلِمِیۡنَ او بیشکه ظالمان کافران
چه دی لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۲۱﴾ مقرر دے دوئ لره عذاب دردناک تَرَی الظّٰلِمِیۡنَ وبینے به ته مشرکان په
ورځ د قیامت مُشۡفِقِیۡنَ ویریدونکی مِمَّا کَسَبُوۡا له جهته د هغو بدیو چه کړے وی دوئ په دنیا کښ وَ
هُوَ او حال دا چه وبال د هغو افعالو او اقوالو د دوئ وَاقِعٌۢ بِهِمۡ ؕ راپریوتونکے دے په دوئ یعنی
رسیدونکے دے دوئ ته که ویریږی او که نه ویریږی وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا او هرچه هغه کسان دی چه
ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د نیکو فِیۡ رَوۡضٰتِ الۡجَنّٰتِ ج په هغو ډیرو
غوره ځایونو د جنتونو کښ به وی لَهُمۡ مَّا یَشَآءُوۡنَ وی به دوئ لره په دے جنت کښی هر هغه نعمت
چه غواړی او اُرزو کوی دوئ هر وخت تیار او ثابت عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ په نزد د رب د دوئ ذٰلِکَ دا کرامت
چه بیرته ذکر شویدے د پاره د جنتیانو هُوَ الۡفَضۡلُ الۡکَبِیۡرُ ﴿۲۲﴾ دغه لوی فضل دے چه خدائ
په خپلو بندګانو پیرزو کړے دے چه نسبت هغه ته دا فانی نعمتونه د دنیا ډیر حقیر دی ذٰلِکَ
الَّذِیۡ دا ثواب هغه دے یُبَشِّرُ اللّٰهُ چه زیرے کوی خدائ او به پکښ محذوف دے عِبَادَهُ الَّذِیۡنَ
اٰمَنُوۡا په هغو بندګانو خپلو چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ او عملونه کوی دوئ د نیکو
روایت دے چه مشرکانو به یو بل ته سره ووئیل چه څوک له تلسے خبر دے چه محمد صلے الله
علیه وسلم چه دا دعوت او تبلیغ کوی په دے له چا اُجرت هم غواړی او که نه غواړی نو نازل شُه
قُلۡ ووایه دوئ ته لَّاۤ اَسۡـَٔلُکُمۡ چه نه غواړم زه له تاسے عَلَیۡهِ اَجۡرًا په دے پیغام رسولو اُجرت
اِلَّا الۡمَوَدَّةَ لیکن دوستی غواړم فِی الۡقُرۡبٰی ؕ په خپلولئ کښ حاصل دا چه په قریشو کښ هیڅوک
داسے نشته چه څما د خپلولئ تار د ُه ته نه دے ورغلے نو زه له دوئ اُجرت د تبلیغ نه غواړم اما
بالل د هغے صله رحمئ تړے غواړم چه څما او د دوئ په مینځ کښ ده چه پخپله دِ هم دشمنی راسره نهٔ
کوی او د نورو دشمنانو په باب کښ دِ هم مددګاری راسره کوی وَمَنۡ یَّقۡتَرِفۡ حَسَنَةً او هر څوک چه وکړ
کومه نیکی خصوصًا محبت د آل د رسول صلے الله علیه وسلم نزدِ له نو زیاتوو مونږ ده ته لره فِیۡهَا
حُسۡنًا ؕ په هغه حسنه کښ ښائست په مضاعف کولو د ثواب د هغے سره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ

غَفُوۡرٌ شَکُوۡرٌ (۲۳) بخښونکے دے د ګناه د عاصیانو قبلونکے دے د طاعت د مطیعانو اَمۡ یَقُوۡلُوۡنَ افۡتَرٰی
بلکه وائی د اکفار چه له ځانه تړلے دے یعنی محمد صلے الله علیه وسلم عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا ج په خدائی دروغ په
دعوی د نبوت یا په نزول د قرآن فَاِنۡ یَّشَاِ اللّٰهُ پس که اراده وشی د خدائی یَخۡتِمۡ عَلٰی قَلۡبِکَ ط نو
مهر به کیږدی دے په زړهٔ ستا د صبر نو خفګان به نهٔ درځی په ایذا د دوئی سره وَیَمۡحُ اللّٰهُ الۡبَاطِلَ
او محوه کوی خدائی باطل وَیُحِقُّ الۡحَقَّ او ثابت او ښکاره کوی حق بِکَلِمٰتِهٖ ط په کلماتو خپلو سره چه
قرآن دے اِنَّهٗ بیشکه چه دے عَلِیۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ (۲۴) ښهٔ اګاه دے په هر هغه چه په زړونو کښ
دی یعنی ستا راستی او د دوئی بدګمانی ورته معلوم دی وَهُوَ الَّذِیۡ او دے هغه مهربان دے چه محض
په فضل خپل سره یَقۡبَلُ التَّوۡبَةَ قبلوی توبه عَنۡ عِبَادِهٖ له بندګانو خپلو هر کله چه دوئی تائبان
شی وَیَعۡفُوۡا او عفو کوی دے عَنِ السَّیِّاٰتِ له بدیو د دوئی پس له پښیمانئ وَیَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُوۡنَ (۲۵)
او پوهیږی دے په هر هغه کار چه کوئی ئے تاسے کهٔ ګناه وی کهٔ توبه وَیَسۡتَجِیۡبُ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا او
قبلوی دے سوال او طاعت د هغو کسانو چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه
کوی دوئی د نیکو وَیَزِیۡدُهُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ط او زیات ورکوی دے دغه مؤمنانو سائلانو لره له فضله
خپله یعنی هر هغه چه دوئی غوښتی وی هغه خو ورلره ورکاندی او د دوئی له مسئول تیرے هم ورکوی
له خپله فضله وَالۡکٰفِرُوۡنَ او هر چه کافران دی لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِیۡدٌ (۲۶) دے دوئی لره عذاب
سخت وَلَوۡ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزۡقَ او کهٔ چرے ارته کړے وے خدائی روزی لِعِبَادِهٖ د پاره د بندګانو
خپلو یعنی کهٔ روزی ئے پریره پراخه کړے وے او ټول ئے غنیان کړی وے لَبَغَوۡا فِی الۡاَرۡضِ نو هرو
اُئینه ظلم او بغی به برپائی کړے وه دوئی په زمکه کښی په تکبر او په فساد سره وَلٰکِنۡ یُّنَزِّلُ او
لیکن رالیږی دے روزی دوئی لره بِقَدَرٍ مَّا یَشَآءُ ط په هغه اندازه سره چه اراده وی دده حکمت
بالغه سره اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ بیشکه چه دے په احوالو د بندګانو خپلو خَبِیۡرٌۢ بَصِیۡرٌ (۲۷) ښهٔ خبردار
بیناد ے چه هر یوه سره څهٔ بائده دی او څو بائده دی او کوم وخت بائده دی وَهُوَ الَّذِیۡ
او دے هغه منان دے چه محض په کرم خپل سره یُنَزِّلُ الۡغَیۡثَ رالیږی دے باران مِنۡۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُوۡا
پس له هغه چه نا امیده شی دوئی له وریدلو ئے وَیَنۡشُرُ رَحۡمَتَهٗ ط او خوروی رحمت خپل

هم په اباديواوهم په غړونواوهم په ولغونو وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۸﴾ او دے دوست دے د مؤمنا نو
ستایش کونکے دے د حامدانو وَمِنْ اٰيٰتِهٖ او بعضوله نښنود قدرته د دهٔ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
پیدا ئښت دٔ اسمانونو او د زمکے وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا او پیدا ئښت د هر هغه څيز کښ چه شیندلی دی ده
په دے دواړو کښ مِنْ دَآبَّةٍ له زنده سرو خوزیدونکیو لکه ملائک اوجن او انس او باقی ټول
حیوانات وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ او دے په بیا راجمع کولو د دوئی اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ په هرهغه وخت چه اراده
ئے وشی هغه قادر دے او غیر له دهٔ نور هرڅوك له دے عاجزدی وَمَآ اَصَابَكُمْ او هر هغه چه رسیږی
تاسے ته مِّنْ مُّصِيْبَةٍ کوم قسم غم اے مؤمنانو په ځان یا په اهل یا په مال کښ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ
پس په شامت د هغو ګناهونو وی چه کسب ئے کړے دے لاسونو ستاسے او د اف جزائیه د ه یا
متضمن دے معنی د شرط لره وَيَعْفُوْا او عفوه کوی او تیریږی دے عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۰﴾ له زیاتو
ګناهونو ستاسے او کهٔ کوم بے ګناه ته کله څهٔ مصیبت ورسیږی نو هغه به موجب د زیاتوالی
د اجر د دهٔ وی فائده نقل دے چه علی کرم الله وجهه ویلی دی چه په تمام قران کښ دا ځائے د
ډیر امید دے ځکه چه په دے ایت کښ رب ویلی دی چه مؤمن ته په سبب د بعض ګناهونو مصیبت
رسوم او په مصیبت ئے ترے رټوم او د ډیرو ګناهونو عفو ورته کوم نو دے منزه بالند شان دے
له دے چه یوکرت به ئے په د نیا کښ ترے عفو کړے وی او په عقبیٰ به ئے بیا پرے نیسی دا خو
حال وو د مؤمنانو او اوس دا حال د کفارو وائی وَمَآ اَنْتُمْ او نهٔ یئی تاسے اے کافرانو بِمُعْجِزِيْنَ
عاجز کونکی د خدائی له جاری کولو د امرخپل او له عذاب ورکولو مستحقانو لره فِى الْاَرْضِ په زمکه
وَمَا لَكُمْ او نشته تاسے لره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائی مِنْ وَّلِيٍّ هیڅوك کارساز په دنیا کښ وَّلَا
نَصِيْرٍ ﴿۳۱﴾ او نهٔ کوم یار مدد کار چه خلاص دوئی تاسے لره عذاب په عقبیٰ کښ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ
او بل له نښنو د قدرته او د قوته د دهٔ روانے بیړئ او جهازونه دی فِى الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۳۲﴾ په سیند
کښ لکه غرونه په لوی والی کښ اِنْ يَّشَاْ که چرے اراده وشی د دهٔ يُسْكِنِ الرِّيْحَ نو به ودروی دے
دا باد چه د غه جهازونه پرے روان دی فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ پس شی به دا جهازونه ټول ولاړ په
یوځائے عَلٰى ظَهْرِهٖ په شا د غه اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ بیشکه په دے جاری کیدلو د بادونو او په روانیدلو د جهازونو

کښ لَاٰیٰتٍ هر اٌسینه لوئ نښے دی لِّکُلِّ صَبَّارٍ دپاره دهر هغه چا چه ډیر صبر کونکے وی په نزد د زحمتونو
شَکُوۡرٍ ﴿۳۳﴾ ډیر شکر کونکی په نزد د نعمتونو اَوۡ یُوۡبِقۡهُنَّ یا به هلاک کادے دا بیړئ او جهازونه سره له
له ادمیانو په غرق سره په باد د طوفان بِمَا کَسَبُوۡا په سبب د هغو گناهونو چه دا د جهازونو خلق ئے کوی
وَ یَعۡفُ اوعفو کوی دے عَنۡ کَثِیۡرٍ ﴿۳۴﴾ له ډیرو گناهونو د دوئ ځکه ئے نه غرقوی فی الحال په سینه
کښ او که اراده وشی ددهٔ نو غرق به کا دا کفار یو دپاره د دے چه انتقام ترے واخلی وَّ یَعۡلَمَ الَّذِیۡنَ
او بل دپاره د دے چه پوهه شی په وخت د نزول د عذاب کښې هغه کسان یُجَادِلُوۡنَ فِیۡۤ اٰیٰتِنَا ؕ چه
جگړے کوی دوئ په اٰیتونو ځمونږه کښ دپاره د ابطال او د دفع د هغو په دے چه مَا لَهُمۡ نشته
دوئ لره مِّنۡ مَّحِیۡصٍ ﴿۳۵﴾ هیڅ ځائ د تیختے له عذابه بیا وائی مؤمنانو ته چه فَمَاۤ اُوۡتِیۡتُمۡ پس هر هغه
چه درکړے شوے د دے تاسے لره مِّنۡ شَیۡءٍ له کوم څیزه څخه لکه ځامن او نور ټول مال شهٔ د
دے جهان فَمَتَاعُ الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا ۚ پس هغه معاش د دے ددے نزدے ژوندون وَ مَا عِنۡدَ اللّٰہِ او
هغه جنتونه او نعمتونه چه خدائ څخه دی خَیۡرٌ وَّ اَبۡقٰی هغه هم غوره دی او هم ترے ډیره پائیدونکی
دی لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا دپاره د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے وَ عَلٰی رَبِّہِمۡ یَتَوَکَّلُوۡنَ ﴿ۚ۳۶﴾ او په
رب خپل توکل کوی وَ الَّذِیۡنَ یَجۡتَنِبُوۡنَ او بل هغه کسان چه ځان ساتی دوئ کَبٰٓئِرَ الۡاِثۡمِ
له هغو غټو د گناه چه اول ئے شرک دے او بیا بسے هر هغه گناه دے چه موجب د حد وی وَ
الۡفَوَاحِشَ او له نورو بدو کارونو وَ اِذَا مَا غَضِبُوۡا او په هغه وخت چه په غضب شی دوئ په
چا په سبب د کوم مکروه هُمۡ یَغۡفِرُوۡنَ ﴿ۚ۳۷﴾ دوئ بخښنه کوی او تیریږی له هغه تقصیره وَ الَّذِیۡنَ
او بل هغه کسان اسۡتَجَابُوۡا لِرَبِّہِمۡ چه دعوت ئے منلے دے د رب خپل مراد نصاری دی چه
رسول صلی الله علیه وسلم توحید او عبادت د رب ته وبلل او دوئ فی الحال په رغبت سره قبول
کړو وَ اَقَامُوا الصَّلٰوۃَ ص او برپائ لری دوئ مونځ خپل یعنی ادا کوی ئے سره له ټولو شرائطو او
حقوقو وَ اَمۡرُهُمۡ او کار د دوئ چه دے شُوۡرٰی بَیۡنَهُمۡ ص مشورت او مصلحت وی په خپلو کښ سره یعنی
یوازے په خپل فکر هیڅوک ترے کوم کار نهٔ کوی څو چه ټول پرے جمع شوی نهٔ وی او شوری مصدر دے
لکه فتیا په معنیٰ د تشاور وَ مِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ او بعضے له هغو اموالو چه ورکړی دی مونږه دوئ لره

يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۸﴾ ورکول کوی دوئ په لارے دخدائ کښې وَالَّذِیْنَ او بل هغه کسان اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْیُ په هغه وخت
چه ورسیږی دوئ ته ظلم له طرفه دکفارو هُمْ یَنْتَصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾ نو دوئ انتقام اخلی له هرهغه چا
چه ظلم ئے پرے کړے وی په قدر دظلم دهغهٔ اوحلم اوانتصار دواړه محمود دی اوحد دانتصار داد ے
لکه چه پخپله وائی وَجَزٰٓؤُا سَیِّئَةٍ اوجزاد بدکارده سَیِّئَةٌ مِّثْلُهَا ج بدکار دے خوچه په مثل د
هغووی اوزیات ترے نهٔ وی فائده دا اوله سیئه خو په واقعه کښې سیئه ده اوهرچه دوئمه ده
اګرکهٔ هغه هم فی نفسها سیئه وه لیکن اوس حسنه شوے ده لغیرها او دلته سیئه بللے شویده
یاد پاره د مشابهت له هغې د پردمبی سره په صورت کښې لکه وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا کښې اویاچه
په جزاد سیئه کښې واقع شویده اویاچه په چانازل شوے ده هغه پرے خفه کیږی اویاچه کهٔ نرمے
نهٔ وے نو دادوئم به سیئه وه نکته په تسمیه د دوئم کښې په سیئے سره اشارت دے دیته چه عفو
اولیٰ ده فَمَنْ عَفَا پس هرچا چه عفوه وکړه له بل مسلمان اوانتقام ئے ترک کړو وَاَصْلَحَ اوصلح
ئے وکړه له خپل ظالم سره فَاَجْرُهٗ عَلَی اللّٰهِ ط پس اجردهٔ په خدائ دے اِنَّهٗ بیشکه خدائ لَا یُحِبُّ
الظّٰلِمِیْنَ ﴿۴۰﴾ نه خوښوی ظالمان یعنی هغه کسان چه ابتداء کوی په ظلم وَلَمَنِ انْتَصَرَ اوهراًئینه
هغه څوك چه واخلی دے حق خپل بَعْدَ ظُلْمِهٖ پس له مظلوم کیدلو دهٔ یعنی پس له هغه چه اول
ظلم په دهٔ وکړے شی اودالفظ دظلم مصدر دے مضاف مفعول خپل ته فَاُولٰٓئِكَ پس داکسان
چه دی چه خپل حق ئے اخستے دے مَا عَلَیْهِمْ نشته په دوئ په دے باب کښې مِّنْ سَبِیْلٍ ﴿۴۱﴾ هیڅ
لاره یعنی نه دعقاب اونه دعتاب اونه د ملامت دهیچا یا نشته په دوئ هیڅ وبال ځکه چه خپل
حق ئے اخستے دے اِنَّمَا السَّبِیْلُ بیشکه هم داخبره ده چه وبال چه دے عَلَی الَّذِیْنَ خاص په هغو
کسانو دے یَظْلِمُوْنَ النَّاسَ چه ظلم کوی ابتداءً دوئ په خلقو وَیَبْغُوْنَ فِی الْاَرْضِ اوتیریږی
دوئ له حده په زمکه کښې په فساد اوپه تکبراوپه لوییٔ سره بِغَیْرِ الْحَقِّ ط بے حق یعنی بے موجب
د ظلم اود بغی لکه هغه تیرچه وو اُولٰٓئِكَ داکسان چه موصوف دی په ظلم اوپه بغی سره لَهُمْ عَذَابٌ
اَلِیْمٌ ﴿۴۲﴾ مقرر دے دوئ لره عذاب دردناك وَلَمَنْ صَبَرَ اوهراًئینه هغه څوك چه صبرئے وکړ
په ظلم اوپه ایذاء دخلقو وَغَفَرَ او بخښنه ئے وکړه دوئ ته د مظالمو د دوئ اوانتقام ئے ترے.

وانهٔ خست اِنَّ ذٰلِكَ نوبیشکه دا صبراو بخښنه چه ده لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۴۳﴾ هر اٗئینه له هغو خورو
کارونو دے چه بائده دی هر عاقل لره چه په ځان دے لازم کانړی او هیچرے دِ نهٔ پریږدی په اختیار ولو
دانتقام سره او دلته عائد حذف دے چه مِنْهُ دے وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ او هر هغه څوك چه گمراه کړهٔ
خدائ فَمَا لَهٗ پس نه به وی دهٔ لره مِنْ وَّلِيٍّ هیڅ دوست لاره ښودونکے مِّنْۢ بَعْدِهٖ ط پس له گمراه کولو
دخدائ دهٔ ته وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ او وینے به تهٔ ظالمان یعنے کافران لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ په هغه وخت
چه ووینی دوئ عذاب په ورځ د قیامت يَقُوْلُوْنَ چه وائی به دوئ له ډیره خوفه هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ
چه ایا شته بیرته تللو د دنیا ته مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾ کومه لاره چه بیرته لاړشو او تدارك د مافات
هلته وکړو وَتَرٰىهُمْ او وینے به تهٔ دوئ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا چه عرض کاوهٔ شی دوئ په دغه
اور باندے چه له لفظ دعذاب معلومیږی خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ چه لړزان ترسان حقیران
به وی دوئ له خوارئ او له رسوایئ يَنْظُرُوْنَ چه گوری به دوئ دغه اور ته مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ط
په ضعیف نظر سره یعنی پټ تر بڼو لاندے له ډیره هیبته وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا او وبه وائی هغه
کسان چه ایمان ئے راوړیدے په هغه وخت چه د ابد حال ئے ولیدهٔ د دوئ چه اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ
بیشکه زیانکاران چه دی الَّذِيْنَ هغه کسان دی خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ چه زیان ئے رسولے دے
ځانونو خپلو ته وَاَهْلِيْهِمْ او عیالونو خپلو ته يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط په ورځ د قیامت په خلود فی النار او په
حرمان له نعمتونو د جنت او له دیدارا اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ وَاوری چه بیشکه ظالمان یعنی مشرکان
چه دی فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ﴿۴۵﴾ په هغه عذاب کښ به وی چه همیشه به پیوست وی له دوئ سره
وَمَا كَانَ لَهُمْ او نهٔ به وی دے کافرانو لره مِّنْ اَوْلِيَآءَ هیڅوك له دوستانو چه په وخت د عذاب کښ
يَنْصُرُوْنَهُمْ مددگاری وکه دوئ له دغه کافرانو سره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ط غیر له خدائ وَمَنْ يُّضْلِلِ
اللّٰهُ او هر هغه څوك چه گمراه ئے کا خدائ فَمَا لَهٗ پس نه به وی دهٔ لره مِنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۶﴾ هیڅ لارهٔ
خلاصی ته اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ قبوله کړئ اے خلقو بلنه د رب خپل ایمان او توحید ته مِّنْ قَبْلِ
اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ مخوا له هغه چه راځی هغه ورځ لَّا مَرَدَّ لَهٗ چه نشته هیڅ قسم رد او دفع هغه لره

عه یعنی په موندلو د هغو نیکو چه له مونږه فوت شوی دی په دنیا کښ ۱۲ عه یعنی په همیشه والی په اور کښ او
په بے نصیبوالی له نعمتونو ۱۲		کتبه: محمد صادق زهیر عفی عنه

مِنَ اللّٰهِ ط له جانبه د خدائ یعنی چه یو کرت هغه ورځ راغله په امر د خدائ سره نو بیا ئې هیڅوك بیرته
کرځولے نهٔ شی مَا لَكُمْ نه به وی تاسے لره مِّنْ مَّلْجَاٍ هیڅ پناه او ګریزګاه له عذابه یَّوْمَئِذٍ په دغه
ورځے وَّ مَا لَكُمْ او نهٔ به وی تاسے لره مِّنْ نَّكِیْرٍ ﴿۴۷﴾ هیڅ لاره انکارته چه منکران شی له بدیو خپلو
ځکه چه هم کرام الکاتبین به قول ښکلی وی په اعمال ناموکښ او هم به ستاسے خپل اندامونه
پرے شاهدی ولوی او نکیر انکارته وائی فَاِنْ اَعْرَضُوْا پس که چرے څنګ وکړهٔ دے مشرکانو
او د استا دعوت ئې قبول نهٔ کړهٔ فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ پس نهٔ ئې لیږلے مونږه ته عَلَیْهِمْ حَفِیْظًا ط په دوئ
نګهبان چه اعمال د دوئ به ساتے او د دوئ په مطلب به ئې برابروے اِنْ عَلَیْكَ نهٔ دے په تا بل
هیڅ کار اِلَّا الْبَلٰغُ ط مګر تش پیغام رسول قدرے دی او دا پخواله امره په جهاد وو وَ اِنَّآ او بیشکه
مونږه چه یو اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ په هغه وخت چه وڅکوو مونږه جنس انسان ته مِنَّا رَحْمَةً
له خپله جانبه کوم قسم مهربانی لکه غنا یا صحت فَرِحَ بِهَا ج نو خوشحاله شی دوئ په هغه نعمت
وَ اِنْ تُصِبْهُمْ سَیِّئَةٌ ۢ او که چرے ورسیږی دے ادمیانو ته کوم قسم بلا لکه فقر یا مرض بِمَا
قَدَّمَتْ اَیْدِیْهِمْ په سبب د هغو بدیو چه پخوا الیږلی دی لاسونو د دوئ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ پس بیشکه
چه انسان په دغه وخت کښ كَفُوْرٌ ﴿۴۸﴾ ناشکره دے چه هغه نعمت بیخی هیر کاندے او سختی زحمت
هر وخت یادوی لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ خاص خدائ لره ده بادشاهی داسمانونو وَ الْاَرْضِ ط او د
زمکے یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ط پیدا کوی دے هرچه اراده ئې وشی له اولاده څخه یَهَبُ لِمَنْ یَّشَآءُ ورکوی
هر هغه چالره چه اراده ئې وشی اِنَاثًا یوازے ښځے یعنی بے ځامنو لکه لوط علیه السلام
وَّ یَهَبُ او ورکوی دے لِمَنْ یَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ﴿۴۹﴾ لا هر هغه چالره چه اراده ئې وشی یوازے نارینه
یعنی ځامن بے لونړو لکه ابراهیم علیه السلام اَوْ یُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّ اِنَاثًا ج یا جفت یعنی
ګډ ورکوی دے دا اولاد هر هغه چالره چه اراده ئې وشی یعنی ځامن او لونړه دواړه
سره ګډ لکه رسول علیه السلام وَ یَجْعَلُ مَنْ یَّشَآءُ او ګرځوی دے هر هغه څوك چه اراده
ئې وشی عَقِیْمًا ط شنډ بے اولاد لکه یحییٰ علیه السلام اِنَّهٗ عَلِیْمٌ بیشکه چه دے دانا دے
په مصلحت د هر چا قَدِیْرٌ ﴿۵۰﴾ قادر دے په هر هغه چه اراده ئې وشی روایت دے

چه یهود و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چه خدائی له تا سره ولے بے واسطے خبرے نهٔ کوی چه په ستر کوئے دوینے لکه موسیٰ علیه السلام چه به لیده خدائی نو نازل شهٔ وَمَا کَانَ لِبَشَرٍ او نه بنائی او نهٔ دی روا هیچ آدمی لره اَنْ یُّکَلِّمَهُ اللّٰهُ داچه خبرے وکاله دهٔ سره خدائی په دنیا کښی داسے چه وینی ئے مگر په یوه طریقه له دریو طریقو چه اول ترے وحی ده لکه چه وائی اِلَّا وَحْیًا مگر په وحی سره او وحی بیا په څو قسمه ده یو داچه خفی کلام په سرعت[عه] سره واوریدے شی د زړه په غوږو نو اوبل داچه الهام وشی داسے چه په زړهٔ کښی واچولے شی د خدائی له طرفه او بل داچه خوب ولیدے شی لکه خوب د ابراهیم علیه السلام شهٔ په ذبح دولد کښی لکه حدیث دے چه رُؤیا الانبیاء وحیٌ. او دوئم ترے کلام دے اما پردے د ورستو لکه چه وائی اَوْ مِنْ وَّرَآیِٔ حِجَابٍ یا چه خبرے ورسره وکا د ورستو د پردے لکه چه موسیٰ علیه السلام سره. او دریم ترے لیږل دی د استاذی یعنی د مَلَك لکه چه وائی اَوْ یُرْسِلَ رَسُوْلًا یا چه ولیږی دے کوم استاذے له ملائکو لکه جبریل علیه السلام فَیُوْحِیَ بِاِذْنِهٖ پس پیغام یوسی دا ملک هغه ته په اذن د خدائی سره مَا یَشَآءُ ط هر هغه چه اراده وی ددهٔ اِنَّهٗ عَلِیٌّ بیشکه چه دے بلند شان دے لصفاتو د حدوث حَکِیْمٌ (۵۱) پُرحکمت دے په صنعت خپل کښی وَكَذٰلِكَ او هم داسے لکه چه وحی کړے وه مونږ نورو پیغمبرانو ته څخواله تا اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ رالیږلے دے مونږه تا ته رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا ط روح په امر خپل سره یعنی قرآن چه پرے ژوندی کیږی زړونه لکه بدن په روح سره یا جبریل علیه السلام. مَا كُنْتَ تَدْرِیْ نهٔ وے ته داسے چه پوهیدے به څخواله وحی په دے چه مَا الْكِتٰبُ څهٔ څیز دے کتاب یعنی قرآن وَلَا الْاِیْمَانُ او نهٔ په دے چه څهٔ څیز دے ایمان یعنی شریعت وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ او لیکن کړځولے دے مونږه دا روح یا دا کتاب یا دا ایمان نُوْرًا نَّهْدِیْ بِهٖ په یوه رڼا چه سمه لار ښایو مونږه په دهٔ سره مَنْ نَّشَآءُ هر هغه چا ته چه اراده وشی څمونږه مِنْ عِبَادِنَا ط له بندګانو خپلو په توفیق د قبول سره وَاِنَّكَ لَتَهْدِیْٓ او بیشکه چه ته هرائینه بولے خلق په دے وحی اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ (۵۲) سمے لارے ته چه اسلام دے صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیْ لاره د هغه خدائی او دا

عه یعنی پټه خبره په جلتیٔ سره واوریدے شی ۱۲

بدل دے له پخوانی صراط لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ چه خاص هم دهٔ لره دی هر هغه چه په اسمانونو
کښې دی وَ مَا فِی الْاَرْضِ ؕ او هغه چه په زمکه کښې دی هم خلقاً او هم ملکاً ۔ اَلَاۤ اِلَی اللّٰهِ واوری
دا چه خاص خدائی ته تَصِیْرُ الْاُمُوْرُ ﴿۵۳﴾ بیرته به ګرځی ټول کارونه د خلقو په قیامت او
په دے کښې وعدا و وعید دے

سُوْرَةُ الزخرف (۴۳) مکیة ۶۳ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | ایاتها ۸۹ رکوعاتها ۷

حٰمٓ ﴿۱﴾ ددے بیان پخوا تیر شوے دے یعنی قسم دے په هر هغه چه مراد دے له دے مقطعاتو
وَالْکِتٰبِ الْمُبِیْنِ ﴿۲﴾ او بل قسم دے په دے کتاب یعنی په قرآن چه ښکاره کوونکے دے د لارے
د هدایت او د هر هغه چه احتیاج ورته پیښیږی له احکامو د شریعت او جواب د قسم دا دے اِنَّا
جَعَلْنٰهُ بیشکه مونږه چه یو کړو ځولے دے مونږه دا کتاب قُرْءٰنًا عَرَبِیًّا قرآن عربی یعنی لوستلے شو
په ژبه د عربو لَّعَلَّکُمْ د پاره د دے چه تاسو اے اهل د مکے تَعْقِلُوْنَ ﴿۳﴾ چه پوهه شئ تاسو په
معانیو دهٔ او فائده ترے واخلئ وَ اِنَّهٗ او بیشکه چه دا قرآن فِیْۤ اُمِّ الْکِتٰبِ په اصل د هر کتاب
سماوی کښې یعنی په لوح محفوظ کښې چه ساتلے شوے دے له تغیر تبدل لَدَیْنَا مونږ ځنے لَعَلِیٌّ
هر آئینه ډیر بلند شان دے په ټولو کتبو سماویه وکښې ځکه چه دے معجز دے په مابین ددوی کښې
حَکِیْمٌ ؕ ﴿۴﴾ خښتن د حکمت بالغه دے یا دا سے محکم دے چه له سره نسخ نهٔ لری اَفَنَضْرِبُ آیا
پس حصار به کړو مونږه عَنْکُمُ الذِّکْرَ صَفْحًا له تاسے دا پند چه قرآن دے په حصار و لو سره
پس نو امر او نهی به درته نهٔ کوو اَنْ کُنْتُمْ له دے جهته چه یئ تاسے قَوْمًا مُّسْرِفِیْنَ ﴿۵﴾ ټولے
د مسرفانو او دا صفحًا یا مفعول مطلق دے د نضرب من غیر لفظه او یا مفعول لهٗ دے او دا استفهام
انکاری دے یعنی له جهته د شرک یا د اعراض او د تکذیب ستاسے مونږه دا انزال دے قرآن نهٔ
موقوف کوو بلکه په تاسے الزام ددے حجت خامخا کوو بیا د پاره د تسلی د رسول صلے الله
علیه وسلم وائی چه وَکَمْ اَرْسَلْنَا او ډیر لیږلی وو مونږه پخوا له تا مِنْ نَّبِیٍّ له پیغمبرانو علیهم السلام
ځنے فِی الْاَوَّلِیْنَ ﴿۶﴾ په پخوانیو امتو کښې او عادت د دوی دا وو چه وَمَا یَاْتِیْهِمْ او نهٔ به راتهٔ دوی

لره مِّنْ نَّبِيٍّ هیڅ پیغمبران له د پیغمبرانو اِلَّا كَانُوْا مګر چه وو به دوئ بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑦ چه په
هغهٔ پورے مسخرے به ئے کولے فَاَهْلَكْنَآ پس بیا هلاك به کړهٔ مونږه اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا هغه سخت
تر دوی له جهته د قوته یعنی مشران ئے سره له د آعزت او شکوت وَّ مَضٰى او تیر شوی دی څو
ځائ په قرآن کښ مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ⑧ قصه د مخکنیو چه دوئ به له پیغمبرانو سره څهٔ کړی وو او
بیا په اٰخر کښ به له دوئ سره مونږه څهٔ کړی وو نو تهٔ هم اوس په استهزاء د قوم خپل مهٔ خفه
کیږه وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او هرا ئینه کهٔ چرے وپوښتے ته دا قوم خپل له دے چه مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
چا پیدا کړی دی دا اسمانونه وَالْاَرْضَ او دا زمکه لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ نو هرائینه وبه وائی دوئ چه
پیدا کړی دی دا ټول الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ⑨ الَّذِيْ هغه خدائ غالب دانا جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ چه کړځولے
ئے ده تاسے لره زمکه مَهْدًا بچاونړه چه تاسے پرے خپل ګذران او معاش کوئ وَّجَعَلَ لَكُمْ او
بیا کرځولے ده دهٔ تاسے لره فِيْهَا سُبُلًا په دے زمکه کښ لارے لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ⑩ بنائ چه
تاسے سم اوبرابر لارښی هغو اوطانو لره په وخت د سفر کښ چه حاجت وی ورته ستاسے وَالَّذِيْ
نَزَّلَ او هغه خدائ چه راکوزے کړے دی ده مِنَ السَّمَآءِ له طرفه د اسمانه مَآءً بِقَدَرٍ ج اوبۀ
په قدر د حاجت او د مصلحت سره نه کم او نه زیات فَاَنْشَرْنَا بِهٖ پس ژوندی کړی دی مونږه
په هغه اوبو سره بَلْدَةً مَّيْتًا ج هغه کلے یعنی مکان چه مړوی یعنی چه وچ کلک وی بے ګیاه وی
كَذٰلِكَ په مثل د دغه ژوندی کولو تُخْرَجُوْنَ ⑪ را وبه ویستے شئ تاسے هم له قبرونو ژوندی وَالَّذِيْ
او هغه خدائ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا چه پیدا کړی دی دهٔ تاسے لره وَجَعَلَ لَكُمْ او جوړے ئے کړے تاسے
لره مسخر او تابع والے د څیز د سورلئ دے مِّنَ الْفُلْكِ له بیړیو او له جهازونو وَالْاَنْعَامِ او له
چارپایانو مَا تَرْكَبُوْنَ ⑫ هغه چه سوریږئ پرے تاسے په لونده او په وچه کښ او دا دواړه
ئے پیدا کړی دی تاسے لره لِتَسْتَوٗا د پاره د دے چه سم برابر کینئ تاسے عَلٰى ظُهُوْرِهٖ په شاګانو د
هر یو فلك او له انعام په وخت د سورلئ کښ ثُمَّ تَذْكُرُوْا بیا چه یاد کړئ تاسے په زړونو خپلو
کښ نِعْمَةَ رَبِّكُمْ نعمت د رب خپل چه تسخیر او تذلیل د مرکب دے اِذَا اسْتَوَيْتُمْ په هغه
وخت چه سم برابر کیناستئ تاسے عَلَيْهِ په دهٔ باندے وَتَقُوْلُوْا او بیا چه ووایئ تاسے په خولے

خپلے داسے چه سُبْحٰنَ الَّذِیْ پاکی ده هغه خدائ لره سَخَّرَ لَنَا هٰذَا چه مسخر کړی دی دهٔ موږ ته
دا مَرکب چه هم په بحر او هم په برکښ قطع د مسافت پرے کوو وَمَا كُنَّا او نهٔ وو موږ لَهٗ
مُقْرِنِيْنَ ﴿۱۳﴾ دے مرکب لره په ضبط کښ راوستونکی او خپل فرمان بردار کونکی وَاِنَّآ او
بیشکه موږ چه یو اِلٰى رَبِّنَا رب خپل ته لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ هر ائینه سواره بیرته ورتلونکی یو په
جنازه په اخر د عمر کښ چه هغه اخر مرکب دے په دنیا کښ وَجَعَلُوْا لَهٗ او وګرځولے او مقرر
کړے دے کافرانو خدائ لره مِنْ عِبَادِهٖ له بندګانو دده جُزْءًا اطجُزْء یعنی پارچه ځکه
چه دوئ وائ چه ملائک لونړه دی دخدائ او ولد خو جزء او پارچه وی د والد خپل او تعجب دے
له دے حماقته د دے جاهلانو چه پس له اقراره د دوئ په خالقیت او په عزت او په علم دده اثبات
د ولد کوی دهٔ لره او په دے نه پوهیږی چه ولادت خوله خواصو د اجسادو دے او دے خو خالق دے
د اجسامو اِنَّ الْاِنْسَانَ بیشکه هغه انسان چه داسے وائ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ ع هر ائینه ناشاکر
دے ښکاره ځکه چه منکر دے له نعمته له جهته د دے چه کافر شوے دے او کفر اصل دے د کفران
اَمِ اتَّخَذَ ایا نیولے دے دهٔ او دا همزه دام انکاری دے د پاره د تجهیل د دوئ او د تعجب له دے قوله
د دوئ او دلته قول پکښ مقدر دے ای یقولون اتخذ مِمَّا يَخْلُقُ بَنٰتٍ له هغه مخلوق ځنے چه
پیدا کوی دے لونړه چه اَخس او ادنی دی وَّاَصْفٰكُمْ او غوره کړی او خاص کړی یئ دهٔ تاسے
بِالْبَنِيْنَ ﴿۱۶﴾ په ځامنو چه اشرف او اعلیٰ دی وَاِذَا بُشِّرَ او سره له دے چه په هغه وخت چه
زیرے وکړے شی اَحَدُهُمْ بِمَا په یو له دوئ د هغه څیز ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا چه سازوی دے
خدائ لره مثل او مانند ځکه چه ولد هر کله له جنس د والد وی ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا نو شی مخ دده
تک تور له ډیره غمه او خفګانه وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۱۷﴾ او حال دا چه دے ډک وی له غمه اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا
یا منسوب کوی دوئ خدائ ته هغه څوک چه تربیت ئے کاوهٔ شی فِي الْحِلْيَةِ په کالو او په زینت
یعنی هغه ښځه په وخت د مجادلے او زبان بازئ کښ دے خپل مطلب نه شی ښکاره کولے او ترسره
کولے په سبب د نقصان د عقل او د قلت د فهم دده **تنبیه** هر کله چه خدائ تربیت په کالو
او په زینت کښ له عیوبو شمار کړهٔ نو هر مؤمن عاقل لره بنائ چه د دے له دے اجتناب کوی او

حرص دکوی په زینت د تقوی باندے وَهُوَ فِی الْخِصَامِ او هغه د قوت فکریه د کمزوری په وجه
په مباحثه کښ غَیْرُ مُبِیْنٍ ﴿۱۸﴾ د بیان قوت هم نهٔ لری وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِکَةَ الَّذِیْنَ او گرځوی او بولی دا
کفار هغه ملائیک هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ چه دوی خاص بندګان دی د خدائی اِنَاثًا په ښځو چه وائی دوی
لونړه دی د خدائی اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ط ایا حاضر وو دوی په وخت د پیدا کیدلو د هغوکښ چه ښځې
پیدا شوی دی سَتُکْتَبُ شَهَادَتُهُمْ زر دے چه و به ښکلے شی دا شاهدی د دوی وَ یُسْئَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ او بیا
پوښتنه به هم ترے وکړے شی په ورځ د قیامت حاصل دا چه کفار وله کفره درے قسمه اختیار
کړی اول دا چه نسبت د ولد ئے کړے دے خدائی ته . دوئم دا چه په صنفین د اولاد کښ
هغه ادنیٰ او خسیس صنف ئے منسوب کړے دے ورته چه لونړه دی دریم دا چه هغه خسیس
صنف ئے بیا ملائک بللی دی چه ډیر مکرم دی خدائی ته او دوی ئے په دے سپک کړی دی
وَقَالُوْا او بل وائی دوی دا سے چه لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ که چرے اراده وے د خدائی مَا عَبَدْنٰهُمْ ط نو نهٔ به
وُ کړے مونږه عبادت د دے ملائکو فائدہ معنیٰ د دے ایت دا ده په نزد د امام اعظم رح چه لـه
دے مشیت د دوی رضا مراد کړے ده نو دوی وائی چه کهٔ خدائی راضی نهٔ وے په دے عبادت ځمونږه نو
مونږه به ئے منع کړی وو له دغه عبادته په قهر سره یا به ئے عذاب راله رالیږلے وو په جلتیٔ او
هر کله چه منع ئے ونهٔ کړه نو معلومه شوه چه د دے پرے راضی دے نو دا قول او دا اعتقاد د دوی رد
کړهٔ خدائی په دے قول سره چه مَا لَهُمْ نشته د دوی لره بِذٰلِکَ مِنْ عِلْمٍ ق په دے گفتار خپل هیڅ
قدر پوهه . اِنْ هُمْ نهٔ دی دوی اِلَّا یَخْرُصُوْنَ ط ﴿۲۰﴾ مگر دروغ وائی ځکه چه دے په کفر د هیڅ
کافر راضی نهٔ دے بیا نو وائی چه دا سے نهٔ ده لکه چه دوی وائی اَمْ اٰتَیْنٰهُمْ کِتٰبًا ایا ورکړیدے
مونږ دوی لره کوم کتاب مِّنْ قَبْلِهٖ مخوا له دے قرآن چه ناطق دے په صحت د قول د دوی فَهُمْ بِهٖ
مُسْتَمْسِکُوْنَ ﴿۲۱﴾ پس دوی په هغه کتاب منګلے ښخونکے او حجت نیونکی دی یعنی کتاب خو مونږه
نهٔ دے ورلره ورکړے نو نقلی حجت خو نهٔ لری او همدا سے عقلی هم نهٔ لری بَلْ قَالُوْا اِنَّا بلکه
وائی دوی دا سے چه بیشکه مونږه چه یُو وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا موندلی دی مونږه پلرونه خپل
عَلٰٓی اُمَّةٍ په پرورش او دین او طریقه او امة هغه طریقے ته وائی چه د هغه قصد کاوهٔ شی وَّاِنَّا

عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ او بیشکه مونږه په قدمونو د دوی یعنی په پیروی د دوی سره مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ تلونکی او سمه
لاره موندونکی یو. وَكَذٰلِكَ او همدا سی ستا په شان مَآ اَرْسَلْنَا نهٔ و لیږلے مونږه مِنْ قَبْلِكَ پخوا
له تا فِیْ قَرْيَةٍ په هیڅ کلی او ښار کښ مِّنْ نَّذِيْرٍ کوم ویرونکے له عذابه یعنی یو پیغمبر علیه السلام اِلَّا
قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ مګر چه وبه ویل توانګرانو او مشرانو د هغے قریے اِنَّا بیشکه چه مونږه چه یو وَجَدْنَآ
اٰبَآءَنَا موندلی دی مونږه پلرونه خپل عَلٰٓى اُمَّةٍ په یو روش او دین باندے وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ او
بیشکه مونږه په قدمونو یعنی په تګ د دوی مُّقْتَدُوْنَ ﴿۲۳﴾ اقتداء کونکی یو قٰلَ بیا وبه ویل ورته
هغه پیغمبر د دوی چه اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ ایا اګرکهٔ راوړے وی ما تاسے له بِاَهْدٰى مِمَّا هغه دین چه ډیر
غوره او برابر وی مقصود له دین نه وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ چه موندلی دی تاسے په هغه دین اٰبَآءَكُمْ
پلرونه خپل نو پیروی د خپلو ابا ؤ کوئ قَالُوْٓا اِنَّا نو وبه ویل ورته دوی چه بیشکه مونږ چه یو
بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ په هغه دین چه رالیږلے شوی یئ تاسے له هغه سره كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾ نامنونکی او
منکرات یو. فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ پس انتقام به واخست مونږه له دوی په بیخکنئ سره فَانْظُرْ پس ګوره
اے رسوله كَيْفَ چه څرنګه وه عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۵﴾ ع آخره خاتمه د تکذیب کونکیو نو تهٔ هم د خپل قوم په ع ۲ ۱۰/۸
تکذیب مهٔ خفه کیږه له سره وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ او یاد که هغه چه و ویل ابراهیم علیه السلام پس له
هغه چه له غاره راووت لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ پلار خپل ته او هم قوم خپل ته چه اِنَّنِیْ بَرَآءٌ بیشکه
بیزاره یم اودا ابراء مصدر دے په معنٰی د بَرِیْءٌ لکه رَجُلٌ عدلٌ نو په دهٔ کښ واحد او تثنیه
او جمع او مذکر او مؤنث ټول برابر دی مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴿۲۶﴾ لا له هغو بتانو چه عبادت ئے کوئ تاسے اِلَّا الَّذِیْ
لیکن هغه خدای فَطَرَنِیْ چه پید اکړے یم دهٔ زهٔ فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿۲۷﴾ پس بیشکه چه هغه
ثابت لری ما په هدایت او په دین خپل وَجَعَلَهَا او وګرځولے ابراهیم علیه السلام دا مقوله
خپله چه اننی براء مما تعبدون ده ترآخره كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً یوه کلمه باقیه یعنی کلمه جاری روانه
ترقیامته فِیْ عَقِبِهٖ په پسنت خپل کښ دا سے چه همیشه په اولاد د دهٔ کښ څوك خوږی چه
خلق توحید ته بولی یا معنٰی دا چه ګرځولے ده خدائ دا کلمه د توحید باقیه په نسل د ده کښ
ترقیامته لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾ چه بنائی چه د امشرکان راوګرځی له دے شرك توحید ته بَلْ

مَتَّعْتُ بلکه برخوردارۍ او معاش ورکړې ما هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ دے کفارو د قریشو لره او پلرونو د دوی لره هم په اوږد عمر ونو او په رنګارنګ نعمتونو حَتّٰی جَآءَهُمُ الْحَقُّ تر هغه وخته چه راغے دوی لره حق چه قرآن دے وَرَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۹﴾ او هغه رسول چه رسالت ئے ښکاره دے په معجزاتو سره وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ او هر کله چه راغے دوی لره حق نو بائده ؤ لره دا وو چه دوی په دغه نعمت شکر کړے وے اما دوی کفران او انکار وکړو تر دے قَالُوْا وویل دوی هٰذَا سِحْرٌ چه دا قرآن جادو دے وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۰﴾ او بیشکه چه مونږه په دهٔ نا باوره او کافران یُو یعنی نهٔ منو چه دا له خدائ دے وَقَالُوْا او بل وویل دوئ چه لَوْلَا نُزِّلَ ولے راونهٔ لیږلے شهٔ هٰذَا الْقُرْاٰنُ دا قرآن کهٔ په رښتیا له خدائ وی عَلٰی رَجُلٍ په کوم یو سړی باندے مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ له دغو دواړو قریو چه مکه او طائف دے پیا دا سړے عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾ چه ډیر لوئ وی له جهت د عزت او جاه او د مال لکه ولید بن مغیره شهٔ له مکے او عروه بن مسعود ثقفی شهٔ له طائف چه دا دواړه د ډیر لوئ منصب دے نو دے له ډیر لوئے سړی نو رب العزت وائی په جواب د دوئ کښ چه اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ آیا دوئ ویشی او قسمت کوی رَحْمَتَ رَبِّكَ رحمت د رب ستا په خلقو چه نبوت دے دا سے نهٔ ده لکه چه دوئ وائی بلکه نَحْنُ قَسَمْنَا مونږه ویشلے او قسمت کړے دے بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ په مابین د دوئ کښ هغه اسباب د معاش د دوئ لکه روزی جامه یا نور اشیاء شو فِی الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دے واړه ژوندون کښ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ او پورته کړی دی مونږه بعضے له دوئ چه ماړهٔ او اشراف او اصیلان او پوهنده دی فَوْقَ بَعْضٍ د پاسه د نورو بعضو چه وږی او ارذال او مریونه او ناپوهه دی دَرَجٰتٍ په مرتبو کښ۔ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا د پاره د دے چه ونیسی بعض د دوئ بعضے نورو لره سُخْرِيًّا مسخران او کارکونکی یعنی چه بعضے ترے مزدوران نیونکی شی او بعضے نور مزدوری کونکی شی چه نظام[عه] د عالم پرے روان وی ځکه چه بعض به مالداران وی او عمل[عه] ته به محتاج وی او بعضے به عاملان وی او مبلغ ته به محتاج وی وَرَحْمَتُ رَبِّكَ او رحمت د رب ستا خَيْرٌ هغه ډیر غوره دے مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۳۲﴾ له هغه مال چه جمع کوی ئے دوئ په دے دنیا کښ وَلَوْلَآ او که چرے نهٔ وے کراهت او خوف اَنْ يَّكُوْنَ

عه یعنی کاروبار د دے جهان پرے روان دے ۱۲ عه یعنی کارکولو ته به محتاج وی ۱۲ سه یعنی کارکونکی دی روپو ته به محتاج وی ۱۲

النَّاسُ د دے کار چه شي به دا خلق ټول اُمَّةً وَّاحِدَةً یو ټولے متفق په کفر یعني په هغه وخت چه
وبني دوی دا کفار چه په نعمتونو او په فراخئ د معاشونو کښې دی نو ټول به کافران شي له جهته د
ډیر محبته د دنیا نو که چرے دا جهت نه وے لَجَعَلْنَا لِمَنْ نو هرو مرو ګرځولے یعنی ساز کړے به وو
مونږه د پاره د هغه چا یَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ چه کفر اختیار روی دے په خدائے پورے لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا یعنی د پاره
د کورونو د دوی بامونه مِّنْ فِضَّةٍ له سپینو زرو وَّمَعَارِجَ او بل زینه پایئ به هم سازے کړے وے ورله
د سپینو زرو چه په هغو سره عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿۳۳﴾ په دغو کوټو به ختل دوی د پاره د حاجت خپل
وَلِبُيُوتِهِمْ اَبْوَابًا او د پاره د کوټو د دوی دروازے به وے د سپینو زرو وَّسُرُرًا او تختونه به وو
د سپینو زرو عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ﴿۳۴﴾ چه په هغو به ئے تکیه وهلے وے وَزُخْرُفًا او نور ډیر زینت
یا سرۀ زر یا پرته له دے مذکورو به هم ورله ورکړی وو حاصل دا چه که خوف د کفر د مؤمنانو نه
وے په ورکولو د دے اشیاؤ کفارو له نو مونږه به دا ټول ورکړی وو دوی له د پاره د ډیر حقارت د
دنیا مونږه تخه لیکن دا مانع دے له دغه ورکولو وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ او نۀ دی دا ټول چه پیرته ذکر
شوی دی لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مګر برخورداری او معاش دے د دغه لږ ژوندون چه یو څو
ورځے وی او زر فانی شی وَالْاٰخِرَةُ او آخرت یعنی جنت چه دے عِنْدَ رَبِّكَ په نزد د رب ستا۔
لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۵﴾ پرهیزګارانو لره دے له شرکه او له معاصیو۔ وَمَنْ يَّعْشُ او هر هغه څوک چه ځان
ئے ړوند کړو او سترګے ئے پټے کړے یعنی اعراض ئے وکړو او په دے کښې دوه بابونه مستعمل دی یو
عَشِيَ يَعْشٰى لکه چه خَشِيَ يَخْشٰى چه په سترګو کښې ئے عیب وی او بل عَشٰى يَعْشُوْ لکه غزا یغزو
چه په زور ئے ځان ړوند کړے وی بے عیب لکه عَرِجَ او عَرَجَ۔ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ له یاد کیرئ د خدائے
یعنی چه له پند د قرآن ئے ځان ړوند کړے وی سره له علمه په دے چه دا حق دے نُقَيِّضْ لَهٗ مسلط
کړو مونږه په هغۀ شَيْطٰنًا یو شیطان فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾ پس دا شیطان له دۀ سره همیشه پیوست
ملګرے همنشین وی د پاره د وسوسے او د لغزولو د دۀ **فائده** دے کښې اشارت دے دے ته
چه هر څوک چه همیشه په ذکر د خدائے مشغول وی نو شیطان وی ور سره ملګرے او همنشین نۀ
وی وَاِنَّهُمْ او بیشکه دا شیطانان چه دی لَيَصُدُّوْنَهُمْ هر آئینه اړوی دوی دغه قرنیان خپل عَنِ

السَّبِیۡلِ له لارې د حق وَ یَحۡسَبُوۡنَ او ګمان کوي د اکفار سترګې پټونکي اَنَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿۳۷﴾ دا چې
چه بیشکه دوئ په سمه لارې روان دي په سبب د متابعت د دې شیطان سره یا دا چې دا شیطان
سمه لار ښودونکي دی او دوئ په هم دې ګمان کښې پراته وي حَتّٰۤی اِذَا جَآءَنَا ان تر هغه وخته پورې
چه راشي دا عاشي سره له قرینه خپله مونږ له ره په ورځ د قیامت قَالَ نو وبه وائي دا عاشي شیطان
ته یٰلَیۡتَ اے کاشکې چه وے بَیۡنِیۡ وَ بَیۡنَکَ په مابین ځما او په مابین ستا کښې بُعۡدَ الۡمَشۡرِقَیۡنِ
لرې والے د مشرق له مغربه په دې کښې مشرق غالب کړے شو یدې په مغرب ځکه اطلاق یې
د مشرقین وشو لکه عُمَرَین او قمرین فَبِئۡسَ الۡقَرِیۡنُ ﴿۳۸﴾ پس بد ملګرے یې ته ځما نو رب العزت
به ورته ووائي وَلَنۡ یَّنۡفَعَکُمُ الۡیَوۡمَ او له سره به نفع ونه رسوي تاسې ته نن ورځ د اپښیماني او ارمان
ستاسې هیڅ قدر اِذۡ ظَّلَمۡتُمۡ له دې جهته چه ظلم کړے وو تاسې په ځانو نو خپلو په دنیا کښې او دا
محکښې علت دې د ماقبل خپل په تقدیر د لام سره یعني اَنَّکُمۡ د پاره د دے چه بیشکه تاسې له خپلو
قرینانو سره له شیطانانو فِی الۡعَذَابِ په عذاب د دوزخ کښې مُشۡتَرِکُوۡنَ ﴿۳۹﴾ سره شریکان یئ لکه
چه په کفر کښې سره شریکان وئ **روایت دے** چه هر کله رسول صلی الله علیه وسلم په
ایمان د قوم خپل ډیر حریص وو نو دهٔ به د دوئ په دعوت کښې ډیر کوشش کاوو او ماهر څو چه
دهٔ به ډیر دعوت کاوو هومره به د دوئ انکار او عناد لا پسې زیاتیده او په دے کار به دې ډیر دلګیر
کیدهٔ نو نازل شو اَفَاَنۡتَ آیا پس ته اے رسوله! تُسۡمِعُ الصُّمَّ او روے شې کلام د حق کڼو ته
یعني هغه کسانو ته چه د زړهٔ غوږ ونه یې کا نړهٔ وي اَوۡ تَهۡدِی الۡعُمۡیَ یا سمه لار ښودې شې ړندو ته
یعني هغو کسانو ته چه د زړه سترګې یې ړندے دي وَمَنۡ کَانَ او بل هغه چاته چه وي دې فِیۡ ضَلٰلٍ
مُّبِیۡنٍ ﴿۴۰﴾ په ښکاره ګمراهۍ کښې یعني هر کله چه ته دا یو هم نهٔ شې کولے نو ډیر مشقت په ځان مهٔ
تیروه فَاِمَّا پس که چرے په دے نون د اِنۡ شرطیه مدغم شو یدې په ما زائده کښې نَذۡهَبَنَّ
بِکَ بوځو مونږه خامخا تا د اربقاته بڅواله هغه چه وښایو تاته عذاب د دوئ نو هم هیڅ قدر خفګان
مه کوه ځکه چه فَاِنَّا مِنۡهُمۡ پس بیشکه چه مونږه له دوئ مُّنۡتَقِمُوۡنَ ﴿۴۱﴾ انتقام اخستونکي یو په
آخرت کښې اَوۡ نُرِیَنَّکَ الَّذِیۡ یا که چرے وښایو مونږه خامخا تاته په دے دنیا کښې هغه عذاب

وَعَدْنٰهُمْ چه وعده کړې ده مونږه دهغه له دوئ سره چه قتل اوبند د بدردے فَاِنَّا عَلَيْهِمْ پس
بیشکه چه مونږه په دوئ مُّقْتَدِرُوْنَ (۴۲) قادر یُو نو په یوشان به مونږه انتقام ستا واخلوله
دوئ ستا په حیاتؑ یا بعد الممات فَاسْتَمْسِكْ پس منګلے ښخ کړه ته بِالَّذِیْٓ په هغه قرآن
اُوْحِيَ اِلَيْكَ ج چه رالیږلے شویدے تاته اِنَّكَ بیشکه چه ته عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (۴۳) په سمے
لارے روان ئے ته نو زړبه مطلب نه وړسیږے وَاِنَّهٗ او بیشکه چه دا قرآن لَذِكْرٌ لَّكَ هم
اَئینه شرف او عزت دے هم تالره وَلِقَوْمِكَ او هم قوم ستالره چه قریش یا ټول عرب دی چه ددوئ
په ژبه راغلے دے چه مراد ترے اُمت دے وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ (۴۴) او زر دے چه وبه پوښتیلے شئ
تاسے له دے نعمته په ورځ دقیامت اوله تعظیم اوله شکره ددهٔ اوله ادا د حق ددهٔ وَسْـَٔلْ مَنْ
اَرْسَلْنَا او وپوښته اے رسوله هغه خوك چه لیږلے وو مونږه مِنْ قَبْلِكَ بخواله تا مِنْ رُّسُلِنَآ
له رسولانو خپلو نه چه ملائك دی یا له پیغمبرانو علیهم السلام چه په شپه د معراج دِ ملاقات ورسره
وو یاله اُمو اوله علماؤ د دین ددوئ له هغو وپوښته داچه اَجَعَلْنَا آیا مقرر کړی وو مونږه مِنْ
دُوْنِ الرَّحْمٰنِ غیرله خدائ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ (۴۵) نورخدایان چه عبادت به کاوهٔ شئ د هغو یعنی نهٔ
وو مقرر کړی مونږه په هیڅ اُمت کښ له پخوانیو امو او مراد له دے استشهاد دے په اتفاق دټولو
انبیاؤ علیهم السلامو په توحید باندے وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى او هر اَئینه په تحقیق لیږلے وو مونږه
موسیٰ علیه السلام بِاٰيٰتِنَآ له نښنو خپلو سره چه هغه معجزے وے دلالت کونکے په نبوت ددهٔ
اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۠ئِهٖ فرعون ته او مشرانو خیل ددهٔ ته چه قبطیان دی فَقَالَ اِنِّيْ پس وویل
ورته دهٔ چه بیشکه زهٔ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۴۶) استاذے یم د پروردګار د تمام عالمیانو فَلَمَّا
جَآءَهُمْ پس هرکله چه راغے موسیٰ علیه السلام دوئ لره بِاٰيٰتِنَآ له نښنو یعنی له معجزو
خپلو سره لکه عصا او ید بیضا او دے نورشو اِذَا هُمْ ناګاه دوئ چه وو مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ (۴۷)
په دے ایتونو خپلو پورے خندل به ئے او مسخرے به ئے ورپورے وَمَا نُرِيْهِمْ او نهٔ به بنودهٔ
مونږه دوئ ته مِّنْ اٰيَةٍ هیڅ نښنه له نښنو د عذاب لکه طوفان او جراد او قمل او ضفادع او دم

عه ستا په ژوند یا پس له مرګه ۱۲

اِلَّا هِیَ اَکۡبَرُ مکرچه هغه به لویه وه مِنۡ اُخۡتِهَا ز له خور ده د دې یعنی له هغې تیرې چه په مثل د دې به وه نفس اعجاز کښې او هرې یوې تحه به چا کتل نو ویل به ئې چه دا له هغې تیرې لویه ده او په واقعه کښې ټولې سره برابرې وې اما هره یوه به مخصوصه وه په یو نوع د اعجاز سره لکه چه پخپل محل کښې ټولې بیان شوی دی وَ اَخَذۡنٰهُمۡ بِالۡعَذَابِ او نیولی وو مونږه دوی په عذاب چه هغه قحط وو او دا نور بنځه مذکور دی لَعَلَّهُمۡ یَرۡجِعُوۡنَ ﴿۴۸﴾ بنائی چه دوئی را وګرځی له دې باطل دین خپل نه بیا هر کله چه عذاب ولید دې فرعونیانو نو په فریاد شو وَ قَالُوۡا او وویل دوی موسی علیه السلام ته چه یٰۤاَیُّهَ السّٰحِرُ اے جادوګره! او دا نداء د دوئی په دغه وصف د ساحر سره یا له ډیره حماقته او له ډیرې وارخطایئ وه او یا دوئی لوئی عالم ته به ساحر ویل اُدۡعُ لَنَا وبوله څمونږه د پاره رَبَّکَ رب خپل چه له مونږه لرې کا ندې دا عذاب بِمَا عَهِدَ عِنۡدَکَ په سبب د هغه عهد د ده چه تا څخه ده یاد نبوت او یا د دې چه هر دعا ستا به قبلوم او یا د دې چه عذاب به لرې کومه له هر هغه چا چه ایمان راوړي اِنَّنَا لَمُهۡتَدُوۡنَ ﴿۴۹﴾ نو بے شکه مونږه هم اوس سمه لاره به بیا مومو فَلَمَّا کَشَفۡنَا پس بیا هر کله چه لرې کړه مونږه عَنۡهُمُ الۡعَذَابَ له دوئی هغه عذاب په دعا د موسیٰ علیه السلام سره اِذَا هُمۡ یَنۡکُثُوۡنَ ﴿۵۰﴾ نو ناګاه دوئی چه وو مات ئې کړه فی الحال هغه عهد روایت دے چه هر کله دا اجابت د دعا د موسیٰ علیه السلام فرعون ولیده نو ووېرېده چه مبادا بعض خلق پرې ایمان راننهٔ وړي نو دا خپل قوم ئې درست را حاضر کړو او عام خطاب ئې ورته وکړ د پاره د فخر او د اظهار د لویئ خپلې نکه چه وائی وَ نَادٰی فِرۡعَوۡنُ او غږ وکړ فرعون پخپله یا منادی په امر د ده سره فِیۡ قَوۡمِهٖ په قوم خپل کښې پس له لرې لید لو د عذاب له دوئی قَالَ یٰقَوۡمِ نو وے ویل چه اے قومه څما اَلَیۡسَ لِیۡۤ آیا نهٔ دے ما لره یعنی په تصرف څما کښې مُلۡکُ مِصۡرَ دا حلقه او پرګنه د مصر له اسکندریې تر شام پورې یعنی دی وَ هٰذِهِ الۡاَنۡهٰرُ او دا څلور ولې چه دی ډیرې عظیمې چه نهر الملك، او نهر طولون او نهر دمیاط او نهر طنیس بالاشی چه څلور واړه را بیلې دی له رود نیل نه تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِیۡ ج بهیږی دلاندې څما یعنی څما تر تحت یا تر ماڼیو یا تر باغونو لاندې اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۵۱﴾ ایا نهٔ وینئ تاسې دا لوئی او جاه وجلال څما

اَمْ اَنَا خَیْرٌ بلکه زهٔ بهتریم دا امرِ منقطعه دے په معنیٰ د بَلْ. مِّنْ هٰذَا الَّذِیْ له دے دا شخص
څخه یعنی موسیٰ علیه السلام هُوَ مَهِیْنٌ ۵ چه دے خوار بے مقدار دے وَّلَا یَكَادُ او نهٔ دے دے
نزدے یعنی قادر په دے یُبِیْنُ ﴿۵۲﴾ چه ښکاره او واضح وویلے شی خبره خپله په سبب د سکروٹے
چه په خولے کښې اچولے وه دهٔ په ورکوټوالی او ژبه ئے پرے سوے وه لکه چه قصه ئے مشهوره ده
روایت دے چه عادت د بادشاهانو د هغه زمانے دا وو چه به ئے خولئ مشرکولو نو د سرو زرو
وښے به ئے ورپه لاس کړه او ورته به ئے هم ورپه غاړه کړه نو ځکه فرعون وویل چه فَلَوْلَآ اُلْقِیَ عَلَیْهِ
پس هر کله چه دے خدائ مونږ له مشرك کړے را لیږلے دے نو ولے را او نهٔ غورځولے شو په ده له طرفه
د هغه اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ وښی له سرو زرو اَوْجَآءَ یا ولے نهٔ دی راغلی مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِیْنَ ﴿۵۳﴾
ملائکے دهٔ سره پیوسته یا له دهٔ سره پیوسته چه معاونت ورسره کوی او تصدیق ئے هم کوی فَاسْتَخَفَّ
قَوْمَهٗ پس کم عقل بیا مونده دهٔ قوم خپل نو طلب د فرمانبردارئ ئے ترے وکړهٔ فَاَطَاعُوْهُ ط پس فرمان
ومانه دوئ دهٔ په هغه مامور به دهٔ کښې او له موسیٰ علیه السلام یعنی بیزاره شو اِنَّهُمْ كَانُوْا
قَوْمًا فٰسِقِیْنَ ﴿۵۴﴾ بیشکه چه دوئ وو دله د فاسقانو فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا پس هر کله چه په غضب
کړو دوئ مونږه په سبب د ډیر عناد او عصیان سره انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ نو انتقام واخست مونږه
له دوئ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِیْنَ ﴿۵۵﴾ لا پس غرق کړه مونږه دوئ ټول په سیند کښې فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا
پس کړه مونږه دوئ قدوه او پیشخانه د هغو کفارو چه پس له دوئ به راتله په استحقاق د عقاب
کښې په مثل د دوئ وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِیْنَ ﴿۵۶﴾ ع او پند او عبرت کړهٔ مونږه دوئ دپاره د وروستنیو خلقو
ترقیامته روایت دے چه هر کله قریشو دا ایت واوریده چه عه اِنَّكُمْ وما تعبدون من دون
الله حصب جهنم. نو په غضب شو او ابن زبعری وویل چه عیسیٰ علیه السلام خو هم معبود دے
د نصاریٰ نو هر کله چه هغه له خپلو عابدانو سره پروت وی په دوزخ کښې نو مونږه هم راضی
یو په دوزخ نو رسول صلی الله علیه وسلم ساکت شو او قریشو په خنده قهقهه لاس پورے
کړو او شورئے واچولو له ډیرے خوشحالئ په دے گمان چه رسول صلے الله علیه وسلم ئے ملزم

عه په تحقیق تاسے او هر هغه چه عبادت ئے کوئ تاسے بے له خدای خاشاك د جهنم دی ۱۲

کړه ځکه چپ شهٔ بیا هغه شپه ئے په دے آیت دفع کړه چه ان الذین سبقت لهم منا الحسنی الآیة
او نازل شهٔ وَلَمَّا ضُرِبَ او هرکله چه وتړلے شهٔ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا په څوئ د بی بی مریم پورے مثال
إِذَا قَوْمُكَ ناګاه قوم ستا چه دے مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴿۵۷﴾ په هغه مثال پورے په قهقهه خاندی
په هسک آواز او خوشحالی کوی وَقَالُوٓا او وائی درته دوئ چه ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ آیا داخد ایان څمونږه
غوره دی أَمْ هُوَ ط او که هٔ دے یعنی عیسٰی علیه السلام چه غوره دے څمونږه له خدایانو هرکله
چه هغه په اورکښ پروت وو له دوئ سره نو مونږه خو د شل کرته پکښ پراته او سو۔ مَا
ضَرَبُوهُ لَكَ نهٔ دے تړلے دوئ دا مثال تا لره إِلَّا جَدَلًا ط مګر محض د پاره د جګړے او د خصومت نه
د پاره د بیلولو د حق له باطله۔ بَلْ هُمْ بلکه دوئ په هرکار کښ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴿۵۸﴾ یو ټولے دے جګړاوو
د یر کلک په خصومت کښ إِنْ هُوَ نهٔ دے دا عیسٰی علیه السلام إِلَّا عَبْدٌ مګر یو بنده دے
لکه دا نور بندګان یعنی نه خدائ دے او نه ئے څوی دے او نه ثالث دے د ثلا ثو بلکه یو دا بنده دے
أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ چه منت بار کړے دے مونږه په دهٔ او احسان کړے دے مونږه له ده سره په نبوت او
په رسالت وَجَعَلْنَٰهُ مَثَلًا او ګرځولے وو مونږه دے یو امر عجیب او نښه د قدرت خپل لِّبَنِيٓ
إِسْرَٰٓءِيلَ ط ﴿۵۹﴾ د پاره د بنی اسرائیلو یعنی دا تولد د دهٔ بے پلاره یو عجیبه قصه او حال دے لکه نور
عجائب د عالم شو وَلَوْ نَشَآءُ او که هٔ اراده شوے وے څمونږه لَجَعَلْنَا مِنكُم نو هرآئینه کینولے او د یره
کړے به وو مونږه ستاسے په ځائے او د امِنَّ په معنیٰ د بدل دے مَّلَٰٓئِكَةً فِي الْأَرْضِ ملائک چه په زمکه
کښ يَخْلُفُونَ ﴿۶۰﴾ خلیفګان شوی به وو ستاسے او ستاسے په ځائ به د یره وو وَإِنَّهُ او دا عیسٰی
علیه السلام چه دے لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ هرآئینه پوهه ده د پاره د قیامت یعنی معلومیږی په
نزول د دهٔ سره قرب قیامت روایت دے چه پس له خروج د دجال به دے راکوزشی
شرقی منارے د دمشق تخته په یو بے غونډی چه اُفیق باله شی چه دواړه لاسونه به ئے د ملکینو
په وزرو ایښی وی او زر غونے جامے به ئے اغوستے وی بیا بیت المقدس لره به راشی او
امام به د صبا په مانځه ودریږی نو امام به بیرته شی او دے به محمدی موځ وکړی په

عه بے شکه هغه کسان چه وړمبے تیر شوی دی له مونږه نه هغوی لره نیکی ده ۱۲

محکښې بیا به روان شي په دجال پسې او په دروازه د لُد بنار کښې به ئې مړ کا بیا به یاجوج ماجوج راوړي
او عیسیٰ علیه السلام به مؤمنانو سره کوه طور کښې حصار که فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا پس له سره شک مه راوړئ
تاسې په دې قیامت کښې یعنې په راتلو د دې کښې بیا ووایه دوئ ته چه وَاتَّبِعُوْنِ ط او پیروی کوئ
خما په اختیار د توحید کښې هٰذَا دا چه زه درته وایم صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ (۶۱) لاره ده سمه برابره
چه هیڅوک پرې نه گمراه کیږي وَ لَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ج او خبردار چه وانه ړوی هیچرې تاسې
شیطان له دې متابعت خما په وسوسه اچولو سره اِنَّهٗ لَكُمْ ځکه چه بیشکه دې تاسې لره عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ (۶۲)
دښمن دې ښکاره وَلَمَّا جَآءَ او هر کله چه راغې عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ عیسیٰ علیه السلام له ښکاره معجزو
سره چه هغه رغول دا کمه او دابرص او احیاء د اموات او دا سې نور شو قَالَ نو وویل ده بنی
اسراء یلو ته قَدْ جِئْتُكُمْ چه په تحقیق راغلے یم زه تاسې ته بِالْحِكْمَةِ په حکمت سره چه نبوت
او احکام د انجیل دی وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ او بل د پاره د دے چه بیان او واضح کړم زه تاسې ته
بَعْضَ الَّذِيْ بعض له امر د دین او له احکامو د تورات هغه تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ج چه اختلاف کوئ
تاسې په هغه کښې فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ تاسې له خدائ وَ اَطِيْعُوْنِ (۶۳) او فرمان برداری
کوئ خما په هر څه کښې اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے هُوَ رَبِّيْ هم دے رب دے خما وَرَبُّكُمْ
فَاعْبُدُوْهُ او د ے رب دے ستاسې هم پس عبادت کوئ یوازې هم د ده هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ (۶۴)
دا لاره ده سمه چه هیڅ قد دے کجي پکښې نشته فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ پس مختلف شو سره دا قومونه
د نصاریٰ چه یعقوبیه او نسطوریه او ملکائیه او شمعونیه دی مِنْۢ بَيْنِهِمْ ج پخپل مینځ کښې
نو بعضو به ویل چه عیسیٰ علیه السلام خدائ دے ځکه چه بے پلاره وو او اسمان له لاړو او
بعضو به ویل چه دے ځوئ دے د خدائ ځکه چه بل پلار نهٔ لري او بعضو به ویل چه دا دریم
دے له دریو خدایانو چه بي بي مریم او عیسیٰ علیه السلام او پخپله خدائ دے چه هغه ئے
ښځه او هغه ئے ځوئ دے او دا درے واړه خدایان دی فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا پس افسوس
دے هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړے دے په باب د عیسیٰ علیه السلام کښې له دے احزابو۔

عه روند مرد مادرزاد ۱۲ عه یعني برګ چه نوم دے د مرض ۱۲ عه یعني ژوندی کول د مړو ۱۲

مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿۶۵﴾ له عذابه د هغې ورځې چه دردناک دے عذاب ئې هَلْ يَنْظُرُوْنَ آیا
منتظر دی دا احزاب یعنی نهٔ دی اِلَّا السَّاعَةَ مګر قیامت ته اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً یعنې دے ته چه
راشی دا قیامت، دوئی لره ناګاه وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۶﴾ او دوئی نه پوهیږی په وخت د راتلو ئې ځکه
له ظهوره د هغې په سبب د اشتغال د دوئی په امورو د دنیا اَلْاَخِلَّآءُ یاران او دوستان د کفر او د
معصیت چه دی يَوْمَئِذٍۭ په ورځ د قیامت بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ بعضې د دوئی به له بعضو نورو سره عَدُوٌّ
دښمنان به وی ځکه چه دوستی د پاره د معاونت ده په کفر او په معصیت نو هغه به هلته سره قطع
شی اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿۶۷﴾ مګر د پرهیزګارانو له مؤمنانو چه د هغوئ دوستی به هم هغسې باقی وی د پاره　ع ۶ ۱۱ ۱۲
د دے چه محض خدائی ده ځکه یو د بل شفاعت به کوی سره او دا نِداء به ورته وشی په ورځ د
قیامت چه يٰعِبَادِ اے بندګانو ځما او دا په اصل کښې يٰعِبادی دے بیا یَ ترې حذف شوه د پاره
د تخفیف لَا خَوْفٌ نشته هیڅ ویره عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ په تاسې نن ورځ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۶۸﴾ او نهٔ
تاسې داسې یئ چه به خفه شئ هیڅ قدر بیا اوس صفت کوی د هغو عبادو الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا چه
بندګان ځما هغه کسان دی چه ایمان ئې راوړید بِاٰيٰتِنَا په آیتونو ځمونږه چه قرآن دے وَكَانُوْا
مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾ او وو دوئی ګردن نهاده امر ځمونږه ته بیا به ورته ووائی منادی اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ چه
ځئ دے جنت ته اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تاسې او ښځې ستاسې تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾ چه خوشحاله یا بنائسته
یا معزز به کړے شی يُطَافُ عَلَيْهِمْ چورلولے به شی په دے جنتیانو باندے بِصِحَافٍ مِّنْ
ذَهَبٍ کاسې د سرو زرو د کے له انواع د طعام د اجمع ده د صحفے چه کاسه ده وَّاَكْوَابٍ او آب
خوری د سرو زرو د کے له انواع د شرابو د اجمع ده د کوب چه آبخوره ده وَفِيْهَا او وی به د دوئی
لره په دے جنت کښې مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ هر هغه څیز چه ارزو کوی د هغه نفسونو د دوئی وَتَلَذُّ
الْاَعْيُنُ ج او بل هر هغه چه لذت پرے اخلی سترګے د دوئی فائده هر قدر نعمتونه د جنت چه
دی هغه ټول په دے دوه لفظو کښې اداشوی دی ځکه چه جنت کښې یا معاشونه دی یا دیدار د
نو اول په اول لفظ کښې اداشهٔ او ثانی په ثانی کښې وَاَنْتُمْ فِيْهَا او تاسې به په دے جنت کښې
خٰلِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ همیشه به اوسئ ځکه چه کمال د نعمت دا دے چه زوال ورلره نهٔ وی وَتِلْكَ الْجَنَّةُ

او دا جنت چه تاسے پکښې اوسئ اَلَّتِيٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا هغه دے چه میراث درکړے شویدے تاسے
لره بِمَا كُنْتُمْ په سبب د هغه عملونو چه وئ تاسے په دنیا کښې تَعْمَلُوْنَ (۷۲) چه کول به مو لَكُمْ
فِيْهَا مقرره ده تاسے لره په دے جنت کښې فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ میوه ډیره مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ (۷۳) چه
له هغې به خورئ[عه] تاسے او په حدیث کښې راغلی دی چه لَا ینزع رجل فِي الجنة من ثمرها الا نبت
مکانها مثلها۔ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ بیشکه مجرمان یعنی کافران چه دی فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ په عذاب
د دوزخ کښې خٰلِدُوْنَ (۷۴) همیشه پاتے کیدونکی دی لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ نه به شی سپکولے او کمولے
دا عذاب له دوئ وَهُمْ فِيْهِ او دوئ په دے عذاب کښې مُبْلِسُوْنَ (۷۵) نا امیده به وی له
خوشحالئ او له خلاصی وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ او نهٔ وو کړے ظلم مونږه په دوئ وَلٰكِنْ كَانُوْا او لیکن
وو دوئ هُمُ الظّٰلِمِيْنَ (۷۶) هم دوئ ظالمان چه شرک به ئې کولو بیا چه دلته ئې طمع قطع
شوه نو مالک ته به مخ کړئ چه خازن دے د دوزخ لکه چه وائی وَنَادَوْا او بیا غږ به وکا دوئ
یعنی دوزخیان به ووائی چه يٰمٰلِكُ اے مالکه سوال وکه خپل مونږه د پاره چه لِيَقْضِ عَلَيْنَا میباید چه
حکم دِ وکړی د مرګ په مونږه رَبُّكَ ؕ رب ستا قَالَ نو وبه وائی مالک دوئ ته په جواب کښې پس له زرو
کالو اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ (۷۷) چه بیشکه تاسے پاتے کیدونکی یئ ژوندی په دے عذاب کښې بیا رب
العزت به ورته ووائی چه لَقَدْ جِئْنٰكُمْ هر آئینه په تحقیق راوړیدے مونږه تاسے ته بِالْحَقِّ
ګفتار د حق په لسان د پیغمبرانو وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ او لیکن زیات ستاسے چه دی لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ (۷۸)
د ګفتار د حق بد ګڼړونکی او نه منونکی دی اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا بلکه محکم نیولے دے دغه کفار و د مکے یو
کار په مکر او په فریب کښې په رسول باندے یا په ابطال د حق کښې فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ (۷۹) پس
بیشکه مونږه هم محکم نیونکی یو دیو کار د پاره د ابطال د سعی د دوئ چه هغه نصرت دے له
رسولانو سره اَمْ يَحْسَبُوْنَ آیا ګمان کوی د امکر کونکی د کفارو اَنَّا لَا نَسْمَعُ داسے چه بیشکه نهٔ اورو
مونږه سِرَّهُمْ هغه پټ خبرے د دوئ چه په زړه کښې ئې ګرځوی وَنَجْوٰىهُمْ ؕ او هغه کونبے د
دوئ چه په خپلو له یو بل سره مجلس او مصلحت کوی بلکې ولے نهٔ اورو بلکه اورو او پرے آګاه یو

عه یعنی نهٔ شو کوی سرے په جنت کښې د میوے د هغه نه مګر چه زرغونه شی په ځای د هغه کښې په مثل د هغه
شو کیدلے ۱۲
اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ولمن یحبه ویوا ... ۱۲

وَرُسُلُنَا او پیا سره له اطلاع څخه نیز زموږ ځه چه دی یعنی حفظه چه کرام الکاتبین دی لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿۸۰﴾
دوئ څخه مقرر دی چه لیکی ټول اعمال ددوئ که ښکاره دی که پټ دی که ښکاره نو هر کله چه پټ اسرار ددوئ ملائکو
ځما ته ټول ښکاره دی نو له ما به هغه څرنګه پټ وی چه علام الغیوب یم قُلْ إِنْ كَانَ ووایه
اے رسوله دوئ ته که چرے وے لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ ۖ خدائ لره فرزند فرضًا لکه تاسے چه وایئ
فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴿۸۱﴾ پس زهٔ خو اول یم د عابدانو دخدائ نو هغه به ما ته معلوم وو او هر کله
چه ما ته معلوم دی چه فرزند ورلره نشته نو تاسے دروغ وایئ یا معنیٰ دا چه زهٔ به اول وم
له عبادت کونکو د هغه ولد اوله تعظیم کونکو لکه چه تعظیم د شاهزاده کاوه شی له جهته دپلار
بیا پاکی بیانوی د ذات خپل له اتخاذه د ولد نو وائی سُبْحَانَ پاکی ده رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
رب د اسمانونو او د زمکے او بل رَبِّ الْعَرْشِ خښتن د عرش عظیم له هرهٔ عیبه څخه خصوصًا عَمَّا
يَصِفُونَ ﴿۸۲﴾ له هغه چه وائی یے د اکفار چه نسبت د ولد کوی ورته په دروغ فَذَرْهُمْ پس
پریږده ته دوئ يَخُوضُوا چه غوټے وهی په باطلو خپلو کښ وَيَلْعَبُوا او لوبے کوی په دے دنیا
کښ حَتَّىٰ يُلَاقُوا ترهغه پورے چه پیښ شی یعنی ووینی دوئ يَوْمَهُمُ الَّذِي هغه ورځ خپله
يُوعَدُونَ ﴿۸۳﴾ چه وعده کاوهٔ شی د هغے له دوئ سره وَهُوَ الَّذِي او دے هغه پروردګار دے
فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ چه دے په اسمان کښ هم معبود دے وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ او په زمکه کښ هم
معبود دے پاس د ملائکو او کوز د پیریانو او انسانو وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿۸۴﴾ او هم دے پرحکمت
دانا په مصالحو د بندګانو او دا دواړه فِي متعلق دی په إِلَٰه پورے ځکه چه دے په معنیٰ د معبود
دے وَتَبَارَكَ الَّذِي او برکتناک دے هغه ذات لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ چه خاص هم دهٔ لره ده بادشاهی
د اسمانونو وَالْأَرْضِ او د زمکے وَمَا بَيْنَهُمَا ج او د هر هغه چه په مابین د دے دواړو کښ دی
وَعِنْدَهُ او بل خاص هم دهٔ څخه عِلْمُ السَّاعَةِ ج پوهه د قیامت ده چه کله به برپای کیږی وَ
إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿۸۵﴾ او بل خاص هم دهٔ ته به بیولے شئ د پاره د حساب وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ
او اختیار به نهٔ لری په دغه ورځ هغه خدایان د دے کفارو يَدْعُونَ چه بولی ئے یعنی عبادت
ئے کوی دوئ مِنْ دُونِهِ الشَّفَاعَةَ غیر له خدائ د شفاعت لکه چه زعم دے د دوئ که بتان

کهٔ ملائک کهٔ جنس کهٔ انس دی إِلَّا مَنْ مگر هغه څوك به اختيار لري د شفاعت شَهِدَ بِالْحَقِّ
چه شاهدي ئے لودي وي په حق يعني چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ئے ويلي وي په څير لکه ملائک
او عيسٰي او عزير عليهم السلام شو چه دوئ لره مرتبه د شفاعت شته وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ او
حال دا چه دوئ پوهيږي او يقين د زړهٔ هم لري په دے قول خپل وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او قسم دے
چه کهٔ و پوښتے ته دوئ مَّنْ خَلَقَهُمْ له دے چه چا پيدا کړي دي د اعابد ان او معبودان لَيَقُوْلُنَّ
اللّٰهُ نو هرو مرو به وائي دوئ چه خدائ او په سبب د ډير ظهور انکار به ترے نشي کولے فَاَنّٰى
يُؤْفَكُوْنَ ﴿۸۷﴾ پس کوم طرف ته گرځولے کيږي يا څرنګه گرځولے کيږي دوئ له عبادت ته د خدائ
عبادت د غيرته وَقِيْلِهٖ او بل خاص هم دهٔ څخه دے علم د دے قول د رسول چه يٰرَبِّ اے
ربه زما اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ بيشکه دا معاندان د قريشو چه دي قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ يو توله دے
چه ايمان نهٔ راوړي او دا قيله عطف دے په السَّاعَةِ باندے يعني وعنده علم قوله صلے الله عليه
وسلم فَاصْفَحْ عَنْهُمْ پس څنګ وکړه له دوئ او له دعوته د دوئ او له ايمان نه ئے هم طمع قطع کا
وَقُلْ سَلٰمٌ او ووايه دوئ چه مونږه سلامتي غواړو له شره ستاسے او دا حکم بيا منسوخ
شوے دے په اٰيت د سيف سره فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾ پس زر دے چه معلوم به کا دوي عاقبت
دکفر خپل په دنيا کښ په ورځ د بدر او په عقبٰي کښ په وخت د دخول د نار.

سُوْرَةُ الدُّخَانِ (۴۴) مَكِّيَّةٌ (۶۴)　بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ　اٰيَاتُهَا ۵۹　رُكُوْعَاتُهَا ۳

په حديث کښ راغلي دي چه مَنْ قَرَأَهَا فِي لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ اَصْبَحَ مَغْفُوْرًا لَهٗ حٰمٓ ﴿۱﴾ د دے بيان
هم مخوا تير شوے دے يعني قسم دے چه هر هغه څيز چه مراد دے له دے مقطعاتو وَالْكِتٰبِ
الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ او بل قسم دے په هر هغه کتاب يعني په قرآن چه ښکاره کونکے د دلارے د هدايت
او د هر هغه څيز چه حاجت ورته پيښيږي له احکامو د شريعت او جواب د قسم دا دے اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ
بيشکه مونږه چه يو راليږلے د مونږه دا کتاب فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ په هغه شپه کښ چه برکتناکه

عه يعني هر چا چه ولوست دا سورة په شپه د جمع کښ صبا به کړے بخښلے شوے دهٔ لره ۱۲

دا چه ليلة القدر دا او دا قول ماهِ رمضان لره هم شامل دے ځکه چه په اکثرو رواياتو سره په
ماهِ رمضان کښې د دغه ليلة القدر چه په دے کښې را ښکته شوے دے دا قرآن له لوح محفوظ نه
د غه څيرمه آسمان ته اوله هغه ځايه بيا جبريل عليه السلام ټوټه ټوټه راوړے دے رسول الله صلى
الله عليه وسلم لره په قدر د حاجت سره چه په درويشتو کالو کښې ټول پوره شوے دے او برکت
د دے شپے نزول دے په دے کښې د ملائکو او د هر خير او سلامتئ له امله او کيدل د عبادت په دے
کښې غوره دے له عبادته د زرو مياشتو او چا ويلې دی چه دا شپه نيمګړے د شعبان او برکت ئے نزول
دے د ملائکو او تبليدل دی د دعواتو او فيصل والے د امورو او قسمت د ارزاقو او مقرر والے د اجالو
او داسے نور هم اِنَّا كُنَّا بيشکه چه مونږه يو مُنْذِرِيْنَ ﴿۳﴾ ويرونکی په دے انزال سره فِيْهَا يُفْرَقُ
په دے شپه د ليلة القدر يا د برات کښې بيلاوه او کوتاه کاوه شی سره كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ ﴿۴﴾ هر کار
حکمتناک اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ط يعنی هر هغه کار چه مقرر شوے دے مونږه څخه په مقتضی د حکمت
بالغه ځمونږه سره اِنَّا كُنَّا بيشکه چه مونږه يو مُرْسِلِيْنَ ﴿۵﴾ رالېږونکی د رسولانو او د ابدل دی
د تيرا تا کنا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ط د پاره د رحمت او د مهربانئ په خلقو له طرفه د رب ستا اِنَّهٗ بيشکه
دے چه دے هُوَ السَّمِيْعُ هم دے اوريدونکے د اقوالو د بندګانو الْعَلِيْمُ ﴿۶﴾ دانا په افعالو او په
احوالو او په نياتو د دوئ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يعنی له طرفه د رب د اسمانونو او د زمکے وَمَا
بَيْنَهُمَا م او هر هغه چه په مابين د دے دواړو کښې دی اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۷﴾ که چرے يئ تاسے اے
مکيانو يقين کونکی په ربوبيت ځمانو په رسالت د محمد صلی الله عليه وسلم هم يقين اوکړئ لَآ اِلٰهَ اِلَّا
هُوَ نشته بل لايق د عبادت هيڅوک مګر هم دے دے يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ط چه هم ژوندی کول کوی او هم وژل
کوی رَبُّكُمْ دے هم رب دے ستاسے وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸﴾ او هم رب دے د نمړيو پلرونو
ستاسے بَلْ هُمْ بلکه دوئ چه دی فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ﴿۹﴾ په شک او ګمان کښې پراته دی چه لوبے کوی
په رسول صلی الله عليه وسلم او په قرآن پورے فَارْتَقِبْ پس منتظره اوسه ته دوئ ته اے رسوله!
يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ په هغه ورځ چه راپيدا به کا آسمان بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۰﴾ په لوګی ښکاره
يَّغْشَى النَّاسَ ط چه پټ به کا دا لوګے تمام مخلوق تغشيه په دے لوګی کښې روايات دی نوچا

ویلی دی چه عرب سخت اولوږی شر ته دخان وائی نو دلته مراد ترې هغه اوږه کاله د قحط دی چه
رسول صلے الله علیه وسلم سوال کړے وو چه اللهم اشْدُد وطأتك على مُضر واجعلها عليهم سنين كسنى
یوسف یعنی اے خدایه سخته کا پایمالی خپله په مضریانو باندے اوکړه دا پایمالی په دوئ د اسے
کلونه د قحط لګه کلونه د یوسف علیه السلام نو اوه کاله په دے قریشو داسے قحط عظیم راغے چه
مردار سپی به ئے هډوکو سره خوارهٔ او په سترګو به ئے داسے تیاره راغله چه د زمکے اسمان به
به ئے ډک لیدهٔ له لوږی ترحده چه یو سړی به خبرے د بل اوریدے او په سترګو به ئے نهٔ لیدهٔ له
ډیرے لوږے اوچا ویلی دی چه مراد ترے هغه غبار دے چه په ورځ د فتح د مکے یا په موده د
هغه قحط کښې له ډیرے وچ کالئ داسے غبار رونه راپورته شول چه د اهوا پرے درسته تکه توره
شوه په شان د لوګی اوچا ویلی چه واقعی لوګے به راپورته شی له اسمانه چه هغه هم یوه نښه ده
له نښو د قیامت او دا زمکه به پرے داسے تکه توره شی لکه لوګی وهلے کوټه او دا به نیږدې قیامت
وی او دا چه راغے نو نښتې به په خولے په پوزے په غوږونو د کفارو کښې او په مومنانو به
د ومره سختی راولی لکه په دوی وهلو سره نو دا کفار به په دے لوګی بے هوش اولیونی شی نو
ملائک به ورته وائی چه هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ⑪ دا هغه عذاب دے دردناك چه خدائی وعده
کړے وه د هغه له تاسے سره نو دوئ به زاری برپائی کړه او وائی به چه رَبَّنَا اكْشِفْ اے ربه څمونږه لرے
که عَنَّا الْعَذَابَ له مونږه څخه دا عذاب اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ⑫ بیشکه چه مونږه مؤمنان یو پس
له رفع دد ے عذاب یعنی هرکله چه دا عذاب را څخه لرے شهٔ نو مونږه به ایمان راوړو نو رب العزت
وائی چه اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى چرته به نفع ورسوی دوئ ته پند اخستل او ایمان راوړل پس له
نزول د عذاب وَقَدْ جَآءَهُمْ او حال دا چه په تحقیق راغلے وو دوئ لره رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ⑬ رسول
بیانونکے د توحید او ښکاره کونکے د معجزاتو او دوئ پرے پند وانهٔ خست بلکه انکار ئے ترے وکړو
ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ بیا مخ ئے وګرځاوو له دهٔ وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ او وویل بعضو له دوئ چه لولے شوے
یعنی عداس چه مریے دے د ثقیف یا له بشره یا له جبیره او له یساره څخه دا زده کوی او بیا مونږ
ته ئے وائی او بعضو نورو وویل چه مَّجْنُوْنٌ ⑭ لیونے دے او دماغ ئے مختل شوی دی نو پرته وائی

روایت دے چه په ایامو د دے قحط کښې ابوسفیان له یوے ډلے د قریشو سره مدینے له
راغے او رسول صلی الله علیه وسلم ته ئے د یاره د دفع د دے قحط ډیره زاری وکړه او وعده ئے هم وکړه د
ایمان راوړلو لکه چه بیرته تیردی چه ربنا اکشف عنا العذاب انا مؤمنون او دۀ دعا نو رب العزت
ووئیل اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ بیشکه مونږه لرے کونکی یو دعذاب د قحط په دے دعا ستاسره قَلِيْلًا لږه
موده چه هغه موده د حیات ستاسے ده اما ووایه دوئ ته چه د اکشف تاسے ته هیڅ فائده نهٔ رسوی
ځکه چه اِنَّكُمْ عَائِدُوْنَ ⑮ بیشکه تاسے بیرته ګرځیدونکی یئ له فراخئ بیا کفر خپل ته او چا چه
دا دُخان د علامو د قیامت وئیلے دے هغه وائی چه خلویښت ورځے به دغه دود ولاړوی او داخلق
به پیے ډیر تنګ شی او ډیرے زاری به کاخدائ ته نو پس له خلویښتو ورځو به دا ورک شی او دوئ
به بیا پخوانی شرک او فسق خپل ته وګرځی لکه چه پخواله دے عذابه وو او یاد کا يَوْمَ نَبْطِشُ
الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى ج هغه ورځ چه به ونیسو مونږه د اکفار په سخت او لوی نیولو سره چه
هغه ورځ د قیامت یا ورځ د بدر ده چه اویا تنه قتل او اویا بندیان شو اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ⑯
بیشکه مونږه انتقام اخستونکی یو په هغه ورځ وَلَقَدْ فَتَنَّا او هراٰئینه په تحقیق ازمیلی وو مونږه
قَبْلَهُمْ پخواله دغه مشرکانو څخه قَوْمَ فِرْعَوْنَ قوم دفرعون چه قبطیان دی وَجَآءَهُمْ او
راغلے وو دوئ لره رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ⑰ استاذے ګران خدائ ته او مؤمنانو ته یا بلند شان هم حسبًا
او هم نسبًا او دے فرعونیانو ته ئے ووئیل اَنْ اَدُّوْٓا دا سے چه وسپارئ تاسے اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ط په
ما باندے دا بندګان د خدائ چه بنی اسرائیل دی او له ما سره ئے ولیږئ اِنِّيْ لَكُمْ بیشکه چه
زۀ تاسے لره رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ⑱ استاذے یم امانګر په رسالت خپل کښې وَاَنْ لَّا تَعْلُوْا او بل دا ته
وایم دا چه مهٔ کوئ لوئی او سرکشی عَلَى اللّٰهِ ج په خدائ په اهانت د وحی سره اِنِّيْٓ اٰتِيْكُمْ بیشکه
چه زۀ راوړونکے یم تاسے ته بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ⑲ حجت او دلیل واضح په نبوت او په صدق خپل
بیا فرعونیانو ورته ووئیل چه سنګسار به دِ کړو کۀ دِ دے خبرو نه وانۀ وخته نو دۀ ووئیل چه وَاِنِّيْ
عُذْتُ او بیشکه زۀ پناه نیسم بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ په رب خپل او په رب ستاسے پورے اَنْ تَرْجُمُوْنِ ⑳
له دے چه سنګسار کړئ تاسے ما وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ او کۀ باور نۀ کوئ په ما او ایمان نۀ راوړئ را باندے

فَاعْتَزِلُوْنَ ﴿۲۱﴾ پس کناره ونیسئ له ما او شرمهٔ را رسوئ اما دوئ دده په دے ویلو عمل ونهٔ کړو او
جفائے ورسره بر پائ کړه هم قولی او هم فعلی فَدَعَا رَبَّهٗٓ پس سوال وکړهٔ موسٰی علیه السلام رب
خپل ته پس له تکذیبه د دوئ اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ داسے چه بیشکه دا قبطیان چه دی قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۲۲﴾
یو ټولے دے د مصر په کفر او په کبر خپل نو دوئ هلاك کړه او دا سوال ئے رب قبول کړو نو ورته ئے
وویل فَاَسْرِ بِعِبَادِیْ پس بوځه ته بندګان زما چه بنی اسرائیل دی یعنی له مصرئے وباسه
لَیْلًا د شپے اِنَّکُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ بیشکه چه تاسے متبوع یئ د قبطیانو یعنی هر کله چه دوئ خبر
شوله خروجه ستاسے نو درپسے به درځی بیا سیند ووهه په همسا خپلے چه دولس کوځے به شی
او بنی اسرائیل پکښ تیر کا په امان سلامت بیا چه بنی اسرائیل تیر شو نو موسی علیه السلام
بیا اراده وکړه د دے چه دا سیند بیا په همسا ووهی چه بیرته هوار شی او دا کوځے ئے ورکے شی
چه بیا دا قبطیان را پورے وځی را پسے نو دا امر ورته وشهٔ چه وَاتْرُكِ الْبَحْرَ او پریږده اے موسٰی
دا سیند رَهْوًا هم هسے کوځه او لاره لکه چه اوس ولاړ دے او بیائے مهٔ وهه په همسا د یاره د کوځے
ورکولو او له قبطیانو ویره مه کوه ځکه چه اِنَّهُمْ جُنْدٌ بیشکه دوئ یو ټولے دے مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۴﴾ د غرق
کړے شویو یعنی دوئ به ټول غرق شی بیا نو له خیرے غرق شو ځکه وائی چه کَمْ تَرَكُوْا ډیر پریښودل
دوی بیرته مِنْ جَنّٰتٍ له باغونو دکوله رنګارنګ میوو وَّعُیُوْنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوْعٍ او همداسے له
چینو داوبو او له کښتونو په اقسامو وَّمَقَامٍ كَرِیْمٍ ﴿۲۶﴾ او میو ښو او ډیر ښا ئستو۔ وَّنَعْمَةٍ او
نورو اسباب دمعاش کَانُوْا فِیْهَا چه وو دا قبطیان په هغهٔ کښ فٰكِهِیْنَ ﴿۲۷﴾ ښادی او برخورداری
کونکی کَذٰلِكَ قف هم داسے کوو مونږه له مکذبانو سره وَاَوْرَثْنٰهَا او میراث پاتے کړه مونږه
دغه ټول څیزونه چه بیرته د کرشوی دی قَوْمًا اٰخَرِیْنَ ﴿۲۸﴾ بل قوم ته چه بنی اسرائیل وو فَمَا
بَكَتْ پس ونهٔ ژړل عَلَیْهِمُ السَّمَآءُ په دوئ آسمان وَالْاَرْضُ او نه زمکے په خلاف لمومنانو
چه په هغو به پس له مرګه تر ځلویښتو ورځو پورے ځلور څیزونه ژاړی چه مُصَلّٰی او ځائ د
عبادت ئے دے دا دوه له زمکے او مصعد دعمل ئے مهبط د رزق ئے دے دا دوه له اسمانه لکه
حدیث دے چه اِنَّ الْمُؤْمِنَ لَیَبْكِیْ عَلَیْهِ مُصَلَّاهُ وَمَحَلُّ عِبَادَتِهٖ وَمَصْعَدُ عَمَلِهٖ وَمَهْبَطُ رِزْقِهٖ

عه یعنی په تحقیق سره مؤمن لره هر اینه ژاړی په ده باندے مصلی دده او ځائ (پاتے په صفحه ۴۹۶ کښ)

ع ۱ ۹ ۱۴ او یا دلته مضاف پټ دے یعنی اهل السماء والارض وَمَا كَانُوْا مُنْظَرِيْنَ ﴿۲۹﴾ او نهٔ وو دوی
مهلت ورکړے شوی ترېو وخته دپاره د توبے وَلَقَدْ نَجَّيْنَا او هرآئینه خلاص کړی وو مونږه
بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ بنی اسراءیلو لره مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿۳۰﴾ له هغه عذاب چه خوارونکے وو چه
مړی توب وود فرعون او قتل وود ابناؤ او نور سخت کارونه وو مِنْ فِرْعَوْنَ ط یعنی له فرعون او
دا بدل دے د من العذاب نه اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه دے وو عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾ سرکش متکبر
یو له مسرفانو چه تیرید ونکی دی له حده د ایمان وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ او هرائینه په تحقیق غوره کړی
وو مونږه دوی یعنی موسیٰ علیه السلام او مؤمنان د بنی اسراءیلو عَلٰى عِلْمٍ په علم ځمونږه
په دے چه دوی لائق دی د غوره والی او د احال دے له ضمیره د فاعل عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۲﴾ په
درستو عالمیانو د زمانے خپلے وَاٰتَيْنٰهُمْ او ورکړے وو مونږه دوی لره مِّنَ الْاٰيٰتِ له نښو د قدرت خپل
مَا فِيْهِ هغه څیز چه وو په هغهٔ کښې بَلٰٓؤٌا مُّبِيْنٌ ﴿۳۳﴾ نعمت ښکاره یا ازمیښت ښکاره چه بیا وکوړ
چه دوی څهٔ کوی اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ بیشکه دا کفار د قریشو چه دی لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۳۴﴾ هرائینه وائی دوی
چه اِنْ هِيَ نهٔ دے دا عاقبت د کار ځمونږه اِلَّا مَوْتَتُنَا الْاُوْلٰى مګر هم دا مرګ دے د ځمونږه چه
پس له دے ژوند د دنیا دے وَمَا نَحْنُ او نهٔ یو مونږه بیا پس له دے مرګه بِمُنْشَرِيْنَ ﴿۳۵﴾ ژوندی کړے
شوی او راولاړ کړے شوی بیا پس له مرګه او که تاسے په دے خبره باور نهٔ کوئ فَاْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ پس
راولئ او راژوندی کړئ تاسے پلرونه ځمونږه اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۶﴾ که چرے یئ تاسے رښتینی په
دے وعده کښې اَهُمْ خَيْرٌ ایا دا قریش غوره دی په شدت او په شوکت او په قوت او په مال کښې اَمْ
قَوْمُ تُبَّعٍ او که قوم د تبع غوره وو او تبع حمیری یو سړے وو یا نبی یا هسے مومن صالح لکه چه حدیث
دے چه ما ادری اکان تُبّع نبیا او غیر نبی - او دے بادشاه وو مؤمن او قوم ئے لوئ لښکر وو بے
حده په رمهیب قوتناك اما ټول کفار وو او اتش پرست وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ط او بل هغه کسان
چه مخکښې وو له دے قوم د تبع لکه عاد او ثمود او دا سے نور چه هر کله اِبا ئے وکړه له ایمانه اَهْلَكْنٰهُمْ د
نو هلاک کړه مونږه دا ټول ځکه چه اِنَّهُمْ بیشکه دوی چه وو كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وو دوی کافران

(بقیه حاشیه صفحه ۴۹۶) د عبادت ده او ځائی د ختلو د عمل ده او ځای در ا کوزید و د رزق دے ۱۲

منکران له بعث له قیامت وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ او نهٔ دی پیدا کړی موږ ده دا اسمانونه وَالْاَرْضَ
او دا ځمکه وَمَا بَيْنَهُمَا او هغه چه په مابین ددے دواړو کښں دی لٰعِبِيْنَ ﴿۳۸﴾ په حال د
کید لوځموږه کښں لوبے کونکی یعنی عبث او بے مطلبه موږ پیدا کړی نهٔ دی بلکه مَا خَلَقْنٰهُمَآ
نهٔ دی پیدا کړی موږه دا دواړه اِلَّا بِالْحَقِّ مګر په حق سره یعنی د پاره ددے چه استدلال
وکړے شی په دوئ سره په وجود او په قدرت ځموږه باندے وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ او لیکن زیات د
دے خلقو چه مشرکان دی په سبب د غفلت او کم فکرئ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ نهٔ پوهیږی دوی په دے
چه فعل د حکیم له حکمته خالی نهٔ وی اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ بیشکه ورځ د بیلتون چه ده د حق له باطل
او د حق له مبطل په جزا سره یا د هر سړی له اقاربوا و له احباؤ خپلو مِيْقَاتُهُمْ وخت د وعدهٔ ګاه
د دوئ دے د پاره د حساب او د جزا اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۰﴾ د ټولو يَوْمَ لَا يُغْنِيْ په هغه ورځ چه دفع کولے
نهٔ شی مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى هیڅ دوست او خپلوان له خپل دوست او خپلوان شَيْئًا هیڅ څیز له عذابه۔
وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۱﴾ او نهٔ به دوئ سره مدد وکړے شی په دفع د کوم مکروه کښں له دوئ او دا یو
بدل دے له یوم الفصل څخه اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ ط مګر هغه څوک چه رحم پرے وکا خدائ په عفو او
په قبول د شفاعت سره له دهٔ لکه مؤمنان چه دوئ به یو د بل شفاعت سره کوی په اذن د خدائ
سره اِنَّهٗ بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْعَزِيْزُ دے غالب دے په انتقام اخستلو کښں له کفارو الرَّحِيْمُ ﴿۴۲﴾ ع ۲ ۱۳ ۱۵
مهربان دے په مؤمنانو اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ﴿۴۳﴾ بیشکه ونه د زقوم چه ده او زقوم یوه ونه ده په
دوزخ کښں په مثل د ونو د دنیا او زقوم ئے میوه ده طَعَامُ الْاَثِيْمِ ﴿۴۴﴾ خوراک دے د هر فاجر ګنهګار
کثیر الاثام یعنی ابو جهل او ملګری د دهٔ او دا اول خبر دے د اِنَّ كَالْمُهْلِ ج دا سے به وی لکه خیرے
د تیلو او دا ئے دویم خبر دے يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ﴿۴۵﴾ چه جوش به وهی دا زقوم په درونو ددوئ
کښں كَغَلْيِ الْحَمِيْمِ ﴿۴۶﴾ لکه جوش وهل د ګرمو اوبو او دا ئے دریم خبر دے بیا امر به وشی
زبانیو ته چه وا کدا ران دی د دوزخ خُذُوْهُ ونیسئ دا فاجر اثیم فَاعْتِلُوْهُ پس را کاږئ دے په
سختئ او په قهر سره اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۴۷﴾ مینځ د دوزخ ته ثُمَّ صُبُّوْا بیا توئ کړئ فَوْقَ رَاْسِهٖ
پاس په سر د ده مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ﴿۴۸﴾ له عذابه د ګرمو اوبو یعنی هغه ګرمے اوبهٔ چه عذاب

ورسره پیوست دے چه بیرون ئے په دے او بود اسے معذب شی لکه چه درون ئے په زقوم معذب
وی بیا به ورته وویلے شی چه ذُقْ ج إِنَّكَ وڅکه دا عذاب بیشکه چه ته أَنْتَ الْعَزِيزُ ته ئے عزتناک
او مشرد قوم خپل الْكَرِيمُ ﴿۴۹﴾ لوئ په زعم خپل او دا به ځکه ورته وائی چه ابوجهل به ویل چه
زهٔ اعز اکرم دد ے ښاریم او په وادی د بطحا کښ له ما زیات څوك نشته بیا دے منکرانو د
بعث ته به وویلے شی إِنَّ هٰذَا چه بیشکه دا عذاب چه دے مَا كُنْتُمْ هغه دے چه وئ تاسے په دنیا
کښ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ چه په دهٔ کښ به شک راوړتاسے إِنَّ الْمُتَّقِيْنَ بیشکه پرهیزګاران چه
دی فِيْ مَقَامٍ اَمِيْنٍ ﴿۵۱﴾ په هغه ډیره ګاه کښ به وی چه په امان به وی له هرهٔ آفته مخافته
فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۵۲﴾ په هغه باغونو او چینو کښ به وی او دا بدل دے د مقام امین څخه
يَّلْبَسُوْنَ چه اغوندی به دوئ جامے مِنْ سُنْدُسٍ له د ریا ئیکانو مهینو نازکو وَّاِسْتَبْرَقٍ او
له بیرو زیکو مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۵۳﴾ په دے حال چه مخامخ به سره ناست وی په تختونو او مجلسونو سره
کوی كَذٰلِكَ تفهم دا سے به وی بے تغیر تبدیل وَزَوَّجْنٰهُمْ او ملګری به کړو مونږه له دغه متقیانو
سره بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿۵۴﴾ له سپین پوستیو سترګو ښځو سره يَدْعُوْنَ فِيْهَا غواړی به دوئ له خادمانو
خپلو په دے باغونو کښ بِكُلِّ فَاكِهَةٍ هرقسم میوه چه اشتهائے ورته وشی اٰمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ په دے
حال چه په امان به وی دوئ له زوال اوله انقطاع اوله ضررهٔ دد ے میوے لَا يَذُوْقُوْنَ نهٔ به
څکی دوئ فِيْهَا الْمَوْتَ په دے جنت کښ مرګ بل اِلَّا الْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى ج غیر له هغه نمری
مرګه چه په دنیا کښ پرے تیر شوے وو وَوَقٰهُمْ او وبه ساتی دوئ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿۵۶﴾ له
عذابه د دوزخ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ ط له جهته د فضل او کرمه له جانبه د رب ستا ذٰلِكَ دا چیول د
عذاب او بخل د حیات ابدی سره له جنت هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۵۷﴾ هم دا لوئ بری دے فَاِنَّمَا
يَسَّرْنٰهُ پس هم دا خبره ده چه آسان کړے دے مونږه دا قرآن له دے جهته لیږلے دے مونږه
بِلِسَانِكَ په ژبه ستا چه عربی ده د پاره دد ے لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ چه بنائی چه دا قوم
ستا وپوهیږی په معنٰی دهٔ او پند پرے واخلی اما دوئ پرے هیڅ پند وانهٔ خست نو هر کله چه
دا سے شوه فَارْتَقِبْ پس منتظر اوسه ته هغه څیز ته چه په دوئ به راځی اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ﴿۵۹﴾ ع ۳ ۱۷

بیشکه چه دوئ هم منتظر دی تا ته چه څهٔ معامله به د رسره کیږی .



حٰمٓ ① کهٔ دا دوه حرفونه اشارات شی دوه نومونو د خدائ ته چه مثلاً حکیم او مجید دے نو دا
به مقسم شی او ما بعد به ئے جواب د قسم شی او که دا نوم شی د سورت نو دا به مبتدا شی او
ما بعد به ئے خبر شی نو معنیٰ به ئے یا دا سے شی چه قسم دے په هغه خدائ چه حکیم او مجید
دے او یا به دا سے شی چه دا سورت چه نوم ئے حٰمٓ دے دا چه دے تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ رالیږل دکتاب
یعنی د قرآن دی مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ له هغه خدائ چه غالب دے په هر چا الْحَكِيْمِ ② پر حکمت دے
دا سے چه هیڅ کار ئے له حکمته خالی نهٔ دے اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ بیشکه په اسمانونو کښ له ستورو چه
بعض سیاره او بعض ثوابت دی وَالْاَرْضِ او هم دا سے په زمکه کښ له غرونو له انهارو له اشجارو
له حیواناتو او دا سے له نورو څیزونو لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ③ هر ائینه رنګا رنګ نښے دی د قدرت
مؤمنانو لره دلالت کونکے په وحدانیت د صانع وَفِيْ خَلْقِكُمْ او بل په پیدا ایښت ستا سے کښ له
نطفے او بیا په اړولو راړ ولو کښ له یو حال بل حال ته تر تمام د صنعت وَمَا يَبُثُّ او بل په هغه
کښ چه شیندی ئے دے په زمکه کښ مِنْ دَآبَّةٍ له هر خوځیدونکی او تګ کونکی په روی زمین چه
ادمیان او که غیر دی په اختلاف د اشکالو او د صورو او د خاصیاتو سره اٰيٰتٌ رنګا رنګ نښے دی د یاره د
استدلال په وجود د صانع لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ④ د یاره د هغه قوم چه یقین لری په راتلو د قیامت وَ
اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ او بل په اختلاف د شپے او د ورځے کښ په زیاتید لو او په کمید لو او په
تلو او په راتلو او په تیرے او په رڼا سره وَمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ او بل په هغه کښ چه رالیږلے دے خدائ مِنَ
السَّمَآءِ له طرفه د اسمانه مِنْ رِّزْقٍ له روزئ یعنی باران او دا ئے په روزئ و بالهٔ ځکه چه دا
سبب دے د روزئ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ پس ژوندئ کړیده په دغه باران سره زمکه بَعْدَ مَوْتِهَا پس له
مرګه یعنے له وچوالی د دے وَتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ او بل په چورلولو د بادونو کښ چه کله قبول کله د بور
کله شمول کله جنوب شی او کله یخ او کله ګرم کله تند او کله نرم کله شنډ کله وروونکے شی په دغه ټولو کښ

اٰیٰتٌ رنګارنګ نښے دی د قدرت کامله لِّقَوۡمٍ یَّعۡقِلُوۡنَ ﴿۵﴾ د پاره دهغه قوم چه فکر او عقل وکاپه دې
اٰیتونو کښې او دا فکر ئے بیا مفضی شی ایمان ته حاصل په اخر دې دریے اٰیتونو کښې اول ایمان
ذکر دے پسے ایقان پسے تعقل یعنی پوهنده منصفان چه دی له خلقو چه اول ئې نظر وکا په
اسمانو نو او په زمکه کښې نو له دے ئې ته ئے فکر لار شی صانع ته او ایمان راوړی بیا چه نظر وکا پخپل
پیدا ایښت کښې چه له یوے قطرے منی دے حد د کمال ته ئے ورسولم په دے اصنافو د حیواناتو
کښې چه خرنګه ئے خواره کړی دی په مخ د زمکے په قدرت کامله سره نو یقین ئے پیدا شی او ایمان
ئے راسخ شی بیا چه نظر وکا په حوادثو د عالم کښې لکه اختلاف دلیل او نهار او نزول د بارانو نو او
شنه کیدل د وچے زمکے او تقلبات د بادونو وحدانیت او کمال د قدرت ئے بنهٔ عقل ته پریوځی او یقین
او ایمان ئے کامل شی تِلۡكَ اٰیٰتُ اللّٰهِ دا علامے د قدرت یا اٰیتونه د قراٰن چه دی دا نښے دی دخدائی
دلالت کونکے په وحدانیت د دهٔ نَتۡلُوۡهَا عَلَیۡكَ چه لولوئے مونږه په تا بِالۡحَقِّ ۚ په رښتیا سره فَبِاَیِّ
حَدِیۡثٍۭ م پس په کومه خبره بَعۡدَ اللّٰهِ پس له خبرے دخدائی چه قراٰن دے وَاٰیٰتِهٖ او پس لــه
نښو د قدرت د دهٔ یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۶﴾ ایمان به راوړی دوئی چه په دے قراٰن ایمان نهٔ راوړی وَیۡلٌ
لِّکُلِّ اَفَّاكٍ افسوس دے هر دروغګو اَثِیۡمٍ ﴿۷﴾ د یر ګناهی له ره یعنی نضر حارث یَّسۡمَعُ اٰیٰتِ
اللّٰهِ چه اوری دې اٰیتونه دخدائی یعنی قراٰن تُتۡلٰی عَلَیۡهِ چه لوستلے کیږی په دهٔ ثُمَّ یُصِرُّ بیا
قائم او ولاړ کلک شی په کفر خپل مُسۡتَکۡبِرًا په دې حال چه کبر کونکے او ګردن کش وی له ایمان
راوړلو په هغو کَاَنۡ لَّمۡ یَسۡمَعۡهَا ۚ ګویا کهٔ له سره نهٔ دی اوریدلی دهٔ دغه اٰیتونه ځکه چه هیڅ
قدر نفع ئے پرے وانهٔ خستله فَبَشِّرۡهُ پس زیرے وکا په دهٔ بِعَذَابٍ اَلِیۡمٍ ﴿۸﴾ په عذاب دردناك
سره وَاِذَا عَلِمَ او په هغه وخت چه واوری او پوهـ شی مِنۡ اٰیٰتِنَا شَیۡـًٔا له اٰیتونو ځمونږه کوم
څیز اتَّخَذَهَا هُزُوًا ط نو ونیسی دې دا اٰیتونه مسخره بازی ے تا مله اُولٰٓئِكَ دا مسخره بازان چه
دی لَهُمۡ عَذَابٌ مُّهِیۡنٌ ﴿۹﴾ مقرر دې دوئی له ره عذاب سپکونکے مِنۡ وَّرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُ ۚ چه په
مخکښې د دوئی دوزخ دے چه ورپسـ ان دی یا شاته د دوئی یعنی پس له مرګه چه مسکن به وی د دوئی
وَلَا یُغۡنِیۡ عَنۡهُمۡ او دفع به نه کاله دوئی مَّا کَسَبُوۡا هغه چه ګټلے او پیدا کړے دے دوئی کهٔ اموال

دی او که اولاد دی شَيْئًا هیڅ خیز له عذاب د خدائی وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا او نه به دفع کاندوی هیڅ خیز
هغه بتان چه نیولی دی دوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ ج غیر له خدائی نه دوستان وَلَهُمْ عَذَابٌ
عَظِيْمٌ ﴿۱۰﴾ او مقرر دے دوی لره عذاب لوئی چه سختی به ئے له حده زیاته وی هٰذَا هُدًى ج دا
قرآن راهنمائے دے وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هغه کسان چه کافران دی او د دے مقتضا داده چه کوم
خلق نهٔ منی بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ د ایتونه د رب خپل لَهُمْ عَذَابٌ مقرر دے دوی لره عذاب مِّنْ
رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾ له هغه سخت عذاب چه دردناک دے اَللّٰهُ الَّذِیْ خدائی هغه قادر مطلق دے - ع ۱۴
سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ چه مسخر کړے دے دهٔ تاسے لره دا سیند یعنی دهٔ پاس ئے هوار کړے دے
چه متخلخل خیزونه پرے دریږی او مینځ دهٔ ئے نرم کړے دے چه غواصانو لره له غوټه کیدلو
مانع نهٔ شی لِتَجْرِیَ الْفُلْكُ د پاره د دے چه ځی او ګرځی بیړئ او جهازونه فِیْهِ بِاَمْرِهٖ په دغه سیند
کښی په امر د دهٔ سره وَلِتَبْتَغُوْا او بل د پاره د دے چه لټوئ او غواړئ تاسے په تجارت او په
غواصئ او په ښکاره سره مِنْ فَضْلِهٖ له فضل او له سوده د دهٔ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ او بل د پاره د دے
منبائی چه تاسے شکر وباسئ په دے نعمتونو وَسَخَّرَ لَكُمْ او بل مسخر کړی دی ده تاسے لره یعنی
پیدا کړی ئے دی دهٔ تاسے لره یعنی پیدا کړی ئے دی د پاره د منافع ستاسے مَا فِی السَّمٰوٰتِ هر هغه
چه په اسمانو کښی دی لکه نمر او سپوږمئ او ستوری او باران وَمَا فِی الْاَرْضِ او هر هغه چه په
زمکه کښی دی لکه جبال او نباتات او انهار او اشجار او د اسے نور اشیاء. جَمِیْعًا مِّنْهُ دا ټول
مسخر دی د ده له طرفه اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے تسخیر لَاٰیٰتٍ هر ائینه ښکاره نښے
د قدرت لِّقَوْمٍ یَّتَفَکَّرُوْنَ ﴿۱۳﴾ د پاره د هغه قوم چه فکر کوی دوی په عجائبو د صنعت کښی
او په غرائبو د حکمت کښی روایت دے چه یو مشرک له بنی غفار و عمر رض ته زوروله وکړے
او دهٔ اراده وکړه د دے چه هغه ونیسی او خپل انتقام ترے واخلی نو نازل شه قُلْ لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا
ووایه اے رسوله هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړیدے یَغْفِرُوْا اوچه بخښنه دِ کوی دوی د هر هغه
ایذاء چه رسیدلے وی دوی ته له طرفه د کفارو او د هغے انتقام دِ نهٔ اخلی بلکه اعراض او عفو دِ کوی
لِلَّذِیْنَ لَا یَرْجُوْنَ هغه کسانو ته چه نهٔ ویریږی دوی اَیَّامَ اللّٰهِ له ورځو د خدائی یعنی لـه

وقائعو دده له اعدائو خپلو سره او عرب له وقائعو په ایام سره تعبیرکوی او دا حکم پخوا وو له امره
دجهاد لِيَجْزِيَ قَوْمًا د پاره ددے چه جزا ورکاخدائی یوقوم لره بِمَا كَانُوا په سبب دهغه عمل
چه دی دوئ يَكْسِبُونَ ⑭ چه کوی ئے تنبیه دا قوم مذکور یا مؤمنان دی او دا تنکیر ئے
دتعظیم دے او دا کسب ئے مغفرت دے او یا کافران دی او دا تنکیر ئے تحقیر دے او کسب ئے
اساءت دے ځکه ئے ورپسے دا دواړه یاد کړه چه مَنْ عَمِلَ صَالِحًا هر څوک چه وکاکوم نیک کار
فَلِنَفْسِهِ پس هغه ئے دپاره دځان خپل دے ځکه چه نفع ئے هم دهٔ ته راجع ده وَمَنْ أَسَاءَ او هر
څوک چه کوم بد کار ئے وکړو فَعَلَيْهَا پس په هم ده باندے پیتے دوبال دهغه کار ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ
بیا خاص رب ستاسے ته تُرْجَعُونَ ⑮ بیرته به بیولے کیږئ تاسے په ورځ دقیامت دپاره دجزاد
اعمالو خپلو وَلَقَدْ آتَيْنَا او هر ائینه په تحقیق ورکړے وو مونږه بَنِي إِسْرَائِيلَ الْكِتَابَ فرزندانو
دیعقوب علیه السلام لره کتاب چه تورات وو وَالْحُكْمَ او حکمت او فقاهت هم یا فصل
دخصوماتو په مابین دخلقو ځکه چه بادشاهی په دوئ کښ ده وَالنُّبُوَّةَ او پیغمبری هم ځکه
چه په دوئ کښ دزمانے دیوسف علیه السلام نه وخته دعیسیٰ علیه السلام پورے او یازه پیغمبران
تیر شوی دی وَرَزَقْنَاهُمْ او روزی ورکړے وه مونږه دوئ لره مِنَ الطَّيِّبَاتِ له پاکیزه څیزونو
لکه من او سلوىٰ وَفَضَّلْنَاهُمْ او غوره کړی وو مونږه دوئ عَلَى الْعَالَمِينَ ⑯ په عالمیانو دزمانے
خپلے وَآتَيْنَاهُمْ او ورکړے وو مونږه دوئ بَيِّنَاتٍ مِنَ الْأَمْرِ ښکاره دلیلونه له امره ددینه
یعنی له حلالو او له حرامو یا ښکاره ایتونه له امره دمحمد صلی الله علیه وسلم دلالت کونکی په
صدق دده فَمَا اخْتَلَفُوا پس نهٔ دے کړے اختلاف دوئ په پیدا کولو دده کښ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا
مګر پس له هغه جَاءَهُمُ الْعِلْمُ چه راغلهٔ دوئ لره پوهه یعنی یقین په دے چه دا هم هغه پیغمبر
دے چه منعوت دے په تورات کښ او بیا ددهٔ حال ئے پټ کړهٔ له خلقو بَغْيًا بَيْنَهُمْ له جهته د
هغه بغی او سرکشئ یعنی په سبب دهغه عداوت چه پیدا شویدے په دوئ کښ له ډیره بغضه او
حسده إِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دے يَقْضِي بَيْنَهُمْ حکم به وکا په مابین ددوئ کښ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
په ورځ دقیامت فِيمَا كَانُوا په هغه باب کښ چه وو دوئ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ⑰ چه په هغه

کښې اختلاف به ئې کولو ثُمَّ جَعَلۡنٰكَ بیا وګرځولے مونږه ته عَلٰی شَرِیۡعَةٍ په یوه طریقه او لاره مِّنَ
الۡاَمۡرِ له لاره د دینه فَاتَّبِعۡهَا پس متابعت او پیروی ئې کوه ته اے رسوله وَ لَا تَتَّبِعۡ او مه کوه
پیروی اَهۡوَآءَ الَّذِیۡنَ د ارزو کانو د هغه کسانو لَا یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۸﴾ چه نه پوهیږی دوی په حقیقت
د توحید یعنی مشران د قریشو چه تا را کاږی متابعت د دین د پلرو نو خپلو ته اِنَّهُمۡ بیشکه چه
دوی لَنۡ یُّغۡنُوۡا عَنۡكَ له سره دفع نه کاله تا مِنَ اللّٰهِ شَیۡـًٔا له خدائ یعنی له عذابه د ده هیڅ څیز
وَ اِنَّ الظّٰلِمِیۡنَ او بیشکه ظالمان یعنی کافران چه دی بَعۡضُهُمۡ بعض د دوی اَوۡلِیَآءُ بَعۡضٍ ج
دوستان د بعضو نورو دی له جهته د مناسبت او د مجانست د ... بی په خپل مینځ کښې او هر کله چه
ستا مجانست ورسره نشته نو ته له دوی سره دوئی مه کوه وَ اللّٰهُ وَلِیُّ الۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۱۹﴾ او خدائ
دوست دے د پرهیزګارانو ته هم له دوئی سره دوستی کوه هٰذَا دا قرآن چه دے یعنی هذه معالم
د دین او د شرائعو چه په ده کښې دی بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ هغه بینائی کانے دی د پاره د خلقو چه
په هغو سره جدا کوی دوئی حق له باطل وَ هُدًی وَّ رَحۡمَةٌ او رهنمائی او مهربانی ده له طرفه د خدائ
لِّقَوۡمٍ یُّوۡقِنُوۡنَ ﴿۲۰﴾ د پاره د هغه قوم چه یقین راوړی دوئی په بعث اَمۡ حَسِبَ الَّذِیۡنَ ایا ګوی هغه
کسان. دا اَمۡ په معنیٰ د همزه د انکار دے. اجۡتَرَحُوا السَّیِّاٰتِ چه کسب ئې کړے دے د بدیو یعنی
کفر او د معاصیو اَنۡ نَّجۡعَلَهُمۡ د دے چه وبه ګرځوو په اخرت کښې مونږه دوئی کَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا په
مثل د هغو کسانو چه ایمان ئې راوړیدے وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ او عملونه کوی دوئی د نیکو سَوَآءً برابر دے
او دا بدل دے له کاف د کالذین ای نجعلهم سواء مَّحۡیَاهُمۡ ژوندون د دوئی وَ مَمَاتُهُمۡ ط او هم
مرګ د دوئی یعنی دوئی ګمان کوی د مساوات دا بد انو له نیکانو سره هم په ژوندون او هم په مرګ
کښې او دا نه ده نو سَآءَ مَا یَحۡکُمُوۡنَ ﴿۲۱﴾ بد دے دا حکم چه کوی دوئی د برابر والی بلکه د د واړو ع ۱۸
طائفو ژوندا و مرګ د واړه سره بیل دی ځکه چه د دوئی تمام عمر په فرمانبرداری او په طاعاتو کښې وو
او د هغو درست عمر په بے فرمانئ او په کفر او په معاصیو کښې وو د اخو معامله ئې د دنیا ده او هم دا سے
پس له مرګه هم حال ئې سره بیل دے ځکه چه دوئی به په رحمت په نعمت په کرامت کښې وی او هغه
به په زحمت په حسرت په ندامت په دوزخ کښې وی الحکم لله وَ خَلَقَ اللّٰهُ او پیدا کړی دی خدائ

تعالیٰ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اسمانونه اوزمکه بِالْحَقِّ په رښتیا چه دلالت وکا دا پیدا کول ئے په قدرت
کامله دخدائی وَلِتُجْزٰی كُلُّ نَفْسٍ؃ اوبل دپاره ددے چه پوره اجربه ورکړے شی هر نفس لره بِمَا
كَسَبَتْ په هغه چه ئے کړی وو په دنیا کښ له نیکئ اوله بدئ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾ اودوئ چه
دی وبه نهٔ کړے شی پرے ظلم اوتیرے په کمولو دنیکئ اودابرارو په زیاتولو دبدیو داشرارو اَفَرَءَيْتَ
مَنِ ؃ اياپس وبینے تهٔ هغه کس اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ چه نیولی ئے وی معبود خپل ارزو دنفس یعنی هرڅه
چه ورته نفس اماره وائی اګرچه مخالف وی له شریعته هم هغه کوی وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ اوګمراه
کړے وی دے الله تعالیٰ په علم ازلی کښ یا ګمراه کړے وی دے خدائی تعالیٰ سره له پوهے دده په
حق اوباطل باندے وَخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ اومهرا یخودے وی خدائی تعالیٰ په غوږ دده چه حق
نهٔ اوری وَقَلْبِهٖ اوپه زړهٔ ئے چه په حق نهٔ پوهیږی وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ط اوګرځولے
ده خدائی تعالیٰ په سترګو ئے پرده چه حق نهٔ وی فَمَنْ يَّهْدِيْهِ پس څوک به لاره وښائی دے
ته مِنْ؃ بَعْدِ اللّٰهِ ط پس له ګمراه کولو دخدائی دهٔ لره یا بغیرله خدائی اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۳﴾ ایاپس
نهٔ اخلئ تاسے پند په ایتونو اوقدرتونو دخدائی تعالیٰ یعنی ضرور پند پرے واخلئ وَقَالُوْا او
وائی هغه منکران له قیامت مَا هِيَ نشته ژوند اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا مګر هم دا ژوندون څمونږه
دے په دے دنیا کښ نَمُوْتُ وَنَحْيَا چه څنے فنا کیږو یعنی مرو او څنے ژوندی کیږو یعنی پیدا کیږو
وَمَا يُهْلِكُنَآ اونهٔ هلاکوی مونږه لره اِلَّا الدَّهْرُ ج مګر زمانه یعنی تیریدل ئے چه هرکله زاړهٔ
شونو خود به مړهٔ شو وَمَا لَهُمْ بِذٰلِكَ اونشته دوئ لره په دے کښ چه نسبت دمړهٔ زمانے ته
کوی مِنْ عِلْمٍ ج هیڅ پوهه اِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۲۴﴾ نهٔ دی دوئ مګر فقط اټکل کوی بے دلیله
وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اوهرکله چه ولوستے شی په دے کافرانو چه منکردی له قیامته اٰيٰتُنَا ایتونه د
قرآن څمونږه بَيِّنٰتٍ په دے حال چه واضحه دی اودلالت کونکی دی په ژوند پس له مرګ په مثل
دقل یحییها الذی انشاها اول مرة اوبل ان ان الذی احیاها لمحی الموتیٰ عہ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ نو
وی دلیل ددوئ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا مګرهم دا خبره چه وائی ائْتُوْا چه راولئ یعنی فی الحال ژوندی

عہ یعنی ووایه اے محمده م! چه ژوندی به کړی هډوکو لره هغه خدائی چه پیدا کړی ئے وواول ځل یعنی په تحقیق
سره هغه خدائی چه ژوندی کړی ئے دی دا هر ائینه ژوندے کونکے دمړیو دے ۱۲

کړئ بِاٰبَآئِنَآ پلاران حمونږه اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۲۵﴾ که چرې یئ تاسې رښتینې په دې کښې
چه ژوندون پس له مرګه دے قُلِ اللّٰهُ یُحْیِیْکُمْ و وایه ورته اے رسوله چه خدائ ژوندی
کوی تاسې له نطفې د مور او پلار نه په رحم د میندو کښې ثُمَّ یُمِیْتُکُمْ بیا به مو وژنی چه اجل مو
راشی ثُمَّ یَجْمَعُکُمْ بیا به مو سره ټول جمع کړی اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ حساب د ورځې د قیامت ته
لَا رَیْبَ فِیْهِ چه نشته د هیڅ شک په راتلو کښې ئې وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات د سړو چه
منکری له قیامته لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ نه پوهیږی په دے چه نشته شک په راتلو د قیامت کښې نو ځکه
ترے انکار کوی وَلِلّٰهِ مُلْکُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط او خاص خدائ لره ده بادشاهی د آسمانونو او
د زمکو وَیَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ او په هغه ورځ چه ودریږی یعنی شروع شی ورځ د قیامت یَوْمَئِذٍ
یَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾ نو په هغه ورځ به زیانکاره شی هغه باطل دینه چه کافران دی یعنی په دغه
ورځ به بنه ظاهره شی زیانکاری ئې ځکه چه په دوزخ کښې به اچولے شی وَتَرٰی کُلَّ اُمَّةٍ جَاثِیَةً قف
او وینې به ته اے کتونکیه په دغه ورځ هره ډله ناسته په زنګنونو له ډیره هیبته او یا جمع کړے
شوے ده د پاره د حساب کُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰٓی اِلٰی کِتٰبِهَا ط هره ډله به بللے کیږی کتاب د عملونو خپلو ته
او ویلے به شی ورته چه اَلْیَوْمَ تُجْزَوْنَ نن ورځ به جزاء درکړے شی مَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ د هغه
څیز چه کولو تاسو په دنیا کښې هٰذَا کِتٰبُنَا دا کتاب حمونږه دے یعنی حمونږه په امر او حکم دا
کتاب لیکلے دے کرام الکاتبینو یَنْطِقُ عَلَیْکُمْ چه اوس خبرے کوی دے په تاسې یعنی په عملونو ستاسې
بِالْحَقِّ ط په رښتیا سره بے د زیاتوالی او له کم والی نه اِنَّا کُنَّا نَسْتَنْسِخُ بیشکه مونږه وو چه لیکل
به مو یعنی ملائکو ته به مو ویل چه لیکئ مَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ هغه چه وئ تاسې چه کول
به مو په دنیا کښې له نیکئ او له بدئ نه فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا پس هر کله چه هغه کسان دی چه
یقین ئې کړے وی په خدائ او په رسول د خدائ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او کړی ئې وی نیک کارونه
په دنیا کښې فَیُدْخِلُهُمْ پس ننه به باسی دوئ لره رَبُّهُمْ خدائ د دوئ فِیْ رَحْمَتِهٖ ط په رحمت خپل کښې
چه جنت دے ذٰلِکَ دا ننوتل په جنت کښې هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِیْنُ ﴿۳۰﴾ هم دا برے او غلبه ده ظاهره په
نفس او شیطان وَاَمَّا الَّذِیْنَ کَفَرُوْا قف او هر چه هغه کسان دی چه کافر وو په دنیا کښې نو دا سې به

ورته وویلے شی اَفَلَمۡ تَكُنۡ اٰيٰتِيۡ ایا پس نه وو ایاتونه ځما تُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ چه لوستے کیدل به په تاسے
په دنیا کښ په ژبه د رسولانو ځما فَاسۡتَكۡبَرۡتُمۡ پس تکبر به موکولو له قبلولو دهغه او ایمان مو نړے
نهٔ راوړو وَكُنۡتُمۡ او وئ تاسے قَوۡمًا مُّجۡرِمِيۡنَ ﴿۳۱﴾ یو توے کافران وَاِذَا قِيۡلَ او هر کله چه وبه ویلے
شو درته اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه وعده دخدائ د ژوندېس له مرګه رښتیا ده وَّالسَّاعَةُ او قیامت
چه دے لَا رَيۡبَ فِيۡهَا نشته هیڅ شک په راتلو کښ ئے قُلۡتُمۡ نو ویل به مو ورته په جواب کښ
چه مَّا نَدۡرِيۡ مَا السَّاعَةُ ۙ نهٔ پوهیږو مونږه چه څهٔ څیز دے قیامت اِنۡ نَّظُنُّ نهٔ یو مونږه
چه ګمان کوو په راتلو د قیامت اِلَّا ظَنًّا مګر په یو ضعیف ګمان سره وَّمَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِيۡنَ ﴿۳۲﴾ او
نهٔ یو مونږه یقین کونکی په راتلو د قیامت وَبَدَا لَهُمۡ او ظاهر به شی دوئ ته په قیامت کښ
سَيِّاٰتُ مَا بدی اونا کاری دهغه عمل عَمِلُوۡا چه کړے ئے وو په دنیا کښ وَحَاقَ بِهِمۡ او نازل او چاپیره
به شی په دوئ باندے مَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۳۳﴾ هغه چه وو دوئ په هغه پورے به ئے
توقے کولے چه هغه عذابونه د قیامت دی وَقِيۡلَ او وبه ویلے شی ورته له جانبه دخدائ چه
الۡيَوۡمَ نَنۡسٰٮكُمۡ نن ورځ مونږه پریږدو دی یئ تاسے په دوزخ کښ كَمَا نَسِيۡتُمۡ لکه چه پریږدو دی
او هیر کړی وو تاسے په دنیا کښ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هٰذَا یوځاے کیدل له ورځے خپلے سره چه داورځ
د قیامت ده یعنی قیامت مو بالکل هیر کړے وو او بنهٔ عملونه مونهٔ کول وَمَاۡوٰٮكُمُ النَّارُ او
ځائ د رجوع ستاسے اوس اور د دوزخ دے وَمَا لَكُمۡ مِّنۡ نّٰصِرِيۡنَ ﴿۳۴﴾ او نشته تاسے لره هیڅوک
مددګاران چه له عذابه مو خلاص کا ذٰلِكُمۡ دغه عذاب ستاسے بِاَنَّكُمُ اتَّخَذۡتُمۡ په سبب د
دے دی چه بیشکه تاسے نیولی وو اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ایتونه دخدائ یعنی قرآن په توقو او مسخرو
سره وَّغَرَّتۡكُمُ الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا ۚ او غلولی وئ تاسے هغه ژوندون نزدے او لږ تر هغه پورے چه
ویل به مو نشته بیا ژوندون او حساب فَالۡيَوۡمَ لَا يُخۡرَجُوۡنَ مِنۡهَا پس نن ورځ به نهٔ شی ویستے
دوئ له دغه اوره د دوزخ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُوۡنَ ﴿۳۵﴾ او نهٔ به وی دوئ چه طلب د راضی کولو دخدائ
ترے وکړے شی په توبه یا په عبادت سره ځکه چه هر کله په دنیا کښ ئے نه وو کړی نو په
دغه ورځ کښ که ئے وکړی هم هیڅ نفع نهٔ رسوی او په کار نهٔ دی فَلِلّٰهِ الۡحَمۡدُ پس خاص خدائ

لره ده ثنا ټوله رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ چه ترتیب کوونکے د اسمانونو او د زمکو دے رَبِّ
الْعٰلَمِیْنَ ﴿۳۶﴾ تربیت کوونکے د ټولو عالمونو دے وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ او خاص هم دهٔ لره ده لوئی فِي السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ص په اسمانونو او په زمکو کښ وَهُوَ الْعَزِيْزُ او هم دے غالب دے په بادشاهئ کښ
الْحَكِيْمُ ﴿۳۷﴾ ع هر کار ئے په حکمت دے او محکم کار ئے دے.

سُوْرَةُ الاحقاف ۴۶ مکیة ۶۶ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ۳۵ رکوعاتها ۴

حٰمٓ ﴿۱﴾ ج خدائ عالم دے په معنیٰ د دے حرفونو او مونږه ایمان راوړیدے په هغه چه مراد
دے د خدائ له دوئ نه تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لیږل د کتاب یعنی د قران مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ له خدائ
دی چه غالب دے په هرڅه الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ هر کار ئے له حکمته خالی نهٔ دے مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضَ نهٔ دی پیدا کړی مونږه د اسمانونه او زمکه وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ او هغه څیزونه چه په
مینځ د دے دواړو کښ دی مګر په رښتیا سره وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ط او په یوه نیټه معینه او مقرره
سره یعنی مونږه مقرره کړے ده چه دومره موده پس به فنا کیږی. وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هغه کسان
چه کافران شوی دی عَمَّآ اُنْذِرُوْا له هغه څیزه چه دوئ پرے ویرولے شی چه قرآن دے
مُعْرِضُوْنَ ﴿۳﴾ مخ ګرځونکی دی نهٔ ګوری ورته قُلْ ووایه ورته اے پیغمبره! اَرَءَيْتُمْ مَّا
ایا خبر کړئ ما په حال د هغه بتانو تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ چه تاسو ورلره عبادت کوئ بغیر له
خدائ یعنی یواځے خدائ لره عبادت نهٔ کوئ او هغو لره ئے هم کوئ نو اَرُوْنِيْ مَاذَا وښایئ ما ته
کوم د هغه څیز خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ چه پیدا کړے دے دوئ له زمکے اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ ایا که شته
دوئ لره شریکوالے له خدائ سره فائده د ا اَمْ په معنیٰ د همزے انکاری دے یعنی نشته له
خدائ سره شریک فِي السَّمٰوٰتِ ط په پیدا کولو د اسمانونو کښ اِیْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ راوړئ ما لره کوم یو
کتاب چه نازل کړے شوے وی مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ پخوا له دے قران چه په هغه کتاب کښ حکم
کړے شوے وی په شریک نیولو خدائ سره اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ یا یو باقی پاتے شوے له علم د
پخوانو رسولانو چه هغه شاهد شی په دے دعویٰ ستاسے اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴﴾ که یئ تاسے

ربتینی په دے کښ چه په عبادت کولو د دے بتانو به مونږه نزدے شو خدائی ته وَمَنْ اَضَلُّ او
څوک دے ډیر گمراه یعنی نشته هیڅوک گمراه مِمَّنْ يَّدْعُوْا له هغه چا چه عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
بغیرله خدائی چه لائق دے دعبادت مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ دهغه چا چه نهٔ کولے قبلول هغه معبود.
لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ د دے عبادت کونکی لره تر ورځے د قیامت کهٔ ترے نه څهٔ وغواړی وَهُمْ عَنْ
دُعَآئِهِمْ او دغه بتان ئے له عبادته د دوئی نه غٰفِلُوْنَ ۵ ناخبره دی. پس هر کله چه هغوئی
پخپله حیران دی او له عبادته ئے غافل دی نو به څرنګ نفع ورته ورسوی وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ
او هر کله چه بیا جمع کړے شی دا ټول سړی دپاره د حساب كَانُوْا نو وی به دا بتان ئے لَهُمْ اَعْدَآءً
دے عبادت کونکو خپلو لره دښمنان وَّكَانُوْا او وی به دا بتان بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ۶ په عبادت
دعبادت کونکو خپلو منکران وائی به چه مونږه لره مو بالکل هیچرے عبادت نهٔ دے کړے هسے
دروغ وایئ او چا دا سے ترجمه کړے ده چه وی به دا عبادت کونکی دبتانو په عبادت دبتانو
خپلو منکران یعنی وائی به چه واللّٰه ربنا ما کنا مشرکین معنیٰ دا سے ده چه قسم په خدائی چه
څمونږه رب دے په دے چه نهٔ وو مونږه په دنیا کښ شریک نیونکی له خدائی سره بلکه مومنان
موحدان وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ او هر کله چه لوستے شی په دے اهل د مکے باندے اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ ایتونه
دقرآن څمونږه په دے حال کښ چه واضح دی یعنی معنیٰ ئے قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا نو وائی هغه
کسان چه کافر شوی دی لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ لا قرآن ته هر کله چه راغلو ورلره دا سے چه هٰذَا سِحْرٌ
مُّبِيْنٌ ۷ ط دا قرآن سحر دے ظاهر اَمْ يَقُوْلُوْنَ بلکه وائی دوئی یعنی په دے بس والے نهٔ کوی چه د دے
قرآن ته سحر وائی افْتَرٰىهُ ط چه له خپله ځانه جوړ کړید ے محمد ﷺ دا قرآن. او له خدائی نهٔ دے
راغلے قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ ووایه ورته پیغمبره کهٔ چرے له ځانه م جوړ کړے وے او له خدائی نهٔ
وی فَلَا تَمْلِكُوْنَ لِیْ پس نهٔ به شی تاسے مالکان یعنی خلاصونکی ما لره مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ط له
عذاب د خدائی هیڅ قدر یعنی کهٔ زهٔ دروغ ووایم په خدائی نو دفع به نهٔ کړئ تاسے له مانه عذاب
د خدائی هیڅ قدر نو بس څهٔ لره به جوړ ومه په خدائی دروغ هُوَ اَعْلَمُ دغه خدائی ښهٔ عالم دے
بِمَا تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ط په هغه ویلو چه تاسے کیوځئ په هغهٔ کښ یعنی هره یوه خبره چه کوئ په حق

دقرآن کښې چه سحر او مفترٰی ورته وائی پس خدائی پرے ښهٔ خبردار دے كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًاۢ بس دے دغه خدائی شاهد بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ په مینځ ځما او ستاسے کښې په دے چه دقرآن له طرفه د خدائی دے او ماجوړ کړے نهٔ دے وَهُوَ الْغَفُوْرُ او هم دغه خدائی بخښونکے دے ګناهونو د توبے ایستونکیو الرَّحِيْمُ ﴿۸﴾ مهربانه دے چه تلوار او جلتی نهٔ کوی په عذاب ولو د کافرانو او د عاصیانو کښې قُلْ ووایه ورته اے رسوله! چه مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ نهٔ یم زهٔ اول له لیږلو شویو د خدائی بلکه اول له مانه هم ډیر رسولان تیر شوی دی پس له پیغمبرئی ځما نه ولے انکار کوئی او په ما پورے دروغ وایئ وَمَآ اَدْرِيْ او نهٔ پوهیږم زه چه مَا يُفْعَلُ بِيْ څه به کولے شی له ما سره په دنیا کښې یعنی چه له خپله وطنه به شړلے شم یا که به وژلے شم لکه چه شړلے شوی او وژلے شوی وو بعضو انبیاء پیغمبران وَلَا بِكُمْ ؕ او نهٔ پوهیږم چه څهٔ به کولے شی له تاسے سره په دنیا کښې یعنی چه به سنګسار یږی لکه داصحاب فیلو په شان یا کهٔ به ډوبیږئی لکه د قارونیانو او فرعونیانو په شان اِنْ اَتَّبِعُ نهٔ کوم زهٔ متابعت او پیروی اِلَّا مَا مګر د هغه څیز چه يُوْحٰٓى اِلَيَّ وحی کولے شی ما ته له رب العلمینَ او نهٔ جوړوم له خپله ځانه هیڅ څیز وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۹﴾ او نهٔ یم زهٔ مګر ظاهر ویرونکے له عذابه قُلْ اَرَءَيْتُمْ ووایه ورته چه! یا خبر کړئی تاسے ما په دے اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ که وی دا قرآن له نزده دخدائی وَكَفَرْتُمْ بِهٖ او حال دا چه کافر شوی یئی تاسے پرے باندے وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ او شاهدی ویلی وی یو شاهد له عالمانو دبنی اسراءیلو چه هغه عبدالله بن سلام دے عَلٰى مِثْلِهٖ په دے قرآن چه دا له خدایه راغلے دے او بعضو له مفسرانو ویلی دی چه مراد له دغه شاهده موسیٰ کلیم الله دے نو معنی دا سے شوه چه کهٔ هغه شاهدی ویلی وی په مثل ددے قرآن چه تورات دے یعنی لکه چه دا قرآن بیا کوی چه خدائی واحد لاشریک دے او ژوندون پس له مرګه او جمع کیدل دخلقو دپاره د حساب حق دی او داسے نور احکام شو نو هم دارنګه به هغه شاهد دبنی اسراءیلو له تورات دغه احکام بیا نول فَاٰمَنَ پس ایمان راوړے وی هغه شاهد پرے وَاسْتَكْبَرْتُمْ ؕ او تکبر کړے وی تاسے له ایمان پرے تنبیه دلته کښې جزاد شرط چه اِنْ كَانَ دے مقدر دی چه السْتُمْ ظٰلِمِیْن ده حاصل

ئے د اشه چه هر کله دهغه بل امت شاهد پرے شاهدی ویلی وی او ایمان ئے هم پرے راوړے وی
بیا تاسو ترے تکبر وکړئ نو آیا نهٔ به یئ تاسو ظالمان بلکه یئ به او دلالت په دے جزا کښ دا چه
اِنَّ اللّٰهَ لَا یَهْدِی بیشکه چه خدائ لاره نهٔ بنائی یعنی توفیق دموندلو نهٔ ورکوی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۰﴾ ع
هغه ټولی دظالمانو لره روایت دے چه هر کله عبد الله بن سلام او اصحابو دده ایمان راوړلؤ
نو یهودیانو وویل وَقَالَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا او وویل هغه کسانو چه کافر شوی وو لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا په
حق دمؤمنانو کښ داسے چه لَوْ کَانَ خَیْرًا که چرے وے دا ایمان راوړل په قرآن او په محمد صلے
الله علیه وسلم باندے یو بنهٔ بهتر کار مَّا سَبَقُوْنَآ نو نهٔ به وو وړاندی شوی دا مؤمنان له مؤمنانو
له مونږه اِلَیْهِ ط دغه بهتر کار ته بلکه بنهٔ کار نهٔ دے حُکه ئے مونږه نهٔ راوړو وَاِذْ لَمْ یَهْتَدُوْا بِهٖ
او په دغه وخت چه لاره بیا نه موندہ یهودیانو په دے قرآن سره فَسَیَقُوْلُوْنَ پس زر دے چه
وائی به هٰذَآ اِفْکٌ قَدِیْمٌ ﴿۱۱﴾ دا قرآن دروغ دی پخوانی یعنی پخوا عالمانو دروغ سازکړی دی
وَمِنْ قَبْلِهٖ او حال دا دے چه پخوا له دے قرآنه کِتٰبُ مُوْسٰٓی تورات دموسیٰ کلیم الله ؑ اِمَامًا
وَّرَحْمَةً ط په دے حال چه پیشوا او ومؤمنانو لره او سبب درحمت وو په دوئ وَهٰذَا کِتٰبٌ
مُّصَدِّقٌ او دا قرآن یو کتاب رښتینے کونکے دے هغه خبرو او صفتونو لره چه په تورات او نورو
پخوانیو کتابونو کښ وو لِّسَانًا عَرَبِیًّا په دے حال کښ چه په ژبه عربی دے لِّیُنْذِرَ الَّذِیْنَ د پاره د دے
چه وویروی دا قرآن هغه کسان ظَلَمُوْا ق چه ظلم ئے کړے دے په ځانونو او کافر شوی دی وَبُشْرٰی
لِلْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۲﴾ ج او زیرے دخوشحالئ دے نیکو کارانو لره چه مؤمنان دی اِنَّ الَّذِیْنَ بیشکه هغه
کسان چه قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ وائی رب ځمونږه خدائ دے نهٔ بتان ثُمَّ اسْتَقَامُوْا بیا ودریږی محکم
په عبادت دده فَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ پس نهٔ به وی ویره په دوئ په دنیا کښ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ﴿۱۳﴾ ج
او نهٔ به وی دوئ چه خفه به شی په آخرت کښ اُولٰٓئِکَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ دغه کسان یاران او
اوسیدونکی دجنت دی خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ج په دے حال چه همیشه به وی پکښ جَزَآءً م ورکولے
به شی جزا یعنی مزدوری بِمَا کَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ په سبب دهغه عملونو چه وو دوئ چه کول
به ئے په دنیا کښ له نیکئ وَوَصَّیْنَا الْاِنْسَانَ او امر کړے دے مونږه هر سړی ته بِوَالِدَیْهِ اِحْسٰنًا

له مور و پلار سره د نیکئ کولو حُکه چه حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا پورته کړے وو دے مور خپلے په نس کښ
په سختئ وَّ وَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ او بیا ئے ایخودلے یعنی زیګولے وو په سختئ وَحَمْلُهٗ او د اپورته کول د
دهٔ په نس د مور کښ وَفِصٰلُهٗ او جدا کول ئے له تی د مور نه ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ دیرش میاشتے دی حُکه
چه اقل موده د حمل شپږ میاشتے ده او موده د تی رودلو دوه کلونه برابر دی نو خو د دیرش میاشتے شتو
شوے او په یو روایت کښ له ابن عباس رض د اسے نقل دی چه کهٔ وضع د حمل ئے پس له نهو میا
وکړه نو موده د تی رودلو ئے دوه کلونه دی برابر. بیا نو دے پاتے شو ژوند ے حَتّٰۤى تر هغه پورے
اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ په هغه وخت چه ورسید لو دے قوت او هوښیاری خپلے ته وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۙ
او ورسید لو مودے د څلویښتو کلو نو ته قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْۤ نو وے ویل چه اے ربه زما الهام وکړے
ما ته په زړهٔ کښ او توفیق را کړے اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ د دے چه زهٔ شکر ادا کړم د نعمت ستا الَّتِيْۤ
اَنْعَمْتَ عَلَيَّ هغه نعمت چه دِ کړے دے په ما چه مسلمان کړے دِ یم وَعَلٰى وَالِدَيَّ او کړے دِ دے په
مور او پلار زما چه هغوئ دِ هم مسلمانان کړی دی وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا او توفیق د دے هم را کړے
چه کومه زهٔ کار ښائسته تَرْضٰىهُ چه ته راضی کیږے په هغه کار سره له ما وَاَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ ۚ او
وګرځے صالح ولے یعنی ښهٔ والے په اولاد زما کښ یعنی اولاد زما صالحان کړے اِنِّيْ تُبْتُ په تحقیق سره
ما رجوع کړے ده اِلَيْكَ تا ته له هغه څیزه چه ستا رضا پرے نهٔ وی وَاِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ⑮ او زهٔ
له کردن ایخودونکو یم فرمان ستا ته روایت دے له ابن عباس رض نه چه دغه تیر ایت سره
له مابعده په حق د ابوبکر صدیق رض کښ نازل شوے دے حُکه چه دے شپږ میاشتے د مور
په نس کښ وو او دوه کاله ئے تے رودلو او اتلس کاله ئے په ملازمت د حضرت کښ تیر کړی
وو او ډیر احسان به ئے له مور او پلار د خپل سره کولو بیا هر کله چه حضرت محمد صلی الله علیه
وسلم د څلویښتو کالو شهٔ نو خدائ پیغمبر کړو خلقو ته او حضرت ابوبکر صدیق رض دا ته ویشتو کلو نو
وو نو دهٔ پرے ایمان راوړهٔ بیا په دویم کال د هجرت د حضرت محمد صلے الله علیه وسلم چه ابوبکر
صدیق څلویښتو کالو ته ورسیدهٔ نو دغه تیر شوے سوال ئے رب ته وکړو پس خدائ ئے قبول کړو او
مور پلار ئے هم په اسلام مشرف شو او بیا ئے حُوئ چه عبدالرحمٰن نوم ئے وو ایمان راوړهٔ بیا ئے نمسی

ځوی د عبد الرحمٰن چه ئے نوم ابوعتیق وو اسلام راوړۀ او لوربی بی عائشه رضچه حرم د رسول الله علیه وسلم وه اوچا ویلی دی چه دا ایت عام دے یعنی په حق د هرچا کښی دے چه دا سے کوی او بهتره هم داده چه عام وی والله اعلم او س الله تعالیٰ بنا ئسته حال اومالددا سے کسانو چه دغه شان نیکی کوی بیانوی لکه چه وائی اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ دغه کسان چه دا سے نیکی کوی هغه کسان دی چه نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ قبلوو مونږه له دوئ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا هغه ښۀ ښۀ کارونه چه ئے کړی دی وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَیِّاٰتِهِمْ او تیریدل کوو له ګناهونوئے که ترے صادر شوی وی فِیْٓ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ ط په دے حال کښی چه وی به په یارانو او وسیدونکیو د جنت کښی وَعْدَ الصِّدْقِ وعده کړے ده خدائ وعده رښتینې الَّذِیْ كَانُوْا یُوْعَدُوْنَ (۱۶) هغه وعده چه وو دوئ ورسره به کولے شوه په دنیا کښی په ژبه د رسول ص لکه چه وعد الله الذین اٰمنوا وعملوا الصّٰلحٰت جنٰت تجری من تحتها الانهٰر الاٰیة. همدا رنګه نورا یتونه شول. هرکله چه پروردګار اوصاف او اخر کار د مؤمن مؤحد پرهیزګار بیان کړۀ. نو اوس بیان او اظهار د هغه کفارو بد کردار و خراب روزګار جهګړاوو د مور او پلار کوی محض د پاره د عبرت اخستلو لکه چه وَالَّذِیْ قَالَ لِوَالِدَیْهِ او هغه کس چه ویلی ئے وو مور پلار خپل ته چه هغوا یمان اُفٍّ لَّكُمَآ بد حالی اونا کاره والے دِ وی تاسے دواړو لره اَتَعِدٰنِنِیْٓ ایا تاسے دواړه وعده کوئ له ما سره اَنْ اُخْرَجَ له دے چه بهر به کړے شم له قبره یعنی چه مړشم نو بیا به هم ژوندے کیږم وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِیْ ج او حال دا چه په تحقیق ډیرو اتیر شوی دی یعنی مړۀ شوی دی اهل د زمانو اوله هغوئ ترا وسه یوهم ژوندے شوے نۀ دے نوزۀ به څرنګه ژوندے شم وَهُمَا یَسْتَغِیْثٰنِ اللّٰهَ او هغه دواړو فریاد او زاری کوله خدائ ته د پاره د اسلام د دۀ او ویلے ورته چه وَیْلَكَ هلاک دے تا لره په قیامت کښی که له کفره و نه ګرځید لے بلکه اٰمِنْ صلے ایمان راوړه چه په امان شے اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ج صلے بیشکه چه وعده د خدائ د ژوندون پس له مرګه رښتیاده هیڅ شک پکښی نۀ شته فَیَقُوْلُ مَا هٰذَآ پس ویل به دۀ هغوته چه نۀ دی دا ویل ستاسے د ژوندون پس له مرګه اِلَّآ اَسَاطِیْرُ

عه یعنی وعده کړے ده خدائ تعالیٰ هغه کسانو سره چه یقین ئے کړے وی په خدائ او رسول او ښۀ ښۀ کارونه کوی د جنتونو چه بهیږی به لاندے ئے ویالے ترآخره ۱۲

الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٧﴾ مگر خوشے قصے د پخوانیو دی هیڅ اعتبار ورلره نشته او س الله تعالیٰ عاقبت ددا شان کسانو بیانوی لکه چه وائی اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَقَّ دا ټولے هغه کسان دی چه ثابته شوے او واجبه شویده عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ په هغه خبره د عذاب یا چه دوئی اهل دا وردی فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ؕ په ډلوکښ چه په تحقیق تیرشوی دی پخواله دوئی له پیریانو او سړیو اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿١٨﴾ داسے چه بیشکه دوئی وو په علم ازلی دخدائی کښ زیان کاران کافران وَلِكُلٍّ او شته دے هر چالره که مؤمن وی که کافر وی، مطیع وی که فاجر وی دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ درجے او مرتبے له هغه چه ئے کړے وی په دُنیا کښ او خدای مقرر کړے دے هر چالره درجے او مرتبے د پاره دعدل وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ او بل د پاره د دے چه برابره ورکړی دوئی لره مزدوری د عملونو ئے وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٩﴾ او دوئی چه دی ظلم به نه شی پرے کولے هیڅ وجے نه په کمولو دنیکئ مؤمنانو لره او نه په زیاتو دبدئ کافرانو لره وَيَوْمَ او یاده کړه اے رسوله دوئی ته هغه ورځ چه يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وړاندے به کړے شی هغه کسان چه کافرشوی دی. عَلَى النَّارِ ؕ په اور د دوزخ د پاره دا چولو پکښ او ویلے به شی ورته چه اَذْهَبْتُمْ وړی دی تاسو طَيِّبٰتِكُمْ هغه خیزونه لزتناك خپل فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا په هغه ژوندون خپل کښ چه نزدے وو تاسے یالږ. وو وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ج او نفع مو اخستلے وه په هغه لذتونو چه په دنیا کښ او هیڅ خیز مو د پاره د آخرت نه وو پریښے فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ پس نن ورځ جزا درکولے شی عَذَابَ الْهُوْنِ عذاب د سپک والی او خوار والی یعنی هغه عذاب چه پکښ ذلت او حقارت وی بِمَا كُنْتُمْ په سبب د هغه چه وئی تاسے په دنیا کښ تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ تکبر به موکولو په زمکه کښ په ناحقه سره وَبِمَا كُنْتُمْ او په سبب د هغه چه وی تاسے تَفْسُقُوْنَ ﴿٢٠﴾ ع ایستل به مو ځانونه خپل له طاعته او عبادته د خدائی یعنی طاعت د خدائی او د رسول ص به نهٔ کولو بلکه هوا د نفسونو پسے به تللئ وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ ؕ او یاده کړه اے محمد صلے الله علیه وسلم دے قوم خپل ته قصه د رور د عاد. یعنی چه یو د قبیلے د دوئی نه وه او نوم ئے هود وو او ځوئی د عبدالله بن رباح بن خلود بن عاد بن عوص بن ارم بن سام بن نوح ع اِذْ اَنْذَرَ قَوْمَهٗ هغه

وخت چه ویرولوې قوم خپل له عذابه بِالْاَحْقَافِ په هغه ځای او وطن کښې چه نوم ئې احقاف
وو قریب حضرموت ښار ته په ولایت د یمن کښې احقاف جمع د حقف ده او حقف د ریګی د
ټکو ته ویلې شی ځکه چه د دوی وطن ټول شګه وه په غاړه د دریاب کښې وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ او
په تحقیق چه تیر شوی وو نور ویرونکی یعنی پیغمبران مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وړاندې له هود۴ وَمِنْ خَلْفِهٖٓ
او وروستو یعنی له ده اَلَّا تَعْبُدُوْٓا په دې شان چه مه کوئ عبادت د بل هیچا لره اِلَّا اللّٰهَ ؕ مګر
یواځې یو خدائی لره چه لایق د عبادت دې اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه زهٔ ویریږم په تاسې که عبادت
د بل چا موو کړو عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۲۱﴾ د عذابه د ورځې لوئ چه هغه ورځ د نزول د عذاب ده
قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا وویل ورته هغه قوم ئې په جواب کښې چه آیا راغلې ئې ته موږ لره لِتَاْفِكَنَا
د پاره د دې چه ته وګرځوې موږه عَنْ اٰلِهَتِنَا ج له عبادته د بتانو دین خپل ته نو داکار خو نهٔ
کیږی فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ پس راوله ته موږ لره هغه عذاب چه ته ویروې موږه په هغه سره
اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۲﴾ که ئې ته له رښتینو په ویرولو ځموږه کښې له عذاب قَالَ اِنَّمَا
الْعِلْمُ وویل ورته هود۴ چه خبره دا ده بله نه ده علم د راتلو د عذاب تاسې لره یا علم د هر څیز چه
دې عِنْدَ اللّٰهِ ز ﷺ خدائی څخه دې هغه هم پرې خبر دې چه کله به د رلره عذاب راځی زهٔ پرې نهٔ یم
خبر وَاُبَلِّغُكُمْ او زهٔ فقط رسوم تاسې ته مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖ هغه احکام او خبرې چه لیږلې شوې
یم زهٔ پرې تاسې ته وَلٰكِنِّیْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۳﴾ او لیکن زهٔ وینم تاسې یو قوم چه ناپوهی کوئ
ظاهره ځکه چه په زوره ځان لره عذاب غواړئ پس چه منع نهٔ شول نو راغې ورلره هغه عذاب
چه دوئ به پرې ویرولې شو فَلَمَّا رَاَوْهُ پس هر کله چه ولید دوی هغه عذاب عَارِضًا په دې
حال کښې چه وه هغه وریځ خوریدونکې په اطرافو د آسمان کښې مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ لا مخ کونکې او
راتلونکې کندواو ملګو نو د دوئ ته نو خوشحاله شو پرې ځکه چه باران نه بند شوې وو ۔
قَالُوْا هٰذَا وُوې دوئ پخپلو کښې چه دغه راتلونکې موږه لره عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا یوه وریځ
ده باران ورونکې په موږه وویل ورته اللّٰه تعالیٰ یا هود۴ چه دغه وریځ باران ورونکې نهٔ
ده بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ؕ بلکه دا هغه عذاب دې چه تلوار به موکوله په غوښتو کښې ئې

رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۲۴﴾ دا یو باد دے چه په دهٔ کښی عذاب دردناک دے تاسے لره تُدَمِّرُ كُلَّ
شَيْءٍ هسے باد چه هلاکوی هرخیزچه پرے تیریشی بِأَمْرِ رَبِّهَا په اذن درب خپل بیا هرکله چه هغه
باد وړ لره راغے نو هلاک ئے کړل ټول فَأَصْبَحُوا لَا يُرَىٰ پس وګرځیدل دوئ په دغه عذاب په دا سے
شان چه نهٔ شولیدلے إِلَّا مَسَاكِنُهُمْ مګر فقط کورونه ئے كَذَٰلِكَ هم په مثل ددغه جزا بدے بیخ
ویستونکے ددوئ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ ﴿۲۵﴾ جزا ورکوو مونږه هغه ټولی دروغ ویونکو او کافرانو
لره وَلَقَدْ مَكَّنَّاهُمْ او هر اینه په تحقیق تصرف او قوت ورکړے وو مونږه دوئ لره یا ډیر کړی
وو مونږه دوئ فِيمَا إِنْ مَكَّنَّاكُمْ فِيهِ په هغه څیزکښں چه نه دے درکړے تصرف او قوت مونږه
تاسے لره اے اهل د مکے په هغه کښی یعنی ډیر ډیر مالونه او قوی قوی صورتونه او لوئ لوی عمرونه م
ورکړی وو هغوئ لره وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا او ګرځولی وو مونږه دوئ لره غوږونه د پاره د اوریدلو د حق
وَأَبْصَارًا او سترګے د پاره د لیدلو د معجزو وَأَفْئِدَةً زصلے او زړونه د پاره د پوهیدلو په خیر او شر فَمَا
أَغْنَىٰ عَنْهُمْ پس نهٔ کړهٔ دفع او لرے له دوئ نه سَمْعُهُمْ وَلَا أَبْصَارُهُمْ وَلَا أَفْئِدَتُهُمْ مِنْ شَيْءٍ غوږونو
ئے او نه سترګو ئے او نه زړونو ئے هیڅ قدرے له عذابه ځکه چه یوئے هم په حق کښں مستعمل نهٔ کړهٔ
بلکه هر څهٔ به وړ ته چه نفس ویل هغه به ئے کول إِذْ كَانُوا يَجْحَدُونَ لا او هیڅ ئے دفع نهٔ
کړه له دے جهته چه وو دوئ انکار به ئے کو بِآيَاتِ اللَّهِ له ایتونو او دلیلونو د خدائ وَحَاقَ بِهِمْ
او نازل او چاپیره به شوبه دوئ باندے مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿۲۶﴾ هغه عذاب چه وو دوئ ع۳
پرے پورے به ئے مسخرے او ټوقے کولے وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا او هر اینه په تحقیق هلاک کړی
او نیست کړی دی مونږه مَا حَوْلَكُمْ مِنَ الْقُرَىٰ هغه چه دی چاپیره له تاسے نه له اهل د کلیو
لکه حجر چه ځائ د ثمودیانو وو او مؤتفکات چه کلی د لوط م د قوم وو او احقاف چه ځائ د
عادیانو وو هم دا سے نور شو وَصَرَّفْنَا الْآيَاتِ او مکرر مکرر ورته ښکاره کړی او بیان کړے وے
مونږه علامے د قدرت خپل لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۲۷﴾ د پاره ددے چه دوئ وګرځی له کفره خپله
لیکن چه و نهٔ ګرځیدل نو هلاک م کړل فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ پس ولے و نه کړهٔ مدد له دوئ سره
په دفع کولو د عذاب کښں الَّذِينَ اتَّخَذُوا هغه بتانو چه نیولی وو دوئ هغه مِنْ دُونِ اللَّهِ

بغير له خدائ قُرْبَانًا د پاره د نزدے والي په زعم د دوئ سره خدائ ته اٰلِهَةً ط معبودان
اوخدايان لکه وېل به ئے مَا نعبدهم الا ليقربونا الى الله زلفى بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ج بلکه ورک شول
دغه بتان له دوئ نه په وخت د راتلو د عذاب کښې وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ او دغه بتول ئے د بتانو د پاره د
نزدے والي خدائ ته دروغ د دوئ وو وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۸﴾ او هغه چه وو دوئ له خپله ځانه ئے
جوړول بے دليله روايت دے چه رسول د خدائ صلے الله عليه وسلم د پاره د وعظ او نصيحت
بني ثقيف له تللے وو بيا چه هغو پرے ايمان رانهٔ وړه او دے نرے نا اميده خفه را روان شهٔ چه
راتلل له طائف څخه نو په لاره کښې پرے صباح شهٔ پس مونځ د صباح ئے سره له اصحابو په بطن
نخله نوم ځائ کښې چه په مينځ د طائف او د مکے کښې دے کولو پس قراءت ئے اوهٔ يا نهو تنو پيريانو
واوريدهٔ هر کله چه نزدے ورله راغلهٔ سره په خپلو کښې ئے وويل چه چپ شي او غوږ ورته کيږدئ
داخهٔ والي چه بنهٔ ئے واوريده نو رسول خدا اله راغلل او ايمان ئے پرے راوړهٔ لکه چه والي وَاِذْ
صَرَفْنَآ اِلَيْكَ او ياد کا اے پيغمبره هغه وخت چه وګرځول مونږه ما يل تاته نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يوه
ډله د پيريانو نفر نوم د هغه جمع دے چه کم وى له لسو يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ج په دے حال چه
اوريدلو دوئ قرآن فَلَمَّا حَضَرُوْهُ پس هر کله چه نزدے راغلل رسول صلے الله عليه وسلم له
قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ج نو وے سره په خپلو کښې چه چپ شئ چه واورئ داخهٔ والي فَلَمَّا قُضِيَ پس هر کله
چه فراغت وکړے شهٔ له قراءته يعني مونځ ئے پوره کړو نو ايمان ئے پرے راوړه وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ نو
وګرځيدل دغه پيريان قوم خپل ته مُّنْذِرِيْنَ ﴿۲۹﴾ په دے حال کښې چه ويروونکي وو دوئ هغو له
له عذابه کهٔ ايمان نهٔ راوړي د دوئ په شان قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ و ويل دوئ هغوئ ته چه اے قومه
څمونږه اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا بيشکه چه مونږه واوريده يو کتاب اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى چه نازل کړے
شوے دے له خدائ پس له کتاب د موسىٰ او ياد ئے نهٔ کړهٔ عيسىٰ ځکه چه په انجيل کښې
نول اوصاف د الله تعالىٰ دي احکام يکښې په مثل د تورات ډير نشته او يا ځکه چه دوئ يهود

عه يعني نهٔ کوو مونږه عبادت د بتانو مګر د دے د پاره چه نزدے کړي دوئ مونږه خدائ ته ځکه چه دوئ مقربان د خدائ دى ۱۲ عمه مفعول اول د اتخذوا ضمير محذوف دے چه راجع دے الذين ته او مفعول ثاني ئے قربانا دے نو تقدير ئے داسے شهٔ اتخذوهم من دون الله قربانا او آلهه بدل دے له قربانا تحفه ۱۲

وو په دین د موسیٰ ؑ مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ په دے حال کښې چه رښتینے کوُنکے او موافق دے هغه
کتابونولره چه وړاندے ووله دهٔ لکه تورات او انجیل او زبور او نورے صحیفے شوے یَهْدِیْۤ اِلَی
الْحَقِّ لار ښائی حق ته چه دین داسلام دے وَاِلٰی طَرِیْقٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۳۰﴾ او لارے سمے ته چه تللے
اورسیدلے ده خدائی یٰقَوْمَنَاۤ اَجِیْبُوْا اے قومه ځمونږه قبول والے وکړئ دَاعِیَ اللّٰهِ د بلونکی د
خدائی خلقو لره ایمان ته چه نوم ئے محمد ؐ دے وَاٰمِنُوْا بِهٖ او یقین راوړئ پرے یَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ
ذُنُوْبِكُمْ چه وبخښی خدائی تاسے ته ځنے ګناهونه ستاسے ځکه چه ځنے ګناهونه لکه ظلم کول
شول هغه به خدائی نه بخښی مګر په رضا کیدلو د مظلومانو سره وَیُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴿۳۱﴾
او خلاص به کړی تاسے له عذاب دردناك چه عذاب د قیامت دے وَمَنْ لَّا یُجِبْ او هرڅوك چه
قبول ونه کړی دَاعِیَ اللّٰهِ د بلونکی د خدائی چه پیغمبر دے فَلَیْسَ بِمُعْجِزٍ فِی الْاَرْضِ پس نهٔ
به وی دے عاجز کونکے خدائی لره په زمکه کښې یعنی نهٔ به شی تختیدلے او پټیدلے هیڅ ته له خدائی
وَلَیْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِیَآءُ ؕ او نهٔ به وی ده لره بغیر له خدایه نور دوستان مددګاران چه ئے په
زور خلاص کاله عذابه د خدائی اُولٰٓئِكَ دغه کسان چه قبلول د حکم د رسول علیه السلام ئے
نهٔ دے کړے فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۳۲﴾ په ګمراهئ ظاهرے کښې دی اَوَلَمْ یَرَوْا ایا نهٔ ګوری دغه
منکران له قیامت او فکر نهٔ کوی په دے کښې چه اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ بیشکه خدای هغه ذات دے
خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ چه پیدا کړی ئے دی په قدرت خپل سره اسمانونه او زمکے بے کتلو
بل چاته وَلَمْ یَعْیَ بِخَلْقِهِنَّ او نهٔ دے ستومانه شوے په پیدا کولو دوئی سره پس ایا نه دے
دغه خدای بِقٰدِرٍ عَلٰۤی اَنْ قادر په دے کار چه یُّحْیِۦَ الْمَوْتٰی ؕ ژوندی کړی دے مړدګان له قبرونو
بَلٰۤی بلکه قادر دے په دے پیدا کولو دوئی له قبرونو ځکه چه اِنَّهٗ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۳۳﴾ بیشکه
هم دے په پیدا کولو د هرڅیز قادر دے پس دا پیدا کول د مړدګانو هم یو څیز دے نو په دے هم
قادر دے وَیَوْمَ یُعْرَضُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا او په هغه ورځ چه وړاندے به کړے شی کافران یعنی
عذابولے به شی دوئی عَلَی النَّارِ ؕ په اور د دوزخ نو ویلے به شی ورته په دغه ورځ کښې چه اَلَیْسَ
هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ ایا نهٔ وو دا عذابول ستاسے چه ئے وینئ په رښتیا قَالُوْا بَلٰی نو به وائی دوئی چه

په ربنتیا دو وَرَبِّنَاؕ او قسم دِ وی حٔمونږه په تربیت کونکی خدائی خپل باندے چه حق دے **تنبیه**
دا اقرار دد وئ په دلے قسم عاجزی سره محض دپاره دطبع دخلاصولوله عذابه نه به وی او کله به
خلاص شی په دے عاجزئ سره بلکه قَالَ وبه وائی ورته خدائی تعالیٰ یا مالک چه نوم دیو خازن
ددوزخ دے فَذُوْقُوا الْعَذَابَ پس وڅکئ اومزه واخلئ ددغه عذاب بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾ په
سبب دهغهٔ چه وئ تاسے په دنیا کښں کافران کیدلئ به پرے او منکریدلی به ترے نو هرکله چه
عاقبت دکاردکافرانو دغه دے چه درته بیان شهٔ نو فَاصْبِرْ پس ته هم صبر کوه اے محمد ﷺ په
ضرور تو نود قوم خپل كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ لکه چه صبر کړے وو خاوندانو دو درید لو
په حق له رسولانو دخدای وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْؕ او تلوار مهٔ کوه په عذاب غوستلو کښں دوئ لره
ځکه کهٔ ئے وغواړے نو فی الحال به نازل شی پرے بلکه پریږده چه څهٔ قدرے نفع واخلی په دنیا
کښں كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ گویا کهٔ دوئ هغه ورځ وویني مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ هغه څیز چه پرے ویرولے
شوے وو له عذابه نو گمان به کوی چه لَمْ يَلْبَثُوْٓا نهٔ ئے دے کړے درنگ او گذران په دنیا کښں
اِلَّا سَاعَةً مِّنْ نَّهَارٍؕ مگر لږ یو ساعت له یوے ورځے بَلٰغٌ ۚ په دغه ذکر کښں چه اوس تاسے ته
پرے وعظ وکړے شهٔ بس والے دے تاسے لره کهٔ پند پرے واخلئ یا رَسُوْل دپیغمبر دی له خدایه
فَهَلْ يُهْلَكُ پس آیا هلاک به کړے شی په عذاب سره یعنی نهٔ به کړے شی اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ ع
مگر هم هغه قوم چه وتونکی دی له عبادته او طاعته دخدائی اللهم لا تجعلنا بکرمک من
الفسقین واجعلنا بفضلک وقدرتک من الراجعین الیک والی سنة حبیبک سید
المرسلین انک انت ارحم الرحمین واخر دعوٰنا ان الحمد لله رب العلمین ط

سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ ۴۷ مدنیة ۹۵ ۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۔ اٰیاتها ۳۸ ۔ رکوعاتها ۴

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه کسان چه کافر شوی دی له اهلِ مکو وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ او اړولی ئے دی
نور خلق له لارے دخدائی چه لاره داسلام ده او یا گرځید لی دی له طریقے داسلام اَضَلَّ
اَعْمَالَهُمْ ﴿۱﴾ خراب کړی دی خدائی هغه کارونه ښهٔ ښهٔ ددوی لکه طعام ورکول فقیرانو او

مسافرانو لره یا پیوستون د صلی رحمیٔ شۀ هم دا رنگ نو را اعمال صالحه ئے یعنی چه ایمان ئے نۀ وی نو بنۀ کارونه به ئے هیڅ پکار نۀ شی نۀ په دنیا نۀ په آخرت وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او هغه کسان چه ان ئے راوړے وی په خدائی او رسول خیل او کړی ئے وی بنۀ نیک کارونه لکه عبدالله بن سلام شۀ یا انصار یا مؤمنان د اهل کتابو شو وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ او بیا ایمان ئے راوړے وی په هغه قرآن چه نازل شوے دے په محمد باندے وَّهُوَ الْحَقُّ او دغه نازل کړے شوے په محمد حق دے باطل نۀ مِنْ رَّبِّهِمْ په دے حال کښ چه راغلے دے له ربه ئے او له خانه ئے جوړ کړے نۀ دے هر کله چه دا سے ایمان ئے راوړے وی نو كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وُبه بخښی دوئ ته گناهونه ئے وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴿۲﴾ او بنۀ به کړی حال د دوئ ذٰلِكَ دغه خرابول د عملونو د کافرانو او بخښل د گناهونو د مؤمنانو بِاَنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوا په سبب د دے دی چه بیشکه کافرانو اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ پیروی ئے کړے وه د شیطان نو خود عملونه ئے غبث شو وَاَنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او بیشکه هغه کسانو چه یقین ئے کړے دے په خدائی او په رسول اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ متابعت او پیروی ئے کړے ده د قرآن چه نازل شوے له ربه ئے نو خود گناهونه ئے ورته عفوه کړل كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ همدا رنگه په مثل د بیانولو د دے مثال بیانوی خدائی تعالیٰ دپاره د عبرت لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ﴿۳﴾ سړیو ته مثالونه ئے هر کله چه الله تعالیٰ حق والے د مؤمن او باطل والے د کافر درته بیان کړه نو اوس حکم د کافر بیانوی یعنی چه داسے وژسره مناسب دی لکه چه وائی فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوا پس هر کله چه پیښ او مخامخ شوئ له هغو کسانو سره چه کافران دی په جنگ کښ فَضَرْبَ الرِّقَابِ پس وهئ گردنونه ئے په وهلو سره یعنی وژنئ ئے حَتّٰۤى اِذَاۤ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ تر هغه پورے چه بنۀ ام قتل کړۀ دوئ او پرے غالب شوئ نو بیا بندیان ئے کړی فَشُدُّوا الْوَثَاقَ پس سخت او محکم کړئ تړل د دوئ چه د دوئ خلاص نۀ شی فَاِمَّا مَنًّا پس بیا به احسان ورسره وکړئ په احسان کولو سره یعنی چه بے عوضه مفت به ئے آزاد کړئ بَعْدُ پس له بندی کولو او تړلو ئے وَاِمَّا فِدَآءً او یا به عوض واخلئ تړے بندیان د مسلمانانو او یا نور مال په عوض اخستلو

عه او دوژ لو تعبیر ئے په وهلو سره وکړه دپاره د دے چه غالب وژل په جنگ کښ په وهلو گردن سره وی ۱۲

سره حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا ۛۚ جنګ وو سره کوئ تر هغه چه کیږدی هغه کفار جنګیان وسلې
اسباب د جنګ خپل یعنی چه یا ټول مسلمانان شی او یا وعده د ننهٔ کولو د جنګ د رسره وکا ذٰلِكَ ۛؕ
کوئ له دوئ سره همدغه شان جنګونه او یا مناسب ورسره هم دغه دی وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ
او که اراده وے د خدائ هرآئینه بدل به ئے اخستے وو له دوئ نه بے جنګه ستاسے یعنی یا به ئے ډوب
کړے وو. یا په یو بل رنګ عذاب به ئے هلاك کړی وو وَلٰكِنْ او لیکن امر درته وکړو په جنګ له
دوئ سره لِّيَبْلُوَا۟ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ؕ د پاره د دے چه وازمائی ځنې لتاسے په ځنې د دوئ په
جنګ کښ چه ستاسے شهیدان جنت ته بوزی او د دوئ مقتولان دوزخ کښ واچوی وَالَّذِيْنَ
قُتِلُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ او هغه کسان چه مړهٔ شوی دی یا جنګ کوی په لاره د خدائ کښ فَلَنْ يُّضِلَّ
اَعْمَالَهُمْ ④ پس هرګز به خدائ خراب او ضائع نهٔ که ښهٔ ښهٔ کارونه د دوئ سَيَهْدِيْهِمْ
وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ⑤ زر دے چه ښه[عه] لاره به ورته وښائی خدائ تعالىٰ او ښه به کړی حال د دوئ
په دنیا[عه] کښ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ او بیا په اخرت کښ داخل به ئے کا جنت کښ عَرَّفَهَا لَهُمْ ⑥ چه
معلوم کړی به ئے وی ورته ځایونه[سه] د دوئ په جنت او چا ویلی چه د ا تیر عَرَّفَ له عرفه دے او
عرف خوشبوئی ته وائی یعنی داخل به ئے کا جنت کښ چه خوشبویه کړے به ئے وی ورته
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ اے مومنانو که تاسے مدد کوئ له دین او رسول د خدائ
يَنْصُرْكُمْ نو مدد به وکا تاسے سره خدائ په دښمن ستاسے وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ⑦ او محکم به کړی
خدائ پښے ستاسے په ځائ د جنګ کښ چه نهٔ به تښتئ له دښمن نه وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هغه
کسان چه کافران شوی دی فَتَعْسًا لَّهُمْ پس هلاك والے او شرمول دی دوئ لره له خدائ
وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ⑧ او خراب او عبث به کړی خدائ تعالىٰ کارونه ښهٔ ښهٔ د دوئ **فائده**
د وروستئ جمله معطوفه ده په تَعِسُوْا مقدره باندے نه په تعسالهم باندے فافهم. ذٰلِكَ
دغه هلاکول د دوئ او خرابول د عملونو ئے بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا په سبب د دے دی چه بیشکه دوئ بد

عه یعنی هم په تا او هم په اخرت کښ هغه لاره ته چه نفع به رسوی دوئ ۱۲ عه یعنی حال د هغه کسانو چه ژوندی
دی په دنیا ښهٔ به کړی په رضا کیدلو د دښمنانو ئے او دوئ ئے داخل کړه په قتلوا کښ تغلیبا ۱۲ سه یعنی ځی به ګوروئو
خپلو ته او دوئ لاره نهٔ خطا کوی ګویا که دوئ پخوا اوږ رسیدلی ۱۲

او نا کاره لیدل لہ مَآ اَنۡزَلَ اللّٰہُ ھغه قرآن چه نازل کړے دے خدائی په رسول فَاَحۡبَطَ اَعۡمَالَھُمۡ ﴿۹﴾
پس خراب او د ... کړه خدائی تعالیٰ هغه ښه ښه کارونه ددوئی لکه جوړول د مسجد حرام او طواف د
کعبے او میلمستیا د خلقو او داسے نور شول اَفَلَمۡ یَسِیۡرُوۡا فِی الۡاَرۡضِ ایا پس نه گرځی دغه کفار د عربو په
زمکه د خدائی کښی دا هم ... دا انکار دے یعنی و دِ گرځی د پاره د عبرت فَیَنۡظُرُوۡا کَیۡفَ کَانَ پس دوئی دِ
وګوری چه څرنګه وو عَاقِبَۃُ الَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِھِمۡ ط اخر د هغه کسانو چه وو پخواله دوئی لکه عادیان
او ثمودیان یا قوم د لوط ۴ هم دا رنګه نور شو دَمَّرَ اللّٰہُ عَلَیۡھِمۡ ز چه هلاک راوستے و و خدائی په
هغوئی چه نافرمانی د رسول علیه السلام ئے وکړه نو الله تعالیٰ مال او عیال ئے ټول په یو کرت
هلاک کړه وَ لِلۡکٰفِرِیۡنَ اَمۡثَالُھَا ﴿۱۰﴾ او دی جنس کافرانو لره چه د هغوئی په شان وی په مثل
د اخر کار د هغوی یعنی هر څوک چه کفر او عصیان کوی نو دغه شان به ئے هلاکوم ذٰلِکَ دغه مدد
کاری د مؤمنانو او هلاکول د کافرانو بِاَنَّ اللّٰہَ مَوۡلَی الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا په سبب د دے دی چه بیشکه خدائی
تعالیٰ دوست او مدد گار دے د مؤمنانو وَاَنَّ الۡکٰفِرِیۡنَ لَا مَوۡلٰی لَھُمۡ ﴿۱۱﴾ او بیشکه کافران
چه دی نشته دے دوست دوئی لره چه عذاب د خدائی ترے لرے کا اِنَّ اللّٰہَ یُدۡخِلُ الَّذِیۡنَ
اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ بیشکه چه خدائی ننباسی به هغه کسان چه یقین ئے کړے وی
په خدائی او په رسول او بیا کارونه ښۀ ښۀ ئے هم کړے وی په باغونو کښی تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِھَا
الۡاَنۡھٰرُ ط هسے باغونه چه بهیږی به د لاندے ئے ولے جاری وَالَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا او هغه کسان چه
کافر شوی دی په خدائی تعالیٰ او په رسول صلی الله علیه وسلم یَتَمَتَّعُوۡنَ وَیَاۡکُلُوۡنَ نفع اخلی څۀ
قدرے او فقط خوراک کوی له طعامونو او شرابو د دنیا کَمَا تَاۡکُلُ الۡاَنۡعَامُ لکه چه خوراک کوی
چاریان یعنی دوئی هر وخت په هوا د نفس کښی سعی او کوشش کوی او آخرت نه ئے هیڅ فکر
نشته چه حساب به راسره کیږی په مثل د چارپایانو چه شپه او ورځ خوراک خوری او له څانه
خبر نه وی او فکر نۀ کوی چه کله به ذبح کیږو وَالنَّارُ مَثۡوًی لَّھُمۡ ﴿۱۲﴾ او اور د دوزخ ځائے د
ګذران دوئی لره دے په قیامت کښی روایت دے چه هر کله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له
ابوبکر صدیق رض په نیت د هجرت له مکے روان شو او هغه غار ته ورسید ل بونظر ئے وکړو مکے ته

او په طريقه دخفګان او افسوس ئې وويل چه اے ښار د مکے ته بهترا و محبوب د ټولو ښارونو ئې
خدائ تعالیٰ ته او همدا رنګه محبوب مرغوب ئې ما ته او بیشکه که دغه مشرکانو زۀ نه وے ویستلے له
تا نه نو په خپله رضا به زۀ درنه نۀ وم وتلے پس لوئ دښمن دخدائ تعالیٰ هغه څوک دے چه
ظلم کوی په بندګانو دخدائ تعالیٰ په حرم دخدائ کښ او یا وژنی ما سوئ له قاتله خپله نو الله
تعالیٰ دپاره دتسلئ ددغه وړاندے آیت نازل کړۀ لکه چه وائی وَ كَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ
قُوَّةً او ډیر اهل دکلیو چه هغوئ سخت او محکم وو له جهته د قوت مِنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ
له اهل دکلی ستا هغه کلے چه ته ئې تړے نه ایستلے ئې اَهْلَكْنٰهُمْ هلاک کړه مونږه هغوئ چه
به ئې نافرمانی درسول کوله فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿۱۳﴾ پس بیانۀ به و ومددګار هغوئ له چه له عذابه
څمونږه ئې خلاص کړے وے نو ته هم مۀ خفه کیږه ځکه چه دا اهل د مکے به هم دهغوئ په
شان هلاک کړم کۀ مؤمنان نۀ شول اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ آیا پس دی هغه څوک چه وی
په ښکاره حجت له ربه خپله لکه محمد ﷺ او نور مؤمنان كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ په مثل دهغه چا
چه ښائسته کړے شوے وی ورته خراب او ناکاره عمل ئې وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾ او پیروی ئې کړے
وی دخواهش دځانونو خپلو بے دلیل او قرآن او رسول علیه السلام ته ئې شا کړے وی نو پس دے
او مؤمن موحد عامل په قرآن سره برابر دے بلکه برابر نۀ دے مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ
صفت او بیان دهغه جنت چه وعده ئې کړے شوے ده مؤمنانو پرهیزګارانو سره یعنی ځان
ئې ساتلے وی له شرکه او له ګناهونو دا سے دی چه درته بیانیږی فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ وی به
په هغه جنت کښ ولے جاری له اوبو صافو غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ هسے اوبه چه نۀ به وی بد لید ونکے په
مزه یا په بوی کښ یعنی همیشه به خوږے او صافے وی نه لکه اوبه د دنیا وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ
او وی به پکښ څنے ولے جاری له شودو لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ چه نه به وی مغیره مزه دهغو بلکه
خوږه او صاف به وی وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ او څنے ولے به جاری له شرابو لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ هسے
شراب چه مزه ورکونکے به وی هغو څکونکیو لره وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۚ او څنے ولے جاری
له شهدو یعنی ګبینو چه صاف کړے شوے به وی له هرخیری وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

او وی به دغه متقیانو لره په هغه جنت کښې له هر قسم میوے وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ط او وی به
د ‌لره پکښې بخښنه او احسان له ربه ئے آیا پس هغه خوك چه وی په دا سے نعمتونو تیروشوی
کښې كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ په مثل دهغه چا دی چه همیشه وی معذب په اور د دوزخ کښې
یعنی نهٔ دی سره برابر وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا او څکولے به شی پرے او به ډیرے گرمے فَقَطَّعَ
اَمْعَآءَهُمْ ⑮ پس ټوټے ټوټے به کا دغه او بهٔ کلمے ددوئ له جهته د ډیر گرم والی روایت
دے چه هر کله پیغمبر علیه السلام به خطبه ویله او د منافقانو عیب ئے اظهار کولو نو دوئ به په طریقه د
ټوقو علماؤ څخه پوښتنه هر له مسجده چه دهٔ څهٔ وویل نو خدائ د حال دهغوئ نه خبر ورکوی دا سے چه وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعض له اهلِ مدینه یعنی منافقانو یا جنس کافر هغه خوك دی
يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ج چه غوږ ږدی تا ته په وخت د خطبه کښې حَتّٰى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ تر هغه
چه پاسی او لاړ شی له مجلسه ستا قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ نو وائی دوئ په طریقه د ټوقو او
ناپوهئ هغه کسانو ته چه ورکړے شوے دے ورلره علم او پوهه په قرآن لکه ابن عباس رضی الله عنهما او نور اصحاب
شو دا سے چه مَاذَا قَالَ اٰنِفًا ف څهٔ څیز وو هغه چه و یل محمد صلی الله علیه وسلم اوس دغه تیر ساعت کښې یعنی څهٔ
حکم وو څو ‌نږه ورته پښهٔ فکر نه وو فائده په دے ایت کښې اشارت او وعید دے هغه چا ته
چه په مجلس د علم او وعظ کید لو کښې حاضر شی او فکر نهٔ کوی ورته په سبب د خیالاتو پراگندو او
ارزو گانو باطلو بلکه دیو بل نه پوښتنه کوی چه دغه عالم یا دغه واعظ څهٔ وویل څو ورته فکر نه وو
پښهٔ پرے پوهه شو نو په قیامت کښې دا سے سړی لره لویه ویره ده له عذابه دا حاصل د تفسیر
فتح الرحمٰن دے اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دغه منافقان هغه کسان دی چه په سبب د نفاق ئے طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى
قُلُوْبِهِمْ مهر د غفلت او د کفر ایښے دے خدائ تعالیٰ په زړونو ئے نو په حق نهٔ پوهیږی وَاتَّبَعُوْا
اَهْوَآءَهُمْ ⑯ او پیروی ئے وکړه د ارزوگانو باطلو خپلو نو څکه ټوقے کوی دوئ په خبرو د پیغمبر
پورے وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا او هغه کسان چه ئے لاره سمه موندلے ده ایمان او هر خیر ته یعنی چه مؤمنان
دی زَادَهُمْ هُدًى زیات کړهٔ دوئ خدائ یا دغه وعظ له جهته د هدایت یعنی ورلره نور هم توفیق
د نیکئ ورکړه وَاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ⑰ او ورئے کړه دوئ لره پرهیزگاری ددوئ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ پس نهٔ

کوری دا اهل مکه په ایمان راوړلو کښې اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ مګر قیامت ته چه راښې ورلره ناګهانه او دوئ به خبرنۀ وی ترې فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ پس په تحقیق چه راغلی دی څخه علامې ئې لکه بعضې له هغونه لیږل او رسول کیدل ستا دی او بله دویمه نیمه کیدل د سپوږمۍ دی په اشارت ستا پاره د ښکاره کولو د معجزې دوئ ته او بله علامه ئې لیږل د لوګی وو په قریشو هم دا رنګ نورې علامې ئې فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾ پس بیا کله به نفع ورسوی دوئ ته هغه وخت چه راشی ورلره قیامت پند اخستل د دوئ یعنی چه قیامت راشی بیا کۀ پند اخلی او ایمان راوړی نو هم به نفع نۀ رسوی دوئ ته او نۀ به قبلیږی پس هر کله چه درته معلومه شوه چه بهتر کار توحید او عبادت د خدائ دے او خراب کار شرک او نافرمانی د خدائ ده نو فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ پس ثابت اوسه او همیشه والے وکړه په دې چه شان دا دے نشته لائق د عبادت کولو هیڅوک مګر هم یو خدائ دے وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ او بخښنه غواړه ګناه خپلې لره یعنې چه واقع نه شی درنه او یا خلاف اولی لره وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ۗ او بخښنه غواړه ګناه د مؤمنانو سړیو لره او مؤمنو ښځو لره يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ او خدائ پوهیږی په ځائ د ګرځیدلو ستاسې په ورځ کښې وَ مَثْوٰىكُمْ ﴿۱۹﴾ او په ځائ د آرام کولو ستاسې په شپه کښې نو هر څۀ چه کوئ خدائ پرې عالم دے جزا به درکوی په قیامت کښې پس لازم دی په تاسې چه مۀ غافله کیږئ له دۀ روایت دے چه هر کله مؤمنانو د غه ډیر وصفونه د شهیدانو واوریدل نو ډیره ارزو ئې وشوه د جنګ کولو له کفارو سره او هر وخت به ئې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویل چه خدائ درته وائ امر نۀ کوی په جنګ کولو له کفارو سره چه مونږ هم قتال وکړو او شهیدان شو لو د غه شان لوئ مرتبې بیا موږ نو د غه و راندې ئې آیت نازل شو لکه چه وائ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او وائ مؤمنان چه لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ ولې نۀ شی رالیږلے له خدائ یو سورت د قرآن چه پکښې تا ته امر په جهاد له کفارو سره وی فَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ پس هر کله چه نازل کړے شه یو سورت محکم چه منسوخ پکښې نۀ وی وَّذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ او یاد کړے شی په هغه کښې جنګ کول له کفارو سره رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ نو وینې به ته هغه کسان چه په زړونو کښې ئې رنځ یعنې شک دے يَنْظُرُوْنَ

اِلَیۡكَ چه کوری تا ته په خراب نظر سره نَظَرَ الۡمَغۡشِیِّ عَلَیۡهِ مِنَ الۡمَوۡتِ ط په مثل د نظر کولو دهغه
چا چه پټ کړے شوی وی په علاموِ د مرګ یعنی نیغ نیغ او بدبد درته ګوری چه وے مونږ ته امر
په قتال له کافرو سره کوی فَاَوۡلٰی لَهُمۡ ج ﴿۲۰﴾ پس هلاکت دے وی په دوئ او دوزخ دے ځائ د دوئ
لره طَاعَةٌ وَّ قَوۡلٌ مَّعۡرُوۡفٌ قف طاعت کول د دوئ خدائ لره او ویل نیک تا ته دا بهتر دی دوئ لره
او چا دا سے ویلی دی چه دغه اولٰی لهم مبتداء ده په معنٰی د مناسب ولائق او خبرئ دا ورستی
جمله چه طاعة وقول معروف ده نو معنٰی ئے دا سے شوه چه بهتر او ښهٔ او مناسب له دوئ سره
طاعت کول د خدائ تعالٰی او د رسول صلے الله علیه وسلم او ویل ښهٔ وو تا ته اے رسوله نهٔ چه
نافرمانی او خرابے خبرے کول تا ته فَاِذَا عَزَمَ الۡاَمۡرُ قف پس هر وخت چه فرض شی حکم په جنګ
کولو له کفارو سره فَلَوۡ صَدَقُوا اللّٰهَ پس که چرے رښتیا ویل کړے وے دوئ له خدائ سره په خبرو
خپلو کښ لکه چه ویلی ئے وی ایمان مو راوړیدے په خدائ او په رسول او جنګونه به لو وله کفارو
سره لَكَانَ خَیۡرًا لَّهُمۡ ج ﴿۲۱﴾ نو هرائینه وه به دا درست ګوئی غوره د دوئ لره له هغه کفره او مخالفتهٔ
فَهَلۡ عَسَیۡتُمۡ پس آیا نزدے یئ تاسے یا بنایئږی تاسے لره اے ضعیف ایمانوران اِنۡ تَوَلَّیۡتُمۡ که چرے
بادشان او متصرفان شئ تاسے د خلقو او یا وګرځیدئ له طاعت د خدائ او د رسول اَنۡ تُفۡسِدُوۡا
فِی الۡاَرۡضِ نزدے ئے دے ته چه وران کاری به کوئ په زمکه کښ په ظلم سره وَ تُقَطِّعُوۡۤا اَرۡحَامَكُمۡ ﴿۲۲﴾
او پریکوئ به خپلوئ خپلے یعنی که چرے بادشاهان شی یا پیروی د کلام الله او رسول الله صلے الله
علیه وسلم مو پریخوده نو دغه خراب کارونه او ظلمونه به شروع کړئ او دښمنان به شی د خدائ او
د رسول اُولٰٓئِكَ الَّذِیۡنَ دغه دی له د مفسدانو هغه کسان دی لَعَنَهُمُ اللّٰهُ چه لرے کړی دی خدائ
له رحمت په سبب د فساد په زمکه کښ او د قطع د خپلولی سره فَاَصَمَّهُمۡ پس کاڼه کړی ئے دی
دوئ له اوریدلو د حق وَاَعۡمٰۤی اَبۡصَارَهُمۡ ﴿۲۳﴾ او ړندے کړی دی خدائ سترګے د دوئ نو پس
نهٔ وینی لاره د خدائ اَفَلَا یَتَدَبَّرُوۡنَ الۡقُرۡاٰنَ آیا پس نهٔ کوی فکر قرآن ته چه پرے پوهه
شی او وپیژنی حق له باطله اَمۡ عَلٰی قُلُوۡبٍ اَقۡفَالُهَا ﴿۲۴﴾ بلکه په زړونو ئے قلفونه دی نو ځکه نهٔ
پوهیږی په حق روایت دے چه یهودیانو صفت د رسول الله صلے الله علیه واٰله وسلم

په تورات کښ لوستلي وُو او صحيح والے د پيغمبرئ ددهٔ يے معلوم کړے وو او بیا د بعث د پيغمبرئ يے
نعت ددهٔ وليلو او دليږ لو ددهٔ نه يے طلق خبر وُل نو هر کله چه دے وليږ لے شهٔ او ماينے تر را غے
نو دوی ترے وګرځيدل لکه چه خدائ تعالیٰ وائي إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا بيشکه هغه کسان چه بيرته
ګرځيدلی دی له ايمانه کفر ته يعنی هغه کفر ته چه پريخے وُو دوی. عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ په شاؤ خپلو يعني
چه بيا کافران شوی دی په محمد صلى الله عليه وسلم. مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى پس له هغه چه ظاهره
شوے ده ورته سمه لاره د اسلام. الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ شيطان اسان کړے او ښائسته کړے دے
دوی ته هغه نا کاره کار چه ګرزيدل دوی کفر ته. وَأَمْلَىٰ لَهُمْ (۲۵) او په اوږدلوئ اميد کښ يے
اچولی دی دوی. او په يو قراءت کښ وَأُمْلِي لَهُمْ په صيغه د متکلم سره دے. يعني خدائ وائي چه
څهٔ مهلت ورکوم دوی لره او نه ريے نهٔ په عذابوم لکه د بچوانيو عالمو پښان. ذَٰلِكَ دغه مهلت دوی
ته يعنی هغه يهوديانو ته چه کافر شو په پيغمبر عليه الصلوٰة والسلام بِأَنَّهُمْ قَالُوا په سبب د دے دی
چه بيشکه دوی به ويل. لِلَّذِينَ كَرِهُوا هغه کسانو ته چه مکروه او نا غوره يے ګنړل. مَا نَزَّلَ اللَّهُ هغه
څيز چه راليږلے دے خدائ يعنی يهوديانو منافقانو ته وويل په پټه کښ داسے چه سَنُطِيعُكُمْ فِي
بَعْضِ الْأَمْرِ ۖ زر دے چه اطاعت او فرمانبرداری به وکړو مونږه تاسے لره په څينے کار رستاسے کښ
چه هغه دښمنی ده له رسول اکرم صلى الله عليه وسلم سره او منع کول د خلقو دی له جهاد. وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ (۲۶)
او خدائ تعالیٰ پوهيږی به هغو پټو خبرو ددوی چه يے پټ کورونو او نفسونو خپلو کښ وی نو
جزا به ورکا. فَكَيْفَ پس څرنګه حال به وی ددوی يا څهٔ به کوی دوی. إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ په هغه
وخت کښ چه يے وژنی ملائک د خدائ. يَضْرِبُونَ په دے حال چه وهی به هغه ملائک وُجُوهَهُمْ
وَأَدْبَارَهُمْ (۲۷) مخونه او شاؤنه ددوی چه له حق نه به يے ګرزول. ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ دغه مرګ ددوی
په داسے سختئ سره په سبب د دے دے چه بيشکه دوی. اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ متابعت او پيروی
يے کړے وه د هغه څيز چه په غضب کولو يے خدائ تعالیٰ. چه کفر او نور ګناهونه وُو. وَكَرِهُوا
رِضْوَانَهُ او بدی يے شو رضا کيدل د خدائ يعنی نهٔ به يے کول هغه څيز چه خدائ به پرے راضی
او خوشاله کيدهٔ. چه هغه ايمان او اسلام وُو. فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ (۲۸) پس عبث او خراب کړهٔ

خدائ له دغه سببه هغه بنهٔ بنهٔ کاروته د دوئ اَمۡ حَسِبَ الَّذِیۡنَ آیا گمان کوی هغه منافقان
فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ چه په زړونو کښ ئې رنځ د شک دے اَنۡ لَّنۡ یُّخۡرِجَ اللّٰهُ دا چه ظاهربه نهٔ کا
خدائ رسول ؐ او مؤمنانو ته اَضۡغَانَهُمۡ ﴿۲۹﴾ هغه پټې کینې او د بنمنئ د دوئ له رسول ؐ او مؤمنانو
سره فائده کا د استفهام انکاری دے یعنی نهٔ دِ کوی دوئ دغه گمان بلکه ظاهر به ئې کړو تاته اے
رسوله ! وَلَوۡ نَشَآءُ لَاَرَیۡنٰکَهُمۡ او که چرے غوښتلے مونږه نو هر آئینه ښودلی به مو و وتاته دوئ یو
یو په علامو او دلیلو سره نو فَلَعَرَفۡتَهُمۡ بِسِیۡمٰهُمۡ ؕ پس هرآئینه پیژندل به دِ وی په علامو د دوئ
وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ او خامخا به وپیژنے دوئ فِیۡ لَحۡنِ الۡقَوۡلِ ؕ په کږخولو او اړولو د خبره کښې
تعریض او توریت ته یعنی چه حکمت او په اشارت به ئې کوی روایت دے له ابن عباس رضؓ
چه پټ نهٔ شو په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے هیڅوک له منافقانو بلکه ټول
به ئې پیژندل په علامو او په خبرو سره وَاللّٰهُ یَعۡلَمُ اَعۡمَالَکُمۡ ﴿۳۰﴾ او خدائ تعالیٰ پوهیږی
او عالم دے په عملونو ستاسے چه کوئ ئې له نیکئ او بدئ نو جزا به درکا وَلَنَبۡلُوَنَّکُمۡ او
هر آئینه خامخا ازمیو مونږه تاسے ټول په امر د جهاد او نورو تکالیفو سره حَتّٰی نَعۡلَمَ ترهغه چه
جدا کړو یا ظاهر کړو او یا عالمان شو مونږه په علم ظاهری سره لکه چه عالمان یو په علم باطنی سره
الۡمُجٰهِدِیۡنَ مِنۡکُمۡ هغه جهاد کونکی له تاسے وَالصّٰبِرِیۡنَ ۙ او هغه صبر کونکی په جهاد او په نورو
احکامو او تکالیفو د اسلام کښی وَنَبۡلُوَا۠ اَخۡبَارَکُمۡ ﴿۳۱﴾ او ازمیو حالونه او خبرونه یا عملونه ستاسے
د جهاد او د ایمان چه لهٔ اخلاصه دی یا کهٔ نفاق دے اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا بیشکه هغه کسان چه کافر
شوی دی په خدائ او په رسول ؐ یعنی یهودیان او یا هغه کسان چه طعام ئې ورکولو کفارو لره په
ورځ د بدر کښی وَصَدُّوۡا عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ او اړولی ئې دی خلق له لارے د خدائ چه لاره حقه
ده وَشَآقُّوا الرَّسُوۡلَ او مخالفت یا دښمنی ئې کړے ده له رسول ؐ سره مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُمُ الۡهُدٰی ۙ
پس له هغه چه واضحه او ظاهره شوه دوئ ته لاره سمه حق ته لَنۡ یَّضُرُّوا اللّٰهَ شَیۡـًٔا ؕ نو هرگز به
ونهٔ رسوی دوئ ضرر دین د خدائ ته هیڅ قدر بلکه ضرر رسوی ځانونو خپلو ته وَسَیُحۡبِطُ
اَعۡمَالَهُمۡ ﴿۳۲﴾ او زر دے چه عبث به کا خدائ تعالیٰ عملونه بنهٔ بنهٔ د دوئ چه کوی ئې یٰۤاَیُّهَا

اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِیْعُوا اللّٰہَ وَ اَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ اے مؤمنانو متابعت او پیروی کوئ دخدائ تعالیٰ او د رسول په شریعت کښ وَ لَا تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۳﴾ او مهٔ خرابوئ عملونه خپل په کفر اونفاق او ریا او حسد اوعُجب سره همدارنګه او نورخراب کارونه شول یعنی پیروی دخدائ اورسول ؐ کوئ او پیروی دهواد نفسونو خپلو پریږدئ ځکه چه تاوان دے تاسے لره ظاهر إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا بیشکه هغه کسان چه کافرشوی دی په خدائ او رسول ؐ او ایرولی ئے دی خلق عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لـه لارے دخدائ چه دوئ کافروو ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ بیا هغوئ هم کافرشو (او) مره هم شو فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴿۳۴﴾ هرګز به و نهٔ بخښی خدائ دوئ فَلَا تَهِنُوْا پس سستی مهٔ کوئ او مهٔ ضعیفان کیږی په جنګ کولوکښ له کفارو سره وَ تَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ۖ ۚ او مهٔ غواړئ تاسے کافران صلح ته بلکه جنګونه ورسره کوئ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۖ ۚ اوحال دا چه تاسے غالب یئ په کفارو وَاللّٰهُ مَعَكُمْ او خدائ تعالیٰ مل کرے دے تاسے لره نوفتح به درکه په دښمن وَلَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۵﴾ او هرګز به کم او ضائع نهٔ کاعملونه ستاسے بلکه په قیامت به پوره جزا درکا اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا بیشکه همدا ده بله نهٔ ده چه ژوندد دے دنیا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ ط عبث لوبے نابکاره او مشغولیدل ناپائداره اوبے اعتباره دی هیڅ بقاور لره نشته روایت دے په روح البیان کښ عه وفی الخبران الله تعالیٰ خلق ملکًا وهو یمدّ لا اله من اول الدنیا فاذا قال الا الله قامت القیمة وفیه اشارة الی ان الدنیا ومافیها من اولها الی اخرها لاوجود لها فی الحقیقة وانما هی امرعارضٌ زائل والله تعالیٰ هو الازلی الابدی وَاِنْ تُؤْمِنُوْا او که یقین وکړئ تاسے لے سریو په خدائ او په رسول ؐ او په قیامت وَتَتَّقُوْا او ځان خپل وساتئ له شرك او له ګناهونو يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ نو دربه کړی خدائ تعالیٰ تاسے لره مزدوری دعملونو ستاسے وَ لَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ﴿۳۶﴾ او نهٔ به غواړی له تاسے ټول مالونه ستاسے بلکه فقط هم زکوٰة مفروضه به درنه اخلی اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا که ځرے وغواړی

عه یعنی په تحقیق سره خدائ تعالیٰ پیدا کړے ده یوه ملائکه او هغه ساراکاږی په کلمه د لا الٰه باندے اوله له پیدا ئښته دنیا نه نوپس په هغه وخت کښ چه ووائی الا الله وبه دریږی درځ دقیامت او په دے کښ اشارت دے دے ته چه په تحقیق سره دنیا او هرڅهٔ چه په دے کښ دی له اوله ترآخره نشته وجود دوئ لره په حقیقت کښ او په تحقیق سره دنیا چه ده یو امرعارضی دے لرے کیدونکے او فانی او خدائ تعالیٰ دے هیشه پاتے کیدونکے نو رجوع کوئ دهٔ ته نه دنیا ته ۱۲

دے لہ تاسو دغہ ټول مالونہ هم فَيُحْفِكُمْ پس ښہٗ کو ښېنس وکالہ تاسو پہ غوښتلو کښې تَبْخَلُوا
نو بخل بہ وکړئ تاسو پرے باندے او وبہ ئے نہ کړئ وَيُخْرِجْ أَضْغَانَكُمْ ﴿۳۷﴾ او بیرون یعنی ظاهر بہ
کہ دغہ بخل کول ستاسو هغہ پټ کینے او دشمنئ پہ زړونو ستاسو کښی لہ هغہ غوښتو نکیو د مالونو سره
هَا أَنْتُمْ خبردار شئ او غوږ کیږدئ چہ تاسو چہ یئ هٰؤُلَاءِ اے دغہ کسانو تُدْعَوْنَ بللے کیږئ تاسو
لہ جانبہ د خدائی لِتُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللهِ دے تہ چہ ورکوئ مالونہ خپل پہ لاره د خدائی کښی
پہ هغہ طریقہ سره چہ فرض کړی ئے دی پہ تاسو لکہ زکوٰة یا نور حقوق د خدای تعالی شول
فَمِنْكُمْ مَنْ يَبْخَلُ وَمَنْ يَبْخَلْ پس ځنې لہ تاسو هغہ څوک دی چہ بخل کوی پہ ورکولو کښی یعنی نہ ئے ورکوی
پہ لاره د خدائی کښی فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَفْسِهِ پس بیشکہ داده بلہ نہ ده چہ بخل کوی د ځپہ ځان
خپل یعنی منع کوی خیر لہ خپلہ ځانہ چہ لہ ثواب او لہ اجره محرومیږی او خدای تہ هیڅ قدر ضرر نشی
رسولے ځکہ چہ وَاللهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ او خدائی تعالی غنی دے لہ تاسو او تاسو محتاجہ یئ
هغہ تہ یعنی خدائی تعالی امرنہ کوی پہ ورکولو د مالونو سره دپاره د حاجت خپل ځکہ چہ هغہ غنی
دے بلکہ امر کوی دپاره د حاجت او دفقیرئ ستاسو ثواب وَإِنْ تَتَوَلَّوْا او کہ ځرے وګرځیدئ تاسو
لہ ایمانہ او پرهیزګارئ نہ او لہ ورکولو د مالہ پہ لاره د خدائی کښی يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ د نو بدل
او عوض بہ راولی خدائی یو قوم نور لہ تاسو ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ ﴿۳۸﴾ بیا بہ نہ وی هغوئ ستاسو
پہ شان ګرځیدونکی لہ طاعت د خدائی او رسولہ بلکہ فرمان وړونکی او پرهیزګاران بہ وی۔
روایت دے چہ هر کلہ دغہ تیر آیت نازل شہ نو اصحابو رض لہ رسول صلے اللہ علیہ وسلم سوال وکړه
چہ هغہ قوم بدل او عوض راتلونکے ځمونږه پہ ځائی څوک بہ وی او د چا لہ قبیلے بہ وی کہ ځرے
مونږه وګرځید لو نو رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم ورتہ پہ جواب کښی اشارت وکړو سلمان
فارسی رض تہ چہ لہ قوم د دہٗ بہ وی بلکہ دائے هم وویل چہ کہ ځرے وے ایمان معلق پہ ثریا ستوری پورے
نو ورتہ بہ رسیږی ورتہ ځنې سری لہ اهل فارسه او ډیر خوشحال شہ رسول صلعم پہ دے آیت اللهم
لا تجعلنا برضاك المعرضين الغافلين المبخلين واجعلنا بكرمك من المسلمين المطيعين المنفقين
في سبيلك انك انت ارحم الرّحمين وصل على حبيبك سيد المرسلين واله واصحابه اجمعين۔

سورة الفتح ۴۸ مدنیة ۱۱۱　بسم الله الرحمن الرحیم　ایاتها ۲۹　رکوعها ۴

روایت دے چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یوه شپه په خوب کښې ولیدل چه زهٔ له
اصحابو خپلو سره په نیت د عمرے کولو په مکه کښې داخل شوے یم او هر کله چه له عمرے کولو فارغ شو
نو په آرام او خاطرجمعیٔ سره په حلق او قصر د سرونو خپلو مشغوله یو نو حضرت صلی الله علیه وسلم
په دے خوب لید لو ډیر خوشحاله شهٔ او د پاره د بشارت خپل ئے اصحاب خپل په دے خوب لیدلو خبر
کړهٔ او بیا په ورځے د دوشنبے او غرهٔ د ذوالقعدے په شپږم کال د هجرت دوئ له یو زر او څلورسوه
اصحابو مسلمانانو سره په نیت د عمرے کولو بیت الله ته روان شول نو هر کله چه دوئ حدیبیه نوم ځائ
ته ورسیدل نو کفارو د قریشو منع وکړه له ورتللو او داخلیدلو د دوی مکے ته بلکه په نیت د جنګ کولو
سره له اسبابه او سامانه خپل ټول راجمع شول او راغلل نو بیا ډیر قاصدان او ایلچیان سره ترمنځه
د مسلمانانو او د دوئ وګرځیدل پس اخره دا سوه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په امر د
خدائ تعالیٰ له دوئ سره صلح وکړه په دے شان چه کفارو ورته وویل چه اوس ته سره له اصحابو
ځائ خپل ته بیرته وګرځئ او لا پسې ئ او کعبے ته مه ورځئ او بیا وراندے کال کښې راشه له اصحابو سره
نو کعبه به مو درته خالی کړے وی بیا درے شپے او ورځے تاته اختیار دے که حج کوے او که عمره کوے
نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خبره سره له نورو قبو دو قبوله کړه او هم په دغه ځائ کښې ئے
اول قربانئ خپلے وکړے او غوښے ئے تقسیم کړلے په فقراؤ او مسکینانو او حلق ئے هم اوکړو پس الله تعالیٰ
ترے نه دغه افعال د حج او د عمرے د دوئ سره له قربانیو ټول قبول کړل او وعدے ئے ورسره
وکړه د نزدے فتح له دے چه فتح د خیبر ده هر کله چه دوئ ټول روان شول وطن خپل ته نو په لاره کښې
پورے الله تعالیٰ دا سورة په وخت د تللو کښې نازل کړهٔ هر کله چه جبریل علیه السلام فارغ شهٔ له
وحی رسولو نو رسول صلی الله علیه وسلم مبارک کړهٔ اصحابو خپلو ته او وے ویل ورته چه الحمد لله نن
ورځ نازل شهٔ په ما یو سورة چه هغه بهتر دے ماته له دنیا و مافیها نه چه دا دے اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ بے
شکه چه مونږ حکم کړے دے تاله د نیولو د مکے شریفے یا د خیبر یا د فدك نوم ځائ یا همدا رنګے

نور بنارئ شوے فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾ په ښیولو ظاهره سره لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ د پاره دد ے چه وبخښي تا ته
خدائ تعالیٰ په سبب د جهاد ستا سره ځکه چه جهاد په ورکیدلو د شرک کښې سبب د مغفرت دے نو
فتح سبب د مغفرت شه مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ هغه چه وړاندې وو له پیغمبرئ ستا
له گناهونو یعني خلاف اولیٰ ستا څخه او هم دارنګه هغه هم چه وروستی دی له پیغمبرئ ستا وَيُتِمَّ
نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ او د پاره دد ے چه پوره او تمام کاندی خدائ په دغه فتح سره نعمتونه د دین او د دنیا
خپل په تا باندے وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٢﴾ او د پاره دد ے چه وښائی درته خدائ لاره سمه
یعني ثابته او محکمه چه هغه لاره دین د اسلام دے او یا رسول د احکامو د خدائ دی خلقو ته وَ
يَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ﴿٣﴾ او چه مدد وکا در سره خدائ تعالیٰ په مدد ښهٔ او محکم او غالب سره
روایت دے چه هرکله په صلح د حدیبیه کښې اصحاب خالی له تردده او خفګا نه نهٔ وو نو
خدائ تعالیٰ فرمائی دا سے چه هُوَ الَّذِيْٓ دغه خدائ تعالیٰ احسان کوونکے له تا سره هغه ذات پاک
دے اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ چه نازله کړے ئے وه آرام او تسلی خپله فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ په زړونو د مؤمنانو
کښې په سبب د صلح سره ځکه چه بے قرار و و نفسونه خپل او لغزیدګی خپے ئے لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا د پاره
دد ے چه تیرے او نور زیاتی حاصل کاندی دوئ ایمان لره مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ط سره له ایمانه پخوانیه
خپله یعني چه یقین ئے په قدرت د خدائ تعالیٰ نور هم لا ښهٔ زیات شی وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ط او خدائ تعالیٰ لره دی لښکرے د اسمانونو او د زمکے یعني ملائک او مؤمنان ټول لښکرے
د خدائ تعالیٰ دی نو کله مسلط کوی بعضے له دوئ په بعضو باندے او کله واقع کوی په مینځ د
دوئ کښې صلح وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا او دے خدائ تعالیٰ همیشه له ازله ترابده عالم په هر څیز چه بعضے
له هغې نه صلح ده حَكِيْمًا ﴿٤﴾ او هر کار ئے په حکمت دے له حکمته خالی نهٔ دے او امر ئے وکړه تاسے
ته په جهاد کولو له کا فرانو سره لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
دد ے چه داخل کاندی مؤمنان سړی او مؤمنے ښځے هغه باغونو ته چه بهیږی به ئے د
لاندے څلور قسمه ویلے خٰلِدِيْنَ فِيْهَا په دے حال چه همیشه به وی دوئ په هغه باغونو
کښې وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ط او د پاره دد ے چه لرے کاندے له دوئ ګناهونه ئے وَكَانَ

ذٰلِكَ او دی دا د اخلول جنت ته او لرے کول د گناهونو عِنْدَ اللّٰهِ په نزد د خدائ تعالیٰ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿۵﴾ غلبه او برے لوئ په نفس او شیطان باندے وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ او د پاره د دے چه په عذاب کا منافقان سړی او منافقے ښځے او مشرکان سړی او مشرکے ښځے او په تقديم د منافقانو کښی په مشرکانو باندے اشارت دے دے ته چه منافقان به ډير او سخت عذابيږی له مشرکانو ځکه چه دوئ جمع د کفر او د دروغو کړے ده لکه چه صريحًا په بل ايت کښی په اخر د سورت کښی دی چه ان المنفقين فى الدرك الاسفل من النار ط الظَّانِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ط دا بے منافقان او مشرکان چه گمان کوی په خدائ تعالیٰ گمان بد او خراب او ناکاره يعنی دا گمان به ئے کولو چه هيچرے به بيرته را نهٔ شی رسول عليه السلام او مومنان له ځائ د جنګ کورونو خپلو ته بلکه هم په هغه ځائ کښی به ټول قتل شی له لاسه د کفار وعَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ج هم په دے گمان کونکيو دی گرځيدل د بدئ يعنی هم دوئ به په خپله قتل او ذليل او مغلوب شی نهٔ مؤمنان وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ او په قهر شوے دے خدائ په دوئ په سبب د نفاق ئے وَلَعَنَهُمْ او سر لی او بيرته کړی ئے دی له رحمت خپله وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ط او تيار کړے دے خدائ تعالیٰ دوئ لره دوزخ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۶﴾ او بد دے دغه دوزخ ځائ د را گرځيدلو او اوسيدلو وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط او هم خدائ لره دی لښکرے د اسمانونو او د زمکے او تکرار د دے د پاره د وعدے دے مؤمنانو لره چه په مدد د خدائ د باور کونکی وی او د وعيد دے مشرکانو منافقانو لره چه له کفره خپله د وويريږی وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا او دے خدائ تعالیٰ له ازله تر ابده لوئ عزت دار او غالب په هر چا حَكِيْمًا ﴿۷﴾ محکم کارے چه هر کار ئے په حکمت دے اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا بيشکه مونږ ليږلے ئے ته اے (محمد صلی الله عليه وسلم) خلقو ته چه شاهد به ئے په قيامت کښی په دوئ وَّمُبَشِّرًا او زيرے کونکے ئے په دنيا کښی مؤمنانو نيکوکارانو لره په جنت وَّنَذِيْرًا ﴿۸﴾ او ويرونکے کافرانو او بدکارانو لره په دوزخ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ د پاره د دے چه ايمان راوړئ په يو والی د خدائ تعالیٰ او په رښتينوئ د رسول وَتُعَزِّرُوْهُ او چه مدد وکړئ له دينه له خدائ يا له رسوله سره وَتُوَقِّرُوْهُ ط او چه تعظيم او عزت وکړئ د

خدائی یا رسول ئے وَتُسَبِّحُوْهُ اوچه په پاکئ یادکړئ خدائی له هر نالائقه بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۹﴾ په
صبا او بیگاه کښې اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ بیشکه هغه کسان چه وعده او بیعت کوی له سره په
حدیبیه نوم ځائی کښې په دې شان چه جنګیږو به له کافرو سره اونهٔ به کوو تیښته تر ې اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ
اللّٰهَ خبره هم داده بله نهٔ ده چه وعده نه کوی دوئی په واقعه کښې له خدائی سره لکه بل مقام کښې ایت دې
چه من اطاع الرسول فقد اطاع الله يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ج گویا ید د خدائی تعالیٰ دے د پاسه د
رسولانو د دوئی روایت دے چه هرکله دوئی وعده کوله له رسول علیه السلام سره په حدیبیه
نوم ځائی کښې په دے شان چه نه به تختولو کافرانو په جنګ کښې نو لاسونه خپل به ئے ورکول
رسول علیه السلام لره په طریقه د بیعت سره پس رسول علیه السلام به لاسونه د دوئی په
لاس مبارك خپل کښې نیول او لاس مبارك د حضرت د پاسه د رسولانو د دوئی وو نو الله تعالیٰ
له هغه معامله نه اوس بیان کوی خلقو ته چه يَدُ اللّٰه فوق الاية حاصل ئے دا چه خدائی
خبردار دے په هغه وعده چه کړے ده دوئی له رسول ؑ سره نو پس جزا او سزا به ورکا هر چا
لره په قیامت موافق له عمله سره نومناسب دی چه مخالفت دی نهٔ کوی هیڅوك له وعدے خپلے
او یا ئے معنیٰ دا سے شوه چه لاس د رسول (صلے الله علیه وسلم) هغه لاس چه پاس په لاسونو د
دوئی وو گویا که لاس د خدائی وو ځکه چه خدائی تعالیٰ پاك دے له اندامونو تخه فائده پس په دغه
تیرشوی ایت کښې ډیر لوئی شرافت دے ید د رسول صلے الله علیه وسلم لره کهٔ فکر وس ته وکړے
شی فافهم ۔ فَمَنْ نَّكَثَ پس هر چا ماته کړله هغه وعده خپله چه ئے کړے وه له رسول علیه
السلام سره فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ج پس خبره هم داده بله نهٔ ده چه ماتوی به ئے په ځان
خپل یعنی هم خپل ځان ته به ضرر دماتولو ورسوی نه مونږ ه ته وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ
اللّٰهَ او هر چا چه وفا یعنی پوره والے وکړو په وعدے خپلے له خدائی سره فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا
عَظِيْمًا ﴿۱۰﴾ پس زر دے چه ورېه کا خدائی تعالیٰ هغه وفا کونکی لره اجر لوئی چه جنت او رضا ع
کیدل او دیدار د خدائی تعالیٰ دے روایت دے چه هرکله پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام

عه هر چا چه فرمان برداری د پیغمبر وکړه پس فرمان برداری د خدائی ئے وکړه ۱۲

مکے ته د پاره د عمرے رٔوانیدل نو بعضے له اعرابو لکه جهینه او مزینه او سلم او غفار او اشجع شو یو کا غذر
را واستولو چه په دے سفر کښې مونږ ه تاسے سره نهٔ شو تللے په سبب د عذر سره چه مالونه او عیالونه
دی او دوئ د ویرے د جنګه د قریشو او د مخالفت له جهاد پاتے شول نو خدائ تعالٰی پیغمبر خپل خبر
کړهٔ چه هر کله ته ورسیږے نو سَیَقُوْلُ لَکَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ زر دے چه وائی به تا ته هغه
کسان چه پاتے کړے شوی دی له تا نه په تللو کښې مکے ته په سبب د مالونو او عیالونو خپلو له
هغه صحرائی عالمو دا سے چه شَغَلَتْنَآ منع کړی او بند کړی و و مونږ ه له تللو له تا سره مکے ته اَمْوَالُنَا
وَ اَهْلُوْنَا مالونو خپلو او عیالونو خپلو ځکه چه وروستو موهیڅوک د تربیت او حفاظت کولو د دوئ
نهٔ وو که چرے مونږ ه تا سره تللے وے نو دا ټول به هلاك شوی وو فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ج نو پس بخښنه
وغواړه مونږ ه لره له خدا یه یعنی چه راته عفوه کړی د غه ګناه د پاتے کید لو له تا فائده هر کله
چه وو د عه استغفار د دوئ هسے په خولے باندے فقط او واقعی او له اخلاصه د زړهٔ نهٔ وو نو
شرمنده کړل دوئ خدائ تعالٰی مخلوق خپل کښې ځکه چه بیان ئے کړل احوال د زړونو د دوئ لکه
دا دی چه یَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ وائی دغه پاتے کید ونکی منافقان په ژبو خپلو له طلب د مغفرته او
همدا رنګه نور عذرونه د پاتے کیدلو۔ مَّا لَیْسَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ ط هغه خبرے چه نشته په زړونو د
دوئ کښې نو پس دوئ دروغژن دی په دغه عذر او طلب د بخښنے کښې قُلْ ووا یه ورته اے پیغمبره
په جواب د دغه عذرونو کښې چه فَمَنْ یَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَیْئًا پس څوك دے چه قادر به شی
تاسے لره له خدائ د بنهٔ څیز یعنی د دفع د عذاب فائده دا استفهام په معنیٰ د نفے دے یعنے
نشته هیڅوك دا رنګ چه دفع او منع کړی له تاسے قضا او حکم د خدائ تعالٰی هیڅ قدر اِنْ اَرَادَ
بِکُمْ ضَرًّا کهٔ اراده وکا خدائ تاسے ته د ضرر رسولو په قتل او په تیخته او په نقصان سره په مالونو
او عیالونو کښې اَوْ اَرَادَ بِکُمْ نَفْعًا ط او یا که اراده وکه خدائ تعالٰی تاسے ته د نفع رسولو په دولت او
په مدد او په ساتلو د مالونو او عیالونو سره او داسے نهٔ ده لکه دا تاسے چه ئے وائے په ژبو۔ بَلْ
کَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرًا ⑪ بلکه دے همیشه خدائ تعالٰی په عملونو ستاسے خبردار
یعنی پوهیږی په مخالفت ستاسے نو جزا به درکا په قیامت بَلْ ظَنَنْتُمْ بلکه ګمان کولو تاسے اے

مخالفت کونکیو منافقانو اَنۡ لَّنۡ يَّنۡقَلِبَ الرَّسُوۡلُ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ دا دے چه هرگز به بیا بیرته
راونه گرځی دغه رسول او مؤمنان چه ورسره ملګی ته تللی دی اِلٰۤى اَهۡلِيۡهِمۡ اَبَدًا هغه عیالونو
او کورونو خپلو ته چه په مدینے کښ دی هیچرے ځکه چه دوئ لږ دی او کفار ډیر دی نو پس ټول به هلاك
کا. وَّزُيِّنَ ذٰلِكَ فِىۡ قُلُوۡبِكُمۡ او ښائسته کړے شوے وو دغه ګمان په زړونو ستاسے کښ وَظَنَنۡتُمۡ ظَنَّ
السَّوۡءِ ۖۚ او ګمان کړے وو تاسے ګمان د بدئ یعنی چه خدائ به هیچرے مدد ونه کا له رسول ؑ سره وَكُنۡتُمۡ
قَوۡمًاۢ بُوۡرًا ﴿۱۲﴾ او وئ تاسے یو ټولے هلاك کړے شوے ځکه یعنی لائق وئ د قهر د خدائ په سبب
د فساد د عقیدے او د بدګمانئ ستاسے وَمَنۡ لَّمۡ يُؤۡمِنۡۢ بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ او هر چا چه ایمان او یقین رانه وړ
په خدائ چه واحد او لاشریک دے او په رسول ئے چه په حق دے نو هغه کافر دے فَاِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا
لِلۡكٰفِرِيۡنَ سَعِيۡرًا ﴿۱۳﴾ پس بیشکه مونږه تیار کړے دے کافرانو لره اور ګرم چه دوزخ دے وَلِلّٰهِ
مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ او خدائ لره ده باد شاهی د اسمانونو او د زمکے يَغۡفِرُ لِمَنۡ يَّشَآءُ
بخښنه کوی هغه چا ته چه اراده ئے وشی بخښل د هغه ځکه چه وجوب پرے نشته وَيُعَذِّبُ مَنۡ
يَّشَآءُ ؕ او په عذابوی هغه څوك چه اراده ئے وشی عذابول د هغه وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿۱۴﴾
او دے همیش خدائ تعالیٰ بخښونکے او مهربانه په هر چا خصوصًا په توبه ویستونکیو روایت
دے چه هر کله رسول الله صلے الله علیه وسلم پس له اصحابو سره بیرته راوګرځید ل مدینے
ته په شپږم کال د هجرت او په میاشته د ذوالحجه کښ نو خدائ تعالیٰ دوئ سره وعده وکړه
د تخصیص د فتح د خیبر یعنی چه غنیمتونه د فتح د خیبر یوازے هم ددے اصحابو دی
چه نن ورځ د رسره دی او د نورو مؤمنانو پکښ شرکت نشته بیا چه رسول صلے الله علیه وسلم
خپل ځائ ته راغے او په میاشتے د محرم کښ ئے اراده د دغه غزا وکړه نو دغه پاتے شویدونکیو
له هغه اول غزا هم اراده وکړه چه مونږه هم درسره پریږده چه تاسے سره شو لکه چه وائی سَيَقُوۡلُ
الۡمُخَلَّفُوۡنَ زر دے چه وبه وائی درته پاتے کیدونکی له تا اِذَا انۡطَلَقۡتُمۡ اِلٰى مَغَانِمَ په هغه وخت چه
روان شوئ تاسے هغه غنیمت د خیبر ته لِتَاۡخُذُوۡهَا د پاره داخستلو ئے نو داسے به وائی درته چه
ذَرُوۡنَا نَتَّبِعۡكُمۡ ۚ پریږدئ مونږه چه درځو تاسے پسے خیبر ته د پاره د جنګ يُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ

یُبَدِّلُوْا کَلٰمَ اللّٰہِ ط اراده لری دوئ دده چه بدل او مغیر کاندے هغه خبره یعنی وعده دخدائ تعالیٰ له تا سره چه هغه تخصیص دفتح خیبر وو قُلْ ته وایه ورته اے پیغمبر د پاره دنا امیدئ ئے چه لَنْ تَتَّبِعُوْنَا هرګز به ونهٔ کړئ تا سره پیروی ځمونږه په تللو کښې خیبر ته ځکه چه کَذٰلِکُمْ قَالَ اللّٰہُ مِنْ قَبْلُ ج هم دا رنګه ویلی وو خدائ تعالیٰ مونږه ته پخوا له ګرځیدلو ځمونږه له حدیبیے فَسَیَقُوْلُوْنَ پس زر دے چه وبه وائی درته په جواب کښې چه دا منع کول ستا سره مونږه لره حکم د خدائ تعالیٰ نهٔ دے بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ط بلکه تا سره حسد او کینه کوئ له مونږه سره په شرکت دغنیمتونو کښې بَلْ کَانُوْا لَا یَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۱۵﴾ بلکه وو دوی همیشه چه نه پوهیدل مګر لږ قدر په کارونو د دنیا نه د آخرت فائده هر کله چه دغه منافقانو مخالفت کړے وُو له رسول صلعم محض د پاره د تربیت د اسباب د دنیا نو اللّٰه تعالیٰ بیا له نورو ډیرو فائدو محروم کړل بلکه علاوه دا چه بیان ئے کړلو جهل د دوئ لکه وُئے ویل چه بل کانوا لا یفقهون الایة نو پس مناسب دی هر چا لره چه ډیر کوشش کوی په متابعت د رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه وسلم کښې او دغه متابعت د رسول ؐ نهٔ حاصلیږی مګر په زده کولو د علم سره او په هره ورځ حاضریدل مجلس د عالمانو ته چه له دنیائے زړهٔ تر ریږن او آخرت تهٔ مخه کیږی او په دے آیت کښې اشارت دے دے ته چه دا مال د دنیا ځائے د ګمان د حسد دے او حسد ډیر ناکاره صفت د نفس دے ځکه چه رسول اللّٰه علیه وسلم به هر وخت منع ترے کوله او ویل به ئے چه عه لا تحاسدوا ولا تباغضوا ولا تناجشوا ولا تدابروا وکونوا عباد اللّٰه اخوانا ط قُلْ لِّلْمُخَلَّفِیْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ ووایه اے پیغمبره دغه پاتے کیدونکیو منافقانو ته له صحرائی عالمو دا سره چه سَتُدْعَوْنَ اِلٰی قَوْمٍ زر دے چه وبه بللے شئ تاسو جنګ د یو ټولی ته اُولِیْ بَاْسٍ شَدِیْدٍ چه هغوی به خاوندان د جنګ سخت وی یعنی چه هغوئ یا اهل دیمامه قوم د مسیلمة الکذاب دی او یا نور مرتدان د دوئ په شان شول تُقَاتِلُوْنَهُمْ چه یا به جنګ کوئ له هغوئ سره کهٔ چرے نهٔ مسلمانیږی

عه یعنی مهٔ کوئ کینه له خلقو سره په نعمتونو د خدائ کښې او مهٔ کوئ بغض یو تربله او مهٔ تیزوئ خلق په اخستلو دڅیزونو حراموکښې او مهٔ قطع کوئ خپلولی او اوسئ تاسو بندګان د خدائ او وروڼه یو تربله ۱۲

اَوْ يُسْلِمُوْنَ ج او یا به گردن کیږدی احکامو د خدائ تعالیٰ او د رسول ته فَاِنْ تُطِيْعُوْا پس که چرے قبلول د حکم د دغه بلونکی مو وکړه يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ج نو در به کړی تاسے له خدائ مزدوری نیکه او ښه چه په دنیا کښ غنیمت دے او په آخرت کښ جنت دے وَاِنْ تَتَوَلَّوْا او که وګرځیدلی او شا مو کړه د دغه بلونکی ته كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ لکه چه ګرځیدلی وئ پخوا له دے هم په کال د حدیبیه کښ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ⑯ نو په عذاب به کا خدائ تعالیٰ تاسے په عذاب دردناک سره **روایت دے** چه هر کله دغه تیر ایت نازل شهٔ نو یو ړوند په سترګو رسول الله صلی الله علیه وسلم له راغی او وے ویل ورته چه زهٔ خهٔ وکړم طاقت نهٔ لرم د جهاد ځکه چه ړوندیم نو دا محکښ ایت نازل شهٔ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ نشته په ړانده ګناه کهٔ پاتے شی له سفره د جهاد وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ او نه په ګوډ او شل باندے ګناه په پاتے کیدلو کښ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ط او نهٔ په ناجوړه باندے ګناه په پاتے کیدلو کښ ځکه چه دغه ټول طاقت د جنګ کولو نهٔ لری او هغه ځائ کښ پکار جنګ دے نهٔ فقط حاضریدل معرکے ته وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ او هر چا چه فرمان برداری د خدای او د رسول ئے وکړه په ټولو احکامو د دین کښ خصوصًا په جهاد کښ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ج نو داخل به کا خدائ تعالیٰ دے په قیامت هغه باغونو کښ چه بهیږی به د لاندے ئے قسم قسم ولے وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ⑰ ع او هر څوک چه وګرځیده له اطاعت د خدائ او رسول م نو په عذاب به ئے کا خدائ تعالیٰ په قیامت کښ په عذاب دردناک سره **روایت دے** چه هر کله رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه کال د تللو کښ مکے ته په نیت د حج او د عمرے چه حدیبیه نوم ځائے ته سره له اصحابو ورسیدهٔ او کفارو منع وکړه له ورتللو د دوئ مکے ته نو رسول علیه السلام له دغه ځائ خراش بن امیه د خزاعی قبیلے قاصد ولیږلو اهل مکے ته هر کله چه دے ورسیدهٔ هغو څخه نو اهل مکے قصد د مرګ دهٔ وکړهٔ بیا لښکریانو د اطرافو ترے خلاص کړهٔ چه وژل د قاصد مناسب نهٔ دی پس بیرته راغے خراش خپل ځائ ته بیا رسول ؑ او عثمان رض ځوی د عفان رض ولیږلو هغوئ ته نو هغوئ دے بند کړهٔ بلکه آوازه د دروغو د مرګ ئے هم راغله مومنانو له پس رسول علیه الصلوٰة والسلام په قهر

شهٔ او ازئ وکړو اصحابو خپلو ته چه دوئ يو زر څلور سوه وو په اصح روايت کښ دا سے چه راځئ
چه ځو جنګ لره او بيا بيعت ئے ورسره وکړو د لاندے د هغه ونے د کيکر يا د بيرے په دے شان چه جنګ
به کوو له کفارو د قريشو سره او هرګز به نهٔ تختو ترمرګه پورے نو چه خدائ تعالیٰ ته ښهٔ نيت او اخلاص
د دوئ ظاهراً معلوم شهٔ نو پس ډير ترے راضي شهٔ او صلح ئے واچوله د هغوئ په زړونو کښ نو اوس
بيان د هغه واقع کوی د پاره د نصيحت او عبرت لکه چه وائی لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ هر
ائينه په تحقيق چه راضي شوے دے خدائ تعالیٰ له هغه مؤمنانو مخلصانو صادقانو اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ
په هغه وخت چه بيعت يعنی وعده کوله دوئ له تا سره اے پيغمبره په نه تختيدلو له کفارو په جنګ
کښ تَحْتَ الشَّجَرَةِ د لاندے د هغه ونے د کيکر يا د بيرے فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ پس وپوهيدهٔ خدائ
تعالیٰ يعنی عالم شه په علم ظاهری سره لکه چه عالم وو په علم باطنی سره په هغه اخلاص او
محبت چه په زړونو د دوئ کښ وو فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ پس راوليږلو الله تعالیٰ ارام په زړونو
د دوئ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ⑱ او جزائے ورکړه دوئ لره په عوض د دغه کښ فتح کول نژدے چه
هغه فتح د خيبر ده وَمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّاْخُذُوْنَهَا او مقرر ئے کړه ورلره غنيمتونه ډير چه په اسانه
سره به اخلی دوئ هغه غنيمتونه وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ⑲ او دے هميشه خدائ تعالیٰ غالب
په هر چا او محکم کارے دے هر کار ئے په حکمت دے وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَاْخُذُوْنَهَا وعده
کړے ده تا سے سره اے مومنانو خدای تعالیٰ د غنيمتونو ډيرو چه اخلئ به ئے په اسانه سره فَعَجَّلَ
لَكُمْ هٰذِهٖ پس په تلوار ئے او زر ئے درکړهٔ تا سے لره دغه نعمتونه د خيبر وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ
عَنْكُمْ ۚ او بند ئے کړه له جنګ کولو په کرم خپل سره لاسونه د سړيو د خيبر له تا سے چه او يا زره
په شمار وو او او يا يهوديانو او يا د اهل مکے يعنی الله تعالیٰ په زړونو د هغوئ کښ ويره واچوله چه
د رسره جنګ ونهٔ کا - او لاسونه د هغوئ ئے درنه بند کړهٔ يو د پاره د دے چه غنيمت کړئ مالونه د دوئ
او ياشی دغه غنيمتونه کول د مالونو د دوئ سبب د شکر ستا سے خدائ تعالیٰ لره وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً
لِّلْمُؤْمِنِيْنَ او بل د پاره د دے چه شی دغه غنيمت کول د مالونو ئے بوه علامه په قدرت کامله د
خدائ او په رښتينئ د رسول ؐ د پاره د مؤمنانو وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ⑳ او چه وښائی

خدائی تعالیٰ تاسے ته په دغه علاے سره لاره سمه چه اسلام دے وَّ اُخْرٰی او د ربه کا غنیمتونه
نور دیر لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَیْهَا چه لا نه ئے قادر شوی تاسو په هغو چه هغه غنیمتونه د اهل فارس یا
دهوازن دی قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ط چه په تحقیق سره چاپیروالے کړے دے خدائی تعالیٰ په هغه غنیمتونو
پس تاسے ئے غالب کړی یئ په هغوئ وَکَانَ اللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرًا ﴿۲۱﴾ او دے همیشه
خدائی تعالیٰ په هر څۀ قادر یعنی هر څۀ ته چه اراده وکا نو کولے ئے شی بے تکلیفه وَلَوْ قٰتَلَکُمُ الَّذِیْنَ
کَفَرُوْا او که چرے جنګ اختیار کړے او شروع کړے وے له تاسے سره کافرانو او صلح ئے نه وے کړے
لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ نو هرائینه ګرځولی به وو دوئ تاسے ته شاؤ نه خپل په جنګ کښ یعنی شکست به
ئے کړے وو له تاسے ثُمَّ لَا یَجِدُوْنَ وَلِیًّا بیا به ئے نه وو موندلے ځان خپل لره هیڅوک دوست چه
ئے ساتلے وے له قتل وَّلَا نَصِیْرًا ﴿۲۲﴾ او نۀ ئے هیڅوک مددګار چه ئے مدد ورسره کړے وے
سُنَّةَ اللّٰهِ دا مصدر تاکید کونکے د فعل محذوف خپل دے ای سن اللّٰه غلبة انبیاءه یعنی دا یوه لاره
تړلے ده خدائی تعالیٰ د غالب کید لو د نبیانو خپلو الَّتِیْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ج صلے هغه لاره چه په تحقیق
سره تیره شوید ه پخواله دے په نورو امتونو کښ لکه بل مقام کښ ایت دے چه کتب اللّٰه الاغلبن
انا ورسلی ان اللّٰه قوی عزیز وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِیْلًا ﴿۲۳﴾ او هرګز به بیا نه مومے لاره د
خدائی تعالیٰ لره بدلیدل او مغیر کیدل وَهُوَ الَّذِیْ کَفَّ اَیْدِیَهُمْ عَنْکُمْ او هغه خدائی تعالیٰ
هغه ذات مطلق دے چه بند ئے کړل لاسونه د کفارو د مکے له تاسے په صلح سره وَاَیْدِیَکُمْ عَنْهُمْ او
لاسونه ستاسے له هغوئ بِبَطْنِ مَکَّةَ په مینځ د مکه کښ مِنْ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَکُمْ عَلَیْهِمْ ط پس له هغه
غالب ئے کړی تاسے په هغوئ د پاره د ډیرو فائدو او هغه غلبه د اسے وه چه اتیا تنه سړی جنګیاد
وسله دار له کفارو د مکے چاپیره له مسلمانانو ګرځیدل د پاره د چپاؤ او لوټ کولو د لښکر و ستاسے بیا
هغوئ ونیولے شول او رسول صلے اللّٰه علیه وسلم لره راوستے شول بیا رسول صلے اللّٰه علیه وسلم
پریخودل او عفوئے ورته وکړه او بیا دغه کار سبب د صلح د دوئ شۀ وَکَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
بَصِیْرًا ﴿۲۴﴾ او دے خدائی په هغه څۀ چه کوئ تاسے له نیکئ یا بدئ کتونکے او لیدونکے نو جزا به

عه معنی داچه مقرر کړے او فرض کړے ده خدائی تعالیٰ داچه هرائینه خامخا به غالب شم زۀ او رسولان ځما ځکه چه
په تحقیق سره خدائی ډیر قوت ناک او غالب دے ۱۲

درکا به قیامت کښې هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دغه مغلوبان هغه کسان دي چه کافران شوي دي په خدائ
اورسول ئے وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ او بند او منع ئے کړي تاسے له رسيد لو مسجد حرام ته
چه مکه ده يعنى مکے ته ئے نه پريخو دلئ دپاره دحج کولو وَالْهَدْيَ او هم ئے بند کړے وے
قربانئ سره مَعْكُوْفًا اَنْ يه دے حال چه بند کړے شوے وے دغه قربانئ او ولاړے وے له دے چه
يَبْلُغَ مَحِلَّهٗ ورسيږي ځائ دحلالولو او ذبح کولو خپلو ته چه مکه ده وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَ
نِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ اوکه چرے نهٔ وے په دغه مکه کښې سړي پټ مؤمنان او ښځے پټے مؤمنے لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ
هسے سړي او ښځے چه نه پيژنئ تاسے هغوئ په صفت دايمان سره ځکه چه خلط او ګډ وو دی له
مشرکانو اَنْ تَطَئُوْهُمْ چه پائمال او هلاك به کړئ هغوئ هم له کفارو سره فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ
مَّعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ پس وبه رسيږي تاسے ته له دوئ ګناه او مکروه ولے او سختي په ناپوهئ سره
فائده داوړه وستي جمله حال دے له فاعل دتطؤهم نه يعنى پائمال او هلاك به کړئ هغوئ
په دے حال کښې چه تاسے به نهٔ يئ عالمان په ګنهګار کيدلو خپلو په سبب دقتل دهغوئ نو به
دا شان ترجمه کولو اشارت دے دفع دګمان دتکرار ته چه لم تعلموهم او بغير علمٍ دے په ايت واحد
کښې ځکه چه مراد له اوله نفسونه دهغوئ دي يعنى چه نهٔ پيژنئ تاسے هغه پټ مؤمنان او مراد
له دويمه ګناه دے يعنى په دے حال کښې چه نه به يئ عالمان په ګنهګار يدلو خپلو په سبب دقتل
دهغوئ والله اعلم او جواب دلولا محذوف دے چه هغه لما کف ايديکم عنهم دے حاصل ئے
دا چه که چرے نهٔ وے مکروه والے ددے چه هلاك او قتل به کړئ تاسے سړي مؤمنان په مينځ
دکفارو کښې په ناپوهي سره پس نو بيا به ورسيږي تاسے ته ناکاره والے او ګناه بے علم نو هر
اَئينه منع او بند کړي به نه وو الله تعالىٰ لاسونه ستا له کفارو د مکے پس له غلبے ستا په هغوي باندے
ليکن منع او بند ئے کړل لاسونه ستاسے له هغوئ دپاره ددغه فائدو او بل دپاره دے لِيُدْخِلَ
اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ چه داخل کا خدائ تعالىٰ په رحمت خپل کښې هغه څوك چه اراده ئے
وي داخلول دهغهٔ لَوْ تَزَيَّلُوْا که چرے تار په تار شوے او جدا شوے وے بعضے له بعضو يعنى
معلوميدے مؤمنان له مشرکانو لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ نو هر اَئينه خامخا به په عذاب

کړی وومونږه هغه کسان چه کافران دی په علم ازلی کښی له دے اهلِ مکے څخه عَذَابًا اَلِیْمًا ﴿۲۵﴾ په عذاب دردناک سره یعنی اذن به مو کړے وو تاسے ته اوس فِی الحال بے مهلته په قتلولو او فتح کولو داهل مکے اِذْ جَعَلَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا دغه اِذْ منصوب دے په اذکر مقدر سره بنا بر مفعولیت نو معنیٰ ئے داچه یاد کا اے رسولﷺ هغه چه وګرځولو کافرانو او چا ویلی دی چه منصوب دے بنا بر ظرفیت یعنی دغه جعل مذکوره ظرف دے لعذبنا له او یا صدوکم له نو په دے تقدیر ئے معنیٰ دا ده شوه چه هر ائینه په عذاب کړی به موووکافران په هغه وخت چه وګرځولو کافرانو دمکے فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِیَّةَ په زړونوخپلو کښی هغه ننګ او ناموس خپل حَمِیَّةَ الْجَاهِلِیَّةِ یعنی ننګ او ناموس د ناپوهئ او بے عقلئ روایت دے له زهری صاحبه چه هغه ننګ دجاهلیت عدم اقرار د دوئ په رسالت درسول اکرم صلی الله علیه وسلم او بل منع ددوئ وه له لیکلو دکلام قدیم یعنے بسم الله الرحمٰن الرحیم په اول د کاغذ دصلح کښی او چا ویلی دی چه دوئ به رسول الله صلے الله علیه وسلم ته ویل چه که ته اوس داخل شے دے اصحابو سره مکے ته نو دغه چا پیره او ګرا ګرد عالم به وائی چه اهل د مکے ډیر بے همته او بے غیرته وو نو په زور سره محمد صلی الله علیه وسلم داخل شو وغیر ذلک. فَاَنْزَلَ اللهُ سَکِیْنَتَهٗ پس رالیږلو الله تعالیٰ آرام او لطف خپل عَلٰی رَسُوْلِهٖ وَعَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ په رسول خپل او هم په مؤمنانو یعنی چه ئے صلح له هغوئ سره بنا کړه او ننګ دجاهلیت ئے ونهٔ کړهٔ د کافرانو په شان وَاَلْزَمَهُمْ کَلِمَةَ التَّقْوٰی او لازمه او ثابته ئے کړه له دے مؤمنانو سره هغه کلمه او خبره دپرهیزګارئ یعنی چه ویل د هغه کلمے سبب دے دځان ساتلو له اوره د دوزخ چه هغه کلمه لا اله الا الله محمد رسول الله ده وَکَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا او وو دغه مؤمنان په علم ازلی دخدائ کښی ښهٔ لائق له دغه کلمے سره وَاَهْلَهَا ط او وو اهل او مستحق د دغه کلمے وَکَانَ اللهُ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۲۶﴾ ع اود ے همیشه خدائ په هر څیز عالم خبردار پس نو دے پیژنی حق د هر شی او حقدار ته ئے ورکوی او رسوی لکه چه ورئے کړه دا کلمه طیبه اهل خپل ته چه مؤمنان دی روایت دے چه هر کله رسول الله صلے الله علیه وسلم هغه خوب لیدلے وو د داخلیدلو مکے ته سره له اصحابو خپلو په حال د امن کښی له لاسه دکافرانو او حلق کولو دسرونو

خپلو او قصر کونکی بیا رسول صلے اللہ علیہ وسلم خبر دے خوب وکړو اصحابو خپلو ته د پاره د بشارت نو اصحابؓ ډیرے ډیر خوشحال شول پس هر کله چه رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم او اصحابو خپلو بیرته راوګرځیده خپل ځائ ته نو منافقانو به مسخرے او ټوقے کولے او ویل به ئے چه مونږه خو نه مکے کښی داخل شو او نهٔ مو حلق وکړو او نه قصر لکه چه تاویلی وو نو به مؤمنانو دا مسخرے د دوئ ډیرے سختے لګیدلے او ډیر به پرے خفه کیدل پس اللہ تعالیٰ د پاره د تصدیق د هغه خوب د رسول خپل او د پاره د تسلئ د مؤمنانو د غه مخکینے ایت نازل کړه لکه چه وائی لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا هر آئینه په تحقیق چه په رښتیا بنودلی وو خدائ تعالیٰ رسول خپل ته هغه خوبونه بِالْحَقِّ ج په رښتیا سره فائده داجار سره له معروره متعلق دے له صَدَقَ مذکور سره او چاویلی دی چه حال دے له مفعول ثانی د صَدَقَ نه چه الرُّءْيَا دے عه ای حال کون تلك الرؤیا متلبسه بالحق یعنی په دے حال چه دغه خوبونه ئے پیوست وو له رښتیا سره او چا ویلی دی چه قسم دے په هغه نوم حق د خدائ تعالیٰ و اللہ تعالیٰ اعلم او هغه خوبونه ئے دا سے وو چه لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ لا هر آئینه ضرور او خامخا به داخلیږئ مسجد حرام ته په مکه کښی که رضا او اراده شوے وی د خدای تعالیٰ په دے حال چه په امن کښی به یئ فائده داورسته کلام اللہ تعالیٰ یا محض د پاره د تبارك ذکر کړے دے او یا د پاره د تعلیم دے عبادو مؤمنانو ته یعنی مناسب دی هر یو مؤمن لره چه هر یو خبر ائنده کوی نو ان شاء اللہ تعالیٰ دِ ورسره وائی لکه اللہ تعالیٰ سره له دے چه عالم دے ربه په هر غیب او دا کلام ئے ذکر کړهٔ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ په دے حال کښی چه له بیخه خریونکی به یئ بعضے تا سے د ټولو ویښتو د سرونو خپلو وَمُقَصِّرِيْنَ لا او بعضے لنډونکی به د ویښتو یئ لَا تَخَافُوْنَ ط په دے حال کښی چه نه به ویریږئ تاسے پس له دغه هیچا نه فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا پس عالم او پوه وو خدائ تعالیٰ په دغه صلح کولو کښی په هغه فائدو چه تاسے پرے نه پوهیدئ اے مؤمنانو فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ پس مقرره کړے ده او اسانه کړے ده درته خدائ تعالیٰ مخوالو داخلیدلو

عه ولیست من قبیل اضغاث الاحلام لان ما راٰه کائن لا محالة فی وقته المقدر له وهو العام القابل کما وقع ۱۲ منه

عه حال مؤکدة او استیناف ای لا تخافون بعد ذلک ابدًا ۱۲ منه

مکے ته فَتْحًا قَرِيبًا ﴿۲۷﴾ فتح کول د یو ځائے زر اونزدے چه هغه فتح د خیبر ده ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له تیرید لو د پخلسو شپو له اصحابو سره خیبرته روان شول او هغه ئے فتح کړ هُوَ الَّذِىٓ دغه یو خدائ تعالیٰ هغه ذات پاك صفات دے اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ چه لیږلے ئے دے رسول خپل خلقو ته دپاره د نفع اخستو ددوی بِالْهُدٰى په لارے سمے سره چه کلمه طیبه ده یعنی لا اله الا الله وَدِيْنِ الْحَقِّ او په دین ربښتینی او ثابت سره چه دین د اسلام دے لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ط د پاره ددے چه غالب کړی دا دین ددهٔ په هر یو دین باندے وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۲۸﴾ او بس دے خدائ تعالیٰ شاهد په وعدو خپلو او یا په نبوت او رسالت د رسول اکرم یعنی محمد صلی الله علیه وسلم لکه چه وائی مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط محمد صلی الله علیه وسلم چه دے رسول د خدائ تعالیٰ دے وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ او هغه کسان چه له دهٔ سره دی یعنی تابعان ئے دا رنګ دی چه اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ ډیر سخت په کافرانو یعنی هیڅ قدرے زړهٔ نهٔ سیزی په مشرکانو په جنګ وغیره کښی رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ او مهربانی کونکی او زړه سیزونکی او نرمی کونکی او دوستی کونکی وی همیشه سره په مینځ خپل کښی او بل صفت ئے دا دے چه تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا وینے به ته اے کتونکیه دوی ته په دے حال کښی چه رکوع کونکی او سجده کونکی به وی خدائ تعالیٰ ته یعنی هر وخت به مونځونه کوی دپاره د خدائ تعالیٰ يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ز په دے حال کښی چه غواړی دوی په دغه عبادت کولو سره فضل یعنے ثواب له خدائ تعالیٰ او رضا کیدل ددهٔ ترے یعنی عبادت خالص خدائ لره کوی نه دپاره د ریا او عجب سِيْمَاهُمْ علامت د صلاحیت او د پیژند لو ددوی فِىْ وُجُوْهِهِمْ ثابت ده په مخونو ددوی کښی چه هغه یوه رڼا او سپین والے دے په مخونو کښی ئے چه په قیامت به له ورایه پیژند لے کیږی په مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ط له تاثیره د ډیرو ډیرو سجدو کولو ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِى التَّوْرٰىةِ ﷺ دغه وصف او حال مذکوره بیان او صفت ددوی دے په تورات کښی وَمَثَلُهُمْ فِى الْاِنْجِيْلِ ﷺ او صفت او بیان ددوی دے

سه روی الطبرانی عن ابی بن کعب مرفوعًا سیماهم النور یوم القیمة وعن مجاهد هو الخشوع والتواضع (باقی بر صفحه ۵۴۵)

په انجیل کښې کَزَرۡعٍ پشان دهغه کښت دی اَخۡرَجَ شَطۡاَهٗ چه وباسی بچی خپل یعنی
ساڼگے او ښاخونه خپل فَاٰزَرَهٗ پس کومک او مدد ورسره وکه او قوی ئے کا فَاسۡتَغۡلَظَ
پس بیا وګرځی سخت او محکم پس له نرمئ او ضعیفئ فَاسۡتَوٰی عَلٰی سُوۡقِهٖ پس بیا برابر
او سم او دریږی په پنډئ یعنی بیخ خپل یُعۡجِبُ الزُّرَّاعَ په دے حال چه تعجب ورولی هغه
د هقانانو خپلو لره چه ئے کرلی وی فائده دغه تیرشوے ایت یو مثال د اصحابو د
رسول الله صلی الله علیه وسلم دے چه بیان کړے او مشابه کړے دے خدائ تعالیٰ لره
کښت سره چه دوئ هم په اول د اسلام کښې په مثل د زرغونے دکښتو نو ډیر کم او لږ او
ضعیفان وو بیا ورځ تر ورځ به زیاتیدل او محکمیدل ترهغه چه بنهٔ او ډیر بنهٔ محکم
شول په بنهٔ شان چه تعجب به کولو ورته خلقو لکه دکښت په شان چه له اوله وړوکے
او ضعیف وی او بیا رو رو لوئیږی او ډیریږی او محکمیږی او تعجب ورته کوی بیا دهقانان
لِیَغِیۡظَ بِهِمُ الۡکُفَّارَ ط دا جار او مجرور متعلق دے له محذوف سره چه شُبِّهُوۡا دے یعنی
مشابه کړے شو مؤمنان له کښت سره دپاره ددے چه په غضب او په قهر او خفه شی پرے
کافران دعربو او د مکے فائده له مالك بن انس رح روایت دے چه له دغه تیرشوی ایت
کفر د رافضانو معلومیږی ځکه چه دوئ هم دښمنی او غضب کوی له اصحابو کبارو سره
او هر څوك چه بغض کوی له اصحابو سره پس هغهٔ ته خدائ تعالیٰ کافروائی په قرآن
کښې وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنۡهُمۡ وعده کړے ده خدائ تعالیٰ
هغه کسانو سره چه ایمان ئے راوړے وی او کارونه بنهٔ بنهٔ ئے کړے وی لجنسه ددوئ
ع ۱۲ مَغۡفِرَةً وَّاَجۡرًا عَظِیۡمًا ﴿۲۹﴾ د بخښنے دګناهونو او د اجر چه جنت دے فائده دغه حرف
دمن په کلمه د منهم کښې بیانیه او جنسیه دے لکه په فَاجتنبوا الرجس من الاوثان کښې
او تبعیضیه نهٔ دے فافهم ـ اللهم اجعلنا بکرمك من المؤمنین الصالحین

(بقیه حاشیه ۵۴۵) وعن سعید بن جبیر هو اثر التراب علی الجباه وعن شهر بن حوشب یکون مواضع سجودهم کالقمر لیلة البدر ۱۲ منه ۲ (حاشیه صفحٔ هذا) عه شطأه بسکون و فتحها افراخه وهو ولد الطائر وکل صغیر من الحیوان والنبات کما یقال اشطأ الزرع اذا فرخ و نبت ۱۲ منه

سُوْرَةُ الحجرات (۴۹) مکیۃ (۱۰۶) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰیاتہا ۱۸ رکوعہا ۲

روایت دے چہ یوہ ورځ حضرت ابوبکر صدیق رض او حضرت عمر فاروق رض په امیر کولو د اقرع بن حابس رض او د قعقاع بن معبد کښې جګړه او نزاع کوله یعنی ابوبکر صدیق رض رسول علیه الصلوٰة والسلام ته ویل چه اقرع ځوی د حابس امیر کړه ځکه چه دے بنده لائق د بادشاهۍ دے او عمر فاروق رض ویل چه قعقاع بن معبد امیر کړه پس ابوبکر صدیق رض عمر فاروق رض ته وویل چه ستا اراده نوره نۀ ده مګر فقط دښمنی او مخالفت له ما ځکه تۀ هغه خو بنوے او عمر فاروق رض هغه ته دغه رنګ وویل او بیا د دواړو اوازونه سره پورته شول په طریقه د جګړے کولو سره پس نازل شۀ دا ایت چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا اے مؤمنانو وړاندے والے مۀ کوئ په خبرو او په کارونو کښې بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وړاندے د خدائ او د رسول ئے یعنی تاسے له اوله مه وائ چه فلانے لائق د امیرۍ دے یا فلانے کار د کولو دے بلکه هر څه چه د خدائ او د رسول ئے پسند او اراده ئے وی هغه به کوی پس تاسے فقط د هغه هر یو متابعت کوئ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او ویریږئ له خدائ په هر کار کولو اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ① بیشکه چه خدائ تعالیٰ اوریدونکے دے د خبرو ستاسے او عالم دے په کارونو او نیتونو ستاسے باندے پس هر څۀ چه کوئ جزا به پوره برابره درکا په قیامت روایت دے چه ځنې یارانو مؤمنانو به په زوره او په لوئ اواز سره خبرے کولے له رسول صلی الله علیه وسلم سره پس نازل شۀ چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ اے مؤمنانو مۀ پورته کوئ تاسے اوازونه خپل په وخت د خبرو کولو کښې فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ د پاسه د اواز مبارک د نبی صلی الله علیه وسلم وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ او په زوره مۀ کوئ دۀ سره خبرے چه ورسره مجلس کوئ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ په شان د جهر کولو ځنې ستاسے له ځینې نورو سره یعنی لکه چه

په ځنګل مينځ کښې تاسې سره جهر او پورته ولې کوئ په خبرو کښې نو هغه رنګ له دۀ سره مۀ کوئ د پاره د تعظيم او د عزت د دۀ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ د پاره د دې چه خراب او عبث او ضائع نۀ شي عملونه ستاسې په سبب د دغه زړۀ ورتيا ستاسې سره په رسول ؐ يا له جهته د وېرې د دې چه خراب به شي عملونه ستاسې کۀ منع نۀ شوئ تاسې له دغه بې ادبئ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿۲﴾ او حال دا چه تاسې به نۀ پوهيږئ په دغه خرابيدلو د عملو نو خپلو -

روايت دے چه ځينې اصحابو لکه ابوبکر صديق رض او عمر فاروق رض او هم دا رنګه نور اصحاب شو ورو ورو په ارام ارام او په عاجزئ سره به خبرې کولې له رسول ؐ سره نو په وصف د هغوئ کښې نازل شۀ چه اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ بيشکه هغه کسان چه ټيټوي اوازونه خپل يعنې په ارام او ورو ورو سره خبرې کوي عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ په نزد د رسول صلے الله عليه وسلم د پاره د آدب اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ دغه ډله هغه کسان دي چه ازمايلي او غوره کړي دي خدائ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ط زړونه د دوئ د پاره د پرهيزګارئ يعنې غوره کړي دي دوئ خدائ تعالىٰ چه هم دوئ بنۀ لائق د توحيد دي لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ مغفرت دے دوئ لره په آخرت کښې بخښنه د ګناهونو وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۳﴾ او اجر لوئ له خدائ چه جنت دے **روايت دے** چه يوه ورځ څو کسان له بنی تميم چه يو له هغوئ اقرع بن حابس وو په وخت د غرمې کښې رسول صلے الله عليه وآله وسلم لره راغلل او حال دا چه رسول الله صلے الله عليه وآله وسلم د ننه په خپل کور کښې وو پس دوئ په زوره اوازونه کول رسول عليه الصلوٰة والسلام ته چا پيره له کورونو د هغه چه بهر ته راشه نو الله تبارك وتعالىٰ ناکاري او ناپوهي د هغوئ بيانوي د پاره د عبرت لکه چه وائي اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ بيشکه هغه کسان چه اوازونه کوي تاته او غواړي دِ اے رسول عليه الصلوٰة والسلام مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ د وړاندې يا د وروستو د کوټو د اهل بيتو ستا اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴﴾ ټول د دوئ چه دي نۀ پوهيږي په عزت او تعظيم او مرتبې ستا اے رسول عليه السلام وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا او کۀ چرې دوئ

صبر کړے وے له اوازونوکولو او انتظار ئے کړے وی دو ته حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ ترهغه چه
بیا په خپله ته وتلے وے له کوره خپله دوئ ته لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ط نو هر اٰئینه وو به دغه صبر
او انتظار کول ئے عوره او بهتر دوئ لره له دغه تلوارے او اوازونو کولو ئے وَاللّٰهُ
غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ اوخدائ تعالیٰ بخښونکے او مهربانه دے په توبه ایستونکیو باندے یعنی
هر چا چه دغه شان یا بله بے ادبی کړے وی او بیا له اخلاصه د زړهٔ توبه وباسی نو بیا دِ
نهٔ نا امیده کیږی له رحمته د هغهٔ بلکه عفوه به ورته وکا ځکه چه خدائ غفورٌ رّحیم
دے **روایت دے** چه یوکال رسول الله صلے الله علیه وسلم ولید نومے سړے چه
ځوئ د عقبه وو بنی مصطلق قبیلے ته د پاره د اخستلو د زکوٰتونو او خیراتونو ترے ولیږلو
او حال دا چه پخوا په وخت د جاهلیت کښ په مینځ د دغه ولید او د بنی مصطلق کښ
دښمنی وه په سبب د یو مړی پس هر کله چه ولید د هغو کلی ته نزدے راغے نو اهل د
هغه کلی ورته وړاندے سواره راغلل د پاره د عزت ئے پس دے په زړه خپل کښ له هغوئ
وویریده او گمان ئے راغے چه دوئ جوړ د پاره د مرلګ ځما په قصد د هغه عوض اخستلو
له ما راغلل نو دے بیرته په جلدئ رسول الله صلی الله علیه وسلم له راغے او وے ویل
چه اے پیغمبره هغوئ بیا بیرته مرتدان شوی دی او زکوٰتونه نهٔ راکوی بلکه په نیت
د وژلو ځما راغلل لیکن زه ترے راوتختیدم پس رسول صلے الله علیه وسلم په دے خبره
د یر خفه او دلګیر شه او قصد ئے د جنګیدلو له هغوئ سره بیا وکړهٔ ناګهانه هغوئ
راورسیدل رسول صلے الله علیه وسلم لره او بیان د دغه حال ئے ورته وکړو نو دا ایت
نازل شهٔ چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ اے مؤمنانوکه چرے راشی
او راوړی تاسے ته کوم یو فاسق یو خبرله خبرونو او حادثو فَتَبَيَّنُوْٓا پس تاسے نبهٔ
معلوم کړئ رښتیا له دروغو د هغهٔ او په بل قراءت کښ فتثبتوا دے یعنی تاسے
درنګ وکړئ او دریږئ او صبر وکړئ ترهغه چه درته حال د هغهٔ په شان معلوم
شی اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًاۢ د پاره د دے چه ونه رسیږئ تاسے یو قولی ته یا د پاره د ویرے د دے

چه وبه رسیږئ تاسې یو قوم ته بِجَهَالَةٍ په حال د ناپوهۍ کښې فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ
نٰدِمِيْنَ ﴿٦﴾ پس نو وبه ګرځئ تاسې بیا په هغه خطا خپله چه کړې مو وی له هغه قوم
سره پښیمانه ـ پس ور ولیږلو رسول علیه السلام پس له دغه خالد نومې سړې دپاره
د امتحان او معلومولو حال دهغو نو بیا موندل دغه خالد رض هغوئ ټول مؤمنان
صالحان او طاعت کوونکی دخدائ او د رسول ﷺ پس بیا خالد رض رسول الله ﷺ خبر کړو په
هغه واقعي حال دهغو نو خوشحاله شو رسول الله صلی الله علیه وسلم وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ
رَسُوْلَ اللّٰهِ ؕ او پوه شئ اے مؤمنانو په دے چه په تاسو کښې دے لیږلے شوے د خدائ
تعالیٰ یعنی دروغ او باطل مه وایئ ځکه چه خدائ تعالیٰ به رسول خبردار کړی په هغه
قولونو او فعلونو ستاسې لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ که چرے طاعت او فرمان برداری
ستاسې وکړی دغه رسول په ډیرو کارونو کښې لَعَنِتُّمْ نو هرائینه په ګناه او مشقت کښې
بیا داخل او هلاک شئ تاسې وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ او لیکن خدائ تعالیٰ
په کرم او په فضل خپل غوره کړے او دوست کړے دے تاسې ته ایمان او توحید وَزَيَّنَهٗ
فِيْ قُلُوْبِكُمْ او ښائسته کړے ئے دے دغه ایمان په زړونو ستاسې کښې اے مومنانو یعنی
چه ښودلی او په زړه کښې ئے اچولی دی درته دلیلونه د توحید خپل وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ
او بد او ناکاره کړے ئے دے درته کفر یعنې پټول د حق وَالْفُسُوْقَ او هم دغه رنګ وتل
او بهر کیدل له لارے سمے چه لاره د اسلام ده وَالْعِصْيَانَ ؕ او هم دغه شان نافرمانی
کول او یاغی کیدل له خدائ او له رسول ﷺ اُولٰٓئِكَ دغه ډله تحقیق کوونکی په خبرونو او
حکمونو کښې هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ﴿٧﴾ هم دوئ دی هوښیاران او لاره موندونکی په رښتیا
فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ له جهته د فضل له جانبه د خدائ تعالیٰ او یا فضل ئے کړے دے په فضل
کولو سره وَنِعْمَةً ؕ او یو نعمت دے له دربارہ د خدائ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٨﴾ او خدائ
تعالیٰ خبردار دے په هر څیز او بیا هر کار ئے په حکمت دے یا محکم کار دے روایت دے
چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم سور وو په حمار خپل او تیریدل په یوے

ډلے د انصارو باندے اوحال داچه په هغه ډله کښی عبد الله بن اُبی منافق هم ناست وو پس رسول الله صلی الله علیه وسلم لږ ځه قدرے ودریدهٔ په هغه ځائ کښی د یارهٔ دوعظ کولو هغوئ ته پس ناګهانه بول یا خاشئه وکړهٔ هغه حمار د رسول الله صلی الله علیه وسلم ۔ نو عبد الله بن اُبیٔ منافق زر پوزه خپله په طریقه د تکبر سره ونیوله اوبئهٔ ئے کړه چه بدبوئی د بولو د حمار ورته شی اوبیائے وویل رسول اکرم صلے الله علیه وسلم ته چه زهٔ بیرته اولرے کړه له مونږه بدبوئی د بولو د خر خپل مونږه پرے ډیر خفه او تنګ شو۔ اوتهٔ ځه ځائ خپل ته پس هر څوک چه درځی له مونږه نو هم هغه ځائے کښی ورته وعظ اونصیحت کوه او د ځائ مهٔ تنګوه پس نو واوریدله د اخبره یو مؤمن کامل متقی اصحابی ساده چه نوم ئے عبد الله بن رواحه وو له قبیلے د اَوس پس فی الحال ئے عبد الله بن اُبیٔ منافق ته چه له قبیلے د خزرج وو په قهراو په غضب سرهٔ وویل چه ایا تهٔ حمار د رسول مختار ته د ارنګ بے ادبه نسبت کوے اوحال دا چه قسم دے ځما په خدائ چه دغه بول د حمار د رسول اکرم صلے الله علیه وسلم ډیر خوشبویه اوبئهٔ دی له هغه خوشبوئ د مشکو اوعطرو چه په بدن ستا پورے دے پس زر خفه روان شو رسول ۴ او بیا ډیرے سختے خبرے اوشوے په مینځ د عبد الله بن رواحه اَوسی او د عبد الله بن ابی منافق خزرجی کښی تر دے چه دواړو سره کنځل کول شروع کړل او بیا په جنګ شول پس راجمع شه قوم د هریو یعنی اوس[عه] قبیله او خزرج[عه] قبیله اوبئهٔ جنګ په څپلیو او لختو تجوړ وشهٔ او بعضو ویلی دی چه په تورو هم وشهٔ پس دغه مخکینے ایت نازل شه او بیا راغلو دوئ له رسول د خدائ صلے الله علیه وسلم او دا ایت ئے ورته ولوستو او بیائے صلح په مینځ د هغوئ کښی وکړه **فائده** اوپس له هغه حادثے ترنن ورځے پورے هم دا حکم دے چه هر کله دوه ډلے د مؤمنانو په جنګ شی نو ثالث په مینځ د هغوئ کښی صلح کوی لکه چه وائی وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ

عه یعنی د یلاره د کومک د عبد الله بن رواحه ۱۲ عه د یارهٔ د مدد د عبد الله بن ابی منافق ۱۲

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا او که څړے دوه ډلے له مؤمنانو سره جنګ او جدل کوی په مینځ
خپل کښ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ج پس صلح وکړئ اے نورو مؤمنانو په مینځ د هغوئ دواړو
جنګ کونکو کښ په نصیحت کو لو سره او عواړئ ئے حکم د خدائ او د رسول ته فَاِنْۢ بَغَتْ
اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى پس که څړے ظلم او تیرے وا لے وکړو یوے له دغه دواړو ډلو یو هغے
بلے باندے یعنی چه صلح قبول نهٔ کړی او په حکم د خدائ او رسول ؐ راضی نه شونو فَقَاتِلُوا
الَّتِىْ تَبْغِىْ پس جنګ کوئ او وژنئ اے ثالثانو مومنانو هغه ډله چه ظلم او بے انصافی
کوی په هغے بلے ډلے حَتّٰى تَفِىْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ج تر هغه چه بیرته وګرځی حکم د خدائ
ته او ګردن کیږدئ ورته فَاِنْ فَآءَتْ پس که څړے وګرځیده دغه ډله تیرے کونکے
له ظلم خپله او حکم د خدائ تعالیٰ ئے قبول کړو فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ پس نو
صلح او جوړوا لے وکړئ په مینځ د دغه دواړو ډلو کښ په انصاف سره یعنی ملګرتیا د
یوے ډلے په طریقے د غیرت او ننګ د جاهلیت مهٔ کوی بلکه همیش تابعان د شرع اوسئ۔
وَ اَقْسِطُوْا ط او عدل او میانه روی کوئ په هر کار کښ ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ⑨
بیشکه خدائ خوښوی هغه عدل کونکی په قولونو او کارونو خپلو کښ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ
هم داده بله نهٔ ده چه مؤمنان ټول سره ورونړه یو تر بله دی په دین کښ فَاَصْلِحُوْا
بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ پس صلح د جوړوالی کوئ په مینځ د دوو ورونړو خپلو کښ هغه وخت چه دواړه
سره جنګ او مخالفت کوی۔ او په بل قراءت کښ اخوة هم راغلے دے په صیغه د جمع
سره وَ اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ⑩ ع او وویریږئ همیشه په هر څهٔ کښ لـــه
خدایه نو ښائی تاسو چه درباندے رحمت وکړے شی له هغه خدایه روایت دے
چه یوے ډلے د بنی تمیمو به ټوقے او مسخرے کوڵے په فقیرانو او عاجزانو د مسلمانانو
یو ئے لکه عمار، او صهیب، او بلال او سلمان او خباب رضی الله عنهم همدا رنګه
نور شو نو الله تعالیٰ منع کړهٔ له هغه او نازل ئے کړهٔ چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ
مِّنْ قَوْمٍ اے مؤمنانو ټوقے او سپکوالے دِ نهٔ کوی یو ټولے له تاسے په بل پورے عَسٰى

اَنْ یَّکُوْنُوْا خَیْرًا مِّنْهُمْ نزدے دہ او بنا ئیږی چه وی به دغه ټوقے کړے شوے بنۀ او بهتر په نزد د خدائ تعالیٰ له هغه ټوقے کونکیو بل. **روایت دے** چه ځنے بیبیانو د حضرت صلی الله علیه وسلم به هم کله کله مسخرے کولے په ځینو نورو همسبجو خپلو پورے لکه ام سلمه رض ته به ئے ویل چه ته کوتاه قده یعنی ټیټه او مندرۍ ئے بی بی صفیه ته به ئے د یهودیت نسبت کولو ځکه چه له قومه د هغوئ نه دغه مسلمانه شوے وه هم او همدارنګه په نورو پس نازل شۀ. وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ او همدارنګ مسخرے او سپک والے دِ نۀ کوی ځنے ښځے په ځنو پورے. عَسٰٓى اَنْ یَّکُنَّ خَیْرًا مِّنْهُنَّ ج نزدے دہ او بنا ئیږی چه وی به دغه ښځے ټوقے کړے شوے پرے پورے بهتر او غورے خدائ تعالیٰ ته له دغه ټوقے کونکیو نه وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَکُمْ او عیب هم مۀ وایئ د ځانونو خپلو ځکه چه عیب بیانول د بل چا عیب ظاهرول د خپل ځان دی او یا ځکه چه ټول مؤمنان ګویا که نفس واحده دے وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ط او ویشتل مۀ کوئ یعنی مۀ بولئ او مۀ غواړئ ځنے ستاسے ځنے نورو لره په نومونو ناکارو او بدو سره یعنی مؤمن ته دارنګ مۀ وایئ چه اے یهودی یا اے نصرانی یا اے فاسقه ځکه چه بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِیْمَانِ ج او ناکاره نوم دے د فاسقئ پس له ایمان راوړلو یعنی هرڅوک چه مؤمن او مسلم شی بیا هغه ته فاسق یا یهودی یا نصرانی ویل ډیر ناکاره او بدکار دے وَمَنْ لَّمْ یَتُبْ او هرڅوک چه بیرته ونه ګرځیده له هغه چه نارواوی په شرع کښ فَاُولٰٓئِکَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ⑪ پس نو دغه ډلے چه دی هم دوئ ظالمان دی په ځانونو خپلو باندے ځکه چه بے ضرورة خدائ تعالیٰ ځان خپل ته په قهروی

روایت دے چه هرکله به رسول علیه السلام غزا کوله یا سفر به ئے کولو نو تش له اصحابو رضی الله عنهم خپلو سره. نو عادت مبارک به ئے داوو چه یو فقیر او محتاج سړے به ئے دوو غنیانو په حواله کولو یعنی چه دغه فقیر دِ ستاسے خدمت د پخلی د طعام وغیره کوی او تاسے دۀ لره طعام وغیره ورکوئ نو یوکرت ئے په یو سفر کښ سلمان

فارسی رض حواله کړۀ په نورو دوو اصحابو د پاره د خدمت پس نو کله ورځ په سفر کښې هغه دواړو اصحابو سلمان رض ولیږلو منزل خیل ته چه ته لاړ سه او طعام مونږ لره تیار کړه چه هغه منزل خیل ته ورسیدۀ نو خوب پرے غلبه وکړه او اوده شۀ او طعام ئے تیار نۀ کړه هر کله چه هغوی دواړه منزل ته راغلل نو سلمان ته ئے ووئیل چه طعام حاضر کړه چه وخورو هغه ووئیل چه زۀ اوده شوم او طعام مے تیار کړے نۀ دے نو دوئی بیا ورته ووئیل چه ورشه او له رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه طعام مونږ د لره راوړه پس سلمان لاړۀ او طعام ئے ترے طلب کړه نو رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم حواله ورکړه په اُسامه رض چه خزانچی او لنګری د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وو پس اسامه ورته ووئیل چه فی الحال طعام خلاص شوے دے او نشته نو بیا سلمان رض خفه راغے هغه ملګریو خپلو لره او دغه حال ئے ټول ورته بیان کړو نو بیا هغوی نورو اصحابو لره واستولو د پاره د طلب د طعام پس هغوی هم دغه جواب ورکړو چه طعام خلاص شوید ے بیا هغه دواړو اصحابو سره پخپل مینځ کښې ووئیل چه د سلمان داسے قدم دے کۀ چرے دے مونږ ه واستوکوهی د سمیحه ته نو هر ائینه هغه به هم وچ شی له اوبو او بیا عیبت کول د اسامه رض ئے هم شروع کړل یعنی چه طعام هغه څخه موجود وو لیکن بخل ئے وکړۀ له مونږه سره چه راتے نۀ کړه او بیا جاسوسی د اسامه ئے کوله چه ایا دغه وبل د دۀ له خلاصید لو او تمامید لو له طعام رښتیا دی یا دروغ بیا هر کله چه په بله ورځ دغه دواړه په مجلس د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې حاضر شول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوئی څخه پوښتنه وکړه چه څۀ ده دغه سرخی دغوښو چه زۀ ئے وینم په خولو او غابنو نوستاسے کښې پس هغوی دواړو ووئیل چه اے حضرته مونږ خو بالکل غوښه نۀ دی خوړلے بیا هغه حضرت صلی الله علیه وسلم ورته ووئیل چه مراد څما د اغوښه حلالے او خوړونکے نۀ دی بلکه غوښه د سړیو درته وایم یعنی معلومیږی چه تاسے غیبت د چا کړے دے نو پس دا آیت نازل شه چه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ ز اے مؤمنانو ځان خيل ساتئ ډیرله کولو د بدګمان إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ بيشکه چه ځنې ګناه کول ګناه ده يعنې ګنهګار کونکے دے ګمان کونکيو لره لکه بد او نا کاره ګمان کول په ښو ښو خلقو له مومنانو او نه په فاسقانو ځکه چه په هغه کښې هيڅ ګناه نشته وَلَا تَجَسَّسُوا او تلاش هم مهٔ کوئ عيبونو د خلقو پسے ځکه چه ډير ناکاره کار دے **فائده** رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلی دی چه اياکم والظن فان الظن اكذب (الحديث) ولا تجسسوا ولا تنافسوا ولا تحاسدوا ولا تباغضوا ولا تدابروا وكونو عباد الله اخوانا . او په بل حديث کښې دی يٰمعشر من اٰمن بلسانه ولم يفض الايمان الى قلبه ولا تفتتنوا المسلمين ولا تتبعوا عوراتهم فانه من يتبع عورات المسلمين يتبع الله عورته ومن يتبع الله عورته فيفضحه ولو فى جوف رحله او همدارنګه نور احاديث وارد دی په وعيد د دے کښې وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ط او غيبت دِ نهٔ کوی ځنې ستاسے د ځنې نورو **فائده** له ابو هريرة رض نه روايت دے چه يوه ورځ رسول صلے الله عليه وسلم تفحص وکړو له اصحابو خپلو چه ايا تاسے پوهيږئ چه څهٔ ته غيبت ويلے شی هغوئ ورته وويل چه خدائ او رسول به ئے پرے پوهيږی مونږه پرے نهٔ پوهيږو پس رسول الله ص دوئ ته بيان او تفسير د غيبت وکړو چه غيبت بيانول او يادول د يو ورور د مسلمان غائب دی په هغه کارونو کښې چه کهٔ هغه حاضر وی نو پرے خفه کيږی بيا اصحابو رض وويل چه اے رسوله ص! اګر که هغه کار وی په هغهٔ کښې نو رسول الله صلے الله عليه وسلم ورته وويل چه کهٔ چرے وی په هغهٔ کښې چه ئے ته پرے وائے نو بيشکه چه غيبت دهغهٔ دِ وکړو او کهٔ چرے نهٔ وی پکښې هغه چه ئے تهٔ وائے پرے نو په تحقيق چه

عه پرهيز وکړئ له بدګمانئ نه ځکه چه بدګمانی ډيره دروغ خبره ده او جاسوسی مهٔ کوئ او تيزی مهٔ کوی او يو بل سره حسد مه کوی او مه له يو بل سره کينه کوی او مه شا کوی په جنګ کښې او شی بندګان د خدای يو تر بله اے هغه دلے چه ايمان ئے راوړيدے تش په خپل ژبه په فتنه کښې مهٔ اچوئ مسلمانانو لره او مهٔ ګرځئ پر دود هغوئ پسے ځکه هغه خوک چه ګرځی پر دود مسلمانانو پسے نو الله پاک به پردے دهغه پسے شی او هر څوک چه خدائ تعالی دهغه پردے پسے شی نو وبه ئے شرموی اګر که ئے په کور خپل کښې وی هم ۱۲
اللهم اغفر لكاتبه : كتبه محمد صادق زهير « چيرهارے د اکوال سنه ۱۸/۱۰/۱۳۷۴ هـ ش

بهتان دِ وویل او دا بهتان هم لویه گناه ده. همدارنګ نوراحادیث په دے مضمون سره وارد دی اَوس بیا الله تعالیٰ د پاره د ناکاروالی دغیبت کولو یو بل مثال بیانوی لکه چه وائی اَیُحِبُّ اَحَدُکُمْ ایا خوښوی او بهتره وی یوستا سے اے مومنانو اَنْ یَّاْکُلَ لَحْمَ اَخِیْهِ مَیْتًا دا چه وخوری دوئ غوښے د وروړ خپل په دا حال کښ چه هغه مړ وی فَکَرِهْتُمُوْهُ ؕ پس بد او ناکاره به وګنړئ تاسو هغه خوړل دهغه نو همدارنګه بد او ناکاره وګنړئ او منع شئ له غیبت کولو دهغهٔ ځکه چه غیبت کول دهغه غوښه خوړل دی فائده انس بن مالک صحابی رض له رسول الله صلی الله علیه وسلم نقل کړے دے چه هر کله زهٔ په شپه د معراج پورته ختلم او تللم نو ناګهانه پیښ شوم په یو داسے ټولی چه نوکان دهغوئ دتامبے وو تیرهٔ او دوئ په هغوئ مخونه خپل توکل او زخمی کول پس ماله جبریل امین تپوس وکړو چه دغه څوک دی او په کومه ګناه دارنګ سخت په عذاب دی نو جبریل علیه السلام راته وویل چه داهغه غیب کونکی دی چه په دنیا غوښے دخلقو به ئے خوړے او عزتونه او ابروګانے د خلقو به ئے اخستل همدارنګ نور احادیث هم په دے وعید کښ راغلی دی وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ او ویریږئ له عذاب دخدائ په کولو ددغو ناکارو او بدکارونو کښ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲﴾ بیشکه چه خدائ توبه قبلونکے او بیا کرځید ونکے دے بندګانو خپلو ته په مغفرت سره او مهربانی کونکے دے په دوئ روایت دے چه په ورځ دفتح د مکے رسول الله صلے الله علیه وسلم بلال رض ته امر وکړو چه اذان ووایه د پاره دمانځه نو بلال رض په اذان شروع وکړه پس حارث بن هشام رسول الله صلے الله علیه وسلم ته وویل چه ایا تا بل څوک نه موندل بے له دے تور کارغهٔ چه دهٔ ته دِ امر وکړو په اذان کولو سره او بیا نورو اصحابو هم طعنه وکړه په نسبت ددهٔ کښ پس نازل شهٔ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰکُمْ اے سړیو بیشکه چه مونږه پیدا کړی یئ تاسے ټول په اصل کښ مِّنْ ذَکَرٍ وَّ اُنْثٰی له یو نارینه چه آدم علیه السلام دے او له یوے ښځے چه بی بی حوا ده په تاسے څهٔ له فخر او لوئی کوئ په نسبونو

او وصفونو کښې یعنې چه هغه کم اصل او دغه لوی اصل دے یا دغه سپین او هغه تور دے وَجَعَلۡنٰكُمۡ شُعُوۡبًا وَّ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوۡا ط او گرځولی مو یئ تاسې بناخونه او قبیلے قبیلے د پاره د دے چه پیژنئ تاسے او معلوموئ سره یو له بله اونه چه په فخر او لوئی او تکبر کوئ تاسے په نسبونو کښې ځکه چه فخر او لوئی په دے نورے نهٔ ده بلکه اِنَّ اَكۡرَمَكُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ اَتۡقٰكُمۡ ط بیشکه چه عزت داره او بزرګ ستاسے خدائ ته هغه بنهٔ پرهیزګاره او ویریدونکے له خدائ ستاسے دے یعنې چه په حدودو د خدائ تعالیٰ بنهٔ فهم کوی او له جنس نارواؤ په شرع کښې ځان خپل ساتی او هغه نهٔ دی چه نسب کښې پورته او په تقوٰی کښې ښکته اولاندے وی اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌ خَبِيۡرٌ ﴿۱۳﴾ بیشکه چه خدای عالم دے په کارونو ستاسے او خبردار دے په زړونو ستاسے جزا به درکړی په قیامت روایت دے چه یوه ډله د بنی اسد قبیلے راغله رسول الله صلے الله علیه وسلم لره پس اظهار د کلمے شهادت ئے وکړو پس له هغه بیا ډیر منت او احسان به ئے کولو په رسول الله صلے الله علیه وسلم باندے چه مونږه سره له عیالو نو خپلو تالره راغلی او مسلمانان شوی یو او نورو عربو به د رسره جنګونه کول او مونږه د رسره نهٔ دی کړی نو مناسب دی چه ته هم مونږه سره ښهٔ احسان وکړه یعنې څهٔ څیز راکړه له صدقاتو پس نازل شو چه قَالَتِ الۡاَعۡرَابُ اٰمَنَّا ط وئیل درته هغه صحرائی سړیو د بنی اسد او غطفان قبیلو چه یقین د زړهٔ کړے دے مونږه په یووالی د خدائ او په پیغمبرئ ستا قُلۡ لَّمۡ تُؤۡمِنُوۡا وواېه ورته اے پیغمبره چه نهٔ دے راوړے تاسے ایمان په رښتیا سره وَلٰكِنۡ قُوۡلُوۡۤا اَسۡلَمۡنَا مګر ووائ چه ګردن موا یښے دے تاته په ظاهره محض د پاره د خلا صیدلو نه قتل او له بندہ ځکه چه ایمان اقرار د ژبے سره له تصدیق د زړهٔ ته وئیلے شی او ستاسے خو اقرار د ژبے شته او تصدیق د زړه مو نهٔ شته وَلَمَّا يَدۡخُلِ الۡاِيۡمَانُ فِيۡ قُلُوۡبِكُمۡ ط او هرګز داخل شوے نهٔ دے ایمان په زړونو ستاسے کښې ځکه چه زړهٔ ستاسے له ژبو سره موافق نهٔ دے وَاِنۡ تُطِيۡعُوا اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ او که چرے تاسے اطاعت د خدائ او د رسول ئے وکړئ په اخلاص

د زړۀ سره لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ط نو کم او ناقص به به نۀ کړی خدائ تعالی تاسے
لره له جزا د عملونو ستاسے هيڅ څيز بلکه پوره او برابره جزا د عملونو به درکا اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ
رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ بیشکه چه خدائ بخښونکے د ګناهونو د رښتيني مؤمنانو دے په دوئ اِنَّمَا
الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ هم دا ده بلـه نۀ ده چه رښتيني مؤمنان هغه
کسان دی چه يقين د زړۀ ئے کړے وی په خدائ او په رسول ؑ ئے ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا
پس له هغه بیا شک و نۀ کړی په زړونو کښ پس له اقراره د ژبے وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ
وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ط او جهاد او غزا کوی په مالونو او ځانونو خپلو سره په لاره د
خدائ تعالی کښ چه لاره د اسلام ده يعنی غازيانو لره توښه د لارے او وسلے د جنګ
ورکوئ او بخپله هم غزا کوی له کفارو سره اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ﴿۱۵﴾ دغه ډله چه
دغه تیر شوی کارونه کوی - هم دوئ رښتيني دی په دعوٰی د ایمان کښ او نه هغه چه
فقط په خولۀ وائی وائی چه ایمان مو راوړے دے او په زړه کښ ئے يقين نۀ وی زوا یت
دے چه هرکله دغه دوه تیر شوی ایتونه نازل شول نو بیا دغه اعرابیان رسول ؑ د
خدای صلے اللّٰه علیه وسلم لره راغلل او قسمونه ئے ورته په خدائ تعالی کول چه مونږه
په رښتیا د زړۀ له اخلاصه مؤمنان یو او سرسری نه یو او حال دا چه خدائ تعالی ته خو
حال د ایمان د دوئ ښۀ معلوم وو چه سرسری او ظاهری دے او واقعی نۀ دے نو اللّٰه
د پاره د اظهار د ټګئ او فریب د دوئ دا ایت نازل کړه چه قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ
ووایه دوئ ته اے پیغمبره چه آیا پوهوئ او خبروئ تاسے خدائ تعالی په دین
خپل وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ او حال دا چه خدائ تعالی عالم او خبر دے
په ټولو هغه څيزونو چه په اسمانونو کښ دی وَمَا فِي الْاَرْضِ ط او په هغه څيزونو
چه په زمکه کښ دی وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۶﴾ او خدائ تعالی په هر څيز پوهه
خبردار دے هيڅ ترے پټ نۀ دی پس حاجت ئے ستاسے خبرولو ته نشته يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ
اَنْ اَسْلَمُوْا ط منت او احسان کوی دوی په تا اے پیغمبره د دے چه فقط اسلام

ئے راوړے دے. قُل لَّا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُمْ ۚ ووایه دوئی ته اے رسوله چه منت او احسان مهٔ کوی په ما د اسلام راوړلوخپلو بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ بلکه خدائی تعالیٰ منت او احسان کوی په تاسے أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ په دے چه لاره ئے ښودلے ده تاسے ته طرف د ایمان ته إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٧﴾ که چرے یئ تاسے رښتینی په دعوی د ایمان خپل کښ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ بیشکه چه خدائی تعالیٰ پوهیږی عالم دے په پټو څیزونو له بندګانو نه په اسمانونو او زمکه کښ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ او خدائی تعالیٰ لیدونکے دے هغه کارونو لره چه کوئی ئے تاسے له رښتینی ایمانه یا له نفاق. نسأل الله تعالیٰ التوفیق للطاعات والکمالات والختم علی السعادات والحشر فی زمر الصدیقین والصدیقات انه مجیب الدعوات والقاضی الحاجات ونصلی علی حبیبه محمد اضعاف التحیات واصناف الصلوٰة والبرکات وآخر دعوٰنا ان الحمد لله رب العلمین ط



قٓ ۚ وقف خدائی تعالیٰ عالم دے په معنیٰ د دے حرف او ایمان راوړے دے مونږه په هغه چه مراد د خدائی تعالیٰ دے له دے حرف وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ ﴿١﴾ او قسم دے په قرآن بزرګ ف دے ځائے کښ جواب د قسم محذوف دے چه لَتُبْعَثُنَّ دے معنیٰ دا چه قسم دئے په قرآن بزرګ چه ضرور خامخا به پورته کړے شئ تاسے له قبرونو په قیامت کښ او دا کافران پرے یقین نهٔ کوی بَلْ عَجِبُوا أَن جَاءَهُم بلکه تعجب کوی دغه کفار د قریشو له دے چه راغلو دوی لره مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ پیغمبر ویرونکے له عذابه چه له جنسه د دوی دے فَقَالَ الْكَافِرُونَ پس ویل به کافرانو چه هَٰذَا شَيْءٌ عَجِيبٌ ﴿٢﴾ دا ویرول د محمد صلے الله علیه وسلم مونږه لره له عذابه د خدائی یو څیز او خبره عجیبه ده او نایاب دے أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۖ آیا هرکله چه مړهٔ شو مونږه او خاورے شو په قبرونو

کښې پس بیا به هم مونږه ژوندی کیږو ذٰلِكَ رَجۡعٌۢ بَعِيۡدٌ ③ دغه کرځیدل حمونږه بیا ژوندون ته یو کرځیدل لرې له عادت او امکان دی پس خدائې تعالیٰ بیا د یاره دارد د دې خبرې د دوئې وائې چه قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنۡقُصُ الۡاَرۡضُ مِنۡهُمۡ ۚ په تحقیق چه پوهیږو او خبریو مونږه په هغه چه کموی ئې زمکه له پوستکو او غوښو او هډوکو د دوئې یعنی هر قدرې چه دوئې ذره ذره او خاورې شي نو مونږه پرې خبردار یو پس ټول به جمع او ژوندی کوو د پاره د جزا او د سزا وَعِنۡدَنَا كِتٰبٌ حَفِيۡظٌ ④ او مونږه څخه کتاب دې ساتونکې د نومونو او تفصیلونو د دوئې یا چه ساتلې شوې دې له شیطانانو یا له تغییره او تبدیله نو بیا ژوندی کول د دوئې را با ندې گران نهٔ دی بَلۡ كَذَّبُوۡا بِالۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ بلکه نسبت د دروغو کړې دې دوئې قرآن ته هرکله چه راغې دوئې ته او بیا دوی عاجز شول له جوړولو د یو سورت په مثل د هغهٔ فَهُمۡ فِىۡۤ اَمۡرٍ مَّرِيۡجٍ ⑤ پس دوئې په یو کارگډوډ او پریشانه کښې دی ځکه چه کله دوئې قرآن ته سحر وائې او پیغمبر ته ساحر وائې او کله قرآن شعر او پیغمبر ته شاعر او کله قرآن ته کهانت او پیغمبر ته کاهن وائې۔

اَفَلَمۡ يَنۡظُرُوۡۤا آیا پس نهٔ گوری دغه منکران له بیا ژوندون او له قیامته اِلَى السَّمَآءِ فَوۡقَهُمۡ طرف د آسمان ته چه پورته او دپاسه د سرونو د دوی دې چه محض په قدرت خپل كَيۡفَ بَنَيۡنٰهَا څرنگه بنا کړې او جوړ کړې دې مونږه دغه آسمان بې ستنو طبقه په طبقه وَزَيَّنّٰهَا او بنائسته کړې مو دې په ستوریو سره وَمَا لَهَا مِنۡ فُرُوۡجٍ ⑥ او نهٔ شته دغه آسمان کښې هیڅ چاودونه او سوری پس پیدا کول د دا رنگ لویو څیزونو بې چودو او نورو علتونو دلیل دې په کمال قدرت د الله تعالیٰ وَالۡاَرۡضَ مَدَدۡنٰهَا او آیا نهٔ گوری دوئې زمکې چه څرنگ غوړولې ده مونږه په مخ د اوبو وَاَلۡقَيۡنَا فِيۡهَا رَوَاسِىَ او غورځولی او اچولی مودی په دغه زمکه کښې غرونه لوی لوی او محکم محکم د پاره د قرار نیولو او محکم کیدلو د دغه زمکې وَاَنۡۢبَتۡنَا فِيۡهَا او زرغونه کړی مودی په دغه زمکه کښې د پاره د نفع ستاسې مِنۡ كُلِّ زَوۡجٍۢ بَهِيۡجٍ ⑦ له هر قسم گیا تازه او بنائسته او خوشحالونکې تاسې

لره پس دغه ټول کارونه موجه کړي دي تَبْصِرَةً دپاره د زیرکتیا یعنی د پاره د نظر دعبرت کولو او دلیل په قدرت څمونږه وَ ذِكْرٰى او دپاره دپند اخستلو لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ﴿۸﴾ د پاره د هرهغه بنده چه ګرځید ونکی وی طاعت څمونږ ته وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ او ښکته راليږلی مودی له طرفه داسمانه مَآءً مُّبٰرَكًا او به ډیرې خیرې او ډیرې برکتی او ډیرې نفع - فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ پس زرغونه موکړه په دغه اوبوسره باغونه چه قسم قسم رنګارنګ ونې او میوې پکښ وی وَحَبَّ الْحَصِيْدِ ﴿۹﴾ او همدارنګه دانې یعنی کښت چه ريبلې او پریکولې شی په وخت د رسيد لو کښی لکه غنم او اوربشې او شولې اوجوار اومسوّ او باګړی او مټ او جنرې اوغوخت او مترا او لوبیا ـ همدارنګ نور ډیر زرګونه څیزونه وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ او زرغونې کړې مودی په دغه اوبوسره ونې د خرما او کهجورې لوړې لوړې اوچاویلی دی چه بلاربې یعنی باردارې اوحمل دارې لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ﴿۱۰﴾ چه وی دغه خرماؤلره شخولی اوږګی لاندې باندې ډیر او دغه ټولې دانې او میوې موپیدا کړی دی رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ دپاره د روزی د بندګانو وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا اوژوندی کړې موده په دغه اوبوسره زمکه مړه یعنی وچه شوې كَذٰلِكَ هم دارنګ په مثل د ژوندئ کولو ددې زمکې پس له وچیدلو الْخُرُوْجُ ﴿۱۱﴾ راوتل ستاسې دی له قبرونو یعنی ژوندی کیدل موږ قیامت دپاره د حساب اوس دپاره د تسلئ ورکولو رسول خیل لره الله تعالیٰ فرمائی چه ته مهٔ خفه کیږه په تکذیب ددې قوم خپل ځکه چه كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ نسبت ددروغو کړې وو پخواله دې اهلِ مکه قَوْمُ نُوْحٍ ټولې او امت د نوحؑ چه بنی شیث اوبنی قابیل وو پیغمبرخپل ته وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ او یارانو دکوهی یمامې یاد معطلې یا دجبل فتح هغه پیغمبرخپل ته چه نوم ئې خنظلؑ وو ـ وَثَمُوْدُ ﴿۱۲﴾ اوثمودیانو پیغمبرخپل ته چه صالحؑ وو وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ اوعادیانو هودؑ اوفرعون اوقوم ئې موسیٰؑ ته وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ﴿۱۳﴾ او ورونړه یعنی قوم د لوطؑ پیغمبر خیل ته وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ او یارانو دهغه ځنګل شعیبؑ ته وَقَوْمُ تُبَّعٍ او قوم د تبّع

نامی بادشاه ته په یمن کښې چه په اسلام مشرف شوے وو او بیا قوم خپل ئے اسلام
ته بللے وو کُلٌّ کَذَّبَ الرُّسُلَ دغه ټولو تیر و شویو چه وو نسبت د دروغو ئے کړے وو پیغمبرانو
خپلو ته په مثل د دے اهلِ مکه و فَحَقَّ وَعِیۡدِ ⑭ پس لائق او واجب شهٔ په هغوئی ټولو نازلیدل د
عذاب ځما نو ته هم مهٔ خفه کیږه اے محمد ﷺ که چرے د اقریش منع نهٔ شول او هم دغسے کوی
نو دوئی به هم هلاک کړم دهغوئی په شان اَفَعَیِیۡنَا بِالۡخَلۡقِ الۡاَوَّلِ ط ایا پس څهٔ ستومانه شوی او
زهیر شوی او عاجزه شوی وو مونږه په اول پیدا کولو سره چه کړی بیا ئے ژوندی نهٔ کړو
فائده دغه استفهام انکاری دے یعنی مونږه نهٔ یو ستومانه شوی په اول پیدا کولو سره پس
همدا رنګه کران او سخت نهٔ دی بیا پیدا کول د دے خلقو په مونږه بَلۡ هُمۡ فِیۡ لَبۡسٍ مِّنۡ خَلۡقٍ جَدِیۡدٍ ⑮ ع ۱۵
بلکه دی دغه کافران د مکے په شک او شبه کښې له بیا پیدا کولو وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ او هر ائینه
په تحقیق پیدا کړے دے مونږه جنس بنی اٰدم وَنَعۡلَمُ مَا تُوَسۡوِسُ بِهٖ نَفۡسُهٗ ۚ اوحال دا چه
مونږه پوهیږو په هغه چه وسوسے اچوی ورته پرے نفس د دهٔ له فکرونو عبثو او ناکارو
وَنَحۡنُ اَقۡرَبُ اِلَیۡهِ مِنۡ حَبۡلِ الۡوَرِیۡدِ ⑯ او مونږه نزدے یو دهٔ ته له رګه د سانه ئے ف دغه
نزدے والے هر بنده ته په علم او قدرت سره دے نهٔ په مکان او مسافت سره اِذۡ یَتَلَقَّی یاد که هغه
چه جمع کوی او لیږی او له ځانه سره بیا اخلی خبرے او کارونه د بندګانو الۡمُتَلَقِّیٰنِ هغه دوه ملائکے
مسلط او یادونکے او جمع کونکے او لیکونکے د عملونو د سړیو عَنِ الۡیَمِیۡنِ چه ناسته وی یو ښی طرف
دسړی ته د پاره د لیکلو د نیکئ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِیۡدٌ ⑰ او بله په چپ طرف دسړی ناسته وی
د پاره د لیکلو د بدئ مَا یَلۡفِظُ مِنۡ قَوۡلٍ نه کوی سړے له کومے خبرے او له کاره اِلَّا لَدَیۡهِ رَقِیۡبٌ
عَتِیۡدٌ ⑱ مګر چه وی له دهٔ سره ملائک ساتونکی او یادونکی د عملونو د دهٔ او تیاره حاضره
وی ته چه هرګز ترے نهٔ جدا کیږی او هر چه دے وائی او کوی ئے نو فی الحال ئے لیکی روایت
دے له رسول الله صلے الله علیه وسلم نه چه هر بنده سره دوه دوه ملائک مقرر دی د پاره
د لیکلو د عمل د دهٔ که نیکی وی یا بدی پس هغه چه نیکی لیکی مقرر دے په ښی طرف دسړی
او هغه چه بدی لیکی مقرر دے په چپ طرف دسړی او دغه لیکونکی د نیکیو امیر او بادشاه دے

په هغه لیکونکی د بدیو پس هر کله چه سړے یوه نیکی وکړی نو هغه ملائک د ښی طرف ئے فی الحال ولیکی یو په لس بلکه زیات هم او چه یو بدی وکړی نو هم دغه ملائک د نیکئ لیکوونکے بل ته وائی چه ته صبر وکړه او بدی ئے مهٔ لیکه او وه ساعته بنا ئیږی چه دا سړے توبه وباسی او سبحان الله به وائی لکه په تفسیر معالم التنزیل کښې دا بیان دے . وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ط او راغله بے خودی د مرګ په رښتیا سره نو پس په دغه وخت کښې ویلے به شی مرشو ید ونکی ته چه ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ⑲ دا مرګ او سختی ستا هغه ده چه وے ته به ترے تختید لے او ویرید لے هول له دے وخت وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ ط او پوکلے به شی په شپیلئ د اسرافیل ؑ کښې د پاره د ژوندی کیدلو او پورته کیدلو د مخلوق له قبرونو په اذن د خدائی تعالیٰ سره پس دا به هغه دویم پوکل وی او بیا وائی به ورته ملائک چه ذٰلِكَ دا ورځ د پوکلو په شپیلئ کښې يَوْمُ الْوَعِيْدِ ⑳ هغه ورځ د ویرولو د کافرانو ده په عذاب سره وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ او راځی به هر نفس دار مَعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ㉑ چه وی به ورسره یو ملک شړونکے د هٔ لره محشر ته او بل ملائک شاهد په عملونو د دهٔ یعنی دوه دوه ملائک به له هرچا سره وی او الله تعالیٰ به ورته وائی چه لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا اهٔ انسانه په تحقیق وے ته په دنیا کښې په ناخبرئ او ناپوهئ کښې له دے ورځے یعنی په دنیا کښې بالکل ډیره کړے او شا ته غورځولے وه او له نارواؤ ډ پرهیز نهٔ کولو فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ پس بیرته موکړه ستا له سترګو هغه پرده فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ㉒ پس سترګے ستا نن ورځ ډیرے تیرے دی په نظر کولو او لیدلو کښې چه هر څهٔ له نیکئ او بدئ خپله به وینی وَقَالَ قَرِيْنُهٗ او وائی به هغه ملګرے او رفیق د دهٔ یعنی هغه ملائک چه مسلط او مقرر وو په دهٔ په دنیا کښې دا سے چه هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ط ㉓ دا دی هغه چه ما څخه دی له دفتره د عملونو د دهٔ حاضر او تیار پس بیا امر به وکړی الله تعالیٰ پس له حسابه هغو دوه ؤ ملائکو ته چه سائق او شاهد دی دا سے چه أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ واچوئ او ګذار کړئ تاسے دواړه په دوزخ کښې كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ㉔ هر هغه کافر ناشکره او عناد کونکی له حق سره مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ چه بندونکے وی نیکئ لره یعنی منع کونکی د زکوٰة د مال خپل وی او یا منع کونکی وی

دوړی یا د خوئ خپل له خیرات کولو مُّعۡتَدٍ مُّرِيۡبِۨ ﴿۲۵﴾ د هر هغه تیریدونکی له حدونو د
خدائ او شک کونکی په وحدانیت د خدائ تعالیٰ او په رسالت د رسول کښ الَّذِیۡ جَعَلَ مَعَ
اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ هغه چه کړځولے ئے دے له خدائ سره معبود بل سوا له دهٔ فَاَلۡقِيٰهُ فِی
الۡعَذَابِ الشَّدِيۡدِ ﴿۲۶﴾ پس ګذار کړئ او واچوئ تاسے دواړه دغه رنګ سړے په عذاب سخت
همیشه کښ او بیا چه دوزخ کښ ئے اچوی نو وائی به هغه کافر چه خما خه ګناه ده زهٔ خو شیطان
ګمراه کړے یم چه د هغه په خوله م دا کارونه کول پس نو شیطان به فی الحال هم په هغه
ساعت حاضر کړے شی چه تپوس وکړے شی نو منکر به شی شیطان لکه چه وائی قَالَ قَرِيۡنُهٗ
رَبَّنَا مَاۤ اَطۡغَيۡتُهٗ وائی به هغه ملګرے د دهٔ یعنی شیطان چه اے ربه خمونږه نهٔ وو بے
لارے کړے ما دے په زور سره وَلٰكِنۡ كَانَ فِیۡ ضَلٰلٍۢ بَعِيۡدٍ ﴿۲۷﴾ مګر وو دے په خپله په دنیا
کښ په ګمراهئ لرے کښ له لارے سے نو ما به غوښتو ګمراهئ سرکشئ ته پس دهٔ به متابعت
خما کولو بیا به هغه کافر و وائی چه اے ربه دا شیطان دروغ وائی زهٔ هم دهٔ ګمراه کړے
یم بیا نو قَالَ لَا تَخۡتَصِمُوۡا لَدَیَّ وبه وائی ورته الله تعالیٰ چه جګړه مهٔ کوئ د لته کښ ما خخه
هیخ فائده نهٔ کوی ځکه چه وَقَدۡ قَدَّمۡتُ بِالۡوَعِيۡدِ ﴿۲۸﴾ او په تحقیق ورومبے درلیږلے وو ما
تاسے ته دنیا کښ ویرول له عذابه د دے ورځے که مؤمنان نهٔ شوئ په ژبه د رسولانو خپلو
او اوس هیخ حجت او دلیل ستاسے پاتے شوے نهٔ دے او هیخ قدر دے عذر ستاسے اوریدلے
نه شی ځکه چه مَا يُبَدَّلُ الۡقَوۡلُ لَدَیَّ نهٔ شی بدلیدلے خبره ما خخه په دغه باب کښ وَمَاۤ
اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِيۡدِ ﴿۲۹﴾ او نهٔ یم زهٔ تیرے کونکے په بندګانو چه بے ګناه به عذابوم خوک
يَوۡمَ نَقُوۡلُ لِجَهَنَّمَ یاده که هغه ورځ چه وبه وایو مونږه قیامت کښ دوزخ ته دا رنګ
چه هَلِ امۡتَلَاۡتِ آیا ډک او موړ شوے ته له خلقو ځکه چه وعده د ډکوالی ستا م کړے ده
وَتَقُوۡلُ هَلۡ مِنۡ مَّزِيۡدٍ ﴿۳۰﴾ او وبه وائی دغه دوزخ په طریقه د سوال چه آیا نور خهٔ تیرے
هم شته دے یعنی زهٔ لا نهٔ موړ شوے نهٔ یم ځکه چه حدیث کښ په تفسیر معالم التنزیل
کښ راغلی دی چه دوزخ به هم دغه شان آوازونه او سوالونه د هَل من مزید کوی بیا به

خلق پکښې واچولے شي پس بیا به دغه رنګ اوازونه او سوالونه کوي بیا به نور خلق پکښې واچولے شي او دے بیا به اوازونه کوي حتی چه رب العزت به قدم مبارك خپل کیږدي پکښې پس بیا به یو ځائې شي دوزخ بعضے له بعضے نورو سره او فریاد به وکه چه اے خدایه بس دے نشه مونږ شوم اوچا ویلي دي چه دغه قول د هل من مزید اګرکهٔ استفهام د سوال دے په ظاهره لیکن دا استفهام انکاري دے په معنیٰ نوحاصل ئے دا شو چه وائي به دوزخ چه ایا شته په ما کښې څه کوم ځائې تیرے او زیاتي یعني بنهٔ ډك شوم نور ځائې را کښې نشته وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ اونزدے به کړے شي جنت لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿۳۱﴾ پرهیزګارانو ته چه نهٔ به وي لرے له دوئ فائدہ دغه نزدے کول او ښودل دجنت دوئ ته پخواله داخلیدو د دوئ به وي پکښې محض دپاره دخوشحالئ ددوئ پس وائي به دوئ خدائ تعالیٰ ته چه هٰذَا مَا تُوعَدُونَ دا چه ئے په سترګو وینئ هغه جنت دے چه وعده کولے شوې وي تاسے په دنیا کښې پرے په ژبه د رسولانو لِكُلِّ أَوَّابٍ دپاره د هر هغه کرځیدونکي له کفره ایمان ته او له باطله حق ته او له بدئ نیکئ ته او له خلقو حق ته حَفِيظٍ ﴿۳۲﴾ چه ساتونکے او رعایت کونکے وي حدونو د خدائ تعالیٰ لره له رواو او ناروا او نه یا ساتونکے نفس خپل لره له ګناه نه مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ دپاره د هر هغه چا چه ویریږي له خدایه په ترك د ناروا و سره په نالیدلو وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ ﴿۳۳﴾ او راوړے ئے وي یا راغلے وي په خپله قیامت کښې په زړهٔ کرځیدونکي سره حق ته پس نودا رنګ سړیو ته چه دغه شان کارونه ئے کړي وي ویلے به شي ورته له خدایه چه ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ننوځئ جنت ته بے غمئ او امن سره له هرئ ویرے یا په سلام ویلو په تاسے له جانبه د خدائ او له ملائکو ذَٰلِكَ دا ورځ دداخلیدو يَوْمُ الْخُلُودِ ﴿۳۴﴾ هغه ورځ دهمیشه اوسیدلو او پاتے کیدلو ده په جنت کښې چه مرګ بیا نهٔ شته لَهُمْ مَا يَشَاءُونَ فِيهَا شته مؤمنانو جنتیانو لره هغه نعمتونه او لذتونه چه ئے غواړي او ورته ئے اراده کیږي په جنت کښې وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴿۳۵﴾ او مونږ څخه تیرے والے هم شته دے له عملونو او غوښتلو د دوئ

یعنی چه دوئی بهٔ بنه غلونه کړی دی یا ئے دوئی غواړی پس هغه به هم ورکړے شی ف په حدیث
کښی دی چه عه انهم یسئلون الله تعالیٰ حتی ینتهی مسئلتهم فیعطون ما شآء واثم یزیدهم الله
من عنده مالم یسئلونه قال انس رض وجابر رض هو النظر الی وجه الله الکریم وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ او ډیر
عالَم هلاک کړی دی مونږه مخوا له کفارو د قریشو مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا له امتونو چه
هغوئی سخت او محکم وو له دے کفارو د قریشو له جهته د قوته فَنَقَّبُوْا فِی الْبِلَادِ ط پس تللی او
ګرځیدلی وو هغوئی په زمکه کښی د پاره د سوداګرئ یا نورو مطلبونو خپلو هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۶﴾
او بیا څهٔ وو دوئی لره یا ئے بیا مونده ځان خپل لره یو ځائے د پناه د تیختے یا د خلاصی له عذابه
او مرګ د خدائی ف دا استفهام انکاری دے یعنی نهٔ به وو دوئی لره ځائی د پناه او د خلاصی
یعنی هرکله چه ورلره مرګ راغے نو ټول مړه شول او خلاص نهٔ شول له مونږه اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ
لَذِكْرٰی بیشکه چه په دغه خبر تیرو تیرو شویو په دے سورت کښی هرائینه پند اخستل دی
لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ د پاره د هغه چا چه وی ده لره زړهٔ د پوهیدلو او د فکر کولو په حق کښی
اَوْ اَلْقَی السَّمْعَ یا کیږدی غوږونه خپل وعظ او قرآن ته وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿۳۷﴾ او حال دا چه دے
حاضر وی په زړهٔ خپل سره په وخت د وعظ کیدلو کښی او غافل ترے نهٔ وی روایت دے
چه یو ورځ تپوس او پوښتنه وکړه یهودیانو له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د بیان او تفصیل
د هغه چه پیدا کړی دی خدای تعالیٰ په دے شپږ و ورځو کښی نو حضرت دوئی ته وویل په
جواب کښی چه پیدا کړے ده خدای تعالیٰ په قدرت خپل سره زمکه په ورځ د اتوار او دیر
کښی او پیدا کړی ئے دی غرونه په ورځ د نهے کښی او ښارونه او ونے او رزقونه د مخلوق په ورځ د
چارشنبے کښی او آسمانونه او ملائک په ورځ د زیارت او د جمع تر درے ساعتونو پورے او بیا په بل
ساعت کښی هم د دغه ورځے د جمع کښی ئے پیدا او مقرر کړه اجلونه او نیټے د مرګ د مخلوق

عه بدرستیکه جنتیان میخواهند از خدا نعمتها تا انکه تمام جواهد شد سوال ایشان پس داده شوند آنچه خواهند پس زیاده خواهد داد خدا از نزد خود آنچه نخواسته باشند
و نه در خاطر ایشان باشد گفت جابر و انس که از زیادتی دیدار پروردگار خواهد بود ۱۲ه د جنتیان به غواړی له خدایه نعمتونه قسما قسم تر هغه پورے
چه خلاص به شی سوالونه د دوئ پس ورکړے شی هغه چه دوئی غوښتی وی بیا به تیرے ورکړی دوئی لره خدائی له
نزده خپله هغه چه نه وی غوښتی دوئ ویلی دی انس رض او جابر رض چه هغه دیدار د خدائی دے ۱۲

او بل ساعت هم د دغه ورځے کښې ئے آدم علیه السلام پیدا کړو بیا یهود ووئیل چه رښتیا دی که ورپسے نو دهم رښتیا دی وائی نو رسول ؐ ووئیل چه نو رخه رښتیا ووائیم پس هغوئی ووئیل چه بیا خدائی تعالیٰ په ورځے دخالی کښې کیناست په عرش مجید باندے دپاره د ستومانی

ویستلو نو الله تعالیٰ دپاره درد د قول دهغوئی نازل کړو چه وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ اوهرآئینه په تحقیق پیدا کړی دی مونږه آسمانونه او زمکه اوهغه عالم چه په مینځ ددے دواړو کښې دے په مقدار د شپږ و ورځو کښې له ورځے داتواره تر ورځے دخالی پورے وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿۳۸﴾ اونه دے رسیدلے مونږ ته په دغه پیدا کولو کښې هیڅ مشقت او ستومانی روایت چه رسول علیه السلام په دغه خبره د دوئی یعنی دنا ستے دخدائی تعالیٰ په عرش په طریقے دستومانی سره ډیر خفه او په غضب شو حتی چه مخ مبارك ئے سور شه له ډیره غضبه پس بیا نازل شهٔ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ پس صبر کوه ته اے رسول علیه السلام او مهٔ خفه کیږه په هغه چه وائی ئے یهودیان یا په جنس خبرو او ضرر ونو د مشرکانو ف دغه حکم پخواله امره په جهاد وو بیا منسوخ شوے دے په آیت د سیف سره وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ او پاکی وایه یعنی مونځ کوه په دے حال چه ویونکے د ثنائے خدائی خپل لره قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ پخواله راختلو او ظاهریدلو له نمره چه مونځ د سبا دے وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿۳۹﴾ او پخواله ډوبیدلو ئے چه دوه مونځونه د ماسپخین او مازدیگر دی وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ او بعضے له شپے نه پس ته مونځ کوه خدائی لره چه دوه مونځونه د ماښام او د خفتن دی وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿۴۰﴾ او مونځ کوه نفل پس له سجدو د فرضو او چا ویلی دی چه مراد له دے ورروستی وتر پس له مونځ خفتن دی او چا ویلی دی چه مراد تر ے سُبحان الله والحمدلله ویل پس له هر مانځه په طریقے د سنت سره وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾ او واوره هغه ورځ چه آواز کاندے آواز کونکے له ځائے نژدے نه۔ معنیٰ دا ده چه غوږ کیږده اے محمد صلی الله علیه وسلم آواز د قیامت او د پورته کیدونه په هغه ورځ چه آواز اوکړی آواز کونکے روایت کوی معالم له مقاتل نه چه آواز کونکے اسرافیل ؑ دے او به وکړی چه اے هډوکو زړو رژیدلو او اے بندونو

جدا کړیو شویواو اے عوښوتار په تارکړے شویو او وینښتو خورو کړے شویو په تحقیق الله تعالیٰ
وائی او حکم کوی تاسے ته چه یو ځائی شئ تاسے دپاره دحکم او دفیصلے کولو په مینځ کښ ستاسے کښ هغه
ځائی نزدے کا نړی دبیت المقدس ته او هغه مینځ د زمکے دے او هغه زمکه نزدے ده اسمان ته اتلس
میله له نورے زمکے نه یَوْمَ یَسْمَعُوْنَ الصَّیْحَةَ بِالْحَقِّ ط هغه ورځ چه واوری دوئی اواز په حق
سره چه حق ظاهر شی او دغه شپیلئ دویمه او بوکے وروستے دے ذٰلِكَ یَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾ هغه
ورځ دوتلو ده چه راووبه وځی له قبرونو نه دپاره دحساب اِنَّا نَحْنُ نُحْیٖ وَنُمِیْتُ په تحقیق مونږه
ژوندی کول او مړه کول کوو چه پوره شی اجلونه وَاِلَیْنَا الْمَصِیْرُ ﴿۴۳﴾ او خاص مونږ ته دی
راګرځیدل نو راجمع به شئ مونږ ته په اخرت کښ یَوْمَ تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ط هغه
ورځ چه څیرے به شی زمکه له دوئی نه نو راوبه وزی دوئی په چا بکئ سره ذٰلِكَ حَشْرٌ
عَلَیْنَا یَسِیْرٌ ﴿۴۴﴾ هغه جمع کول په مونږه باندے اسان دی نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا یَقُوْلُوْنَ مونږه ډیر
عالمان یو په هغه څه چه دوئی وائی نو جزا به ورکړو برابره د ویلو د دوئی وَمَا اَنْتَ عَلَیْهِمْ بِجَبَّارٍ قف
او نه ئے ته په دوئی باندے زورکونکے چه مسلمان کړے دوئی په زور باندے بلکه ته خولیږلے
شوے ئے نصیحت کونکے نو وعظ وکړه ته او وګوره څما حکم ته فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ یَّخَافُ وَعِیْدِ ﴿۴۵﴾
نو وعظ وکړه او ویروه په قرآن سره هغه څوک چه ویریږی له ویرے څمانه او له
عذ ابو لو څمانه نو هغوئی ته به نفع وکا خلاف له هغه چانه چه بد بخت ازلی وی معالم
روایت کړے دے له ابن عباسؓ چه وویل دوئی یارانو د پیغمبرؐ یا رسول الله که ته وویروے
مونږه نو نازل شهٔ فذکر بالقرآن من یخاف وعید ط

سورة الذّٰریٰت ۵١ مکیة ٦٧ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — اٰیاتها ٦٠ رکوعها ٣

وَالذّٰرِیٰتِ ذَرْوًا ﴿۱﴾ قسم خورم په بادونو الوزونکو الوزول چه الوزوی خاورے یا هغه شے
چه اراده وی د الله د الوزولو د هغه فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ﴿۲﴾ پس قسم خورم په هغه وریځو پورته
کونکو د بادونو هغه وریځے چه پورته کوی بار له اوبو نه فَالْجٰرِیٰتِ یُسْرًا ﴿۳﴾ پس قسم خورم

په هغه بیړیو او جهازونو تلونکیو سره چه ځي په اسانۍ سره فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ﴿۴﴾ پس قسم
خورم په هغه ملائکو ویشونکیو د کار چه ویشي کارونه په مینځ د خلقو کښې په هغه شان سره
چه حکم کړے شوے وي دوئ ته او ویلے شوي دي چه هغه ویشونکی څلور دي یو جبریل ؑ دے
چه وحی رسوي پیغمبرانو ته پوره او صاحب د سختۍ دے او بل میکائیل ؑ دے چه صاحب د
رزق او رحمت دے له طرفه د الله. او بل اسرافیل ؑ دے صاحب د شپیلۍ او د لوح محفوظ
دے او بل عزرائیل ؑ دے صاحب د قبض کولو د ارواحو. نو قسم وخوړ خدائے تعالیٰ په دے
څیزونو باندے له دے سببه چه له دوئ نه معلومیږي لوي لوي کارونه د الله نو اوس ذکر
کوي د هغه شي چه الله قسم خوري په هغه نو وائي اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ﴿۵﴾ وَّاِنَّ الدِّيْنَ
لَوَاقِعٌ ﴿۶﴾ خبره هم دا ده چه هغه چه وعده کړے شوے ده له تاسے سره خامخا هغه رښتیا ده او
په تحقیق سره حساب او بدله د نیکو کارونو او بدو په تحقیق واقع کیدونکے او راتلونکے ده نو
لے خلقو ځان ورته تیار کړئ او الله پاک بل قسم خوړلے دے او ویلي ئے دي. وَالسَّمَآءِ
ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿۷﴾ او قسم خورم په اسمان چه صاحب د پیدا او خت بنائسته دے چه محکمه
کړے شوے ده بنا د هغهٔ او یا معنے دا چه صاحب دے د لارو. اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿۸﴾ په
تحقیق سره تاسے په یوه خبره مختلف کښې يئ. نو بعضے وائي چه دا قرآن سحر دے او فال بیني
ده او قصے د وړومبو خلقو دي او وائي په حق د محمد صلی الله علیه وسلم کښې چه ساحر او شاعر
او لیونے دے يُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ اُفِكَ ﴿۹﴾ کرځولے شي له ده نه هغه څوک چه کرځولے شوے دے
معنیٰ دا ده چه هغه څوک چه معلوم وو الله تعالیٰ ته چه دوئ ایمان نه راوړي په محمد صلی
الله علیه وسلم نو وګرځولے شوله دهٔ نه او ایمان ئے رانهٔ وړ په دهٔ او په قرآن قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴿۱۰﴾
لعنت کړے شوے دے او هلاک کړي شوي دي دروغ ګونکي پیغمبر لره او دوئ هغه ویشونکي دي
چه ویشلے ئے وے لارے د مکے او خبرے د حق د رسول الله ؐ کښې چه ګرځوي خلق له دین
او د اسلام نه او ویلي دي مجاهد رض چه دوئ کاهنان دي اَلَّذِيْنَ هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ﴿۱۱﴾
هغه چه دوئ په خبرے خپلے کښې او په ړوند والي او په ناپوهۍ کښې عبث کونکي دي او بے خبره

دی له کاره د آخرت نه يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۲﴾ سوال کوی دوی چه کله به وی ورځ د
جزا نو وائی تاته اے محمد صلے الله علیه وسلم د پاره د دروغ کولو او د خندلو چه کله به وی
ورځ د جزا چه بولی خدائی ستا ورځ د قیامت يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ﴿۱۳﴾ کیږده د جزا په هغه
ورځ دی دوی کښی چه دوی په اور باندے عذابولے شی او سوځولے شی ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ۚ وُځکی
تاسے عذاب خپل-دا به ورته وائی هغه خدمتګاران د دوزخ. هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۴﴾
دا هغه عذاب دے چه وئ تاسے چه په جلتی سره غوښتو تاسے په دنیا کښی په دے قول سره چه
فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا. یعنی راوړه مونږ ته هغه چه ته ئے وعده کوے له مونږ سره چه عذاب دے پس
لمحاله د کافرانو ذکر کړے دے خدائی پاك حال د مؤمنانو او ویلی ئے دی اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ
وَّ عُيُوْنٍ ﴿۱۵﴾ اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۚ په تحقیق پرهیزګاران او ځان ساتونکی له بدو
عقیدو او له بدو خویونو او له مخالفت کولو له قرآن او له حدیث نه په لویو لویو باغونو کښی
او په ولو کښی به وی اخستونکی به وی د هغو نعمتونو چه ورکړی دی دوی له رب د دوی
او پالونکی د دوی چه هغه هسے خیر او بزرګی او نعمتونه دی چه نه د چا غوږ ونو اوریدلی دی
او نه د چا سترګو لیدلی دی او نه د چا په زړونو کښی تیر شویدی او دا مرتبه دوی له دے سببه ده۔
اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶﴾ په تحقیق سره وو دوی مخوا له دے نه نیکی کونکی په دنیا کښی
مخوا له نو تلو له جنته كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وو دوی چه په لږه د شپے نه
اوده کیدل دوی معالم کښی روایت دے له سعید بن جبیر رض نه هغه له ابن عباس رض چه معنیٰ
ئے دا ده چه وو دوی چه لږه شپه تیریده په دوی باندے چه دوی به مونځ کولو په هغې کښی
یا په اول کښی یا په آخر کښی بلکه ډیره لږه شپه به ئے هسے پریخوله. وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ
يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ او په وخت د سحرونو کښی به دوی بخښنه غوښته د ګناهونو خپلو له رب خپله
ویلی دی حسن رح چه نه اوده کیدل دوی په شپه کښی مګر لږ او په ورځے به خوشحاله شو دوی په
مزدو عبادت خپل سره نو زیاتول به ئے وکړه د عبادت تر سحره پورے نو شروع به ئے وکړه په
وخت د سحر کښی په بخښنه غوښتلو کښی معالم کښی روایت دے له سهل ځوی د ابی صالح رح نه

چه هغه روایت کوی له پلاره خپله او پلار ئے له ابی هریره رض نه چه په تحقیق رسول الله صلے
الله علیه وسلم ویلی دی چه راکوزیږی الله تعالیٰ دے اسمان نزدے ته هره شپه چه باقی وی
دریمه برخه شپه. نو وائی چه زهٔ بادشاه یم څوك دے هغه چه وبلی ما نو زه به قبول وکړم د هغهٔ
څوك دے هغه چه سوال وکړی له ما نه نو زهٔ به ورکړم هغه لره څوك دے هغه چه طلب د بخښنے
وکړی له ما نه نو زهٔ به بخښنه وکړم هغهٔ ته وَفِيٓ اَمۡوَالِهِمۡ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالۡمَحۡرُوۡمِ ⑲ او په مالونو
د دوئ کښ حق وی او حصه وی د پاره د سوال کونکی او د هغه چا چه منع کړے شوی وی معنیٰ
د منع کړے شوی دا ده چه دے ځان ساتی له سواله نو منع کړے له ورکولو د خلقو نه وَفِي الۡاَرۡضِ
اٰيٰتٌ لِّلۡمُوۡقِنِيۡنَ ⑳ او په زمکه کښ نښانے دی او علامے او عبرتونه دی د پاره د یقین کونکیو نو
هغه وخت چه لا رسی دوئ په دے زمکه کښ نو وینی په هغے کښ غرونه او دریابونه او ونے او
میوے او قسم قسم گیاهونه او گلونه وَفِيٓ اَنۡفُسِكُمۡ ؕ او په نفسونو ستاسے کښ نښے دی ځکه
چه وو مَنِیُ بیا پارچه شوه د وینے بیا شوه لکه جویلے شوے غوښه پس شوهډوکی تر هغه
پورے چه پکښ پو کړے شهٔ روح او ننویستلے شوه پکښ سا نو په دے کښ لویه علامه او عبرت
دے کهٔ څوك لرٖ عقل لری اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ ㉑ ایا پس نهٔ گوری تاسے چه وینی تاسے چه څرنګه
پید اکړی الله تاسے نو به پوهـ شئ تاسے په قدرت د هغه په پورته کولو کښ له قبرو نو د پاره
د حساب وَفِي السَّمَآءِ رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوۡعَدُوۡنَ ㉒ او په اسمان کښ دے رزق او روزی ستاسے
او هغه چه تاسے سره وعده کړے شوے ده چه ثواب دے او عذاب دے او نیکی او بدی ده او جنت
او دوزخ دے فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالۡاَرۡضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ پس سوگند خورم په پالونکی او مالک د
اسمان او د زمکے چه په تحقیق دا رزق ثابت دے مِّثۡلَ مَآ اَنَّكُمۡ تَنۡطِقُوۡنَ ㉓ په مثل د هغه ع ۲۳ ۱۸
چه تاسے وایئ چه هغه څهٔ دی چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ دے نو په دے کښ خو هیڅ شک نشته نو
دارنګے په هغه رزق کښ چه الله مقرر کړے دے هیڅ شک نشته هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ ضَيۡفِ
اِبۡرٰهِيۡمَ الۡمُكۡرَمِيۡنَ ㉔ ایا راغلے ده تا لره خبره د میلمنو د ابراهیم علیه السلام چه لوی کړے
شوی وو او بزرگی ورکړے شوے وه سوال وکړهٔ الله تعالیٰ له پیغمبر نه د پاره د لوی والی دے قصے

اود پاره د خبرو کولو چه دا پیغمبر خبر نهٔ وولیکن ما خبر کړو نو دا معجزه ده د دهٔ د پیغمبرئ او که دا نهٔ وی نو د خدائ څهٔ حاجت وو د سوال کولو روایت دے چه وو دا میلمانه دولس تنه اوچا ویلی دی چه دا نهه کسان وو لسم ئے جبرائیلؑ وو دوئ خو میلمانهٔ نهٔ وو خو میلمانهٔ ئے وبلهٔ وویل چه دوئ په صورت د میلمنو و واو بزرګی ورکړے شوے وه دوئ لره چه دوئ د خدائ نیک بندګان وو او له دے وجه چه د لوئ سړی میلمانهٔ وو چه ابراهیمؑ وو هغه او بی بی د دهٔ خدمت د هغوئ او میلمانهٔ ئے تیار کړه په جلتی سره اِذْ دَخَلُوْا عَلَیْهِ هغه وخت چه راننوتل په دهٔ فَقَالُوْا سَلٰمًا ط پس وویل هغوئ چه سلام کوو مونږه په تا باندے سلام کول قَالَ سَلٰمٌ ج وویل دهٔ چه په تاسے باندے دِ سلام وی قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۲۵﴾ نو لے یئ نا آشنا راته ونبایئ چه تاسے څوک یئ فَرَاغَ اِلٰٓی اَهْلِهٖ پس لاړ دے عیال خپل ته په پټه له میلمنو نه چه جلتی وکړه په میلمستیا تیارولو کښی او خبرے نهٔ کړهٔ میلمانهٔ د پاره د دے چه دی منع نهٔ کړی له میلمستیا نه او د پاره د دے چه دا ادب شی د پاره د میلمنو او عزت شی په حدیث کښی پیغمبر علیه السلام ویلی دی که چا ایمان راوړے وی په الله او په رسول د هغه او په ورځے د قیامت نو عزت دِ وکړی د میلمه فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِیْنٍ ﴿۲۶﴾ پس راوړه دهٔ یو خسے څوربه فَقَرَّبَهٗٓ اِلَیْهِمْ قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۷﴾ پس نزدے کړهٔ دهٔ هغه دوئ ته د پاره د دے چه وخوری دوئ له هغه نه نو هغوئ و نهٔ خوړه دهٔ ایا نه خورئ تاسے بد وګڼل دهٔ له دوئ نه نهٔ خوړل او تېز ئے کړل په خوړلو باندے فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِیْفَةً ط پس پټه کړه دهٔ په زړهٔ کښی ویره له دوئ نه چه په تحقیق هغه څوک چه نه خوری طعام ستا و به نه شی له هغه نه امان ستا روایت دے له ابن عباس رضؓ نه چه واقع شوه په زړهٔ د دهٔ کښی چه په تحقیق دا ملائکے دی چه لیږلے شوی دی د پاره د عذاب نو څکه وویریدهٔ دے قَالُوْا لَا تَخَفْ ط وویل دوئ مهٔ ویریږه ته مونږ رسولان د الله تعالیٰ یو او ویلی شوی دی چه مسح کړهٔ جبریل هغه سخے پس پاسیده او یو ځائ شو له موره سره وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ عَلِیْمٍ ﴿۲۸﴾ او خوشخبری ورکړه دوئ دهٔ ته په هلک لوئ عالم سره چه دا به لوئ شی او علم به زده کړی او دا زیږے په نزد د اکثرو علماؤ د اسحٰق علیه السلام وو

فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِیْ صَرَّةٍ پس مخ کړه بی بی ددهٔ په آواز سره فَصَكَّتْ وَجْهَهَا نو په څپیړه ئې
ووهلو مخ خپل وے چه دا عادت د ښځو دے چه نا اشنا خبره واوری نو مخ ووهی وَقَالَتْ
عَجُوْزٌ عَقِیْمٌ ﴿۲۹﴾ او وے ویل چه زهٔ زړه یم شنډه نو څرنګه به زیګول وکړم زه لکه چه ئې ویلی
دی په بل ځائے کښې ءالد وانا عجوز وهذا بعلی شیخا ایا زیګول به وکړم زهٔ او زهٔ زړه یمه او
دا خښتن دے ځما زوړ قَالُوْا كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ؕ وویل دوئ په منزل د دے خبرے لوئ
ویلی دی مالک ستا او پالونکی ستا مونږه خو خبرله هغه نهٔ کوو چه له ځانه درته وایو اِنَّهٗ هُوَ
الْحَكِیْمُ الْعَلِیْمُ ﴿۳۰﴾ په تحقیق سره هم هغه دے محکم کونکے د کارونو او حکم کونکے په انصاف
او ډیر پوهیدونکے دے له هر چا نه نو خبره د هغهٔ حقه ده او کار د هغه محکم دے حکایت دے
په ابو سعود کښې چه جبریل علیه السلام ووے دے ته چه وګوره دے چهت د کور ستا و ته
نو هغے وکاتهٔ نو ناګاه لاهرګئ د هغے او برګے د هغے پانړے او میوے پکښې شوے وے قَالَ فَمَا
خَطْبُكُمْ اَیُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۱﴾ وویل ابراهیم علیه السلام څهٔ دے حال ستاسے او څهٔ د
د پاره لیږلے شوی یئ تاسے بے له خوشخبرئ نه بل څهٔ کار دے اے لیږلے شویو له طرفه د الله
نه. قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰی قَوْمٍ مُّجْرِمِیْنَ ۙ ﴿۳۲﴾ په تحقیق لیږلے شوی یو مونږه هغه قوم ګنهګار ته
لِنُرْسِلَ عَلَیْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِیْنٍ ۙ ﴿۳۳﴾ چه پریږدو او ولیږو مونږه په هغوئ باندے کانړی
له خټو نه مقصود هغه کانړی دی چه پاخه شوی وو له خټو نه لکه چه پخیږی خښتے نو شوی
وو دا رنګے لکه کانړی مُّسَوَّمَةً نښانه دار کړے شوی. لیکلے شوے وو په هر یو باندے نوم
د هغه چا چه په هغے سره هلاک کولے شهٔ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِیْنَ ﴿۳۴﴾ په نزد د رب ستا د پاره د
زیاتی کونکیو او له حد نه تیریدونکو خدای ورته مسرفان وویل لکه چه عادین ئے ورته
وویل ځکه چه دوئ تیر شو له حد نه او زیاتوالے ئې وکړهٔ په کارونو خپلو کښې ولے چه دوئ
صبر ونه کړو په هغه څیز چه روا کړے شوے وو د پاره د دوئ معنی د عادین له حد نه تیریدونکی
او دوئ هم له حد نه تیر شو نو ځکه الله تعالی ورته عادین وویل فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِیْهَا پس
وخکل مونږه هغه خلک چه وو په دے کلیو د لوط علیه السلام کښې مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۳۵﴾ له ایمان

راوړونکو نه په الله او په لوط علیه السلام باندے فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا پس بیانهٔ موند ه مونږه په

دے کلی ود لوط علیه السلام کښ غَيْرَ بَيْتٍ بے د یو کوره مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۶﴾ له مسلمانانو او وے وئیل

ورته مؤمنان او مسلمانان دواړه وئے چه په تحقیق سره نهٔ وی مؤمن مګر هغه څوک چه

مسلم وی مؤمن وائی منونکی د ټولو حکمونو د خدائی لره او مسلم وائی غاړه ایښودونکی ټولو

حکمونو د خدائی ته نو مؤمن په شرع د پیغمبر؏ کښ هله شی چه ومنی ټول حکمونه د خدائی او

غاړه ورته کیږدی وئے چه درمیان د دے دواړو کښ جمع ضرور ده په د ے معنیٰ سره چه

ایمان بے له اسلامه نهٔ وی اګرچه اسلام ظاهر کړدن ایښودل دی هغه کل په منافقانو کښ

هم راځی. او ویلے شوی دی چه لوط؏ او د هغهٔ د کور خلق چه خلاص شوی وو دیارلس وو

او ویلی شوی دی چه هغه خلاصوی شوی لوط؏ او د وه لوڼړه د دهٔ وے کذا فی تفسیر سراج

المنیر وَتَرَكْنَا فِيْهَآ او مونږه پریخود په دے کلی د لوط؏ کښ اٰيَةً یوه نښه لویه چه هغه کاڼړی

وو په هغو ... پرے ویستلے شوی وو یا او به وے بد بویه چه راوتے له دوی نه چه نهٔ وے

پشان د نو ... ورو وئے چه نهٔ وه ګناه د دوی په شان د ګناه د نورو خلقو لِلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ

الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۳۷﴾ د پاره د هغه خلقو چه ویریږی له عذاب دردوکونکی نه له وجه د جوړوالی

د طبیعت اصلی د ... نه او د وجه د نرم والی د زړونو د زړونو د دوی نو هغه څوک چه بغیر له

دوئی نه دی چه سخت شوی وی زړونه د دوی نو هغه څوک په دے اعتبار نهٔ کوی او نه ئے

شمیری چه دا نښه ده له طرفه د خدائی نه معنیٰ دا ده چه مونږ پریخے ده په دے کښ یوه

نښانه د پاره د ویرونکیو نو هغه نښائی دوئی ته دا خبره چه الله هلاک کړه دوی نو دوی ویریږی

له عذابه د هغوئی نه نو ځان وساتی له بدکارئی د هغوئی نه وَفِىْ مُوْسٰى او پریخے ده مونږه په قصه

د موسیٰ؏ کښ نښانه او عبرت اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰى فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ هغه وخت چه

ولیږلو مونږه د ے فرعون په دلیل ظاهره سره فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ نو را او ګرځیده دی سره د جمع

او د لښکر خپل چه دهٔ ځان قوی کولو په دوئی سره وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۳۹﴾ او وئیل دهٔ چه دا جادو ګر

دے یا لیونے فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِى الْيَمِّ پس ونیوه مونږه دے او لښکرے د دهٔ نو

وُم غورځول دوی په دریاب کښې وَهُوَ مُلِيْمٌ ۝۴۰ او دهٔ راتله کړی وو په هغه څهٔ چه دوی
پرے ملامت کړے شوی وو چه هغه دعوی د خدائی وه او دروغ کول د رسولانو وو وَفِيْ عَادٍ
او په هلاکولو د عادیانو کښې همدا رنګے نښے او نصیحت دے دپاره د نصیحت قبلونکی اِذْ اَرْسَلْنَا
عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ۝۴۱ هغه وخت چه ولیږلو مونږه په دوی باندے باد شنډ چه نهٔ وو هیڅ
خیر په هغه کښې او نهٔ نیکی چه شنے کړی ونے یا راوړی باران مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ اَتَتْ عَلَيْهِ
نهٔ ئے پریخوو یو شے له نفسونو او له مالونو د دوی نه چه والوت به هغه اِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ۝۴۲
مګر وے ګرځولو لکه یو شے هلاک او زوړ چه وچ شی او غوبل شی دا رنګے لکه میده کړے ګیاه
د زمکے چه ئے والوځوی باد. وَفِيْ ثَمُوْدَ او په ثمودیانو کښې نښه ده او نصیحت دپاره د عقلمند
اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰى حِيْنٍ ۝۴۳ هغه وخت چه وویلے شو دوی ته نفع واخلئ تر یو وخته
پورے چه هغه موده د تیریدو د اجلونو ستاسے ده فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ نو کبر وکړه دوی
او ځانونه ئے لوی وشمیرل له منلو د حکم د الله نه فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ نو ونیول دوی یو اواز
سخت او واقعی لوی حکایت دے په ابو سعود کښې چه هر کله ولیدے دوی علامے چه بیان
کړے وے هغه دوی ته صالح علیه السلام چه هغه زیړوالے د مخونو د دوی وو په اوله ورځ او
سوروالے د مخونو د دوی وو په دوئمه ورځ او توروالے د مخونو د دوی وو په دریمه ورځ نو قصد
وکړو دوی وژلو د صالح علیه السلام ته نو خلاص کړو الله تعالیٰ له دوی نه زمکے د فلسطین ته چه
نوم د ښار دے نوم کله چه وخت د څلورمه ورځ نو دوی خوشبیان کړل او کفنونه
ئے واغوستل د پخوخر منو پس راغے دوی له یو اواز سخت نو هلاک شو دوی فالحمد لله. وَهُمْ
يَنْظُرُوْنَ ۝۴۴ او دوی لیدلو هغه عذاب ظاهر ولے چه په ورځ کښې وو او دوی به لیدل چه
هغه هلاکولو یو بل فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ پس دوی طاقت ونهٔ لرلو د پورته کیدو او
یا نهٔ سیدل دوی پس له راتلو د عذاب په دوی وَمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ۝۴۵ او نهٔ وو دوی بدل
اخستونکی وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ط او هلاک کړے وو مونږه قوم د نوح ؑ پخواله عادیانو او
ثمودیانو او د قوم د فرعون نه اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝۴۶ یه تحقیق سره وو دوی توے

د تونکی له حکم دخدائی او کافران او منکران وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْىدٍ او اسمان جوړ کړی دی مونږ په لاسونو
ف په تفسیر مدارک او خازن او جامع البیان سراج المنیر کښی معنی کوی د اَیْدٍ په قوت او په قدرت سره
وَّ اِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿۴۷﴾ او په تحقیق سره مونږ خامخا فراخونکی یو چه فراخ کړی مو دی اسمان په دی شان
سره چه د ازمکه او هر هغه چه په دی زمکه کښی دی نسبت د فراخئ د اسمان ته لکه یو کوته د په لاس کولو
د ه چه غور ځولے شوے وی په یو ځنګل کښی ف نو فراخی د اسمان له زمکے نه د اَ دی ده لکه فرخوالے د لوئ ځنګل
له کوټے نه په تفسیر سراج المنیر کښی دی چه معنیٰ د مُوسعون دا ده چه مونږ غنیان یو او قدرت لرونکی
یو هسے قدرت او غنا چه انتها نه لری او نهٔ خلاصیږی نو له دے سببه فراخ کړه مونږ اسمان او هغه چه په
دے اسمان کښی دی له رزق نو دازمکه ټوله سره له فراخئ د دے لکه یو تیکے ورکوتے دے په مینځ د اسمان کښی
وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا او زمکه غوړولے ده مونږ فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿۴۸﴾ پس ښائسته غوړونکی یو مونږ
وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ او له هر څیز نه پیدا کړیدی مونږ دوه قسمه لکه سړے او ښځه او نر او ښځه او ښځه او نر او ښځه او نر ا او نیارهٔ
او شپه او ورځ او لوند او وچ او اسمان او زمکه او غر او زمکه او ځنګل او دریاب او کفر او ایمان او بد بختی
او نیک بختی ـ او ژمے او اوړے او پیریان او بنی ادم او حلم او قهر او بے زړهٔ والے او زړهٔ ور توب او سخا او بخل
یا هغه چه په مثل د دے دی لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۹﴾ د پاره د دے چه تاسے پند واخلئ نو پوه به شئ تاسے چه
پیدا کونکے د دے جوړو یو شریک نهٔ لری فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ط پس وتختئ تاسے الله ته له عذابونو د
خدائی نه ثوابونو د هغهٔ ته په ایمان سره او په عبادت سره او وتختئ له ماسوا له هغهٔ نه الله ته
اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾ج په تحقیق سره زهٔ د پاره ستاسے له طرفه د هغه نه ویرونکے
ظاهر یم وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ط او بیا په نور زیات توضیح سره وایم چه مکر زوئ د
خدائ سره بل کوم معبود په دے کښی زیاته توضیح د دے وجه نه وشوه چه فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ چه هغه
امر بالتوحید دے مستلزم دے نهی عن الشرک لره او لَا تَجْعَلُوْا عین نهی عن الشرک ده او د "عین" د
دلالت په نسبت سره ملزوم نه زیات واضح کیدل ښکاره دی مخکښی د مضمون توحید د عنوان تغییر
په وجه سره د انذار بیا تاکید دے چه اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۱﴾ زهٔ تاسو د ویرولو د پاره د الله د
طرف نه ښکاره ویرونکے راغلے یم ۱۲ از بیان القرآن لمولانا اشرف علی التهانوی دوباره وبل د دے ایت چه

اِنِّیْ لَکُمْ مِّنْہُ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ یو ځل بیا نزد دا امر په طاعت سره او دوئم ځل پس له منع له شرکه د پاره د
دے چه معلوم شي ایمان نفع نه رسی مګر سره د نیک عمل کولو. چه عمل نفع نه رسوی مګر سره له ایمانه
او په تحقیق سره برے به بیانهٔ موږ په نزد د الله مګر هغه څوک چه جمع کوی شی دواړه وَکَذٰلِكَ مَآ
اَتَى الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ همدا رنګے نهٔ دے راغلے هغه خلقو ته چه وو مخواله د دوی هیڅ
پیغمبر په مثل د دے چه قوم ستا تا لره په جادو او لیونتوب سره ستائی او وصفت کوی اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ
اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾ مګر ویل به هغوی پیغمبر خپل ته چه دے جادوګر دے یا لیونے - اَتَوَاصَوْا بِهٖ ج آیا وصیت
کړے دے دوی یو بل ته په دے سره. دا انکار دے او تعجب دے له حاله د دوی نه خدائی بد وګنړهٔ دا
حال او اتفاق د دوی په هسے نا کاره خبره باندے چه هرګز به تیره نهٔ شی په زړه دیو سړی کښی چه
عاقل وی زیاتی او لا داچه خوله پرے وخوزوی معنیٰ دا ده چه په زړهٔ ئے نهٔ تیریږی خوله به پرے
څنګه وخوزوی دا اتفاق د دوی له وجه د وصیت نه نهٔ دے بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۵۳﴾ بلکه
دوی یو قوم دے سرکش نو دوی سرکشئ باعث کړل په دے خبره باندے چه دا لیونے او جادوګر ویل
دی پیغمبر ته. فَتَوَلَّ عَنْهُمْ پس مخ وګرځوه ته له دوی نه او پریږده جګړه د دوی. په تحقیق تا
بیا نصیحت وکړهٔ دوی ته نو دوی هیڅ ونهٔ کړهٔ بے له نه منلو فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿۵۴﴾ پس ته نهٔ ئے
ملامت کړے شوے په تحقیق سره تا رسولے دے حکم د خدائ پوره او تا خرخ کړهٔ کوشش خپل او
هیڅ قصور دِ نهٔ دے کړے په هغه څهٔ کښی چه تا ته پرے حکم کړے شوے دے له ربه ستا نه. په
معالم التنزیل او په خازن او په تفسیر حسینی او په سراج المنیر کښی واقی هر کله چه نازل شهٔ دا
اٰیت نو خفه شهٔ نبی علیه السلام او سخته شوه دا خبره په یارانو د هٔ ولے چه د دوی یقین وشهٔ
چه وحی منقطع شوه او عذاب حاضر شهٔ نو خدائی تعالیٰ د پاره د تسلیٔ د پیغمبر او د خوشحالئ د یارانو د
دهٔ دا حکم راولیږهٔ وَّ ذَکِّرْ فَاِنَّ الذِّکْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۵۵﴾ او نصیحت وکړه پس په تحقیق سره
نصیحت کول نفع رسوی مؤمنانو ته. نو خوشحال شو اصحاب د رسول الله په دے سره وَمَا خَلَقْتُ
الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِیَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ او ما نهٔ دی پیدا کړی پیریان او بنی اٰدم مګر د پاره د دے چه
عبادت وکړی ځما. په تفسیر خازن کښی دی چه دا خاص دی په اهل طاعتو پورے چه څوک

خبره دخدائی او د رسول منی له پیریانو نه وی او که له بنی آدمو او همدا رنګے دے په معالم کښ روایت
دے له کلبیؒ او له ضحاکؒ او له سفیانؒ چه داخاص دے په مؤمنانو پورے او دلیل په دے خاص
والی د قرائت د ابن عباسؓ دے. وما خلقت الجن والانس من المؤمنین الا لیعبدون ط ما نهٔ
دی پیدا کړی هغه پیریان او سړی چه له مؤمنانو نه دی مګر د پاره د دے چه عبادت وکړی ځما.
پس له دے ویلی دی ابن عباسؓ په حق د هغو خلقو کښ چه مؤمنان نهٔ دی وَلقد ذرأنا
لجهنم کثیرًا من الجن والانس یعنی او په تحقیق خامخا پیدا کړی دی مونږ د پاره د دوزخ
د پیرله پیریانو او له سړو نه پس معلوم شه له دے آیته چه دوئ ئے د پاره د جهنم پیدا کړی دی
او هغه چه د پاره د عبادت ئے پیدا کړی دی مؤمنان دی مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ نهٔ اراده نهٔ کوم
له دوئ نه چه روزی ورکړی دوئ ځانونو خپلو لره یا چه رزق ورکړی بل چا لره له مخلوق ځما نه
وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ﴿۵۷﴾ او زهٔ اراده نهٔ کوم له دوئ نه چه رزق راکړی ما لره معنیٰ دا ده
چه زهٔ نهٔ غواړم له دوئ نه دا خبره چه دوئ روزی ورکړی مخلوق ځما لره لکه موافق له دے
سره فرمایلی دی رسول صلی الله علیه وسلم چه وبه وائی الله تعالیٰ په ورځ د قیامت چه اے ځویه
د آدم! ناجوړه شوے وم زهٔ نو تا زهٔ تپوس ونهٔ کړو نو وبه وائی هغه چه څنګه تپوس وکړم
ستا او ته خورب د ټول جهان ئے. نو وبه وائی الله تعالیٰ چه نهٔ پوهیدے ته چه په تحقیق
فلانے بنده ځما ناجوړه وو او تا تپوس ونهٔ کړو د هغهٔ آیا نه پوهیدے ته کهٔ تا تپوس کړے وے د
هغهٔ نو خامخا به تا موندلے وم هغه ځنه. اے ځویه د آدم! ما روټئ وغوښته له تا نه نو تا روټئ
رانهٔ کړه ما لره وبه وائی هغه چه څنګه روټئ درکړمه تا لره. ته خو پالونکے د ټول جهان ئے وبه وائی
الله تعالیٰ آیا نهٔ پوهیدے ته چه په تحقیق روټئ وغوښته له تا نه فلانی بنده ځما نو تا روټئ
ورنهٔ کړه هغهٔ ته آیا نهٔ پوهیدے ته. کهٔ تا روټئ ورکړے وے هغهٔ لره. نو تا به موندلے وو هغه ما
ځنه. اے ځویه د آدم! ما اوبه وغوښتے له تا نه نو تا اوبه رانهٔ کړے ما لره نو وبه وائی هغه چه اے
ربه څنګه اوبه درکړم تا لره او ته خو مالک د ټول جهان ئے نو وبه وائی الله تعالیٰ چه اوبه
غوښتے له تا نه هغه فلانی بنده ځما نو اوبه دِ ورنهٔ کړے هغه لره آیا نه پوهیدے ته چه په تحقیق کهٔ

چرے او به ورکړے وے تا هغه لره نوخامخا موندلے به وے تا ماتخ، داحدیث په صحیح مسلم کښ
دے له ابی هریرة رض نه. پس بیان کړے دے الله تعالیٰ داخبره چه په تحقیق هم هغه دے رزق
ورکونکے نه بل څوک اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ په تحقیق الله هم دے دے رزق ورکونکے نو رزق
ورکوی ټولو مخلوق خپل لره ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِیْنُ ﴿۵۸﴾ صاحب د قوت محکم دے فَاِنَّ لِلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا
پس په تحقیق هغه خلقو لره چه ظلم کړے دے هغوئ لویه برخه ده د عذاب مِّثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحٰبِهِمْ
په مثل د برخے د یارانو د دوئ نو شوه برخه د اهلِ مکه وُ په مثل د برخے د قوم د نوح او د عاد یانو
او د ثمودیانو فَلَا یَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿۵۹﴾ نو تلوار دِ نه کوی ځکه چه ځای د وعدے د دوئ قیامت دے
ع فَوَیْلٌ لِّلَّذِیْنَ كَفَرُوْا مِنْ یَّوْمِهِمُ الَّذِیْ یُوْعَدُوْنَ ﴿۶۰﴾ پس افسوس او هلاک دے او کنده
ده د پاره د هغه خلقو چه کافران دی په هغه ورځ د دوئ کښ چه دوئ سره وعده کړے شوے
ده چه هغه ورځ د قیامت ده یا د بدر ده.

سُوْرَةُ الطُّوْرِ مَکِّیَّةٌ ۵۲ ۷۶   بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ   اٰیَاتُهَا ۴۹ رُکُوْعَاتُهَا ۲

وَالطُّوْرِ ﴿۱﴾ قسم خورم په غرهٔ نو مراد په دے سره مطلق غر دے دی ولے چه دا میخونه د زمکے
دی او په دے کښ لوی لوی نعمتونه د الله دی د پاره د مخلوق خپل یا مراد په دے سره هغه غر دے چه
خبرے کړے وے په هغه باندے الله تعالیٰ له موسیٰ ؑ سره وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ﴿۲﴾ قسم خورم په کتاب
لیکلے شوی باندے فِیْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ﴿۳﴾ په پانړه خوره کړے شوے کښ چه هغه کتاب یا لوح
محفوظ دے یا تختئ ده د موسیٰ ؑ او په معالم التنزیل او په جمل کښ روایت دے له کلبی رض نه چه
مراد په کتاب سره تورات دے چه لیږلے وو الله تعالیٰ د پاره د موسیٰ ؑ. په تفسیر حسینی
کښ دی چه یا مراد په دے کتاب سره هغه دے چه لیږلے دے الله تعالیٰ د پاره د ملائکو چه
په هغه کښ علم د تیر شویو او د راتلونکو دے نو دوئ بولی له هغه وَالْبَیْتِ الْمَعْمُوْرِ ﴿۴﴾ او قسم
خورم په هغه کور اباد کړے شوی باندے چه هغه یو کور دے په اوم اسمان کښ طوف کوی له هغه ملائکے
او په تفسیر جامع البیان کښ دی چه په هر یو اسمان کښ یو کور دے چه عبادت کوی په هغه

کښې اهل د هغه اسمان او هغه چه په نزدے اسمان کښې دی نوګو هغه بیت العزت دے وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ ﴿۵﴾ او قسم خورم په چهت اوچت کړے شوی چه هغه اسمان دے الله تعالیٰ فرمایلی دی وجعلنا السماء سقفا محفوظا یعنی ګرځولے دے مونږ د ا اسمان چهت ساتلے شوے وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ ﴿۶﴾ او قسم خورم په دریاب ګرم کړے شوی . محمد بن کعبؒ او ضحاکؒ معنیٰ کړے ده د مسجور په ګرم کړے شوی باندے په شان د تنور ګرم کړے شوی او دغه معنیٰ ده د قول د ابن عباسؓ او روایت کړے شوے دے په حدیث کښې چه و به ګرځوی الله دریابونه ټول په ورځ د قیامت او نور زیاتی به کړی په هغه سره او ر د دوزخ لکه و یلی دی الله تعالیٰ واذا البحار سجرت یعنی هغه ورځ چه ګرم کړے شی دریابونه په حدیث کښې دی له ابن عمرؓ چه ویلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم - نهٔ دِ سوریږی سړے په دریاب کښې مګر غزا کونکی یا عمره کونکی یا حج کونکی ولے چه په تحقیق لاندے د دریاب نه اور دے او لاندے د اور ه دریاب دے او له حضرت علیؓ نه نقل دے چه هغه دریاب کړے شوے یو دریاب دے لاندے د عرش چه ژور والے د هغهٔ د ومره دے لکه د اوهٔ اسمانونو او د اوو زمکو او په هغهٔ ځائے کښې دی او به ټینګے او نوم د هغه دریاب بحر الحیوان دے و به وروے شی په دے خلقو باندے پس له شپیلۍ پو مبنۍ نه له دے دریاب ځلو بینت ورځے نو زرغون به شی دوئ په قبرونو خپلو کښې دا بیان د بحر مسجور په تفسیر معالم التنزیل کښې دے سره د کوتاهۍ او یا معنیٰ د بحر مسجور د منع کړے شوی دے له زمکے نه چه غرقه ئے نهٔ کړی . په مسند د امام احمدؒ کښې دی چه فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه نشته هیڅ مګر چه دا دریاب پورته کیږی په هغه کښې درے ځله او اذن غواړی د الله تعالیٰ نه چه راواوړی په مخلوق د زمکے باندے پس منع کړی هغه لره الله تعالیٰ دا حدیث په جامع البیان کښې دے اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴿۷﴾ په تحقیق سره عذاب د رب ستا واقع کیدونکے دے مَّا لَهُ مِنْ دَافِعٍ ﴿۸﴾ نشته دے هغه لره منع کونکے يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَاءُ مَوْرًا ﴿۹﴾ هغه ورځ چه وخوزی او بے قراره شی اسمان خوزیدل او بے قراره کیدل وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ﴿۱۰﴾ او روان شی غرونه روانیدل فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ﴿۱۲﴾ پس

سخت عذاب دے په هغه ورځ کښ د پاره د دروغ گڼونکیو چه په بے هوده خبرو او په بیهوده کارونو کښ لوبے کوی يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ⑬ هغه ورځ چه تیل وهلے شی دوئ او س د دوزخ ته تیل وهل ولے چه خد منکاران د دوزخ په زنځیرونو سره به وتړی لاسونه د دوئ کرد نونو ته او جمع به کړی تندی د دوئ قدمونو د دوئ ته او تیل به ئے وهی په مخونو باندے او وبه ئے وهی په سټونو کښ په نیزو سره ترهغه پورے چه ئے ورولی دوزخ ته نو چه دوئ نزدے شی دوزخ ته و س ته به ووائی خد منکاران د دوزخ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِىْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ⑭ دا هغه اور دے چه وئ تاسے چه دروغ گڼولو تاسے هغه اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ ⑮ ایا سحر دے دا یا تاسے یئ چه نۀ وینئ یعنی چه ویل به تاسے هغه خبرو د الله تعالیٰ ته چه ویرولی تاسے پیغمبر په هغوئ سره له دے اورنه او له عذابونو نه چه دا سحر دے او نۀ دی خبرے د الله تعالیٰ نو اوس وکورئ چه سحر دے دا یا تاسے یئ چه نۀ وینئ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ط نو ننوزئ تاسے اورته پس صبر وکړئ تاسے یا صبر مۀ کوئ برابر دی د دوارہ کارونه په تاسے باندے چه صبر کول دی یا نۀ صبر کول دی اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑯ خبره هم داده چه بدله درکولے شی تاسے لره د کارستاسے اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِىْ جَنّٰتٍ وَّنَعِيْمٍ ⑰ فٰكِهِيْنَ بِمَآ اٰتٰهُمْ رَبُّهُمْ ۚ وَوَقٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ⑱ په تحقیق سره پرهیزګاران او ځان ساتونکی له بد و خصلتونو او له بد و خویونو به باغونو او نعمتونو کښ به وی خوند اخستونکی او مزے کونکی به وی په هغه شی او نعمتونو سره چه ورکړی دی دوئ لره رب د دوئ او ساتلی دی دوئ رب د دوئ له عذابه د دوزخ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓئًا ۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑲ وخورئ او وڅښئ بنۀ هضمیدونکی په بدل د کارستا کښ چه نیک کارونه کړی وو تاسے نو خوری بدل د هغه هر چه خوښه وی ستاسے هیڅ ضرر به و نۀ کړئ تاسے ولے چه دا نۀ دے په شان د خورلو او د خورلو او څښلو د دنیا چه کله سرے بد هضم شی او مرض ترے پیدا شی او په دے کښ هیڅ خلل نشته مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى سُرُرٍ مَّصْفُوْفَةٍ ۚ په دے حال کښ چه تکیه لګونکی یئ تاسے په تختونو چه یو ځائ شوی وی بعضے بعضو ته وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ⑳ او جوړه کړی دی موږ د دوئ سره له

هغو بنځو دیر وښا ښته وا اوچه دیرے ښاښته ستر ګے لری وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ
اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ او هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے او منلی ئے دی ټول حکمونه د
خدائی تعالیٰ او تابع شوے وی د دوئ اولاد د دوئ په ایمان سره یو ځائی به کړو مونږ ه له
دوئ سره اولاد د دوئ په سبب د ایمان سره او ورکوتی په تابعدارئ د مور او پلار سره حدیث
دے په طبرانی کښ چه ویلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه ننه به وزی یو سړے جنت
ته نو سوال به وکړی د مور و پلار خپل او د ښځے خپلے او د اولاد خپل. نو وبه ویلے شی هغه ته چه په
تحقیق هغوئ نهٔ دی رسیدلی مرتبے ستاته نو وبه وائی دے چه اے ربه ما خو نیک عمل کړے وو
دپاره د ځان او د دوئ نو حکم به وکړے شی په یو ځائی کیدلو د هغوئ له ده سره دا حدیث په
جامع البیان کښ دے او په معالم او په خازن کښ روایت دے له ابن عباسؓ په معنیٰ د دے آیت
کښ چه لوئ به یو ځائی کړی له دوئ سره په ایمان د دوئ سره او واړهٔ به یو ځائی کړی له دوئ
سره په ایمان د پلار او د مور د دوئ سره۔ الله تعالیٰ ویلی دی چه جمع به کړے شی دپاره د بنده مؤمن
اولاد د دهٔ په جنت کښ لکه چه دوست لګرځی دهٔ چه جمع شی دهٔ ته په دنیا کښ نو ننه به باسی
الله تعالیٰ دوئ جنت ته او یو ځائی به کړی له دهٔ سره وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ ط او مونږه
نهٔ دی کم کړی دوئ لره له کاره د دوئ نه هیڅ شے. نو مونږه پوره ورکړیدے دوئ لره ثواب د ښو کارونو د
دوئ او دا یو ځائی کول د دوئ سره د عیال د دوئ او د اولاد د دوئ صرف په فضل او په کرم
سره دی. سعید ځوئ د جبیر روایت کوی له ابن عباسؓ چه پورته به کړی الله تعالیٰ اولاد
د مؤمن په جنت کښ او وبه ئے رسوی مرتبے د هغهٔ ته. اګر چه کم وی هغه له دهٔ نه په نیک
کار کښ چه سړے ریخی) شی په هغوئ سره ستر ګے د هغه روایت دے له علیؓ نه چه سوال
وکړهٔ خدیجےؓ له پیغمبر صلے الله علیه وسلم نه د دوه ځامنو چه مړهٔ شوی وو هغوئ په وخت د
جاهلیت کښ نو وویل رسول الله صلے الله علیه وسلم چه هغوئ په اور کښ دی نو هر کله چه
ولیدهٔ رسول الله صلے الله علیه وسلم خفګی په مخ د دے کښ. نو وویل رسول الله صلے الله علیه
وسلم که چرے لیدلے تا ځائی د هغه دواړو. خامخا بد به ګڼړلے وو تا هغوئ نو وویل هغے چه یا

رسول الله ﷺ! څهٔ حال دے د هغه ولدځا چه له تا نه دے نو وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم
چه هغه په جنت کښ دے پس وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په تحقيق مؤمنان
او اولاد د دوئ په جنت کښ دی او په تحقیق مشرکان او اولاد د دوئ په دوزخ کښ دی نو بیا
ولوستو رسول الله ﷺ دا ایت چه تیر شوے دے غرض دا دے چه خلاف دے په اولاد د مشرکانو
کښ ویلی دی په جامع البیان کښ په تفسیر د دے ایت کښ وماكنا معذبين حتى نبعث
رسولاً او مونږه نهٔ یو عذابونکی تر هغه پورے چه ولیږو رسول. چه ظاهره دا ده چه هغه خلق
چه پیدا شوے وی په سر د غرهٔ او نه ئے وی اوریدلے خبرے د رسول ﷺ نو هغه لره عذر دے او
همدارنګے لیونے همیشه او هلکان مطلقاً د هر چا چه وی لیکن شیخ اشعری تلهٔ کړیدی دے خبرے
ته چه په دوئ به ازمایښت وکړے شی په ورځ د قیامت په دے شان چه حکم به وکړی
دوئ ته الله د ننوتلو او ر نوهر چا چه فرمانبرداری وکړه خلاص به شی او نه به وزی جنت ته او
ظاهر به شی علم د الله تعالیٰ په حق د دهٔ کښ په وړومبی نیکبختی د دهٔ سره او هر چا چه مخالفت وکړهٔ
نو ننه به وزی اور ته خوار او ظاهره به شی هغه وړومبئ بدبختی د ده او ویلی دی شیخ اشعری
چه دغه مذهب د اهل سنت وجماعت دے او دغه دے غوره کړے شوے د بیهقی او د محققینو
علماؤ او ذکره کونکو او په دے باندے دی حدیثونه. تر دے پورے ده خبره د جامع البیان او په
حدیث د بیهقی کښ دی چه صحیح دے. څلور تنه به دلیل ونیسی په ورځ د قیامت کونړ چه هیڅ
نهٔ اوری او بے عقل چه نهٔ پوهیږی او ډیر زوړ او هغه څوك چه مړ شوے وی په داسے وخت
کښ چه نهٔ وی لیږلے شوے په هغوئ کښ رسول ﷺ نو خدائے به ولیږی هغوئ ته رسول ﷺ.
چه ننوزئ تاسے اور ته نو هغه څوك چه ننوزی اور ته نو سوړ به شی په دوئ باندے سره
د سلامتئ او هغه څوك چه ور ننه نهٔ وزی اور ته هغه به راښکے شی په مخونو باندے اور ته
او روایت کړے دے غیر له بیهقی نه په مثل د دے معنیٰ او حکم کړے دے اشعری رح چه هلکان به
وازمیلے شی په ورځ د قیامت په دے باندے دی اهل سنت والجماعت. د احادیث په ویز
کښ دے. كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾ هر سړے به په کار خپل کښ ګانړه او ګرو او قید

به وی .معالم روایت کوی له مقاتل نه چه هر سړے کافر په کارخپل کښ چه کفراوشرك دے
گانړه به وی په او رکښ او مؤمن نه گانړه کیږی ولے چه الله تعالیٰ په بل ځائے کښ ویلی دی
کل نفس بما کسبت رهینة الا اصحٰب الیمین هر نفس په سبب د هغه چه ده څهٔ کړی دی قید
به وی مگر صاحبان د ښی لاس او هغه څوك چه کاغذونه ورلره په ښی لاس ورکولے شی هغه به
نهٔ قیدیږی وَ اَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۲۲﴾ او زیاتی ورکړی دی ما دوئ لره میوے
او غوښے چه دوئ شوق لری او مینه ئے ورته کیږی . يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَ
لَا تَاْثِيْمٌ ﴿۲۳﴾ اخلی به دوئ یو له بله جنت کښ شراب چه نهٔ به وی عبث خبرے په
هغه کښ او نهٔ نسبت د گناه یو بل ته وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿۲۴﴾
او چاپیره به گرځی له دوئ هلکان چه دوئ لره به وی گویا که هغوئ ملغلرے دی ساتلے شوے
له لا سونو د خلقو نه او نهٔ دے رسید لے ورته گرد .معالم روایت کوی له عبد الله بن عمرؓ نه
چه نشته هیڅوك له جنتیانو نه مگر چه گرځی د پاره د خدمت د دهٔ یو زر هلکان او هر هلك
به هغه کار کوی چه هغه بل به ئے نهٔ کوی غرض دا دے چه سوال وکړه یو سړی له رسول اللهﷺ
نه دا حال د خدمتگار دے نو څنګه به وی هغه څوك چه خدمت ئے کولے شی نو ویل رسول
الله صلے الله علیه وسلم چه زیاتوالے د خدمت کړے شوی په خدمت کونکی باندے دا رنګ دے لکه
زیاتوالے د سپوږمۍ د څوارلسمے په نورو ستورو باندے وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۵﴾
او مخ به کاندے بعضے بعضوته سوال به کوی یو تر بله یاد به کړی هغه چه وو دوئ په هغه کښ له
مشقتونو او دویرونه په دنیا کښ او دا به یادوی د پاره د شکر قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا
مُشْفِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ و به وائی دوئ چه په تحقیق وو مونږه پخواله دے په عیال خپل کښ ویریدونکی
فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾ پس احسان وکړهٔ الله تعالیٰ په مونږه باندے
او وے ساتلو مونږه له عذاب دا ور د دوزخ نه. نو له دے نه صاف معلومه شوه دا خبره
چه ویره د الله تعالیٰ نه په وخت د جوړوالی کښ او په کور خپل کښ سبب د خلاص والی دے د
اور نه اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ط په تحقیق سره وو مونږه پخواله دے چه باله مونږه هغه

عبادت موکولود هغه اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿۲۸﴾ په تحقیق هم هغه دے نیکی کونکے اورحم کونکے
په ویلو خپلوکښی اوپه پوره کولو دوعدے خپلےکښی فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ
وَّلَا مَجْنُوْنٍ ﴿۲۹﴾ پس نصیحت وکړه ته او نهٔ یے ته په نعمت درب خپل سره فالبین او نهٔ لیونے
اَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ الْمَنُوْنِ ﴿۳۰﴾ ایا وائی دوئ چه شاعر دے گورو مونږه
دهٔ ته او انتظار کوو حادثو د زمانے او د مرګ ته چه هغه حادثے څهٔ دی چه افتونه د زمانے دی چه
هغه به راشی او هلاك به کړی دے لکه چه هلاك شوی وو شاعران پخواله دهٔ نه قُلْ تَرَبَّصُوْا فَاِنِّيْ
مَعَكُمْ مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ ﴿۳۱﴾ وو ایه ته چه گوری او انتظار وکړئ مرګ څما نه پس په تحقیق سره
زهٔ سره له تاسے له نظر کونکو نه یمه. چه راشی حکم د الله تعالیٰ په تاسے کښی اَمْ تَاْمُرُهُمْ
اَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ ایا حکم کوی دوی ته عقلونه د دوئ په دے سره ولے چه دا لوئ د قریشو
مشهور وو په عقلونو او په دانایئ سره نو الله پاك وویل دا عقلونه او داپوهے د دوئ چه دا
څرنګه پوهه ده چه حق او باطل نهٔ پیژنی اَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۳۲﴾ بلکه دوئ یو قوم دے سرکش
چه هغه سرکشئ باعث کړی دی په دے خبره چه کله لارے وویشی او سری پکښی کښینی چه
هغه پیغمبر ته شاعر او کاهن او مجنون وائی او کله حکم وکړی دوئ ته او تیار کړی دوئ دے ویلو ته
چه شاعر دے صبر کوو هلاك د دهٔ ته چه مړ به شی او خلاص به شوله دهٔ اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ج
ایا وائی دوئ چه دا قران دهٔ له ځانه جوړ کړے دے نهٔ ده دا رنګے بلکه دا کتاب د خدائ دے
دوئ جاهلان دی پرے نه پوهیږی بَلْ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۳﴾ بلکه دوئ ایمان نه راوړی او یقین
نهٔ کوی په سبب د کبر خپل او د ناپوهئ د دوئ فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖ نو را دِ وړی دوئ یوه
خبره جوړه کړے شوے په مثل د دے غرض دا دے کهٔ دا پیغمبر له ځانه جوړ کړے وی لکه چه
وائی دوئ په سبب د کفر او د ناپوهئ خپلے نو دوئ دِ جوړ کړی یو کلام بناؤسته په مثل د دے
لکه دا قران چه بناؤسته دے اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿۳۴﴾ کهٔ چرے وی دوئ رښتیا ویونکی په دے خبره
کښی چه دا محمد صلے الله علیه وسلم له ځانه جوړ کړے دے اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ ایا
دوئ پیدا کړے شوی دی بے له هیڅ شی نه. ایا دوئ پیدا کونکی نهٔ لری غرض دا دے چه بے د

پیدا کونکی نه هیځوک نهٔ دی۔ دا ظاهره ده چه پیدا کونکے شته دے نو دوئ ولے نهٔ منی خبره د پیدا کونکی خپل اَمۡ هُمُ الۡخٰلِقُوۡنَ ﴿۳۵﴾ یا هم دوئ دی پیدا کونکی چه پیدا کړی ئے دی ځانو نه خپل یا نور خپل مخلوق نو ځکه نهٔ منی خبره د خدائ او د پیغمبر د هغهٔ نو دا خبره غلطه ده ولے چه دوئ خو نه وو او چه څوک نهٔ وی نو هغه به ځان څنګه پیدا کړی نو معلومه شوه چه پیدا کونکے د دوئ شته نو بدله به وا خلی له دوئ نه د کفر د دوئ او د ګمراهئ د دوئ اَمۡ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضَ ۚ آیا دوئ پیدا کړی دی آسمانو نه او زمکه نهٔ ده دا رنګے پیدا کونکے د دوئ الله تعالیٰ دے بَلۡ لَّا یُوۡقِنُوۡنَ ﴿۳۶﴾ بلکه دوئ یقین نهٔ کوی او نهٔ منی چه ایمان راوړی په هغه باندے او بندګی وکړی د هغهٔ اَمۡ عِنۡدَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّکَ آیا دوئ څخه دی او په نزد د دوئ د ی خزانے د ربّ ستا پس ورکوی پیغمبری هغه چا لره چه د دوئ خوښه وی یا دوئ څخه دی خزانے د رزق او د باران بلکه د دے ټولو اختیار د الله دے اَمۡ هُمُ الۡمُصَۜیۡطِرُوۡنَ ﴿۳۷﴾ آیا دوئ دی زور ورکونکی چه نهٔ دی لاندے د حکم د چا نو کوی هغه چه خوښه د دوئ وی بلکه دوئ ټول په حکم د الله کښی دی او ذلیل دی لاندے د حکم د هغهٔ اَمۡ لَهُمۡ سُلَّمٌ یَّسۡتَمِعُوۡنَ فِیۡهِ ۚ آیا دوئ لره اندرپایه ده چه دوئ اوریدل کوی په هغے کښی نو دوئ خیژی آسمان ته او معلوموی هغه چه حق دے نو دلیل نیسی په هغه سره فَلۡیَاۡتِ مُسۡتَمِعُهُمۡ بِسُلۡطٰنٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۳۸﴾ نو را دِ وړی هغه اوریدونکی د دوئ یو حجت ظاهر لکه چه پیغمبر وخوت په آسمانو او راوړ ئے حجت ظاهر چه قرآن دے او معجزے بے شماره چه هیڅ پیغمبر نه دی راوړی په مثل د دے اَمۡ لَهُ الۡبَنٰتُ وَ لَکُمُ الۡبَنُوۡنَ ﴿۳۹﴾ آیا خدائ لره لونړه شوے او تاسے لره ځامن او دا انکار د الله دے په دوئ باندے چه دوئ مقرروی هغه شے چه دوئ ئے بد ګنړی د پاره د ځانو خپلو چه لونړه دی نو دوئ لونړه بدے ګنړی او سره له دے والی چه مدد نکے لونړه دی د الله تعالیٰ اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ اَجۡرًا فَهُمۡ مِّنۡ مَّغۡرَمٍ مُّثۡقَلُوۡنَ ﴿۴۰﴾ آیا ته غواړے له دوئ نه مزدوری نو دوئ له تاوانه د هغه نه درانه کړے شوی دی ف غرض دا دے چه ته خو دوئ ته بیانوے حکم د الله تعالیٰ بے له مزدورئ نه او بے له غوښتو د یو شی نه نو نه راوړل د ایمان او نه تابع کیدل ستا صرف جهل دے او کینه د دوئ اَمۡ عِنۡدَهُمُ الۡغَیۡبُ

فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿٤١﴾ ایا په نزد ددوئ دے غیب نو دوئ لیکی ف معنیٰ داده ایا دوی څخه علم د غیب
دے چه دوی معلوموی په هغه سره داچه وائی پیغمبر خبره د قیامت او د پورته کید و دادروغ
ده بلکه نهٔ ده دا خبره چه دوئ څخه علم غیب دے بلکه دوئ صرف ضد نیولے دے نو ځکه ایمان
نه راوړی اَمْ يُرِيْدُوْنَ كَيْدًا ایا دوئ اراده لری دیوچل چه جوړکړی ستا هلاك ته فَالَّذِيْنَ
كَفَرُوْا هُمُ الْمَكِيْدُوْنَ ﴿٤٢﴾ بلکه هغه خلق چه کافر شوی دی هم دوی باندے چل کړے
شوے دے ولے چه هغه عذاب ددوئ هم دوئ ته راوګرځیده او هلاك ئے کړه دوئ اَمْ لَهُمْ
اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٤٣﴾ ایا دوئ لره معبود دے غیر د الله . پاك دے الله
د هغه څیز نه چه دوئ شریکوی له الله سره نو الله پاك دے له شرك او له هره عیبه وَاِنْ يَّرَوْا
كِسْفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا او کهٔ دوئ ووینی یوه ټکړه له اسمانه پریوتونکے دا خبره جواب دے
د دے خبرے ددوئ فاسقط علینا کسفا من السماء . یعنی وو روه په مونږه باندے یوه ټکړه
له اسمانه نو ووئیل الله په جواب ددوئ کښ کهٔ چرے مونږه و عذابوو دوئ په راغورځولو د
یوے ټکړے سره د اسمان په دوئ باندے نو دوئ به منع نه شی له کفره خپله يَّقُوْلُوْا سَحَابٌ
مَّرْكُوْمٌ ﴿٤٤﴾ وبه وائی دوئ چه دا وریځ ده بعضے په بعضے سوره شوے فَذَرْهُمْ حَتّٰى يُلٰقُوْا
يَوْمَهُمُ الَّذِيْ فِيْهِ يُصْعَقُوْنَ ﴿٤٥﴾ نو پریږده دوئ ترهغه پورے چه دوئ ووینی او یو ځائے
شی له هغه ورځے د دوئ سره چه دوئ په هغے کښ هلاك کړے شی يَوْمَ لَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ
شَيْئًا وَّ لَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٦﴾ هغه ورځ چه دفع به نهٔ کړی له دوئ نه چل د دوئ هیڅ شے او نه
به وی دوئ چه مدد و ورسره وکړے شی معنیٰ داده چه راشی هغه ورځ د هلاك او د عذابولو د دوئ
نو منع به نهٔ کړی هغه چلونه چه دوئ جوړول په د شمنئ د پیغمبر کښ یو شے له عذابو نو د
الله . وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ او په تحقیق دپاره د هغه خلقو چه هغوئ ظلم کړیدے
او کافر شوی دی عذاب دے بغیرله دے عذابه چه هغه عذاب دے په دنیا کښ په قتل او
په لوږه او په قحط او نور قسم قسم عذابونه چه هغه خدائ ته معلوم دی الله تعالیٰ د دوساتی
مونږه مسلمانان سری او مسلمانانے ښځے . وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٧﴾ او لیکن اکثر

دخلقو نه پوهیږی نو ځکه مخ گرځوی له قرآن او له تابعدارئ د پیغمبر نه وَاصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ
فَإِنَّكَ بِأَعۡيُنِنَا او صبر وکړه د پاره د حکم د مالک او د پالونکی خپل پس په تحقیق سره ته په
ځائ د لید لو ځمونږه کښې ئے مونږه وینو هغه چه دوئ کوی په دښمنئ ستا کښې نو دوئ به هیڅ
ضرر ونه رسوی تا ته مګر هغه چه مقرر کړے وی مونږ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿۴۸﴾ او پاکی
وایه سره له ثنا د رب ستا هغه وخت چه ته پورته کیږے معنیٰ دا ده چه ته ؤ وایه هغه وخت چه
پورته کیږے ته ؤ له مجلس خپله. سبحنك وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك
نو دا ویل د دے به پټونکی شی هغه شی لره چه په دے مجلس کښې شوے وی خطا بے هوده او
نا کاره خبرے وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَإِدۡبَٰرَ ٱلنُّجُومِ ﴿۴۹﴾ او په شپه کښې پس پاکی وکړه
دخدائ تعالیٰ او وروستو د ستورو یعنی دوه رکعته مخوا له فرضو د صباح نه ولے چه په هغه
وخت کښې شا کړے وی ستورو او پټ شوی وی په رڼړا د صباح سره.

سُورَةُ النَّجۡمِ ۵۳ مکیة ۲۳ — آیاتها ۶۲ — رکوعاتها ۳

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلنَّجۡمِ إِذَا هَوَىٰ ﴿۱﴾ قسم خورم په ستورو چه پریوځی یا راخیژی. غرض دا دے چه هویٰ
په معنیٰ دختو او د پریوتو دواړو راغلے ده او په ایت کښې دواړه معنیٰ جوړیږی او مراد په
ستوریو سره پریوتی دی لکه چه په حدیث دابی هریرهؓ کښې راغلی دی له رسول صلی الله
علیه وسلم نه چه نه ؤ وی ختلی ستوری هرګز چه په زمکه کښې یو څیز وی له افتو نو مګر هغه
پورته شی او مراد په ستوری سره پریوتی دی او یا مراد ترے ټول ستوری دی ولے چه په دوئ
سره لار مومی خلق په وچه کښې او په لونده کښې مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمۡ وَمَا غَوَىٰ ﴿۲﴾ چه نه ؤ
دے خطا شوے له لارے حقے نه مکرے ستا سے او سرکشی ئے نه ده کړے وَمَا يَنطِقُ عَنِ
ٱلۡهَوَىٰٓ ﴿۳﴾ او نه وائی له خواهش خپل نه غرض دا دے چه دا رد دے په کافرانو باندے ولے چه هغوئ به
ویل چه دا قرآن ده ؤ له ځانه جوړ کړے دے نو الله رد کړه دا خبره او په ځکښې د دے بنده کلک
والے کوی او وائی إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٌ يُوحَىٰ ﴿۴﴾ نه ؤ دی دا چه وائی پیغمبر مګر وحی ده او خبر دے

د الله تعالیٰ چه دهٔ ته کولے شي معنیٰ دا ده چه دا وحی ده له طرفه د الله تعالیٰ نه کهٔ قرآن دے او کهٔ حدیث دے نهٔ دے له طرفه د نفس د دهٔ نه عَلَّمَهٗ شَدِیۡدُ الۡقُوٰی ۝۵ پوهه کړے دے او ښودلے دے دهٔ ته دا خیز چه والی دے په دین کښې هغه چا چه سخت قوتونه او مضبوط قوتونه دی د هغه چه جبریل علیه السلام دے په مدارك کښې وائی چه بعضے له قوتونو د هغهٔ نه دا وو چه ئے خکل خکلی د لوط علیه السلام او راپورته ئے کړوله او بو تورڅه نه په یو وزر باندے تر آسمانه او په بل ئے وا اړول۔ او یو آواز ئے وکړو په ثمودیانو پس ټول هلاك شو ذُوۡ مِرَّۃٍ صاحب د زیر بناشت او یا صاحب دعقل محکم دے فَاسۡتَوٰی ۝۶ پس برابر شهٔ جبریل ؑ په هغه کار چه دهٔ ته حکم کړے شوے وو یا دا چه دے ودریدهٔ په صورت اصلی خپل وَهُوَ بِالۡاُفُقِ الۡاَعۡلٰی ۝۷ او هغه په کنارے ښے اوچت باندے وو۔ غرض دا دے چه جبریل ؑ ودریده په کناره د آسمان باندے ځائ د ختو د نمر څخه او هیڅ پیغمبر نهٔ وو لیدلے جبریل علیه السلام په صورت ملکی چه هغه صورت اصلی د دهٔ وو بے له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه او دهٔ لیدلے وو په دے صورت خپل سره دوه ځلے اول ځلے ئے چه ولیده نو بے هوش شهٔ چه په هوش کښې راغے نو جبریل ؑ ور څخه ناست وو یو لاس ئے ایښے وو په سینه د دهٔ او بل لاس ئے ایښے وو په مینځ د اوږو د دهٔ کښې نو له دے نزدے والے نه خبر ورکوی الله تعالیٰ وائی۔ ثُمَّ دَنَا پس نزدے شهٔ هغه غرض دا دے چه نزدے شه جبریل ؑ پیغمبر ته پس له هغے نه چه ئے ولیده هغه بیهوشه شهٔ یعنے رسول الله صلے الله علیه وسلم فَتَدَلّٰی ۝۸ نو بیا نزدے شهٔ۔ فَکَانَ قَابَ قَوۡسَیۡنِ اَوۡ اَدۡنٰی ۝۹ پس وو دا نزدے والے په مینځ د جبریل ؑ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لکه نزدے والے د دو ولیندو یا ډیر نزدے فَاَوۡحٰۤی اِلٰی عَبۡدِهٖ مَاۤ اَوۡحٰی ۝۱۰ نو پس وحی وکړه او ظاهر ئے کړه بنده د الله تعالیٰ ته هغه چه ظاهر ئے کړه فائده چه وحی وکړه جبریل ؑ بنده د الله تعالیٰ د هغه شی چه وحی کړے ده الله تعالیٰ جبریل ؑ ته۔ او بعضے نزدے والے وائی د الله پیغمبر ته او بعضے نزدے والے وائی د پیغمبر الله ته په دے شان سره لکه چه وړاندے له دے نه ویلی دی۔ ثم دنا فتدلی فکان قاب قوسین او ادنی۔ پس نزدے شهٔ محمد رسول الله صلے الله

علیه وسلم الله تعالیٰ ته. نو هرکله چه دا نزدے والے د پیغمبر الله تعالیٰ ته لید لے نهٔ شهٔ او
دا په فکر کښې را تلے نهٔ شهٔ. نو الله تعالیٰ د دے د پاره یو مثال راوړو د پاره د دے چه خلق پرے
پوهه شی نو وے ویل نزدے والے د پیغمبر الله تعالیٰ ته په قدر د دوو لیندو یا له دے نه هم نزدے
دا بیان دے د کلک والی د نزدے والی د دهٔ چه ډیر نزدے شهٔ الله پیغمبر یا ډیر نزدے شه پیغمبر
الله ته. بیان وکړه الله ددے نزدے والی په وجه د یو مثال سره چه هغه دا دے چه سردارانو د
عربو اراده وکړه یو د بل سره د ډیرے دوستئ او د بنے خپلولئ نو دوه لیندے به ئے راوړے او موټی
د هغو به ئے یو ځائ ونیوه په لاسو نو خپلو کښې او یو غشے به ئے له دواړو نه په یو ځل وویشت
او دا کار به ئے کولو د دے د پاره چه ځما او ستا په مینځ کښې دا سے دوستی شو چه یو به کوم کار
خفه کیږی نو هغه بل به هم په هغه کار خفه کیږی نو الله نزدے والے د دے پیغمبر په دے
شان بیان که چه په کوم کار زهٔ خفه کیږم په هغه به پیغمبر؏ هم خفه کیږی او په کوم کار
چه پیغمبران ناراضه کیږی په هغه به الله هم ناراضه کیږی او څوک چه دوست د الله وی
هغه به دوست د پیغمبر وی او څوک چه دوست د پیغمبر وی هغه به دوست د الله وی. غرض
دا دے چه دوستی د یو له دے دواړو نه دوستی د هغه بل ده او دشمنی د یو له دوئ دشمنی د بل ده.
مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ⑪ دروغ نهٔ وو ویلی زړهٔ په هغه څیز کښې چه لیدلے ئے وو غرض دا دے
چه رښتیا ویلی وو زړهٔ د پیغمبر په هغه څیز کښې چه لیدلی ئے وو نو په دے لیدلی شوی کښې
خلاف دے چه هغه جبریل؏ وو لکه چه ویلی دی ابن مسعودرض او بی بی عائشے رض او ابن عباس رض
وائی چه هغه لیدلے شوے الله تعالیٰ وو چه ولیدهٔ پیغمبر؏ په سترګو د زړهٔ سره دوه ځلے
او انس رض او احسن رض او عکرمه وائی چه ولیده محمد صلے الله علیه وسلم الله تعالیٰ په سترګو
د سر سره او احقر العیاد وائی چه د دے درے واړو معنو هیڅ مخالفت نشته ولے چه دا روا
ده او د هیڅ سړی عقل نهٔ منع کوی دا خبره چه پیغمبر لیدلے وی جبریل؏ او الله تعالیٰ په سترګو
د سر سره او چه سترګے وینی پوهٔ شه په سترګو سره نو معلوم کړی او پوهه شی په زړه کښې نو
د هغه لید ل شو په سترګو د زړهٔ سره اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ⑫ آیا تاسے جګړه کوی له پیغمبر؏

سره په هغه څیز کښ چه دهٔ لیدلی دی یعنی هرڅهٔ چه دهٔ لیدلی دی او دے وائی هغه حق دی
وَلَقَدْ رَاٰهُ اوخامخا په تحقیق سره لیدلے وو محمد صلے الله علیه وسلم جبریل علیه السلام نَزْلَةً
اُخْرٰى ⑬ بل ځلے عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ⑭ په نزد د هغې بیرے چه خلاصیږی هغې ته علم د
مخلوق عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ⑮ په نزد د هغې د ے هغه جنت چه نوم ئے ماوٰی دے۔ ولے
چه ماوٰی ځائی ته وائی او هغه ځائی دے د پرهیزګارانو یا دارواحو د شهیدانو اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ
مَا يَغْشٰى ⑯ هغه وخت پټه کړے وه بیره هغه څیز چه پټه کړے وه یعنی ولیدهٔ پیغمبر علیه السلام
جبریل علیه السلام په هغه وخت د پټ والی د بیرے کښ هغه پتونګے د بیرے څهٔ وو یو
لوے لوئے وو د ملائکو نه چه عبادت ئے کولو هغې ځنه او ویلے شوی دی چه پټه کړے وه هغه ونه
یو فرش د سرو زرو مَازَاغَ الْبَصَرُ نهٔ وو کږ شوے نظر د رسول الله صلے الله علیه وسلم یو طرف
ته بل طرف ته له لیدلو د هغه څیزونو نه چه دهٔ ته حکم کړے شوے وو په لیدلو د هغوی سره
وَمَا طَغٰى ⑰ او نه وو تیر شوے دے له هغې څیزونو نه چه دهٔ ته حکم کړے شوے وو د لیدلو
د هغهٔ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ⑱ خامخا په تحقیق سره لیدلے وے دهٔ نښو د رب دهٔ
نه ډیرے لوی یعنی هغه لوی لوی نښے چه وخیژولے شهٔ دے اسمان ته نو وے لیدهٔ هغه چه
په اسمان کښ وو چه هغه څهٔ شے وو چه عرش او کرسی وه او سدرة المنتهٰی وه او نور له
دے نه هم زیات څیزونه ئے ولیدهٔ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ⑲ آیا لیدلے دے تاسے لات او
عزٰی وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى ⑳ او منات دریم نوخبر را کړئ ما لره د د رے وارو بتانو چه
تاسے عبادت کوئ د هغوی بے د الله نه چه دوئ لره شته دے څه قدرت او لوے والے ف
نو دا لات بت وو د هغه تپے چه نوم ئے ثقیف وو د طائف په زمکه کښ او ویلی شوی دی چه
دا بت په نخله کښ وو نوم د یو ځائی دے قریشو دهٔ عبادت کولو او عزٰی بت وو د غطفان
قبیلے او دا یوه ونه وه چه دوئ به ئے عبادت کولو نو پیغمبر علیه السلام خالد رض ورته ولیږهٔ
چه ئے وخکله هغه. او منات یو کا نړے وو چه هزیل قبیلے او خزاع قبیلے به د هغه عبادت
کولو. دا بیان د بتانو په مدارک کښ دے او په تفسیر جلالین کښ دا سے ذکر شوی دی چه دا

درے واړه بتان وو دکانړی چه مشرکانو به د دوی عبادت کولو او ویل به ئے چه دوی به شفاعت او سفارش وکړی ځمونږ ه او خلاص به کړی مونږ د عذاب د الله نه هرکله چه دوی به ویل چه ملائکې لونړه دخدائ دی او سره له دے چه دوی به لونړه بدے گنړلے تردے حده چه به دچا لور وشوه نو ژوندی به ئے ښخه کړه نو الله تعالیٰ رد وکړه د دوی او وے ویل اَلَکُمُ الذَّكَرُ وَلَـهُ الْاُنْثٰى ﴿۲۱﴾ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ﴿۲۲﴾ آیا تاسے لره هلکان شو او الله تعالیٰ لره لونړه داقسمت دے کوږ یعنی اے کافرو تاسے برابر ویش و نه کړو چه تاسے سره له پلیتی او دخوارئ خپلے الله تعالیٰ ته نسبت کوئ د لونړو سره له لویئ او دبے پرواهئ د هغه څیز او پاك دے له هر عیبه دهغه څیز چه هغه څیز تاسے لائق نه گنړئ دځانو خپلو چه هغه لونړه دی اِنْ هِىَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ط نه دی داچه تاسے ئے بولی په خدائئ سره مگر نومونه دی چه تاسے اینبی دی دپاره دهغوئ تاسے او پلرو نو ستاسے نه دے لیږلے الله په دے سره هیڅ حجت او دلیل اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ج نه تابع کیږی دوی مگر دگمان او دهغه څیز چه غواړی نفسونه د دوی یعنی هر څه چه بنا ښسته کاندے دوی ته شیطان نو په سبب د پلیتئ خپلے سره تابع شی د هغه لکه داعبادت د بتانو یا نور په مثل د دے پلیتئ د یرے ولے چه فکرونه د دوی پلیت دی او خبرے د الله پاکے دی او روښانه نو دوئ ځ وکرځوی له هغے نه لکه چه الله وائی وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿۲۳﴾ او خامخا به تحقیق سره راغلی دی دوی لره له ربه د دوی نه لارښود یعنی الله تعالیٰ نازل کړه یو کتاب دیر ښانه او ډیر آسان په یو پیغمبر باندے چه هغه ډیر ښه بیانوونکے دے له ټولو بنی ادمو او له ټولو پیریانو نه بلکه له ټولو پیغمبرانو نه سره له دے چه څوك په اصل کښی بدبخت وو نو هغه ونه مانه او وے ویل چه دا قرآن خو ډیر گران دے او مونږه پرے نه پوهیږ وَاَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿۲۴﴾ نصف آیا دی سړی لره هغه چه دے غواړی معنیٰ دا ده چه دهٔ لره به نه شی هغه چه دے ئے خواهش کوی نو داهسے بدگمانی ده چه اچولے ده دهٔ ته شیطان چه شفاعت د بتانو دے او انکار دے له قیامت او حسابه او دجزا ورکولو نه فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ع ﴿۲۵﴾ پس

خاص د پاره د الله دے آخرت او دنیا نو مالک نه دے هیځوک په دے دواړو کښې د هیڅ شی مګر
په حکم د الله سره او نهٔ به مالک شی چرے بے له رضاد هغهٔ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِي
شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿۲۶﴾ او ډیرے دی له ملائکو نه
په اسمانونو کښې چه د فع به و نهٔ کاندې شفاعت د دوئ یو شے له عذاب نه او نه به نفع ورسوی مګر
پس له هغې نه چه حکم ورته وکړی الله د شفاعت د پاره د هغه چا چه وغواړی الله او رضا دوشی
د دهٔ نو ملائکے سره له بزرګئ او ډیروالی د دوئ چه د ټولو شفاعت نهٔ قبلیږی بے له حکم د الله نه
نو بتا نو ته څهٔ امید دے اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ﴿۲۷﴾
په تحقیق سره هغه خلق چه ایمان نهٔ راوړی په اٰخرت او باور نهٔ کوی په پورته کیدلو له
قبرونو نه خامخا نوم ږدی دوئ هرے یوے ملائکے نوم د ښځې ولے چه وائی دوئ چه ملائکے لونړه
دی د خدائ نو هرے یوے ته ئے نوم کیخودهٔ ښځه وَمَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ ط او نشته دے دوئ لره په
دے باندے علم یعنی د دوئ علم په الله باندے نشته نو ځکه ئے ملائکے لونړه وائی اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ
اِلَّا الظَّنَّ ج وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ﴿۲۸﴾ نهٔ تابع کیږی دوئ مګر د ګمان او به
تحقیق ګمان نه نفع کوی له حق نه د هیڅ شی یعنی دوئ تابع کیږی صرف د ګمان او نهٔ کوی حکم
شرعی نو ځکه وائی هر کفر چه په خوله ئے راشی لکه ویل شو ملائکو ته لونړه د خدائ فَاَعْرِضْ عَنْ
مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا پس مخ وګرځوه نهٔ له هغه چا نه چه هغه ګرځید لے دے له ذِکره ځمونږه
یعنی هغه څوک چه هغه ګرځید لے دے له قراٰن او له ایمانه او تابع شوے دے د ګمان خیل هغه
لا ئق نهٔ دے د ګفتګو وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۲۹﴾ او نهٔ دی اراده کړے هغهٔ مګر ژوندون
ډیر نا کاره او نږدے هلاک ته ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ط دا غور کول د دے دنیا او رضا په دے
سره ځائ د رسیدلو د علم د دوئ دے چه نهٔ تیریږی له دے نه علم د دوئ اٰخرت ته او دا دا
بد شے دے چه پناه غوښته وه له دے نه رسول الله صلے الله علیه وسلم او ویلی وو اللهم لا تجعل
الدنیا اکبر همنا ولا مبلغ علمنا یعنی اے الله مګر زهٔ دنیا لوی مقصود ځمونږه او نه ځائ
د رسیدو د علم ځمونږه اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۙ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى ﴿۳۰﴾

په تحقیق سره رب ستا ډیر عالم دے په هغه چا چه ګمراه شوے دے له لارے د الله تعالیٰ نه او
هغه ډیر عالم دے په هغه چا چه په لارے سمے دے نو چه هغه ډیر عالم دے په دواړو فرقو. نو جزا
به ورکوی دوئ له دکارونو د دوئ او نیک وی او که بد وی وَلِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ
او خاص الله له دی هغه چه په آسمانونو کښې دی او هغه چه په زمکه کښې دی لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ
اَسَآءُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰی (۳۱) د پاره د دے چه جزا ورکړی هغه چا له چه
بدی ئے کړے وی د هغه شی چه دوئ کړے دی او جزا ورکړی هغه خلقو له چه نیکی ئے کړے وی
د نیکئ معنیٰ دا ده چه پیدا کړے دے الله د مخلوق چه جزا ورکړی نیکو کارا و بد کار له موافقت
سره له کار د هر یو ولی چه بادشاه لائق دے د پاره د مدد د دوستانو او د قهر په دشمنانو اَلَّذِیْنَ
یَجْتَنِبُوْنَ کَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ط هغه دی چه ځان ساتی له لویو ګناهونو نه او له
هغه لویو ګناهونو نه چه ظاهره وی پلیتی او بے حیائی د هغو لیکن واړه ګناهونه لکه نظر کول
یا ښکلول ورته به وبخښلے شی که ځرے ځان وساتی له لویو ګناهونو نه او لوئ ګناهونه اګرچه
ډیر دی لیکن له ټولو نه لوئ شرك دے له الله سره او نزدے ورته قتل د مؤمن دے په ناحقه او
زنا ده او لواطت دے چه بدکاری ده د نر له نر سره او څښل د شرابو او ګواهی د دروغو او خوړل د
مال د یتیم په ناحقه او جادو کول او ښکنځل پاکو ښځو ته په زنا سره او مخالفت له مور او پلار نه
او تیخته له جنګ د کافرو نه او خوړل د سود او بغیر له دے نه هم ډیر دی اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ط
په تحقیق سره رب ستا فراخونکے دے د بخښنے نو بخښنه کوی او توبه قبلوی که څوك توبه وکړی او
بخښنه وغواړی په تفسیر جلالین کښې دے چه څینې خلقو ویل چه نمونځونه ځمونږه او روژے
ځمونږه ډیرے ښائسته دی نو نازل شه دا آیت. هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ
وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِیْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ج فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ط هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰی (۳۲) الله ډیر ع ۲ ۲
عالم وو په تاسے باندے هغه وخت چه پیدا ئے کړئ تاسے له زمکے نه او هغه وخت چه وئ بچی په ګیډو
د میندو ستاسو کښې نو مه پاکوئ نفسونه خپل او په زړه کښې مه تیروئ چه ځمونږه عملونه ډیر
ښه دی او بل چا ته ئے هم مه ظاهروئ ولے چه هغه ډیر عالم دے نو ستاسے دے لا فو ته څه

حاجت دے جزا به درکړی تلسے لره نو ولے تاسے ثوابونه خپل په دے کارونو سره خرابوئ روایت دے چه یو کافر تابع شوے وو د پیغمبر علیه السلام نو پیغورو ورکړه هغهٔ لره کافرانو چه ته ګمراه شوے نو هغه وویل چه زهٔ ویریدم له عذاب د الله نه. پس هغه چا چه پیغور ورکړے وو ورته وویل چه زهٔ به پورته کړم عذاب ستا او دومره مال مالره راکړه اوله دین د محمد (صلی الله علیه وسلم) نه وګرځه نو هغه سړے بیرته کافر شهٔ اوځهٔ مال ئے ورلره ورکړو اوځهٔ ئے ورنهٔ کړو نو الله تعالیٰ په بدئ دده کښ وویل اَفَرَءَیۡتَ الَّذِیۡ تَوَلّٰی ﴿۳۳﴾ وَاَعۡطٰی قَلِیۡلًا وَّ اَکۡدٰی ﴿۳۴﴾ ایا لید لے دے تا هغه سړے چه وګرځیدهٔ له ایمانه او ورئے کړه ملګری خپل ته لږ او منع ئے کړه نور مال اَعِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡغَیۡبِ فَهُوَ یَرٰی ﴿۳۵﴾ ایا دهٔ ځنه دے علم د غیب پس دے ئے وینی یعنی دے پوهیږی په دے خبره چه که ماته څوک ضامن شی د عذاب د الله تعالیٰ نو ما به خلاص کړی له هغه نه اَمۡ لَمۡ یُنَبَّاۡ بِمَا فِیۡ صُحُفِ مُوۡسٰی ﴿۳۶﴾ وَ اِبۡرٰهِیۡمَ الَّذِیۡ وَفّٰۤی ﴿۳۷﴾ ایا نهٔ دے خبر کړے شوے په هغه څیز باندے چه وو پانړو د موسیٰ کښ او پانړو د ابراهیمٔ هغه ابراهیم چه پوره کړے ئے وو حکم د رب خپل په ورکولو د ځان او په پریخودلو د مال او د ملک سره او د ورکولو د ځوئ خپل سره د پاره د حلالولو او په پانړو د ابراهیم او د موسیٰ علیهما السلام کښ دا خبره وه اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزۡرَ اُخۡرٰی ﴿۳۸﴾ چه پورته به نهٔ کا پورته کونکے بار د بل معنیٰ دا ده ایا نهٔ پوهیږی دا ولید په هغه خبره چه لیکلے شوے وو په پانړو د موسیٰ او د ابراهیم کښ او که دے خبر وے نو کافر شوے به نهٔ وو په څوڅلے دیود روغتن سړی او بل خبره په هغه کښ دا وه وَاَنۡ لَّیۡسَ لِلۡاِنۡسَانِ اِلَّا مَا سَعٰی ﴿۳۹﴾ او چه نشته دے سړی لره مګر هغه چه دهٔ کړی وی۔ وَاَنَّ سَعۡیَهٗ سَوۡفَ یُرٰی ﴿۴۰﴾ ثُمَّ یُجۡزٰىهُ الۡجَزَآءَ الۡاَوۡفٰی ﴿۴۱﴾ او په تحقیق سره سعی د دهٔ او کار د دهٔ زر دے چه وبه لیدے شی پس جزا به ورکړے شی سړی لره د کار خپل بدله پوره وَاَنَّ اِلٰی رَبِّکَ الۡمُنۡتَهٰی ﴿۴۲﴾ او په تحقیق رب ستا ده انتها او خلاصوالے د هر شی یعنی د اول خلق به وګرځی هغهٔ ته وَاَنَّهٗ هُوَ اَضۡحَکَ وَاَبۡکٰی ﴿۴۳﴾ او په تحقیق سره هغه خندوی او ژړوی وَاَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ وَاَحۡیَا ﴿۴۴﴾ او په تحقیق سره هم هغه وژنی او ژوندی کوی

وَ اَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَیْنِ الذَّكَرَ وَ الْاُنْثٰى ﴿۴۵﴾ او په تحقیق سره هم هغهٔ پیدا کړے دی جوړه نر او
ښځه مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿۴۶﴾ له منی نه چه وغورځولے شی په رحم کښی وَ اَنَّ عَلَیْهِ النَّشْاَةَ
الْاُخْرٰى ﴿۴۷﴾ او په تحقیق سره هم په هغه باندے پیدا کول دی دبل نو پیدا به کاندی تاسے
په آخرت کښی نو جزا به درکړی تاسے لره موافق دکار ستاسے وَ اَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَ اَقْنٰى ﴿۴۸﴾ او په
تحقیق سره هم هغه غنی کوی او اصل د مالونو ورکوی وَ اَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿۴۹﴾ او په
تحقیق سره هم هغه دے رب دشعرٰی . شِعرٰی یو ستورے دے وچه عبادت کاوُو خزاعو او دے
او دوی تابع شوی وو د ابو کبشه چه دے مخالف وو له نورو عربونه چه هغوی عبادت کولو د
نورو ستورو او دهٔ شروع کړهٔ د شعرٰی عبادت نو هر کله چه رسول الله ؐ دین د الله تعالیٰ راوړهٔ
مخالف له عقیده د دوی نه نو ویل دے عربو پیغمبر ؐ ته چه دے ابن کبشه دے وَ اَنَّهٗ اَهْلَكَ
عَادَا الْاُوْلٰى ﴿۵۰﴾ او په تحقیق سره هغه هلاک کړے دے عاد اول چه هغه قوم د هود ؑ وو
او د هغوی اولاد پاتے شوے وو چه هغه عاد دویم شو چه قوم د صالح ؑ دے وَ ثَمُوْدَا فَمَآ اَبْقٰى ﴿۵۱﴾
او هلاک کړهٔ الله تعالیٰ ثمودیان نو باقی ئے پرے نهٔ خودل له دوی نه هیڅوک وَ قَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ط
اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَ اَطْغٰى ﴿۵۲﴾ او هلاک ئے کړهٔ قوم د نوح ؑ مخکښی له دوی نه په تحقیق سره وو
دوی ډیر ظالم او ډیر سرکش . ولے چه نوح علیه السلام ډیر عمر تیر کړهٔ په دوی کښی او دوی سره
له نه ایمان په دهٔ باندے ډیر ضرر نه ورسول دهٔ ته او وے وهلو ډیر ځلے وَ الْمُؤْتَفِكَةَ
اَهْوٰى ﴿۵۳﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿۵۴﴾ او هغه کلی اړولی شوی خکته ئے راوغورځول پس پټ کړهٔ
هغه کلی هغه څیز چه پټ کړی ئے وو چه هغه کانړی وو چه ئے پرے وروَلی وو پس له اړولو
نه . فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿۵۵﴾ پس په کوم یو د نعمتونو د رب ستا اے سړیه شک به کړے
ته . هٰذَا نَذِیْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿۵۶﴾ دا محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ویروونکے دے له
ویروونکو ورمبنو نه لکه چه هغه پیغمبران وو ویرول به ئے کول له عذابه د الله نه دا یو
دا هم پیغمبر دے چه ویرول کوی اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَیْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ط ﴿۵۸﴾
نزدے شوے دے نزدے کیدونکے چه ورځ د قیامت ده نشته دے هغے لره لرے کونکے چه لرے

کړی عذاب دهغې لره چه واقع شي په خلقو یا بیانونکے وخت دهغې لره چه کله به وي یعنې دا بیانونکے هیڅ څوك نشته دے وخت دهغې لره أَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَأَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿٦١﴾ آیا له دے خبرے نه چه قرآن دے تعجب کوئ دپاره د دروغ کولو او خاندی دپاره دمسخرے کولو او نه ژاړئ په اوریدلو د وعدے د ثوابونو او دعذابونو او تاسے غافل یئ بے خبره له هغه شي نه چه به طلب وکړے شي له تاسے نه په ورځے د قیامت فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿٦٢﴾ پس سجده وکړی خاص الله تعالیٰ لره او عبادت وکړئ هغه لره او سجده مه کوئ دپاره دبتانو او مه عبادت کوئ دهغوئ۔

ع السجدة

سُورَةُ الْقَمَرِ ۵۴ مکیه ۳۷ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — آیاتها ۵۵ رکوعها ۳

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿١﴾ نزدے شوے دے قیامت او څیرے شوه سپوږمۍ او دا څیریدل دسپوږمۍ هم یوه لویه معجزه ده له معجزو د پیغمبر نه او دا خبره معلومیږی له حدیثه دانس رض چه سوال وکړو اهل مکه ؤله رسول صلے الله علیه وسلم نه چه بنکاره کړه مونږ ته یوه نښه د پیغمبرئ نو بنکاره ئے کړه ورته څیریوالے دسپوږمۍ دوه ځلے دا حدیث په بخاری او مسلم کښ دے او زیاتی کړے ده په ترمذی کښ دا خبره چه نازل شوُ دا آیت بیهقی ویلی دی چه قریشو ولیده سپوږمۍ څیرے شوه دوه ځایه په شپه د څوارلسمے وے ویل چه دا سحر وکړو په تاسے څوی دابی کبشه. نو وګورئ چه راشی تاسے ته مسافر ولے چه د محمد صلے الله علیه وسلم طاقت نشته چه سحر وکړی په مسافرانو ټولو هر کله چه مسافران راغلل له لرے ځایونو نه نو قریشو ترے تپوس وکړو نو هغوی ټولو ووئیل چه مونږه لیدلے دے څیری والے دسپوږمۍ نو قریشو ونه مانهٔ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿٢﴾ او که چرے وګوری کافران یوه نښه او معجزه د پیغمبر نو مخ وګرځوی او وائی چه دا جادو دے قوی یا جادو دے همیشه وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْا أَهْوَاءَهُمْ وَكُلُّ أَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾ او دروغژن کوی دوئ پیغمبر او خبرے دالله او تابع شوی دی دوئ دخواهشونو خپلو او هر کار چه خیر دے او که شر دے

یعنی نیکی او بدی قرارے نیونکے دے سرہ لہ کونکی خپل پہ جنت کبنی یا پہ اور کبنی وَلَقَدْ
جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ۝۴ او پہ تحقیق سرہ راغلی دی دوئی لرہ خبرونہ د
هلاك دامتونو د روغ کونکو د رسولانو خپلو هغہ څیز چہ پہ هغہ کبنی منع وہ لہ کفرہ نہ او
د روغ کولو د پیغمبرانو نہ حِكْمَةٌۢ بَالِغَةٌ علم پورہ چہ هغہ پورہ وو چہ هغہ پورہ وو پہ منلو د
پیغمبرانو کبنی نو ونہ مانہ هغہ خلقو چہ بدبخت ازلی وو فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ۝۵ پس نفع ونہ کړہ
ویرونکو فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ پس مخ وکرځوہ تۂ لہ دوئی نہ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ اِلٰى شَيْءٍ نُّكُرٍ ۝۶
خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ یادہ کړہ دوئی تہ هغہ ورځ چہ راوبلی بلونکے
یو څیز ناکارہ تہ چہ نۂ وی لیدلے شوے پہ شان د هغۂ چہ هغہ سختی د قیامت دہ پہ دے
حال سرہ چہ خوار وی نظرونہ د دوئی راوبہ وځی لہ قبرونو كَاَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ ۝۷
مُّهْطِعِيْنَ اِلَى الدَّاعِ ؕ گویا کۂ دوئی ملخان دی خوارۂ چہ جلدی کونکی او راختونکی د
کړ د نو نو بہ وی بلونکی تہ چہ اسرافیل ؑ دے يَقُوْلُ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝۸ وائی بہ کافران
چہ دا ورځ دہ سختہ ډیرہ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ فَكَذَّبُوْا عَبْدَنَا دروغژن کړے وو پخوا لہ
دے کافرانو د مکے نہ قوم د نوح ؑ پس دروغژن کړے وو بندہ ځمونږہ فَقَالُوْا مَجْنُوْنٌ وَّازْدُجِرَ ۝۹
او ویلی وو دوئی چہ لیونے دے او منع کړے شوے دے لہ دے خبرونہ پہ ښکنځلو سرہ او پہ وهلو
سرہ فَدَعَا رَبَّهٗۤ اَنِّيْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ ۝۱۰ پس دہ سوال وکړو رب خپل تہ چہ پہ تحقیق زۂ
عاجز کړے شوے یم نو بدلہ واخلہ مالرہ لہ دوئی نہ فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ۝۱۱ وَّ
فَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا فَالْتَقَى الْمَآءُ عَلٰۤى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ۝۱۲ پس پرانستے مونږہ دروازے د آسمان پہ
پہ اوبو ډیرو راړولو شویو سرہ چہ نۂ بندیدے څلویښت ورځے او وُم کړځولہ زمکہ چینے چہ اوبہ ئے
راختکولے نو یو ځائے شوے اوبہ د آسمان او د زمکے پہ هغہ کار چہ مقرر وو او حکم پرے کړے شوے
وو پہ اول کبنی پہ ډوبولو سرہ وَحَمَلْنٰهُ عَلٰى ذَاتِ اَلْوَاحٍ وَّدُسُرٍ ۝۱۳ او پورتہ کړے وو مونږہ دے

عہ پہ تفسیر جلالین کبنی دی چہ آواز کونکے اسرافیل ؑ دے پہ جمل کبنی وائی چہ وبہ دریږی اسرافیل ؑ پہ کاڼی د بیت المقدس نو
آواز بہ وکاندی کلہ پورتہ کید و او بعضے وائی چہ آواز کونکے جبریل ؑ دے او پُوکونکے اسرافیل ؑ دے۔ او شہاب وائی چہ پوکونکے جبریل ؑ
دے او دغہ ډیرہ صحیح دہ او پہ دے باندے دے قول د اصحابو او د تابعینو پورہ شہ عبارت د جمل پہ سورۃ ق کبنی ۱۲

په هغه بیړۍ با ندے چه صاحب د تختونو او د میخونو وه ۔ دُسُر هغه څیز دے چه بیړۍ پرے
کلکولے شی ۔لکه میخونه یا نور څیز و نه شوچه حاجت ورته پریوځی د جهاز والو تَجۡرِی بِاَعۡیُنِنَاۚ
جَزَآءً لِّمَنۡ کَانَ کُفِرَ ﴿۱۴﴾ بهیدہ له په ځائ د لیدلو ځمونږه کښ او په ساتنے او په حکم ځمونږه سره
داکار وکړۀ مونږه له دوئ سره دپاره د بدلے اخستلو د هغه چه کفر کړے شوے وو په هغه باندے
چه نوح ؑ وو یعنی مونږه بدله واخستله د دوست خپل وَلَقَدۡ تَّرَکۡنٰهَاۤ اٰیَةً او خامخا په
تحقیق سره پریخوده مونږه هغه بیړۍ یوه نښانه او علامه چه عبرت واخستے شی په هغے سره
مدارك او خازن روایت کوی له قتادهؒ چه باقی پاتے کړے وه الله تعالیٰ هغه بیړۍ په زمکه د جزیرے
کښ او وئیلی شوی دی چه وه دا بیړۍ په جودی باندے تر هغه پورے چه ولیده اول خلقو د امت
د پیغمبرؐ فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّکِرٍ ﴿۱۵﴾ ایا څوك شته دے یادونکی او نصیحت اخستونکی یعنی الله
بیان وکړۀ دے امت ته د خبرونو د پرمبو اُمتونو او د رسولانو د هغوئ او بیان ئے ورته وکړو
دکارونو د هغوئ او د عذابونو د هغوئ او دکارونو د پیغمبرانو او دا بیان د اُمتونو او د پیغمبرانو
د هغوئ صرف د پاره د رحمت او د مهربانی خپلے دے په دے امت د محمد صلی الله علیه وسلم باندے
ولے چه په دے هرے یوے قصے کښں وعظ وو او په هره یوه قصه کښں ئے ورته وویل فهل من
مدکر ۔ یعنی ایا شته دے څوك نصیحت اخستونکے پس نصیحت واخلئ په دے سره او یادے کړئ
فَکَیۡفَ کَانَ عَذَابِیۡ وَنُذُرِ ﴿۱۶﴾ نو څرنګه وو عذاب ځمونږه او ویرول ځمونږه وَلَقَدۡ یَسَّرۡنَا
الۡقُرۡاٰنَ لِلذِّکۡرِ فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّکِرٍ ﴿۱۷﴾ او خامخا په تحقیق سره اسان کړے دے مونږه قران د پاره د پند
اخستلو ایا څوك شته دے یادونکی او نصیحت اخستونکی یعنی یاد کړئ دا او پند پرے واخلئ
کَذَّبَتۡ عَادٌ فَکَیۡفَ کَانَ عَذَابِیۡ وَنُذُرِ ﴿۱۸﴾ دروغژن کړے وو عادیانو نبی خپل نو څنګه وو
عذاب ځمونږه او ویرول ځمونږه اِنَّاۤ اَرۡسَلۡنَا عَلَیۡهِمۡ رِیۡحًا صَرۡصَرًا په تحقیق سره لیږلے
وو مونږه په دوئ باندے باد سوړ یا ډیر سخت الوتونکے او سخت اوازکونکے فِیۡ یَوۡمِ
نَحۡسٍ مُّسۡتَمِرٍّ ﴿۱۹﴾ په ورځ د بدئ کښں چه همیشه وه بدی د هغے په دوئ باندے چه پاتے
نۀ شۀ پکښں یوله دوئ نه او دا اخره چهارشنبه وه د میاشتے دوارو آخر تَنۡزِعُ النَّاسَ کَاَنَّهُمۡ

اَعۡجَازُ نَخۡلٍ مُّنۡقَعِرٍ ﴿۲۰﴾ وخکل ئے خلق گویا کۀ دوئ بیخونه وو دکجورو له بیخه وخکلے شوے یعنے
راوخکل باد او وے ویشتل په سرونو باندے نوجدا ئے کړه سره دھغوی او پریوتہ ئے په زمکه باند
بے سرونو مړۀ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِىۡ وَنُذُرِ ﴿۲۱﴾ نو څرنګه وو عذاب ځمونږه او ویرول ځمونږه
ع ۱ ۲ ۸ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا الۡقُرۡاٰنَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ ﴿۲۲﴾ او خامخا په تحقیق سره اسان کړے مونږه
قران د پاره د پند اخستلو ایا څوک شته دے یادونکی او نصیحت اخستونکی یعنی یادکړی او پند
یرے واخلئ. كَذَّبَتۡ ثَمُوۡدُ بِالنُّذُرِ ﴿۲۳﴾ د روغژن کړے وو ثمودیانو ویرول او وعظونه چه اوریدلی
ئے وو له صالح علیه السلام یا دروغژن کړی وو رسولان. ولے چه صالح ؑ ئے دروغژن کړه نوګویا
کۀ ټول پیغمبران ئے دروغژن کړل ولے چه ټول د یو الله پیغمبران وو او د ټولو یو دین وو نو د
یو دروغژن کول د ټولو دروغژن کول شو فَقَالُوۡۤا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗۤ ۙ نو وویل دوئ
ایا سړے له مونږه نه چه یو دے تابعداری وکړو مونږه د هغۀ یعنی مونږه نۀ تابع کیږو د
یو سړی سره له ډیروالی ځمونږه اِنَّاۤ اِذًا لَّفِىۡ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۲۴﴾ به تحقیق سره مونږه په دغه
وخت کښ چه تابعداری وکړو د دۀ خامخا یو به په ګمراهئ او په لیونتوب یا په عذاب یا په
اور کښ ولے چه د سُعُر معنیٰ په تفسیر ونو کښ په دے درے واړو سره راغلے ده اُلۡقِىَ الذِّكۡرُ
عَلَيۡهِ مِنۡۢ بَيۡنِنَا ایا غورځولے شوے دے ذکر په دۀ باندے یعنی وحی نازله کړے شوے ده په
دۀ باندے چه غوره کړے شوے دے دے له مینځه ځمونږه نه په وحی سره او په مونږه کښ
ډیر غوره او لائق د پیغمبرئ دے له دۀ نه. نو نۀ دے دا چه دائے وائی بَلۡ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿۲۵﴾
بلکه دے ډیر دروغژن او کبرجن دے غرض ئے دا دے چه ځان لوئ کاندی په مونږه پس
الله رد کوی په دوئ او وائی سَيَعۡلَمُوۡنَ غَدًا مَّنِ الۡكَذَّابُ الۡاَشِرُ ﴿۲۶﴾ زر دے چه پوهه به شی
دوئ صبا چه څوک دے ډیر دروغژن او کبرجن چه دروغ کوی خبره د الله تعالیٰ او کبر
کوی په رسول د الله باندے اِنَّا مُرۡسِلُوا النَّاقَةِ فِتۡنَةً لَّهُمۡ خامخا مونږه لیږونکی یو د اوښے
د پاره د ازمیښت د دوئ نو مونږه وخکلو اوښه لکه چه دوئ غوښته له یو کاڼی نه
چه هغه مونږه لائق کړے وو د پاره د وخکلو د اوښے او سره له دے چه په جهان کښ کاڼی

ډیر وو دا رنګے مونږ ه غوره کوو یوسړے په پیغمبرئ سره حُمونږ ه په کارکښې هیڅوك دخل

نشی کولے او نهٔ پوهیږی له مونږه نه زیات په هغه چا چه لائق د پیغمبرئ وی فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿۲۷﴾

نو کوره دوئ ته او مهلت ورکړه او صبر وکړه په ضرر د دوئ وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ ۚ

او خبر کړه دوئ چه په تحقیق سره اوبهٔ ویشلے شوی دی په مینځ د دوئ کښې نو یوه ورځ د

اوښے ده او یوه ورځ د دوئ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿۲۸﴾ هر برخے ته به حاضریدے شی یعنی حاضریږی

به ورته هر هغه څوك چه د چا واروی فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ نو اواز وکړه

هغوئ ملګری خپل ته نو وے نیوله هغه اوښه پس پوندے د هغې ئے ووهلے یعنی په دے

اواز کونکو کښې یو ډیر لوئ بد معاش او ډیر لوی کافر وو چه نوم ئے قدار[ع] وو چه هغه په توره

ووهله هغه اوښه په پوندو باندے او مړه ئے کړه فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ نو څنګه وو عذاب

څما او ویرول څما اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً په تحقیق سره مونږه لیږلے وو په هغوئ

باندے اواز یو یعنی اواز وخکهٔ په دوئ باندے جبریل ؑ په خلورمه ورځ له وژلو د اوښے نه

ولے چه وژل د اوښے په ورځ د سه شنبے وو او هلاك د دوئ په ورځ د خالی وو فَكَانُوْا كَهَشِيْمِ

الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ نو وو دوئ په شان د کیاه وچے میده کړے د شپول جوړونکی وَلَقَدْ يَسَّرْنَا

الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾ او خامخا په تحقیق سره اسان کړے دے مونږه قرآن د

پاره د نصیحت نو ایا شته څوك نصیحت اخستونکے په دے سره كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍ بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾

دروغژن کړی و و قوم د لوط علیه السلام وعظونه او خبرے د پیغمبر اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ

حَاصِبًا په تحقیق لیږلے وو مونږه په دوئ باندے باد کانړی ویشتونکے یعنی مونږه لیږلے

وو په قوم د لوط علیه السلام چه وے ویشتل له دوئ نه هغه چه پاتے شوی وو پس له ارولو

د کلو د دوئ نه یعنی مسافران چه کورونو ته راغلل اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ۭ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾ مګر

عیال د لوط پیغمبر ؑ چه خلاص کړی وو مونږه دوئ په وخت د سحر کښې یعنی لوط علیه السلام

سره د دوو لونړو خپلو او سره د هغه چه ایمان راوړے دے په دهٔ نو خلاص کړه مونږه په

ع چه نوم ئے قدار یا قدار وو۔ کذا فی الجلالین ۱۲

وخت د سحر کښې له هغه عذاب چه قوم د لوط[۴] پیغمبر پرے هلاك شه چه هغه اړول د کلو
او وروول د کاڼو وو په باد سره نِعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا د اخلاصول د لوط[۴] سره د تابعدارانو خپلو
نعمت وو له فضله او له مهربانئ زمونږه هم په دوئ او هم په نورو مؤمنانو وے چه هغوئ
به پرے عبرت واخلی نو دوئ ته به فائده شی په دین هم په دنیا کښې كَذَالِكَ نَجْزِىْ مَنْ
شَكَرَ ﴿۳۵﴾ په مثل د دے نعمت او نیکئ زمونږه سره د دوئ جزا او بدل به ورکوو مونږه هغه چا
لره چه شکر کوی یعنی هر څوك چه خدائ یو وګڼړی او خبره ومنی د پیغمبر نو هغه به وسنه
عذابیږی سره د کافرانو وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿۳۶﴾ او خامخا په تحقیق
سره ویرولی وو لوط[۴] دوئ له نیولو او له عذابولو زمونږه نو شک وکړه او دروغژن کړه دوئ
ویل او ویرول د هغهٔ وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ او خامخا په تحقیق سره غوښتلی وو دوئ له
هغه نه میلمانهٔ د هغه د پاره د بدکارئ او دا عادت د هغه کافرانو وو فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ نو
راندهٔ کړهٔ مونږه دوئ او وګرځولے مونږه سترګے د دوئ بے څیری والی یعنی جبریل[۴] ووهل
دوئ په وزر سره نو ړانده شو دوئ او شوے سترګے د دوئ په شان د نورو مخ چه نهٔ
معلومیدهٔ پکښې ځائ د سترګو فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۳۷﴾ پس وڅکئ عذاب ځما او ویرول ځما
وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾ او خامخا په تحقیق سره راغلے وو دوئ ته په وخت
د صباح کښې عذاب چه ثابت وو او قرار نیولے وو په دوئ باندے تر هغه پورے چه
وے رسول دوئ عذاب د آخرت ته فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾ پس وڅکئ عذاب ځما
ع ۲ ۱۸ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾ او خامخا په تحقیق سره اسانه کړے
۱۹ دے مونږه قرآن د پاره د نصیحتونو نو آیا شته څوك نصیحت اخستونکے په دے فائده
په تفسیر مدارك کښې وائ چه فائده د بیا بیا ذکر کولو د فذوقوا عذابی ونذر او د ولقد
یسرنا القرآن للذکر فهل من مدکر د پاره د دے چه دوئ نوی کړی په نزد هر خبر
له خبرونو د وروسبونه یادول خپل او وعظ اخستل خپل او بنه بیدارشی چه واوری
بیا بیا ویل د الله وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿۴۱﴾ او په تحقیق سره خامخا راغلی وو

خپلو د فرعون لره ویرونکی چه هغه موسیٰ اوهٰرونؑ او نور پیغمبران وو او یا معنیٰ د
نذر ویرول دی کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا کُلِّهَا دروغژنی کړے هغوئ نښانے او معجزے ځمونږه ټولے یعنی
هغه نهه معجزے چه ورکړے وے مونږه موسیٰ لره نو دروغژنے کړے دوئ ټولے فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ
عَزِیْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۴۲﴾ نو ونیول مونږه دوئ، په نیولو د یو غالب قادر سره چه هیڅوك پیدا نهٔ شه دپاره
دخلاصولو د دوئ اَکُفَّارُکُمْ خَیْرٌ مِّنْ اُولٰٓئِکُمْ ایا کفار ستاسے غوره دی له دے شمار کړے شویو
نه چه قوم د نوحؑ او د هودؑ او د صالحؑ او د لوطؑ او اهل د فرعون دی نو دا کفار ستاسے غوره
دی په قوت او په زور د دنیا کښ او کم دی په کفر او په گناه د پیغمبر کښ نهٔ ده دارنګے بلکه دوئ
ډیر بد دی له هغوئ نه ولے چه دوئ کافر شو په ډیر لوئے پیغمبر اَمْ لَکُمْ بَرَآءَةٌ فِی الزُّبُرِ ﴿۴۳﴾ او
کهٔ تاسے لره خلاصے دے په کتابونو ورومبنو کښ د دے خبرے چه څوك کافر شی له تاسے نه او
دروغژن کړی پیغمبران نو هغه به په امان وی له عذاب نه نهٔ ده دارنګے بلکه بد له به
واخستے شی له دوئ نه د کفر د دوئ اَمْ یَقُوْلُوْنَ نَحْنُ جَمِیْعٌ مُّنْتَصِرٌ ﴿۴۴﴾ ایا وائی ابوجهل
په ورځ د بدر کښ چه په تحقیق مونږه جمع یو بدل اخستونکی له هغه چا نه چه مخالفت
کوی له مونږه نو نازل شهٔ سَیُهْزَمُ الْجَمْعُ وَیُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ ﴿۴۵﴾ دا شان نزول په جلالین
کښ دے په جمل کښ روایت دے له عمرؓ چه هر کله چه نازل شهٔ دا ایت زهٔ نهٔ پوهیدم چه
دا به کله وی هر کله چه ورځ د بدر شوه ولیدم ما رسول د خدائے صلی الله علیه وسلم چه وائے
غوسته زغره وے ویل سیهزم الجمع نو پوهـ شوم زهٔ په معنیٰ د ایت چه هغه جمع ما ته دا
ده. بیضاوی. بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰی وَاَمَرُّ ﴿۴۶﴾ بلکه قیامت ځائے د وعدے دوئ
دے پس له بدر نه او قیامت لویه بلا ده او ډیره ترخه ده په عذاب کښ له دنیا نه. اِنَّ
الْمُجْرِمِیْنَ فِیْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۴۷﴾ په تحقیق سره مشرکان په گمراهئ او په اور کښ دی یَوْمَ
یُسْحَبُوْنَ فِی النَّارِ عَلٰی وُجُوْهِهِمْ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ﴿۴۸﴾ هغه ورځ چه راخکلے شی دوئ په
اور کښ په مخونو باندے نو وبه ویلے شی دوئ ته چه وڅکئ عذاب د دوزخ اِنَّا کُلَّ شَیْءٍ
خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ﴿۴۹﴾ په تحقیق سره هر څیز پیدا کړے دے مونږه په اندازے سره. معالم به

اسناد خپل سره روایت کړے دے له عبد الله نه چه ځوئ د عمرؓ وو او هغه ځوئ د عاص وو چه ویلې دی رسول صلے الله علیه وسلم چه رب العالمین لیکلې دی اندازے د ټول مخلوق پخوا د پیدا کولو د اسمانونو د زمکونه پنځوس زره کاله او وو عرش د الله تعالیٰ په اوبو باندے معالم روایت کوی له طاوس یمانی نه چه ویلې دی هغه چه اصحابو د رسول الله صلعم ویل چه هر څیز په قدر د الله سره دے او ما اوریدلی دی د عبد الله بن عمرؓ نه چه ویل هغه چه ویلی دی رسول د خدائی صلے الله علیه وسلم چه هر څیز په قدر سره دے تر هغه پورے چه عاجز کیدل او لا نائی او بیا معالم روایت کړے دے د علیؓ نه چه ویلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤمن به نهٔ شی بنده تر هغه پورے چه ومنی او باور وکړی په څلورو خبرو ګواهی ورکړی چه نشته الله مګر یو دے او په تحقیق زهٔ رسول د الله یم چه لیږلے یم په حق سره او ایمان راوړی په پورته کیدلو پس له مرګه وَمَآ اَمۡرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمۡحٍۭ بِالۡبَصَرِ ﴿۵۰﴾ او نهٔ دے امر زموږ د پاره د یو شی چه اراده وکړو موږ مګر خبره یوه چه ورته وو وایو چه شه نو شی په شان د رپولو د سترګو یعنی لکه چه رپوی یو له تا سے سترګه خپله او ابن عباسؓ وائی چه معنیٰ دا ده چه حکم ځموږ په راتلو دقیامت سره په جلتئ کښ دا رنګے دے لکه رپ د سترګے وَلَقَدۡ اَهۡلَكۡنَآ اَشۡيَاعَكُمۡ فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ ﴿۵۱﴾ او تحقیق هلاک کړی وو موږ هغه کسان چه په مثل ستاسے وو په کفر کښ د امتونو تیرو شویو نه پس شته څوک نصیحت قبلونکے چه ایمان راوړی او ځان وساتی له کاره د هغوئ نه وَكُلُّ شَيۡءٍ فَعَلُوۡهُ فِي الزُّبُرِ ﴿۵۲﴾ او هر هغه څیز چه کړے وو هغوئ له نیکئ او له بدئ نه لیکلے شوے دے په عملنامو د هغوی او په لوح محفوظ کښ وَكُلُّ صَغِيۡرٍ وَّكَبِيۡرٍ مُّسۡتَطَرٌ ﴿۵۳﴾ او هر وړوکے او لوئے د خلقونه او د کارونو او د نیتونو او د اجلونو د دوئ نه لیکلے شوے دے اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِيۡ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ ﴿۵۴﴾ په تحقیق سره ځان ساتونکی له کفره او له بدو کارونو او له بدو خصلتونو نه په باغونو او په ولو کښ به وی یعنی ولے او باغونه د جنت چه له اوبو او د شرابو او د پیو او د ګبینو دی فِيۡ مَقۡعَدِ صِدۡقٍ عِنۡدَ مَلِيۡكٍ مُّقۡتَدِرٍ ﴿۵۵﴾ په مجلس د رښتیاؤ او ښائسته کښ به وی چه نهٔ به وی په هغه کښ عبث خبره او ګناه او خالی به

وی له دروغونه په نزد د بادشاه چه لوئی قدرت لرونکے دے



اَلرَّحۡمٰنُ ① عَلَّمَ الۡقُرۡاٰنَ ② رحمٰن ښودلے دے قرآن هغه چا ته چه رضا ئے وی په دے سورت
کښ خدائ تعالیٰ بیان کړی دی نعمتونه په قسمونو قسمونو سره او لوئی نعمت پکښ نعمت د
دین وه چه قرآن دے نو هغه ئے مقدم کړه په ټولو باندے او په دخولو د قرآن چه هغه لوئی
نعمت دے ذکر د پیدا کولو د انسان د پاره د دے دے چه هر سړے پوهه شی چه پیدا کول حما
د پاره د دین دی او دین حُما په دے قرآن کښ دے او شان نزول د دے آیت مفسرانو په دے شان
ویلے دے چه کافرانو ویل چه مونږ نه پیژنو رحمٰن. نو الله تعالیٰ وویل چه رحمٰن هغه دے
چه خودلے ئے دے خلقو ته قرآن او بعضو ویلی دی چه شان نزول ئے دا دے چه کافرانو
وویل انما یعلمه بشر. یعنی بے له دے نه نشته دے چه خودلے دے دا قرآن دهٔ ته سړی نو الله تعالیٰ
دے چه په جواب کښ وویل چه رحمٰن ښودلے دے قرآن خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ ③ عَلَّمَهُ الۡبَیَانَ ④
پیدا کړے ئے دے سړے. ابن عباس رض وائی چه مراد له سړی نه بابا آدم دے او یا ټول بنی آدم دی ښودلی
ئے دی دهٔ ته ظاهرول د هغه شی چه په زړهٔ کښ وی په ژبه یا په قلم سره یا په اشارت اَلشَّمۡسُ
وَالۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٍ ⑤ نمر او سپوږمۍ دروی په حساب معلوم سره او په ځایونو معلومو کښ چه نهٔ
تیریږی له هغهٔ نه وَّالنَّجۡمُ وَالشَّجَرُ یَسۡجُدٰنِ ⑥ او هغه بوټی چه پنډۍ نهٔ لری او هغه بوټی چه
پنډۍ لری سجدے کوی او سجدے د دے دغه سورے د دوئ دے او قبلول دی د کار د خدائ یعنی د
حکم د هغه او یا سجده د دوئ هغه ده چه خدائ پرے پوهیږی او بل خوک پرے نهٔ پوهیږی لکه
ویلی دی الله تعالیٰ وان من شیءٍ الا یسبح بحمده ولکن لا تفقهون تسبیحهم یعنی نشته
دے هیڅ شے مگر هغه پاکی وائی د خدای لیکن تاسو نهٔ پوهیږئ په پاکئ ویلو د هغے هم دارنګے
نهٔ پوهیږی په سجده د هغوئ مگر یو الله تعالیٰ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الۡمِیۡزَانَ ⑦ او آسمان
اوچت کړے دے هغه او ایخے ئے ده تله د پاره د دے چه تاسے انصاف وکړئ په دهٔ سره اَلَّا تَطۡغَوۡا

فِي الْمِيْزَانِ ⑧ چه تاسے سرکشي ونهٔ کړئ او تيرنهٔ شي له اندازے نه په تله کښې وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ
بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ⑨ او برابر کړئ تول په انصاف سره او نقصان مهٔ کوئ، په تله کښې
وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ⑩ او زمکه ايښے ده الله تعالیٰ د پاره د خلقو ټولو چه دوئ ارام
وکړي په دے کښې فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ⑪ په دے کښې قسم قسم ميوے دی چه تاسے
خوندونه اخلئ په هغو سره او دا سے نعمتونه دی چه شمار ستاسو کښې نهٔ راځی او کهجورے دی
صاحب د لستونړو چه په هغو کښې ساتلے شي دانے د دوئ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ⑫
او په دے کښې دانے دی صاحب د بوسو او په دے کښې رزق دے او چا ترجمه کړے ده د ريحان
په خوشبويئ سره فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ⑬ پس په کوم يو د نعمتونو د رب ستاسے باندے
اے پيريانو او سړيو تاسے به دروغ وايئ او منکر به شئ له هغهٔ يعني لوئ لوئ نعمتونه د خدائے
چه ذکر کړے شوی دی پخواله دے اٰيتونو او يا ذکر کيږی پس له دے نه يعني الله تعالیٰ ذکر کړه دا
اٰيت يو دېرش ځله صرف د پاره د ثابتولو د نعمتونو او د ځکلو لو د دے خبرے چه تاسے ياد ولرئ دا نعمتونه
جلالين روايت کوی له حکيم رح چه هغه روايت کړے دے له جابر رض چه و ويل جابر رض چه ولوست
رسول الله صلے الله عليه وسلم مونږ ته سورة رحمٰن ترهغه پورے چه ختم ئے کړهٔ پس وے ويل
څهٔ چل دے چه تاسے وينم چپ. پيريان ډير غوره وو له تاسے نه په جواب کښې ما نه ولوستے
په هغوئ باندے دا اٰيت يو کرت مګر دوی وويل ولابشئ من نعمك ربنا نكذب فلك
الحمد او نه په هيڅ شي د نعمتونو ستا اے ربه ځمونږ دروغ وايو پس خاص تالره ثنا ده يعني هر
ځله دوئ پس د لوستو د دے قول نه دا جواب راکړهٔ مالره. په جمل کښې وائی چه معلومه شوه له
دے نه دا خبره چه سنت دی او ريدونکی د قراٰن چه دا جواب دې ورکړي ريدونکی لره خَلَقَ الْاِنْسَانَ
مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ⑭ پيدا کړهٔ الله تعالیٰ سړے چه اٰدم عليه السلام دے له خټے وچے
نه. چه اٰواز ترے وخوت لکه کودرے وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ⑮ او پيدا ئے کړهٔ
پلار د پيريانو له لمبو خالصو نه چه لوګے پکښې نهٔ وو له اور ه او ويلی شوی دی چه ابو الجان
ابليس دے فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ⑯ پس په کوم يو د نعمتونو د رب ستاسے اے پيريانو

او سر پورتا سے به دروغ وایئ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ (۱۷) مالک او پالونکے د دووځایونو د
ختو د نمر او د سپوږمۍ دے. او مالک او پالونکے د دووځایونو د پریوتو دے. یعنی دوه ځایه د ختو
او د ژمی او دوه ځایه د پریوتو د دواړو فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (۱۸) پس په کوم یو د نعمتونو
د رب ستاسو تاسے به دروغ وایئ اے پیریانو او سړو مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ (۱۹) بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ
لَّا يَبْغِيَانِ (۲۰) او رَوان کړی دی الله دوه دریابونه چه یو ترو دے او بل خوږ دے چه لګی
یو له بل سره چه نښته دے پرده په مینځ د دوئ کښی په ظاهر نظر کښی بلکه په مینځ د دوئ
کښی پرده ده د قدرت د الله نو دوئ سرکشی نشی کولے یو په بل باندے چه بدله کړی مزه
یو د بل فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (۲۱) معنیٰ د دے کلما تو له اول نه معلومه کړه مکرر کولو د معنیٰ
ته څه حاجت دے يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ (۲۲) وزی له دے د دواړو نه لوئ لوئ مرغلرے
او وړے وړے خو یوائے له ترو نه. لیکن هر کله چه دواړه سره لګی نو دا سے شو لکه یو ځای
ئے وویل چه وزی له دے دواړو نه. فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (۲۳) وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَآتُ
فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ (۲۴) او خاص دپاره د الله دی بیړئ تلونکے پورته کړے شوے دی بعضے لړګی
د دوئ په بعضو باندے او اوچتے کړے شوی دی دوئ په دریاب کښی لکه غرونه فَبِأَيِّ
آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (۲۵) كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ (۲۶) وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ (۲۷)
ټول هغه چه دی په دے زمکه باندے هلاکیدونکی دی او باقی به پاتے شی ذات د رب ستا چه
صاحب د لویئ او د لوئی ورکولو دے چه لوئی ئے ورکړے ده پیغمبرانو او اولیاؤ او دوستانو
خپلو له په حدیث کښی دی اَلِظُّوا بِيَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَام یعنی لازم ونیسئ تاسے په دے ذکر سره
او مه ئے پریږدئ مدارك روایت کړی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تیریدهٔ په یو سړی
چه هغهٔ مونځ کاوه او ویل ئے. یاذا الجلال والاکرام نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده ته
وویل چه په تحقیق سره قبول وکړے شو تا له فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (۲۸) يَسْأَلُهُ مَنْ
فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ (۲۹) سوال کوی د الله نه هغه څوک چه په

عه فی مجمع البحار الظوا بیا ذا الجلال والاکرام اے الزموه واثبتوا علیه واکثروا من قوله من الظ به اذ الزم
فی القاموس الظ لازم دوام واقام ۱۲ — کتبه محمد صادق زهیر چیرهارے د اکوال

اسمانونو او په زمکو کښې دی یعنی ملائکې او سړی او پیریان . نو نهٔ دی بے پرواه له فضل دده نه مخلوق د اسمانونو او د زمکو ټول. ابن عباس رض ویلی دی چه مخلوق د اسمانونو سوال کوی له دهٔ نه د بخښنے او مخلوق د زمکے سوال کوی له دهٔ نه د رزق او د بخښنے د دواړو هره ورځ دے په یو کار کښې دے دا رد دے په یهودیانو باندے چه هغوئی ویل چه دے په ورځ دخالی ستړے ستومانه پروت په عرش باندے او ارام ئے وکړهٔ له هغه ستړی کیدلو نه په پیدا کولو د مخلوق سره . مدارك روایت کوی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم ولوست دا ایت نو وویلے شو دهٔ ته چه څهٔ دے هغه شان نو وویل پیغمبر صلعم چه شان د الله دا دے چه بخښی گناهونه او لرے کوی غم او پورته کوی یو قوم او ښکته کوی بل . فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۰﴾ سَنَفۡرُغُ لَکُمۡ اَیُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿۳۱﴾ زر دے چه مونږه به فارغ شو تاسو ته اے پیریانو او سړو یعنی ورځے په نزد څما دوه دی په دنیا کښې خویشان وو چه هره ورځ مادرے لښکرے له خپله ځایه راوښکلے یو له شادلرونو نه او د سینے د میندو نه رحِم ته او دویم لښکرم راوخکړ دنیا ته او دریم م له دنیا نه روانوو آخرت ته یا په مثل دد ے نور کارونه او یوه ورځ د آخرت ده په هغه کښې نشته دے مگر جزا ورکول ستاسے

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۲﴾ یٰمَعۡشَرَ الۡجِنِّ وَ الۡاِنۡسِ اِنِ اسۡتَطَعۡتُمۡ اَنۡ تَنۡفُذُوۡا مِنۡ اَقۡطَارِ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ فَانۡفُذُوۡا ؕ لَا تَنۡفُذُوۡنَ اِلَّا بِسُلۡطٰنٍ ﴿۳۳﴾ اے ټولیه د پیریانو او د سړو که چرے طاقت وی ستاسے د وتلو پس وتختئ له اطرافو د اسمانونو او د زمکے نه چه خلاص د حکم څمانه . و به نهٔ وزئ تاسے مگر په قوت سره او قوت نشته تاسے لره نو خدائے تعالیٰ پوه داخلق چه تاسے نهٔ شئ خلاصیدے له حسابه . ولے خلاصیدهٔ د بادشاه په دوه طریقو سره کیږی یا خو دا وی چه د سړی زور وی چه مقابله وکړی د بادشاه سره او دا خو معلومه ده چه زور خو نشته دے دویمه طریقه دا ده چه سړے وتختی . نو هغو ته الله تعالیٰ وویل چه تاسے نهٔ شئ تختیدے . په مدارك کښې وائی چه و به ویلے شی دوئ ته هغه وخت چه چاپیره شی له دوئ نه ملائکے او وے کوری دا پیریان او سړی نو دوئ به وتختی په هر طرف چه وتختی بیا به مومی ملائکے چه راگیر وی به دوئ او و به وائی دوئ ته چه وتختی که تختیدے شئ فَبِاَیِّ

اَلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۴﴾ یُرْسَلُ عَلَیْکُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّ نُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ﴿۳۵﴾ وبه لیږلے
شی په تاسے باندے لمبه خالصه دا وراو لوګی او زیر ویلی کړے شوی چه اچولے به شی په سرونو
د دوئ د واړه دا معنیٰ د نحاس. روایت کړے شوے دے له ابن عباس رض نه یعنی چه راووزئ
تاسے له قبرونو نه پس وبه لیږلے شی په تاسے باندے لمبے د اور او دلوګی چه را ټول کړی تاسے
ځائ د جمع ته نو تاسے به ځان منع نهٔ کړے شئ له دے دواړو نه او نه د نور عذاب د الله نه.
فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۶﴾ فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَکَانَتْ وَرْدَةً کَالدِّهَانِ ﴿۳۷﴾ پس په
هغه وخت کښ چه څیرے شی اسمان او شی ګل یعنی ښکاره شی په شان د سرهٔ ګل لکه تیل
د خوتهٔ او یا په شان د څرمنے سرے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۸﴾ فَیَوْمَئِذٍ لَّا یُسْئَلُ
عَنْ ذَنْۢبِهٖۤ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿۳۹﴾ نو په هغې ورځ کښ به څیرے شی اسمان نو سوال به ونهٔ
کړے شی د هیڅ سړي او پیری نه د ګناه د دهٔ چا به ویل چه خدائ تعالیٰ سوګند خوړلے دے
او ویلی ئے دی چه فوربك لنسئلنهم اجمعين. پس سوګند دے په رب ستا چه مونږه به
سوال وکړو له دوئ ټولو نه. نو جواب دا دے چه قیامت یوه لویه ورځ ده او په هغې کښ ډیر
ځایونه دی نو په ځینو ځینو کښ به سوال نهٔ کیږی لکه الله تعالیٰ په دے ایت کښ وویل
او په ځینو ځینو کښ به وشی لکه چه الله تعالیٰ په بل ایت کښ ویلی دی فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا
تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۰﴾ یُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ بِسِیْمٰهُمْ فَیُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ وَالْاَقْدَامِ ﴿۴۱﴾ وبه پیژندلے
شی ګنهګاران یعنی کافران په نښو د دوئ سره چه تور والے د مخونو او زیروالے د سترګو
دے. نو به نیولے شی دوئ له وړاندے طرفونو د سرونو او د قدمونو سره پس وبه غورځولے
شی په اور کښ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۲﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ یُکَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۴۳﴾
یَطُوْفُوْنَ بَیْنَهَا وَبَیْنَ حَمِیْمٍ اٰنٍ ﴿۴۴﴾ وبه ویلے شی دوئ ته چه دا جهنم چه تاسے غورځولے
شئ په دے کښ دا هغه دے چه منکر کیدهٔ له هغه اے کافرانو او یقین مو پرے نه کاوۀ ګرځی
به دوئ په مینځ د دوزخ کښ او په مینځ د او بو ګرمو کښ چه نهایت ته رسیدلے ده ګرمی د هغې
خازن روایت کوی له کعب الاحبار نه چه یوه کنده ده له کندو د دوزخ نه چه جمع کولے شی

په هغې کښې زوئ د دوزخیانو پس غوږېږ به ورکولې شي د دوئ لره په هغې کښې نو جدا به شي
تول بندونه او رګونه د دوئ نو بیا به راوخکلې شي له هغه نه بیا به نوې پیدا اُش ورکړې شي
دوئ لره او وبه غورځولې شي په اور کښې دا معنیٰ ده ددې قول د الله تعالیٰ چه تیر شهٔ فَبِاَيِّ
اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۵﴾ بیا به ویل چه دا خیزونه چه ذکر شوي دي په دې ایتونو کښې دکل من
علیها فان نه تر دې ځایه پورې دا خو نعمتونه نهٔ دي نو ولې پس دهر یو نه فبای الاء ربکما تکذبن
وویل جواب دادې چه دا وعظونه دي او منع کول دي له بدو کارونو نه نو دا نعمت شهٔ لوئ او فائده
شوله له طرفه د الله تعالیٰ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾ او خاص دپاره دهغه چاچه ویریږي
له ودریدلو خپلو نه د وړاندې د رب خپل دپاره د حساب پس پریږدي ګناه او بد کارونه یا
هغه څوک چه ویریږي له ودریدو د رب خپل نه په دهٔ باندې چه رب ځما په ما ولاړ دې
او ما وینی نو له دې ویرې نه پریږدي ګناه. ددې سړي دپاره دوه جنته دي یو په سبب د
ویرې سره او بل په سبب د پریخودو د ګناه سره ترمذی له ابو هریرهؓ نه روایت
کوي چه پیغمبرؐ ویلی دي که څوک ویریږي نو په شپه کښې دِ لاړ شي او هر څوک چه په شپه
کښې لاړ شي نو ځائ ته به ورسي خبر شئ تا سې چه رخت د الله ګران دې او ډیر قیمت لري
او خبر شئ په دې چه رخت د الله جنت دې معالم التنزیل په اسناد خپل سره له ابی ذرؓ نه
چه دهٔ اوریدلی وو له پیغمبرؐ نه چه هغه وعظ کاوو په منبر او ویل ئې ولمن خاف مقام ربه
جنتن نوما وویل اګر که زنا کوي او غلا کوي نو هغهٔ وویل اګر که زنا کوي او غلا کوي نو
پیغمبرؐ بیا ولوست دا ایت نو بیا ما ورته وویل دوئم ځل اګر چه زنا کوي او غلا کوي
نو وویل پیغمبر علیه السلام اګر که زنا کوي او غلا کوي ـ پیغمبرؐ بیا وویلو دا ایت نو ما ورته
وویل په دریم ځل اګر که زنا کوي او غلا کوي نو وویل پیغمبرؐ اګر که زنا کوي او غلا کوي په
خوار یدو د پوزې دابی ذرؓ یعنی کهٔ ته ډیر خفه کیږې او ذلیل کیږې او پوزه دِ سپیره کیږي

عه په تفسیر د حافظ ابن کثیر کښې دي چه روایت کړې شوې دې له ابی ذرؓ نه چه اصحابی خاص وو د
رسول صلے الله علیه وسلم چه په تحقیق پیغمبر صلے الله علیه وسلم ویلی دي چه هغه څوک چه ویریږي له
رب خپل نه هغه نه زنا کوي او نه غلا کوي ۱۲ منه رحمه ربه ۱۲

خو د پاره د ويريدونکی دوه جنته دی فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۷﴾ ذَوَاتَاۤ اَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾ چه صاحبان
د ښانکو دی صاحبان د ښانګوئے وی ته وويل له دے وجه چه دغه ښانګے پا نړے نيسی او ميوے
نيسی اوله دے نه لوی لوی سوری جوړيږی. اوله دے نه ميوے راټولے شی يا هسے جنتونه
چه صاحبان د رنګونو دی يعنی په رنګ رنګ ميوے دی چه څنګه د دوئ نفسونه غواړی او
سترګے ئے سړيږی فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۹﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿۵۰﴾ په دوئ کښ
دوه چينے دی چه بهيږی هر چرته چه د دوئ خوښه وی کۀ پورته ئے خيژوی او کۀ ښکته
ئے کوزوی. ابن عباس رض وائی چه بهيږی په کښ د پاره د خير او د رحمت او د عزت او د لوئی
د جنتيانو له طرفه د الله تعالیٰ نه او حسن رح وائی چه بهيږی په کښ او به صافے د يوے نوم
تسنيم دے او د بلے سلسبيل دے فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۱﴾ فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ
زَوْجٰنِ ﴿۵۲﴾ په دے دواړو کښ دی له هرۀ قسمه ميوے نه دوه قسمه اشنا او نا اشنا. وُچه
او لمده. هرۀ ميوه چه په دنيا کښ تردے پورے چه مرغونے هم په کښ شته. خو هغه مرغونے
به ډيرۀ خوږه وی. فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۳﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى فُرُشٍۢ بَطَاۤىِٕنُهَا مِنْ
اِسْتَبْرَقٍ ؕ وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿۵۴﴾ تکيه کوونکی به وی په بيچاونړو او په فرشونو باندے چه
ختونه د هغو به د سختو ريښمو وی او مخونه ئے بيان نۀ کړۀ الله تعالیٰ ولے چه مخونه به
ئے دا رنګ ښائسته وی چه په هغه باندے عالم نۀ دے هيڅوک. او دا ښائست د هغه
قسم نعمتونو نه دے چه پټ ساتلے دے الله تعالیٰ د پاره د سورړوالی د سترګو د دوئ او ميوے
د دواړو جنتونو ډيرے نزدے دی. رسيږی ولاړ او ناست او ملاست فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۵﴾ فِيْهِنَّ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَاۤنٌّ ﴿۵۶﴾ پس په
دے شمار کړے شويو کښ چه جنتونه او ولے او ميوے او فرشونه او نزدے والے د ميوو دے
حورے بندونکے د نظرونو دی چه بندے کړی ئے دی نظرونه خپل په خاوندانو او ښتانو
او په مړونو خپلو باندے نۀ کوری بيګانو ته. نۀ دی مسه کړی دوی او جماع نۀ ده کړے
له دوی سره سړی او نۀ پيری يے له خاوندانو خپلو له دے نه د اخبرۀ معلوميږی چه

پیریان هم کورواله کوی. خازن روایت کوی له مجاهد نه چه سړے جماع کوی له ښځې خپلې سره او بسم الله ونه وائي نحت شي پیرے سره د ذکره ددهٔ نه نو هغه هم جماع وکړی له ښځې د دهٔ سره یوځائ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۷﴾ کَاَنَّهُنَّ الْیَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۵۸﴾ گویا که دوئ مرغلرے دی ورے ډیرے صفا او روښانه. یاقوت یوکانړے دے که تهٔ واچوے پکښې یوتار او بیا وګورے له بهرنه نو وبه وینې هغه تار لکه په ظاهر. او مرجان هم ورے مرغلرے دی ډیرے سپینې. فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۹﴾ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ﴿۶۰﴾ نهٔ دهٔ جزا د هرنیک کار مګر ثواب دے اونهٔ ده جزا د اسلام مګر دارسلام دے یعنې کور د سلامتیا چه جنت دے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۱﴾ وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿۶۲﴾ او لاندے د دے دواړو جنتونو نه چه وعده کړے شوے ده دپاره د نزدے کړے شویو الله تعالی ته دوه جنتونه نور دی دپاره د نورو مؤمنانو. فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۳﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿۶۴﴾ توردی له ډیره شینوالی نه فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۵﴾ فِیْهِمَا عَیْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿۶۶﴾ په دے دواړو جنتونو کښې چینې دی جوش وهونکې خوتکید ونکے په اوبو سره. ابن عباس رض او ضحاک رح وائي چه چرکونکی او خندونکے د خیر او د برکت دے په جنتیانو باندے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۷﴾ فِیْهِمَا فَاکِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿۶۸﴾ او په دغه دواړو کښې میوے دی قسم قسم چه یو الله ته معلومے دی او کهجورے او انار دی دا دواړه اګرچه په میووکښې داخل وو الله تعالی بیا ذکر کړه له وجه د زیاتوالی د دوئ په فائدوکښې دغه دے مذهب د علماؤ. او خلاف دے ابوحنیفه رح. دے وائي دا نهٔ دی داخل په میوؤکښې ولے چه الله بیل کړه له میوؤنه فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾ فِیْهِنَّ خَیْرٰتٌ حِسَانٌ ﴿۷۰﴾ په دے جنتونوکښې ښځې دی ډیرے غوره نیکے. ام سلمه رض سوال وکړو له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه خبر کړه ماله هغو نیکو ښائسته ؤ نه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل نیک دی خویونه ئے او ښائسته دی مخونه ئے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۷۱﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ ښځې ښائسته او غټے سترګے چه توروالے د سترګو او سپین والے ئے ډیر پوره دے په ستر کړے شوے نهٔ راوځی له وجے د بزرګئ او د شرافته د دوئ او د ښځې بزرګی او شرافت پرده ده. خازن

روایت کوی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه هغهٔ ویلی دی چه کهٔ چرے یوه ښځه له ښځو د
جنت نه راښکاره شی زمکے ته خامخا روښانه به کړی مینځ د اسمان او د زمکے او ډک به ئے کړی په
خوشبوئی سره او یو زړوکے د سرد هغے ډیر غوره دے له دنیا نه او له ټولو هغه څیزونو نه
چه په دے دنیا کښ دی فِي الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ ناستے دی په خیمو کښ. متفق علیه. حدیث دے له ابی موسیٰ
اشعری رضی الله عنه نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی چه په تحقیق سره په جنت مؤمن لره خیمه ده له یو
مرغلرے ډ ډے نه چه پلنوالے د هغے شپیته کروه دے همدا رنګ ئے اوچتوالے د هغے. مؤمن
لره به په هغے کښ ښځے وی چه دے به ورځے هرے یوے لره او نورے به ئے نه وینی فَبِأَيِّ
الَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ چه کوروالے نه دے کړے له
دوئ سره هیڅ سړی پخوا له دوئ نه او نه پیری فَبِأَيِّ الَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلٰى
رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ تکیه کونکی به وی دوئ په جامو پلنو باندے یا په بالختونو
باندے چه شنه دی او نقوش داردی. هره جامه چه نقش داره وی نو عرب هغے ته عبقری
وائی او خلیل ویلی دی چه هر شے چه ډیر غوره وی له سړو نه وی او که له نورو څیزونو نه وی
چه ښائسته وی نو هغه عبقری دے. حسان تاکید شه دعبقری فَبِأَيِّ الَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٧﴾
تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلٰلِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾ ډیر برکتی دے نوم درب ستا چه صاحب د بزرګی او د
بزرګئ ورکولو دے. خازن نقل کوی له مسلم نه په روایت د ثعبان سره چه ویل ده چه وورسول
الله صلی الله علیه وسلم چه به راوګرځیدهٔ له مانځه نو استغفار به ئے وغوښت درے ځلے.
او وبه ئے ویل. اللّٰهم انت السلام ومنك السلام تبارك يا ذا الجلال والاكرام.

سورة الواقعة ۵۶ مكية ۴۶ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰياتها ۹۶ ركوعاتها ۳

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾ په هغه وخت کښ چه واقع شی واقع کیدونکے
نه به وی واقع کیدلو د هغے لره یو نفس دروغ کونکے یعنی منکران له راتلو د قیامت نه ډیر دی
اوس او چه راشی بیا به هیڅوک منکر نه شی بلکه ټول به اقرار وکړی خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾

ورځ د قیامت بنکته کوونکی د ځینو خلقو ده او پورته کوونکی ده د ځینو خلقو یعنی بنکته به کړی کافران
دوزخ ته او پورته به کړی مومنان جنت ته اِذَا رُجَّتِ الْاَرْضُ رَجًّا ﴿۴﴾ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿۵﴾ په
دغه ورځ د قیامت کښی به وخوزولی شی زمکه خوزول سخت او تار په تار او میده به کړی
شی غرونه میده کول بنهٔ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ﴿۶﴾ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ﴿۷﴾ پس شی به دا
غرونه گرد خور کړی شوی او یئ به تاسی قسمونه دری۔ دوه به جنت کښی وی او یو به دوزخ
کښی وی لکه چه وړاندی بیانوی الله تعالیٰ او وائی چه فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ
الْمَيْمَنَةِ ﴿۸﴾ نو خاوندان د ښی طرف یعنی هغه ټولګ چه ونیوی شی او روان کړی شی
په ښی طرف جنت ته او دا هغه خلق دی چه پیدا شوی وو د ښی طرف د بابا آدمؑ او ویلی
وو الله تعالیٰ چه دا د پاره د جنت دی او زهٔ هیڅ پروا نهٔ لرم نو دوئی لره به ورکړی شی کاغذونه
په ښی لاسونو د دوئی کښی۔ څهٔ دی خاوندان د ښی لاسونو یعنی تعجب دی لحال د دوئی نه په
نیکبختی کښی او په لویو لویو مرتبو کښی وَاَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ﴿۹﴾ او
خاوندان د چپ لاسونو څهٔ دی صاحبان د چپ لاسونو یعنی تعجب دی له نا کاروالی د حال او
د مرتبی د دوی او دا هغه خلق دی چه ونیولی شی دوئی او روان به کړی شی په چپ
طرف باندی دوزخ ته او دا هغه خلق دی چه پیدا شوی وو د چپی اوګی د بابا آدمؑ نه او
ویلی وو الله تعالیٰ چه دا خلق د پاره د اور دی او څما پری هیڅ پروا نشته وَالسّٰبِقُوْنَ
السّٰبِقُوْنَ ﴿۱۰﴾ او وړاندی کیدونکی اسلام ته او نیکو کارونو ته دغه به وړاندی کیدونکی وی
په ورځ د قیامت جنت ته او دیدار د خدائی ته۔ اُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۱۱﴾ دغه خلق نزدی
کړی شوی دی الله ته په بزرگی او په جنت سره فِیْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۱۲﴾ په باغونو د نعمتونو
کښی به وی ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۴﴾ ډیر دی له اُمتونو د وړومبنو
نه او لږ دی له وروستنو نه یعنی مقربون او نزدی کړی شوی الله تعالیٰ ته ډیر دی په امتونو
وړومبنو کښی ولی چه امتونه له بابا آدمؑ نه تر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پوری ډیر وو
او لږ دی په وروستنو کښی چه امت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی ولی چه دا د یو پیغمبر

امت دے نوځکه پکښې لږ دی عَلٰی سُرُرٍ مَّوۡضُوۡنَةٍ ﴿۱۵﴾ په تختونو باندے به وی چه وودلے شوے
دی له سرو زرو او له جواهرو نه یا معنیٰ دا ده چه صف کړے شوی دی یعنی لګیدلے شوی یو تر
بله مُّتَّكِـِٕیۡنَ عَلَیۡهَا مُتَقٰبِلِیۡنَ ﴿۱۶﴾ تکیه کونکی به وی په تختونو باندے مخامخ کیناستونکی به وی یو
بل ته له وجه د صفایۍ د زړونو دوئ په خلاف د کیناستلو د دنیا نه چه په ظاهر کښې به ډیر په
خوشحالۍ کینی ولے زړونه ئے سره صاف نه وی یَطُوۡفُ عَلَیۡهِمۡ وِلۡدَانٌ مُّخَلَّدُوۡنَ ﴿۱۷﴾ ګرځی به
په دوئ باندے دپاره د خدمت هلکان چه همیشه به وی په صفت د هلکوالی بِاَكۡوَابٍ وَّ
اَبَارِیۡقَ ۙ ګرځی به په دوئ باندے سره له ابخوارو چه سونټ او غوږی نهٔ لری او سره له دا ابخوارو
چه سونټ او غوږی لری وَ كَاۡسٍ مِّنۡ مَّعِیۡنٍ ﴿۱۸﴾ او سره د کاسه د شرابو لَّا یُصَدَّعُوۡنَ عَنۡهَا وَ
لَا یُنۡزِفُوۡنَ ﴿۱۹﴾ و به نهٔ شی سردردی د دوئ له هغه شرابو نه او خلاص به نهٔ شی شراب د دوئ
دا معنی د ینزفون هله ده چه زیر د زَ سره ولوستے شی او که زُوَرُ سره ولوستے شی نو معنیٰ دا ده
چه بے هوش به نه کړے شی دوئ په دے شرابو سره او نه به عقل د دوئ لاړ شی دا فرق د معنیٰ
په زُوَرُ د زَ سره په تفسیر تفسیر مدارک کښې دے او په جلالین او په جمل کښې دی چه په
زُوَرُ او په زیر سره نهٔ راځی په دواړو سره هم دغه یوه معنیٰ ده چه عقلونه به ئے لاړ نهٔ شی په دے
سره وَ فَاكِهَةٍ مِّمَّا یَتَخَیَّرُوۡنَ ﴿۲۰﴾ او راوړی به دوئ لره میوے هغه چه د دوئ خوښے وی وَ
لَحۡمِ طَیۡرٍ مِّمَّا یَشۡتَهُوۡنَ ﴿۲۱﴾ او غوښے د مارغانو چه د دوئ ورته شوق کیږی وَ حُوۡرٌ عِیۡنٌ ﴿۲۲﴾
او ښځے چه ډیر ښهٔ وی سپینولے او تورولے د سترګو د هغوئ دا سے ښځے به وی هغوئ لره چه
غټے سترګے لری كَاَمۡثَالِ اللُّؤۡلُؤِ الۡمَكۡنُوۡنِ ﴿۲۳﴾ په شان د مرغلرو چه ساتلے شوی دی د
لاسونو د خلقونه او ګردونو نه روایت دے په تفسیر جمل کښې چه بنګاره به شی یو نور په جنت
کښې نو مومنان به ووائی چه دا څهٔ دی نو وبه ویلے شی چه دا رڼا د غاښ د حورے ده چه
وے خندل پیغمبر د جنتن خپل کښې جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوۡا یَعۡمَلُوۡنَ ﴿۲۴﴾ جزا به ورکولے شی دوئ لره د
هغه کارونو نیکو چه دوئ کړی وو لَا یَسۡمَعُوۡنَ فِیۡهَا لَغۡوًا وَّ لَا تَاۡثِیۡمًا ﴿۲۵﴾ وا به نهٔ وری دوئ په
جنت کښې باطلے او بے هوده خبرے او نه نسبت د ګناه یو بل ته او نه به بخیله دا سے خبره وکړه

چه پکښې ګناه وی اِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿۲۶﴾ مګر وائی به او اوری به سلام دیو په بل یا سلام
د الله تعالیٰ او د ملائکو په دوئ نو دا لویه مرتبه او عزت شه د دوئ چه الله تعالیٰ پرے سلام
وائی او ملائکے وَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۙ۬ اوخاوندان د ښی لاس یعنی چه کاغذونه د عملونو ورلره په ښی
لاس ورکړے شی مَآ اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ﴿۲۷﴾ څنګه عجب اوڅنګه ښهٔ حال دے د خاوندانو د ښی لاس
فِيْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ﴿۲۸﴾ به بیروکښی به وی چه ازغی نهٔ لری او سورے کړے شوی وی میوے دهغوئ
یو په بل باندے یعنی له بېخ نه ترسره پورے به یو ځائے پکښې خالی نهٔ وی وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ﴿۲۹﴾
او په کیلو کښی به وی چه ډکے به وی له میوونه په دے شان سره چه سورے به وی
میوے د هغوئ بعضے په بعضو باندے وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ﴿۳۰﴾ او په سوری اوږد کړے شوی
کښی وی لکه سورے له صباح نه تر نمر ختو پورے یعنی دوئ به همیشه په دا سے سوری
کښی به وی وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ﴿۳۱﴾ او په اوبو جاری کړے شویو کښی به وی چه جاری به وی بے
په ولے او بے ولے وَّفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ ﴿۳۲﴾ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴿۳۳﴾ او په میوو ډیرو کښی به وی
چه نهٔ خلاصیږی لکه چه خلاصیږی میوے د دنیا په څنې وخت کښی او نهٔ به شی منع کولے په
هیڅ عذر سره لکه چه میوے د دنیا منع کولے شی د پاره د غوښتلو د پیسو یا له وجه د نهٔ قدرته
په شوکولو باندے یاله وجه د دے چه خوړونکی ته ضرر کوی وَّفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ ﴿۳۴﴾ او په
بچاونړو اوچت کړے شویو کښی به وی چه هغه ډیرے اوچتے او ګران قیمتے دی. ترمذی له
ابی سعید خدری رض روایت کوی چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویل چه اوچتوالے به ئے
دومره وی لکه په مینځ د اسمان او د زمکه کښی او بعضے مفسرانو ویلی دی چه مراد په دے فرشو نو
سره ښځے دی عرب ښځو ته فرشونه او جامے وائی او دا معنیٰ ده ښه ظاهره او برابره له دے قول
د الله تعالیٰ سره چه اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً ﴿۳۵﴾ فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ﴿۳۶﴾ به تحقیق مونږه پیدا
کړی دی دغه ښځے پیدا کول پس ګرځولی دی مونږه دوی پېغلے ابن عباس رض ویلی دی چه دا
هغه ښځے دی زړے سپین سرے چه بیا ئے ګرځوی خدائے تعالیٰ پېغلے. خازن وائی په
روایت د انس رض سره چه رسول الله صلعم ویلی دی چه دغه پیدا کړے شوے ښځے چه الله تعالیٰ

به ئې وګرځوی بکرې جیګې پیغلې هغه دی چه وې په دنیا کښې دوئ زړې کم نظرې لیچن ستړګې
وی به دغه ښځې عُرُبًا مینه کونکې سره د خپلو خاوندانو او ښائسته مجلس کونکې اَتۡرَابًا ﴿۳۷﴾ برابرې
په خلقت او پیدائش کښې او په عمر کښې چه وی به د دری دیرشو کالو۔ خازن وائی په روایت
د معاذ سره چه پیغمبرؑ ویلی دی چه ننه به وځی جنتیان په جنت کښې څلمی بې ږیرو د دیرشو
یا د دری دیرشو کالو۔ شک کړے دے معاذؓ په دیرشو او په دری دیرو کښې لِّاَصۡحٰبِ الۡیَمِیۡنِ ﴿۳۸﴾ ع۷ط　ع ۱ / ۱۲
پیدا کړی دی الله تعالیٰ دا ښځې د پاره د خاوندانو د ښی لاسونو ثُلَّةٌ مِّنَ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۳۹﴾ وَ ثُلَّةٌ
مِّنَ الۡاٰخِرِیۡنَ ﴿۴۰﴾ یعنی هغه خوک چه کاغذونه ورلړه په ښی لاس کښې ورکړے شی ډیر دی په
مؤمنانو د ړومبنو امتونو کښې او ډیر دی په مؤمنانو د وروستنو امتونو کښې۔ روایت کړے دے
معالم په اسناد د ثعلبی سره له عروه څوی د رویم نه۔ چه هر کله چه نازل شهٔ دا آیت چه ثلة من
الاولین وقلیل من الاخرین نو وژړل عمرؓ او وے ویل چه اے نبی دالله مونږه ایمان
راوړیدے په رسولؑ او یقین موکړے په هغهٔ او هغه څوک چه به خلاص شی له مونږه لږ به
وی یعنې دا خو به ډیر پاتے شی په عذاب کښې نو دعا وکړه رسول الله صلعم پس نازل کړه
الله تعالیٰ دا آیت چه ثلة من الاولین و ثلة من الاخرین نو را وبللو رسول الله صلے الله علیه
وسلم عمرؓ او ورته ئے وویل چه نازل شهٔ په هغه څیز کښې چه تا غوښتهٔ نو عمرؓ وویل چه
راضی یو مونږه د رب خپل نه او د ښتیا کولو د پیغمبر خپل مونږه نو وویل رسول الله صلعم چه له بابا
آدمؑ نه تر مونږه پورې ثُلَّةٌ دے یعنی یوه لویه جمع ده او له مونږه نه تر قیامته پورې ثُلَّةٌ ده یعنې
یوه لویه جمع ده او پوره به نه شی دا مګر په دغه تورو تورو سره چه څرونکی د اوښانو
دی چه ویلے ئې ده لا اله الا الله وَ اَصۡحٰبُ الشِّمَالِ ۬ۙ مَاۤ اَصۡحٰبُ الشِّمَالِ ﴿۴۱﴾ او خاوندان د
چپ لاسونو څهٔ دی خاوندان د چپ لاسونو۔ یعنی هغه خوک چه ورکړے شی کاغذونه په
چپ لاسونو یعنی تعجب دے له بد اوله سخت عذابه د دوئ نه۔ الله تعالیٰ دے ترے وساتی مونږه
او مؤمنان ټول فِیۡ سَمُوۡمٍ وَّ حَمِیۡمٍ ﴿۴۲﴾ په اور ګرم کښې به وی چه تور دی او تور دی هغه څوک
چه پکښې دی او په اوبو ګرمو کښې به وی چه خټکیږی به وَّ ظِلٍّ مِّنۡ یَّحۡمُوۡمٍ ﴿۴۳﴾ او په

سوری د لوګی د بر تورکښی به وی لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ﴿۴۴﴾ چه نه به وی سوړ او نهٔ به وی نفع
رسونکے او دوئ لائق دی د دے وے چه اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ﴿۴۵﴾ په تحقیق سره وو دوئ
پخوا له دے نه یعنی په دنیا کښی مزے اخستونکی په خواهشو نو خپلو سره مخالف د حکم د الله نه
وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴿۴۶﴾ او وو دوئ همیشه کونکی چه همیشه والے ئے کولو په
ګناه لوئے باندے چه شرك وو او قسمونه خوړل وو په دے باندے چه قیامت نشته او
مونږه به هرګز اوچت نهٔ کړے شو او دا رنګ نور د دروغو قسمونه وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ ۙ اَئِذَا
مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۴۷﴾ او وو دوئ چه ویل به ئے ایا په هغه وخت کښی
چه مړه شو مونږه او شو خاورے او هډوکی نو ایا مونږه به خامخا راپورته کړے شو اَوَ اٰبَآؤُنَا
الْاَوَّلُوْنَ ﴿۴۸﴾ او هغه پلرونه څمونږه ړومبی یعنی مونږه سره د مړه پلرونو لرېو بیا نهٔ
ژوندی کیږو نو دا ستا دعوٰی د دے خبرے دروغ ده نو خدائ دوئ دروغژن کړه او وے ویل
چه قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ ﴿۴۹﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ ۙ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۵۰﴾ وو وایه دوئ
ته چه په تحقیق سره ړومبی او وروستی خامخا جمع به کړے شی وخت د ورځے د معلومے ته ثُمَّ
اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿۵۱﴾ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ﴿۵۲﴾ پس په تحقیق سره
تاسے اے لارخطا کونکو هغه لو یه لاره د خدائ تعالیٰ او د پیغمبرانو اے دروغژن کونکو د حق خامخا
خوړونکی به یئ تاسے له وُنے د زقوم نه چه ډیره بوره ناکاره ونه ده په دوزخ کښی فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا
الْبُطُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ﴿۵۴﴾ فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ ﴿۵۵﴾ پس تاسے به ډکونکی
یئ له هغے وُنے نه ګیډے او څکونکی به یئ په هغے باندے ګرمے پس څکونکي به یئ په شان
د څکولو د هغه اوښ چه پرے دا سے مرض لګیدلے وی چه نه مړیږی سره د هغه نه په اوبو بلکه
څکی تر هغه پورے چه پرے هلاك شی هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿۵۶﴾ دا خیزونه چه تاواوریدل
دا رزق د دوئ دے په ورځ د جزا کښی یعنی د اجزا د عملونو د دوئ ده نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا
تُصَدِّقُوْنَ ﴿۵۷﴾ مونږه پیدا کړی یئ تاسے چه نهٔ وی تاسے هیڅ شے پس ولے یقین نهٔ کوئ تاسے
په بیا پیدا کولو. بیا پیدا کول خو ګران نهٔ دی له اول پیدا کولو نه اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ ﴿۵۸﴾

ایا وینئ تاسے یعنی خبر راکړئ ماله د هغه څیز چه توېوئ تاسے په رحمونو کښې یعنی منی چه تاسے ئے اچوی په کید ود ښځو کښې ءَاَنۡتُمۡ تَخۡلُقُوۡنَهٗۤ اَمۡ نَحۡنُ الۡخٰلِقُوۡنَ ﴿۵۹﴾ ایا تاسے پیدا کوئ له هغې منئ نه سړی او که مونږه یو پیدا کونکی تاسے لره خوګورئ چه تاسے خو هیڅ نهٔ شئ پیدا کولے له هغې نه خو زهٔ پیدا کونکے یم پس تاسے ولے نه قائلیږئ په بیا پیدا کولو چه زهٔ ئے وعده کوم له تاسے سره نَحۡنُ قَدَّرۡنَا بَیۡنَکُمُ الۡمَوۡتَ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوۡقِیۡنَ ﴿۶۰﴾ مونږه اندازه کړے د ے په مینځ ستاسے کښې مرګ چه په هغه اندازے سره خوك وړو وړو کوچنی خوك وړو ځلمی خوك وړو زاړهٔ او خوك وړو هسے زور چه بے عقل شی او دا داسے اندازه ده چه مونږه چه برابر د ے په کښې مخلوق د زمکے او د اسمان او معتبر او غریب او نه یو مونږ چه وړاندے کید ل وشی په مونږه باندے یعنی هیڅوك به زمانه ونهٔ تختی او نه به زمانه خلاص شی یو سړے غرض داد ے چه زهٔ بنهٔ قادریم په هلاك ستاسے او قادریم په د ے خبره عَلٰۤی اَنۡ نُّبَدِّلَ اَمۡثَالَکُمۡ چه پیدا کړو مخلوق په مثل ستاسے او لرے کړو تاسے د یر په جلتئ سره وَنُنۡشِئَکُمۡ فِیۡ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۶۱﴾ او پیدا کړو مونږه تاسے په هغه شکلونو او صورتونو کښې چه تاسے پرے نهٔ پوهیږئ یعنی په هر شکل او صورت سره لکه شادوګان کول او خنزیران کول مونږه بنهٔ قادر یو لکه مونږه کړی دی په مخوا امتونو کښې نو مهٔ منکریږئ تاسے له بیا پیدا کولو نه ځما په قدرت کښې هیڅ شك نشته وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ النَّشۡاَةَ الۡاُوۡلٰی فَلَوۡلَا تَذَکَّرُوۡنَ ﴿۶۲﴾ او په تحقیق سره پوهـ یئ تاسے په پیدا کولو ومبنو باندے نو تاسے ولے نصیحت نه قبلوئ چه قائل شئ په پیدا کولو باندے اَفَرَءَیۡتُمۡ مَّا تَحۡرُثُوۡنَ ﴿۶۳﴾ ایا وینئ تاسے یعنی خبر راکړئ ماله د هغه شی چه تاسے کرئ.
الله تعالیٰ یادکړهٔ دوئ ته اول پیدا کید ل د دوئ او پکښې ئے یاد کړل لوئ لوئ دلیلونه د قدرت او د لوئ خپل. پس له هغې نه ئے ورته ذکر کړهٔ څیزونه د خوړلو او څښلو او هغه شے چه پرے خوړل څښل جوړیږی نو بیا داد خوړلو او د څښلو او هغه چه پرے خوړل او څښل جوړیږی په دوئ کښې درے څیزه چه اصل وو هغه ئے ذکر کړل چه دانے او اوبهٔ او اور دے ولے چه دانے خورئ او اوبهٔ ورپسے څښئ او په اور سره جوړول کیږی د دوئ. نو هغه څیزونه چه تاسے کرئ

چه دا نے دی او ستاسے په دے سره ژوندون دے ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ﴿۶۴﴾ ایا
تاسے ئے زرغونوئ او لویوئ تر هغه پورے چه پخ شی او کهٔ مونږه یو زرغونونکی او پوره
کونکی د دے کار دا ظاهره ده چه دا خوزهٔ کوم نو لازم دی په تاسے باندے شکر د دے لَوْ نَشَآءُ
لَجَعَلْنٰهُ حُطَامًا کهٔ چرے رضا وے حٔمونږه نو خامخا به کړے وو مونږه دغه چه تاسے کرئ
وُچه یعنی بُوس چه نهٔ وی دانه پکښ یا به داسے وُچ کړی وو چه هیڅ نفع نهٔ وی پکښ فَظَلْتُمْ
تَفَكَّهُوْنَ ﴿۶۵﴾ پس کرځیدلی به وئ تاسے چه نا اشنا به موکړنړے وو هغه شے چه راغلے وی
په تاسے باندے چه دا څهٔ بلا وشوه په مونږه او یا دا چه پښیمانه شوی به وئ تاسے په خرڅلو
دپیسو خپلو په تخم او په اړولو د زمکے او په اوبو ورکولو سره او ویله به تاسے داخبره اِنَّا
لَمُغْرَمُوْنَ ﴿۶۶﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿۶۷﴾ چه په تحقیق سره مونږه خامخا مونږه زیان کړے
شو یعنی مال لاړے بد له لکه مونږه محروم کړے شو له رزق نه یعنی راځه یا تے نهٔ شهٔ څهٔ
څیز د خوړلو اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِيْ تَشْرَبُوْنَ ﴿۶۸﴾ ایا وینی تاسے یعنی خبر راکړئ دهغه اوبو
چه تاسے څکئ ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ ایا تاسے نازلے کړی دی دا او به له وریځے سپینے
نه۔ نو داسے کار دے چه هیڅوک قادر نهٔ دے بے له مانه او تاسے لره مناسب دے شکر د دے
اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿۶۹﴾ او کهٔ مونږ یو نازلونکی دا خو معلومه ده چه مونږه نازلونکی یو۔ لَوْ
نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا کهٔ چرے رضا وے حٔمونږه نو مونږه به کړے وے د یرے تروے یا
ترخے نو نهٔ به شوے څښلے فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۰﴾ نو تاسے شکر نهٔ کوئ د داسے نعمت دالله
تعالیٰ چه په هغه سره ژوندون ستاسے دے اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِيْ تُوْرُوْنَ ﴿۷۱﴾ ایا وینی تاسے
یعنی خبر راکړئ د هغه اور چه تاسے وباسئ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ ایا تاسے پیدا کړیده
ونه دا ور یعنی چه تاسے اور تر ے راوباسئ چه هغه دوه ونے دی چه یو ے نوم مرخ او دبلے
عفار دے چه یو ه په بله سره ووهئ نو اور تر ے وُزی او یا دا چه ټولے ونے مراد دی چه اور پرے
بلیږی۔ اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِئُوْنَ ﴿۷۲﴾ او کهٔ مونږه یو پیدا کونکی دهغے ونے چه اور تر ے وباسئ او
او ر پرے بلوئ بلکه مونږه یو پیدا کونکی نهٔ تاسے نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً مونږه کړے دے

دغه اور د دنیا یادول چه یاد کړئ تاسے په دے سره اور د جهنم متفق علیه حدیث دے له ابوهریره رض نه چه په تحقیق سره رسول الله صلعم ویلی دی دا اور ستاسے چه تاسے ئے بلوئ دا یوه برخه ده اویایمه له اوره ددوزخ نه نوهغه ورته وویل چه قسم دے چه په تحقیق سره دا هم بس دے اے رسول د خدائ تعالیٰ نو وویل رسول الله صلعم چه په تحقیق سره هغه زیات دے په دے اور باندے په یوکم اویا برخے سره چه هره برخه د هغے کرمه ده په مثل د کرمئ د دے اور۔ غرض د نقل حدیث دا شهٔ چه هغه اور په دے باندے په یوکم اویا مرتبے سره زیات کرم دے۔ وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِیْنَ ﴿۷۳﴾ او کرځولے دے موږه دا اور نفع دپاره د مسافرانو چه دوئ پرے نفع اخلی په مسافرو خپلو کښ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّکَ الْعَظِیْمِ ﴿۷۴﴾ نو پاکی وکړه ته د نوم د رب خپل چه لوئ دے او مهربانی کونکے دے په دا سے لویو نعمتونو سره چه هغه په شمار د بنده کښ نهٔ راځی۔ روایت کوئ مدارک چه هر کله دا آیت نازل شهٔ نو وویل پیغمبر علیه السلام چه دا وکرځوئ په رکوع کښ یعنی ووایئ سبحان ربی العظیم۔ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿۷۵﴾ قسم خورمه ولے چه دا لَا پکښ زائد دے نو معنیٰ ئے رانغله اویا معنیٰ دا ده چه تاسے د روغژن کوئ او مهٔ منکریږئ له هغه شی نه چه ما تاسے ته یاد کړے دے نعمتونه او دلیلونه دیو والی خپل نه اویا ئے معنیٰ دا ده چه نهٔ دار نګے چه کافروائی په حق د قرآن کښ چه دا سحر او شعر او فال بینی ده نو په دے دواړو معنیٰ سره لَا زائد نهٔ شی۔ اویا ئے معنیٰ دا ده چه قسم نهٔ خورم ولے چه خبره ظاهره ده نو قسم ته څهٔ حاجت دے او له معنیٰ چه قسم خورم او لَا پکښ زائد دے نو هغه بنا په دے خبره ده چه اګرچه خبرے دالله ظاهرے دی لیکن منکران ترے ډیردی نو قسم ته حاجت وی حاصل دا چه قسم خورم یا نهٔ خورم په ځایونو د ختو او د پریوتو د ستوریو وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِیْمٌ ﴿۷۶﴾ او په تحقیق سره دا قسم دے کهٔ تاسے پوهیږئ ډیر لوئ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ کَرِیْمٌ ﴿۷۷﴾ په تحقیق سره دا قرآن ډیر بزرګ دے یعنی هره نفع د دنیا او د آخرت پکښ ده او لوئ دے په نزد دالله تعالیٰ فِیْ کِتٰبٍ مَّکْنُوْنٍ ﴿۷۸﴾ لَّا یَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿۷۹﴾ دا قرآن په لوح محفوظ کښ دے هسے لوح محفوظ چه ساتلے شوے دے له باطل نه او همدارنګه ساتلے شوے

دے له دے نه چه نۀ ئے شی کتے هیڅوک بے له هغه نزدے کړے شویو د الله نه چه ملائکے دی
نۀ مسه کوی هغه کتاب مګر پاکان. یعنی لوح محفوظ نۀ مسه کوی مګر پاکان او یا معنیٰ
دا ده چه نۀ مسه کوی د قرآن مګر هغه څوک چه پاک وی له بے اودسی او له جنابته او له
حیضه او له نفاسه چه دا دوه بیمارئ دی د ښځو تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۰﴾ د قرآن نازل
کړے شوے دے له رب العٰلمین نۀ ده دا رنګے لکه چه کافروائی چه دا شعر دے یا جادو یا
فال بینی ده نو دوئ دروغژن دی اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿۸۱﴾ ایا په دے لو یه خبره
چه قرآن دے تاسے دروغ ویونکی یئ چه دروغ کوئ او دا او کفر پرے کوئ وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ
اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾ او ګرځوئ تاسے شکر د هغه رزق چه درکړے دے الله تعالیٰ تاسے لره
دروغ ګول د کتاب د هغه یعنی الله فرض کړے دے په تاسے باندے شکر کول د دے نعمت چه
قرآن دے او تاسے په ځائے د شکر کښ دروغ ګول وکړۀ نو تاسے لوئ بے وقوفه او ډیر بے دینه
ئے فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ﴿۸۳﴾ پس ولے نۀ ده دا خبره په هغه وخت کښ چه ورسیږی سا د
سړی مرئ ته وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾ او تاسے لے خلقو چه چاپیره یئ د دۀ نه په دغه
وخت کښ ګورئ هغه وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ او مونږه ډیر نزدے
یُو هغۀ ته له تاسے نه په علم او په قدرت او په لید لوسره ولیکن تاسے نۀ وینئ فَلَوْلَآ اِنْ
كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ﴿۸۶﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۸۷﴾ پس ولے نۀ ده دا خبره کچرے
یئ تاسے چه نۀ یئ په ملک ځما کښ او که نۀ وی دا خبره چه له تاسے سره به حساب وشی
او جزا به درلره درکړے شی بلکه تاسے باهر یئ د قدرت ځما نه نو ولے بیرته نۀ راګرځوئ سا د دے
سړی فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۸۸﴾ پس که چرے وی دغه سړے د نزدے شویو د الله نه یعنی
دغه مړے بزرګ وی فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ نو دۀ لره به راحت او آرام وی او
رزق به وی او نعمتونه د جنت وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ
الْيَمِيْنِ ﴿۹۱﴾ او که چرے وی دا وړلے شوے له هغه چا نه چه کاغذ ورلره په ښی لاس
ورکولے شی نو سلام دے تا لره اے محمد صلے الله علیه وسلم ، له صاحبانو د ښی لاسونو نه

معنیٰ دادہ چہ تۀ به خفه نۀ شے په عذاب د دوئی باندے بلکه دوئی به الله تعالیٰ خلاص کړۀ د عذاب نه او وربه کړی لوئی نعمتونه نو تۀ به پرے خوشحاله شے وَاَمَّآ اِنۡ کَانَ مِنَ الۡمُکَذِّبِیۡنَ الضَّآلِّیۡنَ ﴿۹۲﴾ اوکۀ چرے وی دغه وړلے شوی له دروغژن کونکو لارے ورکونکو نه چه دروغژن کړی وی خبرے د الله او د رسول ﷺ فَنُزُلٌ مِّنۡ حَمِیۡمٍ ﴿۹۳﴾ وَّتَصۡلِیَةُ جَحِیۡمٍ ﴿۹۴﴾ نو دۀ د پاره نهاری دے چه تیار کړے شوے دے له اوبو ګرمو نه او ننوتل داور لوئے دے. اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الۡیَقِیۡنِ ﴿۹۵﴾ په تحقیق سره دا چه په دے سورت کښ بیان کړے شۀ هم دغه ثابت دی په یقین سره چه هیڅ شبه نشته په دے کښ فَسَبِّحۡ بِاسۡمِ رَبِّکَ الۡعَظِیۡمِ ﴿۹۶﴾ ع ۳ پس پاکی وکړه د رب خپل چه ډیر لوئی دے. خازن روایت کوی له جابر رضی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم ویلی دی چه چا وویل سبحان الله وبحمده نو لیکو د به شی او نهال به کړے شی کهجوره د دۀ د پاره په جنت کښ

سورة الحدید ۵۷ مکیة ۹۴ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ایاتها ۲۹ رکوعاتها ۴

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ وَهُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ ﴿۱﴾ تسبیح ویلے دے خاص خدائی تعالیٰ لره هغه چه په اسمانونو او زمکه کښ دی او هغه دے غالب او محکم کونکے د کارونو۔ لَهٗ مُلۡکُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ یُحۡیٖ وَیُمِیۡتُ ۚ خاص دۀ لره ده بادشاهی د اسمانونو او د زمکے ژوندی کول کوی او مړه کول کوی وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۲﴾ او هغه په هر شی قادر دے لکه بادشاهی د اسمانونو او د زمکے او ژوندی کول او وژلل۔ نو دا هرڅۀ په قدرت د هغه کښ دی هُوَ الۡاَوَّلُ وَالۡاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالۡبَاطِنُ ۚ او هغه اول دے پخوا له هر څیز نه ابتدا نه لری او وروستے دے له هر شی نه یعنے وُوے او وی به همیشه او ظاهر دے په دلیلونو سره او پټ دے له لیدلو د سترګو نه نو هیڅوک ئے لیدے نۀ شی په دنیا کښ وَهُوَ بِکُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ﴿۳﴾ او هغه په هر شی باندے بنۀ عالم دے هُوَ الَّذِیۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ فِیۡ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسۡتَوٰی عَلَی الۡعَرۡشِ ؕ او الله هغه ذات دے چه پیدا ئے کړۀ اسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کښ چه اول ئے استوار

اواخیرۓ جمعه وه پس برابرشهٔ په عرش باندے په داسے کید لوسره چه له ده سره لائق وو
يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ط عالم دے په هر
وخت کښ په هغه شی چه ننوځی په زمکه کښ لکه باران اومړی اواشیاء دکرلوشو او په هغه شی چه
راوځی له زمکے نه لکه گیاهونه شول او هر هغه شے چه راوباسی ترے الله ترقیامته پورے او
هغه شے چه نازلیږی له اسمان نه لکه رحمت شهٔ اوعذاب شهٔ اوعالم دے په هغهٔ شی چه
خیژی په اسمان کښ لکه نیک عملونه اودعاونه شود مخلوق وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ط او
هغه سره له تاسے دے په علم او په قدرت سره هرچرته چه تاسے یئ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ
بَصِيرٌ ④ اوالله په هغه چه تاسے ئے کوئ لیدونکے دے نوجزا به درکړی تاسے لره برابره د
کارونو ستاسے سره لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ط وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ⑤ خاص خدائ
لره ده بادشاهی داسمانونو اودزمکو اوخاص الله ته به وګرځولے شی کارونه د مخلوق ټول
يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ط ننه باسی شپه په ورځ کښ نوشپه لنډه کړی
او ورځ پرے اوږده کړی اوننه باسی ورځ په شپه کښ نو ورځ لنډه کړی اوشپه پرے اوږده
کړی وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ⑥ اوهغه ښهٔ پوهیږی په فکرونو او په اندیښنو چه
په په سینوکښ دی یعنی هرهغه شے چه په زړونو دخلقو کښ دے الله پرے عالم دے اٰمِنُوا
بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ایمان راوړئ تاسے اوباورو کړئ په الله او په رسول دهغهٔ وَأَنْفِقُوا مِمَّا
جَعَلَكُمْ مُسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ط او ورکړئ تاسے له هغو نعمتونو نه چه ګرځولی ئے یئ الله تاسے
خلیفګان په هغه یعنی دامال خود الله وو او دانعمتونه ټول دهغه وو نوتاسے ئے پرے ودرولی
لکه خلیفګان فَالَّذِينَ اٰمَنُوا مِنْكُمْ وَأَنْفَقُوا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ⑦ نو هغه خلق چه ایمان ئے
راوړے دے له تاسے نه اویقین ئے کړے دے په الله او په رسول اومالونه ئے خرځ کړی
دی په لاره دالله تعالیٰ کښ خاص هغهٔ لره دے اجرلوئ چه لوے ولے د هغه الله ته معلوم دے
وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ج وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا بِرَبِّكُمْ او څهٔ دی تاسے لره یعنی
څهٔ عذردے اوکومه بهانه ده چه تاسے باور نهٔ کوئ په الله باندے او رسول ع بلی تاسے چه

تاسے ایمان راوړئ په رب خپل. وَقَدۡ اَخَذَ مِیۡثَاقَکُمۡ او په تحقیق سره خدائ تعالیٰ اخستے ده وعده
ستاسے په هغه وخت کښ چه راوړے ویستی له شا د بابا آدم نه چه په تحقیق سره الله رب
ستاسے دے او نشته دے الله تاسے لره بے د هغهٔ نه نو تاسو ټولو په دے اقرار وکړو اِنۡ
کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴿۸﴾ کهٔ چرے یئ تاسے ایمان راوړونکی په یو ورځ کښ له ورځونه او په یو
سبب سره له سببونونه نو اوس ایمان راوړئ ولے چه الله تعالیٰ تاسے ته راولیږل ډیر دلیلونه
په خولے د پیغمبر سره هغه دادی چه الله تعالیٰ د وړاندے بیانوی هُوَالَّذِیۡ یُنَزِّلُ عَلٰی عَبۡدِهٖۤ
اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ لِّیُخۡرِجَکُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ ؕ الله هغه ذات دے چه نازلوی په بنده خپل
باندے آیتونه واضح د پاره د دے چه وباسی الله تعالیٰ تاسے په دے قرآن سره له تیارو د کفره
او له ګمراهئ نه روښنایئ د ایمان ته وَاِنَّ اللّٰهَ بِکُمۡ لَرَءُوۡفٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۹﴾ او په تحقیق سره
الله تعالیٰ په تاسے باندے ډیر مهربان رحمت کونکے دے وَمَا لَکُمۡ اَلَّا تُنۡفِقُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ
او څهٔ چل دے تاسے لره چه تاسے نهٔ خرڅوئ مال او نهٔ ئے ورکوئ په رضا کولو د الله تعالیٰ
کښ او تاسے مړهٔ کیږئ او ستاسے مال پاتے کیږی نو الله تعالیٰ به ئے ستاسے په ځائ
نوړو لره ورکړی وَلِلّٰهِ مِیۡرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ او خاص الله لره دے میراث د آسمانونو
او د زمکو یعنی میراث د مخلوق د آسمان او د زمکو به الله تعالیٰ ته پاتے شی او تاسے نه به
سوال وکړے شی چه تاسے ولے نه خرڅوو دا مال د پاره د الله لَا یَسۡتَوِیۡ مِنۡکُمۡ مَّنۡ اَنۡفَقَ مِنۡ
قَبۡلِ الۡفَتۡحِ وَقٰتَلَ ؕ نهٔ دے برابر له تاسے نه هغه څوک چه مال ئے خرڅ کړے دے د پاره د
الله تعالیٰ مخوا د فتح د مکے نه او جنګ ئے کړے دے د پاره د الله له دشمنانو د الله سره اُولٰٓئِکَ
اَعۡظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِیۡنَ اَنۡفَقُوۡا مِنۡۢ بَعۡدُ وَقٰتَلُوۡا ؕ دغه خرڅونکے د مال خپل په لار د
الله تعالیٰ کښ او جنګیدونکی د پاره د هغه ډیر لوی دی په مرتبه کښ له هغه خلقونه چه مال
ئے کړے دے او جنګیدلی دی پس له فتح د مکے نه یعنی مال خرڅول او غزا کول په وخت د
سختئ کښ ډیره مرتبه لری د هغه نه چه په وخت د فراخئ کښ وی وَکُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الۡحُسۡنٰی ؕ
او هر یو د دے دواړو نه وعده کړے ده الله تعالیٰ له دوئ سره د نیکئ اګر چه مرتبه د وړومبنو ډیر

زیاتہ دہ پہ ورو ستو باندے مدارک ویلے دی چہ دا آیت نازل شوے دے پہ حق دابوبکر
صدیق ؓ کښی ولے چہ هغه اول اسلام راوړے وو او اول ئے مال خرچ کړے وو په لارے دالله
تعالیٰ کښی نو دا دلیل شۀ په فضیلت ددۀ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِیۡرٌ ﴿۱۰﴾ او الله تعالیٰ په هغه څه
چہ تاسے ئے کوی خبردار دے نو جزا بہ درکړی تاسے لرہ برابرہ دکارونو ستاسے مَنۡ ذَا الَّذِیۡ
یُقۡرِضُ اللّٰهَ قَرۡضًا حَسَنًا څوک دا چہ قرض ورکړی الله لرہ قرض نیک په دے امید چہ مال
ئے پاک وی او نیت پکښی بے له الله نه نور هیڅ نۀ وی او امید دثواب کوی له الله تعالیٰ نه
فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗ پس زیاتے بہ کړی الله تعالیٰ هغه مال دۀ لرہ یعنی ډیر ثواب بہ ورکړی دہ لرہ
په هغه باندے وَلَهٗۤ اَجۡرٌ کَرِیۡمٌ ﴿۱۱﴾ او خاص دہ لرہ دہ مزدوری ډیرہ لویه چہ دیوے په
بدل بہ لس ورکړی یا اوہ سوہ یا له دے نه هم زیاتے ولے چہ څنے په بنۀ ځائی کښی ورکوی
او نیت ئے بنۀ صاف وی یَوۡمَ تَرَی الۡمُؤۡمِنِیۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ دوئی لرہ اجر عظیم بہ وی په هغه
ورځ چہ وبه وینې تۀ مؤمنان سړی او مؤمنے ښځے یَسۡعٰی نُوۡرُهُمۡ بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَبِاَیۡمَانِهِمۡ
چہ درومی بہ نور او روښنائی ددوئی د وړاندے د دوئی او په ښی طرفو نو ددوئی ولے چہ
نیکبختانو لرہ کاغذونه ورکولے شی له وړاندے طرفه په ښی لاسونو پس دا طرافو نه بہ ورته
روښانه شی او کافرانو لرہ بہ ورکولے شی له وروستو طرفه په چپ لاسونو بُشۡرٰىكُمُ الۡیَوۡمَ
جَنّٰتٌ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَا ؕ زیرے دے تاسے لرہ نن ورځ نو تل دجنتونو
دی چہ بهیږی دلاندے دهغے نه ولے همیشه بہ یئ تاسے په هغه کښی۔ نه بہ ناجوړہ
کیږی او نه بہ زړیږئ او نه بہ مرئ او نه بہ هغه کښی څه کمیږی بلکه په زیاتیدو کښی
بہ ئی۔ ذٰلِكَ هُوَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِیۡمُ ﴿۱۲﴾ دغه دے بریے او کټه لویه یَوۡمَ یَقُوۡلُ الۡمُنٰفِقُوۡنَ وَالۡمُنٰفِقٰتُ
و وېروہ داخلق او یاد کړہ ورته هغه ورځ چہ وائی منافقان سړی او منافقانے ښځے
یعنی هغه څوک چہ په ظاهر کښی ځان تہ مؤمنان وائی او په باطن کښی منکر دی له پیغمبر
نه او بدے ګنړی خبرے دهغۀ لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوا انۡظُرُوۡنَا نَقۡتَبِسۡ مِنۡ نُّوۡرِكُمۡ ۚ هغه چاته
چہ ایمانونه ئے راوړی دی چہ وګورئ او مهلت وکړئ مونږ تہ چہ واخلو مونږ له

نور اوله رنړا ستاسے نه قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ و به ویلے شی دوئ ته چه ورګرځئ
په بیرته ستاسے او ولټوئ نور ځائے ددے رنړا لټولو دنیا ده داویل د ملائکو یا د مؤمنانو دی
دا شرل د دوئ او خندل په دوئ پورے دی ولے چه هغوئ به په دے پوهیږی چه دوئ
په بیرته نهٔ شی تللے فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ؕ پس و به وهلے شی په مینځ د مؤمنانو او
د منافقانو کښی دیوال چه هغه دیوال پرده ده په مینځ د جنت او دوزخ کښی چه هغه دیوال
لره یوه دروازه ده د پاره د مؤمنانو جنت ته بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ﴿۱۳﴾
چه په دننه طرف د هغهٔ کښی رحمت دے چه هغه نور او جنت دے او ظاهر طرف د هغهٔ له طرف د
هغهٔ نه عذاب دے یعنی په باهر طرف ئے عذاب دے چه ورننوځی کافران يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ
نَكُنْ مَّعَكُمْ ؕ اواز به وکړی منافقان مؤمنانو ته ایا نهٔ وو مونږه له تاسے سره یعنی مونږه خو
ملګری وو ستاسے قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ و به وائی مؤمنان چه هو تاسے له
مونږه سره وئ ولیکن هلاک کړه تاسے نفسونه خپل او په لویو عذابونو کښی مو واچول وَ
تَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ او تاسے منتظره وئ افتونو د مومنانو ته چه کله به په
دوئ څه بلا راپریوځی او شک کړے وو تاسے په خبرو د الله تعالیٰ او د رسول کښی او غلولی وئ
تاسے امیدونو او طمعو چه کافر به زیات شی او مونږه به ظاهر کړو کفر خپل حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ
اللّٰهِ وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۱۴﴾ په شک کښی وئ تر هغه پورے چه راغے تاسے لره حکم د الله تعالیٰ
په مرګ سره او غلولی وئ تاسے په الله باندے غلونکی یعنی غلولی وئ شیطان تاسے چه الله
تعالیٰ بخښونکے دے مونږه به وبخښی څهٔ کیږی کهٔ مونږه نفاق کوو او بل غلول ئے دا دی چه
پورته کیدل نشته او حساب نشته نو په دے خبرو ئے غلولی وئ تاسے فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ
فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ پس نن ورځ به وانهٔ خیستے شی له تاسے ته نه اے
منافقانو بدله چه تاسے پرے خلاص کړے شئ او نه له هغه خلقو نه چه کافران شوی دی
مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ هِيَ مَوْلٰىكُمْ ؕ ځائے ستاسے اور دے او هغه ډیر غوره دے تاسے لره ولے چه
مالک شوے دے هغه د کار ستاسے او سپارلی شوی یئ تاسے هغهٔ نو هغه ډیر غوره دے له

تا سے سره د هر څیز نه وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ⑮ او بد ځای دے او د اَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
آیا نۀ دے راغلے وخت هغه خلقو لره چه ایمانونه ئے راوړے دی. په مدارك کښې وائی چه
وو دوی په مکه کښې په قحط کښې نو هرکله چه دوی هجرت وکړو او بیائے مونده رزق او
نعمتونه نو سست شو دوی په عبادت کښې نو دا آیت نازل شۀ او روایت دے له ابن مسعود رض
نه چه نۀ وو په مینځ د اسلام څمونږه کښې په دے آیت سره مگر څلور کاله یعنی پس له څلورو
کالو له ایمان څمونږه نه ملامت ئے کړو مونږه په دے آیت سره او روایت دے له ابوبکر صدیق رض
نه چه په تحقیق سره ولوستے شه دا آیت دوړاندے د دۀ او دۀ خنه ناست وو خلق دیمانی د
ملک نو وژړل هغوی په سخت ژړلو سره نو وکاته دوی ته ابوبکر صدیق رض او وے ویل چه وو
مونږه هم دا رنگے ترهغه پورے چه زړونه مو سخت شو یعنی اول څمونږه زړونه نرم وو لکه
دے خلقو اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ لا یعنی راغلے دے مومنانو لره
وخت چه ویریږی زړونه د دوی دپاره د ذکر د الله تعالیٰ او له وجه د هغه نه چه
نازل شوے دے له حق نه چه قران دے ولے چه دے جمع کونکے دے ذکر لره او
وعظ لره نو دے ډیر لائق دے دپاره د دے چه ویریږی زړونه په او ریدلو د دۀ سره چه سخت
والے ئے لرے شی وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ او نۀ دِ کیږی دا مومنان
په سختوالی د زړونو کښې په شان د هغه خلقو چه ورکړے شوے وو کتاب پخوا له دوی نه
یعنی وو بنی اسرائیل چه الله مددګار د دوی وو هر څۀ ئے چه ترے غوښتل ورکول ئے
او دوی به چه واوریدۀ تورات او انجیل نو به ویریدل د الله نه او نرم به شول زړونه د
دوی پس چه تیره شوه په دوی څه موده نو غالب شو په دوی باندے ظلمت او تور والے د
د زړونو او مختلف شول او پیدا ئے کړه په دین کښې نوی کارونه لکه بدلول د کتاب د
خدائی شول یا نور فسادونه نو الله تعالیٰ وویل مومنانو ته چه تاسے مه کیږئ دا رنگے
بلکه لکه چه تاسے بنۀ وئ هم هغسے اوسئ چه آخر مو بنۀ شی فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ
قُلُوْبُهُمْ ط پس اوږده شوه په دوی باندے زمانه یعنے هغه وخت چه په مینځ د دوی او د

پیغمبرانو وه پس سخت شو زړونه ددوئ په تابعدارئ دشهوتونو خپلو سره وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ او ډیر له دوئ نه وتونکی وو له حکم دخدائ نه او پریخودونکی وو هغه څیزونو له چه په کتاب ددوئ کښی وو پس مه شئ اے مومنانو پشان ددوئ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ط پوهـ شئ تاسے چه په تحقیق سره الله چه دے ژوندئ کوی زمکه په باران سره نو را وباسی ورنه گیاه همدا رنگے به راژوندی کا مړی . او ابن عباس رض معنی د دے ایت دا رنگ کوی چه نرمه وی زړونه پس د سختوالی او کلکوالی د هغے نه نو وے کړځوی عاجزکونکی او کړځیدونکی الله ته نو ده مراد له زمکے نه زړونه کړه قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷﴾ په تحقیق سره موبزه بیان کړی دی د لیلونه دیو والی او د قدرت خپل شاید چه تاسے عقل وکړئ او پوهـ شئ په کارونو د دین خپل اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَ الْمُصَّدِّقٰتِ په تحقیق سره خیرات کونکی سړی او خیرات کونکے ښځے وَ اَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا او هغه خلق چه قرض ورکړی الله لره قرض ښائسته یعنی خیرات وکړی د پاک شی په خوشحالئ او په ښه نیت سره په هغه چاچه لائق دخیرات وی يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَ لَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۸﴾ زیات والے به وکړے شی دوئ لره او خاص دوئ لره به وی مزدوری لویه وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖٓ او هغه خلق چه ایمانونه ئے راوړی دی په الله او په رسولانو دده باندے اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ ۖ وَالشُّهَدَآءُ هم هغه خلق دی ډیر رښتینی او شهید کړے شوی په لارے د خدائ کښ عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په نزد درب ددوئ لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَ نُوْرُهُمْ ط دوئ لره ده مزدوری د دوئ او روښنائی ددوئ چه تیر به شی په هغے سره په پل صراط وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۹﴾ او هغه خلق چه کافر شوی دی او دروغ کړی ئے دی ع ۱۸

ایتونو زمونږه هغوئ او سیدونکی دا وردی الله تعالیٰ د وساتی موبزه له هغه نه سره د ټولو مسلمانانو سرپیوا و سره د ټولو مسلمانانو ښځو اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ پوهـ شئ اے خلقو چه په تحقیق سره هغه ژوندون چه ډیر ناکاره او ډیر نزدے دے هلاکیدو او ورکیدو ته لوبے دی او تماشه ده د هلکانو وَّ زِيْنَةٌ وَّ تَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ او ښاست او لوبے

کول دی په مینځ ستاسے کښې په یو بل باندے وَتَکَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ ط او ډیروِل دی او دعوٰی کول دی د ډیروالی په مالونو او په اولاد کښې کَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ حال او صفت د دے دنیا په شان د باران دے چه بنائسته بنکاری شی کرونکی ته گیاه د هغه ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا پس وچه شی نو وګورے ته گیاه زیړه پس له شیتوالی د هغے نه ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا ط پس بیا شی ماته تار په تار په لږ وخت کښې دا رنګے دنیا ده زر ورکیدونکے او آخرت همیشه باقی دے نو هغه ته هر وخت ځان تیار وئ وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَّ مَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ط او په آخرت کښې عذاب دے سخت د پاره د هغه چا چه منګلے ئے ولګولے په دنیا او په مزو خپلو او شا کړی آخرت ته او بخښنه ده لویه او رضامندی ده د الله تعالیٰ نه او د الله تعالیٰ له ده نه که چرے مخ کا دے الله تعالیٰ ته او شا کاندی دنیا ته۔ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿۲۰﴾ او نهٔ دے هغه ژوندون چه ډیر نا کاره او ډیر نزدے دے مګر اسباب دے د غُلید لو چه وغولیده په دے باندے څوک نزده په شان ډیر خلق سَابِقُوْا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ تلوار وکړی تلے بخښنے ته چه له ربه ستاسے نه ده یعنی وکړئ هغه کارونه چه الله تعالیٰ پرے رضا کیږی او هغه کارونه ټول په تابعداریٔ د پیغمبر کښې دی وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لا او جنت ته چه پلنوالے د هغه دا رنګے دے لکه پلنوالے د آسمان او د زمکے چه دواړه یو ځائے کړے شی او دا جنت لوئے سره د ډیرو نعمتونو به هرګز بیا نه موندے شی بے تابعداریٔ د پیغمبر نه أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ اٰمَنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ط تیار کړے شوے دے هغه جنت د پاره د هغه خلقو چه ایمانونه ئے راوړی دی په الله او په رسولانو د ده او باور ئے کړے دے په خبرو د هغوی ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَاءُ ط دا وعده کړے شوے چه بخښنه او جنت دے دا فضل د الله دے ورکوی هغه چا ته چه رضا ئے وشی چه مؤمنان دی یا دا دلیل دے په دے خبره چه جنت ته ننوتل نشته بے له فضل د الله تعالیٰ نه نو سرے دے په خپلو نیکو عملونو خطا نهٔ شی بلکه دا دِ وګنړی چه دا نیک کارونه چه زهٔ کومه دا خالی فضل د الله دے وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿۲۱﴾ او الله تعالیٰ صاحب د ډیر لوئ

فضل دے یوله فضلونو نه ئے داد ے چه په دنیا کښې ئے اسلام ورکړو نو په اخرت کښې به په امن

شی له هر قسم خفه کیدو نه مَاۤ اَصَابَ مِنْ مُّصِیْبَةٍ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِیْۤ اَنْفُسِكُمْ نه رسیږی هیڅ

غم او آفت مالونو ته په زمکه کښې او نه په ځانونو ستاسے کښې اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ

نَّبْرَاَهَا ط مګر دا لیکلے شوے دی په کتاب کښې مخکښې د پیدا کیدو د زمکے او د نفسونو ستاسے

او مخکښې د پیدا کیدو د دغه آفت نه اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ یَسِیْرٌ ﴿۲۲﴾ په تحقیق سره دا اندازه مخکښې له

پیدا کولو د دے ټولو څیزونو په الله باندے آسانه ده لِّكَیْلَا تَاْسَوْا عَلٰی مَا فَاتَكُمْ د پاره د

دے چه تاسے خفه نۀ شئ په دا سے خفه کیدو سره چه له صبره مو وباسی په دغه څیز باندے

چه لاړ شی له تاسے نه چه دغه مال او اولاد ستاسے دے وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَاۤ اٰتٰىكُمْ ط او تاسے خوشحالی

ونۀ کړی خوشحالی دکبر او د ځان لویولو په خلقو باندے په سبب د دغه څۀ چه ما درکړی

دی تاسے ته بلکه شکر کوئ تاسے وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ او الله تعالیٰ دوست نۀ ګڼړی

کبر کوونکی چه کبر کوی په مال یا په نورو څیزونو سره فَخُوْرِ ﴿۲۳﴾ الَّذِیْنَ یَبْخَلُوْنَ وَیَاْمُرُوْنَ

النَّاسَ بِالْبُخْلِ ط فخر کوونکی چه فخر کوی په خلقو هغه دی فخر کوونکی چه منع کوی حقونه د

خدائی او د خلقو او حکم کوی خلقو ته په بخیلئ سره وَمَنْ یَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِیُّ

الْحَمِیْدُ ﴿۲۴﴾ او هر څوك چه مخ وګرځوی له دینه او په ځائ رانۀ وړی حکم د هغۀ یعنی د الله

او منع نۀ شی له هغه څیزنه چه الله ترے منع کړے وی نو په تحقیق الله ډیر بے پرواه او بے

احتیاجه دے. هغۀ ته هیڅ څیز ضرر نۀ رسوی بلکه ضرر مخ ګرځوونکی ته دے الله صفت کړے

شوے دے په کارونو خپلو کښې. د چا عبادت ته د هغۀ څۀ حاجت نشته کۀ حاجت دے خو

د سړی د پاره د ځان خپل دے چه دے به ثواب مومی لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَیِّنٰتِ په

تحقیق ما مخالیږلی وو موږه رسولان خپل په معجزو او په دلیلونو ظاهرو سره وَاَنْزَلْنَا

مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِیْزَانَ او نازل کړے وو موږه سره د هغه رسولانو کتاب او تله روایت

دے چه جبریل علیه السلام راوړه تله او ورئے کړه نوح علیه السلام لره چه دوا به قوم

خپل ته چه تول کړئ په دے سره ولے چه په دے کښې انصاف دے لِیَقُوْمَ النَّاسُ د پاره د دے

چه وددرېږي خلق بِالْقِسْطِ ط په انصاف سره اوظلم ونهٔ کړي یو په بل وَاَنْزَلْنَا الْحَدِیْدَ فِیْهِ
بَاْسٌ شَدِیْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ او نازله کړې دهٔ مونږه اوسپنه **روایت دے** چه هرکله
راکوزشهٔ آدم ؑ له جنت نه نو له ده سره پنځه څیزونه وو دا اوسپنې سندان اودوه پلکونه
اوېوه ستنه او یو څټك او میقعه. او په اوسپنه کښې دے جنګ سخت او قوت ډېر او نفعے دی
پکښې دپاره دخلقو ولے چه اکثر کارونه دخلقو په اوسپنه سره کیږي وَلِیَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ
یَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ بِالْغَیْبِ ط او دپاره ددے چه پوهه شی الله او ووینی چه څوك مدد کوی له دهٔ سره
او له رسولانو ددهٔ سره یعنی الله ولیږل رسولان او نازل ئے کړل سره ددوی دا سے څیزونه
دپاره ددے چه وګوری چه دوئ انصاف کوی او کهٔ بے انصافی کوی او وګوری مددګاران خپل
او مددګاران دپیغمبرانو په غیب سره یعنی بے لیدلو ددوئ او حساب او کتاب او ورځ دقیامت
لره چه دوئ نهٔ دی لیدلی جنت او دوزخ او دوئ مددګاری وکړی د الله تعالیٰ نو دغه مدد
کونکی دی په غیب اِنَّ اللّٰهَ قَوِیٌّ عَزِیْزٌ ع ﴿۲۵﴾ په تحقیق سره الله قوی دے په دے کار خپل کښې ع ۲ ۱۹
او غالب دے چه څوك پرے غلبه کولے نشی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّاِبْرٰهِیْمَ وَجَعَلْنَا فِیْ
ذُرِّیَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْکِتٰبَ او خامخا په تحقیق سره لیږلے وو مونږه نوح ؑ او ابراهیم ؑ او پیدا کړی
وو مونږه په اولاد ددوئ کښې پیغمبری یعنی ګرځولی وو مونږه پیغمبران په اولاد د دے
دواړو کښې او نازل کړے وو مونږه په اولاد د دے دواړو کښې کتابونه فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ج وَکَثِیْرٌ
مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۶﴾ پس بعضے له دوئ نه لار موندونکی وو چه لاره په لارے سمے او ډیر له دوئ
نه وتونکی وو له حکم د الله تعالیٰ نه ثُمَّ قَفَّیْنَا عَلٰۤی اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا پس تابع کړه مونږه دوئ لره
یعنی ورُم لیږل پس له دوئ نه په قدمونو او په لارے ددوئ نور رسولان خپل وَقَفَّیْنَا
بِعِیْسَی ابْنِ مَرْیَمَ او راوست مونږه له وروستو ددوئ عیسیٰ ؑ ځوئ د مریم وَاٰتَیْنٰهُ
الْاِنْجِیْلَ ۵ لا وَجَعَلْنَا فِیْ قُلُوْبِ الَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ط او ورکړے وو مونږه عیسیٰ ؑ
لره انجیل او ګرځولے وه مونږه په زړونو دهغه خلقو کښې چه تابع شوی د عیسیٰ ؑ وو ډیره مهربانی
او رحم یو په بل باندے وَرَهْبَانِیَّةَ نِ ابْتَدَعُوْهَا او په چهلو کښې کیناستل او نه کول د ښځو

اوجدا کیدل له خلقو ته دا کارجوړ کړے وو دوئ له ځانونو خپلو نه مَا كَتَبۡنٰهَا عَلَيۡهِمۡ اِلَّا ابۡتِغَآءَ رِضۡوَانِ اللّٰهِ اودا چهلے او سختئ چه له ځانه ئے جوړ کړی وو نهٔ وو فرض کړی موږه په دوئ لیکن وکړهٔ دوئ د پاره د رضا مندئ دالله تعالیٰ. په تفسیر جمل کښ وائی چه دا رَهبانیت یواځے کیدل د دوئ وو په غرونو او په غارونوکښ او تختیدل د دوئ وو له فسادونو د خلقو نه په دین کښ او بارول وو په ځانونو باندے د سختونو عبادتونو او پریخودل د نکاح وو اونګول په ځانونو باندے او په جامو خپلو او په خوراك او په څښلو خپلو نا کاره څیزونه لکه روایت دے له ابن عباسؓ نه چه بادشانو پس له عیسیٰؑ نه بدل کړے وو تورات او انجیل او په دوئ کښ لږ خلق وو مومنان چه هغوئ لوست تورات او انجیل او رابلل به ئے خلق دین دالله ته نو وو یلے شو هغه بادشاهانو نه چه تاسے راجمع کړئ دغه خلق چه مخالفت کوی له تاسے نه پس مړهٔ ئے کړئ او یا ئے موافق کړئ له ځان سره یعنی چه پریږدی تورات او انجیل او عمل وکړی په دغه بدل کړی ستاسے. نو راجمع کړل بادشاهانو او ورته ئے وړاندے کړل وژلل چه یا مو وژنو او یا پریږدئ تورات او انجیل او عمل وکړئ په دغه څیز باندے چه موږه بدل کړی دی. یعنی چه څهٔ مورا وخکلی دی له تورات او له انجیل نه او یو شے موجود کړے دے نو مؤمنانو ورته وویل چه موږه پریږدئ چه موږ جدا شوله تاسے نه او تاسے ته به نهٔ ښکاره کیږو نو وویل ځنے له مؤمنانو چه جوړ کړئ ځموږ د پاره اوچت ځایونه لکه ستنے اوچتے نو وخیژوئ موږه په هغوئ باندے او را کړئ موږ لره یو شے چه موږ پورته کوو په هغه سره خوړل او څښل خپل نو موږ به نهٔ ښکاره کیږو تاسے ته او یو بل وویل چه پریږدئ موږه چه ګرځو په زمکه کښ او څرو او خوړل او څښل کوو په زمکه کښ لکه ځنګلی څیزونه کهٔ تاسے لره قدرت راشی په موږه باندے په زمکه ستاسے کښ نو مړهٔ کوئ موږه یعنی موږه به بیا چرے نه حاضریږو تاسے ته او هغه نور وو ورته وویل چه موږ لره کورونه جوړ کړئ په میرو کښ نو موږ به هلته کوهے جوړ کړو او سالړے به کرو او په هغهٔ به ساعت تیروو او ودے مؤمنانو په کافر وکښ خپل وو نو هغوی دا کارونه وکړهٔ د دے

مؤمنانو د پاره یعنی ځینو اوچت ځایونه ورته جوړ کړه او هغوئ ئے پکښې کینول او ځینو ته
ئے کوړ نه په میره جوړ کړۀ او هغه ځینے به د یرغ بیان و هغوئ ئے ځنګلو نو ته پریخودۀ نو په دے
شان سره د امسلمانان په سختئ کښې مړه شو او دین د عیسیٰ ؑ ئے پرے نخودۀ پس له یوے
زمانے نه د اکافران درے ټولی شو۔ یو و ویل چه مونږ ه لار د هغوکو وچه اوچت ځایونه ئے
جوړ کړے وو او هغه بله فرقے و ویل چه مونږ ه د هغو لار کو وچه په میر و کښې ئے کورونه جوړ
کړی وو او هغه د ریم ټولی و ویل چه مونږ ه د هغوئ کو وچه ځنګلونو ته تللی وو او داد دے
کافرانو هسے دعوٰی وه ولے چه دوئ بدل کړے وو د خدائ کتاب نو کافر شو او هغوئ د خدائ په
کتاب مسلمانان وژو او سختئ ئے په ځان تیرے کړے وے۔ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا نو تینګ نهٔ
کړۀ دوئ هغه کار ونه او عمل ئے ونهٔ کړه په هغوئ یعنی هغه خلقو چه چا کتاب بدل کړے
وو په خلاف د هغه خلقو چه د ومبی مسلمانان تیر شوی وو او په بنو کار ونو مړۀ شوی وو
فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ پس ورکړه مونږ ه هغه خلقو له چه ایمان ئے راو ړے وو له دوئ
نه اَجْرَهُمْ ج مزدوری او ثواب د دوئ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۷﴾ او ډیر له دوئ نه وتونکی
وو له حکم د خدائ نه په بدلولو د کتاب د الله سره نو دوئ کافر و وخو تشے دعوے ئے کولے د
لارے د مسلمانانو يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ اے خلقو چه ایمان
مو راوړے دے و ویریږئ د الله نه او ایمان راوړئ په رسول د هغه باندے۔ الله تعالیٰ
حکم وکړۀ مومنانو د اهل کتابو ته چه باقی وو په کتاب خپل او په تابعدارئ د پیغمبر خپل
چه تاسے ایمان راوړی په دے رسول باندے لکه چه ایمان مو راوړے وو په نورو رسولانو
یعنی ایمان راوړئ په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ در به
کړی الله تعالیٰ تاسے ته دوه برخے له رحمته خپله یو د ایمان په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم
او بل د ایمان په پخوانو پیغمبرانو وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ او و به ګرځوی تاسے د
پاره روښنائی چه تاسے ترے تلل کوئ په هغے سره په دنیا کښې او په پل صراط او په جنت
کښې وَيَغْفِرْ لَكُمْ ط وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۸﴾ ج صلے او و به بخښی تاسے ته ګناهونه ستاسے او الله

بخښونکے دے مهربان هر کله چه وا وريده هغه اهل کتابو چه ایمان ئے نه وو راوړے په محمد صلے الله علیه وسلم باندے له مؤمنانو نه دا خبره چه هر هغه څوک له اهل کتابو نه چه ایمان راوړی په محمد صلے الله علیه وسلم باندے هغه لره دوه برخے دی د ثواب نو وے ویل مؤمنانو ته چه مونږه او تاسے برابر یو چه مونږه لره یوه برخه شوه او تاسے لره یوه برخه شوه نو الله تعالیٰ ردکوی د دے خبرے د کا فرانو لِئَلَّا یَعۡلَمَ اَهۡلُ الۡکِتٰبِ اَلَّا یَقۡدِرُوۡنَ عَلٰی شَیۡءٍ مِّنۡ فَضۡلِ اللّٰهِ دا چه بیان کړے الله تعالیٰ دوه برخے د پاره د مسلمانانو د اهل کتابو د پاره دی چه پوهه شی کافران د اهل کتابو په دے خبره چه دوی به قادر نه شی او بیا به نه مومی یو شے د فضل د الله نه ولے چه دوی ایمان رانه وړو په دے پیغمبر ۴ نو پخوانے ایمان ئے هم معتبر نهٔ دے ولے چه دوی لا پخوا کتابونه بدل کړے وو او هلته لا کافر وو لکه دا وله معلومه شوے ده وَ اَنَّ الۡفَضۡلَ بِیَدِ اللّٰهِ یُؤۡتِیۡهِ مَنۡ یَّشَآءُ ؕ او په تحقیق سره فضل چه ایمان دے په پیغمبر ۴ او په قرآن همدا رنګے نور نعمتونه په لاس د الله کښ دی هیڅوک پکښ تصرف کولے نشی بے له هغه نه دے ورکوی هر چا ته چه رضائے وشی وَ اللّٰهُ ذُو الۡفَضۡلِ الۡعَظِیۡمِ ﴿۲۹﴾ ع الله تعالیٰ صاحب د فضل دے او لوئے دے فضل ئے

سورة المجادلة ۵۸ مدنیة ۱۰۵ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ اٰیاتها ۲۲ رکوعاتها ۳

روایت دے چه یوه ورځ اوس ځوئ د صامت میل وکړو خوله لور د ثعلبه ته یعنی خوله چه ښځه د اوس وه جماع ته ئے وبلله نو دے ترے ځان منع کړه پس ده ورته وو انتِ علے کظهر امی[عه] او دا ویل په جاهلیت کښ طلاق وو پس راغله خوله پیغمبر ۴ ته او حال ئے خپل ورته وویلو نو رسول کریم صلے الله علیه وسلم وویل چه ته پرے حرامه شوے یو خوله وویل ما ته ئے لفظ د طلاق نهٔ دے ویلے۔ نو بیا پیغمبر علیه السلام وویل ګمان نهٔ کومه مګر د حراموالی په هغه باندے پس خوله خفه شوه له جهته د پریوالی د اولاد او

عه یعنی ته په ما باندے لکه شا د مور خپلے ئے ۱۲ منه

ورکوته والی ئے او د جدا کید لو د خښتن نه خوا ئی نه نو د ویم ځل ئے بیا عرض وکړو رسول الله ﷺ ته

پس ده بیا ورته وویل چه ته پرے حرامه شوے پس مخ کړهٔ خوله آسمان ته او وے ویل اَللّٰهُمَّ عه

انی اشکوا الیک فی هٰذا الحکم ۔ فی الحال دا آیت راغے قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ په تحقیق سره

واوریدهٔ خدائی قَوْلَ الَّتِیْ ویل دهغه ښځے تُجَادِلُكَ چه جګړه ئے کوله له تا سره فِیْ

زَوْجِهَا په کار د خښتن خپل کښ وَتَشْتَكِیْٓ اِلَى اللّٰهِ ﷺ او چه شکایت او ژړا ئے کوله خدا ئے

ته وَاللّٰهُ یَسْمَعُ اوخدائی اوریدل تَحَاوُرَكُمَا ؕ وویل دواړو ستاسے یعنی چه تا ورته ویل

چه ته پرے حرامه شوے او هغے ویل چه زهٔ ئے طلاقه کړے نه یم اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ ۢ په

تحقیق سره خدائی اوریدونکے دے شکایت د مضطر لره بَصِیْرٌ ① او لیدونکے دے حال

د دهٔ لره اَلَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ هغه کسان چه ظهار کوی له تاسے نه مِّنْ نِّسَآئِهِمْ له ښځو

خپلو نه او ورته وائی چه ته په ماندے داسے ئے لکه شا د مور خما ۔ مَّا هُنَّ نهٔ دی دغه

ښځے اُمَّهٰتِهِمْ ؕ میندے د دوی یعنی په ویلو د دے خبرے سره ئے ښځه نه مور کیږی ځکه چه

اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ نهٔ دی میندے د دوی اِلَّا الّٰٓئِیْ وَلَدْنَهُمْ ؕ مګر هغه ښځے چه دوی ئے زیږولی

دی او رودونکے ښځے په حکم د میندو کښ دی او همدا رنګے ازواج مطهرات د رسول کریم صلے الله

علیه وسلم وَاِنَّهُمْ او په تحقیق سره ظهار کوونکی سړی چه دی لَیَقُوْلُوْنَ خامخا وائی مُنْكَرًا

مِّنَ الْقَوْلِ نا معقوله خبره یعنی مخالفه له عقله وَزُوْرًا ؕ او وائی دروغ ځکه چه ښځه نه

برابریږی له مور سره وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ او په تحقیق سره خدائی عفو کوونکے دے توبه ایستونکی

لره له دے ویلو نه غَفُوْرٌ ② بخښونکے دے دوی لره په کفاره سره وَالَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ

مِنْ نِّسَآئِهِمْ او هغه کسان چه ظهار کوی له ښځو خپلو نه ثُمَّ یَعُوْدُوْنَ پس بیا رجوع وکړی

دوی لِمَا قَالُوْا له هغه قول نه چه ویلے وو دوی یعنی قصد وکړه وطی د دغه ښځے ته

پس له حرامولو نه فَتَحْرِیْرُ رَقَبَةٍ پس په دهٔ آزادول د مریئی دی ۔ مِّنْ قَبْلِ اَنْ یَّتَمَآسَّا ؕ

پروړاندے له دے نه چه مظاهر سړے او مظاهره ښځه مسه کړی یو بل لره ذٰلِكُمْ دغه

عه یعنی اے خدایه زهٔ شکایت او ژړا کوم تا ته په دے حکم کښ ۱۲ منه

حکم په کفاره سره تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ط پند درکولے شی تاسے ته په دے سره چه څکه چه بیا رجوع
او عود ونه کړی ظهار ته وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ٣ او خدائ په هغه څهٔ چه تاسو ئے کوئ
خبردار دے نو جزا به درکړی عه فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ پس هر چا چه بیا نهٔ موندهٔ مریے فَصِيَامُ
شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ پس په دهٔ روژے د دوو میاشتو پرله پسے دی چه مینځ کښں بے عذره
روژے ونهٔ خوری او دغه روژے مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ج عه وړومبے دے له مسه کولو نه په
مباشرت سره فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ پس هر څوك چه روژے نهٔ شی ساتلے فَاِطْعَامُ پس په دهٔ
طعام ورکول سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ط د شپیتو فقیرانو دی هر یو ته نیم اوګے له غنمو نه او برابر اوګے
له نورو دانو نه ذٰلِكَ دغه احکام ذکر کړے شوی مقرر شول لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ د پاره
د دے چه تصدیق وکړئ خدائ لره او رسول لره ئے په قبلولو د شریعت سره او په ترك کولو د هغه
کارونو چه کول تاسے په جاهلیت کښں وَتِلْكَ او دغه حکمونه چه بیان کړل مونږه په ظهار او
کفاره کښں حُدُوْدُ اللّٰهِ ط مقرر کړے شوی د خدائ دی نو تجاوز ترے روا نهٔ دے وَلِلْكٰفِرِيْنَ
او هغه کسانو لره چه فرمان د خدائ نه قبلوی عَذَابٌ اَلِيْمٌ ٤ عذاب درد ناك
دے اِنَّ الَّذِيْنَ په تحقیق سره هغه کسان چه يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مخالفت کوی
له خدائ او له رسوله ئے په تجاوز سره له حدودو نه كُبِتُوْا هلاك به کړے شی دوئ
كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ لکه چه هلاك کړے شوی وو امم ماضیه مِنْ قَبْلِهِمْ وړومبے له دوئ
نه په سبب د مخالفت ئے له رسولانو خپلو نه وَقَدْ اَنْزَلْنَآ او په تحقیق سره نازل کړی دی مونږه
اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ ط ایتونه روښانه چه دلالت کوی په صدق د رسول او په صحت د قول سره ئے
وَلِلْكٰفِرِيْنَ او کافرانو لره په دے ایتونو باندے عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ٥ عذاب خوار او رسوا
کونکے دے په دنیا کښں او یا په اخرت کښں يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ یاده کړه دوئ ته هغه ورځ چه
پورته به کړی خدائ دوئ له قبرونو نه جَمِيْعًا ټول چه یو به هم ترے پاتے نهٔ شی فَيُنَبِّئُهُمْ

عه بیان کړهٔ خدائ په اول ایت کښں چه دا خبره نا معقول او دروغ ده او بیا ئے کړه په ایت دویم کښں حکم د
ظهار پس دا ایت مکرر نهٔ دے ١٢ عه یعنی ښځوا دیو ځائے کید لو د دواړو ته ١٢ په دے کښں اشارت دے دے ته چه
وړومبے نه وطی حرامه ده ١٢ منه رحمه ربه ١٢ اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ١٢

بِمَا عَمِلُوْا ط پس خبر به کړی خدائ دوئ لره په هغه څیز چه ئې کړی وی اَحْصٰىهُ اللّٰهُ ساتلے او یاد کړے به وی خدائ عمل د دوئ وَ نَسُوْهُ ط او هیر کړے دے دوئ هغه له جهته د د یروالی نه وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ او خدائ په ټولو څیزونو له اعمالو او له اقوالو او احوالو۔ شَهِيْدٌ ⑥ خبردے نهٔ پټیږی له دهٔ هیڅ څیز روایت دے چه یوه ورځ ربیعه څوئ ع
دعمر رض او حبیب رورځ سره دصفوان خبرے کولے نو یو وویل آیا خدائ پوهیږی په دے چه مونږ ئې وایو او بل ووېل په بعضو پوهیږی او په بعضو نهٔ پوهیږی نو دریم ووېل که چرے په بعضو پوهیږی نو بس په ټولو به پوهیږی ځکه چه مانع و رلره نهٔ شته پس دا مخکښ آیت نازل شه اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ آیا نهٔ پوهیږے ته په دے چه په تحقیق سره خدائ پوهیږی مَا فِي السَّمٰوٰتِ په هغه څیزونو چه په اسمانونو کښ دی له ملائکو او له ستورو او له ارواحانو نه وَمَا فِي الْاَرْضِ ط او پوهیږی په هغه چه په زمکه کښ دی له معادنو او نباتاتو او حیواناتو څخه مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ نه دی له درے کسانو چه راز وائی یو تر بله۔ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ مګر خدائ څلورم وی له دوئ نه په علم سره یعنی څلورم ګرځی دوئ لره له جهته د اطلاع په راز د دوئ وَلَا خَمْسَةٍ او نهٔ وی پنځه راز ویونکی اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ مګر دے ئې شپږم وی وَلَآ اَدْنٰى او نهٔ وی کم مِنْ ذٰلِكَ له دریو نه چه دوه دی وَلَآ اَكْثَرَ او نهٔ وی زیاتی له پنځو نه اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ مګر خدائ وی دوئ سره۔ یعنی پوهیږی په راز د دوئ اَيْنَ مَا كَانُوْا ج هر چرته چه وی دوئ په اسمانونو او په اطرافو د زمکے کښ ځکه چه علم د دے څیزونو په قرب مکانی سره نهٔ دے چه په اختلاف د مواضعو سره عالم بدلیږی ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ پس خبر به کړی خدائ دوئ لره بِمَا عَمِلُوْا په هغه کار چه ئې کړے دے په دنیا کښ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط په ورځ د قیامت پس جزا به ورکړی موافق د عمل سره اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ⑦ په تحقیق سره خدائ په ټولو څیزونو له اقوالو او افعالو پوهـ دے۔

روایت دے چه یهودیانو او منافقانو به پټے خبرے کولے او په ګوشو د سترګو کښ به ئې اشاره مومنانو ته کوله د پاره د واقع کیدو د شک په زړونو د دوئ کښ پس پیغمبر ﷺ دوئ

د دے کارہ منع کړل نو درے ورځے ئے نهٔ کولے نو بیا ئے ویلے پس ایت نازل شهٔ اَلَمۡ تَرَ ایا نهٔ وینے
تهٔ او نظر نهٔ کوے اِلَی الَّذِیۡنَ نُهُوۡا هغه کسانو ته چه منع کړے شوی وو عَنِ النَّجۡوٰی له راز ویلو نه
ثُمَّ یَعُوۡدُوۡنَ پس بیرته ګرځی لِمَا نُهُوۡا عَنۡهُ هغه څیز ته چه ترے منع کړے شوی وو۔ وَ
یَتَنٰجَوۡنَ او راز وائی دوئ بِالۡاِثۡمِ په هغه څیز سره چه د دوئ پرے ګناه کاریږی چه غیبت
د مؤمنانو دے وَالۡعُدۡوَانِ او په ظلم سره په حق د اهل ایمانو وَمَعۡصِیَتِ الرَّسُوۡلِ ز او په نهٔ
منلو د فرمان د پیغمبر سره روایت دے چه یوه ورځ یهودیان پیغمبرؑ له راغلل نو دے
ویل السّام عَلَیۡكَ نو پیغمبرؑ دوئ ته وویل وَعَلَیۡکُمۡ نو خدائ تعالیٰ دا ایت نازل کړهٔ وَاِذَا
جَآءُوۡكَ او هر کله چه راشی دا یهودیان تا ته حَیَّوۡكَ سلام وائی تا ته بِمَا لَمۡ یُحَیِّكَ بِهِ اللّٰهُ ۙ
په هغه څیز سره چه سلام نهٔ دے ویلے تا له خدائ پرے یعنی دوئ وائی په سلام ستا کښں۔
السام علیك یا محمد۔ او سام مرګ ته وائی او خدای تعالیٰ وائی سلٰمٌ[عه] عبادہ الذین اصطفٰی
وَیَقُوۡلُوۡنَ او وائی دوئ فِیۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ په مینځ خپل کښں لَوۡلَا یُعَذِّبُنَا اللّٰهُ ولے نه عذابوی
خدائ مونږه بِمَا نَقُوۡلُ ؕ په سبب د هغه خبرے سره چه وایو مونږه یعنی دوئ ویل
کهٔ چیرے محمدؑ پیغمبر وے نو خدائ تعالیٰ به مونږ په سبب د دے د سلام سره عذاب کړے وے
پس وویل خدائ تعالیٰ حَسۡبُهُمۡ جَهَنَّمُ ۚ بس دے دوئ لره دوزخ د پاره د عذاب یَصۡلَوۡنَهَا ۚ
داخل به شی دوئ په دوزخ کښں فَبِئۡسَ الۡمَصِیۡرُ ⑧ پس بد ځاے دے دوزخ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ
اٰمَنُوۡۤا اے مؤمنانو اِذَا تَنَاجَیۡتُمۡ هر کله چه راز یو تر بله وایئ فَلَا تَتَنَاجَوۡا پس راز مهٔ وایئ
بِالۡاِثۡمِ په ګناه سره وَالۡعُدۡوَانِ او مهٔ وایئ په ظلم سره هم وَمَعۡصِیَتِ الرَّسُوۡلِ او په بے
فرمانئ له رسولؑ نه یعنی تاسے په مثل د یهودیانو او د منافقانو راز په شر سره مهٔ وایئ بلکه
وَتَنَاجَوۡا بِالۡبِرِّ راز وایئ په ادا کولو د فرائضو او نوافلو سره وَالتَّقۡوٰی ؕ او په ترك د ګناهونو سره
او یا راز وایئ چه پکښں خیر وی مؤمنانو لره او پرهیز وی له معصیته د پیغمبرؑ وَاتَّقُوا اللّٰهَ او
ویریږئ له خدائ په هر کار کښں چه کوئ تاسے خیر او که شر الَّذِیۡۤ هغه خدائ تعالیٰ نه

عه سلام دے وی په بندګانو د خدائ هغه بندګان چه غوره کړی ئے دی ۱۲

چه تاسے به اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ⑨ ده ته جمع کړے شی دپاره دحساب نوجزا به درکړی موافق د

رازستاسے سره اِنَّمَا النَّجْوٰى په تحقیق سره چه رازویل په اثم او په عدوان سره مِنَ

الشَّيْطٰنِ له وسوسے دشیطان دے ځکه چه دوئ ئے په سترګوستاسوکښ ښائسته کوی لِيَحْزُنَ

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دپاره ددے چه غمژن کړی دوی مؤمنانولره وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا اونهٔ دے

شیطان یا رازضرر رسونکے مؤمنانولره هیڅ قدر اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ مګر په حکم دخدائ سره

وَعَلَى اللّٰهِ او په خدائ باندے فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑩ پس بانده دی چه توکل دِ کوی

مؤمنان اوکاروبه خپل دِ دهٔ ته سپاری اوهیڅ باک دِ نهٔ کنړی له رازویلو دیهودیانواو

منافقانو نه روایت دے چه یوځل داهل بدر نه مجلس د رسول کریم صلے الله علیه وسلم

ته راغے او بعضے اصحاب چاپیره ترے ناست وو بدریانوسلام وکړو او په مینځ دمسجد کښ

ودریدل او هیچا دوئ لره ځائ ورنه کړو نو پیغمبرؐ وویل یوسړی ته شه فلانی اوفلانی نو دوئ پورته

شول او ځائ ئے اهل بدر وته پریخودهٔ نومنافقانو په دے باب کښ خبرے کولے پس خدائ

تعالی دا ایت نازل کړه يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اے مؤمنانو اِذَا قِيْلَ لَكُمْ هرکله چه وویلے شی تاسے

ته چه تَفَسَّحُوْا فِى الْمَجٰلِسِ ځائ فراخ اوارت کړئ په کیناستو کښ فَافْسَحُوْا پس فراخ

کړئ ځائ خلقو ته دپاره ددے چه يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ فراخ کړی خدای تاسے ته ځائ په

قبر یا جنت کښ وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا اوهرکله چه وویلے شی تاسے ته چه پورته شئ دپاره

دفراخوالی دمجلس اوچاوبلی دی مانځه ته فَانْشُزُوْا پس پورته شئ دپاره ددے چه يَرْفَعِ اللّٰهُ

پورته کړی خدائ په جنت کښ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے دے

له تاسو نه وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ او هغه کسانو لره چه ورکړے شوے ده ورلره پوهه په ایمان

دَرَجٰتٍ ؕ درجے پورته له مؤمنانو ځکه چه مؤمن عالم بهتر دے له مومن بے علمه ځکه چه

حدیث دے فضل العالم علی العابد کفضل القمر لیلة البدر علی سائر الکواکب۔ وَاللّٰهُ

بِمَا تَعْمَلُوْنَ اوخدائ په هغه څیز چه کوئ تاسے خَبِيْرٌ ⑪ خبردار دے نوجزابه ئے درکړی

عه یعنی بهتروالے دعالم په عابد باندے داسے دے لکه بهتروالے دخوارلسے شپے دسپوږمۍ په ټولو ستورو باندے ۱۲

کتبه : محمد صادق زهیر چپرهارے داکوال

روایت دے د پیرخلق به رسول کریم صلی اللہ علیہ وسلم له راتلل او هر قسم راز ونه به ئے ویل نو پیغمبر ترے تنگ شۀ پس خدائی تعالی وویل یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْآ اے مؤمنانو اِذَا نَاجَیْتُمُ الرَّسُوْلَ په هغه وخت کښی چه راز وایئ د پیغمبر سره فَقَدِّمُوْا پس وړوبے ورکوئ تا سے بَیْنَ یَدَیْ نَجْوٰىكُمْ وړاندے د راز خپل نه صَدَقَةً ط خیرات فقیرانو لره فـائـده په دے امر کښی تعظیم او شرافت دے پیغمبر لره او نفع ده فقیرانو لره او منع ده خلقو لره له ویلو د هر قسم رازونو نه پیغمبر ته ذٰلِكَ دغه صدقه ورکول ړو مبے له رازنه خَیْرٌ لَّكُمْ غوره دی تا سے لره ځکه چه طاعت زیاتوی وَاَطْهَرُ ط او پاکیزه زیات دے ځکه چه گناهونه کموی فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا پس که بیانه مومئ تا سے هیڅ څیز چه خیرات کړئ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ پس خدائی بخښونکے دے هغه چالره چه راز بے صدقے پیغمبر ته وائی رَّحِیْمٌ ﴿۱۲﴾ مهربان دے پرے ځکه چه روا ئے کړه عاجز لره راز ویل بغیر له خیراته پس دغه عه امر لس ورځے وو او بیا منسوخ شۀ په دے ایت سره ءَاَشْفَقْتُمْ آیا ویریږی تاسے له فقره اَنْ تُقَدِّمُوْا چه ړو مبے ورکړئ بَیْنَ یَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ط مخوا له راز خپله صدقے ځکه چه شیطان وسوسه اچوی په زړونو ستا سے کښی چه خیرات ورکولو به فقیران شئ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا پس هر کله چه ونۀ کړئ تاسے دغه کار یعنی خیرات ړو مبے له رازنه وَتَابَ اللّٰهُ عَلَیْكُمْ او رجوع وکړه خدائی تاسے ته په توبے سره یعنی عفوه ئے وکړه په ترک د خیرات سره ړو مبے له رازنه فَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ پس همیشه ادا کوئ مونځ فرض لره وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ او ورکوئ زکوٰة وَاَطِیْعُوا اللّٰهَ او فرمانبرداری وکړی خدائی لره وَرَسُوْلَهٗ او رسول دهٔ لره په ټولو امرو کښی وَاللّٰهُ خَبِیْرٌۢ او خدائی خبردار او پوه دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳﴾ ع په هغه څیز چه کوئ تاسے څرگند او په پټه نو جزا به درکړی روایت دے چه عبداللہ ځوی د نبتل یو منافق وو چه پیغمبر سره به کیناستۀ او پاخیدۀ نو خبرے دده به ئے یهودیانو ته ویلے پس یوه ورځ پیغمبر په خانهٔ د یوے بی بی کښی سره د ټولی د اصحابو ناست وو پس وے ویل

عه یعنی خیرات ورکول ړو مبے د راز نه ۱۲

اوس به یو سړے راشی چه زړهٔ به ئے سرکش وی اولکه شیطان به ګوری نوکهانه ځوی دښتل راغے نو پیغمبر ﷺ ورته وویل تهٔ او فلانی او فلانی یاران دِ ولے ما ته بنکنځل کوئ نو ځوی دښتل او یارانو ئے سوګند وخوړ چه مونږه هیڅکله داسے بے ادبی نهٔ ده کړے پس داڅکښ ایت خدائے نازل کړو اَلَمْ تَرَ ایا نهٔ ګورے تهٔ اے پیغمبره۔ اِلَى الَّذِيْنَ هغه کسانو ته یعنے منافقانو ته چه تَوَلَّوْا په دوستئ ئے نیولی دی قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ط هغه قوم چه غصه نیولے ده خدائ پرے چه یهودیان دی ما هم نهٔ دی هغوئ یعنی منافقان مِّنْكُمْ له تاسے نه اے مؤمنانو وَلَا مِنْهُمْ لا او نهٔ دی هغوئ له یهودیانو نه وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ او سوګند خوری په دروغ په دعوئ د اسلام او احترام د پیغمبر وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴﴾ او حال دادے چه دوئ پوهیږی چه دروغ وائی اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ تیار کړے دے خدائ د پاره د دوئ عَذَابًا شَدِيْدًا ط عذاب سخت اِنَّهُمْ په تحقیق سره دوئ لره سَآءَ بد دی مَا كَانُوْا هغه څهٔ چه وو دوئ يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ کول به ئے له ګناهونو نه اِتَّخَذُوْٓا نیولے دے دوئ اِيْمَانَهُمْ جُنَّةً سوګند خپل ډال یعنی دوئ په دے سوګند سره ځان خپل او مال خپل له مؤمنانو نه ساتی فَصَدُّوْا پس بند کړل دوئ په دے سوګند سره مؤمنان عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لارے د خدائ چه جهاد دے یعنی منع ئے کړل مومنان له جنګه او له اخستلو د مال په دے سوګند سره فَلَهُمْ پس دے دوئ لره عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۶﴾ عذاب خوارکونکے فائده دا عذاب دویم دے په صفت بل سره او چا ویلی دی اول عذاب د قبر دے او دویم عذاب د اٰخرت دے لَنْ تُغْنِيَ دفع به نهٔ کړی عَنْهُمْ له دوئ نه په ورځ د قیامت اَمْوَالُهُمْ مالونه ئے وَلَآ اَوْلَادُهُمْ او نه اولاد د دوئ مِّنَ اللّٰهِ شَيْئًا ط له عذابه د خدایه لږ یعنی مالونه او اولاد به ترے لږ عذاب هم دفع نهٔ کړی اُولٰٓئِكَ دغه ټولے د منافقانو اَصْحٰبُ النَّارِ ط یاران د دوزخ دی هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ دوئ به په دوزخ کښ همیشه وی يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ په هغه ورځ چه پورته کړی خدائ دا منافقان له قبرونو نه جَمِيْعًا ټول فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ پس سوګند به کوی دوئ خدائ لره چه مونږه په دنیا کښ مسلمانان وو كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لکه چه سوګند کوی په دنیا کښ تاسے لره چه مونږه

مخلصان یو وَيَحْسَبُوْنَ او په هغه ورځ به ګمان کوي دا سې چه اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ط دوئ په یو
خبر دی له نفع نه یعنی دوئ به ګمان کوي چه مونږ لره به نن ورځ هم سوګند فائده رسوي او له
عذابه دخدائ به موخلاص کالکه چه په دنیا کښ ئے له مومنانو نه خلاص کړی وو اَلَآ خبردار
شه دلسې چه اِنَّهُمْ په تحقیق سره دوئ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۸﴾ هم دوئ دی دروغژن دپیرځکه
خدائ تعالیٰ سره هم دروغ وائی اِسْتَحْوَذَ غالب شوے دے عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ په دوئ
شیطان چه په وسوسې سره ئے ګناه ته اړولی دی نو فَاَنْسٰهُمْ پس هیر کړۀ دۀ په دوئ
ذِكْرَ اللّٰهِ ط یادول دخدائ نو نۀ ئے په زړۀ یادوئ او نه ئے په ژبه اُولٰٓئِكَ دغه تولے
هیرونکے حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ط لښکر او تابع دشیطان دی اَلَآ خبردار شه چه اِنَّ حِزْبَ
الشَّيْطٰنِ په تحقیق سره لښکر دشیطن هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ هم دوئ دی زیان کاران
ځکه چه فوت ئے کړل بخپل ځان نعمتونه دجنت او وراندے ئے کړل عذاب ته اِنَّ
الَّذِيْنَ په تحقیق سره هغه کسان چه يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ مخالفت کوی له خدائ وَرَسُوْلَهٗٓ او
مخالفت کوی له استاذی دخدائ اُولٰٓئِكَ دغه تولے دمخالفانو به وی فِي الْاَذَلِّيْنَ ﴿۲۰﴾ په
تولی دخوارانو کښ چه كَتَبَ اللّٰهُ لیکلے دے خدائ په لوح محفوظ کښ داسې چه لَاَغْلِبَنَّ
اَنَا خامخا غالب به شم زۀ وَرُسُلِيْ ط او غالب به شی پیغمبران ځما په دلیل او په توره
سره اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ په تحقیق سره خدائ توانا دے په نصرت سره پیغمبرانو لره عَزِيْزٌ ﴿۲۱﴾
او غالب دے نو نۀ عاجزوی دۀ لره هیڅوک **روایت دے** چه خدائ تعالیٰ پس له
بیانو لو د منافقانو او له دوستئ د دوئ نه دشمنانو دخدائ سره صفت د مخلصانو بیانوی
لَا تَجِدُ قَوْمًا بیا به نۀ موے تۀ یو تولے چه يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ایمان ئے راوړے وی په خدائ
وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او په ورځ دقیامت نو يُوَآدُّوْنَ دوستی به کوی مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ هغه چاسره
چه خلاف کوی له خدائ وَرَسُوْلَهٗ او له استاذی یعنی مؤمنان دوستی نه کوی له کافرانو
او منافقانو سره وَلَوْ كَانُوْٓا اګر که وی دغه مخالفان اٰبَآءَهُمْ پلاران د دوئ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ
یا ځامن د دوئ اَوْ اِخْوَانَهُمْ یا رونړه د دوئ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ط یا خپلوان ئے اُولٰٓئِكَ دغه کسان

چه سره د دشمنانو د خدائ دوستي نه کوي كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ ليکلے دے خدائ په

زړونو د خدائ کښې ايمان وَأَيَّدَهُمْ اوقوت ئے ورکړے دے دوئ لره بِرُوحٍ مِّنْهُ ط په

رحمت يا په مدد يا په نور د زړهٔ يا په قران سره له فيضه خپله وَيُدْخِلُهُمْ او داخل به کړي

خدائ دوئ په ورځ د قيامت جَنّٰتٍ تَجْرِي په باغونو کښې چه بهيږي به مِن تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ

لاندے د ونو ئے ولے خلورقسمه خٰلِدِيْنَ فِيهَا هميشه به وي په هغه باغونو کښې.

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ خوشحال شهٔ خدائ له دوئ نه په سبب د طاعت سره په دنيا

کښې وَرَضُوا عَنْهُ ط اوخوشحال شو دوئ له خدائ په سبب د وعدے په اخرت کښې

أُولٰئِكَ دغه کسان حِزْبُ اللّٰهِ ط لښکر او ناصردين د خدائ دے أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ

پوه شه چه په تحقيق سره لښکر د خدائ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (۲۲) ع هم دوئ خلاص دي

روايت دے له پيغمبر۴ هرچا چه ولوست سورة مجادله نو دے به وليکلے شي له

حزب الله نه په ورځ د قيامت.

سُورَةُ الْحَشْرِ ۵۹ مدنية ۱۰۱ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۲۴ رُكُوعَاتُهَا ۳

سَبَّحَ ثنا اوپاکي وويله لِلّٰهِ خدائ لره مَا فِي السَّمٰوٰتِ هغه څهٔ چه په اسمانونو کښې دي

وَمَا فِي الْأَرْضِ ج اوهغه څهٔ چه په زمکه کښې دي وَهُوَ الْعَزِيزُ او خدائ غالب دے په تولو

الْحَكِيْمُ (۱) اوحکم کونکے دے روايت دے چه هرکله پيغمبر۴ مدينے ته راغے نو

بني نضير عه و دهٔ سره صلح وکړه په دے چه نه به کوو مونږه جنګ او مدد له تاسره نو چه

دے غالب شهٔ په ورځ د جنګ بدر پس دوئ وويل دا هغه پيغمبر دے چه صفت ئے

ذکرشويدے په تورات کښې اوچه تيخته وکړه مسلمانانو په ورځ د جنګ اُحُد کښې نو دوئ

صلح ماته کړه نوکعب سره د څلويښتو کسانو مکے ته لاړهٔ پس پيغمبر عليه السلام محمد څوي د مسلمه

ته وفرمايل چه کعب قتل کړه نو قتل ئے کړو پس خارج شه پيغمبر صلعم سره د لښکره او بند ئے

عه نوم د قبيلے دے له يهوديانو نه ۱۲

کړل یو ویشت ورځې نوامر یې وکړو په قطع کولو د خرماؤ سره ئې پس وغورځوله خدائ په
زړونو د بني نضير وکښې ويره نو وې ويل صلح کوو له تا سره اې پیغمبره د ه و ويل چه صلح نهٔ کوو
مګر چه ووځو له دې ځايه پس له دريو ورځو نه پس دوئ لاړل شام ته لکه چه خدائ وائي
هُوَ الَّذِيۡٓ خدائ هغه ذات دې چه له خوارئ ئې اَخۡرَجَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وې ويستل هغه
کسان چه کافر شوی وو مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ له اهل کتابو څخه چه بني نضير دي مِنۡ دِيَارِهِمۡ
له کورونو خپلو نه چه مدينه کښې وو لِاَوَّلِ الۡحَشۡرِ ؕ‌ؔ په اول ويستلو د دوئ سره له
د عربو نه او ويستل دويم ئې له خيبر وو مَا ظَنَنۡتُمۡ ګمان نهٔ کولو تاسو اې مسلمانانو چه
اَنۡ يَّخۡرُجُوۡا بهر به شي بني نظير له مديني نه ځکه چه دوئ ډير وو او محکمي قلعي ئې وې
وَظَنُّوۡۤا او ګمان کولو بني نضير و دا سې چه اَنَّهُمۡ دوئ لره مَّانِعَتُهُمۡ ساتونکي د دوئ
حُصُوۡنُهُمۡ قلعه ګانې د دوئ دي مِّنَ اللّٰهِ له عذاب د خدائ فَاَتٰهُمُ اللّٰهُ پس راغې دوئ لره
عذاب د خدای مِنۡ حَيۡثُ لَمۡ يَحۡتَسِبُوۡا‌ ق له هغه ځائ چه دوئ ګمان نهٔ کولو چه هغه مرګ د
د کعب سردار ئې وو وَقَذَفَ فِىۡ قُلُوۡبِهِمُ الرُّعۡبَ او وغورځوله خدائ په زړونو د دوئ کښې ويره
چه يُخۡرِبُوۡنَ بُيُوۡتَهُمۡ خرابول به دوئ کورونه خپل بِاَيۡدِيۡهِمۡ په لاسونو خپلو سره د پاره د
دې چه مؤمنان پکښې استوګنه و نهٔ کړي وَاَيۡدِى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ق او په لاسونو د مؤمنانو سره
نو فَاعۡتَبِرُوۡا پس پند واخلئ تاسې يٰۤاُولِى الۡاَبۡصَارِ‏ ﴿۲﴾ اې خاوندانو د سترګو يعني فکر وکړئ
په احوالو د بني نضير وکښې او ځان وساتي له افعالو د هغوئ نه ځکه چه تاسې به مثل د بني
نضير و په عذاب نه شئ ف په دې کښې اشارت دې جواز د قياس ته وَلَوۡلَاۤ اَنۡ كَتَبَ اللّٰهُ
او که چرې نهٔ وې ليکلې خدائ عَلَيۡهِمُ الۡجَلَاۤءَ په دوئ وتل له وطنه لَعَذَّبَهُمۡ فِى الدُّنۡيَا‌ ؕ
خامخا به ئې عذاب کړي وې په دنيا کښې په وژلو او په بندولو سره لکه بني قريضه وَلَهُمۡ
او دې دوئ لره که وژلې شي او که و نه وژلې شي فِى الۡاٰخِرَةِ په آخرت کښې عَذَابُ النَّارِ‏ ﴿۳﴾
عذاب د اور ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ دغه عذاب په دې سبب سره دې چه وو دوئ شَآقُّوا اللّٰهَ
مخالفت به ئې کولو د امر د خدائ وَرَسُوۡلَهٗ‌ ج او د استاذی د دهٔ سره وَمَنۡ يُّشَآقِّ اللّٰهَ او هغه

خوك چه مخالفت کوی له خدائ فَاِنَّ اللّٰهَ پس په تحقیق سره خدائ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ④ سخت
عذاب کونکے دے روایت دے چه هرکله پیغمبر صلعم امر وکړو عبد الله او ابو لیلی ته په قطع
کولو د خرماؤ سره ئے نو ابو لیلی هر قسم خرما قطع کولے او ویل ئے په دے سره زړونه د
منافقانو ماتوم او عبد الله خرما خرابے پریکولے او ویل به ئے چه دا خرما به خدائ په لاس د
مؤمنانو کښی ورکړی نو هغه چه ښه دی دوئ لره ئے پریږدم نو خدائ تعالیٰ فرمائی مَا قَطَعْتُمْ
هغه چه تاسے پریکړے مِنْ لِّيْنَةٍ له ونو د خرماؤ نه اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا او یا مو پریے نهٔ کړے او پریخودے
تاسے قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا ولاړے په بیخونو خپلو فَبِاِذْنِ اللّٰهِ پس دغه قطع کول او پریخودل
په حکم د خدائ وو وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ⑤ او بل د پاره د دے چه ذلیل او خوار کړی خدائ
یهودیانو لره روایت دے چه هرکله بنی نضیر لاړهٔ نو ښځوس زغرے او ښځوس خوله او
درے سوه څلویښت تورے تریے پاتے شوے او همدا رنګے مالونه او زمکے نو پیغمبرﷺ خلو حصے
خلقو ته و بخښلے نو خدائ تعالیٰ وائی وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ او هغه مالونه چه غنیمت
او الجه کړځولی وو خدائ پاك رسول خپل باندے مِنْهُمْ له بنی نضیر و ځخه فَمَآ اَوْجَفْتُمْ
عَلَيْهِ پس نهٔ وو زغلولی پرے تاسے مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ اسونه او اوښان یعنی پیاده مو دا
قلعه فتح کړے وه وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ ولیکن خدائ په مد د خپل سره غالب کوی پیغمبران
خپل عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ط په هر چا چه ئے خواړی وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ⑥ او خدائ په هر
څیز له غالب کولو د پیغمبرانو او له مغلوبیت د دشمنانو نوانا دے نو کله په سبب ظاهری سره چه
جنګ دے دوئ غالبوی او کله ئے په سبب دا چولو د ویرے سره په زړونو د کافرانو کښی غالبوی
مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ او هغه څهٔ چه غنیمت کرځولے وو خدائ عَلٰى رَسُوْلِهٖ په پیغمبر خپل باندے
مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى له مالونو د اهل د کلیو نه بے جنګ فَلِلّٰهِ پس خدائ لره دی وَلِلرَّسُوْلِ او
رسول لره ئے وَلِذِي الْقُرْبٰى او خپلوانو د پیغمبر لره وَالْيَتٰمٰى او یتیمانو لره وَالْمَسٰكِيْنِ او
فقیرانو لره وَابْنِ السَّبِيْلِ لا او مسافرانو لره كَيْ لَا يَكُوْنَ د پاره د دے چه نه وی هغه غنیمت
دُوْلَةً م کرځید ونکے بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ په مینځ د غنیانو کښی مِنْكُمْ ط له تاسے ځخه چه

زیاتی له حقه خپله اخلی او فقیرانو لره لږ ورکوی او یا ئے محروم کوی لکه په جاهلیت کښې به دا سې دوئ کول وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ او هغه څهٔ چه درکړی تاسے ته پیغمبر له غنیمته فَخُذُوْهُ نو پس وا ئے خلئ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ او له هغه څهٔ نه چه منع کړی ترے تاسے فَانْتَهُوْا ج پس بیرته شئ ترے تاسے او طلب ئے مهٔ کوئ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او ووېرېږئ له خدائ په مخالفت کښې له پیغمبره اِنَّ اللّٰهَ په تحقیق سره خدائ شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿۷﴾ سخت عذاب کونکے دے هغه چا لره چه مخالفت کوی له پیغمبره نو هیڅکله ترے مخالفت مهٔ کوئ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِیْنَ او دپاره د فقیرانو هجرت کونکو یعنی غنیمت دپاره د یتیمانو او مسکینانو او مسافرانو او فقیرانو هجرت کونکو دے الَّذِیْنَ اُخْرِجُوْا هغه فقیران چه ایستلے شوی وو دوئ مِنْ دِیَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ له کورونو او له مالونو خپلو نه یَبْتَغُوْنَ فَضْلًا په دغه حال کښې چه طلبوُله دوئ بخښنه مِّنَ اللّٰهِ له رب خپله وَرِضْوَانًا او طلبوُله ئے رضا د خدائ یعنی هجرت ئے دپاره د سود اکړئ او بل غرض نه وو بلکه طلب کونکی د خدائ او د رحمت د دهٔ وو وَّیَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ او مدد کوی دین د خدائ لره په نفس او مال خپل سره وَرَسُوْلَهٗ ط او مدد کوی له استاذی د خدائ سره۔ اُولٰٓئِكَ دغه ټولے د مهاجرانو هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ﴿۸﴾ ع هم دوئ دی رښتینی په ایمان او جهاد کښې وَالَّذِیْنَ او بل دپاره د هغه کسانو دے چه تَبَوَّؤُا الدَّارَ ځایونه ئے نیولی دی په مدینه کښې وَالْاِیْمَانَ او خالص کړے ئے دے ایمان مِنْ قَبْلِهِمْ د وړمبے له مهاجرانو څخه یُحِبُّوْنَ دوست لری دوئ مَنْ هَاجَرَ اِلَیْهِمْ هغه چا لره چه هجرت وکړے دوئ ته وَلَا یَجِدُوْنَ او نهٔ بیا مومی دوئ فِیْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً په سینو خپلو کښې کینه مِّمَّآ اُوْتُوْا له هغه څهٔ چه ورکړے شوے وو مهاجرانو لره یعنی له هغه غنیمت چه پیغمبر خاص دوئ ته ورکړے وو۔ روایت دے چه یوه ورځے پیغمبر انصار د مدینے طلب کړل او ورته ئے وویل که تاسے غواړئ نو ټول مالونه د بنی نضیر وبه په تاسے قسمت کړم او مهاجرانو له به هیڅ ورنهٔ کړم مګر په کورونو ستاسے کښې دِ اوسی او که غواړئ نو دا مالونه به مهاجرانو ته ورکړم پس ستاسے د کورونو نه دِ وزی او خپله ګذاره دِ بیرے کوی نو مشرانو د انصارو وویل اے پیغمبر! مالونه خاص په دوئ

قسمت کړه او هم ځمونږ ه په ځایونو کښې دِ اوسی نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم دوئ ته دُعا
وکړه پس خدائ تعالیٰ په حق د دوئ کښې وائی وَيُؤْثِرُوْنَ اوغوره کوی انصار مهاجرانو لره عَلٰٓى
اَنْفُسِهِمْ په نفسونو خپلو باندے وَلَوْكَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﻁ قف اګرکه وی دوئ لره هغه مالونو ته
حاجت وَمَنْ يُّوْقَ او هرڅوک چه وساتلے شی شُحَّ نَفْسِهٖ له بخل د نفسه خپله یعنی چه منع کړی
نفس لره د مال فَاُولٰٓئِكَ پس دغه تولے هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۚ (۹) هم دوئ دی خلاص یا بـرے
موندونکی وَالَّذِيْنَ اوبل د پاره دهغه کسانو جَآءُوْ چه راغلی دی او راځی تابعان د اصحابو تر قیامته
مِنْۢ بَعْدِهِمْ پس له مهاجرانو او انصارو نه يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا وائی اے ربه ځمونږه اغْفِرْ لَنَا
وَبخښنه مونږه وَلِاِخْوَانِنَا او رونړه ځمونږه هم په دین کښې الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا هغه رونړه
چه پرو مخے والے ئے کړے دے په مونږه بِالْاِيْمَانِ په ایمان سره چه ایمان ئے له مونږه پرومبے
راوړے دے وَلَا تَجْعَلْ او مه پیدا کوه فِىْ قُلُوْبِنَا غِلًّا په زړونو ځمونږه کښې کینه لِّلَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے دے یعنی اصحاب د پیغمبر دی رَبَّنَآ اے ربه ځمونږه
اِنَّكَ رَءُوْفٌ په تحقیق سره چه ته مهربان ئے رَّحِيْمٌ ع (۱۰) او بخښونکے ئے نو دعا ځمونږه
قبوله که او په رحمت خپل سره په تولی د بخوانیو کښې مو داخل کړه اَلَمْ تَرَ آیا نظر نه کوے اے
محمد صلی الله علیه وسلم اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا هغه کسانو ته چه منافق شوی دی چه عبد الله ځوئ
د اُبیّ او یاران دده دی يَقُوْلُوْنَ وائی دوئ لِاِخْوَانِهِمُ ورونړو خپلو ته الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه
ورونړو ته چه کافر شوی مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ له اهل کتابو څخه لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ که چرے بهر کړے
شوئ له کورونو خپلو نه لَنَخْرُجَنَّ خامخا به بهر شو مونږه مَعَكُمْ تاسے سره اَحَدًا
اَبَدًا لا هیچا لره همیشه یعنی قبول به نه کړو فرمان د محمد صلی الله علیه وسلم او د
نورو مسلمانانو که چرے ماموره کوی په جنګ ستاسے سره مونږه وَّاِنْ قُوْتِلْتُمْ او که
جنګ وکړے شی تاسے سره یعنی که مسلمانان تاسے سره جنګ کوی نو لَنَنْصُرَنَّكُمْ خامخا به مونږه
مدد کوو تاسے سره وَاللّٰهُ يَشْهَدُ او خدائ شاهدی وائی چه اِنَّهُمْ په تحقیق سره دوئ
لَكٰذِبُوْنَ (۱۱) دروغ وائی یهودیانو ته لَئِنْ اُخْرِجُوْا که چرے بهر کړے شی یهودیان له

مدینے نه لَا يَخْرُجُوْنَ وُبه نه وځي منافقان مَعَهُمْ ج دوئ سره وَلَئِنْ قُوْتِلُوْا اوکهٔ چرےجنګ
وکړے شی له اهل کتابو سره لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ج مددکاری به ونهٔ کړی منافقان له دوئ سره
وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ اوکهٔ چرے مدد وکړی اهل نفاق یهودیانو لره لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ قف خامخا
به وګرځوی دوئ شا خپلے او وبه تختی ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲﴾ پس له تيختے د منافقانو به مدد ونهٔ کړے
شی یهودیانو سره لَاَنْتُمْ خامخا تاسے اے مؤمنانو اَشَدُّ رَهْبَةً سخت ډیریږئ له جهته د ویرے
فِيْ صُدُوْرِهِمْ په زړونو د منافقانو کښ مِّنَ اللّٰهِ ط له خدائ تعالیٰ یعنی منافقان له تاسے
ډیر ویریږی او له خدائ لږ ذٰلِكَ دغه ویره له تاسے بِاَنَّهُمْ په سبب د دے سره ده چه دوئ
قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۳﴾ یو ټولے دے چه نه پیژنی لوئ د خدائ ځکه چه ویره د خدائ لا یقه ده
نهٔ د مخلوق۔ لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جنګ نهٔ کوی دوئ تاسے سره جَمِيْعًا ټول یهودیان او منافقان یعنی
دوئ ټول نهٔ توانیږی تاسے سره د جنګ کولو اِلَّا فِيْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ مګر په هغه کلیو کښ چه
محکم وی په قلعه او خندق او برجونو سره اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ط او یا وروستو د دیوالونو نه او
مخامخ جنګ نه کول د دوئ له جهته د لړ والی او د عاجزئ نه نهٔ دی بلکه بَاْسُهُمْ جنګ د دوئ
بَيْنَهُمْ په مینځ خپل کښ شَدِيْدٌ ط سخت دے لیکن هر شجاع چه خدائ او رسول سره
جنګیدونکے شی نو هغه به بے زړهٔ او ویریدونکے شی پس په سبب د هغے ویرے سره چه خدائ
په زړونو د دوئ کښ اچولے ده مخامخ جنګ نهٔ شی کولے تَحْسَبُهُمْ ګمان به کوے ته په یهودیانو
او منافقانو باندے جَمِيْعًا ټول په یو فکر۔ وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ط او حال به دا وی چه زړونه به
ئے پریشان وی ځکه چه عقائد او مقاصد د دوئ مخالف دی په دے کښ اشارت دے د
دِلاورئ او تیزئ مؤمنانو لره په جنګ د دوی ذٰلِكَ دغه پریشانی چه ده بِاَنَّهُمْ په
سبب د دے ده چه دوئ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ یو ټولے دے چه پوهه نهٔ لری پس مثال د
یهودیانو كَمَثَلِ الَّذِيْنَ په مثل د هغه کسانو دے چه وو مِنْ قَبْلِهِمْ ړومبے له دوئ نه یعنی
اهل بدر یا امم ماضیه قَرِيْبًا په زمانه نزدے کښ ذَاقُوْا وئے څکل وَبَالَ اَمْرِهِمْ ج بدی
د آخر کار خپل په دنیا کښ وَلَهُمْ او شته دوئ لره سره د خوارئ په دنیا کښ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۵﴾

عذاب دردناك په آخرت كښې او مثال د منافقانو په فريب وركولو كښې يهودیانولره كَمَثَلِ
الشَّيْطٰنِ په مثل د شيطان دے اِذْ قَالَ په هغه وخت چه ووېل ده لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ج خاص كافر
ته چه په كفرخپل ثابت اوسه او زهٔ د هم ياريم فَلَمَّا كَفَرَ پس هركله چه ثابت شهٔ انسان په كفر
قَالَ ورته ووېل شيطان دا سے چه اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ په تحقيق سره بيزاريم له تانه دا ځكه چه
اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ په تحقيق سره زهٔ وېريږمه له خدايه چه رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ (١٦) رب د عالميانو
دے روايت دے چه مراد له شيطان ابليس دے اوله انسان ابوجهل دے نو په هغه
وخت كښې چه ابوجهل جنګ د بدرته تللو پس دے قبيلے د كنانه ته په نصرت سره اميدوار
وو ناګهانه ابليس په صورت د سراقه چه سردار د كنانه وو راغے او وے ويل دهٔ ته چه
مهٔ وېريږه زهٔ ملګرے او مددګار ستايم نو هركله چه دوئ بدرته ورسيدل او شيطان وليدل
چه ملائكے په نصرت د اهل اسلام راښكته كيدے وُتختيدهٔ او وے ويل زهٔ له تاسے بيزار
يم فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ پس دے آخر كار د شيطان او د كافر دا سے چه اَنَّهُمَا دوئ دواړه فِي النَّارِ
په اور د دوزخ كښې دی خَالِدَيْنِ فِيْهَا ط هميشه به وی په اور كښې وَذٰلِكَ او دغه هميشه والے په
اور كښې جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ (١٧) ع جزا او بدل د كافرانو دے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اے مؤمنانو
اتَّقُوا اللّٰهَ ووېريږئ له خدائ په اوامر و د دهٔ كښې. نو مخالفت ترے مهٔ كوئ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ
او مناسب دی چه فكر دِ كوی هر سړے او وينئ دِ مَاقَدَّمَتْ هغه څيز لره چه وړومبے ئے ليږلے
دے لِغَدٍ ج د پاره د صبا چه ورځ د قيامت ده ف مسمّٰی ئے كړو قيامت په غد سره له جهته
د نزدے والی نه او يا له دے جهته چه دنيا او آخرت دوه ورځے دی نو دنيا دا سے ده لكه نن ورځ
او آخرت لكه صبا۔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او وېريږئ له خدائ تكرار د پاره د تاكيد دے او چا ويلی
دی چه اول امر په ادا كولو د واجباتو دے ځكه چه مقرون دے په عمل پورے او دويم په ترك
د محارمو دے ځكه چه متصل دے په دے پورے چه اِنَّ اللّٰهَ په تحقيق سره خدائ خَبِيْرٌ م
بِمَا تَعْمَلُوْنَ (١٨) خبردار دے په هغه څيز چه كوئ تاسے وَلَا تَكُوْنُوْا او مهٔ كيږئ اے
مؤمنانو كَالَّذِيْنَ په مثل د هغه كسانو چه نَسُوا اللّٰهَ هير كړے دے هغوئ خدائ نو

فَاَنْسٰهُمْ اَنْفُسَهُمْ ط هیر کړل خدائ په دوئ ځانونه ددوئ نو وائے نهٔ ورېدهٔ هنه چه فائدهٔ
وه دوئ لره اُولٰٓئِكَ دغه ټولے چه دے هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ⑲ هم دوئ بهر دی له لارے دخدائ
لَا يَسْتَوِيْٓ برابر نهٔ دی په نزد دخدائ اَصْحٰبُ النَّارِ یاران ددوزخ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ط
او یاران د جنت اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ یاران دجنت چه دی هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ⑳ هم دوئ دی
بریے موندونکی اویا خلاص له عذاب لَوْ اَنْزَلْنَا کهٔ چرے نازل کړے وے مونږه هٰذَا
الْقُرْاٰنَ دا قرآن عَلٰى جَبَلٍ په یو غر اوپه مثل دانسان موورته فهم ورکړے وے لَّرَاَيْتَهٗ
خامخا به لیدلے وو تا هغه غر خَاشِعًا ویریدونکے اوحکم وړونکے مُّتَصَدِّعًا ټوټے شوے
مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ط له ویرے دعذاب دخدائ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ او دا امثالونه چه دی نَضْرِبُهَا
بیانوو مونږه دا لِلنَّاسِ دپاره دخلقو لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ㉑ بنا ئیږی چه فکر وکړی دوئ
په دغه مثالونوکښ نو ایمان پرے راوړی روایت دے چه هرکله مشرکانو شریک نیول
دخدائ سره او مشابه کولوئے له خلقو سره نو خدائ تعالیٰ دپاره د رد د دوئ وویل چه
هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ خدائ هغه ذات دے چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج نشته معبود برحق مګر یو خدائ
دے عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ج پوهه دے په پټو څیزونو او په ظاهر واو یا پوهه دے په دنیا او
په آخرت هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ㉒ هغه خدائ بخښونکے اومهربان دے هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ
خدائ هغه ذات دے لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج نشته معبود برحق مګر یو خدائ دے اَلْمَلِكُ بادشاه
دے چه بادشاهی ئے نهٔ زائلیږی الْقُدُّوْسُ او پاك دے له قبا ځوځځ السَّلٰمُ او خاوند دسلامتیا
دے له عیبونو ځځ اوچاویلی دی خدائ هغه ذات دے چه په امن دی خلق له ظلم ئے
الْمُؤْمِنُ اوپه امن کوونکے دے له عذابه هغه چالره چه طاعت ئے کوی الْمُهَيْمِنُ او
ساتونکے دخلقو دے الْعَزِيْزُ او غالب دے په حکم کښ الْجَبَّارُ او لوی دے او چاویلی دی چه جوړونکے
دکارونو ماتو دے الْمُتَكَبِّرُ ط سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ㉓ اولوئے دے له هغه څیزه چه شریکوی
ئے مشرکان له دهٔ سره ځکه چه شریک نهٔ دے له دهٔ سره په دغه مذکورکښ هیڅوك هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ
الْبَارِئُ هغه خدائ دے چه پیدا کوونکے نوی یعنی ظاهروونکے د اعیانو الْمُصَوِّرُ جوړونکے دصورتونو د

مخلوقاتو دے په رحم کښې لَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰى ط خدائ لره دی نامے نیکے چه دلالت کوی په صفاتو دده يُسَبِّحُ لَهٗ په پاکئ سره یادوی خدائ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ هغه څۀ چه په اسمانونو او په زمکه کښې دی وَهُوَ الْعَزِيْزُ او هغه خدائ غالب دے په ملک خپل کښې الْحَكِيْمُ ﴿۲۴﴾ حکم کوونکے هم دے روایت دے له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه چه مَنْ قرء سورة الحشر غفر له ما تقدم من ذنبه و ما تاخر۔

سورة الممتحنة ۶۰ مدنية ۹۱ — آیاتها ۱۳ — رکوعاتها ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دے چه هرکله حاطب ځوئ د ابی بلتعه پوهـ شۀ چه پیغمبر علیه السلام له اهل مکے سره غزا کوی نو دوئ ته ئے داسے ولیکل اِنَّ رسول الله یریدکم فخذوا حذرکم پس جبریل علیه السلام حضرت خبر کړو نو دهٔ علی رض او زبیر رض او مقداد رض روضۀ خاخ ته ولیږل او کاغذ د ساره نه چه معتق د ابی عمرو و واخست او پیغمبر صلعم ته ئے راوړۀ او ورته ئے وویل چه تا ولے داسے کار کړے دے نو ده وویل اے پیغمبره! قسم دے په خدائ چه زۀ مؤمن یم لیکن ځم زۀ او سید ونکے په قریشو کښې او نۀ وو ما لره په دوئ کښې څوك ساتونکے د اهل او د ولد او د مال او نورو ټول مهاجران په قریشو کښې خپلوان لری نو ما وویل چه یو حق پرے ثابت کړم چه په سبب د هغۀ سره خلق ځما ساتنه کوی او زۀ پوهیدم چه کاغذ ځما له دوئ نه عذاب د خدائ نۀ دفع کوی پس پیغمبر وویل اے یارانو حاطب رښتیا وائی او حضرت عمر فاروق رض په قهر شۀ او وے ویل اے پیغمبره! ما ته امر وکړه چه گردن ددے منافق ووهم نو پیغمبر وویل اے عمر رض! دے مۀ خفه کوه ځکه چه له بدرو څخه دے او خدائ بدریانو ته زیرے ورکړے دے داسے چه اعملوا ما شئتم فقد غفرت لکم۔ نو دا ایت نازل شه يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ مۀ نیسی دشمنان ځما او دشمنان خپل

عه یعنی هرچا چه ولوست سورة حشر و به بخښلے شی گناهونه تیرشوی او روستی دده ۱۲ عه یعنی پیغمبر علیه السلام اراده د جنگ ستاسو لری پس و نیسئ دوطے خپلے ۱۲

دوستان تُلْقُوْنَ دغه حال کښی چه غورځوئ اولیږئ اِلَيْهِمْ هغوئ ته احوال د پیغمبر ځما
بِالْمَوَدَّةِ په سبب د دوستئ سره وَقَدْ كَفَرُوْا او حال دا دے چه هغوئ یعنی دشمنان ځما او ستاسے
کافرشوی دی بِمَا جَآءَكُمْ په هغه څیز باندے چه راغلے دے تاسے ته مِنَ الْحَقِّ ج له رښتیانه
چه اسلام یا قرآن دے يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ و باسی دوی پیغمبر له مکے نه وَاِيَّاكُمْ او و باسی تاسے
هم اَنْ تُؤْمِنُوْا ځکه چه ایمان راوړے دے تاسے بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ په خدائ باندے چه پالونکے
ستاسے دے یعنی دوئ په سبب د ایمان سره تاسے له دے مکے نه و باسی. پس تاسے هم
دوئ په دوستی سره مه نیسئ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ که چرے یئ تاسے بهر وتلی له وطنونو
خپلو نه جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ د پاره د جهاد کولو په لاره ځما کښی وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ قف صلے او وتلی یئ د پاره
د خوشحالئ ځما نو جواب د شرط محذوف دے فَلَا تتخذوهم اولياء یعنی که چرے تاسے دوستان
ځمایئ پس مه نیسی دوئ په دوستی سره تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ پټ لیږئ تاسے دوئ ته پیغام
بِالْمَوَدَّةِ قف صلے په سبب د دوستئ سره وَاَنَا اَعْلَمُ او زه ښه پوهیږم بِمَآ اَخْفَيْتُمْ په سبب د
دوستئ باندے چه پټه کوئ تاسے له دوئ سره وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ط او پوهیږم په هغه هم چه
ظاهروئ تاسے له عذرونو نه وَمَنْ يَّفْعَلْهُ او هر څوک چه وکړی دا کار یعنی ونیسی دوستان
او یا پیغام ورولیږی مِنْكُمْ له تاسے نه فَقَدْ ضَلَّ پس په تحقیق سره خطائے کړه سَوَآءَ
السَّبِيْلِ (۱) لاره سمه اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ که چرے برے بیاموی کفار د مکے په تاسے باندے یعنی
که تاسے ئے قید کړئ نو يَكُوْنُوْا وی به دوئ لَكُمْ اَعْدَآءً تاسے لره دشمنان یعنی د دوستی به
تاسے ته هیڅ فائده ونه کړی وَيَبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ او ورابه نزی دوئ تاسے ته لاسونه
خپل په وهلو او په وژلو سره وَاَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ او ورابه نزی ژبے خپلے په بدئ او په فحش
ویلو سره وَوَدُّوْا او دوست کړے دے دوئ لَوْ تَكْفُرُوْنَ (۲) چه تاسے کافر شئ لَنْ تَنْفَعَكُمْ
نفع به ونه رسوی تاسے ته اَرْحَامُكُمْ خپلوان ستاسے وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ج او نه اولاد ستاسے
یعنی تاسے دوستی له مشرکانو سره د پاره د مال او اولاد او خپلوانو لرئ او دوئ به تاسے ته فائده
ونه رسوی يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ج په ورځ د قیامت يَفْصِلُ جدائی به وکړی خدائ په ورځ د قیامت

بَيۡنَكُمۡ ط په مينځ ستاسې او د اولاد او د خپلوانو کښې يعنې کافران به دوزخ کښې وغورځوی او مؤمنان به جنت له بوځی نو پس ولې نزدې کوئ تاسې حق د خدای د پاره د دوئ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ او خدای په هغه څيز باندې چه کوئ تاسې له دوستئ او له دشمنئ نه بَصِيۡرٌ ۝۳ ليدونکې دے نو جزا به ئے درکړی۔ قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ په تحقيق سره چه شته تاسې لره اے مومنانو اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ طريقه نيکه چه ابتدا پسې کولے شی فِيۡۤ اِبۡرٰهِيۡمَ په خبرو د ابراهيم کښې وَالَّذِيۡنَ مَعَهٗ ج او په خبرو د هغه کسانو کښې چه وو دهٔ سره له مؤمنانو اِذۡ قَالُوۡا په هغه وخت چه وويل ابراهيم ؑ او قوم ئے چه مؤمنان وو لِقَوۡمِهِمۡ قوم خپل ته چه مشرکان وو دا سې چه له مونږ دوستی مهٔ غواړئ ځکه چه اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنۡكُمۡ مونږه ويزاره يو له تاسې نه وَ مِمَّا تَعۡبُدُوۡنَ او بيزاره يو له هغه څيزه چه تاسې ئے عبادت کوئ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ز بغير له خدائ چه بتان دی كَفَرۡنَا بِكُمۡ کافر شو مونږه په دين ستاسې وَبَدَا او ظاهره شوه بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ الۡعَدَاوَةُ په مينځ ځمونږه او په مينځ ستاسې کښې دشمنی په ژبه سره وَالۡبَغۡضَآءُ او دشمنی په لاس سره اَبَدًا هميشه حَتّٰى تُؤۡمِنُوۡا ترهغه پورې چه ايمان راوړئ بِاللّٰهِ په خدای باندې وَحۡدَهٗۤ چه يو دے نو پس له ايمانه به دشمنی تاسې سره نهٔ کوو ف په دے کښې اشارة دے دے ته چه مؤمنان دِ په بيزاری کښې له مشرکانو نه اقتداء په ابراهيم ؑ پسې کوی اِلَّا قَوۡلَ اِبۡرٰهِيۡمَ مگر خو اقتداء مهٔ کوئ په هغه خبره چه ابراهيم ؑ ويلے وه لِاَبِيۡهِ خاص پلار خپل ته دا سې چه لَاَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ خامخا به بخښنه وغواړم تالره ځکه چه دغه استغفار بخوا وو له منع نه وَمَاۤ اَمۡلِكُ لَكَ او توانائی نه لرم اے پلاره تالره يعنې نهٔ توانيږم چه دفع کړم له تا نه مِنَ اللّٰهِ له عذابه د خدای نه مِنۡ شَىۡءٍ ط هيڅ څيز کهٔ چرے ايمان رانه وړے روايت دے چه هرکله ابراهيم عليه السلام او اصحابو ئے بيزار وکړه له قوم نو وے ويل داسې چه رَبَّنَا اے ربه ځمونږه عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا په تا توکل کړے دے مونږه وَاِلَيۡكَ اَنَبۡنَا او تا ته مو رجوع کړے ده وَاِلَيۡكَ الۡمَصِيۡرُ ۝۴ او تا ته ده رجوع د ټولو په آخرت کښې رَبَّنَا اے خدايه ځمونږه لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةً مهٔ گرځوه مونږه فتنه لِّلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا د پاره د کافرانو يعنی دوئ په

مونږ ته مهٔ مسلط کوه وَاغْفِرْ لَنَا او وبخښه مونږ ته رَبَّنَا اے خدایه څمونږ ته اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ
په تحقیق سره چه ته غالب ئے الْحَكِيْمُ ﴿۵﴾ حاکم ئے لَقَدْ كَانَ لَكُمْ په تحقیق سره چه شته
تا سے لره فِيْهِمْ په خبرو د ابراهیمؑ او د قوم د ده کښې اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ خصلت او اقتدا نیکه
دغه تکرار د پاره د زیاتوالی د حث دے په ابراهیمؑ پسے او دغه اقتدا ده لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ هغه
چا لره چه امید لری د ثواب د خدائ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ ط او امید لری د جزا د اٰخرت وَمَنْ يَّتَوَلَّ
او هر څوك چه مخ وګرځوی له فرمان د خدائ او دوستی کوی د دشمنانو د دهٔ سره نو فَاِنَّ اللّٰهَ ع ۱
پس په تحقیق سره خدائ هُوَ الْغَنِيُّ هم دے دے بے نیازه الْحَمِيْدُ ﴿۶﴾ مستحق دے د پاره د
ثنا روایت دے چه پس له نازلیدلو د دے اٰیت مؤمنانو قطع د دوستی وکړه له خپلوانو
مشرکانو څخه چه په مکه کښې وو نو خدائ دوئ سره وعده وکړه دا سے چه عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ
بنائیږی چه خدائ پیدا اکړی بَيْنَكُمْ په مینځ ستاسے وَبَيْنَ الَّذِيْنَ او په مینځ د هغه کسانو
کښې چه عَادَيْتُمْ دشمنی لرله تاسے مِّنْهُمْ له کافرانو د مکے نه مَّوَدَّةً ط دوستی او محبت نو ابو
سفیان او سهل او حکیم او دا سے نور د دشمنانو ئے ایمان راوړهٔ او محبت ئے پیدا شهٔ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ط
او خدائ توانا دے چه دشمنی په دوستئ سره بدله کړی وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدائ بخښونکے دے
هغه چا لره چه دوستی ئے کړے وه له دشمنانو سره روم بے له منع نه رَّحِيْمٌ ﴿۷﴾ او مهربان
دے په هغه چه پس له منع ئے قطع د دوستئ کړے ده له دوئ نه روایت دے چه قوم
د خزاعی لره د پیغمبر صلعم سره عهد او پیمان دا سے وو چه هیڅ کله به قصد د جنګ مسلمانانو
سره ونهٔ کړی او سره د دشمنانو د دین ئے هم مدد به ونه کړی نو خدائ په حق د دوئ
دا سے وویل چه لَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ نهٔ منع کوی خدائ تعالیٰ تا سے اے مؤمنانو عَنِ الَّذِيْنَ له
دوستئ د هغه کسانو چه لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ جنګ ئے نهٔ دے کړے تا سے سره فِي الدِّيْنِ په کار د دین
کښې وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ او نه ئے یئ ایستلی تا سے مِّنْ دِيَارِكُمْ له کورونو خپلو نه او چا ویلی
دی مراد ترے ښځے او ورکوټی دی ځکه چه دوئ لره اخراج او قتل کښې دخل نشته خدائ
منع کوی تا سے له دوئ نه چه اَنْ تَبَرُّوْهُمْ نیکی کوئ تاسے دوئ سره وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ

او چه عدل کوئ دوئ سره إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ په تحقيق سره خدائ دوست لري الْمُقْسِطِينَ ⑧ عدل
کونکیو لره إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ په تحقيق سره خدائ منع کوی تاسے عَنِ الَّذِينَ له دوستئ د هغو کسانو
څخه چه قَاتَلُوكُمْ جنګ ئے کړے دے تاسے سره فِي الدِّينِ په دين دخدائ کښې چه اسلام دے
وَأَخْرَجُوكُمْ او ويستلی ئے يئ تاسے مِنْ دِيَارِكُمْ له کورونو خپلو نه وَظَاهَرُوا او مدد ئے کړے
وی سره د دشمنانو ستاسے عَلَىٰ إِخْرَاجِكُمْ په ويستلو ستاسے سره منع کوی خدائ تاسے
له دے څخه چه أَنْ تَوَلَّوْهُمْ دوستی کوئ تاسے دوئ سره وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ او هر څوک چه دوستی
کوی دوئ سره نو فَأُولَٰئِكَ پس دغه هغوئ دوستی کونکی هُمُ الظَّالِمُونَ ⑨ هم دوئ ظلم
کونکی دی په نفسونو خپلو باندے ځکه چه دوستی خدائ سره او له دوستانو ده سره
بنائيږی نهٔ له دشمنانو سره ئے روایت دے چه هرکله په حديبيه کښې صلح وشوه
نو يو شرط دا وۀ چه که مسلمانان له مکے وتختی نو مدينے ته بيا په بيرته ئے راواستوه او کهٔ
مسلمانان له مدينے نه مکے ته راشی مونږه به ئے درو انستوو۔ او لا حضرت په حديبيه کښې
وو چه يو څو مسلمانانے ښځے راغلے له هغوئ نه يوه سبيعه اسلميه هم وه خښتن ورپسے
راغے او وے ويل چه شرط د صلح دا دے چه په بيرته ئے مونږ ته لره راکړه۔ جبريل راغے وے
ويل يا رسول الله صلی الله عليه وسلم۔ وعده په حق د مؤمنانو سړو کښې واقع شوے ده
نهٔ په حق د مؤمنانو ښځو کښې او دا روانهٔ دی چه مسلمانانے و کافرانو ته جار باسی آیت
راغے چه يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اے هغو ليه چه ايمان مو راوړے دے إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ
هرکله چه راشی تاسے لره ښځے مسلمانانے مُهَاجِرَاتٍ هجرت کړونکے وی د کفر په ايمان
سره فَامْتَحِنُوهُنَّ پس وازموئ دوئ لره په هغه چه سوګند ورلره ورکړئ چه نهٔ دی
راغلی په سبب د دشمنئ د خښتنانو سره يا په بله واسطه د دنيا سره بلکه خاص د پاره د
خدائ او د رسول په دين د اسلام کښې راغلے دی اللَّهُ أَعْلَمُ خدائ تعالی دانا دے بِإِيمَانِهِنَّ
په ايمان راوړو د دوئ باندے۔ خبردے وے دا هېبره ده چه هرکله حکم د شرع ظاهر دے دوئ
لره سوګند ورکړئ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ پس که و پوهيږئ په غلبه د ګمان سره چه

مومنې دی فَلَا تَرۡجِعُوۡهُنَّ پس مهٔ جارباسئ دوئ لره اِلَى الۡكُفَّارِ ط وخښتنانو کافرانو ته لَا هُنَّ
نهٔ دی یعنی دا ښځې حِلٌّ لَّهُمۡ حلالې دی خاص کافرانو لره وَلَا هُمۡ او نه هغه کافران يَحِلُّوۡنَ
لَهُنَّ ط حلال دی په دې ښځو باندې ولې چه په تباین د دارینو سره جدائی واقع شوې ده په
میان د دوئ کښې وَاٰتُوۡهُمۡ او ورکړئ کافرانو خښتنانو د دوئ لره مَاۤ اَنۡفَقُوۡا ط هغه چه خرچ کړې
دی په نکاح د دوئ باندې له مهره. حضرت ؑ سوګند سبیعه لره ورکړو او هرڅه چه خرڅ
شوی وو هغه ئې خښتن د دې لره ورکړهٔ او بیرته وجارو تل ایت راغې چه وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ
او نشته هیڅ ګناه په تاسې باندې اَنۡ تَنۡكِحُوۡهُنَّ چه په نکاح واخلئ دا ښځې مهاجرې اِذَاۤ
اٰتَيۡتُمُوۡهُنَّ هر کله چه ورکړئ دوئ لره اُجُوۡرَهُنَّ ط مزدوری د دوئ یعنی مهرونه ئې پس
فاروق رض هغه وغوښته او بل ایت راغې چه وَلَا تُمۡسِكُوۡا او منګولې مهٔ وهئ بِعِصَمِ
الۡكَوَافِرِ په عصمتونو د کافرانو یعنی نکاح د کافرانو مهٔ پریږدئ کهٔ ایمان نهٔ راوړی نو طلاق
ورکړئ پس اصحابو هره ښځه کافره چه په نکاح کښې لرله طلاقه ئې کړه او حکم وشهٔ چه وَسۡـَٔلُوۡا
او غواړئ له هغه چا چه دا ښځه په نکاح کړه له کافرانو نه مَاۤ اَنۡفَقۡتُمۡ هغه څهٔ چه خرڅ شوی
موی له مهره وَلۡيَسۡـَٔلُوۡا او بنائی چه وغواړی کافران له تاسې نه مَاۤ اَنۡفَقُوۡا ط هغه څهٔ چه
خرڅ کړې دې له مهرونو د مهاجرانو. یعنی هر کله چه حق د زوجیت د دوئ ترمینځه یا تې
نشهٔ په سبب د کفر سره پس هر یو چه څهٔ ورکړی وو وصاحب خپل ته بیرته دې واخلی ذٰلِكُمۡ
دا چه څهٔ ذکر کړی دی حُكۡمُ اللّٰهِ ط فرمان د خدائ تعالیٰ دې يَحۡكُمُ حکم کوی خدائ تعالیٰ
په هغهٔ سره بَيۡنَكُمۡ ط ستاسې ترمینځه وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ او خدائ تعالیٰ دانا دې په مصلحتونو
ستاسې باندې حَكِيۡمٌ ﴿۱۰﴾ حکم کوونکې دې په هغه چه حکمت وی خاص پس له نزول د دې
ایت مؤمنانو مهرونه د مهاجرانو ورکړل وخښتنانو د دوئ ته او کافرانو د ورکولو د مهرونو
د مرتدانو ښځو نه منع راوړه ایت راغې چه وَاِنۡ فَاتَكُمۡ شَيۡءٌ او کهٔ چرې فوت شی
اې مومنانو له تاسې نه څهٔ شې مِّنۡ اَزۡوَاجِكُمۡ یو له ښځو ستاسو نه اِلَى الۡكُفَّارِ
و کافرانو ته یعنی دار الحرب ته لاړه شی او مهر د هغې په لاس ستاسې کښې نهٔ راځی

فَعَاقَبْتُمْ پس غنیمت واخلئ یعنی غزا وکړئ او آخر تاسے لره به فتح وی او مال په لاس کښ به کیوځی ستاسے فَاٰتُوا الَّذِیْنَ پس ورکړئ هغو لره ذَهَبَتْ چه تللی دی اَزْوَاجُهُمْ ښځے دهغوئ ودار الحرب ته او مهرے نه دے موندلے مِثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ؕ په مثل د هغه چه مهر ورکړے دے دوئ هغه ښځو لره په معالم کښ ئے راوړی دی له ابن عباس رض نه نقل دے چه شپږ ښځے له مهاجرانو مرتدے شوے او کافرانو ته لاړلے حضرت ؑ مهرونه دهغوئ له غنیمت وخښتنانو د هغوئ لره ورکړهٔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ او ووېرېږئ له عذابه دخدائ الَّذِیْۤ اَنْتُمْ هغه خدائ تعالیٰ چه تاسے بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ⑪ په هغهٔ ایمان راوړے دے حکم د دے ایت ترهغه پورے ووچه عهد باقی وو هرکله چه عهد مات شهٔ حکم منسوخ شهٔ راوړی دی چه په ورځ دفتح دمکے حضرت سید عالم ؑ له اسلام قبلولو او لاس نیولو د سړو نه فارغ شهٔ ښځو هم په متابعت سره اسلام قبول کړو دا ایت راغے یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبره اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ هرکله چه راشی تالره ښځے مسلمانانے یعنی نیت کړو نکے یُبَایِعْنَكَ چه بیعت کوی له تا سره عَلٰۤی اَنْ لَّا یُشْرِكْنَ په دے شرط سره چه شریک به نهٔ کاندے بِاللّٰهِ شَیْئًا له خدائ تعالیٰ سره هیڅ څیز وَلَا یَسْرِقْنَ او غلا به ونهٔ کاندے وَلَا یَزْنِیْنَ او زنا به نه کاندے وَلَا یَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ او نه به وژنی اولاد خپل لکه ژوندی په زمکه کښ ښخول یا اولاد چه په کیډه کښ ئے وی وے نهٔ غورځوی وَلَا یَاْتِیْنَ او رابه نهٔ شی بِبُهْتَانٍ په دروغ سره چه له جهله یَفْتَرِیْنَهٗ چه جوړکړی ئے وی هغه دروغ ـ بَیْنَ اَیْدِیْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ په مینځ دلاسونو او دخپو خپلو کښ یعنی ځامن حرامزاده رانه وړی او په په دروغه په خښتنانو تهمت نهٔ کا او په لاسونو او په پښو چه راوړے ئے وی پالنه کوی وَلَا یَعْصِیْنَكَ او بے فرمانه به نشی له تا فِیْ مَعْرُوْفٍ په هغه کښ چه فرمائے نهٔ له نیکئ نه چه ترک د ویر او مخ شوکول او ویخته وښکل او هرکله چه په دے شرطونو سره وعده وکاندے فَبَایِعْهُنَّ پس بیعت وکړه له دوئ سره عائشے رض فرمایلی دی چه بیعت د حضرت صلی الله علیه وسلم له ښځو سره په ژبه وُو او لاس د حضرت ؑ هیڅ ښځے ته نهٔ وو رسیدلے یو قول دادے چه ښځو لاس په اوبو کښ

واچوو بیا یې هغه کښېنولې کښې حضرت هم لاس واچوو او بعض ... نی دی چه امنه خورد
خد یچې ته ئې وویل چه بیعت د ښځو ونیسه وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ وطلب د بخښنې وکړه دپاره د
هغو ښځو له خدائ تعالیٰ نه اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ په تحقیق سره چه خدائ تعالیٰ بخښونکے دے هغه چا لره
چه په توحید باندے بیعت کوی رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ مهربان دے چه توفیق د توبے او د ایمان ئې
ورکړے دے او یو بزرګ ویلی دی چه رحمت موقوف دے په ایمان باندے تر هغه پورے چه
ایمان رانه وړی مستحق د رحمت نه کیږی او بعضے وائی چه ایمان موقوف دے په رحمت
پورے تر هغه پورے چه رحمت ونه شی ایمان به رانه وړی بعضے فقیرانو د مسلمانانو د پاره
د نفع له یهودیانو سره دوستی به کوله او خبرے به ئې کولے ایت راغے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے
هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دے لَا تَتَوَلَّوْا دوستی مه کوئ قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ له هغه
قوم سره چه په غصه دے خدائ تعالیٰ په دوئ باندے قَدْ يَئِسُوْا په تحقیق نا امیده شوی
دی یهودیان مِنَ الْاٰخِرَةِ له ثوابه د اٰخرته هر کله چه پوهیدلی دی چه په سبب د عناد
حضرت صلے الله علیه وسلم دوئ لره حصه د اٰخرت خامخا نا امیده دی له هغه كَمَا يَئِسَ
الْكُفَّارُ لکه چه نا امیده شوی دی کافران مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴿۱۳﴾ له اهل د قبرونو یعنی
جاروتلی دی دوئ په دنیا کښې یهودیان نا امیده شو له ثوابه د عقبیٰ لکه کافران مړه
چه ښکاره پوهیدلی دی چه له نعمتونو د هغه جهان محروم شوی دی.

سُوْرَةُ الصَّفِّ ۶۱ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۹ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۱۴ رُكُوْعَاتُهَا ۲

سَبَّحَ لِلّٰهِ پاکی او بے عیبی وائی خدائ تعالیٰ لره مَا فِي السَّمٰوٰتِ هغه څوک چه په اسمانونو کښې
دی له علویاتو نه وَمَا فِي الْاَرْضِ ج او هغه څوک چه په زمکه کښې دی له سفلیاتو نه.
وَهُوَ الْعَزِيْزُ او هغه غالب دے چه په صحیح وجه حکم د هغه نه رد کیږی الْحَكِيْمُ ﴿۱﴾ درست
کاردے چه خلل په کارونو د هغه کښې نه پریوځی او د میاطی راوړی دی چه اصحابو به ویل

عه یعنی مخلوق د اسمانونو ۱۲ عه یعنی هغه مخلوق چه لاندے د اسمانونو دے.

چه کوم عمل وکړو موندې چه په هغه سره له گناهونو خلاص شو او په جنت کښې داخل شو له حق سبحانه وتعالیٰ دا آیت راغے. چه یاایها الذین آمنوا هل ادلکم علی تجارة تنجیکم من عذاب الیم. حضرت وو ے چه اے قومه راغلل هغه چه تاسے غوښتلو یعنی هغه عمل چه بنده لره خلاص کاندے له عذاب او په جنت کښې داخل کاندے ایمان او جهاد دے. اصحاب رض ویریدل نو دا آیت راغے یَاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے لِمَ تَقُوۡلُوۡنَ مَا لَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿۲﴾ ولے وایئ هغه خبره چه نه ئے کوئ کَبُرَ مَقۡتًا لوے دے په سبب د غصے عِنۡدَ اللّٰهِ په نزد د خدائ تعالیٰ اَنۡ تَقُوۡلُوۡا هغه چه وایئ مَا لَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿۳﴾ هغه چه نه کوی او عالمان وائی چه آیت شامل دے او عام دے یعنی هر څوک چه خبرے کاندا او عمل پرے نه کاندِ داخل په دے عتاب دے او هغه عالمان چه خلقو ته حکم کوی په عمل سره او پخپله عمل نه کوی داخل په دے عتاب دے دا عذاب به ورلره وی اتامرون الناس بالبر وتنسون انفسکم او حضرت په شپه د معراج کښې لیدلی وو چه شوندے د هغسے عالم په مقراض داو رسره ئے غوځولے اِنَّ اللّٰهَ په تحقیق سره چه خدائ تعالیٰ یُحِبُّ الَّذِیۡنَ یُقَاتِلُوۡنَ دوست لری هغه څوک چه جنګ کوی فِیۡ سَبِیۡلِهٖ په لار د خدائ تعالیٰ کښې صَفًّا صفونه کړی په برابرئ د دشمن کښې کَاَنَّهُمۡ گویا که دوئ په استحکام کښې بُنۡیَانٌ مَّرۡصُوۡصٌ ﴿۴﴾ دیوالونه محکم دی. دا کنایت دے له محکمے د قدمه په جنګ کښې وَاِذۡ قَالَ مُوۡسٰی او یاده کړه هغه چه ویلی وو موسیٰ لِقَوۡمِهٖ خاص قوم خپل لره یعنی بنی اسرائیلو ته ئے ووے یٰقَوۡمِ اے قومه څما لِمَ تُؤۡذُوۡنَنِیۡ ولے آزار رسوی وماته په نه اوریدو د حکم سره وَقَدۡ تَّعۡلَمُوۡنَ او په تحقیق سره چه تاسو پوهیږئ اَنِّیۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ هغه چه زه استاذے د خدائ تعالیٰ یم اِلَیۡکُمۡ تاسو ته او په پیغمبرئ خپلے باندے معجزے ښکاره م دی او تاسو ته معلوم دی او شپه تاسو لره نهٔ ده پاتے شوے پس ښائی چه رسول مکرم او محترم وی نو تاسے فرمانبرداری څما کوئ او دوئ په هغسے گمراهی باندے ثابت وو او محکم وو او خبره د موسیٰ په ئے نهٔ اوریده فَلَمَّا زَاغُوۡۤا پس هر کله چه وجار وتل بنی اسرائیل له قبلولو د

فرمان د موسیٰ ؑ أَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ط وجارېستل خدائ تعالیٰ زړونه د دوئ له صفه د یقینه او شک مند ئے کړل وَاللّٰهُ اوخدائ تعالیٰ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۵﴾ لاره خپله نهٔ ښائ هغولره چه وتلی دی له فرمانه وَاِذْ قَالَ او یاد کړه داهم چه ووے عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ عیسے ځوئ د مریم قوم خپل ته چه يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اے ځامنو د یعقوب علیه السلام اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ په تحقیق زه استاذے د خدائ یم تاسے ته په حجتونو او په دلیلونو سره مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ په هغه حال کښې چه باورلرونکے یم خاص هغه څیزلره چه مخکښې دے مِنَ التَّوْرٰىةِ له توراتَ یعنی چه څوالهٔ مانه کتاب نازل دے اوزهٔ تصدیق لرونکے یم چه هغه له جانبه د خدائ تعالیٰ دے وَمُبَشِّرًا ؕ اوزیرے کړونکے یم بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ په استاذی سره چه راځی به په دین کامل او په شرع شامل سره مِنْۢ بَعْدِي پس له ما ۔ اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ط چه نوم د هغه احمد دے یعنی د یرصف کړونکے او په ترجمه د کلام مهتر عیسیٰ کښې راوړی دی چه انی ذاهبٌ الی ربی وربکم والفارقلیطا جاء او معنی د فارقلیطا احمد دے او په تبیان کښې ئے راوړی دی چه نوم د حضرت په سُریانی ژبه کښې منحینا دے او معنے داده چه خدائ تعالیٰ به ئے په تاسے ولیږی پس له عیسےؑ فَلَمَّا جَآءَهُمْ پس هر کله چه راغے دوئ لره بِالْبَيِّنٰتِ په معجزو روښانو سره لکه ژوندی کول د مړو او نورے معجزے قَالُوْا ووے بنی اسراءیلو هٰذَا داچه هغه ښائ سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۶﴾ جادو دے ښکاره یعنی په هیڅ پته نهٔ ده چه هغه سحر کوی وَمَنْ اَظْلَمُ اوڅوک دے زیات ظالم مِمَّنِ افْتَرٰى له هغه چاچه وائ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ په خدائ تعالیٰ باندے دروغ یعنی پیغمبر د هغه دروغژن کوی او معجزو د هغهٔ لره جادو وائ. بعض علماؤ ویلی دی چه نضر ځوئ د حارث ووے چه په ورځ د اخرت کښې لات او عُزّیٰ به څمونږه شفاعت کانډ او خدائ تعالیٰ به شفاعت د دوئ قبول کاندے دا ایت راغے چه څوک د یرظالم دے له هغه چا چه دروغ وائ په خدائ تعالیٰ باندے په قبول د شفاعت د بتانو په حق د کافرانو کښې وَهُوَ يُدْعٰٓى او حال دادے چه دا مفتری بللے شی یعنے پیغمبرؑ ئے رابولی اِلَى الْاِسْلَامِ ط و اسلام ته چه مشتمل دے په نیکئ باندے په

دنیا په آخرت کښ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷﴾ اوخدائی لاره نهٔ ښائی وظالمانو ته په
لباب کښ ئے راوړی دی چه څو ورځے وحی په حضرت باندے رانغله. کعب څوئی داشرف ووے
چه زیرے دِ وی تاسو لره اے یهودیانو چه خدائی نور د محمد ﷺ لرے کړو او کار دهغهٔ انتهاء ته
ورسیدهٔ داخبره په جانب دحضرت ﷺ کښ چاو کړه دلګیری او تیارهٔ په زړهٔ مبارك دحضرت ﷺ
کیناستهٔ جبریل ؑ دپاره ددفع دهغه غبار راغے او دا آیت ئے راوړهٔ چه يُرِيْدُوْنَ غواړی
کافران لِيُطْفِئُوْا چه بنکته کینوی نُوْرَ اللهِ نور دخدائی تعالیٰ بِاَفْوَاهِهِمْ په خولو خپلو سره
یعنی په ګفتار ېسند یده سره او په خبرے بے ادبے سره وَاللهُ مُتِمُّ اوخدائی تعالیٰ تمام
کړونکے دے نُوْرِهٖ نور ددین او د شرع دسید المرسلین لره پخوا تر قیامته وَلَوْ كَرِهَ
الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸﴾ اګر کهٔ بدهٔ نهٔ ګڼړی کافران اتمام دهغه لکه بناپیرك چه نمرته ضرر نشی
رسولے هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ هغهٔ خدائی چه دهٔ لیږلے دے پیغمبر خپل بِالْهُدٰى په هغه څیز
سره چه سبب دهد ایت دے یعنی قرآن وَدِيْنِ الْحَقِّ او په دین رښتیا سره لِيُظْهِرَهٗ ددے
دپاره چه غالب کاندے دے دین لره عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ په واړو دینونو باندے په وخت د
کوزیدو دعیسیٰ ؑ واړه اهل زمین به دین داسلام قبول کړی وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴿۹﴾ اګر ع ۱ ۹
کهٔ بد ګڼړی کافران اظهار د دین د محمد ﷺ لره چه مشتمل دے په ثبوت دحق باندے او په
ابطال د شرك باندے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے هَلْ
اَدُلُّكُمْ آیا دلالت وکړم زهٔ تاسے ته عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ په هسے سوداګری باندے چه
خلاص کاندے تاسے لره مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۱۰﴾ له عذاب دردناك نه پس بیان دسوداګرئ
کوی چه تُؤْمِنُوْنَ خبر دے په معنے دامر یعنی ایمان راوړئ مراد دادے یعنی محکم اوسئ
په ایمان باندے چه لرئ بِاللهِ په خدائی باندے وَرَسُوْلِهٖ او په استاذی دهغهٔ باندے
وَتُجَاهِدُوْنَ اوجنګ کوئ له کافرانو سره فِيْ سَبِيْلِ اللهِ په لارے دخدائی تعالیٰ کښ
بِاَمْوَالِكُمْ په مالونو خپلو سره چه توښه او راحله او وسله ده وَاَنْفُسِكُمْ ط او په نفسونو
خپلو سره چه جنګ نه ئے وړاندے کوئ ذٰلِكُمْ داچه مذکور شول له ایمان او له جهاد خَيْرٌ لَّكُمْ

بهتر دی تاسے لره له معمولا تونه اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ⑪ كه ئې تاسے چه پوهیږئ شان
د سودا كړئ لره. یو بزرګ فرمایلي دی چه اصل سوداګري داده چه بے له حقه پریږدے او حق
واخلے په نفحات كښ له ابي عبد الله نه نقل شوے دے چه خوئ ئے وده ته راغے پلار ته
ئے ووے چه خماله سره یو څیز د نوړ وپریوت او مات شۀ غوږی برباد شو پلار ورته ووے
چه هغه دولت په لاس كړه چه همیشه له تاسره وی هغه داده چه ایمان راوړئ او جنګونه
له كافرانوسره كوی يَغۡفِرۡ لَكُمۡ وبه بخښی خدائ تعالیٰ تاسے لره ذُنُوۡبَكُمۡ ګناهونه تیرشوی
ستاسے په دنیا كښ وَيُدۡخِلۡكُمۡ او رابه ولی تاسے لره په اٰخرت كښ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ په باغونو
كښ چه بهیږی مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ د لاندے د ونو د هغو ولے وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً او په كورونو
بنا ستو كښ چه جوړ شوی دی فِىۡ جَنّٰتِ عَدۡنٍ په باغونو كښ چه همیشه به وی په هغو
كښ استوګنه ذٰلِكَ دا بخښنه او ننه ایستل په جنت كښ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ⑫ یعنی برے
دے لوئ وَاُخۡرٰى تُحِبُّوۡنَهَا او تاسے لره دی بل نعمت په دنیا كښ چه دوست لرئ هغۀ
لره نَصۡرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتۡحٌ قَرِيۡبٌ مدد له خدائ تعالیٰ نه په قریشو چه فتح د مكے ده. ابن عطاء
ویلي دی چه نصر توحید دے او فتح نظر په جمال د ملك مجید باندے او په نزد محققانو فتح قریب
پرانستل د دروازے د زړۀ دی او ټولو مؤمنانو لره په دے كښ شركت دے كما قال الله تعٰ
وَبَشِّرِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ⑬ او زیرے وكړه اے محمدؐ په مؤمنانو باندے په نصرت سره په دنیا
كښ او په محبت سره په اٰخرت كښ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا اے ټولیه د مومنانو مخاطب بو
جماعت دے له انصارو چه په شپه د عقبه كښ ئے اسلام راوړے وو او دوئ او یا تنه وو
یا خطاب عام دے واړو مومنانو چه فرمائی كُوۡنُوۡۤا اوسئ اَنۡصَارَ اللّٰهِ مدد كړونكی د دین
د محمدؐ لره او تقدیر د كلام داده چه اے محمدؐ طلب د مدد د وغواړه له قوم خپله كَمَا قَالَ لكه
طلب د مدد د فرمایلے وو او ووے عِيۡسَى ابۡنُ مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيّٖنَ عیسٰی خوی د مریم حواریینو
ته چه خاصان د ده وو او په دین د دۀ كښ له واړو نه وړومبی وو چه مَنۡ اَنۡصَارِىۡۤ اِلَى اللّٰهِ ط
څوك دے مدد وكړونكے څما او مددګار د خدائ تعالیٰ یا څوك دے مددګار څما په دعوت

دخلقو کښې خدائ تعالیٰ ته قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ وویل حواریینو په دے لاره کښې نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ مونږه هم مددګاران د دین دخدائ تعالیٰ یو او فی الواقع دوئ مدد ورکړو دین د مهتر عیسیٰ ؑ لره پس له پورته له تللو دده وخلقو ته ئے دعوت وکړه فَاٰمَنَتْ پس ایمان ئے راوړه په سبب د دعوت د دوئ سره طَّآئِفَةٌ یو ټولی مِّنْۢ بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ له ځامنو د یعقوب ؑ په عیسیٰ پیغمبر باندے او رسول د خدائ ئے وګاڼه وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ او کافر شوه بل ټولے چه حضرت عیسیٰ ؑ ته ځوئ د خدائ تعالیٰ وایه پس هر کله چه حضرت ؐ مبعوث شهٔ موافق د هغه مومنانو وائ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پس قوت ورکړه مونږه هغو لره چه مؤمنات شول په مهتر عیسیٰ علیه السلام باندے او په رسالت د هغه قائل شو عَلٰى عَدُوِّهِمْ په دشمنانو د دوئ باندے چه قائل نهٔ وو په خدایئ سره فَاَصْبَحُوْا پس شول مؤمنان ظٰهِرِيْنَ ﴿۱۴﴾ غلبه کړونکی په کافرانو باندے ÷

ع ۵ / ۱۰

سورة الجمعة ۶۲ مدنية ۱۱۰ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ۱۱ رکوعها ۲

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ په پاکئ سره یادوی خاص خدائ تعالیٰ لره مَا فِي السَّمٰوٰتِ هغه څه چه په اسمانونو کښې دی له علویاتو نه وَمَا فِي الْاَرْضِ او هغه چه په زمکه کښې دی له سفلیاتو نه الْمَلِكِ بادشاه دے چه ملک ئے بے زواله دے الْقُدُّوْسِ پاك دے له خلله الْعَزِيْزِ غالب دے چه مثل نهٔ لری الْحَكِيْمِ ﴿۱﴾ حکم کړونکے دے چه رښتیا کوی هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ هغه دے چه لیږلے ئے دے فِي الْاُمِّيّٖنَ په امیانو کښې مراد ترے قوم دعرب دے چه ډیر جاهلان وو رَسُوْلًا مِّنْهُمْ پیغمبر له ټولی د دوی نه دے ددے دپاره چه پیغمبری د ده له تهمته لرے وی او امی والے د حضرت ؐ په دے سبب وو چه په وړومبنو کتابونو کښې امی مذکور وو او په کتاب د شعیب ؑ کښې دا رنګ مذکور وو چه انی امیًّا فی الامیین واختم به النبیین پس صفت د نبی امی کوی چه يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ ولولی په دوئ باندے اٰيٰتِهٖ ایتونه د کلام دیروے دګار باوجود چه سرے دے په مثل د دوئ وَيُزَكِّيْهِمْ او پاکوی دوئ له خبث دعقائدو او له بدو

خصلتونو نه وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ او ښائي دوي له كتاب يعني قرآن وَالْحِكْمَةَ ق او احكام دشرع
وَ اِنْ كَانُوْا اگرچه وو دوي چه اوس قرآن لولي او ښائي مِنْ قَبْلُ پخوا له بعث دمحمد ﷺ لَفِيْ
ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲﴾ هرائينه په گمراهئ ښكاره كښې چه هغه شرك او پيروي دكفر وه وَّاٰخَرِيْنَ او
بل مبعوث به شي په مينځ دنورو كښې مِنْهُمْ له مؤمنانو چه دوي لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ط نه دي
رسيدلي هغوئ ته چه وړومبي دي ولے دا هم به ده چه پس به پيدا شي مراد ترے تابعين
دي په معالم كښې په حديث متفق عليه كښې ئے راوړي دي چه هغه عجم دي او صحيح قول دا دے
هرڅوك چه ايمان راوړي يا پس له وفات دحضرت ﷺ مسلمان شي په آخرينو كښې داخل دے وَهُوَ
الْعَزِيْزُ او خدائ غالب دے په حكم د بعث كښې هرڅوك چه رضائے وشي وليږي الْحَكِيْمُ ﴿۳﴾
صاحب دحكمت دے په اختيار د هر پيغمبر د پاره د هر امت ذٰلِكَ دا نبوت يا بعث فَضْلُ اللّٰهِ زيانه
بخښنه دخداى تعالىٰ ده يُؤْتِيْهِ وركاندے هغه مَنْ يَّشَآءُ ط هر چا ته چه رضائے وشي وَاللّٰهُ
ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۴﴾ او خدائ تعالىٰ صاحب دفضل لوئ دے چه نعمتونه د دنيا او آخرت
په څنګ د هغه كښې لږ او سپك ښكاري مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ مثال د هغو چه ليږلے
شوے وو په دوئ تورات يعني حكم پرے كړے شوے وو د پورته كولو دحكمونو د تورات ثُمَّ لَمْ
يَحْمِلُوْهَا پس پورته ئے نه كړه هغه احكام په عمل كولو سره او په مجي د لوستو د تورات سره
قناعت ئے وكړو كَمَثَلِ الْحِمَارِ په مثال دخره دي چه يَحْمِلُ اَسْفَارًا ط پورته كاندي كتابونه د
علم يعني رنځ او سختي وړي له هغو نفع نه مومي دا رنګ يهود تورات لولي او نفع له هغه نه مومي
بِئْسَ بد مثال دے چه وو ايه شه مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا مثال د هغو دے چه دروغ وائي
يعني دا يهود بِاٰيٰتِ اللّٰهِ په حجتونو د خدائ تعالىٰ چه دليل دے په نبوت باندے وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي
او خداى تعالىٰ لاره نه ښائي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵﴾ ټولي د ظالمانو ته چه په عناد له خدائ تعم
سره ظلم په ځان خپل باندے كوي باوجود چه دوئ وائي نحن ابناء الله و احباؤه۔
او لا يه كوي چه لن يدخل الجنة الا من كان هودًا۔ قُلْ ووايه اے محمد ﷺ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ
هَادُوْا اے ټوليه د يهوديانو اِنْ زَعَمْتُمْ كه گمان كوئ تاسے اَنَّكُمْ اَوْلِيَآءُ لِلّٰهِ چه په

تحقیق تاسے دوستان دخدائ تعالیٰ یئ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ بے له نورو تولوخلقو نه یعنی بے
له عربو او بے له عجمو نه چه مؤمنان شوی دی فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ پس ارزو وکړئ دمرګ اِنْ
كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٦﴾ که یئ تاسے رښتینی په هغهٔ کښ چه تاسے وایئ چه مونږ دوستان دخدائ
یو ددے دپاره چه ورسیږئ وامان ته چه خدائ دپاره دخپلو دوستانو مقرر کړے دے وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗ
اَبَدًا او حال دا دے چه ارزو به ونهٔ کړی دمرګ هیچرے بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ په سبب د هغه
چه وړاندے لیږلے دے لاسونو ددوئ یعنی هغه عملونه چه لاسونو ئے کړے دی لکه جاروتل
له احکام تورات او له صفونو دمحمد صلی الله علیه وسلم او پوهیږی چه پس له مرګه په هغه
عذابونو سره به ګرفتاره شی وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ اوخدائ تعالیٰ پوهیږی بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٧﴾ په
ظالمانو په نفسونو خپلو باندے قُلْ ووایه اے محمدؐ ویهودو ته چه اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ په
تحقیق سره هغه مرګ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ چه تختئ له هغهٔ نه او ارزو ئے نهٔ کوئ او وقوع دهغهٔ
بده ګڼړی فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ پس په تحقیق هغه رسیدونکے دے یعنی وبه نیسی تاسے او شربت د
هغهٔ به وڅکئ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ پس وبه جاریستلے شئ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ په طرف د
دانا په پټ او ښکاره ته فَيُنَبِّئُكُمْ پس خبر به کا تاسے لره بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨﴾ په هغه چه ع
عمل کوئ تاسے او په موافق دعملونو جزا به درکاندی يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اے هغه کسانو چه ایمان
مو راوړے دے په احکامو دشرع باندے اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ هرکله چه بانګ وویلے شی
دپاره دمانځه مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ په ورځ دجمعے فَاسْعَوْا پس وزغلئ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ یادولو د
خدائ تعالیٰ وته چه مونځ او خطبه ده یعنی رغبت وکا نږئ په هغهٔ کښ او سعی وکړئ وهغهٔ ته
وَذَرُوا الْبَيْعَ ط او پریږدئ خرید وفروخت قول صحیح په مذهب د امام اعظمؒ دا دے چه
سبب دپریخودو دسودا ګری بانګ اول دے په ورځ دجمعے کښ ذٰلِكُمْ دا سعی او ترک
دبیع خَيْرٌ لَّكُمْ بهتر دے تاسے لره له معاملے نه ولے چه په سعی کښ نفع داخرت ده او په
معامله کښ نفع ددنیا ده او دا نفع فانی ده اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٩﴾ که پوهیږئ په نفع او په ضرر
خپل او جدائی کوئ په مینځ دخیر او دشر فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ پس هرکله چه وکذارلے شی

موضح فَانْتَشِرُوْا پس خوارہ شئ فِي الْاَرْضِ پہ زمکہ کښں د پارہ د سود اکری او دحاجتونو
خپلو وَابْتَغُوْا او ولټوئ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ له فضل دخدائ تعالیٰ یعنی جوړول د اسبابو نو خپلو او
بعضو ویلي دی چه خوریدۀ په زمکه د مسجد کښں د پارہ د مجلس دعلماؤ او په قول دبعضو مراد
ترے پوښتنه د رنځوردہ او طلب د ے او حضور د جنازے د ے او زیارت د مؤمنانو د ے چه دا
ټول وسیلے دی وفضل دخدائ تعالیٰ ته وَاذْكُرُوا اللّٰهَ او یاد کړئ خدائ تعالیٰ كَثِيْرًا ډیر یعنی
په مجلسونو کښں په ذکر فکر دده مشغول اوسئ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ⑩ بنا ئ چه و بخښلے شئ
تا سے او نیکی ددوا ړو جهانو بیا مومئ چه ذکر دده سبب د جمعیت د ظاهر او د باطن او د دنیا
او د آخرت دی روایت دے چه یوه ورځ حضرت رسالت پناه ؐ خطبه لوسته ناځا په
سوداګر له طرفه د شام دا ښکارہ شۀ او غله ډیره ئے راوړله او په هغه وخت په مدینه کښں قحط
وو سوداګر هر کله چه سلامت ورسیدہ طبل د ښادئ ئے وغږاوو او په غږیدو د طبل سرہ
حاضرین د مجلس د پارہ د بیع د طعام واړہ لاړل بے له دولسو تنو نه چه څلور تنه خلفاء راشدین
رضوان الله علیهم وو په مسجد کښں هیڅوك پاتے نشۀ حضرت رسالت پناه ؐ ووے که څوك نۀ وے
پاتے شوے په مسجد کښں نو دا اور به په تاسے پسے روان شوے وو موافق دد ے حال دا آیت
نازل شۀ وَاِذَا رَاَوْا او هر کله چه ووینئ تِجَارَةً سوداګری اَوْ لَهْوًا یا اوری آواز د طبل چه د
پارہ د رسیدلو د سوداګر وو هلے شی انْفَضُّوْٓا متفرق شی له مجلسه اِلَيْهَا هغه سوداګرئ ته یا
ړومبے کینری یو تربله د پارہ د بیع د طعام وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا ط او پریږدی تا ولاړ په منبر باندے
قُلْ ووایه مَا عِنْدَ اللّٰهِ هغه چه په نزد دخدائ دے ثواب دمانځه او اوریدۀ دخطبے او پیروی
د مجلس د رسول خَيْرٌ بهتر او سود مند دے مِنَ اللَّهْوِ له اوریدلو د لهو وَمِنَ التِّجَارَةِ ط
او له نفع د سوداګرئ چه فائدے ئے ډیرے متحققے دی وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ⑪ ع او ۲ ۱۲
خدائ تعالیٰ بهتر روزی رسونکے دے یعنی له وسیلو د دنیا نه نقل دے چه یو
بادشاه بغدادی بهلول ته ووے چه راشه ستا روزی دهرے ورځے مقرر کړم چه همیشه
روزئ له غمګین ئے بهلول جواب ورکړو چه که تا لره څو عیبه نه وے ما به قبوله کړے وه اول

داچه ته نهٔ پوهیږے چه مالره څهٔ بناپی. دوئم داچه نه پوهیږے مالره کله بناپی دریم داچه نهٔ پوهیږے چه مالره څومره پکار دے اوحق تعالیٰ شانهٔ ضامن درزق څما دے ۲۲



سورة المنٰفقون مدنية ۶۳ بسم الله الرحمن الرحيم اٰياتها ۱۱ رکوعاتها ۲

روایت دے چه په پنځم کال له هجرته چه رسول الله ﷺ له غزوهٔ مریسیع راوجاروت او په سرد کوهی ډیره شهٔ په میان دسنان بن وبرجهنی او په میان د جهجاه بن غفاری منازعت یعنی جګړه وه وشوه او خبره تردے پورے ورسیده چه په مینځ د مهاجروا او د انصارو فتنه ظاهره شوه او ابیٔ منافق په هغه کښ خبرے بدے بدے وکړے بلکه داسے ئے ووے چه مهاجرو نه هیڅ مهٔ ورکوئ چه له مدینے نه وُزی او زید بن ارقم په مجلس د حضرت کښ راغے داحال ئے ورته ووے حضرت د پاره د دفع د فتنے کوچ ئے وکړو اوله اسید بن حضر سبب دے د مضمون و پوښتیدهٔ. حضرت ﷺ ته ئے ظاهره کړه داخبره ابن اُبیٔ ته ورسیده په خدمت د حضرت کښ راغے او سوګندونه ئے کول او ابن ارقم ئے ملامت کړو چه دروغ ئے ویلی دی. حق سبحانهٔ وتعالیٰ د پاره د ربښتینی کولو دهغهٔ لره داسورت نازل کړه اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ هرکله چه راشی تالره منافقان لکه ابن ابیٔ او اصحاب دهغهٔ قَالُوْا نَشْهَدُ ووائی چه ګواهی ورکوومونږه چه اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ په تحقیق تهٔ استاذے دخدائی تعالیٰ ئے. یعنی مونږه منافقان نهٔ یو او په زړه رسالت لره معتقد یو وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ اوخدائی پوهیږی چه په تحقیق تهٔ لَرَسُوْلُهٗ ؕ استاذے دهغهٔ ئے او بے له هغهٔ بل چانه ئے رالیږلے وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اوخدائی تعالیٰ ګواهی ورکوی اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۚ﴿۱﴾ چه په تحقیق منافقان دروغژن دی په ګواهی خپله کښ د پاره ددے چه اعتقاد ددوئی په موافق د ګفتار نهٔ دے پس رسالت ددوئی په اعتقاد د زړهٔ باندے دروغ دی او بعضو ویلی دی چه مراد له دے شهادت نه سوګند دے یعنی په اعتقاد د رسالت چه دوئی کوی خدائی تعالیٰ پوهیږی چه سوګند په دروغ کوی اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ نیولی دی منافقانو سوګندونه خپل جُنَّةً ډهالونه یعنی پناهی

چه په هغهٔ سره ځان له قتل وساتی فَصَدُّوْا پس منع کوی خلقو لره په شهادت سره عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ط له لارے دخدائی تعالیٰ او اعراض کوی له جهاد په لارے دخدائی تعالیٰ کښ اِنَّهُمْ سَآءَ په تحقیق چه دوئی بد عمل دے مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۲﴾ هغه چه کوی له سوګندونو د دروغو نه او جاروزی له حقه ذٰلِكَ دا حکم دپروردګار په بدئی داعمالو ددوئی بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا په سبب دهغه دے چه دوئی مسلمانان دی په ژبه ثُمَّ كَفَرُوْا پس کافر شوی دی په زړهٔ یا په ظاهر به وائی چه مونږه مومنان یُو او په پټه خبرے دکفرئے کولے فَطُبِعَ پس مهر وهلے شوے دے عَلٰى قُلُوْبِهِمْ په زړونو دوئی باندے فَهُمْ لَا یَفْقَهُوْنَ ﴿۳﴾ پس دوئی نهٔ پوهیږی حقیقت دایمان لره چه اقرار دے په ژبه او تصدیق دے په زړهٔ. راوړی دی چه ابن اُبی سرے شیرین او فصیح زبان وو او نور منافقان په دے صورت وو او هرکله چه په مجلس دپیغمبر کښ به راغلل هغه حضرت به په تعجب کښ لاړ یعنی ډیر تعجب بهٔ ئے وکړهٔ له شکلونو د دوئی نه او له خبرو ددوئی نه حق سبحانه آیت راولیږهٔ وَاِذَا رَاَیْتَهُمْ او هرکله چه ته ووینے منافقانو لره تُعْجِبُكَ تعجب راولی تالره اَجْسَامُهُمْ ط جُسے ددوئی له تازګئی نه وَاِنْ یَّقُوْلُوْا او هرکله چه خبرے کوی دوئی تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ط وابه ورے تهٔ خبرے ددوئی او باور کوے په سوګندونو دوئی باندے او حال دادے چه په عدم عقل او قلت دبیر کښ كَاَنَّهُمْ ګویا کهٔ دوئی خُشُبٌ لرګی دی وچ مُّسَنَّدَةٌ ط په دیوال پورے تکیه وهلے خالی له عقل له علمه او له نظر یَحْسَبُوْنَ ګنړی او ګمان کوی كُلَّ صَیْحَةٍ هر فریاد چه ووځی یا هر آواز چه په مدینه کښ ووځی چه هغه صدا یا صیحه واقع ده عَلَیْهِمْ ط په دوئی باندے یعنی بد زړهٔ او بد ګمان او ویره ددوئی تر هغه حده ده هر آواز چه واوری وګنړی چه نفاق ځمونږه په پیغمبرم باندے او مومنانو باندے ښکاره شویدے او مونږه رسوا شوی یُو. هُمُ الْعَدُوُّ دوئی دشمنان دی تالره او مومنانو لره فَاحْذَرْهُمْ ط پس پرهیز وکړه له مکره ددوئی او له دوئی مهٔ بے غمه کیږه قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ز هلاك به کاندے خدائی تعالیٰ دوئی یا لعنت کوی په دے باندے. اَنّٰى یُؤْفَكُوْنَ ﴿۴﴾ څرنګه له لارے دحق دوئی جارستهٔ شی او معالم کښ راوړی دی چه پس له نزول ددے آیت

قوم د ابن اُبَیّ و دهٔ ته اووے چه دا آیت په حق ستا کښ نازل شوے دے ورشه حضرت
لره د دے د پاره چه ستا د پاره بخښنه وغواړی منافق سټ تاؤ کړو چه ماته ئے ویلی وو چه ایمان
راوړهٔ ایمان م راوړهٔ اوزکوٰة ئے ویلی وو ورم کړو نو سجده و محمد ﷺ ته پاتے ده ایت را غے
وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا او هرکله چه وویلے شی منافقانو ته چه راشئ په عذر سره يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ
د پاره د دے چه بخښنه وغواړی تاسے لره رَسُولُ اللَّهِ استاذ ے د خدائ تعالیٰ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ
تاؤ کاندئ سرونه خپل یعنی وجارباسی لکه چه له مکروه جارباسی وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ
او وبه وینے دوی چه اعراض کوی له تللو په خدمت د پیغمبر کښ وَهُمْ او دوئ مُسْتَكْبِرُونَ ⑤
گردن کشان دی سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ برابره خبره ده په دوئ باندے أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ که بخښنه
غواړے دوئ لره ۔ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ط یا بخښنه نه غواړے دوئ لره لَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ط وبه
نهٔ بخښی دوئ خدائ تعالیٰ په سبب د منافقت محکمے إِنَّ اللَّهَ په تحقیق چه خدائ تعالیٰ
لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ⑥ لاره نهٔ بنائ هغه قوم ته چه وتلی دی له فرمانه د پروردګار
هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ دوئ هغه دی چه وائ انصارو ته چه لَا تُنْفِقُوا نفقه مهٔ ورکوئ
عَلَىٰ مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ په هغه چا چه په نزد د رسول الله دی له فقیرانو مهاجرینو ته
حَتَّىٰ يَنْفَضُّوا ط تر هغه پورے چه جدا جدا شی غلامان له مولاګانو نه لاړشی او ځامن
پلرونو نه لاړشی یعنی منافقانو به انصار منع کول له روزئ نفقه کولو په مهاجرانو باندے
وَلِلَّهِ او حال دا دے چه خدائ تعالیٰ لره دی خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ خزانے د اسمانونو
او د زمکے او مصلحتونه په لاس د قدرت دهٔ کښ دی هر چا لره چه رضا ئے شی ورکاندی
وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ ولیکن دا همبره ده چه منافقان لَا يَفْقَهُونَ ⑦ نهٔ پوهیږی چه رازق دے
عَلَى الاطلاق نهٔ سړی يَقُولُونَ وائ منافقان مراد ترے ابن اُبَیّ دے لَئِنْ رَجَعْنَا که بیا
وُجارونو موږ ه له دے سفره إِلَى الْمَدِينَةِ و مدینے ته لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ په تحقیق وبه باسی
عزیزان مِنْهَا الْأَذَلَّ ط له مدینے نه خوارانو لره مراد د دوئ له عزیز نفس خسیس د دوئ
وو او له خوارو ذات اشرف او اکمل له ټولو مخلوقاتو حضرت ﷺ وو وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ او خاص

خدائی تعالیٰ لره دے عزت قدرت ربوبیت وَلِرَسُوْلِهٖ او رسول د خدائی تعالیٰ لره دے عزت د نبوت او د شفاعت وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ او مؤمنانو لره دے عزت د ایمان او د طاعت وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ولیکن منافقان حقیقت د عزت باندے لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۸﴾ نه پوهیږی

نقل دے چه هر کله حضرت ﷺ کنډ د عتق ته ورسیده خوئی د ابن اُبَیّ چه عبدالله نوم ئے وو مومن او مخلص وو په سر لا رے وو دریده د دے د پاره چه پلار ئے ورسیدهٔ او بن د پلار ئے خملا وو او خپے په مهار د اوبن ئے کیخودے او وے ویل چه سوګند دے چه مدینے ته به دِ پرے نهٔ بدم ترهغه پورے چه اذن نهٔ دے شوے چه وپیژنی چه خوار اذل ته ئے او حضرت اعز دے هر کله چه حضرت رسول کریم ﷺ ورسیده اذن ئے وکړهٔ چه پریږده يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے هو لیه د مؤمنانو لَا تُلْهِكُمْ مشغول دِ نه کاندے تاسے اَمْوَالُكُمْ مالونه ستاسے وَلَآ اَوْلَادُكُمْ او نه اولاد ستاسے عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ج له یاده د خدائی تعالیٰ نه چه خواهش د ایمان دے چه دوستی د خدائی تعالیٰ غالبه دهٔ په دوستئ د مالونو باندے تر هغه حده پورے چه کهٔ تمام مالونه د دنیا او نعمتونه د آخرت هغه ته وښائی په نظر د هغهٔ کښې قبول به نهٔ شی وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ او هر څوک چه وکاندی هغه کار یعنی په مال او په خامنو سره له حق پاتے شی فَاُولٰٓئِكَ پس هغه گروه هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹﴾ دوئی زیان کاران دی چه له بهترا و باقی نه پاتے شی په سبب د فانی سره وَاَنْفِقُوْا او نفقه کوئی یعنی حقوق واجب اداکوئی مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ له هغه چه رزق م درکړے دے تاسے لره ذخیره د آخرت کوئی مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ پخوا تر هغه چه راشی اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ یو له تاسے لره سببونه د مرګ فَيَقُوْلَ رَبِّ پس وبه وائی هغه څوک چه اے پروردګاره حُما لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ ولے بیرته نهٔ جار باسے ما یعنی څهٔ به شی کهٔ تاخیر کړے مرګ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ لا تر مودے نزدے پورے فَاَصَّدَّقَ چه صدقه ورکړم او ادا د زکوٰة ورکړم وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۰﴾ او شم زهٔ له نیکو کارانو وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ او بیرته نهٔ جار باسی خدائی تعالیٰ نَفْسًا مرګ د هیځ نفس اِذَا جَآءَ هر کله چه راشی او ورسیږی اَجَلُهَا ط وخت د تلو د هغه یعنی هر کله

چه عمرانتها ته ورسیږی نو بیا نه څهٔ زیږیږی او نهٔ کمیږی وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ او خدائ تعالیٰ خبردار دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱﴾ په هغه چه کوی سړی او امام حفص په خطاب سره لولی یعنی هرڅهٔ چه تاسو کوئ۔

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ ۶۴ ۱۰۸ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۱۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ په پاکئ سره یادوی خدائ لره مَا فِي السَّمٰوٰتِ هغه چه په اسمانونو کښې دی له روحانیاتو وَمَا فِي الْاَرْضِ اوهغه چه په زمکه کښې دی له جسمانیاتو نه لَهُ الْمُلْكُ خاص دهٔ لره ده بادشاهی د اسمانونو اوهغه چه ددے دواړو ترمینځه دی وَلَهُ الْحَمْدُ او خاص خدائ لره ده ثنا په نعمت باندے وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱﴾ او دے په واړو څیزونو باندے توانا دے هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ هغه څوک دے چه پیدا ئے کړئ تاسو اے سړیو فَمِنْكُمْ پس بعضے له تاسو نه كَافِرٌ کافران دی په خالق باندے لکه دهریان او طبیعان وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ او بعضے له تاسو نه مؤمنان دی په خالق باندے لکه اهل اسلام او ایمانداران وَاللّٰهُ او خدائ تعالیٰ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲﴾ په هرڅهٔ چه کوئ تاسو لیدونکے دے موافق له عملونو سره جزا به درکا خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدا ئے کړه اسمانونه او زمکه بِالْحَقِّ په راستی او په حکمت سره یا د پاره دبیان د حق یعنی چه دلالت په وحدانیت او په حق باندے کوی وَصَوَّرَكُمْ او پیدا ئے کړئ تاسو فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ج پس نیک ئے کړه صورتونه ستاسو په امتداد د قد او په اعتدال د خلقت سره۔ امام قشیری قدس سره فرمایلی دی چه ظاهر ئے ستاسو اراسته کړے دے په کمال د قدرت سره او باطن ستاسو ئے بناسته کړیدے په جمال د قربت سره وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۳﴾ او دهٔ ورته دی جاروتل د واړو يَعْلَمُ پوهیږی په علم کامل سره مَا فِي السَّمٰوٰتِ څه چه په اسمانونو کښې دی وَالْاَرْضِ او څهٔ چه په زمکه کښې دی وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ او پوهیږی په هغه چه پټوئ تاسو وَمَا تُعْلِنُوْنَ ط اوهغه چه ښکاره کوئ تاسو وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او خدائ تعالیٰ دانا دے بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۴﴾ په هغه چه په سینو ستاسو

کښې دی له خوا طرو اَلَمْ یَاْتِكُمْ ایا نهٔ دی راغلی تاسو لره اے اهل دمکے نَبَؤُا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا
خبر دهغوچه کافرشوی دی مِنْ قَبْلُ ز مخوا له تاسے نه لکه اولاد د قابیل او د عاد او ثمود او
اصحٰب الایکه اونور فَذَاقُوْا پس وے څکلو وَبَالَ اَمْرِهِمْ عذاب دکار خپل یعنے ضرر دکفر په دنیا
کښې په باد صرصر او صیحه او عذاب د یوم الظله وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۵﴾ او دوی لره دے عذاب
دردناک ذٰلِكَ دا عذاب دوی لره بِاَنَّهٗ کَانَتْ تَّاْتِیْهِمْ په سبب د هغے دے چه راتلل به دوی
ته رُسُلُهُمْ پیغمبران ددوی بِالْبَیِّنٰتِ په حجتونو روښانو سره او معجزو ظاهرو سره فَقَالُوْٓا
پس ویل به دوی اَبَشَرٌ ایا سړے دے لکه مونږه هسے یَّهْدُوْنَنَا چه لار ښائی ومونږه ته
تعجب به ئے کولوچه حق تعالیٰ وحی و دوی ته به رالیږله فَكَفَرُوْا پس کافر به شول په رسولانو
سره وَتَوَلَّوْا او وګرځ به ئے وجاریستلو له بینا تو وهغه بنانو ته چه له دوی سره وو پس خدائے
تعالیٰ دوی هلاک کړه وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ او بے نیازه دے خدائی تعالیٰ له ایمان دخلقو وَاللّٰهُ غَنِیٌّ
او خدائی تعالیٰ بے نیازه دے له عبادته د کافرانو حَمِیْدٌ ﴿۶﴾ ستایلے د حامد انو زَعَمَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا
گمان کوی هغه چه کافران دی اَنْ لَّنْ یُّبْعَثُوْا دا دے چه به پا نهٔ څولے شی دوی قُلْ بَلٰى
ووایه چه وبه پاڅولے شی وَرَبِّیْ لَتُبْعَثُنَّ او سوګند م دے په پرورد کار خپل چه په تحقیق
مبعوث به شئ تاسے په قیامت کښې ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ پس خبر به کړے شئ تاسے بِمَا عَمِلْتُمْ
په هغه چه کړی مو دی او خبر به په حساب او په جزا سره وی وَذٰلِكَ او دا پاڅول او جزا
ورکول عَلَى اللّٰهِ یَسِیْرٌ ﴿۷﴾ په خدائی تعالیٰ باندے آسان دے فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ پس ایمان راوړئ
په خدائی تعالیٰ باندے وَرَسُوْلِهٖ او په رسول د دهٔ باندے چه محمد م دے وَالنُّوْرِ الَّذِیْٓ
اَنْزَلْنَا او په هغه روښنائی چه لیږلے دهٔ مونږه په محمد م باندے چه مراد ترے قرآن
دے او هغهٔ ته ئے روښنائی ځکه ووېل چه ظاهر کړونکی د احکامو د حلالو او د حرامو دے
وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ او خدائی تعالیٰ په هغه چه تاسے کوئ له اقراره او له انکاره خَبِیْرٌ ﴿۸﴾
خبردار دے یَوْمَ یَجْمَعُكُمْ یاده کړه هغه ورځ چه جمع کاندی تاسے خدائی تعالیٰ لِیَوْمِ
الْجَمْعِ په ورځ د جمع کښې د پاره د حساب. د قیامت ورځ ته ئے جمع ځکه ویلے دهٔ چه په ډېرو ورځو ستی

به واړه په هغه ورځ کښې جمع کیږی یا انبیاء او امتیان یا ظالم او مظلوم یا اهل هدایت او
گمراهان یا بهشتی او دوزخی یا ملائک او جن او انس ذٰلِكَ دغه ورځ یَوْمُ التَّغَابُنِ ط ورځ د
زیان ده هر کله چه مؤمن په مقام د کافر په جنت کښې وی غبن به ظاهرشی و کافرانو ته چه
زیان کاری بو مونږه یا مؤمنان زیان خپل به ووینی چه ولے مونږه نیکی نهٔ کوله یا هر څوك سود
خپل ځان لره به غواړی او زیان بل لره وَمَنْ یُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ او هر څوك چه ایمان راوړی په
خدائ تعالیٰ سره وَ یَعْمَلْ صَالِحًا او وکاندی کار ښائسته یُّكَفِّرْ عَنْهُ بیب به کا خدائ تعالیٰ
له هغه نه سَیِّاٰتِهٖ بدئ د هغهٔ یعنی عفو به ئے کاندی وَ یُدْخِلْهُ او ننه به ئے باسی جَنّٰتٍ
تَجْرِیْ په باغونو کښې چه ځی به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے د حویلود هغو ولے خٰلِدِیْنَ فِیْهَا
په هغه حال کښې چه همیشه به وی په هغه کښې اَبَدًا ط همیشه ـ تاکید د خلود ـ ذٰلِكَ الْفَوْزُ
الْعَظِیْمُ ⑨ هغه عفو د گناهونو او ننه ایسته په جنت کښې خلاصے لوئ دے وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا
او هغه کسان چه مسلمانان نهٔ شول په خدائ تعالیٰ باندے وَكَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا او دروغژن
ئے وګڼړل ایتونه ځمونږه چه قرآن دے یا معجزے چه په لاس د پیغمبر موظاهرے کړے
دی اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هغه ټولے صاحب د دوزخ د خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ط همیشه به
وی په هغه دوزخ کښې وَ بِئْسَ الْمَصِیْرُ ⑩ ع او بد ځائے د استوږنے دے دوزخ مَاۤ اَصَابَ ع ۱ ۱۵
نهٔ رسیږی هیڅ ته مِنْ مُّصِیْبَةٍ هیڅ سختی له مرګه یاله مرضه یاله مرګه دولد اِلَّا بِاِذْنِ
اللّٰهِ ط مګر په قضا د خدائ تعالیٰ سره یعنے په علم د هغه سره واړه مصیبتونه به رسیږی
او کهٔ رضائے وشی واړه بندګان به وساتی ولے د پاره د بندګانو او د پاره د ازمینت د دوئ صبر
کوی او زیاتی د ثواب او کفاره د گناهونو د دوئ نهٔ رسوی وَمَنْ یُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ او هر څوك چه ایمان
راوړی او پوهیږی چه سختی په رضا د دهٔ سره ده یَهْدِ قَلْبَهٗ ط لاره ښیی زړهٔ د هغهٔ ته
صبر او اثبات یعنی پوهیږی چه بلا له خدائ ده او په ځان ئے قبول کاندے او له هغه
بلا نه خفګان نهٔ کوی جمال د څښتن ورلره حاصل شی وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ او خدائ په
واړو څیزونو باندے عَلِیْمٌ ⑪ پوهیدونکے دے صابر او شاکر پیژنی وَ اَطِیْعُوا اللّٰهَ او

او فرمان وړئ خدائ تعالیٰ لره په فرض سره وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ او فرمانبرداری کوئ رسول الله لره په سنت کښ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ پس که مخ وجاروباسئ له فرمانبرداری نه هغهٔ لره څهٔ زیان
فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا پس بے له دے نه بله نه ده چه په رسول ځمونږ باندے الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۲﴾
رَسُول دی ښکاره او پیغمبرخپل تبلیغ ښکاره رسولے دے او وظیفه د رسول ئے په ځای کړیده
اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ هیڅ معبود لائق دعبادت نهٔ دے اِلَّا هُوَ مګر دا خدائ دے وَعَلَى اللّٰهِ او په
خدائ باندے نه بغیرله خدائ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾ پس ښائ چه توکل وکاندی
مؤمنان چه ایمان تقاضا دے خبرے کوی چه کارخپل وخدائ تعالیٰ ته وسپاری
او په حاجتونوکښ تکیه په ده باندے وکړی. له ابن عباس رض روایت دے چه پس له هجرت
دحضرت صلے الله علیه وسلم یو ټولے د مسلمانانو نیت د مد ینے کاوو او دوئ په مکه
کښ وو پس قبیلو او ځامنو د دوئ منع کړل یو ټولے د مسلمانانو نیت د مدینے کاوو او دوئ
په حق د دوئ کښ ایت راغے چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ په تحقیق
چه بعضے له ښځو ستاسے ته وَاَوْلَادِكُمْ او له ځامنو ستاسے نه چه مانع دی له هجرته په
حضرت محمدؐ پسے عَدُوًّا لَّكُمْ دشمنان دی تاسے لره فَاحْذَرُوْهُمْ ج پس دوئ پرهیز
وکانړئ او په ژړا د دوئ مهٔ غلطیږئ او ترک د هجرت مهٔ کوی دا ایت چه دوئ ته ورسیده
هجرت ئے وکړه مدینے ته هر کله چه یارانو مهاجرانو لره دوئ ولیدل چه هر یو په احکامو د دین
فقیه کامل وو او دانا فاضل وو قصد دعقوبت د ښځو او د ځامنو خپلو ئے وکړچه مونږه
په سبب د دوئ له علمه پاتے شوی یو نفقے ئے په دوئ باندے بنده کړه او رسم د مرحمت
ئے پریښود وحق تعالیٰ دا ایت راولیږهٔ چه وَاِنْ تَعْفُوْا او کهٔ وکانړئ له جنایتونو عفو چه
دوئ کړی دی وَتَصْفَحُوْا او وبخښی وَتَغْفِرُوْا او پټ کړئ هغهٔ لره او قبول کړئ هغه عذر
چه دوئ وائ فَاِنَّ اللّٰهَ پس په تحقیق چه خدائ تعالیٰ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ بخښونکے
مهربان دے په تاسے باندے اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ بے له دے نه بله نه ده چه مالونه ستاسے
وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ط او ځامن ستاسے ازمیښت دے دے د پاره چه ظاهر شی چه څوک ئے

له تاسے نه چه حق لره په محبت د دوئ سرهیر کا او په مینه د دوئ کښې گرفتار وې وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ او
خدائ تعالیٰ څخه دے اَجْرٌ عَظِیْمٌ ﴿۵﴾ مزدوری وړ کوله لویه خاص هغه چالره چه محبت د
خدائ تعالیٰ او د رسول غالب کړی په مال په ځامنو باندے فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ووېرېږئ
له عذاب د خدائ تعالیٰ نه او پرهیز وکانړئ له موجباتو د هغهٔ نه مَا اسْتَطَعْتُمْ هغه قدر
چه توانیږئ۔ دا آیت ناسخ د هغه حکم دے چه اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ په کشف الاسرار کښې
راوړی دی چه په یو آیت کښې اشارت په واجب دامر سره او په بل ځائ کښې اشارت
دے په واجب د حق سره واجب دامر بنائی او واجب د حق نسخ شهٔ ولے چه خدائ تعالیٰ
بنده لره طلب کوی په وجوب دامر سره پس هرکله چه امرئ وکړهٔ گناهو نه به ورته عفو شی
او کهٔ په وجوب د حق ئې میل وکاندے طاعت د زړهٔ کالو او گناه د زړو کالو هغه ځای برابر دی
وَاسْمَعُوْا او واورئ خبرے د خدائ تعالیٰ وَاَطِیْعُوْا او فرمانبرداری کوئ هغهٔ لره وَاَنْفِقُوْا او
نفقه کوئ خَیْرًا دبهتر یعنی هرڅیز چه دی په لارے د خدائ تعالیٰ کښې ورکانړئ لِّاَنْفُسِکُمْ ط
د پاره د نفسونو خپلو چه فائده د هغهٔ به تاسو ته رسیږی وَمَنْ یُّوْقَ او هرڅوك چه وساتلے
شو شُحَّ نَفْسِهٖ له بخل د نفس خپل یعنی حق د خدائ بنده نهٔ کا او په لارے د خدائ
تعالیٰ کښې وړ کاندے فَاُولٰٓئِكَ پس هغه کسان چه نفع رسونکی وی هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۶﴾ دوئ
خلاص دی په دنیا کښې له مخلوقاتو نه او په آخرت کښې له عقوباتو نه اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ که قرض
ورکانړئ خدائ تعالیٰ لره یعنی صرف کړئ مال خپل په هغه ځائ کښې چه ئې فرمایلی دی
قَرْضًا حَسَنًا متصل له اخلاص سره یا صدقه ورکانړئ په خوشحالئ د زړهٔ سره یُّضٰعِفْهُ
زیاتی به کاندی خدائ تعالیٰ هغه لره چه تاسے ورکړے دی لَکُمْ تاسے لره یو په لس تر
اوه سوه پورے تر هغه پورے چه بے حسابه شی وَیَغْفِرْ لَکُمْ ط او وبه بخښی گناه ستاسے
چه وی امساك او له ترك د انفاق وَاللّٰهُ شَکُوْرٌ او خدائ غوره کړونکے د شاکرانو دے ثواب
ډیر په مقابله د لږ عمل به ورلره ورکاندے حَلِیْمٌ ﴿۱۷﴾ لا او تحمل کړونکے په عذاب د مسکانو
دی۔ عٰلِمُ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ پوهېدونکے دے د پټ او د ښکاره پوهېږی چه څوك څهٔ کوی

په ظاهر له تصدق او هغه چه پټوی په زړه ونوکښې له ریا او له اخلاص اَلۡعَزِیۡزُ غالب دے بدل اخلی له هغه چاچه خالص نیت ئے نه وی اَلۡحَکِیۡمُ ﴿۱۸﴾ حکم کړونکے دے په بزړګۍ د هغه چاچه له صدق تصدق وکاندِ۔

سورة الطلاق ۶۵ مدنیة — بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ — ایاتها ۱۲ رکوعها ۲

روایت دے چه عبد الله بن عمرؓ په حال د حیض کښې ښځه طلاقه کړه حضرتؐ ووے چه رجوع وکړه په هغه وخت چه له حیضه پاکه شی که رضا دِ شی بیا ئے طلاقه کړه په دے باب کښې آیت راغے چه یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبر وایه امت خپل ته چه تاسے اِذَا طَلَّقۡتُمُ النِّسَآءَ هرکله چه طلاق ورکوئ مدخول بها لره او صغیره او حامله او ایسه نهٔ وی۔ فَطَلِّقُوۡهُنَّ پس طلاق ورکړئ لِعِدَّتِهِنَّ په عدت د دوئ کښې یعنی په طهر بے جماع کښې چه تاسے له رب شمار کاله عدت ته او دا طلاق سنی دے ځکه چه ښځه پس له دے طلاقه په عدت کښې شی او بل بدعی دے چه وخت د حیض دے یا د طهر چه په هغه کښې ئے وطی کړے وی ولے چه هغه ورځ له عدت ته حساب نهٔ دی او په هغه وخت کښې ښځه نه معتده وی او نهٔ کړمه د چاوی او شمار طلاق په مذهب د امام شافعیؒ اعتبار نهٔ لری او په مذهب د امام اعظم رحؒ او امام مالکؒ شمارئے اعتبار دے پس کهٔ په پاکۍ کښې په میاشت کښې درے طلاقه ورکاندے په مذهب د امام شافعیؒ سنت دی او په مذهب د هغه دوه امامانو بدعت دے پس کهٔ یو طلاق وی په اتفاق د دواړو سنت دی وَاَحۡصُوا الۡعِدَّةَ ۚ او شمار کانړئ اے سړو عدت د ښځو ولے چه دوئ له شماره عاجزے دی یا غافل دی وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّکُمۡ ۚ او ویریږئ له خدائ چه پرورګار ستاسے دے او طلاق سنی ورکوئ او پس له طلاق لَا تُخۡرِجُوۡهُنَّ مهٔ وباسئ ښځے مطلقے مِنۡۢ بُیُوۡتِهِنَّ له کورونو د دوئ نه یعنی هغه کورونه چه په وخت د نکاح کښې په هغه کورونو کښې اوسیدلی دی تر هغه وخته چه عدت ئے تیر شی وَلَا یَخۡرُجۡنَ او ښځے دِ هم نهٔ وځی پس دا ښځے مهٔ وباسئ اِلَّاۤ اَنۡ یَّاۡتِیۡنَ مګر هله کهٔ راشی بِفَاحِشَةٍ مُّبَیِّنَةٍ ؕ

په عمل بد سره چه ښکاره کړے شوے وی مراد ترے گناه د ه چه لویه وی لکه زنا یا غلا چه د
پاره د حد ئے وباسی جائز دی یا داچه په ښکنځل یا فحش سره اهل د هغه کوږ ته ضرر رسوی
په هغه حال کښی ویستل د دوئ روا دی ولے چه دا حکم د نشوزلری په اسقاط د حق کښی وَتِلْكَ
او دا حکمونه چه مذکور شول حُدُوْدُ اللّٰهِ ط حدونه د خدائ دی یعنی اندازے د خدائ چه
مقرر ے کړے ئے دی وَمَنْ يَّتَعَدَّ او هرڅوک چه تیرشی حُدُوْدَ اللّٰهِ له حدونو د خدائ
تعالیٰ نه فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ط پس په تحقیق چه ظلم ئے وکړهٔ په ځان خپل باندے او ځان
ئے لائق د عذاب کړو لَا تَدْرِيْ نهٔ پوهیږے ته اے طلاق ورکونکیه یا هیڅ نفس
لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بنائی چه خدائ تعالیٰ پیدا کاندے بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ⑴ پس له طلاق
پښیمانه شی و دوستئ د ښځو ته بیا مینه دار شئ او رجوع وکانړئ فَاِذَا بَلَغْنَ پس هر کله
چه ورسیږی ښځے اَجَلَهُنَّ و مودے خپلے ته یعنی آخر د عدت ته فَاَمْسِكُوْهُنَّ پس په
نکاه لرئ دوئ یعنی رجوع و دوئ ته وکانړئ بِمَعْرُوْفٍ په نیکئ او په عیش وعشرت سره او
دویم د هیره طلاق مهٔ ورکوی د پاره د ضرر په دوئ باندے اَوْ فَارِقُوْهُنَّ یا جدا شی له دوئ
نه او پریږدئ بِمَعْرُوْفٍ په نیکئ سره یعنی هغه چه حق د طلاق دے لکه متعه او مهر وَّاَشْهِدُوْا
او گواهان ونیسئ ذَوَيْ عَدْلٍ دوه صاحب د عدل مِّنْكُمْ له تاسے مسلمانانو نه چه فاسق
نهٔ وی په رجعت باندے او دا مستحب دی او امام شافعی رح وائی چه واجب دی۔
وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ او اقامت د شهادت کوی اے شاهدانو په وخت د حاجت کښی لِلّٰهِ ط
د پاره د رضا د خدائ تعالیٰ او د پاره د ثواب ذٰلِكُمْ دا شهادت يُوْعَظُ بِهٖ پند ورکاوه
شی په دے سره مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ هر هغه چا لره چه ایمان ئے راوړے دے بِاللّٰهِ
په خدائ تعالیٰ باندے او په هغه چه فرمایلی دۓ دی وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ط او په ورځ د
آخرت باندے او هغه چه متعلق له آخرت سره دی وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ او هر څوک چه ویریږی
له خدائ تعالیٰ نه او مرتکب نهٔ شی يَجْعَلْ لَّهٗ وبه گرځوی د پاره د هغهٔ خدائ تعالیٰ۔
مَخْرَجًا ⑵ ځائ د وتو یعنی خلاص به شی له غمه د آخرته یا هر څوک چه پرهیز وکاندے له حرام

د خدائ تعالیٰ هغه لره به ور سوی رزق د حلال وَّيَرْزُقْهُ او روزی به ورکاندِ هغهٔ لره مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ط له هغه ځائ چه ګمان به نهٔ راوړی او شمار به نهٔ راوړی یعنی په زړهٔ کښ به تیرنشی ستاسے سبب د نزول دد ے ایت دا دے چه کافرانو ځوئ دعوف بن مالک ئے بند کړه او هغه نزدے د پیغمبرؐ راغے او وے ویل چه یا رسول الله صلے الله علیه وسلم ځوئ م په بند د کافرانو کیخوت مودے وا ویلا ډیره کوی او نهایت فقر او فاقے ته رسیدلے دهٔ حضرت صلے الله علیه وسلم ووے چه تقوٰی او پرهیزګاری کا نزئ او ډیر وائی لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم۔ عوف سره له ښځے خپلے په قول د حضرتؐ عمل وکړهٔ لږه موده تیره شوه چه ځوئ د عوف له قیده خلاص شهٔ ځلور زره ګډے د کافرانو ئے راوتختولے او مدینے ته راغے او دا ایت نازل شهٔ هر څوک چه تقوٰی وکاندی روزی حلال به بیاموی وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ او هر څوک چه توکل وکاندی په خدائ تعالیٰ او کار خپل په دهٔ باندے وسپاری فَهُوَ حَسْبُهٗ ط پس خدائ تعالیٰ بس دے هغهٔ لره په کفایت د مهم کښ اِنَّ اللّٰهَ په تحقیق چه خدائ تعالیٰ بَالِغُ اَمْرِهٖ ط رسید ونکے دے وکار خپل ته په هر ځائ چه وی یعنی هغه چه مراد د خدائ تعالیٰ وی ترے نه فوت کیږی قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ په تحقیق چه ګرځولے دے خدائ تعالیٰ او پیدا کړے دے خدائ تعالیٰ لِكُلِّ شَيْءٍ د پاره د هر څیز له فقر او له تونګره یا له فقر او له غنا قَدْرًا ﴿۳﴾ اندازه چه له هغه تیرنهٔ شی یا مقدار له زمانے نه چه وړاندے وروستو تیرے نهٔ کیږی۔ ابوذر غفاریؓ روایت کړے دے چه حضرت رسالت پناهؐ فرمایلی دی چه زهٔ په هسے یو ایت پوهیږم چه سړے پرے عمل وکاندی همه واړو لره کافی دے پس ایت ومن یتق الله یجعل له مخرجا ئے ولوست او خوشحله ئے مکرر کړه بنا دد ے ایت په تقوٰی او توکل باندے ده تقوٰی نفخ دباغ د نزدیکت دهٔ او له دے مرتبے دیوځائے والی نه خبر ورکوئ ایت انّ الله مع الذین اتقوا او توکل بوے دګلذار د کفایت دے۔ انّ الله یحب المتوکلین ترے خبر ور کوی

ع یعنی په پوره کولو د مراد د دهٔ کښ ۱۲ عه په تحقیق چه خدائ سره د هغه چا دے چه تقوٰی کوی ۱۲ سه په تحقیق خدائ دوست لری توکل کونکی ۱۲   اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ۱۲

اوبے له دے دواړو صفتونو قدم په لارے د تحقیق کښې نهٔ توانیږی ایخودل په هغه وخت
داحکم دعدت مطلقه کوز شهٔ چه یتربصن بانفسهن ثلثة قروء. اصحابو پوښتنه وکړه[عه]
چه عدت دهغو ښځو چه حائضه نهٔ شی څهٔ دے دا ایت راغے وَالّٰٓئِیۡ یَئِسۡنَ اوهغه ښځے
چه نا امیده شوے وی مِنَ الۡمَحِیۡضِ له حیض په سبب د پیرعمرسره مِنۡ نِّسَآئِکُمۡ له ښځو
ستاسے نه اِنِ ارۡتَبۡتُمۡ کهٔ چرے شک وشی ستاسے یعنی نهٔ پوهیږئ تاسے فَعِدَّتُهُنَّ
پس موده دعدت ددوئ ثَلٰثَةُ اَشۡهُرٍ ۙ درے میاشتے دی وَّالّٰٓئِیۡ لَمۡ یَحِضۡنَ ؕ اوعدت
دهغو ښځو چه حیض ورلره نهٔ ورځی په سبب دصغروالی سره حکم ئے په دارنګ د دریو
میاشتو دے[ت] وَاُولَاتُ الۡاَحۡمَالِ اوصاحب دحمل یعنی حاملے ښځے اَجَلُهُنَّ انتها د مدت دعدت
ددوئ اَنۡ یَّضَعۡنَ هغه ده چه کیږدی حَمۡلَهُنَّ ؕ بارخپل کهٔ مطلقه وی کهٔ خښتن ئے
مړ وی وَمَنۡ یَّتَّقِ اللّٰهَ اوهرڅوک چه ووېریږی له خدائ تعالیٰ نه او رعایت د حقوق د
حکمونو دهغهٔ کوی یَجۡعَلۡ لَّهٗ وبه ګرځوی هغه متقی لره مِنۡ اَمۡرِهٖ یُسۡرًا ﴿۴﴾ له کاره د
هغهٔ اسانی یعنی دهغهٔ به اسان کاندے ذٰلِکَ داچه وویلے شو اَمۡرُ اللّٰهِ اَنۡزَلَهٗۤ حکم د
خدائ تعالیٰ دے هغه له لوح محفوظ ئے نازل کړے دے اِلَیۡکُمۡ ؕ تاسے ونه وَمَنۡ یَّتَّقِ
اللّٰهَ اوڅوک چه پرهیز کا له عذابه دخدائ تعالیٰ اوفرمانبرداری دهغه وکاندی یُکَفِّرۡ
پټ به کا عَنۡهُ سَیِّاٰتِهٖ له دهٔ نه ګناهونه ددهٔ یعنی بخښنه به ورته وکاندی وَیُعۡظِمۡ لَهٗۤ
اَجۡرًا ﴿۵﴾ اولویه به کاندی خدائ تعالیٰ دهٔ لره مزدوری ددهٔ اَسۡکِنُوۡهُنَّ اوسوئ ښځے
مطلقے مِنۡ حَیۡثُ سَکَنۡتُمۡ په هغه ځائ چه اوسئ تاسے مِّنۡ وُّجۡدِکُمۡ له طاقته خپله
یعنی مسکن ددوئ په قدر د طاقت خپل سازوئ وَلَا تُضَآرُّوۡهُنَّ اوضرر مه
رسوئ مطلقاتو لره په استوږنه اوپه خوراک کښې لِتُضَیِّقُوۡا دپاره ددے چه تنګوئ
عَلَیۡهِنَّ ؕ په دوئ باندے کوړنه ددوئ اوخروج به ضرورشی دوئ لره وَاِنۡ کُنَّ اوکهٔ
وے هغه مطلقے اُولَاتِ حَمۡلٍ صاحب دبار یعنی حاملے وے فَاَنۡفِقُوۡا عَلَیۡهِنَّ پس نفقه

عه انتظار دِکوی هغه ښځے په ځان باندے درے حیضونه ۱۲ عه یعنی په پوره کولو دامرددهٔ کښې ۱۲

کوئی په دوئی باندے حَتّٰی یَضَعۡنَ ترهغه وخته پورے چه کیږدی حَمۡلَهُنَّ ج بارخپل او له
عدته ووځی فَاِنۡ اَرۡضَعۡنَ پس که شودهٔ ورکوی دا لَكُمۡ ستاسو بچی پس له قطع کیدو د نکاح لکم خامتو
ستاسے لره فَاٰتُوۡهُنَّ پس ورکانړئ دوئ لره اُجُوۡرَهُنَّ ج مزدوری د دوئ د شودو ورکولو
وَاۡتَمِرُوۡا او مصلحت کوئ بَیۡنَكُمۡ په میان دیو بل په کار د فرزند کښ بِمَعۡرُوۡفٍ ج
په نیکی سره په رضاع کښ او په اُجرت د هغه کښ وَاِنۡ تَعَاسَرۡتُمۡ او که سختی
وکړئ تاسے اے مورو پلاره یعنی مور په رضاع کښ او پلار په مزدورئ ورکولو کښ
اِبا کوی فَسَتُرۡضِعُ لَهٗۤ اُخۡرٰی ط ⑥ پس شودهٔ ورکړو به نکے وغواړه زاهو زاد لره بله یعنی
دائی ونیسئ د پاره د رضاع او مور لره پریږدی لِیُنۡفِقۡ بنائی چه نفقه دِ ورکاندی
ذُوۡ سَعَةٍ خداوند د توانائی مِّنۡ سَعَتِهٖ ط له توانائی خپلے نه یعنی په قدر د توانائی خپلے
مطلقے لره نفقه دِ ورکوی وَمَنۡ قُدِرَ او هرڅوك چه تنگ کړے شوے دی عَلَیۡهِ رِزۡقُهٗ
په دهٔ باندے رزق د دهٔ یعنے رزق ئے لږ دے فقیر دے فَلۡیُنۡفِقۡ پس بنا یئ چه نفقه
دِ کاندِ مِمَّاۤ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ط له هغه چه خدائی خدائی تعالٰی ورلره ورکړے دے لَا یُكَلِّفُ
اللّٰهُ تکلیف نهٔ ورکوی خدای تعالٰی نَفۡسًا هیڅ نفس لره اِلَّا مَاۤ اٰتٰىهَا ط مگر هغه چه
ورکړے دے خدائی تعالٰی له ماله یعنی تکلیف مالا یطاق نهٔ بدی سَیَجۡعَلُ اللّٰهُ زر به
وی چه بناره به کاندی خدائی تعالٰی بَعۡدَ عُسۡرٍ پس له سختئ او تنگدستئ نه یُّسۡرًا ⑦ ع
اسانی او توانائی وَكَاَیِّنۡ مِّنۡ قَرۡیَةٍ او ډیر له کلیو نه په سبب د جهل سره عَتَتۡ
جاروتنے دی عَنۡ اَمۡرِ رَبِّهَا له فرمان د خدائی تعالٰی خپله وَرُسُلِهٖ او له فرمانه د
پیغمبرانو د هغه نه فَحَاسَبۡنٰهَا پس حساب به وغواړو مونږه په ورځ د قیامت کښ
ترے نه حِسَابًا شَدِیۡدًا لا حساب سخت چه په هغه کښ مناقشه وی وَّعَذَّبۡنٰهَا او
عذاب به ورکړو مونږه دوئ لره په دنیا کښ عَذَابًا نُّكۡرًا ⑧ په عذاب هولناك سره به دوئ
گرفتار کړو یا په ورځ د اخرت کښ پس له حساب فَذَاقَتۡ پس وبه څکی وَبَالَ اَمۡرِهَا
عذاب د کار خپل وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمۡرِهَا او وو عاقبت د کار د دوئ خُسۡرًا ⑨ زیان کاری

اوکوم زیان بد به ترد ے زیان بل وی چه جنت د همیشګی نه اوله لقاء دخدای تعالیٰ نه
پاتے شی او په بندی خانه ددوزخ کښې به کیوځی اوعذاب دردناك سره به ګرفتاره شی ۔
اَعَدَّ اللّٰهُ تیارکړے دے خدائ تعالیٰ لَهُمْ دوئ لره عَذَابًا شَدِیْدًا لا عذاب سخت په
دواړو جهانه کښې فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ووېرېږئ له عذاب دخدائ تعالیٰ نه یٰۤاُولِی الْاَلْبَابِ ۖۚ
اے صاحبانو دعقلونو الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ۛ ۚ هغه چا چه ایمان راوړے دے قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ په
تحقیق لیږلی دی الله تعالیٰ اِلَیْكُمْ تاسے ته ذِكْرًا ﴿١٠﴾ پند یا بزرګی چه قرآن دے او
لیږلے ئے دے تاسے ته رَّسُوْلًا استاذ ے چه محمدؐ دے قرآن ته ئے شرف ویلے دے
چه شرف د دنیا دے اوکړ امت دعقبیٰ دے لوستل دده اوعمل کول په دۀ او بعضو ویلی دی
چه مراد له ذکر قرآن دے اومراد له استاذی جبریلؑ دے او په یوقول رسولؐ دے له ذکره
اومشهوره داده چه خبره په رسول تمامه شوے ده اورسولًا په زور سره منصوب دے په
فعل محذوف سره تقدیر ئے داده چه متابعت کوئ رسول سره چه همیشه یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ
لولی په تاسے باندے اٰیٰتِ اللّٰهِ ایتونه دخدائ تعالیٰ چه قرآن دے مُبَیِّنٰتٍ روښان کړی
اوامام ابوحفص رح په زیر سره لولی یعنی قرآن روښان کړونکے دے خدائ تعالیٰ ذکر
او رسول ئے راواستوو لِّیُخْرِجَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دپاره ددے چه وباسی په خپله یا قرآن
یا رسولؐ هغۀ لره چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوکړی ئے دی عملونه ښۀ
ښائسته مِنَ الظُّلُمٰتِ له تیرو دګمراهئ اِلَی النُّوْرِ ؕ روښنائی د هدایت وته یاله باطل
حق وته یاله جهل وعلم ته وَمَنْ یُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ اوهرڅوك چه ایمان راوړی په خدائ تعم
اوتصدیق په هغه وکاندی وَیَعْمَلْ صَالِحًا اووکاندی عمل نیک او پاك یعنی خالی له ریا
اوله غرضه یُّدْخِلْهُ رابه ئے ولی خدائ تعالیٰ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ په باغونو کښې چه بهیږی مِنْ
تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ د لاندے دکوړونو دهغو ولے خٰلِدِیْنَ فِیْهَاۤ همیشه به وی په جنت کښې
اَبَدًا ؕ همیشه بے زواله او بے انتقاله قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ په تحقیق چه نیك تیار کړیدے
الله تعالیٰ په جنت کښې دپاره دمومن عامل رِزْقًا ﴿١١﴾ روزی اَللّٰهُ خدای تعالیٰ په

حق . اَلَّذِیْ هغه دے خَلَقَ چه پیدا کړی ئے دی سَبْعَ السَّمٰوٰتٍ اووهٔ اسمانونه بعض دپاسه د بعض وَّمِنَ الْاَرْضِ اوپیدا ئے کړله زمکے مِثْلَهُنَّ ط په مثل د دوئ بعض ترے لاندے د بعضو. اوبعض علماء حمل د مثلهن په عدد باندے کوی یعنی زمکے ئے هم اووهٔ پیدا کړی دی یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ کوزیږی فرمان د خدائ تعالیٰ اوقضا دهغهٔ بَیْنَهُنَّ په مینځ د اسمانونوکښ یعنی جاری دے حکم دهغهٔ په اسمان او زمکه کښ په هره طبقه لطبقاتو د اسمان اود زمکے هغه اره مخلوق دے جدا جدا لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ د دے د پاره چه وپوهیږئ په خدائ تعالیٰ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ په پیداوخت د دواړو خیزونو قَدِیْرٌ ۙ توانا دے اوفرمان خپل ئے په واړو جاری کړے دے د دے د پاره چه معلوم کانړئ چه وَّاَنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ تعالیٰ قَدْ اَحَاطَ په تحقیق رسیدلے دے بِکُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ع (۱۲) په واړو خیزونو باندے په سبب دعلم سره یعنی قدرت د هغه نیولے دے واړو خیزونو لره اوموجودات بنکاره اوپټ هیڅ خیز له دائرے دعلم دهغه نه بهر نه دی ع۲ ۱۸

سورة التحریم ۶۶ مدنیة ۱۰۷ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — اٰیاتها ۱۲ رکوعها ۲

نقل دے چه حضرت صلی الله علیه وسلم په شربت د شهد و ډیر مین وو او بی بی زینب رض کره شهد ووهر کله چه حضرت صلی الله علیه وسلم د ئے کره راغے د ئے به شربت تیاره وو د پاره د حضرت ؐ نو د رنګ به ډیر تیریدهٔ بعضے ازواجو طاهراتو بده منله بی بی عائشے رض او حفصے رض اتفاق وکړهٔ چه کهٔ حضرت ؐ پس له څښلو د شربت څمونږ کره راشی مونږ به ورته وایو چه یا حضرته له تانه بوئ د مغافیرو راځی اوهغه ډیر بد بویه وی او حضرت ؐ په خوشبوئی باندے ډیر مین وو هرکله چه حضرت ؐ راغے دوئ ورته ووے. چه یا حضرت بوی د مغافیرو له تانه راځی. حضرت ؐ ووے چه مغافیر مِ نهٔ دی خوړلی لیکن شربت د کبینهٔ مِ څښلے دے پس ووے بی بی عائشه رض او حفصه رض چه مچئ به کل د عرفط څښلے وی اوهغه ګندونی دی. امام زاهدی رح وائی چه داصورت څو هیره واقع شه حضرت ؐ ووے چه

حرمت العسل علی نفسی فوالله لا اکله ابدًا - او دا سوګند ئے دے د پاره وخوړچه بل
څوك ورلره عسل رانهٔ وړی. پس دا دا آیت راغے یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبر علیه السلام لِمَ تُحَرِّمُ ولے
حراموے تهٔ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ج هغه چه حلال کړی دی خدائ تعالیٰ تالره یعنی شهد او
روایت مشهور دا دے چه په نوبت دحفصه کښ ورکره حضرت ناست وو په اجازت دحضرت
سره زیارت د پلار لره لاړه شوه حضرت ماریه قبطیه طلب کړه او په خدمت سره ئے
سرفرازه کړه. دا پوهه چه ډیره دلګیره شوه حضرت ووے چه اے حفصے رض راضی ئے چه
ماریه په ځان حرامه کړم دے ووے چه حضرت ووئیل چه ماریه په ما حرامه ده
لیکن دا خبره چا ته مهٔ وایه هرکله چه حضرت ددے کوره ووت. حفصے رض عائشے رض ته پته
راز ووے چه له ماریه نه خلاصه شوے. حضرت هرکله چه په کور د عائشه رض کښ راغے عائشه
ووته ووے نو دا سورة نازل شهٔ چه ولے حراموے په ځان خپل باندے هغه چه حلال
کړے دے خدائ تعالیٰ په تا باندے او سوګند کوے تَبْتَغِیْ طلب کوے په حرامولو کښ
مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ط رضا د ښځو خپلو وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدائے تعالیٰ بخښونکے دے
سوګند ستالره رَّحِیْمٌ ① مهربان دے چه مقرر کړے ئے دے کفارة د سوګند
قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ په تحقیق چه مقرر کړے دے خدائ تعالیٰ او بیان کړے ئے دے تاسے
لره تَحِلَّةَ اَیْمَانِكُمْ ج پرانستل د سوګندونو ستاسے په کفارت سره یعنی هغه څوك چه
سوګند وتړی په کفارة سره پرانستل شی او بیان ئے په سورة مائده کښ دے وَاللّٰهُ
مَوْلٰىكُمْ ج او خدائ تعالیٰ دوست ستاسے دے او کار نه ستاسے جوړوی تاسے لره هغه
چه ستاسے بهبود وی وَهُوَ الْعَلِیْمُ الْحَكِیْمُ ② او هغه دانا دے په مصلحتونو د
بندګانو باندے او نیکو کاردی په هرڅه چه وائ او کوی د پاره د دوئ وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِیُّ
او یاد کړئ اے مؤمنانو هرکله چه راز ووے پیغمبر اِلٰی بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ و بعضو خپلو ته
یعنی حفصه رض ته حَدِیْثًا ج خبره چه تحریم د ماریه دے یا عسل دی یا خلافت د شیخینو
دے چه حفصے رض خوئ خپل ته ویلی وو او خوئ ئے وعائشے رض ته ووے او عائشے رض بنکاره کړه

داراز فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ پس هغه وخت چه خبر ورکړهٔ حفصه رض وعائشه رض ته په هغه خبره وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ او ښکاره کړهٔ خدائ تعالیٰ پیغمبر خپل ته او خبرے کړو عَلَيْهِ په اظهارد هغه خبر له حفصه رض نه عَرَّفَ بیژندلے ورنکے کړه پیغمبر حفصه او خبرے کړه بَعْضَهٗ بعضے له هغو نه یعنی فلانکۍ خبره ما تاته ویلے وه او تا هغه ظاهره کړه یعنی قصه د تحریم د ماریے وَ اَعْرَضَ او اعراض وکړو رسول الله ﷺ عَنْ بَعْضٍ ج له بعضو نورو نه یعنی خلافت د شیخینو نه مراد دے دا دے چه حضرت ﷺ قهرونهٔ کړو باوجود دے چه حفصے رض واوره خبرے د حضرت ظاهرے کړے وے فَلَمَّا نَبَّاَهَا پس هغه وخت چه خبر کړه پیغمبر ﷺ حفصه رض بِهٖ په هغه خدائ دے خبر کړے وو قالت ووے حفصه رض چه مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ط چا خبر کړے ته په دے چه ما راز ښکاره کړے دے قَالَ ووے حضرت ﷺ نَبَّاَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۳﴾ خبر کړم زهٔ صاحب د دانائۍ په پټو د زړونو باندے له پټ رازونو اِنْ تَتُوْبَآ که چرے توبه وباسئ اے حفصے او عائشے او وجاروزئ اِلَى اللّٰهِ وخدائ ته او په اراده زړهٔ د حضرت طیار نشئ تاسے لره به بهتروی فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ج پس په تحقیق چه مات شوی دی زړونه ستاسے له نیک کارونو نه چه ساتنه د خبرے نهٔ کوی وَاِنْ تَظٰهَرَا او که چرے تاسے مددګاری وکړئ په مینځ خپل کښ عَلَيْهِ په خفه کولو د زړهٔ د حضرت باندے فَاِنَّ اللّٰهَ پس په تحقیق چه خدائ تعالیٰ هُوَ مَوْلٰىهُ هغه یار او مددګار د هغه دے یعنی د پیغمبر ﷺ دی او هغه سره مدد به وکاندی وَجِبْرِيْلُ او جبریل ؑ یار د هغهٔ دے او مددګاری به په ځائ وکه وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ج او نیک له مؤمنانو مددګار د هٔ دی وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ ﴿۴﴾ او ټولے فرښتے د اسمان او د زمکے هم له ده سره دی چه خدائ او جبریل او صحابه مددګونکی د دهٔ دی. په یو قول سره مراد ترے صدیق رض او فاروق رض چه پلار د عائشے او د حفصے دے او مددګاران د حضرت ﷺ چه رضا د هغه کوی نه د خپلو لونړو او مجاهد ویلی دی چه صالح المؤمنین مرتضیٰ علی رض دے او فرښتے د اسمان او د زمکے دی باوجود د خدائ تعالیٰ او د جبریل ؑ او د صحابه رض چه یاران د هغه دی او مددګاران دی د پاره د هغهٔ

عَسٰى رَبُّهٗٓ نباتی چه پرور دګار دهغهٔ اِنْ طَلَّقَكُنَّ کهٔ طلاق درکاندی تاسے لره دا پرول
د بیبیانو دی او نصیحت کول دی ورته فرضًا طلاق درکاندے اَنْ يُّبْدِلَهٗٓ نو هغهٔ لره به بدل
ورکاندی خدائ تعالیٰ اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ ښځې بهترے له تاسے نه دا اخبار دے له قدرته
نه لکن چه خدائ تعالیٰ لری یعنی طلاق به درکاندی پس تعریف دهغه ښځو کوئ مُسْلِمٰتٍ
مُّؤْمِنٰتٍ اقرار کوونکے په وحدانیت بانده یا غاړه ایخوودونکے په حکم یا باورکونکے قٰنِتٰتٍ
نماز ګذاروونکے یا فرمانبردارے تٰٓئِبٰتٍ جاروتلے له ګناهونو نه یا رجوع کوونکے په درګاه
د پرور دګار کښ په نیکئ سره عٰبِدٰتٍ عبادت کونکے یا حضوع کوونکے سٰٓئِحٰتٍ روژه دارے
ثَيِّبٰتٍ خښتنان لیدونکے وَّاَبْكَارًا ۵ او پیغلے بکرے ابن عباس رض فرمایلی دی چه
ثیبه آسیه ښځه دفرعون ده او باکره مورد مهر عیسٰی ده چه حق تعالیٰ فرمایلی دی چه
دواړه ښځے دحضرت صلی الله علیه وسلم په جنت کښ به وی يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے ټولیه
دمؤمنانو قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وساتئ ځانونه خپل په ترک دمعاصیو سره وَاَهْلِيْكُمْ اوقبیله او
خامن خپل په مواعظت او نصیحت سره نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ له اوره چه بالنړ دهغهٔ یعنی
اورلګونکی او خاشاک دهغهٔ سړی به یعنی کافران له جن اوله انس وَالْحِجَارَةُ او کاڼړی
چه په سول کښ زیاتوی یا بتان دکافرانو چه کافرانو په خدائ نیولی دی یا خزانه له سرو
له سپینو زرو دا حبارو او راهبانو چه اصل ددیو کاڼړی دی عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ په اور
بانده فرښتے دی موکل غِلَاظٌ شِدَادٌ شدا د سخت او خبرے سختے کونکے او سخت کارا
ترهغه پورے کهٔ دوزخی ورسره جنګ وکاندی له دوئ به خلاص نشی لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ بے
فرمانی نهٔ کوی خدائ تعالیٰ لره مَآ اَمَرَهُمْ هغه چه وائی ودوئ ته یعنی په رشوتونو
نهٔ غلیږی ددے دپاره چه ګڼړی مخالفت له حکمه وکاندے وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ۶
او کوی هغه چه فرمان وشی په دوئ بانده له خدائ تعالیٰ په تبیان کښ ئے راوړی دی چه
لذت د فرښتو په عذاب دکافرانو سره هسے دے لکه لذت په جنت کښ په نعمتونو سره
هرکله چه کافرانو لره په غاړه ددوزخ راولی دوئ به عذر کوی دپاره دخلاصید نے حقتعالیٰ

به فرښتو ته وائی يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اے هغه کسانو چه کافر شوی یئ لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ط
عذر مهٔ کوئ نن ورځ چه عذر قبول به نشی او فائده هیڅ به بیا نهٔ مومی اِنَّمَا تُجْزَوْنَ بے له
دے نه بله نهٔ ده چه جزا به درکولے شی تاسے لره مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑦ هغه څیز چه په ع
دنیا کښی موکاوو يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړیدے تُوْبُوْٓا
اِلَى اللّٰهِ وجاروزئ وخدائ ته تَوْبَةً نَّصُوْحًا ط جاروتل خالص یعنی توبه وکانړئ له
تمام ګناهونو. معاذ بن جبل رض فرمایلی دی چه توبه نصوحا داده چه تائب بیا ګناه ونهٔ کا
لکه شوے ده تړے نه اوبیا بیرته ونه ګرځی. اوحسن بصری رح ویلی دی چه توبه د
نصوح دوه رکن لری چه اول نیت وکاندی په پښیمانی باندے بیا نیت وکاندی په
ترك د ګناه باندے عَسٰى رَبُّكُمْ بنائی چه پروردګار ستاسے هر کله چه توبه وکانړئ اَنْ يُّكَفِّرَ
عَنْكُمْ چه ورژوی له تاسے نه سَيِّاٰتِكُمْ ګناهونه ستاسے وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ اوننه باسی
تاسے لره په باغونوکښی چه همیشه تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لا ځی تړے لاندے دونو او د
کورونوئ ولے بهیدونکے دانئوتل کله به وی يَوْمَ لَا يُخْزِى اللّٰهُ النَّبِىَّ په هغه ورځ
چه هیڅ کله به نهٔ کاندی خدائی تعالیٰ پیغمبر ع یعنی نهٔ نفس د هغهٔ لره به عذاب ورکاندِ اونهٔ
شفاعت د هغه به رد کاندی وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ج اورسوا به نه کاندی هغو لره چه
ایمان ئے راوړے دے په دهٔ سره نُوْرُهُمْ نور د دوئ یعنی هغه نور چه خدائ تعالیٰ به
په مومنانو باندے عطا کړے دے زغلی او وزی به بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ د وړاندے د دوئ
وَبِاَيْمَانِهِمْ اوپه ښی پلَو د دوئ په هغه وخت چه په پل صراط تیریږی او په هغه وخت
چه منافقان به بے نوره شی يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ وائی به مؤمنان چه اے ربه ځمونږه اَتْمِمْ لَنَا
تمام کړه په مؤمنانو باندے نُوْرَنَا نور ځمونږه یعنی باقی لره مونږه سلامت چه په
پل صراط تیرشو وَاغْفِرْ لَنَا ج او وبخښه مونږه یعنی له تیروشیو ګناهونو موپاك کړه
اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ په تحقیق چه تهٔ په وارو څیزونو له تمامولو نورو او له مغفرته قَدِيْرٌ ⑧
قادرئے يَاَيُّهَا النَّبِىُّ اے پیغمبر خبر کونکیه په بلندئ د مرتبه سره جَاهِدِ الْكُفَّارَ جهاد

وکړه له کافرانو سره په توره. وَالْمُنٰفِقِیْنَ او له منافقانو سره وَاَغْلُظْ عَلَیْهِمْ ط او سختی یکار
کړه په دوئ باندے یعنی په دواړو ئی لیو باندے وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ط او ځای د دوئ
دوزخ ته دی وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ﴿۹﴾ او بد ځای د جاروتو د دوئ دے ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا بیان
کړے دے خدائ تعالیٰ مثال لِّلَّذِیْنَ کَفَرُوْا د پاره د هغو چه کافران دی امْرَاَتَ نُوْحٍ
ښځه د مهتر نوح علیه السلام چه واعله نومے وو وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ط او ښځه د مهتر
لوط علیه السلام چه نوم د هغې واهله وو کَانَتَا وے دا دواړه ښځے تَحْتَ عَبْدَیْنِ لاندے د حکم
د دواړو بندګانو مِنْ عِبَادِنَا له بندګانو ځمونږه صَالِحَیْنِ ښائسته فَخَانَتٰهُمَا پس
خیانت وکړو دواړو ښځو په هغه دواړو بندګانو باندے په نفاق سره ښځے د مهتر نوح ۴
قوم د دهٔ ته ئے ووے چه دیوانه دے او دارنګے ښځے د لوط ۴ چه قوم به ئے په میلمانه باندے
خبراوو فَلَمْ یُغْنِیَا عَنْهُمَا پس بیرته نهٔ کړه هغه دواړو پیغمبرانو له هغو دواړو ښځو نه
مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا له عذابه د خدائ تعالیٰ هیڅ څیز ښځه د مهتر نوح ۴ غرقه شوه په
طوفان سره او د ښځے د مهتر لوط ۴ په سر کانړی وریدل وَّقِیْلَ ادْخُلَا النَّارَ او وبه ویلے
شی په ورځ د قیامت واهله ته او واعله ته چه ننوزی په دوزخ کښې مَعَ الدّٰخِلِیْنَ ﴿۱۰﴾ له
ننوتونکیو سره یعنی له کافرانو سره حاصل د مثال دا دے چه کافران په عذابوی او
هغه نسبت د دے ښځو او د پیغمبرانو ترمینځ چه دے باوجود د هغه ئے هیڅ فائده ئے
ونهٔ کړو وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا او بیان کړے دے خدائ تعالیٰ مثال لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا د پاره
د هغو چه مؤمنان دی امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ مر او هغه مثال د ښځے د فرعون دے یعنی آسیه
لور د مزاحم اِذْ قَالَتْ هر کله چه ووے رَبِّ ابْنِ لِیْ اے پروردګاره ځما بنا کړه ماله
عِنْدَكَ په نزد د خپل بَیْتًا کور فِی الْجَنَّةِ په جنت کښې د پاره د دے چه آسان شی
په ما باندے عذاب د فرعون. راوړی دی چه هر کله آسیه ایمان راوړه فرعون ووے
چارمیخه ئے کړئ او په نمر کښې ئے وغورځوئ حق سبحانه وتعالیٰ فرښتو ته حکم وکړو چه
په ځانګو سره سورے پرے وکړئ او فرعون ووے چه یو کانړے لوئے په سینه ئے کیږدئ

آسیه دُعا وکړه څښتنه مالره کور په جنت کښې جوړکړه وَنَجِّنِیْ اوخلاصه کړه ما. مِنْ فِرْعَوْنَ له فرعون وَعَمَلِهٖ او له کرداره دفرعون یعنی هغه عذاب چه په ما باندے کوی. وَنَجِّنِیْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۱﴾ او بناه راکړے مالره له ټولی دظالمانو نه چه تابعان دفرعون دی حق سبحانهٗ وتعالیٰ دُعا دهغے قبوله کړه. جواب له مینځه ئے واخست اوکور دهغے ته ئے وخوده او روح دهغے ئے قبض کړهٔ اوپه ډیرو تفسیرونوکښې ئے راوړی دی چه حق سبحانهٗ وتعالیٰ په جنت کښې داخله کړه له صورت خپل سره. اوحاصل ددے مثال دادے چه باوجود دایمان او اتصال دهغے له کافرانوسره هیڅ ضرر ورته ونهٔ شه. مثال دے د پاره دازواجو طاهراتو دحضرت صلی الله علیه وسلم او دواړو مؤمنانو. وَمَرْیَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ اومریم چه لور دعمران ده الَّتِیْٓ اَحْصَنَتْ هغه ښځه ده چه نکاح ئے نهٔ وه کړے لرلے دے. فَرْجَهَا لمن خپل له حرام له فواحشه فَنَفَخْنَا فِیْهِ مِنْ رُّوْحِنَا پس پوه کړهٔ مونږ په ګریوان دهغے کښې له روحه چه پیدا کړے وو مونږ ه وَصَدَّقَتْ او باور لاره مریمؑ او ایمان ئے راوړهٔ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا په خبرو د پروردګار خپل یعنی په صحیفو کوزے شویو مخوا له انجیل یا په وعدے چه جبریل له خدائی په دے راوړے ووچه لاهب لک غلما زکیا. وَكُتُبِهٖ اوپه کتابونو د خدائی تعالیٰ باندے یعنی په انجیل یا په هغه چه خدائی تعالیٰ ښکلی وو په لوح محفوظ له قصے دهغے او له خُوئی نه. او امام حفص په جمع سره لولی مراد ترے واړه کتابونه دی دپروردګار. وَكَانَتْ اوده دامریم مِنَ الْقٰنِتِیْنَ ﴿۱۲﴾ له فرمان بردارانونه او یا له همیشه والی کونکیو نه په وظائفو دعباداتو باندے او تذکیر د پاره د تغلیب دے او خونه ددے ده چه مریمؓ په طاعت کښې له مردانو کاملو وه او په حدیث کښې راوړی دی چه له مردانو نه ډیره کمالیت ته رسیدلے وه او له ښځو هیڅ یوٰنهٔ ده رسیدلے مګر مریمؓ لور دعمران او آسیه رضی الله تعالیٰ عنها ښځه د فرعون.



سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّة ۶۷　　بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ　　اٰيَاتُهَا ۳۰　　رُكُوْعَاتُهَا ۲

تَبٰرَكَ بزرګ او بلند تر دے او ثابت دے په دوام الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ ز هغه خدائ
چه په لاس د قدرت کښ ئے بادشاهی ده نو هر څه چه غواړی، هغه کوی وَهُوَ عَلٰی
كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرُنِ ⑴ او هغه په هر څیز باندے له اندازو او له نعمتونو توانا دے الَّذِیْ
خَلَقَ الْمَوْتَ خدائ هغه ذات دے چه پیدا کړے دے خدائ مرګ. دغه الذی خبر د
مبتدا محذوف دے نو تقدیر ئے داشهٔ چه هو الّذی. وَالْحَیٰوةَ او پیدا کړے دے ده ژوندون
یعنی پیدا کړے دے خدائ مرګ د خلقو په دنیا کښ او ژوند ئے په آخرت کښ او بعضو
ویلی دی چه مراد له موته دنیا ده او له حیوته آخرت دے. نو معنیٰ ئے دا سے شوه چه دنیا
او آخرت ئے پیدا کړه لِیَبْلُوَكُمْ د پاره د دے چه ازمینت وکه دے په تاسو په دنیا
کښ اَیُّكُمْ یو له تاسو نه اَحْسَنُ بنه اخلاص مند دے عَمَلًا ط له جهته د عمله یعنی
کوم له تاسو څخه کار نیک بے ریا کوی وَهُوَ الْعَزِیْزُ او هغه خدائ غالب دے په انتقام
اخستلو کښ له عاصی نه الْغَفُوْرُ ⑵ او بخښونکے دے توبه ایستونکیو لره الَّذِیْ خَلَقَ
هغه خدائ چه پیدا کړی دی ده سَبْعَ سَمٰوٰتٍ اوه اسمانونه طِبَاقًا ط طبقے طبقے. یعنی
بعضے له دوئ پاس په بعضو باندے مَا تَرٰی و به نهٔ وینے ته اے لیدونکیه. فِیْ
خَلْقِ الرَّحْمٰنِ په پیدا و ښت د خدائ کښ چه اسمانونه دی، او که نور څهٔ څیزونه دی
مِنْ تَفٰوُتٍ ط هیڅ خلل او عیب (نو لفظ د مِنْ ترے زائده دے او چا ویلی دی چه بیان
د ما ترای دے پس معنیٰ ئے دا سے شوه چه له هیڅ خلل او عیبه) فَارْجِعِ الْبَصَرَ لا پس وګرځوه
سترګے اسمان ته چه په ده کښ. هَلْ تَرٰی ایا وینے ته مِنْ فُطُوْرٍ ⑶ څیری والے. ثُمَّ
ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَیْنِ پس بیا وګرځوه ته دویم ځله سترګے یعنی که په یو نظر سره تا ته
معلوم نشی عیب په اسمان کښ نو دویم ځله ورته وګوره او جواب د امر دا دے یَنْقَلِبْ بیرته
به وګرځی اِلَیْكَ الْبَصَرُ تا ته سترګے ستا خَاسِئًا په دے حال کښ چه خوار شوے به

وی دغه نظر د موند لو د عیبه وَّهُوَ حَسِیْرٌ ﴿۴﴾ او هغه به ستومانه وی له ډېره نظره او یا
له لید لو د عیب ځکه که ډېر نظر وکړ هیڅ عیب به پکښې ونه وینې وَلَقَدْ زَیَّنَّا او په تحقیق سره
ښائسته کړې دې مونږه السَّمَآءَ الدُّنْیَا آسمان نزدې زمکې ته بِمَصَابِیْحَ په چراغونو سره
چه هغه ستورې دی وَجَعَلْنٰهَا او گرځولی دی مونږه دغه ستوري لره رُجُوْمًا لِّلشَّیٰطِیْنِ
ویشتونکی شیطانانو لره یعنی هر کله چه دوی قصد د آوریدلو د خبرو د ملائکو وکړي نو
یوه شعله له ستورو جدا شی پس دوی پرې وسوزی او وشړلے شی ځکه چه ستورې
له خپله ځایه نه لرې کیږی وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ او تیار کړې دې مونږه شیطانانو لره پس
د سیزلو نه په دنیا کښې عَذَابَ السَّعِیْرِ ﴿۵﴾ عذاب د دوزخ په آخرت کښې وَلِلَّذِیْنَ
كَفَرُوْا او شته دې د پاره د هغه کسانو چه کافر شوی دی بِرَبِّهِمْ په خدائی خپل باندے
که شیطانان دی او که نور خلك عَذَابُ جَهَنَّمَ ط عذاب د دوزخ وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ﴿۶﴾ او
بد ځائی ذکر ځیدو دے دوزخ اِذَآ اُلْقُوْا په هغه وخت چه وغورځولے شی کافران
فِیْهَا په دوزخ کښې سَمِعُوْا لَهَا نو وابه وری دوی دوزخ له شَهِیْقًا آواز په مثل د آواز
د خر یعنی هر کله چه کافران دوزخ کښې وغورځولے شی نو دوزخ به فریاد وکا وَّهِیَ تَفُوْرُ ﴿۷﴾
او هغه به جوش کوی او کافران به لاندې باندې کوی لکه چه غوښې په دیگ کښې ویشیږی
تَكَادُ تَمَیَّزُ نزدې به وی چه توټے توټے شی دوزخ مِنَ الْغَیْظِ ط له قهر او غصے نه په
کافرانو كُلَّمَآ اُلْقِیَ هر وخت چه وغورځولے شی فِیْهَا فَوْجٌ په دوزخ کښې یو ټولے له
کافرانو سَاَلَهُمْ سوال به وکا له هغه ټولی نه خَزَنَتُهَآ خازنان د دوزخ د لسے چه اَلَمْ
یَاْتِكُمْ آیا نهٔ وو راغلی په دنیا کښې تاسو ته نَذِیْرٌ ﴿۸﴾ پیغمبران ویرونکی له عذاب
قَالُوْا بَلٰی وبه وائی کافران هو قَدْ جَآءَنَا نَذِیْرٌ ۵ لا په تحقیق سره راغلی وو مونږه لره
پیغمبران ویرونکی فَكَذَّبْنَا پس دروغ کړه مونږه د هغوئی په اُنْزِلَ او په اِرْسَال کښې
وَقُلْنَا او وویل مونږه هغوته داسے مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَیْءٍ ج چه نهٔ دے نازل کړے خدائے
په تاسو هیڅ څیز چه تاسو وایئ له وعده او له وعیده او له امر او له نهی او بل وویل

مونږه هغه پیغمبرانو ته دا سے چه اِنْ اَنْتُمْ نهٔ یئ تاسے اے رسولانو اِلَّا فِیْ ضَلٰلٍ كَبِیْرٍ ⑨ مګر یئ په خطایئ کښ ځکه چه سره له وجوده د بشریت دعوی د پیغمبریٔ کوی او بعضو ویلی دی چه دا خطاب د ملائکو دے کافرانو ته یعنی په جواب د کافرانو کښ به و وائی ملائکے ۔ نهٔ وئ تاسے په دنیا کښ مګر په ګمراهیٔ لویٔ کښ وَقَالُوْا او وبه وائی کافران لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ که چرے وے مونږه په دنیا کښ چه اوریدلی مو خبرے د پیغمبرانو اَوْ نَعْقِلُ یا مو عقل کړے وے په معانیو د خبرو د هغوئ کښ مَا كُنَّا نو نهٔ به وُو مونږه نن ورځ فِیْۤ اَصْحٰبِ السَّعِیْرِ ⑩ په ټولی داهل دوزخ کښ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ ۚ پس اقرار به وکا دویٔ په ګناه خپلے چه هغه تکذیب د پیغمبرانو دے فَسُحْقًا پس لرے والے به وی له رحمته خُما لِّاَصْحٰبِ السَّعِیْرِ ⑪ یارانو د دوزخ لره که اقرار کوی او که انکار ځکه چه په دغه وخت کښ اقرار به هیڅ فائده دوئ ته نهٔ رسوی اِنَّ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ په تحقیق سره هغه کسان چه ویریږی رَبَّهُمْ بِالْغَیْبِ له عذابه د خدائ خپله په پټه کښ یعنے چه علامے دویرے لکه ژړا او فریاد شهٔ له خلقو پټوی لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ نو دهٔ دغه کسانو لره بخښنه د ګناهونو وَّاَجْرٌ كَبِیْرٌ ⑫ او دهٔ دغو لره بله مزدوری لویه چه جنت دے **نظم**

هر څوك چه ویره کاندِ هغه مبارك بنده دے هغه — مهٔ ویریږئ زیرے د ویرے شته دے
هر څوك چه هوښیار نهٔ وی ویره کله کا کامله — خوف وخشیت خاصه د هوښیارانو ده عاقله
خدایه نصیب م ویریدل کړے بے حسابه — ویریدل سبب د خلاصی دے له عذابه

روایت دے چه هر کله مشرکان د مکے په سبب د فراخی د عیش سره مغرور شول نو په حق د پیغمبرؐ کښ ئے خبرے نا لائقے ویلے نو څو ځله خدائ تعالیٰ په نازلولو د ایتونو سره پردهٔ د ویلو د هغوئ نه پورته کړه پس دوئ یو تر بله داسے مصلحت وکړو داسے چه خبرے په حق د پیغمبر کښ پټے وایئ ځکه چه خدائ تعالیٰ د هغه ئے وانه وری او محمدؐ پرے خبر نهٔ کړی نو دا مخکښ ایت نازل شهٔ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ که پټوئ اے اهل د مکے خبرے خپلے چه په حق د محمدؐ کښ ئے وایئ اَوِاجْهَرُوْا بِهٖ ؕ او که ښکاره کوئ هغه خبرے یعنے

اسرار او جهار د قول په نزد د خدای تعالیٰ برابر دے حُکه چه اِنَّهٗ بے شکه چه خدای تعالیٰ عَلِیۡمٌۢ پوهه دے بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۱۳﴾ په هر خیز چه په سینو د خلقو کښ وی پخواله بنکاره کولو نه په ژبه نو ... خرنګه به پوهه نه وی په هغه خیز چه قول وکړئ تاسو پرے اَلَا یَعۡلَمُ ایا نهٔ پوهیږی په هغه اسرارو چه په زړونو کښ دی مَنۡ خَلَقَ ط هغه څوک چه پیدا کړی ئے دی یه قدرت خپل سره زړونه بلکه پوهیږی وَهُوَ اللَّطِیۡفُ او حال دا دے چه هغه پوهه دے په باطن د خیزونو الۡخَبِیۡرُ ﴿۱۴﴾ او خبردار دے په ظاهر د موجوداتو هُوَ الَّذِیۡ جَعَلَ خدای هغه ذات دے چه ګرځولے ده دهٔ لَکُمُ الۡاَرۡضَ تاسو لره زمکه ذَلُوۡلًا نرمه او اسانه د پاره د تللو پرے باندے فَامۡشُوۡا فِیۡ مَنَاکِبِهَا یسی ځئ تاسے په اطرافو د زمکه کښ وَکُلُوۡا مِنۡ رِّزۡقِهٖ ط او خورئ له روزئ حلالے د خدای چه تاسو لره ئے مقرر کړے ده په زمکه کښ وَاِلَیۡهِ النُّشُوۡرُ ﴿۱۵﴾ او خدای ته ده رجوع ستاسے او پورته کیدل له قبرونو پس خدای سوال کونکے دے تاسو نه د شکر په هغه خیزونو چه انعام ئے کړے دے په تاسو روایت دے چه کفارو داګمان کولو چه خدای په اسمان کښ دے او رحمت او عذاب د واړه له دهٔ نه نا لیږی پس وویلے شو دوئ ته موافق د اعتقاد د دوئ سره ءَاَمِنۡتُمۡ ایا په امان او بے غمه یئ تاسے اے کافرانو مَّنۡ فِی السَّمَآءِ له هغه چانه چه په اسمان کښ دے په ګمان ستاسو سره د دے نه اَنۡ یَّخۡسِفَ بِکُمُ الۡاَرۡضَ چه ننکته کړی تاسو لره په زمکه کښ فَاِذَا هِیَ پس هغه وخت زمکه پس له ننکته کیدلو ستاسو نه په هغے کښ تَمُوۡرُ ﴿۱۶﴾ لا وکرځی او هواره شی په تاسے باندے اَمۡ اَمِنۡتُمۡ ایا په امان او بے غمه شوئ تاسے مَّنۡ فِی السَّمَآءِ له هغه ذات چه په اسمان کښ قهر او قدرت د هغهٔ دے اَنۡ یُّرۡسِلَ عَلَیۡکُمۡ چه ولیږی په تاسے باندے (ان یرسل بدل دے له من فی السماء نه او همدارنګه ان یخسف بدل دے له من فی السماء نه) حَاصِبًا ط باد چه ولی تاسے په سنګریزو سره لکه چه په قوم د لوط ؑ باندے فَسَتَعۡلَمُوۡنَ پس زر دے چه پوهه به شئ تاسے پس له لیدلو د عذاب په اخرت کښ چه کَیۡفَ نَذِیۡرِ ﴿۱۷﴾

خرنګه وو ویرول ځما په عذاب سره نو دغه بوهه به تاسو ته په دغه وخت کښې هیڅ فائده
ونهٔ رسوی وَلَقَدۡ كَذَّبَ الَّذِیۡنَ او په تحقیق سره تکذیب کړے وو پیغمبرانو خپلو لره هغه کسانو چه وو
مِنۡ قَبۡلِهِمۡ وړاندے د کفارو د دے زمانے نه فَكَیۡفَ كَانَ نَكِیۡرِ ⑱ پس خرنګه وو په هغوئ
عذاب ځما اَوَلَمۡ یَرَوۡا آیا نهٔ ګوری دوئ اِلَی الطَّیۡرِ مارغانو ته فَوۡقَهُمۡ پورته د سرونو
خپلو په هغوا کښې صٰٓفّٰتٍ پرانستے وزرے وَّیَقۡبِضۡنَ ط او ټولوی وزرونه خپل له اړخونو
سره مَا یُمۡسِكُهُنَّ نهٔ ساتی دوئ لره له پریوتلو نه په حال د قبض او د بسط کښې اِلَّا الرَّحۡمٰنُ ط
مګر خدائ په قدرت خپل سره اِنَّهٗ بِكُلِّ شَیۡءٍۭ بَصِیۡرٌ ⑲ په تحقیق سره خدائ په هر
څیز باندے بینا دے اَمَّنۡ هٰذَا الَّذِیۡ آیا څوك دے هغه کس هُوَ جُنۡدٌ لَّكُمۡ چه هغه
مددګار شی تاسے لره یَنۡصُرُكُمۡ هسے مددګار چه مدد وکا له تاسے سره مِّنۡ دُوۡنِ
الرَّحۡمٰنِ ط بغیر له خدائ چه دفع کاله تاسو نه عذاب د دهٔ یعنی نشته مددګار
تاسو لره بغیر د خدائ اِنِ الۡكٰفِرُوۡنَ نه دی کافران اِلَّا فِیۡ غُرُوۡرٍ ⑳ ج مګر په فریب د
شیطان کښې دی چه وائی دوئ ته تاسے لره عذاب نشته . اَمَّنۡ هٰذَا الَّذِیۡ آیا څوك دے
هغه یَرۡزُقُكُمۡ چه روزی به درکړی تاسے لره اِنۡ اَمۡسَكَ كه چرے منع کړی خدائ رِزۡقَهٗ ج
روزی خپله په بندولو د باران سره ! وجواب د شرط محذوف دے چه فمن یرزقکم دے
یعنی پس څوك دے هغه چه روزی به درکړی تاسے لره - نو کافران پوهیږی چه خالق او
رازق خدائ دے پس کفر د دوئ نه دے له جهل بَلۡ لَّجُّوۡا بلکه محکم شوی دی دوئ
فِیۡ عُتُوٍّ په ګردن کشئ کښې له عناده وَّنُفُوۡرٍ ㉑ او تیښته کښې دی له حقه پس بیان کړ
خدائ تعالیٰ مثال کافر او مؤمن لره نو وے ویل اَفَمَنۡ یَّمۡشِیۡ آیا پس هغه څوك چه ځی
مُكِبًّا عَلٰی وَجۡهِهٖۤ نسکور په مخ خپل باندے او وړاندے وروستو بښے او کیڼ خپل نهٔ وینی
اَهۡدٰۤی دے بنه لاره موندونکے دے اَمَّنۡ یَّمۡشِیۡ سَوِیًّا او که هغه څوك چه ځی د برابر او ولاړ
چه ټول اطراف خپل وینی عَلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ ㉒ په لارے سمے چه رسونکے ده مقصود
ته یعنی کافر ګمراه او مومن لاره موندونکے برابر نهٔ دی او چا ویلی دی مراد له مُكِبّ نه

ابوجهل دے او د سوری نه پیغمبر دے نو ایت خاصه شهٔ او بنا په قول اول سره عام دے تنبیه
خبر د مَنْ اول اهدیٰ دے او خبر د مَنْ دوئم محذوف دے دلالت کوی پرے خبر د اول۔ رباعی
فرق دے په میان د هغه چا کښی چه په یقین۔ په سترګو وو بنا نو سره ځی په لاره کښی د دین
سره د هغه چا چه وی دواړه سترګے ترلے۔ هر طرف ته ځی په ګمان او په تخمین
قُلْ ووایه اے محمد صلے الله علیه وسلم مشرکانو ته چه هُوَ الَّذِیٓ خدائی هغه ذات دے چه په
قدرت کامله سره اَنْشَاَكُمْ پیدا کړی یئ هغه تاسے په ابتداء کښی وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ او پیدا
کړی دی هغه تاسو لره غوږونه د پاره د اوریدلو د حق وَالْاَبْصَارَ او پیدا کړے ئے دی سترګے
د پاره د لیدلو د دلائلو د قدرت وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ او پیدا کړے ئے دی زړونه د پاره د فکر په
مصنوعاتو د خدائی کښی ف خاص کړل خدائی د غه درے څیزونه ځکه چه الات د علم هم دوئ
دی قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۳﴾ لږ شکر وایئ د غه نعمتونو لره ځکه چه شریکوئ له خدائی
سره په عبادت کښی بتان او خاص خدائی لره ئے نه کوئ او بعضو ویلی دی چه
قلیل په معنیٰ د عدم دے نو معنیٰ د اسے شوه چه نهٔ کوی شکر قُلْ هُوَ الَّذِیْ ووایه
خدائی هغه ذات دے چه پس له پیدا کولو ستاسو نه ذَرَاَكُمْ پراګنده ئے کړئ تاسے فِی
الْاَرْضِ په زمکه کښی د پاره د عبادت کولو وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ او خاص خدائی ته به
جمع شی تاسو په ورځ د قیامت د پاره د حساب او د جزا وَيَقُوْلُوْنَ او وائی مشرکان
پیغمبر او یارانو د ده ته چه مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ کله به وی د غه وعده د حشر اِنْ كُنْتُمْ
صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ که چرے یئ تاسے رښتینی په د غه ویلو کښی نو مونږ ه پوهه کړئ په زمانه
د قیامت قُلْ ووایه په جواب کښی دوئ ته اِنَّمَا الْعِلْمُ په تحقیق سره پوهه په زمانه د راتلو
د قیامت سره عِنْدَ اللّٰهِ ص په نزد د خدائی ده او بل هیچا له خبر نهٔ دے وَاِنَّمَآ اَنَا او په
تحقیق سره زهٔ چه یم نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۶﴾ ویرونکے یم ظاهر یعنی په راتلو د قیامت سره
ویروم تاسے او په وخت ئے خبر نهٔ یم فَلَمَّا رَاَوْهُ پس هر کله چه ووینی دوئ د غه عذاب
موعوده زُلْفَةً نزدے خیل نو سِيْٓـَٔتْ تور به شی له جهته د غمه او یا تور به کړی د غه عذاب

وُجُوۡهُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مخو نه دهغه کسانوچه کافرشوی دی وَقِیۡلَ او وبه ویلے شی یعنی خازنان
د دوزخ به وائی دوئ ته هٰذَا الَّذِیۡ کُنۡتُمۡ بِهٖ دا عذاب هغه دے چه وئ تاسے په دنیا
کښ دے ته مونتَدَّعُوۡنَ ﴿۲۷﴾ ارزواو تلوار کوله روایت دے چه همیشه به کافرانو
ارزو د مرګ د رسول کریم صلی الله علیه وسلم او د اصحابو کوله یعنی ویل به ئے چه دے او
اصحاب د دهٔ مړهٔ شی نو مونږه به ترے خلاص شو نو خدای پیغمبر ته خپل ته و ویل چه
قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ ووایه ته دوئ ته چه خبر کړئ تاسے ما لره اِنۡ اَهۡلَکَنِیَ اللّٰهُ که چرے مړ
کړی خدائ ما لره وَمَنۡ مَّعِیَ او هغوئ لره چه ماسره دی له مؤمنا نو اَوۡ رَحِمَنَا ۙ او یا رحمت
وکړی خدائ په مونږه په دراز کولو د اجل فَمَنۡ یُّجِیۡرُ الۡکٰفِرِیۡنَ پس څوك دے هغه چه
خلاص کړی کافرانو لره مِنۡ عَذَابٍ اَلِیۡمٍ ﴿۲۸﴾ له عذاب درد ناك نه یعنی مرګ ځما تاسے
ته فائده نهٔ کوی او ژوند ځما هم له تاسو نه عذاب نهٔ دفع کوی بلکه خلاصوی
تاسے لره له عذابه توحید او ایمان پس انتظار ستاسے مرګ ځما ته هیڅ سود نهٔ رسوی
تاسے ته قُلۡ ووایه ته دوئ ته چه هغه څوك چه ایمان پرے سبب د خلاصی دے
هُوَ الرَّحۡمٰنُ هغه دے خدائ بخښونکے اٰمَنَّا بِهٖ ایمان راوړے دے مونږه په هغه وَ
عَلَیۡهِ تَوَکَّلۡنَا ج او په هغه باندے توکل کړے دے مونږه فَسَتَعۡلَمُوۡنَ پس زر دے چه
پوهـ به شئ تاسے په وخت د لیدلو د عذاب کښ چه مَنۡ هُوَ څوك دے له مونږه او لـه
تاسو نه چه وی هغه فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۲۹﴾ په ګمراهئ ظاهره کښ قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ ووایه
اے پیغمبره ته دوئ ته چه خبر کړئ ما لره اِنۡ اَصۡبَحَ که چرے وګرځی مَآؤُکُمۡ اوبهٔ
ستاسے یعنی اوبه د زمزم یا اوبه د بیر میمون حضرمی یا اوبه د چینو او د کوهیو غَوۡرًا
ښکته زمکے ته چه بوقه او رسئ ورته نهٔ رسیږی فَمَنۡ یَّاۡتِیۡکُمۡ پس څوك دے هغه چه راوړی
تاسے بِمَآءٍ مَّعِیۡنٍ ع ﴿۳۰﴾ او به جاری یا ظاهرے داسے چه هر څوك ئے وینی یعنی هیڅوك به را نهٔ ع۲
وړی او به بغیر له خدائ نو ولے انکار کوئ تاسے له قیامت په حدیث کښ راغلی دی
چه پس له ویلو د دے ایت باندے دی چه قاری دِ وائی الله ربنا و رب العلمین. روایت

دے چہ پر زندیق دا آیت واؤریدۂ نو وے ویل چہ پہ قوم او پہ مدد کاری د خلقو سرہ بہ او بۂ را ورے شی نو د شپے چہ اودۂ شۂ پہ دواړو سترګو ړوند شۂ نو هاتف ورته آواز وکړو چہ او بۂ د سترګو دِ پہ یوم او پہ مدد د خلقو سرہ راوړہ نعوذ باللّٰہ من الجرأت علی اللّٰہ و علی اٰیٰتہٖ - او پہ حدیث کښی دی - اِن سورۃً من الکتٰب ماھی الاثلٰثون اٰیۃً شفعت لرجلٍ فاخرجتہ یوم القیٰمۃ من النار وادخلتہ الجنۃ وھی سورۃ تبٰرک ؛

سُوْرَةُ القلم ۶۸ مکیۃ ۲ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰیاتھا ۵۲ رکوعھا ۲

نٓ علماؤ پہ دے کښی ډیرے خبرے کړی دی نو چا ویلی دی دا اول حرف دے لہ حرفونو د اسماءِ الٰہی څخہ چہ نور او ناصر دے او چا ویلی دی دا آخر حرف دے د رحمٰن او چا ویلی دی دا اسم د سورۃ دے یا اسم د ولیؒ دے پہ جنت کښی او چا ویلی دی قسم یاد کړیدے خدائ پہ نصرت مؤمنانو لرہ. او چا ویلی دی نامہ د ماھی دہ یا د جنس ماھی یا د هغے ماھی چہ زمکہ پہ شا د هغۂ پرته دہ. او چا ویلی دی نامہ د مشوانړئ دہ نو پہ دے تقدیر سرہ خدائ قسم یاد کړے دے پہ مشوانړئ باندے وَالْقَلَمِ او قسم دے پہ قلم اعلیٰ باندے چہ د نور دے او یا پہ هغہ قلم چہ لیکی پرے خلق ځکہ چہ پہ دۂ کښی نفعے او فائدے د دین او د دنیا ډیرے دی - وَمَا يَسْطُرُوْنَ ① او سوګند دے پہ هغہ څیز باندے چہ لیکی ئے ملائکے حفظہ لہ احکامو د وحی نہ او جواب د قسم دا دے چہ مَآ اَنْتَ نہ ئے تہ اے محمدؐ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ پہ سبب د نعمت د خدائ چہ پیغمبری دہ بِمَجْنُوْنٍ ② لیونے یعنی نفی د لیونتوب لہ تا نہ پہ سبب د انعام د خدائ ستادی پہ تا باندے چہ پیغمبری دہ او پہ دے کښی اشارت دے خبرے د ولید بن مغیرہ تہ چہ دۂ بہ محمدؐ تہ مجنون ویل نو خدائ تعالیٰ سوګند وکړو پہ نون او پہ قلم او پہ هغہ څیز چہ لیکی ئے ملائکے دا چہ ما انت بمجنون. یعنی پہ تحقیق سرہ نۂ ئے تہ لیونے ځکہ چہ انعام کړے دے رب پہ تا باندے وَاِنَّ لَكَ اَجْرًا او پہ تحقیق سرہ خاص تا لرہ خامخا ثواب دے پہ رانبکلو د بار

د نبوت سره او یا په صبر کولو د افتراء د کافرانو سره غَیْرَ مَمْنُوْنٍ ③ بې نهایت یعنې ثواب
دائمي چه هیڅکله نهٔ قطع کیږي وَ اِنَّكَ او په تحقیق سره چه ته لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِیْمٍ ④ په
دین لویٔ یې چه اسلام دے یا په خویونو لویو سره چه هغه بل چا لره نشته لکه صله د
رحم شوه او یا لکه عفو شوه هغه چا ته چه ظلم کوي په تا باندے او چا ویلي دي چه مراد له
خُلُق قران دے چه خدائ درکړے دے فَسَتُبْصِرُ پس زر دے چه وبه وینې ته اے محمد ﷺ وَ
یُبْصِرُوْنَ ⑤ او وبه وینې کافران د مکې چه عذاب برے راشي دا سے چه بِاَیِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ⑥
کوم یو دے له تاسو څخه لیونے کړے شوے پس بٓ زائده شوه پس زر دے چه پوهـ به شي دوئ
چه دیوانه ته یې او که دوئ . او چا ویلي دي مفتون مصدر دے لکه معقول نو
معنىٰ یې بِاَیِّكُمُ الْجُنُوْنُ شوه پس په دے تقدیر سره بٓ زائده نهٔ ده او چا ویلي دي چه بٓ
په معنىٰ د فِي ده نو معنىٰ فِيْ اَیِّكُمُ الْمَفْتُوْنَ شوه اِنَّ رَبَّكَ په تحقیق سره رب ستا چه دے
هُوَ اَعْلَمُ ښهٔ پوهـ دے بِمَنْ ضَلَّ په هغه چا چه ګمراه شوے دے عَنْ سَبِیْلِهٖ له لارے
د خدائ تعالیٰ یعنې لیونے په حقیقت کښې ګمراه وي له لارے سمے نه او په هغه باندے
خدائ ښهٔ پوهـ دے وَ هُوَ اَعْلَمُ او ښهٔ پوهـ دے بِالْمُهْتَدِیْنَ ⑦ په لاره موندونکیو باندے
چه مومنان دي روایت دے چه مشرکانو د مکې پیغمبر ﷺ دین د پلار انو خپلو ته بللو
او ورته یې ویل که ته میلان وکړے دین ځمونږ ته نو مونږ به طعنه ستا په دین
کښې نهٔ کوو نو خدائ منع کړه دے له منلو د فرمان د مشرکانو څخه دا سے چه فَلَا تُطِعِ
الْمُكَذِّبِیْنَ ⑧ پس فرمانبرداري مه د روغ ویونکو لره چه کافران د مکې بولي تا دین د
پلرونو ته وَ دُّوْا دوست لري مشرکان چه لَوْ تُدْهِنُ که نرمي کوے له دوئ سره او منع
نهٔ کړے دوئ په ترك د شرك سره فَیُدْهِنُوْنَ ⑨ پس دوئ به نرمي کوي په دین ستا
کښې په ترك د صعنه سره تنبیه لو مصدري دے او فیدهنون معطوف دے په تدهن
او که وګرځولے شي جواب د تمنۍ چه معلومیږي د وَدُّوْا څخه نو مقدر کولے شي پس له فَ
نه هُمْ یعنې فهم یُدْهنون وَ لَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ او فرمان مهٔ قبلوه هر سوګند خور

لره د روغ چه ولید بن مغیره دے په اصح روایت سره مَّهِيْنٍ ۝۱۰ هسے خلاف چه
سست فکری او بے مقدار دے هَمَّازٍ عیب ویونکے دے د خلقو پسے مَّشَّآءٍۢ بِنَمِيْمٍ ۝۱۱
کوشش کونکے دے په خبرو د فساد سره په مینځ د خلقو کښې مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ منع کونکے دے.
د مال په لاره د خدائ کښې او یا منع کونکے دے خلقو لره له ایمان مُعْتَدٍ سخت ظالم دے
اَثِيْمٍ ۝۱۲ ډیر ګنهګار دے عُتُلٍّۢ سخت ویونکے او بدخوی دے بَعْدَ ذٰلِكَ پس له دے ټولو
عیبونو ذکر شویو څخه زَنِيْمٍ ۝۱۳ حرام زاده دے چه پلار ئے معلوم نهٔ دے ځکه چه پس له
اتلسو کالو په ولید مغیره دعوٰی وکړه چه دے ځما ځوئ دے په تفسیر د امام زاهد رح
کښې راوړی دی چه هر کله رسول کریم صلی الله علیه وسلم په ټولی د قریشو کښې دا
ایت په ولید ولوست نو هر عیب چه حضرت ویلو ولید په خپل ځان کښې لیدهٔ مګر بے
له حرام زادګئ نه نو په زړهٔ کښې ئے وویلے چه پلار ځما مغیره سړے ښکاره دے او
پوهیږم چه محمد ؑ دروغ نهٔ وائی پس څنګه به دا کار معلوم کړم پس توره ئے وخکه او
مور له راغے نو په ویرولو ډیر و سره ئے مور و ویل چه پلار ستا نامرده وو او ورونړه ئے
منتظر وو میراث ته ـ نو ما لره کینه راغله غلام د یو سړی م په ځان باندے واچوو نو ته
پیدا شوے اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ۝۱۴ له دے جهته چه دے هغه خاوند د مال او د ځامنو
دروغ وائی په ایتونو څمونږه پورے اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا په هغه وخت کښې چه ولوستے
شی په دهٔ ایتونه د قران څمونږه قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝۱۵ وائی دے دا قصے دی
د پخوانو عالمو سَنَسِمُهٗ زر دے چه داغ به کیږدم هغهٔ لره عَلَى الْخُرْطُوْمِ ۝۱۶ په
پوزه د پاره د سپکوالی ئے نو په جنګ د بدر کښې پوزه ئے زخمی شوه او اثر ئے باقی وو
تر مرګه اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ په تحقیق سره موږ ازمیلی دے په قحط د غلے سره اهل د مکے
كَمَا بَلَوْنَآ لکه چه ازمیلی وو موږ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ۚ خاوندان د باغ د مروان په
هلاکید و د میوو سره روایت دے چه په اطرافو د صنعا کښې چه ولایت د یمن دے یو مرد
صالح لره باغ وو چه په ورځ د میوے شوکولو کښې فقیران به ئے بلل او لسمه حصه به ئے ورکوله

پس هر کله چه هغه وفات شه نو ځامنو ئے د ویل مال لږ دے او عیال حمونږ ډیر دے که مونږ
د پلار په شان کار وکړو نو مونږ به تنګ شو صبا چه فقیران خبر نه وی لاړ به شو او میوے
به راوړو او په دے خبره بیل بیل سوګند وکړو لکه چه خدائ تعالیٰ وائی اِذْ اَقْسَمُوْا یاد
کړه دوئ ته هغه چه سوګند وکړو وارثانو د مروان چه پټ له فقیرانو به لَیَصْرِمُنَّهَا
خامخا قطع کړو میوه د باغ مُصْبِحِیْنَ ﴿۱۷﴾ په وخت د صبا کښ چه فقیران خبر نهٔ شی.
وَلَا یَسْتَثْنُوْنَ ﴿۱۸﴾ او استثناء ئے و نهٔ کړه یعنی دا ئے و نهٔ ویل چه ان شآء الله تعالیٰ
فَطَافَ عَلَیْهَا پس نازل شهٔ په هغهٔ باندے طَآئِفٌ مِّنْ رَّبِّكَ بلا طواف کونکے له خدائے
ستا چه اور وو نو هغه ئے وسوځهٔ وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿۱۹﴾ او حال دا وو چه دوئ اودهٔ وو
فَاَصْبَحَتْ پس شهٔ باغ ئے په هغه پلا سره كَالصَّرِیْمِ ﴿۲۰﴾ لکه شپه توره یعنی پس له سوِلو
نه تور شهٔ او یا لکه صبا یعنی شهٔ هغه باغ لکه زمکه سپینه فَتَنَادَوْا پس ندا وکړه بعضو
له دوئ بعضو ته مُصْبِحِیْنَ ﴿۲۱﴾ په وخت د صبا کښ دا سے چه اَنِ اغْدُوْا عَلٰی حَرْثِكُمْ
صباحی کښت خپل ته اِنْ کُنْتُمْ صٰرِمِیْنَ ﴿۲۲﴾ که چرے یئ تاسے شوکونکی د میوے.
فَانْطَلَقُوْا پس لاړل دوئ باغ ته وَهُمْ یَتَخَافَتُوْنَ ﴿۲۳﴾ او دوئ خبرے نرمے ویلے چه څوک
خبر نهٔ شی دا سے چه اَنْ لَّا یَدْخُلَنَّهَا الْیَوْمَ رانهٔ شی باغ کښ نن ورځ عَلَیْکُمْ مِّسْکِیْنٌ ﴿۲۴﴾
په تاسے باندے فقیر وَّغَدَوْا عَلٰی حَرْدٍ او په صبا لاړل باغ ته په قصد د منع له فقیرانو
قٰدِرِیْنَ ﴿۲۵﴾ توانا په منع په ګمان خپل سره فَلَمَّا رَاَوْهَا پس هر کله چه ولیده دوئ هغه
باغ تور شوے نو قَالُوْا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿۲۶﴾ دوئ ویل یو تربله په تحقیق سره مونږ ورکه کړے
ده لار د هغه باغ ځکه چه حمونږ د باغ له میوو ډک وو نو فکر وکړهٔ او وے پیژندلو نو
وے ویل بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿۲۷﴾ بلکه مونږ بے حصے یو له میوے په سبب د منع حمونږ د
له فقیرانو قَالَ اَوْسَطُهُمْ وویل بهتر د دوئ په عقل کښ دا سے چه اَلَمْ اَقُلْ لَّکُمْ آیا نهٔ وو
ویلی ما تاسے ته پرون چه لَوْ لَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿۲۸﴾ ولے نهٔ یادوئ خدائ په لوئ سره
او توبه و باسئ له منع د فقیرانو نه او یا ولے استثناء په ان شآء الله تعالیٰ سره نهٔ وایئ نو قَالُوْا

وویل دوی سُبۡحٰنَ رَبِّنَآ پاکی ده خدای ځمونږه لره له ظلم په مونږه باندے بلکه اِنَّا كُنَّا
ظٰلِمِیۡنَ ﴿۲۹﴾ په تحقیق سره مونږه وو ظالمان په نفسونو خپلو باندے فَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى
بَعۡضٍ پس مخ کړه بعضوله دوی په بعضو چه یَّتَلَاوَمُوۡنَ ﴿۳۰﴾ ملامتیا ئے کوله یعنی یو بل لره
ئے ملامته کولو داسے چه دا فکر ستا وو هغه ویل ته پرے راضی ئے نو پس اقرار وکړو ټولو
قَالُوۡا یٰوَیۡلَنَاۤ وے ویل افسوس دے مونږه لره اِنَّا كُنَّا طٰغِیۡنَ ﴿۳۱﴾ په تحقیق سره مونږه
وو له حده تیر شوی په ګناه کښ له جهته د منع له فقیرانو او بل له جهته د ترك د استثناء نه
عَسٰى رَبُّنَاۤ امید دے له خدای ځمونږه داسے اَنۡ یُّبۡدِلَنَا چه بدل راکړی مونږه لره خَیۡرًا
مِّنۡهَاۤ غوره له دغه باغه په برکت د توبے او د اقرار سره اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا په تحقیق سره مونږ
رب خپل ته رٰغِبُوۡنَ ﴿۳۲﴾ طلب او رجوع کونکی یو پس خدای دوی ته یو باغ حیوان نوم
ورکهٔ كَذٰلِكَ په مثل د خاوندانو د باغ دے الۡعَذَابُ ط عذاب هغه چا لره چه مخالفت
کوی له امره ځمونږه په دنیا کښ وَلَعَذَابُ الۡاٰخِرَةِ اَكۡبَرُ م او خامخا عذاب د آخرت چه
دے لوئے زیات دے ځکه چه د دنیا عذاب لږ کیږی او د آخرت به همیشه وی لَوۡ كَانُوۡا
يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۳﴾ ع کهٔ چرے دوی پوهیدے په عذاب د آخرت نو د مخالفت د امره ځمونږه به ع ۲
ئے ځان ساتلے وے پس ذکر کړه خدای تعالیٰ هغه خیز چه دهٔ تخه دے مؤمنانو لره
نو وے ویل چه اِنَّ لِلۡمُتَّقِیۡنَ په تحقیق سره پرهیزګارانو لره دی عِنۡدَ رَبِّهِمۡ په نزد د خدای
د دوی په آخرت کښ جَنّٰتِ النَّعِیۡمِ ﴿۳۴﴾ باغونه د نعمتونو خالصو روایت دے
چه کافرانو وویل کهٔ چرے مونږه بالفرض پورته شو له قبرونو پس را به کړے شی
بهتر له مؤمنانو لکه چه په دنیا کښ نو خدای نازل کړو اَفَنَجۡعَلُ الۡمُسۡلِمِیۡنَ آیا وبه نهٔ کړو
مسلمانان كَالۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۳۵﴾ ط په مثل د کافرانو په ورکولو د نعمتونو کښ بلکه وبه نهٔ کړو
مَا لَكُمۡ وقفه كَیۡفَ تَحۡكُمُوۡنَ ﴿۳۶﴾ څهٔ دلیل دے تاسے لره څرنګه حکم کوئ اے مشرکانو په برابر والی
یا بهتر والی سره په مینځ د مؤمنانو او مشرکانو کښ اَمۡ لَكُمۡ كِتٰبٌ آیا تاسے څخه شته
کتاب نازل شوے د آسمان چه فِیۡهِ تَدۡرُسُوۡنَ ﴿۳۷﴾ لا په هغهٔ کښ لولئ تاسے داسے چه

اِنَّ لَكُمْ فِيْهِ په تحقیق سره تاسے لره په هغه کتاب کښ دی لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ﴿۳۸﴾ هغه خیز
چه غوره کوئ ئے تاسو اَمْ لَكُمْ اَيْمَانٌ آیا شته تاسے لره وعدے محکمے په سوګند سره
عَلَيْنَا په مونږه باندے بَالِغَةٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لا هسے وعدے چه باقی وی ترقیامته داسے
چه اِنَّ لَكُمْ په تحقیق سره شته تاسے لره لَمَا تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۹﴾ هغه خیزچه تاسے پرے حکم
کوئ یعنی چه بهتروالے ستاسے دے په آخرت کښ سَلْهُمْ پوښتنه وکړه اے محمد صلے الله
علیه وسلم له مشرکانو چه اَيُّهُمْ کوم یو له دوئ نه بِذٰلِكَ په دغه حکم چه کوی
زَعِيْمٌ ﴿۴۰﴾ ضامن دے اَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ ج آیا شته دوئ لره شریکان په دے ویلو نو
فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ پس راد ولی دوئ شریکان ضامنان اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿۴۱﴾ که چرے
وی دوئ رښتینی په دعوئ خپله کښ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ په هغه ورځ چه جامه به
پورته کولے شی له پنډئ نه یعنی راودِ بلی شریکان په هغه ورځ چه سخت شی کار ځکه
چه کشف دساق به په هغه ورځ نهٔ وی نو مراد دکشف دساق نه سختی ده وَّيُدْعَوْنَ اِلَى
السُّجُوْدِ او وبه بللے شی کافران سجدے ته نو فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۴۲﴾ پس طاقت د سجدے
کولو به نهٔ لری ځکه چه شا به ئے په مثل دچارپایانو شی خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ په هغه
حال کښ چه ښکته به وی سترګے ددوئ له شرمه تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ط پیوسته به شی له
دوئ سره خواری وَقَدْ كَانُوْا او په تحقیق سره وو دوئ په دنیا کښ يُدْعَوْنَ بللے به شو
اِلَى السُّجُوْدِ سجدے ته وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ او دوئ جوړ وو نو سجده ئے نه کوله پس
له دے جهته منع کړے شو نن ورځ چه ورځ دقیامت ده له سجدے نه پس خدائ تعالیٰ
دپاره د تسلئ د پیغمبر علیه السلام او د ویرولو د مکذبانو وائی فَذَرْنِىْ پس پریږده
ماله وَمَنْ يُّكَذِّبُ او هغه چاله چه دروغ وائی بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ط په دے خبرے سره
چه قرآن دے او یا خبره د بعث او د حشر ده سَنَسْتَدْرِجُهُمْ زر دے چه وبه نیسم دوئ
لره لږ لږ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۴﴾ له هغه طرفه چه دوئ به پرے نهٔ پوهیږی وَاُمْلِىْ لَهُمْ ط
او مهلت به ورکړم دوئ لره په دنیا کښ نو بیا به ئے ونیسم ځکه چه اِنَّ كَيْدِىْ

مَتِيْنٌ ﴿۴۵﴾ په تحقیق سره عذاب خما محکم دے اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا ایا غواړے ته دوئ نه
مزدوری په تبلیغ د رسالت سره فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ پس دوئ له تاوان دهغه اجره مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۶﴾
د روند باری دی نوځکه ایمان نهٔ راوړی ف د اَمْ په معنیٰ د نفی دے یعنی نهٔ ئے ته چه طمع
د اجرله دوئ نه کوے نوځکه ایمان نهٔ راوړی اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ ایا دوئ تخه لوح محفوظ
دے چه پکښ غیب دے فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۴۷﴾ پس دوئ لیکی له لوح محفوظ دغه حکم چه
برابری کوی د مومن او دکافر روایت دے چه هر کله پیغمبر علیه السلام قصد د
دُعا بد ے په قبیلے د ثقیف وکړو نوخدائ وائی چه اے پیغمبره ؐ ! صبر کوه ځکه چه کار نه
په صبر سره کیږی لکه چه فرمائی فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ پس صبر کوه اے محمد ؐ حکم دخدائ
خپل ته چه امهال ددوئ دے وَلَا تَكُنْ او مهٔ کیږه ته تلوار کونکے كَصَاحِبِ الْحُوْتِ م
په مثل د صاحب د ماهی چه یونس ؑ وو اِذْ نَادٰى یاد کړه هغه وخت چه اواز وکړهٔ دهٔ
خدائ ته په خیټه دماهی کښ دا سے چه لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّىْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ط
وَهُوَ مَكْظُوْمٌ ﴿۴۸﴾ اودے ډك له غمه وو په ماهی کښ لَوْلَآ اَنْ تَدٰرَكَهٗ که چرنه وے موندلے
دهٔ له نِعْمَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ نعمت له خدائ خپله په قبلولو د توبے سره لَنُبِذَ نو پریوتے به وو دے
له خیټے د ماهی تخه بِالْعَرَآءِ په بیابان کښ وَهُوَ مَذْمُوْمٌ ﴿۴۹﴾ په دغه حال کښ چه دے به
ملامت کړے شوے وو او یا شړلے شوے وو له رحمته فَاجْتَبٰهُ رَبُّهٗ پس غوره کړهٔ
دے په پیغمبری سره رب ددهٔ په سبب دعذر سره ئے فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۵۰﴾ پس
وګرځوو خدائ دے له نیکوکارانو روایت دے چه بنی اسد یو ټولے چه مشهور
وو په بد نظری سره مقرر کړه په پیغمبر ؐ اوورته ئے وویل که ستا سے په نظر سره دے هلاك ئے
شهٔ او یا له خپلے مرتبے نه پریوت نوموږ به تا سے سره ډیر بنهٔ وکړو پس خدائ تعالیٰ د پاره د
حفظ د دهٔ له نظره د ایت نازل کړو وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او په تحقیق سره نزدے وو هغه
کسان چه کافر وو لَيُزْلِقُوْنَكَ چه هلاك کړی یاوغورځوی تا له مرتبے خپلے نه بِاَبْصَارِهِمْ

عه لکه حدیث دے چه ان العین لتدخل الرجل القبر والجمل القدر یعنی نظر د اخلوی سړے په قبر کښ او
اوښ په کټوئ کښ ۱۲ کتبه : صادق (زهیر) چیرهارے ډاکوال عفی عنه ۱۲

په ستركو خپلو سره لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ هر كله چه واوريدهٔ دوئ قرآن وَيَقُوْلُوْنَ او وائى له جهته دكينے نه داسے اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۵۱﴾ په تحقيق سره دے ليونے دے وَمَا هُوَ اوحال دادے چه نهٔ دے قرآن اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۵۲﴾ مگر پند دے عالمو لره يعنى دهٔ ته دوئ ليونے په سبب د قرآن سره وائى اوحال دادے چه نهٔ دے قرآن مگر پند پس څرنگه به ليونے وى هغه څوك چه پرے نازليږى قرآن **روايت دے** له پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه چه من قرء سورة القلم اعطاه الله ثواب الذين حسن الله اخلاقهم ؏



اَلْحَآقَّةُ ﴿۱﴾ هغه حال چه حق او ثابت دے واقع كيدل ئے مَا الْحَآقَّةُ ﴿۲﴾ څهٔ حال دے **تنبيه** الحاقة مبتدا ده او ما الحاقة ئے خبر دے وَمَآ اَدْرٰىكَ او څهٔ خيز به كړے تهٔ چه مَا الْحَآقَّةُ ﴿۳﴾ څهٔ خيز دے هغه حال **ف** حاقه هم يوه نامه ده دقيامت كَذَّبَتْ دروغ ويلى وو ثَمُوْدُ وَعَادٌۢ قبيله دثمود او دعاد بِالْقَارِعَةِ ﴿۴﴾ په ورځ دقيامت پورے **ف** قارعه هم يوه نامه ده دقيامت ځكه چه دغه ورځ به ټكوى زړونه دخلقو په ويرے سره فَاَمَّا ثَمُوْدُ پس هرچه ثموديان وو نو فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ ﴿۵﴾ پس هلاك شول په آواز تند سره . چه آواز دجبريل ؑ وو او يا په سبب د سركشئ سره يعنى هلاك والے ئے په سبب دكړو والى دناقے وو وَاَمَّا عَادٌ او هرچه قبيله دعاد وه نو فَاُهْلِكُوْا پس هلاك شول بِرِيْحٍ صَرْصَرٍ په باد سخت آوازى سره عَاتِيَةٍ ﴿۶﴾ هسے باد چه تند وو او به ضبط دخازنانو كښې نه راتلو له جهته د قهره په دوئ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ مسلط كړے وو خدائے پرے دغه باد سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ لا اوه شپے او اته ورځے ځكه چه په وخت دصباد چارشنبے شروع شوے وو تر ننمر پريوتو دبلے چهارشنبے حُسُوْمًا ٗ پله پسے يعنى لاندے باندے

شپے ورځے فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا پس تا به لید لے وو قوم دعاد که چرے حاضروے په دغه وخت
کښې صَرْعَىٰ په دغه حال کښې مړی په زمکه پراته كَأَنَّهُمْ گویا که دوی له جهته دلویو جُسو.
أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿۷﴾ بیخونه دخرماوُ دی په زمکه پریوتی فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم پس ایا
وینے ته دوئی لره مِّن بَاقِيَةٍ ﴿۸﴾ څوك باقی پاتے شوی بلکه و به نهٔ وینے وَجَاءَ
فِرْعَوْنُ او راغے فرعون وَمَن قَبْلَهُ او هغه څوك چه وو پرومبے له دهٔ نه کافران
وَالْمُؤْتَفِكَاتُ او اهل دکلیو دلوط بِالْخَاطِئَةِ ﴿۹﴾ په گناه سره چه شرك وو نو فَعَصَوْا
پس بے فرمان شوٗ هر یو له دوئی رَسُولَ رَبِّهِمْ له استاذی دخدائ خپله نو فَأَخَذَهُمْ
پس ونیول خدائ دوئ أَخْذَةً رَّابِيَةً ﴿۱۰﴾ په نیونو سختو سره إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاءُ به
تحقیق سره مونږ ه هرکله چه پورته شوے او به په غرونو باندے حَمَلْنَاكُمْ پورته کړی وو
مونږه پلاران ستاسے فِي الْجَارِيَةِ ﴿۱۱﴾ په بیړئ د نوح کښې لِنَجْعَلَهَا یو دپاره ددے چه
وګرځوو دغه بیړئ لَكُمْ تاسے لره تَذْكِرَةً یو نصیحت په خلاصی د مؤمنانو او په غرقیدلو
دکافرانو کښې وَتَعِيَهَا او دپاره ددے چه یاد لری دے نصیحت لره أُذُنٌ وَاعِيَةٌ ﴿۱۲﴾
غوږونه ساتونکی یعنی چه نفع اخلی په هغه څیز چه اوری ئے فَإِذَا نُفِخَ پس په هغه وخت
کښې چه پوکوهلے شی فِي الصُّورِ په شپیلئ کښې نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ پوکے یو چه پوکے اول
دے وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ او پورته کړے شی زمکه وَالْجِبَالُ او غرونه له ځایونو خپلو
فَدُكَّتَا پس مات کړے شی غرونه او زمکه دَكَّةً وَاحِدَةً ﴿۱۴﴾ په ماتولو یو سره فَيَوْمَئِذٍ
پس په دغه ورځ به وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱۵﴾ ودریږی وَانشَقَّتِ السَّمَاءُ او څیرے به شی
اسمان یعنے دروازے به د اسمان پرانستلے شی فَهِيَ پس اسمان به يَوْمَئِذٍ په دغه
ورځ وَاهِيَةٌ ﴿۱۶﴾ سست او ضعیف وی وَالْمَلَكُ او ملائکے به عَلَىٰ أَرْجَائِهَا په کنارو
داسمان کښې وی ځکه چه هرکله ځائ داوسیدلو ئے څیرے شی نو کنارو ته به ځی وَيَحْمِلُ
او بار به کړی عَرْشَ رَبِّكَ عرش دخدائ ستا فَوْقَهُمْ پاس د ملائکو چه په کنارو
داسمان وی يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ ثَمَانِيَةٌ ﴿۱۷﴾ اته ملائکے او نن ورځ پورته کونکے دعرش

خلور ملائکے دی یَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ په دغه ورځ به وړاندے کړے شی تاسے خدائ ته د
پاره د حساب لَا تَخْفٰی پټ به پاتے نهٔ شی په خدائ مِنْكُمْ له عملونو ستاسے خَافِيَةٌ ﴿۱۸﴾
هیڅ خیز پټ له سرائرو نه یعنی خدائ په سرائرو ستاسے خبر دے نو پس عرض او حساب د
پاره د خبر د ارئ د خدائ نهٔ دے بلکه د پاره د عدل او د ظاهر ولو د احوالو دے په خلقو
باندے پس بیان کوی خدائ تعالیٰ د عرض فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ پس هر هغه څوك چه ورکړے
شهٔ دهٔ لره كِتٰبَهٗ کاغذ د عمل د ده بِيَمِيْنِهٖ په ښی لاس د هغه کښی نو فَيَقُوْلُ پس وبه وائی
دے له خوشحالئ نه هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿۱۹﴾ راشئ ولولئ کاغذ د عمل څما اِنِّیْ ظَنَنْتُ
په تحقیق سره ما په دنیا کښی یقین کولو داسے چه اَنِّیْ مُلٰقٍ زهٔ لیدونکے یم حِسَابِيَهْ ﴿۲۰﴾
حساب خپل لره یعنی ما یقین کولو چه ما سره به حساب کولے شی پس مشغول شوم په
طاعت باندے فَهُوَ پس دغه سړے به فِیْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿۲۱﴾ په ژوند غوره کښی وی
فِیْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿۲۲﴾ په جنت مرتفعه کښی ف په دے کښی اشارت دے دے ته چه جنت
په آسمان کښی دے قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿۲۳﴾ میوے به ئے نزدے وی چه لاس د ولاړ او د
ناست او د ملاست به ورته رسیږی او رضوان به وائی دوئ ته چه كُلُوْا خورئ له
میوو د جنت وَاشْرَبُوْا او څښئ له شرابو د جنت هَنِيْٓـئًا هسے خوراك او څښل چه
هضمیږی بے له بول او غائط کولو نه بِمَآ اَسْلَفْتُمْ په سبب د هغه عمل صالحه سره چه
کړے وو تاسے ته فِی الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿۲۴﴾ په ورځو شوو کښی یعنی په دنیا کښی رنځ او سختی
راخکلے وه تاسے نن ورځ جزا ئے واخلئ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ او هر څوك چه ورکړے شی دهٔ
لره كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ کاغذ د عمل ئے په کینړ لاس کښی نو فَيَقُوْلُ پس وبه وائی دے
له غمه يٰلَيْتَنِیْ اے کاشکے لَمْ اُوْتَ نهٔ وے راکړے شوے ما لره كِتٰبِيَهْ ﴿۲۵﴾ کاغذ د عمل
څما وَلَمْ اَدْرِ او کاشکے نهٔ وے پوهه زهٔ نن ورځ چه مَا حِسَابِيَهْ ﴿۲۶﴾ څهٔ دے حساب څما
څکه چه هیڅ نفع ئے ما لره نشته بغیر له عذابه يٰلَيْتَهَا اے کاشکے هغه مرګ چه مړ
وُم پرے په دُنیا کښی كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿۲۷﴾ وے حکم کونکے په فنا ابدی چه بیا ژوندے

شوے نهٔ وے او دا عذاب مِ نهٔ وے لیدلے اګرکهٔ په قبر کښ عذاب وو لیکن دا ترے سخت دے
مَآ اَغْنٰى عَنِّىْ هیڅ نفع ونهٔ رسوله ما ته مَالِیَهْ ﴿۲۸﴾ مال ځما هیڅ قدر ے هَلَكَ هلاکه او
ورکه شوه عَنِّىْ له ما نه سُلْطٰنِیَهْ ﴿۲۹﴾ بادشاهی ځما پس وبه وائی خدائ خازنانو د
جهنم ته چه خُذُوْهُ ونیسئ دهٔ لره فَغُلُّوْهُ ﴿۳۰﴾ پس په زنځیر و تړئ دهٔ لره ثُمَّ الْجَحِیْمَ
صَلُّوْهُ ﴿۳۱﴾ پس په دوزخ کښ وغورځوئ دهٔ لره ثُمَّ فِىْ سِلْسِلَةٍ بیا په زنځیر ونو داو رکښ
ذَرْعُهَا چه وی به ګز د هغه زنځیر سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا اویا ګزه په ګز د ملك سره چه هرګز
ئے او یا باعه له کوفے دے ترمکے پورے فَاسْلُكُوْهُ ﴿۳۲﴾ پس داخل کړئ دهٔ لره په هغه کښ
یعنی له دهٔ نه ئے مضبوط او محکم تاؤ کړئ چه حرکت ونهٔ کړی ځکه چه اِنَّهٗ په تحقیق سره دے
كَانَ لَا یُؤْمِنُ وو چه ایمان ئے نه راوړو بِاللّٰهِ الْعَظِیْمِ ﴿۳۳﴾ په خدائ لوئ باندے
وَلَا یَحُضُّ او تیزوُل به نه کا وُده عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِیْنِ ﴿۳۴﴾ په طعام ورکولو سره فقیرانو
لره فَلَیْسَ لَهُ الْیَوْمَ پس نشته دهٔ لره نن ورځ چه ورځ د قیامت ده هٰهُنَا حَمِیْمٌ ﴿۳۵﴾ په دے
ځائ کښ دوست چه پورته کړی ترے عذاب وَّلَا طَعَامٌ او نشته ده لره هیڅ طعام چه
وے خوری اِلَّا مِنْ غِسْلِیْنٍ ﴿۳۶﴾ مګر له زوؤ د دوزخیانو ځنه لَّا یَاْكُلُهٗٓ وبه نهٔ خوری
دغه غسلین اِلَّا الْخَاطِـُٔوْنَ ﴿۳۷﴾ مګر کافران فَلَآ پس نه ده دا رنګے لکه چه وائی ع ۱ / ۵
کافران چه قرآن جور کړے د محمدؐ دے اُقْسِمُ سوګند خورم زهٔ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۸﴾ په
هغه خیز باندے چه وینئ تاسے له مخلوقاتو وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾ او په هغه خیز چه
نهٔ وینئ تاسے له پیدا وخت یعنی سوګند خورم په ټولو خیزونو دا سے چه اِنَّهٗ په تحقیق
سره قرآن چه دے لَقَوْلُ رَسُوْلٍ خامخا ویل د رسول دی كَرِیْمٍ ﴿۴۰﴾ هسے رسول چه رسول
لوئ دے خدائ هغه چه محمدؐ او یا جبریلؑ دے وَمَا هُوَ او نهٔ دے قرآن بِقَوْلِ شَاعِرٍ
ویل د شاعر لکه دا رنګے وائی ابوجهل قَلِیْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۱﴾ لږ تصدیق کوئ تاسے په
قرآن باندے یعنی تصدیق نهٔ کوئ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ او نهٔ دے قرآن ګفتار د کاهن
لکه چه عقبه ګمان کوی قَلِیْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾ لږ دی تاسے ځنے چه پند اخلی په دهٔ سره

یعنی نۀ اخلی تَنْزِیْلٌ قران نازل شوے دے مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۴۳﴾ له خدائی دعالمیانو
څخه وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَیْنَا اوکه چیرے دروغ جوړ ولے محمد ؐ په مونږ باندے لکه چه ګمان ستاسے
دے بَعْضَ الْاَقَاوِیْلِ ﴿۴۴﴾ بعض خبرے چه م دۀ ته نۀ وی ویلے لَاَخَذْنَا مِنْهُ خامخا
نیولے به م وو دۀ بِالْیَمِیْنِ ﴿۴۵﴾ په قوت سره چه دے مالره ثُمَّ لَقَطَعْنَا پس پرے کړے
به م وو مِنْهُ الْوَتِیْنَ ﴿۴۶﴾ له دۀ څخه رګ د زړۀ ئے. یعنی مړ کړے به م وو فَمَا مِنْكُمْ
پس نشته له تاسے څخه مِّنْ اَحَدٍ هیڅوك یعنی نۀ یئ تاسے عَنْهُ حٰجِزِیْنَ ﴿۴۷﴾ له محمد ؐ
دفع کونکی هلاکت لره وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره قران لَتَذْكِرَةٌ خامخا نصیحت دے
لِّلْمُتَّقِیْنَ ﴿۴۸﴾ پرهیزګارانو دَپاره چه خاص دوئ پرے نفع اخلی وَاِنَّا لَنَعْلَمُ او په تحقیق سره
پوهیږو مونږه چه اَنَّ مِنْكُمْ بعضے له تاسے له مُّكَذِّبِیْنَ ﴿۴۹﴾ دروغ ویونکی دی قران
لره وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره انکار له قران لَحَسْرَةٌ خامخا سبب د حسرت دے عَلَی
الْكٰفِرِیْنَ ﴿۵۰﴾ په کافرانو باندے په ورځ د قیامت هرکله چه ووینی ثواب د مصدقینو د
قران، وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره چه دے لَحَقُّ الْیَقِیْنِ ﴿۵۱﴾ عین یقین او محض یقین
دے له خدائ فَسَبِّحْ پس تسبیح وایه بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِیْمِ ﴿۵۲﴾ په نوم د رب ع ۱۵ ۲
خپل سره چه لوئ دے

سورة المعارج ۷۰ مكية ۷۹ بسم الله الرحمن الرحيم اٰیاتها ۴۴ رکوعاتها ۲

روایت دے چه نضر بن حارث په دروازه د مسجد حرام کښی ودریده او وے ویل
اے خدایه کۀ چیرے محمد ؐ په حق باندے وی او هغه چه وائی له عذابه له تاوائی پس
باران د کانړو ووروه په سر څما له آسمان نو دا آیت راغے سَاَلَ سَآئِلٌ سوال وکړو یو سوال کونکی
بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ﴿۱﴾ په هغه عذاب سره چه واقع کیدونکے دے لِّلْكٰفِرِیْنَ کافرانو لره
لَیْسَ لَهٗ دَافِعٌ ﴿۲﴾ نشته دغه عذاب لره دفع کونکے مِّنَ اللّٰهِ له طرفه د خدائ لوئ.
ذِی الْمَعَارِجِ ﴿۳﴾ هسے خدائ چه خاوند د مرتبو لویو دے دوستانو لره په جنت کښی

تَعۡرُجُ الۡمَلٰٓئِكَةُ پورته خیژی ملائکے وَالرُّوۡحُ او جبریل ؑ اِلَيۡهِ طرف د امر د خدای ته یعنی
خیژی هغه ځای ته چه ورته وفرمائی فِىۡ يَوۡمٍ دغه عذاب به واقع شی په کافرانو باندے
په هغه ورځ چه كَانَ مِقۡدَارُهٗ اندازه د هغه ورځ خَمۡسِيۡنَ اَلۡفَ سَنَةٍ ﴿۴﴾ پنځوس زره
کاله له کلونو د دنیا نه فَاصۡبِرۡ پس صبر کوه ته په دروغو د منکرانو صَبۡرًا جَمِيۡلًا ﴿۵﴾ په
صبر نیک سره یعنی بے شکایت او بے جزع اِنَّهُمۡ په تحقیق سره کافران يَرَوۡنَهٗ وینی
عذاب لره او یا قیامت لره بَعِيۡدًا ﴿۶﴾ لرے یعنی دوی وائی نشته قیامت وَّنَرٰٮهُ او وینو
مونږه قیامت لره قَرِيۡبًا ﴿۷﴾ نزدے يَوۡمَ تَكُوۡنُ السَّمَآءُ یعنی واقع به شی هغه ورځ
چه وګرځی اسمان كَالۡمُهۡلِ ﴿۸﴾ پشان د قلعی ویلے وَتَكُوۡنُ الۡجِبَالُ او وګرځی غرونه
كَالۡعِهۡنِ ﴿۹﴾ په شان د پشم په سکوالی کښ وَلَا يَسۡـئَلُ حَمِيۡمٌ حَمِيۡمًا ﴿۱۰﴾ او پوښتنه
به نه کوی یو دوست له دوسته ځنی ځکه چه هر یو به مشغول وی په نفس خپل سره
يُّبَصَّرُوۡنَهُمۡ ښیے حمیم چه و به ښودے شی دوی هغوئی لره یعنی هر څوک به خپل وپیژنی
او پوښتنه به ترے نه کوی يَوَدُّ الۡمُجۡرِمُ دوست به لری کافر دوی لره لَوۡ يَفۡتَدِىۡ چه عوض
او بدل ورکړی مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِئِذٍۢ له عذابه د دغے ورځے بِبَنِيۡهِ ﴿۱۱﴾ ځامنو خپلو
لره وَصَاحِبَتِهٖ او بدل ورکړی ښځے خپلے لره وَاَخِيۡهِ ﴿۱۲﴾ او ورور خپل لره وَفَصِيۡلَتِهِ
الَّتِىۡ تُـئْوِيۡهِ ﴿۱۳﴾ او خپلوانو خپلو لره هغه خپلوان چه ځای ورته ورکوی په دنیا کښ
وَمَنۡ فِى الۡاَرۡضِ او دوست به لری چه فدیه ورکړی هغه څوک چه په زمکه کښ دی جَمِيۡعًا
ټول خیزونه فدیه کاله ځانه خپله ثُمَّ يُنۡجِيۡهِ ﴿۱۴﴾ پس خلاص کړی دهٔ لره دغه عوض
ورکول كَلَّا نهٔ دهٔ لکه چه کافر ئے ارزو کوی ځکه چه اِنَّهَا په تحقیق سره اور د دوزخ چه
کافران ترے فدیه ورکوی لَظٰى ﴿۱۵﴾ شعله وهونکے دے نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ﴿۱۶﴾ ویستونکے دے
لاسونو او خپو د مشرکانو لره تَدۡعُوۡا بلی به ملائکه زبانیه او یا راکاږی به اور د دوزخ مَنۡ
اَدۡبَرَ هغه چالره چه شا کړے وه حق ته وَتَوَلّٰى ﴿۱۷﴾ او هغه چالره چه مخ ئے ګرځولے دے
له ایمانه وَجَمَعَ او هغه چالره چه جمع کړے وی مال د دنیا فَاَوۡعٰى ﴿۱۸﴾ پس په لوښی کښ

ساتلے وی او حق د خدائی ترے نهٔ وړ کوی اِنَّ الْاِنْسَانَ په تحقیق سره چه بنی آدم خُلِقَ
پیدا شوے دے هَلُوْعًا ﴿۱۹﴾ ډیر حرصناك او بیان ئے داد ے چه اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ په هغه وخت
کښ چه ورسیږی دهٔ ته ضرر لکه فقر او مرض جَزُوْعًا ﴿۲۰﴾ ډیر فریاد کوی وَاِذَا مَسَّهُ
الْخَيْرُ او په هغه وخت کښ چه ورسیږی دهٔ ته نیکی لکه دولتمندی او جوړوالے شهٔ
نو مَنُوْعًا ﴿۲۱﴾ منع کونکے وی نفس خپل لره له طاعته او مال لره له نفقے نه. او چا ویلی دی
هلوع بےصبره ته وائی او چا ویلی دی هلوع ډیر حرصناك او لږ صبرناك ته وائی اِلَّا
الْمُصَلِّيْنَ ﴿۲۲﴾ مګر خو هلوع نه دے پید اکړے شوے مونځ کونکی الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ
دَآئِمُوْنَ ﴿۲۳﴾ هغه کسان چه دوئی په مونځونو خپلو باندے همیشه ګیری کونکی وی
یعنی چه په هیڅ شغل سره ترے نهٔ فوت کیږی وَالَّذِيْنَ فِيْۤ اَمْوَالِهِمْ او نهٔ دی هلوع
(هغه) کسان چه په مالونو د دوئی کښ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ﴿۲۴﴾ حصه مقرر ده چه زکوٰة او
صدقے دی لِّلسَّآئِلِ دپاره د هغه فقیر چه سوال کوی وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۲۵﴾ او دپاره د هغه
محتاجه چه سوال نهٔ کوی وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ او نهٔ دی هلوع هغه کسان چه یقین
کونکی دی بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۲۶﴾ په واقع کیدلو د قیامت باندے وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ
رَبِّهِمْ او نهٔ دی هلوع هغه کسان چه دوی له عذاب د خدائی خپل مُّشْفِقُوْنَ ﴿۲۷﴾
ویریږی ځکه چه اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ په تحقیق سره عذاب د خدائی د دوئی چه دے
غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ﴿۲۸﴾ نهٔ دے مامون یعنی ګنهګاران ترے په امان نهٔ دی وَالَّذِيْنَ هُمْ
لِفُرُوْجِهِمْ او نهٔ دی هلوع هغه کسان چه فرجونو خپلو لره حٰفِظُوْنَ ﴿۲۹﴾ ساتونکی
دی اِلَّا عَلٰۤى اَزْوَاجِهِمْ مګر خو ساتونکی نهٔ دی په ښځو خپلو باندے اَوْمَا مَلَكَتْ
یا په هغو وینځو چه مالك شوی وی اَيْمَانُهُمْ ښی لاسونو د دوئی نو فَاِنَّهُمْ پس
خامخا دوئی غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ﴿۳۰﴾ نهٔ دی ملامت کړے شوی ځکه چه ښځے او وینځے
خپلے ورته حلالے دی فَمَنِ ابْتَغٰى پس هرڅوك چه طلب کړی ځائی د وطی وَرَآءَ
ذٰلِكَ بغیر له ښځے او وینځے خپلے نه فَاُولٰٓئِكَ پس دغه ټولے چه دے هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿۳۱﴾

عه یعنی ډیر حرص کونکی لږ صبر کونکی ۱۲

هم دوئ تجاوز کوونکی دی له حلالو نه حراموته ف په دے اشارت دے حرمة د متعه
او وطی د چارپایانو او د سړو او طلب د منئ ته په لاس سره وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ او هغه
دی هلوع هغه کسان چه دوئ امانتونو خپلو لره وَعَهْدِهِمْ او وعده خپلو لره رٰعُوْنَ ﴿۳۲﴾ ساتونکی
وی چه خیانت پکښ نهٔ کوی وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ او هغهٔ دی هلوع هغه کسان چه
دوئ په شاهدئ خپلے باندے قَآئِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ ولاړ او ثابت وی او میلان نهٔ کوی د دولتمند
او خپل ته وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ او هغهٔ دی هلوع هغه کسان چه دوئ په مانځه
خپل باندے يُحَافِظُوْنَ ﴿۳۴﴾ ساتنه کوی ف مکرر یے کړو صلوٰة ځکه چه بهتر دے
له نورو عباداتو ځنې اُولٰٓئِكَ دغه ټول چه ذکر شول.وی به فِيْ جَنّٰتٍ په باغونو کښ
په ورځ د قیامت مُّكْرَمُوْنَ ﴿۳۵﴾ لوی شوی عزت ورکړے شوی په ثواب سره۔ ع ۱ ۲۵
روایت دے چه پس له نازلیدو د دے ایت مشرکانو چاپیره د پیغمبرؐ حلقه وکړه
او په خندا سره ئے وویل کهٔ یاران د محمد صلے اللہ علیه وسلم طمع لری باغونو د اخرت
لره نو مونږ هم طمع لرو چه مخکښے له دوئ به ئے بیا مومو پس دا ایت نازل شهٔ فَمَالِ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس څهٔ شوی دی کافرانو لره چه قِبَلَكَ تا ته مُهْطِعِيْنَ ﴿۳۶﴾ په دے حال کښ
چه جلت راتلونکی دی عَنِ الْيَمِيْنِ له ښی طرفه وَعَنِ الشِّمَالِ او له کینړه طرفه عِزِيْنَ ﴿۳۷﴾
ټولی ټولی حلقه کوونکی اَيَطْمَعُ آیا طمع کوی كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ هر سړے له دے کافرانو څخه
دا سے چه اَنْ يُّدْخَلَ داخل به کړے شی سره د مؤمنانو جَنَّةَ نَعِيْمٍ ﴿۳۸﴾ باغونو د نعمتونو
وته كَلَّا ط نهٔ ده داسے چه دوئ ئے طمع کوی ځکه چه اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ په تحقیق سره
پیدا کړی م دی دوئ مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ له هغه څیز نه چه دوئ پرے پوهیږی یعنی له
نطفے ناپاکے ځنې نو طمع د جنت نشی کولے مګر په تقوٰی او ایمان سره فَلَآ پس داسے نهٔ
ده لکه چه کافران ئے وائی او چا ویلی دی چه لا زیات دے نو معنیٰ ئے داسے شوه چه پس
اُقْسِمُ سوګند خورم بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ په خدائ د مشرقونو د افتاب باندے چه په کال
کښ له بیله بیله ځایه خیژی وَالْمَغٰرِبِ او سوګند خورم په خدائ د مغربونو د افتاب

باندے چه په کال کښې بیل بیل ځائ کښې پریوځي اِنَّا لَقٰدِرُوْنَ ﴿۴۰﴾ په تحقیق سره مونږه

توانا یو عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ په دے باندے چه بدل کړو یعنې چه مشرکان هلاك کړو او بدل

ترے پیدا کړو نور خلق خَيْرًا مِّنْهُمْ ۙ ډیر غوره له دوئ نه او حکم وړونکی وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۴۱﴾

او نهٔ یو مونږه عاجزه له هلاکته د دوئ فَذَرْهُمْ نو پس پریږده اے محمد صلی الله علیه وسلم

دوئ لره يَخُوْضُوْا چه شروع کوی په خیزونو باطلو کښې وَ يَلْعَبُوْا او بازی او لوبے کوی

دوئ په دنیا کښې حَتّٰى يُلٰقُوْا ترهغه پورے چه پیوسته شی دوئ يَوْمَهُمُ ورځے خپلے

ته الَّذِىْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۲﴾ هغه ورځ چه وعده کړے شوے ده پکښې دوئ لره د عذاب چه

جنګ د بدر دے او یا قیامت ف په آیت د سیف سره دا آیت منسوخ شوے دے يَوْمَ

يَخْرُجُوْنَ په هغه ورځ چه بهر شی دوئ مِنَ الْاَجْدَاثِ له قبرونو نه سِرَاعًا په دغه حال

کښې جلت او زغلید ونکی كَاَنَّهُمْ ګویا که دوئ اِلٰى نُصُبٍ نښے وته يُّوْفِضُوْنَ ﴿۴۳﴾ زغلی

به لکه لښکر چه مات او پراګنده شی هرځائ چه نښه و وینی و د زغلی خَاشِعَةً په دغه

حال کښې چه خوار او ذلیل به وی اَبْصَارُهُمْ سترګے د دوئ یعنې له جهته د خوارئ

به سترګے پورته کولے نهٔ شی تَرْهَقُهُمْ ورباندے رسی دوئ ته ذِلَّةٌ ؕ خواری ذٰلِكَ الْيَوْمُ

الَّذِىْ دا ده هغه ورځ چه كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۴﴾ و و دوئ په دنیا کښې وعده کړے شوی ۲ ع ۹ ۸

وُ - په دے سره -

سُوْرَةُ نُوْحٍ ۷۱ مَكِّيَّةٌ ۷۱ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۲۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

اِنَّآ اَرْسَلْنَا نُوْحًا په تحقیق سره چه مونږ لیږلے وو نوح علیه السلام اِلٰى قَوْمِهٖٓ قوم

خپل ته دا سے چه اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ ویروه قوم خپل لره مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَهُمْ روم بے

له دے نه چه راشی دوئ ته که چرے ایمان رانهٔ وړی عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱﴾ عذاب دردناك چه

طوفان یا عذاب د آخرت دے قَالَ ووئیل نوح علیه السلام يٰقَوْمِ اے قومه خما - ف

اضافت د قوم ئے خپل ځان ته وکهٔ د یاره د شفقت په دوئ باندے اِنِّىْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲﴾

په تحقیق زهٔ تاسے لره ویرونکے یم ښکاره دا سے چه اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ عبادت کوئ خدائ
لره په وحدانیت سره وَاتَّقُوْهُ او ویریږئ اه عقوبته د هغه څخه وَ اَطِیْعُوْنِ ﴿۳﴾ او فرمان
وړئ ما لره په امر او نهی کښ یَغْفِرْ لَکُمْ د پاره د دے چه وبخښی تاسے ته خدائ مِنْ
ذُنُوْبِکُمْ بعضے له گناهونو ستاسے څخه ځکه چه حقوق د عبادو نشی بخښلے او چا ویلی دی
مِنْ زائده دے ځکه چه په اسلام سره ټول مبنی گناهونه بخښلے شی نو معنے ئے دا سے شوه
چه وبخښی خدائ تاسے ته گناهونه ستاسے او بل د پاره د دے چه وَ یُؤَخِّرْکُمْ اخر کړی تاسے
لره بے عذابه یعنی چه ژوندی لری تاسے لره اِلٰٓی اَجَلٍ مُّسَمًّی تر وخت مقرر پورے ځکه چه
اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ په تحقیق سره وخت مقرر کړے د خدائ اِذَا جَآءَ په هغه وخت کښ چه راشی
لَا یُؤَخَّرُ نه شی وروستو کولے لَوْ کُنْتُمْ کهٔ چرے یئ تاسے چه تَعْلَمُوْنَ ﴿۴﴾ پوهیږئ
روایت دے چه نوح ۴ نه نیم سوهٔ کاله دوئ ته وعظ او نصیحت وکړو او دوئ
په تیرے سرکشی کوله نو قَالَ وویل نوح علیه السلام رَبِّ اے ربه څما اِنِّیْ دَعَوْتُ
قَوْمِیْ په تحقیق سره ما و بالهٔ قوم خپل توحید او عبادت ته لَیْلًا وَّ نَهَارًا ﴿۵﴾ په شپه
او ورځ کښ یعنی همیشه نو فَلَمْ یَزِدْهُمْ پس زیات نهٔ کړه دوئ ته دُعَآءِیْٓ بلنے څما
اِلَّا فِرَارًا ﴿۶﴾ مگر تختیدل له ایمان او له طاعته وَاِنِّیْ او په تحقیق سره زهٔ کُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ
هرکله چه وبلم زهٔ دوئ لره توحید او عبادت ته لِتَغْفِرَ لَهُمْ د پاره د دے چه و بخښے ته
دوئ لره جَعَلُوْٓا اَصَابِعَهُمْ داخلوی دوئ گوتے خپلے فِیْٓ اٰذَانِهِمْ په غوږونو خپلو کښ د
پاره د دے چه وا نهٔ وری خبرے څما وَاسْتَغْشَوْا ثِیَابَهُمْ او راکاږی په سر باندے جامے
خپلے چه ما ونه وینی وَاَصَرُّوْا او ودریدل په کفر خپل وَاسْتَکْبَرُوا او کبر ئے وکړهٔ له
ایمان اسْتِکْبَارًا ﴿۷﴾ په کبر لوی ف ذکر ئے کړهٔ مصدر له جهته د ډیر والی د کبر د دوئ
نه ثُمَّ پس له اصرار او استکبار د دوئ نه اِنِّیْ په تحقیق سره ما دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ﴿۸﴾
ومے بلل دوئ په جهر سره ثُمَّ اِنِّیْٓ پس په تحقیق سره ما اَعْلَنْتُ لَهُمْ ښکاره وویل دوئ
ته وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ او پټ م وویل دوئ ته اِسْرَارًا ﴿۹﴾ په پټ ویلو سره حاصل دا دے

چه نوح علیه السلام وبلل دوئ په شپه او ورځ کښں په پټه سره او بیائے وبلل په ښکاره
سره او بیائے په پټه او په ښکاره دواړو سره **روایت دے** چه هر کله خدائ پرے باران
بند کړ ۴۰ کاله نسځه د دوئ ئے شنړے کړے نو دوئ نوح ؑ ته رجوع وکړه نو نوح ؑ وائ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا
رَبَّكُمْ ط نو ویل ما طلب د بخښنے وکړئ له خدائ خپله یعنی توبه له شرکه وباسئ ځکه چه اِنَّهٗ
كَانَ غَفَّارًا (۱۰) په تحقیق سره دے خدائ بخښونکے توبه ویستونکیو لره او هر کله چه
تاسے توبه وباسئ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ وبه لیږی وریځ عَلَيْكُمْ په تاسے باندے مِّدْرَارًا (۱۱)
ډیر ورونکے د باران وَيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ او نصرت به وکا تاسے سره په مالونو
او ځامنو سره یعنی ډیر به کړا اموال او اولاد ستاسے وَيَجْعَلْ لَّكُمْ او در به کړی تاسے
لره جَنّٰتٍ باغونه وَ يَجْعَلْ لَّكُمْ او در به کړی تاسے لره اَنْهٰرًا (۱۲) ولے دا او بوجاریو
چه کښتونه او باغونه پرے او به کوی مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ څه دی تاسے لره چه امید نهٔ
لرئ لِلّٰهِ وَقَارًا (۱۳) خدائ لره د لویئ یعنی چه اعتقاد نهٔ کوئ په هغه باندے په زړهٔ چه
ایمان پرے راوړئ وَقَدْ خَلَقَكُمْ او حال دا دے چه پیدا کړی ئے یئ تاسے اَطْوَارًا (۱۴)
رنګ په رنګ سره بعضے سپین او بعضے تور بعضے بینا او بعضے نابینا بعضے جوړ او بعضے
نا جوړ **روایت دے** چه خبر کړل خدائ دوئ اول په کتلو سره نفسو خپلو ته ځکه
چه نفسونه نزدے دی دوئ ته او بیائے په نظر کولو سره عالم ته چه دلالت کوی په
صانع باندے نو وائ اَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ آیا نهٔ وینی تاسے چه څرنګه خَلَقَ اللّٰهُ پیدا
کړیدی خدائ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا (۱۵) اووهٔ آسمانونه لاندے باندے وَّجَعَلَ الْقَمَرَ او
ګرځولے ئے ده سپوږمئ فِيْهِنَّ نُوْرًا په یو د اسمانونو کښں روښانه وَجَعَلَ الشَّمْسَ
او ګرځولے ئے دے نمر سِرَاجًا (۱۶) ډیوه روښانه اهل د زمکے ته یعنی لکه چراغ چه
لرے کونکی د تیرے دے له مجلس د دوئ نه. دا رنګے نمر محوه کونکے د ظلمت د شپے دے له
اطرافو د زمکے نه وَاللّٰهُ اَنْۢبَتَكُمْ او خدائ زرغون کړئ تاسے یعنی پیدا ئے کړئ
مِّنَ الْاَرْضِ له زمکے نه یعنی پیدا ئے کړهٔ پلار ستاسے آدم ؑ له خاورو څخه نو تاسے هم له خاورو

پیدا یئ نَبَاتًا ﴿۱۷﴾ په زړغونید وسره ثُمَّ یُعِیۡدُکُمۡ فِیۡهَا پس بیا به بوځی تاسې په زمکه کښې یعنې
په قبرونو کښې پس له مرګه وَیُخۡرِجُکُمۡ او وبه باسی تاسې لره په ورځ د قیامت له قبرونو نه
اِخۡرَاجًا ﴿۱۸﴾ په ویستلو سره وَاللّٰهُ جَعَلَ لَکُمُ الۡاَرۡضَ او خدائ ګرځولې ده تاسې لره زمکه
بِسَاطًا ﴿۱۹﴾ بچاونړه لِتَسۡلُکُوۡا د پاره د دې چه ځئ تاسې مِنۡهَا له زمکې څخه سُبُلًا
فِجَاجًا ﴿۲۰﴾ پراخه لارو لویو باندې روایت دے چه پس له وعظونو او له نصیحتونو
څخه عام قوم د نوح علیه السلام فکر کونکی شول نو خواصو او سردارانو دوئ لره ګمراه
کړل نو پس قَالَ نُوۡحٌ وویل نوح علیه السلام رَبِّ اِنَّهُمۡ اے ربه ځمایه تحقیق سره عام
قوم ځما عَصَوۡنِیۡ نافرمانی کوی له مانه وَاتَّبَعُوۡا او پیروی کوی مَنۡ لَّمۡ یَزِدۡهُ د هغه چا
چه نهٔ زیاتوی هغه لره مَالُهٗ وَوَلَدُهٗ مال د هغه او فرزندان د هغه اِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾
مګر زیانکاری او ګمراهی وَمَکَرُوۡا او مکر ئے وکړو یعنی مشرانو ئے مَکۡرًا کُبَّارًا ﴿۲۲﴾
په مکر لوئ لره داسې چه کشران ئے ټول خپل کړل او په ضرر ځما باندې ورته امر
کوی وَقَالُوۡا او وائی مشران ئے کشرانو ته چه لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَکُمۡ مهٔ پریږدئ
عبادت د خدایانو خپلو وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا او مهٔ پریږدئ هغه بُت چه نوم ئے "ود" دے
او په صورت د سړی دے وَّلَا سُوَاعًا ۙ۬ او مهٔ پریږدئ سواع لره چه په صورت د ښځې دے
وَّلَا یَغُوۡثَ او مهٔ پریږدئ یغوث لره چه په صورت د مزری دے وَیَعُوۡقَ او مهٔ پریږدئ
یعوق لره چه په صورت د آس دے وَنَسۡرًا ﴿۲۳﴾ او مهٔ پریږدئ نسر لره چه په صورت
د نموس دے وَقَدۡ اَضَلُّوۡا او حال دا دے چه په تحقیق سره ګمراه کړل مشرانو
او چا ویلی دی چه بتانو کَثِیۡرًا ۚ۬ ډیرخوارانو لره او یا ډیرو خلقو لره روایت دے
چه هرکله خدائ وکړه نوح علیه السلام ته چه ایمان به رانهٔ وړی له قومه ستا نه
هیڅوک نو دُعا په حق د دوئ کښې لکه چه وائی وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِیۡنَ او مه زیاتوه اے
خدایه ظالمانو لره اِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾ مګر هلاکت او عذاب مِمَّا خَطِیۡٓئٰتِهِمۡ په سبب
د ګناهونو خپلو سره اُغۡرِقُوۡا غرق کړے شو په طوفان کښې فَاُدۡخِلُوۡا نَارًا ۙ۬

پس داخل کړے شو په اور کښې یعنی په قبر ونو کښې او چا ویلی دی به آخرت کښې فَلَمْ
یَجِدُوْا لَهُمْ پس بیا نهٔ مونده دوئ دپاره دځان خپل مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ بغیر له خدائ اَنْصَارًا ﴿۲۵﴾
مددګاران چه له طوفان نه خلاص کړے وے روایت دے چه هر کله خدائ نوحؑ
ته خبر وکړو چه هیڅوك به له قومه ستانه ایمان رانهٔ وړی او له دوئ نه کهٔ څوك پیداشی
هم به ایمان رانهٔ وړی پس نوحؑ مناجات وکړو وَقَالَ نُوْحٌ رَّبِّ او وویل نوحؑ اے ربه څما
لَا تَذَرْ عَلَی الْاَرْضِ مهٔ پریږده په مځ د زمکے باندے مِنَ الْکٰفِرِیْنَ دَیَّارًا ﴿۲۶﴾ له کافرانو څخه
اوسیدونکی لره یعنی هیڅ کافر ژوندے مه پریږده څکه چه اِنَّكَ په تحقیق سره ته اِنْ
تَذَرْهُمْ کهٔ چرے پریږدے دوئ لره یُضِلُّوْا عِبَادَكَ ګمراهان به کړی دوئ بندګان ستا
چه مؤمنان دی وَلَا یَلِدُوْٓا اونهٔ پیدا کیږی له دوئ نه فرزندانِ اِلَّا فَاجِرًا کَفَّارًا ﴿۲۷﴾ مګر
بدکردارہ ناشکره رَبِّ اغْفِرْلِیْ اے ربه څما وبخښه ما لره وَلِوَالِدَیَّ او وبخښی مور او
پلار څما تنبیه نامه دپلار د نوحؑ ملك وه او د مورے شمخاوه وَلِمَنْ دَخَلَ بَیْتِیَ
او وبخښے هغه چالره چه داخل شی کور او یا کشتئ او یا مسجد څما کښې مُؤْمِنًا په هغه
حال کښې چه مؤمن وی عه وَّلِلْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ط او وبخښه ټولو مؤمنانو سړو او
مومنانو ښځو لره تر قیامته پورے او بیا دُعا وکړه نوحؑ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِیْنَ او مه زیاتوه د
پاره د ظالمانو یعنی کافرانو اِلَّا تَبَارًا ﴿۲۸﴾ مګر هلاکت پس هلاك ئے کړه او په حدیث کښې ع ۲
دی چه مَنْ قَرَأَ سورة نوح کان من المؤمنین الذین تدرکهم دعوة نوح علیه السلام

سُوْرَةُ الْجِنِّ ۷۲ مکیة　بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ　اٰیاتها ۲۸　رکوعها ۲

روایت دے چه یو ټولے له پیریانو څخه په بطن نخل کښې رسول کریم صلی الله علیه
وسلم ته ورسیدهٔ او قرآن ئے واوریدهٔ نو ایمان ئے راوړهٔ پس هر کله چه دوئ قوم خپل
ته ورسیدل نو رنګارنګ خبرے ئے دوئ ته وویلے پس خدائ ترے پیغمبر صلعم خبر کړو

عه یعنی هر چا چه ولوست سورة نوح دے به له هغه مؤمنانو څخه چه مونده لے وی هغوئ دُعا او بلنه د
نوح علیه السلام ۱۲

چه قُلْ ووایه ته اے محمد صلی الله علیه وسلم اُوْحِيَ اِلَيَّ وحی کړے شویده ماته دا سے چه
اَنَّهُ اسْتَمَعَ آوریدلے دے دا قرآن په بطن نخله کښ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ یو ټولے له پیریانو نه
ف نفر هغه ټولی ته وائی چه له لسونه کم وی اوله دریونه زیات وی فَقَالُوْٓا پس وویلے
دوی قوم خپل ته هر کله چه بیرته ورغلل دا سے چه اِنَّا سَمِعْنَا په تحقیق سره واوریدل
مونږه قُرْاٰنًا عَجَبًا ① قرآن لره عجیبه چه له کلام د بشر سره مناسبت لری یَّهْدِيْٓ لاره
ښیي دغه قرآن اِلَى الرُّشْدِ ایمان او نیکو ته فَاٰمَنَّا نو پس ایمان راوړو مونږه بِهٖ
په قرآن باندے وَلَنْ نُّشْرِكَ او هیڅکله شریک نهٔ نیسو بِرَبِّنَآ له ربه خپل سره اَحَدًا ②
هیڅ یو له بتانو اوله نورو څخه وَاَنَّهٗ تَعٰلٰى او وے ویل دا سے چه په تحقیق سره لویه ده
جَدُّ رَبِّنَا لوئی د رب ځمونږه مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً نهٔ ئے ده نیولے ښځه وَّلَا وَلَدًا ③ او نه
فرزند لکه چه وائی کافران د پیریانو او د بنی آدمو وَاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ او وویل دوی قوم خپل ته
دا سے چه په تحقیق سره وائی سَفِيْهُنَا جاهل او ناپوهه ځمونږه چه ابلیس دے. عَلَى
اللّٰهِ په خدائ باندے شَطَطًا ④ دروغ لره چه نسبت د ښځے او د فرزند خدائ ته
کوی وَاَنَّا ظَنَنَّآ او مونږه یقین کولو دا سے چه اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ وبه نهٔ وائی سړی
او پیریان عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ⑤ په خدائ باندے دروغ نو خامخا هرڅهٔ چه سفهاؤ ځمونږه
وبه ویل مونږه به پرے یقین کولو پس هر کله چه واوریدهٔ مونږه قرآن و پوهیدو چه
هغوئ دروغ ویل په خدائ باندے نو ایمان مو پرے راوړهٔ روایت دے چه هر کله به
څوك له عربو څخه ځائ ویره ناك ته ورسیدهٔ نو ویل به ئے پناه او امان غواړم په سردار
د دے ځائے سره له شره د سفهاؤ د دے قوم نو خدائ وائی وَاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ
او په تحقیق سره وو سړی له بنی آدمو نه چه يَعُوْذُوْنَ پناه به ئے غوښتله بِرِجَالٍ مِّنَ
الْجِنِّ په سړو سره له پیریانو نه فَزَادُوْهُمْ پس زیات کړه بنی ادمو پیریانو لره په سبب
د دے استعاذے[ع] سره رَهَقًا ⑥ سرکشی او کبر چه ویل به ئے مونږه سرداران د پیریانو

[ع] یعنی په سبب د دے ویناا و فریاد غوښتلو سره ۱۲

او د بنی آدمو یو وَاَنَّهُمْ ظَنُّوْا او په تحقیق سره کافرانو بنی آدمو اوچاویلی دی پیریانو گمان
کولو کَمَا ظَنَنْتُمْ لکه چه تاسے گمان کوئ اے پیریانو اوائے اهل مکو داسے چه اَنْ لَّنْ
یَّبْعَثَ اللّٰهُ هرگز پورته به نه کړی خدائ اَحَدًا ⑦ هیڅوك له مړیونه د پارهٔ دحساب نو
هرکله چه قرآن ئے واوریده اقرار ئے په بعث باندے وکړو نو تاسے هم اقرار پرے باندے
وکړئ وَ اَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ او په تحقیق سره چه ورسیدو مونږه آسمان ته د پارهٔ داوریدو
دخبرو د ملائکو فَوَجَدْنٰهَا پس بیاموندهٔ مونږه آسمان مُلِئَتْ ډك کړے شوے حَرَسًا شَدِیْدًا
له څوکیدارانو محکمونه چه ملائك دی وَّشُهُبًا ⑧ او له ستورو ویشتو نکیو پیریانو
لره ۔ اَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ او په تحقیق سره وو مونږه چه کیناستو به روسبے له پیغمبره مِنْهَا
له آسمان مَقَاعِدَ په ځایونو د ناسته کښې لِلسَّمْعِ ط د پارهٔ داوریدلو د اخبارو د آسمان یعنی
وړومبے له پیغمبره به مونږه موندل بعضے ځایونه خالی له څوکیدارانو اوستورو نه فَمَنْ
یَّسْتَمِعِ الْاٰنَ پس هغه څوك له پیریانو چه طلب اوقصد داوریدو وکړی اوس یَجِدْ
لَهٗ مومی د پارهٔ دځان خپل شِهَابًا ستوری روښانه اوغورځونکی رَّصَدًا ⑨ ولاړ د
پارهٔ د سیزلو ئے وَّ اَنَّا لَا نَدْرِیْٓ او په تحقیق سره مونږه نه پوهیږو چه اَشَرٌّ اُرِیْدَ آیا
بدی اراده کړے شوے ده په منع ځمونږه کښې له آسمان بِمَنْ فِی الْاَرْضِ په هغه چا باندے
چه په زمکه کښې دی له بنی آدمو اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ اویا اراده کړے ده په حق ددوئ
کښې خدائ د دوئ رَشَدًا ⑩ خیراوصلاحیت وَّ اَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ او په تحقیق سره
چه بعضے ځمونږه نیکو کاران دی پس له آوریدو د قرآن وَ مِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ط او بعضے له
مونږه میانه روی دی كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ⑪ یو مونږه خاوندان د لارو مختلفو وَّ اَنَّا
ظَنَنَّآ او په تحقیق سره مونږه یقین کوو داسے اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ هیڅ کله به عاجز نهٔ
کړو خدائ لره فِی الْاَرْضِ په زمکه کښې که په یو ځائ مقام ونیسو وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ⑫
او عاجز به نهٔ کړو دهٔ لره که وتختو که قاف ته وَّ اَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓی او په تحقیق سره
مونږه هرکله چه واوریدهٔ قرآن لره اٰمَنَّا بِهٖ ط ایمان راوړو مونږه په هغه باندے فَمَنْ یُّؤْمِنْ

باندے فَلَا یُظۡهِرُ پس نهٔ خبروی عَلٰی غَیۡبِهٖۤ په علم غیب خپل باندے اَحَدًا ﴿۲۶﴾ هیڅ
لره اِلَّا مَنِ ارۡتَضٰی مګر هغه چا ته چه راضی وی ترے دے مِنۡ رَّسُوۡلٍ له رسوله خپله فَاِنَّهٗ یَسۡلُكُ
پس په تحقیق سره خدائی روانوی مِنۡۢ بَیۡنِ یَدَیۡهِ وړاندے له هغه پیغمبره وَمِنۡ خَلۡفِهٖ او
روستو دهغه نه رَصَدًا ﴿۲۷﴾ څوکیداران له ملائکو څخه لِیَعۡلَمَ د پاره د دے چه پوهـ شی
رسول وحی کړے شوے داسے چه اَنۡ قَدۡ اَبۡلَغُوۡا په تحقیق سره ورسول جبریل ؑ او هغه
ملائکے چه په وخت د نزول د وحی کښ همراه ددهٔ وی رِسٰلٰتِ رَبِّهِمۡ پیغامونه د رب خپل
بے نقصانه اوچا ویلی دی لیعلم د پاره د دے چه پوهـ شی خدائی داسے چه ان قد ابلغوا
په تحقیق سره رسولی دی پیغمبرانو رسٰلٰت الخ وَاَحَاطَ او رسیدلے او شامل دے علم
دخدائی بِمَا لَدَیۡهِمۡ په هغه څیز باندے چه رسولانو او ملائکو څخه دے وَاَحۡصٰی او شمارلی
ئے دی کُلَّ شَیۡءٍ هر څیز عَدَدًا ﴿۲۸﴾ ع له جهته د شماره او په حدیث کښ دی چه عه مَن
قرء سورة الجن کان له بعدد کل جنی صدق محمدًا وکذب به عتق رقبة ؑ

سُوۡرَةُ الۡمُزَّمِّلِ ۷۳ مَکِّیَّةٌ ۳ — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ — اٰیَاتُهَا ۲۰ رُکُوۡعَاتُهَا ۲

روایت دے چه پیغمبر ؑ اوده وو په شپه کښ چه جامه ئے له ځانه چاپیره کړے وه پس
امرورته وکړے شهٔ د پاره د مانځه داسے چه یٰۤاَیُّهَا الۡمُزَّمِّلُ ﴿۱﴾ اے جامه
اغوستونکیه قُمِ الَّیۡلَ پاسه په شپه کښ اِلَّا قَلِیۡلًا ﴿۲﴾ مګر کم له ټولے شپے څخه چه هغه
نِّصۡفَهٗۤ نیمه شپه ده اَوِ انۡقُصۡ مِنۡهُ یا کمه کړه له نیمے شپے نه قَلِیۡلًا ﴿۳﴾ لږ چه ثلث دے۔
اَوۡ زِدۡ عَلَیۡهِ یا زیات کړه په نیمے شپے باندے چه دوه ثلثه دی وَرَتِّلِ الۡقُرۡاٰنَ او لوله قرآن
لره تَرۡتِیۡلًا ﴿۴﴾ په لوستو واضحو سره۔ چه سامع ئے شمار د حروفو کولے شی اِنَّا سَنُلۡقِیۡ په
تحقیق سره چه مونږ ژر به نازل کړو عَلَیۡكَ په تا باندے قَوۡلًا ثَقِیۡلًا ﴿۵﴾ خبرے سختے لره

عه هغه چا چه ولوست سورة جن. وی به دهٔ لره په شمار د هر پیری چه تصدیق ئے کړے
وی د محمد صلے الله علیه وسلم او کهٔ تکذیب ئے کړے وی د دهٔ په قدر د ازادولی د مریٔی ۱۲

چه قرآن د ے په مکلفانو باندے له جهته د اوامرو اونواهیو ئخه او چاوبلی دی خبرے سختے له دۀ په منافقانو او کافرانو باندے اِنَّ نَاشِئَةَ الَّیْلِ په تحقیق سره پورته کیدل په شپه کښ له خوبه هِیَ اَشَدُّ وَطْاً دغه پورته کیدل ډیر سخت دی له جهته د رنځ او کلیف ځکه چه ترك کول دخوب ډیر سخت دی وَّاَقْوَمُ قِیْلًا ﴿٦﴾ او درست زیات دے له جهته د ویلو ئخه. یعنی لوستل د قرآن په شپه کښ بهتر دی ځکه چه زړهٔ فارغ وی اِنَّ لَكَ فِی النَّهَارِ او په تحقیق سره تالره په ورځ کښ سَبْحًا طَوِیْلًا ﴿٧﴾ شغل دے ډیر پس فارغ کړه په شپه کښ ځان خپل د پاره دعبادت دخدائ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ او یادوه نامه د رب خپل وَتَبَتَّلْ اِلَیْهِ او پریکړے شه له خلقونه دهٔ ته په عبادة کښ تَبْتِیْلًا ﴿٨﴾ په پریکولو کاملو سره یعنی نفس خپل له فکره د ما سوی الله نه مجی دکړه رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ دا بدل دے له ربك نه یعنی یادوه نامه د رب خپل چه خداوند د مشرق او د مغرب دے. لَآ اِلٰهَ نشته معبود برحق اِلَّا هُوَ مگر دے دے فَاتَّخِذْهُ پس ونیسه دے وَكِیْلًا ﴿٩﴾ کارساز خپل وَاصْبِرْ او صبر کوه عَلٰی مَا یَقُوْلُوْنَ په هغه څیز باندے چه وائی کافران ما لره بنځهٔ او فرزند او تالره شاعر او ساحر او مجنون ځکه چه تهٔ دوست څمائے وَاهْجُرْهُمْ او پریږده دوی لره هَجْرًا جَمِیْلًا ﴿١٠﴾ په پریښودلو نیکو سره یعنی انتقام ترے مهٔ اخله او ما ته ئے پریږده لکه چه وائی وَذَرْنِیْ او پریږده ما لره وَالْمُكَذِّبِیْنَ او دروغ ویونکو لره چه اُولِی النَّعْمَةِ خاوندان د نعمتونو دی وَمَهِّلْهُمْ قَلِیْلًا ﴿١١﴾ او مهلت ورکړه دوی لره لږ تر بدر او یا تر قیامت ځکه چه اِنَّ لَدَیْنَآ په تحقیق سره په نزد څمونږ دی په آخرت کښ اَنْكَالًا طوقونه او زنځیرونه درانهٔ وَّجَحِیْمًا ﴿١٢﴾ او اور سیزونکے وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ او خوراك غاړه نیونکے وَّعَذَابًا اَلِیْمًا ﴿١٣﴾ او عذاب دردناك روایت دے چه پس له نزول د دغه آیت پیغمبر ؑ بیهوش پریوت او وے ویل چه دا وعدے به رښتیا شی یَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ په هغه ورځ باندے چه په خوزیدو راشی زمکه وَالْجِبَالُ او په خوزیدو راشی غرونه وَكَانَتِ الْجِبَالُ او وګرځی غرونه سره دلوی والی كَثِیْبًا په مثل دشګو ذره ذره مَّهِیْلًا ﴿١٤﴾ روان

اوبهید ونکی یعنی غرونه سخت به په مثل دشکو روان شی اِنَّآ اَرۡسَلۡنَآ به تحقیق سره لیږلے
دے مونږه اِلَيۡكُمۡ تاسے ته اے اهل مکهٔ رَسُوۡلًا ۙ پیغمبر یعنی محمد صلی الله علیه وسلم شَاهِدًا
عَلَيۡكُمۡ شاهدی ویونکے په تاسے باندے په ورځ دقیامت په کفر ستاسے كَمَاۤ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلٰى
فِرۡعَوۡنَ رَسُوۡلًا ؕ﴿۱۵﴾ لکه چه لیږلے وو مونږ فرعون وته رسول یعنی موسیٰؑ فَعَصٰى فِرۡعَوۡنُ
الرَّسُوۡلَ پس نافرمانی وکړه فرعون له موسیٰ علیه السلام فَاَخَذۡنٰهُ پس ونیوو مونږه هغه
اَخۡذًا وَّبِيۡلًا ﴿۱۶﴾ په نیولو سختو سره یعنی په دریاب کښ موغرق کړهٔ فَكَيۡفَ تَتَّقُوۡنَ پس
څرنګه به وساتیٔ اے مشرکانو له عذابه نفسونه خپل اِنۡ كَفَرۡتُمۡ که چرے کافر یاتے
شئ په کفر خپل باندے يَوۡمًا له عذاب د هغې ورځے چه له هیبته د هغې نه يَّجۡعَلُ الۡوِلۡدَانَ
وبه کرځی هلکان شِيۡبَا ۙ﴿۱۷﴾ زاړهٔ یعنی ویخته به ئے سپین شی له غمه ځکه چه غم سړے
زړوی السَّمَآءُ مُنۡفَطِرٌۢ بِهٖ دا اسمان به مات شی په سبب د سختیٔ د هغه ورځے سره
كَانَ وَعۡدُهٗ مَفۡعُوۡلًا ﴿۱۸﴾ دی وعده دخدایٔ په راتلو د دے واقع باندے کید ونکے اِنَّ
هٰذِهٖ په تحقیق سره دا آیتونه تَذۡكِرَةٌ ۚ پند اونصیحت دے خلقولره فَمَنۡ شَآءَ اتَّخَذَ
پس هر څوك چه رضا ئے وشی نیسی دِ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيۡلًا ﴿۱۹﴾ خدائی خپل ته لاره د ایمان
په دے پند سره روایت دے چه پس نزول د قُمِ الَّيۡلَ پیغمبرؐ او اصحاب به ئے
پاسیدل په شپه کښ اوهر کله چه اندازه او د ثُلث او د ثلثانو معلومه نه وه به
دوئی باندے پس له جهته دویرے د عدم محافظت په قدر واجبه باندے تمامه شپه
به ئے موځ کولو ترسبا پورے تر هغه چه خپو مبارکو د پیغمبرؐ پارسوب وکړو نو
خدائی پس له یوکاله دغه بارګران له مومنانو نه پورته کړو داسے چه اِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ
په تحقیق سره خدائی ستا پوهیږی په دے اَنَّكَ تَقُوۡمُ چه ته پاسے د پاره د مانځه
په شپه کښ اَدۡنٰى مِنۡ ثُلُثَىِ الَّيۡلِ کمتر له دوو ثلثانو د شپے څخه وَنِصۡفَهٗ او موځ کوئ
په نیمه شپه کښ وَثُلُثَهٗ او په دریمه برخه له شپے وَطَآئِفَةٌ او پاسی په دے طریقے
سره یو ټولے مِّنَ الَّذِيۡنَ مَعَكَ ؕ له هغه کسانو چه تا سره دی له اصحابو وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ

الَّیۡلَ وَالنَّهَارَ ط او خدای اندازه کوی شپې او ورځې لره عَلِمَ پوهیدهٔ خدای دا سې چه اَنۡ لَّنۡ تُحۡصُوۡهُ طاقت به و نهٔ لرئ تاسې اندازې د شپې لره فَتَابَ عَلَیۡکُمۡ پس اسان والے ئې وکړه په تاسې یعنی ساقط ئې کړه له تاسې فرضیت د قیام په شپه کښې نو فَاقۡرَءُوۡا پس لولئ په مانځه کښې مَا تَیَسَّرَ هغه قدرے چه اسان وی مِنَ الۡقُرۡاٰنِ ط له قرآن او چا ویلی دی مراد له قرآن مونځ دے نومعنا ئې دا سې شوه چه ادا کوئ مونځ هغه قدرے چه اسان وی په تاسې باندے پس بیان کړهٔ خدای حکمت په منسوخ والی د قیام د شپې نو وے ویل عَلِمَ اَنۡ سَیَکُوۡنُ پوهیدهٔ خدای چه وی به مِنۡکُمۡ بعضې له تاسې نه مَّرۡضٰی لا بیماران پس سخت به وی په دوئ باندے پاسیدل په شپه کښې وَاٰخَرُوۡنَ او وی به نور له تاسې نه یَضۡرِبُوۡنَ فِی الۡاَرۡضِ چه سفر به کوی په زمکه کښې یَبۡتَغُوۡنَ په دے حال کښې چه طلبوی به رزق حلال او یا علم مِنۡ فَضۡلِ اللّٰهِ لا له فضله د خدای وَاٰخَرُوۡنَ او وی به بل نور چه یُقَاتِلُوۡنَ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ زصلے جنګ به کوی په لارے د خدای کښې پس هر کله چه دوئ ته رنځ او سختی رسیدله په مانځهٔ د شپې کښې نو ساقط ئې کړو له دوئ نه ئې برابرے وکړے شو په مینځ د مجاهد او مکتسب کښې ځکه چه کسب حلال جهاد دے فَاقۡرَءُوۡا پس لولئ مَا تَیَسَّرَ مِنۡهُ ولا هغه قدرے چه اسان وی له قرآن وَاَقِیۡمُوا الصَّلٰوةَ او ادا کوئ مونځ فرض لره وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ او ورکوئ زکوٰة واجب لره وَاَقۡرِضُوا اللّٰهَ او قرض ورکوئ خدای لره قَرۡضًا حَسَنًا ط قرض نیک په خوشحالئ د زړهٔ سره یعنی خیرات ورکوی له مال بې له زکوٰة په لاره نیکه کښې ف اضافت وکړو خدای خپل ځان ته د پاره د دے چه غنیان د احسان نهٔ کوی په فقیرانو باندے په خیرات کښې وَمَا تُقَدِّمُوۡا او هغه خیر چه وړاندے لیږئ تاسې لِاَنۡفُسِکُمۡ د پاره د نفسونو خپلو مِّنۡ خَیۡرٍ له نیکئ نه تَجِدُوۡهُ بیا به مومئ هغه خیر عِنۡدَ اللّٰهِ په نزد د خدای هُوَ خَیۡرًا دغه مال لیږل بهتر دے وَّاَعۡظَمَ اَجۡرًا ط او لوی دے له جهته د ثواب یعنی ثواب به ئې زیات مومی وَاسۡتَغۡفِرُوا اللّٰهَ ط او طلب د بخښنې کوئ له خدای په هر حال کښې ځکه چه انسان له تقصیر خالی نهٔ دے

إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ په تحقیق سره خدای بخښونکے دے بندګانو لره رَّحِيمٌ ﴿۲۰﴾ مهربان دے په دوی باندے او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة المزمل رفع الله عنه العسر فی الدنیا و الاخرة۔ ؏

سورة المدثر ۷۴ مکية ۴ ‏— بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ — اٰیاتها ۵۶ رکوعها ۲

روایت دے له جابر رضه چه پیغمبر د خدای صلے الله علیه وسلم ویلی دی داسے چه زهٔ په یوے لارے باندے روان وُم چه ناګاه یو آواز مِ واوریدهٔ پس نظر وکړهٔ ما بنی طرف او کینړطرف ته نو ما ونهٔ لیدهٔ هیڅ څیز پس نظر مِ وکړو پورته نو مِ ولیدهٔ په مینځ د زمکے او د آسمان کښ ملائکه په تخت ناسته پس له هیبته په ما باندے ویره راغله نو راغلم کور ته نو دُوم وئیل ما پټ کړئ په جامو کښ نو زهٔ ئے پټ کړم پس راغلو جبریل ؑ او وے ویل يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴿۱﴾ اے جامه اغوستونکیه قُمْ پورته شه له ځایه د خوبه فَأَنذِرْ ﴿۲﴾ پس وویروه قوم خپل له عذابه د خدای که ایمان نهٔ راوړی وَرَبَّكَ او خدای خپل لره فَكَبِّرْ ﴿۳﴾ پس په لویئ سره یادوه وَثِيَابَكَ او جامے خپلے فَطَهِّرْ ﴿۴﴾ پاکے کړه په اوبو سره له پلیتئ نه ځکه چه مونځ نهٔ صحیح کیږی مګر په جامو پاکو کښ او چا ویلی دی پاک کړه نفس خپل له افعالو قبیحو څخه وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿۵﴾ او له بتو لوګنا هونو نه کناره کوه وَلَا تَمْنُن او احسان مهٔ کوه په خدای باندے په عمل سره تَسْتَكْثِرُ ﴿۶﴾ چه ډیر ګڼړی او چا ویلی دی عطا مهٔ کوه چا ته د پاره د طمع د زیاتوالی وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿۷﴾ او د پاره د رضا د خدای خپل صبر کوه فَإِذَا نُقِرَ پس په هغه وخت کښ چه پو کوهلے شی فِي النَّاقُورِ ﴿۸﴾ په شپیلئ کښ فَذَٰلِكَ پس دغه پو کے يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴿۹﴾ نښه د ورځے سختے ده عَلَى الْكَافِرِينَ په کافرانو باندے غَيْرُ يَسِيرٍ ﴿۱۰﴾ نهٔ به وی آسانه په دوی باندے روایت دے چه ولید یو ورځے له پیغمبر ؑ اول د سورة حٰمٓ او د سورة مومن

عه هغه چا چه ولوست سورة مزمل پورته به کړی خدای له دهٔ تنګ خواری د دنیا او د آخرت ۱۲ منه

واؤریدهٔ نوقوم خپل ته راغے او وے ویل چه سوګند دے په خدائ تعالیٰ باندے چه له محمد ص نه مې یو کلام واؤریده چه نه لهٔ خبرو د جنّ او نه له انسُ ځکه چه دیر خوږوالے ئے لرلو او دغه کلام به غالب شی نو قریشو ګمان وکړو چه ولید ایمان راوړو نو ابوجهل په رنګ رنګ خبرو سره جاهلیت ته مائل کړو چه قران ته ئے سحر او شعر وویلو نو پیغمبر ص چه خبر شهٔ ډیر خفه شهٔ حق سبحانهٗ و تعالیٰ دا ایت نازل کړو ذَرۡنِیۡ پریږدۀ ما لره وَ مَنۡ خَلَقۡتُ او پریږ ده هغه څوک چه پیدا کړے مې دے هغه وَحِیۡدًا ⑪ یواځے بے مال او بے ولده او بے مددګاره وَّجَعَلۡتُ لَهٗ او ورکړے مې دے دهٔ لره مَالًا مَّمۡدُوۡدًا ⑫ مال ډیر روایت دے له مجاهد رح چه وے دهٔ لره سل زره اشرفئ او وُ دهٔ لسره باغونه په طائف کښې او هم دا رنګے اوښان او چیلئ او ګډے ئے ډیرے لرلے او وینځے او غلامان بے له شماره بهروو وَّبَنِیۡنَ شُهُوۡدًا ⑬ او ورکړی مې دی دهٔ لره فرزندان لس تنه حاضر دهٔ سره په مکه کښې ځکه چه غنیان وو حاجت ئے سفر ته دپاره د سوداګرئ نهٔ وو روایت دے چه له لسو وا ړونه دریو تنو ایمان راوړے وو خالد او هشام او عماد وَّ مَهَّدۡتُّ لَهٗ او غوړ ولے مې ده ده لره بچاونړه د سرداری تَمۡهِیۡدًا ⑭ په غوړولو سره ثُمَّ یَطۡمَعُ پس طمع کوی دا سے چه اَنۡ اَزِیۡدَ ⑮ زیات کړم نعمت خپل په مال او اولاد سره بے له شکره کَلَّا ط نهٔ کوم دا سے یعنی نعمتونه خپل برے نهٔ زیا توم ځکه چه اِنَّهٗ کَانَ به تحقیق سره دے دا کافر لِاٰیٰتِنَا ایتونو د قران څمونږ لره عَنِیۡدًا ⑯ منکر روایت دے چه په تحقیق له نزول د دے ایت مال او مرتبه ئے کمید له ترهغه پورے چه مړ شهٔ سَاُرۡهِقُهٗ پس زر دے چه وبه رسوم دے صَعُوۡدًا ⑰ غرد صعود ته او دغه غر د اور دے چه پس له اویا کالونه به ئے سرته رسیږی. او هر کله چه ورسیږی بیـا بنسکته راغورځولے شی ځکه چه اِنَّهٗ فَکَّرَ په تحقیق سره ولید فکر وکړو چه څرنګه طعن وکړم په قرآن کښې وَ قَدَّرَ ⑱ او اندازه ئے کړو کار د محمد ص او کار د قرآن پس وویل ولید چه دے جادوګر دے ځکه چه ښځه له خښتنه او څوک له پلاره جدا کوی او دا کار د جادوګر دے کافر قول

قائل شوچه رښتیا دِ دویل پس دا ایت نازل شه فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۱۹﴾ پس لعنت دِ وی
پرے چه څرنګه اندازه ئے وکړه ثُمَّ قُتِلَ پس بیا دِ لعنت وی كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۲۰﴾ چه څرنګه
اندازه ئے وکړه ثُمَّ نَظَرَ ﴿۲۱﴾ پس نظر ئے وکړو قرآن ته دوباره ثُمَّ عَبَسَ پس مخ ئے ترېو
کړو هر کله چه څائی د طعن ئے بیانه موبه قرآن کښ وَبَسَرَ ﴿۲۲﴾ او اُچولے غوټه کړه په
طریقه د کراهیت سره ثُمَّ اَدْبَرَ پس بیا ئے مخ وګرځولو مخ له حق وَاسْتَكْبَرَ ﴿۲۳﴾ او ګردن
کشی ئے وکړه له متابعت د پیغمبر ﷺ فَقَالَ پس وے ویل اِنْ هٰذَآ نهٔ دے دا چه محمد ﷺ
ئے وائی اِلَّا سِحْرٌ مګر سحر او جادو دے يُّؤْثَرُ ﴿۲۴﴾ چه نقل کولے شی له ساحرانو
نه اِنْ هٰذَآ نهٔ دے دا قرآن اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿۲۵﴾ مګر خبره د بنیادمو دی
سَاُصْلِيْهِ زر به وغورځوم ولید لره سَقَرَ ﴿۲۶﴾ په طبقه بخمه کښ له دوزخ چه نوم ئے سقر
دے وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿۲۷﴾ او څهٔ خیز خبر کړے ته چه څهٔ خیز دے سقر لَا تُبْقِيْ
او ردے چه پرے به نږدی غوښے او پوست او رګونه او پلے او هډوکی په هیڅ دوزخی
باندے بلکه ټول به ئے وسیزی او بیا به ئے خدائی نوے پید اکړی وَلَا تَذَرُ ﴿۲۸﴾
او پرے به ئے نږدی دوباره مګر و به ئے سیزی لَوَّاحَةٌ هغه اور تورونکے دے لِّلْبَشَرِ ﴿۲۹﴾
پوست د کافرانو لره عَلَيْهَا په اور د سقر باندے تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿۳۰﴾ نو لس ۱۹ ملائک موکل
دی ۔ **روایت دے** چه پس له نزول د دے ایت ابوجهل وویل چه یو تن به له
تاسے نه لس تنه ملائکے دفع نهٔ کړے شی نو وویل ابوالاسد څوی د کلده چه زه به اولس ۱۷
ملائک دفع کړم او دوه باقی تاسے دفع کړئ پس دا ایت نازل شهٔ وَمَا جَعَلْنَآ او مانهٔ
دی ګرځولی اَصْحٰبَ النَّارِ موکلان د دوزخ اِلَّا مَلٰٓئِكَةً ص مګر ملائکے قوت نا کے له
بنی آدمو چه یوے لره قوت د ثقلین دے وَّمَا جَعَلْنَآ او نهٔ دے ګرځولے مونږ عِدَّتَهُمْ
شمار د ملائکو چه نو لس دی اِلَّا فِتْنَةً مګر د پاره د فتنے او امتحان لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا د
کافرانو لره یعنی چه استهزاء او توقے کوی چه نولس ملائکے څرنګه د پیر جن او انس
دوزخ ته بوځی او بل ذکر د نولس رمز کړے دے د پاره د دے چه لِيَسْتَيْقِنَ یقین

وکړی اَلَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ هغه کسان چه ورکړے شوے دے تورات او انجیل ځکه چه شمارئے په کتابونو د هغو کښ نولس ذکر دے نو یس و پوهیږی دوئ چه قرآن حق دے۔ وَ او بل دپاره د دے چه یَزْدَادَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا زیات شی په دغه عدد مخصوصه سره مومنانو لره اِیْمَانًا یقین له جهته د موافقته کتابونو مخوانو سره او بیا وائی خدائی تعالیٰ د پاره دتاکید وَّلَا یَرْتَابَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ او چه شک و نهٔ کړی په شمار د مؤکلانو کښ هغه کسان چه ورکړے شوے دے ورله کتاب وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ او مؤمنان دد ے امت یعنی چه دوئ په دغه عدد مخصوصه کښ شکمند نهٔ شی وَ او بل ذکر د عدد مخصوصه م کړے دے لِیَقُوْلَ الَّذِیْنَ دپاره د دے چه و وائی هغه کسان چه فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ په زړونو کښ ئے مرض دے یعنی منافقان وَّالْکٰفِرُوْنَ او وائی کافران مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ څهٔ خیز اراده کړے دے خدائی بِهٰذَا مَثَلًا ؕ په دے شمار سره چه نولس دی مثال کَذٰلِکَ هم دارنګے له اضلال د منافقانو او کافرانو څخه او له هدایت د مومنانو څخه یُضِلُّ اللّٰهُ ګمراه کوی خدائی مَنْ یَّشَآءُ هر چالره چه رضائے وشی وَیَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ او لاره ښائی هر چا لره چه رضائے وشی روایت دے چه ابوجهل و ویل نشته خدائی د محمد ﷺ لره مددګاری مګر نولس نو نازل شهٔ وَمَا یَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّکَ او نهٔ پوهیږی په لښکر د خدائی ستا اِلَّا هُوَ ؕ مګر خدائی نو پس ګران او سخت نه دی په خدائی باندے تمامول د مؤکلانو شل او دیرش. لیکن خدائی لره په دغه عدد کښ حکمت دے چه تا سے پرے نهٔ پوهیږئ. وَمَا هِیَ او نهٔ دے بیان د سقر او یا شمار د مؤکلانو او یاد اسورة اِلَّا ذِکْرٰی مګر نصیحت دے لِلْبَشَرِ ﴿۳۱﴾ دپاره د سړو چه پند ونیسی په دے سره کَلَّا نهٔ ده داسے چه

ع ۱۵ خوئ به انکار له سقره وکړی وَالْقَمَرِ ﴿۳۲﴾ او سوګند دے په سپوږمی باندے وَالَّیْلِ اِذْ اَدْبَرَ ﴿۳۳﴾ او سوګند دے په شپه باندے په هغه وخت چه راشی ورپسے وروسته له ورځے څخه وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ ﴿۳۴﴾ او سوګند دے په صبا باندے په هغه وخت کښ چه روښانه کړی عالم لره اِنَّهَا بے تحقیق سره سقر چه دے لَاِحْدَی الْکُبَرِ ﴿۳۵﴾ خامخا یو له

خیزونو لویونه دے نَذِيْرًا پیدا کړے م دے سقر ویرو نکے لِّلْبَشَرِ ﴿۳۶﴾ سړو لره چه
په ده سره پندونیسی، لِمَنْ شَآءَ هغه چا لره چه رضا ئے وشی یعنی ویروی به دوزخ سره
هر چالره چه رضا ئے وشی مِنْكُمْ له تاسے نه دا سے چه اَنْ يَّتَقَدَّمَ پرو مخے ځی نیکی ته
اَوْ يَتَاَخَّرَ ﴿۳۷﴾ اویا بیرته ودریږی له شرکه اوله معصیت یعنی ټولو لره نصیحت ورکونکے
دے كُلُّ نَفْسٍ ؕ هر نفس بِمَا كَسَبَتْ په سبب د هغه کردار سره چه کړے ئے وی رَهِيْنَةٌ ﴿۳۸﴾
گانړه به وی یعنی په دوزخ کښ به گرفتار وی اِلَّآ اَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ ﴿۳۹﴾ مگر گرفتار به نهٔ
وی خاوندان د ښی لاس چه اطفال د مؤمنانو دی او چاویلی دی مراد ترے مؤمنان دی
ځکه چه دوئ خلاص کړی دی گردونونه خپل په طاعت سره. وی به فِيْ جَنّٰتٍ ؕ ق په
باغونو کښ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۴۰﴾ سوال به کوی دوئ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۴۱﴾ له مشرکانو نه وائی
به مؤمنان مَا سَلَكَكُمْ څهٔ خیز راوستئ تاسے فِيْ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ په سقر کښ قَالُوْا وبه
وائی مجرمان په جواب د مؤمنانو کښ. لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿۴۳﴾ نهٔ وو مونږه په دنیا
کښ له مونځ کونکیو نه یعنی په فرضیت د مانځه مو اعتقاد نهٔ کولو وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿۴۴﴾
او نهٔ وو مونږه چه په زکوٰة سره مو طعام ورکړے وے فقیرانو لره وَكُنَّا نَخُوْضُ او وو
مونږه چه فکر به مو کولو په شان د ایتونو د خدائی او د محمد ﷺ کښ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ﴿۴۵﴾
سره د فکر کونکیو وَكُنَّا نُكَذِّبُ او وو مونږه چه دروغ مو ویل بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۴۶﴾ په
ورځے د جزا باندے حَتّٰىٓ تر هغه پورے اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ﴿۴۷﴾ چه راغے مونږ لره
مرګ فَمَا تَنْفَعُهُمْ پس نفع به ونهٔ رسوی دوئ ته شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴿۴۸﴾ شفاعت
د شفاعت کونکیو ځکه چه شفاعت مؤمنانو لره دے نهٔ کافرانو لره **فائده** په دے
کښ اشارت دے ثبوت د شفاعت ته مؤمنانو لره او په حدیث کښ دی چه انّ من امتی عه
من یدخل الجنة بشفاعة اکثر من ربیعه و مضر فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ پس څهٔ

عه په تحقیق سره بعض له امت ځمانه هغه څوک دی چه داخلیږی به جنت ته په شفاعت سره د یو
له ربیعه او مضر څخه او ربیعه او مضر دا په نامے د دوو قبیلو دی چه ډیر دو په عربو کښ ۱۲
اللهم اغفر لکاتبه و لوالدیه ولمن یحبه و یرانه ۱۲

ځیږدے دوئ چه همیشه له قرآن مُعْرِضِيْنَ ﴿۴۹﴾ انکار کونکی (مخ گرځونکی) دی كَاَنَّهُمْ
گویا که دوئ حُمُرٌ خروړه د ځنګل دی مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿۵۰﴾ تختیدونکی دی فَرَّتْ چه تختی
هغوئ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿۵۱﴾ له مزری څخه یعنی لکه چه خرد ځنګل د مزری نه تختی دوئ له
اورید لو د قرآن څخه تختی روایت دے چه مشرکانو پیغمبر ۴ ته دویل مونږه تابانده
ایمان نهٔ راوړو ترهغه پورے چه په نامه څمونږه بانده کاغذ له اسمان رانهٔ وړے
داسے چه دا کاغذ دے له خدائ په نامه د فلانی سره بانده دی چه متابعت
دِکوی محمد ۴ لره نوایت راغے بَلْ يُرِيْدُ بلکه غواړی كُلُّ امْرِئٍ هرسړے مِّنْهُمْ له دوئ
څخه داسے چه اَنْ يُّؤْتٰى ورکړے شی دوئ لره صُحُفًا کاغذونه مُّنَشَّرَةً ﴿۵۲﴾ سپړودے
چه پکښ لیکلی وی اے فلانیه پیروی کوه د محمد ۴ كَلَّا ط وربه نهٔ کړے شی دوئ لره
دا کاغذونه اوکهٔ چرے ورکړے شی هم به دوئ ایمان رانهٔ وړی نو اعراض د دوئ لـه
ایمان په سبب د نه راتلو د کاغذونو سره نهٔ دے بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿۵۳﴾ ط بلکه نهٔ
ویریږی دوئ له عذاب د اٰخرت كَلَّا نهٔ ده داسے چه دوئ په باب د قرآن کښـ
وائی چه سحر او یا ویل د بنی اٰدمو دی ځکه چه اِنَّهٗ په تحقیق سره قرآن چه دے
تَذْكِرَةٌ ﴿۵۴﴾ ج نصیحت دے فَمَنْ شَآءَ پس هر څوك چه رضا ئے وشی نصیحت نیول
ذَكَرَهٗ ﴿۵۵﴾ ط نصیحت دِ ونیسی په قرآن بانده وَمَا يَذْكُرُوْنَ او نهٔ یادوی قرآن لـره
اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ط مگرپیدا خلی هغه څوك چه اراده وکړی خدائ پاك هُوَ اَهْلُ
التَّقْوٰى هغه خدائ لائق د دے دے چه ویریږی خلق له دهٔ نه وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿۵۶﴾ ع
اولائق دے چه وبخښی ویرید ونکیو لره له دهٔ نه په حدیث کښ دی چه مَّن قرء
سورة المدثر اعطاه الله عشر حسنات بعدد من صدق بمحمد ۴ ومن کذب به بمکة

عه هغه چاچه ولوست سورة مدثر وربه کړی خدائ دهٔ لره لس نیکئ په شمار د هغه چا چه تصدیق ئے کړے
دے د محمد ۴ او په شمار د هغه چا چه تکذیب ئے کړے دے د محمد ۴ په مکه کښ ۱۲

سُورَةُ القیٰمة ۷۵ مکیة ۳۱　بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ　آیاتها ۴۰ رکوعها ۲

لَآ اُقۡسِمُ سوګند خورم زهٔ بِیَوۡمِ الۡقِیٰمَةِ ﴿۱﴾ په ورځ د قیامت باندے وَلَآ اُقۡسِمُ او
سوګند خورم بِالنَّفۡسِ اللَّوَّامَةِ ﴿۲﴾ په نفس ملامت کونکی باندے یعنی په نفس متقی
باندے چه ملامتیا کوی نفس تقصیری لره او جواب د قسم محذوف دے چه لَتُبۡعَثُنَّ
دے یعنی خامخا به پورته شئ **تنبیه** لَا په دواړو ځایونو کښ زائد دے **روایت**
دے چه عدی له پیغمبرؐ د احوال د قیامت پوښتنه وکړه نو پس له اخبار ئے حضرتؐ
ته ووئیل که زهٔ هغه ورځ ووینم۔ یقین به ونه کړم ځکه چه آیا هډوکی رش یدلی به یو
ځائ شی۔ پس دا آیت نازل شهٔ اَیَحۡسَبُ الۡاِنۡسَانُ آیا ګمان کوی بنی آدم یعنی عدی
چه اَنۡ لَّنۡ نَّجۡمَعَ جمع به نهٔ کړو عِظَامَهٗ ﴿۳﴾ هډوکی پریشانه دده بَلٰی او جمع به
ئے کړم قٰدِرِیۡنَ په دے حال کښ چه توانا یم عَلٰۤی اَنۡ نُّسَوِّیَ په دے باندے چه
برابر به کړم زهٔ بَنَانَهٗ ﴿۴﴾ سرونه د ګوتو دده۔ پس څرنګه به قادر نشم په جوړولو
د هډوکو لویو باندے بَلۡ یُرِیۡدُ الۡاِنۡسَانُ بلکه غواړی عدی او یا جنس انسان لِیَفۡجُرَ
اَمَامَهٗ ﴿۵﴾ چه دروغ ووائی په هغه څیز باندے چه په وړاندے دده کښ دی له بعث
او له حساب نه یَسۡئَلُ سوال کوی په طریقه د استهزاء چه اَیَّانَ کله به وی یَوۡمُ
الۡقِیٰمَةِ ﴿۶﴾ ورځ د قیامت فَاِذَا بَرِقَ الۡبَصَرُ ﴿۷﴾ پس هغه وخت چه خړے شی
سترګے وَ خَسَفَ الۡقَمَرُ ﴿۸﴾ او توره شی سپوږمۍ وَجُمِعَ الشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ ﴿۹﴾ او چه
جمع کړے شی نمر او سپوږمۍ په ختلو کښ له مغربه یَقُوۡلُ الۡاِنۡسَانُ و به وائی کافر یَوۡمَئِذٍ
په دغه ورځ کښ اَیۡنَ الۡمَفَرُّ ﴿۱۰﴾ چرته دے ځائے د تېښتے له اوره کَلَّا لَا وَزَرَ ﴿۱۱﴾ حق
ده چه نهٔ به وی په دغه ورځ هیڅ ځائے د تېښتے او پناه اِلٰی رَبِّكَ خاص خدائ
ستا ته دی یَوۡمَئِذِ نِ الۡمُسۡتَقَرُّ ﴿۱۲﴾ په دغه ورځ کښ قرارګاه او آرامګاه د خلقو
له جنت او دوزخ یُنَبَّؤُا الۡاِنۡسَانُ یَوۡمَئِذٍ خبر به کړے شی انسان په دغه ورځ کښ

بِمَا قَدَّمَ په هغه څیز باندے چه په مخکښ ئے لیږلے دے له اعمالو نه وَ اَخَّرَ ﴿۱۳﴾ او په هغه
څیز باندے چه بیرته ئے پریخے دے له اموالو نه بَلِ الْاِنْسَانُ بلکه بنی آدم عَلٰی نَفْسِهٖ
په نفس خپل باندے بَصِيْرَةٌ ﴿۱۴﴾ بینا دے په احوالو خپلو باندے او شاهد به وی
په افعالو او اقوالو خپلو باندے وَّلَوْ اَلْقٰى مَعَاذِيْرَهٗ ﴿۱۵﴾ اګر که وکاندے عذرونه خپل
روایت دے چه هر کله جبریل ؑ به وحی په پیغمبر ؐ باندے ولوسته نو رسول کریم ؐ
به له هغه سره ویله د پاره د دے چه هیره نهٔ شی له ما نه پس آیت نازل شهٔ لَا تُحَرِّكْ
مهٔ خوزوه اے پیغمبره بِهٖ په قرآن باندے لِسَانَكَ ژبه خپله ړو مبے له اتمامه د وحی
لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿۱۶﴾ د پاره د دے چه تلوار کوے په یاد ولو د قرآن سره ځکه چه اِنَّ عَلَيْنَا
په تحقیق سره په مونږ باندے جَمْعَهٗ جمع کول د قرآن په زړهٔ ستا کښ وَقُرْاٰنَهٗ ﴿۱۷﴾
او په ما باندے دی لوستل ئے په ژبه ستا باندے فَاِذَا قَرَاْنٰهُ پس په هغه وخت کښ
چه لولو مونږه قرآن په ژبه د جبریل ؑ باندے فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿۱۸﴾ پس پیروی کوه
قرآن لوستلو د هغهٔ لره ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا پس په تحقیق سره په مونږ باندے دی بَيَانَهٗ ﴿۱۹﴾
بیانول د قرآن په تا باندے هغه چه مشکل وی كَلَّا نه ده دا رنګے لکه چه انکار کوی کافران
له قیامت بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿۲۰﴾ بلکه دوست ګنړئ تاسے دنیا ګړندئ چه زر به فانی
شی وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿۲۱﴾ او پریږدی آخرت لره نو پس عمل نهٔ کوئ د پاره د آخرت
وُجُوْهٌ مخونه د مؤمنانو به يَّوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښ نَّاضِرَةٌ ﴿۲۲﴾ تازه او روښانه وی
اِلٰى رَبِّهَا طرف د خدائ خپل ته نَاظِرَةٌ ﴿۲۳﴾ کتونکی (نظر کوونکی) به وی بے پردے مخه
وَوُجُوْهٌ او مخونه د منافقانو او مشرکانو به يَّوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښ بَاسِرَةٌ ﴿۲۴﴾ توره
به وی تَظُنُّ ګمان به کوے تهٔ اے مخاطب داسے چه اَنْ يُّفْعَلَ وبه کړے شی بِهَا له
دهٔ سره فَاقِرَةٌ ﴿۲۵﴾ بلا او رنځ چه هډوکی د شا به ئے ماتوی كَلَّا نهٔ ده داسے چه دنیا
غوره کوئ په آخرت باندے اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِىَ ﴿۲۶﴾ په هغه وخت چه ورسیږی روح هډوکی
رسینے او ګردن ته وَقِيْلَ او وویلے شی محتضرته[عه] له طرفه د ملائکو نه مَنْ ٚ رَاقٍ ﴿۲۷﴾ څوک

عه یعنی هغه کس چه ملائکے د پاره د قبض کولو د روح دهٔ ته حاضرے شی

دے دم اچونکے په دے بیمار باندے چه روغ شی او روح ئے په جُثه وکرځی وَظَنَّ
او یقین وکړی محتضر دا سے چه اَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿۲۸﴾ په تحقیق سره دا څیز چه راغلے دے
سبب د جدایئ ځما دے ـ له دنیا نه ـ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ او تاؤ به شی یوه پنډئ د محتضر
بِالسَّاقِ ﴿۲۹﴾ د پنډئ بلے سره اِلٰى رَبِّكَ طرف د رب ستا ته يَوْمَئِذِنِ الْمَسَاقُ ﴿۳۰﴾ ع
په دغه ورځ کښی تله د ټولو مخلوقاتو دی روایت دے چه دا مخکښ ایت په حق
د ابوجهل لعین کښی نازل شوے دے فَلَا صَدَّقَ پس تصدیق ونهٔ کړو ابوجهل قران
لره او چا ویلی دی صدقه ئے ورنهٔ کړه له ماله خپله وَ لَا صَلّٰى ﴿۳۱﴾ او مونځ ئے ادانهٔ
کړو دپاره درب خپل وَلٰكِنْ كَذَّبَ لیکن تکذیب ئے وکړو قران لره وَتَوَلّٰى ﴿۳۲﴾
او مخ ئے وګرځوو له ایمانه ثُمَّ ذَهَبَ پس لاړ شهٔ اِلٰى اَهْلِهٖ اهل خپل ته يَتَمَطّٰى ﴿۳۳﴾
په خرام سره له جهته د فخر په تکذیب او تولی باندے اَوْلٰى لَكَ افسوس دے تالره
اے ابوجهل په ورځ د مرګ باندے فَاَوْلٰى ﴿۳۴﴾ پس افسوس دے تالره په قبر کښی
ثُمَّ اَوْلٰى لَكَ پس افسوس دے تالره په وخت د پورته کیدلو کښی له قبره فَاَوْلٰى ﴿۳۵﴾
پس افسوس دے تالره په اور کښی روایت دے چه پس له نزول د دے ایت پیغمبر
علیه السلام ابوجهل په بطحا کښی ولیدهٔ او جامے نه ئے ونیوهٔ نو ورته ئے وویل اولٰی
لك فاولٰی ثم اولٰی لك فاولٰی ـ پس ابوجهل وویل چه ما ویروے اے محمد؟ اَيَحْسَبُ
الْاِنْسَانُ ایا ګمان کوی انسان یعنی ابوجهل دا سے چه اَنْ يُّتْرَكَ پرے به خوے شی
دے سُدًى ﴿۳۶﴾ مهمل او معطل چه نهٔ به مامور کولے شی او نه به منع کولے شی او
نهٔ به ژوندے کولے شی او نهٔ به جزا ورکولے شی دا ګمان دِ نهٔ کوی اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً
ایا نهٔ وو دے یو څاڅکے د اوبو مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿۳۷﴾ له منئ توی شوے څخه په رحم
کښی ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً پس وو یوه پارچه له وینو فَخَلَقَ پس پیدا کړل خدائ اندامونه
دده فَسَوّٰى ﴿۳۸﴾ پس برابر ئے کړو صورت دده او روح ئے پو کړهٔ په هغه کښی ـ

عه یعنی په دروغ او په مخ ګرځولو ۱۲

فَجَعَلَ مِنْهُ پس پیدا ئے کړه له او بود منی نه الزَّوْجَيْنِ دوه صنفه الذَّكَرَ وَالْأُنْثَىٰ ﴿۳۹﴾
نراو ښځه أَلَيْسَ ذَٰلِكَ ایا نهٔ دے هغه ذات چه پيدا کول کوی له منئ نه بِقَادِرٍ قادر او
توانا عَلَىٰ أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ﴿۴۰﴾ په دے باندے چه ژوندی کړی مړو لره . و پیغمبر علیه
السلام چه وبه ئې لوست دا سورة ویل به ئې . سبحٰنك بلیٰ . او په حدیث کښی دی چه
مَنْ قرء سورة القيٰمة شهدت له انا و جبریل یوم القیمة انکان مؤمنا .

سورة الدهر ۷۶ مکیة ۹۸ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ اٰیاتها ۳۱ رکوعها ۲

هَلْ أَتَىٰ ایا تیر شوے وو . فائده . دا استفهام دے تقریری دے یعنی په تحقیق سره تیر
شوے وو عَلَى الْإِنْسَانِ په آدم علیه السلام باندے حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ یوه موده له زمانے نه
چه څلویښت کلونه وُو روح ئې له پوکوهلو دروح په دهٔ کښی لَمْ يَكُنْ چه نهٔ وو په دغه
زمانه کښی شَيْئًا مَذْكُورًا ﴿۱﴾ یو څیز له دهٔ نه یاد کړے شوے بلکه وو یو څیز غیر مذکور
په انسانیت او عناصر او نطفه سره إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ په تحقیق سره پیدا کړے مونږ دے
اولاد د آدم مِنْ نُطْفَةٍ له څاڅکی د منئ نه أَمْشَاجٍ هسے څاڅکے چه گډ شوے وی د نر
او د ښځے نه نَبْتَلِيهِ چه وازمایو انسان په امر او نهی سره فَجَعَلْنَاهُ پس وګرزوو
مونږه هغه سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿۲﴾ اوریدونکی اولیدونکی . ځکه چه قادر شی په مشاهدے
د دلائلو او په سماع د قران باندے إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ په تحقیق سره مابنوولے دهٔ
هغهٔ ته لاره سمه په دلیلونو د عقل سره إِمَّا شَاكِرًا یا به شکرویونکے وی یعنی مؤمن
سعید به وی وَإِمَّا كَفُورًا ﴿۳﴾ او یا به ناشکره وی . یعنی کافر شقی به وی روایت دے
چه هر کله خدائ ذکر کړے دوه فرقے نو پس بیان د څیزونو د واړو کوی داسے چه إِنَّا
أَعْتَدْنَا په تحقیق سره مونږه تیار کړے دے لِلْكَافِرِينَ دپاره د کافرانو سَلَاسِلَ زنځیرونه
چه په هغوئ سره به راکاږی دوئ لره دوزخ ته وَأَغْلَالًا اوطوقونه چه پراته به وی په
گردن د دوئ کښی وَسَعِيرًا ﴿۴﴾ او اور روښانه چه همیشه به سوزی په هغهٔ کښی

پس بیانوی حال د مؤمنانو اِنَّ الْاَبْرَارَ به تحقیق سره نیکوکاران یَشْرَبُوْنَ څښنی به په جنت کښ مِنْ کَاْسٍ کَانَ له جامَ دشرابو چه وی به مِزَاجُهَا ګډ په هغه شرابو کښ.
کَافُوْرًا ﴿۵﴾ کافور یعنی له هغه شرابو چه ګډ کړی وی به کښ کافور دجنت دپاره د ے
چه وکړځی یخ او خوږ ے عَیْنًا کافور یو ه چینه ده یَّشْرَبُ بِهَا څښنی به ابرار له هغے
نه. فائده - ب په معنیٰ د مِنْ ده عِبَادُ اللّٰهِ بندګان د خدائی یُفَجِّرُوْنَهَا جاری کوی
به دوئی دغه چینه هرچرته چه رضاشی د دوئی کورونو ته تَفْجِیْرًا ﴿۶﴾ په جاری کولو اسا
سره. روایت دے چه هرکله بیمارشهٔ حسن رض او حسین رض نو علی رض او بی بی فاطمے رض
نذر کړے درے روژے په ځان خپل باندے پس قرض کړے علی رض له یهودی نه درے اوګی
وربشے نو اوړهٔ کولے بی بی فاطمے رض له هغے وربشو نه هره ورځ یو اوګے او پ وډئی کولے
پس غوره ئے کړل درے شپے په نفسونو خپلو باندے مسکین اویتیم او اسیرلره او ونهٔ
څښلے دوئی په وخت د افطار کښ مګر اوبهٔ . نو نازل شو . یُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وفا کوی ابرار
په هغه نذر باندے چه کړے وی دوئی په طاعت سره وَیَخَافُوْنَ او ویریږی یَوْمًا کَانَ
له هغے ورځے نه چه دے شَرُّهٗ شر او سختی د هغے مُسْتَطِیْرًا ﴿۷﴾ ښکاره او رسیدونکے
ګنهګارانو ته وَیُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ او ورکوی طعام لره عَلٰی حُبِّهٖ په مینه دخدائی باندے
یا په محبت دطعام باندے یعنی سره له دے چه محتاج وی طعام ته مِسْکِیْنًا فقیرعاجزلره
د کسب وَّیَتِیْمًا او یتیم لره وَّاَسِیْرًا ﴿۸﴾ او بندی لره چه کافرانو څخه وی او دا مطعمان
په ژبه دمقال یا دحال سره وائی اِنَّمَا نُطْعِمُکُمْ په تحقیق سره طعام درکوو تاسے
لره لِوَجْهِ اللّٰهِ دپاره دطلب د ثواب دخدائی لَا نُرِیْدُ نهٔ غواړو مونږه مِنْکُمْ جَزَآءً
له تاسے نه یادول او بدل وَّلَا شُکُوْرًا ﴿۹﴾ او نه ثنا او صفت ځکه چه اُمید د جزا او د
ثنا سره ثواب د ورکولو کمیږی اِنَّا نَخَافُ په تحقیق سره مونږه ویریږو مِنْ
رَّبِّنَا له ربه خپله یَوْمًا عَبُوْسًا له عذابه د هغې ورځے نه چه تروه ده یعنی له هغے
ورځے چه له سختئ د هغے نه به مخونه دګنهګارانو تراوهٔ شی قَمْطَرِیْرًا ﴿۱۰﴾ او ورځ سخته ده

فَوَقٰهُمُ اللّٰهُ پس وبہ ساتی خدائی دوی لرہ پہ سبب دد ے کارونو سرہ شَرَّ ذٰلِكَ الْیَوْمِ
لہ سختئ دد غہ ورځې نہ وَ لَقّٰهُمْ اوملاقی بہ کا دوی سرہ نَضْرَةً تازگی دمخ وَّسُرُوْرًا ⑪
اوخوشحالی د زړہ وَجَزٰىهُمْ اوجزا بہ ورکړی دوی لرہ بِمَا صَبَرُوْا پہ سبب د صبر کولو د دوی
سرہ لہ طعام جَنَّةً باغ ډك لہ میوو نہ وَّحَرِیْرًا ⑫ اوجامے ریښمینے مُتَّكِـِٕیْنَ پہ ھغہ
حال کښ چہ تکیہ کونکی بہ وی دوی فِیْهَا پہ جنت کښ عَلَى الْاَرَآىِٕكِ پہ تختونو
باندے لَا یَرَوْنَ فِیْهَا نۂ بہ وینی دوئ پہ جنت کښ شَمْسًا نمر وَّلَا زَمْهَرِیْرًا ⑬ او
نہ یخنی یعنی اوړے اوژمے بہ پکښ نۂ وی ځکہ چہ گرمی او یخنی دوئ تہ ضرر ورنۂ رسوی
بلکہ ھوا بہ ئے معتدل لہ وی وَدَانِیَةً اوجزا بہ ورکړی دوئ لرہ پہ جنت بل کښ چہ
نژدے بہ وی عَلَیْهِمْ پہ دوئ باندے ظِلٰلُهَا سوری د ونوئے وَذُلِّلَتْ او تیټے کړے
شوے بہ وی قُطُوْفُهَا میوے د ھغہ باغ تَذْلِیْلًا ⑭ پہ تیټیدو سرہ یعنی ټولول
بہ ئے آسان وی وَیُطَافُ عَلَیْهِمْ او گرځولے بہ شی پہ دوئ باندے یعنی خدمتگاران
بہ پرے گرځی بِاٰنِیَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ جامونہ د سپینو زرو وَّاَكْوَابٍ كَانَتْ او گرځولے بہ
شی پہ دوئ باندے کوزے بے لاستو چہ وی بہ قَوَارِیْرَا۟ ⑮ پہ مثل د ښیښو سرہ
قَوَارِیْرَا۟ مِنْ فِضَّةٍ چہ ھغہ ښیښے بہ د سپینو زرو وی یعنی لہ بھرہ ئے دننہ لیدلے
شی قَدَّرُوْهَا اندازہ کړے بہ وی ھغہ جامونہ ساقیانو د جنت ورمبے لہ راتلو د جنتیانو
نہ تَقْدِیْرًا ⑯ پہ اندازہ کولو سرہ یعنی ھر چا لرہ بہ جام ورکوی چہ پرے مړیږی او زیاتے
او کمے بہ نۂ وی وَیُسْقَوْنَ او څښولے بہ شی جنتیان فِیْهَا پہ جنت کښ كَاْسًا پہ کاسو
د شرابو سرہ كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِیْلًا ⑰ چہ وی بہ گډ پکښ زنجبیل سونډ د جنت د پارہ
د خوشبوئی عَیْنًا فِیْهَا او زنجبیل چینہ دہ جنت کښ تُسَمّٰى سَلْسَبِیْلًا ⑱ چہ مسمٰی
کړے شوے دہ پہ سلسبیل سرہ ځکہ چہ لذیذ دے خوراك کښ وَیَطُوْفُ عَلَیْهِمْ
او طواف بہ کوی پہ بھشتیانو باندے وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ہلکان ھمیشہ پاتے
شوی پہ طفولیت باندے چہ نۂ بہ زړیږی اِذَا رَاَیْتَهُمْ پہ ھغہ وخت کښ چہ تہ ووینے

هغوئ لره حَسِبْتَهُمْ گمان به کوے ته هغوئ لره له جهته د صفایئ نه لُؤْلُؤًا مَّنْثُوْرًا ⑲
مرغلرے توئے کړے شوے. او تخصیص د منثور د پاره د دے دے چه د ابناسُته ښکاریږی
له مرغلرو پیلو څخه وَاِذَا رَاَيْتَ او په هغه وخت چه نظر وکړے ته ثَمَّ په جنت کښې.
رَاَيْتَ نَعِيْمًا و به وینے ته نعمتونه ډیر وَّمُلْكًا كَبِيْرًا ⑳ او وبه وینے ته بادشاهی لویه ځکه
چه په حدیث کښې راغلی دی چه کمترین جنتی به د زرو کالو په لارے باندے ملک
خپل وینی له لرے نه لکه چه وینی ئے له نزدے نه عٰلِيَهُمْ لباس د بهشتیانو به ثِيَابُ
سُنْدُسٍ جامے د زر بفتو نازکو وی خُضْرٌ چه زر غونے به وی وَّاِسْتَبْرَقٌ ز او جامے د زر بفتو
محکمو به وی وَّحُلُّوْٓا اَسَاوِرَ او وابه غوستولے شی جنتیانو لره باهوګان مِنْ فِضَّةٍ ج له
سپینو زرونه وَسَقٰهُمْ اوخروبوی جنتیان رَبُّهُمْ خدائ د دوئ شَرَابًا طَهُوْرًا ㉑
په شرابو پاکو سره او وبه ویلے شی جنتیانو ته داسے چه اِنَّ هٰذَا په تحقیق سره دغه
نعمتونه ذکرشوی كَانَ لَكُمْ جَزَآءً دے د عملونو ستاسے بدل. وَكَانَ سَعْيُكُمْ
مَّشْكُوْرًا ع ㉒ او ووکوشش ستاسے قبول کړے شوے ځکه چه ویل ستاسے مسکین ع ۱ ۲۲ ۱۹
اویتیم اوبندی ته لا نرید منکم جزاء و لا شکورًا ط اِنَّا نَحْنُ په تحقیق سره مونږ
نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ نازل کړے م دے په تا باندے قران تَنْزِيْلًا ع ㉓ په نازلولو سره
په مقتضی د حکمت فَاصْبِرْ پس صبر کوه لِحُكْمِ رَبِّكَ حکم د رب خپل ته په نصرت ستا
سره په کافرانو د مکے باندے روایت دے چه عتبه ویلے پیغمبر علیه السلام ته
دعوت مهٔ کوه ما ته د پاره د دے چه لور ښائسته سره د مال درکړم نو نازل شهٔ
وَلَا تُطِعْ او فرمانبرداری مهٔ کوه مِنْهُمْ له کافرانو نه اٰثِمًا گنهګار لره اَوْ كَفُوْرًا ج ㉔ او هیڅ
ناشکره لره چه تابولی کفرته لکه ولید شهٔ چه ویل به ئے دهٔ ته چه دین د پلارانو ته
رجوع وکړه چه غنی دِ کړم وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ او یادوه خدائ خپل لره بُكْرَةً وَّ
اَصِيْلًا ج صلے ㉕ په وخت د صبا او د بیګاه کښې یعنی همیشه ئے یادوه وَمِنَ الَّيْلِ او بعضے له
شپے نه فَاسْجُدْ لَهٗ سجده کوه خدائ لره او چا ویلی دی وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ مونځ کوه

خدای خپل لره بګرۀ نمونځ د صبا واصیلا او نمونځ د ماسپخین او د ماز دیګر وَمِنَ
الَّیْلِ او بعضے له شپے نه فَاسْجُدْ لَهٗ پس سجده کوه خدای لره وَسَبِّحْهُ او نمونځ کوه خدای
لره لَیْلًا طَوِیْلًا ﴿۲۶﴾ په شپه درازه کښې یعنی تهجد کوه اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ په تحقیق سره دا ټولے د
کافرانو یُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ دوست لری دوئ دنیا زر تیریدونکے لره وَیَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ او
پریږدی وروستو د شا خپلے یَوْمًا ثَقِیْلًا ﴿۲۷﴾ ورځ سخته لره چه قیامت دے نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ
مونږ پیدا کړی دی دوئ له منی نه وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ج او محکم کړے مو دے پیدا وخت د
دوئ اوچا ویلی دی اندامونه د دوئ وَاِذَا شِئْنَا او په هغه وخت کښې چه رضا وشی
ځمونږ بَدَّلْنَآ بدل به کړو دوئ اَمْثَالَهُمْ په امثالو د دوئ باندے په پیدا وخت کښې
تَبْدِیْلًا ﴿۲۸﴾ په بدلولو سره یعنی دوئ به هلاک کړم او په بدل د دوئ به پیدا کړم بندګان
فرمانبرداران اِنَّ هٰذِهٖ په تحقیق سره چه دا سورة تَذْكِرَةٌ ج پند دے فَمَنْ شَآءَ
پس هرڅوک چه غواړی حال د دوئ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ نیسی دِ رب خپل ته سَبِیْلًا ﴿۲۹﴾
لاره په خیر او په طاعت سره وَمَا تَشَآءُوْنَ او غوره به نهٔ کړئ تاسے هیڅ لاره اِلَّآ اَنْ
یَّشَآءَ اللّٰهُ ط مګر هغه چه خدای غواړی تاسے لره اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِیْمًا په تحقیق سره
خدای دانا دے په استعداد د هرچا باندے حَكِیْمًا ﴿۳۰﴾ قصلے او محکم کار دے نهٔ کوی
هیڅ کار مګر په مقتضیٰ د علم خپل یُّدْخِلُ مَنْ یَّشَآءُ داخلوی هغه چا لره چه رضا ئے
وشی فِیْ رَحْمَتِهٖ په رحمت خپل کښې چه جنت دے وَالظّٰلِمِیْنَ او کافران چه دی
اَعَدَّ لَهُمْ تیار کړے ئے دے د پاره د دوئ عَذَابًا اَلِیْمًا ﴿۳۱﴾ ع عذاب دردناک او په
حدیث کښې دی چه مَنْ قرءَ سورة هل اتٰی كان جزاءهٗ علی الله جنة عه

سُوْرَةُ الْمُرْسَلٰتِ ۷۷ مکیة ۳۳	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ	اٰیاتها ۵۰ رکوعاتها ۲

وَالْمُرْسَلٰتِ سوګند دے په ملائکو باندے چه لیږلے شوی دی عُرْفًا ﴿۱﴾ په نیکئ سره

عه هغه چا چه ولوست سورة هل اتیٰ دی به جزا دهٔ په خدای باندے جنت ۱۲ منه رح

یعنی په امر او نهی سره فَالْعٰصِفٰتِ پس سوګند دے په هغه ملائکو باندے چه کرځی
عَصْفًا ﴿۲﴾ په ګرندو تلو سره په امتثال د امر د خدائ کښ وَّالنّٰشِرٰتِ او سوګند دے په هغه ملائکو
باندے چه اظهار د شرائعو او د کتبو کوی نَشْرًا ﴿۳﴾ په ظاهر ولو سره فَالْفٰرِقٰتِ پس سوګند
دے په هغه ملائکو باندے چه جدا کونکی دی حق او باطل لره فَرْقًا ﴿۴﴾ په جدا کولو سره۔
فَالْمُلْقِيٰتِ پس سوګند دے په هغه ملائکو باندے چه غورځونکی او وړونکی دی ذِكْرًا ﴿۵﴾ وحی
لره پیغمبرانو ته او دغه القا او ذکر چه ده عُذْرًا د پاره د پیدا کولو د حجت د مومنانو لره اَوْ
نُذْرًا ﴿۶﴾ یا د پاره د ویرولو د کافرانو ده او جواب د قسم دا دے اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ به تحقیق سره
هغه خیز چه وعده ئے درکړے شوے ده تاسو لره چه راتلل د قیامت دی لَوَاقِعٌ ﴿۷﴾ خامخا
واقع کیدونکے دے فَاِذَا النُّجُوْمُ پس په هغه وخت کښ چه ستوری طُمِسَتْ ﴿۸﴾ محوه کړے
شی یعنی نور ترے لاړ شی وَاِذَا السَّمَآءُ او په هغه وخت کښ چه اسمان فُرِجَتْ ﴿۹﴾
څیرے کړے شی وَاِذَا الْجِبَالُ او په هغه وخت کښ چه غرونه نُسِفَتْ ﴿۱۰﴾ و ویستلے شی
له ځایونو خپلو نه وَاِذَا الرُّسُلُ او په هغه وخت کښ چه پیغمبران اُقِّتَتْ ﴿۱۱﴾ جمع
کړے شی د پاره د شاهدئ ورکولو په امتونو خپلو باندے پس وبه وائی لِاَیِّ یَوْمٍ چه د
پاره د کومے ورځے اُجِّلَتْ ﴿۱۲﴾ وروستو کړے شو دا خیزونه یعنی طمس د نجوم او شق
د اسمان او قلع د جبال۔ پس جواب ورکړه لِیَوْمِ الْفَصْلِ ﴿۱۳﴾ د پاره د ورځے د حکم کولو په
مینځ د خلقو کښ وَمَآ اَدْرٰىكَ او څه خیز پوهه کړے ته چه مَا یَوْمُ الْفَصْلِ ﴿۱۴﴾ څه خیز
دے ورځ د فصل ځکه چه کُنه ئے ته نه پیژنے وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ افسوس دے په دغه ورځ
کښ لِّلْمُكَذِّبِیْنَ ﴿۱۵﴾ دروغ ویونکو لره په دغه ورځ باندے اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۱۶﴾
آیا هلاك کړی مو نه دی مخکنو امتونو لره لکه قوم د نوح ؑ او عاد او ثمود بلکه هلاك کړی مو
دی ثُمَّ نُتْبِعُهُمْ پس تابع به کړو موږ ورپسے لره په هلاکت کښ الْاٰخِرِیْنَ ﴿۱۷﴾ دے
روستو لره چه کافران د مکے دی یعنی هلاك به ئے کړو په مثل د هغوئ ځکه چه دوئ دروغ
وائی په مثل د مخکنو كَذٰلِكَ نَفْعَلُ هم دا رنګے کار کوو موږ بِالْمُجْرِمِیْنَ ﴿۱۸﴾ په

گنهگارانو باندے وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په دغه ورځ کښې لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۹﴾ دروغ ویونکو
لره په ایتونو د خدائ باندے اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ ایا نه مو یئ پیدا کړی تاسے مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿۲۰﴾
له اوبو خوار و ځخرچه منی ده فَجَعَلْنٰهُ پس کے مو خودے هغه اوبۀ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿۲۱﴾ په
ځائ محکم کښې چه رحم د مور دے اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۲﴾ ترمودے معلومے پورے چه
مقرره کړے ده خدائ دپاره د زیږیدلو فَقَدَرْنَا ۖ پس توانا یو مونږ ه په پیدا اوخت
ستاسے باندے فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ﴿۲۳﴾ پس نیک توانا یو مونږه په اندازه باندے وَيْلٌ
يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په دغه ورځ کښې لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۴﴾ دروغ ویونکو لره په دغه قدرت
باندے اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ ایا نهٔ ده ګرځولے مازمکه كِفَاتًا ﴿۲۵﴾ جمع کونکے اَحْيَآءً ژوندو
لره په شا خپلے باندے وَّاَمْوَاتًا ﴿۲۶﴾ اومړیو لره په خیټه خپله کښې وَّجَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ
او پیدا کړی مو دی په زمکه کښې غرونه محکم په ځائ خپل باندے شٰمِخٰتٍ لسرے . وَّ
اَسْقَيْنٰكُمْ او ومو څښولے تاسے لره مَّآءً فُرَاتًا ﴿۲۷﴾ او بۀ خوږے وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ کنده د
دوزخ ده په ورځ د قیامت کښې لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۸﴾ دروغ ویونکو لره په دغه نعمتونو باندے
وبه ویلے شی کافرانو ته په ورځ د قیامت اِنْطَلِقُوْٓا لاړشئ اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۹﴾
هغه اورته چه وئ تاسے پرے دروغ ویونکی اِنْطَلِقُوْٓا ځئ تاسے اِلٰى ظِلٍّ سوری ته چه
ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿۳۰﴾ خاوند د دریو ښاخو دے . یعنی له جهته دلوئ والی به درے ښاخه
شی یو ښاخ پاس په سر د کافرانو باندے او یو ښاخ ئے ښی طرف ته او یو ئے کینږ طرف ته
لَّا ظَلِيْلٍ هیسے سورے چه نهٔ به وی یخ وَّلَا يُغْنِيْ اونهٔ به دفع کوی له دوزخی نه مِنَ
اللَّهَبِ ﴿۳۱﴾ له ګرمئ داوره هیڅ څیزلره اِنَّهَا به تحقیق سره دوزخ به تَرْمِيْ بِشَرَرٍ ویشتل کوی
په دغه ورځ کښې په بسروسره چه هر بسرے به ئے كَالْقَصْرِ ﴿۳۲﴾ په مثل د ماڼرئ وی په لوئ
والی کښې كَاَنَّهٗ ګو یا کهٔ دی هغه بسری جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿۳۳﴾ په مثل داوښانو زیړو سره
فائده مشابه ئے کړل بسری له ماڼرئ سره له جهته دلوئ والی او داوږد والی نه او مشابه
ئے کړل له اوښانو سره له جهته د زیړوالی او د رنګه او د پړئ درپړ والی ځنه وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

افسوس دے په هغه ورځ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۳۴﴾ دروغ ویونکو لره په دوزخ اوبسرو باندے ځکه
چه دغه حق دی هٰذَا يَوۡمُ دا هغه ورځ ده چه لَا يَنۡطِقُوۡنَ ﴿۳۵﴾ خبرے به نهٔ کوی کافران
په بعضے ځایونو کښې وَلَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ او اذن به نشی کولے دوی ته فَيَعۡتَذِرُوۡنَ ﴿۳۶﴾
پس چه عذر وکړی وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ افسوس دے په دغه ورځ کښې لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۳۷﴾ دروغ ویونکو
لره په دے اخبارو باندے هٰذَا يَوۡمُ الۡفَصۡلِ ۚ دا ورځ دجدایئ ده په مینځ د محسن
او د مسیء کښې جَمَعۡنٰكُمۡ جمع به کړم تاسے اے دروغ ویونکو محمد ﷺ وَالۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۳۸﴾ او
دروغ ویونکو وړومبنو لره چه تکذیب ئے کړے وو رسولانو خپلو لره پس حساب به درسره
وکړے شی او عذاب به کړے شی فَاِنۡ كَانَ لَكُمۡ كَيۡدٌ پس که وی تاسے لره حیله به
دفع کولو دعذاب سره لکه چه په دنیا کښې به کوله تاسے له مؤمنانو سره فَكِيۡدُوۡنِ ﴿۳۹﴾ پس
حیله وکړئ ما باندے په خلاصولو د نفسونو خپلو سره له عذاب ابدی ځنې وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ
کنده به وی په دغه ورځ کښې لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۴۰﴾ ع دروغ ویونکو لره ځکه چه نشته حیله
دوئ لره په خلاصولی کښې له عذابه اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ په تحقیق سره ځان ساتونکی له عذاب
په ترك کولو د شرك او دعصیان سره به وی فِيۡ ظِلٰلٍ لاندے د سورو د جنت وَّعُيُوۡنٍ ﴿۴۱﴾ او
وی به په غاړه د چینو جاریو وَّفَوَاكِهَ او وی به په مینځ د میوو کښې مِمَّا يَشۡتَهُوۡنَ ﴿۴۲﴾ له
هغه میوو نه چه ارزو وے ورته کیږی فائده په دے کښې اشارت دے ته چه
خوراك او څښل به په جنت کښې په اعتبار د ارزو د جنتیانو سره وی او ملائکے به
دوئ ته وائی كُلُوۡا خورئ له دے میوو نه وَاشۡرَبُوۡا او څښئ له دے اوبو نه هَنِيۡٓـئًا خوړل
څښل هضم ناك بِمَا كُنۡتُمۡ په سبب د هغه چه وئ تاسے تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۴۳﴾ عمل موکولو په
دنیا کښې اِنَّا كَذٰلِكَ په تحقیق سره مونږه دارنگے نَجۡزِي الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۴۴﴾ جزا ورکوو
نیکوکارانو لره پس نیکی کوئ چه جزا بیا مومئ تاسے وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ کنده د دوزخ په دغه
ورځ کښې لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۴۵﴾ دروغ ویونکو لره چه نعمتونو د جنت ته میلان نهٔ کوی
كُلُوۡا خورئ تاسو اے دروغ گویانو نعمتونه د دنیا وَتَمَتَّعُوۡا او نفع واخلئ قَلِيۡلًا لږه موده

حُکه چه نفع د دنیا لره ده اِنَّکُمْ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۴۶﴾ په تحقیق سره تاسے کافران یئ وَیْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په په دغه ورځ کښې لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۷﴾ دروغ ویونکو لره عذاب دردناک حُکه چه دوئ ورانده کړل ځانونه خپل عذاب همیشه ته په سبب د نفع لږ سره وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا او په هغه وخت کښې چه وویلے شي دوئ ته چه مونځ کوئ. لَا يَرْكَعُوْنَ ﴿۴۸﴾ نه کوی دوئ مونځ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په دغه ورځ کښې لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۹﴾ دروغ ویونکو لره په امر او نهی باندے فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ پس په کومه خبره باندے بَعْدَهٗ
2 پس له قرآن يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۰﴾ دوئ ایمان راوړی. هر کله چه په قرآن ئے ایمان رانهٔ وړ
(10) وحال دا دے چه دے مشتمل دے په د لیلونو واضحو او معانیو شریفو باندے. په
22 حدیث کښې دی. چه مَنْ قرء سورة المرسلت کتب له انه لیس من المشرکین ۱۲

سورة النبأ مكية ۷۸ — بسم الله الرحمن الرحيم — آياتها ۴۰ ركوعها ۲

روایت دے چه هر کله پیغمبر علیه السلام بلل ظاهر کړل او قرآن ئے په خلقو باندے ولوست او په ورځے د قیامت ئے ویره وکړه نو کافرانو په پیغمبرئ دده کښې او په نزول د قرآن کښې او په واقع کیدلو د قیامت کښې اختلاف اوکړ او یو تر بله ئے سوال کولو. لکه چه خدائ وائی عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۱﴾ له څهٔ څیزه سوال کوی کافران د مکے یو تر بله او یا له مؤمنانو څخه په استهزاء سره عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ﴿۲﴾ سوال کوی له خبرے لوئی څخه چه قیامت دے الَّذِيْ هُمْ هغه خبره چه دوئ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ﴿۳﴾ په هغه خبره کښې اختلاف کونکی دی. نو بعضے وائی قیامت شته دے او بتان به مونږ ه لره شفاعت کوی او بعضے وائی نشته او بعضے شک کوی په وقوع او په لا وقوع کښې ئے كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿۴﴾ حقه ده چه زر به پوهـ شي په هغه څیز چه پکښې اختلاف کوئ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿۵﴾ پس حقه ده چه زر به پوهـ شي دا کافران په هغه څیز باندے په هغه

عه هغه چا چه ولوست سورة مرسلت وبه لیکلے شی دهٔ لره دا سے چه دے نه دے له مشرکانو څخه ۱۲

وخت کښې چه مړه شی او وخکی عذاب اَلَمۡ نَجۡعَلِ الۡاَرۡضَ مِهٰدًا ۙ﴿۶﴾ ایا نهٔ ده کړحولے
مونږ زمکه بچاونړه بلکه کړحولے م ده دپاره داستوږنے ستاسے وَّالۡجِبَالَ اَوۡتَادًا ۙ﴿۷﴾ ایا نهٔ م
د کړجولی غرونه میخونه د زمکے چه پرے قرار د زمکے دے وَّخَلَقۡنٰکُمۡ اَزۡوَاجًا ۙ﴿۸﴾ او پیدا
کړی مو یئ تاسے نراو ښځه وَّجَعَلۡنَا نَوۡمَکُمۡ او کړحولے مودے خوب ستاسے سُبَاتًا ۙ﴿۹﴾
آرام او خوشحالی دتن وَّجَعَلۡنَا الَّیۡلَ او کړحولے موده شپه لِبَاسًا ۙ﴿۱۰﴾ پرده پوش چه په
تاریکئ خپلے سره هرڅیز پټوئ وَّجَعَلۡنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿۱۱﴾ او کړحولے م ده ورځے له وخت
د معاش چه پکښې کسب او معاش خپل کوئ وَّبَنَیۡنَا فَوۡقَکُمۡ او بنا کړے مو دے پاس
په سرستاسے سَبۡعًا شِدَادًا ۙ﴿۱۲﴾ اوه اسمانونه محکم چه هیڅ نهٔ نړیږی وَّجَعَلۡنَا سِرَاجًا
وَّهَّاجًا ﴿۱۳﴾ او کړحولے مودے نمر په اسمان کښې ډیوه روښانه وَّاَنۡزَلۡنَا مِنَ الۡمُعۡصِرٰتِ
مَآءً ثَجَّاجًا ۙ﴿۱۴﴾ او نازلے کړی مودی له ورېځو نه اوبه توئیدونکے لِّنُخۡرِجَ بِهٖ دپاره ددے
چه وباسو په دغه اوبو سره حَبًّا دانے یعنی غنم اوار بشے او باقی حبوبات چه خوراک
ستاسے دے وَّنَبَاتًا ۙ﴿۱۵﴾ او کیاه چه خوراک دچارپایانو دے وَّجَنّٰتٍ اَلۡفَافًا ﴿۱۶﴾ او چه
بهر راوړو په دغه اوبو سره باغونه ډیر یو تربله نزدے اِنَّ یَوۡمَ الۡفَصۡلِ په تحقیق سره
ورځ دجدایئ په مینځ دحق او دباطل کښې کَانَ مِیۡقَاتًا ۙ﴿۱۷﴾ ده په حکم درب سره
مقرره دپاره دواقع کیدلو دجزا یَّوۡمَ هغه ورځ ده چه یُنۡفَخُ پوکلے به شی فِی الصُّوۡرِ په
شپیلئ کښې. ف مراد په دے نفخ سره نفخ ثانیه ده فَتَاۡتُوۡنَ نو رابه شئ تاسے له قبرونو
خپلونه اَفۡوَاجًا ۙ﴿۱۸﴾ ټولی ټولی او چاوېلی دی امتونه امتونه هر یو امت سره د پیغمبر
خپله وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ او څیرے به شی اسمان په هغه ورځ کښې فَکَانَتۡ پس وبه کړځی
اسمان له جهته دڅیری والی نه اَبۡوَابًا ۙ﴿۱۹﴾ خداوند ددروازو وَّسُیِّرَتِ الۡجِبَالُ او رواں
به کړے شی غرونه له زمکے نه په هوا باندے فَکَانَتۡ سَرَابًا ﴿۲۰﴾ پس وبه کړځی دغه
غرونه پشان دشګو اِنَّ جَهَنَّمَ په تحقیق سره دوزخ چه دے کَانَتۡ مِرۡصَادًا ۙ﴿۲۱﴾ ځائ
دتیریدو دخلقو دے نو مؤمن به تیرشی او کافر به پکښې پریوځی لِّلطّٰغِیۡنَ کافرانو لره

مَّاٰبًا ﴿٢٢﴾ ځائ د قرار د دوئ لّٰبِثِيْنَ فِيْهَآ درنګ کونکی به وی دوئ په دوزخ کښې اَحْقَابًا ﴿٢٣﴾
موده درازه همیشه لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا نه به څکی دوئ په دوزخ کښې بَرْدًا هوا یخه چه پرے
راحت بیا مومی او ګرمی د دوزخ ترے لرے کاندی وَّلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ او نه به څښنی شراب
اِلَّا حَمِيْمًا مګر مومی به اوبه ګرمے دا سے چه هر څیز ته ورسیږی سیزی به ئے وَّغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾
او څښنی به زوے چه بهیږی به له زخمونو د دوئ ځنه جَزَآءً جزا به ورکړی دوئ ته
وِّفَاقًا ﴿٢٦﴾ موافقه له اعمالو سره ئے ځکه چه اِنَّهُمْ كَانُوْا په تحقیق سره دوئ وو په دنیا کښے
لَا يَرْجُوْنَ نه به ویریدل حِسَابًا ﴿٢٧﴾ له حساب د خدائ ځکه چه منکر وو له قیامت وَّ
كَذَّبُوْا او تکذیب ئے کولو بِاٰيٰتِنَا په ایتونو د قراٰن ځما بانده كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ په تکذیب
سره وَكُلَّ شَيْءٍ او هر څیز له طاعت او له معصیت اَحْصَيْنٰهُ شمار لے مو دی كِتٰبًا ﴿٢٩﴾ په
لیکلو سره په لوح محفوظ کښې د پاره د دے چه جزا پرے ورکړم دوئ لره او وبه ویلے شی دوئ ته
په اٰخرت کښې چه فَذُوْقُوْا وڅکئ عذاب د دوزخ فَلَنْ نَّزِيْدَكُمْ پس هیڅ کله به زیات نهٔ
کړو تا سے لره اِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾ مګر عذاب. په حدیث کښې دی چه دا اٰیت ډیر سخت دے
له اٰیتونو د قراٰن په حق د دوزخیانو کښې اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ په تحقیق سره پرهیزګارانو لره
په قیامت کښې مَفَازًا ﴿٣١﴾ خلاصے دے له عذاب ابدی نه حَدَآئِقَ باغونه د میوو به وی
وَّاَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ او وینے د انګورو به وی وَّكَوَاعِبَ او وی به دوئ لره جینکئ انار تیو ے[عه]
اَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ همځولے او دوست دارے وَّكَاْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ او وی به دوئ لره جامونه ډک
له شرابو لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا نهٔ اوری متقیان په جنت کښې لَغْوًا خبرے بے هوده او
باطلے وَّلَا كِذّٰبًا ﴿٣٥﴾ او نهٔ به اوری دروغو لره جَزَآءً جزا به ورکړی متقیانو لره په
جزا ورکولو سره مِّنْ رَّبِّكَ له ربه ستا نه عَطَآءً ورېه کړی دوئ لره ډیره حِسَابًا ﴿٣٦﴾ چه
وافی او کافی دے په حساب د اعمالو سره ئے رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ پیدا کونکے د اٰسمانونو
او د زمکے دے وَمَا بَيْنَهُمَا او پیدا کونکے د هغه څیز دے چه په مینځ د اٰسمان او د زمکے کښې

عه یعنی تیونه به ئے په مثل د انارو وی ۱۲

دے اَلرَّحْمٰنِ مهربان دے لَا يَمْلِكُوْنَ نهٔ به مالک کیږی مِنْهُ خِطَابًا ﴿۳۷﴾ له خدائی
خبرو لره یعنی نهٔ به توانیږی هیڅوک چه خبرے وکړی له خدائی سره د پاره د شفاعت له
جهته د ویرے نه يَوْمَ په هغه ورځ چه يَقُوْمُ الرُّوْحُ ودریږی جبریل علیه السلام وَالْمَلٰٓئِكَةُ
صَفًّا ڦ او نورے ملائکے صفونه صفونه. تنبیه یوم ظرف د لایملکون دے لَا يَتَكَلَّمُوْنَ
خبرے به نهٔ کوی خلق په باب د شفاعت کښ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ مګر خبرے به
کوی هغه څوک چه اذن وکړی خدائی دهٔ ته په شفاعت سره وَقَالَ صَوَابًا ﴿۳۸﴾ او ویلی
وی مشفوع[عه] لهٔ په دنیا کښ لا اله الا الله. ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ج دغه ورځ ربښتیا ده فَمَنْ
شَآءَ اتَّخَذَ نو پس هغه څوک چه رضا ئے وشی نیسی اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ﴿۳۹﴾ خدائی خپل
ته د کرځید و په ایمان او په عمل نیک سره چه ځائی بیا مومی په جنت کښ اِنَّآ
اَنْذَرْنٰكُمْ په تحقیق سره زهٔ ویروم تاسے عَذَابًا قَرِيْبًا ڦ صلے له عذابه نزدے نه په آخرت
کښ ځکه هغه څیز چه راتلونکے وی هغه نزدے وی يَّوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ په هغه ورځ کښ
چه ووینی کافر مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ هغه څیزچه وړاندے لیږلے دے لاسونو دهٔ له سره
نو تخصیص د لاسونو د پاره د دے دے چه اکثر عملونه د دوئی نه واقع کیږی وَيَقُوْلُ الْكٰفِرُ
او وبه وائی کافر په دغه ورځ باندے. وضع ئے کهٔ ظاهر په ځائی د مضمر کښ د پاره د
ذم او چا ویلی دی مرء عام دے پس خاص ئے کهٔ ترے کافر نو مراد له ما قدمت یداه
تخه خیر او شر دواړه دی او چا ویلی دی مراد له مرء نه مؤمن دے ځکه چه ذکر ئے کهٔ کافر پس له
مرء تخه نو مراد له ما قدمت تخه خیر دے يٰلَيْتَنِيْ اے کاشکے زهٔ كُنْتُ تُرٰبًا ﴿۴۰﴾ ع وے ع ۲
خاورے په دنیا کښ چه هیڅکله پیدا شوے نهٔ وے او چا ویلی دی خاورے شوے وے
په دے ورځ کښ چه پورته شوے نهٔ وے او چا ویلی دی. جمع به کړی خدائی ټول حیوانات
د پاره د قصاص پس خاورے به شی د دوئی نو دے به وائی یٰلیتنی کنت ترابًا ط او چا ویلی دی
مراد له کافره ابلیس دے پس دے به آرزو وکړی چه کاشکے وے له خاورو نه لکه آدم علیه السلام

عه یعنی هغه څوک چه ورلره شفاعت کولے شی - کتبه : صادق زهیر چیترهارے د آکوال ۱۳۷۲/۱۱/۲۸ ش

د پارہ ددے چہ ثواب ہم موند لے وے پہ مثل د اولاد د دۂ اوپہ حدیث کښں دی چہ
من قرء عمّ سقاہ اللہ برد الشراب یوم القیمۃ ۲

سورۃ النزعت ۷۹ مکیۃ ۸۱ — بسم اللہ الرحمن الرحیم — ایاتہا ۴۶ رکوعہا ۲

وَالنّٰزِعٰتِ اوقسم دے پہ ھغہ راخکونکیو ملائکو باندے روح دکافرانو لرہ غَرْقًا ① پہ
قوت اوسختئ سرہ وَالنّٰشِطٰتِ اوسوګند دے پہ ھغہ ملائکو باندے چہ وباسی روح د
مؤمنانو لرہ نَشْطًا ② پہ ویستلو نرمو سرہ وَّالسّٰبِحٰتِ اوسوګند دے پہ ھغہ ملائکو
باندے چہ جلتی کوی پہ حکم دخدائ کښں سَبْحًا ③ پہ جلتئ سرہ فَالسّٰبِقٰتِ پس
سوګند دے پہ ھغہ ملائکو باندے چہ سبقت کوی سَبْقًا ④ پہ سبقت سرہ پہ فرمان
بردارئ د خدائ کښں فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ⑤ پس سوګند دے پہ ھغو ملائکو باندے چہ
تدبیر کوی پہ کار د دنیا کښں اوجواب دقسم محذوف دے چہ لَتُبْعَثُنَّ دے معنیٔ ئے دا
چہ خامخا بہ تاسے پورتہ کړے شی یَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ⑥ ھغہ ورځ چہ وبہ خوزی
خوزیدونکی یعنی وبہ لړزیږی غرونہ اوزمکہ لہ ھیبت دھغہ ورځے نہ ف دغہ خوزیدل بہ پہ نفخہ
اولی سرہ وی تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ⑦ دروستو ددغے نہ بہ راشی راتلونکی چہ نفخہ ثانیہ دہ
اوپہ مینځ ددواړو نفخو کښں بہ څلویښت کالہ وی مګر پہ نفخہ اولی سرہ بہ حلق مړہ کیږی
اوپہ دویمہ سرہ بہ ژوندی کیږی دوئ قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ زړونہ دمنکرانو پہ ھغہ ورځے
وَّاجِفَةٌ ⑧ ویریدونکی وی اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ⑨ سترګے دخاوندانو دزړونو بہ
خوارے اوذلیلے وی لہ جھتہ دھیبت یَقُوْلُوْنَ وائی منکران لہ قیامت پہ دنیا کښں پہ
استھزاء سرہ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ ایا مونږ بہ بیرتہ ګرځیدونکی یو فِی الْحَافِرَةِ ⑩ پہ حال
اول کښں یعنی ژوندتہ پس لہ مرګہ پس زیاتوالے ئے وکړ پہ انکار کښں اووئ ویلے ءَاِذَا كُنَّا
ایا پہ ھغہ وخت کښں چہ وګرځیږو مونږ عِظَامًا نَّخِرَةً ⑪ ھډوکی زاړۂ نو بیا بہ پورتہ

عہ ھغہ چا چہ ولوست عمّ پہ څکی خدائ پہ دۂ یخ شراب پہ ورځ د قیامت ۱۲ عہ نفخہ پوکی د شپیلئ
د اسرافیل ؑ تہ ویلے شی ۱۲

شو یعنی پورته به نهٔ شو قَالُوۡا وویلې منکرانو له بعث یعنې رد قیامت ۱۲ تِلۡكَ اِذًا دغه رجوع حُمونږه به ژوندي ته په دغه وخت کښې كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿۱۲﴾ رجوع زیان وړکونکې وي یعنې که رښتیا شي بیرته کیدل حُمونږه پس مونږه به افسوس کوو حُکه چه مونږه ئې همیشه تکذیب کوو او ویلې ئې دا په طریقه د استهزاء سره. پس حق تعالیٰ وویلې سخت مه گڼړئ کار د قیامت حُکه چه فَاِنَّمَا هِيَ پس په تحقیق سره قیامت چه دے زَجۡرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ یو اواز دے یعنې یو پوکے دے د اسرافیل علیه السلام. چه ټول مړي به پرے ژوندی شي فَاِذَا هُمۡ پس ناڅاپه وي به دوئ بِالسَّاهِرَةِ ﴿۱۴﴾ پر مخ د زمکه باندې پس له مرګه او چاویلي دي ساهرة نامه د زمکې ده په شام کښې چه نزدے ده بیت المقدس ته او چاویلي دي نامه د دوزخ ده هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ مُوۡسٰى ﴿۱۵﴾ ایا نهٔ دې راغلې تا ته اے محمد ﷺ بلکه راغلې ده خبره د موسیٰ ؑ د پاره د دے چه تسلي ورکړے زړهٔ خپل لره په تکذیب د قوم خپل سره اِذۡ نَادٰىهُ په هغه وخت کښې چه ندا وکړه موسیٰ علیه السلام رَبُّهٗ خدائ د دهٔ بِالۡوَادِ الۡمُقَدَّسِ طُوًى ﴿۱۶﴾ په میدان پاك کښې چه نوم ئې طوی دے اِذۡهَبۡ لاړ شه په پیغمبرئ سره اِلٰى فِرۡعَوۡنَ فرعون ته حُکه چه اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۱۷﴾ په تحقیق سره فرعون له حده تیر شوے دے په کفر او فساد کښې فَقُلۡ هَلۡ لَّكَ پس ووایه فرعون ته ایا شته تا لره میته اِلٰۤى اَنۡ تَزَكّٰى ﴿۱۸﴾ دے ته چه حُان پاك کړے له شرکه او له عصیانه په ایمان سره وَاَهۡدِيَكَ او چه لاره وښایم تا ته اِلٰى رَبِّكَ معرفت د خدائ ستا ته فَتَخۡشٰى ﴿۱۹﴾ پس ویریږے به ته له عذابه د خدائ حُکه چه ویره له خدائ نه وي مګر په معرفت سره لکه چه ویلي دي انما یخشی الله من عباده العلمٰٓؤُا معنی دا چه په تحقیق سره ویریږي له خدائ له بندګانو د دهٔ نه عالمان په معرفت د خدائ باندې پس لاړ و موسیٰ ؑ په فرمان د خدائ فرعون ته نو دهٔ تر ے طلب د معجزے وکړهٔ فَاَرٰىهُ پس وښود له موسیٰ علیه السلام فرعون ته الۡاٰيَةَ الۡكُبۡرٰى ﴿۲۰﴾ معجزه لویه چه عصا وه فَكَذَّبَ پس تکذیب وکړهٔ فرعون ؑ لره نو موسیٰ ته ئې وګهٔ په ساحر سره وَعَصٰى ﴿۲۱﴾ او عاصي شهٔ له فرمان د خدائ نه ثُمَّ اَدۡبَرَ پس مخ ئې وګرځوو له ایمانه يَسۡعٰى ﴿۲۲﴾ کوشش ئې

کولو په فساد سره په زمکه باندے فَحَشَرَ پس جمع ئے کړل ساحران او لښکر خپل فَنَادٰی ﴿۲۳﴾
پس اواز ئے وکړهٔ دوئ ته په هغه ځائ چه جمع شوی وو فَقَالَ پس وے ویلے دا سے چه
اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰی ﴿۲۴﴾ زهٔ یم رب لوئے ستاسے یعنی بتان چه په صورت ځما دی تول خدایا
ستاسے دی او زهٔ لوئ یم د دوئ نه فَاَخَذَهُ اللّٰهُ پس ونیولو خدائ فرعون لره نَكَالَ الْاٰخِرَةِ
په عذاب د اٰخرت سره چه احراق دے وَالْاُوْلٰی ﴿۲۵﴾ او په عذاب د دنیا سره چه اغراق
دے اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ په تحقیق سره په نیولو د فرعون کښ لَعِبْرَةً خامخا پند دے لِّمَنْ يَّخْشٰی ﴿۲۶﴾ ع
هغه چا لره چه ویریږی له خدائ ءَاَنْتُمْ ایا تاسے اے منکرانو له قیامت اَشَدُّ خَلْقًا سخت
یئ له پیدا وخت اَمِ السَّمَآءُ یا اسمان سخت دے له جهته د خلقت پس بیان که خدائ
کیفیت د خلقت ئے نو وے ویلے بَنٰهَا ﴿۲۷﴾ جوړ کړیدے خدای اسمان لره رَفَعَ سَمْكَهَا چه پورته
کړے دے چهت د اسمان فَسَوّٰهَا ﴿۲۸﴾ پس برابر کړے ئے دے بے عیبه بے نقصانه وَاَغْطَشَ
لَيْلَهَا او تیاره کړے ئے ده شپه د اسمان وَاَخْرَجَ ضُحٰهَا ﴿۲۹﴾ او بهر کړے ئے ده ورځ له اسمان
تنبیه اضافت د شپے او د ورځے ئے وکړهٔ اسمان ته ځکه چه شپه سورے د اسمان دے
او ورځ ډیوه د اسمان ده وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ او زمکه ئے پس له پیدا وښت د اسمان
دَحٰهَا ﴿۳۰﴾ غوړولے ده جمهورو عالمانو ویلے دی چه پید اوخت د زمکے ړومبے وو د
خلقت د اسمانه او غوړول ئے روستی دی یعنی خلقت د زمکے د کعبے ئے کړے وو دوه زره
کاله وړومبے د پید اوښت د اسمان نو پس ترے خلقت د اسمان شوے دے او زمکه لـه
کعبے تخته په مخ د اوبو باندے وغوړوله اَخْرَجَ مِنْهَا او وے ویستے له زمکے نه مَآءَهَا
اوبهٔ د دے په جاری کولو د دریابونو او چینو سره وَمَرْعٰهَا ﴿۳۱﴾ او ویستلے ئے ده کیاه
د زمکے نه وَالْجِبَالَ اَرْسٰهَا ﴿۳۲﴾ او غرونه ئے ثابت کړل په مخ د زمکے باندے او اثبات
دغرونو او جاری کول د ولو او اظهار د چراګاه مَتَاعًا لَّكُمْ د پاره د نفع ستاسے . وَ
لِاَنْعَامِكُمْ ﴿۳۳﴾ او د پاره د نفع د چارپایانو ستاسے فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰی ﴿۳۴﴾ په
هغه وخت کښ بلا لویه چه نفخه ثانیه ده او چا ویلی دی طامة کبرٰی هغه ساعت

دے چه روان کړے شی جنتیان جنت لره او دوزخیان دوزخ لره يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ به
دغه ورځ به یادوی سړے مَا سَعٰى ﴿۳۵﴾ هغه څیز چه کړے وو ده یعنی ټول اعمال به لیکلے ورکه
چه وے لولی وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ او ظاهر به کړے شی دوزخ لِمَنْ يَّرٰى ﴿۳۶﴾ هر لیدونکی
ته حُکه چه ظاهر به بنکاریږی فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ﴿۳۷﴾ پس هر څوک چه له حده تیر شوے وی
په کفر سره وَ اٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾ او غوره کړے ئے وی ژوند د دنیا په آخرت باندے
په اتباع د شهوت سره فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿۳۹﴾ پس په تحقیق سره دوزخ ځائ د
استوږنے د دوئ دے وَ اَمَّا مَنْ خَافَ او هر څوک چه ویریږی مَقَامَ رَبِّهٖ له اودریدلو
خپلو نه په نزد د خدائ وَنَهَى النَّفْسَ او منع کوی نفس عَنِ الْهَوٰى ﴿۴۰﴾ له آرزو د نفس
فَاِنَّ الْجَنَّةَ پس په تحقیق سره جنت چه دے هِيَ الْمَاْوٰى ﴿۴۱﴾ هغه ځائ د آرام دده دے
حاصل دا دے چه عاصی به په اور کښ وی او مطیع به په جنت کښ وی يَسْئَلُوْنَكَ
سوال کوی کافران د مکے له تا نه اے محمد عَنِ السَّاعَةِ له قیامت او وائی چه اَيَّانَ
مُرْسٰهَا ﴿۴۲﴾ کله به وی اقامت د قیامت فِيْمَ اَنْتَ په څهٔ څیز کښ ئے ته اے حضرت
مِنْ ذِكْرٰهَا ﴿۴۳﴾ له یادولو د قیامت یعنی ته خبر نه ئے په راتلو د قیامت باندے اِلٰى
رَبِّكَ مُنْتَهٰهَا ﴿۴۴﴾ خدائ ستا ته دے علم د قیامت یعنی هیڅوک ترے خبر نه دے اِنَّمَا
اَنْتَ په تحقیق سره ته مُنْذِرُ ویروونکے ئے مَنْ يَّخْشٰهَا ﴿۴۵﴾ هغه چا لره چه ویریږی
له قیامت كَاَنَّهُمْ گویا که کافران د مکے يَوْمَ يَرَوْنَهَا په هغه ورځ چه ووینی قیامت لره
لَمْ يَلْبَثُوْٓا د رنگ ئے نهٔ وو کړے په دنیا کښ اِلَّا عَشِيَّةً مگر په قدر د ماښام سره
اَوْ ضُحٰهَا ﴿۴۶﴾ یا په قدر د څاښت د هغه ورځے چه ماښام ئے ذِکر شوے دے یعنی له ع۲
جهته د هیبته د هغه ورځے ژوندون خپل به هیر کا او دا رنگے به وګنړی چه نه وو
موندلے په دنیا کښ مگر په قدر د څاښت یا د ماښام د یوے ورځے سره ۔

سُوْرَةُ عَبَسَ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۴۲ — رُكُوْعُهَا ۱

روایت دے چه عبد الله خوئی د ام مکتوم مجلس د رسول کریم صلی الله علیه وسلم
ته راغلو او په دغه وخت کښې پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام په بلنه د اشرافو دعی بوبانده
مشغول وو او عبد الله رض له جهته د نابینایئ خپلې په دغه حال باندے خبرنه وو او وې
وئیلے یا رسول الله عَلِّمْنِی مِمَّا عَلَّمَكَ اللّٰه او دوباره ئے وویلے پس ملول شو پیغمبر
علیه السلام په قطع کولو د کلام سره او وچولے مبارك ئے تریو کړه او مخ ئے وګرځولو هغهٔ
نه نو په هغه ساعت کښې جبریل علیه السلام وحی راوړه عَبَسَ وچولے تریو کړه محمد علیه السلام
وَتَوَلّٰى ﴿١﴾ او مخ ئے وګرځاوو اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ﴿٢﴾ چه راغلو ده ته نابینا یعنی عبد الله
وَمَا یُدْرِیْكَ او څهٔ خبر پوهه کړے ته اے محمد - لَعَلَّهٗ بنا ئیږی چه ابن ام مکتوم یَزَّكّٰى ﴿٣﴾
پاك شی له ګناهونو نه په سبب د هغه خبر چه واوری له تا نه اَوْ یَذَّكَّرُ او یا پند ونیسی
فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ﴿٤﴾ پس نفع به ورسوی پند ورکول ستا عبد الله له ده او که ته پوهه وے
نو تولّی به دِ نه وه کړے اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰى ﴿٥﴾ هغه څوك چه وی غنی په مال سره فَاَنْتَ لَهٗ
پس ته هغهٔ ته تَصَدّٰى ﴿٦﴾ مخ کوے له جهته د حرص په ایمان د هغه باندے وَمَا عَلَیْكَ
او نشته په تا باندے ګناه اَلَّا یَزَّكّٰى ﴿٧﴾ په دے چه مستغنی پاك نشی په اسلام سره ځکه
چه تا باندے رسول ئے دی فقط وَاَمَّا مَنْ جَآءَكَ او هرچه هغه څوك دی چه راځی
تا ته چه یَسْعٰى ﴿٨﴾ تلوار کوی په طلب د خیر کښې یعنی ابن ام مکتوم وَهُوَ یَخْشٰى ﴿٩﴾
او حال دا دے چه هغه ویریږی د خدائ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ﴿١٠﴾ پس تهٔ اے حضرته
له هغه څخه مشغولیږے له کافرانو سره روایت دے چه پیغمبر علیه السلام پس له
دے ایت هیڅ کله ئے مخ مبارك خپل تریو کړے نهٔ وو فقیر ته كَلَّا مهٔ کوه د اسے دوباره
ځکه چه اِنَّهَا په تحقیق سره دا سورت او یا دا ایتونه چه دی تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ پند دے خلقو له
فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿١٢﴾ پس هر څوك چه رضا ئے وشی یادوی دِ قرآن له او دا ایتونه
ثابت کړے شوی دی فِیْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ په صحیفو بزرګو کښې په نزد د خدائ چه

عه یعنی اے رسوله د خدائ وښایه ما ته بعضے له هغه څیزه چه خودلے دے تا ته خدائ ١٢

لوح محفوظ دے مَّرۡفُوۡعَةٍ چه بلند قدرے دے مُّطَهَّرَةٍ ⑭ پاکے کړے شوی دی له هغه
خبرو نځنه چه له خدایه نهٔ دی بِاَيۡدِىۡ سَفَرَةٍ ⑮ په لاس د لیږونکیو کښې یعنی د هغه ملائکو
کښې چه له لوح محفوظ ځنې لیکی کِرَامٍۢ چه لوئ دی په نزد د خدائ بَرَرَةٍ ⑯ او نیکو
کاره دے قُتِلَ الۡاِنۡسَانُ په لعنت کړے شوے دے سړے مراد ترے کافر دے او چا ویلی
دی چه مراد ترے عتبه دے مَاۤ اَكۡفَرَهٗ ⑰ څهٔ څیز کافر کړهٔ دهٔ لره اندیښنه نهٔ کوی
چه مِنۡ اَىِّ شَىۡءٍ خَلَقَهٗ ⑱ له څهٔ څیزه پیدا کهٔ خدائ دهٔ لره پس بیان کهٔ خدائ
هغه څیز نو وے ویلے مِنۡ نُّطۡفَةٍ له څاڅکی د منی ځنې خَلَقَهٗ پیدا ئے کهٔ ده لره
فَقَدَّرَهٗ ⑲ پس اندازه ئے کړه اندامونه او هیئت دهٔ لره په رحم د مور کښې ثُمَّ
السَّبِيۡلَ يَسَّرَهٗ ⑳ پس آسانه ئے کړه لاره د دهٔ په فراخ کولو د خولے د رحم سره ثُمَّ
اَمَاتَهٗ پس مړ کوی دهٔ لره فَاَقۡبَرَهٗ ㉑ پس په خاورو کښې دفن کوی دهٔ لره او په مثل
د مردارے ئے نهٔ غورځوی په لاره کښې ثُمَّ اِذَا شَآءَ پس هر کله چه رضا وشی د خدائ
اَنۡشَرَهٗ ㉒ ژوندے به کړی دهٔ لره كَلَّا لَمَّا يَقۡضِ حقه ده ونهٔ کړهٔ کافر مَاۤ اَمَرَهٗ ㉓
هغه څیز چه خدائ فرمائیلے وو دهٔ لره یعنی کافر په عهد او میثاق باندے وفا ونهٔ کړه په
ایمان او طاعت سره۔ **روایت دے** چه هر کله بیان کړل خدائ نعمتونه په نفس د
انسان کښې له اوله پیدا اوخته ئے تر آخره پورے نو اوس بیان کوی د هغه نعمتونو چه ورته
ئے حاجت کیږی فَلۡيَنۡظُرِ الۡاِنۡسَانُ پس نظر دِ وکړی سړے اِلٰى طَعَامِهٖۤ ㉔ خوراک خپل
ته چه څرنګه ئے تیار کړے دے دهٔ لره داسے چه اَنَّا صَبَبۡنَا الۡمَآءَ په تحقیق سره
مونږه توئ کړی دی اوبهٔ له وریځے نه صَبًّا ㉕ په تویولو سره ثُمَّ شَقَقۡنَا الۡاَرۡضَ پس
څیرے کړے مو دا زمکه شَقًّا ㉖ په څیرولو سره فَاَنۡۢبَتۡنَا پس زرغونه مو کړه فِيۡهَا په
زمکه کښې حَبًّا ㉗ دانه د پاره د خوراک ستاسے وَّعِنَبًا او انګور وَّقَضۡبًا ㉘ او سپیهٔ
(منږه) وَّزَيۡتُوۡنًا او خونه چه په کښې نفع ډیرے دی وَّنَخۡلًا ㉙ او خرما وَّحَدَآئِقَ
غُلۡبًا ㉚ او باغونه ډیر ګڼږ وَّفَاكِهَةً او میوے لوندے او تازه وَّاَبًّا ㉛ او میوے وچے

او چا ویلی دی چراه کاه دچارپایانو اودغه ټول ځیزونه مَتَاعًا لَّكُمْ دپاره د نفع ستاسے دی
وَلِاَنْعَامِكُمْ (۳۲) او پاره د نفع دچارپایانو ستاسے دی ځکه چه قسمونه ذکر کړے شوی
بعضے طعام دے او بعضے چراه کاه دے فَاِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ (۳۳) پس په هغه وخت کښی
چه واشی اواز سخت چه کنړوی به غوږونه د دوی چه نفخه ثانیه ده يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ
په هغه ورځ چه به تختی سړے مِنْ اَخِيْهِ (۳۴) له وروره خپله سره د مهربانی د وروی
په وروربانده وَاُمِّهٖ اوله مور خپلے سره له ډیرے مینے د دوی په خوئی باندے
وَاَبِيْهِ (۳۵) اوله پلاره خپله سره له ډیره مشقته د ده په فرزند باندے وَصَاحِبَتِهٖ
اوله ښځے خپلے چه هغه غم خواره د ده وه وَبَنِيْهِ اوله ځامنو خپلو چه تکړے د زړه
ئے وے ځکه به تختی چه مشغول به وی له کاره خپله سره او پوهه به شی چه دوئی
ماته نفع نهٔ رسوی او چا ویلی دی تختی به ځکه چه ویریږی به له طلبه د دوی نه
حق خپل لره لِكُلِّ امْرِئٍ دپاره دهر سړی به مِّنْهُمْ له اهل قیامت يَوْمَئِذٍ په
دغه ورځ کښی شَاْنٌ یو کار وی چه يُّغْنِيْهِ (۳۷) بے پروا کوی به خلق یو تر بلــه
وُجُوْهٌ ډیر مخونه به يَّوْمَئِذٍ په هغه ورځ کښی مُّسْفِرَةٌ (۳۸) روښانه وی له
نوره دایمانه ضَاحِكَةٌ خندیدونکی مُّسْتَبْشِرَةٌ (۳۹) او خوشحاله په سبب
دخلاصی سره له عذابه وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ او ډیر مخونه په دغه ورځے وی
به عَلَيْهَا غَبَرَةٌ (۴۰) په هغوئی باندے گرد او تیاره تَرْهَقُهَا رسیدلی به وی
هغوئی ته قَتَرَةٌ (۴۱) توروالے اولٰٓئِكَ خاوندان ددغه حال چه دی هُمُ الْكَفَرَةُ
ع ۱ ۵ هم دوئی دی کافران په حقوقو دخدائی باندے الْفَجَرَةُ (۴۲) او بدکرداره په حقوقو
دعبادو کښی پس هر کله چه جمع کړے دے دوئی کفر سره فجور نو جمع به کړی خدائے
توروالی د مخونو سره ئے کرد په حدیث کښی دی چه مَنْ قرء سورة عبس جاء یوم
القیمة و وجهه ضاحکة مستبشرة ۶ ۶ ۶

عه یعنی هغه چا چه ولوست سورة عبس رابه شی دغه قاری په ورځ دقیامت او مخ به ئے خندیدونکے او خوشحاله وی ۱۲

سُورَةُ التَّكْوِيرِ مَكِّيَّةٌ ۸۱ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۲۹ رُكُوْعُهَا ۱

إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ① په هغه وخت کښې چه نمر تور شي يعنې روښنائي ترے لاړه شي
وَإِذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ ② او په هغه وخت کښې چه ستورې پريوځي په زمکه باندے
وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ③ او په هغه وخت کښې چه غرونه روان کړے شي له ځائونو خپلونه
وَإِذَا الْعِشَارُ او په هغه وخت کښې چه اوښے بلاربے د لسو مياشتو عُطِّلَتْ ④ پريخوے شي
يعني خاوندان به ئے پريږدي او ساتنه به ئے نۀ کوي ځکه چه دوئي به مشغول وي د نفسونو
خپلو سره وَإِذَا الْوُحُوشُ او په هغه وخت کښې چه جانوران وحشيان حُشِرَتْ ⑤ جمع
کړے شي يو له بله سره او نه به وي دوئي لره طاقت د ضرر رسولو يو تر بله وَإِذَا الْبِحَارُ
او په هغه وخت کښې چه دريابونه سُجِّرَتْ ⑥ ګډ کړے شي تلخ د شيرين سره يعني چه
يو درياب شي وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ⑦ او په هغه وخت کښې چه نفسونه جوړه کړے
شي يعني هر څوک له مثل خپل سره يو ځائي کړے شي نيکوکار له نيکوکار سره او بدکار له
بدکردار سره او چاويلي دي چه جوړه کړے شي ارواح له اجسادو سره وَإِذَا الْمَوْءُدَةُ
او په هغه وخت کښې چه جينکئ ژوندے ښخے کړے شوے سُئِلَتْ ⑧ د پوښتيدلے شي
يعني له مرګه د دوئي نه به سوال وکړي چه بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ ⑨ په کوم ګناه سره وژلے
شوے ده روايت دے چه عادت د اکثرو عربو په جاهليت کښې داو چه لونړه به ئے ژوندئ
ښخولے. له ويرے د خدائي نه او يا له جهته د عار د زوم والي نه پس حق تعالى وفرمايل
چه د دے قتل سوال به وکړے شي فائده په دے کښې اشارت دے دے ته چه اطفال
د مشرکانو به نۀ عذابيږي او بل دے ته چه عذابول بغير له ګناه نه نۀ وي وَإِذَا
الصُّحُفُ نُشِرَتْ ⑩ او په هغه وخت کښې چه کاغذونه د اعمالو د دوئي وسپرود دے
شي ځکه چه د غه نامے نغښتے شي په نزد د مرګ او سپرود دے به شي په وخت د حساب کښې
وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ ⑪ او په هغه وخت کښې چه آسمان و و يستلے شي له ځايه خپله وَإِذَا

الْجَحِيْمُ او په هغه وخت کښې چه دوزخ سُعِّرَتْ ⑫ بل کړے شي يعنی په قهـر د
خدائ کرم شي وَاِذَا الْجَنَّةُ اُزْلِفَتْ ⑬ او په هغه وخت کښې چه جنت نزدے کړے شي
دوستانو د خدائ ته. جواب د اِذَا دادے چه عَلِمَتْ نَفْسٌ پوهه به شي هر نفس په وخت
د دغه څیزونو ذکر کړے شویو کښې چه ورځ د قیامت ده مَّآ اَحْضَرَتْ ⑭ په هغه څیز
باندے چه حاضر شوے وو دهٔ ته له خیره او له شره فَلَآ اُقْسِمُ پس سوګند کوم زهٔ .
بِالْخُنَّسِ ⑮ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ⑯ په هغه ستوریو باندے چه پټیږي په ورځ کښې او
ځي ځایونو د پریوتلو خپلو ته وَالَّيْلِ اِذَا عَسْعَسَ ⑰ او سوګند دے په شپه باندے په
هغه وخت کښې چه وړاندے راشي او هوا تورکړي وَالصُّبْحِ اِذَا تَنَفَّسَ ⑱ او سوګند
دے په صبا باندے په هغه وخت کښې چه وخیژي او جواب د قسم دادے اِنَّهٗ لَقَوْلُ
رَسُوْلٍ په تحقیق سره قرآن ویل د لیږلی شوي دي كَرِيْمٍ ⑲ چه لوئے دے په
نزد د خدائ چه هغه جبریل علیه السلام دے ذِيْ قُوَّةٍ چه خداوند د قوت دے
په قلع د مؤتفکاتو کښې عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ چه په نزد د خداوند د عرش مَكِيْنٍ ⑳ خاوند
د مرتبے دے مُّطَاعٍ ثَمَّ فرمان ئے وړے شوے دے په اسمانونو کښې یعني ټولے ملائکے
فرمان د دهٔ وړي اَمِيْنٍ ㉑ امانتګر دے په وحی کښې وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُوْنٍ ㉒ عطف
دے په جواب د قسم باندے یعنی نه دے صاحب ستاسے چه محمد علیه الصلوة والسلام
دے لیونے وَلَقَدْ رَاٰهُ او په تحقیق سره لیدلے وو حضرت جبریل علیه السلام لره په
صورت اصلی د هغه سره بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ ㉓ په کنارهٔ روښانو باندے چه ځائ د
ختلو د نمر دے وَمَا هُوَ او نهٔ دے محمد علیه السلام عَلَى الْغَيْبِ په هغه څیزونو پټو
باندے چه وحی ورته وشي بِضَنِيْنٍ ㉔ بخیل چه تعلیم تاسے ته نهٔ کوي وَمَا هُوَ او
نهٔ دے دا قرآن بِقَوْلِ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ㉕ ویل د شیطان شړلے شوي فَاَيْنَ
تَذْهَبُوْنَ ㉖ پس چرته ځئ تاسے اے کافرانو اِنْ هُوَ نهٔ دے قرآن اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ㉗
مګر پند دے عالمیانو لره لِمَنْ شَآءَ هغه چالره چه رضائے وشي مِنْكُمْ له تاسے څخه داسے

اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ﴿۲۸﴾ چه برابر شی په لاره د خدائ باندے وَمَا تَشَآءُوْنَ او نهٔ اختیاروئ
تاسے استقامت اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ مگر په هغه وخت کښ چه اختیار وی خدائ استقامت
ستاسے چه رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۹﴾ مالك دخلقو ټولو دے او په حدیث کښ دی چه مَن قرء عه ع ۱
سورة التكوير اعاذه الله تعالىٰ ان يفضحه حين تنشر صحيفته ۱۲

سُوْرَةُ الانفطار مكية ۸۲ ۱۲　بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ　اٰيَاتُهَا ۱۹ رُكُوْعُهَا ۱

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ﴿۱﴾ په هغه وخت کښ چه اسمان خیرے شی وَاِذَا الْكَوَاكِبُ
انْتَثَرَتْ ﴿۲﴾ او په هغه وخت کښ چه ستورى پریوځی وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿۳﴾ او
په هغه وخت کښ چه دریابونه روان کړے شی بعضے بعضوته او ټول یو دریا شی وَاِذَا
الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ﴿۴﴾ او په هغه وخت کښ چه لاندے باندے کړے شی یعنی چه
خاوره ترے لرے شی او خارج شی ترے مړی او جواب د اِذَا دادے عَلِمَتْ نَفْسٌ
پوهه به شی هر نفس نیکوکاره او بدکاره مَا قَدَّمَتْ په هغه خیز باندے چه کړے ئے وی
له عبادت او صدقاتونه وَاَخَّرَتْ ﴿۵﴾ او په هغه چه وروستو ترے پاتے شوے وی له
نیکئ او بدئ نه يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اے سړیه مَا غَرَّكَ څهٔ خیز مغروره کړے تهٔ چه کافر
بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ﴿۶﴾ په رب خپل باندے چه لوئ دے الَّذِىْ خَلَقَكَ هغه خدائ چه
پیدا کړے ئے تهٔ له عدم څخه فَسَوّٰىكَ پس برابرے کړل اندامونه ستا فَعَدَلَكَ ﴿۷﴾
پس برابرے کړل بعض اندامونه ستا له بعضو سره یعنی پیدا ئے کړهٔ یو لاس په اندازه
د بل سره او یو سترګه په اندازه د بلے سره **فائده** په دے کښ اشارت دے دے ته
چه هر کله هغه ذات توانا دے په دغه شان سره نو توانا دے په پیدا کولو سره دویاره د حساب
او د جزا فِىْٓ اَىِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ په هر صورت سره چه رضا وه د خدائ رَكَّبَكَ ﴿۸﴾ مرکب
ئے کړے تهٔ یعنے په صورت بانُسته او قبیحه او طویل او قصیر سره او لفظ د مَا زیاتی دے

عه چاچه ولوستلو سورة التكوير وبه ساتى خدائ تعالىٰ دهٔ لره له رسوائ څخه په هغه وخت کښ چه پرانستے
به شی عمل نامه دده ۱۲

كَلَّا نهٔ دہ داسے لکه چه گمان کوئ تاسے چه قیامت نشته بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بلکه دروغ گوئ
تاسے اے اهل مکه بِالدِّيْنِ ﴿٩﴾ په ورځ دجزا باندے له جهته دعناد پس نفس
نهٔ کوی ثواب اوعقاب لره وَاِنَّ عَلَيْكُمْ او په تحقیق سره په عملونو او قولونو ستاسے باندے
لَحٰفِظِيْنَ ﴿١٠﴾ خامخا ساتونکی دی له ملائکو څخه كِرَامًا چه لوئ دی په نزد د خدائے۔
كَاتِبِيْنَ ﴿١١﴾ لیکونکی دی افعالو او اقوالو ستاسے لره یعنی تاسے دروغ وایئ په ورځ دقیا
باندے او ملائکے لیکی عملونه ستاسے دپاره ددے چه جزا درکړے شی موافق داعمالو
سره يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿١٢﴾ پوهیږی دوئ په هغه څیزچه کوئ تاسے له خیر او له شر څخه
پس بیانوی هغه څیز دپاره دهغے ئے لیکی اِنَّ الْاَبْرَارَ په تحقیق سره مؤمنان به لَفِيْ
نَعِيْمٍ ﴿١٣﴾ په نعمتونو دجنت کښ وی وَّاِنَّ الْفُجَّارَ او په تحقیق سره کافران به لَفِيْ
جَحِيْمٍ ﴿١٤﴾ په اورسیزونکی کښ وی يَّصْلَوْنَهَا داخل به شی دوئ دغه اور دوزخ کښ
يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿١٥﴾ په ورځ دقیامت کښ وَمَا هُمْ عَنْهَا اونهٔ به وی دوئ له دوزخ
څخه بِغَآئِبِيْنَ ﴿١٦﴾ بهرو تونکی وَمَآ اَدْرٰىكَ اوڅه څیز پوهه کړے ته مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٧﴾
څهٔ څیز دے قیامت ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٨﴾ پس څهٔ څیز پوهه کړے ته
چه څهٔ څیز دے قیامت **فائده** مکرر ئے کړه دغه ورځ له جهته دتاکید او دهیبت
پس بیان ئے کړهٔ په دے قول سره يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ هغه ورځ ده چه نه به مالک
کیږی هیڅوك لِنَفْسٍ دپاره دهیځ نفس شَيْـًٔا ط دیوڅیز یعنی هیڅوك به نه توانیږی چه
په قوت خپل سره نفع او یا ضرر جاته ورسوی ځکه چه هر یو به مشغول وی له نفس خپل
(۱۹) سره وَالْاَمْرُ اوحکم به يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴿١٩﴾ په دغه ورځ کښ خاص خدائے لره وی او په
حدیث کښ دی چه من قرء سورة الفطرت کتب الله له بعدد کل قطرة من السماء
حسنة وبعدد کل قبر حسنة

ع۱ هغه چاچه ولوست سورة الفطرت وبه لیکی خدائے دهٔ لره په شمار د هرڅاڅکی سره چه
نازلیږی له آسمانه نیکی او په شمار د هرقبر سره نیکی ۱۲

سورة التطفیف ۸۳ مکیة ۸۶ ایاتها ۳۶ رکوعها ۱

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

روایت دے چه اهل د مدینے به کیل او وزن کښې خیانت کولو هر کله چه پیغمبر علیه السلام له مکے نه مدینے ته هجرت وکړو په مینځ د لاړے کښې دا سورت نازل شهٔ وَيۡلٌ کنده د دوزخ ده لِّلۡمُطَفِّفِيۡنَ ﴿۱﴾ د پاره د کمی کونکو په کیل او وزن کښې اَلَّذِيۡنَ هغه کسان اِذَا اكۡتَالُوۡا په هغه وخت کښې چه اخلي عَلَى النَّاسِ له خلقو نه خپل ځان له فائده. علی په معنیٰ د مِن دے. يَسۡتَوۡفُوۡنَ ﴿۲﴾ پوره او تمامه ئے اخلی وَاِذَا كَالُوۡهُمۡ او په هغه وخت کښې چه پیمانه کوی دوئی خلقو له اَوۡ وَّزَنُوۡهُمۡ او یا وزن کوی دوئی خلقو له يُخۡسِرُوۡنَ ﴿۳﴾ کم ورکوی او زیان ورته رسوی روایت دے هر څوک چه په کیل او وزن کښې کمے کوی نو په ورځ د جزا به په دوزخ کښې وغورځولے شی او په مینځ د دوو غرونو د اور کښې به ئے کینولے وی او ورته به وویلے شی كِلۡهُمَا وَزِنۡهُمَا. اَلَا يَظُنُّ آیا یقین نهٔ کوی اُولٰٓئِكَ دغه ټولے چه ډیر اخستونکے او کم ورکونکی دی دا سے چه اَنَّهُمۡ مَّبۡعُوۡثُوۡنَ ﴿۴﴾ په تحقیق سره دوئی پورته کیدونکی دی لِيَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿۵﴾ د پاره د حساب د ورځے لوی يَّوۡمَ يَقُوۡمُ النَّاسُ په هغه ورځ چه وبه دریږی خلق لِرَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۶﴾ د پاره د حکم د خدائے د عالمیانو كَلَّا مهٔ کوئ تطفیف او غفلت له قیامت پس بیانوی ځائے د فجارو دا سے چه اِنَّ كِتٰبَ الۡفُجَّارِ په تحقیق سره اعمالنامے د کافرانو لَفِيۡ سِجِّيۡنٍ ﴿۷﴾ په سجین کښې دی فائده مسمّٰی ئے کړه اعمال نامه د کافرانو په سجین سره له دے جهته چه سجین وزن فعیل دے په معنٰی د بند سره او دغه کاغذ هم سبب د بندوالی دے په دوزخ کښې وَمَاۤ اَدۡرٰىكَ مَا سِجِّيۡنٌ ﴿۸﴾ او څه خبر پوهه کړے ته چه څهٔ دے سجین كِتٰبٌ مَّرۡقُوۡمٌ ﴿۹﴾ یو کاغذ دے لیکلے شوے چه هر څوک ئے ووینی پرے پوهیږی چه په

عه یعنی په هغه څیز چه پیمانه کولے شی په اوکی سره لکه غنم، وریشے شوے ۱۲ عه یعنی په هغه څیز کښې چه تلے شی په تله باندے سره یعنی پیمانه کړه دا دواړه غر ونه او وے تله - په حدیث کښې راغلی دی الصلوة مکیال فمن وفی وفی له ومن طفف فنظر ما قال الله تعالیٰ فی القراٰن ۱۲

کښې خیر نشته دے وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په هغه ورځ کښې لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ⑩ دروغ ویونکو لره الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ هغه کسانو لره چه دروغ وائی بِيَوْمِ الدِّيْنِ ⑪ په ورځے دجزا او دحساب باندے وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ او دروغ نهٔ وائی په دغه ورځے اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ⑫ مګرهر ظالم او ګنهګار اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ هغه وخت کښې چه ولوستے شی په معتد اثیم باندے اٰيٰتُنَا آیتونه دقرآن ځمونږه قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ⑬ وائی له ډیره جهل چه دا قصے د پخوانیو دی كَلَّا نهٔ دهٔ داسے لکه چه دے وائی بَلْ ﵏ رَانَ بلکه زنګ د غفلت رسیدلے دے عَلٰى قُلُوْبِهِمْ په زړونو د دوئ باندے مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ⑭ په سبب دهغه عمل سره چه کوی ئے دوئ له معصیت څخه یعنی په سبب دګناهونو سره زړونو ئے زنګ نیولے دے لکه چه په حدیث کښې دی انّ العبد کلما اذنب ذنبا حصل فی قلبه نکتة سوداء حتی یسود قلبه . كَلَّآ اِنَّهُمْ رښتیا ده چه دوئ به عَنْ رَّبِّهِمْ له دیداره دخدائ خپله يَوْمَئِذٍ په هغه ورځ کښې لَمَحْجُوْبُوْنَ ⑮ منع کړے شی . فائده : په دے آیت کښې اشارت دے دے ته چه مؤمنان به وینی رب خپل ثُمَّ پس له منع له لیدلو د رب خپله اِنَّهُمْ په تحقیق سره دوئ لَصَالُوا الْجَحِيْمِ ⑯ داخل به کړے شی دوزخ ته ثُمَّ يُقَالُ پس وبه ویلے شی یعنی ملائکے زبانیه به دوئ ته ووائی هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ دا هغه عذاب دے چه وئ تاسے په دنیا کښې په دے باندے تُكَذِّبُوْنَ ⑰ دروغ ویونکی كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْاَبْرَارِ حقه ده په تحقیق سره کاغذونه دعملونو د نیکوکارانو چه دی یعنی د هغه کسانو چه تطفیف نه کوی په کیل او وزن کښې او ایمان راوړی په ورځ دقیامت باندے لَفِيْ عِلِّيِّيْنَ ⑱ په علیین کښې وی . په اوم آسمان لاندے دعرش فائده : مسمّے ئے کړه عملنامه دابرارو په علیین سره ځکه چه علیین وزن فعیل دے په معنی دعلو سره او دغه کاغذهم سبب د پورته درجے دے په جنت کښې وَمَآ اَدْرٰىكَ او څهٔ خبر پوهٔ کړے ته مَا عِلِّيُّوْنَ ⑲ څهٔ خیز دے علیون كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ⑳ یو کاغذ دے لیکلے شوے چه

عه په تحقیق سره بنده هرکله چه وکړی ګناه حاصلیږی په زړه ددهٔ کښې نکته توره ترهغه پورے چه توره شی زړهٔ ددهٔ ۱۲

هر خوک ئے ووینی پوهه به شی چه په دے کښی دیر خیر دے یَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۱﴾ حاضریږی
هغه کتاب ته ملائکے مقربے چه اوسیدونکے د علیین دی او چا ویلی دی حاضریږی
عملونو د نیکانو ته ملائکے مقربے د هر اسمان په هغه وخت کښی چه عمل ئے پورته ځی.
اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِیْ نَعِیْمٍ ﴿۲۲﴾ په تحقیق سره نیکان به په نعمتونو د جنت کښی وی عَلَی الْاَرَآئِكِ
په تختونو مکللو باندے یَنْظُرُوْنَ ﴿۲۳﴾ نظر به کوی باغونو د جنت ته د پاره خوشحالئ
تَعْرِفُ فِیْ وُجُوْهِهِمْ پیژنے به ته اے لیدونکیه په مخونو د دوئ کښی نَضْرَةَ النَّعِیْمِ ﴿۲۴﴾
تازګی د نعمتونو د جنت یُسْقَوْنَ څښولے به شی دوئ باندے مِنْ رَّحِیْقٍ له شرابو
پاکو له خیری نه مَّخْتُوْمٍ ﴿۲۵﴾ خِتٰمُهٗ مِسْكٌ عه مهر کړے شوی به وی لوښی د هغه شرابو په
مشکو سره په ځائ د موم او چا ویلی دی موندلے به شی بوی د مشکو په نزد د خلاصی د
شرابو وَفِیْ ذٰلِكَ او په دے شرابو پاکو کښی فَلْیَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴿۲۶﴾ پس بنائیږی
چه مینه او رغبت دِ وکړی رغبت کونکی او دغه رغبت کیږی په جلتئ سره نیکئ نه او په
امتناع سره بدئ نه وَمِزَاجُهٗ او ګډ به وی په هغه شرابو کښی مِنْ تَسْنِیْمٍ ﴿۲۷﴾ له اوبو
د چینے څخه چه نامه ئے تسنیم دہ لکه چه بیان کوی عَیْنًا تسنیم یوه چینه دہ یَّشْرَبُ
بِهَا چه څښی به له دغه چینے نه الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۸﴾ نزدے شوی خدائ ته یعنی دوئ به ئے
خالص څښی ځکه چه نه وو مشغوله شوی په دنیا کښی بغیر له خدائ سره او دغه اوبه
به ګډولے شی باقی اهل جنتو ته تنبیه تسنیم نامه د چینے معلومه ده او مسمے ئے کړه
په تسنیم سره له دے جهته چه ځای پورته به توئیږی په لوښو د دوئ کښی او یا پورته
دی له شرابو د جنت په مزه کښی روایت دے چه هر کله به سردارانو د قریشو فقیران
د اصحابو لکه عمارؓ او خبابؓ او صهیبؓ او بلالؓ ولیدل ورپورے به ئے ټوقے کولے او خندا
کوله دا آیت نازل شو اِنَّ الَّذِیْنَ اَجْرَمُوْا په تحقیق سره هغه کسان چه کافر شوی دی
کَانُوْا مِنَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دی دوئ په هغه کسانو پورے چه ایمان ئے راوړیدے یَضْحَكُوْنَ ﴿۲۹﴾

عه یعنی جراؤ کړے شوے په مرغلرو ۱۲

خندا کوی وَاِذَا مَرُّوْا او په هغه وخت چه تیریږی دوی بِهِمْ په مؤمنانو باندے
يَتَغَامَزُوْنَ ﴿۳۰﴾ یو تربله اشاره کوی په ستر گو سره وَاِذَا انْقَلَبُوْٓا او په هغه وخت کښ
چه وګرځی کافران اِلٰٓى اَهْلِهِمُ کورونو خپلوته انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ ﴿۳۱﴾ رجوع کوی خوشحاله
له جهته د استهزاء یه په مؤمنانو پورے وَاِذَا رَاَوْهُمْ او په هغه وخت کښ چه ووینی کافران
مؤمنانولره قَالُوْٓا وائی دوی یو تربله اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ په تحقیق سره دا هغوی چه تابع د محمد[ص]
دے لَضَآلُّوْنَ ﴿۳۲﴾ خامخا ګمراهان دی وَمَآ اُرْسِلُوْا او حال دا دے چه نهٔ دی لیږلے
شوی کافران عَلَيْهِمْ په مؤمنانو باندے حٰفِظِيْنَ ﴿۳۳﴾ څوکیداران چه ساتی عملونه
د دوئ، او ګواهی وائی په هدایت او ضلالت د مؤمنانو باندے فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پس
په ورځ د قیامت هغه څوک چه مؤمنان دی مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ﴿۳۴﴾ په کافرانو
پورے به خاندی عَلَى الْاَرَآئِكِ په تختونو مکللو باندے به ناست وی يَنْظُرُوْنَ ﴿۳۵﴾
ګوری به دوی ته چه دوزخ کښ څرنګه عذابیږی هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ په تحقیق سره
جزا به ورکړے شی کافرانو لره مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾ په سبب د هغه عمل سره چه کړے وو
دوئ په دنیا کښ له خندانه اوله مسخرو نه یعنی د پاره د انتقام د مؤمنانو له کافرانو
څخه جزا م ورکړه چه په عوض د خندا کښ نن ورځ دوئ پورے خاندی مؤمنان ـ او
په حدیث کښ دی ـ چه مَنْ قرء سورة المطففین سقاه الله تعالیٰ من الرحیق
المختوم یوم القیمة ؛

سورة الانشقاق ۸۴ مکية ۸۳ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰياتها ۲۵ رکوعها ۱

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴿۱﴾ په هغه وخت کښ چه آسمان څیرے شی د پاره د نازلیدلو د
ملائکو وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا او واوری او ګردن کیږدی خدائ لره په څیری والی کښ ـ وَ
حُقَّتْ ﴿۲﴾ او لائق شی آسمان حکم د خدائ په انقیاد سره وَاِذَا الْاَرْضُ او په هغه

ع چا چه ولوست سورۀ مطففین خروب به کړی خدائ تعالیٰ دهٔ لره له شرابو څخه هغه شراب چه مهر کړے شوی به وی په ورځ د قیامت کښ ۱۲

وخت کښې چه زمکه مُدَّتْ ﴿۳﴾ وغځولے شي یعني چه غرونه او دریابونه اوکوړ ونه له منځه ئے پورته کړے شي وَاَلْقَتْ او وغورځوی بهرته مَا فِيهَا هغه څیزونه چه په زمکه کښې دی له مړو او خزانو نه وَتَخَلَّتْ ﴿۴﴾ او خالي شي له ټولو اشیاؤ نه وَاَذِنَتْ او فرمان وړونکے شي لِرَبِّهَا حکم د رب خپل لره په القاء او تخلّي کښې وَحُقَّتْ ﴿۵﴾ او سزاواره شي او ریدلو د حکم د خدائ لره او جواب د اذا محذوف دے یعني وبه وینی انسان ثواب او عذاب لره يَاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اے سړیه اِنَّكَ كَادِحٌ په تحقیق سره ته کار کونکے ئے په کوشش سره اِلٰى رَبِّكَ جزا د رب خپل ته كَدْحًا کار کولو سره فَمُلٰقِيْهِ ﴿۶﴾ پس ملاقات کونکے ئے عمل خپل لره یعني انتقام د هغه لره فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ پس هغه څوك چه ورکړے شي كِتٰبَهٗ کاغذ د عمل د ده بِيَمِيْنِهٖ ﴿۷﴾ په ښی لاس کښې ئے فَسَوْفَ يُحَاسَبُ پس زر به ورسره حساب وکړے شي حِسَابًا يَّسِيْرًا ﴿۸﴾ حساب آسان بے له مضائقې نه وَيَنْقَلِبُ اِلٰى اَهْلِهٖ او وبه ګرځی قبیلے خپلے ته که مؤمنان وی او یا ټولی د مؤمنانو ته مَسْرُوْرًا ﴿۹﴾ خوشحاله وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ او هغه څوك چه ورکړے شی کاغذ د عمل د هغهٔ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ﴿۱۰﴾ وروستو د شاځ په کینړ لاس کښې فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ﴿۱۱﴾ پس زر به وائی یا ثبورا ـ او ثبور هلاکت ته وائی یعني ارزو د هلاکت به وکړی وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ﴿۱۲﴾ او داخل به شی دوزخ ته اِنَّهٗ كَانَ په تحقیق سره دے وو به د نیا کښې فِيْٓ اَهْلِهٖ په مینځ د اهل خپل کښې مَسْرُوْرًا ﴿۱۳﴾ خوشحاله په کفر سره اِنَّهٗ ظَنَّ په تحقیق سره دهٔ ګمان کولو په دنیا کښې دا سے چه اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ﴿۱۴﴾ رجوع به و نهٔ کړی خدائ ته یعني خدائ لره قیامت نشته بَلٰى او رجوع به وکړی دے اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ په تحقیق سره رب د دهٔ دے په احوالو او اعمالو د دهٔ بانده بَصِيْرًا ﴿۱۵﴾ لیدونکے ـ پس مهمل به پرے نه ږدی دهٔ لره بلکه رجوع به وکړی خدائ ته او جزا به ورکړی موافق له اعمالو سره ئے فَلَآ اُقْسِمُ پس خودم زهٔ قسم بِالشَّفَقِ ﴿۱۶﴾ په سپینوالی بانده چه پس له سرخئ نه وی وَالَّيْلِ او سوګند دے په

عه په غورځولو د څیزونو کښې او په خالی کیدلو کښې ۱۲

شپه باندے وَمَا وَسَقَ ﴿۱۷﴾ او سوګند دے په هغه څيز باندے چه پټوی او جمع کوی هغه
څيز لره تاريکی د شپے وَالْقَمَرِ اوسوګند دے په سپوږمئ باندے اِذَا اتَّسَقَ ﴿۱۸﴾ په هغه
وخت کښ چه کامله شی بدريت وته جواب د سوګند دادے چه لَتَرْكَبُنَّ خامخا به ورسيږئ
تاسے او ملاقی به شئ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ﴿۱۹﴾ له يو حال بل حال ته چه برابروی له اول سره په
شدت کښ فَمَا لَهُمْ پس څهٔ دے سرو لره چه سره دد اسے احوالو سختو لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۲۰﴾
ايمان نهٔ راوړی وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ اوپه هغه وخت کښ چه لوستے شی په دوئ
باندے قرآن لَا يَسْجُدُونَ ﴿۲۱﴾ سجده نهٔ کوی دپاره د لوستلو ئے بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا
بلکه کافران يُكَذِّبُونَ ﴿۲۲﴾ دروغ وائی قرآن اوقيامت لره وَاللَّهُ أَعْلَمُ اوخدائ بنهٔ
پوهيږی بِمَا يُوعُونَ ﴿۲۳﴾ په هغه څيز باندے چه جمع کوی دوئ په زړونو کښ لـه
کفره او له تکذيبه د پيغمبر اوله کينے نه مؤمنانو سره فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۲۴﴾ پس
خبر کړه دوئ لره په عذاب دردناک سره إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا مګر هغه کسان چه مؤمنان
دی وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ او کړی ئے وی عملونه نيک لَهُمْ أَجْرٌ دوئ لره ده مزدوری
غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿۲۵﴾ بے نهايته او په حديث کښ دی چه من قرء سورة انشقت اعاذه
الله ان يعطيه کتبه من وراء ظهره

سورة البروج مکية ۲۷ ۸۵ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ اٰیاتها ۲۲ رکوعها ۱

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ ﴿۱﴾ سوګند دے په اسمان باندے چه خداوند د برجونو دے چه
هغه دولس دی وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ ﴿۲﴾ اوقسم دے په هغه ورځے چه وعده کولے شی
چه قيامت دے وَشَاهِدٍ اوسوګند دے په ګواه باندے چه خدائ تعالیٰ دے او
يا محمد عليه السلام دے اويا حجر اسود دے اويا شپے ورځے دی وَمَشْهُودٍ ﴿۳﴾ اوسوګند
دے په ګواهی ورکړے شوے باندے چه بنده دے اويا اُمت د پيغمبر عليه السلام

ع هغه چا چه ولوست سورة انشقاق د به ساتی خدائ دهٔ لره له دے نه چه ورکړی دهٔ لره عملنامه د دهٔ
ورو ستو د شا نه ۱۲

دے او یا حاجیان دی او یا بنی آدم دی او جواب د قسم محذوف دے دلالت پرے کوی دا قُتِلَ اَصۡحٰبُ الۡاُخۡدُوۡدِ ﴿۴﴾ النَّارِ لعنت کړے شوی وو خاوندان د خند قونو د اور حاصل دا دے چه سوګند کوی خدائے تعالیٰ په دغه څیزونو باندے چه کافران د قریشو ملعونین دی لکه چه ملعونین شوی وو خاوندان د اُخدود ۔ او اُخدود جمع د خند دہ په معنے د کندے او د خندق سره روایت دے چه یو بادشاه لره ساحر کر او غیب ګویانه وو هر کله چه دے زوړ شه وے لیږلو دهٔ ته یو هلک د پاره د دے چه تعلیم د سحر ورته وکاندے ځکه کهٔ دے مړشی نو دا هلک به ئے خلیفه شی او په لاره د هلک کښې یو راهب وو نو په دین د راهب متدین شهٔ هره ورځ به په بهانه د تعلیم د ساحر سره هغه ته ورته او صحبت به ئے ورسره کولو تر هغے حده پورے چه دے عاقل او مستجاب الدعاء شهٔ ناګهانه یوه ورځے له ځایه د راهب کور ته راتهٔ په لاره یو مار پروت وو چه لاره د خلقو ئے بنده کړے وه پس واخست هلک یو کانړے او وے ویلے۔ اللّٰهم[عه] ان کان الراهب احب الیك من الساحر فاقتلها فقتلها ۔ او وو هلک پس له دے نه چه جوړول به ئے رانده له موره پیدا شوی په دعا سره او جوړول به ئے برګی او جوړول به ئے ټول بیماران تر هغے حده پورے چه یوه ورځ مصاحب د بادشاه راغے دهٔ لره چه په سترګو روند وو هلک ورته وویلے کهٔ چرے متابعت ځما کوے سترګے به دِ روښانه کړم ۔ پس مصاحب ورسره وعده وکړه او هلک ورته تلقین د کلمه شهادت وکهٔ نو سترګے به ئے روښانه شوے پس سوال وکه بادشاه ۔ چه چا جوړ کړے نو وویل مصاحب خدائے خپل پس بادشاه په قهر شهٔ او وے ویل خدائے دِ څوک دے جواب ئے ورکهٔ اَللّٰهُ الَّذِیۡ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط معنیٰ دا چه خدائے ځما هغه ذات دے چه نشته بل خدائے مګر هم هغه دے بادشاه ورته په طریقے د حیلے سره وویلے ۔ دا تلقین در ته چا کړے دے چه زهٔ ئے هم متابعت وکړم په

عه یعنی اے خدایه کهٔ چرے وے راهب دوست تا لره له ساحره ځنه نو پس وو ژنه دے اژدها لره پس وے وژله په حدیث کښې دی چه نهٔ وی هیڅ ورځ مګر او از کوی دا سے چه زه ورځ نوے یم او په هغه څیز باندے چه وکړے شی په ما کښې شاهدی ویونکے یم نو پس غنیمت وشماره ما لره او کهٔ چرے پریوتلو نه ځما بیا به نهٔ مومے ما لره تر قیامته پورے ۱۲

مثل ستا۔ پس مصاحب له جهته د شفقته په ایمان د بادشاه باندے قصه د هلک ورته وکړه بادشاه هلک راوبالهٔ او په عقیده ئے خبرشهٔ نو ډیر کوشش ئے وکړو لیکن هلک اسلام نه ونهٔ گرځید و او راهب ئے هم بادشاه وته وخودهٔ نو راهب ئے په اره کهٔ۔ او وئیل لو هلک غر ته د پاره د دے چه له پاسه راوغورځولے شی۔ هر کله چه سر د غرهٔ ته ورسیدل۔ دُعا وکړه هلک۔ باد لوئ پیدا شهٔ۔ ټول سړی ئے وسر غر ولوید ے سلامت پاتے شه او بیائے سره د یو ټولی په بیړئ کښ کینولو۔ د پاره د دے چه غرق کړے شی هر کله چه مینځ د دریاب ته ورسیدل نو دعا ئے وکړه پس واوړیده بیړئ په هغوئ باندے نو ټول غرق شو او دے سلامت پاتے شهٔ پس بادشاه ووئیل چه اورکښ و سیزئ نو هغوئ وسول او دے پاتے شهٔ پس په سولئ ئے وخیژولو او په غشو ئے وویشتلو او هیڅ غشی پرے اثر نهٔ کولو نو هلک ووئیلے اے بادشاه ایمان راوړه په هغه خدائ باندے چه دا ټول کارونه د قدرت د هغهٔ دی۔ بادشاه له جهته د عناده ووئیل۔ نهٔ غواړم مکر مرګ ستا۔ نو دهٔ ورته ووئیل که مراد دِ دا وی پس غشے راکاږه او ووایه داسے چه وُلم دِ په نامه د خدائ ستا باندے چه غشے دِ ولګیږی۔ بادشاه داسے کار وکهٔ نو هلک شهید شهٔ او حاضرانو د مجلس ایمان راوړه په خدائ د غلام باندے پس حکم وکړو بادشاه چه په زمکه کښ کندے جوړے کړئ او له اوره ئے ډکے کړئ۔ پس هر څوک چه بیرته نهٔ ګرځید و له ایمان هغه بہ ئے پکښ اچولو تر هسے حده پورے چه راغله یوه ښځه چه ورسره یو هلک وو پس وروستو شوه هلک دے ته ووئیلے۔ اے مورے صبر وکړه ځکه چه ته په حقه ئے پس وغورځولے شول هلک او مور ئے په اورکښ پس رب العلمین اکرم الاکرمین دوئ ته اصحٰبُ اُخدود ووئیل۔ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ⑤ چه خداوندان د اوروو یعنی بلوونکی د اوروو په لرګو او سرو سره اِذْ هُمْ په هغه وخت کښ چه وو کافران **فائده** اِذ ظرف دے قتل لره معنیً لعنوا حین اُحرقوا بالنار قٰعدین حولها۔ عَلَیْهَا قُعُوْدٌ ⑥ په غاړه د کندو باندے

عه یعنی په لعنت کړے شوی وو خداوندان د اُحدود په هغه وخت کښ چه سیزل دوئ خلق په اور کښ په هغه حال کښ چه ناست وو دوئ چاپیره د اور نه ۱۲

ناست وو په کرسو باندے وَهُمْ اوکافران چه وو عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ په هغه څيز باندے چه
کولو دوئ له احراق بِالْمُؤْمِنِيْنَ په مؤمنانو باندے شُهُوْدٌ ۞ ۷ حاضر وو او چا ويلي
دي ګواهي ويله بعضو له دوئ نه بعضولره په نزد د بادشاه دا سے چه هيڅ په حکم ستا کښ
کمے نهٔ دے کړے فائده :- په دے کښ اشارت دے دے حث ته مؤمنانو لره په صبر
کولو سره په ضرر د مکيانو باندے وَمَا نَقَمُوْا او دشمنی نهٔ کوله اصحابو د اُخدود مِنْهُمْ
له مؤمنانو سره اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا مګر په سبب د دے سره چه ايمان راوړے وو دوئ
بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ په خدائ باندے چه غالب دے نوله عذابه ئے ښائده دی وييريدل
الْحَمِيْدِ ۞ ۸ چه صفت کړے شوے دے يعني له رحمته ئے ښائده دی اُميد کول الَّذِيْ لَهٗ هغه
خدائ چه د ده هغه لره مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بادشاهی د اسمانونو او د زمکے وَاللّٰهُ عَلٰى
كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۞ ۹ او خدائ په هر څيز باندے له افعالو او له اقوالو د مؤمنانو او د کافرانو
ځنه ګواه دے نو جزا به ورکړی دوئ لره موافق د اعمالو سره اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ
وَالْمُؤْمِنٰتِ په تحقيق سره هغه کسان چه عذابول ئے په اور سره مؤمنان سړی او مؤمنے
ښځے ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا پس توبه نهٔ او کاړی يعني اونهٔ ګرځی له کفره خدائ ته فَلَهُمْ پس
دے دوئ لره په آخرت کښ عَذَابُ جَهَنَّمَ عذاب د دوزخ په سبب د کفر سره ئے
وَلَهُمْ او دے دوئ لره په دنيا کښ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ۞ ۱۰ عذاب د اور سيزونکی ځکه
چه روايت شوے دے چه اور د اصحٰب اُخدود لمبه وو هله څلويښت ګزه نو دوئ
پرے وسول اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په تحقيق سره هغه کسان چه ايمان ئے راوړے دے
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او کړی ئے دی نيک کارونه لَهُمْ دی دوئ لره جَنّٰتٌ تَجْرِيْ باغونه
چه روان به وی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۠ د لاندے د دونوئے ولے ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ۞ ۱۱ دا
دے خلاصے لوئ ځکه چه دنيا و مافيها په مقابله د ده کښ څيز لږ دے. فائده :- په
الّذين کښ اشارت دے هغه کسانو ته چه صبر ئے کړے وو په عذاب د اصحاب اخدود
باندے نو ايٰت نازل شهٔ او چا ويلي دی دغه عامو مؤمنانو ته اشارت دے اِنَّ بَطْشَ

رَبِّكَ په تحقیق سره نیول د رب ستا چه دی ظالمانو لره لَشَدِيْدٌ ﴿۱۲﴾ خامخا سخت دی
إِنَّهٗ په تحقیق سره خدائ تعالیٰ چه دے هُوَ يُبْدِئُ دے ظاهر کونکے د بطش لره په کافرانو
باندے په دنیا کښ وَ يُعِيْدُ ﴿۱۳﴾ او بیا ظاهر کونکے دے بطش خپل لره په دوئ باندے په
اخرت کښ نو پس نه عاجزوی دهٔ لره په هغه څیز کښ چه اراده ئے وکړی هيڅوک وَ
هُوَ الْغَفُوْرُ او دے بخښونکے دے هغه چالره چه توبه وباسی له ګناهونو خپلو څخه الْوَدُوْدُ ﴿۱۴﴾
او دوست دے هغه چالره چه حکم ئے وړي ذُو الْعَرْشِ پیدا کونکے او مالک د عرش دے
الْمَجِيْدُ ﴿۱۵﴾ لوئے دے په ذات او په صفات کښ۔ ځکه چه واجب الوجود تام القدرة
او تام الحکمة دے او چا ویلی دی په جَرّ سره۔ نو معنیٰ ئے دا ده شوه هسے عرش چه لوئ
دے فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱۶﴾ کونکے دے هغه څیز لره چه اراده ئے وشی پس نهٔ سختیږی په
خدائ تعالیٰ باندے یو کار له افعالو خپلو څخه او له افعالو د مخلوق څخه فائده: په دیکښے
اشارت دے دے ته چه خالق د افعالو د بندګانو خدائ دے هَلْ اَتٰىكَ آیا راغلے ده تا
لره اے محمد ﷺ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ﴿۱۷﴾ خبره د لښکرو یعنی په تحقیق سره پیژندلے دے تا
تکذیب د پخوانیو کافرانو پیغمبرانو خپلو لره او پیژندلے دِ دے هغه عذاب چه نازل
شوے وو په هغوئ باندے۔ پس تسلی او صبر وکړه په تکذیب د قوم خپل باندے فِرْعَوْنَ
چه فرعون او قوم ئے وو وَ ثَمُوْدَ ﴿۱۸﴾ او قبیله د ثمود یا نو وه تنبیه بدل ئے کړه فرعون
او ثمود له جنود نه ځکه چه مراد له دے نه فرعون او قوم ئے دے بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
بلکه هغه کسان چه کافران شوی دی له قوم ستا نه فِيْ تَكْذِيْبٍ ﴿۱۹﴾ په تکذیب کښ
دی له جهته د عناده وَّ اللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ او خدائ چاپیره له دوئ نه مُّحِيْطٌ ﴿۲۰﴾ پوهه
دے په احوال د دوئ باندے او دا سے نه ده لکه چه ګمان کوی کافران چه
قران سحر دے او یا شعر دے بَلْ هُوَ بلکه فرقان چه دے قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿۲۱﴾ قران
لوئے دے په کتابونو کښ او په اعجاز کښ او لیکلے شوے دے فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾

عه یعنی په تحقیق راغلے ده تا لره ځکه چه هل استفهام تقریری دے ۱۲ عه سره د دے چه بدل مطابق د مبدل منه سره نهٔ دے په جمعیت کښ ۱۲

په هغه لوح کښې چه محفوظ دے له تغیره او تبدیله او په حدیث کښې دی چه من قرء سورة البروج اعطاه الله بعدد كل جمعة وعرفة تكون في الدنيا عشر حسنات؏

سورة الطارق ۸۶ مکیة ۳۶　بسم الله الرحمن الرحيم　اٰیاتها ۱۷ رکوعها ۱

روایت دے چه یوه شپه رسول کریم صلی الله علیه وسلم سره د ابوطالب ناست وو ناګهانه یو ستورے وځلیدهٔ او لو یه شغله ترے ظاهره شوه داسے چه ابوطالب توے وویریدهٔ پس وئے ویل داڅهٔ دے پیغمبر علیه السلام وویل دا ستورے وو چه شیطان پرے شرلو له آسمان او دغه یوه نښه ده له قدرت د خدائی فی الحال جبریل علیه السلام دا سورت راوړو. وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ﴿۱﴾ سوګند دے په آسمان باندے او سوګند دے په ستوری باندے چه ظاهریږی په شپه کښې وَمَآ اَدْرٰىكَ او څهٔ خبر یو هٔ کړے تهٔ اے محمدؐ چه مَا الطَّارِقُ ﴿۲﴾ څهٔ دے طارق النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿۳﴾ ستوری ځلیدونکی دی په مثل د شغلے دا وړ. او جواب د سوګند دا دے چه اِنْ كُلُّ نَفْسٍ نهٔ دے هیڅ نفس. لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿۴﴾ مګر دے په هغهٔ باندے یو څوکیدار چه شماری اقوال او دهٔ روایت دے چه هر کله وویلے خدائی ان كل نفس لما عليها حافظ په امر ئے وکهٔ په نظر سره اول پیدا وخت ته د پاره د دے چه پوهه شی دے داسے چه په تحقیق سره هغه چا چه پیدا کهٔ ما لره توانا دے په اعاده باندے لکه چه وائی فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ پس بائده دی چه نظر وکړی سړے یعنی منکر له بعث په اصلی پیدا وخت خپل کښې چه مِمَّ خُلِقَ ﴿۵﴾ له څهٔ څیز ه پیدا کړے شوے دے او جواب د استفهام دا دے چه خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿۶﴾ پیدا کړے شوے دے له اوبو څخه چه توئیدونکے دی په رحم کښې. او دے نهٔ ویلے من ماءین. ځکه چه ګډیږی دواړه په رحم کښې يَّخْرُجُ هسے اوبه چه بهر کیږی مِنْۢ بَيْنِ الصُّلْبِ له مینځ د اشا د سړی نه وَالتَّرَآئِبِ ﴿۷﴾ او له

؏ هغه چا چه ولوست سورة بروج وربه کړی خدائی تعالی دهٔ لره په شمار د هر جمعے او د هر عرفے چه په دنیا کښې تیرے دی او یا راځی لس نیکئ ۱۲

هلډوکو د سینې د ښځې نه اِنَّهٗ په تحقیق سره خدائ تعالیٰ چه دے عَلٰی رَجۡعِهٖ په بیرته
گرځولو د انسان باندے پس له مرګه لَقَادِرٌ ⑧ خامخا توانادے یَوۡمَ تُبۡلَی السَّرَآئِرُ ⑨
په هغه ورځ باندے چه ظاهر به کړے شي پټ څیزونه په زړونوکښې له عقائدو او نیتونو
نه. فَمَالَهٗ پس نۀ به وی انسان لره مِنۡ قُوَّةٍ هیڅ قوت چه له عذابه ځان خلاص کړی
وَّلَا نَاصِرٍ ⑩ او نۀ به دۀ لره مددګار چه بلا ترے دفع کړی وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجۡعِ ⑪
او سوګند دے په ورېځې باندے چه صاحبه د باران دہ ځکه چه پورته کوی او بهٔ لــه
دریابه۔ پس بیرته ئے راګرځوی زمکے ته او چا ویلی دی ۔ سوګند دے په بیان باندے
چه صاحب د رجوع دے ځکه چه رجوع کوی په هرګردش کښې هغه ځائ نه چه ترے
خوځېدلے وی وَالۡاَرۡضِ ذَاتِ الصَّدۡعِ ⑫ او سوګند دے په زمکه باندے چــه
خداوندہ د چاؤدلو دہ چه او به او ګیاہ ترے بهر راځی اِنَّهٗ په تحقیق سرہ قرآن چه
دے لَقَوۡلٌ فَصۡلٌ ⑬ خامخا یو قول دے چه جدا کونکے دے په مینځ د حق او د باطل کښې
وَّمَا هُوَ بِالۡهَزۡلِ ⑭ او نۀ دے قرآن یو قول باطل او مسخره اِنَّهُمۡ په تحقیق سرہ مشرکان
د مکے چه دی یَكِيۡدُوۡنَ مکر کوی دوئ په باطلولو د امر د خدائ کښې كَيۡدًا ⑮ په مکر کولو
سره وَّاَكِيۡدُ كَيۡدًا ⑯ او جزا به ورکړم زۀ دوئ لره موافق له مکره د دوئ سره له هغه
ځائ چه دوئ پرے پوهه نۀ لری فَمَهِّلِ الۡكٰفِرِيۡنَ پس مهلت ورکړه کافرانو لره یعنی
تلوار مۀ کوه په هلاکت د دوئ کښې اَمۡهِلۡهُمۡ پرېږدہ دوئ لرہ پس مکر ئے کـــرہ
مهلت د پارہ د زیا توالی د آرام د زړۀ او د صبر د پیغمبر علیه الصلوٰۃ والسلام رُوَيۡدًا ⑰
مهلت لږ چه هغه اجل معین د دوئ دے تنبیه حکم د دے آیت منسوخ شوے دے په
آیت د سیف سره۔ او په حدیث کښې دی چه من قرء سورۃ الطارق اعطاہ الله
تعالیٰ بعدد کل نجم فی السمآء عشر
حسنت۔

عہ هغه چا چه ولوست سورۃ طارق ور به کړی خدائ تعالیٰ دۀ لره په شمار د هر ستوری چه په اسمان کښې
دی لس نیکی ۱۲ منه رحمه ربه ۱۲

سُوْرَةُ الْاَعْلٰی ۸۷ مکیة ۸　　بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ　　اٰیَاتُهَا ۱۹ رُکُوْعُهَا ۱

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَی ﴿۱﴾ پاك كړه نامه دخدائ خپل چه لوئ دے له هغه څیزه چه
ورسره لائق نهٔ دے اوچا ویلی دی ووایه سُبحٰن ربی الاعلیٰ عه - په حدیث کښ دی چه
هركله نازل شهٔ فَسَبِّح باسم ربك العظيم عه وویلے پیغمبرعلیه السلام وګرځوئ تاسے دا
په رکوع خپلے کښ اوهركله چه نازل شهٔ سبح اسم ربك الاعلیٰ وویلے رسول کریم صلے
الله علیه وسلم وګرځوئ تاسے دا په سجده خپله کښ او وودوئ چه ویل به ئے پوهیے
له دے په رکوع کښ اللهم لك رکعتُ او په سجده کښ اللهم لك سجدتُ اَلَّذِیْ خَلَقَ
فَسَوّٰی ﴿۲﴾ هغه خدائ چه پیدا کړی ئے دی ټول څیزونه نوپس برابرئے کهٔ پیدا وخت
د دوئ دا سے چه پیدا ئے کړل دوئ لره اندامونه او اجزائے چه پړے حاصلیږی
کمال د دوئ وَالَّذِیْ قَدَّرَ او هغه خدائ چه تقدیر د رزق او د اجل قسمونو او اشخاصو
ئے کړیدے فَهَدٰی ﴿۳﴾ پس لارئے وښودله دهٔ لره رزق ته په طریقه د اکتساب سره وَالَّذِیْٓ
اَخْرَجَ الْمَرْعٰی ﴿۴﴾ او هغه خدائ چه ویستلے دهٔ ګیاه له زمکے نه د پاره د چارپایانو فَجَعَلَهٗ
پس وګرځولے دهٔ هغهٔ ګیاه پس له شینوالی عه غُثَآءً اَحْوٰی ﴿۵﴾ وچه توره نو احوٰی
صفت د غثاء دے - اوچا ویلی دی احوٰی حال دے له مرعٰی نه. نو داسے شهٔ اخرجه سه
احوٰی من شدة حضرته سَنُقْرِئُكَ زر دے چه وبه لولو مونږه په ژبه د جبریل ع په
تا باندے قرآن فَلَا تَنْسٰٓی ﴿۶﴾ پس ته به ئے نهٔ هیروے له جهته دیاد داشته. سره
د دے چه اُمی ئے د پاره د دے چه شی دا هم یوه معجزه تالره اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ مګر
هغه چه رضا وشی د خدائ تعالیٰ په هیرولو سره ئے یعنے هغه چه منسوخ وی تلاوت ئے. محوه
به کړے شی له سینے ستا نه اِنَّهٗ یَعْلَمُ الْجَهْرَ یعنی تهٔ اے پیغمبره جهر کوے په قران سره
چه لولی ئے جبریل علیه السلام له ویرے د هیروالی نه او په تحقیق سره خدائ پوهیږی

عه پاکی دهٔ رب ځما لره چه لوئ دے ۱۲ عه په پاکئ سره یاد وه نامه د رب خپل چه لوئ دے ۱۲ سه یعنی
ویستلے ئے دهٔ بهرته ګیاه په دے حال کښ چه توره وی له ډیر شینوالی عه ۱۲ منه رحمه ربه

په جهرستا باندے سره د جبریل علیه السلام وَمَا يَخْفٰى ⑦ او پوهیږی په هغه چه پټ وی
په نفس ستا کښی له بلے څخه جهروته چه هیر والے دے اوچا ویلی دی چه په تحقیق سره
خدائے پوهیږی په هغه افعالو او اقوالو دخلقو چه ظاهر وی ئے او په هغه افعالو او
اقوالو چه پټوی ئے وَنُيَسِّرُكَ او توفیق به درکرم تالره لِلْيُسْرٰى ⑧ هغه لارے ته چه
اسانه ده په یادولو د وحی کښی اوچا ویلی دی توفیق به درکرم تالره عمل د جنت وته
فَذَكِّرْ وعظ کوه په قرآن سره إِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ⑨ په تحقیق سره نفع رسوی وعظ
مؤمنانو لره .اوچا ویلی دی کهٔ نفع رسوی او کهٔ نهٔ رسوی یعنی وعظ مهٔ ترک کوه کسه
خوك پرے نفع اخلی او کهٔ نهٔ اخلی سَيَذَّكَّرُ زر دے چه وعظ به قبول کړی مَنْ
يَّخْشٰى ⑩ هغه خوك چه ویریږی له خدائے څخه چه دے فکر کوی په دیکښی وَيَتَجَنَّبُهَا
اولرے والے کوی له وعظ قبلولو نه الْأَشْقَى ⑪ د یر بد بخت چه کافر دے څکه چه دے
بد بخت زیات دے له فاسقه او یاشقی له کافرانو نه هغه خوك دے چه مشغول وی په
دشمنئ د پیغمبر کښی چه ولید دے الَّذِي يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ⑫ هغه بد بخت چه
داخلیږی به په اور لوئے کښی چه اور د جهنم دے او ور کوتے د دنیا دے څکه چه په
حدیث کښی دی نارکم هذه جزء من سبعین جزءٍ من نار جهنم . ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا
پس نه به مری هغه بد بخته په دغه اور کښی چه خلاص شی له عذابه وَلَا يَحْيٰى ⑬
او نه به ژوندے وی په هسے ژوند سره چه ترے خوشحاله شی قَدْ أَفْلَحَ په تحقیق سره
خلاصے بیاموندهٔ مَنْ تَزَكّٰى ⑭ هغه چا چه پاك شهٔ له کفر او له معصیته . اوچا ویلی دی
چه پاك شهٔ د پاره د مانځه وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ او یاده ئے کړه نامه د رب خپل په تکبیر
اول سره فَصَلّٰى ⑮ پس مونځ ئے وکهٔ . فائده په دے کښی اشارت دے وجوب
د تکبیر اول ته او بل دے وته چه تکبیر اول روا دے په هر نوم سرهٔ له نامو د خدائے
اوچا ویلی دی خلاص شهٔ هغه خوك چه صدقه د فطرئے ادا کړے وی او یاده کړے ئے

عه یعنی اور ستاسے دا چه اور د د نیا دے یو جزء د دے له اویاؤ جزو نو د جهنم څخه ۱۲ ز

وی نامه د خدائ په لاره د عید کښې او ادا کړے وی موخ د اختر بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا ﴿۱۶﴾ بلکه غوره کوی تاسے اے بد بختانو ژوند د دنیا په آخرت باندے وَالْاٰخِرَةُ خَیْرٌ او حال دا دے چه اخرت بهتر دے له دنیا نه وَّ اَبْقٰی ﴿۱۷﴾ او همیشه دے اِنَّ هٰذَا په تحقیق سره دا خبره چه ده لَفِی الصُّحُفِ الْاُوْلٰی ﴿۱۸﴾ خامخا په صحیفو پخوانو کښې ده

ف په هذا کښې اشارت دے قد افلح وته ترابقی پورے او دلیل دے په جواز د لوستلو د قران په ژبه د فارسی سره په مانځه. ځکه ذکر کړے وه خدائ دغه خبره په رومبنو صحیفو کښې سره د دے چه نه وه دغه خبره چه هغوئ کښې په دے نظم او په دے لغت سره صُحُفِ اِبْرٰهِیْمَ په صحیفو د ابراهیم علیه السلام کښې شل وے وَ مُوْسٰی ﴿۱۹﴾ او په صحیفو د موسیٰ علیه السلام کښې چه تختئ وے او په حدیث کښې دی چه مَنْ قرء سورة الاعلیٰ اعطاه الله عشر حسناتٍ بعدد کل حرفٍ انزل الله تعالیٰ علیٰ ابراهیم وموسیٰ علیهما الصلوة والسلام

ع ۱۹ ۱۲

سورة الغاشية ۸۸ مكية ۶۸	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰیاتها ۲۶ رکوعها ۱

هَلْ اَتٰىكَ په تحقیق سره راغلے ده تاته اے پیغمبره حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ ﴿۱﴾ خبره پټه چه قیامت دے **فائده**: مسمیٰ ئے که قیامت په غاشیه سره ځکه چه هغه پټوی خلقو لره په سختیو خپلو کښې وُجُوْهٌ مخونه د کافرانو به یَّوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښې خَاشِعَةٌ ﴿۲﴾ ویریدونکی او خواروی **فائده**: خاص ئے که مخ ځکه چه هر کله په سړی غم او خوشحالی دیر شی ظاهر یږی په مخ کښې عَامِلَةٌ عمل کونکی به وی نَّاصِبَةٌ ﴿۳﴾ رنځ راخکونکی به وی په دغه عمل کښې یعنی دوزخیان به عمل کوی چه دوئ ته به تر ے رنځ رسیږی تَصْلٰی داخل به شی دوی نَارًا حَامِیَةً ﴿۴﴾ په هغه اور کښې چه زیات گرم دے تُسْقٰی

عه یعنی په عربی سره بلکه په سریانی او نورو ژبو سره ۱۲ عه هغه چا چه ولوست سورة اعلیٰ ورله کړی خدائ تعالیٰ دوه لس نیکئ په شمار د هر حرف سره چه نازل کړی وو خدائ تعالیٰ په ابراهیم او موسیٰ علیهما الصلوٰة والسلام

خړو بولے به شي یعني په وخت د غلیے دتنده کښې به خړو بولے شي دوئ لره مِنْ عَيْنٍ
اٰنِيَةٍ ⑤ له هغه چینے نه چه اوبه ئے نهایت ګرمے دي فائده ضمیر په دغه صفاتو او افعالو
کښې راجع دے وجوه ته او مراد ترے خاوندان د وجوه دي په دلیل د دے قول سره لَيْسَ
لَهُمْ طَعَامٌ نه به وي دوزخیانو لره خوراک إِلَّا مِنْ ضَرِيعٍ ⑥ مګر له ضریع او دغه
ګیاه ده خارناکه چه لونده وي عرب ورته شبرق وائي او اوښان ئے خوري او چه وُچه
شي ورته ضریع وائي فائده په دے کښې اشارت دے دے ته چه عذاب به په ورځ
د قیامت قسم قسم وي نو بعض به زقوم خوري او بعضے به غسلین خوري او بعضے به ضریع
خوري یعني اشارت دے دے وته چه تناقض نشته په مینځ د دے آیت کښې او په مینځ
د دے قول کښې چه ولا طعام الا من غسلین روایت دے چه هر کله ابوجهلن
دغه آیت واوریدهٔ وویل دهٔ. څهٔ کیږي ضریع به مونږه څربوي لکه چه څربوي اوښان
څمونږه نو دا آیت راغے لَا يُسْمِنُ نهٔ به څربوي ضریع د دوزخ هیڅ لره وَلَا يُغْنِي مِنْ
جُوعٍ ⑦ او نهٔ لرے کوي لوږے لره. یعني دواړه نفع د عذاب کښې نشته چه یو موړ ولے
دے او بل څربولے دے پس وصف ئے وکړه د مخونو د مؤمنانو نو وویلے وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ
مخونه د مومنانو به په دغه ورځ کښې نَاعِمَةٌ ⑧ تازه تروې لِسَعْيِهَا عمل خپل لره به چه
کړے ئے وي په دنیا کښې رَاضِيَةٌ ⑨ خوړه کونکي وي په آخرت کښې چه ثواب ئے
ووینې فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ⑩ په جنت لوئې اُوچت کښې به وي لَا تَسْمَعُ فِيهَا نهٔ به اوري
خاوندان د دغه مخونو. او یا تهٔ اے مخاطبه په دغه جنت عالیه کښې لَاغِيَةً ⑪ خبرے
بے هوده ځکه چه کلام د بهشتیانو به په حکمت او ثنا د خدائ سره وي په نعمتونو
همیشه وُ باندے فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ⑫ وي به په دغه جنت کښې چینے جاري فِيهَا
سُرُرٌ وي به په دغه جنت کښې تختونه مَرْفُوعَةٌ ⑬ پورته کړے شوي د پاره د دے چه
وینې پرے مؤمن ملک او نعمتونه د خدائ روایت دے چه دغه تختونه به پورته
وي په هوا کښې او هر کله چه مؤمن پرے کیني را کوزیږي به او چه پرے کیني

بيا به هواته لاړشي وَاَكْوَابٌ او وى به په دغه جنت كښ كوزے بےلاسو مَّوْضُوْعَةٌ ﴿١٤﴾
ايخودلے شوېږم د بهشتيانو كښى دپاره د خوشحالئ ددوئ وَنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ﴿١٥﴾ او وى
به په دغه جنت كښى بالختونه يوتربله ايخودلے شوى هرچرته چه كينى په يوباندے به كينى
اوبل ته به تكيه لگوى وَزَرَابِيُّ او وى به په جنت فرشونه مَبْثُوْثَةٌ ﴿١٦﴾ غوړيدلى روايت
دے چه هركله خدائ تعالىٰ په صفت د جنت كښى دغه ايتونه نازل كړهٔ او د بيل
بيل بيان پيغمبر عليه السلام وكړۀ. دا سے چه پورته به وى تختونه سل فرسخه او كوزے
ايخودلے شوے چه نهٔ دا خليږى په حساب د خلقو كښى څكه چه ډيرے به وى
او هريو بالخت او فرش به دومره دومره اوږد وى نومنكر شول كافران او وے ويلے يوتربله
څرنگه به وخيژى سړے په دغه تخت باندے او څرنگه به ډيرے شى كوزے چه شمار
به ئے نشى كولے او څرنگه به اوږده شى بالختونه او فرشونه سره ددے چه نه دى ليدلى
مونږه په دنيا كښى نو وويلے خدائ تعالىٰ اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ ايا پس نهٔ گورى دوئ اِلَى الْاِبِلِ
اوښ وته چه په قدرت څمونږه كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ څنگه پيدا شوى دى يعنى سره له دغه
لويئ مسخر كيږى وړوكى هلك لره چه پرے سوريږى او ترے كوزيږى نو همدا رنگے به
ټيټيږى تختونه مؤمنانو لره لكه چه ټيټيږى اوښ وَاِلَى السَّمَآءِ او ايا نهٔ گورے اسمان
ته چه په حكمت څمونږه سره كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ څنگه پورته كړے شو يدے بغير له ستنو
او ستورى پكښى ډير شوى دى چه نهٔ دا خليږى په حساب د خلقو كښى پس هم دا سے
به ډيرے وى كوزے په جنت كښى وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ او ايا نهٔ گورى دوئ
غرونو ته چه په قدرت څمونږه سره څرنگه ودرولے شوى دى په زمكه باندے محكم پس
ولاړ دى او نهٔ خوځيږى سره د لوئ والى ئے نو پس هم دا سے به ولاړ وى بالختونه او نهٔ
به خوزيږى وَاِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ او نهٔ گورى زمكے وته چه څنگه غوړولے شويدے
سره د هسے لوئ والى تولے يو فرش دۀ نو همدا سے به لوئ فرشونه په جنت كښى وى
فَذَكِّرْ فَتْ پس پند وايه دوئ ته په دليلونو د قدرت سره دپاره ددے چه فكر وكړى دوئ

په دغه پند کښې اِنَّمَآ اَنۡتَ مُذَكِّرٌ ﴿۲۱﴾ په تحقيق سره ته پندورکونکے ئے هرچا وته لَسۡتَ عَلَيۡهِمۡ بِمُصَيۡطِرٍ ﴿۲۲﴾ نهٔ ئے تهٔ په دوئ باندے مسلط چه زور پرے کوے په ايمان سره کهٔ دغه څيز ونو ته نظر او فکر نه کوی حُکه چه تا باندے رسول دی.ف: دغه ايت منسوخ شويدے په ايت دقتال سره اِلَّا مَنۡ تَوَلّٰى ليکن هغه چا چه مخ وګرځولو له ايمان پس له پند وَكَفَرَ ﴿۲۳﴾ او کافرشهٔ فَيُعَذِّبُهُ اللّٰهُ پس په عذاب به کړی خدائ تعالٰى هغه لره الۡعَذَابَ الۡاَكۡبَرَ ﴿۲۴﴾ په عذاب لوئ سره چه عذاب دجهنم دے نو استثناء منقطع ده او چا ويلی دی. دغه استثناء ده له فذکّر څخه . نو معنٰى ئے داشوه چه نصيحت کوه په دغه د ليلونو سره هرچا وته مگر نصيحت مهٔ کوه هغه چا وته. چه قطع شی له ايمانه ئے طمع ستا او مخ وګرځوی له ايمانه پس مستحق شی عذاب لوئ لره اِنَّ اِلَيۡنَآ اِيَابَهُمۡ ﴿۲۵﴾ په تحقيق سره مونږ ته ده رجوع ددوئ پس له مرګه ثُمَّ اِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُمۡ ﴿۲۶﴾ پس په تحقيق سره په مونږه دے حساب ددوی په قيامت کښې. نو حساب به ورسره وکړم او جزا به ورکړم موافق د اعمالو ئے تنبيه لفظ دعلى دپاره دتاکيد دوعدے دے اونهٔ دے دپاره دوجوب حُکه چه نهٔ واجبيږی په خدائ هيڅ څيز. او په حديث کښې دی چه مَنۡ قرء عه سورة الغاشيه حاسبه الله تعالى حسابًا يسيرًا ۱۲

سورة الفجر ۸۹ مکية — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ — اٰيَاتُهَا ۳۰ رکوعها ۱

وَالۡفَجۡرِ ﴿۱﴾ سوګند دے په صبا دهرے ورځے باندے چه وخت دمناجات ددوستانو دے او يا سوګند دے په مانځهٔ دصبا باندے چه آرام دځان دعاشقانو دے وَلَيَالٍ عَشۡرٍ ﴿۲﴾ او سوګند دے په لسو شپو د ذی الحجه باندے چه عرفه پکښې ده او يا په لسو اولو باندے له محرّمه چه عاشوره په هغوئ کښې ده او يا په لسو اخرو باندے له رمضانه چه شپه دقدر پکښې ده او يا په لسو شپو د شعبان باندے چه شپه دبرات پکښې ده وَالشَّفۡعِ او سوګند دے

عه هغه چا چه ولوست سورة غاشيه حساب به وکړی ورسره الله تعالى حساب اسان ۱۲

په جفت د ټولو خیزونو باندے وَالْوَتْرِ ۝۳ او په طاق د ټولو ئے او چاویلی دی چه په جفت د دغه شپو باندے او په طاق ئے. او چاویلی دی په جفت د ماښځه او په طاق ئے. او چاویلی دی مراد له شفع مخلوق دے لکه راغلی دی په دے قول کښې. وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ او مراد له وتره خالق دے لکه راغلی دی په دے قول کښې قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ. وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ۝۴ او سوګند دے په دے شپه باندے په هغه وخت کښې چه تیره شی. او چاویلی دی مراد له لیل نه لیلة القدر دے هَلْ فِيْ ذٰلِكَ آیا شته په دے سوګندونو کښې قَسَمٌ سوګند لِّذِيْ حِجْرٍ ۝۵ خداوند د عقل لره د پاره د دے چه اعتبار پرے وکړی او جواب د قسم محذوف دے چه لَيُعَذَّبُنَّ دے پس ذکر کړه خدائی عذاب د امتونو پخوانو چه دروغ ئے ویلے پیغمبرانو خپلو لره. نو وے ویلے. اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ آیا نه ګورے اے محمده چه څه کړی وو خدائی ستا بِعَادٍ ۝۶ په قوم د عاد باندے اِرَمَ په ارم باندے چه څوئی د عاد اول وو او دا ته ئے عاد څوئی د ارم ویلو او ارم ئے نامه د نیکه وه ځکه چه عاد څوئی د عوص وو او عوص څوئی د ارم وو او دے څوئی د سام وو او دے څوئی د نوح وو او چا ویلی دی ارم نوم د وطن دے. نو مراد ترے اهل د ارم شو ذَاتِ الْعِمَادِ ۝۷ هسے قوم چه خاوندان د قامتونو لویو وو د اسے چه دوی قامت ذ سړی څلور سوه ګزه الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ هغه قبیله چه نه وو پیدا شوی مِثْلُهَا په مثل د دوی په اوږد والی کښې فِي الْبِلَادِ ۝۸ په ښارونو کښې وَثَمُوْدَ او نه ګورے چه څه کړی وو خدائی تعالیٰ ستا له ثمودیانو سره الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ هغه ثمودیان چه غوس کړی ئے وو غرونه د پاره د استوږنے بِالْوَادِ ۝۹ په کلیو د واد کښې وَفِرْعَوْنَ او څه کړی وو خدائی تعالیٰ ستا فرعون سره چه ذِي الْاَوْتَادِ ۝۱۰ خاوند د لښکرو ډیرو وو او چاویلی دی اوتاد جمع د وتد ده په معنیٰ د میخ سره نو عذابول به ئے خلق په دغه میخونو سره الَّذِيْنَ هغه کسان له دغه درے واړو نه چه طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ۝۱۱ سرکشی ئے کوله په ښارونو کښې فَاَكْثَرُوْا پس ډیر کړه دوی فِيْهَا الْفَسَادَ ۝۱۲ په دغه ښارونو

ع یعنی له هره څیزه پیدا کړی دی موږ جفت ۱۲ عه وو ایه خدائی پود ے ۱۲ سه یعنی خامخا به عذاب کړے شی منکران په ورځ د قیامت ۱۲

کښې فساد په کفر او قتل او ظلم سره فَصَبَّ عَلَيْهِمْ پس توئ کړ په دوئ باندے رَبُّكَ
خدائ ستا سَوْطَ عَذَابٍ ⑬ يو قسم له عذاب څخه هر کله چه په نزد د عربو کـزار د
تازیانے سخت تر عذاب وو پس خدائ تعالیٰ په قانون د دوئ سره مسے کړ عذاب خپل
په شوط سره اِنَّ رَبَّكَ په تحقیق سره رب ستا چه دے لَبِالْمِرْصَادِ ⑭ خداوند د گزرګاه دے
یعنی خدائ عالم دے په هغه څیز باندے چه صادریږی له خلقو نه نوجزا به ورکړی
دوئ لره فَاَمَّا الْاِنْسَانُ پس هر چه دے سړے چه اُبیُّ بن خلف دے اِذَا مَا ابْتَلٰىهُ
په هغه وخت کښې وازمائی دے رَبُّهٗ رب ئے په دولتمندئ سره فَاَكْرَمَهٗ پس عزت
ورکړ دهٔ لره په دولت او مرتبے سره وَنَعَّمَهٗ ۵ او نعمت پرے فراخ کړی فیقول پس وائی
دے رَبِّيْٓ اَكْرَمَنِ ⑮ رب څما ما لره عزت او دولت راکړو وَاَمَّآ اِذَا مَا ابْتَلٰىهُ او په
هغه وخت کښې چه وازمائی دے په درویشئ او سختئ سره فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ ۵ پس
تنګه کړی پرے روزی ئے فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ اَهَانَنِ ⑯ پس وائی خدائ څما خوار کړمه زهٔ
حاصل دادے چه واجبیږی په انسان باندے چه خدائ ئے په مرصاد دے دا سے
چه کوشش د کوی د اخرت وته او اُمید د نهٔ کوی دنیا وته او دے ئے په عکس کوی یعنی په
هغه وخت کښې چه وازمائی خدائ دهٔ لره په نعمت سره دپاره ددے چه شکر پرے
وکړی نو وائی ربی اکرمن ط رب څما لوئ کړ ما لره په سبب د ورکولو د مال سره نو پس وینی
اکرام په ډیروالی د مال سره په دنیا کښې او په هغه وخت کښې چه وازمائی دهٔ لره په درویشئ
سره فقدر علیه رزقهٗ. پس تنګه کړی پرے روزی دهغهٔ دپاره ددے چه پرے صبر وکړی
نو وائی. ربی اهانن. رب څما سپک کړمه زهٔ او خوار ئے کړمه یعنی وینی خوار والے په لږ
والی د مال سره. پس رد کړ خدائ په انسان باندے ګمان ئے په دے قول سره چه كَلَّا
نهٔ دے اکرام او اهانت په ډیروالی د مال او لږ والی کښې. بلکه اکرام د خدائ په توفیق د
عبادت کښې دے او اهانت ئے په معصیت کښې دے بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ⑰ بلکه
فعل ستاسے ډیر بد دے له قوله څکه چه خدائ تعالیٰ اکرام کړے دے په تاسے باندے په

غنا سره او تاسې اکرام نهٔ کوئ یتیم لره وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ او نهٔ تیزوئ تاسې اهل خپل لره عَلٰی
طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿۱۸﴾ په ورکولو د طعام سره مسکینانو لره وَتَأْكُلُوْنَ التُّرَاثَ او خورئ تاسې
مال د میراث اَكْلًا لَّمًّا ﴿۱۹﴾ په خوراک سخت او ډیر سره **فائده:** لمجمع کولو ته وائي په
مینځ د حلالو او د حرامو کښې او وړو دوئ چه میراث به ئې نه ورکولو ښځو او هلکانو ته او
خوړے به ئې حصے د هغوئ وَتُحِبُّوْنَ الْمَالَ او دوست لرئ تاسې مال لره حُبًّا جَمًّا ﴿۲۰﴾ په
دوستئ ډیرے سره له وجه د حرصه پس نهٔ ئې نفقه کوئ په لاره د خدائ کښې كَلَّآ اِذَا دُكَّتِ
الْاَرْضُ حقه ده په هغه وخت کښې چه ماته کړے شي زمکه دَكًّا دَكًّا ﴿۲۱﴾ په ماتیدو سره
پس له ماتیدو نه **فائده:**- مکرر به شي پرے ماتولے دپاره د دے چه کرد شي وَجَآءَ
رَبُّكَ او راوبه شي علامے دقدرت د رب ستا یعنی بنکاره به شي وَالْمَلَكُ او راوبه شي ملائکے
په میدان د محشر باندے صَفًّا صَفًّا ﴿۲۲﴾ صفونه صفونه موافق له مرتبو سره ئې
وَجِايْٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۬ۙ او راوبه وستے شي په دغه ورځ کښې دوزخ لره او په
حدیث کښې دی چه. یؤتیٰ یومئذٍ بجهنم لها سبعون الف زمام مع کل زمام سبعون الف
ملك یجرونها. او جهنم به له ډیره قهره جوش وهي او میدان د محشر لره به ئې راوړی
او په کینړ طرف د عرش به ئې کیږدی او په دغه حال کښې به هیڅ ملائکه مقربه او
پیغمبر پاتے نشي. مګر له هیبته به نسکور پریوځي او داسې به وائي رب نفسي رب نفسي
او پیغمبر حضور ﷺ به وائي یارب امتي امتي. نو جهنم به ووائي اے محمد صلے الله علیه وسلم
تا لره به ما باندے او مالره په تا باندے څهٔ کار دے خدائ تعالیٰ په تا باندے حرام
کړے یم يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښې به يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ یادکړی سړے ګناهونه خپل
او چا ویلی دی خبر به شي په قیامت کښې په اعمالو خپلو او یا به ونیسي وَاَنّٰى او له کومه
به وی لَهُ الذِّكْرٰى ﴿۲۳﴾ دهٔ لره فائده له یادولو او یا له پند نیولو نه ځکه چه ځائ د
پند نیولو دنیا ده نه آخرت. نو پس هر کله چه سړه پوهه شي چه نیول فائده نه کوی پس

عه راوبه وستے جهنم په دغه ورځ چه وی به دهٔ لره او یا زرهٔ واګے سره د هرے واګے به او یا زره ملائکے
وی چه راکاږی به ئې ۱۲ منه رحمه ربه - کتبه: محمد صادق زهیر" چیرهارے داګوال عفی عنه

له افسوس به يَقُوْلُ وائی دے يٰلَيْتَنِیْ اے کاشکے ما۔قَدَّمْتُ مخکښې لیږلے وے عمل دخیر
لِحَيَاتِیْ ﴿۲۴﴾ د پاره ددے ژوند چه ژوند داٰخرت دے فَيَوْمَئِذٍ پس په دغه ورځ به
لَّا يُعَذِّبُ نهٔ عذابوی هیچا لره عَذَابَهٗٓ اَحَدٌ ﴿۲۵﴾ په مثل دعذاب دخدائی هیڅوک لهٔ سرهٔ
نه یعنی عذاب دخلقو نهٔ وی لکه عذابول دخدائی وَّ لَا يُوْثِقُ اونهٔ بندوی په زنځیرونو
سره هیچا لره وَثَاقَهٗٓ په مثل دبندولو دخدائی اَحَدٌ ﴿۲۶﴾ هیڅوک یعنی هیڅوک به نهٔ توانیږی
په دغه ورځے په عذابولو اوبندولو دچا سره ځکه چه حکم په دغه ورځ خدائی لره
دے اووائی به خدائی په نزد دمرګ اویا په نزد د بوږ تهٔ کید لوله قبرونو نه اویا په
نزد د داخلیدلو جنت ته د پاره داکرام دمؤمن يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾ اے نفسه
ارام نیونکیه په ذکرځما سره اوشکرکونکیه په نعمت باندے اوصبرکونکیه په سختئ باندے
ارْجِعِیْٓ بیرته وګرځه له دنیا نهٔ اِلٰى رَبِّكِ وعدے درب خپل ته اویا ثواب ته ئے رَاضِيَةً
په هسے حال کښې چه راضی ئے تهٔ په هغه څیزچه درکړیدے تا ته خدائی مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ او
خدائی راضی دے له تا نه۔اوهرکله چه ورځ دقیامت شی وبه ویلے شی فَادْخُلِیْ فِیْ
ع ۱ ۱۴ عِبٰدِیْ ﴿۲۹﴾ داخل شه په ټولی دنیکوبندګانوځما کښې وَادْخُلِیْ جَنَّتِیْ ﴿۳۰﴾ اوداخل
شه په جنت ځما کښې سره د مقربانو۔په حدیث کښې دی۔مَنْ[عه] قرء سورة الفجر فی اللیالی
العشرة غفرله ومن قرء ها فی سائر الایّام کانت له نورًا یوم القیٰمة۔

سورة البلد ۹۰ مکیة | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | ایاتها ۲۰ | رکوعها ۱

لَآ اُقْسِمُ خامخا سوګند خورم بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۱﴾ په دے ښار باندے چه مکه ده وَاَنْتَ
حِلٌّۢ اوحال دا دے چه تهٔ پیدا شوے ئے بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۲﴾ په دے ښار کښې چه ځائی
دامن دخلقو دے وَوَالِدٍ اوسوګند دے په پلار چه ادم علیه الصلوٰة والسلام اویا
ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام دے وَّمَا وَلَدَ ﴿۳﴾ او سوګند دے په هغه چاچه پیدا شوی

عه هغه چاچه ولوست سورة فجر په شپو لسو کښې چه لس شپے دذی الحجے یا دمحرم دی بخښنه به وکړے شی دهٔ
لره اوهغه چاچه ولوست په ټولو ورځو کښې دی به دغه سورت دهٔ لره نور په ورځ دقیامت باندے ۱۲

دی چه ذریة د آدم علیه السلام دے او یا محمد علیه السلام دے او چا ویلی دی والد محمد علیه الصلوٰة والسلام دے او ما ولد ئے امت دے نو خدائی تعالیٰ سوگند وکړ په رسول کریم علیه السلام او په امت دده بانده او جواب د قسم داده چه لَقَدۡ خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ فِیۡ کَبَدٍ ﴿۴﴾ په تحقیق سره پیدا کړی دی مونږ سړی په رنځ او په سختیٔ کښی چه مصائب د دنیا او شدائد د آخرت وی ته رسیږی روایت دے چه ابو الاسدین ډیر قوی وو دا سے چه څرمن به ئے د خپو لاندے کړه او لسو پهلوانانو به را خکله نو ټوټے ټوټے به شوه او د هٔ خپے نه به ئے نهٔ را وتله او دعوی به ئے کوله چه هیچا لره په ما باندے لاس نهٔ رسی او همیشه به ئے پیغمبر علیه السلام ته حیلے جوړ ولے نو خدائی تعالیٰ وفرمایل اَیَحۡسَبُ ایا گمان کوی ابو الاسدین داسے چه اَنۡ لَّنۡ یَّقۡدِرَ قادر به نهٔ شی عَلَیۡهِ اَحَدٌ ﴿۵﴾ په دهٔ باندے هیڅوک چه انتقام د پیغمبر ترے واخلی یَقُوۡلُ اَهۡلَکۡتُ وائی به په وخت د انتقام کښی. هلاک کړے م وو په عداوت د پیغمبر علیه السلام کښی مَالًا لُّبَدًا ﴿۶﴾ مال ډیر څکه چه خلقو ته م رشوت ورکولو د پاره د ضرر رسولو پیغمبر علیه السلام ته اَیَحۡسَبُ ایا گمان کوی دے داسے چه اَنۡ لَّمۡ یَرَهٗۤ اَحَدٌ ﴿۷﴾ نهٔ وینی دهٔ لره هیڅوک په وخت د نفقے ورکولو کښی په ریا او فخر سره یعنی خدائی ئے وینی او جزا به ورکړی پس یاد کړل خدائی تعالیٰ نعمتونه خپل په دهٔ باندے نو وے ویلے اَلَمۡ نَجۡعَلۡ لَّهٗ عَیۡنَیۡنِ ﴿۸﴾ ایا نهٔ م دی ورکړے دهٔ ته دوه سترگے چه پرے نظر کوی بلکه ورکړی م دی وَلِسَانًا او ژبه چه پرے خبرے کوی وَّشَفَتَیۡنِ ﴿۹﴾ او دوه شونډے چه خوله ئے پټوی او په خبرو او خوراك او پوکی باندے وی سره مدد کوی وَهَدَیۡنٰهُ النَّجۡدَیۡنِ ﴿۱۰﴾ او خودلی م دی دهٔ ته دوه لارے یوه د خیر چه پرے جنت ورته ځی او دوهمه د شر چه پرے دوزخ ورته ځی، په انزال د کتابونو او په ارسال د رسولانو سره او چا ویلی دی چه نجدین تیونو ته وائی نو معنی ئے دا شو چه ښودلی م ده دهٔ ته لاره د دوو تیونو چه پس له پیدا کیدلو ترے شودهٔ څښی فَلَا اقۡتَحَمَ الۡعَقَبَةَ ﴿۱۱﴾ پس تیر نهٔ شهٔ له حقه څخه او سختی ئے ونهٔ کړه

په مخالفت د نفس او د هوا کښې حاصل دا دے چه ولے مال خپل ئے په دشمنئ د پیغمبر
علیه السلام کښې په ریا او فخر سره ورکړ او تیر نشهٔ له عقبې نه وَمَآ اَدۡرٰىكَ اوڅهٔ خبر خبر
کهٔ تا له چه مَا الۡعَقَبَةُ ﴿۱۲﴾ څهٔ دی عقبه فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿۱۳﴾ عقبه خلاصول ذکر د ن د مریی دی
له مولٰی څخه یعنی منت کول دی مکاتب سره اَوۡ اِطۡعٰمٌ یا عقبه طعام ورکول دی فِیۡ
یَوۡمٍ ذِیۡ مَسۡغَبَةٍ ﴿۱۴﴾ په هغه ورځ کښې چه خاوند د لوږے وی یعنی په وخت د قحط
کښې ورکوی یَّتِیۡمًا ذَا مَقۡرَبَةٍ ﴿۱۵﴾ یتیم لره چه خاوند د قرابت وی اَوۡ مِسۡكِیۡنًا ذَا مَتۡرَبَةٍ ﴿۱۶﴾
او یا مسکین لره چه صاحب د خاورو وی یعنی چه ارخ ئے له فقره په خاورو ایخے وی
ثُمَّ كَانَ پس وی دغه از اد کونکے د رقبے او ورکونکے د طعام مِنَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا له مؤمنانو
نه حُکه چه قبلید ل د ټولو خیراتونو په ایمان سره دی وَ تَوَاصَوۡا او وصیت ئے کړے
وی یو تر بله بِالصَّبۡرِ په صبر سره په طاعت او یا په سختیو باندے او یا صبر ئے کړے
وی گناه نه وَ تَوَاصَوۡا او وصیت ئے کړے وی بِالۡمَرۡحَمَةِ ﴿۱۷﴾ په بخښنه او پـه
مهربانئ سره په بندګانو د خدائی باندے اُولٰٓئِكَ دغه کسان مومنان صابران مهربانان
اَصۡحٰبُ الۡمَیۡمَنَةِ ﴿۱۸﴾ خاوندان د ښی لاس دی یعنی له ښی طرف د عرش به جنت و ته ځی ۔
وَالَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰیٰتِنَا او هغه کسان چه کافر شوی دی په ایتونو د قرآن زمونږ ۔
هُمۡ اَصۡحٰبُ الۡمَشۡئَمَةِ ﴿۱۹﴾ دوی خاوندان د کینړ طرف د عرش دی یعنی له دغه طرف
د عرش به دوزخ و ته ځی عَلَیۡهِمۡ نَارٌ وی به په دوی باندے په دوزخ کښې اور ۔
مُّؤۡصَدَةٌ ﴿۲۰﴾ بند او دا کنایت دے له نهایت ډیرے سختی سره او په حدیث کښې دی
چه من قرء سورة البلد اعطاه الله الامان من غضبه یوم القیمة ؏

ایاتها ۱۵	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ	سورة الشمس ۹۱ مکیة ۲۶	رکوعها ۱

وَالشَّمۡسِ او سوګند دے په نمر باندے وَضُحٰهَا ﴿۱﴾ او سوګند دے په رڼایئ چـه

ع هغه چا چه ولوست سورة البلد ورکړی خدائ تعالی ده لره امان له غضبه خپله په ورځ د قیامت ۱۲

ورسيبړی څا بسته وته وَالْقَمَرِ اوسوګند دے په سپوږمئ باندے اِذَا تَلٰىهَا ﴿۲﴾ په هغه وخت
کښې چه تابع شي ارتفاع ئے له غروب له نوره سره په ليلة البدر کښې وَالنَّهَارِ اوسوګند
دے په ورځ باندے اِذَا جَلّٰىهَا ﴿۳﴾ په هغه وخت کښې چه روښانه کړی زمکے لره اوچا
ويلی دی په ورځ باندے په هغه وخت کښې چه روښانه کړی نمر لره وَالَّيْلِ اوسوګند
دے په شپه باندے اِذَا يَغْشٰىهَا ﴿۴﴾ په هغه وخت کښې چه پټه کړی رڼائی د نمر لره۔
وَالسَّمَآءِ اوسوګند دے په اسمان باندے وَمَا بَنٰىهَا ﴿۵﴾ اوسوګند دے په هغه ذات چه
جوړکړے ئے دے اسمان وَالْاَرْضِ اوسوګند دے په زمکه باندے وَمَا طَحٰىهَا ﴿۶﴾ او په هغه
ذات باندے چه غوړولے ده زمکه وَنَفْسٍ اوسوګند دے په نفس د آدم باندے۔ وَمَا
سَوّٰىهَا ﴿۷﴾ او په هغه ذات باندے چه برابر کړي ئے دی اندامونه د هغهٔ فَاَلْهَمَهَا پس
الهام ئے وکه هغه نفس وته يعنی ښودلی ئے دی هغهٔ وته فُجُوْرَهَا دروغ اوناپاکی او بے
پاکی د هغهٔ وَتَقْوٰىهَا ﴿۸﴾ اوپرهيزګاری د هغهٔ اوجواب د قسم دا دے قَدْ اَفْلَحَ په تحقيق
سره خلاص شهٔ مَنْ زَكّٰىهَا ﴿۹﴾ هغه څوک چه پاک ئے کهٔ نفس خپل له خيری د نجاست
وَقَدْ خَابَ او په تحقيق سره بے حصے پاتے شهٔ مَنْ دَسّٰىهَا ﴿۱۰﴾ هغه څوک چه ډوب ئے کهٔ
نفس خپل په فسق اوفجور اومعصيت اوضلالت کښې كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ تکذيب وکه قبيلے د
ثموديانو بِطَغْوٰىهَا ﴿۱۱﴾ په سبب د سرکشئ خپلے سره د صالح عليه السلام اِذِ انْۢبَعَثَ په هغه
وخت کښې چه پورته شهٔ اَشْقٰىهَا ﴿۱۲﴾ بدبخت تر د ثموديانو چه قذار بن سالف وو د
هلاکولو د ناقے فَقَالَ لَهُمْ پس وويلے دوئ ته رَسُوْلُ اللّٰهِ رسول د خدائ يعنی صالح پيغمبر
نَاقَةَ اللّٰهِ لاس پورته کړئ له ناقے د خدائ وَسُقْيٰهَا ﴿۱۳﴾ اولاس پورته کړئ د حصے د اوبو
نه ئے ځکه چه عذاب نازل نشي په تاسے باندے فَكَذَّبُوْهُ پس تکذيب ئے وکهٔ
صالح عليه السلام لره په نزول د عذاب کښې فَعَقَرُوْهَا پس ګوډه کړه دوئ او بيا
فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ پس هلاک وليږلو په دوئ باندے رَبُّهُمْ رب د دوئ په يو ځلے
بِذَنْۢبِهِمْ په سبب د ګناه د دوئ سره چه تکذيب د رسول اوعقر د ناقے وو فَسَوّٰىهَا ﴿۱۴﴾

پس برابرے کۀ هغه هلاکت په ټولو چه صغار او کبار ئے ټول هلاك کړه وَلَا یَخَافُ او
نهٔ ویرېږی خدائ عُقْبٰهَا ⑮ له عاقبت دهلاك د دوئ ځکه چه هیڅ لره په ده باندے
قدرت نشته او په حدیث کښی دی. چه من قرء سورة الشمس فکانما تصدق بکل
شیٔ طلعت علیه الشمس والقمر ؎ ؎ ؎

سورة اللیل ۹۲ مکیة ۹ — بسم الله الرحمٰن الرحیم — ایاتها ۲۱ رکوعها ۱

وَالَّیْلِ اِذَا یَغْشٰی ① سوګند دے په شپه باندے په هغه وخت کښی چه پټ کاندے عالم
په تیرے خپلے کښی وَالنَّهَارِ اوسوګند دے په ورځ باندے اِذَا تَجَلّٰی ② په هغه
وخت کښی چه روښانه شی اوتیاره دشپے لرے کړی وَمَا خَلَقَ اوسوګند دے په هغه ذات
باندے چه پیدا کړی ئے دی الذَّکَرَ وَالْاُنْثٰی ③ نراو ښځه له یو او بو نه اوجواب
دسوګند دا دے چه اِنَّ سَعْیَکُمْ لَشَتّٰی ④ په تحقیق سره عملونه ستاسے خامخا
مخالف دی پس بیان دعملونو مختلفو کوی فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰی پس هغه چاچه ورکۀ حق د
مال خپل په لاره دخدائ کښی وَاتَّقٰی ⑤ اوځان ئے وساته له شرکه اوکبائرونه
وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰی ⑥ اوتصدیق ئے وکۀ د ملت حسنیٰ چه اسلام دے اویا د مثوبة
حسنیٰ چه جنت دے اویا دکلمے حسنیٰ چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله دے فَسَنُیَسِّرُهٗ پس زر دے
چه اسان ولے به ورکړو هغه لره لِلْیُسْرٰی ⑦ طریقے نیکے وته چه هغه سبب داسانئ
او دراحت ده وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ اوهغه چاچه بخل ئے وکړو په مال خپل کښے۔
وَاسْتَغْنٰی ⑧ اومستغنی ئے کۀ ځان خپل له ثواب دخدائ اوچاویلی دی مستغنی شۀ
په لذاتو د دنیا سره له نعمتونو داخرت وَکَذَّبَ بِالْحُسْنٰی ⑨ اوتکذیب ئے وکۀ د
کلمے نیکے چه اسلام دے فَسَنُیَسِّرُهٗ پس اسان ولے به ورکړم هغه لره لِلْعُسْرٰی ⑩
طریقے بدو وته چه هغه سبب د سختئ اودخفکان دے اوچاویلی دی طریقه اوله د

ع هغه چاچه ولوستہ سورة الشمس پس ګویا که تصدیق وکړو دهٔ په هرهغه څیز سره چه وخوت
پرے نمر او سپوږمۍ یعنی ګویا کۀ ټوله ورځ تصدق یعنے خیرات ئے ورکۀ ۱۲

جنت دہ او طریقه دویمه د دوزخ ده وَمَا يُغْنِي عَنْهُ او دفع نهٔ کا دهٔ تخه عذاب مَالُهٗ مال
دهٔ چه په هغه سره ئے بخل کولو اِذَا تَرَدّٰی ⑪ په هغه وخت کښې چه ومری او
پریوځی په قبر کښې او یا په دوزخ کښې اِنَّ عَلَيْنَا په تحقیق سره په مونږ دے لَلْهُدٰی ⑫
بیان حق وته په دلیلونو سره په مقتضی د حکمت خپل مونږ ته وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰی ⑬ او
په تحقیق سره مالره اٰخرت او دنیا ده نو پس هرچا چه طلب وکړو د اٰخرت او د دُنیا له بل
چا نه نو په تحقیق سره خطا ئے کړه لاره فَاَنْذَرْتُكُمْ پس ویروم تاسے اے اهل مکه نَارًا
تَلَظّٰی ⑭ له هغه اور ه چه لمبے وهی لَا يَصْلٰهَآ نهٔ به داخلیږی دغه او ر کښې همیشه اِلَّا
الْاَشْقٰی ⑮ الَّذِیْ مګر هغه بد بخت چه کَذَّبَ تکذیب د پیغمبر ئے او کړو وَتَوَلّٰی ⑯ او
مخ ئے وګرځولو له ایمانه چه امیه او یا ابوجهل دے وَسَيُجَنَّبُهَا او زر دے چه لرے به کړے
شی د دغه اوره الْاَتْقٰی ⑰ الَّذِیْ هغه پرهیزګار چه يُؤْتِيْ مَالَهٗ ورکوی مال خپل
فقیرانو وته يَتَزَكّٰی ⑱ د پاره د دے چه غواړی په دغه مال سره پاکی او نیکی او نهٔ
غواړی ریا او شهرت چه ابوبکر صدیق رض دے روایت دے چه کافرانو وویلے چه بلال رض
حق لرلو په ذمه د ابوبکر صدیق رض باندے ځکه ئے بلال وپیرودهٔ او اٰزاد ئے کړو حق
تعالی رد کړه خبره د دوی او وے ویلے وَمَا لِاَحَدٍ او نهٔ وو هیچا لره عِنْدَهٗ په نزد د
ابی بکر صدیق رض مِنْ نِّعْمَةٍ له نعمته او منته چه تُجْزٰی ⑲ جزا ورکړے شی له هغه
تخه اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰی ⑳ مګر دغه کار ئے کړے دے د پاره د طلب د رضا
د خدائ خپل هسے خدائ چه لوئ دے وَلَسَوْفَ يَرْضٰی ㉑ او زر دے چه خوشحال
به شی او ویه سیږی ثواب موعود وته۔ او په حدیث کښې دی چه من قرء سورة
اللیل اعطاه الله تعالی حتی ترضی وعافاه من العسر ویسّر له
الیسرٰی۔

عه هغه چاچه ولوست سورة واللیل ورکوی خدائ تعالی دهٔ لره اجر تر هغه پورے چه خوشحاله شی او
خلاصے به ورکړی خدائ تعالی دهٔ لره له سختئ نه او اسانه به کړی دهٔ ته طریقه د جنت ۱۲

سورة الضحیٰ ۹۳ مکیة ۱۱ ـ بسم الله الرحمن الرحیم ـ آیاتها ۱۱ رکوعها ۱

روایت دے چه یوه ورځ حضرت جبریل علیه السلام په رسول کریم صلی الله علیه وسلم باندے رانغی او وحی ئے رانهٔ وړه پس کافرانو ژبه د طعن وسپړوده چه خدائ تعالیٰ محمد صلی الله علیه وسلم عبث پرېخودهٔ او دشمن خپل ئے ونیوٗ خدائ تعالیٰ رد کړه دغه خبره او وے ویلے. وَالضُّحٰى ﴿۱﴾ سوګند دے په ځاښت باندے چه نمر په دغه وخت کښ ښهٔ روښان وی. فائده. خاص ئے کهٔ وخت د ځاښت په قسم سره له دے جهته چه په دغه وخت کښ خدائ تعالیٰ خبرے کړے وے موسیٰ علیه السلام سره اوبل ساحران سجده کړے وه خدائ له په دغه ساعت کښ وَالَّيْلِ إِذَا سَجٰى ﴿۲﴾ او سوګند دے په شپه باندے په هغه وخت کښ چه په آرام شی اهل ئے. فائده. رومبے ئے کړه شپه په سورة ذکر شوی کښ په اعتبار داصل سره او رومبے ئے کړه ورځ په دے سورت کښ په اعتبار د شرافت سره. اوجواب دقسم داد دے چه مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ نهٔ ئے پرېخے ته رب ستا عبث. وَمَا قَلٰى ﴿۳﴾ او نهٔ ئے ته دشمن نیولے ئے وَلَلْاٰخِرَةُ او په تحقیق سره سرائے داخرت چه دے خَيْرٌ لَّكَ بهتر دے تا لره مِنَ الْاُوْلٰى ﴿۴﴾ له سرائے د دنیا ځنې ځکه چه سرائے د اخرت همیشه دے خالص له مکروها تو نه او سرائے د دنیا فانی دے مخلوط د مضار وسره فائده. هرکله چه بیان وکړ خدائ چه همیشه وصل کوی پیغمبر علیه السلام سره په وحی او کرامت سره. په دنیا کښ وعده ئے وکړه دهٔ لره د هغه څیز چه هغه لوئ او بزرګ دے. له دغه ځنې په اخره کښ چه مرتبه د شفاعت ده په حق د امت ګنهګار کښ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ او ډیر زر به در کړی تا ته رَبُّكَ رب ستا خوشحالیانے فَتَرْضٰى ﴿۵﴾ پس ته به راضی شے روایت دے چه هرکله دا آیت نازل شهٔ وویلے رسول کریم صلی الله علیه وسلم په دغه وخت کښ راضی به نشم هیڅکله چه وی یو له امت ځمانه په اور کښ روایت دے چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم وویل ما سوال وکړ چه اے خدایه سلیمان

علیه السلام لره دِ ملک لوئی ورکړے وو پس خدائی تعالیٰ ووئیلے اَلَمۡ یَجِدۡكَ یَتِیۡمًا ایا نهٔ ئے وے موندلے تهٔ هلک بے پلاره بلکه موندلے ئے وے فَاٰوٰی ﴿۶﴾ پس ځائی درکهٔ تالره په ځنګ دعم (تره) ستا کښې چه ابوطالب وو وَوَجَدَكَ او موندلے وے تهٔ خدائی ستا ضَآلًّا چه نهٔ پوهید لے په علامو دنبوت او احکامو دشریعت فَهَدٰی ﴿۷﴾ پس پوهه ئے کړے تهٔ په شریعت او قرآن سره اوچا ویلی دی موندلے وے تهٔ خدائی چه ورکه کړے دِ وه لاره پس لاره ئے وښوده تاته. فائده اونهٔ ده جائز چه معنیٰ د ضال ګمراه شی له حق ځکه چه پیغمبر علیه السلام پاک وو له اول نه تر نزول د وحی پورے وَوَجَدَكَ عَآئِلًا او موندلے ئے وے خوار فَاَغۡنٰی ﴿۸﴾ پس دولتمند ئے کړے تهٔ په مال د بی بی خدیجےؓ سره او یا په غنیمت سره له کافرانو نه فَاَمَّا الۡیَتِیۡمَ پس یتیم وته فَلَا تَقۡهَرۡ ﴿۹﴾ پس قهر مهٔ کوه تهٔ او یا غلبه مهٔ کوه په مال د یتیم باندے وَاَمَّا السَّآئِلَ او هر چه سائل دے فَلَا تَنۡهَرۡ ﴿۱۰﴾ پس مهٔ ئے محرومه کوه پس ورکړه ورلره لږ او یا ئے رد کړه په نیکئ سره اوچا ویلی دی مراد له سائل طالب العلم دے وَاَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ او په نعمت درب خپل باندے چه پېغمبری ده او یا وحی ده فَحَدِّثۡ ﴿۱۱﴾ پس خبرے کوه یعنی احکام دخدائی خلقو ته بیانوه ځکه چه رسول خلقو ته شکر د نعمت دے او په حدیث کښې دی چه مَن قرء سورة الضحیٰ جعله الله فیمن یرضی لمحمّد ان یشفع له وعشر حسنات یکتبها الله تعالیٰ له بعدد کل یتیم وسائل ؛ ع ۱۸

سُورَةُ الۡاِنۡشِرَاحِ ۹۴ مکیة ۱۲ — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ — ایاتها ۸ رکوعها ۱

اَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ﴿۱﴾ ایا نهٔ دے سپړه کړے مونږ دپاره ستا سینه ستا بلکه سپړه کړے ده چه ایخی مو دی پکښې علمونه او حکمتونه پس لرے مو کړه ترے تنګوالے دجهل وَوَضَعۡنَا عَنۡكَ او پورته مو کړه له تانه وِزۡرَكَ ﴿۲﴾ بار درووند ستا الَّذِیۡۤ اَنۡقَضَ هغه بار چه

عه هغه چاچه ولوست سورة الضحیٰ وبه ګرځوی خدائی تعالیٰ ده په دلے دهغو کسانو چه راضی کوی محمدؐ لره دا سے شفاعت به وکړی دهٔ لره او لس نیکئ خدائی تعالیٰ په شمار دهر یتیم او فقیر سره ۱۲

د رنه کړے ئے وه ظَهْرَكَ ۝۳ شاستا چه هغه دوام د کافرانو وو په کفر باندے وَرَفَعْنَا
لَكَ او بلند مو کهٔ د پاره د قدر ستا ذِكْرَكَ ۝۴ یاد ول ستا په پیغمبرئ سره او چا ویلی دے
پیوسته مو کهٔ نوم ستا له نامے خپلے سره په اذان او اقامت او کلمے د شهادت او خطبه او
تشهد کښ او په څو ځایونو کښ له قرآن لکه اطیعوا الله واطیعوا الرسول ومن یطع الله ورسوله
احق ان یرضوه - او وے گرځولو طاعت خپل په طاعت ددهٔ کښ ځکه چه ویلی ئے دی - من
یطع الرسول فقد اطاع الله او درود ئے ویلے دے په دهٔ باندے په ملائکو کښ لکه چه ویلی
ئے دی - ان الله وملئکته یصلون علی النبی . او امر ئے کړے دے خلقوته په درود ویلو سره
ځکه چه ویلی ئے دی ان الله وملئکته یصلون علی النبی ط یایها الذین اٰمنوا صلوا علیه
وسلموا تسلیما - فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ پس په تحقیق سره له سختی سره چه په تا باندے ده
له کافرانو څخه يُسْرًا ۝۵ آسانی ده په غلبه ستا سره په هغوئ باندے اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ
يُسْرًا ۝۶ په تحقیق سره له سختئ سره آسانی ده. فائده - تکرار د تاکید دے او چا
ویلی دی عُسر تنگوالی د سینے ته وائی او یُسر فراخئ ته وائی. او چا ویلی دی عُسر
گمراه کیدلو د قوم ته وائی او یُسر توفیق د هدایت ته وائی فَإِذَا فَرَغْتَ پس په
هغه وخت کښ چه فارغ شے ته له تبلیغ د رسالت فَانْصَبْ ۝۷ پس رنځ راکاږه
په عبادت د خدائ کښ د پاره د شکر په نعمتونو سابقو باندے او د پاره د وعدے
ځمونږه په نعمتونو راتلونکو باندے او چا ویلی دی چه فارغ شے له مانځه څخه پس
کوشش کوه په دُعا کښ او چا ویلی دی چه فارغ شے له غزا نه پس رنځ راکاږه په
ع ۸ ۱۹ عبادت کښ وَإِلَىٰ رَبِّكَ او رب خپل ته فَارْغَبْ ۝۸ عاجزی کوه په سوال سره او سوال
مهٔ کوه د بل چا څخه ځکه چه خدائ قادر دے په قضا د حاجاتو کښ - او په حدیث کښ دی
چه من قرء سورة الم نشرح فکانما جاءنی وانا مغتم ففرج عنی ؏ ۲

؏ هغه چا چه ولوست سورة الم نشرح پس گویا که راغے ماته او حال دا چه زهٔ غمژن وم. پس غم
ئے لرے کهٔ له ما نه ۱۲

سُوْرَةُ التِّیْنِ مَکِّیَّةٌ ۹۵ — بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — اٰیَاتُہَا ۸ رُکُوْعُہَا ۱

وَالتِّیْنِ اوسوګند دے په اینځر باندے وَالزَّیْتُوْنِ ۝۱ اوسوګند دے په خونه باندے
سوګند ئے وکۀ په دغه دواړو باندے ځکه چه دوئ عجیبه دی په مینځ دونو میوه داروکښ
روایت دے چه راوړے شۀ رسول کریم صلے اللّٰه علیه وسلم ونه یو تالے له اینځرو پس
ترے وے خوړل او وے ویلے اصحابو ته وخورئ ترے تا سے ځکه چه دے پریکوی بواسیر
او نفع رسوی نفوس ونه او ویلی ئے وو چه نیک مسواك دخونه ۲ خوشبویه کوی خولهٔ او
دغه مسواك ځما دے او مسواك د پخوانو پیغمبرانو هم دے وَطُوْرِ سِیْنِیْنَ ۝۲ اوسوګند دے
په طور سینا باندے چه هغه ځائ دمناجات د موسیٰ علیه السلام دے خدائ خپل
سره وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِیْنِ ۝۳ او سوګند دے په دے بنار باندے چه امان ورکونکے دے
هغه چا لره چه ور ته داخل شی چه هغه مکه ده اوچا ویلی دی سوګند ئے وکۀ په تین
او زیتون باندے ځکه چه ځایونه دنزول دوحی وو په حضرت عیسیٰ باندے او طور سنین
ځائ دنزول دوحی وو په حضرت موسیٰ باندے او هذا البلد الامین ځائ دنزول
دوحی وو په حضرت محمد صلے اللّٰه علیه وسلم باندے او جواب دقسم دا دے چه لَقَدْ
خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ په تحقیق سره پیدا کړے دے مونږ ه سړے فِیْٓ اَحْسَنِ تَقْوِیْمٍ ۝۴ په
بنهٔ قامت سره یعنی خاص م کهٔ سړے په مینځ دحیواناتو کښ په انتصاب دقامت او
په حسن دصورت او په برابرئ داندامونو سره ثُمَّ رَدَدْنٰهُ پس رد به کړم دغه انسان
چه شکر نهٔ کوی په دغه نعمتونو باندے اَسْفَلَ سٰفِلِیْنَ ۝۵ اسفل سافلین وته چه هغه
کوزه طبقه ددوزخ ده اوچا ویلی دی پس رد به کړم دغه انسان پس له بنهٔ قامت او
حسن اسفل السافلین عمر وته چه هغه زوړ والے دے نو شا به ئے ټیټه شی پس له سموالی ځنه او
ویخته به ئے سپین شی پس له توروالی ځنه اوغوږونه به ئے کانړه شی پس له اوریدلو نه

عه یعنی په بنه قامت او حسن دصورت او برابر والی داندامونو باندے ۱۲

او مغیر به ئے شی تول خیزونه اِلَّا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مګر هغه چا چه ایمان ئے راوړید ے
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه نیک ئے کړی وی فَلَهُمۡ پس دے دوئ لره اَجۡرٌ اجر غَیۡرُ
مَمۡنُوۡنٍ ⑥ چه نهٔ دے کمیدونکے یعنی ولیکن هغه کسان چه نیکوکاران دی له زړو
او کړی وتخه پس دے دوئ لره ثواب نهٔ کمیدونکے په عبادت د دوئ سره او په صبر د
دوی سره په زور والی کښې . حاصل دا دے لکه چه په ځوانئ او جوړوالی کښې اجر د عبادت
ورکوی په وخت د پیرئ او د ضعف کښې هم ثواب کامل نهٔ کمیدونکے ورکوی۔ اګر که عمل په مثل
د ځوانئ نه شی کولے فَمَا یُکَذِّبُكَ پس څوك نسبت د کذب کوی تا ته اے پیغمبره بَعۡدُ
بِالدِّیۡنِ ⑦ پس له دے دلیل واضحه نه. نوما په معنیٰ د مَنۡ دے او چا ویلی دی پس څهٔ
خیز تکذیب د بعث باندے لری تا لره اے انسانه پس له ظهوره د دلائلو واضحو تخه په
وړخ د جزا باندے حاصل دا دے چه پیدا وخت د انسان له نطفے تخه او بیا قامت ئے
اولږ لږ لوی ولے ئے ترهغه پورے چه کامل شی او برابر شی او پس تنکیس ئے ترهغه پورے
چه ورسیږی ازدل عمر و ته۔ دلیل واضح دے په قدرت د خالق باندے او بل په دے چه
هغه څوك چه قادر دے په پیدا کولو د انسان باندے عاجز نهٔ دے له اعادے نهٔ ئے جزا
و ته اَلَیۡسَ اللّٰهُ ایا نهٔ دے خدائ تعالیٰ بِاَحۡكَمِ الۡحٰكِمِیۡنَ ⑧ ع بنهٔ حکم کونکے له حاکمانو 8
تخه بلکه دے او په حدیث کښې دی هغه څوك چه ولولی الیس الله باحکم الحکمین ط 20
بائده دی چه وائی دِ و انا علی ذلك من الشهدین او په حدیث کښې دی چه من
قرء سورة التین اعطاه الله تعالیٰ العافیة والیقین مادام حیًا فاذا امات اعطاه الله
من الاجر بعدد من قرء هذه السورة ۴ ۴ ۴

سورة العلق ۹۶ مکیة اول — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ — ایاتها ۱۹ رکوعها ۱

اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ لوله قرآن شریف په نامه د رب خپل سره یعنی وایه بسم الله الرحمن

عه هغه چا چه ولوست سورة التین و ربه کړی خدائ تعالیٰ دهٔ لره سلامتیا او یقین ترهغه پورے چه ژوندے
وی او چه مړ شی و ربه کړی خدائ دهٔ لره اجر په شمارد هغه چا چه لولی دا سورة ۱۲

الرحیم. په وخت د شروع کښې په قران باندے اَلَّذِیْ خَلَقَ ① هغه رب چه پیدا کړی

ئې دی ټول څیزونه تنبیه حذف ئې کړو مفعول د خلق د پاره د دے چه دلالت وکړی

په تعمیم د خلقت باندے پس خاص ئې کړو په خلقت سره انسان له جهت د شرافته

حُکه چه نزول د قران دهٔ ته شوے دے. نووے ویلے خَلَقَ الْاِنْسَانَ پیدا کړی ئې دی سړی

مِنْ عَلَقٍ ② له وینو بستو. فائده:. وے ویلے علق په لفظ د جمع سره او وے نهٔ ویلے علقة

په لفظ د مفرد سره او سره د دے چه انسان لفظ مفرد دے له دے جهته چه انسان په معنیٰ

د جمع دے اِقْرَاْ لوله. تنبیه تکرار د پاره د مبالغے دے او چاویلی دی اقرأ اول مطلق

دے او دوئم مقید دے معنیٰ دا چه لوله قران د پاره د رسولو خلقوته او یا په مانځه کښې

وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ③ او رب ستا چه دے لوئی کریم دے له ټولو کریمانو ځکه چه دے

نعمت ورکوی بلاعوضه او حکم کوی بے له ویرے ځنه بلکه خدائی کریم دے په حقیقت کښې

اَلَّذِیْ عَلَّمَ هغه ذات چه وے خودهٔ لیکل د خط بِالْقَلَمِ ④ په قلم سره د پاره د دے چه

قید کړے شی په خط سره علمونه او پوهه کړے شی پرے لرے خلق او که نهٔ وے خط نه به

وو برابر کارونه د دین او د دنیا عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ ⑤ پوهه کړے ئې دے سړے په

هغه څیز باندے چه پرے نهٔ پوهیده او نقل ئې کهٔ له جهل نه د علم ته كَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ

لَیَطْغٰٓی ⑥ حقه ده چه جنس سړے یا ابوجهل خامخا په سرکښئ کښې تیریږی له حد

ځنه دا سے چه اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰی ⑦ وینئ ځان خپل بے حاجته او دولتمند اِنَّ اِلٰی رَبِّكَ

الرُّجْعٰی ⑧ په تحقیق سره چه طرف د رب ستا وته اے انسانه رجوع ستاده نو جزا

به درکړی په طغیان ستا باندے روایت دے چه ابوجهل و ویلے که محمد ﷺ په

سجده ولیدهٔ خپه به ئې په کردن کیږدم. یوه ورځ پیغمبر ﷺ مونځ کولو. نو ابوجهل

خبر شهٔ په جلتی سره ورته روان شهٔ رسیدلے نهٔ وو چه بیرته وګرځیده کافرانو وویلے

چه څهٔ وشو تا لره. وے ویل چه په مینځ ځما او د محمد ﷺ کښې خندق ولیدهٔ د ډک له اوره

پس طاقت ځما و نشهٔ نو دا خبر حضرت ﷺ وته ورسیدهٔ پس وے ویلے که هٔ په نزد ځما

راغلی وے۔ ملائکو به پاره پاره کړے وو۔ دا آیت راغے اَرَاَیۡتَ ایا وینے ته اَلَّذِیۡ یَنۡهٰی ﴿۹﴾
هغه څوک چه منع کوی چه هغه ابوجهل دے عَبۡدًا بنده کامل لره چه محمدؐ دے له مانځه څخه
اِذَا صَلّٰی ﴿۱۰﴾ په هغه وخت کښی چه هغه مونځ کوی اَرَاَیۡتَ ایا وینے ته اِنۡ کَانَ که چرے
وی ابوجهل عَلَی الۡهُدٰۤی ﴿۱۱﴾ په لارے دهدایت باندے اَوۡ اَمَرَ او یائے امر کولے خلقو
ته بِالتَّقۡوٰی ﴿۱۲﴾ په پرهیزګارئ سره اَرَاَیۡتَ ایا وینے ته تنبیه تکرار دپاره
دتاکید دے اِنۡ کَذَّبَ که تکذیب کوی ابوجهل تا لره اے پیغمبره او یا قول دحق لره
وَتَوَلّٰی ﴿۱۳﴾ او مخ ګرځوی له ایمانه اَلَمۡ یَعۡلَمۡ ایا نه پوهیږی ابوجهل بِاَنَّ اللّٰهَ یَرٰی ﴿۱۴﴾
په دے خبره چه په تحقیق سره خدای وینی قصد دده او پوهه دے په حال دده باندے له
هدایت ئے او له ضلالت ئے نو جزا به ورکړی موافق دحال سره ئے۔ فائده:۔ په دیکښی
اشارت دے وعید وته او بل دا قول چه الذی ینهی دے شره دجملے شرطیے مفعولین د
رایت دی او جواب دشرط اول محذوف دے چه المیعلم بان الله یرے دے او حذف ئے که
دے جهته چه ذکر کړے ئے دے په جواب دشرط ثانی کښی روایت دے چه دوباره پیغمبر
علیه السلام مونځ کولو۔ ابوجهل وویل اے محمدؐ ما نه وے منع کړے ته له مانځه څخه پس
پیغمبرؐ ورته تهدید ډیر وکړه۔ ابوجهل وویل ما ډیرے او حال دا دے چه لښکر څما ډیر دے
دا آیت نازل شه کَلَّا لَئِنۡ لَّمۡ یَنۡتَهِ ٥ حقه ده که چرے ابوجهل ونه ګرځی له ضرره د
محمدؐ څخه لَنَسۡفَعًۢا خامخا به ونیسم دے بِالنَّاصِیَةِ ﴿۱۵﴾ له څونډی څخه او رابه کاږم ده
لره اور د دوزخ ته۔ فائده:۔ اکتفا ئے وکړه په لام عهدی سره له اضافت څخه چه مراد
په ناصیه سره ناصیه دناهی ذکر کړے شوے ده نَاصِیَةٍ کَاذِبَةٍ له زونډی دروغژنه
خَاطِئَةٍ ﴿۱۶﴾ هغه زونډے خطاکاره۔ تنبیه:۔ دوصف د ناصیة په کذب او په خطاکار
سره په طریقه دمجاز دی او مراد ترے صاحب د ناصیة دے فَلۡیَدۡعُ نَادِیَهٗ ﴿۱۷﴾ پس ووایه
اے محمد ابوجهل ته وُدِ بولی لښکرخپل سَنَدۡعُ الزَّبَانِیَةَ ﴿۱۸﴾ زه دے چه و به بلم زه زبانیه

عه چه ناصیة دے په اضافت سره دپاره ددے چه راجع شی ضمیر ناهی وته ۱۲

د دوزخ د پاره دراخکلو دابوجهل دوزخ ته او په حدیث کښې دی چه لودعا نادیهٔ لاخذته الزبانیة عیانًا. کَلَّا ط نهٔ ده داسے لکه چه ابوجهل وائی لَا تُطِعْهُ فرمانبرداری مهٔ کوه اے پیغمبره د ابوجهل په پریښودو مانځه کښې او ثابت اوسه په مخالفت د هغه کښې وَاسْجُدْ او همیشه سجده کوه خدائی خپل لره یعنی مونځ کوه وَاقْتَرِبْ ⑲ او نزدے شه خدای خپل ته په سجده سره ځکه چه په حدیث کښې دی. اقرب ما یکون العبد الی ربه اذا سجد- او په حدیث کښې دی. چه من قرء سورة العلق اعطی من الاجر کانما قرء المفصل کلّه ÷

سُوْرَةُ الْقَدْرِ مکیة ۹۷ — ۲۵ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ۵ — رکوعها ۱

روایت دے چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم اصحابو ته وویلے چه یو سړی به له بنی اسرائیلو څخه وسله خپله واغوستله او زر میاشتے به ئے په لاره د خدائی کښې جهاد کولو اصحاب متعجب شول او پیغمبرؑ ئے وویل چه مونږه په دے لږ عمر کښې څنګه دا رنګے دولت ته ورسو- دا ایت نازل شه چه اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ په تحقیق سره مونږ نازل کړیدے قران شریف فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ ① په شپه د قدر کښې. فائده:- په دے کښې اشارت دے دے ته چه تعظیم وکړه قران لره ځکه چه اسناد د انزال ئے وکړهٔ ځان خپل وته او بل تعظیم ئے وکړهٔ قران لره ځکه چه ذکر ئے کړهٔ ضمیر له جهته د شرافته او بل تعظیم ئے وکړو هغه وخت لره چه پکښې نازل شوے دے روایت دے چه نازل شوے دے قران ټول په لیلة القدر کښې له لوح محفوظه اسمان د دنیا وته. پس جبریلؑ په درویشتو کالو کښې ایت ایت او سورة سورة دنیا وته راوړے دے. فائده:- مسمی ئے کړه دغه شپه په لیلة القدر سره له دے جهته چه په کښې مقدر کولے شی امور او حکمونه د کال راتلونکی او یا له دے جهته چه شرافت لری په ټولو شپو باندے او دغه اوه ویشتمه ده له رمضان دا رنګے

عه که چرے بیلے دی ابوجهل لښکر خپل خامخا به نیولی وو دی زبانیو په ظاهره او ښکاره ۱۲ عه نزدے رب خپل وته هغه دے چه وی بنده په هغه وخت کښې چه سجده کوی ۱۲ سه هغه چا چه ولوست سورة علق وربه کړے شی دهٔ لره اجر گویا که لوستے دے دهٔ قران ټول ۱۲ لعه یعنی ورکړے شوه دوئ لره یوه شپه چه هغه بهتره ده له مودے د دغه غازی څخه ۱۲

روایت کړے شوے دے له ابوحنیفهؒ څخه او په دے باندے قائل دی جمهور علماء او
بنابېرې چه سبب په دغه شپه کښې داد ے چه ژوندئ کوی ډېرے شپے هغه څوک چه
اراده لری د موندلو ئے لکه اخفاء د مانځه میانه په دے قول کښې چه حٰفِظُوا عَلَی الصَّلَوٰتِ
وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی دپاره دد ے چه ساتنه کوی په ټولو مونځونو باندے اولکه اخفاء د
ساعت دقبلیدو د دُعا په ورځ دجمعه کښې دپاره ددے چه دعا کوی ټوله ورځ اولکه اخفاء
د اسم اعظم دپاره ددے چه محافظت کوی په ټولو اسماؤ باندے او په حدیث کښې دی هغه
چاچه بیاموند له دغه شپه وائی دِ اللّٰهم انک عفوّ تحب العفو فاعف عنّی وَمَا اَدْرٰىكَ او
څه خبر پوهه کړے ته ـ چه مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ⑵ څه ده شپه د قدر یعنی څه دے عزت
اوشرافت ئے پس بیان ئے کړه شرافت د دغه شپے لره په دے قول سره لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ
شپه د قدر چه ده بهتره ده مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ⑶ له زر میاشتو څخه چه نهٔ وی په هغوئ کښې
دغه شپه ـ حاصل داد ے چه غازیانو د بنی اسراء یلو به زر میاشتے په لاره دخدائ کښې
جهاد کولو او مؤمنانو به تعجب کولو پس ورکړے شوه دوئ ته یوه شپه چه هرڅوک ئے
بیاموی او په طاعت سره پکښې مشغول شی ترصبا پورے ـ برابر به شی ثواب د بنی اسرائیلو
سره بلکه ډیر ثواب به بیاموی تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ نازلیږی ملائکے د آسمان ددنیا وته
او یا زمکے ته وَالرُّوْحُ او نازلیږی جبریلؑ سره ددوئ روایت دے چه نهٔ وینی دهٔ لره
ملائکے مګر په دغه شپه کښې اوچاویلی دی نازلیږی رحمت فیها په دغه شپه کښې
بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ۚ په اذن او امر د رب خپل سره ـ د مابنام نه ترصبا پورے مِّنْ كُلِّ
اَمْرٍ ⑷ د پاره د هر کار چه نیک وی او که بد تربله کاله پورے سَلٰمٌ ۛ هِيَ نه مقدر کوی
خدائ تعالیٰ په دغه شپه کښې مګر سلامتیا او خیر او مقدر کوی په نورو شپو کښې بلا او
سلامتیا او چاویلی دی سلام کوی ملائکے په مؤمنانو باندے چه بیدار وی په دغه شپه
کښې ـ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ⑸ وی به سلامتیا او یا کوی به سلام ترختلو د صبا پورے

عه ساتنه کوئ په مونځونو باندے او ساتنه کوئ په مانځه میانه باندے ۱۲ عه اے خدایه په تحقیق سره عفو کونکے ئے دوست لرے عفو پس عفو کړے له ما نه ګناهونه ځما ۱۲

او په حدیث کښې دی. چه من قرء سورة القدر اعطی من الاجر کمن صام رمضان
واحیٰ لیلة القدر

سُورَةُ البَیِّنَةِ ۹۸ مدنیة ۱۰۰ — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ — اٰیَاتُهَا ۸ رُکُوۡعُهَا ۱

روایت دے چه یهودیانو او مشرکانو رومبے دظهوره د پیغمبر اتفاق کړے وو چه هر
کله پیغمبر اخر زمان پیدا شی ایمان به پرے راوړو او په دین باندے به ئے شو نو هر کله
چه پیدا شهٔ دوئ له قوله خپله وګرځیدل نو بعضو ایمان راوړو او بعضو رانهٔ وړو خدائ
تعالیٰ له حاله ددوئ نه خبر وکړو او وے ویلے لَمۡ یَکُنِ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا نهٔ وو هغه کسان چه
کافر شوی په محمد باندے مِنۡ اَهۡلِ الۡکِتٰبِ له اهل کتابو څخه چه یهودیان او نصارٰی
دی وَالۡمُشۡرِکِیۡنَ او بت پرستان دعرب مُنۡفَکِّیۡنَ جدائی لتونکی بلکه متفق وو په
دے باندے چه پیغمبر اخر زمان حق دے. حَتّٰی تَاۡتِیَهُمُ الۡبَیِّنَةُ ﴿۱﴾ متفق وو تر هغه پورے
چه راغے دوئ لره حجت روښانه چه رسول دے او یا قرآن دے ځکه چه هر یو له دواړو څخه
بیان کونکے دے حق لره او یا معجزه د رسول ده رَسُوۡلٌ مِّنَ اللّٰهِ رسول له طرفه د خدائ
چه محمد دے نو رسول بدل دے له بیّنة څخه او یا په تقدیر د مضاف سره دے یعنی مثل
کتاب رسولٍ او معجزاته. یَتۡلُوۡا هسے رسول چه لولی په دوئ باندے صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴿۲﴾
صحیفے پاکے له باطل او کذب څخه. چه قرآن دے نو یتلوا صحفا مطهرة صفت د رسول شهٔ
او چا ویلی دی چه رسول مبتدا ده او یتلوا صحفا مطهرة ئے خبر دے فِیۡهَا چه دے په دغه
صحیفو کښې کُتُبٌ قَیِّمَةٌ ﴿۳﴾ لیکلے شوی دی برابر ناطق په حق او عدل سره وَمَا تَفَرَّقَ
او نهٔ وو متفرق کړے شوی یعنی اختلاف. نهٔ وو کړے په حق د محمد صلے الله علیه وسلم کښې
الَّذِیۡنَ اُوۡتُوا الۡکِتٰبَ هغه کسان چه ورکړے شوے وو هغوئ لره کتاب اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا
جَآءَتۡهُمُ الۡبَیِّنَةُ ﴿۴﴾ مګر پس له هغے نه چه راغے دوئ لره پیغمبر پس بعضے له اهل کتابو

عه هغه چا چه ولوست سورة قدر ورته به ورکړے شی له اجره په مثل د هغه چا چه روژے د رمضان ئے
نیولے وی او ژوندئ کړے ئے شپه د قدر ۱۲

ځنې هغه کسان وو چه منکر شول له نبوت د پیغمبر علیه السلام له جهته د سرکشۍ او کینې نه
او بعضې له دوئ نه هغه کسان وو چه ایمان ئې راوړه. فائده :- مفرد ئې ذکر کړل اهل
کتاب پس له ذکر کولو د دوئ او د مشرکانو ځنې ځکه چه دوئ وو پوهه په نبوت د محمد ﷺ باندې
ځکه چه نبوت د ده موجود وو په کتابونو د دوئ کښې. نو پس په هغه وخت کښې چه صفت
ئې وکه دوئ لره په تفرق سره له ده نه. نو شول هغه کسان چه نه لري کتاب داخل په تفرق
کښې حاصل دا دے چه په دې تفرق د اهل کتابو او مشرکانو صریحًا مذکوره وه او دے تفرق
د اهل کتابو صریحًا دے او د مشرکانو دلالةً دے. نو پس تفرق خاص اهل کتابونه دے کړے
بلکه ټولو کړے دے وَمَآ اُمِرُوْٓا او نه دی مامور کړے شوی دوی په تورات او انجیل
کښې اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مګر د پاره د دے خبرے چه عبادت کوی خدائ لره مُخْلِصِيْنَ
لَهُ الدِّيْنَ ۵ په دغه حال کښې چه پاکونکی وی دوئ خدائ لره دین خپل له شک لـه
نفاق ۔ حُنَفَآءَ په هغه حال کښې چه مؤمنان ئې په ټولو رسولانو باندے او ګرځیدونکی
له ادیان باطلو ځنې وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ او بل مامور دے چه اداکوی صلوٰة مفروضه په
وخت خپل کښې وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ او اداکوی زکوٰة واجبه په خپل ځای کښې وَذٰلِكَ او
هغه څیز چه مامور شوی دی په هغوئ باندے دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ۝۵ دین محکم دے اِنَّ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا په تحقیق سره کافران مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ له اهل کتابو ځنې وَالْمُشْرِكِيْنَ
او له مشرکانو ځنې به فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ په اور د جهنم کښې وی په ورځ د قیامت کښې
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط همیشه به وی په هغه اور کښې اُولٰٓئِكَ دغه ټولے چه دی شَرُّ الْبَرِيَّةِ ۝۶
دوئ ډیر بد د مخلوق دی اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په تحقیق سره هغه کسان چه ایمان ئې راوړیدے
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لا او کړی دی کارونه نیک په دنیا کښې اُولٰٓئِكَ دا ټولے چه دے هُمْ
خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ۝۷ دوئ بهترین د مخلوق دی جَزَآؤُهُمْ بدل د عملونو د دوئ عِنْدَ
رَبِّهِمْ په نزد د رب د دوئ جَنّٰتُ عَدْنٍ باغونه د اقامت به وی تَجْرِيْ چه بهیږی به
مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لا لاندے د هغه باغونو ولے د اوبو جاری و خٰلِدِيْنَ فِيْهَا همیشه به وی دوئ

په جنت کښې اَبَدًا ط همیشه. فائده:- ابدًا تاکید دخلود دے رَضِیَ اللّٰهُ راضي به شي خدائ
عَنۡهُمۡ له دوئ نه په قبلولو د عملونو سره ئے وَرَضُوۡا عَنۡهُ ط او راضي به شي دوئ له خدائ
په ثواب داعمالو سره ذٰلِكَ داچه ذکرشول له جنت او رضا تخه لِمَنۡ خَشِیَ رَبَّهٗ ﴿۸﴾ دپاره ع ۲۲
دهغه چا دی چه ویریږی له عذاب درب خپل ځکه چه خشیت ملاك الامردے. فائده:-
دغه قول چه خیرالبریة دے دلالت کوی په بهتروالی د مؤمنانو د بشرو په ملائکو باندے
ځکه چه بریه مخلوق ته ویلے شی او دوئ ئے بهتر کړی دی په مخلوق باندے او په
حدیث کښې دی چه مَنۡ قرء سورة لمریکن کان یوم القیٰمة مع خیرالبریة مساءً و مقیلاً

سُوۡرَةُ الزلزال ۹۹ مدنية ۹۳ — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ — اٰیاتها ۸ رکوعها ۱

اِذَا زُلۡزِلَتِ الۡاَرۡضُ په هغه وخت کښې چه وخوزولے شی زمکه زِلۡزَالَهَا ﴿۱﴾ په خوزید و
سختو سره ئے. چه مقرر دی په نزد د نفخهٔ اولی او یا د دویم سره وَاَخۡرَجَتِ الۡاَرۡضُ
او بهر به کړی زمکه اَثۡقَالَهَا ﴿۲﴾ بارونه درانه خپل چه هغه مړي او کنوز (خزانے) دی
وَقَالَ الۡاِنۡسَانُ مَالَهَا ﴿۳﴾ او وبه وائی سړے چه څهٔ وشو دے زمکے لره چه مدفون خپل
ظاهروی اوچاویلی دی مراد له انسان کافر دے ځکه چه دهٔ ایمان نهٔ راوړو په بعث باندے
او هر چه سړے مومن دے پس وبه وائی. هٰذا ما وعد الرحمٰن وصدق المرسلون یَوۡمَئِذٍ په
دغه ورځ کښې به تُحَدِّثُ خبرے کوی زمکه خلقو ته په ژبه دحال سره اَخۡبَارَهَا ﴿۴﴾
خبرونه خپل یعنی خدائ تعالیٰ به گویا کړی زمکے لره او خبر به کړی خلق په هغه څیز چه
کړے وی دوئ په زمکه له نیکئ او بدئ تخه. او په حدیث کښې دی چه تشهد علیٰ کل واحدٍ
بما عمل علیٰ ظهرها بِاَنَّ رَبَّكَ اَوۡحٰی لَهَا ﴿۵﴾ او خبرے به کوی په سبب د دے سره چه رب
ستا به حکم وکړهٔ زمکے وته چه خبرے کوه. نو وبه وائی چه فلانی په ما باندے زنا

ع‌ه هغه چاچه ولوست سورة لم یکن وی به دے په ورځ د قیامت کښې سره د بهتر مخلوق په مابنام او غرمه کښې ۱۲ منه ع‌ه دا هغه ورځ ده چه وعده کړے وه خدائی او رښتینی دی رسولان ۱۲ ع‌ه شاهدی به وائی زمکه په هریو باندے په هغه څیز باندے چه کړے ئے وی په شا د زمکه ۱۲

کړے وہ يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښې يَّصْدُرُ النَّاسُ روان به شی سړی له قبرونو خپلو څخه موقف د حساب ته اَشْتَاتًا ۙ پراګنده. یعنی سپین مخی په امن سره او بعض تور مخی په ویرہ سره او چاویلی دی روان به شی سړی له ځائ د حساب په پراګنده بعضے په ښی طرف د عرش وجنت وته او بعضے په کینږ طرف ئے دوزخ وته لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ﴿٦﴾ د پارہ د دے خبرے چه وخودلے شی دوی ته جزا د عملونو ئے روایت دے چه دوہ سړی وو یو به سائل لرہ لږ خیز نهٔ ورکولو او ویل به ئے چه نیکی د یرہ پکار دہ چه پرے ثواب بیاموندے شی او دویم سرہ به ګناہ لږ ہ خوارہ ګنړله او ویل به ئے چه په لږ ہ سرہ نیول نشته بلکه مؤاخذہ په کبائرو سرہ دہ خدائ تعالیٰ دا ایت نازل کړو فَمَنْ يَّعْمَلْ پس هرچاچه عمل وکړو مِثْقَالَ ذَرَّةٍ په اندازہ د ذرے سرہ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴿٧﴾ نیکی بیا به ئے ومومی جزا وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ او هرچاچه وکړہ په اندازہ د ذرے سرہ شَرًّا يَّرَهٗ ﴿٨﴾ بدی بیا به ئے مومی جزا ئے ۔ او چاویلی دی ایت اول په حق د مؤمنانو کښې دے۔ او ایت دویم په حق د کافرانو کښې دے ۔ او په حدیث کښې دی چه من قرء سورة اذا زلزلت اربع مرات کان کمن قرء القران کلهٗ

سُوْرَةُ العدیت ۱۰۰ مکیة ۱۴ | بسم الله الرحمن الرحيم | اٰیاتها ۱۱ رکوعها ۱

روایت دے چه پیغمبر علیه السلام منذر رحُوئ د عمر انصاری یو تولی د اصحابو سرہ قبیلے د کنانهٔ ته ولیږلو او ورته ئے وویلے په فلانئ ورځے په وخت د صبا کښې بنو کنانه وته ورسی او په فلانئ ورځے بیرته راځئ پس دوی دارنګے کار وکړهٔ لیکن په بیرته راتلو کښې په سبب د یروالی د اوبو سرہ تاخیر وشهٔ له وخت مقرر څخه پس منافقانو یو تربل ویل چه تولہ دارہ هلاکه شوہ او هیڅوک ترے پاتے نشهٔ چه خبرے راوړی د اخبرہ مؤمنانو نه ورسیدہ غمناک شول خدائ تعالیٰ دپارہ د خوشحالئ د مؤمنانو له حال د هغه داپ

عه هغه چاچه ولوست سورة اذا زلزلت څلور ځله دی به په شان د هغه چاچه لوستے وی قران تول ۱۲

سورت نازل کړو وَالْعٰدِيٰتِ سوګند دے په اسونو زغلیدونکو باندے چه په دوکښې
پرشیږی ضَبْحًا ﴿۱﴾ په پرشیدلو سره فَالْمُوْرِيٰتِ پس سوګند دے په هغه اسونو باندے
چه وکاږی اور په سُمونو سره له کانړو څخه قَدْحًا ﴿۲﴾ په اور وُخکو سره فَالْمُغِيْرٰتِ پس
سوګند دے په هغه اسونو باندے چه لوټی کافران صُبْحًا ﴿۳﴾ په وخت د صبا کښې۔
فَاَثَرْنَ بِهٖ پس پورته کوی په سُمونو خپلو سره په دغه وخت کښې نَقْعًا ﴿۴﴾ ګرد په کنډرو
دهغه قبیلے کښې فَوَسَطْنَ بِهٖ پس په مینځ کښې راولی په دغه اسونو سره په دغه وخت
کښې جَمْعًا ﴿۵﴾ ټولے د د شمنانو د دین۔ او جواب د قسم دا دے اِنَّ الْاِنْسَانَ په تحقیق سره
سړے چه دے لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ﴿۶﴾ رب خپل لره ناشکره دے او چا ویلی دی کنود بخیل
ته وائی وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره انسان چه دے عَلٰى ذٰلِكَ په ناشکرئ خپلے لَشَهِيْدٌ ﴿۷﴾ خامخا
شاهد دے ځکه چه اثر د ناشکرئ به پرے ښکاره کیږی او چا ویلی دی په تحقیق سره خدائ
تعالیٰ په ناشکری شاهد او عالم دے۔ په طریقه د وعید سره وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره سړے
لِحُبِّ الْخَيْرِ د پاره د مینے د مال لَشَدِيْدٌ ﴿۸﴾ خامخا بخیل دے او یا دے د پاره د مینے د
مال قوی دے او د مینے د عبادت د خدائ ضعیف دے۔ شیخ الاسلام قدس سره ویلی
دی که مال خپل دولت لرے صدقه ئے کړه چه ثواب ئے په آخرت کښې بیاموے او وارثانو
لره ئے مه پرېږده۔ چه افسوس به دے ونه کړے په زړه باندے اَفَلَا يَعْلَمُ آیا نه پوهیږی
انسان اِذَا بُعْثِرَ په هغه وخت کښې چه پورته کړے شی مَا فِي الْقُبُوْرِ ﴿۹﴾ هغه څوک چه په
قبرونو کښې دی له مړیو څخه وَحُصِّلَ او حاضر کړے شی مَا فِي الصُّدُوْرِ ﴿۱۰﴾ هغه چه په
سینو کښې دی له عقائدو نه۔ او چا ویلی دی چه جدا کړے شی هغه چه په سینو کښې
دی له خیر او شر څخه۔ فائده۔ خاص ئے کړه سینه ځکه چه اصل د عقائدو ده او نور
اندامونه ئے تابع دی اِنَّ رَبَّهُمْ په تحقیق سره رب د دوئ چه دے بِهِمْ په اقوالو او
افعالو د دوئ باندے يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ د پورته کیدلو کښې لَّخَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾ هر ائینه عالم ع ۱۱ / ۲۵
دے پس جزا به ورکړی د دوئ لره په اعمالو ئے له خیر او شر څخه۔ فائده:۔ خاص ئے کړه دغه

ورځ او حال دا دے چه پوهه دے په اقوالو او افعالو د دوئ باندے په ټولو ورځو کښې ځکه چه جزا به واقع کیږی په دغه ورځے۔ او په حدیث کښې دی چه من قرء سورة العٰدیٰت اعطی من الاجر عشر حسنات بعدد من بات بالمزدلفة وشهد جمعًا۔

سورة القارعة مکیة ۱۰۱ ۳۰ ‍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ‍ ایاتها ۱۱ رکوعها ۱

اَلْقَارِعَةُ ① ورځ د قیامت چه ټکونکے د زړونو ده په غم او ویرے سره مَا الْقَارِعَةُ ② څۀ ده قارعه وَمَا اَدْرٰىكَ او څۀ خبر پوهه کړے یے ته مَا الْقَارِعَةُ ③ چه څۀ دے ټکونکے يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ ټکوی به په هغه ورځ چه وی به سړی له شدته كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ④ په مثل د پتنګانو سره پراګند. فائده:- مشابه یے کړل سړی له فراش سره په کثرت او انتشا او ضعف او خوارئ کښې او په تلو را تلو کښې داعی وته له هره طرفه لکه پتنګان او ورته او مسمے یے کۀ پتنګ په فراش سره له جهته د انتشار یے وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ او وبه ګرځی غرونه له هیبته د دغه ورځے كَالْعِهْنِ په مثل د پشم رنګینه سره ځکه چه دوئ رنګینه دی الْمَنْفُوْشِ ⑤ چه وهلے شوی وی په لینده د نداف سره ځکه چه اجزا یے متفرق شی حاصل دا دے چه غرونه به په تفرق د اجزاؤ کښې مشابه له پشمه رنګینه سره فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ پس هغه څوک چه په دغه ورځ کښې درنه شی مَوَازِيْنُهٗ ⑥ تله د عمل یے یعنی چه راجح شی مقادیر د حسناتو د هغۀ. نو فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ پس وی به دے په ژوند رَّاضِيَةٍ ⑦ خاوند د خوشحالئ کښې چه جنت دے وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ او هر څوک چه سپکه وی مَوَازِيْنُهٗ ⑧ تله د عمل یے یعنی چه نۀ وی دۀ لره نیکی او یا راجح شی بدی په نیکئ باندے فَاُمُّهٗ پس ځائ د دۀ هَاوِيَةٌ ⑨ اور دے. فائده:- مسمے یے کۀ ځائ د استوږنے په اُم سره له دے جهته چه مور هم ځائ د استوږنے د ولد ده وَمَآ اَدْرٰىكَ او څۀ خبر پوهه کړے ته اے محمدؐ مَا هِيَهْ ⑩ څۀ دی هاویه نَارٌ حَامِيَةٌ ⑪ اور دے نهایت ګرم او په حدیث کښې دی

ع ۱ ۲۶

عه هغه چا چه ولوست سورة عادیات ورکړے شی له اجره لس نیکئ په شمار د هغه چا چه شپه یے کړے وی په مزدلفه کښې او په شمار د هغه چا چه حاضر شوے وی جمعے ته ۱۲

عه من قرء سورة القارعة ثقل الله له میزانه یوم القیمه ۱۲

سُورَةُ التَّكَاثُرِ ۱۰۲ مکیة ۱۶ | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ | اٰیَاتُهَا ۸ رُکُوۡعُهَا ۱

روایت دے چه بنی عبد المنافو او بنی سهمو فخر کولو یو تر بله په ډیر والی د مال
او د قوم سره پس سرې د عبد المنافو ډیر شول نو بنی سهموو ویلے قوم ځمونږه ډیر ړومبے
وژلے شوے دے. مونږه مړه او ژوندی ټول شمارو. پس هر کله چه دا سے شمارے وکړو
قوم د سهمو زیات شه خدائے تعالیٰ دا ایت نازل کړو اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۝۱ مشغول کړی
تاسے فخر په ډیروالی د مال او د قوم سره د عبادت نه د خدائے حَتّٰی زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَ ۝۲ تر هغه
پورے چه مړه شوئ او راغلئ په قبرونو کښ. او چا ویلی دی تر هسے حده پورے چه راغلئ
قبرونو ته او مړی مو وشمارل او چا ویلی دی مشغول کړئ تاسے فخر په مال او اولاد سره
تر مرګه او قبره پورے ضائع کونکی عمر خپل لره په طلب د دنیا کښ مشغول ئے کړئ له هغه
خیزه چه مقصود تر تاسے لره چه هغه سعی او کوشش دے آخرت کَلَّا نه ده دا رنګے بلکه
بائده دی عاقل لره چه نهٔ دِ وی ټول قصد د دهٔ او سعی ئے دنیا و ته ځکه چه اخرد د غه قصد
او سعی وبال او افسوس دے سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ۝۳ زر دے چه وبه وینئ تاسے اخر د فخر
کولو په وخت د مرګ کښ. فائده - په دے کښ اشارت دے دے و ته چه دوئ وویریږی او
خبر شی ل غفلته خپله ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ۝۴ پس حقه ده چه زر به وپیژنئ تاسے
خطا د فکر خپل په وخت د پورته کید لو کښ کَلَّا نهٔ دی بائدهٔ دا رنګے چه په مړو او په ژوندو
باندے فخر کوئ تاسے لَوۡ تَعۡلَمُوۡنَ که چرے پوهیدے تاسے په هغه خیز چه وړاندے لرئ له
مرګه او له معاملے له قبره او د حشر ځنه عِلۡمَ الۡیَقِیۡنِ ۝۵ په علم یقینی سره او جواب د لَوۡ
محذوف دے چه لشغلکم ذلك عن غیره دے معنیٰ دا چه خامخا به مشغول کړی تاسے
یا دول له بله خیزه ځنه او حذف کړے شهٔ جواب د لَوۡ له جهته د تعظیم لَتَرَوُنَّ الۡجَحِیۡمَ ۝۶

عه هغه چا چه ولوست سورة قارعه د رنه به کړی ده لره تله د دهٔ په ورځ د قیامت باندے ۱۲

سوګند دے چه خامخا به وویني تاسې دوزخ . دغه جواب د قسم محذوفه دے او مؤکد ئې کړه په دې قسم سره وعده خپله او واضح ئې کړو په دے سره د اقول چه سوف تعلمون دے ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا پس هرآئينه ښائی چه وبه وينئ عَيْنَ الْيَقِيْنِ ﴿٧﴾ په سترګو د يقين سره ـ آبيشکه په هغه وخت کښې چه راشي په هغه کښې ثُمَّ لَتُسْئَلُنَّ پس خامخا سوال به وکړے شي له تاسې نه يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښې په وخت د محاسبه کښې عَنِ النَّعِيْمِ ﴿٨﴾ له هغه نعمتونو نه چه په هغو باندے مشغول شوی وئ تاسې له عبادته او له طاعته نه خطاب خاص دے په هغه چا پورے چه دنيا هغه له دين جار ايستلے دے او چا ويلي دی چه مخاطب کفار دی ليکن اصح دا ده چه خطاب عام دے له دے وجه چه هر سړے به له شکره د نعمت وپوښتيدے شي او بعضو تخصيص د نعمت کړے دے په اوبو يخو او ميوو خوږو سره يا په سايه يخه او په لذت د خوب او په اعتدال د خلقت سره يا په اعتدال د اسلام سره يا په تخفيف د شرائعو سره يا په قرآن سره . او مشهوره خبره دا ده چه مراد صحت او فراغت دے . په حديث کښې دی راغلی دوه نعمته دی چه ډير خلق په هغو کښې غوليدلی دی او قدر د هغو نهٔ پيژنی چه هغه يو صحت دے او بل فراغت دے الٰهی د نفس له شر نه د خواب له غفلته او له اسراف د نعمته او له عذاب له قيامته پناه راکړے ؎

سُورَةُ العصر ١٠٣ مكية ١٣ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ٣ رکوعها ١

روايت دے چه ابوالاسد بن صديق رضٰ ته وويل چه زيان دې وکړو لے صديقه ! چه دين د اباؤ خپلو دې پريخود . چه هغه عبادت د بتانو دے ـ ابوبکر رضٰ ورته جواب ورکړو چه زيانکاره نهٔ دے هغه خوك چه کوی دين د خدائی او کوی عمل د خير بلکه زيانکاره هغه خوك دی چه بت پرست وی او مطابعت د شيطان کوی حق تعالیٰ په موافقت د صديق رضٰ سره دا ايت نازل کړو وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ سوګند دے په مانځه د عصر باندے له جهته د فضيلت ئې په دليل د دے قول سره . والصلوٰة الوسطی صلوٰة العصر په مصحف د حفص کښې او چا

ویلی دی سوګند دے په زمانه د پیغمبرئ ستا باندے اے محمدؐ! او جواب د قسم دا دے
چه اِنَّ الۡاِنۡسَانَ په تحقیق سره چه ابو الاسدین یا ټول ادمیان لَفِیۡ خُسۡرٍ ۙ﴿۲﴾ خامخا په
زیان کښې دی له جهته د صرف کولو د عمره خپلې په مطالبو خپلو کښې اِلَّا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مګر
زیان کاره نهٔ دی هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او کړی ئې وی
کارونه نیک وَ تَوَاصَوۡا او وصیت ئې کړے وی بِالۡحَقِّ ۬ۙ په حق سره چه توحید او اطاعت
او متابعت دکتابونو او د پیغمبرانو دے وَ تَوَاصَوۡا او وصیت ئې کړے وی بِالصَّبۡرِ ﴿۳﴾ ع ۴
په صبر سره له ګناهونو نه او چا ویلی دی په صبر سره په طاعاتو باندے او چا ویلی
دی په صبر سره په آفاتو بلیاتو او په امراضو باندے. او په حدیث کښې دی چه مَنۡ
قرء سورة العصر غفر الله له وکان ممن یواصی بالحق ویواصی بالصبر۔

سُوۡرَةُ الهمزة ۱۰۴ مکیة ۳۲ ‌ ‌ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ‌ ‌ اٰیَاتُهَا ۹ رُکُوۡعُهَا ۱

روایت دے چه هرکله اخنس به عیب د رسول الله صلی الله علیه وسلم کولو په مجلس
کښې. او ولید به غیبت د رسول الله صلی الله علیه وسلم کولو. نو خدائ تعالی په حق د
دوئ کښې دا سورة نازل کړو وَیۡلٌ افسوس او هلاکت دے لِّکُلِّ هُمَزَةٍ هر عیب کونکی
لره روستو د خلقو نه لُّمَزَةِۣ ۙ﴿۱﴾ او هر عیب کونکی لره مخامخ. فائده:- سبب د نزول دَ دے
سورة خاص دے. او وعید ئې عام دے الَّذِیۡ جَمَعَ هغه چا لره چه جمع کړے ئې دے مَالًا
وَّ عَدَّدَهٗ ۙ﴿۲﴾ مال او شمار لے ئې دے د پاره د حوادثو د زمانے او حق ترے نه وباسی
یَحۡسَبُ ګمان کوی دے داسے چه اَنَّ مَالَهٗۤ اَخۡلَدَهٗ ۚ﴿۳﴾ په تحقیق سره دا مال د ده به
دے همیشه لری په دنیا کښې. فائده:- په دے کښې اشارت دے دے وته چه همیشه لرونکی
ژوند ابدی حقیقی لره سعی او کوشش دے اخرت وته کَلَّا نهٔ ده داسے لکه چه دے ګمان
کوی بلکه دے به مړشی او مال به ئې له عذابه خلاص نهٔ کا. لَیُنۡۢبَذَنَّ خامخا به وغورځولے

سه یعنی مونږ د ماز دیګر دے ۱۲ عه هغه چا چه ولوست سورة عصر و به بخښی خدائ ده لره او وی به له هغه چا نه
چه وصیت ئې کړے وی په حق سره او وصیت ئې کړے وی په صبر سره ۱۲

شی دغه جمع کونکی فِی الْحُطَمَةِ ﴿۴﴾ په حطمه کښ یعنی په هغه اورکښ چه سیزی هر
څیز لره چه پکښ واچولے شی وَمَآ اَدْرٰىكَ او څهٔ څیز پوهه کړے تهٔ اے پیغمبره ﷺ! چه
مَا الْحُطَمَةُ ﴿۵﴾ څهٔ څیز دے حطمه. نَارُ اللّٰهِ دغه اور د خدائی دے الْمُوْقَدَةُ ﴿۶﴾ چه
بَلْ کړے دے یعنی چه بل کړے دے خدائی هغه اور لره په قهر سره الَّتِیْ تَطَّلِعُ هغه
اور چه خیژی او غلبه کوی عَلَی الْاَفْـِٕدَةِ ﴿۷﴾ په زړونو باندے او تخصیص د زړونو
له دے جهته دے چه زړهٔ بنهٔ نرم دے په بدن کښ او سخت وی عذاب ئے او یا له
دے جهته دے چه دے ځائی د عقائدو باطلو او فاسدو دے اِنَّهَا عَلَیْهِمْ په تحقیق سره
دا اور د دوزخ به په کافرانو مُّؤْصَدَةٌ ﴿۸﴾ بند کړے شوے وی فِیْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿۹﴾
په ستنو دراز وسره. یعنی بند به کړے شی په دوئ باندے دروازے د دوزخ او محکم
به کړے شی دغه دروازے په ستنو اوږدو سره. فائده :- په دے کښ اشارت دے
دے وته چه کافران به همیشه دوزخ کښ وی په حدیث کښ دی چه من قرء سورة الهمزة
اعطاه الله عشر حسنات بعدد من استهزء بمحمد صلی الله علیه وسلم واصحابه؏

سُوْرَةُ الْفِیْل ۱۰۵ مکیة ۱۹ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | اٰیَاتُهَا ۵ رُکُوْعُهَا ۱

اَلَمْ تَرَ آیا تا نهٔ وو لیدلی اے پیغمبره چه کَیْفَ فَعَلَ څنګه کار کړے وو رَبُّكَ رب ستا بِاَصْحٰبِ
الْفِیْلِ ﴿۱﴾ خاوندانو د فیل سره. تنبیه :- په دے کښ خطاب دے پیغمبر علیه السلام وته
او دهٔ اګرکهٔ دغه واقعه نهٔ وه لیدلے لیکن لیدلی ئے وو اثار ئے او سمع کړی ئے وو په تواتر
سره اخبار ئے. نو پس ګویا کهٔ دهٔ دغه واقعه لیدلے وه روایت دے چه ابرهه ځوی د صباح
بادشاه وو د یمن ړومبے له نجاشی څخه پس ده په صنعاء یمن کښ کنیسه سازه کړه او حکم
ئے وکړو چه هیڅوك دِ خانه کعبے ته نهٔ ځی او د ځما خلقے ته دِ راځی د یاره د حج کولو پس خارج
شهٔ یو سړے له کنانے څخه او کیناست په دغه کنیسه کښ یوه شپه او وے موله پس په قهر

عه هغه چاچه ولوست سورة همزه ور به کړی خدائی تعالیٰ دهٔ لره لس نیکئ په شمار د هغه چاچه خندلی ئے وی
له محمد ﷺ او اصحابو سره ۱۲ سه نامه د یوے قبیلے ده په عربو کښ چه مشهوره ده په قریشو کښ ۱۲

کهٔ ابرهه لره دغه سړی نوسوکند ئے وکهٔ دا سے چه لیهدمن الکعبه. پس خارج کړل ابرهه حبشیان چه لبنکرئے وو سره دیو فیل چه نامه ئے محمود وه او ډیر قوتناك او لوی وو. او دولس فیلان نور هم وو هر کله چه عربو کښ داخل شول. خلقو دعربو ابرهه سره جنګ وکهٔ نو غلبه ئے وکړه په عربو باندے او چه مکے ته ورسیدهٔ مال دمکیانو ئے لوټ کهٔ او دوه وښت اوښان دعبدالمطلب ئے ونیول پس عبدالمطلب دابرهه مخکښ راغے نو ابرهه ئے ډیر عزت او کهٔ له دے جهته چه نامه دعبدالمطلب مشهوره وه. ابرهه ووئیل تاسوال دکعبے ونهٔ کهٔ چه زهٔ بخښلے وے او زهٔ بیرته تلے وے سره ددے چه فخر دعربو په کعبے سره دے. عبدالمطلب ووئیل زهٔ خاوند داوښا نو یم او ددے خانے خاوندشته دے خُما ورسره څهٔ کار دے ابرهه اوښان ورکړل او عبدالمطلب مکے ته راغلو او خلقو ته ئے ووئیل تختئ. نو دوئ وتختیدل او عبدالمطلب سره دیو سړی پاتے شهٔ. نو هر کله چه لبنکر حرم دکعبے ته ورسیدهٔ او محمود ئے وړاندے کړے وُو دپاره دورانولو دکعبے. عبدالمطلب ووئیل: آے محموده! دا حرم دکعبے دے خدائی ته سجده وکړه. او بیرته وګرځه. فی الحال ئے سجده وکړه او بیرته وګرځیدهٔ او ډیرئے په سر سر باندے ووهلو لیکن په حرم دکعبے کښ را نغے او عبدالمطلب دعا کوله او ویلے ئے. شعر:-

یا رَبِّ لَا اَرْجُوْ لَهُمْ سِوَاكَ[ع] — فَامْنَعْ مِنْهُمْ حِمَاكَ

اِنَّ عَدُوَّ الْبَيْتِ مَنْ عَادَاكَ — اِمْنَعْهُمْ اَنْ يُخْرِبُوْا فِدَاكَ

او لاس ئے په حلقه دکعبے ایښے وو ناګهانه له غیب لبنکر دمارغانو راغے او هر یو سره درے کانړی وو. یو ئے په خوله کښ او دوه ئے په پنجو کښ نیولی وو. له دانے دنسکولوئ وو او له چنړے نه ورکوټی وو. پس وو به کانړے چه پریوتو په سر د لبنکری باندے وبه وتهٔ له ډُبرے ئے. او وه به لیکلے په هر کانړی باندے نامه دهغه سړی چه پرے به پریوتو. پس تمام لبنکر هلاك شهٔ مګر هغه فیل چه خدائ ته ئے سجده کړے وه او یو سړے وتختیدهٔ او په

ع اے ربه امید نه لرم له هیچا نه مګر له تا نه پس دمنع له دے لبنکره خانه کعبه چه خانه ستا ده په تحقیق سره دښمن دکعبے دښمن ستا دے په امن کړه دوئ چه خرابوی کعبه ۱۲

مخ د نجاشی کښې ورلغے پس قصه ورته وکړه هرکله چه خبره تمامه کړه واقع شهٔ پرے کانړے
او هلاك شهٔ اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ "آیا نهٔ وګرځولے خدائ مکر ددوئ په تعطیل د کعبے او د
خرابولو کښې ئے فِيْ تَضْلِيْلٍ ② په بطلان کښې په هلاکت سره بلکه ګرځولے وو حاصل
داد ے چه دوئ اول سازه کړه کنیسه دپاره د دے چه وګرځوی مخ د حاجیانو د ے وته. پس
ضائع او باطل ئے کړهٔ مکر ددوئ په سولو د کنیسے سره- او دویم ځله اراده د هدم د کعبے
وکړه پس ضائع او باطل ئے کړه مکر ددوئ په لیږلو د مرغانو سره لکه چه وائی وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ
او وے لیږل په دوئ باندے طَيْرًا اَبَابِيْلَ ③ مرغان ټولی ټولی چه تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ
ویشتهٔ ئے هغه لښکر په کانړو مِّنْ سِجِّيْلٍ ④ د خټو یعنی په هغه کانړو چه جوړ شوی
وو له خټو نه فَجَعَلَهُمْ پس وے ګرځوهٔ هغه لښکر په کانړو سره كَعَصْفٍ پشان د
١ ع٥ ٣ پاڼړو د کښت او د وښو سره مَّاْكُوْلٍ ⑤ چه خوړلے شوے وی یعنی هلاك کړل خدائ
تعالیٰ ټول- او په حدیث کښې دی. چه منؐ قرء سورة الفيل عافاه الله ايام حيٰوته
من الخسف والمسخ ؛

سُوْرَةُ القريش ١٠٦ مكية ٢٩ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٤ رُكُوْعُهَا ١

روایت دے چه قریشو له دوه سفره وو د پاره د سوداګرئ په ژمی به یمن وته
تلل او په اوړی به شام ته تلل او په لاره به هیچا نهٔ لوټل بلکه عزت به ئے ددوئ ډیر کولو
پس رب العلمین دپاره د اثبات د نعمت په قریشو دا سورت نازل کهٔ او وے فرمایل چه تعجب
وکړئ تاسے اے سامعانو لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ① دپاره د یوځائ کیدلو د قریشو یو له بل سره
اٖلٰفِهِمْ یوځای کیدل ددوئ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ په سفر د ژمی کښې وَالصَّيْفِ ② او په
سفر د اوړی کښې یعنی عبادت د قریشو بتانو لره محل د تعجب دے ځکه چه خلقو کښې
ما عزت ورکړے دے او دوئ له عبادته ځانه په عبادت د بتانو مشغولیږی. فائده

عه هغه چا چه ولوست سورة فیل وبه ساتی خدای تعالیٰ دهٔ لره په زمانه د ژوند کښې له ډوبیدو د ځمکه په
زمکه کښې او له مسخ کولو ځنه په مثل د شادو او د میلو او د خنزیر سره ۱۲

قریش لقب د نضر بن کنانه دے او مسمّٰی ئے کړل په قریشو سره چه تصغیر د قرش دے او دغه نامه د ابے لوے ده په دریاب کښې چه نهٔ شی نیولے مګر به او رسره پس دغه خوری نور ځیز ونه او خوړے نهٔ شی له دے جهته چه دوئ هم سخت او لوئ دی په مثل دهغه دابے او تصغیرئے دپاره دتعظیم دے فَلۡيَعۡبُدُوا پس عبادت دِ کوی دوی رَبَّ هٰذَا الۡبَيۡتِ ﴿۳﴾ خدائ دد ے خانے لوی لره چه عزت د دوئ په دے سره دے حاصل داد ے چه نعمتونه د خدائ په دوئ باندے نهٔ حسابیږی . نو پس دوئ که عبادت نهٔ کوی خدائ لره دپارهٔ د ټولو نعمتونو - فليعبدوه لهذه الواحدة التی هی نعمة ظاهرة۔ الَّذِيۡۤ اَطۡعَمَهُمۡ هغه خدائ چه طعام ئے ورکړے دے دوئ لره په سفر وکښې او ماړهٔ ئے کړل مِّنۡ جُوۡعٍ ۙ۬ له لوږے نه چه نهٔ وؤ کښت په مکه کښې . او چاویلی دی - ماړهٔ ئے کړل له لوږے د قحط چه خوړلے به ئے مردارے او هډوکی سوی وَّاٰمَنَهُمۡ او په امن ئے کړهٔ دوئ مِّنۡ خَوۡفٍ ﴿۴﴾ له ویرے لوی نه . چه ویره د خداوندانو د فیل ځ وه او چاویلی دی له ویرے د لوټ او چاویلی دی له ویرے د جذام او په حدیث کښې دی چه من قرء سورة لایلاف قریش اعطاه الله تعالیٰ عشر حسنات بعدد من طاف الکعبة واعتکف بها ۔

سُورَةُ الۡمَاعُوۡنِ ۱۰۷ مَكِّيَّةٌ ۱۷ — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ — اٰيَاتُهَا ۷ رُكُوۡعُهَا ۱

روایت دے چه ابوجهل به تکذیب د قیامت کولو او هرکله چه یتیم لره به وصی شو په وخت د طلب د مال کښې به ئے هیڅ نهٔ ورکول . بلکه وبه ئے وهلو . خدائ تعالیٰ دا سورت نازل کړو اَرَءَيۡتَ ایا ویني نهٔ الَّذِيۡ يُكَذِّبُ بِالدِّيۡنِ ؕ﴿۱﴾ هغه څوک چه تکذیب کوی په ورځ د جزا باندے چه قیامت دے او یا په اسلام باندے فَذٰلِكَ الَّذِيۡ يَدُعُّ الۡيَتِيۡمَ ﴿۲﴾

ع پس عبادت دِ کوی خدائ لره دپاره دے یو نعمت چه نعمت ظاهر دے ۱۲ هغه چا چه ولوست سورة لایلف قریش وربه کړی خدائ تعالیٰ دهٔ لره لس نیکئ په شمار دهغه چا چه طواف ئے کړے دی کعبے لره او اعتکاف ئے کړے وی په کعبه کښې ۱۲ منه رحمه ربه ۱۲

پس دے هغه خوك دے چه شړي يتيم لره په شړلو قبيحو سره او نۀ ورکوي مال ئے او چا
ويلي دي. ابو سفيان حلال كړے وو اوښ نو په خلقو ئے وويشۀ او چه يتيم ترے طلب
د حصے وکۀ د ے په قهر شۀ او په همسائے وواهۀ نو خدائے تعالیٰ بيان دهغه ناپاك
كوي دا سے چه وهي يتيم . وَلَا يَحُضُّ او مينه نۀ كوي بخيله او نۀ تيزوي اهل خپل او نۀ
نور خلق عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿۳﴾ په ورکولو د طعام مسکين لره ځکه چه اعتقاد نۀ لري په
جزا باندے روايت دے چه دغه په ومبني ايتونه په حق د کافرانو کښ دي. او دا
روستي په حق د منافقانو کښ راغلي دي فَوَيْلٌ پس افسوس دے او يا کنده ده په دوزخ
کښ لِّلْمُصَلِّيْنَ ﴿۴﴾ د پاره د مونځ کونکيو. الَّذِيْنَ هُمْ هغه کسانو چه دوئ عَنْ صَلَاتِهِمْ
له مونځونو خپلونه سَاهُوْنَ ﴿۵﴾ غافل دي الَّذِيْنَ هُمْ هغه کسان دي چه دوئ .
يُرَآءُوْنَ ﴿۶﴾ ريا کوي يعني ښائي خلقو ته عملونه خپل د پاره د صفت کولو په دوئ
باندے او نۀ ئے ادا کوي په پټه کښ ځکه چه دوئ واجب نۀ ګڼړي او چا ويلي دي افسوس
دے د پاره د منافقانو هغه کسانو چه داخلوي ځانونه خپل په ټولي د مونځ کونکو کښ. او
حال دا دے چه دوئ غافله وي د مونځونو خپلو څخه . او بل نه اراده کوي دوئ په دغه مونځ
سره ثواب او نۀ اراده کوي ادا د فرضو بلکه ظاهر وي خلقو ته ځانونه خپل په ادا د
فرضو سره . فائده : نۀ کيږي سره ريا کار په ظاهر ولو د فرضو سره نو پس بعضے حق د
فرضو ظاهرول دي ځکه چه په حديث کښ دي وَلَا سُمعة فی فرائض الله او اخفا په
تطوع او نفلو کښ بهتره ده او که ظاهرول ئے له جهته د اقتداء نه په فرضو پسے وي هم
ريا پکښ نۀ راځي وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ﴿۷﴾ او منع کوي مال د زکوٰة او روايت دے
له ابن مسعود رض نه چه ماعون هغه څيز ته وائي چه غوښتے شي په مينځ د خلقو کښ لکه
د يلګي او لوښ . او تبر او غلبيل او بوقه . او روايت دے له بي بي عائشے رض څخه
چه ماعون اوبۀ او اور او مالګه ده . او په حديث کښ دي چه من قرء سورة ارءيت
غُفر له ان كان للزكوة مؤديًا ؏

ع ۱ ۲۲

سُوۡرَةُ الکوثر ۱۰۸ مکیّة ۱۵ | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ | اٰیاتها ۳ رکوعها ۱

روایت دے چه عاص بن وائل سره د پیغمبر علیه السلام نزدے دروازے د بنی سهمو څخه ملاقات اوکۀ او یو ساعت ئے یو تر بله خبرے وکړے نو پیغمبر علیه السلام بهر ته لاړ او عاص مسجد ته راغے یو څو لے له صنا دید وقریشو (یعنی مشران ۱۲) چه مسجد کښ ناست وو تفحص ئے وکړو چه چا سره دے خبرے کولے - وے ویلے دغه ابتر سړی ۱ - او عادت دعربو داوو - هر چا لره چه به فرزند نۀ وو - هغه ته به ئے ابتر ویلو یعنی له ده څخه به هیڅوك وروستو پاتے نۀ شی او په دغو ورځو کښ د پیغمبر علیه السلام ځوئ طاهر نام چه له بی بی خدیجے (رض) څخه پیدا شوے وو وفات شوے وو هر کله چه پیغمبر علیه السلام ته دا خبره ورسیده زړۀ مبارك ئے اندوهناك شۀ - خدائ تعالیٰ د پاره د خوشحالئ د زړۀ د پیغمبر ؑ دا سورت نازل کۀ . اِنَّاۤ اَعۡطَیۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ ﴿۱﴾ په تحقیق سره درکړے مې دے تا لره کوثر - او دغه وزن فوعل دے په معنیٰ د کثرت سره یعنی درکړے مې دے تا لره خیر کثیر چه علم او نبوت او قرآن او شفاعت دے او چاویلی دی خیر کثیر اولاد او اتباع او علماء د امت ئے دی او روایت شوید ے له پیغمبر علیه السلام چه کوثر واله ده په جنت کښ او وعده کړے ده خدائ ما لره د هغے ولے چه پکښ خیر کثیر دے او ډیره ښه شیرینه ده له عسلو نه - او سپینه ده له شودو نه او یخه ده له واورو نه او نرمه ده له کچو نه - او غاړے ئے له زبرجدو نه دی او لوښی ئے له سپینو زرو نه دی نه تږے کیږی هغه څوك چه ترے او به وڅښی او چاویلی دی نامه د حوض ده په جنت کښ فَصَلِّ لِرَبِّكَ پس مونځ کوه د پاره د رب خپل یعنی همیشه ګذاره مونځ خالص خدائ لره د پاره د شکر په نعمتونو د خدائ باندے ځکه چه مونځ جامع دے قسمونو د شکر لره چه شکر په ژبه او په اندامونو او په زړۀ باندے دے او چاویلی دی عبادت کوه خدائ تعالیٰ خپل لره هغه خدائ چه لوئ کړے ئے ئے ته په اعطاء

ع هغه چا چه ولوست سورة ارأیت بخښنه به د کړے شی دۀ لره کۀ زکوٰة لره ادا کونکے وی ۱۲

خپلے سره. وَانْحَرْ ﴿۲﴾ او قربانی وکړه د پاره دخدائ خپل او بن چه بهتر په مالونو دعربو کښ دے او تصدق ئے کړه په محتاجو باندے او قربانی وکړه په نامه دخدائ په خلاف دبت پرستو سره چه هغوئ په نامه دبتانو کوی اِنَّ شَانِئَكَ په تحقیق سره دښمن ستا

ع ۱ ۲۳ چه عاص دے هُوَ الْاَبْتَرُ ﴿۳﴾ هغه بے اولاده دے چه پاتے به نهٔ شی له هغه څخه نسل او دُم بریده دے له هره خیره او نهٔ ئے تهٔ دم بریده ځکه هر څوک چه پیدا کیږی تر قیامته له مؤمنانو څخه ذُرّیت ستا دے او ذکر ستا به کولے شی په ژبه دهرعالم او ذاکر سره تر قیامته پورے اوشته نالره په آخرت کښ هغه چه نهٔ داخلیږی لاندے دوصف نو پس په مثل ستا ابتر نهٔ وی بلکه ابتر دښمن ستا دے۔ چه ابتر دے په دنیا او په آخرت کښ۔ او په حدیث کښ دی چه مَنْ قرء سورة الکوثر سقاه الله من کل نهر له فی الجنة ویکتب له عشر حسنات بعدد کل قربان قربه العباد فی یوم النحر عه

سورة الکفرون ۱۰۹ مکیة ۱۸ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — ایاتها ۶ رکوعها ۱

روایت دے چه یو ټولی د قریشونه ووئیلے اے محمد ﷺ اِمتابعت وکړه د دین ځمونږه او متابعت به وکړو مونږه د دین ستا. عبادت کوه دخدایانو ځمونږه یو کال او عبادت به کوو مونږه دخدائ ستا یو کال. پس پیغمبر علیه السلام ووئیلے معاذ الله ان اشرك به غیره او دا سورت نازل شهٔ. قُلْ ووایه ته اے پیغمبره یٰٓاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ ﴿۱﴾ اے کافرانو. او دوئ ته ئے کافران ووئیل له دے جهته چه پوهه ووخدائ تعالیٰ په ازل کښ چه دوئ ایمان نهٔ راوړی لَآ اَعْبُدُ عبادت نه کوم زهٔ پس له دے څخه مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۲﴾ دهغه څیز چه تاسے ئے عبادت کوئ په دے حال کښ وَلَآ اَنْتُمْ او نهٔ یئ تاسے عٰبِدُوْنَ عبادت کونکی په زمانه راتلونکے کښ مَآ اَعْبُدُ ﴿۳﴾ دهغه ذات چه عبادت ئے کوم

عه هغه چاچه ولوست سورة کوثر خروب به کړی خدائ تعالیٰ دهٔ لره له هرے ولے نه په جنت کښ او وبه لیکی دهٔ لره لس نیکئ په شمار دهرے قربانئ سره چه قربانی کړے وی په ورځ د لوئ اختر باندے ۱۲ عه پناه غواړم له خدائ چه شریک ونیسم له دهٔ سره څوك ۱۲

زۀ به دے حال کښې. وَلَآ اَنَا عَابِدٌ او نۀ یم زۀ عبادت کونکے په دے حال کښې مَّا
عَبَدْتُّمْ ﴿۴﴾ د هغه څیز چه عبادت کوئ تاسے وَلَآ اَنْتُمْ او نۀ یئ تاسے عٰبِدُوْنَ عبادت کونکی
په زمانه راتلونکے کښې مَآ اَعْبُدُ ﴿۵﴾ هغه ذات لره چه عبادت ئے کوم زۀ لَكُمْ دِيْنُكُمْ
تاسے لره شرك ستاسے دے وَلِيَ دِيْنِ ﴿۶﴾ ع او ما لره توحید زما دے او په حدیث کښې
دی چه من قرء سورة الکٰفرون فکانما قرء ربع القران و تباعدت عنه مردة
الشیٰطین و برئ من الشرك

سُوْرَةُ النَّصْرِ ۱۱۰ مدنية ۱۱۴ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۳ رُكُوْعُهَا ۱

اِذَا جَآءَ په هغه وخت کښې چه راشی نَصْرُ اللّٰهِ مدد کول د خدائ یعنی غلبه ورکول تا
لره په دشمنانو باندے وَالْفَتْحُ ﴿۱﴾ او چه راشی فتح د مکے او فتح د سائر بلاد و مؤمنانو لره
وَرَاَيْتَ النَّاسَ او وینے ته خلق يَدْخُلُوْنَ په دغه حال کښې چه داخلیږی فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ
په دین د خدائ کښې چه اسلام دے اَفْوَاجًا ﴿۲﴾ ټولی ټولی. او جواب د اِذَا دا دے چه
فَسَبِّحْ پس پاکی کوه خدائ لره له هغه نسبت چه کوی ئے کافران دۀ لره هسے پاکی چه
متصل وی بِحَمْدِ رَبِّكَ له ثنا د رب ستا سره او چا ویلی دی پس تعجب وکړه د پاره د اسان والی
چه نۀ تبریدلو په زړۀ د هیچا کښې ثنا ویونکی خدائ لره په دغه اسانۍ باندے او چا ویلی
دی مونځ کوه په امر د خدائ سره وَاسْتَغْفِرْهُ ط او بخښنه وغواړه له خدائ د پاره د
ماتیدلو د نفس او د پاره د کوتاهۍ د عمل او چا ویلی دی استغفار وغواړه د پاره د ګناهونو
د امت خپل اِنَّهٗ كَانَ په تحقیق سره چه دے خدائ تَوَّابًا ﴿۳﴾ ع قبلونکے د توبے مستغفرانو
لره. په تفسیر بیضاوی کښې راوړی دی چه اکثرو مفسرانو ویلی دی چه دا سورة نازل
شوے دے په ایام د حج کښې په مینی او پیچ د وداع روایت دے چه ابوبکر صدیق رض
هر کله دغه سورة واوریدلو. وے ژړل او وے ویلے چه کمال دلیل د زوال دے او ژوندے

ع هغه چا چه ولوست سورة کافرون پس کویا که وے لوستله څلورمه حصه د قران او لرے به شی له
دۀ نه نافرمانه او سرکش شیطانان او خلاص شی له شرك ۱۲

یا تے شهٔ حضرت یس له دے سورت دوه کاله ـ او په حدیث کښ چه من قرء سورة
اذا جاء اعطی من الاجرکمن شهد مع محمد یوم فتح مکـة

سورة اللهب ۱۱۱ مکیة ۶ — بسم الله الرحمن الرحیم — ایاتها ۵ رکوعها ۱

روایت دے چه هرکله وانذر عشیرتک الاقربین نازل شهٔ. پیغمبرؐ په صفا باندے
وختو او وے ویل اے خلقو صنا دید د قریشو و روختل او جمع شول ـ پیغمبر علیه السلام
وفرمایل کهٔ خبر وکرم تاسے ته دا سے چه په لمن د دے غره کښ یو ټولے چپاؤ کوی په
تاسے باندے د یارهٔ د لوټ نو تاسے به یقین وکړئ په ویلو ځما باندے یا نه؟ دوئ وویلے هو ځکه
چه تا هیچرے دروغ نهٔ دی ویلی رسول کریم صلے الله علیه وسلم وویلے ـ انی نذیر لکم بین
یدی عذاب شدید ط نو ابو لهب وویلے هلاک دِ وی تا لره ـ دے د یارهٔ دِ مونږ بللی
وُو. او یو کانړے ئے پیغمبر علیه السلام پسے پورته کهٔ نو په هغه ساعت کښ خدائ دا
ایت نازل کهٔ تَبَّتْ هلاك دِ وی يَدَآ اَبِىْ لَهَبٍ دواړه لاسونه د ابی لهب لره چه وُلی
پیغمبر ځما وَّتَبَّ ۱ او هلاك دِ شی په هلاکیدو سره. فائده:. دا اخبار دے پس له اخبارهٔ
او یا اول اخبار دے له دواړو لاسوئے او دوئم اخبار دے له نفس ئے روایت دے چه
هر کله ابی لهب واوریدل وے ویل کهٔ چرے قول د محمدؐ رشتیا وی نو اولاد به فدیه کرم
او ځان به خلاص کرم د یاره د رَد د قول ئے دا ایت نازل شهٔ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ لرے به نکړی
له ابی لهب دغه هلاکت مَالُهٗ مال د دهٔ ـ وَمَا كَسَبَ ۲ او هغه څوك چه کسب کړے ئے
دے چه هغه بچه ځامن د دهٔ دی سَيَصْلٰى نَارًا زر دے چه داخل به شی په اور کښ چه
ذَاتَ لَهَبٍ ۳ خاوند د ډیے دے چه اور د دوزخ دے وَّامْرَاَتُهٗ ط او ښځه ئے چه اُم جمیله
لور د حرب ده داخله به شی سره د ابی لهب حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۴ په هغه حال کښ چه

عه هغه چا چه ولوست سورة اذا جاء ور به کړے شی له اجره په مثل د هغه چا چه شهید شهٔ سره د محمدؐ په ورځ
دفتح د مکے باندے ۱۲ عه و دیرده قبیله خپله چه نږدے ده ۱۲ سه په تحقیق سره زهٔ ویروم تاسے لره چه په
مخکښ ځما دے عذاب لوئ چه قیامت دے ۱۲

راوړونکے دلرګو وی. یعنی لرګی دجهنم ځکه چه دے به باروول اغزی په شاځپلے پس خندوهل به ئے دشپے په لاره دپیغمبر کښی. نو بس وی به په ورځ دقیامت په شان دے بار له لرګو دجهنم لکه زقوم او ضریع شو او فِيْ جِيْدِهَا په ګردن دے کښی به حَبْلٌ زنځیر وی. مِّنْ
مَّسَدٍ ⑤ له اور د دوزخ څخه. او چا ویلی دی چه یوه ورځے بنځے د ابی لهب ګیډے د لرګو په سرکړے وو او رسئ په ګردن کښی پرته وه. نو چه ستړے شوه نو ګیډے ئے په یو ګټ کیخودهٔ دپاره ددے خوړلو. پس یوه ملائکه راغله او ګیډے ئے وخوپاوو او رسئ ئے په ګردن کښی ونخته او مړئ ئے خفه شوه او مړه شوه پس خدائ تعالیٰ وفرمایل فی جیدها حبلٌ په ګردن ددے کښی به رسئ وی. من مسدٍ. له پټ دخرماؤ څخه چه لرګی ئے تړلی وو او په حدیث کښی دی چه من قرء سورت تبت رجوتُ ان لایجمع الله بینه وبین ابی لهب فی دار واحدة ؎

سورة الاخلاص ۱۱۲ مکیة ۲۲　　بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ　　ایاتها ۴ رکوعها ۱

روایت دے له ابن عباسؓ چه وویلے قریشو اے محمدؐ صفت وکړه مونږه و ته درب ستا هغه رب چه په عبادت سره ئے دعوت کوے. او په معالم کښی ئے راوړیدی چه وویلے یهودیانو اے ابوالقاسمؐ! وصف بیان کړه دخدائ خپل دپاره ددے چه ایمان راوړو ځکه چه په تورات کښی ئے مونږه وصف لیدلے دے او وایه چه خدائ دِ څهٔ دے او څهٔ خوری او څهٔ څښی او څهٔ اغوندی او له چا څخه میراث وړی او له دهٔ څخه څوك میراث وړی. داسورت نازل شهٔ قُلْ وایه اے محمدؐ هغه څوك چه له شان ئے سوال تاسے کوی له مانه هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ① هغه چه دے خدائ یو دے اَللّٰهُ الصَّمَدُ ② هغه خدائ بے احتیاجه دے له ټولو څخه نه څهٔ خوری او نه څهٔ څښی. یعنی خدائ هغه ذات دے چه محتاج کیږی دهٔ و ته ټول مخلوق او دے غنی دے

؎ هغه چا چه ولوست سورة تبت امید لرم زهٔ چه جمع به نه کړی خدائ په میځ ددهٔ او په میځ د ابی لهب په یو کور کښی ۱۳

نیت
له یو لو څخه - فائده :- مکرر ئے که لفظ د الله دے د پاره هغه څوك چه متصف نهٔ وی په وحدا
او صمدیت سره نه وی مستحق الوهیت لره لَمْ یَلِدْ ۙ له دهٔ څخه څوك پیدا شوی نهٔ دی چه
ترے میراث یوسی ځکه چه جنس نهٔ لری او نه هیچا وته محتاج کیږی - چه ورسره مدد
وکړی - په دے کښ رد دے یهودیانو لره ځکه چه دوی وائی عزیر ابن الله - وَلَمْ یُوْلَدْ ۙ ③
او نه دے له چانه پیدا شوے دے چه دے له هغهٔ څخه میراث یوسی - ځکه چه هر یو مولود
محدث او جسم دے - او حال دا دے چه خدائ قدیم دے او چا ویلی دی ځکه چه نهٔ
وړاندے کیږی دهٔ وته عدم او کهٔ فرض کړو چه دے مولود دے نو شي به پرومبے له پیدا
کولو معدوم - وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ اونشته دهٔ لره او نهٔ به وی كُفُوًا اَحَدٌ ④ ع سیال هیڅوك
یعنی دوئ سوال کړے وو دا سے چه وصف دخدائ وکړه مونږه لره پس وحی ئے وکړه
دهٔ ته په هغه سره چه مشتمل وو په صفاتو دخدائ باندے پس دا قول چه هُوَالله
دے اشارت دے وته چه خدائ پیدا کونکے دخیزونو او توانا دے او عالم دے - او
ژوندے دے او سمیع دے او بصیر دے - او احدٌ وصف دے په وحدانیت او نفی د
شریک سره - او صمدٌ وصف دے په دے سره چه دے محتاجٌ الیه دے - او لم یلد
وصف دے په نفی د شبهے او د مجانست سره او لم یولد نفی د حدوث ده او وصف ئے
دے په قدیم او اولیّت سره ولم یکن له کفوًا احدٌ - نفی د دے ده - چه مماثل شی دهٔ
سره څهٔ څیز او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة الاخلاص فقد قرء ثلث
القرآن وعنه صلی الله علیه وسلم انه سمع رجلًا یقرء ها فقال وجبت قیل
یارسول الله ماوجبت قال وجبت له الجنة -

ع ه چه وی دهٔ لره د جنس د دهٔ نه ښځه چه پس له دهٔ څخه څوك پیدا شی ۱۲ ع ه هغه چا چه ولوست سورة
الاخلاص پس په تحقیق سره وے لوستنه دریمه حصه د قرآن ۱۲ او روایت دے له پیغمبر ؐ چه په تحقیق سره
ده واوریدل له یو سړی څخه چه لوستلوئے سورة اخلاص پس وے ویل واجب شهٔ - وے ویلے - اے رسوله د
خدائ څهٔ واجب شو - دے فرمایل واجب شو دهٔ لره جنت ۱۲

سورة الفلق ۱۱۳ مدنیة ۳۰ — بسم الله الرحمن الرحیم — اٰیاتها ۵ رکوعها ۱

روایت دے چه یو یهودی هلک په خدمت د پیغمبر علیه السلام کښې مشغول وو لونړو دلبید په کوشش تام سره له هغه هلک ویختهٔ د سر د پیغمبر علیه السلام کړه واخستل او په هغه ویختو ئې سحر وکړهٔ او په کوهی د ذروان کښې ئې لاندے د کا نړی ئې کیخودل. پس پیغمبر علیه السلام ځلو یښت ورځے او یا شپږ میاشتے اویو کال مریض شه په دغه سحر سره. پس پوهـ کهٔ خدائی دهٔ لره په دغه سحر او په ځائی ئے. نو حاضرے ئې کړل په مخکښې دغه ویښته حق سبحانه وتعالیٰ معوذتین نازل کړل یوولس اٰیا ته او پس چه وبه ئې لوستے یو ایت د دغه سورتونو نه. پرا به نستے شوه یوه غوټه تر هغه پورے. چه پرانستے شوے ټولے او دے پورته شهٔ له مرضه. قُلْ ووایه اے پیغمبره. چه اَعُوْذُ پناه غوارم زهٔ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾ په رب د صبا باندے چه پیدا اکیږی پس له شپے نه. فائده: خاص ئې کهٔ فلق په صبا باندے له له دے جهته چه په صبا کښې تغیر د حال دے او بل له دے جهته چه په دے کښې اشارت دے دے وته هغه خوك چه توانا دے په لرے کولو تیرے د شپے سره هغه توانا دے چه لرے کړی له عائذه هغه څیز چه دے تره ویریږی او چاویلی دی فلق خلقو ته وائی او چاویلی دی فلق کنده ده په دوزخ کښې او چاویلی دی فلق چاودلو د زمکے ته وائی په کیاه سره او چاویلی دی وریځے ته وائی نو معنیٰ ئے دا شوه چه په خداوند د دے څیزونو پناه غوارم مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿۲﴾ له بدئی د هغه څیزه چه پیدا شوی دی له حیواناتو مکلفو او له غیر مکلفو او له جماداتو نځه وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ او له بدئی د شپے تاریکے نه اِذَا وَقَبَ ﴿۳﴾ په هغه وخت کښې چه داخله شی تیارهٔ ئې په هر څیز کښې ځکه چه مضار په دے کښې ډیر وی او چاویلی دی له شره د سپوږمئی نه په هغه وخت کښې چه توره شی روایت دے له بی بی عائشے رض نځه چه ونیولو پیغمبر علیه السلام لاس ځما او اشاره ئې وکړه سپوږمئی ته پس وے ویلے پناه غواړه په خدائی سره اے عائشے له بدئی د دے نځه وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ او له

بدئ ددم پوکونکیو ښځو نه چه الفاظ د سحر وائی او پوکی فِي الْعُقَدِ ﴿۴﴾ په غوټو باندے

فائده :. ذکر ئے کړے ښځے سحر کونکے په الف او لام سره او غَاسِقٍ او حَاسِدٍ بغیر له الف او

لام ځکه چه هره ښځه پوکونکے د سحر بده وی او نه وی بد هر غاسق او حاسد بلکه بعض بد

۱ ع ۵ ۳۸ وی او بعض ښهٔ وی وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ او له بدئ د کینے کونکی نه إِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾ په هغه وخت

کښ چه ظاهره کړی په مقتضے د کینے خپلے سره ځکه چه نهٔ رسیږی ضرر له حاسد پرومخے

له ظهوره . بلکه حاسد ضرر رسونکے وی نفس خپل لره له جهته د غم . فائده :- خاص

ئے ذکر کړه استعاذه له شر د حاسد له دے جهته چه کینه اظهر ده په ضرر رسولو د

انسان کښ بلکه په ضرر رسولو د حیوانا تو کښ . ختم ئے کړه دغه سورت په حسد سره

له دے جهته چه حسد بد تر دے له همه شره نه او کینه اول ګناه ده چه عاصی کړے

دے پرے خدائ ابلیس په آسمان کښ . او قابیل په زمکه کښ . او په حدیث کښ دی

چه عه لقد انزلت علیّ سورتان ما انزل مثلهما وانک لن تقرء سورتین احب ولا

ارضی عند الله منهما یعنی المعوّذتین ۱۲

سورة الناس ۱۱۴ مدنية ۲۱ — بسم الله الرحمن الرحيم — آياتها ۶ ركوعها ۱

قُلْ أَعُوذُ ووایه اے محمد ﷺ پناه غواړم زهٔ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿۱﴾ په رب د سړو باندے

مَلِكِ النَّاسِ ﴿۲﴾ چه بادشاه د دوئ دے او مدبر د امورو ئے دے إِلَٰهِ النَّاسِ ﴿۳﴾ معبود

د خلقو دے . فائده :- دا عطف بیان دے رب الناس لره ځکه چه رب کله نهٔ وی بادشاه

او بادشاه کله نه وی خدائ . مکرر ئے کهٔ الناس ځکه چه په اظهار کښ زیاتوالے د بیان

دے اضافت د رب ئے خاص الناس ته وکهٔ . او حال دا دے چه رب د ټول مخلوق دے ځکه

چه د دوئ شرافت لری په مینځ د مخلوق کښ مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۵ له بدئ د وسواس کونکی

عه په تحقیق سره نازل شوی دی په ما باندے دوه سورتونه چه نهٔ دی نازل شوی په مثل د دغه دواړو او په تحقیق سره و به نهٔ لولے ته اے مخاطبه دوه سورتونه ښهٔ غوره او نه ښهٔ راضی کونکی په نزد د خدائ له دغه دواړو نه چه معوّذتین دی ۱۲

الْخَنَّاسِ ﴿۴﴾ دخناس هغه خناس چه عادت ئې دادے چه تختی په هغه وخت کښې چه یاد کړی سړے رب خپل ځکه چه روایت دے له سعید بن جبیرؓ په هغه وخت کښې چه یاد کړی سړے رب خپل. تختی شیطان او په هغه وخت کښې چه چپ شی بیرته راشی اووسوسه کوی دۀ ته الَّذِیْ یُوَسْوِسُ هغه څوک چه وسوسه کوی فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿۵﴾ په سینو دسړو کښې مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ ﴿۶﴾ له پیریانو او سړونه یعنی له شیطانانو دجن او انس څخه. او په لباب کښې ذکر شوی دی چه په دے سورة کښې پنځه ځایه ناس ذکر شوے دے. او معنیٰ ئې مکرره نۀ ده بلکه جدا جدا ده ځکه چه مراد په ناس اول سره هلکان دی او معنیٰ د ربوبیت پرے دلالت کوی او په دوئم سره ځوانان دی او معنیٰ د ملک په قهر او سیاست سره دلالت پرے کوی. او په دریم سره زاړه دی. او نوم د الله چه مبنی دے په عبادت باندے. دوئ سره مناسب او موافق دے. او په څلورم سره صالحان دی چه مسلط دے حرص په اغواد دوئ باندے. او په پنځم سره مفسران دی او عطف ئې په معوذ منه باندے پرے دلالت کوی. فائده. او دغه من بیان د الذی یوسوس دے له دے جهته چه شیطان په دوه قسمه دے یو جنی دے او دویم انسی دے. لکه چه ویلی دی خدائ تعالیٰ شیٰطین الانس والجن. او روایت شوید ے له ابی ذر چه پیغمبر علیه السلام ویلی وو. یوسړی وته. هل تعوذت بالله من الشیطٰن الانس. معنیٰ دا ایا تا پناه غوښتلے ده په مدد دخدائ سره له شیطان دانس. او په حدیث کښې دی. چه من قرء المعوذتین فکانما قرء الکتب انزلها الله تعالیٰ اللهم احشرنا فی زمرة العلمین بک العلمین لک الراجئین لثوابک الخائفین من عقابک المکرّمین بلقائک امین یا رب العلمین وصلی الله علی النبی الکریم

اللهم ارحمنی	تمت بالخیر	فی الدارین

عه یعنی شیطانان دانسو او دجنو ۱۲ عه هغه چا چه ولوستل معوذتین پس گویا کۀ وے لوستل ټول کتابونه چه نازل کړی دی خدای تعالیٰ ۱۲- کتبه: محمد صادق- زهیره- چیرهاری ډاکوال عفی عنه ۱۲

حدیث شریف دے چه جناب رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائل ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتب الله وسنة رسوله (رواه المؤطا) یعنے پرے م خول په تا سے کښې دوه څیزونه هیچرې به ګمراه نهٔ شئ تا سے څو پورے څو پورے چه مضبوط مونیولی وی دواړه چه کتاب دخدائی او سنت د رسول ئے دی. مراد له مضبوط نیولو نه پوره پوره عمل کول دی و رباندے. نو اوس کهٔ چرے مسلمانان داغواړی چه مونږه له ګمراهئ نه بچ شولے بو موافق د ارشاد د حضرت ؐ سره دِ قران او حدیث باندے عمل خپل برابر کړی او دا به هله برابر کړی او دا به هله وشی چه له معانیو نه ئے ځان خبر کړی. او د ئے خبردارئ دپاره علماؤ کوششو نه وکړل او په هرځ ژبه کښې ئے معانی دقران او احادیثو بیان کړل چه هرڅوک تر ئے نه فائده واخلی او هیڅ عذر باتے نهٔ شی چه هغه دواړه په عربی کښې او مونږ پرے نه پوهیږو عبید

الف نامه منظومه مصنف که بعد ختم قران به طور مناجات خوانده

بسم الله الرحمن الرحیم

لَکَ الْحَمْدُ یَا رَبِّیْ وَحِرْزِیْ وَمَأْمَلِ
اِلَیْکَ عَقِیْبَ الْمَوْتِ فِی الْقَبْرِ مَوْئِلِ
فَاَنْتَ مُجِیْبٌ یَا قَرِیْبٌ بِسُرْعَةٍ
وَقُلْتَ وَقَوْلُکَ صَادِقٌ غَیْرَ مُهْزَلِ
لِجُمْلَتِنَا ادْعُوْنِیْ فَهَا اسْتَجِبْ لَکُمْ
فَنَدْعُوْکَ یَا مَوْلٰی اسْتَجِبْ بِالتَّعَجُّلِ
سَاَلْنَاکَ یَا مَوْلٰنَا بِتَعْدَادِ اَحْرُفٍ
بِلَوْحٍ وَقُرْاٰنٍ وَبَاقِی الْمُنَزَّلِ
فَبِالْاَلِفِ اللّٰهُمَّ اَسْئَلُ اُلْفَةً
وَاِکْرَامَ اِعْزَازٍ وَاِحْسَانَ اَکْمَلِ
وَبِالْبَاءِ بِرًّا بَارِعًا وَبَصِیْرَةً
وَبَهْجَةَ بُسْتَانٍ وَبَرْهَةَ بُلْبُلِ
وَبِالتَّاءِ تَوْفِیْقًا وَتَقْوٰی وَتَوْبَةً
وَتَادِیْبَ تَقْرِیْبٍ وَتَاجَ تَذَلُّلِ
وَبِالثَّاءِ ثَبْتًا ثَابِتًا ثُمَّ ثَرْوَةً
وَثَقْبَةَ ثَوْبَانٍ وَثَغْرَةَ ثَیْتَلِ
وَبِالْجِیْمِ جُهْدًا جَیِّدًا وَجَلَادَةً
وَجِرْیَانَ جَیْحُوْنٍ وَجَوْلَانَ جَنْدَلِ
وَبِالْحَاءِ حُبًّا حَازِمًا وَحَلَاوَةً
وَحَمْلَةَ حَیْزُوْمٍ وَحَیْطَةَ حَوْمَلِ

وَبِالْخَاءِ خَيْرَاتًا وَّخَبْطًا وَّخُلَّةً   وَخِصْبًا وَّخَضْرَاءَ لِخَضْرَاءِ خَرْدَلِ

وَبِالدَّالِ دَمْعًا دَآئِمًا وَّدِيَانَةً   وَدِيْدَانَ دَرَّاكٍ وَّدَوْرَانَ دُلْدُلِ

وَبِالذَّالِ ذِكْرًا ذَائِعًا وَّذَرِيْعَةً   ذَلَاقَةَ ذُكْرَانٍ وَّذُرْوَةَ ذَآئِلِ

وَبِالرَّآءِ رِضْوَانًا وَّرُشْدًا وَّرَاْفَةً   وَرَوْحًا وَّرَيْحَانًا وَّرَوْنَقَ رَامِلِ

وَبِالزَّآءِ زُهْدًا زَاكِيًا وَّزَهَادَةً   وَزَهْرَةَ زَخَّارٍ وَّزَجَّةَ زَاوِلِ

وَبِالسِّيْنِ سَمْتًا سَالِمًا وَّسَمَاحَةً   وَسَبْطًا سَعِيْدًا سَاعِيًا سَعْيَ سَلْسَلِ

وَبِالشِّيْنِ شَوْقًا شَاهِقًا وَّشَجَاعَةً   وَشِدَّةَ شَاهِيْنٍ وَّشِدَّةَ شُلْشُلِ

وَبِالصَّادِ صِدْقًا صَافِيًا وَصِيَانَةً   صَدَاقَةَ صِدِّيْقٍ وَّصَفْوَةَ صَيْقَلِ

وَبِالضَّادِ ضَرْسًا ضَاحِكًا وَّضَرَاحَةً   وَضَجَّةَ ضِرْغَامٍ وَّضَرْبَةَ ضَاهِلِ

وَبِالطَّاءِ طَبْعًا طَيِّبًا وَّطَرَاوَةً   وَطَلْعَةَ طَيْفُوْرٍ وَّطَيَرَانَ طَلْسَلِ

وَبِالظَّاءِ ظَلِيًّا وَّظَنًّا وَّظَلَّةً   ظَرَافَةَ ظَرَّافٍ وَّظِلٌّ ظَلِيْلِ

وَبِالْعَيْنِ عِرْفَانًا وَّعَدْنًا وَّعِجْزَةً   وَعِفَّةَ عُثْمَانٍ وَّعِلْمَ عَلِيٍّ عَلِ

وَبِالْغَيْنِ غُفْرَانًا وَّغُلْبًا وَّغُرْفَةً   وَغَوْصَةَ غَوَّاصٍ وَّغَيْصَةَ غَيْدَلِ

وَبِالْفَاءِ فِرْدَوْسًا وَّفَوْضًا وَفَرْجَةً   فُتُوَّةَ فَارُوْقٍ وَّفِطْنَةَ فُلْفُلِ

وَالْقَافِ قَلْبًا قَانِتًا وَّقَنَاعَةً   قِرَاءَةَ قُرْآنٍ وَّقَصْدَ قُرْعُمَلِ

وَبِالْكَافِ كِفْلًا كَامِلًا وَّكَرَامَةً   وَكَرَّةَ كَرَّارٍ وَّكُسْحَةَ كَلْكَلِ

وَبِاللَّامِ لُبًّا لَا تِبًا وَّلَطَافَةً   وَلُطْفًا وَلَمْعَانًا لِّلَيْلٍ مَحْفَلِ

وَبِالْمِيْمِ مَعْرُوْفًا وَّمَنًّا وَّمِنْحَةً   وَمَجْدًا وَّمُرْتَادًا وَّمَفْرَجَ مَحْنَلِ

وَبِالنُّوْنِ نَسْلًا نَاسِكًا وَنَضَارَةً   وَنُزْهَةَ نُعْمَانٍ وَّنِخْلَةَ نَوْفَلِ

وَبِالْوَاوِ وَهْبًا وَّاصِبًا وَّوَلَابَةً   وَوُصْلَةَ وَهَّابٍ وَّوُسْعَةَ وَابِلِ

وَبِالْهَاءِ هُوْدًا هَادِيًا وَّهِدَايَةً   وَهَمْزَةَ هَيْجَاءَ وَهَزَّةَ هُمْرُجَلِ

وَبِالْيَاءِ يَنْبُوْعًا وَّيُسْرًا وَّيَقْظَةً   وَيُمْنًا وَّيَعْبُوْبًا وَّيَافُوْخَ يَعْمَلِ